پښتو

فضائل اعمال

قسم اول

تالیف

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمہ اللہ

پښتو ترجمه

میاں محمد شفیق رحمہ اللہ

ناشر حفصه قرآن کمپنی

Maktaba Tul Ishaat.com



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ

بیشکه دَدوی په قصوکښ (لوئے) عبرت دے پوهیدونکو د پاره

پښتو

حِکایاتِ صحابه رضی الله عنهم

تالیف

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمّد زکریّا صاحب رحمه الله

مُترجم

میاں مُحمّد شفیق رحمه الله

د کتابت حقوق ر ناشر
سره محفوظ دی

Maktaba Tul Ishaat.com

دحکایاتِ صحابه رضی الله عنهم (پښتو) د مضامینو فهرست

.Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

❁ ❁ ❁

تمهید

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ وَنُسَلِّمُ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ وَاٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَاَتْبَاعِهِ الْحُمَاةِ لِلدِّيْنِ الْقَوِيْمِ

اَمَّا بَعْدُ

د الله تعالیٰ دیو غوره بنده (یعنی حضرت مولنا شاه عبد القادر رائپوری (رحمة الله علیه) زما تربیت کوونکی او احسان کوونکی ارشاد سنه ۱۳۵۳ھ کښې ما ته اوشو، چه د اصحابو کرامو رضی الله عنهم اجمعین څو قصے خصوصاً د کم عمره صحابو رضی الله عنهم او د زنانو د دینداری څه حالات په اردو کښې اولیکلې شی، ځکه چه کوم خلق د قصو شوقیان دی، هغوی آخوا دیخوا د دروغو قصو په ځائ که چرے د اوګوری، نو د هغوی د پاره به د دینی ترقئ سبب شی، او د کور زنانه که چرے په شپو کښې ماشومانو ته د دروغو قصو په ځائ دا اَوَروی، نو د بچو په زړه کښې به د صحابه و رضی الله عنهم محبت او عظمت سره دینی کارونو طرفته مینه پیدا شی۔ زما د پاره د دے ارشاد منل په ضروری وو، چه د دوی په احسانانو کښې ډوب یم۔ د دے نه علاوه د الله تعالیٰ د دوستانو رضا په دواړه جهانه کښې د کامیابئ سبب ګرزی۔ خو د دے سره د خپلے کم علمئ نه م دا امید اونه شو، چه زه به دا خدمت مرضئ موافق ادا کړے شم۔ څلور کاله م بیا بیا دا ارشاد اَوریدهٔ، او د خپلے نالایقئ نه به شرمیدم۔ چه صفر سنه ۱۳۵۷ھ کښې دیو مرض په وجه څو ورځو د پاره د دماغی کار نه بند کړے شوم۔ نو خیال م شو، چه دا اوزګارے ورځے د دے برکتنا که مشغله کښې تیرے کړم، که دا پانړے قبولے نکړے شوے، نو بیا هُم زما دا خالی وخت به بهترین او برکتنا که مشغله کښې خو به تیر شی۔

په دے کښې شک نشته، چه د الله تعالیٰ د دوستانو قصے د هغوی حالات یقیناً د دے قابل دی، چه د هغے تحقیق اولټون اوشی، او د هغے نه سبق حاصل کړے شی، خصوصاً د اصحابو کرامو رضی الله عنهم اجمعین جماعت

Maktaba Tul Ishaat.com

چه هغوی له الله جل شانهٗ دخپل نیازبین نبی اوخوږ رسول صلی الله علیه وسلم
منکرتیا د پاره خوښ کړل، ددے حقدار دی چه د هغوی تابعداری
اوکړے شی- دے نه علاوه د الله تعالیٰ د ولیانو په ذکر د الله تعالیٰ
رحمت نازلیږی-

دصوفیانو دسردار حضرت جُنید بغدادی رحمة الله علیه ارشاد دے چه
قصے د الله تعالیٰ په لښکرو کښ یو لښکر دے، چه په دے سره مُرید انو
زړونو ته طاقت حاصلیږی- چا پوښتنه اوکړه چه ددے څهٔ دلیل
هم شته؟ وے فرمایل، اَوَ- د الله جل شانه ارشاد دے

وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْبَآءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ وَجَآءَكَ فِيْ هٰذِهِ
الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَّذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ (سورة هود) (ترجمه) او د پیغمبرانو د
قصونه مونږ دا ټول قصے تاته بیانوو، چه دهغے په ذریعه مونږ ستا
زړهٔ ته طاقت ورکوو (یوه فائدهٔ خو دا شوه) او په دے قصو کښ تاته داسے
مضمون رسی، چه په خپله هم درست او واقعی دے، او د مسلمانانو
د پاره نصیحت دے (اَو دبنهٔ کارکولو) یادول دی- (بیان القرآن)

یوه ضروری خبره دا هم په زړهٔ کښ دکینولو ده چه د نبی اکرم
صلی الله علیه وسلم حدیثونه وی یا دبزرګانو حالات- دغسے که د مسئلو کتابونه وی
یا د معتبرخلقو وعظ او ارشادات- دا داسے څیزونه نهٔ وی، چه یو
وارے کتلو نه پس د همیشه د پاره ختم کړے شی، بلکه دخپل حالت
اوطاقت موافق بیا بیا کتل پکار دی-

اَبُوْسُلَيْمَانْ دَارَانِی رحمة الله علیه یوبزرګ دے، هغه وائی، چه زهٔ د یو
واعظ مجلس کښ حاضرشوم، دهغهٔ وعظ زما په زړهٔ اثر اوکړو، خو
چه کله وعظ ختم شو، نو هغه اثرهم ختم شو- زهٔ دوباره د هغهٔ په
مجلس کښ حاضرشوم، نو دهغے وعظ اثرفارغیدو نه پس دکورې په
لاره کښ هم وو- دریم ځل بیا حاضرشو، نو دهغے اثرکورته درسیدلو نه
پس هم وو- کورته ورتلو سره د الله تعالیٰ د نافرمانئ چه کوم اسباب وو
ټول م مات کړل، او د الله تعالیٰ لاره م اختیار کړه- دغسے د دینی کتابونو

هم حال دے، چه صرف په سرسری طوریو وارے دهغې لوستلو سړا اثر کم وی، په دے وجه کله نا کله لوستل یے پکار دی. دلوستونکو د اسانئ او د مضامینو زړهٔ کښې دکینولو په خیال سره ما دا رساله په دولس بابونو او په یوه خاتمه تقسیم کړے ده.

۱ : اول باب : ددین له خاطره سختئ تیرول، تکلیفونه او مشقتونه زغمل.

۲ : دویم باب : دالله جل جلالهٔ نه خوف او ویره چه د اصحابو کرامو رضی الله عنهم خاص عادت وُو.

۳ : دریم باب : داصحابو کرامو رضی الله عنهم دزاهدانو او فقیرانه ژوند نمونه.

۴ : څلورم باب : داصحابو کرامو رضی الله عنهم دتقوٰی او د پرهیز ګارئ حالت.

۵ : پنځم باب : دمونځ شوق او دهغې اهتمام.

۶ : شپږم باب : همدردی او په خپل ځان نورولره وړاندے کول، او دالله تعالیٰ په لاره کښې خرڅ کول.

۷ : اووم باب : بهادری او زړهٔ ورتوب او همت او شجاعت او د مرګ شوق.

۸ : اتم باب : علمی مشغلے او دعلمی محنت نمونے.

۹ : نهم باب : دنبی اکرم ﷺ دارشاداتو تعمیل.

۱۰ : لسم باب : دزنانو دینی جذبه او بهادری او دنبی اکرم ﷺ داولاد بیان.

۱۱ : یولسم باب : دبچو دینی شوق او په وړوکوالی کښې د دین اهتمام

۱۲ : دولسم باب : دنبی اکرم ﷺ سره دمحبت نمونه.

خاتمه : داصحابو کرامو رضوان الله علیهم حقونه او د هغوی مختصر فضیلتونه.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوّل باب

دین له خاطره سختئ تیرول تکلیفونه او مشقتونه زغمل

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم او صحابو کرامو رضی الله عنهم د دین په خوره لوکښ چه څومره تکلیفونه او مشقتونه تیر کړی دی هغه تیرول خو یو خوا دهغه اراده کول هم زمونږ په شان نالایقو ته ګرانه ده. د تاریخ کتابونه د دے واقعاتو نه ډک دی، په هغه عمل کول خو څه (ګنړه) دی، موږ د هغه دمعلومولو تکلیف هم نه کوو. په دے باب کښ څو قصے د نمونے په طور ذکر کول دی، په دے کښ د تهولونه رومبے په خپله د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم یو قصے نه شروع کوم، چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام ذکر د برکت ذریعه ده.

(۱) د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د طائف د سفر قصه

د نبوت ملاویدو نه پس نهه کاله نبی اکرم صلی الله علیه وسلم مکه مکرمه کښ تبلیغ کولو، او د قوم د هدایت او اصلاح کوشش کولو، خو د لږ غوندے چلے نه سوا چه مسلمانان شوی وو، او لږ غوندے داسے خلق چه مسلمانان نه وو خو د نبی علیه الصلوٰة والسلام امداد به یے کولو اکثر د مکے کافرانو نبی علیه الصلوٰة والسلام او د دوی صحابو کرامو رضی الله عنهم ته هر قسمه تکلیفونه رسول، توقے به یے وربورے کولے، او څه چه به ترے کیدے شو ایله یے پرے نه کوله د نبی علیه الصلوٰة والسلام تره ابوطالب هم هغه نیک زړه خلقو کښ وو چه مسلمان نه وو، خو د نبی علیه الصلوٰة والسلام به یے هر قسمه امداد کولو د نبوت په لسم کال چه ابوطالب هم وفات شو نو کافرانو ته نوره هم د هر قسمه په آزادئ د اسلام نه د منع کولو، او مسلمانانو ته د تکلیف رسولو موقع په لاس ورغله. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په دے خیال طائف ته تشریف یوړه چه هلته د ثقیف قبیله لویه ډله ده، کچرے دغه قبیله مسلمانه شی نو مسلمانانو ته به د دے تکلیفونو نه خلاصے او د دین

دخوریدو بنیاد به قائم شي، هلته درسیدونه پس د قبیلې د سرد ارانو سره چه دلوئې درجې کنړلے شو، خبرے اترے اوکړے، او دالله تعالیٰ دین طرف ته یې راوُبلل، او دالله درسول یعنی خپل مدطرفته یې متوجه کړل، خودغے خلقو په ځائ ددے چه ددین خبره یې قبوله کړے وے، یا کم ته کم دعربو د مشهورے میلمستیا په لحاظ دیونوي راغلي میلمه یې خاطر مدارکړے وے، صفا جواب یې ورکړو او پریه یې رُخصتی او بد اخلاقئ سره پیش راغلل، هغوی دا هم خوښه نکړه چه نبي علیه الصلوٰة والسلام دلته پاتے شي کوم خلق یې چه سرداران گنړلی دُوا ورسره یې خبرے کړے وے چه دوی به شریفان وي او په ادب به خبرے اوکړي، په هغوی کښ یو اُووئیل چه اُوهُو! لیس هم ته الله پاک نبي جوړکړے اوراليږلے یې. دویم اُووئیل چه الله ستا نه سوا نورخوك نهٔ موندل چه هغه یې رسول راليږلے وے. دریم اُووئیل چه ځهٔ تاسره خبرے کول نهٔ غوارم، ځکه چرے ته واقعي نبي یې، ځنګه چه ستا دعوے ده نوستاد خبرے نه انکار کول دمصیبت نه خالي نهٔ دي. او که چرے دروغ وي نو ځهٔ داسے سري سره خبرے کول نهٔ غوارم. ددے نه پس دغے خلقونه نا اُمیده کیدو سره نبي اکرم ﷺ نوروخلقوسره دخبروکولو اراده وُکړه ځکه چه دوی خود همت او داستقلال غروُو، خو هیچا قبوله نکړه، بلکه په ځائے د قبلولو یې نبي علیه الصلوٰة ته وُوے زمونږ دښهرنه زر اُوزه، او چرته چه ستاد خوښے ځائے وي، هلته لاړشه. نبي اکرم ﷺ هم کله چه دهغوی نه نا اُمیده شو، او واپس کیدهٔ، نو دغے خلقو دښهر هلکان ورپسے کړل چه ورپورے پوقے اوکړي لاسونه ورپسے اُوپړقوي، په کانړو یې اُولی، تر دے چه دنبي علیه الصلوٰة والسلام دواړه پښے وینے په وتلو تلك بنلك شوے. نبي اکرم ﷺ هم په دے حالت کښ واپس شو کله چه په لار کښ یو ځائے ددے شرېرانو نه په امن شو، نو نبي علیه السلام دا دُعا وُغوښتله.

اَللّٰهُمَّ اِلَيْكَ اَشْكُوْ ضُعْفَ قُوَّتِيْ وَ قِلَّةَ حِيْلَتِيْ وَهَوَانِيْ عَلَى النَّاسِ	اے الله تعالیٰ! تا ته شکایت کومه زهٔ د خپلے کمزورئ او بے وسئ او په خلقو

Maktaba Tul Ishaat.com

يَآ اَرْحَمَ الرّٰحِمِيْنَ اَنْتَ رَبُّ الْمُسْتَضْعَفِيْنَ وَاَنْتَ رَبِّيْ اِلٰى مَنْ تَكِلُنِيْ اِلٰى بَعِيْدٍ يَّتَجَهَّمُنِيْ اَمْ اِلٰى عَدُوٍّ مَلَّكْتَهٗ اَمْرِيْ اِنْ لَّمْ يَكُنْ بِكَ عَلَيَّ غَضَبٌ فَلَا اُبَالِيْ وَلٰكِنْ عَافِيَتُكَ هِيَ اَوْسَعُ لِيْ اَعُوْذُ بِنُوْرِ وَجْهِكَ الَّذِيْ اَشْرَقَتْ لَهُ الظُّلُمٰتُ وَصَلُحَ عَلَيْهِ اَمْرُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ مِنْ اَنْ تُنْزِلَ بِيْ غَضَبَكَ اَوْ يَحِلَّ عَلَيَّ سَخَطُكَ لَكَ الْعُتْبٰى حَتّٰى تَرْضٰى وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِكَ ۔

(كذا في سيرة ابن هشام قلت واختلفت الروايات في الفاظ الدعاء كما في قرة العيون)

کښ دذلت او رسوايئ لے ارحم الرّٰحمين! ته دضعيفانو رب يې، او ته زما پروردګار يې، ته ما چاته حواله کوے، چا اجنبي پردي ته چه ما اُوينې تندے تر نو کړي يا چا دُشمن ته، چه هغه ته تا زما قابو ورکړه، اے الله تعالیٰ! کچرے ته ما ته ناراضه نه يې نو ما ته د هيچا پرواه نشته ستا حفاظت ماله بس دے، زهٔ ستا دمخ د هغے رڼا په طُفيل په کوم سره چه تورے تيارے روښانه شوے او په کوم سره چه د دُنيا او د اٰخرت ټول کارونه سمېږي د دے خبرے نه پناه غواړم چه په ما باندے دِ ستا غصه وی، يا ته ماته ناراضه يې، ستا ناراضتيا تر هغه وخته پورے لرے کول ضروري دي، ترڅو چه ته راضي شوے نه يې، ستا نه سوا نه څه طاقت شته نه قوّت ۔

د مالکُ الْمُلک شانِ قهّاري ته په دے باندِ جوش راتلل وُو چه حضرت جبريل عليه السلام راغے د سلام نه پس يې عرض وُکړهٔ چه الله تعالیٰ ستا د قوم هغه خبرے چه تا سرهٔ اُوشوے واؤريدے او د هغوی جوابونه يې هم واؤريدل، او يوه فرشته چه د هغے متعلق د غرونو خدمت دے تا سره ئې ليږلے ده چه تاسو څنګه غواړئ نو د دے ته حکم ورکړئ، د دے نه پس هغے فرشتے سلام اُوکړه او عرض يې وُکړهٔ چه څهٔ تاسو ارشاد فرمايئ زهٔ به هغے تعميل اوکړم، کچرے ارشاد وی نو د دواړو طرفو نو غرونه به يو ځائے کړم، چه په هغے به دا ټول په مينځ کښ چخنړی شی، او که نور که څهٔ سزا تاسو تجويز کوئ اُو فرمايئ، د نبي عليه الصلوٰة رحيم او کريم ذات جواب ورکړهٔ، چه زهٔ د

الله تعالیٰ نه ددے اُمید لرم، که چرے دوی مسلمانان نهٔ شو، نو ددوی په اولاد کښ به داسے خلق پیدا شی چه د الله تعالیٰ بندگی او عبادت به کوی۔

فائده: دا دی اخلاق د هغه کریم ذات چه د چا مونږ خلق نوم اخلو، مونږ په لږ غوندے تکلیف یا د چا معمولی غوندے کنځل کولو سره د اور په شان لمبه شو چه بیا تپول عمر د هغے بدله ته څلا صیږی۔ د ظلم د پاسه ظلم په هغه باندے کوو، او دعوٰی کوو د خپل محمدی کیدو او د نبی د تابعداری۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره ددے دومره سخت تکلیف او مشقت نهٔ خیرے کوی، او نهٔ څه بدله اخلی۔

۲ د حضرت اَنَس بن نَضر رضی الله عنه د شهادت قصه

حضرت اَنَس بن نَضر رضی الله عنه یو صحابی وُو چه د بدر په جنګ کښ شریک شوے نهٔ وُو، هغهٔ ته ددے څیز سخت غم او درد وُو، په دے به یے خپل نفس ملامته کولو چه د اسلام رُومبئ عظیم الشان جنګ او ته په هغے کښ شریک نهٔ شوے، د اپے ارزو وه چه څرته بل جنګ شو، نو ارمان به پوره کرم۔ اِتفاقاً د اُحد جنګ پیش شو چه په هغے کښ دے په لویه بهادری او زړه ورتیا سره شریک شو۔ د اُحد په جنګ کښ اول اول خو مسلمانانو ته فتح اُوشوه، خو په اخر کښ د یوے غلطئ په وجه مسلمانانو ته شکست اُوشو۔ هغه غلطی دا وه چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم څهٔ کسان په یو خاص ځائے مقرر کړی وُو، چه تا سو به د دے ځائے نه تر څو چه ما درته ویلی نهٔ وی، نهٔ خوزئ چه د دے طرفه د دُشمن د حملے ویره وه، هر کله چه مسلمانانو ته په شروع کښ فتح وُشوه او کافران یے په تیښته اُولیدل نو دوی خپل ځائے په دے خیال پریخودهٔ چه اوس جنګ ختم شو، تختیدونکو کافرانو پسے تلل پکاردی چه د غنیمت مال حاصل کړے شی، ددے ټولګی سردار منع هُم کړل چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام ممانعت دے چه تا سو دے ځائے نه مهٔ خوزئ، خو دے خلقو دا خیال اوکړو چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد صرف د جنګ د وخت د پاره

وُو، دغه ځائے نه لرے شول اومیدان ته اُورسیدل، تختینُ تکو کافرانو داځائے خالی وُلیدهٔ، نوله دغه طرفه راغلل حمله یے اوکړه، مسلمانان بے فکره وُو، دے ناګهانی دیے خبرئ حملے سره یا ئیلوتکی شول، اوله دواړو طرفو دکافرانو په مینځ کښ راغلل په دے وجه آخوادیځوا پریشا تختیدل حضرت انس رضی اللہ عنہ وُلیدل چه مخامخ یوبل صحابی حضرت سعد بن معاذ رضی اللہ عنہ راروان دے، هغهٔ ته یے اُوئیل اے سعده! چرته ځے؟ په الله تعالیٰ م دِقسم وی دجنت خوشبوئی د اُحد دغرنه راځی، دا یے اُووے، اوتوره خو یے په لاس کښ وه. دکافرانو په ګڼړه کښ ورننوتهٔ، ترڅو چه شهید شو نه وُو، واپس نهٔ شو. دشهادت نه پس دهغهٔ بدان اُوکتلے شونوغلیل شوے وُو، داتیاؤنه زیات زخمونه دغشی او دتورے یے په بدان باندی وُو. خوریے د‌ے دګوتو په بندونو سره اُوپیژندهٔ.

فائدہ: کوم خلق چه په اخلاص او ریښتنی طلب سره دالله تعالیٰ په کار کښ اُولګی هغوی ته په دُنیا کښ دجنت مزه راځی. دیے حضرت انس رضی اللہ عنہ په ژواندانه کښ دجنت خوشبوئی بُوئوله. کچرے په اخلاص سړی کښ راشی نو په دُنیا کښ ورته دجنت مزے راځی. ما دیو معتبر سړی نه چه دحضرت مولٰنا شاه عبدالرحیم صاحب رائپوری رحمۃ اللہ علیہ مخلص خادم وُو دحضرت مَقُولَه یعنی وینا اوریدلے ده چه "دجنت مزه راځی" په فضائلِ رمضان کښ م داقصه لیکلے ده.

(۳) صلح حُدَیْبِیَّه او دابُوجَنْدَل او ابُوبَصِیْر رضی اللہ عنہما قصه

سنہ ۶ھ کښ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم دعُمرے په اراده مکے مکرمے ته تشریف اُوړهٔ، دمکے کافران په دے خبرشو، اوهغوی داخبرخپل سیکاوے اُوګڼړهٔ، په دے وجه یے مقابله اوکړه او په حُدَیْبِیَّه کښ نبی علیه الصلوٰة والسلام ایسارشو، جان نثار صحابه ورسره وُو چه په نبی علیه الصلوٰة والسلام یے ځان قربانول خپل فخر ګڼړهٔ جنګ ته تیار شو، خونبی علیه الصلوٰة والسلام دمکے والوله خاطره دجنګ اراده وُنکره، اودصلح

کوشش یې اوکړه، سره د دې چه اصحاب رضی الله عنهم په پوره بهادرئ جنګ ته تیار وو خو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د کافرانو دومره رعایت اوکړه چه د هغوی هر یو شرط یې قبول کړه. اصحابو رضی الله عنهم ته دا سې د زور لاندې صلح کول خوښ نه وو، خو د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د ارشاد مخکښې څه کیدې شو چه جان نثار وو او فرمانبردار. حکه د حضرت عمر رضی الله عنه په شان بهادرانو هم اومنله. په صلح کښې چه کوم شرطونه فیصله شو په هغې کښې یو شرط دا هم وو چه د کافرانو نه کۀ څوک مسلمان شي او هجرت اوکړي (مدینې ته لاړ شي) مسلمانان به هغه مکې ته واپس کوي، او مسلمانانو نه الله مۀ کړه که څوک مرتد شي (مکې ته راشي) نو هغه به واپس کولے نۀ شي. دا صلحنامه لا پوره لیکلې شوې نه وه چه حضرت اَبُو جَندَل رضی الله عنه یو صحابی وو چه د اسلام راوړو په وجه یې قسما قسم تکلیفونه تیرول او په زنځیرونو کښې یې تړلے وو، په دې حالت کښې غورزیدو پریوتو د مسلمانانو لښکر ته په دې اُمید راورسیدۀ چه دوی به زما امداد اوکړي او د دې مصیبت نه به خلاص شم. د هغۀ پلار سُهَیل چه په دې صلحنامه کښې د کافرانو له طرفه وکیل وو، او دغه وخته پورې مسلمان شوے نه وو، بیا فتح مکه کښې مسلمان شو، دۀ خپل ځوئے په څپیړو اُووَهۀ او په واپس بوتلو اصرار وکړه. نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد وفرمایه چه لا ترا و سه صلحنامه لیکلې شوې هم نه ده نو پابندي څۀ خبره. خو هغۀ اصرار وکړه بیا نبی علیه الصلوٰة والسلام وفرمایل چه یو سړے ما ته زما په خواست راکړئ. خو هغه خلق په ضد وو، و یې نه منل. ابو جَندل مسلمانانو ته چغې وَوَهلې، فریاد یې اوکړه چه څۀ مسلمان شوے یم او راغلے یم، څومره مصیبتونه م اوچت کړل، اُوس زۀ واپس کولے شم. د هغه وخت مسلمانانو په زړونو چه څۀ تیریدل، بس الله تعالیٰ ته معلومه ده. خو د نبی علیه الصلوٰة والسلام په ارشاد سره واپس شو. نبی علیه الصلوٰة والسلام ورته تسلی ورکړه، او د صبر کولو حکم یې ورکړۀ، او و یې فرمایل چه زر به الله جل شانهٔ ستا د پاره لار را اوباسي. د صلحنامې تکمیل کیدو نه پس یو بل صحابی اَبُو بَصیر رضی الله عنه هم مسلمان شو او مدینې منورې ته راورسیدۀ. کافرانو د هغۀ واپس راوستو د

Maktaba Tul Ishaat.com

پاره دوه سړي ولیږل، نبي اکرم ﷺ دوعدې مطابق واپس کړه - ابُوبَصِیر رضی الله عنه عرض هم اوکړه، اے د الله رسوله! زۀ مسلمان شوے راغلے یم، تاسو ما د کافرانو پنجے ته بیا لیږئ، نبي علیه الصلوٰة والسلام ورته هم د صبر کولو اُوفرمایل او ورته فرمایل چه اِن شاء الله ډیر زر به ستا د پاره لاره پرانستے شي. د اصحابي هغه دوا ړو کافرانو سره واپس شو، لاره کښې د هغوی نه یو ته اُووے "یارا ستا تُوره خو ډیره ښائسته معلومیږي" تعریف خو سړي تکے سر په لړاخبره (د خوشالئ نه) چا موکښې نۀ ځائیږي، هغۀ زرد تیکی ته تُوره راوُویستله وے ویل، آو - ما په ډیرو خلقو دې تجربه کړے ده، دا یے وُویل او تُوره یے هغۀ ته ورکړه، هغۀ هم په دۀ باندے د هغې تجربه اُوکړه (یعني مړ یے کړۀ -) دویم ملګرے یے چه دا اُولیدل، چه یو خو یے ختم کړۀ اوس زما نمبر دے، په تیخته مدینے ته راغے، او نبي اکرم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض یے اوکړۀ چه زما ملګرے قتل شو اوس زما نمبر دے، دے نه پس ابُوبَصِیر راوُرسیدۀ، عرض یے وکړۀ اے د الله رسوله! تاسو خپله وعده پوره کړه چه زۀ دِ واپس کړم، او ما سره د دے خلقو څۀ وعده نشته چه د هغې ذمه واري وي، دوی ما د خپل دین نه اړوي ځکه ما داسے اوکړل نبي علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل د جنګ تازه کوُنکے دے، ارمان! څوک د دۀ مرسته کوُنکے ملګار وے - هغۀ په دے خبره پوهه شو کۀ اوس هم زما په طلب کښې څوک راشي نو زۀ به واپس کړے شم، په دے وجه هغۀ د دغه ځائ نه لاړو، او د سمندر په غاړه یے یو ځائ ډیره واچوله - د مکے خلقو ته د دے قصے حال معلوم شو، نو ابُوجَندل رضی الله عنه هُم چه د هغۀ قصه اُوس تیره شوه، په پټه هغۀ ځائ ته اُورسیده د غسے چه څوک به مسلمانیدۀ هغۀ به دوی سره ملاویدۀ، څو ورځو کښې دا یو مختصر ټولګے جوړ شو - ځنګل کښې د غلته ته د خوراک څۀ انتظام، نه هلته څۀ باغونه آوابادئ دے چه په دے خلقو به څۀ تیر شوي وي، هغه خو الله تعالیٰ ته معلومه ده، خو د کومو ظالمانو د ظلم نه چه دوی پریشانه شوي وُو او تختیدلي وُو، د هغوی لاره یے بنده کړه - کومه قافله چه به آخوا تله،

هغوی سره یې مقابله او جنګ کولو- تردې چه کافران پریشانه شول- د نبي علیه الصلوٰة والسلام په خدمت کښې یې سړي ولیږه، د الله تعالیٰ او د خپلولئ واسطه یې ورکړه، په عاجزئ او په مِنت یې ورته عرض وکړه چه دا یې سړي تولګې خپل ځان ته راوبله چه دوی خوهُم په مُعاهده کښې داخل شي، او زمونږ د پاره د تلو راتلو لاره پرانستلې شي- لیکې چه د نبي علیه الصلوٰة والسلام اجازت نامه کله چه دې حضراتو ته اُورسیدله، نو ابوبَصیر رضی الله عنه د مرګ په حالت کښې وُو، د نبي علیه الصلوٰة والسلام خط یې په لاس کښې وُو، چه په دې حالت کښې وفات شو- رضی الله عنه وارضاه- (بخاری و فتح)

فائده: سړې که چرې په خپل دین کښې پوخ وي په شرط د دې چه دین هم رښتینې وي نولوئ نه لوئ طاقت هغه نشي آړولې، او د مسلمانانو مدد کولو خود الله تعالیٰ وعده ده، په شرط د دې چه هغه مسلمان وي-

⑦ د حضرت بلال حَبَشي رضی الله عنه اسلام او مصیبتونه

حضرت بلال حَبَشي رضی الله عنه مشهور صحابي دې چه د مسجدِ نبوي همیشه مُؤذِّن پاتې شوې دې- په شروع کښې د یو کافر غلام وُو، اسلام یې راوړه چه د هغې په وجه قسما قسم تکلیفونه ورکولې شو، اُمیّه بن خَلَف چه د مسلمانانو سخت دُشمن وُو، ده به حضرت بلال رضی الله عنه په سخته ګرمئ کښې د غرمې په وخت کښې په تودو شګو ستوني سِتغ سملاوُو، او په سینه به یې ورته لویه تیګه کیخوده چه اُونه خوزي او ورته به یې ویل یا به په دې حالت کښې مړ شې او که ژوند غواړې نو د اسلام نه واوړه- خو هغه به په دې حالت کښې هم اَحَد اَحَد ویل یعنې د عبادت لائق صرف یو دې- د شپې به یې په زنځیرونو کښې اُوتړه او په کړوړو به یې وهلو، بیا د ورځې به یې په دې زخمي حالت کښې په زمکه واچولو، نور زیات به زخمي کولې شو چه بې قراره شي، د اسلام نه واوړي یا ناقلارئ کښې لتو پَکولو سره مړ شي، عذاب ورکونکي به ستړي شو، کله به دا اَبُوجَهَل نمبر راتله، کله د اُمیّه بن خلف، کله د نورو، او هرسړي به د دې کوشش کولو چه په تکلیف رسولو کښې زور ختم کړي- حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دې

Maktaba Tul Ishaat.com

حالت کښې اُولیدهٔ، نو په بیعه یې واخستهٔ آزاد یې کړو۔

فائده: دعربوبیت پرستو به خپلو بتانو ته خُدایان ویل، دد ے په مقابله کښې د اسلام تعلیمِ د توحید وو، په د ے وجه د حضرت بلال رضی الله عنه په ژبه صرف یو دے یو دے بار بار وظیفه وه۔ دا د تعلق او د عشق خبره ده، مونږ د دروغو محبتونو کښې وینو چه چا سره محبت شي د هغهٔ نوم اخستلو کښې مزه راځي بے فائد ے هغه بیا بیا ویلے شي، نو د الله تعالیٰ د محبت به څهٔ وایې چه په دین دُنیا دوا ړو ځایونو کښې بکار راتلونکے د ے۔ هم دا وجه ده چه حضرت بلال رضی الله عنه به هر قسمه کړولے شو، سختو نه سخت تکلیفونه به ورته رسولے شو۔ د مکے هلکانو ته به یې حواله کړهٔ چه هغوی ورله په لارو کوڅو کښې چکرے ورکړی، او د ے وُوچه "یو هُم یو دے" وظیفه به یې بار بار کوُله، دد ے ورته دا بدله ورکړے شوه چه بیا د نبی علیه الصلوٰة والسلام په دربار کښې مُؤذِن شو، سَفر او مَقام کښې همیشه د آذان خدمت دهٔ ته اُوسپارلے شو۔ د نبی علیه الصلوٰة والسلام د وفات نه پس مدینه منوّره کښې اُوسیدل او د نبی علیه الصلوٰة والسلام ځائ خالی لیدل ورته مشکل شو، په د ے وجه یې اراده اُکړه چه د خپل ژوند څو ورځے چه دی، جهاد کښې تیرے کړم، جهاد کښې د شرکت په نیت روان شو، څهٔ موده پور ے مدینے منور ے ته واپس رانغے، یو وار ے یې د نبی علیه الصلوٰة والسلام په خوب کښې زیارت اوکړهٔ۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام ورته وُفرمایل، ا ے بلاله! دا څهٔ ظلم د ے ما ته چرته نهٔ راځے، د خوب نه پاسیدو سره مدینے منور ے ته لاړو، حضرت حَسَن حُسَین رضی الله عنهما ورته دآذان فرمائش وُکړهٔ۔ د نیازبینو فرمائش د اسے نهٔ وُو چه پکښې د اِنکار ځائے وَے، آذان یې شروع کړهٔ، او مدینه کښې د نبی علیه الصلوٰة والسلام د زمانے آذان غوږونو کښې پریوتل وُوچه یو شور او غوغا شوه، زنانه هم د کورونو نه په ژړا ژړا اُووتلے څو ورځے اِیساریدو نه پس واپس شو او سنه ۲۰ هـ ته تر د ے دِمِشق کښې وفات شو۔ (اُسدُالغابه)

⑤ د حضرت اَبُوذَرغِفّاری رضی الله عنه اِسلام

حضرت اَبُوذَرغِفّاری رضی الله عنه مشهور صحابی د ے، روستو د لویو زاهدانو او

لویو عالمانو نه شو- د حضرت علی کرم الله وجهه ارشاد دے چه ابُوذر رضی الله عنه دا سے علم حاصل کړے دے چه د هغے نه خلق عاجزدی خو هغوی هغه محفوظ ساتلے دے- هر کله چه دهٔ ته د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د نبوّت په رومبی ځل خبر اُورسیدهٔ، دهٔ خپل رور د حالاتو د تحقیق د پاره مکے ته اُولیږهٔ چه څوک دا دعوی کوی، چه ما ته وحی راځی، آسمانی خبرونه راځی، د دهٔ حالات معلوم کړه او د هغه خبرے په غور واوره- هغه مکے مکرمے ته راغے او حالات معلوم ئے کړو نو بیس رور ته ورغے، اَو وے ویل چه ما هغوی د ښو عادتونو او د ښو اخلاقو په حکم کولو اُولیدهٔ، او دا سے کلام م ترے واوریدهٔ چه نه شعر دے او نه د کاهنانو (یعنی جادوګرو) خبرے دی- دا بُوذر رضی الله عنه په دے مختصره خبره تسلّی اُونه شوه، په خپله ئے د سفر سامان تیار کړهٔ او مکے ته وُرسیدهٔ، او نیغ مسجدِ حرام ته لاړو- نبی علیه الصلوٰة والسلام ئے نهٔ پیژندهٔ، او د چا نه پوښتنه ئے د مصلحت نه خلاف اُوګڼړله د ماښام پورے په دے حال کښ وُو، ماښام حضرت علی کرم الله وجهه اُولیدهٔ چه یو نا آشنا مسافر دے- د مسافرانو، غریبانانو، بے وطنو خبرګیری د هغوی ضرورتونه پوره کول د دے حضراتو په ګهټئ کښ پراته وُو، خپل کورته ئے راوستهٔ میلستیا ئے اوکړه خو د پوښتنے ئے څهٔ ضرورت اونهٔ ګنړهٔ، چه څوک ئے، څنګه راغلے ئے؛ مسافر هم څهٔ ظاهره نکړه، صبا ئے بیا جُمات ته راغے، او تول ورځ ئے په دے حال کښ تیره شوه چه په خپله ورته پته اُونهٔ لګیده، او پوښتنه ئے د چا نه اُونکړه- غالبًا د دے وجه به داوه چه نبی علیه الصلوٰة والسلام سره د دُشمنئ قصے ډیرے مشهورے وے- نبی علیه الصلوٰة والسلام او د وی سره ملاویدو نکو ته هر قسمه تکلیفونه ورکولے شو، د دهٔ په دا خیال وُو چه صحیح حال به معلوم نهٔ شی او د بدګمانئ په وجه به په مفتو کښ تکلیف اُوچت کړم- بله ورځ ماښام بیا حضرت علی رضی الله عنه ته خیال اُوشو چه بے وطنه مسافر دے په ظاهر کښ چه څهٔ غرض د پاره راغلے دے هغه پوره نهٔ شو، څکه ئے بیا کورته راوست، د شپے ئے پرِ خوراك اَو خوب اُوکړهٔ خو د پوښتنے ترے په دے شپه هم وار رانغے، د ریمے شپے ته بیا هم دا حالت شو، نو حضرت علی رضی الله عنه ترے پوښتنه اُوکړه چه تا سو څهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

قسم کار د پاره راغلی يئ؟ څه دِ غرض دے؟ نو حضرت ابوذر رضی الله عنه اول هغهٔ نه ورکړهٔ وعده يے ترے واخستله چه صحيح حال به ښائيے، دے نه پس يے ورته خپل غرض اُوخودلو. حضرت علی رضی الله عنه وُفرمايل چه بے شکه هغهٔ د الله رسول دے، اَوصبا چه کله زهٔ ځم نو ته هُم راسره لاړشه هلته به دِ اُرسوُم، خو مخالفت زور دے، دے د پاره په لاره کښ که چرے ما ته څوك داسے سړے ته راشي چه د هغهٔ نه ستا ځما سره په تلو خطرهٔ وي نو زهٔ به وَړو بولو ته کينم يا به خپله پڼره سموُم، ته نيغ روان اُوسه، ما سره مهٔ اُودريږه. په دے وجه چه ستا ځما سره تلل معلوم نهٔ شي. دغه شان سحر د حضرت علی رضی الله عنه روستو روستو د نبی علیه الصلوٰة والسلام خدمت کښ اُورسيدو څه خبرے اترے اُوشوے سمدستي مُسلمان شو، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د هغهٔ د تکليف په خيال اُوفرمايل چه خپل اسلام اُوس مهٔ ښکاره کوه، پټ خپل قوم ته لاړشه، هر کله چه زمونږ غلبه شي هغه وخت راشه، هغهٔ عرض اُوکړهٔ اے د الله رسوله! (صلی الله علیه وسلم) په هغه ذاتِ م قسم وي د چا په قبضه کښ چه زما ساه ده چه دا کلمهٔ توحيد به د دغے بے ايمانانو په مينځ کښ په زوره وايمه هغه وخت يے مسجدِ حرام ته تشريف يوړهٔ آو په اُوچت آواز يے اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ اُووے، بيا څهٔ وُو د څلور واړو طرفو نه خلق وَر باسيدل او دومره يے اُووَهلهٔ چه زخمي شو، مرګ ته نژدے شو، د نبی علیه الصلوٰة والسلام تره حضرت عباس رضی الله عنه چه تر دغے وخته پورے مسلمان شوے نهٔ وُو د هغهٔ د پاسه د بچ کولو د پاره سملاستهٔ، او خلقو ته يے اُووے چه څهٔ ظلم کوئ داسړے د قبيله غِفار دے، او دا قبيله د ملکِ شام په لاره کښ پرته ده، ستاسو تجارت وغيره ټول ملکِ شام سره دے، که چرے دے مړ شو نو شام ته په تله راتلهٔ بند شي، په دے خبره د دغے خلقو ته هم خيال پيدا شو چه د ملکِ شام ته زمونږ ټول ضرورتونه پوره کيږي د دغه لاره بنديدل مصيبت دے، په دے وجه يے هغه پريخودهٔ. دويمه ورځ بيا دغه شان مسجدِ حرام ته لاړو آو په اُوچت آواز يے کلمه اُوويله، خلقو د دے کلمے د اوريدو طاقت اُونهٔ لرلو

اَوبړے وَرُځَپَه شو، دویمه ورځ بیا حضرت عباس رضی الله عنه هغه شان هغوی پوهه کړل او لړے پے کړل چه ستاسو د تجارت لاره به بنده شی۔

فائده: د نبی علیه الصلوٰة والسلام دے ارشاد سره چه خپل اسلام پټ ساتئه، دهغهٔ دا کار د حق ښکاره کولو یو جوش او جذبه وه چه هرکله دا دین حق دے، نو د چا د پلار خۀ ویره ده چه دهغهٔ دیرے دِ پټ کړے شی او د نبی علیه الصلوٰة والسلام منع کول د شفقت له وجه وُو چه کیدے شی تکلیفونه اُوته ز غملے شی، کنی د نبی علیه الصلوٰة والسلام د حکم نه خلاف د اصحابو کرامو رضی الله عنهم دا مجال اَچرو وُو نه۔ د دے خۀ نمونه مستقل باب کښ راروانه ده، چونکه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خپله دین خورولو کښ هر قسمه تکلیفونه زغمل، په دے وجه حضرت ابُوذر رضی الله عنه په اسانتیا باندے عمل کولو په ځائے د نبی علیه الصلوٰة والسلام تابعداری غوره کړه۔ هُم دا یو خیز وُو چه د دے په وجه هر قسمه ترقئ دینی او دُنیوی د اصحابو کرامو رضی الله عنهم قدمونه پے ښکلول، او هر یو میدان د هغوی په قبضه کښ وُو چه چا به یو وارے کلمهٔ شهادت اُویله، د اسلام د جهنډے لاندے به راغے، نو لوئ نه لوئ طاقت به هغه نهٔ شو منع کولے، او نهٔ لوئ نه لوئ ظلم به هغه د دین د خورولو نه لرے کولے شو۔

⑥ د حضرت خبّاب بن الاَرَتّ رضی الله عنه تکلیفونه

حضرت خبّاب بن الاَرَتّ رضی الله عنه د هغے مبارکو هستونه دے چه چا د امتحان د پاره خپل ځان وُړاندے کړے وُو، او د الله تعالیٰ په لار کښ پے د سختو سختو تکلیفونه تیر کړی وُو، په شروع کښ د پنځو شپږو سړو نه پس مسلمان شوے وُو ځکه پے ډیرے زمانے پورے تکلیفونه اوچت کړل، د اُوسپنے زغره به پے ورته واغوستوله، او غرموکښ به پے وُغورزولو چه د ډیرے ګرمئ او تاؤ په وجه خولو باندے خولے به ترے بهیدلے، اکثروختونو کښ به بالکل ستونی ستغ په ګرمو شګو سملاؤلے شو چه د هغے په وجه پے د ملا غوښه وُرستنه شوے اُوغورزیده۔ د دے یو دے ښځے غلام وُو، هغه خبر شوه، چه

Maktaba Tul Ishaat.com

دے نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم سره ملاویږی ددے په سزا کښ به یے اُوسپنه گرمه کړه
او په سَر به یے داغ ورکولو۔ حضرت عُمر رضی اللہ عنہ یوځل شۀ موده پس په خپله
زمانۀ خلافت کښ د حضرت خبّاب رضی اللہ عنہ نه د هغې تکلیفونو د تفصیل تپوس
اوکړۀ چه کوم دۀ ته رسیدلی وُو۔ دۀ عرض اوکړۀ چه زما ملا اُوگورئ حضرت
عُمر رضی اللہ عنہ ددۀ ملا اُوکتله، وے فرمایل چه داسے ملا خو ما په دچا لیدلے
نۀ ده۔ دۀ عرض اوکړۀ چه زۀ به یے د اُور په سَروَتکو واچولم، او را به یے
څکلم، زما د ملا وازگے آوو بے سره به هغه اُور مړشو۔ سره ددے حالاتو کله
چه د اسلام ترقی شوه، او دفتوحاتو دروازه پرانستلے شوه، نو په دے به یے
ژړل چه الله مکره چرته زمونږ د تکلیفونو بدله په دُنیا کښ خو ملاؤ نشوه۔
حضرت خبّاب رضی اللہ عنہ فرمائی چه یوځل نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم د عادت نه خلاف
ډیراُوږد مونځ اوکړۀ۔ اصحابو کرامو د هغې باره کښ تپوس اوکړۀ، نبی صلی اللہ علیہ وسلم
ارشاد وُفرمایۀ چه دا د رغبت او ډیرے مونځ وُو، ما په دے کښ د الله تعالیٰ
نه درے دُعا گانے اوکړے، دوه پکښ قبولے شوے او دیوے نه یے اِنکار وُفرمایلو
ما دا دُعا اوکړه، چه زما ټول اُمت دِ په قحط هلاک نۀ شی، دا قبوله شوه۔
دویمه مِ دا دُعا اُوکړه چه په دوی دِ داسے دُشمن مقرر نۀ شی چه دوی بیخی
ختم کړی، دا هم قبوله شوه۔ دریمه مِ دا دُعا اوکړه، چه د دوی دِ په خپل
مینځ کښ جنګ جهګړه نۀ وی۔ دا خبره منظوره نۀ شوه۔ د حضرت خبّاب
رضی اللہ عنہ وفات د اُوۀ دیرشو کالو په عمر کښ اُوشو، او په کُوفه کښ د ټولو نه
رومبے صحابی هم دے دفن شو۔ ددۀ دوفات نه پس حضرت علی کرم اللہ وجهه ددۀ
په قبر تیریدۀ، نو ارشاد یے وُفرمایۀ، الله تعالیٰ دِ په خبّاب رضی اللہ عنہ رحم اوکړی
په خپله خوښه مسلمان شو، او په خوشالئ یے هجرت اوکړۀ، او په جهاد کښ
یے ژوند تیر کړۀ، او مصیبتونه یے تیر کړل، مبارك دے هغه کس چه قیامت
یادساتی، او دحساب کتاب تیاری کوی، او د گذارے قابل مال باندِ صبر
کوی۔ او خپل مولیٰ (یعنی الله تعالیٰ) راضی کړی۔ (اُسُدُ الغَابَه)

فائده: په حقیقت کښ د مولیٰ راضی کول هُم ددے خلقو حصه وه

چه د دوی د زړوند هر یو کار د مَولیٰ د رضاد پاره وُو۔

۷ حضرتِ عمّار رضی اللہ عنہ او د هغهٔ د مور پلار ذکر

حضرت عمّار رضی اللہ عنہ او د هغهٔ مور پلار ته هُم سختو نه سخت تکلیفو نه رسوُلی شوی وُو۔ د مکے مکرمے سخته ګرمه شګلنه زمکه باندې به دوی ته عذاب ورکوُلے شو، او نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم به چه کله هغه طرف ته تیریدلو، نو د صبر تلقین به یے ورته اُوکړو، او د جنت زیرے به یے ورکړو، آخر د دوی پلار حضرت یاسر رضی اللہ عنہ هم د دے تکلیف په حالت کښې وفات شو، ظالمانو ترمرګه پورے آرام ته پرے نخودو۔ او د دوی مور حضرت سُمَیّه رضی اللہ عنہا په شرمګاه کښې ابوجهل لعین په نیزه اُووهله او شهیده شوه، خو د اسلام نه وُونه ګرزیده، حال دا چه بوډۍ وه ضعیفه وه خو دے بدنصیبه د هیڅ څیز خیال اُونه ساتهٔ، په اسلام کښې د ټولو نه رومبے شهادت د دے شوید دے، او په اسلام کښې د ټولو نه رومبے جُمات (قُبا کښې) حضرت عمّار رضی اللہ عنہ جوړکړے دے، کله چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم هجرت وُکړو مدینے منورے ته یے تشریف یوړو، نو حضرت عمّار رضی اللہ عنہ وُویل چه د نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام د پاره یو مکان د سُوری جوړوُل پکار دی چه پکښې تشریف ږدی د غرمے پکښې آرام کوی او مونځ هم په سوری کښې کوی۔ نو په قُبا کښې حضرت عمّار رضی اللہ عنہ اوّل کا نړی راجمع کړل، او بیا یے جُمات جوړکړو۔ په جنګ کښې به ډیر په جوش سره شریکیدلو، یو وارے په مزه کښې راغے، وے ویل چه اُس به خپلو دوستانو سره به ملاویږو، محمّد صلی اللہ علیہ وسلم او د هغهٔ د ډلے سره به ملاویږو، په دے کښې ترے شو، د چا نه یے اُوبهٔ وُغوختلے، هغهٔ ورته پئ مخکښې کړل، هغه یے وُڅښل، وے ویل چه ما د نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام نه اوریدلی وُو چه تهٔ به په دُنیا کښې د ټولو نه آخری څیز پئ څکے۔ د دے نه پس شهید شو، د غه وخت یے عُمر شپږ نوی کم سل کاله وُو، بعضو یو کال نیم کم خودلے دے۔ (اُسُد الغابه)

۸ د حضرت صُهیب رضی اللہ عنہ اسلام راوړل

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت صُهَیب رضی الله عنه هم د حضرت عمار رضی الله عنه سره مسلمان شوی وو، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د حضرت ارقم رضی الله عنه مکان کښې تشریف فرما وو چه دا دواړه جُدا جُدا په خدمت کښې حاضر شو، او د مکان په دروازه دواړه اتفاقًا یو ځائے شو، هر یو د بل غرض معلوم کړه، نو یو غرض د اسلام راوړل او د نبی علیه الصلوٰة والسلام د فیض نه فائده اخستل د دواړو مقصود وو، اسلام یے راوړه او د اسلام راوړلو نه پس کوم څهٔ چه په دغه زمانه کښې دے لږ یے کمزوری دپاره وو، په تورو ورپیښیدل وو، هغه ورپیښ شو، هر قسمه کړاونه او تکلیفونه ورته اُورسولے شو، اخرتنګ شو او د هجرت اراده یے اُوکړه، نو کافرانو دا خبره هم نه خوښوله چه دا خلق دِ بل ځائے ته لاړ شی او دا ارام ژوند دِ تیر کړی. په دے وجه چه دچا د هجرت حال په ورته معلوم شو، نو د هغهٔ د نیولو کوشش به یے کولو چه د تکلیفونو نه خلاص نهٔ شی، نو صُهَیب رضی الله عنه پسے هم شو، او یو ډله د دهٔ د نیولو دپاره لاړه، دهٔ خپل ترکش را اُوویستلو چه په هغے کښې غشی وو، او دے خلقو ته یے اُوویل چه ګورئ، تاسو ته ښه معلومه ده چه زهٔ تاسو کښې تر ټولو نه زیات غشی ویشتونکے یم ترڅو چه یو غشے ماسره پاتے وی، تاسو خلق ما له نهٔ شئ رارسیدے. او کله چه یو غشے هم پاتے نهٔ شی، نو زهٔ به په خپله توره مقابله کومه تر دے چه توره هم زما په لاس کښې پاتے نشی. دے نه پس څهٔ چه تاسو نه کیږی کوئ، خو که تاسو غواړئ نو د خپل ځان په بدله کښې د خپل مال پته خودلے شم کوم چه په مکه کښې دے، او دوهٔ وینزے هم دی هغه ټول واخلئ، په دے هغه خلق راضی شو او خپل مال یے ورکړو او ځان یے خلاص کړهٔ، په دے باره کښې ایت پاک وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِيْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ (البقره) نازل شو (درمنثور) (ترجمه) بعض خلق داسے دی چه د الله تعالیٰ د رضا دپاره خپل ځان په بیعه اخلی او الله تعالیٰ په بندګانو باندِ مهربانه دے. نبی علیه الصلوٰة والسلام دغه وخت په قبا کښې تشریف فرما وو چه صُهیب رضی الله عنه یے اُولیدهٔ ارشاد یے اُوفرمایهٔ چه تا دا نفع تجارت اُوکړهٔ. صُهیب رضی الله عنه فرمائی چه نبی علیه الصلوٰة والسلام دغه وخت کهجورے خوړلے، او زما سترګه خوږه وه، ما هم ورسره په

خوراک شروع وُکړه، نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل چه ستړګه خوږ خُولې دَه او کهجورے خورے، ما عرض اوکړه چه حضورﷺ هغه سترګے طرف ته خورم چه کومه روغه دَه۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام دے جواب آوریدو لوسره اُخندل۔ حضرت صُهیب رضی الله عنه ډیر خرچ کؤنکے وُو۔ تردے چه حضرت عُمر رضی الله عنه دَه ته اُوفرمایل چه ته فضول خرچي کوے، دوی عرض اُوکړه چه ناحقه چرته خرچ نکوم، حضرت عمر رضی الله عنه چه کله وفات کیدَه، نو دوی ته یے دجنازے دمونځ کولو وصیت فرمایلے وُو (اُسدالغابہ)

⑨ دحضرت عُمر رضی الله عنه داسلام راوړلو قصه

حضرت عمر رضی الله عنه چه دهغهٔ پاکه نامه پاندے نن هم مسلمانانو ته فخر دے، دهغهٔ دایمانی جوش نه نن دپارلس ۱۳۰۰ سوه کاله پس هم دکافرانو په زړهٔ کښ ویره دَه، اسلام راوړلو نه مخکښ دمسلمانانو مقابله او تکلیف رسولوکښ هم مشهور وُو، دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم قتل پسے لګیدلے وُو۔ یوه ورځ کافرانو دمشورے جرګه قائمه کړه، چه څوک شته؟ چه محمد ﷺ قتل کړی۔ عُمر وُویل چه زهٔ به یے قتل کړم۔ خلقو اُوویل بیشکه ته یے کولے شے۔ عُمر توره وا خسته او روان شو۔ په دے فکرکښ تلو چه یو صاحب دزُهره قبیلے چه دهغهٔ نوم حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه دے او بعضو وئیل صاحب لیکلے دے مخے ته راغے هغهٔ ترے تپوس اُوکړه چه عُمره! چرته ځے؟ وے ویل چه د محمد ﷺ دقتلولو په فکرکښ یم۔ (نعوذ بالله)۔ سعد رضی الله عنه اُووے چه ته دبنو هاشم او بنو زهره او بنو عبد مناف نه څنګه بے فکره شوے؟ هغوی به تا په بدله کښ قتل کړی۔ په دے جواب غصه شو، اُووے ویل چه معلومیږی، ته هم بے دینه (یعنی مسلمان) شوے یے۔ راځه چه رومبے خو تا ختم کړم، داپے اُووے او توره یے راواُخکله، او حضرت سعد رضی الله عنه هم دا اُووے چه او! زهٔ مسلمان شوے یم، توره یے راواُخکله دواړو طرفو نه توره چلیدونکے وه چه حضرت سعد رضی الله عنه اُووے چه رومبے خو دخپل کور خبر واخله، ستا خور او اوښے دواړه مسلمانان شوی دی۔ دا اَوریدل وُو چه دغصے نه ډک شو، او نیغ دخور کورته لاړو۔ هلته حضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

خَبّابؓ رچه دهغهٔ ذکر شپږم نمبر قصه کښې تیر شو) دروازه بنده کړے وه۔ دے دواړو ښځې او خاوند ته یے قرآن شریف خودلو، عُمر دروازه اُووهله، د هغهٔ د آوازنه حضرت خبّابؓ خوزر دننه پټ شو، او هغه سیپاره په جلتئ کښې هیر پاتے شوه چه په کومه د قرآن شریف آیتونه لیکلی وُو۔ خورے دروازه پرانستله۔ د عُمر په لاس کښې څهٔ څیز وُو چه د خور سَرے پرے اُووَهلو د هغې د سَرنه وینه روانه شوه، آووے ویل د خپل ځان دُشمنې، ته هم بے دینه (یعنی مسلمانه) شوے یے۔ دے نه پس کورته دننه ورَغے، او تپوس یے اوکړو چه څهٔ موکول؟ او دا آواز د چا وُو؟ آوخی ورته اُووے چه خبرے آترے موکولے عُمر اُوویل چه آیا تا خپل دین پریخے دے؟ او بل دین دِ اختیار کړیدے، آوخی اُووے کهٔ بل دین حق وی نو بیا؟ د عُمر د آوریدل وُو چه د آوخی کیره یے وُنیوله، راپے خکله، او سمدستی پرے وَربریوت او په زمکه یے راوُغورزووُ، بنه یے اُووَهله۔ خورے د خلاصۆلو کوشش اوکړو، نو هغه یے په مخ یو سپیړه داسے په زوره اُووهله چه وینه ترے راوُوَتله، هغه هُم آخر د عمر خور وه، وے ویل اے عُمَره! مونږه په دے وجه وَهلے شو چه مونږ مسلمانان شوی یُو۔ بیشکه مونږ مسلمانان شوی یُو، څهٔ چه تا نه کیږی تهٔ اوکړه، دے نه پس د عُمر نظر په هغې سیپاره پریوت، کومه چه په جلتئ کښې کهر پاتے شوے وه، او د غصے جوش یے هُم په دے وَهلو ټکولو سره کم شوے وُو، او د خور وینه ډیره بهیدل یے اُولیدهٔ، شرم ورغلو، وے ویل چه ښه ده ما ته اُوښایه دا څهٔ دی؟ خورے اُووے چه تهٔ ناپاکه یے، او ناپاك دے ته لاس نهٔ شی لګولے، هرڅومره چه هغهٔ اِصرار اُوکړهٔ خو خورے یے او دَسه او بے غُسله ورکولو ته تیاره نهٔ شوه۔ عُمَر غُسل اوکړو او هغه پاتره یے واخسته وے لوستله، په هغې کښې سوره طٰهٰ لیکلے وُو، هغه یے لوستل شروع کړهٔ او چه اِنَّنِیٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِیْ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِکْرِیْ پورے وُلوستلو، نو حالت یے بدل شو، وے ویل چه ښه ده ما هم د محمد صلی الله علیه وسلم خدمت ته بوزئ۔ دے الفاظو آوریدو وه سره حضرت خبّاب رضی الله عنه د دننه نه راوُوتلو، آووے ویل چه اے عُمَرهٔ! تا ته زیرے د رکوم

چه پرون د زیارت په شپه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دُعا غوښتلې وه چه اے الله! عُمر او ابو جهل کښې چه کوم تا ته زیات خوښ وی په هغهٔ سره اسلام ته قوت ورکړه (دا دواړه په قوت کښې مشهور وُو) معلومیږی چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام دُعا ستا په حق کښې قبوله شوه، دے ته پس د نبی علیه الصلوٰة والسلام په خدمت کښې حاضر شو، او د جُمعې په سحر مسلمان شو. (خصاص)

(د حضرت عُمر رضی الله عنه مسلما نیدل وُو چه د کافرانو حوصلې په بریو تو شروع شوے، خو بیا هُم دا ډیر مختصر ټولګے وُو، او کافران ټوله ملکه بلکه ټول عرب وُو، په دے وجه په کښې نور هم جوش پیدا شو او جلسے او مشورے به یے کولے او دے حضراتو د ختمولو کوشش او قِسما قِسم تد بیرونه به یے کول خو دومره ضرور اُوشوه چه د حضرت عُمر رضی الله عنه په اسلام راوړلو مسلمانانو د ملکے په جُمات (حَرَم شریف) کښې مونځ په ښکاره کول شروع کړه، حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه د عُمر رضی الله عنه اِسلام راوړل د مسلمانانو فتح وه او د هغه هجرت د مسلمانانو مدد وُو، او د هغهٔ خلافت رحمت وُو. (اُسد الغابه)

(۱۰) د مسلمانانو د حبشے هجرت او شِعب ابی طالب کښې قید یدل

مسلمانانو او د هغوی سردار فخرِ دو عالم صلی الله علیه وسلم ته هر کله چه د کافرانو نه تکلیفونه رسیدل، او هره ورځ په ځائ د کښې پکښې زیاتے کیدلو، نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اصحابو کرامو رضی الله عنهم ته اجازت ورکړه چه تاسو د دے ځائ نه بل ځائ ته لاړشئ، نو ډیرو حضراتو حبشے ته هجرت اُوکړه، د حبشے بادشاه اګرچه نصرانی یعنی عیسائی وُو او تر دغه وخته پورے مسلمان شوے نهٔ وُو خو رحمدل او مُنصف مزاجه مشهور وُو. د نبوّت په پنځم کال د رجب (یعنی زیارګه) میاشت کښې د رومبی ډله د یولسو یا دولسو سړو او څلورو یا پنځو زنانو حبشے ته هجرت وُکړه، د مکے خلق ورپسے هُم تلو چه لاړشی، خو دا خلق په لاس ورنهٔ غلل هلته چه اُرسیدل نو خبر شو چه د مکے خلق ټول مسلمانان شول او اسلام غالب شو، په دے خبر دا حضرات ډیر خوشاله شو، او وا پس خپل وطن ته راتلل خو چه مکے مکرمے ته

Maktaba Tul Ishaat.com

نزدے راؤرسیدل، ورته معلومه شوه چه دا خبر غلط وُو او د مکے خلق هم هغسے بلکه د هغے نه هم زیات په دشمنئ او تکلیفونو رسولو کښ لګیا دی. نو ډیر خَفه شُو، د دوی نه بعضِ حضرات د دغه ځائ نه بیرته واپس شو، او بعضو چا پناه واخستله، مکے مکرمے کښ داخل شو. دے ته د حبشے رومبنے هجرت ویلے شی. دے نه پس بیا لویه ډله چه د ۸۳ اتیا سړی او ۱۸ اتلس زنانه خودلے شی جُدا جُدا هجرت یے اُوکړهٔ، دے ته د حبشے دویم هجرت وائی، بعضو اصحابو کرامو دواړه هجرتونه اوکړل او بعضو نه. کافرانو چه کله اُولیدل چه دا خلق په حبشه کښ د آرام ژوند تیروی، نو دوی ته نوره غصه ورغله، او ډیرے تحفے او ډالئ یے واخستے د حبشے بادشاه نجاشی ته یے یو وفد ؤلیږهٔ چه د بادشاه دپاره یے هم ډیرے تحفے یوړے، او د هغهٔ د خاصو کسانو دپاره یے هم ډیرے تحفے ځان سره واخستے. هلته چه اُورسیدل، نو اول یے د خاصو کسانو او پادریانو سره اُولیدل او ډالئ یے ورکړے، او د هغوی نه یے بادشاه سره د خپل سفارش وعده واخستله. او بیا د بادشاه په خدمت کښ داوفد حاضر شو، اول یے بادشاه ته سجده اوکړه، بیا یے تحفے پیش کړے، او ورسره یے درخواست هم پیش کړهٔ او رشوت خورو خاصو کسانو یے طرفداری اوکړه، دوی اُووے اے بادشاه! زمونږ د قوم یو څو ناپوهه هلکانو خپل زوړ دین پریخے دے، او نوی دین کښ داخل شوی دی چه نهٔ یے مونږ پیژنو، او نهٔ یے تاسو پیژنئ، او ستا سو ملک ته راغلی دی اُوسیږی. مونږ د مکے شریفانو او د دغے خلقو پلارانو، ترونو او خپلوانو رالیږلی یُو چه دوی واپس یُوزو. تاسو دوی مونږ ته اُوسپارئ. بادشاه اُووے چه کوم خلقو زما پناه نیولے ده بغیر تحقیقه هغوی تاسو ته حواله کولے نهٔ شم. اول به هغوی راؤغواړم، معلومات به ترے اوکړم، که چرے دا صحیح شوه نو حواله به یے کړم. مسلمانان یے راؤغونښتل، په اول کښ خو مسلمانان ډیر پریشانه شو چه څهٔ به کوؤ، خو د الله تعالیٰ فضل مدد اوکړهٔ او په همّت یے دا فیصله اوکړه چه تلل پکار دی، او صَفا خبره ویل پکار دی، بادشاه ته چه ورغلل اول یے سَلام اوکړهٔ. چا اعتراض ؤکړهٔ چه دوی شاهی ادا بو موافق

بادشاه ته سجده اُونکړه. دوی ورته اُووے چه مونږ ته زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم د الله تعالیٰ نه سوا بل چا ته د سجدے کولو اجازت نهٔ دے راکړے. دے نه پس بادشاه د هغوی نه د حالاتو پوښتنه اوکړه، حضرت جعفر رضی الله عنه وړاندې شو، وے فرمایل چه مونږ خلق په جهالت کښې پراته وُو، نهٔ مو الله پیژندلو نهٔ د هغهٔ د رسولانو ته خبر وُو. د کاڼړو عبادت به مو کولو، مُردارے به مو خوړے، نا کارے به مو کولے، خپلولئ مو پرېښے وے، مونږ کښې زورور به کمزور وژلو. مونږ په دے حالت کښې وُو چه الله تعالیٰ خپل یو رسُول راولیږلو چه د هغهٔ نسب، د هغهٔ صداقت، د هغهٔ ایماندارئ، پرهیزګارئ مونږ ښه پیژنو. هغهٔ مونږ دیوالله وَحْدَهٗ لَاشَرِیْكَ لَهٗ عبادت ته راوبللو، او د کاڼړو او بُتانو د عبادت نه یے منع کړو، هغهٔ مونږ ته د ښو کارونو حکم راکړو، د بدو کارونو نه یے منع کړو، هغهٔ مونږ ته د رښتیا ویلو حکم راکړهٔ، د امانتدارئ حکم یے راکړهٔ، د صِله رحمئ حکم یے راکړهٔ، د ګاونډی سره د ښهٔ معاملے کولو حکم یے راکړهٔ، مونځ، روژه، صدقے، خیرات حکم یے راکړهٔ، او د ښهٔ اخلاقو تعلیم یے راکړهٔ. زنا، بدکاری، دروغ ویل، د یتیم مال خوړل، په چا تهمت لګول او د دے قسمه بدو عملونو نه یے منع کړو، مونږ ته یے د قران پاك تعلیم راکړهٔ، مونږ په هغهٔ ایمان راوړهٔ او د هغهٔ حکمونه مو اُومنل، په دے زمونږ قوم زمونږ دُشمنان شو. او مونږ ته یے هر قسمه تکلیفونه رارسول شروع کړل، مونږ مجبوره شو ستاسو په پناه کښې د خپل نبی په وینا راغلی یُو. بادشاه اُووے کوم قرآن چه ستاسو نبی راوړے دے هغه ما ته څهٔ واوروی حضرت جعفر رضی الله عنه د سورة مَرْیَم رومبنی آیتونه وُلوستل، هغه یے چه واورېدل، بادشاه هم په ژړا شو او د هغهٔ پادریان هُم، چه ډیر د غلته موجود وُو، تیولو دومره ډیر وژړل، چه ږیرے یے لوندے شوے. دے نه پس بادشاه اُووے په الله تعالیٰ م قسم وی، دا کلام او کوم کلام چه حضرت موسیٰ علیه السلام راوړے، د یو نُور نه وتلی دی او هغهٔ خلقو نه یے صفا انکار اوکړو چه زهٔ دوی تاسو ته حواله کولے نهٔ شم. هغه خلق ډیر پریشانه شو ډیر ذلیله او سپک شو په خپل مینځ کښې یے صلاح

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکړه یوځکښ اُووے چه صبا به زۀ دا ستے تدبیر اُوکړم چه بادشاه به ددوی جرړے پرېکړی - ملګرو ورته اُووے دا سے نۀ دی کول پکار - دا خلق اګر چه مسلمانان شوی دی، خو بیا هم زمونږ د خپلوان دی خوهغهٔ ونه منله دویمه ورځ بیا بادشاه ته لاړل، اُووے وېل چه دا خلق د حضرت عیسیٰ علیه السلام په شان کښ بے ادبی کوی، هغه د الله تعالیٰ ځوئ نه منی - بادشاه بیا مسلمانان راوُغوښتل - صحابه رضی الله عنهم فرمائی چه دویمه ورځ بللے سره مونږ نور هم زیات پریشانه شو - بهرحال لاړو - بادشاه تپوس اُوکړۀ چه تاسو حضرت عیسیٰ علیه السلام باره کښ څهٔ وایئ، دوی عرض اوکړۀ هغه وایُو کوم چه زمونږ نبی بانددے د هغهٔ په شان کښ نازل شوی دی - چه هغه د الله تعالیٰ بنده دے، د هغهٔ رسول دے، د هغهٔ روح دے او د هغهٔ کلمه ده، هغهٔ لره الله تعالیٰ پېغلے ربے اوڅ پاکے بی بی مریم علیها السلام طرفته واچولو (او د هغے نه پیدا شو) نجاشی اُووے، چه حضرت عیسیٰ علیه السلام هم ددے نه سوا نور څهٔ نه دی فرمایلی، پادریانو خپلو کښ بک بک اُوکړل (یعنی خبرے یے وَ اړولے) خو نجاشی اُووېل ستاسو چه څهٔ خوښه وی وایئ (خو حقیقت هم دغه دے) دے نه پس نجاشی هغوی تحفے واپس کړے، او مسلمانانو ته یے اُووے، تاسو په امن یئ، څوک چه تاسو ته تکلیف رسوی، هغوی به تاوان ورکوی، او ددے اعلان یے هُم اوکړو څوک چه دوی ته تکلیف رسوی هغوی به تاوان ورکوی - (خمیس)

په دے وجه دغه ځائ د مسلمانانو عزت نور هم زیات شو، او هغه وفد ذلیله او رسوا واپس شو، نو بیا د مکے د کافرانو غصے چه به څومره جوش کوّلو، ښکاره دے، د دے سره د حضرت عُمر رضی الله عنه اسلام راوړلو هغوی نور هم سوزولی وُو، او هر وخت به په دے فکر کښ وُو چه د خلقو دوی سره لیدل کتل بند شی او د اسلام ډیوه په څهٔ چل مړه شی، د دے دپاره د مکے د سردارانو یوے ټلے په خپل مینځ کښ مشوره اوکړه چه اُوس به ښکاره بهره محمد صلی الله علیه وسلم قتل کړے شی، خو قتلول یے هم څهٔ اسان کار نه وُو ځکه چه بنو هاشم هم لوئ خاندان وُو، او د اُوچتے درجے خلق شمارلے شو - هغوی اګرچه اکثر مسلمانان شوی

نهٔ وُو، لیکن چهٔ کوم مسلمانان نهٔ وُو هغوی هم د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم قتلولو ته تیار نهٔ وُو، په دے وجه دے تولو کافرانو په جمع یوه مُعاهَده اوکړه چه د تولو بنوهاشم او بنوالمُطّلب د بائیکاټ اوکړے شی چه نهٔ به ورسره خوک خان سره کیناستو ته پریږدی، نهٔ به ورسره خوك اخستل خرخول کوی، نهٔ به ورسره خبرے اترے کوی، نهٔ به یے خوك کورته ځی، نهٔ به یے خوك خپل کورته راولی او تر هغے به ورسره صلح نهٔ شی کولے، ترڅو چه هغوی نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د قتل د پاره حواله نکړی، دا مُعاهَده د خلے په خبرو ختمه نهٔ شوه، بلکه یکم محرّم سنه ۷ نبوی کښ یے یوه مُعاهَده تحریری اُولیکله، بیت الله (یعنی خانه کعبه) کښ یے آویزانه کړه چه هر خوك د دے احترام اوقدر کوی، او دپوره کولو کوشش یے کوی، د دے مُعاهَدے په وجه درې کالو پورے دا ټول حضرات دوه ؤغرونو تر مینځه یوه سخته دُرّه کښ (شِعبِ ابی طالب) کښ نظربند وُو چه نهٔ خوك دوی سره ملاویدے شو، نهٔ دوی چا سره ملاویدے شو، نهٔ دوی د مکے د چا سره نه څهٔ څیز په بیعه اخستے شو، نهٔ د بهرنه راتلونکی چا سوداګر سره ملاویدے شو، کهٔ خوك به بهرته راوتلو، نو وهلے به شو، او کهٔ چا ته به یے څهٔ ضرورت ښکاره کړو نو صفا جواب به ورکولے شو، چه نهٔ شو کولے) معمولی غونډے سامان غله وغیره کومه چه دوی سره وه، ترکومے پورے به یے کار روان کولو، آخر به لوږو باندے لوږے به پرے تیریدلے۔ زنانه او (ماشومان) بچی د لوږے نه ناقلاره شُو، ژړل به یے او چیغے به یے وهلے، او دوی خپلو انو ته به د خپلو لوږو او تکلیفونو نه زیات د بچو تکلیفونو پریشانه کول، آخر درے کاله پس د الله تعالی په فضل سره هغه (مُعاهَده) پا نړه وَیَتو اُوخوړله، او د دے حضراتو دا مصیبت لرے شو، د درېو کالو زمانه دا سے سخت بائیکاټ او نظربندئ کښ تیره شوه۔ او په دا سے حالت کښ به په دے حضراتو باندے چه کوم تکلیفونه تیرشوی وی هغه ښکاره دی خو دے سره صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین په ډیر ثابت قدمئ په خپل دین باندے کلك وُو، بلکه هغه به یے خورَوَلو۔

فائده: دا تکلیفونه او مشقتونه هغه خلقو اُوچت کړی دی د کومو

Maktaba Tul Ishaat.com

چه نن مونږ نوم اخستونکی ویلے شو، او خپل ځان د هغوی تابعدار بنایو او ګنړو مونږ خلق د ترقئ په میدان کښې د اصحابو کرام رضی الله عنهم اجمعین په شان د ترقئ خوبونه وینو، خو ځه وخت د اغور فکر او سوچ هم کول پکار دی چه دغه حضراتو خومره قربانئ ورکړی دی، او مونږ د دین په خاطر، د اسلام په خاطر، د مذهب په خاطر څه اوکړل. کامیابی همیشه د کوشش او محنت مناسب کیږی. مونږ خلق غواړو چه په عیش او ارام، بے دینئ او د دُنیا طلب کښې د کافرانو اوګه په اوګه روان یُو، او د اسلام ترقی دِ مونږ سره وی. دا چرته کیدے شی. ــه

ترسم نه رسی به کعبه اے اعرابی ÷ کین ره که تو می روی بترکستان است

ویریږم یا نیا چیه اُوبه نه رسے کعبے ته÷ دا لار چه پرے روان یے بیغه تلے ترکستان ته

دویم باب

د الله جَلّ جَلَالُهٗ وعَمَّ نَوَالُهٗ نه خوف آو ویره

د صحابه کرام رضی الله عنهم د دین سره د هغې قربانئ او محنت باوجود چه د هغې قصے اُوس تیرے شوے او د دین د پاره خپل ځان او مال او عزّت ټول هر څه فنا کولو نه پس چه د هغې نمونه اوس نا سو اُولیده، د الله جلّ شانهٗ خوف آو ویره خومره قدرے چه په دے حضراتو کښې موندلے شوه، الله دِ اُوکړی، د هغې څه معمولی حصه مونږ ګنهګارانو ته هم نصیب شی، د مثال په طور د دے هم څو قصے لیکلے شی.

(۱) د سیلئ په وخت کښې د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم طریقه

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه کله به وُریځ، سیلئ وغیره شوه، نو د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په مخ مبارک به د هغې اثر ښکاریده او د مخ مبارک رنګ به بے بدل شو، او د ویرے له وجه به بے کله د ننه تشریف اُوړه، کله به بے باهر تشریف راوړه. او دا دُعا به بے ویله. اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ خَیْرَهَا وَخَیْرَ مَا فِیْهَا وَ خَیْرَ مَآ اُرْسِلَتْ بِهٖ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِیْهَا وَشَرِّ مَآ اُرْسِلَتْ

په ـ (ترجمه) "اے الله تعالیٰ! زۀ درنه هَوا خیرغواړم او څۀ چه په دے هَوا کښې دی باران وغیره د هغې خیرغواړم او کوم غرض د پاره چه دا رالیږلے شوے ده د هغې خیرغواړم. اے الله تعالیٰ! زۀ درنه هَوا د شرنه پناه غواړم او کوم څیز چه په دیکښې دے، او د کوم غرض د پاره چه دا رالیږلے شوے ده د هغې د شرنه پناه غواړم"۔ او هرکله چه به باران شروع شو، نو په مخ به یے خوشالی ښکاره شوه. ما عرض او کړۀ اے د الله رسوله! صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ټول خلق چه کله وریځ اُوینی نو خوشاله شی چه د باران اثرات ښکاره شو، خو تاسو بانږ یو قسم پریشانی ښکاریږی. نبی عَلَیْهِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام ارشاد وُفرمایه، اے عائشے! ما ته درنه څۀ تسلی ده چه په دے کښې څۀ عذاب نۀوی. قوم عاد ته په هَوا سره عذاب ورکړے شوے وو، هغوی به چه وریځ وُلیده خوشاله به شو، چه په دے وریځ کښې به زمونږ د پاره اُوبۀ راځی او ورولے شی حال دا دے چه په هغې کښې به عذاب وو۔ (درمنثور) د الله جل شانهٗ ارشاد دے، فَلَمَّا رَاَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِیَتِهِمْ الآیۃ (سورۃ الاحقاف) (ترجمه) "هغې خلقو (یعنی قوم عاد) چه کله دا وریځه د خپلو زمکو مخامخ راتلونکے وُلیده، نو وے ویل دا وریځه خو په مونږ باران وَروُنکے ده (د الله تعالیٰ ارشاد اُوشو چه) نه، وَروُنکے نۀده، بلکه دا هغه عذاب دے چه تاسو زر غوختلو (او نبی نه مو وُویل که ته رښتنے یے نو په مونږ عذاب اوله) یوه سیلئ ده چه په کښې دردناك عذاب دے، هر څیز به د خپل رب په حکم سره هلاك کړی، پس هغه خلق د هغې سیلئ په وجه داسے تباه شو چه د مکانانو نه سِوا هیڅ نۀ ښکاریدل او مونږ مجرمانو ته دغه شان عذاب ورکوو. (بیان القرآن)

فائده: دا د الله تعالیٰ نه دویرے حال د هغې پاك ذات دے چه د هغۀ سَیِّدُ الْاَوَّلِیْنَ وَالْاٰخِرِیْن کیدل په خپله د هغۀ د ارشاد نه ټولو ته معلوم ده، په خپله کلام پاك کښې دا ارشاد دے چه "الله تعالیٰ به داسے نۀ کوی چه هغوی ته ستا سو په موجودګئ کښې عذاب ورکړی"۔ دے د الله تعالیٰ وعدے سره بیا د نبی اکرم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ د الله تعالیٰ نه دویرے دا حال وو چه وریځ او سیلئ به یے وُلیده نو د زړۀ مبنو قومونو عذاب اِلٰهی به ورته را په یاد شو، دے سره یو نظر په خپل

Maktaba Tul Ishaat.com

حال بانده هم کوَل پکاردی چه مونږ خلق هروخت په گناهونوکښ لګیا اُو سُو زلزلے او نور قسمه عذابونه چه اُوِینو، په ځائ ددے چه هغې نه اثر واخلو توبه او استغفار، مونځ وغیره کښ مشغول شو، نور قسما قِسم فضول تحقیقاتوکښ لګیا شو.

۲ په تیارهٔ کښ د حضرت انس رضی الله عنه عمل

نَضَربن عبد الله رضی الله عنه فرمائی چه د حضرت انس رضی الله عنه په ژوند کښ یو ځل په ورځ کښ تیارهٔ خوَره شوَه، زهٔ د حضرت انس رضی الله عنه خدمت کښ حاضر شوم او عرض مې اُوکړهٔ چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام په زمانه کښ به هم دے قسمه څیزونه رائلل؟ هغوی وُفرمائیل، الله تعالیٰ دِ پناه راکړی. د نبی علیه الصلوٰة والسلام په زمانه کښ به چه لږ شان هَوا تیزه شوه، نو مونږ به د قیامت د را تلو د ویرے نه جُماتونو ته منډے کړے. یو بل صحابی ابوالدّرداء رضی الله عنه فرمائی چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام معمول وُو چه کله به سیلئ راوالوَتله، نو نبی علیه الصلوٰة والسلام به وُیَریدلو جُماتونه به یے تشریف یوړهٔ. (جمع الفوائد)

فائده: نن د لوئ نه لوئ واقعے، مصیبت او بلا کښ هم جُماتونه تلل چا ته یاد یږی؟ عوام خو پریږده، آیا خواصوکښ ددے اِهتمام چرته موندے شی؟ تاسو په خپله ددے جواب په خپل زړهٔ کښ سوچ کړئ.

۳ نمر تند رنیولو په وخت کښ د نبی علیه الصلوٰة والسلام عمل

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښ به چه نمر تند راُونیولو، اصحابو کرامو رض سره به فکر شو چه په دے موقع به نبی علیه الصلوٰة والسلام څهٔ عمل کوی، ددے دِ تحقیق اوکړے شی، کوم حضرات چه خپلو خپلو کارونوکښ مشغول وُو هغه یے پریخودل، او په منډه راغلل، د نوی عُمر هلکانو د غشو ویشتلو مشق کولو، هغه یے پریخودهٔ په جلتئ راغلهٔ چه اُوګوری چه نبی علیه الصلوٰة والسلام به دا وخت څهٔ کوی. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دوه رکعته د کسوف (نمر تند رنیولو) مونځ اوکړهٔ، دومره اُوږد وُو چه خلق بے هوشه شوی پریوتل، په مانځه کښ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ژړل او فرمائیل یے، اے ربه! آیا تا ما سره ددے وعده نهٔ وه کړے چه تاسو به ددے خلقو ته زما په موجودګئ

کښې عذاب نهٔ ورکوئ، او په داسې حالت کښې به یې هُم نهٔ عذابوئ چه دوئ استغفار کوی- (سورۃ انفال کښې الله جل شانهٔ ددې وعده کړې ده۔) وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ فِيْهِمْ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ۞ بیا نبی علیه الصلوٰۃ خلقو ته نصیحت وُفرمایهٔ چه کله داسې موقع راشی او نمر یا سپوږمۍ تندر اُونیسی، نو اُویریږئ، او مانځهٔ طرف ته متوجه شئ، زهٔ چه کوم د آخرت حالات وینم، که چرې تاسو ته معلوم شی، نو خندا به کمه کړئ او ژړا به ډیره کړئ- کله چه داسې حالت پیښ شی، نو مونځ کوئ، دُعا غواړئ، صدقه ورکوئ-

④ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ټوله شپه ژړا کښې تیرول

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم یو ځلې ټوله شپه ژړل، او تر سحره پورې یې په مانځه کښې دا آیت تلاوت فرمایلو- اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۞ (ترجمه) "اے الله! که چرې ته دوی ته سزا ورکړې نو ستا اختیار دے چه دوی ستا بندګان دی او ته د دوی مالک یې، او مالک ته حق دے چه بندګانو ته په جرمونو سزا ورکړی- او که چرې ته دوی معاف کړې نو هم تا ته اختیار دے ځکه زبردست قدرت خاوند یې په معافئ هم قدرت لرې او د حکمت خاوند یې نو معافی به د هم د حکمت موافق وی (بیان القرآن) د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه متعلق نقل کړے شوی دی چه هغهٔ یو ځلې ټوله شپه وَامْتَازُوا الْيَوْمَ اَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ۞ لوستهٔ او ژړل یې- د آیت شریفه مطلب دا دے چه د قیامت په ورځ به مجرمانو ته حکم اُوشی چه په دُنیا کښې ټول ګډوډ اوسیدئ خو نن مجرمان ټول جُدا شئ او غیر مجرمان جُدا- دا حکم چه واورې، خو مره چه اُوژړلے شی لږ دهٔ، چه نهٔ ده معلومه چه زما شمار به مجرمانو کښې وی یا فرمانبردارو کښې-

⑤ په حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د الله تعالیٰ ویره

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه چه په اجماع د اهلِ سُنتو د نبیانو نه علاوه د ټولې

Maktaba Tul Ishaat.com

دُنیا د بنیاد مونه بهتر دے، او دغه جنتی کیدل یقینی دی، بخپله نبی اکرم ﷺ دجنتی کیدو زیرے ورکړے دے بلکه دجنتیانو دیوے ډلے سردار یے خودلے دے، او د جنت د ټولو دروازو نه د بللے خوشخبری یے ورکړیده - او دا یے هم فرمایلی دی چه زما په اُمت کښ به دټولونه رومبے ابوبکر صدیق رضی الله عنه جنت کښ داخلیږی - دے ټولو (فضیلتونو) سره به ابوبکر صدیق رضی الله عنه فرمایل ارمان! چه زهٔ وُنه وے، چه پریکړے شوے وے - کله به یے فرمایل، ارمان! زهٔ واخله وے چه څاروی خوړلے وے - کله به یے فرمایل، ارمان! زهٔ د یو مؤمن د بدن ویخته وَے - یو وارے یو باغ ته یے تشریف یوړهٔ، یو مُرغهٔ یے ناست وُلیدهٔ، سوړ اسویلے یے وُکړهٔ، وے فرمایل چه ته خومره په مزو کښ یے، خورے څکے، د وُنو سورو کښ ګرزے، او په آخرت کښ په تا هیڅ حساب کتاب نشته، ارمان! ابوبکر هم ستا په شان وے - (تاریخ الخلفاء)

ربیعه اسلمی رضی الله عنه فرمائی چه یو ځلے په څهٔ خبرِ زما او حضرت ابوبکر رضی الله عنه په مینځ کښ څهٔ خبره زیاته شوه، او هغوی ما ته سخت لفظ اُووے چه په ما بد اُولګیدهٔ، زر ورته خیال راغے، ما ته یے وُفرمایل ته هم ما ته وُوایه، چه بدله خلاصه شی - ما د ویلو نه اِنکار اُوکړهٔ، نو وے فرمایل چه وُوایه کنی نبی علیه الصلوٰة والسلام ته به ورشم عرض به وُکړم، په دے م هم جوابی لفظ ویلو نه اِنکار اُوکړهٔ، نو پاسید ولاړو - د بنو اسلم څهٔ خلق راغلل اُووے ویل، دا هم بنه (عجیبه) خبره ده چه په خپله یے زیاتے هُم اوکړو، او بیا نبی علیه الصلوٰة والسلام ته شکایت هم په خپله کوی - ما اُووے تاسو پیژنئ دا څوک دے؟ دا ابوبکر صدیق رضی الله عنه دے که څیرے دے خفه شو، نو دَ الله تعالیٰ پیارے رسول به زما نه خفه شی، او د هغه په خفګان به الله جل شانهٔ ناراضه شی، نو د ربیعه په هلاکت کښ څهٔ شک دے؟ د دے نه پس د نبی علیه الصلوٰة والسلام خدمت کښ حاضر شوم، او قصه م عرض کړه، نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل بنهٔ دِ اُوکړهٔ چه په جواب او بدله کښ دِ ونه وُو یکار البته د هغے په بدله کښ دِ اسے وُوایه چه اے ابوبکره! الله تعالیٰ دِ تا معاف کړی -

فائده: دا ده دا الله تعالیٰ ویره - یو معمولی شان خبره کښ حضرت ابوبکر

صدیق رضی اللہ عنہ نه دیدلے دومره قدرے فکراو اهتمام اُوشو چه اول ئے په خپله درخواست اُوکړهٔ او بیا د نبی صلی اللہ علیہ وسلم په واسطه سره یې ددے اِراده وُفرمایله، چه رَبیعه رضی اللہ عنہ بدله واخلی. نن مونږ په سوؤنو خبرے یوبل ته کوو، دد ے خیال هم نهٔ راځی چه ددے به آخرت کښې بدله اَخستلے شی یا حساب کتاب به هم کیږی.

(۶) د حضرت عُمَر رضی اللہ عنہ حالت او د حَرّه واقعه

حضرت عُمر رضی اللہ عنہ به اکثرو وختونو کښې یو خَس لاس کښې واخستهٔ، اُو ئے فرمایل، آرمان! زهٔ دا خَس وے، کله به ئے فرمایل، آرمان! زهٔ خپلے مور زیګولے نهٔ وے. یو وارے په څهٔ کارکښې مشغول وُو، یو کس رانے وے ویل، چه فلانی سړی پرما ظلم کړیدے، تاسو لاړشئ ماله دهغهٔ نه بدله واخلئ. دوی هغه په یود ره ووهه سوے ویل) چه کله زهٔ ددے کار دپاره کینم، هغه وخت خو راځے نه. کله چه زهٔ په نورو کارونو کښې مشغول شم، نوراشے. وایے چه بدله راله واخله. هغه کس لاړو، دوی ورپسے سړے اُولیږهٔ، راوے غوختلو او دُره یې ورکړه وے فرمایل چه بدل واخله، هغهٔ عرض وُکړهٔ چه ما د الله تعالیٰ دپاره مُعاف کړے، کورته یے تشریف راوړهٔ، دوه رکعته مونځ یے اوکړهٔ، ددے نه پس خپل ځان ته مُخاطِب شو، وے فرمایل اے عُمره! ته ځکنته وے الله تعالیٰ اُوچت کړے. ته ګمراه وے الله تعالیٰ تاته هدایت درکړهٔ. ته ذلیله وے، هغهٔ تاته عزت درکړهٔ، بیا یے دخلقو بادشاه جوړ کړے. اُوس یو کس راځی وائی چه ما له دظلم بدله واخله، نو ته هغه وَهے. صبایه دقیامت په ورځ خپل رب ته څهٔ جواب ورکوے. ډیر ساعته پورے یې دغه شان خپل ځان ملامته کولو. (اُسدالغابه)

د حضرت عُمر رضی اللہ عنہ غلام حضرت اَسلم رضی اللہ عنہ وائی چه زهٔ یو وارے حضرت عُمر رضی اللہ عنہ سره حَرّه طرفته تلمه، یو ځائی په ځنګل کښې اُور ښکاره شو. حضرت عُمر رضی اللہ عنہ وفرمایل، شاید دا څهٔ قافله ده چه د شپے په وجه ښار ته د ننه نهٔ شوه تلے بامره پیاره شوه، څه چه خیر خبر یې واخلو، د شپے د حفاظت انتظام یې وُکړهٔ. هسته چه وُرسیدل وے لیدل چه یوه زنانه ده، یو څو بچی ورسره

Maktaba Tul Ishaat.com

دی، ژاړی او چغې وهی، یو دیګچې په نغری پروت دے چه د اوبونه ډک دے او لاندے ترے اور بلیږی، دوی ورته سلام اوکړو. او ور نزدے ورتلو اجازت یے واخستلو، ورغے او تپوس یے ترے اوکړو، دا بچی ولے ژاړی؟ زنانه اووے چه د لوږے نه ناقلاره شوی دی ژاړی. پوښتنه یے ترے اوکړه چه په دے دیګچی کښ څه دی؟ زنانه اووے د اوبونه م ډکه کړیدے، د غلو لو د پاره م په اور ایخے دے چه ددوی تسلی اوشی او اوده شی. د امیرالمومنین عمر رضی الله عنه او زما به د الله تعالیٰ څخه فیصله وی چه زما د دے تنګسیا خبر نه اخلی، حضرت عمر رضی الله عنه په ژړا شو، او وے فرمایل، الله تعالیٰ دِ په تا رحم اوکړی، عمر ته ستا د حال څه خبر دے. هغې اووے چه هغه زمونږ امیر جوړ شوے دے، او زمونږ د حاله ځان نه خبروی. اسلم رضی الله عنه وائی چه زه حضرت عمر رضی الله عنه د ځان سره ستون کړم، او یو بوری کښ د بیت المال نه څه اوړه، کهجورے، وازګه او څه کپړے او څه روپئ واخستے، غرض دا چه دغه بوری یے ښه ډکه کړه، او وے فرمایل چه دا زما په ملا بانده کیږده، ما عرض اوکړه چه زه به یے یوسم. وے فرمایل نه، زما په ملا بانده کیږده. دوه درے ځله چه ما اصرار اوکړه، نو وے فرمایل چه ایا قیامت کښ به هم زما بوجه ته اوچتوے. دا به زه اوچتوم ځکه چه قیامت کښ به ما نه د دے تپوس کیږی، زه مجبوره شوم، بوری م د هغوی په ملا بانده کیخوده، هغوی ډیر په تندئ سره هلته تشریف یوړه. زه هم ورسره وم. هلته چه اورسیدو. په هغې دیګچې کښ اوړه او څه وازګه او کهجورے یے واچولے، او کړل یے شروع کړه، او نغری کښ یے په خپله پوکی وهل شروع کړل. اسلم رضی الله عنه وائی چه ددوی د مبارکے ګنړے ډیرے نه لوګے وتل ما لیدل، تر دے چه شیره غوندے تیاره شوه. دے نه پس په خپل لاس مبارک یے را اوویستله، په هغې بچویے وخوړوله، هغوی ښه ماړه شو خندا او لوبو کښ مشغول شو، او چه څه پاتے شوه هغه یے د بل وخت د پاره هغوی ته حواله کړه. هغه زنانه ډیره خوشاله شوه، او وے ویل، الله تعالیٰ دِ تا ته د خیر بدله درکړی، ته د دے حقدار وے چه د

حضرت عُمر رضی اللہ عنہ په ځائی ته خلیفه جوړکړے شوے وے. حضرت عُمر رضی اللہ عنہ هغے ته تسلی ورکړه، آو وے فرمایل چه کله ته خلیفه ته ورشې، نو ما به هم هلته بیا موڅے حضرت عُمر رضی اللہ عنہ د هغے نزدے لړ آخوا په زمکه کیناستو، اولږ ساعت تا سته نه پس راروان شو، آووے فرمایل چه زړهٔ ځکه ناست وُم چه ما دا بچی په ژړا لیدل لی وُو، زما زړهٔ اُوغوختل چه لږ ساعت دوی په خندا هم وُوینم. (اشهرمشاهیر کنز العمال) د سحر په مانځه کښ به یے اکثر سورهٔ کهف، طٰهٰ وغیره لوئی سورتونه لُوستل آوژړل به یے چه څو څو صفونو پورے به یے آواز رسیدهٔ. یو وارے د سحر په مانځه کښ یے سُورهٔ یُوسف لوستهٔ، اِنَّمَآ اَشْکُوْا بَثِّیْ وَحُزْنِیْٓ اِلَی اللّٰہِ ته چه اُورسیدهٔ، نو د ژړا له وجې یے آواز نه راختلو، د تهجّد وپه مانځهٔ کښ به ځنے وارے په ژړا کښ پریوته، او ناجوړه به شو.

فائده: دا ده د الله تعالیٰ نه ویره د هغه کس چه د هغه دنُوم نه به لوئی لوئی مشهور بادشاهان ویریدل رپیدل - نن هم دیارلس نیم سوه کاله زمانے پورے د هغه دبدبه شان وشوکت منلے شو یدے. نن څوك بادشاه ته، حاکم ته، څوك محبولی شان آمیرهم دخپل رعیت سره دا سے معامله کوی؟

⑦ د حضرت ابن عبّاس رضی اللہ عنہ نصیحت

وَهَب بن مُنَبّه رحمة اللہ علیہ فرمائی چه حضرت عبد الله بن عبّاس رضی اللہ عنہ د سترگو ظاهری نظر ختم شو، نو ما هغه ځا له کعبے ته بوتلو، هلته چه وُرسیدهٔ د یو ے کنړے نه څهٔ د جھگړے آواز راتلو. ما ته یے وُفرمایل چه ما د غے کنړے طرف ته بُوزه، ما هلته بوتلو، رسید وسره یے سَلام اُوکړهٔ، هغے خلقو کیناستو درخواست وُکړهٔ، دوی اِنکار وُکړهٔ، آووے فرمایل چه تا سو ته معلومه نهٔ ده چه د الله تعالیٰ دخاصو بندگانو ډله هغه خلق دی چه د هغهٔ ویرے هغوی خاموشه کړی دی، حال دا دے چه نهٔ هغوی عاجزه دی، او نه ګونګیان دی، بلکه فصیح (ژبانه) خلق دی، وَیُونکی دی، پوهه دی، خود الله تعالیٰ دلویئ ذکر د هغوی عقلونه حیران کړی دی، او ددغے وجه نه د هغوی زړونه مات وی، او ژبے

Maktaba Tul Ishaat.com

بې خاموشه وی، اوکله چه په دے حالت هغوی ته پوخوالے حاصل شی نو بیا په نیک کارونوکښ جلتی کوی، نوتاسوخلق دهغوی نه وَلے لرے شوئ. وَهب رحمة الله علیه فرمائی چه دے نه پس مادوه سری هم یوځائ جمع اُونهٔ لیدل.

فائده: حضرت ابنِ عباس رضی الله عنه په دالله تعالیٰ دویرے نه دومره ژړل چه په مخ کښ یے هروخت اُوښکو بهیدوسره دوه نښے دنالو په شان جوړے شوے وے پورتنئ قصه کښ حضرت ابن عباس رضی الله عنه په نیک کارونو د اهتمام یوه اسانه نسخه اُوخودله چه دالله دعظمت او دهغهٔ دلوئی سوچ د اُوکړے شی. دے نه پس هرقسمه نیک عمل اسان دے. اوبیا هغه یقیناً داخلاص نه ډک وی. د شپے وُرځے خلیر پښت کهینتوکښ کهٔ چرے لږ شان وخت هم مونږ خلق دد ے سوچ دپاره اُوباسُو، نوڅهٔ گرانه ده؟

⑦ دتبوک په سفرکښ دقوم ثمود په کلی تیریدنه

دتبوک غزا مشهوره غزاده، اودنبی اکرم صلی الله علیه وسلم اخری غزاده. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته خبرورکړے شو چه دروم بادشاه په مدینه منوره دحملے کولو اراده لری. او لوئ لښکرورسره دے، دشام په لاره مدینے ته راځی. په دے خبرپه تاریخ دپنځم رجب (زبرکے میاشتے) سنه ۹ھ دزیارت په ورځ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دهغوی مقابلے دپاره دمدینے منورے نه روان شو. چونکه زمانه دسختے گرمئ وه، اومقابله هم سخته وه. دے دپاره نبی اکرم صلی الله علیه وسلم صفا اعلان وُکړهٔ چه دروم دبادشاه مقابلے دپاره تلل دی، تیاری اُوکړئ. نبی علیه الصلوٰة والسلام په خپله دهغے دپاره چنده کول شروع کړهٔ. داهغه جنګ دے چه په دےکښ حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه دکورټول سامان راوړهٔ، اوکله چه ترے تپوس اُوشو چه دکورخلقو دپاره دِڅهٔ پریخودل؟ نووے فرمایل چه دهغوی دپاره م الله تعالیٰ اودهغهٔ رسول صلی الله علیه وسلم پریخودهٔ. حضرت عُمر رضی الله عنه دکوردټول سامان نه نیم راوړهٔ چه دهغے قصه شپږم باب څلورم نمبر کښ راځی. اوحضرت عُثمان غنی رضی الله عنه ددریمے حصے دلښکرپوره سامان ورکړهٔ اودغه شان هریوکس دخپل حیثیت نه زیات راوړهٔ. سره ددے چونکه عام

طور تنګسیاوه، نولس لس سړي به په یو اُوښ باندے وار په وار سوریدل. په دے وجه ددے جنګ نوم جَیْشُ الْعُسْرَة (دتنګئ لښکر) وُو. دا جنګ ډیر سخت وُو. او سفر هم دلرے وُو، او موسم هم دومره سخت وُو چه دګرمئ څهٔ اندازه نهٔ وه. او ددے سره مدینه منوّره کښ دکهجورو پخیدُو زمانه وه چه ټول باغونه باخهٔ ولاړ وُو، او په کهجورو باندے دمدینے منوّرے دخلقو دژوند زیات دارو مَدار وُو، چه دټول کال د روزئ جمع کولو یا دا زمانه وه. په دے حالاتو کښ دا وخت سخت دِامتحان وُو چه یو خوا د الله تعالیٰ نه ویره د نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد چه دهغے په وجه بغیر دتلو رغبیدل نهٔ نهٔ وه، او بل خوا ته دا ټول تکلیفونه چه هر وخت دنهٔ تلو مستقل عُذر وُو. خصوصًا دټول کال محنت اوچتے شوے ونے د بے یارومددګار پریخودل چه څومره مشکل وُو هغه ښکاره دهٔ خو ددے ټولو سره سره دالله تعالیٰ ویره په دے حضراتو غالبه وه ځکه سِوا دمنافقانو نه او معذورینو نه چه په هغے کښ ماشومان او زنانه هم داخلے وے، او هغه خلق هم چه دضرورت دپاره مدینه منوّره کښ پریخودلے شوی وُو یا دسورلئ دنشتوالی په وجه په ژړا پاتے شوی وُو چه دهغوی باره کښ ایت تَوَلَّوْا وَّاَعْيُنُهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ (التوبة) نازل شو، نور ټول حضرات (نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره) روان شُو. البته درے کسان بغیر دعُذر نه شریک نهٔ وُو چه دهغوی قصه راروانه ده. په لاره کښ دقومِ ثمود په کلی تیریدل اُوشو. نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په لمنه خپل مخ مبارک پټ کړهٔ، او اُوښه یے تیزه کړه. او اصحابو کرامو ته یے هم حکم وُفرمایهٔ چه دے ځائ نه په تیزئ سره اُوزئ، او دظالمانو په کلوکښ په ژړا تیرشئ او په دے ویره تیریږئ هسے نه چه الله مهٔ کړه، هغه عذاب چرته په تاسو نازل نهٔ شی، کوم چه په هغوی نازل شوے وُو. (اسلام خمیس)

فائده: د الله تعالیٰ خوږ نبی او نیازبین رسول صلی الله علیه وسلم دعذاب دځائ نه په ویره او خوف تیریږی، او خپل جان نثاردوستانو ته کوم چه ددے سختے مجبورئ په وخت کښ هم دخپلے جان نثارئ ثبوت ورکوی په ژړا د تلو حکم ورکوی چه الله مکړه هغه عذاب چرته په دوی نازل نهٔ شی. مونږ خلق

Maktaba Tul Ishaat.com

چرته په کلی کښې زلزله راشي، نو هغه د سیل څائ جوړوو، دُورانو شوګو اباد سیل ته ورځو، ژړا خو یوځو اد ژړا خیال هم په زړهٔ کښې نهٔ راولو۔

⑨ تبوك کښې د حضرت کعب رضی الله عنه غیر حاضري او توبه

د دے تبوك په جنګ کښې د معذورینو نه علاوه د اتیاؤ نه زیات خو منافقان د انصارو نه وو، او دغه هومره تقریباً بدوی د کلو بانډو خلق وو، د دینه علاوه یو لوې ډله د بهر د خلقو داسے وه چه شریك شوے نهٔ وه۔ (اوصرف) د دومره نه بلکه د دوی په نورو خلقوته هم لَا تَنْفِرُوْا فِي الْحَرِّ وئیل او منع کوُل به یې۔ (چه په ګرمئ کښې مهٔ اُوزئ) الله جلّ شانهٔ فرمائی چه د دوزخ داوږګرمي ډیره سخته ده۔ دوی نه علاوه د رے ریښتني پاخهٔ مسلمانان هم داسے وُو چه بغیر د څهٔ قوی عذر نه په دے جنګ کښې شریك شوی نهٔ وُو۔ یو کعب بن مالك، دویم هِلال بن اُمَیّه، دریم مُرارة بن رَبیع۔ دا درے واړه حضرات د نفاق یا د عذر په وجه اِیسار شوی نهٔ وُو، بلکه خوشالی یې د پاتے کیدو سبب جوړ شو۔ کعب رضی الله عنه خپل حالات کوم چه ورته په دے موقع پیش شو په تفصیل اوروی۔ کوم چه مخکښې راځي۔ د مُرارة بن ربیع رضی الله عنه باغ شوے د میوے نه ډك وُو، خیال ئے اُشو، که چرے زهٔ لاړ شم، نو دا به ټول ضائع شي۔ همیشه په جنګونو کښې شریك شوے یم، که دا وارے پاتے شم نو څهٔ باك دے۔ څه پاتے شو، خو کله چه ورته زور نه ورکړے شوه، نو چونکه باغ یې د پاتے کیدو سبب شوے وُو، هغه ټول یې د الله تعالی په لار کښې صدقه کړهٔ۔

د هِلال رضی الله عنه بال بچ او خپلوان چرته تلی وُو، اتفاقاً په دے موقع ټول جمع شو، هغهٔ هم دا خیال وُکړهٔ چه همیشه شریك شوے یم که چرے په دے موقع لاړ نهٔ شم، نو څهٔ نقصان دے؟ څکه پاتے شو، خو د زورنے نه پس یې ټولو سره د تعلقاتو ختمولو اراده وُکړه چه دا تعلقات په دے جنګ کښې د نهٔ شریکید و سبب شول۔

د حضرت کعب قصه په حدیثونو کښې په کثرت سره راغلے ده، هغه خپل

حالات ورته په تفصیل سره اُورَوی. فرمائی چه زهٔ د تبوك نه وړومبے هیڅ یو جنګ کښې دومره قوی او مالدار نهٔ وُم، څومره چه د تبوك په وخت کښې وُم. د هغه وخت ما سره خپلے ذاتی دوه اُوښے وے، د دے نه وړاندے چرے دوه اُوښانے ما سره نهٔ وے. د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم عادتِ شریفه همیشه دا وو چه کوم طرف ته به یے د جنګ اِراده کوله د هغے اظهار به یے نهٔ کولو، بلکه د نورو اړخونو حالات به یے پوښتل. خو دے جنګ کښې چونکه ګرمی سخته وه او سفر هم د لرے وو، د دے نه علاوه د دُشمنانو لښکر هم ډیر لوئ وو، ځکه یے ښکاره اعلان وُکړو، چه خلق تیارے اُوکړی، په دے وجه د مسلمانانو دومره لویه ډله د نبی علیه الصلوٰة سره شوه چه په رجسټر کښې د هغوی نومونه لیکل مُشکل شو، او د مجمع د ډیروالی په وجه که څوک پټ ځان پټول غوښتل نو پیدا کیدل ئے مشکل وو ... چه لاړنهٔ شم، آو پته اُونهٔ لګی، نو هیڅ ګرانه نهٔ وه. د دے سره میوے بالکل پخے وے. ما به د سحر نه د سفر سامان د تیارئ اراده وُکړه خو ماښام به شو او هیڅ قسمه تیاری به وُنهٔ شوه، خو ما به خپل زړهٔ کښې خیال کولو ما سره خو هر څهٔ موجود دی چه اِراده پخه اوکړم، زر به وُشی تر دے چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم روان شو او مسلمانان هُم ورسره. خو زما د سفر سامان تیار نهٔ شو. بیا مِ هم دا خیال وُو چه یو دوه وُرځو کښې به ځان تیار کړم، ور به شم، د هغه شان مِ نن صبا کول چه د نبی علیه الصلوٰة هلته د رسیدو زمانه تقریبًا را نزدے شوه. هغه وخت هم ما کوشش اوکړو خو سامان وُنهٔ شو. اُوس چه مدینه منوّره کښې آخوا دیخوا ګورم، نو صرف هغه خلق وینم چه په چا د نفاق بد داغ لګیدلے وُو یا معذوره وُو. نبی علیه الصلوٰة چه تبوك ته وُرسیدهٔ، پوښتنه یے وکړه چه کعب رضی الله عنه ښکاری نهٔ، خبره اُوشوه؟ یو صاحب اُووے اے د الله رسوله! هغه د خپل مال او جمال مستئ ایسار کړو، حضرت معاذ رضی الله عنه اُووے چه غلطه دِ وُویله، مونږ ته چه څومره معلومه ده، هغه ښهٔ سړے دے، خو نبی علیه الصلوٰة بیخی خاموشی اُوفرمایله هیڅ یے اُونهٔ وے، تر دے چه په څو ورځو کښې ما د واپسئ خبر واوُریدهٔ، نو ډیر غمژن شوم او ډیر فکرمند شوم، په زړهٔ کښې مِ د دروغو دروغو عذرونه راتلل چه د هغه وخت به په څهٔ فرضی عذر د نبی علیه الصلوٰة د غصے نه ځان بچ کړم، بیا به

Maktaba Tul Ishaat.com

خه وختې د معافۍ درخواست اوکړم، اوپه دے باره کښې م دخپلې کورنۍ هرڅوک سرۍ سره مشوره کړله، خوچه کله راته معلومه شوه چه نبي علیه الصلوٰة تشریف راوړو، نو زما زړه فیصله اوکړه چه ریښتیا ؤ نه بغیر هیڅ څیز خلاصے نه ورکوی، او ما د ریښتیا عرض کولو پخه اراده اوکړه - د نبي علیه الصلوٰة عادت شریفه داؤ چه کله به بے د سفرنه تشریف راوړو، نواول به بے جُمات ته تشریف یوړو، او دوه رکعته "تحیة المسجد" مونځ به بے وکړو او هلته به بے لږ ساعت تشریف کېخودو چه خلقو سره ملاقات اوکړی، دغسے د معمول مطابق نبي علیه الصلوٰة تشریف فرما شو اومنافقان به راتلل او دروغ عذرونه به بے کول او قسمونه به بے خوړل نبي اکرم صلی الله علیه وسلم به دهغوی ظاهری حال قبلولو، او پټ حال به بے الله تعالیٰ ته سپارلو، په دیکښې زه هم حاضر شوم، سلام م اوکړو - نبي علیه الصلوٰة د ناراضتیا په انداز کښې مُسکے شو، او اعراض بے اوکړو یعنې مخ بے واړولو. ما عرض اوکړو اے د الله نبي! (صلی الله علیه وسلم) تا سو اعراض اوفرمایلو، په الله م دِ قسم وی نه زه منافق یم، نه زما په ایمان کښې څه شک دے - ارشاد بے اوفرمایلو دے خوا راشه - زه ورنزدے شوم. کیناستم - نبي علیه الصلوٰة اوفرمایل ته څه څیز ایسار کړے؟ ایا تا اوښانے په بیعه نه وو اخستي؟ ما عرض اوکړو اے د الله رسوله! که چرے زه چا د نیا دار سره داوختې ؤ سبب وے، نو ما ته دا یقین دے چه ما به دهغه د قهر غصے نه په مناسب عذر ځان خلاص کړے وے، چه ما ته دخبرو کولو طریقه الله تعالیٰ راکړے ده - خو ستاسو په باره کښې ما ته معلومه ده، که چرے نن په دروغو تاسو راضي کړم - نو نزدے ده چه الله جل جلاله به ما نه ناراضه شي، او که چرے تاسو ته صفا صفا عرض اوکړم نو تاسو به غصه شئ، خو نزدے ده چه د الله تعالیٰ پاک ذات به ستاسو خفګان لرے کړی، ځکه ریښتیا عرض کومه چه والله ما ته هیڅ عذر نه ؤ، او څومره فارغ او شته من چه زه په دے زمانه کښې وم، هیڅ زمانه کښې د دے نه وړاندے نه وم شوے - نبي علیه الصلوٰة ارشاد اوفرمایلو چه دا ریښتیا اُووے، بیا بے اوفرمایل ښه، پاسه، ستا فیصله به الله جل شانه کوی - زه د هغه ځای نه پاسیدم نو زما د قوم ډیرو خلقو زه ملامته کړم چه تا د دے نه

ؤړاندے څهٔ ګناه نهٔ وه کړے، کهٔ چرے تاعُذر کړے وے، او نبی علیه الصلوٰة والسلام ته دِ د استغفا (بخښنے) درخواست کړے وے، نو د نبی علیه الصلوٰة والسلام استغفار به تا د پاره کافی شوے وُو ما دهغوی ته پښوس اوکړه چه څوك بل هم داسے کس شته چه هغهٔ سره دا معامله شوی وی، خلقو اُووے چه دوه ؤکسانو نورو سره هُم دا معامِله شوے ده چه هغوی هم داسے خبرے اُوکړے چه کومے تا اُوکړے، او دغسے جواب هغوی ته ورکړے شو چه کوم تا ته درکړے شو. یو هلال بن اُمیّه، دوېم مُراره بن ربیع (رضی الله عنهما) ما اُولیدل چه دوه نیکان کسان چه دواړه بَدری[1] دی، هغوی هم زما په شان دے حال کښ شریک دی. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم مونږ درے واړو سره د خبرو نه منع اوکړه چه هیڅوك به مونږ سره خبرے نکوی. دا د قاعدے خبره ده چه غصه په هغه چا راځی چا سره چه تعلق وی. زور نه هغه چا ته ورکولے شی په چا کښ چه د هغے اهلیت وی. او په چا کښ چه د اِصلاح او صلاحیت قابلیت دَ سره نهٔ وی هغهٔ ته زور نه څوك ورکوی. کعب رضی الله عنه فرمائی چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام په منع کولو سره خلقو مونږ سره خبرے پرېخودے، او مونږ نه یے ډډه کوله. ګویا زمونږ دُنیا بدله شوه، تر دے چه زمکه سره د خپلے فراخئ په مونږ تنګه معلومه شوه، ټول خلق پردی شو، دَرا و دیوار نا آشنا شو، ما سره د ټولو نه زیات د دے فکر وُو. کهٔ زهٔ په دے حال کښ مړ شوم، نو نبی علیه الصلوٰة والسلام به مِ د جنازے مونځ هم نهٔ کوی. او الله مهٔ کړه، کهٔ د نبی علیه الصلوٰة والسلام وفات وُشو، نو همیشه همیشه د پاره به دغسے پاتے شم، چه نهٔ به راسره څوك خبرے کوی، نهٔ به را باندے (د جنازے) مونځ کوی، وَلے چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام د اِرشاد نه خلاف څوك کولے شی، غرض مونږ پنځوس ورځے په دے حال کښ تیرے کړے، زما دوه ملګری خو د شروع نه په کورونو کښ پټ ناست وُو، زهٔ په ټولو کښ قوی وُم، ګرزېدم را ګرزېدم به. بازار ته به تلم، مانځهٔ کښ به شریکېدم خو ما سره به چا خبرے نهٔ کولے د نبی علیه الصلوٰة والسلام مجلس ته به لاړم، سَلام به مِ اوکړو، او ډیر په فکر به مِ خیال کولو چه د

[1] بدری هغے خلقو ته ویلے شی کوم چه د بدر په جنګ کښ شریک شوی وُو، د دوی بزرګی او لوئی منلے شوی ده په حدیثونو کښ هم د دوی فضیلت راغلے دے، ډیرو حدیثونو کښ د دوی مغفرت او د الله تعالیٰ د دوی نه د خوشالیدو زیری راغلی دی ۱۲ منه الهامشس من الشیخ رح

Maktaba Tul Ishaat.com

نبی علیه الصلوٰة والسلام شونډے مبارکے دجواب دپاره اُوخوځیدے آوکهٔ نه. ما ځٔه نه پس به دنبی علیه الصلوٰة والسلام نزدے اُودریدم مونځ به مِ پوره کولو، آو پټ پټ به مِ کتل چه نبی علیه الصلوٰة والسلام ما ته کورې کهٔ نه. کله چه به زهٔ ما ځٔه کښې مشغول شوم نو نبی علیه الصلوٰة والسلام به ما ته کتل، او کله به چه زهٔ هغوی ته متوجّه شوم، نو نبی علیه الصلوٰة والسلام به مخ واړوؤ او زما نه به یے اِعراض وُفرمایهٔ، غرض دغسے حالت تیریدهٔ، او دمسلمانانو خبرے آترے بندیدل په ما باندے ډیر بوجهـ شو، نو زهٔ دابوقتاده رضی الله عنه په دیوال باندے اُوختلم، هغه زما په رشته کښې دتره ځوی وُو، او ما سره یے تعلقات هم ډیر زیات وُو، زهٔ پورته اُوختلم، سلام مِ اُوکړو، هغهٔ دسلام جواب رانکړهٔ ما هغهٔ ته قسم ورکړهٔ، او تپوس مِ ترے اوکړهٔ چه آیا تا ته معلومه نهٔ ده چه زما دالله تعالیٰ او دهغهٔ درسول صلی الله علیه وسلم سره محبت دے. هغهٔ ددے جواب هُم راتهٔ کړهٔ. ما دوباره قسم ورکړهٔ، او پوښتنه مِ ترے اوکړه، هغه بیا هم چُپ پاتے شو. یا دریم وارے بیا قسم ورکړهٔ، او تپوس مِ ترے اُوکړهٔ. هغهٔ اُووے الله تعالیٰ او دهغهٔ رسول صلی الله علیه وسلم ښهٔ پوهیږی. دا خبره مِ واوریده نو د سترګو نه مِ اُوښکے روانے شوے، او دهغه ځائی نه واپس راغلم، په دے دوران کښې زهٔ یو وارے د مدینے په بازار کښې تیریدم چه یو قبطی چه عیسائی وُو، او دشام ملک نه مدینے منورے ته خپله غله خرڅولو دپاره راغلے وُو، دا مِ ترے واوریدل چه څوک راته دکعب بن مالک پته اُوښایئ. خلقو ورته زما طرف ته اِشاره اوکړه هغه ما ته راغے، او دغسّان کافر بادشاه خط یے ماله راکړهٔ، په هغے کښې یے لیکلی وُو مونږ ته معلومه شوه چه ستا آقا په تا باندے ظلم کړیدے، تا دِ الله دذِلت په ځائے وُنهٔ ساتی، او نهٔ دِ ضائع کړی، ته زما خوا ته راشه مونږ به ستا مدد اوکړو (ددُنیا قاعده ده چه دمشر له طرفه کشرانو ته تنبیه زورنه دادب دپاره کیږی، نو دهغهٔ لمسوُنکی نور دهغهٔ دضائع کولو کوشش کوی او خیرخواه یے جوړشی، ددے قسمه آلفاظو سره یے نور اُوچتوی). کعب رضی الله عنه فرمائی چه ما دا خط وُلوستهٔ، اِنّا لِلّٰه مِ اُووے، چه زما حالت دے پورے اُورسیدهٔ، چه کافر هم زما نه طمع کوی آو زما دا سلام نه دلرے کولو تدبیرونه کوی. دا یو بل

مصیبت راغے، او هغه خط م په یو تنور کښ اُوسوزولو. آو لا رم نبی علیه الصلوٰة والسلام ته م عرض اوکړو چه اے د الله رسوله! ستا سو د اِعراض له وجِه زما دا حالت شوے چه کافر په ما کښ طمع کوی، په دے حالت کښ څلوښت وُرځے په مونږ تیرے شوے وے چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام قاصد ما ته د نبی علیه الصلوٰة والسلام دا ارشاد راوړه چه خپله ښځه هم پریږده، ما پوښتنه اُوکړه څه غواړی چه طلاق ورکړم؟ وے ویل، نه بلکه جُدائی اختیار کړه، آو زما دواړو ملګرو ته هم د دے قاصد په واسطه دا حکم اُورسولے شو، ما خپلے ښځے ته اُووے چه ته خپلے پلار کره لاړه شه تر هغے چه الله تعالیٰ د دے معاملے فیصله اوکړی، هلته اُوسه. د هلال بن اُمیّه رضی الله عنه ښځه د نبی علیه الصلوٰة والسلام خدمت کښ حاضره شوه، او دا عرض یے وُکړه چه هلال بیخی بوډا سړے دے، که څوک خبرا خستونکے یے نه وی نو مړبه شی، که تاسو اجازت کوئ، او ستاسو په طبیعت ګرانی نه وی، نو زه به د هغه څه کار خدمت کومه، نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل پرواه نشته، خو چه کورواله وُنکړی. هغے عرض کړه اے د الله رسوله! د دے ښیز طرف ته خو هغه ته اړو خواهش نشته. د کوم وُرځے نه چه دا واقعه پیښه شویده، تر نن وُرځے پورے د هغه وخت په ژړا کښ تیریږی کعب رضی الله عنه فرمائی ما ته هم وُویلے شو چه د هلال په شان ته هم که د ښځے د خدمت اِجازت واخلے نو کیدے شی چه درکړے شی. ما وُویل هغه بوډا دے زه ځوان یم، نه ده معلومه ما ته به څه جواب راکوی، ځکه زه ورتیا نکوم. غرض په دے حال کښ لس ورځے نورے تیرے شوے چه مونږ سره خبرے آترے کړون پریخودلے شوے وُو، پوره پنځوس وُرځے تیرے شوے پنځوسم ورځ د سحر مونځ م د خپل کور په چهت اوکړو او ډیر غمژن ناست وُمه، زړه په ما بیخی تنګه وه او ژوندم په تکلیف کښ وُو چه (ناڅاپه) د سَلع غر د سوکے نه یو چغه وهونکی په زوره آواز وُکړه چه کَعبه! تا ته دِ خوشخبری وی مادومره واورید او په سجده کښ پریوتم او ډیرے خوشالئ نه په ژړا

له ممکنه ده ښځے ورته ویلی وی چه د ښځو نه د جدا والی حکم لا تر اُوسه نه وُو شوے، یا چا بچی یا منافق ورته ویلی وی ځکه چه اصحابو خو ورسره خبرے نه کولے ۱۲ هٰذا الهامش من الشیخ رح

Maktaba Tul Ishaat.com

شوم او پوهه شوم چه تنګی لرے شوه، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دسحر د مانځه نه پس زمونږ د معافئ اعلان وُفرمایهٔ چه په دے یوسرے په غر اُوختلو په زوره یے اواز وړکړهٔ چه هغه او از د تپولونه رومبے را ورسیدهٔ، دِینه پس یو صاحب په آس باندے سور په منډه راغے - ماچه کوم جامے اغوستے وے، هغه مِ اُوویستلے آوزیری وَرکوُتکی ته مِ ورکړے، په الله تعالیٰ مِ دِ قسم وی چه دِ دوه وُ جاموته سِوا نوره هیڅ جامه دغه وخت زما په ملکیت کښ نه وه. دے نه پس ما دوه جامے (چانه) اُوغوختے وَامِ غوستلے، او دنبی علیه الصلوٰة والسلام خدمت کښ حاضر شوم، دارنګے زما دوه وُ ملګروته هم خلقو زیرے یوړهٔ، کله چه مسجدِ نبوی ته حاضر شوم، نو کوم خلق چه دنبی علیه الصلوٰة والسلام په خدمت کښ حاضر وُ ما ته مُبارکئ راکوُلو دپاره یے، رامنډے کړه، او دټولو نه رومبے ابو طلحه رضی الله عنه رامخکښ شو، مبارکی یے راکړه او لاس یے راسره مِلاؤ کړهٔ، چه همیشه به مِ یاد وی، زهٔ دنبی علیه الصلوٰة والسلام دربار ته لاړم، سَلام مِ اوکړهٔ، نو مخ مبارك یے خوشاله خندان وُو، او دخوشالئ رڼړا یے دمخ نه ښکاره کیدله، دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم مخ مبارك به دخوشالئ په وخت دسپوږمئ په شان ځَلیدهٔ، ما عرض اُوکړهٔ چه اے د الله رسوله! زما دتوبے پوره والے دادے چه زما څومره جائیداد دے هغه ټول دالله تعالیٰ په لاره کښ صدقه دے (چه دامالداری د دے مصیبت سبب جوړشوے وُو) نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل چه په دیکښ به درته تکلیا وُشی څهٔ حصه خپل ځان ځخنه هُم اُوساته، ما عرض اوکړهٔ چه ښه ده د خیبر حصه دِ پریږدے شی ما ته رښتیا ویلو خلاصے راکړهٔ. په دے وجه ما لوظ اوکړهٔ چه همیشه به رښتیا وایم - (درمنثور، فتح الباری)

فائده: دا ده دا صحابو کرامو رضی الله عنهم د اطاعت او دینداری او د الله تعالیٰ نه دویرے نمونه چه همیشه به په جنګ کښ دا حضرات شریک وُو، یو وارے په غیر حاضرئ څهٔ څهٔ زورنے ورته اُوشوے آو هغه یے په څومره

ـلهـ اګرچه دجامونه سِوا نور مال موجود وُو خو دغه وخت عام ژوند دا وُو چه فضول څیزونه یه زیات نه وُو څکه جامے یے دوه وے ۱۲ هٰذا الحاشیة من الشیخ رح

فرمانبرداریٔ سره برداشت کړے، چه پنځوس ورځے یے په ژړا کښی تیرے کړے، او دکوم مال په وجه چه دا واقعه پیښه شوه، هغه یے هم صدقه کړه او کافرانو طبع ورکړه، نو په ځائ د غصے تیزیدو او نورو یات پښیمانه شو، او دا یے هم د الله تعالیٰ زورنه او دنبی علیه الصلوٰة د ناراضتیا وجه اوګنړله چه زما د دین کمزورتیا دے درجے ته اورسیده چه کافرانو ته د دے طمع اوشوه چه هغوی ما بے دینه کړی، مونږ خلق هم مسلمانان یُو، دالله تعالیٰ او دهغه د پاك رسول صلی الله علیه وسلم ارشادات هم زمونږ مخکښی دی، دلوئ نه لوئ حکم د ماڅه دا خله چه د ایمان نه پس د دے برابر هیڅ یو څیز نشته، څومره (مسلمانان) دی چه د احکم پوره کوی، او څوك یے چه کوی، هغه هم څنګه کوی - د دے نه پس د زکوٰة او حج په څه تپوس کوے چه په دے کښی خومال هم خرچ کیږی۔

(۱۰) داصحابو کرامو رضی الله عنهم په خندا دنبی علیه الصلوٰة والسلام تنبیه او دقبر یاد

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم یو وارے د مانځه دپاره تشریف راوړه، نو یو څو لګے یے اولیدهٔ چه هغوی خندل او دخندا په وجه یے غاښونه ښکاریدل، نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد وفرمایهٔ، کچرے مرګ ډیر ډیر یاد دوئ، نوکوم حالت چه زهٔ وینم دا به نهٔ پیدا کیږی، په دے وجه مرګ ډیر ډیر یاد دَوئ، په قبر باندے هیڅ یوه ورځ داسے نهٔ تیریږی چه په هغے کښی هغه دا آواز نکوی چه زهٔ دنا آشنایئ کور یم - د یوازے والی کور یم، دخاورو کور یم، دچینجو کور یم، کله چه مؤمن قبر کښی کیخودلے شی، نو هغه قبر ورته وائی، ستا راتله دِ مبارك وی، ډیر ښهٔ دِ اوکړهٔ چه راغلے۔ څومره بنیادم چه په زمکه باندے ګرزیدل، ته په هغوی ټولو کښی زما ډیر خوښ وے، نن زما خواته راغلے، نو زما بهترین سُلوك په وُوینے۔ د دے نه پس هغه قبر ترکوے پورے چه د مړی نظر رسی هغے پورے آرت شی۔ او یوه دروازه په هغے کښی دجنت پرا نستلے شی، چه په هغے کښی دهغه ځائ هوا او خوشبوئ دهٔ ته راځی۔ او کله چه څوك بد عمله په قبر کښی کیخودلے شی، نو هغه قبر ورته وائی، ستا راتله دِ نامبارك وی، بد دِ اوکړهٔ چه نهٔ راغلے، په زمکه باندِ چه څومره بنیادم

Maktaba Tul Ishaat.com

کرزیدل په هغه تولوکښې لتانه زما زیاته کرکه وه، ننن کله چه ته زما حواله شوے نوزما معامله به هُم اُووینې - دے ته پس دارنګې هغهٔ ته زورورکوی چه ښتئ یې په خپلوکښې یوبل کښې ننوزی، او اُویا آژدها ګانے په هغهٔ دا سے مقرر کړے شی، کهٔ چرے یوه هم په زمکه پُوکے اُووهی. نودهغې دا ترنه په زمکه وابنهٔ قدرت پاتے نهٔ شی، اودے به ترقیامته پورے چیچی، دے ته پس نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشادوُفرمایلهٔ چه قبریادجنت یوباغ دے یاد دوزخ یوه کنده ده - (مشکوٰة)

فائده: دالله تعالیٰ نه ویره ډیره ضروری او اَهم خیزدے، هم داوجه ده چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به اکثرغټه ژور سوچ کښې وُو، اودمرګ یادوُل دے دپاره فائده منددی، ځکه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دا نسخه اِرشادوُفرمایله، چه کله کله مرګ یادوُل ډیرضروری اوفائده منددی۔

(۱۱) حضرت حَنظله رضی الله عنه ته د نفاق ویره

حضرت حَنظله رضی الله عنه فرمائی چه یووارے مونږخلق دنبی علیه الصلوٰة والسلام مجلس کښې وُو، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دعظ وُفرمایلو چه په هغې سره زړونه نرم شو، او سترګو نه اُوښکے اُوبهیدے اوخپل حقیقت په مونږ ښکاره شو، دنبی علیه الصلوٰة والسلام مجلس نه راپاسید م، چه کورته راغلم، ښځه بچی راته راغلل، اوخهٔ دُنیا خبرے آترے شروع شوے. او بچو سره ښندا خبرے، ښځے سره توقے شروع شوے، اَوهغه حالت لاړو کوم چه دنبی علیه الصلوٰة والسلام په مجلس کښې وُو، ناڅاپه م خیال راغے چه زهٔ روبیې په کوم حالت کښې وُم، اُوس څهٔ اُوشو، ما خپل زړهٔ کښې اُوے چه ته خومنافق شوے، چه په ظاهره دنبی علیه الصلوٰة والسلام مخکښې دِهغه حال وُو، اُوس چه کورته راغلے، نودا حالت دِشو، ما په دے افسوس اوغم کوُلو، اودا م ویل کورنه راأووتلم چه حَنظله خومنافق شو. مخامخ حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه تشریف راوُړهٔ، ما هغهٔ ته عرض اُوکړهٔ چه حَنظله خومنافق شو هغهٔ چه دا واوُریدل وے فرمایل، سُبحَانَ الله څهٔ وایې، هیڅکله نه - ما حال بیان کړهٔ چه مونږ خلق کله چه دنبی علیه الصلوٰة والسلام په خدمت کښې یوا ونبی علیه الصلوٰة والسلام

دوزخ اودجنت ذکر فرمائی، نوموږ خلق داسې شوګو یا هغه دواړه زموږ مخکښ دی، او کله چه دنبي علیه الصلوٰة دخوا نه راشو، نو ښځې، بچو او جائداد وغیره غم ته کښې اُونغلو، هغه هرڅه هیرکړو۔ حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ وفرمایل چه دا خبره خو ما ته هم پیښیږي۔ دے دپاره دواړه د نبي علیه الصلوٰة خدمت کښې حاضر شو، او حنظله رضی اللہ عنہ عرض وکړو چه اے دالله رسوله! زه خو منافق شوم۔ نبي علیه الصلوٰة وفرمایل څه خبره اُشوه؟ حنظله رضی اللہ عنہ عرض وکړو چه کله موږ خلق ستاسو په خدمت کښې حاضر شو، او تاسو دجنت او دوزخ ذکر فرمائي نوموږ ته داسې شو ګو یا هغه زموږ مخکښې دی۔ خو چه کله ستاسو مجلس نه لاړ شو، او د ښځې بچو او دکور په غمونو کښې لګیا شو، نو هرڅه هیر شي۔ نبي علیه الصلوٰة ارشاد وُفرمایه چه په هغه ذات مې دِ قسم وی، دچا په قبضه کښې چه زما ساه ده، که چرے ستاسو هروخت دغه حال پاتے شي، څنګه چه زما مخکښې وی، نو فرښتو به تاسو سره په بسترو او لارو کښې لاس ملاوَولو خو حنظله خبره داده کله کله کله کله۔ (احیاء، مسلم)

فائده: یعنی انسان سره اِنساني ضرورتونه هم لګیدلی دی چه د هغے پوره کول هم ضروري دی۔ خوړل، څکل، ښځه، بچي او ددوی خیرخبر اخستل دا هُم ضروري څیزونه دی، په دے وجه داسې قسمه حالات کله کله حاصلیږي هروخت دا نه حاصلیږي۔ او نه دَدے اُمید ساتل پکار دی۔ دا د فرښتو شان دے چه د هغوی څه بل کار فکر نشته، نه ښځه، نه بچي، نه د ګذران فکر نه د دُنیوی قصے۔ او انسان سره چونکه بشري ضروریات لګیدلی دی، نو دے هروخت په یو حالت نه شي پاتے کیدے، خو د غور و فکر خبره دا ده چه صحابه کرامو رضی اللہ عنہم نه دخپل دین څومره فکر وُو چه لږ شان خبرے سره چه د نبي علیه الصلوٰة مخکښې کوم حالت زموږ وُو هغه روستو نه پاتے کیږي، په دے د خپل منافق کید و ورسره فکر شو۔ "عشق است و هزار بدګماني" عشق دے او په زړګونو بدګماني دی۔ چا سره چه عشق شي د هغه په باره کښې په زرګونو قسمه بدګماني او فکرونه (پیدا) شي۔ خوئ سره مینه وی او هغه چرته

Maktaba Tul Ishaat.com

په سفر لا رتې. بیا کوري هر وخت د خیریت د خبر فکر کوي، او کڼ د امعلومه شي چه هلته طاعون (مرض) دے، یا فساد شوے دے، بیا خو الله تعالیٰ ته معلومه ده، چه څومره خطو ته او تارونه به لیږي۔

تکمیل – د الله تعالیٰ نه د ویرے متفرّق حالات

دقران شریف ایتونو او د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم حدیثونو او د بزرګانو واقعاتو کښ د الله جل شانه نه د ویرے متعلق څومره څه چه ذکر شوي دي د هغې راجمع کول خو ګران دي، خو په مختصر طور د د ومره ځان پوهول بکار دي، چه د دین د هر یو کمال بنیاد د الله تعالیٰ نه ویره ده۔ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه د حکمت جرړه د الله تعالیٰ نه ویره ده۔

حضرت ابن عمر رضی الله عنه به دومره ژړل چه په ژړا ژړا به یے سترګے بیکاره شوے۔ چا یو وارے ولیده، نو هغه ته یے وویل چه ته زما ژړا ته حیران یے، د الله تعالیٰ د ویرے نه لمر ژاړي۔ یو وارے داسے قصه راغله، نو ویے فرمایل چه د الله تعالیٰ د ویرے نه سپوږمۍ ژاړي۔

یو ځوان صحابی باندے نبی علیه الصلوٰة والسلام تیریدلو، هغه قران لوستلو، کله چه فَاِذَا انْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَکَانَتْ وَرْدَةً کَالدِّهَانِ ته ورسیدلو، نو د بدن ویښته یے ودریدل، او په ژړا ژړا یے ساه په سلګو شوه او وویل یے، آو! کومه ورځ چه آسمان وچوي (یعنی د قیامت په ورځ) زما به څه حال وي۔ هائے! زما بربادي۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام ورته وفرمایل، ستا د دے ژړا په وجه فرښتے هم په ژړا شوے۔

یو انصاری رضی الله عنه د تهجّد د مونځ اوکړو، بیا کیناست ډیر یے وژړل، او ویل یے، الله تعالیٰ ته فریاد کوم د دوزخ د اور۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام ورته وفرمایل چه نن فرښتے او ژړولے۔

عبد الله بن روّاحه رضی الله عنه یو صحابی دے ژړل یے، ښځے یے چه د هغه دا حالت ولیدلو، هغه هم په ژړا شوه، دهٔ ترینه تپوس اوکړو چه ولے ژاړے؟

وے ویل چہ دکوے وجہ نہ تہٗ ژاړے۔ عبد اللہ بن رَوّاحہ رضی اللہ عنہ وفرمائیل زۂ خو پہ دے وجہ ژاړم چہ پہ دوزخ باندے خو تیریدل دی، نۂ دۂ معلومہ چہ خلاصے بہ وُشی کۂ هلته بہ پاتے شم۔ (قیام اللیل)

زُرارہ بن اَوفیٰ رحمۃ اللہ علیہ یو جُمات کښ مونځ ورکولو، فَاِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُوْرِ الآیۃ (المدثر) تہ چہ کلہ اُورسیدۂ؛ نو زر پریوت اَو وفات شو۔ (رحمۃ اللہ)

خلقو را اُوچت کړۂ کور تہ یے راوړۂ۔

حضرت خُلَیْد رحمۃ اللہ علیہ یو وارے مونځ کولو، کُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ (آل عمران) تہ چہ وُرسیدۂ، نو دا یے بیا بیا وئے، لږ ساعت کښ دکور د یو کُنج نہ آواز راغے چہ څو پورے بہ دا وایے، ستا پہ دے بیا بیا ویلو سرۂ خلور پیریان مړۂ شو۔

دیو صاحب قصہ یے لیکلے دہ چہ (قرآن شریف) یے لوستۂ لوستۂ، کلہ چہ وَرُدُّوٓا اِلَی اللّٰهِ مَوْلٰهُمُ الْحَقِّ تہ وُرسیدۂ، نو یوہ چغہ یے اُووہستلہ لَتے یے وُټکولے مړ شو۔ نو رهم د دے قسمہ واقعات پیر تیر شوی دی۔

حضرت فُضَیل رحمۃ اللہ علیہ یو مشهور بزرګ دے، فرمائی چہ د اللہ تعالیٰ نہ ویرہ د هر خیر طرف تہ لارہ ښائی۔

حضرت شِبلی رحمۃ اللہ علیہ دنوم نہ ټول خبر یی۔ هغه فرمائی کلہ چہ زۂ د اللہ تعالیٰ نہ ویریدلے یم، د هغے پہ وجہ مے د حکمت او عبرت داسے دروزہ پرانستے شویدہ چہ دے نہ مخکښ نہ وہ پرانستے شوے۔

حدیث شریف کښ راغلی دی چہ اللہ جل شانہٗ فرمائی چہ زۂ خپلو بندګانو دوہ ویرے نہ جمع کوم او دوہ بے فکری نہ ورکوم۔ کۂ څوک پہ دُنیا کښ مانہ بے فکرہ شی، نو پہ قیامت کښ یے ویروم۔ او کۂ دُنیا کښ مانہ ویریږی، نو آخرت کښ بے فکری ورکوم۔

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد دے چہ څوک د اللہ تعالیٰ نہ ویریږی د هغۂ نہ هر یو څیز ویریږی، او چہ څوک د غیر اللہ نہ ویریږی، هغۂ لرہ هر یو څیز ویروی۔ یحییٰ بن مَعاذ رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چہ سړے کۂ چرے د دوزخ نہ دومرہ ویریږی څومرہ چہ د غریبۍ نہ ویریږی، نو نیغ بہ جنت تہ لاړ شی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ابو سُلیمان دَارانی رحمۃ اللہ علیه فرمائی، دکوم زړهٔ نه چه د الله تعالیٰ ویره لاړه هغه برباد شو.

دنبی اکرم صلی اللہ علیه وسلم ارشاد دے دکومے سترګے نه چه د الله تعالیٰ دویرے نه لړه غوندے اوښکه اګرکهٔ د مچ دسر برابر وَلے نهٔ وی اوزی، او په مخ پریوزی نو الله تعالیٰ دغه مخ په اور حرامَوی.

دنبی اکرم صلی اللہ علیه وسلم یو بل ارشاد دے چه کله دمسلمان زړهٔ د الله تعالیٰ د ویرے نه رَپی، نو دهغهٔ ګناهونه داسے رَژی څنګه چه دونو پانړے ډُو رېږی.

زما دنبی اکرم صلی اللہ علیه وسلم یو بل ارشاد دے چه څوک د الله تعالیٰ د ویرے نه وُژاړی دهغهٔ اور ته تلل داسے مشکل دی څنګه چه پیٔ تیونو کښ واپس تلل.

حضرت عُقبه بن عامر رضی اللہ عنه یو صحابی دے، دهٔ دنبی علیه الصلوٰة نه تپوس اُوکړهٔ چه دخلاصی لاره کومه ده. هغوی مبارک ورته وُفرمایل چه خپله ژبه په قابو کښ ساتئه. په کور کښ کیناه او په خپو ګناهونو ژاړه.

حضرت عائشه رضی اللہ عنها یو وارے دنبی علیه الصلوٰة نه پوښتنه اوکړه چه ستاسو په اُمت کښ څوک داسے هُم شته چه بے حسابه بے کتابه به جنت ته داخل شی، نبی علیه الصلوٰة وُفرمایل، هَو! چه څوک خپل ګناهونه یادَوی اَوژاړی.

زما دآقا صلی اللہ علیه وسلم یو بل ارشاد دے چه الله تعالیٰ ته ددوه وُڅاڅکو نه زیات بل څاڅکے خوښ نهٔ دے. یو داُوښکے هغه څاڅکے چه د الله تعالیٰ د ویرے نه راوتلے وی. دویم دوینے هغه څاڅکے چه د الله تعالیٰ په لاره کښ توئ شی.

یو ځائے ارشاد دے چه دقیامت په وَرځ اُوهٔ کسان داسے دی چه هغوی ته به الله جلّ شانُهٔ دخپل عرش سورے ورکړی، یو هغه کس دے چه په تنهائی کښ الله تعالیٰ یادکړی او دے په وجه بے دسترګو نه اُوښکے بهېږی.

دحضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنه ارشاد دے چه څوک ژړلے شی، هغه دِ اُوژاړی، او چا ته چه ژړا نهٔ وَرځی، هغه دِ د ژړا شکل جوړ کړی.

محمد بن مُنکَدِر رحمۃ اللہ علیه چه به کله ژړل نو اُوښکے به یے په خپل مخ او ږیره راښکلے، او ویل به یے چه ما ته دا روایت رارسیدلے دے چه ددوزخ اُور به

په هغه ځائ نه لګی کوم ځائ ته چه اُوښکے رسیدلی وی.

د ثابت بُنانی رحمة الله علیه سترګے خوږ شوے، طبیب ورته اُووے، دیوے خبرے وعده اُوکړه سترګے به دِ ښے شی چه ژاړه مه. وے ویل چه په سترګه کښې هیڅ خوبی نشته که هغه وُنه ژاړی.

یَزِید بن مَیْسَرَہ رحمة الله علیه وائی چه ژړا د اُووَو وجهونه کیږی. خوشالی لیونتوب، درد، ویرتیا ل، ریا کاری، نشه، او د الله تعالیٰ دویرے نه، هم دا ده هغه ژړا د کومے چه یوه اُوښکه هم د اُور سمندر مړکوی.

کَعْبُ اَحْبار رحمة الله علیه فرمائی چه په هغه ذات مِ قسم وی دچا په قبضه کښې چه زما سا ده، که زه د الله تعالیٰ دویرے نه اُوژاړم، او اُوښکے زما په نګو باندې اُوبهیږی. دا ماته ددے نه زیاته خوښه ده چه دغرهٔ برابر سرۀ زر صدقه کړم.

دے نه علاوه نورهم په زړګونو اِرشادات دی چه د هغے نه معلومیږی چه چه د الله تعالیٰ په یاد کښې او دخپلو ګناهونو په فکر کښې ژړل کیمیا ده، او ډیرې ضروری او فائده مند ده، او په خپلو ګناهونو نظر کولو سره دا حالت پیدا کول پکار دی. دے سره دا هم ضروری ده چه د الله تعالیٰ دفضل او دهغهٔ د رحمت اُمید کښې هم کمی نهٔ وی، یقیناً د الله تعالیٰ رحمت دهر څهٔ نه فراخه دے.

دحضرت عُمر رضی الله عنه اِرشاد دے چه که چرے قیامت کښې دا اِعلان وُشی چه دیو کس نه سِوا ټول دوزخ کښې داخل کړئ، نو زما د الله تعالیٰ د رحمت نه دا اُمید دے چه هغه کس به زهٔ یم. او که چرے دا اعلان وُشی چه دیو کس نه سِوا ټول جنت کښې داخل کړئ، نو ماته دخپلو اَعمالونه داویره ده چه هغه کس چرته زهٔ نهٔ یم، په دے وجه دواړه څیزونه جُدا جُدا اَګڼړل، پرے ځان پوهول او خیال یے ساتل پکار دی. خصوصاً دمرګ په وخت کښې د اُمید معامله زیاته پکار ده. دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد دے چه دتاسونه دِ هیڅوک نهٔ مری خو چه په الله تعالیٰ سره حُسنِ ظن یعنی ښهٔ ګُمان ساتی.

دامام احمد بن حَنْبَل رحمة الله علیه چه کله وفات کیدلو نو خپل ځوئ یے را اُوغوښتهٔ، ورته یے وُفرمایل چه دا سے حدیثونه ماته وا اُوروه چه په

Maktaba Tul Ishaat.com

په هغې سره الله تعالیٰ باندې اُمید زیاتیږی۔

دریم باب

د صحابو کرامو رضی الله عنهم اجمعین د زُهد او د فقر یعنی محتاجئ غریبئ په بیان کښې

په دې باره کښې په خپله د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم خپل معمول او د هغوی اقعات چه په دې حال باندې دلالت کوی چه دا څیز نبی علیه الصلوٰة په خپله اختیار کړې او خوښ کړې وُو، دومره ډیر دی چه یو نو په کتابونو کښې موندې شی، چه د هغې د مثال په طور جمع کول هم مشکل دی۔ نبی علیه الصلوٰة فرمائی چه فَقر د مؤمن تُحفه ده۔

① د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم غرونو لره سره زر جوړولو ته انکار

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد دې چه زما رب په ما دا پیش کړه چه زما د پاره د مکې غرونه د سرو زرو جوړ کړی۔ ما عرض وُکړو اې الله تعالیٰ! ما ته خو دا خوښه ده چه یوه ورځ په مړه ګیډه وُخورم نو دویمه ورځ وُږې یم چه تا ته زاری وُکړم او تا یا د کړم، او کله چه موړ شم نو ستا شکر ادا کړم، ستا تعریف او کړم (ترمذی)

فائده: دا د هغې پاک ذات حال دې، د چا چه مونږ نوم اخستونکی یُو، او د هغهٔ په اُمت کښې کیدو باندې زمونږ فخر دې، چه د هغهٔ هره خبره زمونږ د پاره د تابعدارئ قابله ده۔

② د حضرت عُمر رضی الله عنه د نبوی فراخی طلب کولو باندې تنبیه او د نبی علیه الصلوٰة والسلام د ګذارې حالات

د بیبیانو بعضې زیاتو باندې یو وارې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم قسم خوړلې وُو چه د یو میاشتې پورې به دوی ته نهٔ ورځم چه ورته زور نه اُوشی۔ او ځان له بې پورته په یوه کوټه کښې قیام فرمایلې وُو۔ په خلقو کښې دا مشهوره شوه چه نبی علیه الصلوٰة بیبیانو ته طلاق ورکړهٔ۔ حضرت عُمر رضی الله عنه د ته وخت خپل

کور کښې وُو چه دا خبره یې واورېده نو په منډه یې تشریف راوړه، په جُمات کښې یې اُولیدل چه خلق ځان له ځان له ناست دی. د نبی علیه الصلوٰة والسلام د غم او د غصې په وجه ژاړی، بیبیانې هم ټولې په خپلو کورونو کښې ژاړی، خپلې لُور حضرت حفصې رضی اللہ عنها ته ورغے، هغې هم په کور کښې ژړل، ورته یې وویل اوس ولې ژاړې آیا ما به همیشه درته نه ویرولې چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام د خفګان هیڅ خبره اُونکړې دے نه پس یې جُمات ته تشریف یوړه، هلته یو ډله منبر سره ناسته وه ژړل یې، لږ ساعت هلته کیناست خو د سخت غم د وجې صبر نه شو، نبی علیه الصلوٰة والسلام چه کوم ځای تشریف فرما وُو، هغه خوا ته یې تشریف یوړه، او د حضرت رباح رضی اللہ عنه یو غلام په ذریعه یې چه د بیټهک په دروازه کښې پښې زوړندې کړے دے ناست وُو، د ننه د حاضرئ اجازت وُغوښتلو، هغه خدمت کښې حاضر شو او د حضرت عُمر رضی اللہ عنه د پاره یې اجازت وُغوښتو، خو نبی علیه الصلوٰة والسلام خاموشه شو، هیڅ جواب یې ورنکړه. حضرت رباح رضی اللہ عنه راغے، هُم دا جواب یې حضرت عُمَر رضی اللہ عنه ته ورکړه چه ما عرض وُکړه خو هیڅ جواب یې رانکړه. حضرت عُمَر رضی اللہ عنه نا اُمیده شو، منبر څنګ ته راغے کیناستو، خو صبر یې وُنکړے شو او لږ ساعت پس بیا حاضر شو، او د حضرت رباح رضی اللہ عنه په ذریعه یې اجازت وُغوښته، د غسې درې وارې اُوشو چه دۀ په بې قرارئ سره د غُلام په ذریعه د حاضرئ اجازت وُغوښته او د هغوی له طرفه په جواب کښې خاموشی وه. دریم وارې چه کله واپس کیده نو حضرت رباح رضی اللہ عنه آواز ورکړه چه تا ته د حاضرئ اجازت وُشو. حضرت عُمَر رضی اللہ عنه خدمت کښې حاضر شو، نو وې لیدل چه نبی اکرم صلی اللہ علیه وسلم په یو بوزئ ملاست دے چه څۀ څیز پرې غوړېدلے نۀ دے. په دے وجه پاک وجود بانده یې د بوزئ نښې جوړې شوې دے. په ښکلی وجود نښې صفا ښکاری. او سر مُبارک ته یې د څرمنے یو بالښت دے چه د کجورے د وَنې پوټکی ته ډک شوې دے، ما سلام اُوکړه او ټولو نه اول مې ترې دا تپوس وُکړه چه آیا تاسو بیبیانو ته طلاق ورکړے دے؟ وې فرمایل، نه. دے نه پس ما د خوشۍ طبعې په طور عرض وُکړه. اے د الله رسوله! مونږ قریشی خلق په ښځو

Maktaba Tul Ishaat.com

زوراور وُو، خو چه کله مدینے ته راغلو، نو اُومولیدل چه د انصارو ښځے په سر و زور اوړے دی، دوی ته یے چه اُوکتل، نو د قریشو ښځو ترے هم اثر واخستلو، دے نه پس یوه ښځه خبره م نوره هم اُوکړه چه په هغے سره نبی اکرم صلی الله علیه وسلم خفه شو، ما اُولیدل چه د کور ټول سامان د اُو، درے څرمنے چه رنګ شوے نه وے، او یو مُوټے اُوربشے چه په یو کوټ کښ پرتے وے - ما آخوا دیخوا نظر واچوو، نو دے نه سوا نور هیڅ نه وُو، ما چه داوُلیدل په ژړا شوم، نبی علیه الصلوٰة وُفرمایل، وَلے ژاړے؟ ما عرض وُکړۀ اے د الله رسوله! ولے به نهٔ ژاړم چه د پُوزکی نښے ستاسو په وجود مبارک باندے جوړے شویدی او د کور ټول سامان دا دے، کوم چه زما مخکښ دے، بیا ما عرض اوکړۀ اے د الله رسوله! دُعا وُکړئ چه ستاسو په اُمت هُم دُنیوی فراخی اُوشی - د ا رُوم او فارِس والا سره د بے دینئ چه د الله تعالیٰ عبادت نکوی، په هغوی څو د افراخی، د ا قیصر او کِسریٰ خودِ باغونو او نهرونو په مینځ کښ وی، او تاسو د الله تعالیٰ رَسُول یئ، او د هغهٔ خاص بنده یئ او د ا حالت دے نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د ډه وَهلے وه - د حضرت عُمر رضی الله عنه دا خبره یے چه واورېده نو کیناستو او وے فرمایل چه عُمَره! آیا تهٔ لا تر اُوسه په شک کښ پروت یے، واوره - د اٰخرت فراخی د دُنیا د فراخئ نه ډیره بهتره ده، دے کافرانو ته طیّبات او ښهٔ څیزونه په دُنیا کښ ملاؤ شو، او زمونږ د پاره اٰخرت کښ دی - حضرت عُمر رضی الله عنه عرض اُوکړۀ، اے د الله رسوله! ما د پاره بښنه وُغواړه چه واقعی ما غلطی اوکړه - (فتح)

فائده: د ا د دین دُنیا د بادشاه او د الله تعالیٰ د نیازبین رسول صلی الله علیه وسلم طرز عمل دے چه په پُوزکی یے هیڅ څیز غوړیدلے نهٔ دے، نښے یے په بدن جوړے شوی دی - د کور د ساز و سامان حال یے هم معلوم شو - په دے کښ یو کس د دُعا درخواست اوکړو، نو تنبیه یے وُفرمایله، حضرت عائشے رضی الله عنها نه چا تپوس وُکړۀ چه ستا په کور کښ د نبی علیه الصلوٰة بستره څنګه وه؟ وے فرمایل یوه څرمنه وه چه د کھجورو (دُونے) پوټکی نه ډکه شوے وه - حضرت حفصے

رضی الله عنها نه هم چاتپوس اُوکړهٔ چه ستاپه کورکښ د نبي علیه الصلوٰة والسلام بستره څنګه وه؟ وے فرمایل چه د بُوجئ کپړه وه چه هغه به موږ غبرګه کړے د نبي علیه الصلوٰة والسلام لاندے اُوغوړوله. یو ورځے م خیال اوشو، چرے څلور برغه یے وُغوړوم، نو زیاته به نرمه شي، نو داسے م اُوکړل. نبي علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل چه د شپے دِ څه غوړولي وُو؟ ما عرض وُکړهٔ چه هُم هغه کپړه وه څلور برغه م کړے وه. وے فرمایل هُم هغسے یے کړه څنګه چه پروړمبے وه، د هغے نرمي د شپے پاسیدو کښې منع کوُنکے جوړیږي. (شمائل) اُوس دِ موږ خلق خپلو نرمو نرمو د ما لوچو تولیانو ته وُګورُو، چه الله تعالیٰ څومره فراخي کړے ده، او بیا هم په ځائي د شکر هر وخت په ژبه د تنګسیا شکایتونه کوُو.

(۳) د حضرت ابو هریره رضی الله عنه په لوږه کښې حالت

حضرت ابو هُریره رضی الله عنه یو ځل د بُوسکي په کپړه پوزه پاکه کړه، وے فرمایل څهٔ به وایے د ابو هریره اِنن د بُوسکي په کپړه پوزه پاکوي، حال دا چه هغه زمانه ما ته یاده ده، کله چه به زهٔ د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د منبر او د کوټې تر مینځه بے هوشه پرت وُمه، او خلقو به لیونے ګڼړلم، پښه به یے را لاله په سټ کیخوده زور به یے را کوُو، حال دا چه لیونتوب به نهٔ وُو لوږه به وه.

فائده: یعني د لوږے له وجه به څو څو ورځے نهرے تیریدلے. بیهوشي به کیدله. خلقو به دا ګڼړل چه لیونے شو. ویلے شي د ځے زمانه کښې به د لیونتوب علاج سټ ته په پښه زور ورکوُلو سره کوُلے شو. حضرت ابو هریره رضی الله عنه د پر صایره او قانع خلقو کښې وُو، څو څو وخته به پرے نهرے تیر بیا ئے. د نبي علیه الصلوٰة والسلام نه پس الله تعالیٰ فتوحات وُکړل، نو مالداري راغله. خو سره د دے لوئ عابد وُو. یوه تهیلئ ورسره وه چه د کهجورو د هډوکو ته به د وخت ډکه وه، په هغے به یے د تسبیح یعني وظیفه کوُله. کله چه به هغه ټوله تهیلئ خالي شوه، نو وینزے به بیا ډکه کړه، او ورځه به یے کیخوده. دا یے معمول وُو، چه په خپله او ښځه او خادم درے تنو به د شپے درے حصے کوُلے او

Maktaba Tul Ishaat.com

نهبر وار به یوکس د دریونه په عبادت کښ مشغول اُوسیدهٔ - (تذکرة الحفاظ)

ما دخپل پلار صاحب رحمته الله علیه نه اُوریدلی دی چه زما د نیکه صاحب رحمته الله علیه هُم تقریباً دا معمول وُو چه د شپې تر یو بجې پلار صاحب به مطالعه کښ مشغول اُوسیدهٔ، بیا یوه بجه به نیکه صاحب د تهجّد د پاره راپاسیدهٔ، او پلار صاحب به ئې اُوده کړهٔ، او به خپله به تهجّد وکښ مشغول شو، او د سحر نه تقریباً درې پاوه مخکښ زما ترهٔ صاحب رحمته الله علیه به هم د تهجّد د پاره راپاسو، او به خپله به بې د سنتو په تابعدارئ کښ آرام وُفرمایه، اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِیْ اِتِّبَاعَهُمْ -

(۴) د حضرت ابُوبکر صِدّیق رضی الله عنه د بیت المال نه وظیفه

حضرت ابوبکر صِدّیق رضی الله عنه به د کپړې تجارت کوُلو، او په دې به ئې گُذران وُو، کله چه خلیفه جوړ کړې شو، نو د معمول مطابق ئې سحر خوښا د رونه په لاس واچوُل، او بازار ته د خرخوُلو د پاره ئې تشریف یوړهٔ - په لاره کښ حضرت عُمر رضی الله عنه مخې له وَرغې، تپوس ئې وُکړهٔ کوم خواځې؟ وې فرمایل بازار ته، حُم - حضرت عُمر عرض وُکړهٔ، که چرې ته تجارت کښ مشغول شې نو د خلافت د کار به څهٔ کیږي؟ وې فرمایل چه په بال بچ به د کومه خورَوم - عرض ئې اُوکړهٔ چه ابُوعُبَیده رضی الله عنه چه هغهٔ ته نبی علیه الصلوٰة والسلام د آمین یعنی امانتگر لقب ورکړې دې هغهٔ ته به لاړ شو هغهٔ به تا سو د پاره د بیتُ المال نه څهٔ مقرر کړي - دواړه حضرات هغهٔ ته وَرغلل، هغهٔ ورله هغومره مقرر کړهٔ څومره چه یو مُهاجِری ته آوسطاً ورکوُلې شوه نهٔ کمه نهٔ زیاته. یو وارې بی بی صاحبې ورته د رخواست وُکړهٔ چه څهٔ خوږ خیز خوراک ته مې زړهٔ کیږي - حضرت ابوبکر صِدّیق رضی الله عنه وُفرمایل چه ما سره خو رقم نشته چه واخلم، بی بی عرض وُکړهٔ چه زهٔ به د هرې ورځې د خوراک نه لږ لږ بچ کوُمه، څو ورځې کښ به د غومره مقدار جوړ شي، دوی ورته اِجازت ورکړهٔ - بی بی صاحبې په څو ورځې کښ لږې غوندې پیسې جمع کړې - حضرت ابُوبکر صِدّیق رضی الله عنه وُفرمایل چه د تجربې نه دا معلومه شوه چه دومره مقدار مونږ ته د بیت المال نه زیات راکوُلې شي -

نو چه کوے پیسے بی بی صاحبې جمع کړے وے، هغه یے هم په بیت المال کښې جمع کړے، او د مخکښې د پاره هغومره مقدار خومره چه دے روزانه جمع کړے وے د خپلے تنخواه نه کے کړے۔

فائده: دومره لوئ خلیفه او بادشاه چه د روپے نه یے خپل تجارت کوّلو او هغه د ضروریاتو د پاره کافی هم وو خنګه چه د هغے اعلان نه معلومیږی کوم چه بُخاری شریف کښې د حضرت عائشے نه روایت دے چه کله ابوبکر رضی الله عنه خلیفه جوړ کړے شو، نو وے فرمایل چه زما قوم ته دا خبره معلومه ده، چه زما پیشه د تجارت زما د بال بچ د پاره کافی وه، خو اوس د خلافت په وجه د مسلمانانو په کاروبار کښې مشغولتیا ده. په دے وجه د بیت المال نه به زما د بال بچ د پاره خوراک مقرریږی. سره د دے چه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وفات کیده، نو حضرت عائشے رضی الله عنها ته یے وصیت اُوکړه چه زما ضرورتونو کښې کوم څیزونه د بیت المال دی، هغه دِ زما نه پس راتلونکی خلیفه ته حواله کړے شی. حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه دوی سره څه اشرفئ روپئ نه وے، یوه د پیو اُوښه، یوه پیاله، یو خادم وو. بعضو روایاتو کښې یو پړونی یوه توړانی هم راغلی دی. دا څیزونه کله چه حضرت عُمر رضی الله عنه ته په نیابت کښې اُورسیدل نو وے فرمایل چه الله تعالیٰ دِ په ابوبکر رضی الله عنه رحم اوکړی چه ده خپل روستنی خلق په مُشقت کښې واچول۔ (فتح)

⑤ د حضرت عُمر فاروق رضی الله عنه د بیت المال نه وظیفه

حضرت عُمر رضی الله عنه هم تجارت کوّلو. کله چه خلیفه جوړ کړے شو. نو د بیت المال نه یے وظیفه مقرره شوه. مدینه منوره کښې یے خلق جمع کړل، اِرشاد یے اُوفرمایه چه ما به تجارت کوّلو اوس تاسو په دے کښې مشغول کړم، په دے وجه اوس به زما د ګُذارے څه ذریعه وی، خلقو مختلف مقدارونه تجویز کړل. حضرت علی رضی الله عنه چُپ ناست وو. حضرت عُمر رضی الله عنه ترے پوښتنه اوکړه، ستا څه رائے ده؟ وے فرمایل چه میانه حال سره چه

Maktaba Tul Ishaat.com

ستاسو ستاد کور د خلقو د پاره کافي شي. حضرت عمر رضي الله عنه دا رائې خوښه او قبوله کړه. او میاشته حال مقدار تجویز شو، د دې نه پس یو ځل یو مجلس کښې چه په هغې کښې حضرت علي رضي الله عنه هم وو، او حضرت عثمان، حضرت زبیر، حضرت طلحه رضي الله عنهم شریک وو، دا خبره راغله چه د عمر رضي الله عنه وظیفه زیاتول پکار دي، چه په ګذاره کښې یې تنګسیا ده، خو هغه ته د عرض کولو چا همت ونه شو. په دې وجه د هغوی لور حضرت حفصه رضي الله عنها چه د نبي علیه الصلوٰة والسلام بي بي صاحبه کیدو په وجه ام المؤمنین یعنی د مؤمنانو مور هم وه، د هغې په خدمت کښې د دې حضراتو تشریف یوړه، او د هغې په ذریعه یې د حضرت عمر رضي الله عنه نه د اجازت او د رائې معلومولو کوشش اوکړه، او ورسره یې دا هم اووې چه زمونږ نومونه ورته معلوم نه شي. حضرت حفصې رضي الله عنها کله چه حضرت عمر رضي الله عنه ته دا خبره اوکړه، نو په مخ یې د غصې آثرات ښکاره شول. حضرت عمر رضي الله عنه ترې د نومونو پوښتنه اوکړه. حضرت حفصې رضي الله عنها عرض وکړه چه رومبې ستاسو رائې معلومه شي، حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل که ما ته د هغوی نومونه معلوم شوې وې نو د هغوی مخونه به م بدل کړي وو یعني داسې سزا ګانې به م ورکړې وې چه په مخ به یې نښې راغلې وې، ته وښایه چه د نبي علیه الصلوٰة والسلام ښه نه ښه جامه ستا په کور کښې څه وه؟ هغې عرض وکړه چه دوه کپړې د ګیرو رنګ په شان، زیړ رنګي وې. چه نبي علیه الصلوٰة والسلام به د جمعې په ورځ یا څه وفد راتلو په وخت اغوستلې بیا یې وفرمایل چه کوم خوراک یې تا کره ښه نه ښه خوړلې دې؟ عرض یې وکړه، چه زمونږ خوراک د اوربشو ډوډۍ وه، مونږ ګرمه ګرمه ډوډۍ باندې د غوړو د ډبلې لاندې پاتې شوې شلوم راواړوو، او هغه مو پرې یو وارې غوړه کړه. نو نبي علیه الصلوٰة والسلام په خپله هم ښه په مزه اوخوړله، او په نورو یې هم وخوړله. بیا یې وفرمایل، چه تا کره به یې ښه بستره کومه غوړوله؟ عرض یې وکړه چه یوه غټه شان کپړه وه په ګرمۍ کښې به یې څلور برغه غوړوله او په یخنۍ کښې به یې نیمه لاندې خوره کړه، او نیمه به یې پورته واغوستله. وې فرمایل اے حفصې! هغې خلقو ته دا خبره ورسوه چه نبي

علیه الصلوٰة والسلام خپل طرزِ عمل سره یوه اندازه مقرر کړه، او په اُمید (د اخرت) بانده تسوالے وُکړو، زۀ به هم د نبی علیه الصلوٰة والسلام تابعداری کومه۔ زما مثال او زما د دوه ؤ ملګرو د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم او د ابو بکر صدیق رضی الله عنه مثال د هغې دریو کسانو په شان دے چه په یوه لاره روان شو۔ رومبی کس یوه توښه واخستله لاړو، او مقصد ته اُورسیدو، دویم د رومبی تابعداری اُوکړه، او په هغه طریقه بانده لاړو، هغه هم رومبی ځنګ وُرسیدو۔ بیا دریم کس تلل شروع کړل، که چرے هغه د دے دوارو په طریقه لاړو، نو هغوی سره به یو ځائ شی، او که چرے د هغوی د طریقے نه خلاف لاړو، نو هیڅ کله به هم هغوی سره یو ځائ نهٔ شی۔ (اشهر)

فائده: دا د هغه سړی حال دے چه د هغهٔ نه به د دُنیا بادشاهان ویریدل او رپیدل، ځنګه زاهدانه ژوند سره یے عُمر تیر کړو۔ یو وارے یے خطبه لوستله او په لنګ کښې یے دولس پیوندونه وُو چه په هغې کښې یو د څرمنے وُو۔ یو وارے د جُمعے مانځه د پاره راتلو کښې تاخیر وُشو، نو چه راغے، معذرت یے وُکړو چه زما د خپلو جامو وینځلو کښې وخت وُلګیدو او دے جامو نه علاوه م نورے جامے نهٔ وے۔ (اشهر) یو وارے حضرت عُمر رضی الله عنه ډوډی خوړله، غلام راغے عرض یے وُکړو چه عُتبه بن اَبِی فَرقَد راغلے دے۔ دوی ورته د ننه د راتللو اجازت ورکړو او ډوډی ته یے راوُبللو، هغه شریک شو، نو داسے زیګه ډوډئ وه چه تیره یے نهٔ شوه۔ هغهٔ عرض وُکړو چه د چا نړے شوی اُوړو ډوډئ خو هم کیدے شی، دوی ورته وُفرمایل چه ایا ټول مسلمانان میده خوړے شی۔ عرض یے وُکړو چه ټول خونهٔ شی خوړے وے فرمایل چه افسوس! ته دا غواړے چه زۀ خپل ټول لذتونه په دُنیا کښې ختم کړم۔ (اُسدُالغابه) د دے قسمه په سوونو نه، په زرګونو نه بلکه په لکهونو واقعات د دے حضراتو کرامو دی، د دوی تابعداری نهٔ اوس کیدے شی، نهٔ هر چا ته کول پکار دی چه قوتونه کمزوری دی، چه د هغې برداشت هم په دے زمانه کښې ګران دے، په دے وجه د دے زمانه کښې د تصوف بزرګانو داسے مجاهدو اجازت نهٔ ورکوی۔ چه په هغې سره ضُعف پیدا شی چه قوتونه د رومبے

Maktaba Tul Ishaat.com

نه ضعیف او کمزوری دی۔ دغے حضراتو ته الله جلّ شانهٗ توتونه هم ورکړی وُو، خو دا ضروری دهٔ چه د تابعدارئ خواهش او ارزو ضرور رساتل یکاردی، چه د دے په وجه آرام طلبئ کښ څهٔ کمی اُوشی، او نظر خو څهٔ خکّته شی، او د دے زمانے مناسب میانه رَوی پیدا شی، چه مونږ خلق هر وخت دُنیا په لَنډ تو توکښ مخ په وړاندے ځو۔ او هر څوك دځان نه زیات مال او دولت والا ته کوری او په دے افسوس کښ مری چه فلانے کس زما نه زیات مالدار دے۔

⑥ د حضرت بلال رضی الله عنه د نبی علیه الصلوٰة والسلام د پاره د یو مشرك نه قرض خستل

حضرت بلال رضی الله عنه نه یو صاحب تپوس اُوکړهٔ چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د خرځ خوراك به څهٔ انتظام وُو، حضرت بلال رضی الله عنه وُفرمایل چه نبی علیه الصلوٰة څه به څهٔ جمع خو پاتے کیدهٔ نه، دا خدمت ماته سپارلے شوے وُو چه څهٔ انتظام داؤ وچه څوك مسلمان اُوږے به راتے، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به ماته اِرشاد وُفرمایهٔ مابه د چا نه قرض واخستهٔ په هغهٔ به مِ خوراك وُکړهٔ۔ څوك بربنډ به راتے نو ماته به یے اِرشاد وُفرمایهٔ، مابه د چا نه قرض واخستهٔ، هغهٔ ته به مِ پرے جامے وَاغوستو لے، دا انتظام به داسے چلیدو، یو وارے یو مشرك راته مِلاؤ شو، ماته یے اُووے چه زهٔ مالدار دولتمند یم، ته د چانه قرض مهٔ اخله۔ کله چه د ژنه ضرورت پیښیږی ما نه قرض اخله، ما اُووے د دے نه به بهتره څهٔ وی۔ د هغهٔ نه مِ قرض اخستل شروع کړهٔ۔ کله به چه اِرشادِ عالی اُوشو هغهٔ نه به مِ قرض راؤړلو او حکم به مِ پوره کولو۔ یو وارے مِ اودس اُوکړهٔ، د آذان ویلو د پاره اودریدلے مه چه هغهٔ مشرك یو ڈلے سره راغے او وے ویل اے حبشی! زهٔ هغهٔ ته متوجه شوم، نو سمدستی یے کنځل شروع کړل، او بد رَدیے څهٔ چه په خُلے ورتلل وے ویل، بیا یے اُووے چه میاشته ختمیدو کښ څو ورځے باقی دی، ما اُووے ختمیدو ته نزدے دهٔ، وے ویل چه څلور ورځے پاتے دی، که میاشت ختمیدو پورے دِ زما ټول قرضه ادا نکړه، نو تا به په خپله قرضه کښ غلام کړم، او هغسے به چیلئ څروے څنګه چه به دِ مخکښے

څرولے، داپے اُووے لاړو. په ماچه ټوله ورځ څهٔ تیریدل پکار وُو هغه تیرشو ټوله ورځ غم او تکلیف کښ وُم. د ماسخوتن د مانځهٔ نه پس د نبی علیه الصلوٰة والسلام په خدمت کښ یواځے حاضر شوم، آو ټوله قصه مِ ورته واؤروُله، او عرض مِ اوکړهٔ چه اے د الله رَسُوله! نهٔ تاسو سره څهٔ داوخت دا دا کوُلو فوری څهٔ انتظام شته، او نهٔ زهٔ سمد ستی څهٔ انتظام کولے شم، هغه به مِ ذلیله کوی او شَرموی، نو کهٔ اجازت وی، د قرضے د اَدا کوُلو انتظام پورے به زهٔ چرته پټ شم، کله چه تاسو سره چرته نه څهٔ راشی، زهٔ به حاضر شم، دا مِ عرض اوکړهٔ کورته راغلم، تُوره، ډال او پنړے مِ واخستے، دا مِ ټول د سفر سامان وُو، او د سحر کیدو انتظار مِ کوُلو چه د سَحر نزدے به چرته لاړ شم، سحر نزدے وُو چه یو صاحب په منډه راغے، چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام خدمت کښ زر وَرشه. زهٔ خدمت کښ حاضر شوم، نو څلور اُوښے مِ اُولیدے چه په هغے باندے سامان بار کړے شوے وُو، ناستے دی. نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل د خوشالئ خبره درته واؤروُم چه الله تعالیٰ ستا د قرضے اَدا کوُلو انتظام اُوکړهٔ، دا اُوښے او ورد ے ټول سامان تا ته حواله دے. د فِدَك رئیس دا په تحفه کښ ماته رالیږلی دی، ما د الله تعالیٰ شکر اَدا کړهٔ، او په خوشالئ مِ هغه واخستے لاړم، او ټوله قرضه مِ اَدا کړه، واپس راغلم. نبی علیه الصلوٰة والسلام په جُمات کښ اِنتظار کوُلو، زهٔ واپس راغلم آو عرض مِ اوکړهٔ، اے د الله رسوله! د الله تعالیٰ شکر دے چه الله تعالیٰ ربټولے قرضے ته ستاسو اُوګے سپکے کړے. آو اُوس هیڅ څیز قرضه کښ باقی پاتے نهٔ شو، نبی علیه الصلوٰة والسلام پوښتنه وُکړه، د سامان نه هم څهٔ باقی شته ؟ ما عرض وُکړهٔ آو جی، څهٔ باقی دے. نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل چه هغه هم تقسیم کړه چه ماته راحت حاصل شی، زهٔ به کورته هغے وخته پورے نهٔ ځم، ترڅو چه دا تقسیم شوے نهٔ وی. ټوله ورځ تیره شوه، د ماسخوتن د مونځ نه فارغیدُو نه پس نبی علیه الصلوٰة والسلام پوښتنه وُکړه چه هغه پاتے شوے مال تقسیم شو که نه ؟ ما عرض وُکړهٔ چه څهٔ موجود دے، ضرورت مند راغلی نهٔ دی. نو نبی علیه الصلوٰة والسلام په جُمات کښ اَرام وُفرمایهٔ. دوېمه ورځ ماسخوتن نه پس بیا نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل

Maktaba Tul Ishaat.com

چه وایه چې څه شته؛ ما عرض وکړه چه الله جل شانهٗ تاسو ته راحت درکړه چه هغه نه تول خلاص شو. نبی علیه الصلوٰة د الله جل شانهٗ حمد وثنا وفرمایله نبی علیه الصلوٰة نه داوېره وشوه چه الله مکړه مرګ راشي، او د مال څه حصه زما په ملکیت کښې پاتے وي. دے نه پس یے کورونو ته تشریف یوړه او بیبیا نو سره یے ملاقات وکړه. (بذل)

فائده: د الله تعالیٰ دولیانو دا هم خواهش وي چه د دوی په ملکیت کښې مال او سامان هیڅ پاتے نه وي. بیا د نبی اکرم ﷺ به څه تپوس کوے چه د ټولو ټیپانو سردار او د ټولو ولیانو دسرتاج وو د دوی به دا خواهش ولے نه وو چه زړهٔ د دُنیا نه بیخي فارغه لاړشم. ما په معتبرو ذریعو سره آوریدلی دی چه حضرت مولانا شاه عبدالرحیم صاحب رائپوری (الله تعالیٰ دِ په قبر نور کړی) معمول دا وو چه کله به د نذرانو رقم څه جمع شو، نو په پابندیٔ به یے راوغوختلو، ټول به یے تقسیم کړلو، او د وفات نه مخکښې خود خپلو آغوستو جامے وغیره یے هم خپل خاص خادم حضرت مولانا شاه عبدالقادر صاحب رحمة الله علیه ته ورکړے وے، او ورته یے فرمایلی وو چه بس اُوس به لتا نه مُستعار یعنی وقتي فائده اخستلو د پاره اخلم آغوندم به. او خپل پلار رحمة الله علیه م د پیر ځلے اُولیدهٔ چه د ماښام نه پس روپئ به ورځنه پاتے وے هغه به یے قرض خواه له ورکړے ځکه چه څو زره روپئ قرضدار ے وو. او دا به یے فرمایل چه دا د جهګړے څیز زهٔ د شپے ځان څخه نهٔ ساتم. د دے قسمه پیرحالات د بزرګانو شته دے خو دا ضروری نهٔ ده چه د هر یو بزرګ دِ یو قسم رنګ وي، د بزرګانو رنګونه مختلف وي او د چمن په ګلونو کښې د هر یو ګل شکل وسیرت جُدا جُدا وی.

⑦ حضرت ابو هریره رضی الله عنه په لوږه کښې د مسئلے پوښتنه کول

حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چه تاسو خلقو هغه وخت زمونږ حالت لیدلے وے چه مونږ کښې به بعضو څو څو وختونه دوړ خوراک نهٔ مونده چه

له دوی ۲۲ ربیع الثانی ۱۳۳۸ھ کښې وفات شوی دی ۱۲
له دوی ۱۴ ربیع الاوّل ۱۳۸۲ھ کښې په لاهور کښې وفات شو ۱۲

په هغې یې ملاتیغه کړې وے، ما به د لوږې له وجې ځیګر زمکې سره پیوست کړو، او کله به کیږه په زمکه آچولے پروت وُم، او کله به مې په ګیډې پورې کانړي تړل - یو وارے زهٔ په هغې لاره کښې کیناستم په کومه لاره چې دغې حضراتو لاره وه - اول حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه تیر شو، ما د هغهٔ نه د څهٔ خبرے تپوس کول شروع کړهٔ، خیال مې دا وُو چې دا خبره به کوم کورته به مې بوزي، او بیا به د عادت مطابق څهٔ چې موجود وي په هغې به مې میلمستیا اوکړي - خو هغوي دا سے اونکړل، شاید خیال یې وُنهٔ شو، یا د کور حال ورته معلوم وُو چې هلته هم څهٔ نشته - دِے نه پس حضرت عمر رضی الله عنه تشریف راوړهٔ، هغهٔ سره هم دا حالت پیش شو - بیا نبی اکرم صلی الله علیه وسلم تشریف راوړهٔ، زهٔ یې اُولیدم نو مُسکے شو، زما حالت اُو په غرض یوئ شو، ارشاد یې وُفرمایهٔ اَبُوهُرَیرَه! ما سره راځه، زهٔ ور سره شوم، نبی علیه الصلوٰة والسلام کورته تشریف یوړهٔ، ما د ننه د تلو اجازت واخستهٔ حاضر شوم - په کور کښې یوه پیاله د پَیُو پرته وه چې خدمت کښې پیش کړے شوه، پوښتنه یې اُوکړه چې د کومه راغلے ده - عرض اُوشو چې د فلانی ځائ نه تا سو د پاره هَدیه کښې راغلے ده - نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد وُفرمایهٔ، اَبُوهُرَیرَه! لاړشه اهلِ صُفّه راوُغواړه، اَهلِ صُفّه د اِسلام میلمانهٔ شمارلے شو - دا هغه خلق وُو چې د دوی نهٔ کور وُو نهٔ دَر - نهٔ ځائ ځائیږے - نهٔ د خوراک څهٔ مستقل اِنتظام وُو - د دے حضراتو تعداد به کم او زیات کیدهٔ - خو د قصے په وخت اویا وُو - د نبی علیه الصلوٰة والسلام معمول به دا هُم وُو چې د دوی نه به یې دوه دوه څلور څلور د چا مالدار صحابي میلمانهٔ کول، او خپل معمول یې دا وُو چې د چرته نه به صدقه راغله نو دوی ته به یې تبوله وُلیږله - او په خپله به یې په هغې کښې شرکت نهٔ کولو - او کهٔ د چرته نه به څهٔ هَدِیه راغله، نو نبی علیه الصلوٰة والسلام به په هغې کښې په خپله هم شرکت کولو - نبی علیه الصلوٰة والسلام دا بلنے حکم را کړهٔ په طبیعت مې ګرانه خو شوه چې د دے پَیُو مقدار څهٔ دے چې ټول راوُغواړم، د ټولو به پرے نبیګړه څهٔ اُوشي، یو کس ته به هم په مشکله پوره شي - او بیا راتلنے نه پس به ما ته د ټکولو حکم وي، نو په دے به مې وار په اَخیر کښې راځي چې په کښې به څهٔ پاتے شوي نهٔ وي، خو د نبی علیه الصلوٰة والسلام د خبرے

Maktaba Tul Ishaat.com

منلو نه بغیر علاج نهٔ وُو، زۀ لاړم تېول مِ راوستل. نبی علیه الصلوٰة ارشاد وُ فرمایهٔ چه واخله په دوی اُوڅکوه. ما یه یو یو کس ته پیاله ورکوله، هغهٔ به بنهٔ په مړه ګیډه اُوڅکله، آو پیاله به یې ماته واپس راکړه. دغسې په تېولو م اُوڅکول او تېول ماړهٔ شو. نو نبی علیه الصلوٰة پیاله په لاس مبارک کښې واخستله ماته یې اُوکتل او مُسکے شو، بیا یې وُ فرمایل چه کښې اُوس خوزهٔ او ته پاتے یُو، ما عرض وکړهٔ چه بیشکه اِوِے فرمایل واخله وُڅکه. ما اُوڅکل. اِرشاد یې وُ فرمایهٔ نور اُوڅکه ما نور اُوڅکل. آخر ما عرض وُکړهٔ، اے د الله رسوله! اُوس زهٔ نور نهٔ شم څکلے. دے نه پس نبی علیه الصلوٰة د تېولو ته پاتے شوی په خپله اُوڅکل.

⑧ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د اصحابو رضی الله عنهم نه د دوه وُکسانو باره کښې سوال

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم خدمت کښې څهٔ خلق حاضر وُو. یو کس مخامخ تیرشو، نبی علیه الصلوٰة یو بنتنه اوکړه چه د دے کس باره کښې ستا سو څهٔ رائے ده؟ عرض یې اُوکړهٔ، اے د الله رسوله! شریفو خلقو کښې دے. والله د دے قابل دے که چرته د نکاح پیغام ورکړی، نو قبول به شی. د چا سفارش اُوکړی نو اُو به منلے شی نبی علیه الصلوٰة واوریدهٔ چُپ شو. دے نه پس بیو بل صاحب مخامخ تیرشو، نبی علیه الصلوٰة د هغهٔ متعلق هم سوال وُکړهٔ. خلقو وُویل اے د الله رسوله! یو مسلمان غریب دے، که چرته کونږدن کوی، نو څوک لُور خور نهٔ ورکوی. که چرته سفارش کوی نو نهٔ قبلیږی، خبره کوی څوک ورته توجُه نهٔ ورکوی نبی علیه الصلوٰة ارشاد وُ فرمایهٔ چه د دے روسی په شان نه که چرے تېوله دُنیا ډکه شی، نو د هغے تېولو ته دا کس بهتر دے.

فائده: مطلب دا دے چه صرف دُنیوی شرافت د الله تعالیٰ په نزد هیڅ عزت نهٔ لری. یو مسلمان غریب چه د هغهٔ په دُنیا کښې هیڅ هم عزت نهٔ وی د هغهٔ خبره چرته نهٔ شی آوریدلے، د الله تعالیٰ په نزد د سوُنو هغے شریفانو نه بهتر دے چه د چا خبرے ته په دُنیا کښې ډیر په عزت سره کتلے شی، او هر څوک د هغهٔ خبرے آوریدلو آو منلو ته تیار روی، خود الله تعالیٰ په نزد هغهٔ هیڅ

عزت نشته۔ دُنیا وجود دالله والو په برکت سره دے، دا خو حدیث کښې په خپله موجود دی چه په کومه ورځ دُنیا کښې د الله تعالیٰ نوم اخستونکے پاتے نهٔ شی، قیامت به راشی او دُنیا وُجود به ختم کړے شی۔ دالله تعالیٰ د پاکے نامے دا برکت دے چه دُ دُنیا دا ټول نظام قائم دے۔

⑨ نبی اکرم ﷺ سره محبت کونکی باندے دغریبئ راتلل

یو صحابی د نبی اکرم ﷺ خدمت کښې حاضر شو او عرض یے وُکړهٔ چه اے دالله رسوله! زما تا سو سره محبت دے۔ نبی علیه الصلوٰة ورته وُفرمایل، اُوګوره! څهٔ وایے؟ هغهٔ بیا دا عرض وُکړهٔ چه زما تا سو سره محبت دے۔ نبی علیه الصلوٰة بیا دغه ارشاد وُفرمایهٔ۔ هرکله چه درے وارے دا سوال جواب وُشو نو نبی علیه الصلوٰة اُوفرمایل، که چرے نهٔ په خپله خبره کښې رښتینے یے، نو غریبئ قبلولو د پاره تیار شه۔ ځکه چه ما سره محبت ساتونکو باندے غریبی داسے په تیزئ سره راځی، لکه څنګه چه اُوبهٔ د پورته نه ښکته په تیزئ سره بهیږی۔

فائده: دغه وجه ده چه حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم به هر وخت په غریبئ اَولوږه کښې وُو۔ اکابر (یعنی لوئ) مُحدِّثین، اکابر صوفیان، اکابر فقهاء هم مالداری کښې زیات نهٔ دی پاتے شوی۔

⑩ سَرِیَّهُ الْعَنْبَر کښې دغریبئ حالت

نبی اکرم ﷺ په میاشت د رَجَب (بزرګے) سـ۸ـهـ هجری کښې د سمندر په غاړه یو لښکر د دریو سوو کسانو چه په دوی باندے یے حضرت اَبُوعُبَیْدَه رضی الله عنه امیر جوړ کړے وُو اُولیږهٔ۔ نبی اکرم ﷺ په یوه تهیلئ کښې د کهجورو توښه دوی ته ورکړه، پنځلس ورځے د دے حضرا تو هلته اِیسار ډیل وُو، او توښه ختمه شوه۔ حضرت قَیس رضی الله عنه چه په دے قافله کښې وُو مدینه منوره کښې د قیمت ادا کُولو په وعده د قافلے والو نه اُوښان په بیعه اَخستل حلالول یے شروع کړل او درے اُوښان به یے هره ورځ حلالول۔ خو دریمه ورځ د قافلے امیر په

Maktaba Tul Ishaat.com

دے خیال سره چه سورلئ به ختمے شی، نو واپسی به گرانه شی، حلالول یے منع کړل، او ټولو خلقو خپله خپله کوے کهجورے چه موجودے وے جمع یے کړے، په یو تهیلئ کښ یے واچولے، او یوه یوه کهجوره به یے روزانه تقسیموله هغه به دوی چوپله، او اوبه به یے ورپسے اوڅکلے. تر شپے پورے به هم دغه خوراك وو. په ویلوکښ خوږره خبره ده خو جنګ په موقع هرکله چه دقوت او طاقت هم ضرورت وی، په یوه کهجوره ټوله ورځ گذاره کول دپیر اوچت همت خبره ده. کله چه حضرت جابر رضی الله عنه دا قصه خلقوته د نبی علیه الصلوٰة نه پس واورؤله، نو یو شاګرد عرض وُکړه چه حضرت یوے کهجورے به څه کار ورکوو. هغوی وُفرمایل د هغے قدر رټله معلوم شو چه هغه یوه هم پاتے نه شوه، بیا سوا د ګورے نه هیڅ نه وُو. دوُنو اوچ پاڼرے به مورا سَنړلے، په اوبوکښ به مولوندے کړے خوړلے. مجبوری هر څه کوی، او د هر تکلیف نه پس دالله جل شانهٔ له خوا اسانی کیږی. الله جل شانهٔ د دے تکلیفونو او مُشقتونو نه پس د سمندر نه یو کب دے خلقوته راوُویستلو، چه هغه ته "عَنبَر" وائی، دومره غټ وُو چه اتلس ورځو پورے دے حضراتو د هغے نه خوراك کوُو، او مدینے منورے ته رسید وپورے د هغے غوښه په توښه دانونو کښ ورسره وه. د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په مخکښ کله چه د سفر تفصیلی قصه واورؤلے شوه، نو هغوی مبارك ارشاد وُفرمایهٔ چه دا د الله تعالیٰ یو رزق وُو چه تاسو طرف ته یے راوُلیږهٔ.

فائده : مشقتونه او تکلیفونه په دے دُنیا کښ ضروری دی او په الله والو خصوصًا راځی. په دے وجه د نبی علیه الصلوٰة ارشاد دے چه انبیاء علیهم السلام د ټولو نه زیات په تکلیفونو کښ ساتلے شی، بیا چه په ټولو کښ زیات بهتر وی، بیا ورپسے چه پاتے شوُوکښ بهتر وی. د سړی ازمینښت د هغهٔ د دینی مرتبے مُناسب کیږی. او د هر تکلیف نه پس الله تعالیٰ په خپله مهربانئ او فضل سره اسانی راولی. دا هم سوچ کوئ چه زمونږ په مشرانو څهٔ څهٔ تیر شوی دی. او دا ټول د دین په خاطر وُو. د دے دین په خوړؤلو کښ چه هغه

نن مونږ په خپلو لاسونو ضائع کوو، د دے حضراتو لوړ بے تندے تیرے کړے، پانړے یے وخوړلے، څپلے وینے یے وبهیولے، او دین یے خور کړه چه هغه نن مونږ باقی هم نه شو ساتلے۔

خلورم باب

دا صحابو کرامو رضی الله عنهم د تقوی په بیان کښ

دحضراتو اصحابو کرامو رضی الله عنهم هر عادت، هر خوی د دے قابل دے چه هغه اختیار کړے شی، او د هغے تابعداری او کړے شی او ولے به نه وی چه الله جل شانهٔ د خپل نیازبین او محبوب رسول صلی الله علیه وسلم د ملګرتیا د پاره دا جماعت خوښ کړه او چانړ یے کړه۔ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه زه د دنیا د م په بهترین قرن او زمانه کښ راولیږلے شوم۔ (شفاء) په دے وجه هر اعتبار سره دا زمانه د خیر وه او د زمانے بهترین خلق د نبی علیه الصلوٰة والسلام په صحبت کښ وساتلے شو۔

① د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د یوے جنازے نه واپسی او د یوے زنانه بلنه

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د یوے جنازے نه واپس راتلو چه یوے زنانه ډوډئ ته د بللے درخواست وکړه۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام د خادمانو سره تشریف یوړه۔ ډوډئ ورته مخکښ کیخودے شوه، نو خلقو ولیدل چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په نمړئ شخوند وهی خو تیریږی نه۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام وفرمایل، دا سے معلومیږی چه د دے چیلئ غوښه د مالک د اجازت نه بغیر اخستلے شوے ده۔ هغے زنانه عرض وکړه۔ اے د الله رسوله! ما د کنړ لک نه د چیلئ په بیعه اخستلو پاره سړے لیږلے وو، هلته ملاؤ نه شوه۔ ګاونډی م چیلئ اخستے وه، ما هغهٔ ته قیمت ورا ولیږه، هغه خونهٔ وو خود هغهٔ ښځے چیلئ راولیږله۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام وفرمایل چه په قیدیانو یے وخوروئ۔ (ابوداؤد)

فائده: د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د لوئ شان په مقابله کښ یو مشتبه د شک

Maktaba Tul Ishaat.com

شيز په مرئ کښې انختل شۀ آهٔکه خبره نۀ ده چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام اد نی غلامانو ته هم د دے قسمه واقعات پيښيږی.

② د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د صدقے د کهجورو د ویرنه تو له شپه شو کیږه

يو وارے نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ټوله شپه ويښ وو، او آړخونه يے بدلول، بيبيانو کښې ورته چا عرض وُکړو چه اے د الله رسوله! تن خوب نۀ درځی، ارشاد يے وُفرمايه چه يو ه کهجوره پرته وه ما را اُوچته کړه اُوم خوړه چه ضائع نۀ شی اوس را سره فکر دے چه چرته هغه د صدقے نۀ وه.

فائده: زياته صحيح خو دا ده چه هغه کهجوره به د نبی علیه الصلوٰة والسلام خپله وه خو چونکه د صدقے مال به هُم نبی علیه الصلوٰة والسلام ته راتلو. د دے شک په وجه ټوله شپه ورته خوب رانغے چه الله مکړه کۀ هغه د صدقے وه، نو په د دے حالت کښې به د صدقے مال خوړلے شوے وی. دا خو دا قا حال دے چه صرف د شک په وجه ټوله شپه يے اړخونه بدلول، او خوب نۀ ورتلۀ. اُس غلامانو حال وُګورئ، چه د رشوت، سُود، غلا، ډاکه هر قسمه ناجائز مال خومره په زړۀ ورتيا سره خوری. او په فخر سره خپل ځان د محمد صلی الله علیه وسلم په غلامانو کښې شماری.

③ د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د يو کاهن (فالګر) د خوراک نه قے کول

د حضرت اَبُوبکر صدِّيق رضی الله عنه يو غلام وو چه د غلّهٔ په طور د خپلے ګټے نه به يے حضرت اَبُوبکر صدِّيق رضی الله عنه ته ورکوله. يو ځل هغه څۀ خوراک راوړۀ، او ابوبکر رض د هغے نه يوه نمړئ وُخوړله. غلام عرض وُکړو چه تاسو به روزانه ما نه پوښتنه کوله چه په کومه ذريعه دِ ګټلے ده. نن مو تپوس وُ نکړو. هغوی وُفرمايل چه د سختے لوږے په وجه مِ تپوس وُنکړو. اُوس وُوايه. عرض يے وُکړو چه د جاهليت په زمانه کښې په يو قوم تيريدم، په هغوی مِ منترونه وُو. هغوی ما سره وَعده کړے وه، نن زۀ هغه خوا تيريدم، هغوی کره واده

له غلام باندِ څۀ مقدار مقرر کړے شی چه د ومره هره ورځ يا هره مياشت ما ته راکوه باقی چه څه اړګٹے هغه ستا. د دے ته غلّه وائی دا جائز ده. د غے دا صحابو کرامو رضی الله عنهم په زمانه کښې به هم په غلامانو مقرر رتيا کولے شوه ۱۲ هذا الما مش من الشيخ رح

وُنوماته یے داخوراك راکړه. حضرت ابوبکر صدّیق رضی الله عنه وُفرمایل، چه تا زهٔ هلاك کړم. دے نه پس یے په حلق کښې لاس ورکړه، او دقے کولو کوشش یے وُکړه، خو یوه نوړۍ چه هغه هم د سختے لوږے په حالت کښې خوړے شوے وه راوُنهٔ وَتله. چا عرض وُکړه چه اُوبو سره په قی راوتلے شی، یوه لویه پیاله داُوبو یے راوُغوختله، آو اُوبه ئیے څکلے آو قے په یے کولو، تردے چه هغه نوړۍ یے راوُویستله، چا عرض اوکړه چه الله تعالیٰ دِ په تاسو رحم اُوکړی، داتول تکلیف دِ ددے یوے نوړۍ په وجه برداشت کړه. وے فرمایل که چرے زما د ساه سره دا نوړۍ راوتلے، نو هم په ما دارا ایستله. ما د نبی علیه السلام نه اوریدلی دی چه کوم بدن په حرام مال اُوپالے شی، اُور د هغه دِ پاره بهتر دے. ماته داویره وُشوه چه زما د بدن څهٔ حصه په دے نوړۍ سره پالنه بیاتهٔ مومی. (منتخب کنز العمال)

فائده: حضرت ابوبکر صدّیق رضی الله عنه ته داقسمه واقعے خو والے پیښے شوے وے چه په طبیعت کښې یے احتیاط زیات وُو چه لږ غوندے شک په یے پیښ اشونوقے په یے کولو. بُخاری شریف کښې یوه بله قصه ددے قسمه ده چه یو غلام د جاهلیت په زمانه کښې څهٔ کهانت یعنی دغیبو خبره د نجومیانو په طور چاته خودلے وه. هغه اِتفاقًا صحیح شوه، هغے خلقو دے غلام ته څهٔ ورکړل چه هغهٔ په خپل مقرر رقم کښې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته ورکړل، هغوی وُخوړل، اُو بیا یے چه څهٔ پته لګیده کښې وُو نول یے قے کړل. په دے واقعاتو کښې دغلامانو مال ضروری نهٔ دے چه ناروا دِ وی. دوا ړه کمانه پکښې شته. خو حضرت ابوبکر صدّیق رضی الله عنه د ډیر احتیاط په وجه د شك مال هم خوښ نکړو.

④ د حضرت عُمر رضی الله عنه د صدقے د پیو نه قے

حضرت عُمر رضی الله عنه یو وارے پئ وُڅکل چه د هغے خوند ورته څهٔ عجیبه غوندے معلوم شو، کوم صاحب چه راوړی وُو د هغهٔ نه یے پوښتنه اوکړه داپئ څنګه دی؟ چرته نه راغلی دی؟ هغهٔ عرض وُکړه چه فلانی څنګل

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې د صدقې اُوښان خرېدل، زهٔ هلته لاړم، نو هغې خلقو پئ وُلوشل د هغې ته يې ما ته هم راکړل. حضرت عمر رضی الله عنه په خُله کښې لاس وَروَا چوو او تهول يې قې کړل. (مؤطا امام مالک رح)

فائده: دې حضراتو سره به هميشه فکر وُو چه د شک شُبهې مال موهم دېدن حصه جوړه نهٔ شي. دا يې لاځهٔ کوې چه بيخي حرام مال ‌ی لکه څنګه چه زمونږ په دې زمانه کښې عام شوې دې.

۵ د حضرت ابوبکر صدّيق رضی الله عنه احتياطًا باغ وقف کوُل،

ابنِ سيرين رحمة الله عليه فرمائي چه کله د حضرت ابوبکر صدّيق رضی الله عنه د وفات وخت نزدې راغې، نو هغوی حضرت عائشه رضی الله عنها ته وُفرمايل چه زما زړهٔ نهٔ غوختل چه د بيت المال نه څهٔ واخلم خو عُمر رضی الله عنه اُونهٔ منل چه تکليف به وی. او ستاسو په تجارت کښې مشغوليدو سره به د مسلمانانو نقصان وُشي، په دې مجبورئ م واخستله، نو اوس دِ زما فلانې باغ د دې په بدله کښې ورکړې شي. هر کله چه حضرت ابوبکر رضی الله عنه وفات شو، نو حضرت عائشه رضی الله عنها حضرت عُمر رضی الله عنه ته سړې وُليږهٔ، او د پلار د وصيّت موافق يې هغه باغ ورکړهٔ. حضرت عُمر رضی الله عنه اُوفرمايل، چه الله جلّ شانهٔ دِ ستا په پلار رحم وُکړي. هغوی داوُغوختل چه چا ته د خُلې پرانستو موقع وَرنکړي. (کتاب الاموال)

فائده: د فکر کولو خبره ده چه اول خو هغه مقدار لاځهٔ وُو، کوم چه ابوبکر صدّيق رضی الله عنه اخستلو، دې نه پس اخستل يې هم د مشورې والو په اِصرار سره وُو، او د مسلمانانو د فائدې په وجه سره وُو، په هغې کښې هم چه څومره مُمکن نه مُمکن احتياط کيدلې شو، د هغې اندازه د دريم باب څلورم قصې نه معلومه شوه چه بی بی يې تنکسيا سره څهٔ رقم خوږ خيز د پاره جمع کړو، نو هغه يې هم بيت المال کښې داخل کړو، او هغومره مقدار يې مستقل کم کړهٔ. دې ټولو نه پس دا يې آخري کار وُکړهٔ، چه څهٔ يې اخستلي وُو، د هغې يې هم بدله داخله کړه.

⑥ د حضرت علی بن مَعْبَد رحمه الله د کرایې د مکان په خاورې سره خط وچول

حضرت علی بن مَعْبَد رحمه الله یو مُحَدِّث دے فرمائی چه زۀ یو د کرایې په مکان کښې اوسیدم۔ یو وارے ماخط اُولیکل، او دغه د وچولو دپاره د خاورے ضرورت شو، کچه دیوال وو، ماته خیال راغے چه دا خو کرایه دے نو له هغې نه لږه غوندې راوګرځوم، او په خط واچوم۔ بیا خیال راغے چه مکان د کرایې دے (چه د اوسیدو د پاره په کرایه اخستے شوے دے نۀ د خاورے اخستو د پاره) خو ورسره م دا خیال راغے چه دے دومره لږه خاوره کښې څۀ باک دے معمولی څیز دے، ما خاوره واخستله۔ د شپې م په خوب کښې اُولیدل چه یو صاحب ولاړ دے او دا فرمائی چه صبا قیامت کښې به درته پته اُولګی چه "معمولی خاوره ده څۀ څیز دے"۔

فائده: "صبا به معلومه شی" په ظاهر کښې مطلب یې دا دے چه د تقوی درجې ډیرے زیاتے دی، کامله درجه یې یقیناً دا وه چه د دے نه هم ځان وُساتلے شی۔ اګرچه په عامو حالاتو کښې معمولی څیز شمارۀ وو، او د جائز کیدو په حد کښې وو۔ (احیاء)

⑦ د حضرت علی کرم الله وجهه په یو قبر تیریدل

کُمیل رضی الله عنه فرمائی چه زۀ یو وارے حضرت علی کرم الله وجهه سره روان وُم هغه یو ځنګل ته وُرسیدۀ، بیا یو مَقبرے طرف ته یې مخ کړو، وے فرمایل، اے مَقبرے والو! اے وُراسته شوی خلقو! اے د ویرے او یولځے والی خلقو! څۀ خبر دے؟ څۀ حال دے؟ بیا یې ارشاد وُفرمایۀ زمونږ خبر خو دا دے چه ستاسو نه پس ستا سو مالونه تقسیم شول، اولاد مو یتیمان شول، ښځو مو نور خاوندان اُوکړل۔ دا خو زمونږ خبر دے څۀ خپل هم اُوایئ۔ د دے نه پس ما طرف ته یې اُوکتل، وے فرمایل۔ کُمَیلَه! که چرے د دے خلقو ته د ویلو اجازت وے او دوی ویلے شوے نو دوی به په جواب کښې ویل چه بهترینه توښه تقوی ده۔ دا یې وُویل په ژړا شو او وے فرمایل، اے کُمَیلَه! قبر د عمل صندوق دے، او د مرګ

Maktaba Tul Ishaat.com

په وخت به خبره معلومه شي. (منتخب کنز)

فائده: یعني بنیادم چه کوم ښه یا بد کار کوي هغه په دغه قبر کښې محفوظ ساتلې شي لکه چه په صندوق کښې (یو څیز محفوظ وي.)

په ګڼرو حدیثونو کښې دا مضمون راغلې دے چه نیک عملونه به د ښه سړي په شکل کښې وي چه د مړي زړه خوشالولو او محبت پیدا کولو دپاره به ورسره وي، او د هغه ډاډګیرنه به کوي. او بد عملونه به په بد شکل کښې بد بُوداره راځي چه نور به د مړي د تکلیف سبب ګرزي. په یو حدیث کښې راغلي دي چه سړي سره درے څیزونه قبره پورے ځي. د هغه مال لکه څنګه چه په عربو کښې دستور وو، د هغه خپلوان او عملونه. دوه څیزونه مال او خپلوان به تر دفن کولو نه پس واپس راځي. عمل به ورسره پاتے شي. نبي اکرم ﷺ یو وارے صحابه کرامو رضي الله عنهم ته ارشاد وُفرمایه چه تاسو ته معلومه ده چه ستا سو مثال او ستا سو د بال بچ او د عملونو مثال څه دے؟ دا صحابو رضي الله عنهم په پوښتنه نبي علیه السلام ارشاد وُفرمایه د دے مثال داسے دے لکه چه د یو سړي درے رونړه وي او هغه مړکیږي. دغه وخت یو رور را اُوبللی او تپوس ترے اُوکړي چه روره! تا ته زما حال معلوم دے چه په ما څه تیریږي، دا وخت به ته زما څه مدد وُکړے؟ هغه جواب ورکوي چه ستا دارُو درمل، علاج او هر قسمه خدمت به وُکړم، کله چه ته مړ شے غسل به درکړم، کفن به درته واغوندوم او په اوږه به دِ اُوچت کړم، یو به دِ رسم. او دفن کولو نه پس به ستا ذکرِ خیر کوم. نبي علیه السلام وُفرمایل، دا رور بال بچ دے. بیا هغه دویم رور نه هم دغسے سوال کوي، هغه ورته وائي چه زما او ستا تعلق تر ژوندانه پورے دے. کله چه ته مړ شے، نو زه به بل ځائ ته لاړ شم. دا رور مال دے. بیا هغه دریم رور را اُوبللی، تپوس ترے اُوکړي، هغه ورته وائي چه زه به په قبر کښې ستا ملګرے یم. دویرے په ځائ کښې به ستا زړه خوشالوم. کله چه ستا حساب کتاب کیږي، نو د نیکئ په چابړي کښې به کینم، هغه به درنوم. دا رور عمل دے. نبي علیه السلام وُفرمایل، اُوس وُښایئ کوم رور

فائده منده شو. صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړه، اے د الله رسوله! بس دا رور فائده منده دے، په مېنې دواړه خوبے فائدے شو. (ایضًا)

⑧ د نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد چه چا خوراك څکاك حرام وي د هغه دُعا نه قبلیږي

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه الله تعالیٰ په خپله پاك دے، او پاك مال قبلوي، مسلمانانو ته یې د هغه څیز حکم ورکړه د کوم یې چه خپلو رسولانو ته حکم ورکړے دے، څنګه چه قرآن شریف کښې ارشاد دے، یَا أَیُّهَا الرُّسُلُ کُلُوا مِنَ الطَّیِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِیْمٌ ۝ (سورة مؤمنون) "اے رسولانو! پاك څیزونه خورئ او نیك عمل کوئ - زه ستاسو د عملونو نه خبردار یم" دویم ځائ ارشاد دے یَا أَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوا کُلُوا مِنْ طَیِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاکُمْ (سورة بقره) اے ایمان والو! زمونږ ورکړے شوے پاك رزق خورئ - دے نه پس نبی علیه الصلوٰة والسلام د یو کس ذکر وکړه چه اوږده اوږده سفرونه کوي (او د مسافر دُعا قبلیږي) او د سره خوره واره وېښتو والا، د دوړو چا مووالا (یعنی پریشان حاله) دواړه لاسونه یې آسمان ته اوچت کړي، لګیا دے، اے الله! اے الله! خوخوراك یې د حرامو دے څکاك یې حرام دي، جامه یې حرامه ده همیشه یې حرام خوړلی دي، نو د ده دُعا چرته قبلیږي - (جمع الفوائد)

فائده: خلقو سره همیشه فکروي چه د مسلمانانو دُعا نه قبلیږي خو د حالاتو اندازه د دے حدیث شریف نه کیدے شي، اګرچه الله جل شانه په خپل فضل سره کله د کافر دُعا هم قبلوي - نو فاسق لاڅه دے - خو د مُتقي دُعا اصل څیز دے، ځکه د مُتقیانو نه د دُعا امید کولے شي - کوم خلق چه غواړي چه زمونږ دُعا گانے د قبولے شي، هغوی د پاره ډېره ضروري ده چه د حرام مال نه ځان ساتي - او دا سے څوك دے چه دا غواړي چه زما دُعا د قبوله نه شي -

⑨ د حضرت عُمر رضی الله عنه خپلے بی بی نه د مشك تللو نه إنکار

Maktaba Tul Ishaat.com

دحضرت عُمر رضی الله عنه په خدمت کښې یو ځلې د بحرین نه مشك راغلهٔ، ارشاد یې وُفرمایهٔ چه څوك به دا اُوتلی چه په مسلمانانو کښې یې تقسیم کړی- ددوی بی بی حضرت عاتکه رضی الله عنها عرض وُکړهٔ چه زهٔ به یې اُوتلم. دوی واؤ ریدل چُپ شو- لږ ساعت پس یې بیا دا ارشاد وُفرمایهٔ چه چا دا تللې وے چه زهٔ یې تقسیم کړم- بی بی یې بیا عرض وُکړهٔ- دوی چُپ شو دریم وارے یې ارشاد وُفرمایهٔ، زهٔ دا نه خوښوم چه تهٔ دا خپل لاس دتلې په چابړی کښې کیدے، اوبیا هغه لاسونه په خپل بدن راکاږے اودومره مقدار زیاتے ماته حاصل شی-

فائده: دا کامل احتیاط وُو، اوخپل ځان دتُهمت دځائ نه بچ کول وُو، کنی څوك یې چه تلی، دهغهٔ لاسونو پورے به خو خامخا لګی، نو ددے په جائز کیدو کښې هیڅ شك نهٔ وُو- خو بیا هم حضرت عُمر رضی الله عنه دخپلې بی بی دپاره دا خوښه نکړه-

حضرت عُمربن عَبدُ العَزیز رحمة الله علیه چه ورته عُمرِ ثانی هم وائی دهغهٔ په زمانه کښې یو ځلې مُشك تللې شو، نوهغوی خپله پُوزه بنده کړه، اوارشاد یې وُفرمایهٔ چه دمُشکو فائده خو خوشبوئی بُویَول دی- (احیاء)

فائده: دادے احتیاط دصحابو رضی الله عنهم اودتابعینو رحمهم الله او زمونږ دمشرانو او رهبرانو-

(۱۰) دحضرت عُمربن عبدالعزیز رحمة الله علیه دحَجّاج حاکم لرحاکم نهٔ جوړول

حضرت عُمربن عبدالعزیز رحمة الله علیه یوکس دځائ حاکم جوړ کړهٔ، چا ورته عرض وُکړهٔ چه دا صاحب دحجّاج بن یوسف په زمانه کښې دهغهٔ د طرفه هم حاکم پاتے شوے وُو- عُمربن عبدالعزیز رحمة الله علیه هغه لرے کړهٔ- هغهٔ عرض وُکړهٔ چه ماخو حجّاج بن یوسف سره لږه زمانه کار کړے وُو- عُمربن عبدالعزیز رحمة الله علیه وُفرمایل چه بدئ دپاره دغه هم بس دے چه تهٔ هغهٔ سره یوه ورځ یا ددے نه هم کم پاتے شوے یې- (احیاء)

فائده: مطلب دادے چه وربسره دپاتې کیدو اثر ضرور کیږی-

خولک چه مُتقیانو سره اُوسی په هغهٔ باندے زبردست غیرمحسوس طریقے سره د تقوٰی اثر کیږی - او خولک چه بدعملو سره اُوسی په هغهٔ باندے د بد عمل اثر کیږی - په دے وجه د بد مجلس نه منع کړے شی - بنیادم خو پریږده چه د څناورو سره د اُوسیدو اثرات هم پریوزی - د نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد دے چه فخر او لوئی د اُوښانو او د اسونو څاوندانو کښې وی او عاجزی د چیلو څاوندانو کښې وی - (بخاری)

د نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد دے چه نیک سړی سره د ناستو کسانو مثال د هغه کس په شان دے چه خولک مشکو والو سره ناست وی - که چرے مشک ورته مِلاؤ نهٔ شی، بیا هم د هغه په خوشبوئی سره به یے دماغ خوشاله شی - او د بد ملګری مثال داورد بهټئ والا په شان دے - که داور بسری پرے پریوته نهٔ زی، نو لوګے خو یے چرته تلے تهٔ دے - (جمع الفوائد)

پنځم باب

دمونځ شوق او محبّت او په دے کښې خشوع او خضوع

مونځ په ټولو عبادتونو کښې د ټولو نه زیات ضروری څیز دے - قیامت کښې په دایمان نه پس د ټولو نه رومبے هم د مونځ سوال کیږی - د نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد دے چه د کفر او د اسلام ترمینځه هم مونځ فرق کوونکے دے - د دے نه علاوه نور هم ډیر ارشادات په دے باره کښې راغلی دی چه زما یو بیل رساله (فضائل نماز) کښې بیان شوی دی -

(۱) د الله تعالٰی ارشاد د نفل کونکی په حق کښې

الله تعالٰی ارشاد فرمائی خولک چه زما ولی یعنی دوست سره دُشمنی کوی زما له طرفه هغهٔ ته اعلانِ جنګ دے، او هیڅوک زما نزدیکت د هغه څیز په نسبت زیات نهٔ شی حاصلولے کوم چه ما په هغهٔ فرض کړے دے یعنی د ټولو نه زیات قُرب او نزدیکت ما ته په فرائضو ادا

Maktaba Tul Ishaat.com

کوُلو سره حاصلیږي، او د نفلو په وجه بنده ما ته ځان رانزدے کوي، تر دے چه زهٔ هغهٔ خپل محبوب جوړکړم، نو بیا زهٔ د هغهٔ غوږ شم چه په هغې سره هغهٔ اوري، او د هغهٔ سترګه جوړ شم چه په هغې سره هغه وینی او د هغهٔ لاس جوړ شم چه په هغې سره هغه څهٔ څیز نیسي، او د هغهٔ پښه جوړه شم چه په هغې سره هغه ګرزي، که چرے هغه ما نه څهٔ غواړي، نو زهٔ هغهٔ ته ورکوُم، او که د څهٔ څیز نه پناه غواړي نو پناه ورکوُم (جمع الفوائد)

فائده: سترګه غوږ جوړیدو مطلب دادے چه د هغهٔ لیدل، اوریدل ګرزیدل ټول زما د مرضئ تابع شي، او هیڅ خبره هم زما د مرضئ خلاف نهٔ کوي۔ څومره خوش نصیبه دی هغه خلق چه ټاته چه د فرضونه پس دېر و نفلو کوُلو توفیق ملاویږي۔ او دا دولت ورته نصیب شي۔ الله جلّ شانهٔ دِ په خپل فضل سره ما ته او زما دوستانو ته هم نصیب کړي۔

⑥ دنبی اکرم ﷺ ټوله شپه مونځ کوُل

یوکس د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا نه تپوس وُکړو چه د نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام څهٔ عجیبه خبره که تاسو لیدلے وی هغه واوُروه۔ حضرت عائشې رضی اللہ عنہا وُفرمایل چه د نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام کومه خبره عجیبه نهٔ وه، هره یوه خبره یے عجیبه وه۔ یوه ورځ د شپے یے تشریف راوړهٔ، او ما سره پریوَت۔ بیا یے وُفرمایل پرے مِ ده چه زهٔ د خپل رب عبادت وُکړم، دا یے وُفرمایل په مانځه اُودریدهٔ، او ژړا یے شروع کړه، تر دے چه اوښکے یے په سینه مبارکه اُوبهیدے۔ بیا یے رکوع اُوکړه، او په هغې کښ یے هم دغه شان ژړل۔ بیا یے سجده اُوکړه په هغې کښ یے هم دغه شان ژړل، بیا د سجدے نه پاسیدو، په هغې کښ یے هم دغه شان ژړل، تر دے چه حضرت بلال رضی اللہ عنہ راغے او د سحر د مانځه د پاره یے آواز ورکړهٔ۔ ما عرض وُکړهٔ اے د الله رسوله! تاسو دومره اُوژړل حال دادے چه تاسو ګُناه نه پاک یئ۔ مخکنی روستنی ټول ګُناهونه (کهٔ چرے بالفرض وی هم نو) د مغفرت وعده الله تعالیٰ کړے ده۔ نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام ارشاد وُفرمایهٔ بیا زهٔ شکر ګذار بنده جوړ نهٔ شم؟ دے نه پس یے اِرشاد

وُفرمایهٔ چه ما به داسے ولے نهٔ کُول حالانکه زن په ما یاندے دا آیتونه نازل شوی دی۔ اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ د سورة اٰلِ عمران آخری رکوع (اٰل عمران ع ۲۰) دا په کُنړو روایتونو کښ راغلی دی چه نبی اکرم ﷺ به د شپے دومره اُوږد مونځ کُولو چه په ولاړه ولاړه به یے په پښو پړسوب راغلو۔ خلقو عرض وُکړهٔ، اے د الله رسوله! تاسو دومره مُشقت اُچتوئ حال دا دے چه تاسو بخښلے شوی یئ۔ نو ارشاد یے وُفرمایهٔ چه آیا زهٔ شکرگذار بنده جوړ نهٔ شم۔ (بخاری)

(۳) د نبی اکرم ﷺ په څلورو رکعتونو کښ شپږ سیپارے لوستل

حضرت عوف رضی الله عنه فرمائی چه زهٔ یو ځلے د نبی اکرم ﷺ سره په سفر کښ وُم۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام مسواك وُکړهٔ، اَو دس یے وُفرمایهٔ او د مونځ نیت یے اُوترړهٔ۔ زهٔ ورسره هم په مانځه کښ شریک شوم۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام سورة بقره په یو رکعت کښ وُلوستله، او چه کرم د رحمت آیت به راغے۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام به هغه ځائ څهٔ ساعته پورے د رحمت دُعا غوښتله، او چه د عذاب آیت به راغے، هغه ځائ به یے څهٔ ساعته پورے د عذاب نه پناه غوښتله۔ د سورة په ختمید و یے رکوع وُکړه، او دومره اُوږده رکوع یے اُوکړه څومره ساعت کښ چه سورة بقره ویلے شی۔ او رکوع کښ یے سُبْحَانَ ذِی الْجَبَرُوْتِ وَالْمَلَكُوْتِ وَالْعَظْمَةِ ویله، بیا یے هغه هومره اُوږده سجده وُکړه۔ بیا یے په دویم رکعت کښ د غه شان سورة آل عمران اُووے، او د غه شان په یو یو رکعت کښ به یے یو یو سورة لوستهٔ۔ د غه شان څلورو رکعتو کښ یا وُ باتِنِ شپږ سیپارے کیږی، دا به څومره اُوږد مونځ شوے وی چه په هغے کښ هر یو آیت د رحمت او آیت د عذاب باندِ به یے ډیر ساعته پورے دُعا غوښتله او بیا هغومره اوږده رکوع او سجده وه۔

حضرت حُذَیفه رضی الله عنه هم خپله یو قصه د نبی علیه الصلوٰة والسلام سره د مونځ کُولو نقل کوی۔ فرمائی چه په څلورو رکعتو کښ څلور سورتونه د سورة بقرے نه چه وا خلے تر سورة مائدے د ختمید و پورے یے وُلوستل۔

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده: ددې څلورو سورتونو پاؤ باندې شپږ سيپارې کيږی کومې چه نبی علیه الصلوٰة والسلام په څلورو رکعتونکښ اُولوستلې - او دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم عادتِ مبارکه په تجويد او ترتيل (په قلار قلار) سره دلوستلوؤ، لکه څنګه چه په ډيرو حديثونوکښ دی، دې سره په هر آيت درحمت او هر يو آيت دعذاب باندې اُودريدل او دُعا غوختل او بيا هم دومره رکوع او سجده - دې نه اندازه کيږی چه دغه څلورو رکعتونکښ په څومره قدرې وخت تيرشوې وی - کله په نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په يو رکعت کښ سورة بقره، آل عمران، مائده درې سورتونه لوستل چه تقريبًا پنځه سيپارې کيږی - داهله کيدې شی کله چه په مانځه کښ آرام او دسترګو يخوالے نصيب شی - دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم پاک ارشاد دې چه زما د سترګو يخوالے په مانځه کښ دے - اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِی اتِّبَاعَهٗ -

(۴) دحضرت ابوبکرصديق او حضرت ابن زُبير او حضرت علی وغيره رضی الله عنهم د مونځونو حالات

مجاهد رحمة الله عليه دحضرت ابوبکرصديق او حضرت عبدالله بن زُبَير رضی الله عنهما حال نقل کوی چه کله به دوی مانځه کښ اُودريدل نو داسې به معلوميدل، چه يو لرګے خخ کړے شوے دے (تاريخ الخلفاء) يعنی هيڅ حرکت به بې نه وُو -

عالمانو ليکلی دی چه حضرت ابن زُبير رضی الله عنه دحضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه نه مونځ زده کړو او هغوی دنبی علیه الصلوٰة والسلام نه، يعنی څنګه رنګے چه به نبی علیه الصلوٰة والسلام مونځ کولو، هغسې به ابوبکرصديق رضی الله عنه کولو او هغسې به عبدالله بن زُبير رضی الله عنه - ثابت رحمة الله عليه وائی چه دعبدالله بن زُبير رضی الله عنه مونځ به داسې وُو چه ګويا لرګے ديو ځائې خخ کړۀ - يوکس وائی چه ابن زُبير رضی الله عنه به کله سجده کوله نو دومره اُوږده او بې حرکته به وه چه مرغئ به راغلې په ملا به يې کيناستې - کله به يې دومره اُوږده رکوع اوکړه چه ټوله شپه ترسحره پورې به هُم رکوع کښ وُو - کله به يې سجده دومره اُوږده وه چه ټوله شپه به تيره شوه - کله چه حضرت ابن زُبير رضی الله عنه سره جنګ کيده، نو يوه ګوله دجُمات په ديوال ولګيده چه په هغې دديوال يوه ټکړه والوتله، او دحضرت ابن زُبير رضی الله عنه دمرئ او ږيرې تر مينځې تيره شوه، خو نۀ په دې پريشانه شو، نۀ يې رکوع سجده مختصره

کړه، یو وارے یے مونځ کولو څوئ یے چه د هغهٔ نوم هاشم وو خوا کښې اُودهٔ وو، د چهت نه یو مار را پریوت او د بچی نه تاؤ شو، هغهٔ چغے کړے. د کور ټول په منډه راغلل، شور شو، هغه مار یے اُووژه. اِبنِ زُبیر رضی الله عنه هم ۱ خپسے په تسلئ سره مونځ کولو، چه سلام یے وګرزوو، نو وے فرمایل چه څهٔ د شور غوندے آواز راتله څهٔ وو؟ بی بی ورته اُووے چه الله تعالیٰ دِ په تا رحم اُوکړی، بچے خو یه مړ شوے وو، تا ته اِ دو پته اُونهٔ لګیده، وے فرمایل وړکه شے، که مانځه کښې م بل خوا توجّه او خیال کړلے نو مونځ به چرته پاتے شوے وو. (بدایة غیره)

حضرت عُمر رضی الله عنه په اخیر وخت کښې کله چه په خنجر اُووهلے شو، چه د هغے په وجه د هغوی وفات اُوشو، نو هر وخت به ترے وینه بهیدله او زیات به بے هوشه وو، خو په دے حالت کښې به هم کله چه د مانځه د پاره بیدار کړلے شو، په دے حالت کښې به یے مونځ ادا کولو، او ارشاد به یے فرمایهٔ، چه په اسلام کښې د هغه کس هیڅ حصه نشته څوک چه مونځ پریږدی.

حضرت عُثمان رضی الله عنه به ټوله شپه ویښ وو، او په یو رکعت کښې به یے پوره قرآن شریف ختم کولو. (منتخب کنز)

د حضرت علی رضی الله عنه عادت مبارک دا وو چه کله به د مانځه وخت راغے نو په بدن به یے رپیدل راغلهٔ، او مخ به یے زیړ شو. چا ترے تپوس اُوکړو چه دا څهٔ خبره ده؟ وے فرمایل چه د هغے امانت وخت دے کوم چه الله جلّ شانهٔ په آسمانونو او زمکه او په غرونو نازل کړهٔ، نو هغوی د دے د اُوچتولو نه عاجزه شو، او ما هغه اُوچت کړهٔ. خَلَف بن ایوب رحمة الله علیه نه چا تپوس اُوکړهٔ چه تا په مانځه کښې مچان نهٔ تنګوی؟ وے فرمایل چه د ابد کاره خلق د حکومت کروړے خوری او حرکت نهٔ کوی. او په دے فخر کوی او خپل صبر او برداشت ښکاره کوی چه دومره کروړے یے اُووهلم، او رونهٔ خوزیدم. زهٔ د خپل رب مخکښې ولاړ یم، او د یو مچ د وجه دِ حرکت اوکړم. مُسلِم بن یَسار رحمة الله علیه به چه کله د مانځه د پاره ودریده، نو د خپل کور خلقو ته به یے وویل چه تاسو خبرے کوئ، ما ته ستاسو د خبرو پته نهٔ لګی، یو ځلے یے د بصرے په جامع مسجد کښې مونځ کولو، چه

Maktaba Tul Ishaat.com

دجُهات یوه حصه پریوته، خلقود دے په وجه منډ ےکړے، هلته جمع شو شور او غوغا شوه خو هغهٔ ته آپه پته ونهٔ لګیده. حاتم اصم رحمة الله علیه نه چا دهغهٔ د مانځهٔ دحالت تپوس وُکړهٔ. نووے ویل چه کله دمانځه وخت راشی، نو آودس نه پس هغه ځائ ته لاړ شم کوم ځائ چه مونځ کوم. لږ ساعت کینم چه دبدن په ټولو حصوکښ م سکون آرام پیدا شی. بیا د مانځه د پاره اُودریږم، په داسے شان چه بیت الله دخپل نظر وړاندے کنړم، او پُل صراط د پښو لاندے، جنت ښی طرف ته او دوزخ کس طرف ته. او دمرګ فرښتے دخپل ځان نه روستو خیال کوم، او د اګنړم چه دا م آخری مونځ دے، دے نه پس پوره خشوع خضوع سره مونځ کوم. او بیا د اُمید او د ویرے ترمینځه اُوسم چه نهٔ دهٔ معلومه قبول شو که نه. (احیاء)

⑤ دیو مهاجر او انصاری څوکیداری او انصاری ته په مانځه کښ غشی لګیدل

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم یو غزا نه تشریف راوړهٔ، د شپے یو ځائ قیام اُوکړهٔ، اِرشاد یے وُفرمایهٔ چه نن شپه به حفاظت او څوکیداری څوک اُوکړی. یو مُهاجر یو اَنصاری حضرت عمّار بن یاسِر او حضرت عبّاد بن بِشر رضی الله عنهما عرض وُکړهٔ چه مونږ دواړه به اُوکړو. نبی علیه الصلوٰة والسلام یو غرد کوم ته چه د دُشمن د راتلو لاره کیدلے شوه اُوخودهٔ، چه په دے باندے تاسو دواړه قیام اُوکړئ. دواړو حضراتو هلته تشریف یوړهٔ. انصاری مهاجر ته وُوَے چه شپه به په دوه وُحصو تقسیم کړو. یوه حصه کښ به ته اُوده شے زهٔ به ویښ یم، دویمه حصه کښ به ته ویښ یے، زهٔ به اُوده شم، ځکه کهٔ دواړه ټوله شپه ویښ یُو، نو کیدے شی چه څهٔ وخت دخوب غلبه راشی، او ددواړو سترګے ورشی. کهٔ چرے څهٔ خطره ویښ ته معلومه شی، نو خپل ملګرے دِ پاسئ. د شپے رومبئ نیمه حصه د انصاری دویښے مقرره شوه او مُهاجر اُوده شو، انصاری دمونځ نیت اُوتړهٔ. د دُشمن له خوا یو کس راغے او دلرے نه یے یونن ولاړ وُلیدهٔ

نو په غشي یې اُو ویشت، خو چه حرکت ؤ نهٔ شو نو دویم او بیا دریم غشي یې اُو ویشت. او هر یو غشي به د هغهٔ په بدن کښې لګیدهٔ، او په لاس به یې هغه د بدن نه راو یستهٔ او غورزوؤ به یې. دے نه پس یې په تسلیٔ سره رکوع اوکړه، سجده یې اوکړه مونځ یې پوره کړهٔ، خپل ملګرے یې راپاسوؤ، هغهٔ خو چه دیو په ځائ دوه ؤلیدل اُو تختیدهٔ، چه نهٔ ده معلومه څومره به وی. خو ملګرے یې چه کله پاسید و نو وے لیدهٔ چه د انصاری د بدن د دریو ځایونو نه وینه بهیدله. مُهاجرؤ فرمایل، سُبحَانَ الله! تا زهٔ په شروع کښې وَلے نهٔ پاسولم. انصاری ؤ فرمایل چه ما یو سورة (سُورة کهف) شروع کړے ؤ، زړهٔ مې اُونهٔ غوختل چه د دے د ختمولو نه وړمبے رکوع اوکړم. اُس هم ما سره د دے ویره شوه چه هسے نه، بار بار غشي لګیدو سره مړ شم، او نبی علیه الصلوٰة والسلام چه کوم د حفاظت خدمت سپارلے ؤ هغه رانه پاتے شي. که چرے ما ته دا ویره نهٔ وے نو زهٔ به مړ شوے وے خو سُورة د ختمیدو نه به مې وړاندے رکوع نهٔ وے کړے. (بیهقی، ابوداؤد)

فائده: دا ؤو د دے حضراتو مونځ او د هغے شوق چه د غشو د پاسه غشي خوری، آو وینے وینے شي خو چه د مانځهٔ په مزه کښې یې فرق رانهٔ شي. یو زمونږ مونځ دے چه ماشے موا اُو خوری، نو د مانځهٔ خیال لاړ شي او د مچئ د ټبرے خو تپوس مه کوه.

دلته یو فقهی مسئله اختلافی ده چه په وینه وتلو سره زمونږ د امام یعنی امام اعظم رحمة الله علیه په نزد اَودس ماتیږی او د امام شافعی رحمة الله علیه په نزد نهٔ ماتیږی. کیدے شي چه د دے صحابی طریقه هم دا وه، یا د غه وخته پورې د دے مسئلے تحقیق نهٔ ؤ شوے. ولے چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په دغے مجلس کښې تشریف فرمانهٔ ؤ، یا د غے وخته پورے د احکم آړو شوے نهٔ ؤ.

۶ د حضرت اَبُوطلحه رضی الله عنه په مانځه کښې خیال راتلو سره باغ وقف کول

حضرت ابوطلحه رضی الله عنه یو ځل باغ کښې مونځ کولو، یو مارغهٔ والوتلو، او چو نکه باغ ګڼړ ؤ. نو زر زر ته د وتلو لاره ملاؤ نهٔ شوه، کله دیخوا کله

Maktaba Tul Ishaat.com

اخوا آلوته او دتلو لاره یے کتله - دهغهٔ نظر پرے پریوتهٔ، او ددے منظر په وجه یے آخوا خیال شو، او نظر یے دغه مارغهٔ سره گرزیدهٔ، تاسا په ورته دمانځه خیال راغے، نو سهوه شو چه کوم رکعت دے، ډیر خفه شوچه د دے باغ په وجه دامصیبت راپیښ شو چه په مانځه کښې رانه هیره اُوشوه زر د نبی اکرم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او پوره قصه یے بیان کړه - او درخواست یے اُوکړهٔ چه د دے باغ په وجه دامصیبت راپیښ شو، دے دپاره دا زهٔ د الله تعالیٰ په لاره کښې ورکوم، کوم ځائی چه ستاسو زړهٔ غواړی دا اُولگوئی -

دغه شان یوه بله قصه د حضرت عُثمان رضی الله عنه په زمانهٔ خلافت کښې پیښه شوے وه چه یو انصاری په خپل باغ کښې مونځ کولو، دکهجُورو ونیو زمانه ښځه په ترقئ وه، او غُنچے دکهجورو د بوجهه او ډیروالی له وجه را ځکته شوے وے، نظر یے په غُنچو پریوتهٔ - دکهجورو دې غُنچے ورته ډیرے ښے معلومے شوے، خیال یے آخوا لاړو، او دا هم ورته یادنهٔ شوچه څو رکعته اُوشو - ددے غم او خفگان پرے داسے غلبه اُوشوه چه ددے په وجه یے دا پخه اِراده وُکړه چه داسے باغ اُوس آزو ساتم نه چه دکوم په وجه دا مصیبت راپیښ شو، نو حضرت عُثمان رضی الله عنه په خدمت کښې حاضر شو، او عرض یے وُکړهٔ چه دا د الله تعالیٰ په لاره کښې خرچ کول غواړم تاسو چه ورسره څه کوئی اوکړئ - هغوی هغه باغ په پنځوس زره خرچ کړهٔ او د هغے قیمت یے په دینی کارونو کښې اُولګوو - (مؤطا امام مالک)

فائده: دا ایمانی غیرت دے چه دمونځ په شان اهم څیز کښې خیال راتلو سره د پنځوس زرو د رهمو باغ یے یو دم صدقه کړهٔ - زمونږ حضرت شاه ولیُّ الله صاحب رحمه الله په "قول جمیل" (نوم کتاب) کښې د صوفیانو د نسبت قسمونه لیکلی دی - ددے متعلق یے دالیکلی دی چه دا نسبت دے د الله تعالیٰ اطاعت لره په نورو باندے دمخکښې ساتلو، او په هغے د غیرت کولو - دے حضراتو ته په دے باندے غیرت راغے چه د الله تعالیٰ په اطاعت کښې بل یو څیز طرف ته خیال ولے لاړهٔ -

⑦ د حضرت ابن عبّاس رضی الله عنه د مونځ په وجه د سترګے علاج نۀ کول

د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه په سترګه کښې چه کله اوبۀ را غلې نو د سترګے علاج کونکی خدمت کښې حاضر شو او عرض یې وکړو، که اجازت وی نو مونږ به د سترګے علاج اوکړو، خو پنځو ورځو پورے به تا سو احتیاط کوئ، او سجده به په ځائ د زمکے څخۀ اوچت لرګی باندے کوئ، هغوی ورته وفرمایل دا هیڅ کله نۀ شی کیدے۔ قسَم م دے په الله وی، یو رکعت هم ما ته داسے کول منظور نۀ دی۔ د نبی علیه السلام ارشاد ما ته معلوم دے، چه کوم کس یو مونځ هم قصدًا اپریږدی، هغه به الله جل شانهٗ سره داسے ملاقات کوی چه الله جل شانهٗ به د دۀ نه ناراضه وی۔ (دُرِّ منثور)

فائده: اګرچه شرعًا مونځ د غسے د مجبورئ په حالت کښې کول جائز دی، او د احالت د مونځ پریخودو په وعید کښې نۀ راځی خو د حضرات صحابه کرامو چه د مونځ سره کوم محبّت وُو۔ او د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په ارشاد باندے د عمل کولو څومره قدرے اهمیّت وُو، د هغې په وجه حضرت ابن عبّاس رضی الله عنه د سترګے علاج هم خوښ نۀ کړو، چه د دے حضراتو په نزد به یو مونځ ټوله دُنیا قربان وه۔ نن مونږ د بے حیایئ نه چه څۀ غواړو د دے قربانی کونکو په شان کښې د خُلے نه اوباسو۔ هرکله چه صبا ته د دوی سره مخامخ کیدل اوشی، او د اپه دین باندے قربانی کونکی د میدانِ حشر د سَبیل مزے کوی۔ بیا به حقیقت معلوم شی چه دوی څۀ وُو، او مونږ دوی سره څۀ سلوک کړے وُو۔

⑧ د صحابو رضی الله عنهم د مونځ په وخت فورًا دُکانونه بندول

حضرت عبد الله بن عُمر رضی الله عنه یو وارے بازار کښې تشریف فرما وُو چه د مانځه د جَمیع وخت اوشو۔ ویے لیدل چه فورًا ټولو خپل خپل دُکانونه بند کړل او جُمات کښې ورداخل شو۔ ابنِ عُمر رضی الله عنه فرمائی چه هم د دے خلقو په شان کښې دا ایت نازل شو۔ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا

Maktaba Tul Ishaat.com

بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللهِ (سورۃ نور پاره ۱۸) ترجمه دپوره اٰيتِ مبارکه داده چه "په دے جُماتونو کښ داسے خلق سحر او ماښام د الله تعالیٰ پاکی بيانوی چه هغوی د الله تعالیٰ د ياد نه او خصوصاً د مونځ کولو او زکوٰة ورکولو نه نه اخستل غفلت کښ اچوی نه خرڅول. هغوی د داسے ورځے ډکرفت نه ويريږی چه په هغے کښ به زړونه او بيړے ستر گے واوړی. (بيان القرآن)

حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چه دغه خلق خپل تجارت وغيره خپل خپل کاروبار کښ به مشغول وُو، خو چه کله به يے بانګ واوريدهٔ نو هر څه به يے پريښودل زر به جُماعت ته لاړل. يو ځائ وائی په الله تعالیٰ م د قسم وی، داخلق تاجران وُو خو تجارت دوی د الله تعالیٰ د ذکر نه منع نکړل.

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه يو ځلے بازار کښ تشريف فرما وُو، چه آذان اُوشونو وے ليدل چه خلقو خپل خپل سامانونه پريښودل مانځه ته روان شول. ابن مسعود رضي الله عنه وُفرمايل، هم داخلق دی کوم چه الله جلّ شانهٔ رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللهِ ط سره يادکړی دی. يو حديث کښ د نبی عليه الصلوٰة والسلام ارشاد دے چه د قيامت په ورځ کله چه الله تعالیٰ ټوله دُنيا يو ځائ ته راجمع کړی نو ارشاد به وُشی، کوم دی هغه خلق چه په خوشالئ او غم دواړو حالتونو کښ به يے د الله تعالیٰ حمد و ثنا کوله. نو يوه وړه ډله به راپاسی او بغير حساب کتاب به جنت کښ داخله شي. بيا به ارشاد وُشی کوم دی هغه خلق چه شپو کښ به دخپلو بسترو نه لرے اُوسيدل، او خپل رب به يے مينے او ويرے سره يادوو. نو يوه ډله وړه ډله به راپاسی، او هغه به هم جنت کښ بغير حسابه داخله شي. بيا به ارشاد وُشی کوم دی هغه خلق چه هغوی به تجارت يا خرڅولو د الله تعالیٰ د ذکر نه نهٔ منع کول، نو يوه دريمه ډله به وړه غوندے وُدريږی او جنت کښ به بغير حسابه داخله شي، دے نه پس به د باقی خلقو حساب شروع شي (درمنثور)

⑨ د حضرت خُبيب رضي الله عنه د قتل په وخت کښ مونځ کول او د زيد او د عاصم رضي الله عنهما قتل

د اُحُد په جنګ کښ کوم کافران چه مُردار کړے شوی وُو، د هغوی په

خپلو انو کښې د بدل اخستلو جوش ډیر تیز وو. سُلافه چه د هغې دوه ځامن په دے جنګ کښې قتل شوی وو نذر منلے وو (یعنی مَنَته یې کړے وه) که چرے د عَاصِم (چه هغهٔ د دے ځامن قتل کړی وو) سَر په لاس راشي، نو د هغهٔ کوپړه کښې به شراب څکم. په دے وجه هغې اعلان کړے وو چه څوك د عاصِم سَر راوړي، نو هغهٔ ته به سَل اوښان اِنعام ورکړم. سُفیان بن خالِد دے لالچ تیار کړو چه د هغهٔ د سَر د راوړلو کوشش اُوکړي. نو هغهٔ د عَضَل او د قارَه څو سړي مدینے منورے ته وُلیږل، دے خلقو خپل ځان مسلمان ښکاره کړو او نبی علیه الصلوٰة ته د تعلیم او د تبلیغ د پاره خپل ځان سره د یو څو حضراتو لیږلو درخواست اوکړهٔ، او د حضرت عاصِم رضی الله عنه د لیږلو یې هم درخواست اُوکړهٔ چه د دهٔ وعظ د خلقو خوښ دے او ډیر پسند دے. نو نبی علیه الصلوٰة لس سړي او بعضے روایتونو کښې شپږ سړي دوی سره کړل چه په هغې کښې حضرت عاصِم رضی الله عنه هم وو. په لاره کښې دغه بوتلونکو وعده خلافي اُوکړه، او دُشمنانو ته یې د مقابلے د پاره راوُبلل چه دوه سوه سړي وو، او په هغوی کښې سل سړي مشهور غشي ویشتونکي وو. او بعضو روایتونو کښې دي چه نبی علیه الصلوٰة دا حضرات د مکے د خلقو د خبر راوړلو د پاره لیږلي وو. په لاره کښې د بنو لِحیان دوه سوو سړو سره یې مقابله وُشوه، دے لږے ډلے چه د لسو سړو یا د شپږو سړو وه، دا حالت وُلیدهٔ، نو په یو غر باندے چه د هغې نوم "فَدْ فَدْ" وو اُوختل. کافرانو اُوے چه مونږ ستاسو په وینه خپله زمکه رنګول نهٔ غواړو، صرف د مکے د خلقو نه ستاسو په بدله کښې څهٔ مال اخستل غواړو، تاسو مونږ ته راشئ، مونږهٔ تاسو نهٔ قتلوو. خو هغوی ورته اُووے چه مونږ د کافرانو په ذمه دارئ کښې راتلل نهٔ غواړو، او د ترکش نه یې غشي راوُویستل، او مقابله یې اُوکړه. چه کله غشي ختم شُو، نو په نیزو سره یې مقابَلَه اُوکړه. حضرت عاصِم رضی الله عنه ملګرو ته په جوش کښې اُووے چه تاسو سره دهوکه وُکړے شوه، خو ویرے خبره نهٔ ده، شهادت غنیمت اُوګنړئ، ستاسو محبوب تاسو سره دے، او د جنت حُورے ستاسو په اِنتظار کښې دي، دا یې اُووے او په جوش سره یې مقابله اُوکړه، او کله چه نیزه هم ماته شوه، نو په تُوره یې مقابله اوکړه، چا سره چه مقابله وه د هغوی ډله ډیره وه، آخر شهید شو او دُعا

Maktaba Tul Ishaat.com

یے اُوکړه- اے الله! خپل رسول ته زمونږ د قصے خبر اُوکړے- دا دُعا قبوله شوه او هغه وخت درے واړه علم نبی علیه الصلوٰة والسلام ته اُوشو، او چونکه عاصِم رضی الله عنه دا هم آوریدلی وُو چه سُلافه زما په کپړه کښ د شرابو څکلو نذر منلے دے، نو د مرګ په وخت کښ یے دُعا اوکړه، اے الله! زما سر ستا په لاره کښ پریکوُلے شی، هم ته د دے حفاظت کوُنکے یے، دا دُعا هم قبوله شوه. او د شهادت نه پس کله چه کافرانو د سر پریکوُلو اِراده اُوکړه، نو الله تعالیٰ د شاتو مچئ او په بعضو روایتونو کښ د ږمبرو یو سیل راوُلیږهٔ چه هغوی د هغهٔ بدن څلور واړه طرف نه ګیر کړهٔ- کافرانو خیال اُوکړهٔ چه د شپے په وخت کله دا والوزی نو سر به یے پریکړو. خو د شپے د باران یوه سیلابی چپه راغله، او د هغهٔ لاش یے لاهُو کړو. د غه شان اُوهٔ یا درے سړی شهیدان شو. خُلاصه دا چه درے باقی پاتے شو. حضرت خُبَیب او زید بن دَثِنه او عبدالله بن طارق رضی الله عنهم دے درے واړو حضراتو سره بیا هغوی وعده اُولوظ وُکړهٔ چه تاسو ښکته راکوزشئ، مونږ تاسو سره وعده خلافی نهٔ کوُو- دا درے واړه حضرات ښکته راکُوز شول- راکوزیدو سره کافرانو د لِیندو جَئ را اُوسپړو دے، او د هغوی مټے یے پرے اُوتړلے. حضرت عبدالله بن طارق رضی الله عنه وُفرمایل چه دا ړومبئ بے لوظی ده. زهٔ تاسو سره هیڅ کله نهٔ ځم. دے شهیدانو پسے تلل زما هم خوښ دی. هغوی په زبردستئ دهٔ راښکل وُغوښتل، خو دے د خپل ځائ نه اُونهٔ خوزیدهٔ. نو دغے خلقو دے هم شهید کړو. صرف دوه حضرات ورسره پاتے شو. یو حضرت زید بن دَثِنه رضی الله عنه چه صَفوان بن اُمَیّه د پنځوس اُوښانو په بدله واخست چه د خپل پلار اُمَیّه په بدله کښ یے قتل کړی. دویم حضرت خُبیب رضی الله عنه چه حُجَیر بن ابی اِهاب د سلو اُوښانو په بدله واخست چه د خپل پلار په بدله کښ یے قتل کړی. د بُخاری شریف روایت دے چه د حارث بن عامر اولاد واخست چه دهٔ په بدر کښ حارث قتل کړے وُو. صَفوان خو خپل قیدی حضرت زید رضی الله عنه زر د حرم نه بهر د خپل غلام په لاس اُولیږهٔ، چه قتل کړے شی. د دهٔ د تماشے د پاره ډیر خلق جمع شول چه په هغے کښ آبُو سُفیَان هُم وُو. دهٔ د حضرت زید رضی الله عنه نه د شهادت په وخت کښ تپوس

اُوکړهٔ چه اے زیده! ستا دِ په الله قَسم وی، رښتیا اُووایه، آیا ستا دا خوښه ده؟ چه د محمد سټ ستا په بدله کښ اُووَهلے شی، اَو ته پر یخود لے شے، چه خپل بال بچ سره خوشاله اُوسے. حضرت زید رضی اللہ عنہ وُفرمایل چه په الله تعالیٰ مې دِ قَسم وی چه زهٔ خو دا هم نهٔ خوښوم چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم کوم ځائ کښ دے هلته دِ په هغوی کښ یَو اَزغے قدرے مات شی، اَو زهٔ دِ په خپل کور کښ په اَرام سره یم. دا جواب چه قُریشو واوُریدهٔ، حیران پاتے شول. اَبُوسُفیان وُویل چه د محمد د ملګرو چه څومره د هغهٔ سره محبت ما اُولیدهٔ، د دے مثال مې چرته نهٔ دے لیدلے. د دے نه پس حضرت زید رضی اللہ عنہ شهید کړے شو.

حضرت خُبیب رضی اللہ عنہ څهٔ موده پورے په قید کښ وُو، د حُجَیر وینځه چه بیا روستو مسلمانه شوه وائی، چه خُبیب رضی اللہ عنہ کله چه زمونږ په قید کښ وُو، نو مونږ ه اُولیدل چه د خُبیب رضی اللہ عنہ په لاس کښ یوه ورځ د انګورو ډیره لویه غُنچه د سَری د سَر برابرے په لاس کښ نیولے ده انګور خوری. او مکه کښ دغه وخت انګور ېیخی نهٔ وُو. هُم هغه وائی چه کله د دهٔ د قتل وخت نزدے راغے، نو د پاکئ د پاره یے چاړهٔ اُوغوختله، هغه ورکړے شوه. اتفاقًا یَو ماشوم دغه وخت خُبیب رضی اللہ عنہ ته وَرغے. د دے خلقو اُولیدهٔ چه چاړهٔ د دهٔ په لاس کښ ده، او ماشوم ورسره دے. دِے لیدو سره اُوېریدل. خُبیب رضی اللہ عنہ وُفرمایل چه آیا ستاسو دا خیال دے چه زهٔ به ماشوم قتل کړم. دا به اُونهٔ کړم. د دے نه پس یے د حَرَم نه بَهر راوُویستلو، او په سُولئ باندے د زوړند وُلو په وخت د اَخری خواهِش په طور ترے تپوس اُوکړے شو، که څهٔ اَرمان دِ وی نو وُښایه. دهٔ وفرمایل چه ما ته دومره وخت مُهلت راکړئ چه دوه رکعته مونځ اوکړم چه د دُنیا نه د تللو وخت دے. او د الله جل شانهٔ سره مُلاقات نزدے دے. نو مُهلت ورکړے شو. دوه رکعته یے ډیر په تسلئ سره اُوکړل، او بیا یے وُفرمایل، که چرے زما دا خیال نهٔ وے چه تاسو خلق به داګنړئ چه زهٔ د مرګ د ویرے نه ساعت تیروُم، نو دوه رکعته به مې نور هم کړی وُو. د دے نه پس په سُولئ زوړند کړے شو، اَو دُعا یے وُکړهٔ چه اے الله! څوک دا سے شته چه ستا رسول صلی اللہ علیہ وسلم ته زما اَخری

Maktaba Tul Ishaat.com

سلام اُورَسوی. نو نبی اکرم ﷺ ته د وحی په ذریعه دغه وخت سلام اُورسولے شو. نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل وَعَلَیْکُمُ السَّلَامُ یَا خُبَیْب (رض) او ملګروته یے خبر ورکړۀ چه خُبَیب (رض) قریشو قتل کړۀ. حضرت خُبَیب رض چه کله په سُولئ اُوخیژولے شو. نو څلویښتو کافرانو دڅلورو واړو طرفونو نه په دۀ په نیزو حمله اُوکړه، او بدن ئے ورله غلبیل کړۀ. دغه وخت چا قسم ورکړۀ، او دا ئے تړے تپوس اُوکړۀ چه ته دا خوښوے چه ستا په ځائ محمد ﷺ قتل کړو، او ته پریږدُو. دۀ وُفرمایل، وَاللهِ الْعَظِیْمُ ما ته دا هم نۀ ده خوښه چه زما د ځان په بدله کښ یو آزغے قدرے هُم نبی علیه الصلوٰة کښ ننوزی. (فتح اسلام)

فائده: هسے خو د دے قصو هر یو لفظ د عبرت دے خو په دے قصه کښ دوه څیزه خاص طور د قدر او د عبرت قابل دی. د دے حضراتو د نبی اکرم ﷺ سره محبت او عشق چه خپل ځان م دِقُربان شی او د دے په بدله کښ دومره لفظ ویل هُم نۀ خوښوی چه نبی علیه الصلوٰة ته څۀ معمولی غوندِ تکلیف هُم وُرَسی. حضرت خُبَیب رض باندے یے صرف په ژبه ویل غوختل، او صرف په ژبه ویل وُو. کنی بد له کښ نبی علیه الصلوٰة ته تکلیف رَسَوُلو باندے خو د دے کافرانو وَس هُم نۀ رسیدۀ، بلکه دغه خلق په خپله هر یو د تکلیف رسولو کوشش کښ وُو چه په هغے کښ د بدل او یے بدلے تول برابر وُو. دویم څیز دموږ عظمت او د هغے محبت وُو چه دا سے اخری وخت کښ عُمومًا یشئه، بچی خلق یا دَوی، شکل لیدل یے غواړی. پیغام او سلام ورته وائی، خو د دے حضراتو که پیغام او سلام ورکول دی، نو نبی علیه الصلوٰة ته، او اخری خواهش یے د دے نو د دوه وُرکعتو مونځ دے.

(۱۰) نبی علیه الصلوٰة سره په جنت کښ ملګرتیا د پاره د مونځ مدد

حضرت رَبِیعه رض فرمائی چه ما به د نبی اکرم ﷺ په خدمت کښ شپه تیروُله او د تهجّد و په وخت کښ به م د اودا سۀ اُوبهٔ او نور ضرورتیا مثلًا مَسْوَاكْ جائِنماز وغیره راخودل. یو وارے نبی اکرم ﷺ زما د خدمت نه خوشاله شو، وے فرمایل وُغواړه څۀ غواړے؟ ما عرض اُوکړۀ اے

دالله رسوله! په جنت کښې ستا سو ملګرتیا- نبی علیه الصلوٰة والسلام وفرمایل، نورڅه؟ ما أووے، بس داخیزم غرض دے (آوغوارم)- نبی علیه الصلوٰة والسلام وفرمایل، ډیره ښه ده زما مدد کوه د سجدو په ډیروالی سره- (ابوداؤد)

فائده: په دے کښې خبردارے دے ددے خبرے چه صرف په دُعا سره بے فکره کینا سنل نهٔ دی پکار- بلکه دڅهٔ طلب او عمل هم ضرورت دے، او په عملونو کښې دټولو نه ضروری مونځ دے چه خومرد دے ډیر والے أوشی، هغومره به سجدے زیاتے وُشی. کوم خلق چه په دے آسرا ناست وی چه فلانے پیر فلانے بزرګ راته دُعا وُکړی، سخته غلطی ده- الله جلّ شانهٔ دادُنیا اسبابو سره چلولے ده، اګرچه بے اسبابو په هر یو خیز قدرت لری، او دقدرت ښکاره کولو دپاره کله داسے هم کوی خو عام عادت دادے چه ددُنیا کاروبار بے آسبابو سره تړلے دے حیرانتیا ده چه مونږ خلق ددُنیا په کارونو کښې خو تقدیر او صرف ددُعا په آسرا کله هم نهٔ کینو- پنځوس قسمه کوششونه کوو خو دین په کارونو کښې تقدیر او دُعا په مینځ کښې راشی، په دیکښې شک نشته چه د الله والو دُعا ضروری ده، خو نبی علیه الصلوٰة والسلام هم داارشاد فرمایلے دے چه د سجدو په ډیروالی سره زما ددُعا مدد کوئ-

شپږم باب

اینار او همدردی او د الله تعالی په لاره کښې خرڅ کول

ایثار وائی دخپل ضرورت په وخت د نورو ضرورت وړاندے پوره کولو ته- اول خو دصحابه کرامو رضی الله عنهم هر یو کار هر عادت داسے دے چه د هغے برابرے خو یو خوا، د هغے څهٔ حصه هم که چا خوش قسمته ته نصیب شی نو خالصه نیک بختی ده- خو بعضے عادتونه په هغوی کښې داسے خاص دی چه هم دهغوی حصه وه- چه د هغے نه یو ایثار هم دے چه الله جل شانهٔ په قرآن شریف کښې ددے تعریف کړے دے- او يُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ط (سورۃ حشر) کښې دا صفت ذکر

Maktaba Tul Ishaat.com

کړے دے چه دغه خلق په خپلو ځانونو نور وړاندے کوی، اګرچه په دوی لوږه وَلے نهٔ وی.

(۱) د صحابی رضی الله عنه د میلمه له خاطره ډیوه مړه کول

یو صحابی رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم خدمت کښ حاضر شو او د خپلے لوږے او د پریشانئ حال یے بیان کړهٔ - نبی علیه الصلوٰة خپلو کورونو ته سړے وُلیږهٔ چرته څهٔ بیا نهٔ موندے شُو - نو نبی علیه الصلوٰة صحابو ته وُفرمایل چه څوک شته چه ددهٔ دیوے شپے میلمستیا اُوکړی؟ یو انصاری صحابی عرض اُوکړهٔ اے د الله رسوله! زهٔ به یے میلمستیا اوکړم - هغه یے کور ته بوتلهٔ او بی بی ته یے اُووے چه دا د نبی علیه الصلوٰة میلمه دے، څومره چه یے اِکرام کولے شے کمے پکښ مهٔ کوه، اوخهٔ څیز پټوه مَه - بی بی ورته اُووے په الله تعالیٰ م دِقسَم وی چه د ماشومانو د پاره م څهٔ لږ غوندے (څیز) ایښے دے، نور هیڅ هم کورکښ نشته - صحابی وُفرمایل چه ماشومان دَلاسه کړه، اُودهٔ یے کړه، او کله چه هغوی اُودهٔ شی، ته خوراک راوړه میلمه سره به کینو، بیا ته د ډیوے سَمَوَلو په بهانه پاسه او ډیوه مړه کړه - نو بی بی هم داسے وُکړهٔ، او دواړو ښځے خاوند او ماشومانو نهَره شپه تیره کړه چه په دے دا اٰیت یُؤۡثِرُوۡنَ عَلٰۤی اَنۡفُسِهِمۡ نازل شو - (ترجمه) او ترجیح یعنی وړاندے والے ورکوی په خپلو ځانونو، اګرچه په دوی لوږه وی -

فائده: ددے قسمه کثیر واقعات دی چه صحابو رضی الله عنهم ته پیښ شوی دی - لکه ددے قسمه یوه بله واقعه یے لیکلے ده -

(۲) روژه د پاره ډیوه مړه کول

یو صحابی رضی الله عنه به پرله پسے روژے نیولے، او د روژه ماتی د پاره به ورسره هیڅ څیز نهٔ وو - یو انصاری صحابی حضرت ثابت رضی الله عنه ته معلومه شوه، خپلے بی بی ته یے اُووے چه زهٔ به شپے ته یو میلمه راولم - کله چه خوراک شروع کړی، نو ته د ډیوه د سَمَوَلو په بهانه مړه کړه، او تر څو چه

میلمه موړ شوے نهٔ وی، په خپله مهٔ خوره. نو هغوی هم هغسے اوکړل۔ ټول ورسره شریک وُو، ګویا چه خوری۔ صبائی حضرت ثابت کله چه د نبی علیه الصلوٰة مجلس کښی حاضر شو. نو نبی علیه السلام اُو فرمایل چه د شپے ستاسو د خپل میلمه سره ښهٔ سلوك الله تعالیٰ ته ډیر خوښ شو. (دُرِّ منثور)

﴿۳﴾ دیو صحابی رضی الله عنه زکوٰة کښی اُوښ ورکول

حضرت اُبیّ بن کعب رضی الله عنه فرمائی چه زهٔ یو ځلے نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د زکوٰة مال وصولولو د پاره اُولیږلم، زهٔ یو صاحب ته لاړم، او د هغهٔ ټول د هغهٔ د مال تفصیل معلوم کړهٔ، نو په هغهٔ یو د اُوښ بچے یو کلیز واجب کیدهٔ. ما ترے د هغے مطالبه اوکړه. هغه فرمایل چه دیو کال بچے نهٔ د پیُو د کار دے نهٔ د سورلئ د کار. هغهٔ یو ډیر قیمتی ځوانه اُوښه راوستله، چه دا بوزه، ما اُووے چه زهٔ دا نهٔ شم اخستے، ځکه چه ماته د ښهٔ مال اخستو حکم نشته. البته که چرے ته دا ورکول غواړے۔ نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سفر کښی دے اونن یے قیام فلانی ځائی کښی ستاسو نزدے دے لاړ شه، د نبی علیه الصلوٰة خدمت کښی یے پیش کړه، که چرے منظوره کړی نو ماته اِنکار نشته. کنی زهٔ معذور یم. هغهٔ دغه اُوښه روانه کړه ما سره شو، او د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم خدمت کښی حاضر شو، عرض یے اُوکړهٔ چه اے د الله رسوله! ماته ستاسو قاصِد د زکوٰة مال اخستلو د پاره راغلے وُو، او په الله تعالیٰ مے د قسم وی چه ماته ترننه دا خوش قسمتی نصیب شوے نهٔ ده چه د الله رسول صلی الله علیه وسلم یا د هغهٔ قاصد زما په مال کښی چرے دخل کړے وی (او څهٔ یے اخستی وی) په دے وجه ما خپل ټول مال مخکښی کړو، هغوی اووے چه په دے کښی یو کلیز د اُوښ بچے د زکوٰة واجب دے. حضور! دیو کال د بچی نه نهٔ خو د پیُو فائده شته نهٔ د سورلئ۔ په دے وجه ما یو ښهٔ ځوانه اُوښه پیش کړه چه هغهٔ ستاسو قاصد قبوله نکړه، ځکه ما په خپله راوستله او حاضر شوم۔ نبی علیه الصلوٰة اُو فرمایل چه په تا واجب خو هغه دے کوم چه درته هغوی خودلے دے، خو که چرے د خپل طرفه د هغهٔ نه زیات اُوښه

Maktaba Tul Ishaat.com

مال ورکړے نو قبول دے۔ الله تعالیٰ دِ تا ته ددے بدله درکړی ۔ هغهٔ عرض اُوکړوٗ چه دا ده حاضره ده۔ نبی علیه السلام قبوله کړه او دبرکت دُعا یے ورته وُکړه۔

فائده: داد زکوٰة دمال حال دے نن هم د اسلام ډیر دعوے داردی او دنبی علیه السلام د محبت دعوے هم کوی خو د زکوٰة په ادا کولو کښې د زیاتی خو به څهٔ وایے په پوره مقدار کښې ادا کول ورته هُم مرګ وی او کوم چه د اُوچتے طبقے کسان دی چه ورته زیات مال ادرویلے شی دهغوی په نزد خو د زکوٰة اوږو ذکر نشته۔ کوم چه د درمیانه حیثیت خلق دی او خپل ځان دیندار ګنړی، هغوی هم ددے کوشش کوی چه کوم خرچ خپلو خپلوانو کښې یا څهٔ بل ځائ په مجبوریٔ سره پیښ شی په هغے کښې د زکوٰة نیت اوکړی۔

(۴) دحضرات شیخین رضی الله عنهما په صدقه کښې مقابله

حضرت عُمر رضی الله عنه فرمائی چه یو ځلے نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د صدقے کولو حکم اُوفرمایهٔ۔ اِتفاقًا دے زمانه کښې ما سره څهٔ مال موجود وُو۔ ما اُووے چه نن وُرځے اِتفاقًا ما سره مال موجود دے، که چرے زهٔ دابوبکر صدیق رضی الله عنه نه کله وُړاندے کیدے شم، نو نن به ترے وُړاندے شم، دا فکرم اوکړو، په خوشالیٔ خوشالیٔ کور ته لاړم، او څهٔ چه په کور کښې وُو، هغے نه مِ نیم راوړهٔ۔ نبی علیه السلام وُفرمایل چه دکور خلقو دپاره دِ څهٔ پریخودل؟ ما عرض وُکړهٔ چه پرے مِ خودهٔ۔ نبی علیه السلام وُفرمایل اخر څهٔ دِ پریخودهٔ؟ ما عرض وُکړهٔ چه نیم مِ پریخودهٔ۔ او حضرت ابوبکر صِدّیق رضی الله عنه چه څهٔ ورسره وُو ټول یے راوړهٔ۔ نبی علیه السلام وُفرمایل ابوبکرا! دکور خلقو دپاره دِ څهٔ پریخودل؟ عرض یے وُکړهٔ هغوی دپاره مِ الله تعالیٰ او دهغهٔ رسول صلی الله علیه وسلم پریخودهٔ۔ یعنی الله تعالیٰ او دهغهٔ د رسول صلی الله علیه وسلم د نوم برکت او دهغهٔ رضا او خوشالیٔ پریخوده۔ حضرت عُمر رضی الله عنه فرمائی ما اُووے چه حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه زهٔ هیڅکله نهٔ شم مخکښې کیدے۔

فائده: ښهٔ صفتونو او نیکو کښې ددے کوشش کول چه دنورو نه مخکښې شم، دا ډیر ښهٔ او مستحب دی، قرآن پاک کښې هم ددے ترغیب

راغلی دے، دا قصه دغزوۀ تبوك ده- دغه وخت نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دچندے خاص طورسره ترغیب ورکړے وو. او صحابه کرامو رضی الله عنهم دخپلے خپلے حوصلے موافق بلکه همت اووس نه زیات امداد ونه اوکړل چه د هغے ذکر د دویم باب اتمه قصه کښ مختصرغوندے تیرشوے دے. جَزَاهُمُ اللّٰهُ عَنَّا وَعَنْ سَآئِرِالْمُسْلِمِیْنَ اَحْسَنَ الْجَزَآءِ۔

⑤ دا صحابو کرامو رضی الله عنهم د نورو په وجه د ننه نه مرۀ کیدل

حضرت اَبُوْجَهم بن حُذَیفه رضی الله عنه فرمائی چه د یرمُوك په جنګ کښ زۀ دخپل ترۀ خوئ په تلاش کښ اُووتلم چه هغه په جنګ کښ شریک وو- اویوه مشکیزه داُوبوم ځان سره واخستله چه کیدے شی هغه تږے وی، نو اُوبۀ به پرے اُوڅکوم. اتفاقًا هغه یو ځائ په داسے حالت کښ پروت وو چه ساه یے په وتو وه، اوځنکدن یے شروع وو. ما ترے تپوس وُکرۀ چه داُوبو گوټ درته درکړم؟ هغۀ په اِشاره سره اووکړه په دے کښ یوبل صاحب چه نزدے پروت وو، آه اُوکرۀ. زما د ترۀ خوئ چه اواز واوریدۀ، نو ماته یے هغۀ له دتلو اشاره وُکړه، ما هغۀ ته اُوبۀ یوړے، هغه هِشام بن اَبِی الْعَاص رضی الله عنه وو، هغۀ ته اُورسیدم، نو هغه ته نزدے یودریم صاحب په داسے حالت کښ پروت وو چه ساه یے په وتلو وه، هغۀ آه اُوکرۀ- هِشام رضی الله عنه ماته هغۀ ته د ورتلو اشاره اُوکړه، ماچه اُوبۀ واخستے ورته وُرسیدم، نو د هغۀ ساه وتلے وه- هِشام رضی الله عنه ته چه واپس راغلم، نو هغه هم په حق رسیدلے وو، د هغۀ نه چه دخپل ترۀ خوئ ته واپس راغلم، نو په دے کښ هغه هم ختم شوے وو. اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ ط (درایه)

فائده: د دے قسمه ګڼرے واقعے دحدیث په کتابونو کښ ذکرشوی دی. څۀ اِنتهاء ده د دے اِیثار چه دخپل ترۀ خوئ یے مری، ساه یے په وتو وی، اوتږی وی، په داسے حالت کښ بل چا طرف ته توجُّه کول هم مشکله شی. دا لا څۀ کوے چه هغه تږے پریږدی بل ته

Maktaba Tul Ishaat.com

اوبهٔ ځکلولو د پاره لاړشي- ددے مرهٔ شولو روحونه د الله جلّ شانهٔ په خپله مهربانئ اوفضل سره مشرّف کړی چه دمرګ په وخت کښې هُم کله چه هوش اوحواس ټول جواب ورکړی، داخلق همه ردئ کښې ساه ورکوی۔

⑥ دحضرت حَمزَه رضی الله عنه کفن

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ترهٔ حضرت حَمزَه رضی الله عنه غزوهٔ اُحُد کښې شهید شو، او بے درده کافرانو دوی غوږ، ونه، پوزه وغیره اندامونه پریکړل، او سینه یے ورله اُوځیرله، زړهٔ یے ترے راؤویست اوقسما قسم ظلمونه یے پرے اوکړل۔ دجنګ په ختمیدو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اونورو صحابو رضی الله عنهم د شهیدانو د لاشونو تلاش شروع کړهٔ، دهغوی دکفن انتظام یے کولو، چه حضرت حمزه رضی الله عنه یے په دے حالت کښې اُولیدهٔ۔ ډیرخفګان پرے تیرشو او په یوڅادر یے پټ کړهٔ۔ په دے کښې دحضرت حمزه رضی الله عنه حقیقی خوځ حضرت صَفِیَّه رضی الله عنها تشریف راوړهٔ چه دخپل رورحال اُووینی۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام په دے خیال چه اخر ښځه ذات ده، ددلسے ظلمونو دکتلو زغمل به ورته ګران شی، دهغے ځوئ حضرت زُبَیر رضی الله عنه ته یے ارشاد وُفرمایهٔ چه خپله مور دکتلو ته منع کړه۔ هغهٔ مورته عرض وُکړهٔ چه نبی علیه الصلوٰة والسلام دکتلونه منع فرمایلے ده۔ هغے اُووے چه ما دا اوریدلی دی چه زما درور پوزه غوږونه وغیره پریکړے شوی دی۔ دالله تعالیٰ په لاره کښې داکومه لویه خبره نهٔ ده، مونږ په دے راضی یو۔ زهٔ دالله تعالیٰ نه دثواب اُمید لرم۔ اوانشاء الله صبربه کوم۔ حضرت زبیر رضی الله عنه نبی علیه الصلوٰة والسلام ته ورغے، دمورخبرے یے ورته عرض کړے۔ نونبی علیه الصلوٰة والسلام چه دهغے جواب واؤریدهٔ، دلیدو اجازت یے ورکړهٔ، راغله ورے لیدهٔ۔ اِنّا لِلّٰه یے اُووے اودهغهٔ د پاره یے اِستغفار او دُعا وُکړه۔ یوروایت کښې دی چه غزوهٔ اُحُد کښې کوم ځائ چه مړی پراتهٔ وُو، یوه ښځه په تیزئ سره راتله۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل وُګورئ دا ښځه منع کړئ، حضرت زُبیر رضی الله عنه فرمائ ما اُوپیژندله چه زما مورده۔ زهٔ په تلوارسے منع کولو د پاره ورمخکښې شوم خوهغه طاقتوره وه، زهٔ یے

یوه مُوکه اُووَهلم، اَووِے ویل لرے شه. ما ورته اُووے چه نبي علیه الصلوٰة والسلام منع فرمایلے ده. نو فوراً اُودریده. دے نه پس یے دوه څادرے راوو ایستے وے فرمایل چه ما دخپل رور دکفن دپاره راوړی دی چه دهغهٔ د وفات خبر مې واؤریدهٔ. په دے څادرونو کښ کفن ورکړئ، مونږه هغه څادرو نه واخستل، حضرت حمزه رضی الله عنه موپه کښ کفن کولو چه خوا کښ ورسره یو انصاری شهید پروت وُو چه دهغهٔ نوم سُهَیل رضی الله عنه وُو. د هغهٔ هُم کافرانو داسے حال کړے وُو څنګه چه حضرت حَمزه رضی الله عنه وُو. مونږ ته د دے خبرے ته شرم راغے چه حضرت حمزه رضی الله عنه ته دِ دوه ؤ څادرونو کښ کفن ورکړے شي او دا انصاری دِ یو هُم نهٔ وی. په دے وجه مونږه دواړو دپاره یو یو څادر مقرر کړهٔ. خو یو څادر په هغے کښ لوئ وُو دویم لنډ. نو مونږه خسنړے واچوُو چه خسنړی کښ کوم څادر دچا په حصه کښ راغے په هغے کښ به کفن کړے شي. په خسنړی کښ لوئ څادر دحضرت سُهیل رضی الله عنه په حصه کښ راغے او لنډ دحضرت حَمزه رضی الله عنه په حصه کښ راغے چه دهغهٔ دقد نه هم کم وُو. کهٔ سر به موورله پټولو نو پښے به یے ښکاره کیدلے، او کهٔ دپښو طرف ته به موکړهٔ نو سر به یے ښکاره کیدهٔ. نبي علیه الصلوٰة والسلام اِرشاد وُفرمایهٔ چه سَر ورله په څادر پټ کړئ او په پښو ورله پانړے وغیره واچوئ. (خمیس)

د ابن سعد رضی الله عنه روایت کښ دی چه حضرت صفیه رضی الله عنها کله چه دوه څادرے واخستے، د حضرت حمزه رضی الله عنه لاش ته وُرسیده، نو هغهٔ ته نزدے یو انصاری هم په هغے حال کښ پروت وُو، نو په یو یو څادر کښ یے دواړو له کفن ورکړهٔ، دحضرت حمزه رضی الله عنه څادر لوئ وُو. دا روایت مختصر دے، او د خمیس (کتاب) روایت تفصیلي دے.

فائده: دا د دواړو جهانو د بادشاه د تره کفن دے، هغه هم داسے چه یوه زنانه دخپل رور دپاره دوه څادرے ورکوی. په هغے کښ دا نهٔ خوښوی چه دویم انصاری دِ بے کفنه پاتے شي. بیا یو څادر تقسیموی او بیا لنډ څادر د هغه کس په حصه کښ راځی چه په څو وجهو سره د

Maktaba Tul Ishaat.com

د ترجیح حق لري. دغریب پروري او د مساوات دعوے دار که چرے په خپلو دعوکښن ریښتني وي، نو د دے پاکو هستو تابعداري دِ اوکړي، چه (صِرف) په وینا سره نه بلکه په کولو سره یې اوخودله. مونږ خلقو ته خپل ځان د دوي تابعدار وېل هم د شرم خبره ده.

⑦ دچیلۍ سَر گرزیدل او بیا واپس راتلل

حضرت ابن عُمر رضي الله عنه فرمائي چه یو صحابي ته چا دچیلۍ سَر هدیه کښن ورکړۀ، هغهٔ خیال وُکړۀ چه زما فلانے ملګرے زیات ضرورتمند دے، د بال بچ خاوند دے، او د هغهٔ د کور خلق زیات محتاج دي. په دے وجه یے هغهٔ ته اُولیږهٔ. هغهٔ ته دیو دریم صاحب په باره کښن دا خیال پیدا شو، او هغهٔ ته یے وُلیږهٔ لنډه دا چه دا سَر اُوهٔ کورونو کښن وُګرزیدهٔ بیا د ټولو نه د رومبي صحابي کورته واپس راغے. (دُرِمنثور)

فائده: د دے قسمه قصه نه د دے حضراتو عموماً محتاجي او ضرورتمندي هم معلومیږي، او دا هُم چه هر یو کس ته په دنورو ضرورت دخپل ځان نه وړاندے معلومیدهٔ.

⑧ دحضرت عُمر رضي الله عنه خپلے بي بي لره ددائي توب د پاره بوتلل

اَمِیرُ الْمُؤْمِنِین حضرت عُمر رضي الله عنه به دخپل خلافت په زمانه کښن ډیر ځلے د شپے دخو کیدار ئ په طور د ښهر حفاظت هم کُولو. یو ځل په دے حالت کښن په یو میدان تیر شو، وے لیدل چه یو خیمه دو یخو جوړه شوے لګیدلے ده چه روم بے یے هلته نهٔ وه لیدلے، هغے ته نزدے وَرَغے نو وے لیدل چه یو صاحب هلته ناست دے او دخیمے نه د زیږګي آواز راځي. سلام یے وُکړهٔ او هغه صاحب سره کیناست او یو ښتنه یے ترے اُوکړه چه ته څوک یے؟ هغهٔ وُوے یو مسافر یم، دځنګل اُسیدُنکے یم، امیرُ المؤمنین ته څهٔ خپل ضرورت پیش کوم. دمد دا خستلو د پاره راغلے یم. تپوس یے ترے اُوکړهٔ چه دخیمے نه دا آواز څنګه راځي؟ هغه صاحب ورته اُووے، ځه سر په خپل کار کوه. د دوي مبارك اصرار

اُوکړهٔ چه ته خامخا ؤوایه څلهٔ د تکلیف اوازدے۔ هغه صاحب ؤوے چه د شخے د بچی د پیدا کیدو وخت نزدے دے۔ دړد ورته کیږی۔ دوی مبارك ؤفرمایل چه څوك بله زنانه ورسره شته؟ هغهٔ اُووے هیڅوك نشته۔ دوی ددغه ځائی نه راپاسیدل، کورته یے تشریف یوړهٔ، او خپلے بی بی حضرت اُمّ کلثوم رضی الله عنها ته یے ؤفرمایل چه یوډیر د ثواب خبیز (په قسمت سره) ستا د پاره راغلے دے۔ هغے تپوس ؤکړهٔ څهٔ دے؟ دوی ؤفرمایل یو دیانړ ے اُوسیدنکے غریبه زنانه یواځے ده او ورته د بچی پیدا کیدو تکلیف دے، دے اُووے اَوْ اَوْ، کهٔ ستا سو اجازت وی، نوزهٔ تیاره یم۔ اَووَلے به نهٔ تیاریدلَه چه داهُم اخر د حضرت فاطمے رضی الله عنها لوروَه۔ حضرت عُمر رضی الله عنه ؤفرمایل چه دوِلادت د پاره د کوم خیزونو ضرورت پیښیږی، تیل زړوکی وغیره واخله، او یوه کټوئ او څهٔ غوړی اَودانے وغیره هم ورسره واخله، هغے راوا خستل روانه شوه۔ حضرت عُمر رضی الله عنه په خپله وړپسے روستو روستو تلو، هلته چه ؤرسیدهٔ۔ نو حضرت اُمّ کلثوم رضی الله عنها خو خیمے ته دننه لاړه۔ او حضرت عُمر رضی الله عنه اُوربَل کړهٔ کټوئ کښے یے دانے اُوویشولے، غوړی یے واچول په دے کښ دوِلادت نه فراغت ؤشو، دننه نه حضرت اُمّ کلثوم رضی الله عنها اوازؤکړهٔ۔ اَمیرَالمؤمنین! خپل دوست ته دهلک د پیدا کیدو زیرے ورکړه۔ د "اَمیرَالمُؤمِنِین" لفظ کله چه هغهٔ سړی واوریدهٔ، نو ډیر ؤبَریدهٔ۔ دوی مبارك ورته ؤفرمایل، دویرے خبره نهٔ ده، هغه کټوئ یے خیمے سره کیخوده چه په دے ښځے څهٔ اُوخورَوَیْ۔ حضرت اُمّ کُلثوم رضی الله عنها په هغے اُوخورَوَله۔ دے نه پس یے کټوئ بهر ورکړه۔ حضرت عُمر رضی الله عنه هغه بانړ یچی ته اُووے چه واخلَه ته هم ؤخورَه، ټوله شپه دِ شوکیره کښ تیره شوه۔ دے نه پس یے خپله بی بی ځان سره کړه، کورته یے تشریف راوړهٔ، او هغه صاحب ته یے ؤفرمایل چه صبا ته راشه ستا د پاره به اِنتظام اُوکړے شی۔ (اشهر)

فائده: زمونږ د زمانے څوك بادشاه یا رئیس ته، څوك د معمولی

Maktaba Tul Ishaat.com

حیثیت مال ارهم دا سے شته چه دغریب په ضرورت کښ دمسافر دمداد دپاره دغه شان خپله بی بی دشپې ځنګل ته بوزی، او په خپله تنری کښ اُوربلول پخول اُوکړی. مالدار خو پریږده، ځولك دینداره هم داسے کوی. سوچ کول پکاردی، چه دچامونږ نوم آخلو، او دچا په شان دبرکتونو هره خبره کښ اُمید ساتو، آیا څهٔ کارهُم مونږ دهغوئ په شان کړو؟

⑨ دحضرت ابوطلحه رضی الله عنه باغ وقف کول

حضرت آنس رضی الله عنه فرمائی چه ابُوطلحه رضی الله عنه دمدینے منورے انصارو کښ دټولو نه زیات او دټولو نه دلوئ باغ مالک وُو، دهغهٔ یو باغ وُو چه دهغے نوم بَیْرُحَاء وُو، هغه ددهٔ ډیر زیات خوښ وُو، مسجد نبوی ته نزدے وُو، اُوبهٔ هم پکښ ډیرے خوږے او زیاتے وے، نبی علیه الصلوٰة والسلام په اکثر هغے باغ ته تشریف اُوړهٔ. او دهغے اُوبهٔ به یے څښلے. کله چه دقرآن شریف آیت لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ط (آل عمران) (تاسو دنیکئ کامله درجے ته نهٔ شئ رسیدے، ترکومه چه تاسو دداسے څیزونو نه خرچ اُونکړئ کوم چه تاسو ته خوښ دی) نازل شو، نو ابوطلحه رضی الله عنه دنبی علیه الصلوٰة والسلام په خدمت کښ حاضرشو اوعرض یے وُکړهٔ چه ماته خپل باغ بَیْرُحَاء دټولو نه زیات خوښ دے. او د الله تعالیٰ اِرشاد دے چه خوښ مال دالله تعالیٰ په لاره کښ خرچ کوئ. په دے وجه هغه دالله تعالیٰ په لاره کښ ورکوم. تاسو چه څنګه مناسب کنړئ هغه خرچ کړئ، نبی علیه الصلوٰة والسلام ډیر زیات خوشاله شو او وے فرمایل چه ډیر ښهٔ مال دے، زهٔ دا مُناسب ګڼړم چه دا په خپلو خپلوانو کښ تقسیم کړهٔ. ابُوطلحه رضی الله عنه هغه خپلو رشته دارانو کښ تقسیم کړو (درمنثور)

فائده: مونږ هُم چرے خپل دټولو نه خوښ مال جائیداد په یونیم وعظ آوریدو سره، یا دقرآنِ پاك څهٔ آیت لوستو یا آوریدو سره دغسے یے دریغه خیرات کوو. که چرے دوقف وغیره خیال هم راشی نو چه دژوندنه نا اُمیده شُو، یا وارثانو نه خفه شُو، دهغوی محرومه کولو په نیت سره کوو، او کلونه دهٔ سوچ کښ لګوُو چه څهٔ طریقه داسے پیدا شی چه زما په ژوند کښ

خوزما په کار راشي، روستو چه څهٔ وي هغه دِ کیږي، البته که دُنوم او خودنے څهٔ شیزوي، دو ادهٔ کو یږدنے څهٔ مجلسونه وي نو رسودي قرضے نه هم اِنکار نهٔ کؤو.

⑩ د حضرت ابوذر رضی الله عنه خپل خادم ته تنبیه ورکؤل

حضرت اَبُوذَر غِفاري رضی الله عنه مشهور صحابي دے چه د هغهٔ د اسلام راوړلو قصه داول باب په پنځم نمبر کښ تیره شوے ده، دے دلوبو زاهدانو خلقونه وُو، مال به نهٔ خپل ځان څخه جمع کؤو نهٔ یے داغوښتله چه بل خوك یے جمع کړي. دمالدارانو سره به همیشه په جنګ وُو. په دے وجه د حضرت عُثمان رضی الله عنه په حکم رَبَذه کښ اُوسیدهٔ چه په ځنګل کښ یو معمولي غوندے آبادي وه. حضرت اَبُوذَر رضی الله عنه سره څو اُوښان وُو او یو کمزورے ضعیف غوندے خَرَوُنکے وُو چه د هغے خبرګیري به یے کؤله. په دے یے ګذاره وه. یو کس د قبیله بَنُوسُلَیم د دوی په خدمت کښ حاضر شو، او دا اِرزو یے ښکاره کړه چه زهٔ ستاسو په خدمت کښ اُوسیدل غواړم، چه ستا سود فُیُوضَاتُو نه فائده حاصله کړم. زهٔ په دخرؤ نګی مدد کؤمه، او ستا سود برکاتو نه به فائده هم حاصلؤمه. حضرت اَبُوذَر رضی الله عنه اِرشاد اُوفرمایهٔ چه زما دوست هغه دے چه زما حکم مَنی. که چرے نهٔ زما حکم منلو ته تیار یے نو په شوق سره اُوسه. که خیره نهٔ مَنے نو ستا ضرورت نشته. سُلَیمي صاحب عرض اُوکړهٔ چه په څهٔ څیزکښ تاسو خپل اطاعت غواړئ؟ وِدے فرمایل چه کله زهٔ د خپل مال نه د څهٔ خرچ کؤلو حکم اُوکړم، نو ښهٔ نه ښهٔ مال دِ خرچ کړے شي، هغه وائي چه ما قبوله کړه، او ورسره ډیره شوم. اتفاقاً یوه ورځے دوی ته چا اُوویل چه اُوبو باندے څه خلق اُوسي، ضرورت مند دي، دخوراك محتاج دي. ما ته یے وُفرمایل یَواُوښ راوَله. زهٔ لاړم ما اُولیدل چه یو ډیر ښه، ډیر قیمتي، ډیر په کار راتلونکے اُوسُوَرلئ کښ فرمانبرداره اُوښ دے. مادوعدے موافق د هغهٔ د بوتلو اِرادهٔ اُوکړه، خو خیال مِ اوکړهٔ چه غریبانانو باندے خوړل خو دي. آودا

Maktaba Tul Ishaat.com

اُوښ پېرزيات په کار راتلونکے دے، دحضرت ابو دهغهٔ دمُتعلقينو دضرورت دے، هغهٔ ړم پرېخودهٔ، دهغهٔ نه لږ دکے درجے ښه اُوښه چه دهغے اُوښ نه علاوه باقي دنورو ټولونه بهتره وه، ماوا خستله خدمت کښې حاضر شوم. وے فرمايل چه تاخيانت اُوکړهٔ. زهٔ پوهه شوم او واپس راغلم، هُم هغه اُوښ م پُوتلو. ورسره تاستوکسانوته ئے وُفرمايل، دوه سړی دا سے شته چه الله تعالیٰ د پاره يوکار اوکړی؟ دوه سړی را پاسيدل خپل ځان ئے پيش کړو. وے فرمايل دا ذبح کړئ، او دذبح کولونه پس ئے غوښه پرېکړئ، څومره کورونه چه اُوبو باندے آباد دی، هغه شمار کړئ، او دا بُوذر يعني زما کورهم دهغوی نه يو شمار کړئ، او ټولو باندے ئے برابره تقسيم کړئ. زما کورته دِ هم هغومره لاړه شي څومره چه په هغوی کښې هريوکس ته ځي. هغوی هُم دغسے اُوکړل او تقسيم ئے کړه. دے نه پس ئے زهٔ را وُبللم، وے فرمايل چه تازما وصيت د ښهٔ مال خرچ کولو په قصد سره پرېخودهٔ يا درنه هيره شوے وه؟ کهٔ چرے درته هېر شوے وُو نو معذوره يے. ما عرض اوکړهٔ چه هير شوے راته نهٔ وُو، ما په اول کښې هم هغه اُوښ آخستلے وُو. خو ماته خيال راغے چه دا ډير په کار راتلونکے دے. تاسو ته اکثر دد ے ضرورت وی. صرف دد ے وجه نه م پرېخودے وُو، وے فرمايل چه صرف زما دضرورت د پاره د پرېخودے وُو. عرض م اوکړهٔ چه صرف ستاسو دضرورت د پاره م پرېخودے وُو. وے فرمايل چه دخپل ضرورت ورځ درته وُښايم؟ زما دضرورت ورځ هغه ده، کومه ورځ چه زهٔ د قبر په کنده کښې يوائے واچولے شم. دغه ورځ زما دضرورت او دحاجت ده. مال کښې درے حصه داران دی. يو تقدير چه دمال په اُوړلو کښې دهيڅ څيز انتظار نکوی. ښهٔ او بد هرقسمه اُوړی. دوئيم وارث چه ددے په اِنتظار کښې دے چه ته مړ شے، نو هغهٔ ئے واخلي. او درئيم حصه دار تهٔ په خپله ئے. کهٔ چرے کيدے شي او ستا په وَس کښې وی، نو درے وارو حصه دارانو کښې د ټولو نه زيات عاجز مهٔ جوړيږه. د الله تعالیٰ اِرشاد دے. لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ (آل عمران) په دے وجه چه کوم مال ماته د ټولونه زيات خوښ دے هغه

زۀ د خپل ځان د پاره مخکښې ولیږم چه هغه ځما د پاره جمع شي - (دُرِمنثور)

فائده: د دې وارۀ حصه دارانو کښې د ټولو نه زیات عاجزنه جوړیږي و مطلب دا دے چه څوک بے شي خپل ځان د پاره د آخرت ذخیره جمع کړه دا سے نۀ وي چه مُقدّر غالب شي او هغه مال درنه ضائع شي یا ته مړ شې او هغه د نورو په قبضه کښې راشي چه رستو څوك د چا تپوس نۀ کوي - آل اولاد ښځه بچي ټول به لږ بے پړے ورځے وُژاړي، بیا به چُپ شي - دا سے (خلق) ډیر کم وي چه د مړي د پاره هُم څۀ صدقه خیرات وُکړي او هغه یاد کړي - یو حدیث کښې د نبي علیه الصلوٰة ارشاد راغلے دے، بنیادم وائي، زما مال زما مال، حال دا دے د دۀ مال صرف هغه دے کوم یے چه اُوخوړ او ختم یے کړۀ - یا یے واغوستۀ اوزوړ یے کړۀ، یا د الله تعالیٰ په لاره کښې یے خرچ کړو او خپل ځان د پاره یے خزانه کښې جمع کړۀ - د دے نه علاوه هر څۀ چه دي هغه د نورو مال دے، د خلقو د پاره یے جمع کوي - یو حدیث کښې راغلي دي چه نبي علیه الصلوٰة پو ښتنه اُوکړه، تاسو کښې دا سے څوك دے چه هغۀ ته د خپل وارث مال د خپل مال نه زیات خوښ وي؟ صحابو عرض وُکړۀ، اے د الله رسوله! دا سے به څوك وي چه هغۀ ته د نورو مال د خپل مال نه زیات خوښ وي - نبي علیه الصلوٰة وُفرمایل چه خپل مال صرف هغه دے چه مخکښې اُولیږلے شي - او کوم چه پریخودے شي هغه د وارث مال دے - (مشکوٰة)

 د حضرتِ جعفر رضی الله عنه قصه ؓ

حضرت جعفر طیّار رضی الله عنه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د تره ځوئ او د حضرت عَلي رضی الله عنه حقیقي رور وُو، اول خو دا ټول کورنئ او خاندان بلکه آل اولاد یے په سخاوت، کرم، شجاعت، بهادرئ کښې مُمتازه (اُوچت) وُو، او دی - خو حضرت جعفر رضی الله عنه به مسکینانو سره خاص تعلق ساتلو، او زیاته ناسته پاسته به یے غریبانو سره وه، د کافرانو د تکلیف نه تنګ شو، نو اول یے د حبشے هجرت اُوکړۀ - کافران ورپسے هلته هم لاړل، نو د نجاشي په دربار کښې یے خپله صفائي پیش کړه، چه د هغې قصه د اول باب لسم نمبر کښې تیره شوه - د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه ځائ نه واپسئ بانده بے دمدینې منورے هجرت اُوکړۀ، او دمؤته غزا کښې شهید شو، چه دهغې قصه دراتلونکی باب په ختم بانده راځی - ددۀ د وفات په خبر نبی علیه السلام ددۀ کور ته غمرازئ دپاره تشریف یوړۀ ، او ددۀ ځامن عبد الله او عون او محمد یے راوُغوختل - دوی ټول کم عُمره وُو ددوی په سرونو یے لاس راخکو او دبرکت دُعا یے ورته اُوکړه په ټولو کښې پلار رنګ وُو، خو عبد الله کښې دسخاوت صفت ډیر زیات وُو، په دے وجه ددۀ لقب قُطبُ السَّخَاء (دسخاوت قُطب) وُو- دا وُو کالو په عُمر کښې یے نبی اکرم ﷺ ته بیعت یعنی لاس نیوه اوکړه - چا دا عبد الله بن جعفر رضی الله عنه حضرت علی کرم الله وجهه ته سفارشی یو تلو، ددۀ په سفارش دهغۀ کار اُوشو - بیا هغې کس دنذرانے په طور څلوېښت زره روپئ دۀ ته راوُلیږلے - دوی واپس کړے چه مونږ خلق خپله نیکی نۀ خرڅوُو - یو وارے چرته نه دوه زره روپئ نذرانه کښې راغلے، هم هغې مجلس کښې یے تقسیم کړے - یو سوداګر ډیره شکره راوړه، خو بازار کښې خرڅه نۀ شوه، هغۀ سره فکر او غم شو - عبد الله بن جعفر رضی الله عنه خپل کارکونکو ته اُووے چه ټوله شکره ددۀ نه په بَیعه واخلئ او په خلقو کښې یے مُفته تقسیم کړئ - دشپے چه په قبیله کښې څوک میلمه راتلو، هغۀ به ددۀ دکوره خوراک څښکاک هر قسمه ضرورتونه پوره کوُل - (اِصَابَۀ)

حضرت زُبَیر رضی الله عنه یو جنګ کښې شریک وُو، یوه ورځ خپل ځوئ عبد الله ته یے وصیت وُکړۀ چه زما خیال دادے چه نن به زۀ شهید کیږم، ته زما قرض اَدا کړه، اَو فلانے فلانے کار اوکړه - دا وصیتونه یے وُکړل، هم هغه ورځ شهید شو - ځوئ دقرض حساب وُلګوُو، نو دوه ویشت لکهه روپئ وے - او قرضه پرے دارنګے شوے وه چه ډیر امانتدار مشهور وُو، خلقو به خپل خپل امانتونه ډیر زیات ورسره ایښودل - دۀ به ورته وُفرمایل چه دا ښودو ځائ څو ما سره نشته، دا رقم دے په ما قرض دے، کله چه تا ته ضرورت شی، نو اَخله - دا به یے ورته اُووے، هغه مال به یے صدقه کړو - او دا یے هم وصیت کړے وُو چه کله څۀ مشکل پیښ شی، نو زما مولیٰ ته وایه - عبد الله رضی الله عنه وائی، چه زۀ په مَولیٰ پوهه نۀ شوم - ما ترے تپوس اوکړۀ چه ستا سو مولیٰ څوک

دے ؛ وے فرمایل الله تعالیٰ ۔ دغسے حضرت عبد الله رضی الله عنه تبوله قرضه ادا کړه ۔ وائی چه کله به څۀ تکلیف پیښ شو، ما به وے اے دزُبَیر مولیٰ! فلانے کار نۀ کیږی، هغه به فوراً اُوشو ۔ دا عبدالله بن زُبیر رضی الله عنه فرمائی چه ما یو ځلے عبد الله بن جعفر رضی الله عنه ته اُووے چه زما د پلار د قرضے په فهرست کښې ستاسو په ذمه لس لکهه روپئ دی ۔ وے فرمایل چه کله د خوښه وی واخله ۔ دے نه پس معلومه شوه چه ما نه غلطی شوے وه ۔ زۀ دوباره لاړم ورته مې اُووے چه هغه خوستا سو هغۀ په ذمه دی ۔ وے فرمایل چه ما مُعاف کړے ، ما ورته اُووے چه مُعاف کول نۀ غواړم ۔ وے فرمایل (ښه ده) چه کله تا ته اسانه وی نو را کړه ۔ ما اُووے چه د دے په بدله کښې زمکه واخله ، دغنیمت په مال کښې ډیره زمکه راغلے ده ۔ عبد الله بن جعفر رضی الله عنه وُفرمایل ښه ده ۔ ما یوه زمکه هغۀ ته ورکړه چه دمعمولی حیثیت وه اُوبۀ وغیره هُم په هغے کښې نۀ وے ۔ هغوی فوراً قبوله کړه ، اَوغلام ته یے اُووے چه په هغے زمکه کښې جانماز وُغوړوه ، هغۀ جانماز اُوغوړ وُو ۔ دوه رکعته مونځ یے اُوکړۀ او ډیر ساعته پورے سجده کښې پروت وُو ۔ د مانځه نه چه فارغ شو ۔ غلام ته یے اُووے چه دا ځائ اُوکنوه ، هغۀ کنستل شروع کړل ۔ دا اُوبۀ یوے چینے د هغے ځائ نه جوش اُووهلۀ ۔ (اُسُدُالغَابہ)

فائده: د دے حضراتو صحابه کرامو رضی الله عنهم سره دا او د دے قسمه څیزونه کوم چه په دے باب کښې لیکلے شوی دی ، څۀ لویه خبره نۀ وه ۔ د دے حضراتو عام عادتونه هُم دا سے وُو ۔

اُووم باب

بهادری ، زړۀ ورتوب او د مرګ شوق

(د مرګ د شوق) لازمی نتیجه بهادری ده ، چه کله سړے د سر نه اُودانګی ، نو بیا هر څۀ کولے شی ۔ ټوله بُزدلی ، سوچ فکر د ژوندن د پاره وی ۔ او کله چه د مرګ شوق پیدا اشی ، نو نۀ د مال محبت پاتے کیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

نۀ دُ دُشمن ویره - ارمان ! چه ما ته هم دد ے ربښتینو په طُفیل
دا دولت نصیب شو ے -

(۱) دحضرت اِبنِ جَحش او دحضرت سَعد رضی الله عنهما دُعا

حضرت عبد الله بن جَحش رضی الله عنه په غزوۀ اُحد کښ حضرت سَعد بن اِبی وقاص رضی الله عنه ته اُووے چه اے سَعد ه ! راځه چه په جَمع دُعا اُوکړو هرکس دِ دخپل ضرورت موافق دُعا اُوکړی ، دوېم دِ پرے آمین وائی ، چه دا قبلید و ته زیاته نزدے ده - دوا ړه حضرات یو کوټ ته لاړل دُعا یے اُوکړه - اول حضرت سَعد رضی الله عنه دُعا اُوکړه یا الله ! کله چه صبا ته جنګ وی ، نو زما په مقابله کښ یو لوئ بهادر راو ړلے چه سخته حمله کوُنکے وی ، هغه په ما سخته حمله اوکړی ، اَو زۀ هُم په هغهٔ زوردا ره حمله اُوکړم - بیا ما ته په هغهٔ فتح نصیب کړے - چه هغه زۀ ستا په لار کښ قتل کړم - او غنیمت یے حاصل کړم - حضرت عبد الله رضی الله عنه پرے آمین اُووے ، دے نه پس حضرت عبد الله رضی الله عنه دُعا وُکړه - یا الله ! صبا په میدان کښ یو بهادر سړه زما مقابله اُوکړے چه سخت حمله کوُنکے وی زۀ په هغهٔ سخته حمله اوکړم ، اَو هغه هُم په ما زبردسته حمله اُکړی ، او بیا هغه ما شهید کړی - بیا زما پوزه غوږونه پریکړی - بیا قیامت کښ چه کله ستا په حضور کښ پیشی اُوشی - نو ته اُووایے چه اے عبد الله ! ستا پُوزه غوږونه وَلے پریکړے شو ؟ زۀ عرض وُکړم ، یا الله ! ستا او ستا د رسول صلی الله علیه وسلم په لاره کښ پریکړے شو - بیا ته اُووایے ، چه ربښتیا دی ، زما په لاره کښ پریکړے شُو - حضرت سَعد رضی الله عنه پرے آمین اُووے - دوېمه ورځ جنګ وُشو ، ددوا ړو حضراتو دُعا ګانے هم هغسے قبولے شوے چه څنګه یے غوښتلے وَے - (خمیس) سعد رضی الله عنه وائی چه دعبد الله بن جحش رضی الله عنه دُعا زما دُعا نه بهتره وه - ما بیګا ما اُولیدل چه دهغهٔ پوزه غوږونه په یو تار کښ پیئلے شوی وُو - داُحد په جنګ کښ ددهٔ تُوره هُم ماته شوے وه - نبی علیه الصلوٰة والسلام ورته یو ه څانګه ورکړه چه ددهٔ په لاس کښ توره جوړه شوه ، او پرے موده پورے روستو هم دغه رنګے وه چه بیا په دوه سوه دیناره خرڅه

شوه - (اصابه) دینار د سرو زرو دیوے سِکے نوم دے -

فائده: دے قصه کښې چه یو خوا کمالِ بهادری ده چه د بهادر دُشمن سره د مُقابلے ارزو او شوق دے، هلته بل خوا کمالِ عشق هم دے چه د محبوب په لار کښې د بدن ټکړے ټکړے کیدلو تمنا کوی، او اخر کښې چه کله هغه تپوس اوکړی چه دا ټول ولے وُشو، نو زړهٔ عرض وُکړم چه ستا د پاره - سه

رہے گا کوئی تو تیغِ ستم کے یادگاروں میں ؛ مرے لاشے کے ٹکڑے دفن کرنا سو مزاروں میں

"څرنګه یوه ټکړه خوبه د ظُلم د توریے د نښے په طور پاتے شی - زما د وُجود ټکړے ستا لو قبرو تو کښې دفن کړه"

② د اُحُد جنګ کښې د حضرت علی رضی الله عنه بهادری

غزوهٔ اُحُد کښې مسلمانانو ته څهٔ شکست شوے وُو چه د هغې لویه وجه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په یو ارشاد عمل نه کُول وُو چه د هغې ذِکر د اول باب دویمه قصه کښې تیر شوے دے - دغه وخت مسلمانان د څلورو اړه طرفه د کافرانو په مینځ کښې راګلل چه په دے وجه ډیر خلق شهیدان شول - او څهٔ اُو تختیدل - نبی اکرم صلی الله علیه وسلم هم د کافرانو دیوے ډلے په مینځ کښې راغے، او کافرانو دا مشهوره کړے وه چه نبی علیه الصلوٰۃ والسلام شهید شو - صحابه رضی الله عنهم په دے خبر ډیر پریشانه شول، او په دے وجه ډیر اُو تختیدل - حضرت علی کرم الله وجهه فرمائی چه هر کله کافرانو مسلمانان ګیر کړل او نبی اکرم صلی الله علیه وسلم زما د نظر نه پناه شو - نو ما اول نبی علیه الصلوٰۃ والسلام په ژوندو کښې تلاش کړهٔ اوړم نهٔ موندهٔ - بیا مے شهیدانو کښې تلاش کړهٔ، هلته مے هم بیا نهٔ موندهٔ - نو خپل زړهٔ کښې مے اُووے چه دا سے خو کیدے نهٔ شی چه نبی علیه الصلوٰۃ والسلام د جنګ نه تختیدلے وی - دا سے معلومیږی چه الله جل شانهٔ زمونږ د عملونو په وجه په مونږ باندے ناراضه شو، حُکه یے خپل پاک رسول صلی الله علیه وسلم اسمان ته اُوچت کړهٔ - اُوس د دے نه بهتر بل څهٔ علاج نشته چه زهٔ هُم توره واخلم او د کافرانو په ډله کښې ننوزم - تر دے چه شهید شم - ما توره واخسته حمله مے اوکړه، تر دے چه کافران د مینځ نه اخوا شو -

Maktaba Tul Ishaat.com

اوزما نظر په نبی اکرم ﷺ پریوت، نو پېرزیات خوشاله شوم، آوزهٔ پوهه شوم چه الله جل شانهٔ د ملائکو په ذریعه دخپل محبوب ﷺ حفاظت اُوکړهٔ، زهٔ لاړم نبی علیه الصلوٰة سره وُدریدم چه ډلے په ډلے کافرانو په نبی علیه الصلوٰة د حملے د پاره راتلے ۔ نبی علیه الصلوٰة وُفرمایل، اے علی! دوی منع کړه ۔ ما یواځے د هغے ډلے مقابله اوکړه، اود هغوی څ م واړهٔ وُو ۔ او بعضے م قتل کړل دے نه پس یوه بله ډله نبی علیه الصلوٰة باندے د حملے په نیت راخکښ شوه، نبی علیه الصلوٰة بیا حضرت علی رضی الله عنه طرف ته اِشاره وُفرمایله، هغوی بیا په یواځے تن د هغے مقابله وُکړه ۔ دے نه پس حضرت جبریل علیه السلام راغے او دحضرت علی رضی الله عنه د دے بهادرئ اود مد د تعریف یے وُکړهٔ ۔ نو نبی علیه الصلوٰة وُفرمایل، اِنَّهٗ مِنِّیْ وَاَنَا مِنْهُ ۔ "بے شکه علی زما نه دے اوزهٔ د علی نه یم" ۔ یعنی کامل اِتحاد طرف ته یے اِشاره وُفرمایله ۔ نو حضرت جبریل علیه السلام عرض وُکړهٔ، وَاَنَا مِنْکُمَا زهٔ ستاسو دواړو نه یم ۔ (قرۃ العیون)

فائده: د ایکی یواځے سړی د یو ے ډلے سره مقابله کول اود نبی اکرم ﷺ مُقدّس ذات ته موندل، د شهادت په نیت د کافرانو په ټولکی کښ ورننوتل که یو طرف ته د نبی علیه الصلوٰة سره د ریښتنی مُحبّت او عشق پته ورکوی، نو بل طرف ته د کمال بهادرئ، دلیرئ او زړهٔ ورتوب نقشه هم ده ۔

③ د حضرت حَنْظَلَه رضی الله عنه شهادت

غَزوهٔ اُحُد کښ حضرت حنظله رضی الله عنه د اول نه شریک نهٔ وُو، وائی چه د دهٔ نوے وادهٔ شوے وُو، د شپے بی بی سره یوځائی شوے وُو ۔ دے نه پس سَحر یے د غُسل تیاری کوله، او د غُسل د پاره ناست هم وُو ۔ سریے ونیځلو چه یو دَم یے د مسلمانانو د شکست آواز په غوږ کښ پریوت چه د هغے طاقت یے وُنهٔ لرلے شو، هُم په دے حالت کښ یے توره په لاس کښ واخسته، او د جنګ میدان ته وُرِاندے شو، او په کافرانو یے حمله اُوکړه او برابر په وُړاندے روان وُو، چه هُم په دے حالت کښ شهید شو چونکه شهید که چرے جَنابت کښ نهٔ وی نو بغیر غسل ورکولو دفن کولے شی

نو دَ سره یې هم دغسې اُوکړه، خو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم وُلیدهٔ چه ملائکې دهٔ ته غسل ورکوی. نبی علیه الصلوٰة والسلام صحابو ته د ملائکو د غسل ورکولو حال اُووې۔ ابو سعید ساعدی رضی الله عنه فرمائی چه ما د نبی علیه الصلوٰة والسلام دا ارشاد واؤریدهٔ نو لاړم، حنظله مِ اُوکتهٔ، نو دهغهٔ د سر نه دغسل اُوبهٔ څڅیدلے۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د اُحُد نه په واپسئ کښې تحقیق اُوفرمایهٔ نو بغیرِ غُسله د تلو قصه ورته معلومه شوه۔ (ایضًا)

فائده: دا هم کامله بهادری ده۔ بهادر سړی ته خپله اراده کښې تاخیر کول گران وی۔ په دے وجه یې دومره انتظار هم اُو نهٔ کړو چه غسل یې پوره کړے وے۔

(۴) د حضرت عمرو بن جموح رضی الله عنه د شهادت ارزو

حضرت عمرو بن جَمُوح رضی الله عنه په پښه گډ وو، شلو رخامن یې وو، چه اکثر به د نبی علیه الصلوٰة والسلام په خدمت کښې حاضر وو، او جنگونو کښې به شریکیدل۔ غزوهٔ اُحُد کښې عمرو بن جموح رضی الله عنه ته هم دا شوق پیدا شو چه زهٔ هم لاړ شم۔ خلقو ورته اُووے چه تهٔ معذور یې۔ ډگډ والی په وجه درته تلل گران دی۔ دهٔ ورته وُفرمایل چه دا څو مره بده خبره ده چه زما خامن خو جنت ته لاړ شی، او زهٔ دِ پاتے شم، بی بی یې هم د تیارولو د پاره ورته د پیغور په طور اُووے، چه زهٔ وینم چه تهٔ د جنگ نه راتختیدلے بیرته راغلے یې۔ عمرو رضی الله عنه چه دا واؤریدل وسله یې واخسته او قبلے طرف ته مخ کړو، دُعا یې وُکړه، اَللّٰهُمَّ لَا تَرُدَّنِیْ إِلٰی اَهْلِیْ۔ (اے الله! ما دِ خپل اهل ته واپس رامهٔ وَلے) دے نه پس د نبی علیه الصلوٰة والسلام په خدمت کښې حاضر شو، او د خپل قوم منع کولو او د خپل خواهش اظهار یې اُوکړهٔ، او دا یې اُووے چه زهٔ اُمید کوم چه په دے خپله گډه پښه جنت کښې وُگرزم۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل چه الله تعالیٰ تهٔ معذور کړے یې۔ نو په تهٔ تلو کښې څهٔ نقصان دے؟ دهٔ بیا خپل خواهش او شوق ښکاره کړهٔ۔ نو نبی علیه الصلوٰة والسلام اجازت ورکړهٔ۔ ابو طلحه رضی الله عنه فرمائی چه ما

Maktaba Tul Ishaat.com

عَمرو په جنګ کښې اُولیدۀ چه سینه و ښتلې ېنغ روان وُو، آرویل یې چه په الله تعالیٰ م قسم وی، چه زۀ دجنت شوقین یم۔ ددۀ یو ځوئ هم دۀ پسې په منډه تلو، دواړه جنګیدل تردې چه دواړه شهیدان شول - ددۀ بی بی دخپل خاوند او ځوئ لاشونه په اوښ واچول، دښن کولو دپاره یې مدینې ته راوړل، نو هغه اُوښ کیناستو، په ډیر تکلیف یې په وَهلو پا سَوَو اومدینې ته دراوَستو کوشش یې وُکړۀ، خو هغه اُوښ په اُحُد طرف ته مخ کولو۔ ددۀ بی بی نبی علیه السلام ته ذکر وُکړۀ۔ نبی علیه السلام ورته وُفرمایل چه اُوښ ته هُم دا حکم دے، آیا عَمرو دکورنه دَتلو په وخت څۀ ویلی وُو؟ هغې عرض وُکړۀ چه قبلې طرف ته یې مخ کړو، دا دُعا یې ویلې وه۔ اَللّٰهُمَّ لَا تَرُدَّنِیْٓ اِلٰٓی اَهۡلِیۡ۔ نبی علیه السلام وُفرمایل، هم په دے وجه اُوښ کور طرفته نۀ ځی۔ (قُره)

فائده: دا دے نوم دے دجنت شوق، او هم دا دے هغه ریښتنے عِشق دالله تعالیٰ او د هغۀ درسول صلی الله علیه وسلم چه ددے په وجه صحابه رضی الله عنهم دکوم ځائ نه کوم ځائ ته وُرسیدل۔ چه د هغوی جذبے د مرګ نه پس په هم هغسے دے۔ ډیر کوشش یې وُکړو چه اُوښ مدینے ته لاړ شی، خو بیا په هغه کیناسته، یا په اُحُد طرف ته روانیدۀ۔

⑤ دحضرت مُصعَب بن عُمیر رضی الله عنه شهادت

حضرت مُصعَب بن عُمیر رضی الله عنه د اِسلام راوړلو نه ړومبے ډیر په ناز پالَلے شوے وُو، او د مالدارو هلکانو نه وُو۔ ددۀ پلار به دۀ دپاره ددوه دوه ؤ سَوَو دِرهَمو جوړه اَخِستله، ورته به یې اَغوستوله۔ دنوی عُمر ځلمے وُو، ډیر په ناز او نعمت کښې لوئ شوے وُو۔ د اسلام شروع زمانه کښې دکور دخلقو نه په پټه مسلمان شو، آو په دے حالت کښې اُوسیدۀ، چه چا دۀ کوروالو ته خبر ورکړۀ۔ هغوی دے اُوتړۀ، قید یې کړۀ۔ څۀ وُرځے یې په دے حالت کښې تیرے کړے، آوکله یې چه موقع بیا موندۀ نو په پټه اُو تختیدۀ، او کومو خلقو چه حَبشے ته هجرت کولو، هغوی سرۀ یې هجرت اُوکړۀ آو لاړو۔ د هغۀ ځائ نه چه واپس راغے، نو مدینے منوّرے

ته یې هجرت اُوکړهٔ - دژهن اودغریبئ ژوند یې تیرولو، اودا سې ذنګسیا حالت یې وُو، چه یو ځلې نبی اکرم ﷺ تشریف فرما وُو - حضرت مُصعب رضی اللہ عنہ یې مخکښ تیرشو - دهٔ سره صرف یو څادر وُو چه ځائې په ځائې شلیدلے وُو - او یو ځائې په کښې په ځائې دکپړے دڅرمنے پیوند لګیدلے وُو - نبی اکرم ﷺ ددهٔ ددے موجوده حالت او د هغې رومبی حالت ذکر وُکړهٔ، سترګے مبارکے یې داُوښکونه ډکے شوے - غزوهٔ اُحُد کښې مهاجرینو جهنډه ددهٔ په لاس کښې وه - کله چه مسلمانان دپریشانئ په حالت کښې خوارهٔ وارهٔ شو، نو دے کلک وَلاړ وُو - یو کافر ددهٔ خواله راغے، او په تُوره یې ترے لاس پریکړو چه جهنډه ترے پریوزی - او مسلمانانو ته ګویا بښکاره شکست اُوشی - دهٔ زربل لاس کښې جهنډه اواخستله - هغه کافر ترے بل لاس هم پریکړو - دهٔ دواړه مټے راغونډے کړے، او سینے سره یې جهنډه وُنخلوله چه پریوتهٔ نه زی - هغهٔ دے په غشی اُوولیشتهٔ، چه په دے سره شهید شو، خو په ژوند یې جهنډه پریوتو ته پرے نخودهٔ - دے نه پس جهنډه پریوته، چه زربل کس اُوچته کړه - هرکله چه ددهٔ د دفن کولو وارراغے، نو صرف یو څادر ورسره وُو، چه په ټول بدن سی نهٔ راتلو، کهٔ سَریه یې پټولو، نو پښے به یې بښکاریدے، او کهٔ په پښو به یې کولو، نو سر به یې بښکاریدهٔ - نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام اِرشاد وُفرمایهٔ چه څادر دِ د سَر له خوا کړے شی او په پښو دِ ورله سرکړے واچولے شی - (قُره - اِصَابہ)

فائده: دا آخری ژوند دے د هغې نازک او په ناز سره د پالَلے شوی چه د دوه وُ سوُو دِرهمو جوړه به یې آغوستله، چه نن هغهٔ ته دکفن یو څادر هُم پوره نهٔ مِلاویږی، او په ځے یې همت دا دے چه په ژوند یې جهنډه پرے نخودهٔ - دواړه لاسونه یې پریکړے شُو خو بیا یې هم پرے نخوده ده ډېر په ناز پالَلے شوے وُو - خو ایمان ددے خلقو په زړهٔ نو کښې څهٔ دا رنګے مضبوط شوے وُو، چه بیا به دے ایمان دغه کس دځان نه سِوا هیڅ یو څیز ته نهٔ پریخودهٔ - روپئ پیسے، راحت او آرام دهرقسمه څیز ته یې لرے کړے وُو - او خپل ځان به یې دایمان محنت کښې لګولو -

Maktaba Tul Ishaat.com

⑥ دقادِسِیَّه په جنګ کښې دحضرت سعد رضی الله عنه خط

دعراق دجنګ په وخت دحضرت عُمر رضی الله عنه اراده په خپله جنګ کښې دشرکت کولو وه - عامو او خاصو دواړه قسمه ډلو سره څوور څو پورې دے کښې مشوره کیده له چه دحضرت عُمر رضی الله عنه په خپله شریکیدل زیات مناسب دی یا مدینه کښې پاتے شی، اود لښکر روانولو انتظام زیات مناسب دے - دعوامو رائے وه چه په خپله شرکت مناسب دے اودخواصو رائے وه چه دویم شکل زیات بهتر دے - دمشورو په خبرو کښې دحضرت سَعد بنِ اَبی وقاص رضی الله عنه ذکرهُم راغے - دَے ټولو خوښ کړۀ - کهٔ چرے دَے اُولیږلے شی، نو ډیر مناسب دے - بیا دحضرت عُمر رضی الله عنه دتلو ضرورت نشته - حضرت سَعد رضی الله عنه لوئ بهادر دعربو زمرو کښې شمارلے شو - لنډه دا چه هُم ددهٔ تجویز اُوشو، اَودَے اُولیږلے شو - کله چه په قادِسِیّه حَملے دپاره اُورسیدهٔ - نوشاهِ کِسرٰی ددهٔ دمقابلے دپاره رُستم چه مشهور پهلوان وُو، مقرر کړے وُو - رُستم خپل پُوره کوشش وُکړهٔ، اَو بادشاه ته یے بار بار درخواست اُوکړهٔ چه ما خپل ځان سره اُوساته - ویره پرے غالبه وه، خو بسکاره کوله یے دا چه زهٔ په دے ځائ نه دلښکر لیږلو او صلاح مشوره کښې مدد در کوم، خو بادشاه چه دهغهٔ نوم یَزْدَجَرْد وُو قبوله نکړه، او دمجبورئ نه په جنګ کښې شریک شو - (اشهر)

حضرت سَعد رضی الله عنه چه کله روانیدهٔ، نو حضرت عُمر رضی الله عنه دهٔ ته وَصیّت وُفرمایهٔ چه دهغهٔ دالفاظو مختصره ترجَمه دا ده - "سَعدَه! تا دِ دا خبره په دهوکه کښې وا نهٔ چَوی چه ته دنبی صلی الله علیه وسلم ماما یلے شے اَو دهغهٔ صحابی یے، الله تعالیٰ بدی په بدئ سره نهٔ وینځی، بلکه بدی په نیکئ سره وینځی - د الله تعالیٰ او دبندګانو ترمینځه هیڅ خپلولی نشته دهغهٔ په نزد صرف ددهٔ بندګی قبوله ده - دالله تعالیٰ په نزد شریف رذیل ټول برابر دی - ټول دهغهٔ بندګان دی - هغه دټولو رب دے دهغهٔ انعامات په بندګئ سره حاصلیږی - هر یو کار کښې هغه خیزګوره

چه کومه دنبی علیه السلام طریقه وه، هُم هغه دعمل خیزدے۔ زما دا نصیحت یاد ساته۔ ته یو پیر لوئ کار دپاره لیږلے شې چه دهغے نه خلاصے درته دحق په تابعدارئ سره کیدے شی۔ دخپل ځان او دخپلو ملګرو دتیګے عادت جوړکړه۔ د الله تعالیٰ خوف اختیار کړه۔ او د الله تعالیٰ خوف دوه ؤ خبرو کښ جمع کیږی۔ دهغهٔ په اطاعت کښ او دګناه نه پرهیز کولو کښ۔ او د الله تعالیٰ اطاعت چه چاته نصیب شوے دے۔ دُنیا سره دُبغض او د اٰخرت په محبت سره نصیب شوے دے۔ (اشهر)

دے نه پس حضرت سعد رضی الله عنه ډیر په خوشالئ سره لښکر و اخست روان شو چه دهغے اندازه د دے خط نه کیږی، کوم چه هغهٔ رستم نه لیکلے دے۔ په هغے کښ لیکی۔ فَاِنَّ مَعِیَ قَوْمًا یُحِبُّوْنَ الْمَوْتَ کَمَا یُحِبُّوْنَ الْاَعَاجِمُ الْخَمْرَ۔ "بے شکه ما سره داسے قوم دے چه مرګ داسے خوښوی څنګه چه تاسو شراب څکل خوښوئ۔ (تفسیر عزیزی اول)

فائده: دشرابو عاشقانو نه تپوس وُکړئ چه په دے کښ څهٔ مزه ده۔ کوم خلق چه مرګ داسے محبوب ګڼړی، کامیابی به ولے دهغوی قدمونه نهٔ ښکلوی۔

⑦ دحضرت وَهَب بن قَابُوس رضی الله عنه په اُحُد کښ شهادت

حضرت وَهَب بن قابوس رضی الله عنه یو صحابی دے چه څهٔ وخت کښ مسلمان شوے وُو، او یانړه کښ په یوکور کښ اُوسیدهٔ، چیلئ به یے څروَلے۔ خپل وُرارهٔ سره یے چیلئ په یو پړی کښ اُوتړلے۔ مدینے منورے ته اُورسیدهٔ، تپوس یے وُکړهٔ چه نبی علیه السلام چرته دے؟ معلومه شوه چه د اُحُد جنګ ته تلے دے۔ چیلئ یے هلته پریخودے، نبی علیه السلام ته ورغے۔ دے کښ یوه ډله دکافرانو حمله کولو ته راغله۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام ؤفرمایل چه څوك دوی خوارهٔ وارهٔ کړی، هغه به جنت کښ زما ملګرے وی۔ حضرت وَهَب رضی الله عنه په زوره تُوره چلول شروع کړل۔ او ټول یے لرے کړل۔ دویم وارے بیا هم دا حالت پیښ شو۔ دریم وارے بیا

Maktaba Tul Ishaat.com

هم دا سے وُشو۔ نبی علیه الصلوٰة دهٔ ته دجنت خوشخبری وَرکړه۔ دے اَوریدو
سره یے تُوره واخسته، دکافرانو په لښکر کښ ننوتهٔ او شهید شو۔

حضرت سَعْد بن اِبی وقاص رضی الله عنه فرمائی چه ما دوَهَب رضی الله عنه په شان زړهٔ ورتیا او بهادری دهیچا نهٔ ده لیدلے۔ شهید کیدو نه پس نبی علیه الصلوٰة ما اُولیدهٔ چه دوَهب سرطرف ته وَلاړ وُو۔ اِرشاد یے وُفرمایهٔ چه الله تعالیٰ دِ لَتا نه راضی شی، زهٔ لَتا نه راضی یم۔ دے نه پس نبی علیه الصلوٰة په خپله په خپل لاس مبارك دفن کړو۔ سره ددے چه په دے جنګ کښ نبی اکرم صلی الله علیه په خپله هم زخمی شوے وُو۔ حضرت عُمر رضی الله عنه به فرمایل چه زهٔ دچا عمل ته دومره نهٔ وُم پسخیدلے، څومره چه دوَهب رضی الله عنه عمل ته اُو پسخیدم۔ زما زړهٔ غواړی چه الله تعالیٰ ته ددهٔ په شان عمل نامه واخلم اُورَسم۔ (اصابہ۔ قرہ)

فائده: دهٔ باندے پسخیدل دهغے کارنامے په وجه وُو، چه ځان ته یے ځان اُونهٔ وتیلو۔ کنی په خپله دحضرتِ عُمر رضی الله عنه او د نورو حضراتو نورے کارنامے ددے نه ډیرے زیاتے دی۔

 دبیرِ مَعُوْنَه جنګ

دبیرِ مَعُوْنَه یو مشهور جنګ دے چه په دے کښ داوِیاؤ صحابو رضی الله عنهم یو لوئے جَماعت پوره په پوره شهید شو چه هغوی ته به قُرَّاء (قاریان) ویلے شو۔ ځکه چه ټول حضرات دقرآن مجید حافظان وُو۔ آو سِوا دیو څو مُهَاجرینو نه اکثر اَنصار وُو۔ دنبی علیه الصلوٰة دوی سره ډیر مَحَبت وُو۔ وَلے چه دے حضراتو به دشپے اکثره حصه ذکر او تلاوت کښ تیرَوُله، او دوُرځے به یے دنبی علیه الصلوٰة دبیبیانو دکورونو ضروریات لرګی اُوبهٔ وغیره پوره کوُل۔ دا مقبول جَماعت دنجد اوسیدونکی دبنی عامِر دقوم یو کس چه دهغهٔ نوم عامِر بن مالك او کُنیَت یے ابُوبَرَاء وُو خپل ځان سره په خپله پناه کښ دتبلیغ او وعظ په نامه بوتلی وُو۔ نبی اکرم صلی الله علیه ورته اِرشاد هُم فرملیے وُو چه ماته ویره ده چه چرته زما اصحابو

نه ضرر اُونهٔ رسی - خو دغےکس ډیره زیاته تسلی ورکړه - نبی علیه الصلوٰة والسلام داؤیا صحابه ورسره کړل - او یو خط یے د عامِر بن طُفیل په نامه چه د بنی عامر رئیس وُو، اُولیکهٔ چه په هغے کښ دا سلام دعوت وُو - دا حضرات د مدینے نه رُخصت شو - بیرِ مَعُونه ته اُورسیدل، نو اِیسارشو، او دوه ملګری یو حضرت عُمَربن اُمَیّه دویم حضرت مُنْذِر بن عُمَرد ټولو اُو بنـــان واخستل دځړولو د پاره لاړل - او حضرت حَرام رضی الله عنه دخپلو ملګرو نه دوه حضرات خپل ځان سره واخستل، عامِر بن طُفیل ته د نبی علیه الصلوٰة والسلام خط ورکولو د پاره یے تشریف یوړهٔ چه ترد ے اُورسیدل، حضرت حرام رضی الله عنه خپلو دواړو ملګروته اُووے چه تاسو دلته اُودریږیٔ، زهٔ مخکښ وَرځَم، که چرے ما سره څهٔ دهوکه وُنهٔ شوه، نو تاسو هم راشئ - کنی د دے ځائ نه واپس شئ چه د دریو د مرهٔ کیدلو نه دیو مړکیدل بهتر دی عامِر بن طُفیل د دے عامر بن مالك وُرارهٔ وُو چا چه د ا صحابه رضی الله عنهم ځان سره راوستلی وُو - د عامر بن طُفیل د اِسلام او د مسلمانانو سره سخته دُشمنی وه - حضرت حرام رضی الله عنه چه خط ورکړهٔ، نو دهٔ د غُصے نه آړو اُونهٔ لوستهٔ بلکه حضرت حرام رضی الله عنه یے داسے په نیزه اُووَهلهٔ، چه پورے راپورے تیرے اُووَتله - حضرتِ حرام رضی الله عنه فُزْتُ وَرَبِّ الْکَعْبَةِ" (دکعبے په رب مِ د قسم وی زهٔ کامیاب شوم) اُووے په حق وُرسیدهٔ - دهٔ د دے هم پروا ه وُنکړه چه د قاصد وَژل دهیځ یو قوم په نزد جائزنهٔ دی - او نهٔ یے د دے لحاظ اُوکړهٔ چه زما ترهٔ دا حضرات په خپله پناه کښ راوستی دی - د حضرت حرام رضی الله عنه شهید کولو نه پس دهٔ خپل قوم راجمع کړو، او په دے یے تیار کړهٔ چه په دے مسلمانانو کښ یو هم ژوند ے پرے نږدئ - خو دغه خلق د اَبُوبَرَاء د پناه په وجه تیار نهٔ شو - نو دهٔ د خواؤشا نه خلق راجمع کړل - او ډیرے لوئے ډلے سره یے د دے اوَیا صحابو مُقابله وُکړه - د دے حضراتو به آخر ترکوے پورے مقابله کوله - او خلوَ واړو طرفونه په کافرانو کښ ګیر وُو - سِوا د یو کَعْب بن زَید رضی الله عنه نه چه په هغهٔ کښ څهٔ ژوند ساه باقی وه، او کافرانو د ے مړګڼړلے پریخودلے وُو - باقی ټول شهیدان شو -

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت مُنْذِر او حضرت عَمر بن اُمَیّه رضی الله عنه کوم چه اُوښانو خړوَلو له تلی
وُو، هغوی آسمان طرف ته اُوکتل، نو مُردار خوارهٔ ځناور اَلوتل، دوارو
حضراتو دا اُووے وا پس شُول چه ضرور څهٔ حادثه پیښه شوے ده. دلته
چه راغلل وِے لیدل چه خپل ملګری یے شهیدان وُو، آوسوارهٔ د وینو ډکو
تورو سره د هغوی نه ګیرچا پیره چکر وَهی. داحالت چه یے وُلیدهٔ، دواړو
حضراتو خپل مینځ کښې مشوره اُوکړه چه څهٔ کول پکار دی؟ عَمر بن اُمَیّه
رضی الله عنه اُووے ځَه چه وا پس لاړ شُو. نبی علیه السلام ته به خبر ورکړو. خو مُنْذِر
رضی الله عنه جواب ورکړهٔ چه خبر خو به ورته هسے هم اُوشی. زما خو زړهٔ نهٔ منی
چه شهادت پریږدم او دے ځائ نه لاړ شم، کوم ځائ چه زمونږ دوستان
اُودهٔ پراتهٔ دی. مخکښې ورځَه او ملګرو سره یو ځائ شَه، نو دواړه مخکښې
شو او میدان ته یے اُودنګل. حضرت مُنْذِر رضی الله عنه شهید شو، او حضرت عُمَر
بن اُمَیّه رضی الله عنه ګرفتار شو. خو چونکه د عامِر د مور په ذمه د څهٔ نذر په
سلسله کښې دیو غلام آزادوَل وُو، په دِے وجه عامر دَے په هغے نذر
کښې آزاد کړهٔ. (اسلام)

دے حضراتو کښې د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه غُلام حضرت عامر بن
فُهَیرَه رضی الله عنه هم وُو. د هغهٔ قاتل جبّار بن سلمٰی وائی چه ما کله هغَه په
نیزه اُووَهلهٔ او شهید شو، نو هغهٔ اُووے فُزْتُ وَاللهِ، په الله تعالیٰ م دِ
قسَم وی زهٔ کامیاب شوم. دے نه پس ما اُولیدل چه د هغهٔ لاش آسمان
ته والوَتهٔ. زهٔ ډیر حیران شوم، او ما روستو د خلقو نه تپوس وُکړهٔ
چه ما په خپله په نیزه اُووَهلهٔ، هغه مړ شو خو بیا هم هغه وائی، زهٔ
کامیاب شوم. نو هغَه کامیابی څهٔ وه؟ خلقو راته وُخودله، چه هغه
کامیابی د جنت وه، په دے زهٔ مسلمان شوم. (خمیس)

فائده: دا هغه خلق دی کهٔ اِسلام په دوی فخر کوی نو په ځائ دے.
بیشکه مرګ د دوی نه د شرابونه زیات خوږ وُو، او ولے به نهٔ وُو چه په
دُنیا کښې یے کار د نه دا سے کړی وُو چه په هغے د الله تعالیٰ په نزد کامیابی
یقینی وه. په دے وجه چه به څوک مړ کیدهٔ، هغه به کامیا بیدهٔ.

(۹) د حضرت عُمیر رضی الله عنه وینا چه کهجورے خوړل اوږد ژوند دے

غزوهٔ بدر کښې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم یوه خیمه کښې تشریف فرما وُو. صحابو رضی الله عنهم ته یې ارشاد وُفرمایهٔ، پاسئ او ورُوړاندے شئ د اسے جنت طرفته چه د هغې پلنوالے د اسمانونو او د زمکونه ډیر زیات دے، او مُتّقیانو د پاره جوړ شوے دے. حضرت عُمیر بن الحمّام رضی الله عنه یو صحابی دے هغهٔ هُم واوریدل وے ویل وَاهٔ وَاهٔ. نبی علیه الصلوٰة وُفرمایل واه واه د په کومه خبره اُووے؟ عرض یې وُکړے اے د الله رسوله! زما دا ارزو ده چه زهٔ هم د هغوی نه وے. نبی علیه الصلوٰة وُفرمایل ته هم د هغوی نه یې. دے نه پس یې د جولئ نه څو کهجورے را اُوویستے خوړلے یې. بیا یې اُووے د دے کهجورو د ختمیدو انتظار چه کومے زما لاس کښې دی (چه دا ختمومه) لوئ اُوږد ژوند دے، تر څو به انتظار کوم. دا یې اُووے، او هغه یې وُغورزَوُلے، او تُوره یې راواخستله، په کُنړه کښې وردننه شو، او تر شهید کیدو پورے جنګیدو. (طبقاتِ ابن سعد)

فائده: حقیقت کښې هم دا خلق د جنت قدردان وُو، او په هغې یقین ساتونکی، مونږ خلقو ته هم که چرے یقین نصیب شی نو ټولے خبرے به اسانے شی

(۱۰) د حضرت عُمر رضی الله عنه هجرت

د حضرت عُمر رضی الله عنه په څهٔ ذکر کوے، بچے بچے د دهٔ د بهادرئ نه خبر او د شُجاعت اِقرار کوُنکے دے. د اسلام په شروع کښې کله چه مسلمانان د کمزورئ په حالت کښې وُو. نبی علیه الصلوٰة په خپله د اسلام د قوّت د پاره د عُمر رضی الله عنه د مسلمانیدو دُعا وُکړه او قبوله شوه. حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه مونږ خلقو کعبے ته نزدے تر هغې وخته پورے مونځ نهٔ شو کوُلے، تر څو چه عُمر رضی الله عنه مسلمان شوے نهٔ وُو. حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه اول اول به هر یو کس هجرت په پټه کوُلو، خو کله چه عُمر رضی الله عنه د هجرت اِراده وُکړه، نو توره یې په غاړه کښې واچوُله، لیندهٔ یې په لاس کښې واخستله، او ډیر غشی یې ځان سره واخستل. اول حُجات ته لاړو. طواف یې په تسلئ

Maktaba Tul Ishaat.com

سره وُکړه- بیا یې په ډیرې تسلئ سره مونځ وُکړه، دے نه پس د کافرانو مجلسونو ته وَرغلو، آووے فرمایل دچاچه داز ړهٔ غواړی چه مورېې پرے اُوژړیږی، او بچه یې کونډه شی، او بچی یې یتیمان شی، هغه دِ دمکے نه بهر راؤزی، زما مقابله دِ اُوکړی، دا یې جُدا جُدا ړلوته واؤرؤل لارو- د هیچا هِمّت اُونهٔ شو چه ورپسے وُتے وے. (اُسد الغابه)

(۱۱) دغزوهٔ مَوتَه قصه

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم مختلف بادشاهانوته تبلیغی دعوت نامے لیږلے وے، هغے کښ یو خط دحضرت حارث بن عُمَیر اَزدی رضی الله عنه په لاس دبُصریٰ بادشاه ته هم لیږلے وُو- کله چه دے مَوتَه ته وُرسیدهٔ نو شُرحَبیل غسّانی چه د قیصر په حاکمانو کښ یو کس وُو، دے یې قتل کړهٔ- د قاصد انو قتل دهیچا په نزد هم ښهٔ نهٔ دے- په نبی علیه الصلوٰة والسلام دا خبره ګرانه شوه- دوی مبارک ددریو زرو کسانو یو لښکر تجویز کړو- حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه یې پرے امیر جوړ کړو او ارشاد یې وُفرمایهٔ، کهٔ چرے دے شهید شی، نو جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه دِ امیر جوړ کړے شی، کهٔ هغه هم شهید شی، نو عبدالله بن رَوَاحه رضی الله عنه به امیر وی کهٔ هغه هم شهید شی، بیا مسلمانان خوک چه یې زړهٔ غواړی امیر دِ جوړ کړی یو یهودی دا خبرے واؤریدلے، وے ویل دا درے واړه به ضرور شهیدان کیږی- د پرومبنو انبیاؤ د دے قسمه خبرو به هُم دا مطلب وُو- نبی اکرم صلی الله علیه وسلم یو سپینه جهنډه جوړه کړه، او حضرت زید رضی الله عنه ته یې ورکړه او پخپله سره دیوے ډلے درے حضراتو د رُخصت کولو دپاره ورسره روان شو- د ښهر نه بهر کله چه رُخصتونکی واپس کیدل نو دے مجاهدینو دپاره یې دُعا وُکړله- چه الله جلّ شانهٔ دِ تاسو سلامتیا او کامیابئ سره واپس راولی، او دهر قسمه بدئ نه مو دِ محفوظ وُساتی- حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه دد ے په جواب کښ درے شعرونه اُووے چه دهغے مطلب دا وُو چه "زهٔ خو دخپل رب نه دګناهونو بخښنه غواړم، او دا غواړم چه یو داسے توره وے چه په هغے سره زما دوینو فوّارے روانے شی- یا یو داسے نیزه وے کومه چه ځیګر او اینه اُوځیری ترے

اُوزی، اوکله چه خلق زمایه قبرتیریږی نو دا اُوائی چه الله تعالیٰ دِ تاغازی رشید اوکامیاب کړی، واقعی ته خورشید اوکامیاب وے"۔ دے نه پس دا حضرات روان شو۔ شُرَحبیلؔ ته هم ددوی دروانیدو خبراُو شو، هغه سره دیولاکھ فوج دمقابلے دپاره تیارشو۔ دا حضرات چه مخکښ لاړل، نو معلومه شوه چه په خپله هِرَقل درُوم بادشاه هم سره دیولاکھ فوج مقابلے دپاره را روان دے۔ داحضرات په دے خبره فکرمند شوچه ددے دومره لوئے ډلے مقابله اوکړے شی، یانبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته خبرورکړے شی۔ حضرت عبدالله بن رَوَاحَه رضی الله عنه په اُوچت آواز وُفرمایل "اے خلقو! تاسو دکومے خبرے نه وِیریږئ۔ تاسو دکوم څیز په اراده وتلی یئ۔ ستاسو مقصود شهید کیدل دی۔ مونږ خلق هیڅ کله د قوّت اود سړو دډیروالی په زور باندے نهٔ یُو جنګیدلی۔ مونږ صرف دهغے دین په وجه جنګیدلی یُو، د کوم په وجه چه الله تعالیٰ مونږ ته عزت نصیب کړے دے، په مخکښ ځئ، ددوه وُ کامیابونه یوه خو ضروری ده، شهادت یاغلبه۔ دا چه مسلمانانو واوریدل، هِمّت یے اُوکړهٔ، اوپه مخکښ روان شو۔ آن تردے چه مَوته ته اُورسیدل، جنګ شروع شو۔ حضرت زید رضی الله عنه جهنډه په لاس کښ واخستَه آومیدان ته وُرسیدهٔ۔ زبردست جنګ شروع شو دشُرَحبیل رورهُم اُووَژلے شو، اودهغهٔ ملګری اُوتختیدل۔ په خپله شُرَحبیل هم وُتختیدهٔ، په یوقلعه کښ پټ شو۔ اوهِرَقل ته یے د مدد دپاره سړے وُلیږهٔ۔ هغهٔ تقریباً دوه لاکھه فوج راوُلیږلو اوجنګ په ډیرزورشورسره کیدلو، حضرت زید رضی الله عنه چه شهید شو، نو حضرت جعفر رضی الله عنه جهنډه واخستله، اودخپل آس پښے یے په خپله پریکړے چه دواپسئ خیال په زړهٔ کښ رانهٔ شی۔ اوځو شعرونه یے وُویل چه دهغے ترجمه داده۔ "اے خلقو! څومره ښهٔ څیزدے جنت اوڅومره ښهٔ دی هغے ته نژدے کیدل۔ څومره ښکلے څیزدے، اوڅومره یخے دی د هغے اُوبهٔ، اودمُلکِ رُوم په خلقو باندے دعذاب وخت رارسیدلے ـ مالره هُم پکاردی چه دوی اُووَژنم"۔ دا شعرونه یے اُووے، اودخپل آس پښے

Maktaba Tul Ishaat.com

یے په خپله پریکړے وے چه دواپسئ خیال په زړهٔ کښ رانهٔ شي) او ټوره یے واخسته، او د کافرانو په ګڼړه کښ ورننوتهٔ. د امیرئ په وجه جهنډه هم دهٔ سره وه. اول یے جهنډه په ښي لاس کښ واخسته، کافرانو ترے ښے لاس پریکړو، چه جهنډه پریوزی. دهٔ زر بل لاس کښ واخسته، هغوی ترهغه هم پریکړو، نو دهٔ په دواړو متو سره هغه ټینګه کړه، او په خولهٔ یے کلکه ونیوله یو کس د روستونه دهٔ دوه ټکړے کړے چه په هغے سره پریوتهٔ. دغه وخت ددهٔ عُمر درے دیرش کاله وُو. حضرت عبدالله بن عُمر رضی الله عنهما فرمائی چه مونږ روستو په مړو کښ حضرت جعفر رضی الله عنه کله چه را اُوچت کړهٔ، نو د هغهٔ د بدن په مخکښ حصه کښ لس کم نوی زخمونه وُو. کله چه دے شهید شو نو خلقو عبدالله بن رواحه رضی الله عنه ته آواز وکړهٔ، هغهٔ د لښکر یو اړخ کښ د غوښے ټکړه خوړله چه درے ورځو نه څهٔ څکلو دپاره ته وُو ملاؤ شوی چه آواز یے واؤریدهٔ، د غوښے ټکړه یے وُغورزوله، خپل ځان یے ملامته کوُو، چه جعفر رضی الله عنه خو دِ شهید شي، او ته دِ په دُنیا کښ مشغول یے. وړ مخکښ شو جهنډه یے واخسته، جنګ یے شروع کړو، ګوته یے زخمی شوه، زوړنده شوه، نو دهٔ په پښه هغه پریکړے شوے ګوته ونیوله، لاس یے را خکلو هغه جُدا شوه، وے غورځوله. دے خونریز جنګ او د پریشانئ حالت کښ لږ غوندے فکرمند شو چه نهٔ همت او نهٔ د مقابلے طاقت. خو د دے فکر څهٔ لږ ساعت تیر شوے وُو چه خپل زړهٔ ته مخاطب شو، وے ویل اے زړهٔ! د څهٔ څیز دِ اوس شوق پاتے دے چه د هغے په وجه درته خطره ده. آیا دبی بی دے نو هغے ته درے طلاقه. یا د غلامانو دے نو هغه ټول آزاد. یا دباغ دے نو هغه د الله تعالیٰ په لاره کښ صدقه. دے نه پس یے یو څو شعرونه اُووے چه د هغے ترجمه دا ده.ۢ قسم دے وی اے زړګیه! ته به وړکوزیږے، په خوشالئ ورکوزیږے که په ناخوښئ ورکوزیږے. ستا د اطمینان ژوند تیرؤلو یوه زمانه تیره شوه. سوچ اوکړه، آخر ته د منی یو څاڅکے یے. اُوګوره کافران په مسلمانانو باندے چاړه را روان دی. په تا څهٔ اُوشو. چه جنت نهٔ خوښوے، که چرے ته شهید نهٔ شوے، نو

دغسے یہ هُم اخرمرے۔ دے نہ پس دآس نہ را کوز شو۔ دترۂ خوئ ـــ یے د
غوښے یوہ ټکړہ راؤړہ چہ لږ شان اُوخورہ ملا نیغہ کړہ۔ دخوورخو نہ دِ خهٔ
نۂ دی خوړلی۔ دۂ ترے واخستنہ۔ یہ دے کښ یو اړخ نہ دخیلے اواز راغے
هغه یے وُغورزؤلہ اَو تُورہ یے واخستنہ، او کافرانو کښ ورننوتے، او
ترشهید کیدو پورے یے تُورہ چلؤلہ۔ (خمیس)

فائدہ: دصحابہ رضی اللہ عنہم دپورہ ژوند هم دا نمونہ دہ، دهغوی هرہ یوہ قصہ دِ دُنیا دفانی کیدلو، او داخرت دشوق سبق ورکوی۔ دصحابہ کرامو رضی اللہ عنہم یہ خهٔ تپوس کوے، یہ تابعینو هم دا رنګ ختلے وُو۔ یہ یوہ قصہ دا باب ختمؤمہ چہ دهغے رنګ بل دے۔ دُشمن سرہ دمُقابلے نمونے خو تاسو لیدلی دی۔ اُوس دحکومت مخکښ نظارہ هُم اُووینئ۔

سعید بن جبیر رحمۃ اللہ علیہ او دحُجاج خبرے اترے

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد دے، اَفْضَلُ الْجِهَادِ کَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ "بهترین جهاد دظالم بادشاہ مخکښ حقہ خبرہ ویل دی"۔ دحُجّاج ظلم او سِتم یہ دُنیا کښ مشهور دے۔ اګرچہ دهغے زمانے بادشاهانو سرہ دظلم وسِتم ددین دخوړؤلو کار بہ یے هُم کؤلو، خو بیا بہ هم دیندار او دعادل بادشاهانو یہ نسبت هغه بدترین شمارلے شو۔ او یہ دے وجہ خلق یہ دهغۂ نہ بیزارہ وُو۔ سَعِیدُ بن جُبَیر رحمۃ اللہ علیہ هم داِبنُ الْاَشعث رحمۃ اللہ علیہ سرہ یوځائ شو، دحُجّاج مُقابلہ یے وُکړہ۔ حُجّاج دعَبْدُالملک بن مروان لہ طرفہ حاکم وُو۔ سَعِید بن جُبَیر رحمۃ اللہ علیہ مشهور تابعی دے، او دلویو عُلماؤ نہ دے۔ حکومت او خصوصاً دحُجّاج دۂ سرہ بُغض او دُشمنی وہ۔ او څو نہ مقابلہ یے ورسرہ کړے وہ، یہ دے وجہ دُشمنی ساتل هُم ضروری وُو۔ یہ مقابلہ کښ حُجّاج دے ګرفتار نکړے شو۔ دے دشکست نہ پس یہ پټہ مکے مکرمے تہ لاړو۔ حکومت خپل یو خاص سړے دمکے حاکم جوړ کړۂ او وړومبنے حاکم یے ځان تہ راُوغوختلو، دا نوے حاکم لاړو خُطبہ یے اُووئیلہ چہ دهغے یہ اخر کښ یے دعبدالملک بن مروان بادشاہ دا حکم

Maktaba Tul Ishaat.com

واورېدو چه چا سعید بن جُبیر ته پناه ورکړه د هغه خیر نشته. د دے نه پس د دے حاکم په خپله د خپل طرف نه قسم اوخوړ چه د چا په کور کښ بیا موندے شو هغه به قتلولے شی. او د هغه کوربه د هغه د کاونډیانو کورونه به غورزوم. لنډه دا چه په ډیر تکلیف سره د مکے حاکم دے گرفتار کړه، او حجّاج ته یے ولیږه. هغه ته د غصے ایستلو او قتلولو موقع په لاس ورغله، خپل مخکښ یے راوغوښتلو، او تپوس یے ترے اوکړو.

حجّاج: ستا څهٔ نوم دے؟ سعیدؓ: زما نوم سعید دے. حجّاج: د چا څوئ یے؟ سعیدؓ: د جُبیر څوئ یم. (د سعید ترجمه نیک بخت او د جُبیر معنیٰ اِصلاح کړے شوے څیز.) اگرچه نومونو کښ معنیٰ اکثر مقصود نهٔ وی خو حجاج ته د دوی نومونه د ښهٔ معنیٰ والا خوښ نهٔ شو، په دے وجه یے اُووے نه، تهٔ شقی بن کسیر یے. (شقی وائی بد بخت ته او کسیر مات شوی څیز ته) سعیدؓ: زما مور زما نوم لتا نه ښهٔ پیژندهٔ. حجّاج: تهٔ هُم بد بخت او ستا مور هم بد بخته. سعیدؓ: د غیبو نه خبر ستا نه علاوه بله هستی ده (یعنی عَلّامُ الْغُیُوْب الله تعالیٰ دے.) حجّاج: گوره! زهٔ بُوْس تاوَړم سعیدؓ: نو زما مور زما نوم ټهیک ایخے دے. حجّاج: اُوس زهٔ تا د ژوند په بدله څنګه دوزخ ته رسوم. سعیدؓ: کهٔ چرے ما ته دا معلومه وے چه دا ستا په اِختیار کښ دی، نو تهٔ به م معبود جوړ کړے وے. حجّاج: د نبی اکرم ﷺ په نسبت ستا څهٔ عقیده ده؟ سعیدؓ: هغه د رحمت نبی وُو، او د الله تعالیٰ رسول وُو چه بهترین نصیحت سره ټولے دُنیا طرف ته لیږلے شوے وُو. حجّاج: د خُلفاؤ په نسبت ستا څهٔ خیال دے؟ سعیدؓ: زهٔ د هغوی مُحافظ نهٔ یم. هر څوک د خپلو کړو ذمه دار دے. حجّاج: زهٔ هغوی ته بد وایم کهٔ ښهٔ؟ سعیدؓ: د کوم څیز چه ما ته علم نشته زهٔ په هغے کښ څهٔ ویلے شم، ما ته بس خپل حال معلوم دے. حجّاج: په دوی کښ د ټولو نه زیات خوښ ستا په نزد څوک دے؟ سعیدؓ: چه د ټولو نه زیات زما د مالک راضی کوُنکے وی. بعض کتابونو کښ په ځائ د دے دا جواب دے چه د هغوی حالات بعضو له په بعضو باندے ترجیح

ورکوی. حَجّاج: د تهولونه زیات راضي کوونکے څوك وَو؟ سعیدؒ: دا هغه څوك پیژنی چه د زړهٔ د رازونو او د پټو رازونو نه خبر دے. حَجّاج: حضرت علی رضی الله عنه جنت کښ دے که دوزخ کښ؟ سعیدؒ: که زهٔ جنت او دوزخ ته لاړ شم، هغه خلق اُووینم، نو بیا به وئیلے شم. حجاج: زهٔ به قیامت کښ څنګه سړے یم؟ سعیدؒ: زهٔ د دے نه کم یم چه په غیبو باندے خبردار کړے شم. حجّاج: تهٔ ما سره د رښتیا وئیلو اراده نهٔ کوے. سعیدؒ: ما دروغ هُم نهٔ دی وئیلی. حَجّاج: تهٔ چرے خاندلے وَلے نه؟ سعیدؒ: څهٔ خبره د خندا اووینم نه، او هغه څوك به څنګه اُوخاندی؟ کوم چه د خاورے نه جوړ شوے وی، او قیامت ته به ورتلل وی او دُنیا په فتنو کښ ورځ او شپه وُسی. حَجّاج: زهٔ خو خاندم. سعیدؒ: الله تعالیٰ دا سے په مختلفو طریقو کښ مونږه جوړ کړی یُو. حَجّاج: زهٔ تا وژنم. سعیدؒ: زما د مرګ سبب پیدا کوونکے د خپل کار نه فارغ شوے دے. حَجّاج: زهٔ د الله تعالیٰ په نزد لَتا نه زیات خوښ یم. سعیدؒ: په الله تعالیٰ هیڅوك زړهٔ ورتیا نهٔ شی کولے تر څو پورے چه خپله مرتبه معلومه نکړی، او د غیبو نه خو بس الله تعالیٰ خبردار دے. حَجّاج: زهٔ به ولے زړهٔ ورتیا نهٔ کوم. حال دا چه زهٔ د جماعت باد شاه سره یم، او تهٔ د باغیانو جماعت سره یے. سعیدؒ: زهٔ جماعت نه بیل نهٔ یم، او فتنه په خپله نهٔ خوښوم. او څهٔ چه په تقدیر کښ دی هغه هیڅوك نهٔ شی لرے کولے. حَجّاج: کوم څهٔ چه مونږ اَمِیرُالْمُؤمِنِین د پاره جمع کوُو هغه ته څنګه ګنړے؟ سعیدؒ: ماته پته نشته چه څهٔ دِ جمع کړی دی. حَجّاج: سرهٔ زر، سپین زر، کپړے وغیره یے راوُغوختلے او هغه یے مخکښ کیخودے. سعیدؒ: دا ښهٔ څیزونه دی که چرے د خپل شرط موافق وی. حَجّاج: شرط څهٔ دے؟ سعیدؒ: دا چه تهٔ په دے سره دا سے څیزونه واخلے چه د لوئے ویرے په ورځ یعنی د قیامت په ورځ اَمن پیدا کوونکی وی، ګنی هر یوے تئ کوونکے به پئ رَودُونکے هیر کړی. او حمل به پریوزی، او سړی ته به د ښهٔ څیزنه سِوا هیڅ یو څیز کار نهٔ ورکوی. حَجّاج: مونږ چه څهٔ جمع کړی دی آیا دا ښهٔ څیزونه نهٔ دی. سعیدؒ: تا جمع کړی دی، نو هم ته د دے ښهٔ والے پیژندے شے. حَجّاج: آیا تهٔ د دے نه څهٔ څیز خپل

ځان دپاره خوښوے؟ سعیدؒ: زهٔ صرف هغه څیز خوښوم، کوم چه الله تعالیٰ خوښوی. حجّاج: تا دپارهِ دِ هلاکت وی. سعیدؒ: هلاکت دِ هغه کس دپاره چه دجنت نه لرے کړے شي، او دوزخ کښ داخل کړے شي. حجّاج: (پریشانه شوے) اُوښایه زهٔ تا په کومه طریقه قتل کړم؟ سعید رح: په کومه طریقه قتلیدل دِ چه ځان دپاره خوښ وی. حجّاج: ایا تا معاف کړم؟ سعید رح: معافی د الله تعالیٰ په نزد معافی ده، ستا معاف کول هیڅ څیز نهٔ دے. حجّاج جلّاد ته حکم ورکړهٔ چه دے قتل کړه. سعید رحمة الله علیه بهرته راووتے شو، آووے خندل. حجّاج ته ددے خبر ورکړے شو، بیا یے راوُغوختلو، اَو تپوس یے ترے اُوکړو. حجّاج: تا وَلے اُوخندل؟ سعیدؒ: ستا په الله تعالیٰ زړهٔ ورتیا او د الله تعالیٰ په تا صبر باندے. حجّاج: هغه څوك قتلوم چا چه دمسلمانانو جماعت کښ تفریق کړے دے، بیا یے جلّاد ته اُووے، زما مخکښ دده سټ والوزوه. سعیدؒ: زهٔ دوه رکعته مونځ وُکړم. مونځ یے وُکړهٔ قبلے ته یے مخ کړهٔ. اِنِّیْ وَجَّهْتُ وَجْهِیَ لِلَّذِیْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ حَنِیْفًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ ط یے اُووے یعنی ما خپل مخ هغے پاك ذات طرف ته کړهٔ چا چه اسمانونه او زمکه جوړه کړه، اَو زهٔ د ټولو طرفونو نه لرے شوم. اَو نهٔ یم زهٔ د مشرکانو نه. حجّاج: دده مخ د قبلے نه واړوئ، او د نصارٰی ؤ قبلے طرف ته یے کړئ. چه هغوی هُم خپل دین کښ تفریق وُکړهٔ. اَو اختلاف یے پیدا کړهٔ. نو زر دهغهٔ مخ واړولے شو. سعیدؒ: فَاَیْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ الْکَافِیْ بِالسَّرَآئِرِ. کوم خوا ته مخ واړوے هلته هم الله تعالیٰ دے چه په رازونو پوهه دے. حجّاج: پړمخے یے واچوئ (یعنی زمکے ته ورله مخ کړئ) مونږ په ظاهر باندے دعمل کولو ذِمّه داریُو. سعیدؒ: مِنْهَا خَلَقْنٰکُمْ وَفِیْهَا نُعِیْدُکُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُکُمْ تَارَةً اُخْرٰی ط مونږ ه د زمکے نه تاسو پیدا کړئ، او په دے کښ به بیا تاسو واپس کوو. او ددے نه به مو بیا دوباره را پاسوو. حجّاج: دے قتل کړئ. سعیدؒ: زهٔ تا ددے خبرے گواه جوړوم، اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ. ته دا

محفوظه ساتله، کله چه زهٔ تا سره د قیامت په ورځ ملاؤ شم نو درته به یې
احلم، دے نه پس شهید کړے شو. اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ ط د دهٔ د
شهادت نه پس دیدن نه وینه ډیره زیاته اُووتله چه په دے حجاج هم حیران
شو. دخپل طبیب نه یې ددے دسبب تپوس وُکړهٔ، هغهٔ اُووے چه ددهٔ
زړهٔ ډیر زیات په قلار ووُ، او د قتل ذره هم ویره ددهٔ په زړهٔ کښ نهٔ وه.
ځکه وینه یې په خپل اصلي مقدار برقراره وه په خلاف د نورو خلقو.
چه د ویرے نه د هغوی وینه د ړومبے نه اُوچه شي. (علمائے سلف
کتاب الامامت والسیاست)

فائده: ددے قصے په سوال وجواب کښ کتابونو کښ کے زیاتے هم
شته، نور هم بعض سوال وجواب نقل کړے شوی دی، مونږ ته خو
نمونه خودل وُو ځکه مو په دے بس کړهٔ. د تابعینو ددے قسمه قصے
ډیرے زیاتے دی. اِمَامِ اَعْظم، اِمام مالك، امام احمد بن حنبل وغیرهٔ
رحمهم الله حضراتو ددے حقے وینا په وجه سختئ تیرے کړی دی. خو
حق یې د لاسه نهٔ دے پریخودے.

اتم باب

دِعلم شوق او په هغے کښ مشغولیدل

چونکه اصل دین کلمهٔ توحید دے، او هم دا د ټولو کمالاتو بنیا د
دے کله چه دا نهٔ وی نو هیڅ یو د خیر کار قبول نهٔ دے. ځکه د صحابه
کرامو رضی الله عنهم قوت خصوصاً شروع زمانه کښ د ټولو نه زیات د کلمهٔ
توحید خورولو او کافرانو سره جهاد کولو کښ خرچ کیدهٔ، او هغوی
علم حاصلولو ته فارغ او متوجه نهٔ وُو. خو ددے مشاغلو باوجود د هغوی
دعلم شوق او محبت او د هغے د حاصلولو فائده ے چه نن څوارلس سوو
کالو پورے د قران او د حدیث دعُلومو د بقاء ذریعه دهٔ یو نښکاره شوے
خیز دے. د اسلام د شروع زمانے نه پس چه دے حضراتو ته څهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

فراغت حاصل شو، او ډله بے هم درنه شوه، نو د کلام الله آیت وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ط (بیان القرآن) نازل شوچه د هغې ترجمه داده- مسلمانانو له دا نه دي پکار چه ټول په ټول اُوزي- بس دا سے دِ وَلے ونکړے شي چه د دوی د هرے یوے لوئ ډلے نه دِ یو ورکوټے ډله ځی، د پاره ددے چه پاتے شوی خلق ددین پوهه حاصِلوی- او کله چه هغوی دے قوم ته واپس راشي، وِے یَروی چه هغوی احتیاط وُساتی- (بیان القرآن) حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائی- اِنْفِرُوا خِفَافًا وَّثِقَالًا او اِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ط (التوبة) نه چه کوم عُموم معلومیدهٔ، هغه مَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً منسوخ کړهٔ- صحابه کرام رضی الله عنهم ته الله تعالیٰ جامعِیَت ورکړے وُو، او دغه وخت د پاره دا څیز ډیر ضروری وُو چه هم دغے یو مختصرغونډ ے جماعت د دین ټول کارونه سنبهال کړی وُو- خو د تابعینو زمانه کښ کله اِسلام خورشو، او د مسلمانانو لویه ډله، او جَمعِیّت جوړشو، بله داچه د صحابه کرامو په شان جامِعیَت هم پاتے نهٔ شو- نو د هرے یوے شعبے د دین په پوره توجُّه سره کارکوُنکی الله تعالیٰ پیدا کړهٔ- د مُحَدِّثینو مستقل جماعت جوړیدل شروع شوچه د هغوی کار د احادیثو ضَبط (انتظام) او د هغے خورول وُو- د فقها وُبیل جماعت جوړشو صوفیان قاریان، مجاهِدین غرض د دین د هرے یوے شعبے مستقل سنبهالوُنکی پیدا شو- دغے وخت د پاره هم دا څیز مناسب او ضروری وُو، کهٔ چرے دا طریقه نهٔ وے، نو په هره یوه شعبه کښ کمال او ترقی ګرانه وه- چه هر یو کس دِ ټولو څیزونو کښ پوره کمال حاصل کړی- دا ډیره ګرانه ده - دا صفت الله ربُّ العزت انبیاء علیهم الصلوٰة والسلام خصوصًا سَیِّد الْاَنْبِیَاء علیه افضل الصلوٰة والسلام ته ورکړے وُو- په دے وجه دِے باب کښ د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه علاوه د نورو حضراتو واقعات به هم ذکر کوُلے شي-

(۱) د فتوے کارکوونکے د لے فهرست

اگرچه صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین جهاد او اعلائے کلمة الله د مشغولئ سره سره تول علمی مشغلو کښې په هم هر وخت مشغول وُو، دد ے خوراک او رسول هم داد هغوی مشغله وه۔ خو یو جماعت فتوے سره هم مخصوص وُو چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم زمانه کښې یے هم د فتوے کار کولو۔ هغه حضرات دادی۔ حضرت ابوبکر، حضرت عُمر، حضرت عُثمان، حضرت علی حضرت عبدالرحمٰن بن عوف، اُبیّ بن کعب، حضرت عبدالله بن مسعود، مُعاذ بن جبل، عمار بن یاسر، حُذیفه، سلمان فارسی زید بن ثابت، ابو موسیٰ، ابو الدرداء رضی الله عنهم اجمعین۔ (تلقیح)

فائده: دا د ے حضراتو د کمالِ علم خبره ده چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام په موجودگئ کښې د اخلق اهلِ فتوٰے شمارولے شو۔

(۲) د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د حدیثونو مجموعے لره سوزول

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه زما پلار حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د پنځو سوو حدیثونو یوه مجموعه تیاره کړے وه، یوه شپه ما اُلیدل چه د ے پیر ناقلاره د ے۔ کړوٹے په کړوٹے اوړی۔ ما چه دا حالت اُولیدو پریشانه شوم، یو ښتنه م ترے اوکړه چه آیا څه تکلیف د ے یا څه د فکر خبره د اوریدلے ده، لنډا داچه ټوله شپه یے ناقلارتیا کښې تیره شوه، او سحر یے وُفرمایل چه هغه حدیثونه کوم چه ما تا څخه ایښی وُو، راواخله، ما راؤړل، دوی هغه اُوسوزول، ما ترے تپوس اُوکړو، چه وَلے دِ اُوسوزول؟ ارشاد یے وُفرمایه چه ما سره ویره شوه چه چرته دا سے وُنه شی چه زه مړ شم او دا ما سره وی، په دیکښې د نورو جوړ شوی روایتونه هم دی چه ما به معتبر گڼړلی وی، او په اصل کښې هغه معتبر نه وی، او د هغه په روایت کښې که څه گړبړوی چه د هغے وبال په ما راشی۔ (تذکرة الحفاظ)

فائده: د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د اعلمی کمال او محبّت وُوچه

Maktaba Tul Ishaat.com

هغوی د پنځو سوو حدیثونو یو رساله جمع کړه، او دے نه پس هغه سوزول د کمال احتیاط وو. د اکابرو صحابه رضی الله عنهم د حدیث په باره کښ د احتیاط دا حال وو، په دے وجه اکثر صحابه رضی الله عنهم ته ډیر کم روایتونه نقل کولے شي. مونږ خلقوته د دے واقعے نه د سبق اخستلو ضرورت دے، کوم چه په منبرونو کښي بے احتیاطه حدیثونه نقل کوي، حال دا چه ابوبکر صدیق رضی الله عنه هر وخت خدمت کښ حاضر، د سفر حضر (یعني مقام) ملګرے، د هجرت ملګرے وو. صحابه رضی الله عنهم وائي چه مونږ کښ لوئ عالم ابوبکر رضی الله عنه وو. حضرت عُمر رضی الله عنه فرمائي چه د نبي علیه الصلوٰة والسلام د وفات نه پس کله چه د بیعت قصه پیښه شوه. حضرت ابوبکر رضی الله عنه تقریر وفرمایئ، نو هیڅ یو آیت یا حدیث یے دا سے پرے نخودۀ په کوم کښ چه د انصارو فضیلت راغلے وي. او حضرت ابوبکر رضی الله عنه خپل تقریر کښ نۀوي فرمایلے. د دے نه اندازه کیږي چه په قرآن کښ ورته څومره پوهه حاصله وه. او حدیثونه ورته څومره یاد وو، خو بیا هُم ډیر کم روایتونه د حدیث د دوي نه نقل دي. هُم دا راز دے چه حضرت امام اعظم رحمة الله علیه نه هم د حدیث روایتونه ډیر کم نقل کړے شوي دي.

۳ د حضرت مصعب بن عُمیر رضی الله عنه تبلیغ او دیني تعلیم خودل

مُصعَب بن عُمیر رضی الله عنه چه د دۀ قصه د اُووم باب پنځم نمبر باندے هُم تیره شوے ده. دے نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د مدینے منورے هغې جماعت سره کوم چه د تېولو نه ړومبے د مِنىٰ په دره کښ مسلمان شوے وو. تعلیم او دین خودلو د پاره لیږلے وو. دے په مدینه منوره کښ هر وخت تعلیم او تبلیغ کښ مشغول وو. خلقوته به یے قرآن شریف خودلو، او د دین خبرے به یے ورته خودلے. اَسعَد بن زُرارۀ رضی الله عنه څخه دے دیره وو، او مُقرئ (لوګوته مُدَرِّس) په نامه مشهور شوے وو. سَعد بن مُعاذ او اُسید بن حُضَیر د واړه سرداران وو. دوي په دے خبره ناراضه شو. سَعد اُسید ته اُووے چه ته اَسعَد ته ورشه اُوهغهٔ ته اُووایه چه مونږ دا اوریدلي دي چه ته خوك مسافر خان څخه راوستلے دے چه هغه زمونږ تاپوهه

خلق بے وقوفان جوړوی، اَوتیر یاسی یے۔ هغه اَسعَد رضی الله عنه ته ورغے او ورسره یے په سختئ خبرے اُوکړے۔ اَسعَد رضی الله عنه ورته اُووے چه ته د هغهٔ خبرے واؤره، که چرے ستا خوښے شوے قبولے یے کړه، کهٔ د آوریدو نه پس دِ ناخوښے شوے، نو د منع کولو باك نشته۔ اُسَید اُووے چه دادِ انصاف خبره ده۔ خبرے یے واؤریدے۔ حضرت مُصعَب رضی الله عنه ورته داِسلام صفتونه واؤرول۔ او د قران شریف اَیتونه یے تلاوت کړل۔ اُسید اُووے خومره ښے خبرے دی او خومره بهترین کلام دے۔ کله چه تاسو خپل دِین کښ څوك داخِلوئ نو څنګه یے داخلوئ۔ هغهٔ ورته اُووے چه غُسل وُکړه او پاکے جامے واغونده، او کلمهٔ شهادت اُووایه۔ اُسَید هغه وخت ټول کارونه وُکړل او مسلمان شو۔ دے نه پس سَعد ته لاړو او هغه یے هم خپل ځان سره راوستهٔ، هغهٔ سره هم خبرے اَترے وُشوے۔ سَعد بن مُعاذ هم مسلمان شو۔ او مسلمانید و سره خپل قوم بَنُوالاَشهَل ته لاړو، او ورته یے اُووے، چه زهٔ ستاسو خلقو په نظر کښ څنګه سړے یم؟ هغوی اُووے چه مونږ کښ د ټولو نه غوره او بهتر یے، په دِے باندے سَعد رضی الله عنه اُووے چه زما ستاسو نارینه ؤ او زنانو سره خبرے حرام دی تر څو پورے چه تاسو مسلمانان شوی نهٔ یئ، او په محمد صلی الله علیه وسلم باندے ایمان رانهٔ وړئ۔ د دهٔ په دے وینا سره د قبیلهٔ اَشهل ټول نارینه زنانه مسلمانان شول، او حضرت مُصعب رضی الله عنه دوی ته هم تعلیم ورکولو کښ مشغول شو (تلقیح)

فائده: د صحابه کرام رضی الله عنهم دا عامه قاعده وه چه څوك به مسلمان شو، هغه به مستقل یو مُبَلِغ وُو۔ او کومه خبره د اسلام چه به دهٔ ته ورته دهغے خورَول او نورو ته رَسَول د دهٔ د ژوند یو مستقل کار وُو چه په دِے کښ به ورته نهٔ پټی رُکاوټ وُو، نهٔ تجارت، نهٔ پیشه، نهٔ ملازمت۔

۴ د حضرت اُبَیّ بن کَعب رضی الله عنه تعلیم

حضرت اُبَیّ بن کعب رضی الله عنه مشهور صحابه او د مشهور قاریانو نه دے۔ د اسلام راوړلو نه پروړمے لیکل لوستل ورته ورتلل۔ عربو کښ د لیکلو

Maktaba Tul Ishaat.com

رواج نهٔ وُو - د اِسلام نه پس ددے مشهورتیا وُشوه - خو دے د روړمبے نه واقف وُو - د نبی اکرم ﷺ په خدمت کښ په حاضریدهٔ، او وحی په یے هم لیکله - د قرآن شریف لوئ ماهِر وُو - او د هغے خلقوته وُو کوم چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام په ژوند کښ ټول قرآن شریف یاد کړے وُو - د نبی علیه الصلوٰة والسلام اِرشاد دے چه زما د اُمت لوئ قاری اُبَیّ بنِ کعب دے - تَهَجُّد وکښ اَتو شپو کښ د قرآن پاک د ختم کولو اِهتمام به یے کولو - یو وارے نبی اکرم ﷺ اِرشاد وُفرمایهٔ چه الله جلّ شانُهٔ ما ته فرمایلی دی چه تا ته قرآن شریف واوَرَوم - عرض یے وُکړهٔ اے د الله رسوله! الله تعالیٰ زما نوم واخستهٔ وے فرمایل؟ نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل اَو، ستا نوم یے واخستهٔ وے فرمایل - دا یے چه واورېدل، د ډیرے خوشالئ نه په ژړا شو - ع

ذکر میرا مجھ سے بہتر ہے کہ اس محفل میں ہے

"یاد زما زما نه دے بهتر چه هغه مجلس کښ دے"

جُندب بن عبد الله رضی الله عنه وائی چه زهٔ مدینے منورے ته علم حاصلولو د پاره حاضر شوم - نو مسجد نبوی کښ حدیث لولونکی ګڼړ حضرات وُو - او د شاګردانو حلقے جُدا جُدا هر اُستا د څخه موجود وے - زهٔ په دے خلقو تیر شوم - یو حلقے ته اُورسیدم چه په هغے کښ یو صاحب مُسافرانه شکل وصورت سره صرف دوه کپړے یے په بدن اَچولے وے ناست وُو حدیث یے خودل - ما د خلقو نه پوښتنه وُکړه، چه دا څوک بزرګ دے - وے ویل چه د مسلمانانو سردار اُبَیّ بنِ کعب رضی الله عنه دے زهٔ د هغهٔ د درس په حلقه کښ کیناستم - کله چه د حدیث نه فارغ شو، او کور ته تلو، زهٔ هم ورپسے روستو تلم - هلته چه لاړم اُوم لیدل، یو زوړ شان کور، خراب تُراب، ډیر معمولی سامان، زاهدانه ژوند (طبقات)

حضرت اُبَیّ رضی الله عنه فرمائی چه یو وارے نبی اکرم ﷺ (زما امتحان واخست) اِرشاد یے وُفرمایهٔ چه قرآن شریف کښ د ټولو نه لوئ اٰیت (د برکت او فضیلت په اِعتبار سره) کوم دے؟ ما عرض وُکړهٔ چه الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول ﷺ ښهٔ پوهیږی - نبی علیه الصلوٰة والسلام بیا سوال

وُکړۀ، ماته اَدَب مانع شو۔ بیا مِ هُم هغه جواب ورکړۀ۔ دریم وارے بے بیا اِرشاد وُفرمایۀ، ما عرض وُکړۀ، اٰیَةُ الْکُرسی۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام خوشاله شو او دے فرمایل۔ الله تعالیٰ دِ تاته سِتا عِلم مبارك کړی۔

یو وارے نبی اکرم صلی الله علیه وسلم مونځ ورکولو۔ یو ایت ترے پاتے شو۔ حضرت اُبَی رضی الله عنه په ماځه کښ فتحه ورکړه۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد وُفرمایۀ چه چا اُوخودلو۔ حضرت اُبَی رضی الله عنه عرض وُکړۀ چه ما خودلے وُو۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد وُفرمایۀ زما هم داګُمان وُو چه تا به خودلے وی۔ (مسندِ احمد)

فائده: دا حضرت اُبَی رضی الله عنه سره درے علمی مَحبّت او دقران شریف مخصوص خد ما تو، نبی علیه الصلوٰة والسلام سره هره غزا کښ شریک شوید ے دَ نبی علیه الصلوٰة والسلام یو جهاد هم داسے نهٔ وُو چه دے په هغے کښ شریک شوے نهٔ وی۔

⑤ دحضرت حُذَیفه رضی الله عنه دفتنو اهتمام

حضرت حُذَیفه رضی الله عنه مشهور و صحابه وُکښ دے۔ صَاحِبُ السِّرّ (راز دار) دده لقب دے۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دمنافقینو او دفتنو عِلم ده ته خودلے وُو۔ وائی چه یو وارے نبی اکرم صلی الله علیه وسلم قیامته پورے چه څومره فتنے راتلونکے وے ټولے یے نمبر وار ورته خودلے وے۔ هیڅ یو داسے فتنه چه په هغے کښ د درِیو سوو په اندازه خلق شریک وی نبی علیه الصلوٰة والسلام پرے نخوده۔ بلکه د هغے فتنے حال او د هغے دمقتداء یعنی امام حال سره د هغۀ د نوم او د هغۀ د مور د نوم، د هغۀ د پلار د نوم، د هغۀ د قبیلے نوم صفا صفا یے ورته خودلی وُو۔ حضرت حُذَیفه رضی الله عنه فرمائی چه خلقو به د نبی علیه الصلوٰة والسلام نه د خیر د خیرو تپوس کوو، او ما به د بدیٔ د خبرو تپوس کولو چه د هغے نه ځان اُوساتلے شی۔ یو وارے ما پوښتنه وُکړه، اے د الله رسوله! دا خیر او خوبی چه په هغے باندے نن صبا ستا سو په برکت سره مونږ خلق یو۔ د دے نه پس هم څهٔ بدی راتلونکے ده؟ نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل، آو۔ بدی راتلونکے ده۔ ما عرض وُکړۀ چه د دے بدیٔ نه پس به بیا نیکی واپس راشی که نه۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل

Maktaba Tul Ishaat.com

چه حُذیفه! د الله تعالیٰ کلام لوله، او دهغې په معنو غور کوه، او دهغې د احکامو تابعداري کوه. (په ما فکر سوروُو) عرض مې اُوکړۀ اے د الله رسوله! دغې بدائۍ نه پس په نیکي وي. نبي علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل، آو. بیا به نیکي وي خو زړونه به داسې نهٔ وي څنګه چه رومبې وُو. ما عرض اُوکړه، اے د الله رسوله! ددغې نیکۍ نه پس به بیا بدي وي؟ نبي علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل، آو. داسې خلق به پیدا شي چه خلق به ګمراه کوي، او دوزخ طرف ته به یې بوزي. ما عرض وُکړۀ، کهٔ چرې زۀ دغه زمانه بیا مومم، نو څهٔ به کوم؟ نبي علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل، کهٔ چرې د مسلمانانو یوه مُتحِده ډله وي، او دهغوي څوك بادشاه وي. نهٔ هغوي سره شه. کني دا ټول فرقې پرېږده، یو ګټ کښې بېل کینه، یا چرته دونې په ونځ کښې لاړ شه کینه، او تر مرګه پورې هلته ناست اُوسه. چونکه دۀ ته د ټولو منافقانو حال نبي علیه الصلوٰة والسلام خودلے وُو، په دې وجه حضرت عُمر رضی الله عنه به ددۀ نه پوښتنه کوله چه زما په حاکمانو کښې څوك منافق خو نشته؟ یو وار دۀ عرض وُکړۀ چه یو مُنافق شته خو زۀ یې نوم نهٔ ښایم. حضرت عُمر رضی الله عنه هغه معزول (یعني برطرفه) کړۀ، غالبًا په خپل فِراست (الٰهي پوهه) سره یې پیژندلے وي. کله چه به څوك مړشو، نو حضرت عُمر رضی الله عنه به تحقیق کولو، چه حضرت حُذیفه د هغهٔ په جنازه کښې شریک دے کهٔ نه. کهٔ چرې حُذیفه رضی الله عنه به شریک وُو، نو حضرت عُمر رضی الله عنه به هم موځ کولو. کني دوي به هم نهٔ کولو. د حضرت حُذیفه رضی الله عنه چه کله وفات کیدو، نو ډیر په ویره او نا قلارتیا کښې یې ژړل. خلقو ترې تپوس وُکړۀ. وې فرمایل چه دُنیا پاتې کیدو باندې نهٔ ژاړم. بلکه مرګ خو زما خوښ دے. البته په دې ژاړم چه ما ته معلومه نهٔ ده چه زۀ د الله تعالیٰ په ناراضتیا کښې روان یم یا په رَضا کښې. دے نه پس یې اُووې چه دا زما د دُنیا آخري ساعت دے. اے الله! تا ته معلومه ده چه زما تا سره محبت دے. په دې وجه په خپل ملاقات کښې برکت راکړه. (ابوداؤد، اُسدالغابه)

(۶) دحضرت اَبُوهُرَيرَه رضی الله عنه دحديثونو يادول

حضرت اَبُوهُرَيرَه رضی الله عنه ډير مشهور قدرمند صحابي دے او دومره ډير حديثونه ددهٔ نه نقل دي چه دبل صحابي نه دومره زيات نقل شوی نهٔ دي.په دے به خلق حيران وُو چه په اُووم (سنه ۷ھ) هجری کښ راغلو، مسلمان شو او په يولسم سنه ۱۱ھ هجری کښ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم وفات شوے دے.دومره لږه موده کښ چه تقريبًا څلور کاله کيږي دومره حديثونه ورته څنګه يادشو، په خپله حضرت اَبُوهُرَيرَه رضی الله عنه ددے وجه ښائی فرمائی چه خلق وائی چه اَبُوهريره ډير زوايتونه نقل کوی.زما مهاجِر رونړه تجارت پيشه وُو، بازارته به يے تلل راتلل وُو، او زما انصار رونړو به دکرٖکيلے کار کولو.دا مشغوليت ورته وړاندے وو.او اَبُوهُرَيرَه د اصحابِ صُفّه دمسکينانو نه يو مسکين وُو چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم خدمت کښ به څهٔ دخوراك دپاره ورکړے شو، په هغے به يے صبر کولو، پروت به وُو.په دا سے واقعاتو کښ به موجود وُو چه په هغے کښ به هغوی نهٔ وُو.او دا سے څيزونه به يے يادول چه هغه به هغوی يادولے نهٔ شو.يو ځل ما نبی علیه الصلوٰة والسلام ته دحافِظے شکايت اُوکړهٔ.هغوی مُبارك وُفرمايل، څادر اُوغوړوه.ما څادر خورکړهٔ.نبی علیه الصلوٰة والسلام په دواړو لاسونو سره په هغے کښ څهٔ اِشاره وُکړه.دے نه پس يے وُفرمايل دا څادر ځان سره يوځائ کړه.ما خپلے سينے سر پيوست کړه.هغے نه پس هيڅ څيز رانه هيرنهٔ شو.(بخاری)

فائده: اَصحابِ صُفّه هغه خلق يللے شی کوم چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لکه دخانقاه اُوسيدونکی وُو.ددے حضراتو دخرڅ خوراك څهٔ خاص انتظام نهٔ وُو.دا به وُو ايُوچه د نبی علیه الصلوٰة والسلام ميلمانهٔ وُو.دکوم ځائ نه به چه څهٔ هَدِيَه يا صدقه راتلله، په هغے به ددوی ګذاره وه.حضرت ابوهريره رضی الله عنه هُم دے خلقو کښ وُو.ډير ځلے څو څو وختهٔ نهَرِے به هم په .وی تيريدلے.بعضے وخت به يے دلوږے نه دليونتوب

Maktaba Tul Ishaat.com

په شان حالت شو، څنګه چه دد ریم باب په دریمه او اوومه قصه کښ تیر شوی دی. خو سره د دے حدیثونه په کثرت سره یاد وَل د دوی مشغله وه چه د دے په برکت ئن د ټولو نه زیات حدیثونه د دهٔ خودلے شی. ابنِ جوزی رحمة الله علیه تلقیح کښ لیکلی دی چه پنځه زره درے سوه څلور اویا حدیثونه د دهٔ نه نقل دی. یو ځلے حضرت ابوهریره رضی الله عنه د جنازے متعلق یو حدیث بیان کړهٔ چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه څوك د جنازے سره ووځی، واپس راشی، هغهٔ ته یو قیراط ثواب ورکولے شی، او چه څوك په دفن کښ شریك شی، هغهٔ ته دوه قیراطه ثواب ورکولے شی او دیو قیراط مقدار د اُحُد نه هم زیات دے. حضرت عبد الله بن عُمَر رضی الله عنه ته په دے حدیث کښ څهٔ شك شو. وے فرمایل، اَبُوهُرَیْرَه! په سوچ سره وایه، دے غصه شو. سمدستی حضرت عائشه رضی الله عنها ته ورغے، او عرض یے وُکړهٔ چه زهٔ تا ته قسم درکوم، او تپوس کوم چه د اقیراط والاحدیث تا د نبی علیه الصلوٰة والسلام نه آوریدلے دے؟ هغے وُفرمایل، آو- آوریدلے مے دے. ابوهریره رضی الله عنه وُفرمایل چه ما ته د نبی علیه الصلوٰة والسلام په زمانه کښ نهٔ څو په باغ کښ وُنے لګوَل وُو، او نهٔ با زار کښ مال خرڅول وُو. زهٔ به د نبی علیه الصلوٰة والسلام په دربار کښ پروت وُم، آو بس دا کارم وُو چه څهٔ خبرے دیادَولو یه لاس راشی یا څهٔ خوراك راکړے شی. حضرت عبد الله بن عُمر رضی الله عنه وُفرمایل، بیشکه ته زمونږ خلقو نه زیات حاضرباش وے او په حدیثونو زیات پوهیدے ئے. (مسند احمد) دے سره ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه زهٔ دولس زره ځله هره ورځ استغفار لولم. او یو مزے د هٔ سره وُو چه په هغے کښ زرغوټے وے. د شپے به ترهغه وخته پورے نهٔ اُودهٔ کیدهٔ، تر څو پورے چه په هغهٔ په سُبْحَانَ الله سره پوره کړے نه وے. (تذکره)

⑦ د مُسَیْلِمَه کَذّاب قتل او د قرآن جمع کوَل

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس د مُسَیْلمه کذّاب (چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام په موجودګئ کښ د نبوت دعوٰی کړے وه) اثر په زیاتید و شو او

چونکه عربو کښې مُرتَد کیدل په زور شور شروع شوي وُو په دې سره دَدې نورهم طاقتور شو- حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دَ دۀ سره جنګ اُوکړۀ، الله تعالیٰ اِسلام ته غلبه ورکړه او مُسَیلِمه قتل شو- خو په دې جنګ کښې دَصحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین یو لوئې جماعت هم شهید شو- خصوصًا دقرانِ پاک دحافظانو یوه لویه ډله شهیده شوه- حضرت عُمر رضی الله عنه د اَمیرالمؤمنین حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په خدمت کښې حاضر شو اوعرض یې وُکړۀ چه دے جنګ کښې قاریان ډیر شهیدان شول- که چرے دغه رنګے یو دوه جنګونو کښې تور شهیدان شي، نو دقرانِ پاک ډیره حِصه دضائع کیدو خطره ده- په دے وجه دا یو ځائې وُلیکه چه محفوظ شي- حضرت ابوبکر صِدّیق رضی الله عنه وُفرمایل چه ته په داسے کار څنګه زړۀ ورتیا کوے چه هغه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته دے کړے- حضرت عُمر رضی الله عنه په دې اِصرار کولو، او دضرورت اِظهار یې کولو- په آخر کښې دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه رائے هم ورسره برابره شوه- نو حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه (چه د هغۀ قصه یو لسم باب قِصه اتلسمه کښې رارواته ده) یې راوُغوختلو- زید رضی الله عنه فرمائی چه زۀ دحضرت ابوبکر صِدّیق رضی الله عنه خدمت کښې حاضر شوم، نو حضرت عُمَر رضی الله عنه هم تشریف فرما وُو- حضرت ابوبکر رضی الله عنه اول خپلے او دحضرت عُمَر رضی الله عنه ټولے خبرے آترے بیان کړے- دَدے نه پس یې اِرشاد وُفرمایۀ، چه ته ځوان او عقلمند یې- په تا باندے هیڅ قسمه بدګمانی نشته- او دد ے ټولو خبرو نه علاوه دا چه په خپله دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم زمانه کښې هُم ته وحی لیکلو باندے پاتے شوے یې- په دے وجه دا کار هم ته وُکړه- دخلقو نه قرانِ پاک راجمع کړه، او یو ځائې یې نقل کړه- زید رضی الله عنه فرمائی چه په الله تعالیٰ م دِ قسم وی، که چرے ماته یې داحُکم کړے وے چه فلانے غر اُونړوه، د هغه ځائې نه یې دیځوارا بدل کړه، نو داحکم زما دپاره دقران پاك جَمع کولو دحکم نه آسان وُو- ما عرض وُکړۀ، چه تاسو داسے کار څنګه کوئ، کوم چه نبی علیه الصلوٰة والسلام ته دے نۀ کړے- دے حضراتو زۀ پوهۀ کولم- یو حدیث کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

راغلی دی چه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه زید رضی الله عنه ته وُفرمایل که
چرے ته د عُمر رضی الله عنه ملګرتیا اُوکړے، نوزهٔ به د دے حکم درکړم، اوکهٔ
ته کوے نو بیا زهٔ هم اِراده نهٔ لرم. زید بن ثابت رضی الله عنه وائی چه ډیر
ساعت خبرو آترونه پس الله جلّ شانُهٔ زما هم دے طرف ته سینه
پرانستله، چه قرانِ پاک دِیوځائ جَمع کړے شی، ماد اِرشاد په
تعمیل کښ خلقو څخه کوم قرآن شریف چه جُدا جُدا لیکلے شوے
وُو، اوکوم چه د دے حضراتو صحابه کرامو رضی الله عنهم په سینوکښ محفوظ
وُو، ټول م تلاش کړهٔ اوراجَمع م کړهٔ. (دُرّ)

فائده: دے قصه کښ اول خو د دے حضراتو د اِتّباع اهتمام
معلومیږی. چه دغر بدلول دوی د پاره د دے ته آسان وُو، چه څهٔ
داسے کار اُوکړے شی، کوم چه نبی علیه الصلوٰة ته وی کړے. دے نه پس د
کلام پاک جمع کول کوم چه د دین بُنیاد دے، الله تعالیٰ م د دے حضراتو
په عملنامه کښ اِشخے وه. بیا حضرت زید رضی الله عنه د ومره اهتمام د دے
په جَمع کولو کښ اُوکړهٔ چه هیڅ یوایت به یے بغیر د لیکلو نهٔ آخستو.
راو هغه لیکل به یے آخستهٔ) کوم چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د زمانے لیکلی وُود
هغے ته به یے جَمع کولو، او د حافظانو د سینے سره به یے د هغے مقابله کوله
او چونکه ټول قرآن شریف جُدا جُدا ځایونوکښ لیکلے شوے وُو، په
دے وجه د هغے په تلاش کښ اګر که څهٔ محنت ضرور اُوکړے شو، خو
ټول بیا موندے شو. اُبَیّ بن کعب رضی الله عنه کوم ته چه په خپله نبی علیه الصلوٰة د
قرآن پاک د ټولو ته زیات پوهه فرمایلے وُو، د زید رضی الله عنه به یے اِمداد کولو،
دے محنت سره کلام الله شریف دے حضراتو د ټولو نه ړومبے جَمع کړو.

⑧ د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه په روایت د حدیث کښ احتیاط

حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ډیر مشهور و صحابیو نه وُو او په
هغے صحابیو کښ شمار دے کوم چه د فتوے والا یعنی ذمه دار وُو. د اِسلام
په شروع کښ مسلمان شوے وُو، او د حبشے هجرت یے هم کړے وُو.

تهولو غزاګانو کښې نبي علیه الصلوٰة والسلام سره شريك وو- او خادمِ خاص کيدو په وجه صَاحِبُ النَّعْلِ، صَاحِبُ الْوِسَادَه، صَاحِبُ الْمِطْهَرَة، يعنې پېزرو والا، تکيه والا، د اودا سه اوبو والا- دا اَلْقَاب هم ده ته دی ځکه چه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم دا خدمتونه زيات ده ته سپارلے شوی وو- د نبي علیه الصلوٰة والسلام ده ته يا ره کښې دا هُم ارشاد دے، که چرے زهٔ څوك بغير مشورے امير جوړوم، نو عبدالله بن مسعود به جوړوم- د نبي علیه الصلوٰة والسلام ده ته ارشاد وو چه تا ته هر وخت د راتلو اجازت دے- د نبي علیه الصلوٰة والسلام دا هم ارشاد دے څوك چه قرآن شريف هغسے لوستل غواړی په کومه طريقه چه نازل شوے دے، نو د عبدالله بن مسعود د طريقے مطابق دِ لولی- د نبي علیه الصلوٰة والسلام دا هم ارشاد دے چه ابن مسعود کوم حديث تاسو ته بيان کړی، هغه رېښتيا ګڼړئ- اَبُو موسیٰ اَشعري رضی الله عنه فرمائی چه مونږ خلق کله د يمن نه راغلو- نو ډير مُوده پورے ابن مسعود رضی الله عنه مونږ د اهلِ بيتو نه ګڼړلو- ځکه چه دومره زيات ده او ده د مور د نبي علیه الصلوٰة والسلام په کور کښې تلل راتلل وو لکه څنګه چه د کور د ښيادم وی- (بخاری)

خوسره دے تهولو خبرو اَبُوعمرو شَيْبانی رضی الله عنه فرمائی چه زهٔ يو کاله پورے ابن مسعود رضی الله عنه څخه پاتے شوم- ما هيڅ کله هغه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته د څهٔ خبرے نسبت کونکے ونه ليده- که چرے به يے نبي علیه الصلوٰة والسلام ته د څهٔ خبرے نسبت کولو، نو په بدن به يے رپيدل راغلهٔ- عَمرو بن ميمون رضی الله عنه وائی چه زهٔ د هر زيارت په ورځ يو کاله پورے ابن مسعود رضی الله عنه ته تلم راتلم- ما ترے هيڅ کله يو خبره نبي علیه الصلوٰة والسلام طرف ته نسبت کونکے نهٔ ده اوريدلے- يو ځل يے حديث بيانولو- په ژبه يے د اجاری شوه چه نبي علیه الصلوٰة والسلام دا ارشادوفرمايهٔ، نو بدن يے وَرپيدهٔ، په سترګو کښې يے اوښکے راغلے، په تندی يے خوله راغله، رګونه يے اُوپړسيدل، اَووے فرمايل، اِنشاءالله هُم دا يے فرمايلی وو- يا دِ ے ته نزدے دے په شان وو- يا دے نه څهٔ زيات او يا دے نه څهٔ کم يے فرمايلی وو- (مقدمه اَوجز، مسند احمد)

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده: داؤو ددے حضراتو صحابه کرامو رضی الله عنهم احتیاط دحدیث شریف په باره کښې، ځکه چه دنبي علیه الصلوٰة ارشاد دے چه څوک زما له طرفه دروغ نقل کړي (پکاردي چه) خپله ټیکاوټره دِ دوزخ کښې جوړکړي دِدے ویرے نه دا حضرات سره ددے چه مسئلے به یے دنبي علیه الصلوٰة دارشادا تو او وحالاتو نه خودلے. خو دا به یے ته وے چه دنبي علیه الصلوٰة ارشاد دے چه الله مه کړه دروغ رانه اُونه ئ زي. ددے په مقابله کښې مونږ خپل حالتو ته اُوګورو چه بے دریغه بے تحقیقه حدیثونه نقل کوو، ذرّه هم نهٔ ویریږو، حال دا چه نبي علیه الصلوٰة طرف ته نسبت کولو کښې دخبرے نقل کول ډیره سخته ذمه داري ده. فِقه حَنفي هم ددے عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه ډیره زیاته اخستلے شوې.

⑨ حضرت ابوالدّرداء رضی الله عنه ته د یو حدیث دپاره دیو سړي دمشق ته تلل

کَثِیر بن قَیس وائي چه زهٔ حضرت ابوالدّرداء رضی الله عنه سره دمشق په جُمات کښې ناست وُم. یو کس دهغهٔ په خدمت کښې راغے، اَووے ویل چه زهٔ دمدینے منورے نه دیو حدیث په وجه راغلے یم. ما اوریدلي دي چه هغه تاسو دنبي علیه الصلوٰة نه آوریدلے دے. ابوالدّرداء رضی الله عنه ترے تپوس وُکړهٔ، څهٔ نور تجارتي کار خو دِ نهٔ وُو؟ هغهٔ اُووے نه. ابوالدّرداء ترے بیا تپوس وُکړهٔ چه څهٔ بل غرض خو دِ نهٔ وُو؟ وے ویل نه. صرف حدیث معلومولو دپاره راغلے یم. ابوالدرداء رضی الله عنه وُفرمایل چه ما دنبي علیه الصلوٰة نه آوریدلي دي چه څوک په یوه لاره دعلم حاصلولو دپاره ځي، الله تعالیٰ دهغهٔ دپاره دجنت لاره آسانوي. آوفرښتے خپلے وَزَرے د دطالب علم درضا دپاره غوړوي. اودطالب علم دپاره داسمان او دزمکے اُوسیدونکي استغفار کوي، ترد ے پورے چه کبان چه په اُوبو کښې اُوسي هغه هم اِستِغفار کوي. اودعالم فضیلت په عابِد داسے دے لکه سپوږمۍ فضیلت په ټولو ستورو باندے. اوعُلماء دانبیاؤ وارثان دي. انبیاء علیهم السلام څوک ددینارا وددرهم وارث نهٔ جوړوي، بلکه دعلم وارث یے جوړوي. څوک چه علم حاصلوي هغه یولوئ دولت حاصلوي. (ابن ماجه)

فائده: حضرت اَبُوالدَّرداء رضی الله عنه فقهاؤ صحابه وُکښې دے بحکیم الاُمت ورنه ویلے شي۔ فرمائی چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام د نبوت په وخت کښې ما تجارت کولو۔ ما د مسلمانیدو نه پس وغوښتل چه تجارت او عبادت دواړه جمع کړم، خو دواړه یو ځائی نهٔ شو، نو تجارت مې پریښوده۔ اُوس زما زړه دا هم نهٔ خوښوی چه بالکل د جُمات دروازے پورے مې دُکان وی چه یو مونځ رانه هم نهٔ فوت کیږی۔ او روزانه د څلویښتو دینارو نفع وی، او زهٔ هغه ټول صدقه کوم۔ چا ترے تپوس وُکړو، په دا سے تجارت ولے خفه شوے چه مونځ درنه هُم نهٔ ځی، او دومره کټه روزانه د الله تعالیٰ په لارکښې لګوے، بیا هم نهٔ خوښوے؟ وے فرمایل حساب خویه ورکول وی۔ اَبُوالدَّرداء رضی الله عنه دا هم فرمائی چه زما مرګ سره محبّت دے د خپل مولیٰ سره د مُلاقات په شوق کښې۔ او غریبئ سره مې محبّت دے د عاجزئ د پاره، او بیمارئ سره مې محبّت دے د ګناهو وبخښلو د پاره۔ (تذکره)

پورتنئ قصه کښې د یو حدیث د پاره یے دومره اوږد سفر کړے دے، د دے حضراتو په نزد حدیث حاصلولو د پاره سفر کول څهٔ ګران نهٔ وُو۔ د یو حدیث اوریدلو او معلومولو د پاره د لرے نه لرے سفر کول د دے حضراتو نه ډیر اسان وُو۔ شَعبی رحمة الله علیه یو مشهور مُحدّث دے۔ د کُوفے اُوسیدُونکے دے۔ یو ځل یے خپل شاګرد ته حدیث واوَروو، او وے فرمایل چه وا خله کور کښې په ناسته مُفت درته حاصل شو۔ کنی د دے نه کم د پاره به هم د مدینے مُنورے سفر کولے شو۔ ځکه چه په اِبتداء کښې د حدیث خزانه مدینه مُنوره وه۔ علمی محبّت سا تونکو حضراتو لوئ لوئ اُوږده سفرونه د عِلم د پاره کړی دی۔ سَعِید بن اَلمُسَیّب رحمة الله علیه چه یو مشهور تابعی دے فرمائی چه زهٔ د یو یو حدیث د پاره څو څو شپے او ورځے پیدل تلے یم۔ اِمامُ الاَئمه اِمام بخاری رحمة الله علیه شوّال ۱۹۴ھ کښې پیدا شو۔ ۲۰۵ھ کښې یعنی یوولسو کالو عُمر کښې یے حدیث لوستل شروع کړی وُو۔ د عبد الله بن مبارک رحمة الله علیه ټول کتابونه یے په وړوکوالی کښې یاد کړی وُو۔ په خپل ښهر کښې چه ورته څومره حدیثونه حاصلیدے شو، د هغے د حاصلولو نه پس

Maktaba Tul Ishaat.com

یې سنه ۲۱۶ھ کښې سفر شروع کړه - پلار یې وفات شوے وو، یتیم وو، مور یې سفر کښې ورسره وه - دے نه پس بلخ، بغداد، مکه مکرمه، بصره، کوفه، شام، عسقلان، حمص، دمشق دغو ښهریو ته لاړه، او هرځائ چه کوم ذخیره د حدیثونو ورته حاصلیدے شوه، حاصله یې کړه - او د اسے هلکوانئ کښې د حدیث اُستاذ جوړ شوے وو چه په مخ یې د دیرے ویښته هم نهٔ وو راختلی - وائ چه زما د اتلسو کالو عمر وو چه ما د صحابه رضی الله عنهم او د تابعینو رحمهم الله فیصلے نوم کتاب جوړ کړه - حاشد رضی الله عنه او ددهٔ یو ملګرے وائ چه امام بخاری رحمة الله علیه مونږ سره اُستاذ ته تلو - مونږ به لیکل کول او امام بخاری به دغسے (بغیر لیکلو) واپس راتلو - څه ورځے تیرے شوے مونږ ورته اُووے چه ته هسے وخت ضائع کوے - دے چپ شو - هر کله چه مونږ څو وارے اُووے، نو دے فرمایل چه تاسو خوزهٔ تنګ کړم - راوړئ تاسو څهٔ لیکلی دی؟ مونږه خپل راجمع کړی حدیثونه راوویستل چه پنځلس زره حدیثونو نه زیات مقدار کښې وو - دهٔ ټول په یاد واورول مونږ ټول حق حیران پاتے شو -

⑩ د حضرت ابنِ عبّاس رضی الله عنه یو انصاری له ورتلل

حضرت عبد الله بن عبّاس رضی الله عنه فرمائ چه د نبی اکرم ﷺ د وفات نه پس ما یو انصاری ته اُووے چه نبی علیه الصلوٰة والسلام خو وفات شو - اُوس یو رے د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم لویه ډله موجود ده، راځه د دوی نه په ټپوس ټپوس مسئلے یاد ے کړو - هغهٔ انصاری اُووے، چه ایا د دے صحابه کرامو رضی الله عنهم په موجودګئ کښې به هم خلق تاسو ته مسئلے پوښتنے د پاره راځی - حال دا چه د صحابه کرامو لویه ډله موجوده ده - لنډه دا، دغے صاحب خو هټ اُونکړه - او زهٔ مسئلو پسے شوم - او دکوم صاحب متعلق چه به ما ته پته اُولګیده چه فلانے حدیث هغوی د نبی علیه الصلوٰة والسلام نه آوریدلے دے هغهٔ ته به ورتلم، او تحقیق به مې ترے کولو - ما ته د مسائلو پیره لویه ذخیره د انصارو نه حاصله شوه - بعضے خلقو ته به لاړم معلومه به شوه چه اُوده

دے، نوما به خپل ځادر هلته په دُرشل یاندے کیخودهٔ، انتظار کښ به کیناستم. اګرچه په هوا سره به مې په مخ او په بدن خاورے هم پریوتلے. خوزهٔ به هلته تاسته وُم. کله چه به هغهٔ راپاسیدو. نو کومه خبره چه به معلومول، دهغے په مې ترے پوښتنه اُوکړه. هغهٔ حضرات به ویل چه تهٔ د نبی علیه الصلوٰة والسلام د تره ځوئ یے. تا ولے تکلیف اُوکړو، زهٔ به دِ راغوښتے وے. خو مابه وے چه زهٔ علم حاصلوُنکے یم. په دے وجه زهٔ زیات د حاضریدو مستحق یم. بعضو حضراتو به تپوس اُوکړو، چه تهٔ د کله نه تاست یے؟ مابه وے د ډیر ساعت نه. هغهٔ به اُووے چه تا بیا اُوکړهٔ. ما ته به دِ خبر کړے وُو. مابه اُووے، زما زړهٔ اُونهٔ غوختل چه تاسو زما په وجه د خپلو ضرورتونو فارغیدو نه وړاندے راشئ. آن تردے چه یووخت داسے هم راغے چه خلق علم حاصلولو د پاره ما څخه جمع شول. بیا هغهٔ انصاری صاحب افسوس اُوکړو. وِے ویل چه دا هلک زمونږ نه زیات هوښیار وُو. (دارمی)

فائده: داهغه څیز وُو کوم چه حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه دخپل وخت حَبْرُ الْاُمَّةِ او د بحر العلم لقب ورکړهٔ. کله چه د دهٔ وفات اُوشو نو طائف کښ وُو. د حضرت علی رضی الله عنه ځوئ محمد رضی الله عنه د جنازے مونځ اُوکړو، او وِے فرمایل چه د دے اُمّت امامِ ربّانی نن رخصت شو. حضرت عبد الله بن عُمر رضی الله عنه فرمائی چه ابنِ عباس رضی الله عنه د ایتونو شانِ نزول پیژندلو کښ د ټولو نه مُمتاز دے. حضرت عُمر رضی الله عنه به دهٔ ته د عُلماؤ په خاص صَف کښ ځائ ورکولو. دا ټول د هغے قربانئ نتیجه وه. کنی که چرے دے د خپلے صاحبزادګئ (چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام د تره ځوئ یم) په ګُمان کښ اُوسیدے، نو دا مرتبے به ورته څنګه حاصلیدے. په خپله دا قاعده نامه ارنبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد دے چه د حیا نه عِلم حاصِلوئ، د هغهٔ څخکښ عاجزی کوئ. بخاری شریف کښ د مُجاهِد رحمة الله علیه نه یے نقل کړے دے چه څوک عِلم حاصلولو کښ حَیا کوی یا تکبر کوی هغه عِلم نهٔ شی حاصِلولے. د حضرت علی رضی الله عنه ارشاد دے

Maktaba Tul Ishaat.com

چه چا ما ته یو حرف هُم اُوخودلو، زهٔ دهغهٔ غلام یم. خو ښه یے خپله ده کهٔ ما آزادوی کهٔ م خرڅوی. یحییٰ بن کثیر رحمة الله علیه وائی چه علم راحت او آرام سره نهٔ حاصلیږی. د امام شافعی رحمة الله علیه اِرشاد دے چه کوم کس علم بے رغبتئ او بے پروائیٔ سره حاصل کړی، هغه نهٔ شی کامیا بید ے، هو! چه خوک خاکسارئ او حاجتمندئ سره حاصلول غواړی هغه کامیا بیدے شی. مُغیره رحمة الله علیه وائی چه مونږ به دخپل اُستاذ ابراهیم رحمة الله علیه نه داسے ویریدو، څنګه چه خوک بادشاه نه ویریږی. یحییٰ بن مُعین رحمة الله علیه ډیر لوئ مُحدِّث دے. امام بخاری رحمة الله علیه دهغهٔ متعلق فرمائی چه دمحدِّثینو څومره اِحترام به هغهٔ کولو، دومره بل څوک به کولو ما نهٔ دے لیدلے. امام ابویُوسف رحمة الله علیه وائی چه ما دبزرګانو نه آوریدلی دی چه څوک د اُستاد قدر نکوی هغه کامیابیدے نهٔ شی.

دے قصه کښ کهٔ یو خوا دحضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه داُستاذانو سره عاجزی او انکساری معلومیږی، نو بل خوا ورسره دعلم محنت او دهغے پابندی هم معلومیږی. چا سره به چه ورته دحدیث پته لګیده، زر به تلو، هغه به یے حاصلوو، خواه په هغے کښ به څومره مشقت، محنت او تکلیف اُوچتول وو. او حقه داده چه بے محنته او مُشقته علم خو یو خوا معمولی څیز هم نهٔ حاصِلیږی. او دامتَل مشهور دے، مَنْ طَلَبَ الْعُلٰی سَهِرَ اللَّیَالِی، "څوک چه اُوچتے مرتبے غواړی شپے به رونړوی".

مُنفرِّقے علمی کارنامے

حارث بن یزید، ابنِ شُبُرمه، قعقاع، مُغیره رضی الله عنهم څلور وحضراتو به د ماسخوتن د ما ښځه نه پس علمی بحث شروع کړهٔ. د سحر آذانه پورے به یو هم نهٔ جُدا کیده. لَیْث بن سعد رضی الله عنه وائی چه امام زُهری رحمة الله علیه به د ماسخوتن ما ښځه نه پس په اُودا سهٔ کښ دحدیث سلسله شروع کړه، نو سحر به یے کړو. (دارمی) دَرَاوَرْدِی رحمة الله علیه وائی چه امام ابوحنیفه او امام مالک رحمهما الله ما اُولیدل چه مسجدِ نبویؐ کښ یے دماسخوتن نه پس په یو مسئله کښ بحث شروع کړهٔ، او هغه هم دارنګے چه هغے کښ تو کل، ملامته کول

اَوغلطول نهٔ وُو، اَو هم په دے حالت کښې په سحر شو، اَوهلته په يے د سحر مونځ وُکړو۔ (مقدمه) ابنِ فرات بغدادی رحمة الله عليه يو محدث دے کله چه وفات شو نو اتلس صندوقه د کتابونو يے پريخودل چه په هغې کښې اکثر يے په خپله خپل قلم سره ليکلی وُو۔ اوکمال دا دے چه د محدثينو په نزد صحت نقل او د ښهٔ ليکلو په اعتبار سره ددهٔ ليکلې شوی حجّت هم دی۔

ابنِ جوزی رحمة الله عليه مشهور محدّث دے۔ د درے کالو په عمر کښې يے پلار وفات شو۔ د يتيمئ حالت کښې يے پرورش بيا موندهٔ، خود محنت يے دا حال وُو چه د جُمعے د مانځه نه علاوه به د کور نه لرے نهٔ تلو۔ يو وارے يے په منبر اُووے چه ما په دے خپلو گوتو سره دوه زره جلد ه ليکلی دی د دوه نيم سوؤ نه زيات ددهٔ خپل کتابونه دی۔ وائی چه هيڅ وخت به يے نهٔ ضائع کيدو۔ څلور جُزونه روزانه د ليکلو يے معمول وُو۔ د درس يے دا حال وُو چه مجلس کښې يے بعضے وخت ديو لا کهه نه زيات د شاگردانو اندازه وه۔ اميران، وزيران، بادشاهان به يے مجلسِ درس کښې حاضر وُو۔ ابنِ جوزی رحمة الله عليه په خپله وائی چه يو لا کهه کسانو ما نه لاس نيوه کړے ده۔ اَو شل زره زما په لاس مسلمانان شوی دی۔ خو سره ددے د شيعه گانو زور وُو، تکليفونه يے هم اُوچت کړی دی۔ (تذکره) د حديثونو ليکلو په وخت کښې د قلمونو بُورَه به يے جمع کوله۔ د مرګ په وخت کښې يے وصيت وُکړو چه زما د غُسل اُوبهٔ د په دے گرم کړے شي۔ وائی چه اُوبهٔ پرے گرمے کړے شوے اَو بُوره ترے پاتے هم شوه۔

يحيٰی بن مُعين رحمة الله عليه مشهور اُستاذِ حديث دے۔ دے وائی چه ما په خپلو لاسونو لس لاکهه حديثونه ليکلی دی۔

ابنِ جرير طبری رحمة الله عليه مشهور مؤرخ دے د صحابوؤ او د تابعينو د حالاتو نه ښهٔ خبردار دے۔ څلويښتو کالو پورے يے هميشه څلويښت پاڼے روزانه د ليکلو معمول وُو۔ ددهٔ په وفات شاگردانو روزانه د ليکلو حساب اُولګولو۔ نو د بالغ کيدو نه مرګه پورے څوارلس پاڼے روزانه په حساب رااُووتے۔ ددهٔ کتاب تاريخ طبری مشهور دے۔ عام طور موندے شي۔ کله چه دهٔ ددے

Maktaba Tul Ishaat.com

دتصنیف اِرادہ ښکاره کړه، نو دخلقونه یې تپوس وُکړهٔ چه د ټول عالَم د تاریخ لیکلو بانــدے خو یه تاسوخلق ډیرخوشاله شئ. خلقوترے پو ښتنه اُوکړه چه آندازهٔ څومره به لوئ وی. وِے فرمایل چه تقریبًا دیرش زره پاڼړو بانــدے به راشی. خلقواُوویل ددے دپُوره کولونه رومبے به عُمرونه ختم شی. وِے فرمایل، اِنَّا لِلّٰهِ. هِمّتونه کمزوری شو. دے نه پس یې مختصرکړو. اوتقریبًا درے زره پاڼړو بانــدے یې وُلیکهٔ. دغسے ددهٔ دتفسیر هم قصه اُوشوه. هغه هم مشهوردے، اوعام طورمونــدے شی.

دارِقُطنِی رحمة الله علیه دحدیث مشهورمُصنِّف دے. حدیث حاصلولو دپاره بَغداد، بصره، کُوفه، واسط، مصراودشام سفریې اُوکړه. یوځلے دأُستاذ په مجلس کښې ناست وو. اُستاذ لوستل کول، اَو دهٔ څه کتاب نقل کولو یوملګری اِعتراض وُکړهٔ، چه ته بل خواولے متوجّه یې. وِے فرمایل چه زما اوستا په توجُّه کښې فرق دے. اُوښایه اُستاذ اُوسه پورے څومره حدیثونه واوَرَوَل؟ هغه په سوچ کښې پریوت. دَارِقُطنِی رحمة الله علیه وُفرمایل چه اُستاذ اتلس حدیثونه واوَرَوَل. اول داوُو، دویم داوُو دغسے ترتیب وارټول حدیثونه یې سره دسَنَده واوَرَوَل.

حافظ اَثرَم رحمة الله علیه یومُحَدِّث دے. دحدیث یادَولوکښې یې ډیر مَشق وو. یوځل یې حج ته تَشریف یَوړه. هلته دخُراسان دوه لوئ اُستاذان دحدیث راغلی وو. اَوحرم شریف کښې دواړوبیل بیل درس ورکولو. هریوسره دلوستونکویوه لویه مَجْمَع وه. دے ددواړو مینځ کښې کیناست، اوددواړوحدیثونه یې په یووخت کښې وُلیکل.

عَبْدُاللهِ بن مُبارك رحمة الله علیه مشهورمُحدِّث دے حدیث حاصلولوکښې ددهٔ محنتونه مشهوردی. پخپله فرمائی چه ما دڅلورزرواُستاذانونه حدیثونه حاصل کړی دی. علی بنِ الحَسَن رحمة الله علیه فرمائی چه یوه شپه سخته یخنی وه. زهٔ اوابنِ مبارك رحمة الله علیه دجُمات نه دما سخوتن نه پس را اُووَتلو. دروازه بانــدے دیوحدیث باره کښې خبرے آترے شروع شوے. مایه څهٔ ویل هغهٔ به هُم څهٔ فرمایل، هلته په وَلاړه وَلاړه دسحرآذان اُوشو.

حمیدی رحمۃ اللہ علیہ یو مشهور محدث دے چا چه د بخاری او مسلم حدیثونه یو ځائ جمع کړی دی۔ ټوله شپه به یې لیکل کول او د ګرمی په موسم کښ کله چه به ګرمئ ډیر تنګولو۔ نو یو لګن به یې د اوبو نه ډک کړه، او په هغې کښ به کیناستهٔ لیکل به یې کول۔ د خلقو نه به جُدا اوسیدهٔ۔ شاعر هم دے۔ دده شعرونه دی۔

لِقَاءُ النَّاسِ لَيْسَ يُفِيدُ شَيْئًا ۞ سِوَى الْهَذَيَانِ مِنْ قِيلٍ وَقَالٍ
فَأَقْلِلْ مِنْ لِقَاءِ النَّاسِ إِلَّا ۞ لِأَخْذِ الْعِلْمِ أَوْ إِصْلَاحِ حَالٍ

ترجمه: دخلقو ملاقات هیڅ فائده نهٔ ورکوی سوا د قیل وقال فضول خوشے خبرونه، پس دخلقو ملاقات کم کړه، سوا دے چه دعلم حاصلولو دپاره اُستاذ سره یا د اِصلاح نفس دپاره چا شیخ سره ملاقات وی (نو خیر دے)

امام طبرانی رحمۃ اللہ علیہ مشهور محدث دے۔ ډیر کتابونه یې لیکلی دی چا دهغهٔ دکتابونو پیروالے ولیدهٔ۔ تپوس یې ترے وکړهٔ چه څنګه دِ لیکلی دی؟ وے فرمایل چه دیرش کاله م په پوزکی تیر کړی دی یعنی شپه او ورځ به په پوزکی پروت وُو۔ ابُو الْعَبَّاس شیرازی رحمۃ اللہ علیہ وائی چه ما د طبرانی رحمۃ اللہ علیہ نه درے لاکهه حدیثونه لیکلی دی۔ امام ابُو حَنِیفه رحمۃ اللہ علیہ به ډیر په سختئ سره د ناسخ او منسوخ حدیثونو تحقیق کولو۔ کُوفه چه په دغے زمانه کښ دعلم په کور یاد یده و۔ په هغې کښ چه څومره محدثین وُو۔ د ټولو حدیثونه یې جمع کړی وُو۔ او کله چه به دبهر نه څوك محدث راغے۔ نو شاګردانو ته به یې حکم کولو۔ که دهٔ سره یو داسے حدیث وی چه مونږ سره نهٔ وی، د هغې تحقیق اُوکړئ۔ یو علمی مجلس به د امام صاحب رحمۃ اللہ علیہ څخه لګیدهٔ چه په هغې کښ به د محدث، فقیه، د ژبو پوهه خلقو کښېنوه وه۔ کله به چه څهٔ مسئله مخکښ راغله۔ په دے مجلس کښ به په هغې بحث کیدهٔ، او بعضے وخت به یوه یوه میاشت بحث کیدلو۔ دے نه پس به چه کله څهٔ خبره فیصله شوه، نو هغه به مذهب وُګرزولے شو، او اُو به لیکلے شوه۔

امام ترمذی رحمۃ اللہ علیہ د نوم نه به څوك ناخبره وی حدیثونو پیر زیات

Maktaba Tul Ishaat.com

یادؤل او یاد ساتل ددهٔ خصوصی شان ؤو۔ او قوّتِ حافظه کښې ډیر مشهور ؤو بعض مُحدِّثینو ددهٔ اِمتحان واخستلهٔ، او څلویښت حدیثونه یې داسې واؤرَوُل چه کوم مشهور نهٔ وُو۔ امام تِرمِذی رحمۃ اللہ علیہ فورًا واؤرَوُل۔ په خپله امام تِرمِذی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه ما د مکے مکرمے په لار کښې د یو اُستاذ د حدیثونو دوه جُزءَه نقل کړی وُو۔ اتفاقًا په خپله هغه اُستاذ سره مُلاقات اُوشو۔ ما ورته درخواست وُکړهٔ چه هغه دواړه جُزءه د حدیثونو د اُستاذ نه هُم واؤرم۔ هغوی قبوله کړه۔ ما دا گنړله چه هغه دوه جُزءه ما سره دی۔ خو چه د اُستاذ خدمت ته لاړم، نو په ځائے د هغه دوه ساده جُزءه م په لاس کښې وُو۔ اُستاذ اَوروَل شروع کړل۔ اتفاقًا د هغهٔ نظر پریوتهٔ، نو زما په لاس کښې ساده جُزء وته وُو، ناراضه شو، وے فرمایل، تا له شرم نهٔ درځی۔ ما ورته قصه بیان کړه۔ اوعرض م اُوکړهٔ، چه تا سو څهٔ اَوروَئ، هغه ما ته یاد یږی۔ اُستاذ ته یقین رانغے، وے فرمایل بیا واؤرَوه، ما ټول حدیثونه واؤرَوُل۔ وے فرمایل چه دا به تا ته رومبے نه یاد وُو۔ ما عرض وُکړهٔ، چه نور نوی حدیثونه واؤروَئ۔ هغهٔ څلویښت حدیثونه واؤرَوُل۔ ما هغه هُم فورًا واؤرَوُل، او یوه غلطی م اُونهٔ کړه۔

مُحدِّثینو چه کوم کوم محنتونه د حدیثونو په یادولو کښې، د هغے په خورولو کښې کړی دی۔ د هغے اِتّباع خو یو خوا د هغے شمار هم مشکل دے

قرطبه رحمۃ اللہ علیہ یو مُحدِّث دے، زیات مشهور نهٔ دے، ددهٔ یو شاگرد داؤد رحمۃ اللہ علیہ وائی چه خلقو به د ابوحاتم رحمۃ اللہ علیہ وغیره د حافظے ذکر کوؤ۔ ما د قرطبه نه زیات حافظ نهٔ دے لیدلے۔ یو ځلے زهٔ هغهٔ له ورغلم، وے فرمایل چه دے کتابونو کښې کوم دِ زړهٔ غواړی، راواخله۔ درته به واؤرَوم۔ ما کِتَابُ الاَشرِبه را اُوچت کړهٔ۔ هغهٔ د هر باب د اخیرنه اول طرف ته اُولوستهٔ، او ټول کتاب یے واؤرَوُو۔

اَبُو زُرعه رحمۃ اللہ علیہ وائی چه اِمام اَحمَد بن حَنبل رحمۃ اللہ علیہ ته لس لاکهه حدیثونه یاد وُو۔ اِسحٰق بن رَاهُویه رحمۃ اللہ علیہ وائی چه یو لاکهه حدیثونه ما جمع کړی دی۔ او دیرش زره ما ته زبانی یاد دی۔ خفاف رحمۃ اللہ علیہ وائی

چه اسحاق رحمة الله علیه یوُلس زره حدیثونه دخپل یاد نه مونړ ته اُولیکل، او بیا یې هغه نمبروار واوړول - نهٔ په کښې څهٔ حرف کم وُو نهٔ زیات. ابُوسعد اَصبهانی بغدادی رحمة الله علیه دشپاړسو کالو عُمر کښې ابونصر رحمة الله علیه حدیثونه اوریدو د پاره بغداد ته وُرسیدهٔ. په لاره کښې یې دهغهٔ د وفات خبر واوریدهٔ، بے اِختیاره یې وُژړل، چغې یې اُووَتلې چه د دهٔ ستړ به کوم ځائ بیا موندے شي، دومره غم کوُل چه په ژړا کښې ترے چغې اُوزی داهله کیدے شي. کله چه دخپهٔ خیز سره عشق شي. دهٔ ته مسلم شریف ټول یاد وُو، او په یادیه یې طالبانو ته لیکهٔ، یوُلس ځله یې کړي وُو. کله چه به خوراك ته کیناستو، نو سترګے به یې داُوښکو نه ډکے شوے

اَبُوعُمر ضَرِیر رحمة الله علیه پیدائشي ړوند وُو، خو حُفّاظ حدیث کښې شماریږی. علمِ فِقه، تاریخ، فرائض یعنی علمِ میراث حساب کښې یې کامل مَهارت لرلو. اَبوالحُسَین اَصفهانی رحمة الله علیه ته بخاری شریف او مسلم شریف دواړه یاد وُو. خصوصًا د بُخاری شریف یې خو دا حال وُو چه چا به سَنَدَهٔ اُووے، نو دهغې متن یعنی حدیث به یې واوَرَوُو. او چه چا به متن اُولوستهٔ، نو د هغې سَنَد به یې وُلوستهٔ شیخ تَقِیُّ الدین بَعْلَبَکی رحمة الله علیه په څلورو میاشتو کښې مسلم شریف یاد کړو، او دجمع بَیْنَ الصَّحِیحَیْن هم حافظ وُو. صاحبِ کرامات بزرګ وُو. دقران پاك هم حافظ وُو. وائی چه سُورۃ الانعام یې ټول په یوه ورځ کښې یاد کړے وُو. اِبْنُ السُّنّی رحمة الله علیه دامام نسائی رحمة الله علیه مشهور شاګرد دے. حدیث لیکلو کښې اخیره پورے مشغول وُو. دهغهٔ ځوئ وائی چه زما پلار لیکلو لیکلو کښې قلم مَشْوَانړئ کښې کیخودهٔ، او دواړه لاسونه یې دُعا د پاره اُوچت کړل. او په دے حالت کښې وفات شو. عَلّامه ساجی رحمة الله علیه په وړوکوالی فِقه حاصله کړه. دے نه پس یې دعلم حدیث مَشغله وه. هِرات کښې یې لس کاله قیام اُوکړهٔ. په دے کښې یې شپږ وارے تِرمِذی شریف په خپل لاس اُولیکهٔ. دابنِ مُندَه رحمة الله علیه نه یې غرائب شُعْبَه لوستهٔ چه په دے حال کښې دابنِ مُندَه رحمة الله علیه دماسخوتن دمانځه نه پس وفات اُوشو. لوستونکی نه دلولوُنکی علمی شوق و مَحبّت قابلِ قدر دے چه تر اخیره

Maktaba Tul Ishaat.com

وختله پورے یے لولول کول. ابوعمر خفاف رحمة الله علیه ته یو لاکھ حدیثونه زبانی یاد وُو. د امام بخاری رحمة الله علیه اُستاذ عاصِم بن علی رحمة الله علیه چه کله بغداد ته ورسیدهٔ، نو د شاګردانو د ومره ګنړه وه چه اکثر به دیو لاکھ نه زیات شول. یو وارے اندازه ولګولے شوه، نو یو لاکھ شل زره وُو. په دے وجه بعضِ الفاظ به خوخو وارے ویلے کیدل. د هغهٔ یو شاګرد وائی، چه یو وارے حَدَّثَنَا اللَّیْثُ یے څوارلس ځله اُووے. بنکاره خبره ده چه یو لاکھ پنځویشت زره سړو ته اواز رسَولو د پاره بعضے الفاظ څوخو وارے به څامخا ویلے کیدی. ابومُسلم بصری رحمة الله علیه چه کله بغداد ته ورسیدهٔ نو یو لوئی میدان کښ د حدیث درس شروع شو، اوو سړو به په ولاړه نورو ته د لیکلو د پاره ویل څنګه چه د اختر تکبیرو ته ویلے شی. د سبق نه پس مَشواڼئ اُوشمیرلے شوے نو څلویښت زرو نه زیاتے وے. او کوم کسان چه صرف اوریدو نکی وُو هغه د دوی نه علاوه وُو. د فریابی رحمة الله علیه په مجلس کښ دغه رنګے لیکوال درے سوه شپارس وُو. د دے ته د ډیر اندازه په خپله کیدے شی. د دے محنت او مشقت سره د پاکے علم نن ژوندے دے. امام بخاری رحمة الله علیه فرمائی چه ما د شپږ ولاکھو حدیثونو نه انتخاب اُوکړهٔ، بخاری شریف م اُولیکهٔ چه په دے کښ اُوه زره ۲۷۵ دوه سوه پنځه اویا حدیثونه دی. او د هر یو حدیث لیکلو په وخت دوه رکعته نفل یے کړی دی، بیا یے حدیث لیکلے دے. کله چه دے بغداد ته اُرسیدهٔ نو هغه ځائ محدثینو د دهٔ اِمتحان واخست. د ارنګے چه لس سړی یے مقرر کړل، په هغوی کښ هر یو کس لس لس حدیثونه خوښ کړل هغه یے بدل کړهٔ، او د دهٔ نه په یے تپوس کولو. دهٔ په د هر یو سوال په جواب کښ "ما ته معلوم نهٔ دے" ویلو. کله چه لسو وارو تپوس اوکړهٔ، نو دے د تپولو نه رومبے تپوس کوُنکی ته مُخاطب شو، وِے فرمایل چه تا د تپولو نه رومبے حدیث د اتپوس کړے وُو، تا داسے بیان کړهٔ د اغلط دے، او صحیح دا رنګے دے. دویم حدیث دِ د اتپوس کړے وُو. هغه دا رنګے تا بیان کړے وُو. د اغلط دے او صحیح دا رنګے دے. لنډه دا، دا رنګے سل په

سل حدیثونه یے ترتیب وار بیان کړل، چه هر یو حدیث یه یے اول هغه ته رنګے لوستهٔ، څرنګے چه امتحان اخستونکی لوستے وُو. بیا به یے فرمایل چه دا غلط دے او صحیح دا رنګے دے - امام مُسلِم رحمۃ اللہ علیہ څوارلس کالو عُمر کښ حدیث لوستل شروع کړل - په دے کښ تراخیره پورے مشغول وُو په خپله فرمائی چه ما درے لاکهو حدیثونو نه اِنتخاب اُوکړهٔ او مُسلِم شریف مِ اُولیکهٔ، چه په دے کښ دولس زره حدیثونه دی - امام ابو داؤد رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه ما پنځه لاکهه حدیثونه اوریدلی دی چه د هغے نه مِ اِنتخاب اُوکړهٔ، او سُنَنِ ابوداؤد شریف مِ اُولیکهٔ چه په دے کښ څلور زره اتهٔ سوه حدیثونه دی - یُوسف مَزّی رحمۃ اللہ علیہ مشهور مُحدّث دے، د اسماءِ رجال (یعنی د حدیث د نقل کوُنکو د نومونو) امام دے - اول یے په خپل ښهر کښ فقه او حدیث حاصل کړهٔ - دے نه پس د مکے مکرمے، مدینے منورے، حَلَب، حمات، بَعْلَبَك وغیره سفر یے وُکړهٔ - ډیر کتابونه یے په خپل قلم سره لیکلی دی - تَهْذِیْبُ الْکَمَال یے په دوه سوه جلدو کښ لیکلے دے - او کتاب الاطراف د اتیاؤ جلدُو نه زیات دے - د دهٔ عادتِ شریفه وُو چه اکثر به چُپ وُو - خبرے به یے خلقو سره ډیرے کمے کولے اکثر وختونو کښ په کتاب کښ مشغول وُو، د حسد کوُنکو په وجه ورته دشمنی پیښه شوه - خو بدله یے د چا نه وا نهٔ خسته - .

د دے حضراتو د حالاتو لیکل ګران دی - لوئی لوئی کتابونه د دوی د حالاتو او محنتونو احاطه نهٔ شی کولے - د لته د نمونے په طور مِ دیو څو حضراتو دوه څلور واقعاتو ذکر ځکه اُوکړهٔ چه دا معلومه شی چه د علمِ حدیث چه نن دیارلس نیم سوه کاله پورے شوهٔ په ترقئ سره باقی دے دا په څومره محنت او قربانو سره باقی ساتلے شوے دے - او کوم خلق چه د علم حاصلولو دعوٰی کوی، خپل ځان ته طالب عِلم وائی هغوی څومره محنت او مشقت د دے د پاره تیرَوی - کهٔ چرے موږ خلق د اغوا پرو چه موږ د خپل عیش و عشرت، راحت و ارام، سیر

Maktaba Tul Ishaat.com

وتفریح اود دُنیا نورو مشغلوکښې لګیا وُسو- او د نبی علیه الصلوٰة والسلام د پاك کلام اخوریل دِدارنګے باقی پاتے شي، نو این خیال است ومحال است وجنون نه سِوا نور څهٔ کیدے شي-

نهم باب

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمانبرداری، حُکم منل او دا کتل چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام منشا مبارك څهٔ ده

هسے خو د صحابه کرامو رضی الله عنهم هر یو کار فرمانبرداری وه- او تیرو شوُو قصونه دا خبره ښه ښکاره ده، خوخصوصًا څو قصے دے باب کښې حُکه ذکر کوُلے شي، چه مونږه خلق د خپلو حالتونو دے باب سره خصوصًا مقابله اوکړو- او اُوګورو چه مونږه د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسولِ پاك صلی الله علیه وسلم د احکامو فرمانبرداری ترکومه حده پورے کوُو کوم باندے چه مونږ خلق ددے اِنتظار کښې یُو چه هغه برکتونه او ترقئ او فائدے کومے چه صحابه کرامو رضی الله عنهم ته حاصلے وے مونږ ته دِهم حاصلے شي- کهٔ چرے واقعی مونږ خلق ددے څیز ارزومند یُو، نو مونږ ته هُم هغه کوُل پکار دی کوم چه دے حضراتو اُوکړهٔ او دُنیا ته یے وُخودله-

(۱) د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه څادر سوزوُل

حضرت عَبْدُ الله بن عَمْرِو بن الْعَاص رضی الله عنه فرمائی چه یو ځلے سفر کښې مونږ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره وُو، زهٔ د نبی علیه الصلوٰة والسلام خدمت کښې حاضر شوم، ما باندے یو څادر وُو چه د کُسُم (یو زیړ قسم) په رنګ کښې لږغوندے رنګ کړے شوے وُو- نبی علیه الصلوٰة والسلام چه وُلیدهٔ، وے فرمایل دا څهٔ دِ اغوستی دی؛ ما ته دِدے سوال نه د نبی علیه الصلوٰة والسلام د ناخوښئ اثرات معلوم شول- زهٔ کور ته واپس راغلم- کور والو نغری کښې اور بل کړے وُو- ما هغه څادر په هغے کښې واچوُو- دویمه ورځ چه کله حاضری وُشوه، نو نبی علیه الصلوٰة والسلام

وُفرمایل هغه ښادر دِخئ شو، ماقصه واؤرؤله - اِرشاد یې وُفرمایهٔ - زنانو کښې دِچا ته وَلې ورنکړه؟ د زنانو پسرؤلوکښې خو باك نهٔ وُو - (ابوداؤد)

فائده: اګرچه دښادر سؤزؤلو ضرورت نهٔ وُو خو چه دچا په زړهٔ کښې دچا د ناخوښئ او ناراضتیا ګذار لګیدلے وی، هغه د دومره سوچ برداشت نهٔ شی کولے، چه د دے څئ بله طریقه هم کیدے شی - البته زمایه شان نالائقه وے، نو نهٔ ده معلومه چه څومره شك شبهے به یے پیدا کړے وے، چه دا ناخوښی دکومے درجے ده - او پوښتنه خو اوکړم، چه بله څئ طریقه د اِجازت کیدے شی که نه - او نبی علیه الصلوٰة والسلام تپوس خو کړے دے منع کړے خو نهٔ یم - وغیره وغیره

(۲) دیو آنصاری رضی الله عنه مکان غورزؤل

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم یو ځلے د کور نه باهر تشریف اُوړلو، لاره کښې یے یوه قُبّه (ګُنبد داره کوټه) اُولیده چه اُوچته جوړه شوے وه - د ملګرو نه یے پوښتنه اوکړه چه دا څهٔ دی؟ هغوی عرض وُکړهٔ چه فلانکی انصاری قُبّه جوړه کړے ده - نبی علیه الصلوٰة والسلام واؤریدل خاموشه شو - بل وخت هغه انصاری خدمت کښې حاضر شو او سلام یے وُکړهٔ - نبی علیه الصلوٰة والسلام ترے مخ واړوو، او د سلام جواب یے ورنکړهٔ - هغه په دے خیال چه شاید خیال یے نهٔ وی شوے، دوباره یے سلام وُکړهٔ، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ترے بیا مخ واړوو او جواب یے ورنکړهٔ - هغهٔ د دے څئ برداشت کولے شو - صحابه چه هلته موجود وُو، د هغوی نه یے تپوس او تحقیق اُوکړهٔ، چه زهٔ نن د نبی علیه الصلوٰة والسلام نظر آوړیدلے موموم - خیر خو دے؟ هغوی وُویل چه نبی علیه الصلوٰة والسلام بهر تشریف اُوړلے وُو، په لاره کښې یے ستا قُبّه لیدلے وه او پوښتنه یے کړے وه چه دا د چا ده؟ دا چه یے واؤریدل هغه انصاری فوراً لاړو، هغه یے وُغورزؤله، دا سے یے زمکے سره برابره کړه چه نوم نشان یے پاتے نهٔ شو، او بیا دا هُم نهٔ چه راغلے وے عرض یے کړے وے - اتفاقاً نبی علیه الصلوٰة والسلام هلته په بله موقع په خپله تیریدهٔ، نو وے لیدل چه هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

قُبّه هلته نشته دے۔ پوښتنه يې اوکړه۔ صحابو رضی الله عنهم عرض اوکړو چه انصارو ستا سو دَ خ اَرۇلو شوورته شوی دی ذکر کړے وو، مونږ ورته اُووے چه ستا قُبّه يې ليدلے وه، هغه راغے بيخي يې وُغورزوله۔ نبی علیه الصلوٰۃ والسلام ارشاد وُفرمايلو چه هره اٰبادی په سړی وبال دے، خو هغه اٰبادی چه کوم ه دسخت ضرورت او دمجبوری دی۔ (ابوداؤد)

فائده: دادکمالِ عشق خبرے دی۔ دے حضراتو ته ددے برداشت نهٔ وُو چه څ مبارك يې غمژن ليدلے وے، يا يې دخپل ځان نه دنبی علیه الصلوٰۃ والسلام کرانی محسوسه کړے وے۔ دغے صحابی قُبّه وُغورزوله او بيا دا هم نه چه دغورزولو نه پس دخوړنے په غرض راغلے وے، او ويلے وے چه ستا سو دخوشالئ دپاره م اُوغورزوله۔ بلکه کله چه نبی علیه الصلوٰۃ والسلام پخپله اتفاقاً اخوا تشريف يوړو، نو وے ليدلو۔ نبی علیه الصلوٰۃ والسلام ته په تعمير يعنی اٰبادئ کښ روپئ ضائع کول خاص طور ناخوښه وے ډيرو حديثونو کښ ددے ذکر راغلے دے۔ په خپله دنبی علیه الصلوٰۃ والسلام دبيبيانو کورونه دکهجورو دڅانګو شپول وُو چه په هغے دبوجئ پردے پرتے وے۔ چه دپردی سړی نظر دننه لاړ نهٔ شی۔ يو ځل نبی علیه الصلوٰۃ والسلام چرته سفر کښ تشريف اُوړے وُو، حضرت اُمّ سلمه رضی الله عنها ته څهٔ مال حاصل شو، هغے خپل مکان کښ په ځائ دکهجورو دلختو کچه خختے اُولګولے، په واپسئ کله چه نبی علیه الصلوٰۃ والسلام اُوليدل، نو پوښتنه يې وُکړه چه دا دِ څهٔ کړی دی؟ هغے عرض وُکړو چه هغے کښ دبے پردګئ شبه وه۔ نبی علیه الصلوٰۃ والسلام وُفرمايل چه بد ترين څيز چه په هغے کښ دسړی روپئ خرڅ کيږی تعمير دے۔ عبدالله بن عمرو رضی الله عنه فرمائی چه يو ځلے زهٔ او زما مور دخپل مکان يو ديوال سمؤلو چه خراب شوے وُو، نبی علیه الصلوٰۃ والسلام چه اُوليدو، نو وے فرمايل چه مرګ ددے ديوال دغورزيدو نه زيات نزدے دے۔ (ابوداؤد)

(۳) دصحابهٔ کرامو رضی الله عنهم سرهٔ څادرونه کوزول

حضرت رافع رضی الله عنه فرمائی چه مونږ خلق يو ځلے سفر کښ نبی

عليه الصلوٰة سره وُو او زمونږ په اُوښانو څادرونه پراته وُو چه په هغې کښې سره تارونه وُو. نبي عليه الصلوٰة ارشاد وُفرمايه، زهٔ وينم چه دا سرخي په تاسو غالبه کيږي. د نبي عليه الصلوٰة دا ارشاد فرمايل وُو چه مونږ خلق يو دَم داسې په ويره پاسيدو چه اُوښان هم اَخوا ديخوا اُو تختيدل او مونږ فوراً څادرونه د اُوښانو نه راکوز کړل. (ابوداؤد)

فائده: د صحابه کرام رضي الله عنهم اجمعين په ژوند کښې دے قسمه واقعاتو څهٔ اَهَمِيَّت نهٔ لرلو. البته زمونږ د ژوند په لحاظ سره په دې حيرانتيا کيږي. د دے حضراتو عام ژوند هم داسې وُو. عُروَه بن مسعود رضي الله عنه کله چه صُلحِ حُدَيبِيَّه کښې (چه د هغې قصه د اول باب دريمه قصه کښې تيره شوې ده) د کافرانو له طرفه د قاصد په حيثيت سره راغلے وُو، نو د مسلمانانو د حالت يې په ډيرغور مطالعه کړے وه چه مکے ته واپس لاړهٔ، کافرانو ته يې ويلي وُو چه زهٔ لويو لويو بادشاهانو ته د قاصد په طور تلے يم. فارس، رُوم او د حبشې بادشاهانو سره مې مُلاقات کړے دے. ما هيڅ يو بادشاه په ځائے کښې داخبره نهٔ ده ليدلے چه د هغهٔ درباريان د هغهٔ دومره قدر ئے تعظيم کوي څومره چه د محمد (صلی الله عليه وسلم) ملګري د هغهٔ تعظيم کوي. هيڅ کله د هغهٔ بلغم په زمکه پريوتلو ته نهٔ ورکوي. هغه چه د چا په لاس پريوزي نو هغه يې په مخ او په بدن باندې مګي. کله چه هغه څهٔ حکم کوي نو هريو کس منډه وهي چه هغه کار اُوکړي. کله چه هغه اُودس کوي نو د اُودا سهٔ اُوبهٔ اخستلو او په بدن باندې مګلو د پاره داسې منډے وهي ګويا چه خپل مينځ کښې به جنګ او جهګړه اُوشي. او کله چه هغه خبره کوي نو ټول چپ شي. هيڅوک د عظمت له وجه د هغهٔ طرفته په اُوچت نظر نشي کتلے. (بخاري شريف)

② د حضرت وائل رضي الله عنه د ذُباب په لفظ سره ويخته پريکول

وائل بن حُجر رضي الله عنه فرمائي چه زهٔ يو ځل خدمت کښې حاضر شوم زما د سَر ويخته ډير لوئے شوي وُو. چه مخامخ شوم، نو نبي عليه الصلوٰة

Maktaba Tul Ishaat.com

ارشاد وُفرمايهٔ، ذُباب ذُباب. مادا اُوګنړل چه زما دو يختو باره کښ يے وُفرمايل. زهٔ وا پس لاړم آو هغه مِ پريکړل. هرکله چه په دويمه ورځ خدمت کښ حاضر شوم، نو اِرشاد يے وُفرمايهٔ چه ما تا ته نهٔ وُو ويلي خودا ډيره ښهٔ اوکړل. (ابوداؤد)

فائده: دذُباب معنیٰ دسپيرهٔ هُم ده اود ناکاره څيز هم. داپه اِشارهٔ باندے دقرائينو خبره ده. چه منشا پيژندلو نه پس خواکهٔ هغه غلط پوهه شوے وی، د هغه په تعميل کښ په ساعت نهٔ لګيدهٔ. دلته نبی عليه الصلوٰة والسلام اِرشاد وُفرمايهٔ چه تا ته مِ نهٔ وُو ويلي خودهٔ دخپل ځان متعلق اوګنړله. په دے وجه څهٔ ځال وُوچه ساعت لګيدلے وے. داِسلام په ابتداء کښ په مانځه کښ خبرے جائزوے، بيا منسوخ (منع) کړے شوے. حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه خدمت کښ حاضر شو. نبی عليه الصلوٰة والسلام موځ کولو. هغهٔ دمعمول مطابق سلام اُوکړو. چونکه مانځه کښ خبرے منع شوے وے. نبی عليه الصلوٰة والسلام جواب ورنکړهٔ. دے فرمائی چه دنبی عليه الصلوٰة والسلام جواب نهٔ ورکولو سرهٔ نوے اوزړے خبرے راپه يادشوے. مختلفو خيالاتو ګيرکړم. کله مِ سوچ کولو په فلانئ خبرهٔ تاراضه شوے دے. کله به مِ خيال کولو چه فلانئ خبرهٔ پيښه شوے ده. آخرچه نبی عليه الصلوٰة والسلام کله سلام وُګرزولو. اِرشاد يے وُفرمايهٔ چه مانځه کښ خبرے کول منع شوی دی. په دے وجه ما دسلام جواب درتهٔ کړو. بيا راکښ ساه راغله.

⑤ دحضرت سُهَيل بن حَنْظَلِيَّه رضی الله عنه عادت اود حضرت خريم رضی الله عنه ويختهٔ پريکول

دِمشق کښ سُهَيل بن حَنْظَلِيَّه رضی الله عنه نومے يوصحابی اُوسيدهٔ، ځان له يے ژوند تيرولو. ډيرکم به يے خلقو سرهٔ کيناستو کولو. آوچرته به تلو راتلونه. بتوله ورځ به مانځه کښ مشغول وُو يا تسبيح او وظيفو کښ. جُمات ته به تلوراتلو. لاره کښ حضرت اَبُوالدَّرْدَاء رضی الله عنه باندے چه مشهور صحابی دے تيريدلو. اَبُوالدَّرْدَاء رضی الله عنه به ورته فرمايل چه په تلو کښ

دخیرخهٔ خبره واورَوَه نوزَه۔ تاته خهٔ نقصان نشته، مونږ ته به فائده وُشی، نو هغهٔ به خهٔ واقعه دنبی علیه الصلوٰة دزمانے یا خهٔ حدیث واوَرَوُو۔ یو وارے دا سے روان وُو۔ ابوالدّرداء رضی الله عنه دمعمول موافق درخواست اُوکړهٔ چه خهٔ دخیرخبره واوروه نو خهٔ ۔ وے فرمایل چه یو وارے نبی اکـــرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد وُفرمایهٔ چه خُرَیم اَسَدی ښهٔ سړے دے کهٔ چرے دوه خبرے په کښ نهٔ وے ۔ یو یے دسَر ویختهٔ ډیر لوئ دی، دویم لنګ د ګیټو نه ښکته ترې ۔ هغهٔ ته دنبی علیه الصلوٰة دا ارشاد وُرسیدهٔ، فوراً یے چاقوراواخستهٔ و یختهٔ یے دغوږونو نه ښکته پریکړل اولنګ یے دنیمے پنډئ پورے تړل شروع کړهٔ ۔ (ابوداؤد)

فائده: بعضے روایتونو کښ راغلی دی چه پخپله نبی اکرم صلی الله علیه وسلم هغهٔ ته دے دوه وُخبرو ارشاد وُفرمایهٔ، اَو هغهٔ قسم اُوخوړ، وے ویل چه دا وس نه به نهٔ وی۔ خودواړو روایتونو کښ خهٔ شک نشته۔ دا کیدے شی چه پخپله یے هم هغهٔ ته اِرشاد فرمایلے وی، او د هغهٔ غیر موجودګئ کښ یے هم ارشاد فرمایلے وی، چه اوریدا و ښکے هغهٔ ته لاړو خبره یے وُرَسَوله۔

⑥ دحضرت ابن عُمر رضی الله عنه دخپل ځوئ سره خبرے نهٔ کول

حضرت عبدالله بن عُمر رضی الله عنه یو ځلے اِرشاد وُفرمایهٔ چه نبی کرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد فرمایلے وُو چه زنانو ته جُمات ته دتلو اِجازت ورکوئ ۔ دا بن عُمر یو ځوئ عرض وُکړهٔ چه مونږ خو اِجازت نهٔ شو ورکولے ۔ ولے چه هغوی به مخکښ دپاره بهانه جوړه کړی دآزادئ اوفساد او خوشئ کرزیاوو۔ حضرت ابنِ عُمر رضی الله عنه ډیر ناراضه شو۔ بَد رَدَیے وُویل آو وے فرمایل چه ځهٔ خود نبی علیه الصلوٰة ارشاد آوَرَوُم، آو ته وایے چه اِجازت نهٔ شو ورکولے۔ د نه پس همیشه دپاره یے دے ځوئ سره خبرے پرېخودے ۔ (مسلم، ابوداؤد)

فائده: دځوئ دا ویل چه دفساد بهانه به جوړه کړی دخپلے زمانے حالت یے کتلے وُو، هم په دے وجه په خپله حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی کهٔ چرے نبی علیه الصلوٰة ددے زمانے دزنانو حال لیدلے وے، نو ضرور به

Maktaba Tul Ishaat.com

بے زنانه جُماعت ته د تلو نه منع کړے وے. حال دا چه د حضرت عائشے رضی الله عنها زمانه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته څهٔ زیاته لرے نهٔ وه. خو سره د دے حضرت ابن عُمر رضی الله عنه نه د دے برداشت اُونهٔ شو چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد اَوریدو نه پس په دے کښ څهٔ تردُّد یا شک شبه اُوکړے شی. او صرف په دے خبره چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام په ارشاد هغهٔ انکار اُوکړهٔ، ټول عُمر ئے ورسره خبرے اُونکړے. او حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم ته هم په دے کښ تکلیفونه اُچتول راغلل، چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د پاک ارشاد د اَهمیت په وجه چه کوم د هغوی ځان ورُو د زنانو د جُماعت ته بندول هم مشکل وُو. او د زمانے د فساد په وجه چه کوم خطره د هغے رخت ته شروع شوے وه، اِجازت هم مشکل وُو. حضرت عاتکه رضی الله عنها چه د هغے خووارے نکاح شوے وه چه په هغے کښ حضرت عُمر رضی الله عنه سره هم شوے وه هغه په جُماعت ته تله، او د حضرت عُمر رضی الله عنه په طبیعت په ګرانی وه. چا هغے ته اُووے چه عُمر رضی الله عنه تهٔ خوښوی. هغے اُوویل کهٔ چرے د هغهٔ په طبیعت ګرانی وی نهٔ خوښوی نو منع دِکړی. د حضرت عُمر رضی الله عنه د وفات نه پس حضرت زُبَیر رضی الله عنه سره ئے نکاح اُوشوه، هغهٔ ته هُم دا خیز نا خوښه وُو. خو د منع کولو همت ئے اُونهٔ شو. نو یو وارے ماسخوتن مانځه د پاره دا چرته تله. په لاره کښ ورته خاوند کیناست او کله چه دا ورځنه تیره شوه نو ورے چیړله. خاوند ئے وُو خکه دهٔ ته خو جائز وه. خو دے ته پته وُنهٔ لګیده. تیاره وه چه دا خولهٔ دے. دے نه پس هغے جُماعت ته تلل پریخودل. بیل وخت کښ حضرت زُبیر رضی الله عنه ترے تپوس اُوکړهٔ چه جُماعت ته دِ تلل وَلے پریخودل؟ وِے ویل چه اوس زمانه هغه پاتے نهٔ شوه.

⑦ د حضرت ابن عُمر رضی الله عنه نه سوال چه قصر مونځ قرآن کښ نشته

د حضرت عبد الله بن عُمر رضی الله عنه نه چا تپوس وُکړهٔ چه قرآن شریف کښ د مُقیم د مانځهٔ خو ذکر شته او د خوف یعنی د ویرے د مانځهٔ هُم شته خو د مسافر د مانځهٔ ذکر نشته. هغوی وُفرمایل وُراره! الله جل شانهٔ نبی

اکرم صلی الله علیه وسلم نبي جوړکړه راوړے ليږه. موتږ خلق تا پوهه وُو، هيڅ موښه پيژندل.
پس موږ چه څنګه هغوی په کولو ليدلی دی هغسې به کوو. (شفاء)

فائده مقصود دادے چه دهر مسئلے په وضاحت سره قران شريف کښې کيدل ضروری نه دی. دعمل دپاره دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه ثابت کيدل کافی دی. په خپله دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دے چه ما ته قران شريف راکړے شوا ودد ے برابر نور حکمونه راکړے شو. پيرزر هغه زمانه راتلونکے ده چه د مړے کيږے خلق به په خپلو کټ يلو ناست وی وائی به چه يس قران شريف مضبوط ونيسئ، کوم څه چه په دے کښې احکامات دی په هغے عمل کوئ. (ابوداؤد)

فائده: دمړے کيږے نه مراد دادے چه داقسم فاسد خيال ددولت په نشے سره پيدا کيږی.

⑧ دحضرت ابن مغفل رضی الله عنه دخذف په وجه خبرے پريخودل

دعبدالله بن مغفل رضی الله عنه يو خپلوي وراره خذف سره لوبے کولے، هغهٔ اُوليدهٔ، ورته فرمايل چه درورڅويه واسے مکوه. نبي علیه الصلوٰة والسلام ارشاد فرمايلے دے، دے سره فائده هيڅ نشته، نهٔ پرے ښکار کيدے شي اونهٔ دشمن ته نقصان رسولے شي. اوکهٔ اتفاقاً چا ته وُلګی، نو سترګه به يے اُوچوی، يا غاښ به يے مات شي. ورارهٔ کم عمره وُو هغهٔ چه کله ترهٔ غافل وُليدهٔ، نو بيا يے لوبے شروع کړے. هغهٔ اُوليدهٔ ورته فرمايل چه زهٔ تا ته دنبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد اورَوم، ته بيا دغه کارنو ے. په الله تعالیٰ م دِ قسم وی، تا سره به هيڅ کله خبرے اُونکرم. يوه بله قصه کښې ددے نه پس دادی، په الله تعالیٰ م دِ قسم وی نهٔ به ستا جنازه کښې شرکت کوم، نهٔ به ستا بيمار پرسی کوم (ابن ماجه دارمی)

فائده: خذف ددے ته وائی چه په ګُټه ګوتهٔ ورکوتے غونډۍ کانړے کيږدی، بيا هغه دګوتے نه اُولی. بچوکښې عموماً ددا رنګے لوبو مرض وی، هغه داسے خوری نه چه پرے ښکار اُوشی. البته کهٔ دچا په سترګه اتفاقاً اُولګی، نو هغه به زخمی کړی. حضرت عبدالله بن مُغفل رضی الله عنه ته ددے برداشت اُونهٔ شو چه دنبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد اَورِدلو نه پس هم هغه بچے داکار اُوکړی. موږ خلق سحر نه ترماښامه پورے دنبی علیه الصلوٰة والسلام خومره ارشادات اَورُو، او دهغے خومره اهتمام کوو. هرکس

په خپله دخپل ځان متعلق فیصله کولے شی.

(۹) دحضرت حکیم بن حزام رضی الله عنه دسوال نه کولو لوظ

حکیم بن حزام رضی الله عنه یو صحابی دے د نبی علیه الصلوٰة خدمت کښ حاضر شو، څه ئې وغوختل، نبی علیه الصلوٰة ورکړه، بیا په یو موقع یې څه وغوختل. نبی علیه الصلوٰة ورکړه. دریم وارے یې بیا سوال وکړه، نبی علیه الصلوٰة ورکړه او دا ارشاد یې وفرمایه چه حکیمه! دا مال شین باغ دے، په ښکاره ډیر خوږ ښیزدے، خو د دے قاعده داده، که څوک دا د زړه په غنی سره راشی، نو په دے کښ برکت وی، او که څوک د طمع او لالچ سره حاصل شی نو په دیکښ برکت نه کیږی داسے وی (لکه څنګه چه دجوع البقر بیماری وی) چه هر وخت خوری او داګیړه نه ډکیږی. حکیم رضی الله عنه عرض وکړه! اے د الله رسوله! تاسو نه پس به اوس هیچا نه تنګوم. دے نه پس حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپله زمانه خلافت کښ حکیم رضی الله عنه نه د بیت المال نه دڅه ورکولو اراده وکړه. دۀ انکار وکړه. دے نه پس حضرت عمر رضی الله عنه خپله زمانه خلافت کښ بیا بیا اصرار وکړه، خو دۀ (بیخی) انکار وکړه. (بخاری)

فائده: هم دا وجه ده چه نن صبا زمونږ خلقو په مالونو کښ برکت نه کیږی. چه لالچ او طمع کښ کیږدی.

(۱۰) دحضرت حذیفه رضی الله عنه دجاسوسئ (مخبرئ) دپاره تلل

حضرت حذیفه رضی الله عنه فرمائی چه غزوهٔ خندق کښ زمونږ یو طرف ته خو د مکے کافران او هغوی سره دنورو کافرانو ډیرے ډلے وے، چه په مونږ باندے راختلی وے، او دحملے دپاره تیار وو، او بل طرف ته په خپله مدینه منوره کښ دبنو قریظه یهودیان زمونږ په دشمنئ لګیدلی وو چه دهغوی نه هر وخت خطره وه، چه هسے نه مدینه منوره خالی اووینی او زمونږ اهل وعیال چرته بیخی ختم نه کړی. مونږ خلق د مدینے منورے نه بهر دجنګ په سلسله کښ پراته وو. او دمنافقانو پلو دکور خالی کیدو

او دیو اخوالی بهانے کولے او اجازت یے اخستلو خپلو کورونو ته واپس تلل، او نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به هر اجازت اخستونکی ته اجازت ورکولو۔ دے دوران کښې یوه شپه دومره سخته سیلۍ راغله چه نهٔ د دے نه وړاندے کله راغلے وه، او نهٔ ورپسے ته پس۔ تیارهٔ دومره زیاته چه سړی څخه سرے خو څهٔ خپل لاس هم په نظر نهٔ راتلهٔ، او هوا دومره سخته چه د هغے شور د اسمان دبرېښنا په شان گرزهارے کولو۔ منافقان خپلو کورونو ته واپس کیدل۔ زمونږ دریوسوو مجمع دغه ځائی وه۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د یو یو حال پوښتنه کوله۔ او په دے تیارهٔ کښې یے د هرخوا تحقیق کولو۔ په دے کښې زما خوا ته هم نبی علیه الصلوٰة والسلام تیرېدلو۔ ما سره نهٔ خو د دښمن نه د حفاظت د پاره څهٔ وسله وه، نهٔ د یخنئ نه د حفاظت د پاره څهٔ کپړه۔ صرف یو ورکوټے غونډے څادر وو، چه په اغوستو کښې تر پټو د پورے راتلهٔ، او هغه هم زمانهٔ وو، د بی بی ئ وو، هغه ما اغوستے وو۔ په پنډو باندے زنګے پورے ایخښے وم۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام پوښتنه اوکړه څوک یے؟ ما عرض وکړهٔ حذیفه څوزهٔ د یخنئ له وجه پاسیدے هم نهٔ شوم۔ او د شرم له وجه زنګے پورے پیوست شوم۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد وفرمایهٔ چه پاسه ورد بیرته۔ او د دښمنانو کړلوته لاړ شه، د هغوی خبر راوړه چه څهٔ کیږی؛ زهٔ دغه وخت د ویرے او د یخنئ له وجه بے قراره او د پټولوته زیات بد حاله وم۔ خو حکم منلو د پاره پاسیدم۔ فوراً روان شوم۔ کله چه زهٔ روان شوم نو نبی علیه الصلوٰة والسلام دعا وکړه۔ اَللّٰهُمَّ احْفَظْهُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ وَعَنْ يَّمِيْنِهٖ وَعَنْ شِمَالِهٖ وَمِنْ فَوْقِهٖ وَمِنْ تَحْتِهٖ "اے الله! ته دهٔ حفاظت اوکړے مخکښې نه د روستو نه، د ښی طرف نه او د کس طرف نه، پورته نه او د ښکته نه حذیفه رضی الله عنه وائی چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام دا ارشاد فرمایل وو چه گویا ما نه ویره او یخنئ بیخی لاړله، او په هر یو قدم باندے دا معلومیدله چه گویا گرمئ کښې روان یم۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام د تلو په وخت دا هم ارشاد فرمایلے وو چه لاس خپله اونهٔ خوزوے، چپ چاپ اوګوره راشه چه څهٔ کیږی زهٔ چه هلته ورسیدم، نو اوم لیدل چه اور بلیږی، او خلق ورته

Maktaba Tul Ishaat.com

تو دیرې، یوکس په اور لاس تودوی او په تښې باندې راکاږي - او دهر طرف نه "واپس ځئ واپس ځئ" اوازونه راځي - هر یوکس دخپلې قبیلې خلقوته اواز کوی، وائي چه واپس ځئ - او دهوا د تیزئ په وجه دخلقو واړه طرفه د هغوی په خیمو باندې کاڼړي راورېږي خیمو یې شلیږي - او اسونه وغیره څناورهلاکیږي - اَبُوسُفیان چه دټولو جماعتونو دغه وخت کویا سردار جوړ شوے وُو په اورتودیده - زما زړۀ کښې راغلۀ، چه موقع ښه ده، دے ختم کړم - دترکش نه م غشے راواوویستۀ، لیندۀ کښې م کیخودۀ - خو بیا د نبی علیه الصلوٰة ارشاد رایاد شو چه څۀ حرکت اونکړے" اوکوره اوراشهٔ" په دے وجه م غشے ترکش کښې کیخودۀ - هغوی شک مند شو، وے ویل، تاسو کښې څوك جاسوس دے - هر یوکس دِ دخپل برابر ملګری لاس اونیسی - ما زر د یو سړی لاس ونیوۀ تپوس م ترے اوکړۀ ته څوك یے؟ هغهٔ اووے سُبحَانَ الله ته ما نهٔ پیژنے؟ زهٔ فلانکے یم - زهٔ د هغه ځایه واپس راغلم - کله چه نیمے لارے ته راورسیدم - نو تقریباً شل سوارۀ چه پټکی یے تړلی وُو، ما سره مِلاؤ شو - هغوی اووے خپل آقا ته ووایه چه الله تعالیٰ د دُشمنانو انتظام اوکړۀ، بے فکره اوسه - زهٔ واپس راورسیدم - نو نبی علیه الصلوٰة یو ورکوټے غوندے څادر په سرکړے وُو - مونځ یے کولو - همیشه یے دا عادت شریفه وُو چه کله به څۀ دویرے خبره پیښه شوه - نو نبی علیه الصلوٰة به مانځه طرف ته متوجه کیدلو - دمانځه نه په فارغیدو ما دهغه ځائ کوم منظر چه لیدلے وُو عرض کړۀ - دجاسوس قصه یے چه واوریده له نو غاښونه مبارك یے (دخندا نه) اوځلیدل - نبی علیه الصلوٰة زۀ خپلو خپو مبارکو ته نزدے سملوُلم - او دخپل څادر لږه حصه یے په ما باندے واچوله - ما خپله سینه دنبی اکرم ﷺ تلو سره پیوسته کړه - (دُرِّ منثور)

فائده: ددے حضراتو دا حصه وه، او ددوی د پاره دا مناسبه وه چه دومره قدرے سختو او د تکلیفونو په حالت کښې هم حکم منل د بدن، زړۀ، جان و مال دټولو نه زیات خوښ وُو - الله جل شانهٔ کهٔ بغیر استحقاقه او بغیر اَهلِیّته ما ناپاك ته هم ددوی د اتِّباع څهٔ حصه

نصیب کړی۔(نوواړه قسمته)

لسم باب

د زنانو دینی جذبه

حقیقت دا دے که چرے زنانو کښی د دین شوق او د نیکو اعمالو جذبه پیدا شی، نو په اولاد د دے اثر ضرور کیږی۔ د دے خلاف زمونږ زمانه کښی اولاد د شروع نه په داسے ماحول کښی ساتلے شی چه هغه کښی په هغه د دین خلاف اثر پریوزی۔ یا کم نه کم دا چه د دین له خوا بے توجهی پیدا شی۔ کله چه د شروع ژوند په داسے ماحول کښی تیر شی، نو د دے نه چه کوم نتیجے پیدا کیږی هغه ښکاره دی۔



تسبیحاتِ حضرتِ فاطمه رضی الله عنها

حضرت علی کرم الله وجهه خپل یو شاګرد ته وفرمایل چه زۀ تا ته خپله او د فاطمے رضی الله عنها کومه چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام د ټولونه زیاته نیازبینه لوروه، قصه واورَوم۔ شاګرد اُووے ضرور۔ وے فرمایل چه هغے به په خپل لاس (رانے) په میچنه اوړۀ کول چه د هغے په وجه بے په لاس کښی پولئ پیدا شوے وے۔ او په خپله به یے د اوبو ډک مشک راوړۀ چه د هغے په وجه بے په سینه د مشک د رسئ نخښے جوړے شوے وے۔ او د کور جارُو وغیره به یے په خپله وَهله چه د هغے په وجه به یے ټولے جامے خیرنے وے۔ یو وارے نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته څۀ غلامان آو وینځے راغلے۔ ما فاطمے رضی الله عنها ته اُووے چه ته هم لاړه شه۔ د نبی علیه الصلوٰة والسلام ته یو خادم متکارا غواړه چه ستا څۀ مدد کوی۔ هغه د نبی علیه الصلوٰة والسلام خدمت کښی حاضره شوه۔ هلته کنړ کاوه، او مزاج کښی یے شرم حیاء ډیره زیاته وه، نو د شرم په وجه د ټولو مخکښی پلار نه هم ورنه غوختلو کښی حیا را غله واپس راغله دویمه ورځ نبی علیه الصلوٰة والسلام په خپله تشریف راوړۀ ارشاد یے وفرمایۀ چه

Maktaba Tul Ishaat.com

فاطمې! پرون ته دخځ کار دپاره راغلې وې؛ هغه د شرم د وجې چپ شوه -
ما عرض وُکړو چه اے دالله رسوله! د دې دا حالت دے چه د میچنې
د وجې په لاسونو کښې پُولئ جوړے شوې دي - او د مشک د وجې یې په
سینه د رسئ نخښې جوړې شوې دي - هر وخت د (کور) کار و بار په وجه
یې جامے خیرنے وی - ما دے ته پرون ویلی وُو چه نبی علیه الصلوٰة سره
خادمان راغلی دی، یَو ته هم وُغواړه ځکه د راغلې وه - بعضې روایتونو
کښې راغلی دی چه حضرت فاطمې رضی الله عنها عرض وُکړو چه اے د الله رسوله!
زما او د علی یوه بستره ده - او هغه هم د ګډ یوه څرمنه ده، د شپې هغه
اُوغوړوؤ پرې اُوده شو - سحر په هغې واښه دانے واچوؤ - په اُوښ یې
وُخوروؤ - نبی علیه الصلوٰة ارشاد وُفرمایه چه لورے صبر کوه - حضرت
مُوسٰی علیه السلام او د هغه بی بی څخه لس وکالو پورے یوه بستره وه، هغه
هم د حضرت مُوسٰی علیه السلام چُغه وه - د شپې به یې هُم هغه وُغوړوله،
پرے به اُوده شو - ته تقوٰی حاصله کړه، او الله تعالیٰ نه ویریږه، او
د خپل پروردګار فریضه ادا کوه، او د کور کار و بار کوه - او کله چه اُوده
کیږې و دپاره پریوزې، نو سُبْحَانَ الله درے دیرش ځله، اَلْحَمْدُ لِلّٰه
درے دیرش ځله او اَللّٰهُ اَکْبَر څلور دیرش ځله وایه، دا د خادم نه
هم زیات ښه څیز دے - حضرت فاطمې رضی الله عنها عرض وُکړو، زه د الله
تعالیٰ او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم نه راضی یم - (ابوداؤد)

فائده: یعنی چه کومه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم رضا
زما دپاره کښې ده ما ته په خوشالئ منظوره ده - دا ؤو ژوند د دواړو جهانو
د بادشاه د لور. نن مونږ خلقو کښې چا سره دوه پیسې پیدا شي - نو د
هغه د کور خلق د کور کار و بار ځو یو طرف ته خپل کار هم نه شي کولے -
تهټئ کښې د اُوبو لوټه ورته هم خد متګاره ږدي -
دے واقعه کښې کومه چه پورته ذکر کړے شوه، صرف د اُوده کیدو
دوخت ذکر دے - نور وخت یشونو کښې د هر مانځه نه پس درے دیرش
وارے دا درے واړه کلمے او یو وارے لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ

لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ وئیل هم راغلی دی -

(۲) د حضرت عائشه رضی الله عنها صدقه

د حضرت عائشه رضی الله عنها په خدمت کښې دوه لوئ لوئ بوری د درهمو (روپو) ډکې پیش کړے شوے، چه په هغې کښې د یو لاکهـ نه زیات درهمے وے حضرت عائشه رضی الله عنها طباق راؤغوختلو، او هغه یے پلک ډک تقسیمول شروع کړل - او ماښامه پورے یے ټول ختمے کړے - یو درهم یے هم باقی پرے نخوده په خپله یے روژه وه - د روژه ماتی وخت کښې یے وینځے نه اُووے، چه د روژه ماتی د پاره څهٔ راؤړه - هغې یوه ډوډئ او د زیتون تیل راؤړل او عرض یے وُکړهٔ خومره به ښهٔ وے چه د یو درهم غوښه مو راغوختے وے - اَوس مو روژه په غوښه ماته کړے وے - وے فرمایل - اُوس پیغور ورکول لو سره څهٔ کیږی، هغه وخت به دِ راته یاد کړے وے نو ما به راغوختلے وے - (تذکره)

فائده: د حضرت عائشه رضی الله عنها په خدمت کښې د دے قسمه نذرانے به امیر مُعاوِیه، حضرت عبد الله بن زُبیر رضی الله عنهما وغیره حضراتو له طرفه پیش کولے شوے - ځکه چه دغه زمانه د فتوحاتو یعنی دُنیوی فراخئ ډیره والی وه - په کورونو کښې به دغلے په شان د اَشرفو ډهیری پرانهٔ وُو - اَوسره د دے خپل ژوند یے ډیر ساده او ډیر معمولی تیرؤلو - آن تر دے چه د روژه ماتی د پاره د خدمتګارے دوَر یادَوَلو ضرورت وُو - پنځو یشت زره درهمو پورے یے تقسیم کړے، او دا یے خیال هُم رانغے چه زما روژه ده او غوښه راغوختل دی - نن صبا د دے قسمه واقعات دومره لرے شوی دی چه په خپله د واقعے ریښتیا کیدو کښې شک پیدا کیږی - خو د هغې زمانے عام ژوند چه د کوم خلقو په نظر کښې دے، د هغوی په نزد او د دے قسمه په سوؤنو واقعات هیڅ هم د حیرانتیا خیز نهٔ دے -

په خپله د حضرت عائشه رضی الله عنها ډیر واقعات د دے نزدے نزدے دی یو وارے روژه وه او په کور کښې د یوے ډوډئ نه سِوا هیڅ نهٔ وُو - یو فقیر رانغے سوال یے وُکړهٔ، خادمے ته یے وُفرمایل چه هغه ډوډئ ورله

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکړه، هغې عرض وُکړهٔ - چه دروژه ماتی دپاره کور کښې هیڅ نشته - وے فرمایل، هیڅ پرواه نشته - هغه چه وی ورته ورکړه - هغې ورکړه - (مؤطا)

یو وارے یې یو مار مړ کړهٔ - په خوب کښې یې اُولیدل چه څوک وائی چه تا یو مسلمان قتل کړهٔ - وے فرمایل که چرے هغه مسلمان وے، نو د نبی علیه الصلوٰة والسلام بیبیانو کره به نهٔ راتلو - هغهٔ اُووے دپردے په حالت کښې راغلے وُو، په دے وُیرېدهٔ را ویخه شوه، او دولس زره درهمه یې چه دیو سړی خون بها وی - صدقه کړے -

عُروه رضی الله عنه فرمائی چه ما یو وارے اُولیدله چه اویا زره درهمه یې صدقه کړے - او په قمیص کښې یې پیوند لګیدلے وُو - (طبقات)

(۳) دحضرت ابنِ زُبیر رضی الله عنه حضرت عائشه رضی الله عنها لره دصدقے نه منع کوَل او دهغې خفه کیدل

حضرت عبد الله بن زُبیر رضی الله عنه دحضرت عائشے رضی الله عنها خوریے وُو - دے به هغهٔ سره ډیر محبت کوَلو - ګویا دے هغه خوریے پالے وُو - حضرت عائشے رضی الله عنها ددے فیّاضیٔ (سخاوت) نه پریشانه شو، چه په خپله خو تکلیفونه اُوچتوی، او چه څهٔ ورته راځی، فورًا یې خرڅ کوی - یو وارے یې اُووے چه د ترور لاس په څهٔ طریقه بندوَل پکاردی - حضرت عائشے رضی الله عنها ته دا خبر وُرسیدهٔ، په دے خفه شوه چه زما لاس بندوَل غواړی - نو دهٔ سره یې د خبرو نهٔ کولو نذر (منختې) په طور قسم اُوخوړ - حضرت عبد الله بن زُبیر رضی الله عنه ته د ترور د ناراضتیا ډیر خفګان اُو شو - د ډیرو خلقو (په ذریعه) یې سفارش اوکړهٔ، خو هغې به د خپل قسم عذر کوَلو - آخر هرکله چه عبد الله بن زُبیر رضی الله عنه ډیر پریشان شو، نو د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د ماما خیلو دوه حضرات یې سفارشی ځان سره بوتلهٔ - هغې دواړو حضراتو اجازت واخست، د ننه لاړل - دے هم په پټه ورسره شو - هرکله چه هغه دواړه د پردے روستو کیناستل او حضرت عائشه رضی الله عنها پرده کښې د ننه ناسته خبرے اترے یې شروع

کړے۔ نو دے زر پردہ کښې دننه لاړ۔ او تر ورته ورتر غاړه شو، او ډیر یې اوژړل، او خو شامتې ئے یې اوکړے۔ هغې دوا ړو حضراتو هم سفارش کولو او مسلمان سره د خبرو پریخودو متعلق د نبی علیه السلام ارشادات یې ورته یادول۔ او حدیثونو کښې چه کوم ممانعت د دے راغلے دے هغه یې ورته اوړول۔ چه د هغې په وجه حضرت عائشه رضی الله عنها هغه حدیثونو کښې چه کوم ممانعت او مسلمان سره خبرے نه کولو باندے کوم عذاب راغلے وُو، د دے برداشت یې اُونه لرلے شو، او په ژړا شوه۔ آخر معاف یې کړه، او خبرے یې ورسره اوکړے۔ خو د دے قسم په کفاره کښې یې بار بار غلامان آزادول۔ آن تر دے چه څلویښت غلامان یې آزاد کړل۔ او کله چه به ورته د دے قسم ماتولو خیال راغے، نو دومره به یې ژړل چه لوپټه به یې هم د اوښکو نه لونده شوه۔ (بخاری)

فائده: مونږ خلق سحر نه تر ماښامه پورے څومره قسمونه په یوه ساه خورو۔ او بیا د دے څومره پروا کوو؟ د دے جواب په خپله د فکر کولو دے۔ دریم کس څوک هر وخت چا سره وی چه ورته وښائی خو د کوم خلقو په نزد چه د الله د نوم عزت دے، او د الله تعالیٰ سره لوظ کولو نه پس د هغې پوره کول ضروری دی، د هغوی نه تپوس اوکړه چه د لوظ په نه پوره کولو زړهٔ باندے څهٔ تیریږی۔ هم په دے وجه حضرت عائشے رضی الله عنها ته به چه کله دا واقعه یاده شوه نو ډیر زیات به یې ژړل۔

(۴) د حضرت عائشے رضی الله عنها د الله تعالیٰ نه د ویرے حالت

حضرت عائشے رضی الله عنها سره چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم څومره محبت وُو هغه د چا نه پټ نهٔ دے۔ آن تر دے چه کله به نبی علیه الصلوٰة نه چا تپوس اُوکړهٔ چه ستاسو د ټولو نه زیات محبت چا سره دے؟ نو فرمایل به یې، عائشے رضی الله عنها سره۔ د دے سره سره د مسئلو نه دومره زیاته خبر داره وه چه لوئ لوئ صحابه به د مسئلو د تحقیق د پاره د دوی په خدمت

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې حاضریدل - حضرت جبرئیل علیه السلام به دےته سلام کولو - جنت کښې هم حضرت عائشې رضی الله عنها ته د نبی علیه الصلوٰة والسلام دبی بی کیدو زیرے ورکړے شوے دے - منافقانو په دوی تهمت ولګولو - نو قرآن شریف کښې د دوی براءت نازل شو - په خپله حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه لس خصوصیات ما کښې داسے دی چه بله بی بی په هغې کښې شریکه نۀ ده - ابنِ سَعد رضی الله عنه هغه تفصیل سره نقل کړی دی - دصدقے خیرات حال دړومبنو قصونه معلوم شو - خو د دے تولو خبرو سره د الله تعالیٰ نه دویرے بے داحال وو چه فرمایل به یے، چه آرمان! زۀ وُنه وَے - چه تسبیح مې کولے - او د آخرت څۀ مطالبه ما ته نۀ وے - ارمان! زۀ کاڼړے وے - ارمان! زۀ دخاورے لوټه وے - ارمان! زۀ پیدا شوے نۀ وے - ارمان! زۀ د ونے پاڼړه وے - ارمان! زۀ واښهٔ وے - (بخاری)

فائده: دالله تعالیٰ نه دویرے دا منظر دویم باب پنځمه قصه کښې هم تیر شوے دے - د دے حضراتو داعام حالت وو - دالله تعالیٰ نه ویریدل د دوی حصه وه -

⑤ دحضرت اُمِّ سلمه رضی الله عنها دخاوند دُعا او هجرت

اُمّ المؤمنین حضرت اُمِّ سَلمه رضی الله عنها دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه ړومبے د حضرت ابوسلمه رضی الله عنه په نکاح کښې وه - د دواړو ډیر زیات مَحبّت او تعلق وو چه د هغې اندازه د دے قصے نه کیږی - چه یو ځلے اُمِّ سَلمه رضی الله عنها اَبُو سَلمه رضی الله عنه ته اُووے - چه ما دا اوریدلی دی، که څوک سړے او ښځه دواړه جنتیان وی، او ښځه د سړی نه پس بیا سره نکاح اُونۀ کړی، نو هغه ښځه به جنت کښې هُم هغه سړی ته ورکولے شی داړنګے

له کچرے ښځه دویم خاوند سره نکاح اُوکړی نو په دے کښې دوه حدیثونه راغلی دی - یو حدیث کښې راغلی دی چه هغه به دے بل ته ورکولے شی - او دویم حدیث کښې راغلی دی چه هغې ته به اختیار ورکړے شی چه کوم خاوند سره اُوسیدل غواړی هغه اختیار کړه - دادویم حدیث زیات مشهور دے - او دا هم کیدے شی چه کومو ښځو ته دواړه خاوندان برابر وی د هغوی په حق کښې روحیه حدیث وی - دے باره کښې هم روایتونه مختلف دی - چه هریو کس ته به څو مره بیبیانے ورکولے شی - هذا ما ستفاد من الشیخ رحمه الله

کهٔ چرے سرے دویمے ښځے سره نکاح اُونکړی، نو هم هغه ښځه به دهٔ ته ورکولے شی۔ دے دپاره راځه، ما او تا دواړه لوظ اوکړو چه مونږ نه څوك روړمبے مړ شی، هغه به بل چا سره نکاح نکوی۔ اَبُوسَلمه رضی الله عنه اُووے چه ته به زما خبره اُومنے؟ اُمّ سَلمه رضی الله عنها وُوے چه زهٔ خو دے دپاره مشوره کوم چه ستا خبره اُومنم۔ ابوسلمه رضی الله عنه اُووے چه زما د مرګ نه پس ته نکاح اوکړه۔ بیا یے دُعا وُکړه چه اے الله! زما نه پس اُمِّ سَلَمه رضی الله عنها ته زما نه غوره خاوند ورکړے، چه نهٔ دے ته رنج وغم رَسَوی، نهٔ ورته تکلیف ورکوی۔ د اِسلام په شروع کښ دواړو ښځے خاوند د حبشے هجرت یو ځائ کړے وُو۔ دے نه پس د هغه ځائ نه واپسئ باندے د مدینے منورے هجرت یے وُکړهٔ چه د هغے تفصیلی قصه په خپله اُمّ سَلمه رضی الله عنها بیانوی۔ چه کله اَبوسَلمه رضی الله عنه د هجرت اِراده وُکړه، نو په خپل اُوښ یے سامان بار کړهٔ۔ اَو زهٔ او زما ځوئ سلمه رضی الله عنه یے پرے سوارهٔ کړو۔ او په خپله یے د اُوښ مُهار لاس کښ اُونیولو، روان شو۔ زما د پلار کُنئ خلقو بنو مغیره اُولیدهٔ۔ هغوی اَبوسَلمه رضی الله عنه ته اُووے، چه ته د خپل ذات باره کښ خو ازاد یے خو مونږه خپله جینئ تا سره وَلے پریږدُو چه ښهر په ښهر ګرزی، دا یے اُووے، اَو د اُوښ مُهار یے د اَبوسَلمه رضی الله عنه د لاس نه راخکلو۔ او زهٔ یے په زور واپس راوستم۔ زما د سخر کُنئ خلقو بنو عبدالاَسَد چه د ابوسلمه رضی الله عنه خپلوان وُو کله چه هغوی خبر شو، نو هغوی زما د پلار کُنئ بنو مغیرهٔ سره په جهګړه شو، چه تا سو ته د خپلے جینئ خو اختیار دے، خو مونږ خپل هلك "سلمه" تا سو څنګه وَلے پریږدو۔ هر کله چه تا سو خپله جینئ د هغے خاوند سره پرے نخوده۔ دا یے اُووے او زما ځوئ سلمه یے هم زما نه واخست۔ اُوس زهٔ او زما ځوئ او زما خاوند درے واړه جُدا جُدا شو۔ خاوند خو مدینے ته لاړو، اَو زهٔ خپلے پلار کُنئ کره پاتے شوم۔ او ځوئ مِ د خپل نیکهٔ کور ته وُرسیدهٔ۔ زهٔ به روزانه میدان ته وَتلم، او ما بنامه پورے به مِ ژړل۔ د غسے پوره یو کال زما په ژړا کښ تیر شو۔ نهٔ زهٔ خاوند ته تلے شوم۔ نهٔ بچے ما ته راکولے شو۔ یوه ورځ زما د تره ځوئ ته زما په

Maktaba Tul Ishaat.com

حال رحم راځي، خپلو خلقو ته یې اُووے چه تاسو ته په دے مسکینه باندے رحم نهٔ راځي چه د امور بچی او د خاوند نه جُدا کړے دهٔ. د اولے نهٔ پریږدئ. لنډه دا چه زما د زړهٔ خوځ په خبرو اترو هغوی تول په دے راضی کړل. هغوی ما ته اِجازت راکړهٔ، کهٔ چرے ته خپل خاوند ته تلل غواړے نو لاړه شه. داچه بنوعبدالاسد ال نو هغوی هم خوځ راکړهٔ. ما یو اُوښ تیار کړهٔ. او بچے م غیږ کښ واخست، ځان له یواځے په اُوښ باندے سوره شوم مدینے ته روانه شوم. د دے خلور میله تلے وُم چه تنعیم کښ عثمان بن طلحه ما ته ملاؤ شو. ما نه یے تپوس وُکړهٔ چه یواځے کوم خواځے؛ ما اُووے چه خپل خاوند پسے مدینے ته ځم. هغهٔ اُووے چه څوك درسره شته؟ ما اُووے چه د الله تعالیٰ د ذات نه سِوا هیڅوك نشته. هغهٔ زما د اُوښ مُهار اُنیولو. او مخکښ مخکښ روان شو. په الله پاك مِ دِ قسم وی چه ما د عثمان نه زیات شریف سړے هیڅوك نهٔ دے لیدلے. کله چه به د کوزیدو وخت شو، هغهٔ به زما اُوښ کینولو. په خپله به یو ارخ ته دوُنے شا ته شو، زهٔ به کوزه شوم او کله چه به د سوریدو وخت شو، په اُوښ به یے سامان وغیره واچولو. ما ته نزدے به یے کینولو. زهٔ به په هغې سوره شوم. بیا به هغه راځے او د هغهٔ مُهار به یے وُنیولو، مخکښ مخکښ به روان شو. په دا سے شان مونږ مدینے ته اُورسیدو. کله چه قُبا ته وُرسیدو، نو هغهٔ اُووے چه ستا خاوند دلته دے. تردے وختنه ابوسلمه رضی اللہ عنہ قُبا کښ مُقیم وُو. عُثمان زهٔ مدینے ته وُرسَولم. په خپله مکے مکرمے ته واپس شو. بیا یے اُووے چه په الله تعالیٰ مِ دِ قسم وی. چه د عُثمان بن طلحه نه زیات کریم او شریف سړے ما نهٔ دے لیدلے. او په دے کال کښ څومره مشقت او تکلیف چه ما برداشت کړهٔ شاید چه چا کړے وی. (اُسُدالغابه)

فائده: الله تعالیٰ باندے د توکل خبره ده چه ځان له یواځے د هجرت په اِراده روانه شوه. الله جل شانهٔ په خپل فضل د هغې د مدد د سامان انتظام اُوکړهٔ. څوك چه په الله تعالیٰ باندے توکل کوی، الله جل شانهٔ د هغوی مدد کوی. د بندګانو زړونه د هغهٔ په قبضه کښ دی. د هجرت

سفر کۀ چرے خوك مَحْرَم ورسره نهٔ وی، نو یوائے هُم سفر جائز دے، په شرط دے چه هجرت فرض وی - ددے دپاره ددے یوائے سفر باندے شرعی اعتراض نشته -

﴿۶﴾ دحضرت اُمِّ زِیَاد رضی الله عنها

دیوخو زنانو سره دخیبر په جنګ کښ شرکت

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم زمانه کښ سړو نه خو په جهاد کښ دشرکت شوق وَو، چه دهغے واقعات په کثرت سره نقل کولے شی، زنانه هم په دے خیز کښ دسړو نه روستونهٔ وے - همیشه به یے شوق لرلو - کله چه به ورته موقع په لاس ورتله، ځان به یے رسَوو - اُمِّ زیاد رضی الله عنها وائی چه دخیبر په جنګ کښ مونږ شپږ زنانه جهاد کښ شریکیدو دپاره روانے شو - نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته خبر اُوشو، نو مونږه یے راوغوختلو - دنبی علیه السلام په مخ مبارك دغصے اثرات وَو - ارشاد یے وُفرمایه چه تاسو دچا په اجازت راغلی یئ؟ مونږ عرض وُکړه، اے دالله رسوله! مونږ ته وړی ریشل راځی، او په جهاد کښ ددے ضرورت پیښیږی - دزخمونو دارو کان هم زمونږ سره دی، او کهٔ نور هیڅ نهٔ وی، نو مجاهدینو ته غشی ورکولو کښ به مدد ورکوو - او چه خوك ناجوړه وی دهغهٔ به د دارو دُرملو مدد کوو - ستوان وغیره اُبو کښ ګډول او خکولو کښ په کار راتلے شو، نو نبی علیه السلام دا یسار یپا واجازت ورکړهٔ - (ابوداؤد)

فائده: الله جلّ شانهٔ دغه وخت زنانو کښ هم څهٔ داسے شوق او زړهٔ ورتیا پیدا کړے وه چه نن صبا سړو کښ هم نشته - اُوګورئ دا تولے په خپل شوق په خپله اُورسیدے، او خومره کارونه یے دخپلو کُولو تجویز کړهٔ - دحُنین په جنګ کښ اُمّ سُلیم رضی الله عنها سره ددے چه حامله وه عبدالله بن طلحه یے په ګیډه وَو، شریکه شوه - او یوه چاړهٔ به یے ځان سره ساتله - نبی علیه السلام وُفرمایل، دا دڅهٔ دپاره ده؟ عرض یے وُکړهٔ، کهٔ چرے خوك کافر ما ته نزدے راشی، نو دهغهٔ په خیټه کښ به یے ننوځم - دے نهٔ وړاندے داُحُد جنګ کښ هم شریکه شوے وه - دزخمیانو دارو دُرمل او دبیمارانو خدمت به یے کولو - حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه ما

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت عائشه او اُمِّ سُلیم رضی الله عنها اُولیدے چه په ډیرے چُستئ سره یې اُوبو ډك مشکونه راوړل، او په زخمیانو یې اُوبه څکولې، او چه کله به خالی شونو بیا به یې ډك راوړل۔

⑦ داُمِّ حرام رضی الله عنها په غَزوۃ البحر کښ دشرکت خواهش

حضرت اُمِّ حرام رضی الله عنها دحضرت انس رضی الله عنه تروروه۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به ډیر ددے کورته تشریف اُوړه۔ اوکله نا کله دغرمے وغیره به یې هم هلته ارام کولو۔ یو وارے نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ددے په کور کښ ارام کولو۔ چه مُسکے راپاسید و۔ اُمِّ حرام عرض وُکړۀ چه اے دالله رسوله! زما مورا و پلار دِ په تا سوقربان وی۔ په کومه خبره تاسو مُسکی شوئ۔ وے فرمایل چه زما داُمت څۀ خلق ماته اُوخودلے شو چه سمندر باندے دجنګ په اراده دا سے سوارۀ دی، لکه څنګه چه په تختونو باندے بادشاهان ناست وی۔ اُمِّ حرام رضی الله عنها عرض وُکړۀ چه اے دالله رسوله! دُعا وُکړئ چه الله جلّ شانهٗ ما هم په هغوی کښ شامله کړی۔ نبی علیه الصلوٰۃ والسلام وُفرمایل، تۀ به هم هغوی کښ شامله شې۔ ددے نه پس نبی علیه الصلوٰۃ والسلام ارام وُکړۀ، او بیا مُسکے راپاسیدۀ۔ اُمِّ حرام رضی الله عنها ترے بیا دمسکی والی دسبب تپوس وُکړۀ۔ دوی بیا هغسے ارشاد وُفرمایۀ۔ اُمِّ حرام رضی الله عنها بیا هغسے درخواست اُوکړۀ، چه اے دالله رسوله! تاسو دُعا وُکړئ، چه زۀ هم دهغوی نه شم۔ نبی علیه الصلوٰۃ والسلام وُفرمایل چه تۀ به ړومبی جماعت کښ یې۔ دحضرت عُثمان رضی الله عنه په زمانه خلافت کښ امیر مُعاویه رضی الله عنه چه دشام حاکم وۀ، په جزائر قبرص باندے دحملے کولو اجازت وُغوختو۔ حضرت عُثمان رضی الله عنه ورله اجازت ورکړۀ۔ امیر معاویه رضی الله عنه یو لښکر واخست حمله یې اُوکړه، چه په دے کښ اُمِّ حرام رضی الله عنها دخپل خاوند حضرت عُبادہ رضی الله عنه سره په لښکر کښ شریکه شوه او په واپسئ کښ په یوه قچره سُوریده، چه هغه اوترپیده، او دا هغه نه راپریوتله ستې یې مات شو، او وفات شوه، او هم هلته دفن کړے شوه۔ (بخاری)

فائده: دا شوق وۀ په جهاد کښ دشرکت چه په هر یو جنګ کښ د

شرکت دُعا یے کوله۔ خو چوتکه دے دواړو جنګونو کښې رومبی جنګ کښې فات کیدل یے مقرر وو، ځکه یے په دویم جنګ کښې شرکت اُونکړے شو۔ او هُم په دے وجه نبی علیه الصلوٰة والسلام په دے کښې د شرکت دُعا هُم نهٔ وه کړے۔

⑧ د حضرت اُمِّ سلیم رضی الله عنها د خوئ په مرګ خاوند سره همبستری

اُمِّ سُلیم رضی الله عنها د حضرت انس رضی الله عنه مور وه چه د خپل رومبی خاوند یعنی د حضرت انس رضی الله عنه د پلار د وفات نه پس کونډه شوے وه۔ او د حضرت انس رضی الله عنه د پالنے په خیال یے څو ورځو پورے نکاح نهٔ وه کړے۔ د دے نه پس یے حضرت ابُو طلحه رضی الله عنه سره نکاح اُوکړه۔ چه د هغهٔ نه یے یو خوئ ابو عُمَیر پیدا شو۔ هغهٔ سره به نبی اکرم صلی الله علیه وسلم کله چه به د هغوی کور ته تشریف یوړهٔ، نو خوش طبعی به یے کوله۔ اتفاقًا ابو عُمَیر وفات شو۔ اُمِّ سُلیم رضی الله عنها هغه پاك صفا کړهٔ، وړے لمبولو، کفن یے ورته واغوستلو۔ او په یو کټ کښې یے سملاوو۔ د ابو طلحه رضی الله عنه روژه وه۔ اُمِّ سُلیم رضی الله عنها هغهٔ د پاره خوراك وغیره تیار کړهٔ، او په خپله یے هم ځان ښائسته کړهٔ، خوشبو وغیره یے وُلګوله۔ شپے ته یے خاوند راغے، ډوډئ یے وُخوړله، د بچی د حال تپوس یے وُکړهٔ، نو دے ورته اُووے چه اُوس خو په آرام معلومیږی۔ یعنی ښهٔ شوے دے، هغه بے فکره شو۔ د شپے خاوند ورسره همبستری یعنی کوروالے هم اُوکړهٔ۔ کله چه سحر را پاسیدهٔ، نو دے ورته اُووے چه دیوے خبرے تپوس کوم۔ کهٔ چرے څوك چاته څهٔ څیز قرض ورکړی، بیا ترے هغه واپس غواړی، نو واپس کوُل پکاردی، یا ځان سره ساتل او نهٔ واپس کوُل؛ دهٔ ورته اُووے ضرور واپس کوُل پکاردی۔ د ایسارولو یے څهٔ حق دے۔ خو ځنګه څیزونه واپس کوُل ضروری دی۔ دا چه اُمِّ سُلیم رضی الله عنها واوریدل، وے ویل چه ستا ځوئ کوم چه د الله تعالیٰ امانت وو۔ هغه الله تعالیٰ واخستهٔ۔ ابو طلحه رضی الله عنه په دے غمژن شو، اُووے ویل چه تازهٔ دِے خبر نکړم۔ سحر د نبی علیه الصلوٰة والسلام په خدمت کښې ابو طلحه رضی الله عنه دا ټوله قصه عرض کړه۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ورته دُعا وُکړه۔ او وے فرمایل

Maktaba Tul Ishaat.com

چه شاید الله جل شانهٔ په دے شپه کښ برکت واچوی. یو انصاری وائی، چه ما د نبی علیه الصلوٰة والسلام دُعا برکت ولیدهٔ، چه د دے شپے د حمل نه عبدالله بن ابوطلحه رضی الله عنه پیدا شو چه د هغهٔ نهه بچی اوشو، او ټولو قرآن شریف اُولوستهٔ. (بخاری. فتح)

فائده: ډیر د صبر او د همت خبره ده چه خپل خوئ ډمړشی، او دا رنګے هغه برداشت کړی چه خاوند هم محسوس نکړی، ولے چه خاوند روژه وه، نو په دے خیال کهٔ چرے خبر شی نو خوراك به یے هم مشکل شی.

⑨ د حضرت اُمّ حَبِیبَه رضی الله عنها خپل پلار په بستره نهٔ کینول

اُمُّ الْمُؤمنین حضرت ام حبیبه رضی الله عنها د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه رومبے د عبدالله بن جحش په نکاح کښ وه. دواړه ښځه خاوند یوځائی مسلمانا شوی وُو، او د حبشے هجرت یے هم یوځائی کړے وُو، هلته چه لاړل، خاوند یے مُرتد شو، او په حالت د اِرتداد کښ مړ شو. حضرت اُمّ حبیبه رضی الله عنها دا د کُنډتون زمانه حبشه کښ تیره کړه. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ورته د نکاح پیغام ولیږهٔ، او د حبشے د بادشاه په معرفت نکاح وُشوه. څنګه چه د باب په ختمید و د بیبیا نو په بیان کښ به راشی. نکاح نه پس مدینے منورے ته یے تشریف راورهٔ. د صُلح په زمانه کښ د دے پلار ابوسُفیان مدینے منورے ته راغے، چه نبی علیه الصلوٰة والسلام سره یے د صُلح د مضبوطئ د پاره خبرے اترے کولے. د لور د ملاقات د پاره لاړهٔ، هلته بستره غوړیدلے وه، په هغے کیناستو، نو حضرت اُمّ حَبیبه رضی الله عنها هغه بستره ژر غونډه کړه. پلار یے حیران شو چه په ځائی د بسترے غوړولو هغه غوړیدلے یے هم راغونډه کړه. تپوس یے وُکړهٔ چه دا بستره زما قابله نهٔ وه څکه دِ راغونډه کړه، یا زهٔ د دے بسترے قابل نهٔ وَم؟ حضرت ام حبیبه رضی الله عنها وُفرمایل چه دا د الله تعالیٰ د پاك او د خوږ رسول صلی الله علیه وسلم بستره ده. او تهٔ مشرك ناپاك یے، په دے دِ څنګه کینوَلے شم. پلار یے په دے خبره ډیر خفه شو، او وے ویل چه تهٔ ما نه جُدا کید و نه پس بدو عادتو نوکښ اخته شوے یے. خود

اُم حبیبه رضی الله عنها په زړهٔ کښې چه دنبی علیه الصلوٰة والسلام کوم عظمت (او قدر) وُو، د هغې په لحاظ هغې کله دا برداشت کولے شوه چه یو ناپاك مشرك پلار روی، یا ګهٔ بل څوك، دنبی علیه الصلوٰة والسلام بستره باندے کینی۔

یو ځلے یے دنبی علیه الصلوٰة والسلام نه دڅاښت د مونځ د دولسو رکعتو فضیلت واوریدهٔ نو همیشه به یے دا په پابندئ سره کول، د دے پلار چه د هغه قصه اُوس تیره شوه، روستو مسلمان شوے وُو، هرکله چه د هغهٔ وفات اُوشو، نو په دریمه ورځ یے خوشبوئی راؤغوختله، اوهغه یے استعمال کړه، اَو ویے فرمایل چه ما ته نهٔ دخوشبوئی ضرورت وُو، نهٔ شوق۔ خو ما دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه دا فرمایل اوریدلی وُو چه زنانه نه جائز نهٔ دی چه دخاوند نه علاوه چا باندے د دریو ورځونه زیات غم اُوکری۔ البته خاوند د پاره څلور میاشتے لس ورځے دی۔ ځکه خوشبوئی استعمالوم۔ چه غم اُونهٔ کنړلے شی۔ هرکله چه په خپله یے د وفات وخت راغے، نو حضرت عائشه یے راؤغوختله، اَو ورته یے اُووے، چه زما او ستا معامله دبنُو وه، او دبنُو په خپل مینځ کښې څهٔ نا څهٔ خبره باندے لږ ډیر خفګان راځی۔ الله تعالیٰ دِ ما هم مُعاف کړی او تا هُم۔ حضرت عائشے رضی الله عنها وُفرمایل الله تعالیٰ دِ تا ته ټول هرڅهٔ معاف کړی او معافی دِدر کړی۔ دا یے چه واوریدل و یے ویل چه تا ما ته دا وخت ډیره خوشالی راؤرسوَله، الله تعالیٰ دِ تا هم خوشاله او تروتازه لری۔ د دے نه پس د غسے یے اُمِ سلمه رضی الله عنها ته یے هم سړے وُلیږلو۔ (طبقات)

فائده: د بنُو په خپل مینځ کښې دا سے تعلقات وی چه د بیوبل شکل لیدل هم نهٔ غواړی۔ خو دے ته دا فکر وُو چه د دُنیا څهٔ معامله هغه دلته ختمه شی، او د آخرت پیټې په سر پاتے نهٔ شی. او دنبی علیه الصلوٰة والسلام د محبت او عظمت اندازه خو د دے بسترے د معاملے نه اُوشوه۔

⑩ د حضرت زینب رضی الله عنها د اِفك په معامله کښې صفائی او صدقه

اُمّ المُؤمنین حضرت زینب بنت جحش رضی الله عنها په رشته کښې د

Maktaba Tul Ishaat.com

نبي عليه الصلوة دترورلوروه، شروع زمانه کښې مسلمانه شوې وه، په اول کښې دې نکاح حضرت زيد رضي الله عنه سره شوې وه، کوم چه دنبي عليه الصلوة ازاد کړې شوې غلام وو. او دنبي عليه الصلوة مُتَبَنّٰى هم وو (يعنې په خوئ ولئ يې نيولے وو) په دے وجه ورته زيد بن محمد ويلے شو. خو حضرت زيد رضي الله عنه سره د حضرت زينب رضي الله عنها جوړ رانغے، نو هغه طلاق ورکړۀ. نبي عليه الصلوة په دے خيال چه دجاهليت د زمانے يو رسم مات شي، هغه دا وو چه متبنّٰى به بالکل دخوئ په شان وو، او د هغه بنځے سره به يې نکاح هم نۀ کوله. په دے وجه يې دخپل ځان سره د نکاح پيغام ورولېږۀ. حضرت زينب رضي الله عنها جواب ورکړۀ چه زۀ خپل رب سره مشوره کوم. دلې اودسے اودس يې اوکړۀ او دمونځ نيت يې اوتړۀ چه الله تعالىٰ سره مشوره کولو نه بغير زۀ جواب نۀ درکوم. چه دهغے برکت دا اوشو، چه الله جَلَّ شَانُهٗ په خپله دنبي عليه الصلوة نکاح دحضرت زينب رضي الله عنها سره اوکړه، او دقران پاک ايت نازل شو.

فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْلَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ فِيْٓ اَزْوَاجِ اَدْعِيَآئِهِمْ اِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ۝

پس کله چه زيد خپل حاجت دهغے نه پوره کړۀ، نو مونږ هغه ستا په نکاح کښې درکړه، د پاره ددے چه پاتے نۀ شي مؤمنانو باندے تنګي دخپل په خوئ نيولي د بيبيانو باره کښې، کله چه هغه خپل حاجت دهغوي نه پوره کړے وي. او د الله تعالىٰ حکم به خامخا کيږي.

هر کله چه حضرت زينب رضي الله عنها ته ددے ايت په نازليدو د نکاح زيرے ورکړے شو، نو چا چه زيرے ورکړے وو هغه ته يې هغه کالے راوويستۀ ورېې کړۀ کوم يې چه دغه وخت اچولے وو. او په خپله سجده کښې پريوته او دوه مياشتو د روژو نيولو نذر يې ومنلو. دحضرت زينب رضي الله عنها په دے خبره فخر په ځائ وو چه دټولو بيبيانو نکاح دهغوي خپلو خپلوانو کړې، خو دحضرت زينب نکاح په اسمان کښې وشوه، او قران پاک کښې نازله شوه. په دے وجه حضرت عائشه رضي الله عنها سره دمقابلے موقع به چرته راغله، نو هغے ته دنبي اکرم صلى الله عليه وسلم د ټولو نه زياته محبوبه کيدو

بانده نازوله، اودے ته د اسمان په نکاح نازوله. خوسره د دے په حضرت عائشے رضی الله عنها باندِ تهمت لګولو قصه کښ کله چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د هغې نورو ښځو نه علاوه د دے نه هم پوښتنه اُوکړه، نو دے عرض وکړو، چه زۀ عائشه کښ د نیکئ نه سِوا هیڅ نۀ وینم. دا وه رښتنی دینداری. کنی دا وخت د ښځے د الزام لګولو او د خاوند د نظر نه د غورزولو وو. خصوصًا د هغې بنے چه کومه نازبینه هم وه، خو سره د دے په زړۀ سره یے صفائی اُوکړه، او تعریف یے اُوکړو.

حضرت زینب رضی الله عنها ډیره بزرګه وه، روژے به یے ډیرے نیولے، او نفلونه به یے هُم ډیر کول، په خپلو لاسو به یے محنت هم ډیر کولو. او څۀ چه به ورته ملاوُشو هغه به یے صدقه کول. د نبی علیه الصلوٰة د وفات په وخت کښ بیبیانو تپوس وُکړو چه په مونږ کښ د ټولو نه روميے به تا سو سره کومه بی بی ملاقات کوی؛ نبی علیه الصلوٰة وُفرمایل چه د چا لاسونه اُوږد دۀ وی. دوی لرګے راواخست، لاسونه یے ناپ کول شروع کړل. خو روستو ته معلومه شوه چه د لاس د اُوږدوالی نه ډیر زیات خرچ کول مراد وُو. ځکه چه د ټولو نه روميے حضرت زینب رضی الله عنها وفات شوه. حضرت عُمر رضی الله عنه کله چه اَزواجِ مُطهَّرات د پاره تنخواه مقرره کړه، او دے ته یے د دے د حصے مال دولس زره درهمه اولیږلے، نو دے خیال وُکړو چه دا د ټولو دی. وے فرمایل چه د تقسیمولو د پاره خو نورے بیبیانے زیاتے مناسب وے. قاصد اُووے، چه دا ټولے هُم ستا د حصے دی، او د ټول کال د پاره دی. نو په حیرانتیا سره یے اُووے سُبحَانَ الله! آو په مخ یے زَرو کے واچولو چه دا مال اُوتهٔ وینم. دے نه پس یے اُوفرمایل چه د کوټے په ګوټ کښ دِ واچولے شی، او په هغے یے یوه کپړه واچوله. بیا یے بَرزَه رضی الله عنها ته اُووے (څوک چه دا قصه نقل کوی) چه دے ته بو په ک مُوټے فلانکی ته ورکړه! او یو مُوټے فلانکی ته. لنډه دا چه رشته دارانو او غریبانانو په ګنډو یے یَو یَو مُوټے تقسیم کړهٔ. هغے کښ چه لږ شے غوندے پاتے شوے، نو بَرزَه رضی الله عنها هم خواهش ښکاره کړۀ. ورته یے وُفرمایل کوے چه د کپړے د لاندے نه پاتے شوی دی هغه ته واخله هغه والئ چه ما کوے پاتے شوے وے هغه واخستلے، آو اُوم شمیرلے، نو خلور

Maktaba Tul Ishaat.com

اتیا درهغه وے۔ دے ته پس یے دواړه لاسونه اُوچت کړل، دُعایے وُکړه، چه اے الله! راتلونکے کال ما ته دا مال رانکړے شی چه ددے په راتلوکېښ هُم فتنه ده۔ هم دغسے وُشوه۔ دویم کال تنخواه راتلو نه مخکښ وفات شوه۔ کله چه حضرت عُمر رضی الله عنه ته خبر اُوشو چه هغه دولس زره خویے خېئے کړے، نو هغوی یوزر نورے وَر اُولیږلے۔ چه په خپلو ضرورتونو کښ یے خرچ کړی۔ هغه یے هم هغه وخت تقسیم کړے۔ سره ددیرو فتوحاتو د وفات په وخت کښ یے نه څه روپئ پریښے وے نه مال۔ صرف هغه کور یے میراث کښ پاتے شو کوم کښ چه اُوسیده۔ دصدقے خیرات ددیروالی په وجه مَأوَی الْمَسَاكِيْن (دمسکینانو ټکانه) ددے لقب وُو۔ (طبقات)

یوزنانه وائی چه زهٔ حضرت زینب رضی الله عنها کره وُم۔ او مونږ په ګیرو (رنګ) سره کپړے رنګولو کښ مشغول وُو۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم تشریف راوړه۔ مونږه یے په رنګولو اُولیده، وا پس یے تشریف یوړه۔ حضرت زینب رضی الله عنها ته خیال پیدا شو چه داخبره یے ناخوښه شو، نو ټولے رنګ کړے شوے جامے یے زر اُوویخلے۔ (رنګ یے تر ے یوتلو) په بله موقع چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم تشریف اوړه دے لیدل هغه د رنګ مَنظر نهٔ وُو، نو دننه یے تشریف راوړه۔ (ابوداؤد)

فائده: دزنانو چه دمال سره کوم خاص مَحبت وی، هغه پټ نهٔ دے، او رنګ وغیره سره یے چه کومه مینه وی، هغه هم د بیان محتاج نهٔ ده۔ خو دا هم آخر زنانه وے چه دمال سا تل یے آدو پیژندل نه۔ او دنبی علیه السلام په لږه غوندے اِشاره یے ټول رنګ اُوویختهٔ۔

(۱۱) دحضرت خنساء رضی الله عنها دخپلو څلورو ځامنو سره په جنګ کښ شرکت

حضرت خنساء رضی الله عنها مشهوره شاعره وه، دخپل قوم څو سړو سره مدینے ته راغله مسلمانه شوه۔ ابنِ اثیر وائی چه دعالمانو په دے باندے اتفاق دے، چه یو ے زنانه هم ددے نه بهتر شعرونه نهٔ دی ویلی۔ نهٔ ددے نه مخکښ نهٔ ددے نه روستو۔ دحضرت عُمر رضی الله عنه زمانهٔ خلافت سنه ۱۶ ھ (شپاړسمه هجری) کښ دقادسیے جنګ اُوشو چه په دے کښ خنساء

رضی الله عنها سره دخپلو څلورو واړو ځامنو شریکه شوه. ځامنو ته یې یو ورځ مخکښ ډیر نصیحت اوکړو، او جنګ کښې د شرکت دپاره یې پکښې جوش پیدا کړو. وې ویل چه زما ځامنو! تاسو په خپله خوشالۍ سره مسلمانان شوي یئ، او په خپله خوشالۍ مو هجرت کړے دے. په هغه ذات م دِ قسم وی چه د هغه نه سِوا هیڅوک لائق د عبادت نشته. څنګه چه تاسو د یو مور د ګیډې نه پیدا شوي یئ، د غسې د یو پلار اولادیئ. ما نۀ ستاسو پلار سره خیانت کړے دے نۀ مِ ستاسو ماما ګان شرمولی دی، نۀ ما ستاسو په شرافت څۀ داغ لګولے دے. نۀ مِ ستاسو نسب خراب کړے دے. تاسو ته معلومه ده، چه الله جل شانهٗ د مسلمانانو دپاره کافرانو سره په جنګ کښې څۀ څۀ ثوابونه ایښی دی. تاسو ته دا خبره هم یاد ساتل پکار دی چه د آخرت باقی پاتے کیدونکے ژوند د دُنیا فنا کیدونکی ژوند نه ډیر بهتر دے. د الله جل شانهٗ پاک ارشاد دے. يَآيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا وَاتَّقُوا اللهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝ (ترجمه) "اے د ایمان خاوندانو! په تکلیفونو صبر کوئ (او د کافرانو په مقابله کښې) صبر کوئ، او مقابلے دپاره تیار اوسئ چه تاسو پوره کامیاب شئ." (بیان القرآن) په دے وجه صبا سحر کله چه تاسو صحیح اؤ سالم پا سئ، نو ډیر په هوښیارتیا سره جنګ کښې شریک شئ. او د الله تعالیٰ نه د دُشمنانو په مقابله کښې مدد غواړئ. په مخکښې ځئ، او کله چه تاسو اُووینئ چه جنګ تیز شو او د هغې شغلے اُوچتے شوے نو د هغې په ګرم اورکښې ورننوزئ، او د کافرانو د سردار مقابله اُوکړئ، انشاء الله جنت کښې به په عزت سره کامیاب شوي اُوسیږئ. هم داسے وُشو کله چه صبا جنګ پوره په زور تیز شو. نو څلور واړو ځامنو ته به یو بل نمبر په نمبر مخکښ کیدو، او د مور نصیحت به یې په اشعارو کښې وئیلو سره شوق پیدا کولو، او شهید به شو. نو بل به وړاندے شو، او تر شهید کیدو پورے به جنګیدهٔ. لنډه دا چه څلور واړه شهیدان شو. او کله چه مور ته د څلورو واړو د شهید کیدو خبر اُوشو، نو هغې اُووے چه د الله تعالیٰ شکر دے چه هغهٔ د دوی په شهادت سره ما ته عزت راکړهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

ما ته د الله تعالیٰ د ذات نه اُمید دے، چه د هغهٔ د رحمت په سُوری کښې
دے څلور وواړه وسره یه زړهٔ هُم اُوسم۔ (اُسُدالغابه)

فائده: دا سے هم د الله تعالیٰ بندګانے مینندے وی کوم چه څلور
ځامنو ته د جنګ په تیزئ او زور کښې د ننوتو ترغیب ورکوی، او کله چه
څلور واړه شهیدان شی، او په یو وخت کښې ټول شهیدان را شی، نو
د الله تعالیٰ شکر ادا کړی۔

⑫ د حضرت صفیّه رضی الله عنها یهودی لره په یوائے تن وژل

حضرت صَفِیّه رضی الله عنها د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم تروراو د حضرت حمزه رضی الله عنه
خپله خورده۔ د اُحُد په جنګ کښې شریکه شوه، او کله چه مسلمانانو ته
څهٔ شکست اُوشو، او په تختیدو شو، نو دے به په نیزه یه مخ باندے په
وهلو وهلو واپس کوّل۔ غزوهٔ خندق کښې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ټولے زنانه په
یوه قلعه کښې بندے کړے وے، او حضرت حَسّان بن ثابت رضی الله عنه یے پرے
د مُحافِظ په طور پریخے وُو۔ یهودیانو د پاره دا موقع ډیره د غنیمت وه چه
هغوی خو بنیادی دُشمنان وُو۔ د یهودیانو یوے ډلے په زنانو د حملے
کوّلو اراده اُوکړه۔ او یو یهودی حالات معلومولو د پاره قلعه ته اُورسیدهٔ
حضرت صفیّه رضی الله عنها د چرته نه اُولیدهٔ۔ حضرت حَسّان رضی الله عنه ته یے اُوے
چه دا یهودی موقع کتلوله راغلے دے۔ ته د قلعه نه بهر اُوزه او دا مړ کړه
دے په خپله ضعیف کمزورے وُو۔ د کمزورتیا په وجه یے همت اُونهٔ شو
نو حضرت صفیّه رضی الله عنها یو د خیمے د اُوسپنے موټے په لاس کښې واخست
او په خپله اُووتله، د هغهٔ سر یے چیخنړی کړهٔ، بیا قلعه ته واپس شوه۔
حضرت حسان رضی الله عنه ته یے وُویل، چه چونکه د غهٔ یهودی سړے دے
د نامحرم کیدو په وجه ما د هغهٔ سامان او جامے اُونهٔ ویستے۔ ته د هغهٔ
ټولے جامے راوُباسه، راوړه۔ او د هغهٔ سر هم پریکړه۔ حضرت حسّان
رضی الله عنه ضعیف کمزورے وُو، د دے همت یے هم اُونکړے شو۔ نو دا په خپله
دو باره لاړه، او د هغهٔ سر یے پریکړهٔ رایے وُړهٔ۔ او په دیوال باندے د

یهودیانو په دِ له کښې یې وَر وُغورزَوَلو. هغوی چه وُلیدلو وے ویل چه مونږ
مخکښې ته پوهیدلو، چه محمد (ﷺ) زنانه بالکل یواځې نشي پریږدے.
ضرور د هغوی حفاظت کوونکي سړي دننه موجود دي. (اُسد الغابه)

فائده: سنه ۲۰ھ کښې حضرت صفیه رضی الله عنها وفات شوے وه. دغه وخت د دے عمر د رے اویا کاله وَو. په دے لحاظ د خندق جنګ کوم چه سنه ۵ھ کښې شوے وَو، د دے عمر اته پنځوس کاله وَو. ترن صبا د دے عمر زنانه وَ ته د کور کاروبار کول هُم مشکل شي. لا چه په ځائي د دے په یواځې ځان یو سړے قتلول. حال دا دے چه یو خوا یواځې زنانه دی او بل طرف ته د یهودیانو مجمع وه.

(۱۳) د حضرت اَسمَاء رضی الله عنها د ښځو د اجر په باره کښې سوال

اسماء بنت یزید صحابیه رضی الله عنها د نبی اکرم ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه، او عرض یې وُکړه، اے د الله رسوله! زما مور پلار دې په تاسو قربان شي، د مسلمانانو ښځو له طرفه د قاصدے په طور ستاسو په خدمت کښې حاضره شوے یم. بے شکه تاسو له الله جل شانه سړو او ښځو دواړو طرف ته نبي جوړ کړے راوُلیږلي. په دے وجه مونږ ښځو په تاسو ایمان راوُړه، او په الله جل جلاله مو ایمان راوړه. خو مونږ ښځے په کورونو کښې ګیرے اُوسو. د سړو په کورونو کښې ښځے اُوسو. د سړو خواهشات زمونږ نه پوره کیږي، مونږ د هغوی اولاد په ګیډه کښې اُوچتوو. سره د دے ټولو خبرو سړي ډیر د ثواب کارونو کښې زمونږ نه وړاندے دي. د جُمعے مانځه کښې شرکت کوي. د جمع مونځونو کښې شریکیږي. د بیمارانو تپوس پوښتنه کوي. جنازو کښې شریکیږي. حج پسے حج کوي، او د دے ټولو نه زیات جهاد کوي. او کله چه هغوی حج یا عُمرے د پاره یا جهاد د پاره ځي. نو مونږ ښځے د هغوی د مالونو حفاظت کوو. هغوی د پاره جامے جوړوو، د هغوی اولاد پالو. آیا مونږ ثواب کښې د هغوی شریکے نه یُو. نبي اکرم ﷺ چه دا واوریدل، صحابو طرف ته سته

Maktaba Tul Ishaat.com

متوجه شو، او ارشاد یې وُفرمایهٔ چه تاسو دین په باره کښې د دے نه بهتر سوال کونکی خوك آورېدلی دی. صحابو رضی الله عنهم عرض وکړهٔ، اے د الله رسوله! زمونږ خیال هُم نهٔ وُو، چه ښځه هم دا سے سوال کولے شي. د ے نه پس نبی اکرم صلی الله علیه وسلم آسماء رضی الله عنها طرف ته متوجه شو، او ارشاد یې وُفرمایهٔ چه په غور سره واُوره، او ځان پوهه کړه، او کومو ښځو چه ته رالیږلے یې، هغوی ته وُوایه، چه د ښځې خپل خاوند سره ښهٔ سلوك کول، د هغهٔ رضا لټول او په هغې عمل کول د هغې ټولو خیزونو د ثواب برابر دے. اسماء رضی الله عنها چه دا جواب واُورېدهٔ، ډیره خوشاله شوه او واپس شوه. (اسد الغابه)

فائده: د ښځو خپلو خاوندانو سره ښهٔ سلوك کول، او د هغوی اطاعت او فرمانبرداری کول ډیر قیمتی خیز دے، خو ښځې د دے نه ډیرې غافلې دی. صحابه کرامو رضی الله عنهم یو ځلې د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې عرض وُکړهٔ چه عجمی خلق خپلو بادشاهانو او سردارانو ته سجده کوی تاسو د دے زیات حقدار یئ چه مونږ تاسو ته سجده کوُو. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم منع کړل. او ارشاد یې وُفرمایهٔ، کهٔ چرے ما د الله تعالیٰ نه سِوا چاته د سجدے کولو حکم کولے، نو ښځو ته به مِ حکم کړے وے چه خپلو خاوندانو ته سجده کوئ. بیا نبی علیه الصلوٰة وُفرمایل. په هغې ذات مے دِ قسم وی د چا په قبضه کښې چه زما ساه ده. چه ښځه د خپل رب حق تر هغې وخته پورے ادا کولے نهٔ شي، ترڅو چه د خاوند حق ادا نکړی. یو حدیث کښې راغلی دی چه یو اُوښ راغے، او نبی علیه الصلوٰة ته یې سجده اُوکړه صحابو رضی الله عنهم عرض وُکړهٔ چه دا ځناور تاسو ته سجده کوی، نو مونږ زیات حقدار یُو چه تاسو ته سجده اُوکړو. نبی علیه الصلوٰة منع کړهٔ، او دا یې ارشاد وُفرمایهٔ، کهٔ چرے ما چا ته حکم کولے چه چا ته د الله تعالیٰ نه سِوا سجده کوئ، نو ښځې ته به مِ حکم کړے وے چه خپل خاوند ته یې سجده کولے. یو حدیث کښې راغلی دی چه کومه ښځه په دا سے حالت کښې مړه شي چه خاوند د هغې نه راضی وی، هغه به جنت ته

ځي۔ یوحدیث کښ راغلي دي، که چرے ښځه دخاوند نه ناراضه شي، څلور
شپه تېره کړي، نوفرښتے په هغې لعنت کوي۔ یوحدیث کښ راغلي دي چه
ددوه ذکسانو مونځ قبولیت دپاره اسمان طرف نه دومره هم نه ځي
چه دسرنه پورته شي۔ یوهغه غلام چه دخپل اقانه تختیدلے وي۔
اویوه هغه ښځه چه دخاوند نافرماني کوي۔

(۱۴) دحضرت اُمِّ عَمّارَه رضی الله عنها اسلام اوپه جنګ کښ شرکت

حضرت اُمِّ عَمّارَه انصاریه رضی الله عنها هغې زنانه ؤ نه ده کومه چه د اِسلام
شروع زمانه کښ مسلمانه شوه، او بیعَة العقبه کښ شریکه شوه۔ دعَقَبه
معنیٰ "دَرَه" ده۔ نبی علیه الصلاة والسلام په اول په پټه مسلمانان کول۔ ولے چه مشرکانو
اوکافرانو به نوي مسلمانان نه سخت تکلیفونه رسَوُل۔ دمدینے څهٔ خلق
دحج په زمانه کښ به راتلل، اودمِنیٰ دغرپه یوه دره کښ به مسلمانیدل۔
دریم وارے کوم خلق چه دمدینے نه راغلي وُو، په هغوي کښ دا هُم وه۔ د
هجرت نه پس کله چه دجنګونو سلسله شروع شوه، خصوصًا اُحُد، حُدیبیه
خیبر، عُمرَة القَضَاء، حُنین اودیمامه په جنګ کښ د اُحُد دجنګ قصه په
خپله اَوَرِوي، چه مامشکیزه داُوبو ډکه کړه۔ اُحد ته روانه شوم، چه
اوګورم، په مسلمانانو څهٔ تېرشو، اوکهٔ څوك نرے زخمي اُوبینم، نواوبهٔ
به پرے اُوڅکوم۔ دغه وخت ددے عُمرددرے څلویښتوکالووُو۔ ددے
خاوند اودوه ځامن هم جنګ کښ شریک وُو، مسلمانانوته فتح اوغلبه کیده
خولږ ساعت کښ کله چه دکافرانو غلبه ښکاره شوه، نوزهٔ نبی علیه الصلاة والسلام ته
نزدے اُورسیدم، اوکوم کافرچه به آخوا مخ کولو، هغه به م لرے کولو۔ په
اول کښ ددے سره ډهال هُم نهٔ وُو، روستو ورکړے شو، چه په هغې به یے
دکافرانو حمله منع کوله، په ملا یے یوه کپړه تړلے وه چه دډیرو چرړو نه
ډکه وه۔ کله چه به څوك زخمي شو، نویوه چرړه به یے ترے را اُوویستله
اُوبه یے سُوزوله، اوهغه زخم به یے پرے ډك کړهٔ، په خپله هُم څوځایه
زخمي شوه۔ ددس دپاس ځایه زخمي شوے وه۔ چه په هغې کښ یو

Maktaba Tul Ishaat.com

زخم ډیر سخت وُو- اُمِ سعید رضی الله عنها وائی چه ما د دے په اُوګه یو ډیر ژوَر زخم وُلیدهٔ- ما ترے تپوس وُکړهٔ چه دا څنګه شوے وُو؛ وے ویل چه د اُحُد په جنګ کښ کله چه خلق آخوا دیخوا پریشانه ګرزیدل- نو ابنِ قَمیئه دا اُوے وُړاندے شو چه محمد (صلی الله علیه وسلم) چرته دے؛ ما ته یے څوک وُښایئ چه کوم خوا دے، کهٔ چرے نن هغه بچ شو، نو زما خلاصے نشته- مُصعَب بن عُمَیر رضی الله عنه او څو سړی د هغهٔ مخکښ راغلل، په هغوی کښ زهٔ هم وُم- هغهٔ زما په اُوګه ګُذارا اُوکړهٔ، ما هم هغهٔ باندے څو ګُذارونه اُوکړل، خو هغهٔ باندے دوه زغرے وے، په دے وجه په زغره به حمله منع کیدهٔ- دا زخم دا سے سخت وُو چه کالو سَر یے علاج اوکړهٔ، خو ښهٔ نهٔ شو- په دے دَوران کښ نبی علیه الصلوٰة والسلام د حَمرَاءُ الاَسَد د جنګ اِعلان وُکړهٔ- اُمِ عَمّاره رضی الله عنها هم ملا اُتړله تیاره شوه، خو چونکه رومبے زخم بالکل تازه وُو، په دے وجه شریکه نهٔ شوه نبی علیه الصلوٰة والسلام کله چه د حَمرَاءُ الاَسَد نه واپس شو، نو د ټولو نه رومبے د اُمِ عَمّاره رضی الله عنها خیریت یے معلوم کړهٔ- او کله چه معلومه شوه چه ښه ده، نو ډیر خوشاله شو- د دے زخم نه علاوه نور هم ډیر زخمونه د اُحُد په جنګ کښ پرے راغلی وُو- ام عمّاره رضی الله عنها فرمائی، په اِصل کښ هغه خلق په آسونو سُواره وُو، او مونږ پیدل وُو- کهٔ چرے هغوی هم زمونږ په شان پیدل وے، نو بیا خوځهٔ خبره وه- دغه وخت به د اصل مُقابلے پته لګیدلے وه- کله یو چه په آس څوک راتے، او زهٔ به یے وَهلم، نو د هغهٔ حملے به ما په ډهال منع کولے، او کله چه به هغهٔ ما نه مخ واړوَو بل طرف ته به روان شو، نو ما به د هغهٔ د آس په خپه حمله اوکړه، او هغه به رِم پریکړه، نو هغه آس به هم پریوتهٔ، او سوربه هُم پریوتهٔ، او کله چه به هغه پریوتهٔ- نو نبی علیه الصلوٰة والسلام به زما ځوئ ته آواز اوکړهٔ، او زما مدد ته به یے راوُلیږهٔ- زهٔ او هغه دواړه به یو ځائ شو، هغه به مومرکړهٔ- د دے ځوئ عبدالله بن زید رضی الله عنه فرمائی چه زما ګس مټ زخمی شو، او وینه نهٔ بندیده- نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل چه په دے پټئ اُوتړه- زما مور راغله، د خپلے ملا نه یے څهٔ ټکړه را اُوِ یستله، او وے تړله- بیا یے اُووے، ځه، کافرانو سره

مقابله کوه۔ نبي علیه الصلوٰة والسلام دا منظر لیدلو وے فرمایل، اے اُمّ عمّاره! دومره همت څوك لرلے شي څومره چه ته لرے۔ نبي اکرم صلی الله علیه وسلم دے دوران کښ دِے ته او ددے کورنئ ته څو وارے دُعا گانے اوکړے۔ او تعریف یے اوکړهٔ - اُمّ عمّاره رضی الله عنها وائي چه دغه وخت یو کافر مخکښ راغے۔ تو نبي علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل چه دا دے چا چه ستا خوئ زخمي کړے دے۔ زهٔ ور مخکښ شوم - او دغهٔ په پِنډئ م حمله اُوکړه، په هغې سره هغهٔ زخمي شو، او یو دم کیناست۔ نبي علیه الصلوٰة والسلام مُسکے شو، وِے فرمایل چه دخوئ بدله دِ وا خسته۔ دے نه پس مونږ خلق ور مخکښ شو، او هغهٔ مو مړ کړهٔ۔ نبي علیه الصلوٰة والسلام چه کله مونږ خلقو ته دُعا گانے کولے، نو ما عرض وُکړهٔ، اے دالله رسوله! دُعا وُکړئ چه الله جل شانهٔ په جنت کښ ستا سو ملګرتیا را نصیب کړي۔ هر کله چه نبي علیه الصلوٰة والسلام ددے دُعا وُکړه، نو وِے ویل چه اُوس ما ته هیڅ پرواه نشته چه په دُنیا کښ په ما څهٔ مصیبت تیر شو۔ د اُحد نه علاوه نور هم څو جنګونو کښ ددے شرکت او کارنامے بِسکاره شوي دي۔ د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس د مُرتد کیدلو زور شو، او یمامه کښ زبردست جنګ اُوشو، هغې کښ هم اُمّ عمّاره رضی الله عنها شریکه وه - ددے یو لاس په دے کښ پریکړے شوے وُو۔ او دے نه علاوه یوولس زخمونه یے په بدن راغلي وُو، ددے زخمونو په حالت کښ مدینے منورے ته اُورسیده۔ (طبقات)

فائده: دیوزنانه دا کارنامے دي چه د هغې عُمر د اُحد په جنګ کښ دریے څلویښت کاله وُو، څنګه چه مخکښ تیر شو۔ او د یمامه په جنګ کښ تقریباً دوه پنځوسو کالو وه - دے عمر کښ د اسے جنګونو کښ دار نګے شرکت ته هم کرامت ویلے کیدے شي۔

(۱۵) د حضرت اُمّ حکیم رضی الله عنها اسلام او جنګ کښ شرکت

اُمّ حکیم بنت حارث رضی الله عنها چه د عکرمه بن ابي جهل رضی الله عنه بي بي وه، او د کافرانو له طرفه د اُحد په جنګ کښ هم شریکه شوے وه - کله چه مکه مکرمه فتح شوه، نو مسلمانه شوه۔ خاوند سره

Maktaba Tul Ishaat.com

یې ډیر زیات محبت وُو، خو هغه دخپل پلار (ابوجهل) داثر له وجې مسلمان شوے نهٔ وُو. او کله چې مکه فتح شوه نویمن ته اُوتختیدو. دے دنبی علیه الصلوٰة والسلام نه دخپل خاوند دپاره آمن وُغوختهٔ. او په خپله یَمن ته وُرسیده. خاوند یې ډیر په مشکله سره په واپس راتلو راضی کړهٔ، اَووِے ویل چه دمحمد صلی الله علیه وسلم دتُورے نه دهغهٔ په لمن کښې پناه مونده کیدے شی، نهٔ ما سره لاړ شه. هغه مدینے منورے ته واپس راغے مسلمان شو. آو ښځه اوخاوند ډیر خوشاله اُوسیدل بیا دحضرت ابوبکر رضی الله عنه په زمانهٔ خلافت کښې کله چه د رُوم جنګ شو، نو په هغې کښې حضرت عکرمه رضی الله عنه شریک شو، او دا ښځه هم ورسره وه. حضرت عکرمه رضی الله عنه په هغې کښې شهید شو. نو خالد بن سعید رضی الله عنه ورسره نکاح وکړه، او په دے سفر مَرَجُ الصُّفر د یو ځائ نوم دے هلته یې درُخصتئ اراده وُکړه. بی بی یې اُووے، چه اُوس دُ دُشمنانو لښکره ده، وارا وُکړه چه داختمه شی. خاوند اُویل چه ماته په دے جنګ کښې دخپل شهید کیدو یقین دے، داهم چُپ شوه. اوهلته یو منزل بانده خیمه کښې رخصتئ اُوشوه. سحر د ولیمې انتظام کیدلو چه درُومیانو فوج راوُختلو، اوزبردست جنګ اُوشو چه په دے کښې خالد بن سعید رضی الله عنه شهید شو. اُمِّ حکیم رضی الله عنها هغه خیمه راوُویستله، په کومه کښې یې چه شپه تیره کړے وه، او خپل ټول سامان یې اُوتړهٔ، او دخیمې داُوسپنې مونګے یې واخست په خپله یې هم مقابله اوکړه، او اُووهٔ سړی یې په یواځے ځان قتل کړل. (اُسدالغابه)

فائده: زمونږ د زمانے څولک زنانه خو یو طرف ته سړے هُم په داسے وخت کښې نکاح کولو ته نهٔ تیاریږی. اوکچرے تیار هم شی نو دے ناګهانی شهادت بانده یې په زړاژړا معلومه نهٔ ده څو مره ورځے په غم کښې تیرَوی. دالله تعالی بندے په خپله هم جهاد شروع کړهٔ، او زنانه تو یې سره یې اُووهٔ سړی قتل کړل.

۱۶ د حضرت سُمَیَّه اُمِّ عَمّار رضی الله عنها شهادت

سمیّه بنت خیّاط رضی الله عنها د حضرت عمّار رضی الله عنه مور ده - چه د هغهٔ قصه د اول باب اُووم نمبرکښ تیره شوے ده، دے هم د خپل خوئ حضرت عمّار رضی الله عنه او د خپل خاوند حضرت یاسر رضی الله عنه په شان اسلام د پاره قسما قسم تکلیفونه او سختئ تیرولے، خود اسلام ریښتنئ مینے چه په زړهٔ کښ یے کوم کورجوړ کړے وُو، په هغے کښ به یے ذره هم فرق نه راتهٔ، دا به یے ذکر مئ په سخت وخت غرمو کښ په کنکرو واچوله، او د اُوسپینے زغره به یے ورته واغوستله، او غرمو کښ به یے اُودرولهٔ - دے د پاره چه په غرمو اُوسپینه توده شی، او د هغے په گرمئ سره یے تکلیف زیات شی - نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به چه کله اخوا تیریدلو، نو د صبر نصیحت به یے ورته فرمایهٔ، او د جنت وعده به یے فرمایله - یو وارے حضرت سُمَیَّه رضی الله عنها ولاړه وه چه ابوجهل اخوا تیریدهٔ، بَدْ رَد یے اووے، او په غصه کښ یے شرمګاه باندے په نیزه اُووهله چه د هغے د زخم نه وفات شوه - د اِسلام په خاطر د ټولو نه ړومبے د اشهیده شوه - (اُسدالغابه)

فائده: د زنانهٔ دومره قدرے صبر، همّت او استقلال قابل د پسخیدو دے، خوخبره داده - چه کله د چا په زړهٔ کښ څهٔ څیز کور جوړ کړی، نو هغهٔ ته هره خبره اسانیږی - او س هم د عشق په شلګونو قصے د دے قسمه په اوریدو کښ راځی چه ځان یے پرے قربان کړهٔ - خو کهٔ دا ځان قربانول کهٔ چرے د الله تعالیٰ په لاره کښ وی، د دین له خاطره وی - نو په بل ژوند کښ کوم چه د مرګ نه پس شروع کیږی، د کامیابئ سبب دے - او کهٔ چرے څهٔ دُنیوی غرض د پاره شی، نو دُنیا خو یے تلے ده اخرت یے هُم بربادشو -

۱۷ د حضرت اَسمَاء بنتِ اَبی بکر رضی الله عنها ژوند او تنګسیا

حضرت اسماء بنتِ ابی بکر رضی الله عنها د حضرت ابوبکر رضی الله عنه لور او د

Maktaba Tul Ishaat.com

عبدالله بن زبیر رضی الله عنه مور او د حضرت عائشے رضی الله عنها میرنئ خور د مشهور صحابیا تونه ده۔ په شروع کښې مسلمانه شوې وه۔ ویلے شي چه د اولسو کسانو نه پس د ا مسلمانه شوې وه۔ د هجرت نه اویشت کاله روستو پیدا شوې وه۔ او کله چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د هجرت نه پس مدینے منورے ته اُورسیدل، نو حضرت زید رضی الله عنه وغیره یے ؤ لیږل چه د دے دواړو حضراتو اهل وعیال راولی، نو د وی سره حضرت اسماء رضی الله عنها هم راغله۔ کله چه قُبا ته راؤرسیدۀ، نو عبدالله بن زُبیر پیدا شو۔ او د هجرت نه پس د ټولو نه رومبے پیدا ئش د دۀ ؤشو۔ د دغے زمانے عامه غریبی، تنګ ستی، فقر و فاقه مشهوره او معروفه وه، او د دے سره د دغے زمانے همت، جفا کشی، بهادری زړۀ ورتیا مثالی ده۔ بخاری شریف کښې د حضرت اسماء رضی الله عنها د ژوند حالات په خپله د هغے د ژبے نه نقل کړی دی۔ فرمائی چه کله زما نکاح زُبیر رضی الله عنه سره ؤشو، نو هغۀ سره نۀ مال وُو نۀ جائداد۔ نۀ خولۀ خادم کارکونکے، نۀ څۀ بل څیز۔ یو اُوښ چه اُوبۀ په پرے راوړلے شوے او یو آس۔ هُم ما به د اُوښ د پاره واښۀ وغیره راوړل، او دکهجورو هډوکی به مې ورله ټکول، د دانے په طور به مې پرے خوړل، ما به په خپله اُوبۀ ډکولے، راوړلے۔ او چه د اُبو بوقه به ؤشلیده، نو هغه به مې په خپله ګنډله۔ او په خپله به مې د آس ټول خدمت کولو، واښۀ دانے وغیره۔ او د کور ټول کار و بار به مې سر ته رسولو۔ خو د دے ټولو کارونو کښې د آس خبرګیری او خدمت زما د پاره زیات د محنت څیز وُو۔ ډوډۍ البته ما ته په ښۀ شان پخول نۀ راتلل، نو اُوړۀ به مې واغږل، او د خپل ګاونډ انصارو زنانو کره به مې یوړل هغوی به پرے رښتینے مخلصے ښځے وے، زما ډوډۍ به یے پخے کړے۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم مدینے ته اُورسیدۀ، نو زُبیر ته یے یوه زمکه د جاګیر په طور ورکړه۔ چه تقریباً دوه میله لرے وه۔ ما به د هغه ځائ نه خپل سر دکهجورو هډوکی راوړل۔ زۀ یو وارے دا رتلے راتلم، او ګیډۍ زما په سر وُو۔ په لاره کښې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره مې ؤشم چه په اُوښ یے تشریف

راوړلو او د انصارو یو جماعت ورسره وو. نبی علیه الصلوٰة والسلام چه زۀ اُولیدم، اُوښ یې اُودرَؤلو، او اُوښ ته یې دکیناستلو اشاره اُوکړه. دپاره د دے چه زۀ پرے سُوره شم، ما ته سړو سره په تلو کښې شرم راغے، او دا هم راته خیال راغے چه زُبیر رضی الله عنه ډیر زیات غیرتی دے، هغه به دا خوښه نهٔ کړی. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم زما دا اندازے نه پوهه شو چه ما ته په دے باندے دکیناستو ته شرم راځی. نبی علیه السلام تشریف یوړه. زۀ کورته راغلم، او زُبیر رضی الله عنه ته م قصه واؤرَوله، چه دغسے نبی علیه الصلوٰة والسلام سره ملاؤ شوم او دا م اُووے چه ما ته شرم راغے، او ستا د غیرت خیال راته هم راغے. زُبیر رضی الله عنه اُووے چه په الله تعالیٰ م د قسم وی، چه ستا د کهجورو هډوکی په سر کیخودل راؤړل زما د پاره د دے نه زیات نه ګران دۀ. (خو مجبوری داوه، چه دا حضرات په خپله خو ډیر زیات په جهاد او د دین په کارو توکښې مشغول اُوسیدل، نو د کور کار و بار به عموماً زنانه ؤکولو.) د دے نه پس زما پلار حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه یو خادم کوم چه نبی علیه الصلوٰة والسلام دۀ ته ورکړے وو، ما ته راؤلیږۀ چه د هغے په وجه د آس د خدمت نه زۀ خلاصه شوم. ګویا د لوئی قید نه ازاده شوم. (بخاری. فتح)

فائده: د عربو دستور رو مے هُم وو او اوس هم دے چه د کهجورو هډوکی اُوټکوی، یا یې په مېچنو کښې دَل کړی، بیا یې په اوبو کښې خوشتهٔ کړی، په څناورو یې درانے په طور خوروی.

(۱۸) د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د هجرت په وخت ټول مال اُوړل او د حضرت اسماء رضی الله عنها خپل نیکهٔ ته تسلی ورکول

حضرت ابوبکر رضی الله عنه د هجرت په اِرادہ تشریف اُوړلو، نو په دے خیال چه معلومه نهٔ دَه په لاره کښې څهٔ ضرورت پیښ شی. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم هم ورسره وو، نو څهٔ مال چه ورسره دغه وخت موجود وو چه د هغے مقدار پنځه شپږ زره درهمه وے، هغه ټول یې ځان سره اُوړے وے. د دے حضراتو تشریف اُوړلو نه پس د حضرت ابوبکر رضی الله عنه پلار ابُو قحافه چه

Maktaba Tul Ishaat.com

پرون شوے وُو، تردے وخته مسلمان شوے نهٔ وُو، نوَسئ له تسلئ د پاره راغے، په افسوس سره یے ورته اُووے، چه زما خیال دے چه ابُو بکر خپلو تلو تکلیف تا سوته وُرسوؤ. اومال یے هم شاید ټول یوړهٔ. چه دا یے بل مشقت په تا سووا چوؤ. آسماء رضی الله عنها وائی چه ما اُووے، تا نیکهٔ ابلارهٔ خو ډیر څهٔ پرېښي دی. دا مې اُووے، او وارهٔ وارهٔ کانړی مې راجمع کړل، د کور هغه تاخ مې ډك کړهٔ، کوم کښې چه به د حضرت ابوبکر رضی الله عنه روپئ پرتے وے. او په هغې مې یوه کپړه واچوله. د نیکهٔ لاس مې په هغې کپړه کیخودهٔ. چه هغهٔ په لاس سره اندازه وُلګوله، چه تاخ د روپو ډك دے. وے ویل دا هغهٔ ښهٔ کړی دی. ستاسو ګذاره به په دے کښې وُشي. آسماء رضی الله عنها وائی چه په الله تعالیٰ مې دِ قسم وی، هیڅ یے نهٔ وُو پرېښي. خو ما د نیکهٔ د تسلئ د پاره دا طریقه اِختیار کړه، چه دهٔ ته دردے افسوس او غم وُ نهٔ شي. (مسند احمد)

فائده: دا د جرأت او صبر خبره دهٔ. کنی د نیکهٔ نه زیات دے جینکو ته خفګان او غم بکار وُو، او چه خومره شکایتونه یے دغه وخت نیکهٔ ته کړے وے ټهیک وُو، چه دغه وخت ظاهری اسرا هم په دهٔ وه. د هغهٔ د متوجه کولو په ظاهر کښې ډیر ضرورت وُو، چه یو خو د پلار جُدائی. دوئم دګن ارے څهٔ شکل په ظاهر کښې نشته. بیا مکے والاعموماً دُشمنان، او بے تعلقه هم وُو. خو الله جل شانهٔ یوه یوه خوبی دے ټولو حضراتو ته نازله وُوکهٔ زنانه، دلسے ورکړے وه، چه د ښخیو ته پرے سِوا نورڅهٔ نهٔ دی ښکاری حضرت ابوبکر رضی الله عنه اول کښې خو ډیر مالدار او ډیر لوئ تاجر وُو. خو د اسلام او د الله تعالیٰ په لار کښې یے تردے پورے خرچ اُوکړهٔ چه د تبوك په غزا کښې هر څهٔ چه یے په کور کښې وُو، ټول یے راؤړل ورپے کړل. څنګه چه د شپږم باب خلورم نمبر قصه کښې مُفصّل تیر شوی دی. هم په دے وجه دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد دے چه ما ته د هیچا مال دومره فائده نهٔ ده رارسولے څومره چه دا ابوبکر مال (را رسولے ده). ما د هر چا د احساناتو بدل له ورکړے ده خو دا ابوبکر رضی الله عنه د احساناتو بدل له به الله تعالیٰ ورکوی.

⑲ د حضرت اسماء رضی الله عنها سخاوت

حضرت اسماء رضی الله عنها ډیره سخي وه، اول خو چه به یې خرچ کول، په اندازه ناپ تول سره به یې خرچ کول. خو چه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ورته ارشاد وفرمایئ چه غوټې جوړول مه کوه، او مه حساب کوه، خو مره چه دِ وَس وي خرچ کوه، نو بیا یې ښه خرچ کولو. خپلو لوڼړو او دکورزنانه ته به یې نصیحت کولو، چه د الله تعالیٰ په لارکښ خرچ کولو او صدقه کولو کښ د دے انتظار مکوئ چه د ضرورت نه زیات شي او بچ شي نو ور به کړم. کچرے د ضرورت نه د زیاتیدو انتظار کوئ، نو آ په د زیاتیږي به نه. (چه ضرورتونه په خپله زیاتیږي. او که چرے صدقه کوئ، نو صدقه کښ خرچ کولو سره به نقصان کښ نه اُوسئ. (طبقات)

فائده: د دے حضراتو خیال چه څومره تنګدستي او ناداري وه هغومره به صدقه او خیرات او د الله تعالیٰ په لارکښ د خرچ کولو وُسعت او فراخي وه. نن صبا مسلمانانو کښ د غریبئ او تنګسیا عام شکایت د مشکله دَه چه داسے ډله پیدا شي چه په کیمړه یے کانړي ترلی وي، او ګذاره کوي یا پرے څوڅوورځے پرله پسے نهرے تیریږي.

⑳ د نبي علیه الصلوٰة والسلام د لور حضرت زینب رضی الله عنها هجرت او وفات

د دواړو جهانو سردار نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د بچولو نه مشره لور حضرت زینب رضی الله عنها د نبوت نه لس کاله وړاندے کله چه د نبي علیه الصلوٰة والسلام عمر مبارك د دیرشو کالو وُو، پیدا شوه، او د تروږحوئ ابو العاص بن ربیع سره یې نکاح وُشوه، د هجرت په وخت کښ نبي علیه الصلوٰة والسلام سره لاړنه ړه. د دے خاوند د بدر په جنګ کښ کافرانو سره شریک شو. او قید شو. د مکے خلقو کله چه د خپلو قیدیانو د ازادولو د پاره فدیے راوُلیږلے، نو حضرت زینب رضی الله عنها هم د خپل خاوند د ازادولو د پاره مال راوُلیږه، چه په هغے کښ هغه هار هم وُو، کوم چه حضرت خدیجے رضی الله عنها دوادهٔ په وخت ورکړے وُو

Maktaba Tul Ishaat.com

نبی اکرم ﷺ چه هغه اُولیدلۀ ، نو حضرت خدیجه رضی الله عنها یاد وو رته تازه شو ، سترګې ئې اُوښکې راغلې ، او د صحابو په مشوره دا فیصله اُوشوه چه ابو العاص دِ بغیر د فدیې په دې شرط پرېخودے شي چه ځي واپس مکې ته لاړشي ، نو حضرت زینب رضی الله عنها دِ مدینې منورې ته رااُولیږي .
نبی علیه الصلوٰة دوه سړي د حضرت زینب رضی الله عنها راوستلو دپاره ورسره کړۀ .
چه دوی به د مکې نه بهر ایسارشي . او دوی ته به ئې ابو العاص را اُورسوي . هم دغسې اُوشوه . حضرت زینب رضی الله عنها خپل لیور کنانه سره په اُوښ سوَره شوه ، او روانه شوه . کافرانو ته چه کله د دې خبر اُوشو ، نو اُور پرې بل شو . او یو جماعت ئې مقابلې دپاره اُولیږلۀ چه په هغې کښې هبّار بن اسود چه د حضرت خدیجه رضی الله عنها د تربور ځوئې وُو چه په دې لحاظ سره د حضرت زینب رضی الله عنها رورشو ، دے وُو ، او دۀ سره یو بل کس هم وُو . دے دواړو کښې یو کس او اکثرو چیار لیکلي دي چه حضرت زینب رضی الله عنها ئې په نېزه اُووَهله چه په هغې سره هغه زخمي شوه . د اُوښ نه راپریوتله ، چونکه حامله یعنې اُمیدواره وه ، په دې وجه دګیډې نه بچے ئې هم ضائع شو . کنانه په غشو سره مقابله اوکړه ابو سفیان هغۀ ته اُووے ، چه د محمد (ﷺ) لور او دا سې ښکاره دِ لاړه شي ، داخونه شو برداشت کولے . داوخت واپس شئ ، بیا ئې په پټه ولیږئ . کنانه دا خبره قبوله کړه ، او واپس ئې راوستله . یو دوه ورځې پس ئې بیا روانه کړه . د حضرت زینب رضی الله عنها دا زخم څو کالو پورې وُو ، هم له دې نه ناروغه شوه ، او په اتمه هجرئ کښې وفات شوه . رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا وَاَرْضَاهَا . نبی علیه الصلوٰة ارشاد وُفرمایۀ چه دا زما د ټولو نه ښه لور وه ، چه زما په محبت کښې ورته تکلیفونه اُرسولے شو . د دفن په وخت کښې نبی اکرم ﷺ په خپله قبر کښې کوز شو ، او دفن ئې کړه . د کوزیدو په وخت کښې ډیر غمژن وُو . کله چه بهر ئې تشریف راوړۀ (راووتلو) نو مخ مبارک ئې روښانه (خوشاله) وُو . صحابو رضی الله عنهم ترې پوښتنه وُکړه ، نو ارشاد ئې وُفرمایۀ چه ما سره

د زینب د ضُعف خیال وُو، ما دُعا وُکړه چه د قبر تنګی او د هغې سختی دِ دے نه لرے کړے شی۔ الله تعالیٰ قبوله کړه۔ (خمیس ـ اسد الغابه)

فائده: د نبی اکرم ﷺ نور او د دین په خاطریے دومره مُشقتونه اُوچت کړهٔ چه ساه یے هُم دے کیښ ورکړه۔ بیا هم د قبر د تنګئ د پاره د نبی علیه الصلوٰة والسلام د دُعا ضرورت وَ رپیښ شو، نو زمونږ په شان خلقو به څهٔ تپوس کوے۔ په دے وجه بنده له اکثر وختونو کښ د قبر تنګی لرے کولو د پاره دُعا کول پکار دی۔ په خپله نبی اکرم ﷺ د تعلیم په وجه اکثر وختونو کښ د قبر د عذاب نه پناه غوختله۔ اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنْهُ بِمَنِّكَ وَكَرَمِكَ وَفَضْلِكَ۔

(۲۱) د حضرت رُبَيِّع بنت مُعَوِّذ رضی الله عنها دینی غیرت

رُبَيِّع بنت مُعَوِّذ رضی الله عنها یو انصاری صحابیه ده، اکثر جنګونو کښ د نبی اکرم ﷺ سره شریکه شوے وه۔ د زخمیانو دارو دُرمل به یے کول او د مقتولینو او شهیدانو لاشونه به یے را اُوچتول آو راوړل۔ د نبی علیه الصلوٰة والسلام د هجرت نه مخکښ مسلمانه شوے وه۔ د هجرت نه پس یے واده وُشو۔ نبی اکرم ﷺ هم د واده په ورځ د دے کورته تشریف اُوړے وُو هلته خوجینکو په خوشالئ کښ شعرونه ویل، چه په هغے کښ د انصارو اسلامی کارنامے او د هغے مشرانو ذکر وُو، کوم چه د بدر په جنګ کښ شهیدان شوی وُو، هغوی ته یو یے پکښ دا مصرعه هُم اُوویله۔ وَفِيْنَا نَبِيٌّ يَعْلَمُ مَا فِيْ غَدٍ۔ مونږ کښ یو داسے نبی دے چه ایندهٔ خبرونه خبر دے۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام د دے (مصرعے) ویل منع کړهٔ۔ وَلے چه ایندهٔ حالات خو بس الله تعالیٰ ته معلوم دی۔ د رُبَيِّع پلار حضرت مُعَوِّذ رضی الله عنه د ابو جهل قتل کونکو کښ وُو۔ یوه زنانه چه د هغے نوم آسماء وُو، عطر به یے خرڅول۔ هغه یو وارے خو زنانهٔ و سره د حضرت رُبَيِّع کورته هم لاړه۔ او ل یے د دے نه د نوم، حال، پته وغیره څنګه چه د زنانو عادت دی۔ پوښتنه اُوکړه۔ دِے ورته وُخودل۔ د معوِّذ نوم یے چه واؤریدهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

وے ویل چه دخپل سردار دقاتل لُوریے۔ (ابوجهل چونکه دعربو سردار شمارلے شو، حُکه یے ورته دخپل سردار قاتل اُووے) رُبَیِّع چه دا اؤریدل غصه شوه، وے ویل چه زۀ دخپل غلام دقاتل لُوریم۔ (رُبَیِّع ته غیرت راغے چه ابوجهل ته یے زما دپلار سردار وَلے اُوویل، حُکه دے یے د خپل غلام نوم سره ذکرکړۀ) اسماء چه د ابوجهل متعلق د غلام لفظ واؤریدۀ، غصه شوه۔ وے ویل چه ما باندے حرام دی، چه پتا عطر خرڅ کړم۔ رُبَیِّع اُووے چه ما باندِ هُم حرام دی چه له تا نه عطر واخلم۔ ما ستادعطرونه سِوا هیڅ یوعطرو کښ کندګی او بد بوئ نۀ ده لیدلے۔ (اُسد الغابه)

فائده: رُبَیِّع فرمائی چه ما دِ بو لفظ دهغے دسُوَزولو د پاره ویلے وُو۔ دا حَمِیَّت او دینی غیرت وُو چه دین دهغے دُشمن متعلق دے دسرداری لفظ واؤنۀ ریدلے شو۔ تن صبا دین لوئ نه لوئ دُشمن په باره کښ دے ته هُم اُوچت اُوچت الفاظ ویلے شی، اوکۀ څوک یے منع کړی، نو هغۀ ته تنګ نظره ویلے شی۔

دنبی اکرم ﷺ ارشاد دے چه مُنافق ته سردار مۀ وایئ۔ کچرے هغه ستا سو سردار شو، نو تا سو خپل رب ناراضه کړۀ۔ (ابوداؤد)

معلومات

دنبی اکرم ﷺ اولاد او بیبیانے

دخپل آقا او ددوا ړو جهانو دسردار دنبی اکرم ﷺ د بیبیانو او د اولاد د حال معلومولو شوق کوُلے شی۔ او هر مسلمان ته کوُل هُم پکار دی۔ په دے وجه مختصر حال دهغوی لیکلے شی، چه تفصیلی حالاتو دپاره خو لوئ غټ کتاب پکار دے۔

دنبی اکرم ﷺ نکاح کوم باندے چه دمُحَدِّثینو او دمُؤَرِّخینو اتفاق دے یَوُلس بیبیانو سره شوے دے، ددے نه زیات کښ

اختلاف دے اودے باندے هم اتفاق دے چه دوی کښې د ټولونه ړومبې
نکاح حضرت خدیجه رضی الله عنها سره وُشوه، چه کومه ئې کوله وه۔ د نبی علیه الصلوٰة والسلام
عُمر شریف دغه وخت د پنځویشتو کالو وُو۔ او د حضرت خدیجه رضی الله عنها
عمر د څلویښتو کالو وُو۔ د نبی علیه الصلوٰة والسلام اولاد هم سِوا د حضرت ابراهیم رضؓ
نه ټول له دے نه شوے وُو چه د هغے بیان به روستو نه راشی۔

د حضرت خدیجه رضی الله عنها حالات

د حضرت خدیجه رضی الله عنها د نکاح تجویز د ټولونه اول وَرَقه بن نَوْفَل سره شوے وُو، خو د نکاح موقع رانغله۔ دے نه پس دوه وُ کسانو سره وُشوه۔ د تاریخ د خاوندانو په دے کښې اختلاف دے چه د دواړو کښې ړومبے چا سره نکاح وُشوه۔ د اکثرو رائے داده چه ړومبے عَتِیق بن عائذ سره وُشوه، چه د هغے نه یوه جینئ پیدا شوه چه د هغې نوم "هِنْد" وُو۔ هغه چه لویه شوه مسلمانه شوه۔ او د اولاد خاونده هُم شوه۔ او بعضو لیکلی دی چه د عتیق نه یو هلک هم شوے وُو چه د هغهٔ نوم عبد الله یا عبد مناف وُو۔ د عتیق نه پس بیا د خدیجه رضی الله عنها نکاح ابُوهاله سره وُشوه، چه د هغهٔ نه هِنْد او هاله دوه اولاده پیدا شو۔ اکثرو ویلی دی چه دواړه هلکان وُو۔ او بعضو ویلی دی چه هِند هلک وُو او هاله جینئ وه۔ هِنْد د حضرت علی کرم الله وجهه زمانهٔ خلافت پورے ژوندے وُو۔ د ابوهاله د وفات نه پس نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره یے نکاح وُشوه چه دغه وخت د حضرت خدیجه رضی الله عنها عمر څلویښت کاله وُو۔ نکاح نه پس پنځویشت کاله د نبی علیه الصلوٰة والسلام نکاح کښې پاتے شوه، او رمضان سنه ۱۰ نبوی کښې پنځه شپیته کالو عمر کښې وفات شوه۔ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دے سره ډیر زیات محبت وُو۔ او د دے په ژوند کښې یے څهٔ بله نکاح اونکړه۔ د دے لقب د اسلام نه ړومبے هم طاهره وُو، په دے وجه د دے اولاد چه د نورو خاوندانو نه دے هغه هم بنو الطاهره بللے شی۔ د دے فضائل د حدیث په کتابونو کښې ډیر زیات راغلی دی۔ د وفات پس نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خپله قبر کښې ورکوز شو۔ او دفن یے کړه، د جنازے د مونځ هغه وخته پورے حکم نهٔ وُو

Maktaba Tul Ishaat.com

راغلے۔ له دے نه پس په هغه کال شوال کښې حضرت عائشه اوحضرت سَوده رضی الله عنها سره نکاح وُشوه۔ په دے کښې هم اختلاف دے چه په دواړو کښې رومبے چا سره نکاح وُشوه۔ بعضِ مُؤرخینو حضرت عائشے رضی الله عنها سره نکاح رومبئ لیکلے ده۔ او بعضو راځئ داده، چه حضرت سَوده رضی الله عنها سره رومبے وُشوه، بیا روستو حضرت عائشے رضی الله عنها سره اُوشوه۔

دحضرت سودة رضی الله عنها حالات حضرت سَوده رضی الله عنها هم کُونډه وه، د دے د پلار نوم زمعه بن قیس وُو۔ د رومبے نه دخپل تره ځوئ سَکران بن عَمرو په نکاح کښې وه، دواړه مسلمانان شوا وهجرت یے وُکړه۔ حبشے ته یے تشریف یوړه۔ حبشه کښې سَکران وفات شو۔ بعضے مُؤرخینو لیکلی دی چه مکے ته واپس راغے نو مړ شو۔ دده دوفات نه پس سنه ۱۰ نبوی کښې دحضرت خدیجے رضی الله عنها دوفات نه څو ورځے پس نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره یے نکاح وُشوه، او رُخصتی یے دحضرت عائشے رضی الله عنها د رُخصتئ نه د ټولو نه تر د رومبے وُشوه۔ دنبی علیه الصلوٰة والسلام عادتِ شریفه په کثرت سره په مانځه کښې دمشغولتیا وُو۔ یو وارے نبی علیه الصلوٰة والسلام ته دے عرض وُکړهٔ چه بیګاه تاسو دومره لویه رکوع وُکړه، چه ما ته دخپلے پوزے نه دوینے تلو ویره شوه (دے هم نبی علیه الصلوٰة والسلام پسے مونځ کولو، چونکه دبدن نه درنه وه، په دے وجه په ورته نور هم مشقت شوے وی۔) یو وارے نبی علیه الصلوٰة والسلام دے ته د طلاق ورکولو اراده وُکړه۔ دے عرض وُکړهٔ چه اے دالله رسوله! ما ته دخاوند خواهش نشته، خودا م آرمان دے، چه جنت کښې ستا سو په بیبیانو کښې داخله یم۔ په دے وجه تاسو ما ته طلاق مهٔ ورکوئ۔ زهٔ خپل وار عائشے رضی الله عنها ته ورکوم۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام داقبوله کړه، نو په دے وجه دے دوّار ورځ په دحضرت عائشے رضی الله عنها په حصه کښې راتله، سنه ۵۴ھ یا سنه ۵۵ھ کښې او بعضو لیکلی دی چه دحضرت عُمر رضی الله عنه اخیری زمانهٔ خلافت کښې وفات شوه۔ دے نه علاوه یوه سَوده نوم بله ښځه هم ده چه دقریشو نه ده۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام هغے سره دنکاح اِراده وُکړه۔ هغے عرض وُکړهٔ چه ما ته په ټوله دُنیا کښې د ټولو نه زیات محبوب تاسو یئ۔ خو زما

بنځهٔ شپږ پچی دی. ما ته دا خبره کرانه ده چه هغه ستا سو سرته ولاړوی ژاړی او چغې وهی. نبی علیه الصلوٰة والسلام د هغې دا خبره خوښه کړه، تعریف یې اوکړه او د نکاح اراده یې پریخوده.

د حضرت عائشې رضی الله عنها حالات

حضرت عائشې رضی الله عنها سره هم نکاح مکه مکرمه کښې د هجرت نه مخکښې شوال سنه ۱۰ نبوی کښې اوشوه. کوم وخت چه د دې عمر شپږ کاله وو. د نبی علیه الصلوٰة والسلام بیبیانو کښې صرف دا یوه داسې ده چا سره چه په پیغلتوب کښې نکاح وشوه، نورې ټولې بیبیانې چا سره چه نکاح شوې وې کونډې وې. د نبوت نه څلور کاله پس د اپیدا شوه. او د هجرت نه پس چه د دې عمر نهه کاله وو، رخصتی یې وشوه. او د اتلسو کالو په عمر کښې ترې د نبی علیه الصلوٰة والسلام وفات وشو. او د شپږ شپیتو کالو په عمر ۱۷ رمضان سنه ۵۷ھ د نهې په شپه دا وفات شوه په خپله یې وصیت کړې وو چه ما عام قبرستان کښې کوم ځائ چه نورې بیبیانې دفن کړې شوی دی، دفن کړئ. د نبی علیه الصلوٰة والسلام نزدې کوټه کښې م مهٔ دفن کوئ. هم د غسې وشوه. بقیع کښې دفن کړې شوه. عربو کښې دا مشهوره وه چه شوال یعنی ورکوټی اختر میاشت کښې نکاح بې برکته وی حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه زما نکاح هم په شوال کښې وشوه، او رخصتی م هُم شوال کښې وشوه. د نبی علیه الصلوٰة والسلام بیبیانو کښې کومه زمانه زیاته نصیب داره او د نبی علیه الصلوٰة والسلام محبوبه وه. د حضرت خدیجې رضی الله عنها د وفات نه پس خوَله رضی الله عنها د حکیم لور نبی علیه الصلوٰة والسلام خدمت کښې حاضره شوه، او عرض یې وکړه، اې د الله رسوله! تا سو نکاح نهٔ کوئ؟ نبی علیه الصلوٰة والسلام وفرمائیل چا سره؟ عرض یې وکړه پیغله هم شته او کونډه هم شته، کومه چه منظوره وی. نبی علیه الصلوٰة والسلام پوښتنه وکړه، نو عرض یې وکړه، چه پیغله خو ستا سو د ټولو نه زیات دوست د حضرت ابوبکر رضی الله عنه لور عائشه رضی الله عنها ده. او کونډه سوده بنت زمعه ده. نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد وفرمایهٔ چه بنه ده، خبره اوکړئ، وګورئ. دا د دغه ځائ نه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه کور ته لاړه، او د حضرت عائشې رضی الله عنها مور اُمِّ رُومان رضی الله عنها ته یې عرض

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکړهٔ چه ما یولوئ خیروبرکت راوړے را غلے یم - په پوښتنه یے اُووے، چه نبی علیه الصلوٰة زهٔ عائشے سره کویژدن کولو د پاره رالیږلے یم - اُمّ رُومان اُووے، چه هغه خو دهغوی وُریرهٔ دهٔ، هغهٔ سره یے څنګه نکاح کیدے شی - ښه دهٔ چه ابوبکر رضی الله عنه راشی - حضرت ابوبکر رضی الله عنه دغه وخت کور کښ موجود نهٔ وُو - دهغهٔ تشریف راؤړلو نه پس هغهٔ ته یے هم دا ذکر وُکړهٔ، هغهٔ هم دغه جواب ورکړهٔ - چه هغه خو د نبی علیه الصلوٰة وُریرهٔ دهٔ، نبی علیه الصلوٰة سره یے څنګه نکاح کیدے شی - خوله رضی الله عنها لاړه نبی علیه الصلوٰة ته یے عرض وُکړهٔ - نبی علیه الصلوٰة اِرشاد وُفرمایهٔ چه ابوبکر زما د اِسلام رورد ے، دهغهٔ لور سره زما نکاح جائز دهٔ - خوله رضی الله عنها واپس شوه، او حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته یے جواب واؤرولو، هلته په کښ څهٔ وخت لګیدهٔ، وے ویل راؤ یے غواړهٔ - نبی علیه الصلوٰة تشریف یوړهٔ، او نکاح وُشوه - دهجرت نه پس څو میاشتے چه تیرے شوے - حضرت ابوبکر رضی الله عنه پوښتنه وُکړه چه تاسو خپله بی بی عائشه ولے نهٔ غواړئ؟ نبی علیه الصلوٰة د سامان نهٔ برابریدو عُذر راوُکړهٔ - حضرت ابوبکر صدیق نذرانه پیش کړه چه په هغے سره تیاری وُشوه - او شوّال سنه ۱ هـ یا سنه ۲ هـ د څاښت په وخت حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په کور یاندے رخصتی اُوشوه - دا درے نکاح ګانے د نبی علیه الصلوٰة دهجرت نه رومبے شوی دی - د نه پس څلور نکاح ګانے چه شوی دی هغه دهجرت نه پس شوی دی - د حضرت عائشے رضی الله عنها نه پس د حضرت عُمر رضی الله عنه لور حضرت حفصے رضی الله عنها سره نکاح وُشوه -

د حضرت حفصے رضی الله عنها حالات

حضرت حفصه رضی الله عنها د نبوت نه پنځه کاله رومبے مکه کښ پیدا شوه - رومبے نکاح یے مکه کښ خُنیس بن حُذافه رضی الله عنه سره وُشوه - دا هُم زوړ مسلمان وُو چه اول یے د حبشے هجرت اُوکړهٔ، بیا یے د مدینے منورے هجرت اوکړهٔ بدر کښ هم شریک شوے وُو - او هُم په دے جنګ کښ یاد اُحُد په جنګ کښ دا سے زخمی شو چه د هغے نه روغ نهٔ شو - او سنه ۲ هـ یا سنه ۳ هـ

کښې وفات شو. حضرت حفصه رضی الله عنها هم خپل خاوند سره هجرت کړے وو.
مدينې ته راغلې وه. کله چه کونډه شوه، نو حضرت عُمر رضی الله عنه اول حضرت ابو
بکر صِدِّيق رضی الله عنه ته درخواست وُکړو چه زۀ د حفصې نکاح تا سره کول غواړم
هغه خاموشه شو. د دے نه پس د حضرت عُثمان رضی الله عنه بي بي د نبي عليه الصلوٰة والسلام
لُور حضرت رُقيّه رضی الله عنها چه کله وفات شوه، نو حضرت عثمان رضی الله عنه ته يې
ذکر اُوکړو، هغهٔ اُووے چه زما خو دا وخت د نکاح اراده نشته. نبي عليه الصلوٰة والسلام
ته حضرت عُمر رضی الله عنه د دے شکايت وُکړو. نو نبي عليه الصلوٰة والسلام ارشاد وُفرمايهٔ چه
زۀ درته د حفصې د پاره د عُثمان نه بهتر خاوند او د عثمان د پاره د حفصې نه
بهتره بي بي ښايم. د دے نه پس حضرت حفصه رضی الله عنها سره يې ۲ھ يا ۳ھ
کښې په خپله نکاح وُکړه. او د حضرت عثمان رضی الله عنه نکاح يې د خپلې لور اُمّ
کُلثوم رضی الله عنها سره اُوکړه. د دے د رومبي خاوند په وفات کښې د مُؤرِّخينو
اختلاف دے چه د بدر يا د اُحُد د زخم نه شهيد شو. بدر ۲ھ کښې دے
او اُحد ۳ھ کښې. په دے وجه د دے په نکاح کښې هم اختلاف دے. د دے
نه پس حضرت ابوبکر صدّيق رضی الله عنه حضرت عُمر رضی الله عنه ته وُفرمايل چه کله
تا د حفصې رضی الله عنها د نکاح ذکر کړے وو، او زۀ خاموشه شوم، تا ته به د غه
وخت خفګان شوے وي، خو چونکه نبي عليه الصلوٰة والسلام ما ته د هغې د نکاح ذکر
کړے وو. په دے وجه نهٔ خو ما قبلولے شوه، او نهٔ م د نبي عليه الصلوٰة والسلام راز
ښکاره کولے شو. ځکه خاموشه شوم. که چرے نبي عليه الصلوٰة والسلام اراده مُلتوی
کولے، نو ما به ضرور کړے وے. حضرت عُمر رضی الله عنه فرمائي چه ما ته د
ابوبکر رضی الله عنه د خاموشئ، د حضرت عُثمان رضی الله عنه د انکار نه هم زيات غم
وو. حضرت حفصه رضی الله عنها ډيره عابده او زاهده وه، د شپې به اکثر ويښه
وه، او د ورځې به يې اکثر روژے نيولے. په څهٔ وجه سره نبي اکرم صلی الله عليه وسلم
دے ته يو طلاق هم ورکړے وو. چه د هغې په وجه حضرت عُمر رضی الله عنه
خفه شو، او کيدل هُم پکار وُو. حضرت جبريل عليه السلام تشريف راوړه،
عرض يې وُکړو چه د الله جلّ شانهٗ ارشاد دے چه حفصې ته رجوع اُوکړه.
دا ډيره شپې بيدارهٔ او په کثرت سره روژے نيونکے ده، او د عُمر رضی الله عنه لحاظ

Maktaba Tul Ishaat.com

بے منظور وه. په دے وجه نبی علیه السلام رجوع اوکړه. جمادی الاولی یعنی دریمه خور سنه ۴۵ کښ چه د دے عمر د درے شپیتو کالو وو. مدینه منوره کښ وفات شوه. بعضو د دے وفات سنه ۴۱ کښ او عمر یے شپیته کاله لیکلے دے. د دے نه پس د نبی علیه السلام نکاح حضرت زینب رضی الله عنها سره اوشوه.

حضرت زینب رضی الله عنها دخزیمه لور وه چه د دے په رومبۍ نکاح کښ اختلاف دے. بعضو	د حضرت زینب بنت خزیمه رضی الله عنها حالات

لیکلی دی چه رومبے عبدالله بن جحش رضی الله عنه سره نکاح شوے وه. کله چه هغه د احد په غزا کښ شهید شو چه د هغه قصه د اووم باب په ۷ نمبر کښ تیره شوے ده. نو نبی علیه السلام ورسره نکاح وکړه. او بعضو لیکلی دی چه د دے رومبۍ نکاح طفیل بن حارث سره شوے وه. د هغه طلاق ورکولو نه پس د هغه رور عبیده بن الحارث رضی الله عنه سره اوشوه، کوم چه بدر کښ شهید شو. د دے نه پس نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره یے نکاح د هجرت نه پو دیرش میاشتے پس رمضان سنه ۳ کښ اوشوه. آته میاشتے د نبی علیه السلام نکاح کښ وه. ربیع الثانی سنه ۴ کښ وفات شوه. د نبی علیه السلام بیبیانو کښ حضرت خدیجه او حضرت زینب رضی الله عنها دا دوه بیبیانے داسے وے چه د دوی وفات د نبی علیه السلام په موجودګۍ کښ شوے وو. باقی نهه د نبی علیه السلام د وفات په وخت ژوندۍ وے بیا روستو وفات شوے. حضرت زینب رضی الله عنها ډیره سخی وه. په دے وجه د دے نوم د اسلام نه رومبے ام المساکین (د مسکینانو مور) وه. د دے نه پس د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نکاح حضرت ام سلمه رضی الله عنها سره اوشوه.

حضرت ام سلمه رضی الله عنها د ابو امیه لور وه چه د دے رومبۍ نکاح د خپل تره ځوئ ابوسلمه رضی الله عنه	د حضرت ام سلمه رضی الله عنها حالات

سره شوے وه. د هغه نوم عبدالله بن عبدالاسد وو. دواړه ښځه خاوند ابتدائی مسلمانانو کښ دی د کافرانو د لاسه تنګ شول. اول دواړو د حبشے هجرت وکړه. هلته چه لاړل یو ځوئ یے پیدا شو، چه د هغه نوم سلمه وو. د حبشے دوا پسئ نه پس د مدینے منورے هجرت

یې اُوکړۀ چه د هغې قصه دد ے باب په پنځم نمبر کښې په تفصیل سره تېره شوې ده۔ مدینې منورې ته چه اُورسیدل، هلته یې یو هلک او دوه جینکۍ دُرّه او زینب پیدا شوې۔ اَبُوسَلَمه رضی الله عنه د لسو سړو نه پس مسلمان شوې وُو۔ بدر او د اُحُد په جنګ کښې هُم شریک شوې وُو۔ د اُحُد په جنګ کښې ورته یو زخم رسیدلے وُو چه د هغې په وجه یې ډېر تکلیف اُوچت کړۀ۔ د ے نه پس صفر سنه ۴ هـ کښې یوه سَرِیّه کښې یې تشریف یوړه وا پسې چه راغلو نو هغه زخم بیا تازه شو، اَو هُم د هغې نه اتم جمادی الثانی (خلورمه خور) سنه ۴ هـ کښې وفات شو۔ حضرت اُمّ سَلَمه رضی الله عنها د غه وخت حامله وه او زینب یې په ګېډه وه، هرکله چه هغه پیدا شوه نو عدّت یې پوره شو۔ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ورته د نکاح خواهش ښکاره کړۀ هغې عُذر اُوکړۀ۔ د ے نه پس نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِراده ښکاره کړه، دې عرض وُکړۀ چه زما بچي هُم دي، او زما مزاج کښې غیرت ډېر د ے، او زما خپلوان ولي دلته نشته۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام اِرشاد وُفرمایه چه د بچو الله تعالیٰ محافظ د ے، او دا غیرت به اِنشاء الله لاړ شي، او هیڅوک ولي به دا رشته ناخوښه نه کړي۔ نو د ے خپل ځوئ سَلَمه رضی الله عنه ته اُووے چه نبی علیه الصلوٰة والسلام سره زما نکاح اُوکړه۔ د شوال د میاشتې په اخیره سنه ۴ هـ کښې نبی علیه الصلوٰة والسلام سره نکاح وُشوه۔ بعضو سنه ۳ هـ کښې او بعضو سنه ۲ هـ کښې لیکلې ده۔ اُمّ سَلَمه رضی الله عنها وائي چه ما د نبی علیه الصلوٰة والسلام نه اَوریدلي وُو چه چا ته څۀ مصیبت اُورسي، اَو هغه دا دُعا وُکړي۔ اَللّٰهُمَّ اْجُرْنِیْ فِیْ مُصِیْبَتِیْ وَاخْلُفْنِیْ خَیْرًا مِّنْهَا۔ "اے الله! ما ته په د ے مصیبت کښې اجر (ثواب) راکړے، او د د ے ښۀ بدل م نصیب کړے" نو الله جل شانهٔ په ورله بهترین بدل وُرکړي۔ د اَبُوسَلَمه رضی الله عنه په وفات ما دا دُعا وُویله، خو دا م سوچ کوو چه د ابوسلمه نه بهتر څوک کیدے شي۔ الله تعالیٰ م د نبی علیه الصلوٰة والسلام سره نکاح اُوکړه۔ حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي، چه د د ے د ښائست ډېر شهرت وُو۔ کله چه نکاح اُوشوه، نو زۀ په پټه په ښائسته لاړم، اُوم کتل، نو چه څنګه م اَوریدلي وُو، د هغې نه م زیاته بیا مونده۔ ما حفصې رضی الله عنها ته

Maktaba Tul Ishaat.com

ددے ذکر اُوکړۀ، هغې اُووے نا - دومره نۀ ده خومره چه مشهوره ده - اُمّهاتُ المؤمنین کښې د تیولو نه اخیرکښې د اُمّ سلمه رضی الله عنها وفات سنه ۵۹ھ یا سنه ۶۲ھ کښې اُوشو - دغه وخت یې خلور اتیا کاله عُمر وُو - ددے لحاظ سره د نبوت نه تقریبًا نهۀ کاله ړومبې پیدا شوه - د حضرت زینب بنت خُزیمه رضی الله عنها د وفات نه پس یې ددے سره نکاح اُوشوه - او د حضرت زینب رضی الله عنها په کوټ کښې اُوسیدله - ددے هلته وُلیدل چه یو چاټئ کښې اُوربشې پرتے دی او یوه میچن او یوه کتوئ هُم - ددے اُوربشې په خپله اُوړۀ کړے، او غوړ یې په کښې واچول - مَلیده (حلوه غوندے) یې تیاره کړه - او په ړومبئ ورځ یې په نبی علیه الصلوٰة والسلام هغه مَلیده اُوخوړله - کومه چه د نکاح په ورځ یې په خپله پخه کړے وه - ددے نه پس د نبی علیه الصلوٰة والسلام نکاح حضرت زینب بنت جحش رضی الله عنها سره اُوشوه -

د حضرت زینب بنت جَحش رضی الله عنها حالات دا د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د تروره لُور وه، دد ړومبئ نکاح نبی علیه الصلوٰة والسلام خپل مُتَبَنّیٰ حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه سره کړے وه - د هغهٔ طلاق ورکولو نه پس الله جلّ شانهٗ په خپله ددے نکاح نبی علیه الصلوٰة والسلام سره اُوکړه، چه ددے قصه سورۀ احزاب کښې ده - دغه وخت ددے عُمر پنځه دیرش کاله وُو - د مشهور قول موافق ذی قعده (دمیاشت) سنه ۵ھ کښې یې نکاح شوے وه - بعضو سنه ۳ھ کښې لیکلے ده - خو صحیح سنه ۵ھ ده - په دے حساب د نبوت نه گویا اولس کاله وړاندے پیدا شوے وه - ددے ته په دے خبره فخر وُو چه د ټولو ښځو نکاح د هغوی خپلوانو کړی دی، او زما نکاح الله جل شانهٗ کړے ده - حضرت زید چه کله دے ته طلاق ورکړۀ، او عدت پوره شو - نو نبی علیه الصلوٰة والسلام دے ته پیغام وُلیږۀ - دے په جواب کښې عرض اُوکړۀ چه زۀ د هغې وخته پورے هیڅ نۀ شم ویلے، ترڅو چه خپل الله سره مشوره اُونکړم - دا یې اُووے، اَودس یې اُوکړۀ او د مونځ نیت یې اُوتړۀ او دا دُعا یې اُوکړه، چه اے الله تعالیٰ! ستا رسول صلی الله علیه وسلم ما سره نکاح کول غواړی، که چرے زۀ د هغهٔ قابله یم، نو زما نکاح هغوی سره

اُوکړے۔ داویل وُوچه نبی علیه الصلوٰة والسلام باندے دقرآن شریف آیت فَلَمَّا قَضٰی زَیْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا نازل شو، نو نبی علیه الصلوٰة والسلام خوشخبری وَرالیږله حضرت زینب رضی الله عنها دخوشالئ له وجه په سجده کښې پریوته. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم درے دنکاح ولیمه په لوئ شان سره اُوکړه، چیلئ یے حلاله کړه۔ اوډوډئ اوغوښه ئے دعوت یے وُکړه، یوه یوه پینځه په رالیږلے شوه۔ او کله چه په هغه فارغه شوه، نو بیا پینځه په دغسے رالیږلے شوه. ان تر دے چه ټولو خلقو په مړه ګیډه وُخوړله۔ حضرت زینب رضی الله عنها ډیره سخی وه او ډیره محنتی وه، په خپل لاس به یے محنت کولو۔ اوڅهٔ چه به حاصل شو هغه به یے صدقه کوَل. هم ددے باره کښې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلے وُو چه ماته به دټولو نه وړومبے دوفات نه پس هغه څوك راځی چه دچا لاس اُوږد وی. بیبیانو (طاهری) اُوږدوالے اُوګنړهٔ څکه یے لرګے واخست) اولاسونه یے ناپ کوَل شروع کړهٔ۔ په کتلو کښې د حضرت سَوده رضی الله عنها لاسونه دټولو نه اُوږدهٔ وُو۔ خو هرکله چه د حضرت زینب رضی الله عنها وفات دټولو نه وړومبے اُوشو، نو هله پوهه شوے چه د لاسُ داوږدوالی نه مراد دصدقے خیرات ډیروالے وُو۔ روژے به یے هم ډیرے نیولے۔ سنه ۲۰ هـ کښې وفات شوه۔ حضرت عُمر رضی الله عنه دجنازے مونځ اُوکړهٔ۔ دپنځوسو کالو عمر یے وُو۔ ددے قصه هم ددے باب په لسم نمبر تیره شوے ده۔ دے نه پس د نبی علیه الصلوٰة والسلام نکاح حضرت جُوَیْرِیَه بِنْتُ الْحَارِثْ بِنِ اَبِی ضِرار سره وُشوه۔

دُ حضرت جُوَیْرِیَه بِنْتُ الْحَارِثْ رضی الله عنها حالات

داغزوهٔ مُرَیْسِیع کښې قید یانو کښې راغلے وه او غنیمت کښې دحضرت ثابت بن قیس رضی الله عنه حصه کښې راغله۔ دقید یدو نه وړومبے دمُسافع بن صفوان په نکاح کښې وه۔ حضرت ثابت رضی الله عنه داپه نهه اُوقیے سرو زرو باندے مکاتَبه ورکړه۔ مُکاتَب هغه غلام یا وینزے ته وییلے شی چه په هغهٔ دا مقرر کړے شی چه دومره رقم کهٔ چرے راکړے، نو ته آزاد یے۔ یو اوقیه د څلویښتو درهمو وه۔ او یو درهم تقریباً دردے نیم آنو۔ په دے حساب

Maktaba Tul Ishaat.com

سره د نهو اَوقیو قیمت اته اویا درهمه دولس آنے شوے. که چرے درهم دڅلور آنو شي، نو بیا څلورنیمے شلے درهمه شوے. دا د نبي علیه الصلوٰة والسلام په خدمت کښ راغله، او عرض یے وُکړو چه اے د الله رسوله! زۀ دخپل قوم د سردار حارث لُور جُوَیْرِیَه یم. کوم مصیبت چه په ما راغلے دے، هغه تاسو ته معلوم دے. اُوس زۀ په دومره مقدار مکاتَبه شوے یم، او دا مقدار زما د وَس نه بهر دے. ستا سو په اُمید راغلے یم. نبی علیه الصلوٰة والسلام ورته وُفرمایل چه زۀ تا ته د دے نه بهتره لار وُښایم، چه تا ته به مال درکړم آزاده به دے کړم، او نکاح به در سره اُوکړم. د دے د پاره د دے نه بهتر څۀ وُو. په خوشالئ یے قبوله کړه. او سنه ۵ هـ د مشهور قول موافق، او بعضو سنه ۶ هـ کښ دا قصه خودلے ده، نکاح اُوشوه. صحابه وُ رضی الله عنهم چه کله واؤریدل، چه بنُو المُصطَلِق د نبی علیه الصلوٰة والسلام سخرګنئ جوړه شوه. نو هغوی هُم د دے خپلوئ په عزت کښ خپل خپل غلامان آزاد کړل. ویلے شي چه د بیوے حضرت جُوَیْرِیَه رضی الله عنها له وجه نه سل کورنئ آزادے شوے چه په هغے کښ تقریبًا اووۀ سوه سړی وُو. د دے قسمه مصلحتونه د نبی علیه الصلوٰة والسلام په ټولو نکاحونو کښ وُو. حضرت جُوَیْرِیَه رضی الله عنها ډیره ښائسته وه، په مخ یے مَلَاحَت (نمکین والے) وُو، وائی چه د چا نظر به پرے پریوتۀ، اُوځنَید ۀ به ترے نه. حضرت جُوَیْرِیَه رضی الله عنها د دے جنګ نه درے ورځے مخکښ خوب لیدلے وُو، چه د یثرب نه یو سپوږمئ راروانه شوه. او زما غیږ ته راغله. دا وائی چه کله زۀ قیده شومه نو ما ته دخپل خوب د تعبیر اُمید پیدا شو. دغه وخت د دے عُمر شل کاله وُو. او د ربیع الاول (بار ه وفات) سنه ۵۰ هـ کښ د صحیح قول مطابق د پنځو شپیتو کالو په عُمر کښ مدینه منوره کښ وفات شوه. او بعضو د دے وفات سنه ۵۶ هـ کښ د اویا کالو عُمر کښ لیکلے دے.

د حضرت اُمِّ حبیبه رضی الله عنها حالات

دا ابو سفیان لُور وه، د دے په نوم کښ

له په حقیقت کښ درهم د دے نیمو ماشو سپینو زرو د یوے ذرے سکے نوم دے. نو د حضرت شیخ کتاب لیکلو په وخت کښ قیمت یے درے نیمے آنے یا څلور آنے دے. او س یے د دے نه قیمت زیات دے ۱۲ (دا حاشیه د صفحه ۲۰۶ د ه دهلته نه یے اوګوره-)

کوے۔ یو وارے یے خوب اُولیدۀ چہ نمر دے پہ سینہ کښې دے۔ خاوند تہ یے دے ذکر اوکړۀ، هغۀ پہ دے هم ورتہ دا اُووے چہ تہ د اغوارے چہ د یثرب د بادشاه پہ نکاح کښې لاړه شے۔ یو وارے دِے سپوږمئ پہ غیږ کښې وُلیده، نو خپل پلار تہ یے ذکر اُوکړۀ۔ هغۀ هُم یو پېړق اُووَهلو، او دا یے اُووے، چہ ستا نظر د یثرب بادشاه تہ ځی۔ ممکنہ ده چہ د سپوږمئ خوب یے خاوند او پلار دواړو تہ ویلے وی۔ یا سپوږمئ یے دوه وارے لیدلی وی۔ رمضان سنہ ۵۰ھ کښې د صحیح قول موافق وفات شوه، اوتقریبًا شپیتۀ کالہ عمر یے بیا موندۀ۔ پہ خپلہ وائی چہ زۀ کلہ د نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام نکاح کښې راغلم، نو زما عمر اولس کالہ لا نۀ وُو۔

دحضرت مَیمُونہ رضی اللہ عنہا حالات	حضرت مَیمونہ رضی اللہ عنہا د حارث بن حَزن لُور وه. دے اَصل نوم بَرّه وُو۔ نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام بدل کړۀ مَیمونہ

یے ورلہ کیخودۀ۔ د رومبے نہ د ابو رحم بن عبد العُزّی پہ نکاح کښې وه۔ د ډیرو مُؤرخینو هم دا قول دے۔ او ډیر اَقوال دے د رومبی خاوند پہ نوم کښې دی۔ بعضو لیکلی دی چہ د نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام پہ نکاح کښې راتلو نہ وړاندے یے دوه نکاحگانے شوے وے۔ د کُوندیدو نہ پس ذی قعده سنہ ۷ھ کښې کلہ چہ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم عُمرے د پاره مکے مکرمے تہ تشریف اُوړۀ۔ پہ سَرِف مقام کښې یے نکاح وُشوه۔ نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام اِراده وُفرمایلہ چہ د عُمرے نہ د فارغیدو نہ پس مکہ کښې رُخصتی اُوشی، خو مکے خلقو د قیام اِجازت ورنکړۀ۔ ځکہ پہ واپسئ سَرِف کښې رُخصتی وُشوه۔ او پہ سَرِف کښې خاص هم پہ هغہ ځائ کښې کوم ځائ چہ د رُخصتئ خیمہ وه سنہ ۵۱ھ کښې د صحیح قول مطابق وفات شوه، او بعضو سنہ ۶۱ھ کښې لیکلے دے، د غه وخت د دے عُمر دیواتیا کالو وُو، او هم هلتہ یے قبر جوړ شو۔ دا هم د عبرت مقام دے۔ او د تاریخ عجیبہ واقعہ ده، چہ پہ یو سفر کښې هلتہ نکاح وُشوه او پہ دویم سفر کښې هلتہ رُخصتی اَوخۀ موده پس هم هغه ځائ کښې یے قبر جوړ شو۔ حضرت عائشہ رضی اللہ عنہا فرمائی چہ مَیمونہ مونږ ټولو کښې زیاتہ پرهیزګاره اَو صِلہ رحمی کوُنکے وه۔ یَزِید بن اَصَمّ رضی اللہ عنہ وائی چہ

Maktaba Tul Ishaat.com

دے مَشغله هروخت موږ وَو یادکورکار۔ کهٔ چرے ددواړونه به فارغه شوه، نومِسوَالک به یے کولو۔ دکومو بیبیانو په نکاح چه دمُحَدِّثینو او مُؤرخینو اِتفاق دے۔ هغې کښ دحضرت میمونے رضی الله عنها نکاح دټولو نه اٰخری نکاح ده۔ ددوی ترمینځه ترتیب کښ البته اختلاف دے چه د هغې په وجه ددوی دنکاح تاریخونو کښ اختلاف دے، ځنګه چه مختصرًا معلومه شوه۔ دے یوولس بیبیانو کښ ددوه ؤ وفات دنبی علیه الصلاة والسلام په موجودګئ کښ شوے وَو (دحضرت خدیجے اوحضرت زینب بنت خزیمه رضی الله عنهما) باقی نهه بیبیانے دنبی علیه الصلاة والسلام دوفات په وخت کښ موجود وے۔ دے نه علاوه نورے هم بعض نکاحګانے بعضو مُحَدِّثینو او مُؤرخینو لیکلی دی۔ چه دهغې په کیدو کښ اختلاف دے، په دے وجه دهغې بیبیانو حالات م لیکلی دی چه په کومو باندے اِتفاق دے۔

معلومات

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم اولاد

دمُؤرخینو او محدِّثینو دے باندے اتفاق دے، چه دنبی علیه الصلاة والسلام څلور لونړه وے، او ډیرو تحقیق دا دے چه دوی کښ ټولو نه مشره حضرت زینب رضی الله عنها وه، بیا حضرت رُقیّه بیا حضرت اُمّ کلثوم بیا حضرت سیّدة فاطِمه رضی الله عنهن وے۔ ځامنو کښ البته ډیر اختلاف دے۔ چه د هغې وجه دا وه چه دا ټول په وړوکوالی کښ وفات شوی وُو۔ اوعربو کښ په دے زمانه کښ دتاریخ اِهتمام څهٔ دا سے نهٔ وُو۔ دصحابه ؤ په شان جان نثاران هم دغه وخته پورے په کثرت سره نهٔ وُو چه هره خبره پوره پوره محفوظه شوے وے۔ داکثرو تحقیق دا دے چه درے ځامن حضرت قاسِم، حضرت عبدالله، حضرت ابراهیم رضی الله عنهم شوی وُو۔ بعضو ویلی دی چه څلورم ځوئ حضرت طیّب اوپنځم حضرت طاهِر رضی الله عنهما وُو۔ دا ټول پنځه شو۔ بعض وائی چه طیّب اوطاهِر دواړه

دیوځوئ نومونه دی. دارنګے څلور شو. اَو بعضو اُووے چه هم دحضرت عبد الله نوم طیّب اوطاهِر وُو. دارنګے درے ځامن شو. او بعضو دوه ځامن نورهُم خودلی دی، مُطیّب اومُطهّر رضی الله عنهما. اولیکلی یے دی چه طیّب اومُطیّب رضی الله عنهما یوځائ پیدا شول. او طاهر مطهّر رضی الله عنهما یو ځائ پیدا شول. دارنګے اُوهٔ ځامن شول. خود اکثرو تحقیق د درے ځامنو دے. اودنبی علیه الصلوٰة والسلام ټول اولاد دحضرت ابراهیم رضی الله عنه نه سِوا دحضرت خدیجه رضی الله عنها نه پیدا شوی وُو.

دحضرت قاسم رضی الله عنه حالات ځامنوکښ حضرت قاسم رضی الله عنه دټولونه ړومبے پیدا شو، خو په دے کښ اختلاف دے چه حضرت زینب رضی الله عنها ددهٔ نه مشره وه که کشره. حضرت قاسم په وړوکوالی کښ وفات شو. ددوه ؤ کالو عُمر اکثرو لیکلے دے. اوبعضو ددے نه کم زیات هم لیکلے دے.

دحضرت عبد الله رضی الله عنه حالات دویم ځوئ حضرت عبد الله دنبوت نه پس پیدا شوے دے. اوهم په دے وجه ددهٔ نوم طیّب اوطاهِر هم ویلے شی، اوپه وړوکوالی کښ وفات شو. ددهٔ په وفات باندے بعضولیکلی دی چه دحضرت قاسم په وفات کافران ډیرخوشاله شول چه دنبی علیه الصلوٰة والسلام نسل مُنقطع یعنی ختم شو. په دے باندے سورهٔ اِنَّآ اَعْطَیْنَا نازل شو. اودکافرانو ددے وینا چه هرکله نسل ختم شو، نوخوورځے پس به نوم مبارک یے هم ختم شی، دا جواب ورکړے شو چه نن دیارلسم نیم سوه کاله پس هُم دنبی علیه الصلوٰة والسلام دنوم نه قربانیدونکی په کروړونونو موجود دی.

دحضرت ابراهیم رضی الله عنه حالات دریم ځوئ حضرت ابراهیم ؤ کوم چه د هجرت نه پس مدینه منوره کښ بالاِتفاق ذی الحجه سنه ۸ھ کښ پیدا شو. دادنبی علیه الصلوٰة والسلام دوینزے حضرت مَاریه رضی الله عنها نه پیدا شو. اودنبی علیه الصلوٰة والسلام دټولونه آخری اولاد دے. نبی علیه الصلوٰة والسلام په اُوومه ورځ ددهٔ عَقیقه اُوکړه، اوددوه ګډان یے حلال

Maktaba Tul Ishaat.com

کړل، او ددهٔ دسر دو یختو برابر سپین زر یې صدقه کړل، او و یختهٔ یې دفن کړل - اَبُوهِنْد بَیاضی رضی الله عنه ورله د سرو یختهٔ اُوخریل - نبی علیه الصلوٰة ارشاد وفرمایلوچه ما دخپل پلار د حضرت ابراهیم علیه السلام په نامه ددهٔ نوم ایخے دے او د شپاړسو میاشتو په عُمر کښې داخوئ یې هم - ار بیع الاوّل سنه ۱۰ھ کښې وفات شو - بعضو اتلس میاشتے عمر خودلے دے - د نبی علیه الصلوٰة ارشاد دے چه ابراهیم د پاره په جنت کښې یو ځی خکونکے مقرره کړے شوه -

دحضرت زینب رضی الله عنها حالات

لونړو کښې د ټولو نه مشره حضرت زینب رضی الله عنها وه او کوم مؤرخینو چه ددے خلاف لیکلی دی غلطه ده - د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د نکاح نه پنځه کاله پس هرکله چه ددوی عُمر د دیرشو کالو وُو، پیدا شوه، او دخپل مور پلار په غیږ کښې پیغله شوه، مسلما نه شوه، او دخپل تړور ځوئ ابوالعاص بن ربیع سره یې نکاح شوه - دغزوهٔ بدر نه پس یې هجرت اُوکړو، چه په هغے کښې د مشرکینو په ناپاک حرکتونو سره زخمی شوه، چه د هغے قصه هُم ددے باب په شلم نمبر تیره شوے ده - او هم ددے بیماری سلسله آخره پورے چلیده - تر دے چه د سنه ۸ھ په شروع کښې وفات شوه - ددے خاوند هم سنه ۶ھ یا سنه ۸ھ کښې مسلمان شو، مدینے منورے ته رسیدلے وُو، او هم ددهٔ په نکاح کښې پاتے شوه - ددهٔ نه یې دوه بچی پیدا شو - یو هلک بله جینئ - د هلک نوم علیؓ وُوچه هغه د خپلے مور د وفات نه پس د بالغیدو نزدے د نبی علیه الصلوٰة په ژوند کښې وفات شو - فتح مکه کښې نبی علیه الصلوٰة سره په اُوښه باندے چه څوک سور وُو هغه هم دا حضرت علیؓ وُو - د جینئ نوم حضرت اُمامه رضی الله عنها وُوچه دکومے متعلق دحدیث په کتابونو کښې په کثرت سره قصه راځی - چه کله به نبی علیه الصلوٰة مانځه کښې سجده کوله، نو دا به یې په ملا باندے سوره شوه - دا د نبی علیه الصلوٰة نه پس ژوندئ وه - حضرت سیده فاطمه رضی الله عنها چه وفات شوه کومه چه ددهٔ تروروه، حضرت علی کرم الله وجهه دے سره نکاح اوکړه - او دهغهٔ د وفات نه پس مُغِیره بن نوفل سره یې نکاح اُوشوه -

دحضرت علی کرم اللہ وجہہ هیڅ اولاد له دے نه اُونهٔ شو۔ البته دمُغیره رضی اللہ عنه بعضو بوځوئ یحیٰی لیکلے دے، او بعضو انکار کړے دے۔ وائی چه حضرت فاطمه رضی اللہ عنها په خپله وصیت کړے وَو، چه زمانه پس دحضرت علی کرم اللہ وجہہ نکاح دِ زما خور زے سره اوکړے شی، ددے وفات سنه ۵۰ھ کښ اُوشو۔

۵ دحضرت رُقیّه رضی اللہ عنها حالات

دنبی علیه الصلوٰة والسلام دویمه لُور حضرت رُقیّه رضی اللہ عنها وه کومه چه خپلے خور حضرت زینب رضی اللہ عنها نه درے کاله پس پیدا شوه، کله چه دنبی علیه الصلوٰة والسلام عمر شریف درے دیرش کاله وَو۔ او بعض حضراتو رُقیّه رضی اللہ عنها دحضرت زینب رضی اللہ عنها نه مشره خودلے ده خو صحیح هم داده چه دا دحضرت زینب رضی اللہ عنها نه کشره وه۔ دنبی علیه الصلوٰة والسلام تره دا بولهب ځوئ عُتبه سره یے نکاح شوے وه۔ کله چه سورهٔ تَبَّتْ نازل شو، نو ابولهب دهٔ ته او ددهٔ بل رور عُتَیبه ته چه دهغهٔ نکاح دنبی علیه الصلوٰة والسلام دریمے لور حضرت اُمِّ کلثوم رضی اللہ عنها سره شوے وه، دا اُووے چه زما ملاقات تاسو دواړو سره حرام دے، کهٔ چرے تاسو دمحمّد (صلی اللہ علیه وسلم) لونړو ته طلاق ورنکړهٔ۔ دے باندے دواړو طلاق ورکړهٔ۔ دا دواړه تکاحُګانے په وړوکوالی کښ شوے وے۔ د رُخصتئ توبت لا هُم نهٔ وَو راغلے۔ دے نه پس په فتحِ مکه کښ دحضرت رُقیّه خاوند عُتبه مسلمان شوے وَو، خو بی بی ته یے د رومبے نه طلاق ورکړے وَو، او دحضرت رقیّه رضی اللہ عنها نکاح حضرت عثمان رضی اللہ عنه سره ډیره موده مخکښ شوے وه۔ حضرت عُثمان رضی اللہ عنه او حضرت رُقیّه رضی اللہ عنها دواړه حٔلے دحبشے هجرت کړے وُو چه دهغے بیان د اول باب لسم نمبر باندے تیرشوے دے۔ دے نه پس هر کله چه نبی علیه الصلوٰة والسلام دا ارشادونرمایهٔ چه ماته هم دهجرت حکم کیدونکے دے، او مدینه منوره به زما دهجرت ځائ وی۔ نو صحابه رضی اللہ عنهم دمدینے منورے هجرت شروع کړهٔ۔ هم په دے سلسله کښ دنبی علیه الصلوٰة والسلام نه رومبے دواړه حضرات هم مدینے منورے ته رسیدلی وَو۔ دنبی علیه الصلوٰة والسلام دهجرت نه پس کله چه نبی علیه الصلوٰة والسلام دبدر جنګ ته تشریف اُوړے وَو، نو حضرت رُقیّه رضی اللہ عنها ناروغه وه۔ په دے وجه نبی علیه الصلوٰة والسلام حضرت عُثمان رضی اللہ عنه ددے دخدمت د

Maktaba Tul Ishaat.com

یاره مدینه منوره کښ پرېخودهٔ. دبدر د فتح زیرے مدینے منورے ته هغه وخت
ورسیدهٔ، کله چه دے حضرا تو حضرت رُقیه رضی الله عنها دفن کړے وه، واپس
راتلهٔ. هم په دے وجه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دے په دفن کښ شریک نهٔ شو. د
حضرت رُقیه رضی الله عنها د رومبی خاوند نه د رخصتی هم نهٔ وه شوے. نو
داولادیے څهٔ ذکر. البته د حضرت عثمان رضی الله عنه نه یو څوئ چه د هغهٔ
نوم عبد الله وو، حبشه کښ پیدا شوے وو، چه د خپلے مور د وفات نه
پس هم ژوندے وو، او د شپږ و کالو په عمر کښ سنه ۴ھ کښ وفات شو.
او بعضو لیکلی دی چه د خپلے مور نه یو کال رومبے وفات شو. د دے نه
علاوه نور یے هیڅ اولاد د حضرت رُقیه رضی الله عنها نه نهٔ وو شوے.

سلے د حضرت اُمّ کلثوم رضی الله عنها حالات	د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دریمه لور حضرت اُمّ کلثوم رضی الله عنها وه. په دے کښ اختلاف دے چه دے کښ او

حضرت فاطمه رضی الله عنها کښ کومه مشره وه. د ډیرو رائے داده چه امّ کلثوم
مشره وه. اول یے عُتیبه بن ابی لهب سره نکاح وُشوه، خو رخصتی یے
لا نهٔ وه شوے چه سورۃ تبّت نازل شو، او طلاق ورکړے شو څنګه چه
د حضرت رقیه رضی الله عنها حالاتو کښ تیر شو. خو هغے خاوند بیا رو ستو
مسلمان شوے وو څنګه چه تیر شو. او د دے خاوند عُتیبه طلاق ورکړهٔ
او د نبی علیه الصلوٰة والسلام خدمت کښ راغے، ډیره ګستاخئ، بے ادبی. او نامناسبه
الفاظ یے هُم د ژبے نه ووئیستل. نبی علیه الصلوٰة والسلام ورته خیرے اوکړے. چه اے
الله! د خپلو سپو نه یو سپے د هٔ باندے مقرر کړے. ابو طالب د غه وخت
موجود وو. سره د دے چه مسلمان نهٔ وو، اُویریدهٔ، او وے ویل چه د
دهٔ د خیرو نه ستا خلاصے نشته. هم دغسے وُشوه. چه عُتیبه یو وارے
د شام په سفر کښ تلو. د دهٔ پلار ابو لهب سره د دے ټولو عداوتونو او
دُشمنو ورته اُووے چه ما سره د محمد (صلی الله علیه وسلم) د خیرو فکر دے. د قافلے
ټول خلق د زمونږ خیال ساتی. یو منزل باندے اُورسیدل، هلته
زمری زیات وو. د شپے د ټولے قافلے سامان یے یو ځائ جمع کړهٔ، او د
هغے نه یے یو غونډئ شانتے جوړه کړه، په هغے یے عُتیبه اُودهٔ کړهٔ، او

دقلفي تهول سري خلور واړه طرفه اُوده شو- دشپې يو زمرے راغے، او د تهولو خلې يے بوئ کرے، دے نه پس يے يوتهوپ اُووهه، او هغه غونډ ئ نه اُورسيدۀ، او دعُتيبه سر يے د بدن نه جُدا کړۀ، هغه يو وار هم وُکرۀ خو بيا کار پوره شوے وُو- (يعنی مړشوے وُو)- بعضو مؤرخينو ليکلي دي چه دے مسلمان شوے وُو- او دا قصه په ومبني رور (عُتيبه) سره شوے وه- بهرحال حضرت رُقيه او حضرت اُمِ کلثوم رضی الله عنهما په ومبني خاوند انو کښ يو مسلمان شوے وُو- دويم سره دا دعبرت واقعه وُشوه- هم له دے وجه دا الله تعالٰی دوليانو دُشمنی نه (خلق) ويريږی- په خپله دا الله جل شانهٗ ارشاد دے (حديثِ قُدسی دے) مَنْ عَادٰی لِیْ وَلِیًّا فَقَدْ اٰذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ- (خوك چه زما ولی تنگوی، هغهٔ ته زما له طرفه دجنگ اعلان دے)- دحضرت رُقيه رضی الله عنها دوفات نه پس ربيع الاول سنه ۳ھ کښ دحضرت اُمِ کلثوم رضی الله عنها نکاح هم حضرت عثمان رضی الله عنه سره اُوشوه- دنبي علیه الصلٰوة والسلام ارشاد دے چه ما د اُم کلثوم نکاح دا سمانی وحی په حکم عثمان سره اوکړه- بعضو روايتونو کښ حضرت رقيه او حضرت ام کلثوم رضی الله عنها د دواړو متعلق يے هُم دغه ارشاد وُفرمايهٔ- په ومبي خاوند سره خورخصتی نهٔ وه شوے- اولاد يے دحضرت عثمان رضی الله عنه ته هم نهٔ وُو شوے- او شعبان سنه ۹ھ کښ وفات شوه- نبي علیه الصلٰوة والسلام د دے دوفات نه پس وُفرمايل، کهٔ چرے زما سل لوڼړه وے، او وفات کيدے، نو دا رنگے يو بل نه پس د تهولو نکاح به مې عُثمان سره کولے-

دحضرت فاطمے رضی الله عنها حالات

دنبي علیه الصلٰوة والسلام خلورمه لُور دجنتي زنانو سرداره حضرت فاطمه رضی الله عنها ده چه عمر کښ د اکثرو مؤرخينو په نزد د تهولونه کشره وه- دنبوت نه يو کال پس (هرکله چه دنبي علیه الصلٰوة والسلام عمر شريف ديوخلو يښتو کالو وُو) پيدا شوه- او بعضو د نبوت نه پنځه کاله وُړاندے پنځه ديرشو کالو عُمر کښ ليکلے ده- وائي چه د دے نوم فاطِمه اِلهام يا وحی سره کيخودلے شوے دے- دفَطَم معنٰی د منع کولو ده، يعني دا د دوزخ د اُور نه محفوظه ده- سنه ۲ھ محرم يا صفر

Maktaba Tul Ishaat.com

یا رجب یا رمضان کښې حضرت علی کرم الله وجهه سره یې نکاح اُوشوه، او د نکاح نه
اُوۀ میاشتې او پنځلس ورځې پس یې رخصتي وُشوه- دا نکاح هم د الله جل
شانهٗ حکم سره اُوشوه- وائي چه د نکاح په وخت د دې عمر پنځلس کاله
پنځه میاشتې وُو، د دې نه هُم یو څلویښتو کالو کښې پیدا اَشْ یعنی د رومې
قول تصدیق کیږي- او د حضرت علی کرم الله وجهه عُمر یو ویشت کاله پنځه میاشتې
یا څلیر ویشت کاله یوه نیمه میاشت وُو- د نبي علیه الصلوٰة والسلام خپلو ټولو لونړو کښې
د دې سره زیاته مینه وه- کله چه به نبي علیه الصلوٰة والسلام سفر ته تشریف اُوړۀ،
نو ټولو نه آخر کښې به د دې نه رُخصت کیدۀ- او کله چه به بېرته د سفر
نه تشریف راوړۀ، نو د ټولو نه ړومبې به یې د دې کره تشریف اُوړۀ-
حضرت علی کرم الله وجهه د ابو جهل لُور سره د دویم نکاح اِراده وُکړه، نو دا غمژنه
شوه- نبي علیه الصلوٰة والسلام ته یې شکایت وُکړۀ- نبي علیه الصلوٰة والسلام اِرشاد وُفرمایه، چه
فاطمه زما د بدن ټکړه ده- چا چه دې ته تکلیف اُورسوُو، هغۀ ما ته
تکلیف اُورسوُو- په دې وجه حضرت علی کرم الله وجهه د دې په ژوند کښې
بله نکاح اُونۀ کړه- د دې د وفات نه پس د دې خورزې اُمامه رضی الله عنها سره
یې نکاح اُوکړه، چه د هغې ذکر د حضرت زینب رضی الله عنها حالاتو کښې تیر
شو- د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د وفات نه شپږ میاشتې پس حضرت فاطمه
رضی الله عنها ناروغه شوه، او یوه ورځ یې خدمتګارې ته وُفرمایل، چه زۀ
غسل کوم، اُوبۀ راته کیدَه- غسل یې وُکړۀ نوې جامې یې واغوستې،
بیا یې وُفرمایل چه زما بستره د کور په مینځ کښې کړئ- هغې ته یې تشریف
یوړۀ، او قبلې طرف ته یې مخ کړۀ، خپل لاس یې د ښي دلاندې
کیښودۀ، او وې فرمایل چه اوس زۀ مرم- دا یې اُووئې او وفات شوه
د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د اولاد سلسله هم د دې نه روانه شوې ده- او
ان شاء الله قیامته پورې به چلیږي- د دې شپږ اولاده د دې خامن
درې لونړه اُوشوې، د ټولو نه اول حضرت حَسَن رضی الله عنه د نکاح په
دویم کال پیدا اشو- بیا حضرت حُسین رضی الله عنه دریم کال کښې یعنی سن ۴ھ
کښې- بیا حضرت مُحَسِّن (دا سین په شد سره دې) پیدا اشو، چه

وفات پے هُم په وړوکوالی کښې اُوشو- په لوئړوکښې دحضرت رُقیّه رضی الله عنها وفات وړوکوالی کښې شوے وُو، هُم په دے وجه بعضو مؤرخینو د لیکلی هم نۀ دَه- دویمه لورحضرت اُمّ کلثوم رضی الله عنها چه ړومبئ نکاح یے اَمِیرُ المؤمنین حضرت عُمر رضی الله عنه سره اُو شوه، چه له دَۀ نه یوځوئ زید او یوه لور رُقیه پیدا شول- دحضرت عُمر رضی الله عنه دوفات نه پس دا اُمّ کلثوم نکاح عون بن جعفر رضی الله عنه سره اُوشوه- د دَۀ نه یے هیڅ اولاد اُونۀ شو- د هغهٔ دوفات نه پس دهغهٔ رور محمد بن جعفر رضی الله عنه سره یے نکاح وُشوه- د دَۀ نه یے یوه لور پیدا شوه چه په وړوکوالی کښې مړه شوه- دهغهٔ د وفات نه پس دهغهٔ دریم رور عبدالله بن جعفر رضی الله عنه سره یے نکاح وُشوه- د دَۀ نه یے هیڅ اولاد وُنۀ شو، او هم د دَۀ په نکاح کښې حضرت اُم کلثوم رضی الله عنها وفات شوه، او په دغه ورځ د دے ځوئ زید هم وفات شو- دواړه جنازے په یو ځائ اُوچتے شوے- او هیڅ سلسله د اولاد د دے نه اُو نۀ چلیده- دا دَرے وارهٔ رُونړهٔ هُم هغه عبدالله او عون او محمد رضی الله عنهم دی- دکوم قصه چه د شپږم باب یو لسم نمبر بانـدے تیره شوے دَه- دا دحضرت علی کرم الله وجهه وُریرونه او دحضرت جعفر طیّار رضی الله عنه ځامن دی- دحضرت فاطمے رضی الله عنها دریمه لُورحضرت زینب رضی الله عنها وه چه نکاح یے عبدالله بن جعفر رضی الله عنه سره اُوشوه، او دوه یے ځامن عبدالله او عون رضی الله عنهما پیدا شول- اَوهُم د دَۀ په نکاح کښې وفات شوه- د دے دوفات نه پس دعبدالله بن جعفر رضی الله عنه نکاح د دے خور اُمّ کلثوم رضی الله عنها سره شوے وه- دا اولاد د حضرت فاطمے رضی الله عنها نه دی- دحضرت علی کرم الله وجهه دنورو بیبیانو نه کوم چه روستو ته اُوشوے، نورهم اولاد دے- مؤرخینو دحضرت علی رضی الله عنه اولاد دوه دیرش لیکلی دی- چه په هغے کښې شپاړس ځامن، شپاړس لونړه، او دحضرت امام حَسَن رضی الله عنه پنځلس ځامن، اَتهٔ لونړه، او دحضرت امام حُسین رضی الله عنه شپږ ځامن درے لونړه- رَضِیَ اللهُ تَعَالیٰ عَنهُم وَاَرضَاهُم اَجمَعِینَ ط وَجَعَلنَا بِهِم مُتَّبِعِینَ ط وَاللهُ اَعلَمُ وَعِلمُهٗ اَتَمُّ ط

ملخص من الخمیس والزرقانی علی المواهب والتلقیح والاصابه واُسد الغابه-

Maktaba Tul Ishaat.com

یوولسم باب

د بچو دینی جذبه

(د اصحابو) د ړو بچو کښې چه کومه د دین جذبه وه هغه په حقیقت کښې د مشرانو د تربیت نتیجه وه. کله چرے مور پلار او نور مشران اولاد لره په مینه کښې د ضائع کولو په ځائے د شروع نه د هغوی د دینی حالت خبر اخلی، او ورته نصیحت کوی، نو د دین کارونه به د بچو په زړونو کښې ځائے نیسی). او چه لوئی شی نو هغه خیزونه به د هغوی د پاره د عادت په شان شی. خو مونږ خلق د دے په ځائے د بچی په هره بلا هخیره بچے یے لا کثر و سترګے پرے پټوو. او کله زیات د مینے جوش وی نو په هغے خوشالیږو. او په دین کښې چه څومره کمزوری وینو، خیل زړګی ته تسلی ورکوو، چه لوئی شی نو ټول به سم شی، حال دا دے چه لوئی شی، هُم هغه عادتونه پکښې پاخه شی، د کوموچه یے په شروع کښې تخم کرلے وو. تا سو غواړئ چه تخم د چنړے وا چولے شی او د بیتے نه د غنم پیدا شی. دا مشکله ده. که چرے تا سو غواړئ چه بچی کښې ښه عادتونه پیدا شی، د دین اهتمام او کوشش کوئ. په دین عمل کوونکی وی. نو د وړوکوالی نه د هغوی د دین د اهتمام عادت جوړ کړئ. صحابه کرامو رضی الله عنهم به د وړوکوالی نه د خپل اولاد نګرانی کوله. او د دینی کارونو اهتمام به یے پرے کولو. د حضرت عُمر رضی الله عنه زمانه خلافت کښې یو کس نیولے راوستے شو، چه هغه د روژے په میاشت کښې شراب څکلی وو. او روژه یے نه وه. حضرت عُمر رضی الله عنه ارشاد وُفرمائیلو چه تباه بربادشے، زمونږ خو بچی هم روژے نیسی. (بخاری)

فائده: یعنی ته دومره لوئے شوے بیا هم روژے نه نیسے. د دے نه پس یے هغه اتیا کوړے د شرابو په سزا کښې اووهلو، او د مدینے منورے نه د ویستلو حکم یے وُکړو، د شام ملک ته یے اولیږلو.

① په بچو روژه ساتل

رُبیع بنتِ مُعوّذ چه دهغې قصه دلسم باب په آخرکښې تیره شوې ده فرمائي چه نبي علیه الصلوٰة په خپله إعلان وُکړه چه نن دعا شورے ورځ ده - ټول روژے اُونیسئ - مونږه به دے نه پس همیشه روژے نیولے - او په بچو به موهُم نیولے - هرکله چه به ماشوما نو دلوږے نه ژړل، نو دما لوچود پاغوندے ته به موورله دلوبو څیزجوړکړو، په هغې به مو مشغولول، او در روژه ماتي دوخته پورے به مودا رنګے هغوی په لوبوکښې مشغول ساتل - (بخاري)

فائده: بعضو حدیثونوکښې دا هم راغلي دي چه مَیندو به پئ رودونکو بچوته پئ نهٔ ورکول - اګرچه دغه رخت ید نوته ډیرقوي وُو- او اُوس ډیرکمزوري دي - هغې خلقو او دهغوي بچو دے برداشت کولے شو- خو دے ته کتل پکار دي، چه څومره برداشت اُوس کولے شو هغه ترکوے کوو- برداشت ته کتل خو ډیرضروري دي - خو اوس چه دکوم (کار) برداشت وي، په هغې کښې کمزوري (کول) یقیناً نامناسبه دي -

② دحضرت عائشه رضی الله عنها حدیثونه او روایت نازلیدل

حضرت عائشه رضی الله عنها دشپږو کالو په عُمرکښې دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم په نکاح کښې راغله، مکه مکرمه کښې نکاح وُشوه - او دنهو کالو په عُمر کښې مدینه منوره کښې وادهٔ شوه، چه دآتلسو کالو شوه - نبي علیه الصلوٰة د دُنیا نه تشریف یوړه - داتلسو کالو عُمرڅهٔ عُمردے چه دے کښې دومره دیني مسئلے او دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم إرشادات او عملونه ددے نه نقل کولے شي چه څهٔ اندازه یے نشته - مَسروق رحمة الله علیه فرمائي چه لوئ لوئ صحابه ما اُولیدل چه دحضرت عائشه رضی الله عنها نه به یے دمسئلو پوښتنه کوله - عَطاء رحمة الله علیه فرمائي چه دنا ریته وُنه زیاته دمسئلونه خبرداره او عالمه وه - ابوموسیٰ رحمة الله علیه فرمائي چه کوم علمي مشکل به مونږ ته پیښ شو، حضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

عائشې رضی الله عنها څخه په دغې تحقیق ملاویږي. (اصابه) دوه زره دوه سوه لس حدیثونه د حدیث په کتابونو کښې د دې موجود دي. (تلقیح) په خپله فرمائي چه ما مکه مکرمه کښې په وړوکوالي کښې لوبې کولې. د غه وخت نبي اکرم صلی الله علیه وسلم باندې د سورۀ قمر آیت بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ اَدْهٰى وَاَمَرُّ نازل شو. (بخاری)

مکه مکرمه کښې د اتو کالو عمره پورې حضرت عائشه رضی الله عنها پاتې شوې ده، په دې کم عمر کښې د دې آیت د نازلیدو خبر کیدل او بیا د دې یاد ساتل دین سره د خاص محبت په وجه کیدې شي. کنې د اتو کالو عمر څۀ عمر دے.

۳ د حضرت عُمیر رضی الله عنه په جهاد کښې د شرکت شوق

حضرت عُمیر رضی الله عنه د ابی اللحم غلام کم عمره بچے وو. جهاد کښې د شرکت شوق دغه وخت د هر لوئ وړوکي روح وو. د خیبر په جنګ کښې یې د شرکت خواهش وکړو. د دۀ سردارانو هم د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې سفارش وکړو، چه اجازت ورته ورکړئ. نو نبي علیه الصلوٰة والسلام اجازت ورکړو. او یوه توره یې ورکړه چه په غاړه کښې یې زوړند کړه. خو توره لویه وه، او دۀ قد وړوکے وو. په دې وجه به هغه په زمکه راښکلې شوه. هم په دې حالت کښې یې د خیبر په جنګ کښې شرکت وکړو. چونکه بچے هُم وو او غلام هُم. په دې وجه د غنیمت پوره حصه خو ورنکړے شوه. البته د انعام په طور څۀ سامان یې په حصه کښې راغے. (ابوداؤد)

فائده: د دۀ په شان حضراتو ته دا هم معلومه وه، چه غنیمت کښې زمونږ ه پوره حصه نشته. سره د دې بیا یې هم دا شوق وو چه د نورو حضراتو په ذریعه یې سفارش کولو. د دې وجه دیني جذبه او د الله تعالیٰ او د هغۀ د رښتني رسول صلی الله علیه وسلم وعدو باندې د یقین نه سوا نور څۀ کیدې شي.

④ د حضرت عُمیر د بدر په جنګ کښې په پټه شریکیدو کوشش

حضرت عُمیر بن ابی وقاص رضی الله عنه یو کم عُمره صحابی وو، په شروع کښې مسلمان شوے وو. د مشهور صحابی سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه رور دے. سعد رضی الله عنه فرمائی چه ما خپل رور عُمیر د بدر د جنګ په وخت کښې ولیدهٔ چه د لښکر روانولو تیاری کیدله، او دے اخو د یخوا پټ ګرزیدهٔ چه څوک م اُونهٔ وینی. ما چه دا حال ولیدهٔ حیران شوم. د دهٔ نه م تپوس وُکړهٔ. چه څهٔ اُوشو. پټ ولے ګرزے؟ وے ویل په دے ویریږم، چه چرته نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ما اُونهٔ وینی، او نجے م اُونګڼری، د تلو نه م منع کړی، چه بیا په نهٔ شم تلے. آرزهٔ داغوارم چه په جنګ کښې ضرور شریک شم. کیدے شی، چه الله تعالیٰ ماته هُم په څهٔ رنګ شهادت نصیب کړی. آخر کله چه لښکر پیش کړے شو، نو چه کومه خطره وه هغه پیښه شوه. او نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د دهٔ د کم عُمرئ په وجه اِنکار وُفرمایهٔ. خو د شوق غلبه وه برداشت یے اُونکړے شو او په ژړا شو. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته د شوق او د ژړا حال معلوم شو، نو اجازت یے ورکړهٔ جنګ کښې شریک شو، او د دویمه آرزو یے هُم پوره شوه، چه هم په دے جنګ کښې شهید شو. د دهٔ رور سعد رضی الله عنه فرمائی چه د دهٔ د ورکوتوالی او د تورے د لوئ والی په وجه ما د هغهٔ په تسموکښې غوټے لګولے چه اُوچته شی. (اصابه)

⑤ د دوه وُ انصاری بچو ابو جهل قتلول

حضرت عبد الرحمٰن بن عوف رضی الله عنه مشهور او د لویو صحابه وُ نه دے فرمائی چه زهٔ د بدر په میدان کښې د جنګ کونکو په قطار کښې ولاړ وم، ما اُولیدل چه زما ښی او ګس طرف ته د انصارو دوه کم عُمره هلکان دی ماته خیال اُوشو، که چرے زهٔ د طاقتور او د مضبوط خلقو په مینځ کښې وے نو ښه به وه. چه د ضرورت په وخت کښې به مو د یو بل مدد کولے. زما د دواړه طرف ته هلکان دی، دوی به زما څهٔ مدد اوکړی. په دے

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې د هغې دواړو ته یو زما لاس وُنیولو، وے ویل، کاکاجی! ته ابوجهل پیژنې؟ ما اُووے، آو پیژنم، ستا څهٔ غرض دے؟ دهٔ اُووے ما ته دا معلومه شوے ده چه هغه د رسول الله ﷺ په شان کښې کنځل کوی. په هغې پاک ذات م د قسم وی چه دې پا په قبضه کښې زما ساه ده. که چرے زهٔ هغه اُوینم نو تر هغې وخته به ترے جُدا نهٔ شم، ترڅو چه هغه مړشی یا زهٔ مړ شم. زهٔ د دے هلک په سوال او جواب باندے حیران شوم، په دے کښې دویم هلک هم هغسے سوال وُکړهٔ، کوم چه اولنی کړے وو. او هغسے دهٔ هم اُووے. اتفاقاً میدان کښې ابوجهل په منډه وو، زما پرے نظر پریوت. ما دے دواړو ته اُووے چه ستاسو مطلوب د کوم باره کښې چه تاسو مانه سوال کولو، هغه دے روان دے. دواړو چه دا واوریدل، تورے یې لاس کښې واخستے، یو دم په منډه لاړل، او رسید وسره یې پرے تورے چلول شروع کړل، تر دے چه هغه یې را وُغورزولو. (بخاری)

فائده: دا دواړه هلکان معاذ بن عمرو بن جموح او معاذ بن عفراء رضی الله عنهما وو. مُعاذ بن عمرو رضی الله عنه فرمائی چه ما په دخلقوته اوریدل چه ابو جهل هیچوک نهٔ شی وژلے. هغه ډیر په حفاظت کښې اوسی. زما د هغې وخت نه دا خیال وو چه زهٔ به دے وژنم. دا دواړه هلکان پیدل وو. او ابوجهل په آس سور وو، صفونه یې سمول. کوم وخت چه عبدالرحمٰن بن عوف رضی الله عنه وُلید لو او دے دواړو منډے کړے. نو په آس سور باندے سمدستی حمله کرا نه وه، په دے وجه یو په آس حمله اُوکړه، او دویم د ابوجهل په پښه حمله اُوکړه چه په هغې سره آس هم پریوت او ابوجهل هم پریوت، او پاسیدے نهٔ شو، او هلته پروت وو لتے یې ټکولے. خو معوذ بن عفراء رضی الله عنه د هغهٔ رور نور لږ ژوندے کړهٔ چه هسے نه چرته پاته سی، لاړ نهٔ شی. خو بیخی دهٔ هُم ختم نهٔ کړهٔ. دے نه پس عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ترے سر جُدا کړهٔ. مُعاذ بن عمرو رضی الله عنه فرمائی چه کوم وخت د هغهٔ په پښه ما حمله اوکړه، نو د هغهٔ ځوئ عِکرمه ورسره وو، هغهٔ زما په اُوګه حمله اُوکړه چه په هغې سره زما لاس پریکړے شو او صرف څرمنه کښې زوړند

پاتې شوه. (اُسد الغابه) ما دا زوړند لاس د ملا رُوستو واچولو، او ټوله ورځ په بل لاس جنګیدلم. خو هرکله چه د زوړند والي په وجه را ته تکلیف اُوشو، نو ما هغه د خپې لاندې کړو، او په زوره مې راخکلو. هغه څرمنه هم پرې کړے شوه، په کومه چه هغه زوړند ووه. او ما هغه وُغورځولو. (خمیس)

⑥ د حضرت رافع او حضرت ابن جُندُب رضی الله عنه مقابله

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم عادتِ شریفه داوو چه کله به یې د جنګ د پاره تشریف اُوړو، نو د مدینې منورې نه بهر و تلو نه پس به یې د لښکر مُعائنه کوله. د هغوی حالات د هغوی ضرورتونه به یې معلومول، او د لښکر اصلاح به یې کوله. کم عُمره هلکان به یې واپس کول. دوی به په شوق کښې وتل. د اُحُد د جنګ د پاره یې چه کله تشریف اُوړلو، نو په یو موقع باندې یې د لښکر مُعائنه وُکړه، او د کم عُمر هلکان یې د وړکوټوالي په وجه واپس کړل چه په هغوی کښې دا حضرات هم وُو. عبدالله بن عمر، زید بن ثابت، اُسامه بن زید، زید بن ارقم، براء بن عازب، عمرو بن حزم، اُسید بن ظهیر، عرابه بن اوس، ابو سعید خُدری، سمُره بن جُندُب رافع بن خدیج رضی الله عنهم. چه د دوی عُمرونه تقریباً دیارلس څوارلس کاله وُو. کله چه دوی ته د واپسئ حکم وُشو. حضرت خدیج رضی الله عنه سفارش وُکړو. او عرض یې وُکړه چه اے د الله رسوله! زما خوئ رافع ته غشی ویشتل ډیر ښه ورځي. او په خپله رافع هم د اجازت په شوق کښې اُوچت اُوچت په پنجو اُودریده. چه قد مې اُوږد معلوم شي. نبی علیه الصلوٰة والسلام ورته اجازت ورکړه. نو سمُره بن جُندُب رضی الله عنه خپل میړنی پلار مُرّه بن سنان ته اُو [redacted] رافع ته خو اجازت ورکړه او ما ته یې اجازت رانکړه حال دا دے چه زه د رافع نه قوی یم. که چرے زما او د هغه مقابله اُوشي، نو زه به هغه راوُغورځوم. نبی علیه الصلوٰة والسلام د دواړو مقابله وُکړه، نو سمُره رافع واقعي راوُغورځولو، په دے وجه نبی علیه الصلوٰة والسلام سمُره ته هم اجازت ورکړه. د دے نه پس نورو ماشومانو هم کوشش وُکړه. او

Maktaba Tul Ishaat.com

بعضو نوروته هُم اِجازت ورکړے شو۔ په دے سلسله کښ شپه شوه۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام د ټول لښکر د حفاظت اِنتظام وُکړهٔ، او پنځوس سړی یے د ټول لښکر د حفاظت د پاره مقرر کړل۔ دے نه پس یے اِرشاد وُفرمایهٔ چه زمونږ حفاظت به څوك وُکړی؟ یو صاحب پاسیدهٔ۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل ستا نوم څهٔ دے؟ هغهٔ اُووے ذکوان۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل ښه کینه۔ بیا یے وُفرمایل زمونږ حفاظت به څوك وُکړی؟ یو صاحب پاسیدهٔ۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام ترے د نوم تپوس وُکړهٔ، عرض یے وُکړهٔ، اَبُوسَبُع (د سَبُع پلار) نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل کینه۔ دریم وارے یے بیا اِرشاد وُفرمایهٔ چه زمونږ حفاظت به څوك وُکړی؟ بیا یو صاحب پاسیدهٔ۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام ترے د نوم پوښتنه وُکړه۔ هغهٔ عرض وُکړهٔ ابنِ عبد القَیس۔ (د عبد قَیس ځوئ) نبی علیه الصلوٰة والسلام اِرشاد وُفرمایهٔ چه ښه کینه۔ د دے نه لږ ساعت پس اِرشاد اُوشو چه درے واړه سړی راشئ۔ نو یو صاحب حاضر شو۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل چه ستا نور دوه ملګری څهٔ شو؟ دهٔ عرض وُکړهٔ، اے د الله رسوله! درے واړه ځلے هُم زهٔ پاسیدلے وُم۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام ورته دُعا وُکړه۔ او د حفاظت حکم یے وُفرمایهٔ۔ ټوله شپه دهٔ د نبی علیه الصلوٰة والسلام د خیمے حفاظت اوکړهٔ۔ (خمیس)

فائده: دا شوق او جذبے وے د دے حضراتو۔ کهٔ واړهٔ وُو، او کهٔ لوئ۔ هر یو کس دا سے مَست وُو چه ځان قربانول یے مستقل مقصود وُو۔ هم په دے وجه کامیابئ د دوی قدمونه ښکلول۔ رافع بن خدیج رضی الله عنه د بدر په جنګ کښ هُم خپل ځان پیش کړے وُو خو هغه وخت ورته اِجازت ورنکړے شو۔ بیا یے په اُحُد کښ پیش کړو، چه د هغے قصه اُوس تیره شوه۔ د دے نه پس هر یو جنګ کښ شریکیدلو د اُحُد په جنګ کښ په سینه یے یو غشے اُولګیدهٔ، هر کله چه هغه راښکلے شو، نو ټول را اُووتلو، خو د شوګے څهٔ حصه د ننه بدن کښ پاتے شوه، چه هغے د زخم شکل اختیار کړهٔ، او آخری زمانه کښ بُوډاوالی ته نزدے دا زخم تازه شو، او د مرګ سبب اُوګرزیدهٔ۔ (اُسد الغابه)

⑦ د حضرت زید رضی اللہ عنہ د قران په وجه تقدُّم (مخکښ والی)

د حضرت زید بن ثابت رضی اللہ عنہ عُمر د هجرت په وخت یوولس کاله وُو۔ او د شپږو کالو په عُمر کښې یتیم شوے وُو۔ د بدر په جنګ کښې یې خپل ځان پیش کړو۔ اجازت ورنکړے شو۔ بیا د اُحُد په جنګ کښې اُووَتلو، خو واپس کړے شو، لکه څنګه چه اوس معلومه شوه۔ بعضو ویلې دي چه چونکه رافع او سمُره رضی اللہ عنہما دواړو ته اِجازت ورکړے شوے وُو (لکه څنګه چه اُوس له دے نه روسته قصه کښې تیره شوه) په دے وجه دهٔ ته هم اجازت شوے وُو۔ د دے نه پس په هر یو جنګ کښې شریکیدلو۔ د تبوك په جنګ کښې د بنومالك جهنډا د حضرت عمّاره رضی اللہ عنہ په لاس کښې وه۔ نبي علیه الصلوٰة والسلام د عمّاره رضی اللہ عنہ نه واخستله، حضرت زید رضی اللہ عنہ ته یې ورکړه۔ عمّاره رضی اللہ عنہ ته فکر شو چه شاید ما نه څهٔ غلطي شوی وی، یا څهٔ وجه د خفګان راغلې وی، پوښتنه یې اُوکړه، اے الله رسوله! زما څهٔ شکایت تا سو ته در رسیدلے دے ارشاد یې وُفرمایهٔ د اخبره نهٔ ده۔ بلکه زید قران شریف لتا نه زیات ویلې دے۔ قران دے جهنډا اُوچتولو کښې مخکښې کړو۔ (اسد الغابه)

فائده: د نبي اکرم صلی اللہ علیہ وسلم عام معمول وُو چه فضائلو کښې به یې د دین په اعتبار سره ترجیح ورکوله۔ د لته اګرچه د جنګ موقع وه۔ او قران شریف زیات لوستلو ته په دے کښې څهٔ دخل نهٔ وُو۔ خو سره د دے نبي علیه الصلوٰة والسلام د قران پاك د زیاتئ په وجه جهنډا اُوچتولو کښې دے مخکښې کړو۔ اکثرو ځیزونو کښې به نبي اکرم صلی اللہ علیہ وسلم د دے لحاظ کولو۔ آن تر دے که چرے د خو سړو به د څهٔ ضرورت په وجه په یو قبر کښې د دفن کولو موقع راغله، نو چاچه به قران شریف زیات ویلې وُو، هغه به یې مخکښې کړو، لکه څنګه چه غزوهٔ اُحُد کښې یې کړی وُو۔

⑧ د حضرت ابوسعید خُدري رضی اللہ عنہ په وړوکوالي کښې د پلار وفات

حضرت ابوسعید خُدري رضی اللہ عنہ فرمائي چه زهٔ د اُحد په جنګ

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې پېش کړے شوم۔ دیارلس کاله زما عُمر وو۔ نبي علیه السلام قبول نه کړم۔ زما پلار سفارش هم اُوکړو چه ده ته طاقت ښه دے۔ هډو کې یې هم غټې دي۔ نبي علیه السلام په سترګې ما طرف ته اُوچتې کړے، بیا به یې خکته کړے۔ لنډه دا چه د کم عُمرئ په وجه یې اجازت را نکړو۔ زما پلار په دے جنګ کښې شریک شو او شهید شو۔ هیڅ مال وغیره یې نه وو۔ زه د نبي اکرم ﷺ په خدمت کښې د سوال کولو په غرض حاضر شوم۔ نبي علیه السلام چه ما ته اُوکتل ارشاد یې اُوفرمایه چه څوک صبر غواړي، الله تعالیٰ هغه ته صبر ورکوي، او چه څوک پاکبازي د الله تعالیٰ نه غواړي الله جل شانهٔ هغه پاکباز جوړوي۔ او چه څوک غِنا (مالداري) غواړي الله تعالیٰ هغه ته غِنا ورکوي۔ ما چه دا مضمون د نبي علیه السلام نه واورېدو بیا مې هیڅ وُنه غوختل، چُپ چاپ واپس راغلم۔ دے ته پس الله جل شانهٔ ده ته هغه مرتبه ورکړه چه په کم عُمره صحابه وُکښې به دو مره دلوئ درجے عالِم بل په مشکله بیا موندے شي۔ (اصابه۔ استیعاب)

فائده: دوه کوچني عُمر او د پلار د شهادت غم او دے ته علاوه د ضرورت وخت وو، خود نبي اکرم ﷺ یو عام نصیحت یې واورېدو، چُپ چاپ واپس راغلو، او خپله پریشاني یې چا ته ښکاره نکړه۔ آیا نن صبا څوک د لوئ عُمر خاوند هم داسے کولے شي۔ ریښتیا دا ده چه الله تعالیٰ د خپل رسول ﷺ د ملګرتیا د پاره هُم داسے خلق خوښ کړي وو چه کوم د دے اهل وو۔ په دے وجه د نبي علیه السلام ارشاد دے کوم چه د دے کتاب په ختمیدو کښې به راشي، چه الله تعالیٰ د ټولو ښیا د موته زما صحابه منتخب کړه۔

⑨ د حضرت سَلَمه بن اَکوَع رضی الله عنه په غابه منډه

غابه د مدینے منورے نه څلور پنځه میله بانده یو آبادي وه۔ د نبي اکرم ﷺ څه اُوښان هلته څرېدل۔ د کافرانو یو ټولے سره عبدالرحمن فزاري هغه لوټ کړل، چا چه څرول هغه یې قتل کړو، او اُوښان یې واخستل روان شو۔ دا لوټ کوونکي (ډاکوان) په آس تو

سواره وو، او وسلے یے لګولے وے - اتفاقاً حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه د سحر په وخت پیدل غشی اولیندهٔ یے ځان سره اخستی غابه طرف ته روان وو، چه تا ګهاته یے داړا کوان وُلیدل - هلک وو منډه کښ ډیر تیز وو - وائی چه ددهٔ منډه مثالی او مشهوره وه - دهٔ یه په خپله منډه کښ اس رانیولو - او آس به دے ته ؤ شونیولے - دے په غشی ویشتلو کښ هم مشهور وو - حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه مدینے منورے طرف ته مخ کړو او یوغر باندے اوختلو، دلوټ اعلان یے اوکړو - او په خپله غشی او لینده اخو ورسره وو، په خپله یے ډاکوانو پسے منډه کړه، تردے چه ورا اورسیدا - او غشی ویشتل یے پرے شروع کړهٔ، او داسے په تیزئ پرله پسے یے پرے غشی وَ اُوورول چه هغے خلقو پرے دلوئ ډلے ګهان اوکړهٔ - او چونکه دے په خپله یواځے وو، او پیدل هم وو - په دے وجه کله چه به چا آس واپس کړو، وریسے به شو، نو دے به یو ونے خواته پټ شو، او د شاته به یے دهغهٔ آس په غشی ویشتهٔ چه په هغے سره به هغه زخمی شو، او هغه سوریه په دے خیال واپس شو - که آس پریوته نوزهٔ به ونیولے شم - حضرت سلمه رضی الله عنه فرمائی، لنډه دا چه هغوی په منډے وهلے، اوزهٔ به وریسے وُم - تردے چه خومره اوښان هغوی دنبی علیه الصلوٰة والسلام لوټ کړی وو هغه ما ته روستو پاتے شو - او دے ته علاوه دیرش نیزے او دیرش څادرونه یے هم پریخودل - په دے کښ عُیَیْنه بن حِصْن دکافرانو یو ډلے سره دوی ته مدد دپاره راورسیدهٔ - او دے ډاکوانو ته قوت حاصل شو، او دا هم دوی ته معلومه شوه چه زهٔ یواځے یم - دهغوی خو سړی په جمع ما پسے شو، زهٔ په یوغر اوختلم، هغوی هم را اوختل - هرکله چه ما ته رانزدے شو، نو ما په زوره اووے لږ ودریږئ، زما یوه خبره واورئ، تاسو ما پیژنئ که نه؟ چه زهٔ څوک یم؟ هغوی اووے، وښایه څوک یے؟ ما اووے زهٔ ابن الاکوع یم - په هغے ذات م دِقسم وی، چاچه محمد صلی الله علیه وسلم ته عزت ورکړے دے، تاسو نه که څوک ما نیول غواړی، نو نهٔ م شی نیولے، او تاسو نه چه څوک زهٔ نیول غواړم هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

مانه هیڅ کله خلاصیدے نهٔ شی۔ ددهٔ متعلق چونکه عموماً دا مشهوره وه چه ډیره تیزه منډه وهی ۔ چه عربی آس هم ددهٔ مقابله نهٔ شی کولے۔ په دے وجه دا دعوی څهٔ عجیبه نهٔ وه۔ سلمه رضی الله عنه فرمائی چه ما دا رنګے هغوی سره خبرے اترے کولے۔ او مقصودم دا وُو چه دوی له خو مدد راورسیدهٔ خو چه دمسلمانانو له طرفه زما هم مدد راشی چه ما هم د راتلو په وخت مدینه کښ اعلان کړے وُو۔ لنډه دا چه هغوی سره م دا خبرے کولے، او د ونو په مینځ کښ مدینے منورے ته م په غور سره کتل چه ماته یوه ډله په آسونو سوره په منډه راتلونکے ښکاره شوه۔ په هغوی کښ د ټولو نه مخکښ اَخرم اَسدی رضی الله عنه وُو۔ هغهٔ راتلو سره په عبدالرحمٰن فزاری حمله وُکړه۔ او عبدالرحمٰن هم دهٔ ته متوجه شو۔ دهٔ دعبدالرحمٰن په آس حمله اوکړه، او پښے ترے پریکړے۔ آس پریوت، او عبدالرحمٰن په پریوتلو کښ په دهٔ حمله اوکړه۔ چه په هغے سره دے شهید شو۔ او عبدالرحمٰن فوراً ددهٔ په آس سور شو۔ عبدالرحمٰن پسے ابو قتاده رضی الله عنه وُو، فوراً یے په دهٔ حمله شروع کړه۔ عبدالرحمٰن د ابو قتاده رضی الله عنه د آس په خپو باندے حمله اوکړه۔ چه په هغے سره دے پریوت، او په پریوتلو کښ دهٔ عبدالرحمٰن باندے حمله اوکړه چه په دے سره هغه قتل شو۔ او ابو قتاده رضی الله عنه فوراً په هغے آس باندے چه کوم د اَخرم اَسدی رضی الله عنه وُو، او اُوس عبدالرحمٰن پرے سور وُو، په هغے سور شو۔ (ابوداؤد)

فائده: بعض د تاریخ کتابونو کښ لیکلی دی چه حضرت سلمه رضی الله عنه اَخرم اَسدی رضی الله عنه د حملے نه منع کړو چه لږ وار وُکړه چه خپل کسان نور راشی۔ خو دهٔ وُفرمایل چه ما پریږده چه شهید شم۔ وائی چه مسلمانانو کښ فقط دے شهید شو۔ او د کافرانو نه ډیر سړی په دے جنګ کښ مړهٔ کړے شی۔ دے نه پس لویه ډله د مسلمانانو راورسیده، او کافران اُوتختیدل۔ نو حضرت سلمه رضی الله عنه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته درخواست اوکړهٔ چه ما سره سل سړی کړه۔ چه زهٔ دوی پسے

لاړشم۔ خو نبی علیه الصلاة والسلام وُفرمایل چه هغوی خپلو پلو ځایونو ته وُرسیدل۔ د تاریخ اکثرو کتابونو نه معلومیږی چه د حضرت سلمه رضی الله عنه عمر د هٔ وخت دولس یا دیارلس کاله وو۔ د دولسو دیارلسو کالو هلک په اسونو سواره یوه لویه ډله دا سے زغلوی چه وار پار یے خطا شی، چه څهٔ یے لوټ کړی وو، هغه یے هُم پریخودل، او ورسره خپل سامان یے هُم پریخودهٔ۔ دا دهغې اخلاص برکت وو، کوم چه الله جل شانهٔ دے ډلے د صحابه وُ رضی الله عنهم ته نصیب کړے وو۔

⑩ د بدر مقابله او د حضرت براء رضی الله عنه شوق

د بدر جنګ د ټولو نه افضل او د ټولو نه زیات اهم جنګ دے ځکه چه په دے کښ مقابله ډیره سخته وه، د مسلمانانو ډله ډیره لږه وه ټول درے سوه پنځلس سړی وو چه ورځنه صرف درے اسونه، شپږ یا نهه زغرے، اتهٔ تورے او اویا اوښان وو۔ یو یو اوښ باندے به څو څو سړی وار په وار سوریدل۔ او کافران تقریبًا یو زر وو، چه ورځنه سل اسونه او اوهٔ سوه اوښان او د جنګ کافی سامان وو۔ په دے وجه دوی ډیر په اطمینان دیا جو او سندرے ویو نکو ښځو سره میدان ته راغلل۔ دے خو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ډیر فکرمند وو، ځکه چه مسلمانان ډیر د کمزورئ په حالت کښ وو۔ هرکله چه نبی علیه الصلاة والسلام د دوارو ډلو اندازه واخسته، نو دُعا یے اُوغوختله۔ اے الله! دا مسلمانان خپے ابله دی، هم تهٔ دوی ته سورلی ورکوټکے یے۔ دوی په بدن بربنډ دی، هم تهٔ دوی ته جامے اغوستونکے یے۔ دوی اوږی دی، هُم تهٔ د دوی ګیډهٔ مړوونکے یے۔ دوی فقیران دی، هم تهٔ د دوی غنی کوونکے یے۔ د نبی علیه الصلاة والسلام دُعا قبوله شوه۔ سره د دے ټولو خبرو حضرت عبدالله بن عُمر او حضرت براء بن عازب رضی الله عنهما دواړه جنګ کښ د شرکت په شوق سره د کور نه روان شول۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دوی دواړه د دوړوکوالی په وجه د لارے نه واپس کړل۔ (خمیس)

Maktaba Tul Ishaat.com

دادواړه حضرات د اُحُد په جنګ کښې هم واپس کړے شوی وُو، لکه څنګه چه رومبئ قصه کښې تیره شوے ده. د اُحد جنګ دبدر د جنګ نه یو کال پس اُوشو، چه په دے کښې هم دوی دواړه وَړوکی شمار کړے شول. نو بدر کښې خو ضروری خبره ده چه ماشومان وُو. خو د دے حضراتو شوق وُو چه دوروکوالی نه دے جذبے او شوق یے په زړهٔ کښې جوش وَهلو. او په هر جنګ کښې یے د شریکیدو او اجازت اَخستلو کوشش کَولو.

(۱۱) د حضرت عبدالله بن عبدالله بن اُبئ د خپل پلار سره معامله

سن ۵ هجری کښې د بَنُوالمُصطَلِق مشهور جنګ اُوشو. په دے کښې د یو مُهاجری او د یو انصاری خپل مینځ کښې جنګ اُوشو. معمولی خبره وه خو زیاته شوه. هریو د خپل خپل قوم نه د بل خلاف مدد اُوغوختلو. او د دواړه طرفه ډلے پیدا شوے. او نزدے وه چه خپل مینځ کښې د جنګ میدان ګرم شوے وے. خو په مینځ کښې بعض خلق راغلل او صُلح یے وُکړه عبدالله بن اُبئ د منافقانو سردار او ډیر مشهور مُنافق او د مسلمانانو سخت مخالف وُو. خو چونکه ځان یے مسلمان ښکاره کَولو، په دے وجه دهٔ سره د مخالفت معامله په نهٔ شوه کولے. او هم دا دغه وخت منافقانو سره عامه معامله وه. هرکله چه دهٔ ته د دے قصے خبر اُوشو. نو دهٔ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په شان کښې دبے ادبئ خبرے اُوکړے. او خپلو دوستانو ته یے اُووَیل چه دا ټول هرڅهٔ ستاسو خپل کړهٔ دی. تاسو دے خلقو ته خپلو ښهرونو کښې ځائ وَرکړهٔ. خپل مالونه مو دوی سره نیم په نیمه تقسیم کړل. که چرے تاسو د دے خلقو مدد پریږدئ، نو اُوس به هم ټول لاړشی. او دا یے هم اُووے چه په الله مې دِ قسم وی، که چرے مونږ مدینے ته اُورسیدلو، نو مونږ ه عزتمند به راغونډشو، دا ذلیلان به د هغه ځائ نه اُوباسو. حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه د لږ عمر بچے وُو، هلته موجود وُو، دا خبره چه یے واورید له، برداشت یے اُونکړے شو، وِے وَیل، چه په الله مې دِ قسم وی. ته ذلیله یے. تا ته په خپل قوم کښې هُم

په ترس (دغصې په) نظر سره کتلې شي - سنا هیڅوک مددګار نشته - او محمد ﷺ عزت والا دے - د الله تعالیٰ له طرفه هم عزت ورکړے شوے دے، او په خپل قوم کښ هم عزت مند دے - عبدالله بن اُبیّ اووے چه ښه ده چُپ شه - ما خو هسې په ټوقو کښ اُووے - خو حضرت زید رضی الله عنه لاړو، او نبی اکرم ﷺ ته یے حال بیان کړۂ - حضرت عُمر رضی الله عنه درخواست اُوکړۂ چه ددے کافر سټ دِ وا لوزولے شي - خو نبی علیه الصلوٰة اجازت وَرنکړۂ - عبدالله بن اُبیّ چه کله خبر شو، چه نبی علیه الصلوٰة ته دا قصه رسیدلے ده، نو خدمت کښ حاضر شو، او د دروغو قسمونه یے اُوخوړل، چه ما هیڅ یو لفظ داسے نۀ دے ویلے - زید دروغ ویلی دی - د انصارو هم څۀ خلق هلته حاضر وُو، هغوی هُم سفارش اوکړۂ چه اے د الله رسوله! عبدالله دقوم سردار دے، لوئ سړے شمارېږی - دیو ہچی خبره د دۀ په مقابله کښ دقبلیدو قابله نۀ ده - ممکنه ده چه په اوریدو کښ څۀ غلطی شوے وی یا په پوهیدو کښ - نبی علیه الصلوٰة دهغۀ عُذر قبول کړۂ حضرت زید رضی الله عنه چه کله خبر شو چه هغۀ د دروغو قسمونو سره خپل ځان ریښتنے ثابت کړۂ، او زید یے دروغژن کړۂ - نو زید له شرمه بهر وتل پرېښودل - د نبی علیه الصلوٰة مجلس کښ به هم دشرم له وجې نۀ حاضریدۂ - لیکن دا چه سورۂ مُنافقون نازل شو چه په هغې سره د زید رضی الله عنه ریښتنولے او دعبدالله بن اُبیّ د دروغو قسمونو حال ښکاره شو - د حضرت زید رضی الله عنه عزت د موافق او مخالف د ټولو په نظر کښ زیات شو، او دعبدالله بن اُبیّ قصه هم په ټولو ښکاره شوه - هر کله چه مدینه منوره نزدے راغله، نو د عبدالله بن اُبیّ ځوئ چه د هغۀ نوم هم عبدالله وُو، او ډیر پوخ مسلمان وُو، د مدینې منورے نه بهر اُودریدۂ، تُوره یے را اُویستله، او پلار ته یے اُووے، تر هغې وخته پورے به دِ مدینه منوره کښ دا خلیدو ته نۀ پرېږدم، ترڅو چه ددے اِقرار اُونکړے چه زۀ ذلیل یم او محمد ﷺ عزت مند دے - پلار یے ډیر حیران شو چه دے ځوئ به همیشه ما سره د ډیر عزت او دنیکئ معامله

Maktaba Tul Ishaat.com

کوُله- خود نبی علیه الصلوٰة مقابله کښې بے برداشت اُونکړے شو- آخر مجبوره شو او دے اِقرار یے وُکړهٔ چه قسم مې دے په الله وی، زهٔ ذلیل یم او محمد ﷺ عزت مند دے- دے ته پس مدینه کښې داخل شو- (خمیس)

⑫ د حضرت جابر رضی الله عنه حَمْرَآءُ الْاَسَدْ کښې شرکت

د اُحد د جنګ نه فارغ شوی مسلمانان مدینے منورے ته اُورسیدل، سفر او د جنګ دوجه ستړی ستومانه وُو، خو مدینے منورے ته رسیدو سره دا خبر راغے چه اَبُوسُفْیَان د جنګ نه په واپسیٔ حَمْرَآءُ الْاَسَدْ (دیو ځائ نوم دے) ته اُورسیدهٔ- ملګروسره یے مشوره اوکړه، او دا رائے یے قائمه کړه چه د اُحد په جنګ کښې مسلمانانو ته شکست اُوشو- دا سے موقع غنیمت کنټرل پکار وه، چه نهٔ ده معلومه بیا دا سے وخت راشی یا رانهٔ شی- په دے وجه نبی اکرم ﷺ (نَعُوْذُ بِاللهِ) د قتلولو ته پس واپس کیدل پکار وُو، په دے اِراده هغهٔ د واپس کید و مشوره اوکړه- نبی اکرم ﷺ اعلان وُکړهٔ، چه کوم خلق په اُحد کښې موږ سره وُو، هم هغه دِ راسره لاړ شی، او دوباره د حملے د پاره نلل پکار دی- اګرچه مسلمانان دغه وخت ستړی وُو، خو سره د دے تپول په تپول تیار شو- چونکه نبی علیه الصلوٰة اعلان کړے وُو چه صرف هغه خلق به ځی، چه کوم اُحد کښې وُو- په دے وجه حضرت جابر رضی الله عنه درخواست وُکړهٔ، اے د الله رسوله! زما ارزو په اُحد کښې هم د شرکت وه، خو پلار راته په دے وجه اِجازت رانکړهٔ، چه ستا اُوهٔ خوینډے دی- څوك سړے بل نِشته دے، په موږ دواړو کښې دیو پاتے کیدل ضروری دی، او په خپله یے د تلو اراده کړے وه، ځکه یے ما ته اِجازت رانکړو- د اُحُد په جنګ کښې د هغهٔ شهادت اُوشو، اوس تاسو ما ته اجازت راکړئ چه زهٔ هم درسره لاړ شم- نبی علیه الصلوٰة ورته اجازت ورکړهٔ- د دهٔ نه عَلاوه بل څوك داسے کس نهٔ وُو تلے، چه کوم په اُحد کښې شریک نهٔ وُو- (خمیس)

فائده: د حضرت جابر رضی الله عنه په دے شوق او ارزو اجازت غوختل

خومره د پسخیدو خبره ده چه پلاریې اُوس شهید شوے دے قرضې یې هم د پلار په ذمه ډیره ځکه وه هغه هم د یهودیانو. چه د سختئ معامله به یې کوله، او دا سره به یې خصوصاً د سختئ معامله کوله. د دے ټولونه علاوه د خویندو د گذارے فکر، چه اُووه وے. چه د دے په وجه پلار ورته د اُحد په جنګ کښې د شریکیدو اجازت هم نه وو ورکړے. خو د جهاد شوق په دے ټولو غالب دے.

⑬ د حضرت ابن زبیر رضی الله عنه د روم په جنګ کښې بهادری

د حضرت عُثمان رضی الله عنه زمانهٔ خلافت کښې سنه ۲۶ھ کښې د مصر د ولي حاکم حضرت عمرو بن عاص رضی الله عنه په ځائے چه کله عبد الله بن ابی سَرح رضی الله عنه حاکم جوړ کړے شو، نو هغه د روم سره د جنګ د پاره د شل زره سپاهیانو سره اُووتلو. د رومیانو لښکر دوه لاکهو قریب وو. زبردست جنګ اُوشو. د رومیانو امیر "جَرجِیر" اعلان وکړو. چه څوک عبد الله بن ابی سَرح رضی الله عنه قتل کړی، هغه سره به د خپلے لور نکاح کوم، او یو لاکهه اشرفئ انعام به هم ورکوم. په دے اعلان بعض مسلمانان فکرمند شول. حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه ته معلومه شوه. دهٔ اُوویل، دا د فکر خبره نه ده، زمونږ له طرفه دِ هم اعلان وکړے شی، چه څوک جَرجِیر قتل کړی، د هغهٔ لور سره به د هغهٔ نکاح کولے شی او یو لاکهه اشرفئ انعام. د دے نه علاوه دا، چه هم هغه به د دغه ښهرونو امیر هم جوړولے شی. لنډه دا ډیر وخته پورے مقابله کیدله. حضرت عبد الله بن زُبیر رضی الله عنه اُولیدهٔ چه جَرجِیر د ټول لښکر نه روستو دے او لښکر د هغهٔ نه مخکښ شوے دے، دوه ؤ وینزو د طاؤس په وزرو په هغهٔ سورے کړے دے. دے د خپلے غونډے د لښکر نه جُدا شو، او په یوائے تن لاړهٔ، حمله یې پرے اُوکړه. هغهٔ دا خیال اُوکړو، چه دے یوائے دا رنګے راروان دے، ځکه د صُلح پیغام به راوړی، خو دے نیغ ورواُورسیدهٔ، او حمله یې پرے اُوکړه. په توره یې ترے سر پریکړو،

Maktaba Tul Ishaat.com

په نیزه کښې یې اُوچت کړے راوړۀ، او ټول خلق ورته په کتلو کتلو حیران پاتے شول.

فائده: حضرت عبدالله بن زُبیر رضی الله عنه نوے ځلے وُو. د هجرت نه پس د ټولو نه رومبے پیدا شوی مُهاجر بچی کښې دۀ شوے دے. مسلمانان دۀ په پیدا کیدو ډیر خوشاله شوی وُو. ځکه چه یو کاله پورے هیڅ یو مُهاجری کره څوک هلک نۀ وُو پیدا شوے. نو یهودیانو دا اُوویل، چه موږ په دے مُهاجرینو جادو کړے دے، ددوی هلک نۀ شی پیدا کیدے. دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم عادت د بچو د بیعت کولو نۀ وُو. خو ابن زُبیر رضی الله عنه یې د اُوۀ کالو په عمر کښې بیعت کړو. د دے جنګ په وخت کښې د دۀ عمر څلیر پنځوس کالو وُو. په دے عُمر کښې د دوه وُلاکهو لښکر کښې ورننوتل او د باد شاه سر پریکړے راوړل معمولی څیز نۀ دے.

⑫ د حضرت عمرو بن سلمه رضی الله عنه د کفر په حالت کښې قرآن پاک یادول

عَمرو بن سلمه رضی الله عنه فرمائی چه موږ خلق د مدینے منورے په لار کښې یو ځائ اُوسیدلو. هلته به تلونکی راتلونکی زموږ څخه تیریدل کوم خلق چه به د مدینے منورے نه راپس راتلل، موږ به د هغوی نه د حالاتو تپوس کولو چه د خلقو څۀ حال احوال دے. کوم صاحب چه د نبوّت دعوٰی کوی، د هغه څۀ خبر دے؟ هغه خلقو به حالات بیانول، چه هغه وائی ما باندے وحی راځی. دا دا آیتونه نازل شوی دی. زۀ کم عُمره بچے وُم. هغوی چه به څۀ بیان کړۀ ما به هغه یادول دارنګے د مسلمانیدو نه وړاندے ما ته ډیر قرآن شریف یاد شوے وُو. د عربو ټولو خلقو مسلمانیدو د پاره د مکے د خلقو انتظار کولو. کله چه مکه مکرمه فتح شوه، نو هر یو له اسلام کښې داخلیدو د پاره حاضره شوه. زما پلار هم د قوم یو څو سړو سره د ټول قوم له طرفه قاصد جوړ شوے حاضر شو. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم هغه ته د شریعت احکام اُوخودل، او مونځ یې ورته اُوخودلو، او په جُمع سره د مونځ کولو

طریقه یې ورته اُوخودله، او ارشاد یې وُفرمایۀ، چه تاسو کښې د تهولو نه زیات چا ته قران یاد وی هغه د اِمامت د پاره بهتر دے. ما چونکه د مدینې نه دراتلونکو خلقو نه ایتونه آوریدل او یادول. په دے وجه د تهولو نه زیات حافظِ قران هُم زۀ وَم. تهولو تلاش اُوکړۀ، خو زما نه زیات حافظِ قران هیڅوك قوم کښې نۀ وُو، نو هم زۀ یې اِمام جوړ کړم. زما عُمر د دغه وخت شپږ اُووۀ کاله وُو. کله چه به څۀ گنړه وه، یا د جنازے د موقع به راغله، نو زۀ به اِمام جوړ کړے شوم. (بخاری . ابوداود)

فائده: د ادین طرف ته د طبعی میلان او د رغبت اثر وُو چه په دے عُمر کښې یې بغیر د مسلمانانو د قران شریف ډیره حصه یاده کړه. باقی د بچی د اِمامت قصه دا د مسئلے بحث دے. د چا په نزد چه جائز ده، د هغوی په نزد خو څۀ شك نشته، او د چا په نزد چه جائز نۀ ده هغوی فرمائی، چه نبی علیه السلام د دے خلقو ته اِرشاد فرمایلے وُو، چه تاسو کښې چا ته قران زیات یاد وی، بچی د دے نه مراد نۀ وُو.

(۱۵) د حضرت ابن عباس رضی الله عنه د خپل غلام په خپو کښې بیړئ آچول

د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه غلام عِکرمه رحمة الله علیه د مشهور عالمانو نه دے، وائی، چه زما آقا حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه به قران شریف او حدیث او د شریعت احکام لوستلو د پاره زما په خپو کښې بیړئ آچولے وے، چه چرته هُم راځم نه. هغۀ به ما ته قران شریف او احادیث شریف خودل. (بخاری . ابن سعد)

فائده: حقیقت کښې لوستل هُم په دے حالت کښې کیدے شی، څوك چه د تعلیم په زمانه کښې سیل او سفر او د بازار د تفریح شوق کښې وی، هغه بے کاره خپل عُمر ضائع کوی. هم د دے څیز اثر وُو چه بیا عکرمه غلام حضرت عکرمه رحمه الله جوړ شو، چه د بحرُ الاُمّة او حِبرُ الاُمّة په لقبونو سره یاد وُلے شو. قتاده رضی الله عنه وائی چه تهولو تا بعینو کښې لوئ عالمان څلور دی، چه په هغوی کښې یو عِکرمه رحمة الله علیه دے.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱۶) د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په وړوکوالی کښې قرآن یادول

په خپله حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی چه ما نه د تفسیر تپوس کوئ - ما په وړوکوالی کښې قرآن شریف یاد کړے دے - بل حدیث کښې دی چه ما د لسو کالو په عمر کښې آخری منزل لوستے وو - (بخاری - فتح)

فائده: د هغے زمانے لوستل داسے نه وو، څنګه چه دے زمانه کښې زمونږ خلقو د غیر وږ بوحال دے - لکه هغوی به چه څهٔ لوستل هغه به یے سره د تفسیره لوستل - په دے وجه حضرت ابن عباس رضی الله عنه د تفسیر لوئ امام دے، چه د وړوکوالی یادول ډیر محفوظ وی - د تفسیر حدیثونه څومره چه د عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه نقل دی، د نورو حضراتو نه ډیر کم نقل شوی دی - عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه د قرآن بهترین مُفسّر عبد الله بن عباس رضی الله عنه دے - ابو عبد الرحمٰن رضی الله عنه فرمائی چه کومو صحابه کرامو به مونږ ته قرآن شریف خودلو هغوی فرمائی چه صحابو به د نبی علیه الصلوٰة نه لس آیتونه د قرآن زده کړل، ورپسے به یے نور لس آیتونه هغے وخت نه پورے نهٔ زده کول، ترڅو چه به یے د رومبنو لسو آیتونو موافق علم او عمل نهٔ وو شوے - (منتخب کنز)

فائده: (د عبد الله بن عبّاس رضی الله عنه) د یارلسو کالو عُمر وو - کوم وخت چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم وفات شو په دے عُمر کښې چه کومه درجه یے تفسیر او حدیث کښې حاصله کړه، هغه ښکاره کرامت او قابل د عبرت ده، چه د تفسیر امام دے، او لوئ لوئ صحابو به د تفسیر پوښتنه د دهٔ نه کوله، اګرچه دا د نبی علیه الصلوٰة د دُعا برکت وو چه یو وارے نبی اکرم صلی الله علیه وسلم استنجاء ته تشریف یوړهٔ، چه بهر ته اُووتلو، نو لوټه ورته ډکه پرته وه - پوښتنه یے اوکړه چه دا چا ایخے ده؟ عرض وُکړے شو چه ابن عبّاس - د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دا خدمت خوښ شو، نو دُعا یے وُکړه، چه الله تعالیٰ دِ ورته د دین پوهه او د کتاب الله پوهه ورکړی - دے نه پس یو وارے نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نفل کول، دهٔ هم نیت اُوتړهٔ، او ورپسے اُودریده - نبی علیه الصلوٰة

په لاس راخکلو، ځان سره یې برابر اُودرَوُو. کهٔ چرې مقتدی یوکس وی نو د امام برابر اُودریدل پکاردی. دے ته پس نبی علیه الصلوٰة مانځه کښې مشغول شو. دے لږغوندې روستوشو. نبی علیه الصلوٰة ترې د مانځه نه پس پوښتنه اوکړه. عرض یې اُوکړهٔ، چه تاسو د الله تعالیٰ رسول یئ، ستاسو برابر څنګه اُودریدې شم، نبی علیه الصلوٰة ورته دعِلم او پوهې د زیاتوالی دُعا اوکړه. (اصابه)

⑰ د حضرت عبد الله بن عَمرو بن العَاص رضی الله عنه په ورکوالی کښې حدیثونه یادول:

حضرت عبد الله بن عَمرو بن العاص رضی الله عنه دهغې عابد انو او زاهدانو صحابهٔ وُنه دے چه هره ورځ به یې یو قرآن شریف ختم کوُلو. او ټوله شپه به عبادت کښې مشغول وُو. او دوُرځې به یې همیشه روژه وه. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په زیات محنت ورته زورنه هم اُوفرمایله، او ارشا دیې وُفرمایهٔ چه د اسې حالت کښې به دِبدن کمزورې شی. ټوله شپه په شوګیره سره به دِ سترګې خرابې شی. د بدن هم حق دے، د بال بچ هم حق دے، د تلوتکو راتلونکو (میلمنو) هم حق دے. وائی چه زما معمول دا وُو چه هره ورځ به مې یو ختم کوُلو. نبی علیه الصلوٰة ارشاد وُفرمایهٔ، چه یوه میاشت کښې یو قرآن وایه. ما عرض وُکړهٔ، اے د الله رسوله! ما ته دخپل قوت او ځوانئ نه دفائدې اخستلو اجازت راکړئ. نبی علیه الصلوٰة وُفرمایل، ښه ده، شلو ورځو کښې یو ختم کوه. ما عرض اوکړهٔ اے د الله رسوله! ډیر کم دے، ما ته دخپلې ځوانئ او قوت نه دفائدې اخستلو اجازت راکړئ. لنډه دا چه دغه شان مې عرض کوُلو، اخیر کښې درې ورځو کښې دیو ختم اجازت یې راکړو. دده عادت وُو، چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشادات به یې لیکل چه یاد یاتې شی. ده سره یو مجموعه د نبی علیه الصلوٰة د حدیثونو لیکلې شوې وه چه دهغې نوم یې صادقه ایښې وُو. دے وائی چه ما به د نبی علیه الصلوٰة نه څهٔ آوریدل، هغه به مې لیکل چه یاد یاتې شی. زهٔ خلقو منع کړم، چه نبی علیه الصلوٰة په هر حالت

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې بنیادم دے۔ کله غصه او نا راضتیا کښې چا ته څه اُوفرمائی ، کله خوشالئ او خوش طبعئ کښې څه اِرشاد وُفرمائی۔ هره خبره مه لیکه۔ ما لیکل پریخودل یو وارے نبی علیه الصلوٰة والسلام ته ما دا دے ذکر اُوکړه۔ هغوی مبارک اِرشاد وُفرمایه چه لیکه۔ په هغه ذات م قسم وی د چا په قبضه کښې چه زما ساه ده ، د دے خولے نه غصه کښې یا په خوشالئ کښې د حق نه سوا هیڅ خبره نه اُوزی۔ (مسند احمد۔ ابن سعد)

فائده : حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنه سره د دے چه په زُهد او دعبادت په ډیروالی کښې مشتا ز شمارلے شی۔ بیا هم ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه صحابو کښې زمانه زیات روایت کوونکے بل هیڅوك نشته سوا دعبد الله بن عمرو رضی الله عنه نه ، چه هغهٔ لیکل او ما نهٔ لیکل۔ د دے نه معلومیږی ، چه ددهٔ روایتونه دابوهریره رضی الله عنه نه هم ډیر زیات دی اگرچه زمونږ زمانه کښې د ابوهریره رضی الله عنه روایتونه ددهٔ نه ډیر زیات مونده لے شی ، چه د هغے ډیرے وجه دی ، خو هغے زمانه کښې سره د دے دومره عبادت نه ډیر زیات ددهٔ حدیثونه موجود وُو۔

⑱ دحضرت زید بن ثابت رضی الله عنه قرآن یادول

حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه په هغے جلیل القدر صحابو کښې دے چه په خپله زمانه کښې لوئ عالم اولوئ مفتی شمارلے شو۔خصوصًا د فرائضو (یعنی دمیراث دعلم) ماهر وُو۔ ویلے شی چه مدینه منوره کښې فتوٰی ، قضاء ، فرائض ، قراءت کښې ددهٔ شمار په اوچتو خلقو کښې وُو۔ کله چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم هجرت اُوکړهٔ ، مدینے منورے ته یے تشریف راوړهٔ ، نو هغه وخت کم عُمره بچے وُو ، دیوولسو کالو عُمر یے وُو ، په دے وجه سره دخواهشه په اولنو جنګونو یعنی بدر وغیره کښې ورته دشریکید و اجازت اُونهٔ شو۔ دهجرت نه پنځه کاله ړومبے دشپږ و کالو په عُمر کښې یتیم شوے وُو۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام دهجرت نه پس مدینے منورے ته اُورسیدهٔ۔ نو خلکه چه نورخلق خدمت کښې

حاضریدل او دبرکت حاصلولو دپاره یے ئی هم ځان سره راوستل. زید رضی اللہ عنہ هم خدمت کښ حاضر کړے شو. زید رضی اللہ عنہ وائی چه کله زهٔ د نبی علیہ الصلوٰۃ خدمت کښ پیش کړے شوم، نو عرض ورته اُوشو، چه دا د قبیله نجاریو هلک دے. ستاسو دراتلو نه وړاندے دهٔ اُولس سورتونه د قرآنِ پاک یاد کړی دی. نبی علیہ الصلوٰۃ دامتحان دپاره ما ته دویلو ارشاد اُوفرمایهٔ ما ورته سورهٔ ق واؤروله. نبی علیہ الصلوٰۃ زما لوستل خوښ کړل. نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم چه به کوم خطونه یهودیانو ته لیږل، هغه به یهودیانو لیکل. یو ځلے نبی علیہ الصلوٰۃ ارشاد اُوفرمایهٔ چه د یهودیانو په خط وکتابت زما تسلی نشته چه چرته غلط لیکل اُونکړی. ته د یهودیانو ژبه زده کړه. زید رضی اللہ عنہ وائی چه زهٔ په پنځلس ورځو کښ د هغوی په عبرانی ژبه کښ کامل شوم. دے نه پس چه به کوم خط هغوی ته تلو، هغه به هم ما لیکهٔ. او کوم خط چه به د یهودیانو نه راتلو، هغه به هم ما لوستهٔ. یو بل حدیث کښ راغلی دی چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد اُوفرمایهٔ چه ما ته بعضو خلقو ته په سُریانی ژبه کښ خطونه لیکل وی. په دے وجه ما ته یے د سُریانی ژبے زده کولو ارشاد اُوفرمایهٔ. ما په اُولسو ورځو کښ سُریانی ژبه زده کړه. (فتح۔ اصابہ)

⑲ د حضرت حسن رضی اللہ عنہ په وړوکوالی کښ علمی مشغله

د سید السادات حضرت حسن رضی اللہ عنہ پیدایش د اکثرو عالمانو د قول موافق رمضان سنه ۳ھ کښ شوے دے. په دے اعتبار سره د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم د وفات په وخت د دهٔ عُمر اُوهٔ کاله څو میاشتے شو. د اُوهٔ کالو څهٔ عُمر دے چه په هغے کښ علمی کمال حاصل کړے شی. خو سره د دے د حدیث څو روایتونه د دهٔ نه نقل کړے شی. اَبُو الحَوراء رحمۃ اللہ علیہ یو کس دے هغهٔ د حضرت حسن رضی اللہ عنہ نه تپوس اُوکړهٔ چه تا ته د نبی علیہ الصلوٰۃ څهٔ خبره یاده ده، دهٔ اُووئیل، او- زهٔ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم سره تلم. لارکښ د صدقے د کهجورو یو ډیرے لګیدلے وُو. ما د هغے نه یوه کهجوره اُوچته کړه، خولهٔ کښ مے واچوله، نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم کخ کخ (تُوکه تُوکه) اُوفرمایل او

Maktaba Tul Ishaat.com

زما د خولے نه یے را وُویستله - او دا ارشاد یے وُفرمایهٔ، چه مونږ د صدقے مال نهٔ خورو - او ما پتځه واړه مونځونه د نبی علیه الصلوٰة و السلام ته زده کړی دی - (مسند احمد)

حضرت حَسن رضی اللہ عنہ فرمائی چه ما ته په وِترو کښ د لوستلو د پاره نبی علیه الصلوٰة دا دُعا خودلے وه - اَللّٰهُمَّ اهْدِنِیْ فِیْمَنْ هَدَیْتَ وَعَافِنِیْ فِیْمَنْ عَافَیْتَ وَتَوَلَّنِیْ فِیْمَنْ تَوَلَّیْتَ وَبَارِكْ لِیْ فِیْمَآ اَعْطَیْتَ وَقِنِیْ شَرَّمَا قَضَیْتَ فَاِنَّكَ تَقْضِیْ وَلَا یُقْضٰی عَلَیْكَ اِنَّهٗ لَا یَذِلُّ مَنْ وَّالَیْتَ تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَیْتَ - (ترجمه) "اے الله! ما ته هدایت اُوکړے د هغو نه چه چا ته تا هدایت کړے دے - او ما ته عافیت (صحت) راکړے په هغے خلقو کښ چه چا ته تا عافیت ورکړے دے - او تهٔ زما د کارونو مُتَوَلّی (ذمه دار) جوړ شے - څنګه چه د نورو ډیرو خلقو مُتولی یے - او کوم څهٔ چه تا ما ته راکړی دی په هغے کښ برکت واچوے - او کوم څهٔ چه تا مُقدّر (قسمت) کښ لیکلی دی، د هغے د بدئ نه ما بچ کړے - تهٔ چه څهٔ غواړے کولے شے - ستا خلاف هیڅوك هم فیصله نهٔ شی کولے - او چه د چا تهٔ مدد ګار یے، هغه هیڅ کله ذلیله کیدے نهٔ شی - ستا ذات برکت والا دے او د ټولو نه اُوچت دے"۔ حضرت حَسن رضی اللہ عنہ فرمائی چه ما د نبی علیه الصلوٰة نه واؤریدل چه څوك د سحر د مانځهٔ نه پس نمر ختلو پورے هم هغه ځائ ناست وی، هغه به د دوزخ د اور نه خلاصے بیا مومی - حضرت حَسن رضی اللہ عنہ څوځوُنه بیدل اُوکړهٔ - او ارشاد یے وُفرمایهٔ چه ما ته له دے نه شرم را ځیٔ، چه د مرګ نه پس الله تعالیٰ سره یو ځائ شم، او د هغهٔ کور ته په خپلو خپونهٔ یم تلے - پرېرهیزګاره او پرهیزګاره وُو - مُسْنَدِ اَحْمد کښ کثیر روایتونه د دهٔ نه نقل کړے شوی دی - او صاحبِ تَلْقِیح هغے صحابوکښ د دهٔ ذکر کړے دے - د چا نه چه دیارلس حدیثونه روایت کولے شی - د اُوُو کالو عمر څهٔ دے - د هغے وخت دومره حدیثونه یاد ساتل او نقل کول د حافظے کمال دے، او د شوق انتها ده - افسوس دے چه مونږ خلق خپلو بچونه اُوُو کالو پورے د دین

معمول غوندے بے خبرے هم نهٔ بنایؤ۔

(۲۰) د حضرت حسین رضی اللہ عنہ په وړوکوالی کښې علمی مشغله

سید السادات حضرت حُسین رضی اللہ عنہ د خپل رور حضرت حَسَن رضی اللہ عنہ نه یو کال کشر وو۔ په دے وجه دهٔ عُمر د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم د وفات په وخت نورهم کم وو، یعنی شپږ کاله او دڅو میاشتو وو۔ د شپږ وکالو لونګے په ځهٔ د دین خبرے محفوظ اُوساتی۔ خود حضرت حُسین رضی اللہ عنہ روایتونه د حدیث په کتابونو کښې نقل کړے شی۔ او محدثینو په هغې ړله کښې دده شمار کړے دے، دچا نه چه اتهٔ حدیثونه نقل دی۔ حضرت حُسین رضی اللہ عنہ فرمائی چه ما د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه واوریدل چه چا مسلمان تاریته یا زنانه ته څهٔ مصیبت اُورسی، بیا هغهٔ ته ډیره موده پس را یادشی۔ او په یاد راتلو بیا هغه اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَیۡهِ رٰجِعُوۡنَ ؕ اُووائی نو هغهٔ ته د هغه وخت هم هغه هومره ثواب رسی، څومره چه د مصیبت په وخت رسیدلے وو۔ دا هم د نبی علیہ الصلوٰۃ ارشاد دے چه زما اُمت کله په کشتئ کښې سوریږی او د سوریدو په وخت کښې بِسۡمِ اللّٰهِ مَجۡرٖىهَا وَمُرۡسٰىهَا اِنَّ رَبِّیۡ لَغَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ ؕ وُوائی۔ نو دا د ډوبیدو نه د اَمن ذریعه ده۔ حضرت حُسین رضی اللہ عنہ پنځو یشت حجونه پیدل کړی دی۔ د روژو مونځونو به یے هم ډیر زیاتوالے کولو۔ او په صدقه او ددین په هر کار کښې به یے ډیر اهتمام کولو۔ رَبیعَه رضی اللہ عنہ وائی چه ما د حضرت حُسین رضی اللہ عنہ نه تپوس اوکړو چه د نبی علیہ السلام څهٔ نوره خبره تاته یاده ده؟ وے فرمایل آو۔ زهٔ په یو کړکئ اُوختلم چه په هغې کهجورے پرتے وے۔ ما د هغې نه یوه کهجوره ما په خوله کښې واچوله۔ نبی علیہ السلام وُفرمایل چه دا وُغورزوه۔ مونږ له صدقه جائز نهٔ ده۔ حضرت حُسین رضی اللہ عنہ نه د نبی علیہ الصلوٰۃ دا ارشاد هم نقل دے چه د سړی د اسلام ښهٔ والے دا دے چه بے کاره کارونه پریږدی۔ (اُسد الغابه، استیعاب) دے نه علاوه نورهم ګڼ روایتونه د دوی نه نقل دی۔

فائده: د دے قسمه واقعات د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ډیر دی چه د

Maktaba Tul Ishaat.com

وړوکوالی واقعات یے د نبی علیه السلام نه نقل کړی دی، او یاد یے ساتلی دی -
محمود بن الرَّبیع رضی الله عنه یو صحابی دے چه دده عُمر د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د وفات په
وخت کښ پنځه کاله وو- دے وائی زۀ به ښۀ ټول عُمر دا خبره هیره نهٔ کړم چه
نبی اکرم صلی الله علیه وسلم زمونږ کور ته تشریف راوړۀ - مونږ کره یو کوهے وو- د هغے د
اوبو نه یے یو کوټ اُوبهٔ د خولے زما په مخ باندے واچولے - (اصابه)

مونږ خلق بچی ګډو وډو فضول خبرو کښ لګوو، د دروغو دروغو قصے
هغوی ته اَوروو- په لغو یا تو کښ یے مازغهٔ پریشانه کوو- کهٔ چرے د الله
والو قصے اُولټوو، هغوی ته یے واورو- او په ځائ د پیریانو دیوانو ته
دویرولو د الله تعالیٰ نه او د هغهٔ د عذاب نه یے اُویروو- او د الله تعالیٰ د
ناراضتیا اَهمیت او هیبت یے په زړهٔ کښ پیدا کړو- نو په دُنیا کښ به هم
د هغوی پکار راشی - او په آخرت کښ خو خامخا ضرور فائده ورکوی - د
وړوکوالی زمانه د یاداشت د قوت زمانه وی - د هغے وخت یاد کړے شوے
هیڅکله نهٔ هیریږی - په دے وخت کښ کهٔ چرے قرآن پاك ورته حفظ
کړے شی، نو نهٔ به څهٔ تکلیف وی نهٔ به وخت لګی - ما د خپل پلار
صاحب نه الله تعالیٰ دِ یے په کور نور کړی ډیر ځلے واوریدل، او د خپل
کور بوډئ کانو نه هم آوریدلی دی چه زما پلار صاحب رحمة الله علیه چه
کله د ټِی نه پریکړے شو، نو یو پاؤ (یعنی څلورمه حصه) د سیپارے یے
یاده وه - او د اُووکالو په عُمر کښ قرآن شریف یے پوره یاد شوے وو- او
هغهٔ د خپل پلار یعنی زما د نیکهٔ صاحب نه په پټه د فارسی هم ډیره
حصه یو ستان سکندر نامه وغیره لوستلی وو- فرمایل یے، چه زما
پلار صاحب د قرآن شریف ختمید و ته پس دا ارشاد فرمایلے وو چه یو
قرآن شریف هره ورځ وایه باقی ټوله ورځ چُهټی - زۀ به د ګرمئ په
موسم کښ د سحر ما ښځه نه پس د مکان په چهت کیناستم - او شپږ
اُوۀ ګهینټو کښ به م قرآن شریف پوره کړۀ - د غرمے ډوډئ به م خوړله
او ماښام ته به خپله خوښه به م فارسی ویله - شپږ ومیا شتو پورے
پرله پسے هُم دا معمول وو- شپږ میاشتو پورے هره ورځ یو قرآن مجید

لوستل، بیا هغې سره نور سبقونه هم ویل او دا هم د اُوُو کالو په عمر کښ څهٔ معمولي خبره نهٔ ده۔ هم ددې دا فائده وه، چه قرآن شریف کښ مُتشابه غلطیدل یا هیریدل یې آورو پیژندلهٔ نه۔ چونکه ظاهری کن اره یې د کتابونو په تجارت وه، او د کتب خانې ډیر کارونه به یې په خپل لاس سره کول۔ په دې وجه دا سې هیڅ کله هم نهٔ دی شوی، چه په لاس سره د کار کولو په وخت په ژبه یې تلاوت نهٔ کولو۔ او کله کله دِې سره مونږ خلقوته چا چه به دمد رسې نه څُد اسبقونه ویل، سبقونه به یې هم راته خودل۔ دا ټنګې درې کارونه به یې په یو وخت کښ کول۔ خود هغهٔ د تعلیم طریقه مونږ خلقو سره هغه نهٔ وه، کومه چه دمد رسې د سبقونو وه۔ او د عام مدارسو مُروّجه طریقه ده، چه ټول بوجه د اُستاذ په ذمه وی۔ بلکه د خاصو طالبانو سره دا طریقه وه چه شاګرد به عبارت وائی ترجمه به کوی مطلب به بیانوی، کهٔ چرې هغه مطلب به صحیح وُو، نو "مخکښ ځه" به یې وُفرمایل او کهٔ غلط به وُو، نو کهٔ چرې غلطی به د زور نې قابله وه نو زور نه به یې وُفرمایله۔ او کهٔ د خودنې قابله به وه، نو اُوبه یې خود له۔ دا د زړې زمانې قصه نهٔ ده، هم ددې صدئ واقعه ده۔ په دې وجه دا نهٔ شی ویلې چه د صحابه کرامو په شان طاقتونه او همتونه اُوس د چرته نه راوړې شی۔

دولسم باب

دنبی اکرم ﷺ سره د محبّت واقعات

اګرچه خومره قصې اُوسه پورې نقل کړې شوی دی، هغه ټولې د محبت نمونې دی چه محبت ددې حضراتو د عاشقانه ژوند سبب وُو۔ چه د هغې په وجه یې نهٔ د ځان پرواه وه نهٔ د ژوند تمنا۔ نهٔ د مال خیال وُو، نهٔ د تکلیف خوف، نهٔ د مرګ نه یره۔ دې نه علاوه محبت د حکایت خیز هم نهٔ دې۔ دا دیو مزې حالت دې چه د الفاظو او د

Maktaba Tul Ishaat.com

عبارتونو نه پورته دے۔ محبت یو داسے څیز دے چه په زړهٔ کښې ځائ ونیسي، نو محبوب لره په هر څیز باندے غالب کوی۔ نهٔ بیا دهغهٔ مخکښې ننګ و ناموس څهٔ څیز وی۔ نهٔ عزت او شرافت څهٔ شے وی۔ الله جل شانهٔ په خپله مهربانئ او دخپل محبوب په وسیله خپل او دخپل پاك رسول صلی الله علیه وسلم محبت را نصیب کړی۔ نو هر یو عبادت کښې لذت دے۔ او ددین هر یو تکلیف کښې راحت دے۔

(۱) دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دِ اسلام اعلان او تکلیف

د اسلام په شروع کښې چه به څوك مسلمانیدهٔ۔ هغهٔ به ترخپله وَسه پورے خپل اسلام پټ ساتهٔ۔ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم له خوا به هم په دے وجه چه دوی ته دکافرانو نه تکلیف اُونهٔ رسی، د پټولو ترغیب کیدلو۔ کله چه د مسلمانانو شمار یو کم څلویښتو ته وُرسیدهٔ۔ نو حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د ښکاره کولو درخواست اُوکړهٔ، چه ښکاره په ښکاره به څرګنده تبلیغ اوکړے شی۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اول انکار اُوکړهٔ، خو د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په اِصرار یے قبوله کړه، او دا ټول حضرات یے ځان څخه واخستل، دکعبے جُمات ته یے تشریف یوړهٔ۔ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه تبلیغی خطبه شروع کړه، دا دټولونه رومبئ خطبه ده، کومه چه په اسلام کښې اُوویلے شوه۔ او د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ترهٔ سَیِّدُ الشُّهَدَاءِ حضرت حَمزه رضی الله عنه هم په دغے ورځ اسلام را وړے وُو۔ او دهغهٔ نه درے وُرځے پس حضرت عُمر رضی الله عنه په اِسلام مشرّف شوے دے۔ دخطبے شروع کول وُو چه څلور وارو طرفو ته کافران او مشرکان په مسلمانانو ورځپله شو۔ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه یے هم سره ددے چه مکه مکرمه کښې عام طور دهٔ عظمت او شرافت منلے شوے وُو، دومره یے وُوَهلهٔ چه ټول مخ مبارك یے په وینو کښې ډك شو۔ پوزه غوږونه ټول دوینو نه رنګ بنګ شو۔ پیژندلے نهٔ شو۔ په پیڼرو او لتو یے اُووَهلهٔ۔ په خپو یے اُوکرزول او چه څهٔ نهٔ کول وُو، ټول هر څهٔ یے ورسره وُکړل۔ حضرت ابوبکر

صدیق ؓ بې هوشه شو۔ بنوتَیم یعنې دحضرت ابوبکر صدیق ؓ دقبیله
خلقوته خبر اُوشو، هغوی دهغه ځائ نه رااُوچت کړهٔ راپسې وُړهٔ۔ هیڅ چا
ته په دې کښې شک نهٔ وُو (بلکه یقین وُو) چه ابوبکر صدیق ؓ ددې
دځناورو په شان حملې نه ژوندې نهٔ شي پاتې کیدې۔ بنوتَیم جُمات
ته راغلل، او اعلان یې اُوکړهٔ، چه دحضرت ابوبکر صدیق ؓ که چرې
دې واقعه کښې وفات اُوشو، نو مونږ به ددهٔ په بدله کښې عُتبه بن ربیعه
قتل کړو۔ عُتبه دحضرت ابوبکر صدیق ؓ په وهلو کښې ډیر زیات
دبدبختئ اظهار کړې وُو۔ ماښامه پورې حضرت ابوبکر صدیق ؓ
بې هوشه وُو۔ سره دَ آوازونو ورکولو دوینا یا دخبرې کولو موقع نهٔ راتلهٔ۔
ماښام ته آوازونو ورکولو باندې یې خبرې اُوکړې۔ نو دټولو نه ړومبئ
خبره یې داوه چه دنبي اکرم ﷺ څهٔ حال دې؟ خلقو په دې ډیر
ملامته کړو، چه دهغهٔ سره دکیدو په وجه درَنه دا مصیبت پیښ شو،
اوټوله ورځ دمرګ په خُولهٔ کښې وې، اوچه خبره دِ اُوکړه، نو هغه هم
دحضورؐ جذبه او دهغهٔ شوق۔ خلق ترې پاسیدل لاړل چه تالګي وه
او دا هم چه آخر څهٔ ساه باقي ده، چه خبره یې اُوکړه (نو بیا هم هغه
زورسبق دنبي علیه الصلوٰة میته) ددوی مور اُمِّ خَیر ته یې اُووې، چه ددهٔ
دخوراک څکاک دپاره څهٔ اِنتظام اُوکړه، هغې څهٔ تیار کړهٔ، راپسې وُړهٔ او په
خوړلو یې اِصرار وُکړهٔ۔ خو دحضرت ابوبکر ؓ هم هغه یو آواز وُو، چه
دنبي علیه الصلوٰة څهٔ حال دې؟ په هغوی څهٔ تیر شو۔ ددوی مور اُووې چه
ماته خو خبر نشته، چه څهٔ حال دې۔ دوی ورته وُفرمایل چه اُمِّ جمیل
ؓا (دحضرت عُمر ؓ خور) ته لاړه شه، پوښتنه ترې اوکړه چه
څهٔ حال دې۔ هغه غریبه دځوئ ددې مظلوما نه حالت او دپریشانئ
درخواست پوره کولو دپاره اُمِّ جمیل ؓا ته لاړه، او دمحمد ﷺ د
حال پوښتنه یې ترې وُکړه۔ هغې هم دعام دستور موافق دغې وخته
پورې خپل اسلام پټ ساتلې وُو۔ وې ویل چه څهٔ څهٔ پیژنم، څوک
محمد (ﷺ) او څوک ابوبکر صدیق (ؓ) ستا دځوئ حالت چه

Maktaba Tul Ishaat.com

م واوریدۀ خفه شوم - کۀ چرته تۀ واپسے نو تاسره به لاړه شم، چه هغۀ حالت وُوینم - اُمّ خیر قبوله کړه، هغې سره راغله، او د حضرت ابوبکر رضی الله عنه حالت یې چه اُولیدۀ، برداشت یې اُونکړے شو، بے اختیاره په ژړا شوه چه بدعملو یے څۀ حال کړے دے - الله تعالیٰ دِ هغوی ته د خپلو کړو سزا ورکړی - حضرت ابوبکر رضی الله عنه ترے تپوس اُوکړۀ، چه د نبی علیه الصلوٰة څۀ حال دے؟ اُمّ جمیل رضی الله عنها د حضرت ابوبکر رضی الله عنه مور طرف ته اِشاره وُکړه، وِے ویل چه دا آوری - دوی ورته وُفرمایل چه د دوی نه مۀ ویریږه - نو اُمِّ جمیل رضی الله عنها ورته خیریّت واوُرؤلو - عرض یے وُکړۀ چه بالکل روغ جوړ دے - دوی تپوس وُکړۀ چه دا وخت کوم ځائ دے؟ هغې عرض وُکړۀ، چه د اَرقم رضی الله عنه په کور کښ دے - دوی وُفرمایل چه زما دِ په الله تعالیٰ قسم وی چه د هغۀ وخته پورے به هیڅ خوراك اُوڅکاك اونکړم، ترڅو چه د نبی علیه الصلوٰة زیارت اونکړم - د دوی مور خو ناقلاره وه، چه دَے څۀ اُوخوری - او دوی قسم اُوخوړ، چه ترڅو پورے زیارت وُنۀ کړم، هیڅ به نۀ خورم - په دے وجه مور یے د دے انتظار اُوکړۀ چه د خلقو نلل راتلل بند شی، هسے نه چه څوك یے اُوینی اَوڅۀ تکلیف ورته وُرسَوی - هرکله چه د شپے ډیره حصه تیره شوه نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه یے واخست - د نبی علیه الصلوٰة خدمت کښ د اَرقم رضی الله عنه کورته اُورسیدل - حضرت ابوبکر رضی الله عنه نبی علیه الصلوٰة ته ورترغاړه شو او نبی علیه الصلوٰة هم ورترغاړه شو - دوی هم وُژړل او مسلمانان هم په ژړا شو، ځکه چه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه حالت د لیدو نۀ وُو - دے نه پس حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه درخواست وُکړۀ چه دا زما مور ده - تاسو دوی د پاره د هدایت دُعا اُوکړئ، او دوی ته د اسلام تبلیغ هُم اُوکړئ نبی اکرم علیه الصلوٰة ورته اول دُعا وُکړه، دے نه پس یے د اسلام ترغیب ورکړۀ هغه هم د غه وخت مسلمانه شوه - (خمیس)

فائده: د عیش او عشرت، د نشاط او فرحت (خوشالئ) په وخت د محبّت دعوے دار په سوُونو وی - محبّت او عشق هغه دے کوم چه

د مصیبت او د تکلیف په وخت هم باقي وي.

(۲) د حضرت عُمر رضی الله عنه د نبي علیه الصلوٰة والسلام په وفات غم

حضرت عُمر رضی الله عنه سره د دې مثالي قُوت، شجاعت، زړه ورتیا او بهادرۍ کوم چه ئې د دیارلس نیم سوه کالونه پس هم دُنیا کښې مشهوره ده. او سره د دې چه د اسلام ښکاره کیدل هُم د حضرت عُمر رضی الله عنه اسلام راوړلو سره اُوشو، چه مسلمانیدو نه پس یې دخپل اسلام پټول خوښ نکړه. د نبي علیه الصلوٰة والسلام سره د محبّت یو ادنیٰ غونډې نمونه یې دا ده چه سره د دې خپلې بهادرۍ د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د وفات حالت یې برداشت نکړې شو، او د سختې حیرانئ او پریشانئ په حالت کښې یې تُوره په لاس کښې واخسته اُودریده چه څوك دا اُووائي چه د نبي علیه الصلوٰة والسلام وفات شوې دې، نو د هغه سر به اُلوزوم. نبي اکرم صلی الله علیه وسلم خوخپل رب ځخه تشریف وړې دې. څنګه چه موسیٰ علیٰ نبیّنا و علیه الصلوٰة والسلام طور یاندې تشریف اُوړې وُو. ډیر زر به نبي علیه الصلوٰة والسلام واپس تشریف راوړي، او د هغې خلقو لاسونه خپې به پریکوي څوك چه د نبي علیه الصلوٰة والسلام د وفات غلط خبر خوَروي. حضرت عُثمان رضی الله عنه گُم صُم وُو چه د دویمې ورځې پورې یې بالکل آوازنهٔ وَتلو. گرزیدهٔ راګرزیدهٔ به خو خبرې یې نهٔ شوې کولې. حضرت علي کرم الله وجهه چُپ چاپ ناست پاتې شو چه حرکت یې هم بدان نهٔ کولو. صرف یو د ابوبکر رضی الله عنه ذات وُو چه دغه وخت دغرپه شان وَلاړ وُو، او هرڅهٔ یې برداشت کړهٔ. او سره د هغې محبت کوم چه ړومبئ قصه کښې تیر شو، دغه وخت یې ډیر په سکون آرام تشریف راوړهٔ. اول یې د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم تن د مبارك خکُل کړهٔ، او بیا یې تشریف راوړهٔ، حضرت عُمر رضی الله عنه ته یې اُووې کینه. دې نه پس یې خُطبه وُویله چه د هغې حاصل دا وُو چه چا د محمد صلی الله علیه وسلم عبادت کولو، هغه دې پوهه شي چه نبي علیه الصلوٰة والسلام وفات شو. خو څوك چه د الله تعالیٰ عبادت کوي. هغه دې پوهه شي چه الله تعالیٰ ژوندې دې. او همیشه دې. دې نه پس یې د قرآن پاك آیت وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ج قَدْ خَلَتْ مِنْ

قَبۡلِهِ الرُّسُلُ ط اخیره پورے پے تلاوت وُفرمایهٔ۔ (خمیس) (ترجمه) محمد (صلی الله علیه وسلم) صرف رسول خودے (الله خونهٔ دے چه پرِ مرلۀ وغیره نهٔ راځی) پس کهٔ چرے ددوی وفات وُشی، یا دوی شهید شی، نو ایا تاسو خلق به واپس پیرته کرزئ۔ آو څوك چه واپس وُګرزی، نو دالله تعالیٰ هیڅ نقصان نهٔ شی کولے رځپل نقصان به کوی) او الله تعالیٰ به زر بدلــه ورکړی حق پیژندونکو خلقوته۔ (بیان القرآن)

فائده: چونکه الله جل شانهٔ ته دحضرت ابوبکر رضی الله عنه نه دخلافت اهم کار اخستل وُو۔ دے دپاره دهغوی شایانِ شان دغه وخت هم داحال مُناسب وُو۔ په دے وجه دغه وخت څومره قدرے استقلال او برداشت حضرت صدیق کښ وُو، هیچا کښ نهٔ وُو۔ او دے سره څومره قــدرے مسئلے چه ددفن او دمیراث وغیره ددے وخت مناسب حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه ته معلومے وے، دا نورو لے پوره هیچا ته معلومے نهٔ وے۔ دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دفن کښ اختلاف وُشو، چه مکه مکرمه کښ دفن کړے شی یا مدینه منوره کښ یا بَیۡتَ الۡمُقَدَّس کښ۔ نو حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وُفرمایل چه ما دنبی علیه الصلوٰة والسلام نه اوریدلی دی چه دنبی قبر هم هغــه ځائ وی کوم ځائ چه دهغهٔ وفات وُشی۔ په دے وجه کوم ځائ چه وفات شوے دے هم دغه ځائ دِ قبر اُوکنستلے شی۔ دوی وُفرمایل چه ما دنبی علیه الصلوٰة والسلام نه اوریدلی دی چه زمونږ خلقو (یعنی انبیاؤ) څوک وارث نهٔ کیږی هر څهٔ چه مونږ پریږدو، هغه صدقه وی۔ دوی وُفرمایل ما دنبی علیه الصلوٰة والسلام نه آوریدلی دی څوك چه دمسلمانانو دحکومت متولی (یعنی انتظام کونکے) جوړشی، او هغه په لاپرواهئ سره کوتاهی اُوکړی بل څوك امیر جوړکړی په هغهٔ دِ لعنت وی۔ بله دا چه دنبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد دے چه قُریش ددے امر یعنی سَلطنت مُتولیان دی۔ وغیره وغیره

(۳) دیوزَنانه دنبی علیه الصلوٰة والسلام دخبر دپاره بے آرامه کیدل

داُحد په غزا کښ مسلمانانو ته تکلیف ډیر وُرسیدهٔ او شهیدان

هم ویر شو۔ مدینے منورے ته چه دا هیبت ناك خبر اُورسیدهٔ ، تو زنانه پریشانه دحالاتو معلومولو دپاره دکورونو نه راأووتلے ۔ یو انصاری زنانه گنړه وُلیدهٔ، نو یے قراری کښې یے ترے تپوس اُوکړه، چه نبی علیه الصلوٰة خنګه دے؟ دغے گنړے ته چا اُوویل، چه ستا پلار شهید شوے دے ۔ هغے اِنّا لِلّٰهِ اُوویلے ۔ بیا یے په بے قراری کښې د نبی علیه الصلوٰة دخیریت پوښتنه اوکړه ۔ دے کښې چا ورته دخاوند د شهادت خبر واؤرَولو ۔ اوچا ورته دخوئ او چا ورته د رور، چه دا ټول شهیدان شوی دی، خو هغے تپوس اوکړهٔ، چه نبی علیه الصلوٰة خنګه دے؟ خلقو جواب ورکړهٔ چه نبی علیه الصلوٰة په خیریت دے تشریف راوړی، په دے یے تسلی اُونهٔ شوه، وے ویل چه ما ته وُښایئ کوم ځائ دے؟ خلقو ورته په اِشاره اُوخودلو چه په هغه گنړه کښې دے د په منړه لاړه، او څپلے سترګے یے د نبی علیه الصلوٰة په لید دِښځے کړے، او عرض یے وُکړهٔ، اے د الله رسوله! ستا د لیدو نه پس هر یو مصیبت کم او معمولی دے ۔ یو روایت کښې راغلی دی، چه د نبی علیه الصلوٰة جامه یے اُونیوله، عرض یے اوکړه چه اے د الله رسوله! زما مور او پلار دِ پتا سو قربان وی، هر کله چه تا سو ژوندی او سلامت یئ، نو ما ته د هیچا د مرګ پرواه نشته ۔ (خمیس)

فائده: د دے قسمه ډیرے قصے په دے موقع پیښے شوی دی ۔ په دے وجه مؤرخینو په نوموتو کښې اختلاف هم کړے دے ۔ خو صحیح دا ده چه د دے قسمه واقعے څو زنا نو ته پیښے شوی دی ۔

⑭ په حُدیبیه کښې د ابوبکر صدیق او مُغیره رضی الله عنهما کار او د عامو صحابه کرامو رضی الله عنهم طرز عمل

د حُدَیبیه مشهور جنګ ذی قعده سنه ۶ هـ کښې اُوشو ۔ کله چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د صحابو یو لوئ جماعت سره د عُمرے په اِراده تشریف اُوړهٔ د مکے کافرانو ته خبر اُورسیدهٔ ۔ نو خپل مینځ کښې یے مشوره اوکړه، او دا یے فیصله اُوکړه، چه مسلمانان دِ مکے ته را تلو نه منع کړے شی ۔ دے

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاره یې ډیره زیاته تیاري اُوکړه، او د مکې نه علاوه د بهر خلق یې هُم د خپل مدد دپاره راأوبلل، او لویه مجمع یې د مقابلې دپاره تیاره کړه، دذُو الحُلَیفه نه نبي اکرم ﷺ یو صاحب د حالاتو معلومولو دپاره اُولیږهٔ، چه د مکې نه د حالاتو تحقیق اُوکړي، او عُسفان کښې نبي اکرم ﷺ سره مُلاقات اُوکړي. هغهٔ عرض وُکړهٔ چه د مکې خلقو د مقابلې دپاره په لوئ تعداد کښې تیاري کړې دے، او د بهر نه یې هم ډیر خلق د مدد دپاره راغوختلي دي. نبي ﷺ د صحابو سره مشوره اُوکړه چه دا وخت څهٔ کول پکار دي. یو طریقه دا ده چه کوم خلق د بهر نه مدد دپاره راغلي دي، د هغوي په کورنو حمله اوکړے شي. کله چه هغوي خبر واوُري، نو د مکې نه به واپس راشي. دویمه طریقه دا ده چه نیغ څُو. حضرت ابوبکر رضی عرض وُکړهٔ، چه اے د الله رسوله! دا وخت تاسو د بیت الله په اراده تشریف راوړے دے، د جنګ اراده خو اَوو د سره نهٔ وه. په دے وجه په مخکښې به څو. کهٔ چرے هغوي مونږ منع کړي نو مقابله به کوُو، کنې نو نه. نبي ﷺ دا قبوله کړه، او په مخکښې روان شول، حُدَیبیه ته چه اُورسیدل، نو بُدَیل بن وَرقاء خُزاعي یو جماعت سره راغے، او نبي ﷺ ته یې ددے ذکر اوکړهٔ چه کافران تاسو هیڅکله د مکې داخلیدو ته نهٔ پریږدي، هغوي جنګ ته تیار دي. نبي ﷺ ارشاد وُفرمایهٔ چه مونږ د جنګ دپاره نهٔ یو راغلي. زمونږ مقصد عُمره کول دي. او قریشو ته روزانه جنګونو ډیر نقصان رسولے دے، بالکل یې هلاک کړي دي، کهٔ چرے ددوي رضا وي، نو زهٔ ورسره صلح کولو ته تیار یم. چه زما او ددوي په مینځ کښې به په دے مُعاهده وي چه ماسره به دوي مُقابله نهٔ کوي، او زهٔ به دوي سره غرض نهٔ لرم. ما د نورو ته پریږدي. او کهٔ چرے دوي په هیڅ څیز نهٔ راضي کیږي، نو په هغه ذات م د قسم وي، د چا په قبضه کښې چه زما ساه ده، چه زهٔ به تر هغه وخته دوي سره جنګیږم چه اسلام غالب شي، یا زما سټ پریکړے شي. بُدیل عرض وُکړهٔ چه دیر د بنه ده. زهٔ ستاسو پیغام هغوي ته

رَسَوُم، هغه واپس شو او پیغام یے اُورَسَوُو. خو کا فران راضی نهٔ شول. دا رنګے د دوا ړو طرفو نه د تلو راتلو سلسله جاری وه چه په کښ یو وار یے عُروَه بن مسعود ثقفی د کافرانو له طرفه راغے چه ترد غے وخته پورے مسلمان شوے نهٔ وُو، روستو بیا مسلمان شو. نبی علیه الصلوٰة دهٔ سره هم هغه خبرے آترے اُوکړے، کومے چه یے بُدَیل سره کړے وے. عُروَه عرض اوکړهٔ، اے محمده! (صلی الله علیه وسلم) کهٔ چرے تهٔ دا غوا ړے چه د عربو بالکل خاتمه اُوکړے، نو دا ممکنه نهٔ ده. تا به هیڅکله دا نهٔ وی اوریدلی، چه لتا نه رومبے څوك دا سے کس تیر شوے وی، چه هغهٔ عرب بیخی فنا او ختم کړی وی. او کهٔ چرے دویم حالت اُوشو چه دوی په تا غالب شو. نو یاد ساته، چه زهٔ تا سره د شریفانو ډله نهٔ وینم. دا د آخوا دِیخوا رذیل خلق تا سره دی. کهٔ مصیبت راشی، نو دا ټول به درته اُوتختی. ابوبکر صدیق رضی الله عنه ولاړ وُو، دا خبره یے چه واوریده، د غُصے نه ړك شو، او وے ویل، چه تهٔ د خپل معبود "لات" د مُتیا زوځائ اُوخټے. ایا مونږ به د نبی علیه الصلوٰة نه اُوتختو. او دوی به یوا ځے پریږدُو. عُروه تپوس اُوکړهٔ چه دا څوك دے؟ نبی علیه الصلوٰة وُفرمایل، ابوبکرؓ دے. عُروه حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته مخ را واړوُو، وے ویل، چه ستا یو زوړ احسان په ما پورے دے، چه د هغے بدله ما ادا کړے نهٔ ده، کهٔ چرے د هغه نهٔ وَے، نو دے کنځلو جواب به مِ درکړے وُو. دا یے اُووے او عُروَه بیا نبی علیه الصلوٰة سره خبرو کښ مشغول شو. او د عربو د عا دے قاعدے مطابق په خبرو کولو کښ یے د نبی علیه الصلوٰة ږیرے مبارکے ته لاس لګولو. چه د خوشامندے په موقع ږیرے ته په لاس اُوړو خبرے کیږی. صحابو دا خبره کله برداشت کولے شوه. د عُروه وُراره د حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه په سر داُوسپنے تو پئ وه اَو وَسله یے لګولے وه، ورتخته ولاړ وُو. د تورے په مُوتئ یے د عُروه لاس اُووَهلهٔ چه لاس لرے ساته. عروه تپوس اوکړهٔ چه دا څوك دے؟ نبی علیه الصلوٰة وُفرمایل چه مُغیره. عروه اُووے اے غدَّاره! ستا غدَّاری تراُوسه پورے برداشت کوم. او ستا ما

Maktaba Tul Ishaat.com

سره د اسلوك - (حضرت مُغیره بن شُعبه رضی الله عنه د اسلام نه وړاندے څو کافران قتل کړی وُو چه د هغے دِیّت یعنی خون بَها عروه ادا کړے وه هغے طرف ته اِشاره وه) غرض دا چه عُروه اُوریدے خبرے اَترے نبی علیه الصلوٰة سره کولے - او د ستر کو لاندے به یے د صحابه کرامو رضی الله عنهم د حالاتو اندازه هم اخستله - کله چه واپس لاړهٔ - کافرانو ته یے اُووے چه اے قریشو! زهٔ لویو لویو بادشاهانو ته تلے یم - د قیصر او کِسرٰی او د نجاشی دربارونه م هم لیدلی دی، او د هغوی آداب م هم لیدلی دی - په الله م دِ قسم وی ما هیڅ یو بادشاه نهٔ دے لیدلے چه د هغهٔ ملګری د هغهٔ دومرهٔ تعظیم او قدر کوی، څنګه چه د محمد صلی الله علیه وسلم ملګری د دهٔ تعظیم کوی - کهٔ چرے هغه لاړے تُوکی نو د چا په لاس چه پریوزی هغه یے په بدن او مخ مږی - کوم خبره چه د محمد (صلی الله علیه وسلم) د خولے نه اُوزی د هغے پوره کولو د پاره ټول منډے وَهی - د هغهٔ د اَودا سهٔ اوبو اَخستلو د پاره خپل مینځ کښ لاسونه اَچَوی، ز مُکے غورزیدو ته یے نهٔ پریږدی - کهٔ چرے چا ته څاڅکے اُونهٔ رسی، نو هغه د بل لُوند لاس باندے خپل لاس اُومګی، په خپل مخ یے راکاږی - د هغهٔ مخکښ کهٔ خبرے کوی نو ډیرے په رواوازسره کوی، په زوره خبرے نهٔ کوی - هغهٔ طرف ته نظر د ادب په وجه نهٔ اُوچتوی - او کهٔ د هغهٔ د سَر یا د ږیرے وِیخته پریوزی نو هغه د برکت د پاره اُوچتوی، او د هغے تعظیم او احترام کوی - غرض دا چه ما هیڅ جماعت خپل آقا سره داسے محبت کونکے نهٔ دے لیدلے - څومره چه د محمد (صلی الله علیه وسلم) جماعت هغهٔ سره محبت کوی - د دے دوران کښ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم حضرت عُثمان رضی الله عنه لره د خپل طرفه قاصد جوړ کړهٔ، او د مکے سردارانو ته یے اُولیږهٔ - حضرت عُثمان رضی الله عنه سره درے چه مسلمان وُو، خو مکه کښ یے ډیر عزت وُو، او د دهٔ متعلق زیاته ویره نهٔ وه، ځکه یے دے تجویز کړهٔ، دهٔ تشریف یوړهٔ - نو صحابو رضی الله عنهم ارمان اوکړهٔ چه عثمان رضی الله عنه به په مزه د کعبے طوافونه کوی - نبی علیه الصلوٰة وُفرمایل چه زما اُمید نشته چه هغه به زمانه بغیر طواف اوکړی

ځکه چه عثمان رضی الله عنه مکه کښې داخل شو، نو اَبان بن سعید هغه پخپله پناه کښې واخست، او دا ئې ته یې اُووې چه کوم ځائې دِ زړهٔ غواړی ګرځه راګرځه، تاسو څوک منع کولے نهٔ شي. حضرت عثمان رضی الله عنه ابو سفیان وغیره د مکے سردارانو سره مُلاقاتونه اُوکړل، او د نبي علیه الصلوٰة والسلام پیغام یې وُرسولو، کله چه واپس کیدهٔ، نو کافرانو په خپله ورته اُووے چه ته مکے ته راغلے یې، نو طواف وُکړه بیا ځه. دهٔ جواب ورکړهٔ چه نبي اکرم ﷺ خو دِ منع کړے شوے وی، او زهٔ دِ طواف اُوکړم. قُریش په دے جواب غُصه شو. او په دے وجه یې حضرت عثمان رضی الله عنه ایسار کړهٔ. مسلمانانو ته خبر اُورسیدهٔ، چه شهید یې کړهٔ. په دے نبي اکرم ﷺ د صحابو نه تر آخری ساه پورے په جنګ بیعت واخست. هرکله چه کافرانو ته دا خبر اُورسیدهٔ، نو اُیرېدل او حضرت عثمان رضی الله عنه یې زر پرېخودهٔ. (خمیس)

فائده: د دے قصه کښې د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ارشاد او د حضرت مُغیره رضی الله عنه وهل، د صحابه کرامو رضی الله عنهم عام طرز عمل چه هغه عُروه پرېرپه غور اُولیدهٔ. دارنګے د حضرت عُثمان رضی الله عنه د طواف نه اِنکار هره یوه واقعه دا سے ده چه د نبي علیه الصلوٰة والسلام سره د بے انده اِزے عشق او محبت خبر ورکوی. دا بیعت کوم چه په دے کښې ذکر دے، بیعة الشجره ورته وائی. قرآن پاک کښې هم د دے ذکر دے. او الله تعالیٰ د سورة فتح ایت لَقَدۡ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ الاٰیة کښې د دے ذکر فرمایلے دے. پوره ایت ترجمے سره پرېرزر خاتمه کښې راځي.

(۵) د حضرت ابن زُبیر رضی الله عنه وِینه څکل

نبي اکرم ﷺ یو ځلے ښکروته وُلګول، او کومه وِینه چه اُووته هغه یې حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه ته ورکړه چه دا چرته ځخه کړه، هغه لاړو او راغے عرض یې وُکړهٔ چه ځخه مِ کړه. نبي علیه الصلوٰة والسلام پوښتنه وُکړه کوم ځائې؟ عرض یې وُکړهٔ ما اُوڅکله. نبي علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل چه د چا بدن ته زما وِینه لاړه شي. هغه د دوزخ اُور نهٔ شي

Maktaba Tul Ishaat.com

مسح کوُلے۔ خوستا د پاره هم دخلقو ته هلاکت دے او خلقو له لتانه (خمیس)
فائده: دنبی علیه الصلاة فضلات لویٔ ورکوتی او دس ماتے وغیره ټول پاك دی، ځکه دے کښ هیڅ اِشکال نشته۔ دنبی علیه الصلاة دے ارشاد مطلب چه هلاکت دے، عُلماؤ لیکلی دی چه سلطنت او امارت طرف ته اِشاره ده۔ چه امارت به وی او خلق به په هغې کښ مخالفت کوی۔ کله چه عبد الله بن زبیر رض پیدا شو۔ هغه وخت نبی علیه الصلاة دے طرفته اشاره فرمایلے وه چه یو ګډ دے دشرمخانو په مینځ کښ۔ دا سے شرمخان چه جامے به یے اغوستے وی۔ بیا یَزید او عَبْدُ الْمَلِك دوا په وسره دحضرت ابنِ زُبَیر رض مشهور جنګ اُوشو او اخر شهید شو۔

⑥ دحضرت مالك بن سنان رض وینه څکل

داُحد په جنګ کښ کله چه دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم مخ مبارك یا سر مبارك کښ دخُود دوه کړیٔ ننوتے۔ نو حضرت ابوبکر صدیق رض په منډه ورمخکښ شو او بل طرف نه حضرت اَبُوعُبَیْدَه رض منډه کړه او مخکښ لاړو۔ او دخُود کړیٔ یے په غاښ راښکل شروع کړۀ، یوه کړیٔ یے را اُویستله، چه په هغې سره یوغاښ دحضرت ابوعُبیده رض مات شو۔ ددے یے پرواه اُونکړه۔ دو یمه کړیٔ یے راخکله، هغې سره دویم غاښ هم مات شو، خو هغه یے هم را اُویسته۔ ددے کړو وَتلو سره دنبی علیه الصلاة د پاك جسم نه وینه وَتل شروع شو۔ نو دحضرت اَبُو سَعید خُدری رض پلار مالِك بن سَنان رض خپلو شونډو سره اُوروُدله۔ اَوتیره یے کړه۔ نبی علیه الصلاة ارشاد وُفرمایه چه دچا په وینه کښ زما وینه یو ځایٔ شوه۔ هغه ددوزخ اُور نهٔ شی مَسَح کولے۔ (قرة العیون)

⑦ دحضرت زید بن حارثه رض خپل پلار ته انکار

حضرت زَیْد بن حَارِثَه رض دجاهلیت زمانه کښ خپلے مور سره د نیا نیکهٔ کره تلو۔ بنو قیس قافله لوټ کړه چه په هغې کښ زید هم وُو دغه

بازارته یې راوست، خرڅ یې کړۀ- حکیم بن حزام دخپلې ترور حضرت خدیجې رضي الله عنها دپاره واخست- کله چه نبي ﷺ سره دحضرت خدیجې رضي الله عنها نکاح اُوشوه، نو هغې زید دنبي اکرم ﷺ خدمت کښې د هَدیې په طور پیش کړۀ- د زید پلار ته د دۀ په جدا ایئ سخت تکلیف اوغم وګو، او یکارهُم وه چه داولاد محبت طبعي څیز دے- دۀ به د زید په جدا ایئ کښې ژړل، آوشعرونه به یې ویل، آوګر زید ۀ به- اکثرچه به یې کوم شعرونه ویل دهغې مختصره ترجَمه دا ده:

"چه زۀ د زید په یاد کښې ژاړم، او دا راته نۀ ده معلومه چه هغه ژوندے دے چه اُمید یې وُکړے شي، یا مَرګ ختم کړے دے؟ په الله تعالیٰ دِقَسم وی ما ته دا هم نۀ ده معلومه چه تۀ اے زیده! نرمې زمکې هلاك کړے یې، یادغرۀ زمکې مړکړے یې- ارمان! ما ته دا معلومه شوے وے چه تۀ به تول عُمر کښې کله واپس راشې کۀ نه- تول دُنیا کښې زما اِنتهائي غرض ستا واپس راتلل دي- کله چه نمر راخیژی نو هم راته زید یادیږي- اوکله چه باران کیږي؛ نو هم دهغۀ یادما زهیَروي- اوکله چه هوا ګانے چَلیږي، نو دهغۀ یاد راته تازه کوي- هائے اِفسوس! زما غم اوزما فکرڅومره اُوږد شو- زۀ به دهغۀ په تلاش اوکوشش کښې تول دُنیا کښې داُوښ تیز رفتاري په کار راولم، اودُنیا چکرلګولو نه به ستړے نۀ شم- کۀ اوښ دتلو نه ستړے شي نو ستړے به شي، خوزۀ به هیڅکله ستړے نۀ شم- خپل تول ژوند به دے کښې تیروُم- هائے اِفسوس! کۀ ماله مرګ راشې- نوخیر دے ځکه چه مرګ هر یو څیز فنا کوي- اګرچه څوك هر څومره امیدونه اولري، خوزۀ به دخپل ځان نه پس په خپلوانو کښې فلانکي فلانکي او اَل اولادته وصیت کوم چه هغوي دِهم دا رنګې زید تلاش کوي-"

خلاصه دا چه هغۀ به دا اشعار ویل، اوپه ژړا ژړا به یې تلاش کولوکښې ګرزیدۀ- اتفاقًا دهغۀ دقوم څوکسان حج ته لاړل، او هغوي زید اُوپیژندۀ- دپلار حال یې ورته واوروُو- شعرونه یې ورته واورؤل

Maktaba Tul Ishaat.com

اودهغهٔ دیاد او دِهٔ اېنې قصې یې ورته واورولې ـ حضرت زید رضی الله عنه دهغوی په لاس درې شعروته ورا اولېږل چه دهغې مطلب داؤ چه زهٔ دلته مکه کښې یم، په خیریت یم، ته غم او فکر مهٔ کوه ـ زهٔ دېر سخیا تو خلقو په غُلامئ کښې یم ـ هغه کسان چه لاړل، دزیدؓ خیر او خبرېې دهغهٔ پلار ته واؤرَوَو، او هغه شعرونه یې واؤرَوَل، چه کوم زیدؓ ویلی وُو ـ اولېږلی یې وُو، آو پته یې ورته اُوخود له ـ دزید پلار آو تره دفدیې رقم خَان سره واخستهٔ، او دغلامئ نه دخلاصولو په نیت مکې مکرمې ته راورسیدل ـ د تحقیق نه پس یې پته وُلګوله ـ او نبی اکرم صلی الله علیه وسلم خدمت کښې حاضر شول او عرض یې وُکړهٔ چه اے دهاشم اولاده! او دخپل قوم سردارهٔ! تاسو خلق دحَرم اُوسیدونکی یئ ـ او دالله تعالیٰ دکور ګاونډیان یئ ـ تاسو په خپله قیدیان ازادوئ ـ اوږوته خوراک ورکوئ ـ مونږه دخپل خوئ په طلب کښې تاسو ته راغلی یُو ـ په مونږه احسان اُوکړه، او کرم اُوکړه، او فدیه قبوله کړه آو هغه ازاد کړه، بلکه چه څومره فدیه وی، د هغې نه زیاته واخلَه ـ نبی علیه السلام وُفرمایل، څهٔ خبره ده؟ عرض یې اُوکړهٔ دزید په طلب کښې مونږ خلق راغلی یُو ـ نبی علیه السلام ارشاد وُفرمایهٔ، بس دومره خبره ده، عرض یې اُوکړو، چه حضور! بس هم دا غرض دے نبی علیه السلام اُوفرمایل هغه راوُغواړئ او هغهٔ نه تپوس اُوکړئ ـ کهٔ چرې هغه تاسو سره تلل غواړی، نو بغیر فدیې آخستلو هغه تاسو ته حواله دے ـ او کهٔ تلل نهٔ غواړی، نو زهٔ په داسې کس زیاتے نهٔ شم کولے چه په خپله تلل نهٔ غواړی ـ هغوی عرض وُکړهٔ چه تاسو دحق نه هم زیات احسان وُفرمایهٔ دا خبره په خوشالئ منظوره ده ـ حضرت زید رضی الله عنه راوُغوختلے شو، نبی علیه السلام ورته وُفرمایل، ته دوی پیژنے؟ عرض یې اُوکړهٔ جی آؤ، پیژنم ـ دا زما پلار دے او دا زما تره ـ نبی علیه السلام وُفرمایل، چه زما حال هم تا ته معلوم دے ـ اوس تا ته اِختیار دے، کهٔ چرې ما سره اُسیدل غواړې، نو ما سره اُوسه کهٔ دوی سره تلل غواړې نو اجازت دے حضرت زید رضی الله عنه عرض وُکړهٔ، چه حضور! زهٔ ستاسو په مقابله کښې نور څوک خوښولے شم ـ تاسو ما دپاره دپلار په ځائې هم یئ او دتره په ځائې هُم ـ

هغې دواړو پلار او تره ورته اُووې چه زيدَه! غلامي دَ ازادئ په بدله کښې خوښوې، او پلار تره او ټول دکور والو په مقابله کښې غلام او سيدال غواړې زيد رضی اللہ عنہ ورته اُووې چه آو۔ ما په دوی کښې (نبي عليه الصلاة طرف ته يې إشاره وُکړه) داسې خبرې ليدلی دی، چه د هغې په مقابله کښې څهٔ هيڅ څيز خوښولې نهٔ شم. نبي عليه الصلاة چه کله دا جواب واوريدهٔ، نو هغه يې په غيږ کښې واخست۔ اُووې فرمايل، چه ما دې خپل ځوئ جوړ کړهٔ۔ د زيد پلار او تره چه دا تماشه اوليده، ډير خوشاله شول او په خوشالئ يې پرېښودهٔ لاړل۔ (خميس)

فائده: حضرت زيد رضی اللہ عنہ دغه وخت ماشوم وُو، دوړو کوالی په حالت کښې ټول دکور خلق خپل خپلوان په غلامئ قربانول چه د کوم محبت پته ورکوی هغه ښکاره دې۔

⑧ دحضرت انس بن نضر رضی اللہ عنہ د اُحد په جنګ کښې عمل

د اُحد په جنګ کښې کله چه مسلمانانو ته شکست کيدلو، نو چا دا خبره مشهوره کړه چه نبي عليه الصلاة شهيد شو. د دې هيبت ناک خبر چه کوم اثر په صحابو کيدو وتلې وُو، هغه ښکاره دې، په دې وجه يې نورې هم زياتې کوړې ماتې شوې. (يعني همت يې اُو بيلهٔ) حضرت انس بن نضر رضی اللہ عنہ روان وُو چه دمهاجرينو او د انصارو په يو ټولګی کښې يې حضرت عُمر او حضرت طلحه رضی اللہ عنہ اُوليدل، چه ټول حضرات پريشان حاله وُو. حضرت انس رضی اللہ عنہ تپوس وُکړهٔ چه دا څهٔ کيږی، چه مسلمانان پريشانه ښکاری. دې حضراتو اُووې چه نبي عليه الصلاة شهيد شو حضرت انس رضی اللہ عنہ اُووې چه بيا د نبي عليه الصلاة نه پس تاسو چه ژوندی پاتې شئ، څهٔ به کوئ؟ توره لاس کښې واخلئ او لاړ شئ، ځان قربان کړئ۔ او حضرت انس رضی اللہ عنہ توره لاس کښې واخستله، او د کافرانو په ګڼړه کښې ورننوتلو، او تر هغه وخته پورې جنګيدهٔ چه شهيد شو۔ (خميس)

فائده: د هغوی مطلب دا وُو چه دکوم ذات د ديدار د پاره ژوند

Maktaba Tul Ishaat.com

وُو، چه هغه پاتے نهٔ شو، نو بیا ژوندی پاتے کیدل څهٔ د پاره دی - هم دغسے اُوشوه چه په دے کښ یے خپل ځان قربان کړهٔ -

⑨ د حضرت سَعد بن رَبیع رضی الله عنه په اُحد کښ پیغام

هم ددے اُحُد په جنګ کښ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم پوښتنه اوکړه چه د سَعْد بن ربیع حال معلوم نهٔ شو چه څهٔ پرے تیر شو - یو صحابی یے د تلاش د پاره اُولیږهٔ - هغهٔ د شهیدانو په ډله کښ تلاش کولو، او اوازونه یے هم کول چه شاید ژوندے وی - بیا یے په زوره اُووے چه زهٔ نبی علیه الصلوٰة رالیږلے یم چه د سَعْد بن ربیع خبر راوړه - نو د یو ځائ نه ډیر کمزورے اواز راغے، دے هغه طرف ته وَرُوړاندے شو - وِے لیدل چه دا اُووهٔ شهیدانو په مینځ کښ پروت دے، او یوه نیمه ساه یے باقی ده - کله چه نزدے وَرَوُرَسیدهٔ - نو حضرت سعد رضی الله عنه وُفرمایل چه نبی علیه السلام ته زما سلام عرض کړه او ورته اُووایه چه الله تعالیٰ دِ زما له طرفه تاسو ته له دے نه افضله او بهتره بدله درکړی، کومه چه چا نبی ته د هغهٔ د اُمتی له خوا بهتر نه بهتر ورکړے شوی وی - او مسلمانانو ته زما دا پیغام اُورَسَوه - کهٔ چرے کافران نبی علیه الصلوٰة ته اُورسیدل، او په تاسو کښ کهٔ یوه سترګه هم غړیدونکے پاتے وه، یعنی ژوندئ پاتے وه، نو د الله تعالیٰ په نزد به هیڅ یو عذر ستاسو نهٔ چلیږی، دا یے اُووے او په حق وُرسیدهٔ - (خمیس)

فائده: فَجَزَاهُ اللهُ عَنَّا اَفْضَلَ مَا جَزٰی صَحَابِیًّا عَنْ اُمَّةِ نَبِیِّهٖ

په حقیقت کښ دے جان نثارانو (الله تعالیٰ دِ په خپلے مهربانئ د دوی قبرونه د نُور نه ډک کړی) د خپلے جان نثارئ پوره ثبوت ورکړهٔ چه زخمونو باندے زخمونه یے لګیدلی دی - ساه یے اُوزی، خو څهٔ مجال دے چه څهٔ شکایت څهٔ ویره څهٔ پریشانی ورته راشی - شوق او جذبه ده - نو د نبی علیه الصلوٰة د حفاظت ده - او نبی علیه الصلوٰة باندے د جان نثارئ او د قربانئ - ارمان! چه ماغوندے نا اهله ته هم څهٔ

حصه ددے محبت نصیب شوے۔

⑩ دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم قبر لیدو سره دیوے زنانه مرګ

دحضرت عائشه صِدِّیقه رضی الله عنها په خدمت کښې یوه زنانه راغله او عرض یے اوکړو چه ماته دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دقبر زیارت اُوکړه۔ حضرت عائشه رضی الله عنها کوټګئ شریفه پرانستله، هغې زیارت اوکړو۔ او زیارت نه پس ئې ژړا شوه۔ او ژړا ژړا کښې وفات شوه۔ رَضِیَ اللهُ عَنْهَا وَاَرْضَاهَا۔ (خمیس)

فائده: آیا ددے عشق مثال هم چرته موندے شی چه دقبر دزیارت طاقت یے اُونه لرلے شو، او هلته یے ساه ورکړه۔

⑪ داصحابو کرامو رضی الله عنهم د محبّت مُنفرِّقے قصے

دحضرت علی کرم الله وجهه نه چا تپوس اُوکړو چه ستاسو دنبی علیه الصلوٰة والسلام سره څومره محبّت وو۔ دوی ارشاد وفرمایئ چه په الله تعالیٰ م دِقسم وی نبی علیه الصلوٰة مونږ. خلقو ته دخپلو مالونو او دخپل اولاد او دخپل مور پلار او دسخته تندے په حالت کښې دیخو اوبو نه زیات محبوب وو۔ (شفاء)

فائده: ریښتیا یے وُفرمایل، په حقیقت کښې داصحابو کرامُ رضی الله عنهم هم دا حالت وو، او ولے به نهٔ وو۔ هر کله چه دغه حضرات دکامل ایمان خاوندان وو، او دالله جل شانهٔ ارشاد دے۔ قُلْ اِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ وَاَمْوَالُ ِۨاقْتَرَفْتُمُوْهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ اِلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝ (سورة توبه۔ ع ۳) (ترجمه) تاسو دوی ته اُووایئ که چرے ستاسو پلاران او ستاسو ځامن او ستاسو رونړه او ستاسو بیبیانے او ستاسو قبیله او هغه مال کوم چه تاسو ګټلے دے او هغه تجارت چه په هغې کښې دمال دنهٔ وتلو تاسو ته ویره وی، او هغه کورونه کوم چه تاسو خوښوئ (که چرے دا ټول څیزونه) تاسو ته د

Maktaba Tul Ishaat.com

الله تعالیٰ نه او د هغهٔ د رسول نه او د هغهٔ په لاره کښې د جهاد کولو نه زیات خوښ وی، نو تاسو انتظار کښې وُسئ ـ تردے چه الله تعالیٰ حکم راوُلیږی او الله تعالیٰ حکم نهٔ منونکو لره د هغوی مقصود ته نهٔ رَسَوی" (بیان القرآن)
دے اٰیتِ شریفه کښې الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول ﷺ مَحَبّت د دے تولو څیزونو نه کم کیدو باندے د سزا وعده ده ـ حضرت اَنس رضی الله عنه فرمائی چه د نبی اکرم ﷺ اِرشاد دے چه تاسو نه هیڅ یو کس تر هغے وخته پورے مؤمن کیدے نهٔ شی، تر څو پورے چه د هغهٔ ما سره مَحَبّت د خپل پلار او اولاد او د ټولو خلقو نه زیات نهٔ شی ـ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه هم دا مضمون نقل کړے شوے دے ـ دعالِمانو اِرشاد دے چه دے حدیثونو کښې د مَحَبّت نه مَحَبّتِ اِختیاری مراد دے ـ غیر اختیاری یعنی طبعی اِضطِراری مراد نهٔ دے ـ او دا هم کیدے شی که چرے مَحَبّت طبعی مراد شی، نو بیا د ایمان نه مراد د کامل درجے ایمان دے ـ څنګه چه د اصحابو کرامو رضی الله عنهم وُو ـ حضرت اَنس رضی الله عنه فرمائی چه د نبی اکرم ﷺ اِرشاد مبارك دے چه درے څیزونه دا سے دی، چه کوم کس کښې هغه بیا موندے شی، د ایمان خوږوالے او د ایمان مزه به ورته نصیب شی ـ یَو دا چه الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول مَحبت د ټول هرڅهٔ نه دهٔ ته زیات وی ـ دوَیم دا چه چا سره مَحبت کوی د الله تعالیٰ د رضا د پاره کوی ـ درَیم دا چه کفر طرف ته واپس تلل دهٔ ته دا سے ګران او مشکل وی لکه څنګه په اور کښې پریوتل ـ حضرت عُمر رضی الله عنه یو وارے عرض وُکړهٔ چه اے د الله رسوله! ما ته د خپل ځان نه عَلاوه نور د ټولو څیزونو نه زیات محبوب یئ ـ نبی علیه الصلوٰة والسلام اِرشاد وُفرمایهٔ چه څوك د هغے وخته پورے کامل مؤمن کیدے نهٔ شی، تر څو چه هغهٔ ته زما مَحَبّت د خپل ځان نه هم زیات نهٔ شی ـ حضرت عُمر رضی الله عنه عرض وُکړهٔ، اے د الله رسوله! اُوس تاسو ما ته د خپل ځان نه هم زیات محبوب یئ ـ نو نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل، اَلْاٰنَ یَا عُمَرُ (د اوخت[1] عُمَره) عالِمانو د دے اِرشاد دوه مطلبه خودلی دی ـ یَو دا چه د اوخت ستا ایمان کامل شو ـ دوَیم دا چه خبردارے دے چه د اوخت دا خبره

پیدا شوه چه زړۀ تاته دخپل نفس نه زیات محبوب شوم. حال دا چه دا خبره خو داول نه پکار وه. سهیل تستري رحمة الله علیه فرمائي چه څوك هر حال کښې نبي ﷺ خپل والي یعني آقا نۀ ګڼړي، او خپل نفس په خپله قابو کښې اوګڼړي هغه د سنتو مزه نۀ شي څکلے. یو صحابي راغے، نبي اکرم ﷺ ته یې عرض وکړۀ چه قیامت به کله راځي؟ نبي ﷺ وفرمایل چه قیامت دپاره دِ څۀ تیارے کړے دے چه دهغې په وجه دِ انتظار دے. هغۀ عرض اوکړۀ، چه دالله رسوله! ما ډیر مونځونه اوروژے اوصدقے خو تیارے کړے نۀ دي. البته دالله تعالیٰ او دهغۀ د رسول ﷺ محبت زما په زړۀ کښې دے. نبي علیه الصلوٰة ارشاد وفرمایۀ چه قیامت کښې به تۀ دهغه چا سره یې چا سره چه تۀ محبت ساتے. د نبي علیه الصلوٰة دا ارشاد چه د بنده حشر به دهغه چا سره وي چا سره چه ورته محبت وي، ډیرو صحابو نقل کړے دے. چه په هغوی کښې عبدالله بن مسعود، ابوموسیٰ آشعري، صفوان، ابوذر وغیره رضی الله عنهم حضرات هم دي. حضرت انس رضی الله عنه فرمائي چه صحابه کرامو ته چه څومره ډیره خوشالي په دے ارشاد مبارك سره اوشوه، په هیڅ څیز ورته دومره خوشالي چرے نۀ وه شوے. او ښکاره خبره ده، کیدل هم پکار وو. چه دنبي علیه الصلوٰة محبت دهغوی په رګ وریشه کښې وو، نو بیا به هغوی ولے نۀ خوشالیدل.

دحضرت فاطمے رضی الله عنها مکان په شروع کښې دنبي علیه الصلوٰة نه لږ لرے وو. یو وارے نبي علیه الصلوٰة ارشاد وفرمایۀ چه زما زړۀ غواړي چه ستا مکان ماته نزدے شوے. حضرت فاطمے رضی الله عنها عرض وکړۀ چه دحارثه مکان تاسو ته نزدے دے، هغۀ ته اووایئ چه زما مکان سره یې بدل کړي. نبي علیه الصلوٰة وفرمایل چه هغۀ سره مخکښې هم بدلون شوے دے. اوس خو حیا راځي. حارثه رضی الله عنه ته درے پته اولګیده، فورًا حاضر شو عرض یې اوکړۀ، اے دالله رسوله! ماته معلومه شوے ده، چه تاسو د فاطمے رضی الله عنها مکان خپل نزدے غواړئ. دا زما مکانات موجود دي. د دے نه زیات نزدے هیڅ یو مکان نشته، کوم چه ستاسو خوښ وي، بدل یې کړئ. اے دالله رسوله! زۀ او زما مال دالله تعالیٰ او دهغۀ د رسول دي

اے د الله رسوله! په الله تعالیٰ م دِ قسم وی، کوم مال چه تاسو و اخلئ هغه ماته زیات خوښ دے د هغه مال نه چه ما څخه پاتے شي. نبي ﷺ ارشاد وُفرمایهٔ، ریښتیا وایے، او دبرکت دُعا یے ورته وُکړه، او مکان یے ورسره بدل کړهٔ. (طبقات)

یو صحابی د نبی ﷺ خدمت کښ حاضر شو او عرض یے وُکړهٔ، چه ستاسو محبت ماته زما دځان، مال او اهل وعیال نه زیات دے. زهٔ په خپل کور کښ یم چه ستاسو خیال راشي نو صبر نهٔ راځي، تر دے چه حاضر شم او راشم زیارت اُوتکړم. ماته دا فکر دے، چه مرګ خو تاسو ته هم او ماته هم ضرور راتلونکے دے. دے نه پس خو به تاسو د انبیاؤ درجے ته لاړشئ، نو ماته دا ویره ده، چه بیا به زهٔ تاسو تهٔ وینم. نبی ﷺ ددے په جواب کښ خاموشي اِختیار کړه، چه حضرت جبریل ؑ تشریف راوړهٔ، او دا آیت یے راوړو. وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ۝ ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ۝ (سورة النساء) (ترجمه) "څوك چه د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول وئیل اُومنی، نو دا سے کسان به جنت کښ هغے حضراتو سره وی په کوم چه الله تعالیٰ انعام کړے دے، یعني انبیاء او صِدّیقین او شهیدان او صالحین (یعني نیکان خلق) او دا حضرات ډیرښهٔ ملګری دی، او دوی سره ملګرتیا خالص د الله تعالیٰ فضل دے، او الله تعالیٰ ته دهرچا عمل ښهٔ معلوم دے." دا سے واقعات ډیرو صحابهٔ وُ ته پیښ شوی دی، او یقیناً ورته ضرور وُو. سه عشق است و هزار بدگمانی "عشق دے او په زړګونو بدګمانئ." نبی ﷺ په جواب کښ دا آیت واوُرولو.

دا رنګے یو صحابی حاضر شو، او عرض یے وُکړه چه اے د الله رسوله! زما تاسو سره دا سے محبت دے چه کله خیال راشي، کهٔ چرے هغه وخت زهٔ رانهٔ شم، زیارت اُوتکړم، نو زما غالب ګمان دے چه زما ساه به اُوزی. خو ما سره دا فکر دے، کهٔ چرے زهٔ جنت ته داخل هم شم. بیا

به هم تاسو نه خکته درجه کښې یم. ما ته خوپه جنت کښې به هُم ستاسو د زیارت نه بغیر پیره گرانه شي. نبي علیه الصلوٰة والسلام ورته هم دا آیت واورولو.

یو بل حدیث کښې راغلي دي چه یو انصاري د نبي علیه الصلوٰة والسلام خدمت کښې حاضر شو، او ډیر غمژن وو. نبي علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل. غمژن ولې یې؟ عرض یې وُکړه، چه اے دالله رسوله! یو فکر اوړے یم. نبي علیه الصلوٰة والسلام ترے پوښتنه اُوکړه څه فکر دے؟ عرض یې اوکړۀ، اے دالله رسوله! مونږ سحر ماښام خدمت کښې حاضریږو. ستاسو په زیارت سره (زړۀ) خوشالوُو. ستاسو په خدمت کښې کینُو. صبا ته به تاسو خو د انبیاؤ درجے ته اُورسیږئ. زمونږ به هلته رسیدل نۀ کیږي. نبي علیه الصلوٰة والسلام خاموشه شو. او کله چه دا آیت نازل شو، نو نبي علیه الصلوٰة والسلام هغه انصاري راوُبلهٔ، او ورته یې د دے زیرے ورکړۀ.
یو حدیث کښې راغلي دي چه ډیرو صحابو رضی الله عنهم دا اِشکال کړے وُو، نبي علیه الصلوٰة والسلام دا آیت هغوی ته واورولو.

یو حدیث کښې دي چه صحابوُ رضی الله عنهم عرض وُکړۀ. اے دالله رسوله! دا خو ښکاره ده چه نبي ته په اُمتي باندے فضیلت دے. او جنت کښې به د هغهٔ درجے اُوچتے وي. نو بیا به دیو ځائ کیدو څهٔ طریقه وي؟ نبي علیه الصلوٰة والسلام اِرشاد وُفرمایۀ چه د اُوچتو درجو والا به د ښکته درجو والو څخه راځي، هغوی سره به کیني، خبرے اترے به ورسره کوي. (دُرِ منثور)
د نبي علیه الصلوٰة والسلام اِرشاد دے چه ما سره ډیر محبت کوُنکي بعضِ خلق به دا سے وي، چه زما نه پس به پیدا کیږي، او د هغوی به دا [illegible] وي چه ارمان! دخپل اهل و عیال او د مال په بدله کښې هغوی زۀ لیدلے وے.
دخالد رضی الله عنه لور [illegible] وائي چه زما پلار به کله اُودهٔ کیدو د پاره سملاست نو ترڅو چه به یې سترگے نۀ وے ورغلے او ویده به وُو، د نبي علیه الصلوٰة والسلام په یاد او شوق کښې به لگیاوُو، او د مُهاجرینو او انصارو صحابوُ نومونه به یې اخستل آو یادوُل. او دا به یې ویل چه هُم دا زما اُصول او فُروع دي - (یعني لوئ آو واړۀ) مراد ترے د دین جرړے او ښاخونه دي، او د دوي طرف ته زما زړۀ راخکلے شي. اے الله! ما ته زر مرگ راولے، چه هغه خلقو

Maktaba Tul Ishaat.com

ته لاړشم - او دا به یې وَیل ویل اُودهٔ به شو.

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه یو وارے عرض وکړهٔ چه اے دالله رسوله! ماته دخپل پلار د مسلمانیدو په نسبت ستا سو تره ابوطالب د مسلمانیدو زیاته اُرزو ده. ځکه چه په دے سره به تاسو ډیر خوشاله شئ.

حضرت عُمر رضی الله عنه یو وارے د نبی علیه الصلوٰة ترهٔ حضرت عباس رضی الله عنه ته عرض وُکړهٔ ، چه ستاسو د اسلام راوړلو ماته زیاته خوشالی ده ، دخپل پلار د مسلمانیدو نه ، ځکه چه ستاسو اسلام راوړل نبی علیه الصلوٰة ته زیات خوښ وُو.

حضرت عمر رضی الله عنه یو ځلے دشپے حفاظتی ګشت کولو ، چه دیو کور نه د ډیوے رنړا راتلَه ، او دیوے بُوډئ آواز یے ترغوږ وشو ، چه وَړئ یے رِشِله اَشعار یے ویَل چه د هغے ترجمه دا ده - " محمد صلی الله علیه وسلم ته دِ دنیکانو خلقو درود اُورسی ، او د پاک صاف خلقو له طرفه ، څوک چه (الله تعالیٰ ته) خوښ دی ، د هغوی درود دِ اُورَسی - بے شکه اے د الله رسوله ! چه تاسو د شپے عبادت کونکی وئ ، او په آخره شپه کښ ژړا کونکی وئ - ارمان! ماته معلومه شوے چه زهٔ او زما محبوب به کله یو ځائ کیدے شُو ، که نَه - ځکه چه مرګ په مختلفو حالاتو کښ راځی - نهٔ ده معلومه ، چه ماته به مرګ په کوم حالت کښ راځی - او نبی علیه الصلوٰة سره به د مرګ نه پس یو ځائ کیدل اُوشی او که نه - حضرت عُمر رضی الله عنه چه دا شعرونه واؤریدل ، هغه هُم په ژړا شو.

د حضرت بلال رضی الله عنه قصه مشهوره ده - کله چه د هغهٔ د وفات کیدلو وخت شو - نو د هغهٔ بی بی په حُبِ اِلٰهی غمژَنه شوه - و ے ویل چه هائے افسوس! دهٔ ورته اُووے ، سُبحَانَ الله ، څومره د مزے خبره ده ، چه صباته به د محمد صلی الله علیه وسلم زیارت کوو ، او د هغهٔ صحابو سره به مُلاقات کوو - د حضرت زید رضی الله عنه قصه پنځم باب نهم نمبر بانــدے تیره شوه ، کله چه هغَه په پهانسئ ځیږولے شو ، نو ابوسُفیان ترے تپوس اُوکړهٔ چه آیا ستا دا خوښه ده ، چه مونږ تا پریږدو ، او ستا په ځائ (الله مَنهٔ کړه) حضور سره دا معامله اُوکړو ؟ نو زید رضی الله عنه اُووے چه په الله م

دِ قسم وی، زهٔ دا هم نهٔ شم برداشت کولے، چه نبی علیه الصلوٰة والسلام دِ په خپل کور کښې تشریف فرماوی، او هلته دِ هغوی اَزغے مات شی، او زهٔ دِ په خپل کور کښې په آرام سره اُوسم - ابُوسُفیان اُووے، چه ما هیڅ کله څوک چا سره دومره محبت کونکی نهٔ دی لیدلی، لکه څومره چه د محمد صلی الله علیه وسلم ملګری دهٔ سره محبت کوی

خبرداری: عالمانو د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره د محبت مختلفې نښې لیکلی دی. قاضی عیاض رحمة الله علیه فرمایلی دی، څوک چه څهٔ څیز خوښوی هغهٔ په نورو باندے وړاندے کوی، بس دا معنیٰ د محبت ده. که دا سے نهٔ وی، نو محبت نهٔ دے، صرف د محبت دعوی ده - پس نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره د محبت د نښونه د ټولونه ضروری لویه نښه دا ده، چه د دوی اِقتداء وُکړی. او د دوی طریقے اختیار کړئ - او د دوی د اَقوالو اَفعالو تابعداری اُوکړی - او د دوی احکامات په ځای را وړی - او دوی چه د کوم څیزونو نه منع کړے ده د هغے نه پرهیز وُکړی - خوشالئ کښې، غم کښې، تنګسیا کښې، فراخئ کښې د دوی په طریقو باندے تلل کوی. قرآن پاک کښې ارشاد دے. قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ط وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ (ترجمه) تاسو دے خلقو ته وُوائی، که چرے تاسو الله تعالیٰ سره محبت ساتئ، نو تاسو زما تابعداری اوکړئ، الله تعالیٰ به تاسو سره محبت اوکړئ - او ستاسو ګناهونه به معاف کړی، او الله تعالیٰ لوئ معاف کونکے دے، لوئ رحم کونکے دے.

خاتِمه

دا صحابو کرامو رضی الله عنهم سره معامله او د [illegible] مختصر فضیلتونه

دا صحابو کرامو رضی الله عنهم دا څو قصے [illegible] لیکلے شوی دی. کنی د دوی حالات لوئ غټو کتابونو کښې هم پوره کیدے نهٔ شی - اُردو ژبه کښې هم کثیر کتابونه او رسالے د دے مضمون موندے شی - څو بیا شئ

Maktaba Tul Ishaat.com

اُشوے، دارساله مِ شروع کړے وه، بیا دمدرسے د مشغولتیا او د وختی بَنْدِ شُونو په وجه روستو شوه۔ دا وخت په دے پاڼړو یے ختمومه۔ چه څومره لیکلے شوی دی، دا قابلے دفائدے اخستوشی۔ آخرکښ یو ضروری خبره بانده خبردارے ډیر زیات ضروری دے۔ هغه دا چه دے ازادئ په زمانه کښ یو خواته چه مونږ مسلمانانوکښ د دین نورو ډیرو کارونو کښ کمے او د ازادئ رنګ دے۔ بل خواته د حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم اَجمعین په حق پیژندلو او د دوی په ادب او احترام کښ هم د حد نه زیاته کمزوری ده۔ بلکه د دے نه ورتیر بعض د دین نه بے پرواه خلق خود دوی په شان کښ گُستاخی کوی۔ حال دا چه صحابه کرام رضی الله عنهم د دین بُنیادونه دی۔ د دین اول خورَوُنکی دی۔ د دوی حقونه مونږ خلق ترمرګه پورے هم نهٔ شو پوره کولے۔ الله جل شانهٔ دِ په خپل فضل په دے پاکو نَفُسونو په لکهونو رحمتونه نازل کړی چه دوی د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه دین حاصل کړهٔ، او مونږ خلقوته یے راوُرَسوَو۔ ځکه د دے خاتمه کښ د قاضی عیاض رحمة الله علیه د "شفا" نومے کتاب نه د یو فصل مختصر ترجَمه چه د دے مُناسب ده لیکم، او د دے بانده دارساله ختموم۔

هغه فرمائی چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په اِعزاز او اکرام کښ دا خبره داخله ده چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د صحابو رضی الله عنهم اعزاز او اکرام کول او د دوی حق پیژندل او د دوی تابعداری کول او د دوی تعریف کول، او د دوی د پاره اِستغفار او دُعا د مغفرت کول، او د دوی په خپل مینځ کښ اختلاف بانده خلهٔ نهٔ پرانستل یعنی چُپ اُوسیدل او د مُؤَرِّخِینُو د شیعه ګانو، د بدعتیانو او د جاهِل راویانو د هغه روایتونو نه مخ اړول کوم چه د دوی حضراتو په شان کښ نقصان پیدا کوی۔ او د دے قسمه څهٔ روایت که چرے واؤریدلے شی، نو د هغه څهٔ بنهٔ غوندے تاویل اُوکړئ، او څهٔ بنهٔ مَحْمَل (ځائ) ورله تجویز کړئ۔ چه دوی د دے حقدار دی او دا حضرات په بدئ مهٔ یادوئ، بلکه د دوئ نیکئ، بنهٔ صفتونه او د دوی فضائل بیانوئ۔ او د عیب د خبرونه یے چپ اُوسیږئ۔ څنګه

چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد دے چه کله زما د صحابو بد ذکروی، نو چُپ واله اختیار روئ. د صحابو رضی الله عنهم اجمعین فضائل قران شریف او حدیثونو کښ ډیر زیات راغلی دی. د الله جل شانهٗ ارشاد دے.

مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِیْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَی الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا یَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ؗ سِیْمَاهُمْ فِیْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِی التَّوْرٰىةِ ۛۚ وَمَثَلُهُمْ فِی الْاِنْجِیْلِ ۚ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْـَٔهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ یُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِیَغِیْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ؕ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِیْمًا ۝ (فتح - ع ۴)

(ترجمه) محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله تعالیٰ رسول دے، او کوم خلق چه دهٔ سره دی، دوی د کافرانو په مقابله کښ سخت دی، او خپل مینځ کښ مهربانه او اے مخاطبه! ته به دوی اُووینے چه کله رکوع کوُنکی دی، کله سجده کوُنکی دی. او د الله د فضل او د رضامندئ په تلاش کښ لګیا اُوسی. د دوی د عبدیت نښے په وجه د تاثیر د دوی د سجدو د دوی په مخونو کښ ښکاره دی. دا د دوی صفتونه تورات کښ دی او انجیل کښ دی. د دوی دا مثال ذکر کړے دے، لکه څنګه فصل چه هغے اول خپله تیغه راُوبیستله، بیا هغه خپله تیغه پے قوی کړه (یعنی هغه فصل لوئ شو) بیا هغه فصل نور لوئ شو، بیا په خپله تنه باندے اُودریدهٔ، چه زمیندارانو ته ښهٔ معلومه شو. (دارنګے صحابو کښ اول کمزورتیا وه، بیا پے روزانه قوّت زیاتیدهٔ - او الله تعالیٰ صحابو ته دا قوت ځکه ورکړهٔ) چه په دوی سره کافران په حسد کښ اُوسوزی. او آخرت کښ الله تعالیٰ د هغے کسانو سره چا چه ایمان راوړهٔ او نیک کارونه کوی، د مغفرت او د اجر عظیم وعده کړے ده. دا ترجمه په هغه صورت کښ ده چه په اَلتَّوْرٰىةِ باندے ایت وی، نو د ایت په فرق سره به ترجمه کښ هم فرق راشی، کوم چه د تفسیرونو نه معلومیږی. هم دے سورة کښ بل ځائ ارشاد دے:

Maktaba Tul Ishaat.com

لَقَدْ رَضِیَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِیْنَ إِذْ یُبَایِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِیْ قُلُوْبِهِمْ فَاَنْزَلَ السَّكِیْنَةَ عَلَیْهِمْ وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِیْبًا ۙ وَّمَغَانِمَ كَثِیْرَةً یَّاْخُذُوْنَهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِیْزًا حَكِیْمًا ○ (ترجمه) "په تحقیق الله تعالیٰ هغه مسلمانانو ته (کوم چه تا سو سره سفر کښ وو) خوشاله شو، کله چه دے خلقو تا سره دوُنے دلاندے بیعت کوُلو، او ددوی په زړونو کښ څهٔ (اخلاص او قصد) وُو، الله تعالیٰ ته هغه هم معلوم وُو، او الله تعالیٰ ددوی په زړونو کښ اطمینان پیدا کړے وُو او ددوی ته یے یو سمدستی فتح هم ورکړهٔ (مراد دے نه فتح خیبر ده کومه چه دے نزدے ده) او ډیر غنیمتونه یے هم ورکړل او الله تعالیٰ زبردست او د حکمت خاوند دے"۔ دا هغه بیعت دے کوم ته چه بیعَةُ الشَّجَرَه ویلے شی۔ د اخری باب څلورم نمبر قصه کښ ددے ذکر تیر شوے دے۔ د صحابَو په باره کښ یو ځائے ارشادِ الٰهی دے۔ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَیْهِ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰی نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ مَّنْ یَّنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِیْلًا ۙ (سورة احزاب۔ ع ۱۳) (ترجمه) دے مؤمنانو کښ دا سے خلق هم شته چه دوی کومے خبرے الله تعالیٰ سره لوظ کړے وُو، هغے کښ رښتینی شو۔ بیا دوی کښ بعضِ خو دا سے دی چه خپله مَنّته یے پوره کړه (یعنی شهیدان شو) او بعضِ دوی کښ ددے شوق لرونکی او انتظار کښ دی (ترا وسه شهیدان شوی نهٔ دی) او خپلو ارادو کښ یے هیڅ بدلول اُونکړهٔ"۔ یو ځائے ارشادِ الٰهی دے۔ وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِیْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِیْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَاۤ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ○ (سورة توبه۔ ع ۱۳) (ترجمه) او کوم مهاجرین او انصار (چه ایمان راوړلو کښ د ټول اُمت نه) مخکښ دی، او څومره خلق چه په اخلاص سره ددوی تابعدار دی، الله تعالیٰ ددوی ټولو نه راضی شو، او دوی ټول الله تعالیٰ ته راضی شول۔ او الله تعالیٰ د دوی د پاره دا سے باغونه تیار کړی دی چه د هغے لاندے نهرونه بهیږی

په هغې کښې به دوی همیشه اُوسی، او د الویه کامیابی ده"۔ دے آیتونو کښې الله جل شانهٗ د صحابو تعریف او د دوی نه د راضی کیدو اظهار کړے دے۔ ډیرے حدیثونو کښې یے هم ډیر فضائل راغلی دی۔ د نبی اکرم ﷺ ارشاد دے چه زما نه پس د ابوبکرؓ او د عمرؓ اقتداء کوئ۔ یو حدیث کښې ارشاد دے چه زما صحابه د ستورو په شان دی، د چا چه تابعداری اُوکړئ هدایت به بیا مومئ۔ محدثینو ته په دے حدیث کښې کلام دے او هم په دے وجه قاضی عیاض رحمة الله علیه یا ندے د دے په ذکر کولو اعتراض دے خو مُلّا علی قاری رحمة الله علیه لیکلی دی چه ممکنه ده، چه د تعدُّدِ طُرق په وجه د هغهٔ په نزد قابلِ اعتبار وی، یا فضائلو کښې د کیدو په وجه سره یے ذکر کړے وی (ولے چه په فضائلو کښې د معمولی ضُعف روایتونه نقل کولے شي۔)

حضرت اَنس رضی الله عنه فرمائی چه د نبی علیه الصلوٰة ارشاد دے چه زما د صحابو مثال په طعام کښې د مالګے په شان دے، چه طعام یے د مالګے نه بنهٔ کیدے نهٔ شی۔ د نبی علیه الصلوٰة دا هُم ارشاد دے چه الله تعالیٰ ته زما د صحابو په باره کښې ویریږئ۔ دوی د ملامتیا نښه مهٔ جوړوئ۔ څوك چه دوی سره محبت ساتی، ما سره د محبت په وجه ورسره محبت ساتی۔ او چه څوك دوی سره بُغض (کینه) ساتی، هغوی زما د بُغض په وجه ورسره بُغض ساتی۔ چا چه دوی ته تکلیف ورکړهٔ، هغهٔ ما ته تکلیف راکړهٔ۔ او چا چه ما ته تکلیف راکړهٔ، هغهٔ الله تعالیٰ ته تکلیف ورکړهٔ۔ او څوك چه الله تعالیٰ ته تکلیف ورکړی، نزدے ده چه (د الله تعالیٰ) په گرفت کښې به راشی۔

د نبی علیه الصلوٰة دا هم ارشاد دے چه زما صحابو ته کنځل مهٔ کوئ۔ که چرے تاسو کښې څوك د اُحُد د غر برابر سرهٔ زر خرچ کړئ، نو هغه د ثواب په اعتبار سره د صحابو یو مُد یا نیم مُد برابر هم نهٔ شی کیدے۔ او د نبی علیه الصلوٰة ارشاد دے چه څوك صحابو ته کنځل اوکړی، په هغهٔ دِ د الله تعالیٰ لعنت او د فرښتو لعنت او د ټولو بنیادمو لعنت وی نهٔ د هغهٔ فرض قبول دی نهٔ نفل

Maktaba Tul Ishaat.com

دنبي عليه الصلوٰة ارشاد دے چه الله تعالیٰ دانبیاء کرامو علیهم السلام نه علاوه د ټول مخلوق نه زما صحابه را چنړ کړي دي. او ددې کښې بے څلور غوره کړيدي. ابوبکر، عُمر، عثمان، علي رضي الله عنهم. دوي بے زما د صحابو نه بهتر کړزولي دي.
ايوب سختياني رحمة الله عليه فرمائي چه چا ابوبکر رضي الله عنه سره محبت اُوکړو هغهٔ دين نيغ کړو. او چا چه عُمر رضي الله عنه سره محبت اُوکړو، هغهٔ د دين واضحه لار بيا مُونده. او چا چه عثمان رضي الله عنه سره محبت اوکړو، هغه د الله تعالیٰ په رڼا سره روښانه شو. او چا چه علي رضي الله عنه سره محبت اوکړو، هغهٔ د دين مضبوطه رَسئ اُونيوله. څوك چه د صحابو تعريف کوي، هغه د نِفاق نه بَري دے. او څوك چه د صَحابو بے ادبي کوي، هغه بِدْعَتي، مُنافق دسنتو مُخالِف دے. ما ته ويره چه د هغهٔ هيڅ عمل قبول نشي، تر څو چه دے ټولو صحابو سره محبت اُونهٔ ساتي، او ددوي له خوا بے زړهٔ صفا نهٔ شي.
يو حديث کښې د نبي عليه الصلوٰة ارشاد دے چه اے خلقو! زهٔ د ابوبکر نه خوشاله يم، تاسو خلق د هغهٔ مرتبه اُوپيژنئ. زهٔ د عمرؓ نه، عثمانؓ نه، عليؓ نه، طلحهؓ نه، زُبيرؓ نه، سَعدؓ نه، سعيدؓ نه، عبدالرحمٰن بن عوفؓ نه، اَبُوعُبَيدهؓ نه خوشاله يم. تاسو خلق د دوي مرتبے اُوپيژنئ. اے خلقو! د بَدر په جنګ کښې چه څوك شريك وُو، او د حُديبيّه په جنګ کښې چه څوك شريك وُو، الله جلّ شانهٗ د هغوي بخښنه کړے ده. تاسو زما د صحابو باره کښې زما لحاظ کوئ، او د هغے خلقو باره کښې چه د چا لوڼړه زما نکاح کښې دي، يا زما لوڼړه د هغوي په نکاح کښې دي. هسے نه چه دا خلق قيامت کښې تاسو ته د څهٔ قسمه د ظلم مطالبه اُوکړي، چه هغه به معاف کولے نهٔ شي.
يو ځائ ارشاد دے چه زما صحابو او زما زومانو صحابو رضي الله عنهم کښې زما لحاظ کوئ، څوك چه ددوي باره کښې زما لحاظ ساتي، الله جلّ شانهٗ به دُنيا او آخرت کښې د هغوي حفاظت اُوکړي. او څوك چه ددوي باره کښې زما لحاظ اُونهٔ ساتي، الله تعالیٰ د هغوي نه ويزاره دے، او د چا نه چه

الله تعالیٰ ویزاره شي، کیدے شي چه په خټه ګرفت کښ راشي - د نبي علیه الصلوٰة
نه داهم نقل کړے شوے دے، چه څوک زما د صحابو باره کښ زما لحاظ
اُوساتي، زۀ به د قیامت په وُرځ د هغوی حفاظت کوُنکے یم -
یو ځائ ارشاد دے چه څوک زما د صحابو باره کښ زما لحاظ ساتي،
هغوی به ماله حوضِ کوثر ته را اُورسي - او څوک چه د دوی باره کښ
زما لحاظ اُونۀ ساتي، هغوی به ماله حوضِ کوثر پورے رااُونۀ رسیږي
او ما به صرف د لرے نه ویني -
سهل بن عبد الله رحمة الله علیه فرمائي چه څوک د نبي علیه الصلوٰة د صحابو تعظیم
قدر او عزت نۀ کوي، هغوی اصلاً په نبي علیه الصلوٰة ایمان راوړے نۀ دے -
الله جل شانهٗ دِ په خپلے مهربانئ او فضل د خپل نیولو نه او د خپل
محبوب د غُصے نه ماله او زما دوستانو، زما محسِنانو، زما مُلاقاتیانو،
زما مشایخو شاګردانو او ټولو مؤمنانو له محفوظ اُوساتي - او د دے
حضراتو صحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعین د محبت نه زمونږ د زړونو ډک
کړي - اٰمِیْن بِرَحْمَتِكَ یَآ اَرْحَمَ الرّٰحِمِیْنَ ط وَاٰخِرُ دَعْوٰىنَا
اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ الْاَتَمَّانِ
الْاَكْمَلَانِ عَلٰى سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ وَعَلٰٓى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ
الطَّیِّبِیْنَ الطَّاهِرِیْنَ وَعَلٰٓى اَتْبَاعِهٖ وَاَتْبَاعِهِمْ حَمَلَةَ الدِّیْنِ
الْمَتِیْنِ ط ۵

تمّت

مُتَرجِم		مؤلِّف
میاں مُحمّد شفیق غفرلهٗ	[illegible]	زکریّا عفی عنه کاندهلوی
دارالشِّفاء چارسده - محله تبلیغي مرکز		مقیم مدرسه مظاهر العلوم
تاریخ د ختمید و نظر ثاني		سهارن پور
۲۴ ر ذی الحجه ۱۴۱۶ھ موافق		۱۲ ر شوال المکرم ۱۳۵۷ھ دوشنبه
۱۳ ر مئی		یعني دولسمه د وړوکي اختر
په ورځ د ...		میاشت په ورځ د ګل

Maktaba Tul Ishaat.com

خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ (الحديث)

تاسو کښې د ټولو نه بهترین هغه څوک دے چه قرآن زده کړی او نورو ته ئے ښائی

څلویښت حدیثونه مُتعلقه دَ

پښتو

فَضَائِلِ قُرآن

دیکښې ئے

اَول دَ قرآن په فضائِلو کښې څلویښت حدیثه سره دَ ترجمے او شرح لیکلی دی دے نه پس ئے اُووۂ حدیثه دَ قرآن په جُدا جُدا حکمونو کښې ذکر کړیدی. تتمه کښې دے ټولو مضامینو باندِ مختصر خبردارے کړیدے. آخر کښې ئے پرے یو بل چهل حدیث سره دَ ترجمے زیات کړیدے چه سره دَ مختصر والی ډیر جامع دے.

تالیف

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمه الله

مُترجم

میاں محمّد شفیق رحمه الله

دفضائلِ قرآن (پښتو) دمضامینو فهرست

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ خَلَقَ الۡاِنۡسَانَ وَعَلَّمَهُ الۡبَيَانَ وَاَنۡزَلَ لَهُ الۡقُرۡاٰنَ وَجَعَلَهُ مَوۡعِظَةً وَّشِفَآءً وَّهُدًی وَّرَحۡمَةً لِّذَوِی الۡاِيۡمَانِ لَا رَيۡبَ فِيۡهِ وَلَمۡ يَجۡعَلۡ لَّهُ عِوَجًا وَّاَنۡزَلَهُ قَيِّمًا حُجَّةً نُّوۡرًا لِّذَوِی الۡاِيۡقَانِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ الۡاَتَمَّانِ الۡاَكۡمَلَانِ عَلٰی خَيۡرِ الۡخَلَآئِقِ مِنَ الۡاِنۡسِ وَالۡجَآنِّ الَّذِیۡ نَوَّرَ الۡقُلُوۡبَ وَالۡقُبُوۡرَ نُوۡرُهٗ وَرَحۡمَةً لِّلۡعٰلَمِيۡنَ ظُهُوۡرُهٗ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحۡبِهٖ الَّذِيۡنَ هُمۡ نُجُوۡمُ الۡهُدٰی اٰيَةً وَّنَاشِرُوا الۡفُرۡقَانِ وَعَلٰی مَنۡ تَبِعَهُمۡ بِالۡاِيۡمَانِ

وَبَعۡدُ فَيَقُوۡلُ الۡمُفۡتَقِرُ اِلٰی رَحۡمَةِ رَبِّهِ الۡجَلِيۡلِ عَبۡدُهُ الۡمَدۡعُوُّ بِزَكَرِيَّا بۡنِ يَحۡيٰی بۡنِ اِسۡمٰعِيۡلَ هٰذِهِ الۡعُجَالَةُ اَرۡبَعُوۡنَةٌ فِیۡ فَضَائِلِ الۡقُرۡاٰنِ اَلَّفۡتُهَا مُمۡتَثِلًا لِّاَمۡرِ مَنۡ اِشَارَتُهٗ حُكۡمٌ وَّطَاعَتُهٗ غُنۡمٌ ۔

ټول تعریفونه هغه پاک ذات دپاره دی چاچه انسان پیدا کړو، او هغهٔ ته یې بیان وخودلو، او هغهٔ دپاره یې قرآن پاك نازل کړو چه دایماندارو دپاره یې نصیحت، شفا، هدایت او رحمت اوګرزولو۔ چه په هغې کښ نهٔ څهٔ شك نشته او نهٔ په کښ څهٔ قسمه کږلېچ، بلکه هغه بالکل نیغ دے، او یقین والو دپاره دلیل او نور دے۔ او کامل مکمل درود او سلام دِ په هغې بهترین دمخلوقاتو وی چه دهغهٔ نور په ژوندانهٔ کښ زړونه او د مرګ نه پس قبرونه روښانه کړل۔ او د هغهٔ ظاهریدل د ټول عالَم دپاره رحمت دے۔ او د نبی علیه الصلوٰة والسلام په اولاد او آصحابو چه د هدایت ستوری دی، او د قرآن شریف خورونکی دی، او په هغې مؤمنانو باندے هم کوم چه د ایمان سره د دوی پسے تلونکی دی۔

د حمد و ثنا او درود نه پس د الله تعالی د رحمت محتاج بنده زکریا بن یحیٰی بن اسمٰعیل عرض کوی چه دا په تلوارے لیکلے شوے یو څو پاڼړے فضائلِ قرآن کښ څلویښت حدیثه دی۔ دا ما د داسے بزرګانو د حکم

په پوره کښو لوکښې جمع کړیدی چه دچا اِشاره هُم حُکم دے، او خبره منی بے غنیمت دے۔

دالله جل جلالهٔ دهغه خاصو انعاماتو نه کوم چه مدرسه عالیه مظاهر علوم سهارنپور سره همیشه مخصوص پاتے شوی دی دمدرسے کلیزه جلسه ده چه هرکال دمدرسے دمختصر حالاتو اَورَولو دپاره کیږی۔ دمدرسے په دے جلسه کښې دمقررینو، واعظینو او دهندوستان دمشهورو خلقو دجمع کولو دومره اِهتمام (اوفکر) نهٔ شی کیدے، خومره چه دالله پاک د ولیانو، روښانه زړونو والو، په گمنامئ کښې اوسیدونکو بزرگانو دجمع کولو محنت اوکوشش کیږی۔ هغه زمانه اگرچه لرے وتے ده، چه دحُجّة الاسلام حضرت مولٰنا محمد قاسم صاحب نانوتوی رحمة الله علیه اوقطب الارشاد حضرت مولٰنا رشید احمد صاحب گنگوهی الله تعالیٰ دِیے په گور نُور کړی تشریف راوړلو په دجلسے دحاضرینو زړونه روښانه کول۔ خو هغه منظر لاتر اُوسه دسترگو نه زیات لرے شوے نهٔ وَو چه ددغے مُجدّدِ دین اسلام او دهدایت دمرو تو جانشین حضرت شیخ الهند رحمة الله علیه او حضرت شاه عبد الرحیم صاحب رحمة الله علیه حضرت مولٰنا خلیل احمد صاحب رحمة الله علیه او حضرت مولٰنا اشرف علی صاحب رحمة الله علیه په دمدرسے سالانه جلسه کښې راجمع شول، او دخلقو دمړو زړونو دپاره به بے دژوند او دنُورانیت چینے جاری کولے، او دعشق تږی بے مړه ول۔

په موجوده دَور کښې دمدرسے جلسه دهغه سپورمو دهدایت نه گویا محرومه شوه۔ خو هغوی ریښتونی جانشین دجلسے دحاضرینو اُوس هم دخپلو فیوضاتو او برکتونو نه دخلقو جولئ ډکوی۔ کوم کسان چه سَځکال په جلسه کښې حاضر وَو، هغوی ددے اِنصاف گواهان دی، دسترگو خاوندان برکتونه وینی، خو زمونږ په شان نهٔ لیدونکی هم دومره ضرور محسوسوی چه څهٔ خبره ضرور شته۔

دمدرسے په کلیزه جلسه کښې کهٔ چرے څوک دښائسته او زوردار د تقریرونو طلبگار راشی، نو شاید چه هغه په دومره خوشاله لاړ نهٔ شی

Maktaba Tul Ishaat.com

لکه خومره چه به د زړهٔ د دارو طلبګار کامیابه او فیضیابه شي - فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ وَالْمِنَّةُ - په دے سلسله کښ د روان کال دا وړیشتم ذیقعدے ۱۳۴۸ھ په جلسه کښ د حضرت الشاه حافظ محمد یسین صاحب نګینوی تشریف راوړلو چه په ما ګنهګار خومره د شفقت او د مهربانئ باران اووَرولو، د هغې د شکریے ادا کولو نه زهٔ عاجزیم، او بیا چه دا معلومه شوه چه دوی د حضرت ګنګوهی رحمة الله علیه د خلفاؤ نه دی، نو بیا خو دوی د اعلیٰ صفاتو، شان له والی، یا کوالی د انوارانو او د برکتونو مظهر وغیره د ذکر ضرورت نهٔ پاتے کیږی - د جلسے فارغیدو نه پس چه دوی خپل کور ته تشریف یوړو، نو ما ته یے په یو خط کښ د دے حکم وُکړهٔ چه د فضائلِ قرآن باره کښ څلویښت حدیثونه جمع کړم، او د هغې ترجمه د دوی په خدمت کښ پیش کړم - او دا هم ده چه کله چرے د دوی د حکم نه مخ واړولو، نو دوی په زما دیر په ځائ او دیلار په شان د تره صاحب مولنا الحافظ محمد الیاس رحمة الله علیه په ذریعه دا خپل حکم نور هم مضبوط کړی - او په هر حالت په دوی زما یے کاره نه دا کارځاځا آخلی - دا د فخر خط اتفاقًا په دا سے حالت کښ راورسیدهٔ چه زهٔ په سفر کښ وُم - او زما تره صاحب هُم په په هغه ځائ کښ موجود وُو - نو هغوی زما د واپسئ په وخت دا خط په خپل تاکیدی حکم سره ما ته حواله کړهٔ، چه د دے نه پس ما ته نهٔ څهٔ د عُذر ځائ پاتے شو، او نهٔ د خپل نا اهلیت بیانولو موقع پاتے شوهٔ - زما د پاره د شرح مُؤَطّا امامِ مالِك مشغولتیا هم یو قوی عذر وُو، خو د دے حضراتو د ارشاداتو اَهَمِّیَّت په وجه مِ هغه یو خو ورځے اِیسارکړه - او چه څهٔ حاضر دی (یعنی فضائل قرآن) دا د هغوی په خدمت کښ پیش کوم، او د هغې غلطو نه چه د هغې کیدل زما ناقابله د پاره لازم دی د معافئ طلبګاریم -

يَا جَآءَ الْحَشْرُ فِيْ سِلْكِ مَنْ قَالَ فِيْهِمُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم مَنْ حَفِظَ عَلٰى اُمَّتِيْ اَرْبَعِيْنَ حَدِيْثًا فِيْ اَمْرِ دِيْنِهَا بَعَثَهُ	هغې ډلے سره د حشر کیدلو په اُمید چه د چا په باره کښ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دے، چه څوك زما د اُمت د پاره د هغوی په دینی کارونو کښ څلویښت

اللهُ فَقِيْهًا وَكُنْتُ لَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ شَافِعًا وَّشَهِيْدًا ا قَالَ الْعَلْقَمِيُّ الْحِفْظُ ضَبْطُ الشَّيْءِ وَمَنْعُهٗ مِنَ الضَّيَاعِ فَتَارَةً يَّكُوْنُ حِفْظُ الْعِلْمِ بِالْقَلْبِ وَاِنْ لَّمْ يَكْتُبْ وَتَارَةً فِي الْكُتُبِ وَاِنْ لَّمْ يَحْفَظْهُ بِقَلْبِهٖ فَلَوْ حَفِظَ فِيْ كِتَابٍ ثُمَّ نَقَلَ اِلَى النَّاسِ دَخَلَ فِيْ وَعْدِ الْحَدِيْثِ وَ قَالَ الْمُنَاوِيُّ قَوْلُهٗ مَنْ حَفِظَ عَلٰى اُمَّتِيْ اَيْ نَقَلَ اِلَيْهِمْ بِطَرِيْقِ التَّخْرِيْجِ وَ الْاِسْنَادِ وَقِيْلَ مَعْنٰى حِفْظِهَا اَنْ يَّنْقُلَهَا اِلَى الْمُسْلِمِيْنَ وَاِنْ لَّمْ يَحْفَظْهَا وَلَا عَرَفَ مَعْنَاهَا وَقَوْلُهٗ اَرْبَعِيْنَ حَدِيْثًا صِحَاحًا اَوْ حِسَانًا قِيْلَ اَوْضِعَافًا فَاُيُعْمَلُ بِهَا فِي الْفَضَائِلِ اهـ. فَلِلّٰهِ دَرُّ الْاِسْلَامِ مَا اَيْسَرَهٗ وَلِلّٰهِ دَرُّ اَهْلِهٖ مَا اَجْوَدَ مَا اسْتَنْبَطُوْا رَزَقَنِيَ اللهُ تَعَالٰى وَاِيَّاكُمْ كَمَالَ الْاِسْلَامِ وَمِمَّا لَابُدَّ مِنَ التَّنْبِيْهِ عَلَيْهِ اَنِّيْ اعْتَمَدْتُّ فِي التَّخْرِيْجِ عَلٰى

حدیثه محفوظ کړی، الله جل شانهٔ به هغهٔ په قیامت کښ عالِم پاسَوی- او زهٔ به دهغهٔ دپاره سفارشی او گواه جوړیږم- عَلقمی رحمة الله علیه وائی چه محفوظ کوُل د یوشی مُنضَبط کوُل او ضائع کیدلو نه دحفاظت نوم دے- کهٔ بغیر لیکلو یے زبانی یاد کړی یا یے لیکلے محفوظ کړی، اگر کهٔ ورته یاد نهٔ وی- پس کهٔ چرے څوك یے کتاب کښ وُلیکی، نورو ته یے وُرسَوی، هغه به هم دحدیث په زیری کښ داخل شی او مَناوِی رحمة الله علیه وائی چه زما په اُمت باندے دمحفوظ کولو نه مراد هغوی طرف ته نقل کوُل دی د سَند په حوالے سره- او بعضو ویلی دی چه مسلمانانو ته یے رَسوُل دی اگرچه هغه ورته زبانی یاد نهٔ وی او نهٔ ورته دهغے معنی معلومه وی- دغه شان څلویښت حدیثه هُم عام دی چه ټول صحیح وی یا حَسَن یا دمعمولی درجے ضعیف چه په هغے په فضائلو کښ عمل جائز وی- الله اکبر- په اِسلام کښ هم څهٔ څهٔ آسانئ دی- او د تعجّب خبره دا، چه عالمانو هم څومره باریکئ را ایستلی دی- الله جل شانه دِ کمالِ اسلام ما ته هم نصیب کړی او تاسو ته هم- په دے ځائ یو ضروری خبره باندے

Maktaba Tul Ishaat.com

الْمِشْكٰوةِ وَتَخْرِيْجِهٖ وَشَرْحِهِ الْمِرْقَاةِ وَشَرْحِ الْاِحْيَاءِ لِلسَّيِّدِ مُحَمَّدِ الْمُرْتَضٰى وَ التَّرْغِيْبِ لِلْمُنْذِرِيّ وَمَا عَزَوْتُ اِلَيْهَا لِكَثْرَةِ الْاَخْذِ عَنْهَا وَمَا اَخَذْتُ عَنْ غَيْرِهَا عَزَوْتُهٗ اِلٰى مَاْخَذِهٖ وَيَنْبَغِيْ لِلْقَارِئِ مُرَاعَاةُ اٰدَابِ التِّلَاوَةِ عِنْدَ الْقِرَآءَةِ۔

خبرداره کول هم ضروری دی، هغه داچه ما دحدیثونو په حواله ورکولوکښ مشکوٰة تنقیح الرواة، مرقاة اود احیاء العلوم شرحه اود مُنْذِری په ترغیب باورکړے دے، او ډیرم د دوی نه اخستلی دی. په دے وجه مِ د دوی دحوالے ضرورت اُونه گنړو البته د دے نه علاوه که بل ځائ نه مے اخستلی دی، نود هغے حواله مِ نقل کړے ده. بله داچه قاری دپاره د (قرأت د) تلاوت په وخت د دے دادابو لحاظ هم ضروری دے۔

دمقصود نه وړاندے مناسب معلومیږی چه دقران شریف لوستلو څهٔ اداب هم اُولیکلے شی. ځکه چه وائی. ع

بے ادب محروم گشت از فضلِ رب

بے ادبه د فضل درب نه محرومه پاتے شو۔

په مختصر طور د ادابو خلاصه داده چه قرآن شریف دمعبود کلام دے، اود محبوب او د مطلوب فرمایلی شوی الفاظ دی (یعنی د الله تعالیٰ)۔ دکو موکسانو چه د محبت سره څهٔ واسطه راغلے وی، هغوی پوهیږی چه دمعشوق دخط اود محبوب د تقریر اود تحریر چا عاشق په نزد څومره قدر وی. هغے سره چه د مینے او محبت اولیو نترب کومه معامله کیږی اوکول پکاردی هغه دقواعدو اوضوابطو نه ډیره اُچته ده۔

محبت تجھ کو آدابِ محبت خود سکھائے گی

محبت به تاته په خپله تاته د محبت طریقے زده کړی

دغه وخت که چرے دحقیقی بنائست اونهٔ ختمید ونکو نعمتونو خیال وی، نو محبت به موجونه اُووهی. سره د دے دا قرآن شریف د اَحْکَمُ الْحَاکِمِیْنَ کلام دے. د پادشاهانو د بادشاه فرمان دے. د هغے

رُعب دار لويئ والا بادشاه قانون دے چه دهغے برابري نهٔ چا لويئ ته لويئ ته شوے ده، آوتهٔ كيدے شي. دكومو خلقو چه د بادشاهانو دربار سره څهٔ واسطه پيښه شوے ده، هغوي د تجربے نه، او چا ته چه څهٔ واسطه نهٔ ده پيښه شوے، هغوي د انداز ے نه معلومولے شي، چه د بادشاه د كلام هيبت آو رُعب په زړونو څومره كيدے شي. قرآن شريف د محبوب اود بادشاهانو بادشاه كلام دے. په دے وجه د دواړو آدابو دهٔ سره يو ځائے كول ضروري دي.

حضرت عِكرمه رضی اللہ عنہ چه به كله قرآن شريف د تلاوت د پاره پرانستلو، نو بے هوشه به پريوتلو، او په ژبه به يے داوينا جاري شوه، هٰذَا كَلَامُ رَبِّيْ هٰذَا كَلَامُ رَبِّيْ (دا زما د رب كلام دے دا زما د رب كلام دے) دا دهغے آدابو اِجمال او دهغے تفصيلا تو اِختصار دے، كوم چه بزرګانو د تلاوت په آدابو كښ ليكلي دي چه د هغے څهٔ قدرے وضاحت هم د كتُو نكو خدمت كښ پيش كوم. دهغے خلاصه صرف دا ده چه بندهٔ نوكر نه، چا كرنه، بلكه بنده جوړشي، او دخپل آقا مالك احسان كونكي او انعام كونكي كلام دِلولي. صوفيانو ليكلي دي چه څوك د تلاوت د آدابو نه خپل ځان عاجزه كنړي، نو هغه په الله تعالىٰ نه د نزديكت په مرتبو كښ ترقي كوي. او چه څوك ځان ته د محبوبيت او د كبر لويئ په نظر كوري، هغه به د ترقئ نه لرے كيږي.

آداب | د مسواك او او دس كولو نه پس ځان له دِيو طرف ته انتهائي د زړهٔ نرمئ او عاجزئ سره مخ په قبله كيني او په زيات د زړهٔ په توجُّه آو ويرے سره په داسے خوند او مزه كوم چه د دغے وخت مناسب وي په داسے شان تلاوت كوي، لكه چه كويا په خپله الله جلَّ شانُهٗ ته كلام پاك آوروي. كهٔ چرے په معنىٰ يے پوهيږي. نو په غور و فكر سره د وعد او د رحمت په آيتونو د مغفرت او د رحمت دُعاګانے غواړي او د وعيد او د عذاب په آيتونو دِ د الله تعالىٰ نه پناه غواړي، چه د هغهٔ نه ماسوا هيڅوك كارجوړونكے نشته، او د الله تعالىٰ د عيبونو نه

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاکوالی په ایتونو دِ سُبْحَانَ الله وائی۔ اوکهٔ چرے په تلاوت کښ ورله په خپله ژړا نهٔ ورځی، نو په زور دِ ځان له دژړا راوستلو کوشش اوکړی۔ ؎

وَاَلَذُّ حَالَاتِ الْغَرَامِ لِمُغْرَمٍ ÷ شَكْوَى الْهَوٰى بِالْمَدْمَعِ الْمُهْرَاقِ

ترجمه: دیو عاشق دپاره دټولو نه زیات دمزے حالت دا دے چه محبوب ته ګیلے کوی، په داسے شان چه دسترګو نه یے اوښکے بهیږی۔

آوکهٔ چرے دقرآن شریف یادول یے مقصود نهٔ وی، نو په لوستلو کښ دِ تلوار نهٔ کوی، قرآن شریف دِ په رَحیل یا بالښت یا په اوچت ځائے کیږدی، او دتلاوت په مینځ کښ دِ چا سره خبرے نهٔ کوی۔ کهٔ چرے څهٔ ضرورت پیښ شی، نو قرآن شریف دِ ټپ کړی آو خبرے دِ اوکړی او بیا دِ دهغے نه پس اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ اُووائی اودوباره دِ شروع کړی۔ کهٔ په کنړه کښ خلق په خپل خپل کاروبار کښ مشغول وی، نو رُو لوستل بهتر دی۔ کنی په زوره سره په اوچت آواز لوستل ډیر بهتردی. علماءکرام دتلاوت شپږ ظاهری آداب اوشپږ باطنی آداب فرمائیلی دی۔

ظاهری آداب اول په اودا سهٔ کښ ډیر په عزت اوادب مخ په قبله دِ کینی۔ دوئیم په لوستلو کښ دِ تلوار نهٔ کوی۔ په ترتیل اوتجوید یعنی په تلارے دحرفونو دخپلو مخرجونو نه داداکولو خیال ساتلو سره دِ لولی۔ دریم دژړا کوشش دِ کوی اګرچه په تکلف سره وی یعنی ځان دِ ژړغونے کړی۔ څلورم درحمت دایتونو اودعذاب دایتونو حق دِ ادا کوی، لکه چه مخکښ تیر شو۔ پنځم کهٔ چرے دریا شک شبه وی یا چاپ مسلمانانو ته د تکلیف اونقصان خطره وی، نو رُو رُو دِ وائی کنی په زوره دِ وائی۔ شپږم په خوش آوازئ دِ لولی، چه په خوش آوازئ دقرآن شریف دلوستلو په ډیرو حدیثونو کښ تاکید راغلے دے۔

باطنی آداب اول دقرآن شریف عظمت دِ زړهٔ کښ ساتی، چه څومره دلوئ مرتبے کلام دے۔ دوئیم دالله جل شانهٔ لوئ شان او اُچتوالے رکبریائی (لوئی) دِ زړهٔ کښ ساتی چه دچا کلام دے۔ دریم زړهٔ دِ دوسوسو اودخطرونه پاك ساتی۔ څلورم معنی ته دِ غور اوفکر کوی، او په مزه

آوخوند دِلولی۔ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم یو وارے ټوله شپه د دے ایت په لوستلوکښ تیره کړه۔ اِنۡ تُعَذِّبۡهُمۡ فَاِنَّهُمۡ عِبَادُكَ ۚ وَاِنۡ تَغۡفِرۡ لَهُمۡ فَاِنَّكَ اَنۡتَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ۝ (مائدہ ۱۶) (ترجمه) "اے الله! که چرے ته دوی ته عذاب ورکړے، نو دوی ستا بندګان دی۔ او که چرے دوی ته بخښنه اوکړے نو بے شکه ته د عزت اود حکمت خاوند یے" سعید بن جُبیر رحمة الله علیه یوه شپه په دے ایت لوستلوکښ سحر کړه۔ وَامۡتَازُوا الۡيَوۡمَ اَيُّهَا الۡمُجۡرِمُوۡنَ ۝ (یٰس ۴) (ترجمه) "اے مجرمانو نن د قیامت په ورځ د فرمانبردارو نه جدا شئ"۔ بنځم د کومو ایتونو چه تلاوت کوی۔ زړهٔ دِ د هغے تابعدار اوګرځوی، مثلاً که چرے د رحمت ایت په ژبه وی نو زړهٔ دِ پرے د خوشالئ نه ډک شی او که چرے د عذاب ایت راشی، نو زړهٔ دِ پرے د ویرے نه اُوریږی۔ شپږم غوږونه دِ دومره متوجه کړی، چه ګویا الله جلّ شانهٗ په خپله کلام فرمائی آو دے یے آوری۔ الله جلّ شانهٗ دِ صرف په خپلے مهربانئ او فضل ماته هم په دے اُدابو سره د تلاوت توفیق راکړی، او تاسو ته هم۔

مسئله: دومره قران شریف یادول چه په هغے مونځ روا کیږی په هر مسلمان باندِ فرض دی، او د ټول قران شریف یادول فرضِ کفایه دی۔ که چرے خوک هم اَلۡعِيَاذُ بِاللّٰهِ حافظ پاتے نه شی، نو ټول مسلمانان ګنهګاریږی بلکه زرکشی رحمة الله علیه نه مُلّاعلی قاری رحمة الله علیه نقل کړی دی چه په کوم ښهر یا کلی کښ خوک هم د قران شریف لوستونکے نه وی نو ټول ګنهګار دی۔ د دے ګمراهئ او د جهالت په زمانه کښ چرته چه مونږ مسلمانانو کښ نور ډیرو دینی کارونو کښ ګمراهی خوریږی، هلته یوه عامه آوازه دا هم ده، چه د قران شریف یادول فضول ګڼړلے شی۔ د دے دالفاظو باربار لوستل کم عقلی خودلے شی، او د دے دالفاظو یادول ته دِماغ کمزوری کول او د وخت ضائع کول وائی۔ که چرے زمونږ د بددینئ دا یوه ګړباډے، نو په دے په مِنځهٔ په تفصیل سره لیکل کړے وے۔ خو دلته هره آدا مرض دے او هر خیال هُم باطِل طرف ته راکاږی، نو په کوم کوم خیز به ژاړے۔ او د چا چا به شکایت کوے۔ فَاِلَی اللّٰهِ الۡمُشۡتَکٰی وَاللّٰهُ الۡمُسۡتَعَانُ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(١) عَنْ عُثْمَانَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم خَيْرُكُمْ مَّنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهٗ

حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نه دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم دا ارشاد نقل شوے دے چه په تاسوکښ د ټولونه بهترين هغه څوك دے چه قران زده کړی او (نوروته يے) ښائی۔

(رواه البخاری وابوداؤد والترمذی والنسائی وابن ماجة كذا فی الترغيب وعزاه الی مسلم ايضاً لكن حكی الحافظ فی الفتح عن ابی العلاء ان مسلماً سكت عنه)

ډيروکتابونوکښ دا روايت "واؤ" سره راغلے دے چه د هغے ترجمه اُوليکلے شوه په دے حالت کښ فضيلت د هغے چا د پاره دے چه قران زده کړی، او د هغے نه پس يے نوروته ښائی۔ خوپه څينو کتابونوکښ دا روايت په "اَوْ" سره راغلے دے۔ په دے حالت کښ به غوره والے اوفضيلت عام شی چه په خپله زده کړی يا نوروته يے ښائی، دواړو د پاره مستقل خيراوبهتری ده۔

چونکه قران شريف اصل دين دے، د دے په باقی ساتلواوخورولوباندے د دين دارومدار دے، نوځکه د دے زده کولواوبيا ته د خودلوغوره والے ښکاره دے۔ د څهٔ وضاحت محتاج نهٔ دے۔ البته د دے قسمونه مختلف دی۔ کامله درجه يے دا ده چه مطلب اومقصد سره يے زده کړی، او اَدنیٰ درجه يے دا ده چه فَقَط الفاظ يے زده کړی۔ دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم يوبل ارشاد مُبارك د دے تيرشوی حديث مرسته کوی، کوم چه د سَعِيدبن سُلَيم نه مرسلاً نقل شوے دے چه څوك قران شريف حاصل کړی، او بيا بل کس چه هغهٔ نه الله تعالیٰ څهٔ بل څيزورکړے وی د خپل ځان نه بهتر اوګنړی، نو دهٔ د الله جلّ جَلَالُهٗ د دے اِنعام چه د خپل کلام پاك په وجه يے په دهٔ کړے وو، سپکاوَے اُوکړهٔ۔ ښکاره خبره ده چه د الله تعالیٰ کلام د ټولوکلامونو نه بهتر او غوره دے، څنګه چه په مستقل حديثونوکښ راتلونکی دی۔ نو د دے لوستل اَوبيل ته خودل يقيناً د ټولو څيزونو نه بهتر کيدل پکار دی۔

يوبل حديث نه مُلّاعلی قاری رحمة الله عليه نقل کړے دے چه چا د کلامِ پاك (عِلم) حاصل کړهٔ، هغهٔ د نبوت عِلمونه په خپل تَنْدِی کښ جمع کړل۔

سَہل تُستَری رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه الله جَلّ شانهٗ سره د محبت نښه داده چه د هغهٔ د کلامِ پاك محبت یے په زړهٔ کښ وی. په شرحِ اِحیاء کښ د هغه خلقو په فهرست کښ کوم چه به د قیامت په سخته ورځ کښ د الله تعالیٰ د عرش د سوری لاندے وُسی هغه خلق یے هُم شمار کړی دی چه څوك د مسلمانانو بچوته د قرآن پاك تعلیم ورکوی - او هغه کسان یے په کښ هُم شمار کړی دی چه څوك په ورکوتوالی قرآن شریف زده کړی، او چه لوئ شی نو د هغے د تلاوت اِهتمام کوی -

(۲) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم یَقُوْلُ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی مَنْ شَغَلَهُ الْقُرْاٰنُ عَنْ ذِكْرِیْ وَمَسْئَلَتِیْ اَعْطَیْتُهٗ اَفْضَلَ مَآ اُعْطِی السَّآئِلِیْنَ وَفَضْلُ کَلَامِ اللّٰهِ عَلٰی سَآئِرِ الْکَلَامِ کَفَضْلِ اللّٰهِ عَلٰی خَلْقِهٖ - (رواه الترمذی والدارمی و البیهقی فی الشعب)

د اَبی سعید رضی الله عنه نه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دا ارشادِ مُبارك نقل شوے دے چه د الله تعالیٰ دا فرمان دے چه چا ته د قرآن شریف د مشغولتیا په وجه د ذکر کولو او دُعا کانو غوختلو فرصت نهٔ وی، هغهٔ ته به د ټولو دُعا کانو غوختو نکو نه زیا ته ورکړه کؤمه. او د الله جلّ شانهٗ کلام ته په ټولو کلامونو دا سے فضیلت حاصل دے لکه څنګه چه په خپله الله جلّ شانهٗ ته په ټول مخلوق باندے فضیلت حاصل دے -

یعنی چه څوك د قرآن پاك په یادولو یا زده کولو پوهیدو لو کښ تر دے حده مشغول وی چه د بلے دُعا وغیره غوختلو وخت ورته نهٔ ملاویږی زهٔ به ورله د دُعا غوختو نکو نه هُم بهتر څیز ورکؤمه. د دُنیا وا لو لیدلے کتلے خبره ده چه څوك شیرینی تقسیموی، او څوك مټهائی اخستونکے هم د هغهٔ په کار کښ اَختهٔ وی، او د هغے (کار) د وجه را تلے نهٔ شی نو یقیناً د هغهٔ برخه د رو مبے نه و یستلے شی -

په یو حدیث کښ هُم په دے موقعه دا خبره ذکر شوے ده چه زهٔ به هغهٔ ته د شکر گذاره بندګانو د ثواب نه بهتر ثواب ورکؤمه -

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضی اللہ عنہ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم وَنَحْنُ فِي الصُّفَّةِ فَقَالَ اَيُّكُمْ يُحِبُّ اَنْ يَّغْدُوَ كُلَّ يَوْمٍ اِلٰى بُطْحَانَ اَوِ الْعَقِيْقِ فَيَاْتِيَ بِنَاقَتَيْنِ كَوْمَاوَيْنِ فِيْ غَيْرِ اِثْمٍ وَّلَا قَطِيْعَةِ رَحِمٍ فَقُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كُلُّنَا نُحِبُّ ذٰلِكَ قَالَ اَفَلَا يَغْدُوْ اَحَدُكُمْ اِلَى الْمَسْجِدِ فَيَعْلَمَ اَوْيَقْرَاَ اٰيَتَيْنِ مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّهٗ مِنْ نَّاقَتَيْنِ وَثَلٰثٌ خَيْرٌ لَّهٗ مِنْ ثَلٰثٍ وَّاَرْبَعٌ خَيْرٌ لَّهٗ مِنْ اَرْبَعٍ وَّ مِنْ اَعْدَادِهِنَّ مِنَ الْاِبِلِ (رواہ مسلم وابوداؤد)

عُقبه بن عامِر رضی اللہ عنہ فرمائی چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم تشریف راوړه اومونږ په صُفّه کښې ناست وُو. نبی علیه الصلوٰة والسلام وُفرمایل چه په تاسو کښې څوك داسې خوښوی چه هره ورځ سحر وختی د بُطحان یا د عقیق بازار ته لاړشی، او دوه اوښې ښې ښې غټې اوبې لوی قُبدار بغیر د څه قسمه گناه او قطع رحمی نیولے راولی. اَصحابو رضی اللہ عنہم عرض وُکړهٔ (اے دالله رسوله! صلی اللہ علیہ وسلم) داخو زمونږ ټولو خوښوی. نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم وُفرمایل جُمات ته تلل او د دوه وُ ایتونو لوستل یا ښېل ته خودل د دوه وُ اُوښو نه او درے ایتونه د دریو اوښو نه . دغه شان څلور د څلورو اُوښو نه غوره او بهتر دی. او دغې په شمیر اُوښانو نه بهتر دی.

صُفّه د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم په جُمات (مسجدِ نبوی) کښې دیوے خاصے معلومے چوترے نوم دے چه د غریبانانو مهاجرینو د ناستے ځائ وُو. د اصحابِ صُفّه شمار به په مختلفو وختونو کښې کم او زیات کیدلو. علامه سُیُوطی رحمة الله علیه بوډ یا سل نو مونه شمیرلی دی. او مستقله رساله یے د دوی په نومونو کښې لیکلے ده. بُطحان او عقیق مدینے طیبے سره دوه ځایونه دی چه هلته به د اُوښانو خرڅولو بازار لګیده. عربو ته اُوښ ډیر خوښ څیز وُو، خاصکر هغه اُوښه چه د هغې قُب ځُرب وی. "بے له څهٔ ګناه نه" مطلب دا دے چه بے محنته څیز اکثر یا دچا نه په زور اَخستلے شی، یا د! چه په میراث وغیره کښې د خپلو خپلوانو په مال قبضه اُوکړی، یا دچا نه غلا اُوکړی. په دے وجه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم د ټولونه اِنکار اُوکړهٔ، چه بے

مُشَقَّته او بغیر دڅهٔ گناه نه حاصلوُل چه څومره ډیر ښهٔ دی د دے نه هُم زیات بهتر آوغوره دیٔ څو ایتونو حاصِلوُل دی - اود ایقیني خبره ده چه یو دوه اُوښان خوَیو خوا - کهٔ چرے د ټولے دُنیا بادشاهي هُم چاته ملاؤشي نو څهٔ دی ؛ کهٔ نن نهٔ وی نو صَبا به یے د مرګ په زور له دهٔ نه جُدا کړی - خو دیو اٰیت اَجر او ثواب همیشه د پاره پاتے کیدونکے څیز دے : په دُنیا کښ اُوګورئ چه تهٔ چا ته یوه روپئ ورکړے چه د استا شوه ، نو هغه پرے ډیر خوشاله شی په ځائ د دے کهٔ ورله یوزر روپئ ورکړے چه د اځان سره کیده ، زهٔ اوس واپس راځم ، درنه به یے اَخلم ، چه په دے حال کښ سِوا د آمانت د بوجه نه نوره هیڅ فائده ورته نهٔ حاصِلیږی - حقیقت کښ په دے حدیث کښ د فاني او د باقي په مقابله کولو خبردارے هُم مقصود دے چه بنده دِ په خپل ژوند غور اُوکړی ، چه ایا په فاني څیز د اضائع کوُم ، یا په باقي پاتے کیدونکی څیز باندے ، او بیا افسوس دے په هغه وختونو چه باقي پاتے کیدونکے نقصان کړی - د حدیث شریف د رُوستنئ جُملے "چه د هغے په شمیر د اُوښانو نه بهتر دی" درے مطلبه کیدے شی -

اوّل داچه ترڅلورو پورے شمیر یے په تفصیل اِرشاد وُفرمایهٔ ، او دد دپاسه یے مختصر اُوفرمایهٔ چه څومره قدرے ایتونه څوك حاصل کړی ، نو د هغے په شمیر اُوښانو نه بهتر دی - په دِے حالت کښ د اُوښانو نه جنس مراد دے ، کهٔ اُوښان وی کهٔ اُوښے - اَو بیان د څلورونه د زیاتو دے ځکه چه ترڅلورو پورے په خپله وضاحت سره ذکر اُوشو -

دوَیم مطلب دادے چه هُم د هغے شمیر ذکر دے کوم چه مخکښ بیان شو دے - بل مطلب دادے چه د هرچا خوښه جُدا جُدا وی - د چا اُوښه خوښه وی ، او څوك په اُوښ مَین وی - له دے وجے نبی اکرم ﷺ په دے لفظ دا ارشاد وُفرمایلو ، چه هر یو ایت د یو ے اُوښے نه هُم بهتر دے ، او کهٔ څوك اُوښ سره محبت ساتی ، نو یو ایت د یو اُوښ نه هم بهتر دے -

دریم مطلب دادے چه دا بیان هُم د هغے شمیر دے ، د کومے چه وړاندِ ذکر اُوشو ، د څلورونه د زیاتے نهٔ دے - خو په دویم مطلب کښ چه کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

بیان اُوشو، چه دیوے اُوښه یا یو اُوښ نه بهتر دے۔ دانهٔ ده بلکه جوړه مراد ده۔ چه یو اُوښ او یوے اُوښه د دوارو د جوړے نه بهتر دے۔ دغه شان هر یو اٰیت د خپل موافق شمیر اُوښه اُوښ د وارو د جوړے نه بهتر دے۔ نو گویا د هر یو اٰیت مقابله د یوے جوړے سره شوه۔ زما پلار صاحب اللّٰه تعالیٰ دے په گور نور کړی" هم دا مطلب خوښ کړے دے، چه دے کښ ډیر بهتر والے دے۔ اگرچه مراد نهٔ دے چه د یو اٰیت ثواب د یو اُوښ یا د دوو اُوښانو مقابله کولے شی۔ دا صرف خبر داړے او په مثال سره پوهه کول دی۔ ماورا ئندے لیکلی دی چه یو اٰیت چه د هغې ثواب همیشه پاتے کیدونکے دے، د ټولے دُنیا د بادشاهیٔ نه چه فنا کیدونکے ده بهتر دے۔

مُلاعلی قاری رحمة الله علیه لیکلی دی چه یو بزرگ ته د هغهٔ بعض تجارت پیشه دوستانو خواست اُوکړهٔ چه د جهاز ته د کوزیدو په وخت کښ تاسو جده کښ ایسار شئ چه ستا سو د برکته زمونږ په مال کښ گټه اُوشی، او مقصد یے دا وُو چه د تجارت په نیت کښ د حضرت ځنے خادمانو ځنے نفع حاصله شی۔ اول خو ورته حضرت صاحب عُذر اُوکړهٔ۔ لیکن کله چه هغوی بیا بیا اُووے، نو حضرت صاحب ترے پوښتنه اُوکړه، چه تاسو د تجارت په مال کښ زیاتو نه زیاته گټه چه کیږی د هغې اندازه څومره ده؟ هغوی عرض اُوکړهٔ چه مُختلفه دی، زیاتو نه زیاته یو په دوه اُوشی۔ حضرت صاحب اُوفرمایل چه د دے لږے گټے د پاره دومره مُشقتونه اُوچتوئ۔ دومره غونډے خبرے د پاره زهٔ د حرم شریف مونځ څنگه پریږدم چه هلته د یو په بدله کښ یو لاکهه ملاویږی۔ په حقیقت کښ د مسلمانانو د پاره د غور مقام دے چه دوی د لږ غونډے دُنیوی سامان له خاطره څومره دینی گټے قربانوی۔

(۴) عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَلْمَاهِرُ بِالْقُرْاٰنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ

حضرت عائشه رضی الله عنها د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دا ارشاد نقل کړے دے چه د قرآن پاك ماهر هغه فرښتو سره دے کومے چه مشرانے لیکونکے او نیکانے دی۔ او څوك

وَالَّذِیْ یَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ وَ یَتَتَعْتَعُ فِیْهِ وَهُوَ عَلَیْهِ شَاقٌّ لَهٗ اَجْرَانِ۔

چه قرآن شریف لوستو کښې اِنخلی او په ویلو کښې یې تکلیف اُوچتوی، هغهٔ د پاره دوه ثوابه دی۔

(رواه البخاری ومسلم وابوداؤد والترمذی والنسائی وابن ماجة)

د قرآن ماهر هغه چاته ویلې شي چه چاته یاد هُم ښهٔ وی، آو ویلې هُم ښهٔ شي، اوکهٔ چرے په معنو او مطلب یې هم پوهیږی، نو بیا خو لا څهٔ وایے۔ فرښتو سره د کیدو مطلب دادے چه هغوی هُم د قرآن شریف د لوحِ محفوظ نه نقل کوونکی دی، او دے هم د هغې نقل کوونکے او رسَوُنکے دے نوکو یا دواړه په یوه لاره دی۔ یا دا چه حشر کښې به یې هغوی سره یوځائ کیدل وی۔ اِنختونکی ته دوه ثوابونه دی، یو د قرآن د لوستلو او بل د هغې د مشقت چه هر واره دا اِنختیدو په وجه تکلیف برداشت کوی، خو د دے دا مطلب نهٔ دے چه دے به د هغې ماهر نه وړاندے شي۔ ماهر د پاره چه کوم فضیلت فرمایلے شوے دے هغه د دے نه ډیر زیات دے، چه د خاصو فرښتو سره یې د دهٔ یوځائ کیدل فرمایلی دی۔ بلکه مقصد یې دادے چه د اِنختلو په وجه به دهٔ ته د دے مُشقت ثواب مستقل ملاویږی، نو د دے عذر په وجه چا له تلاوت پریخودل نهٔ دی پکار۔
مُلاّ علی قاری رحمة الله علیه د طبرانی او بیهقی نه روایت نقل کړیدے چه څوک قرآن شریف لولی آو ورته یا دیږی نه، نو د دهٔ د پاره دُوچند ثواب دے، او چه څوک یې یادولو ارزو کوی، لیکن د یادولو طاقت یې نهٔ لری خو لوستل یې هم نهٔ پریږدی، نو الله جل شانهٔ به حافظانو سره د دهٔ حشر کوی۔

(۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم لَا حَسَدَ اِلَّا عَلَی اِثْنَیْنِ رَجُلٌ اٰتَاهُ اللّٰهُ الْقُرْاٰنَ فَهُوَ یَقُوْمُ بِهٖ اٰنَآءَ اللَّیْلِ وَاٰنَآءَ النَّهَارِ وَرَجُلٌ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دا ارشاد مبارک نقل شوے دے، چه حَسَد د دوؤ کسانو نه بغیر په چا جائز نهٔ دے۔ یو هغه چه چاته الله جل شانهٔ د قرآن شریف تلاوت ورنصیب کړهٔ۔ او دے پکښې شپه او ورځ آخته اُوسی۔ او

Maktaba Tul Ishaat.com

أَتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ (رواه البخاري والترمذي والنسائي)

بل هغه چه چاته الله جل شانهٔ ډیر مال ورکړے وی اوهغه یے شپه اوورځ (د الله پاك درضا دپاره) خرچ کوی۔

دقرآن شریف دآیتونو نه اودډیرو حدیثونو نه دحسد بدی اوناجائز کیدل عام معلومیږی۔ دے حدیث کښ ددوؤ کسانو په باره کښ جائز کیدل معلومیږی، خو دد ے کیله چه هغه روایتونه زیات مشهور اوډیر دی، ځکه عالمانو دد ے حدیث دوه مطلبه إرشاد فرمایلی دی۔ اول دا چه حسد په دے حدیث کښ دپښخیدو په معنیٰ دے چه عربئ کښ ورته غِبطه وائی۔ حسد اوغِبطه کښ دافرق دے چه حسد کښ څوك دچا څهٔ نِعمت اُوینی نودا ارزو کوی چه دهٔ سره دا نعمت پاتے نهٔ شی خواه ما ته مِلاویږی اوکنه۔ اوپه غِبطه کښ خواهِش کوئیګے دهغے دحاصلولو ارزو لری خواه کهٔ دبل نه لاړشی اوکنه۔ چونکه حسد دعالمانو په اتفاق سره حرام دے، نوځکه عالمانو داته دحسد لفظ مجازًا دغبطے په معنیٰ اخستلے دے چه غِبطه په دُنیوی کارونو کښ روا ده اوپه دینی کارونو کښ مُستحب ده۔ دوئیم مطلب دا هم کیدے شی چه ډیرځله کلام عَلیٰ سَبِیْلِ الْفَرْضِ وَالتَّقْدِیْر استعمالیږی (یعنی فرض کړه) کهٔ حسد جائز وے، نو دا دوه څیزونه دا سے دی چه په دے کښ به جائز وے۔

(۶) عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم مَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِیْ یَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ مَثَلُ الْاُتْرُجَّةِ رِیْحُهَا طَیِّبٌ وَطَعْمُهَا طَیِّبٌ وَمَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِیْ لَا یَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ مَثَلُ التَّمْرَةِ لَا رِیْحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ

حضرت ابوموسیٰ رضی الله عنه دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم داإرشاد مبارك نقل کړے دے، چه کوم مسلمان قرآنِ شریف لولی دهغهٔ مثال دتُرُنج یعنی دګلګل په شان دے چه دهغے خوشبوئی هم ښه وی اومزه یے هم ښه وی۔ اوکوم مؤمن چه قرآن شریف نهٔ لولی، دهغهٔ مثال دکجورے په شان دے چه خوشبوئے هیڅ نشته، خو مزه یے خوږه وی۔ اوکوم منافق چه قرآن

وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِیْ لَا یَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ کَمَثَلِ الْحَنْظَلَةِ لَیْسَ لَهَا رِیْحٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِیْ یَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ مَثَلُ الرَّیْحَانَةِ رِیْحُهَا طَیِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ (رواه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة)

شریف نهٔ لولی دهغهٔ مثال دکا کوړے په شان دے چه مزه یے ترخه ده او خوشبو یے هیڅ نشته۔ او کوم منافق چه قران شریف لولی، د هغهٔ مثال د خوشبو یے ګل په شان دے چه خوشبو یے ښه او مزه یے ترخه ده۔

مقصود د دے حدیث نه دنهٔ لیدونکی څیز د لیدونکی څیز سره مثال ورکول دی چه په ذهن کښ دقران شریف د لوستلو او د نهٔ لوستلو فرق په اسانتیا سره راشی. ګنی ښکاره خبره ده چه دقران شریف د خوږوالی او د خوشبوئی سره د ترنج او کهجورے څهٔ نسبت دے۔ اګرچه دے څیزونو سره مثال ورکولو کښ باریکے خبرے هم شته چه د نبوت د علمونو سره تړون لری۔ او د نبی اکرم ﷺ د علمونو فراخئ طرفته اِشاره کوی۔ د مثال په طور ترنج واخله، چه په خُله کښ خوشبوئی پیدا کوی، معدهٔ صفا کوی، هضم کښ قوت ورکوی نیز وغیره۔ دا فائدے داسے دی چه دقران لوستلو سره خاص مُناسبت لری، مثلاً د خُلے خوشبو یه کیدل، د باطن صفا کول، رُوحانیت کښ قوّت پیدا کیدل۔ دا فائدے په تلاوت کښ دی چه په مینتو فائدو سره ډیر برابرے لری۔ یو خاص اثر په ترنج کښ دا هم خودلے شی چه کوم کور کښ تُرنج وی هلته پیریان نهٔ شی تلے۔ کچرے دا صحیح وی نو بیا یے قران شریف سره خاص برابرے دے۔ د ځنے طبیبانو نه ما اورید لی دی چه په ترنج سره حافظه هم قوی کیږی۔ او د حضرت علی کرم الله وجهه نه په اِحیاء (نوم کتاب) کښ نقل کړے شوی دی چه درے څیزونه حافظه زیاتوی۔ مسواك، روژه، او دقرانٓ شریف تلاوت۔

دابوداؤد شریف په روایت کښ دے حدیث په آخیر کښ یو بل مضمون ډیر زیات فائده مند دے چه د بهترین ملګری مثال (مشکوۃ والاسری) په شان دے کهٔ تا ته مشک ملاؤ نهٔ شی نو خوشبو خو یے چرته تلے نهٔ ده۔ او دبد ترین ملګری مثال د اُور دبهټئ والا په شان دے۔ کهٔ چرے تور والے درته اُونهٔ رسی نو لوګے خو چرته تلے

Maktaba Tul Ishaat.com

نۀ دے۔ ډیره زیاته ضروری خبره دۀ چه بنیادم له دخپل مجلس په ملګرو هم نظر کول پکار دی چه دکوم قسم خلقو کښې ئې هر وخت ناسته پاسته دۀ۔

⑦ عَنْ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم اِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتٰبِ اَقْوَامًا وَّيَضَعُ بِهٖ اٰخَرِيْنَ۔ (رواه مسلم)

حضرت عُمر رضی الله عنه دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم د ارشاد مبارك نقل کوی چه الله جل شانهٗ ددے کتاب یعنی دقرآن شریف په وجه ډیر خلق اُوچتوی او ډیر خلق خکته او ذلیله کوی۔

یعنی کوم خلق چه په قرآن ایمان راوړی عمل پرے کوی الله جل شانهٗ هغوی ته دُنیا او آخرت کښې ترقی او عزت ورکوی، او کوم خلق چه پرے عمل نۀ کوی الله جلّ شانهٗ هغوی ذلیله کوی، دقُرآن شریف دا یتونو نه هُم دا مضمون ثابتیږی یو ځائ کښې اِرشاد دے، يُضِلُّ بِهٖ كَثِيْرًا وَّيَهْدِىْ بِهٖ كَثِيْرًا ط (بقره۔ ع ۳) الله جل شانهٗ ددے په وجه ډیرو خلقو ته هدایت کوی او ډیر خلق گُمراه کوی۔ بل ځائ کښې اِرشاد دے۔ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ط (بنی اسرائیل ع ۹) دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك نقل شوے دے چه ددے اُمت به ډیر مُنافقان قاریان وی۔ ځنے عالمانو نه په اِحیاء (نومِ کتاب) کښې نقل شوی دی، چه بنده دقرآن شریف یو سورت شروع کړی، نو فرښتے ددۀ دپاره درحمت دُعا کانے کوی، ترهغے چه ترے فارغ شی۔ او بل کس یو سُورت شروع کړی، نو فرښتے دهغے دختمولو پورے په دۀ لعنت وائی۔ دځنے عالمانو نه نقل دی، چه بنده تلاوت کوی او په خپله په خپل ځان لعنت وائی، او دۀ ته خبر هُم نۀ وی۔ قرآن شریف کښې لولی۔ اَلَا لَعْنَةُ اللهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ط (هود۔ ع ۲) او په خپله دظالم کیدو په وجه په دے سزا کښې داخلیږی۔ هم دغسے وائی۔ لَعْنَةُ اللهِ عَلَى الْكٰذِبِيْنَ ط (آل عمران۔ ع ۲) او په خپله دروغژن کیدو په وجه ددے لعنت لایق جوړیږی۔

عَامِرِبن واثِلَه رضی الله عنه فرمائی چه حضرت عُمر رضی الله عنه نافع بن عبدالحارث دمکے مکرمے حاکم مقرر کړے وۀ۔ یو ځل یے ترے پوښتنه او کړه چه دځنګلو ناظم دِ څوك مقرر کړے دے؟ هغوی عرض او کړو چه ابنِ ابزی۔ حضرت عُمر

رضی اللہ عنہ تپوس اوکړهٔ چه اېن اېزی څوك دے؟ هغوی عرض اوکړهٔ، چه زمونږ یو غلام دے. حضرت عمر رضی اللہ عنہ داعتراض په طور اُوفرمایل چه غُلام دِ وَلے امیرجوړ کړے دے. هغوی عرض وُکړهٔ چه دقرآن شریف لوستونکے دے. حضرت عُمر رضی اللہ عنہ دا حدیث نقل کړهٔ چه دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اِرشاد مُبارك دے چه الله جل شانهٗ د دے کلام په برکت ډیرو خلقو درجے اُوچتوی، او ډیر خلق خکته کوی.

⑧ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ رضی اللہ عنہ عَنِ النَّبِيِّ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَ ثَلٰثٌ تَحْتَ الْعَرْشِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَلْقُرْاٰنُ يُحَآجُّ الْعِبَادَ لَهٗ ظَهْرٌ وَّبَطْنٌ وَّالْاَمَانَةُ وَالرَّحِمُ تُنَادِيْ اَلَا مَنْ وَّصَلَنِيْ وَصَلَهُ اللّٰهُ وَمَنْ قَطَعَنِيْ قَطَعَهُ اللّٰهُ (رواه فی شرح السنة)

عبدالرحمٰن بن عوف رضی اللہ عنہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه نقل کوی چه درے څیزونه به د قیامت په ورځ دعرش د لاندے وی. یو قرآن شریف چه بندګانو سره به جهګړه کوی دقرآن شریف دپاره ظاهر دے او باطن. دوئیم څیز امانت دے. دریم به رشته داری چه اُواز به کوی، چا چه زهٔ یوځائے کړم الله تعالیٰ دِ دخپل رحمت سره یو ځائے کړی. او چا چه زهٔ پریکړم، الله پاك دِ هغه دخپل رحمت نه جُدا کړی.

درے څیزونو دعرش نه دلاندے کیدلو نه مقصود دے کامل نزدیکت دے یعنی د الله جل شانهٗ په لوئ دربارکښ به ډیر نزدے وی. دقرآن شریف دجهګړے کولو مطلب دا دے چه کوم خلقو دے قرآن لحاظ ساتلے وی او ددے حق یے ادا کړے وی او په دے یے عمل کړے وی، نو د هغوی د طرفه به د الله جل شانهٗ په دربارکښ جهګړه کوی او شفاعت به یے کوی او درجے به یے اُوچتوی.

مُلا علی قاری رحمہ اللہ د ترمذی په روایت نقل کړے دے چه قرآن شریف به دالله جل شانهٗ په دربارکښ عرض وُکړی چه دهٔ له جوړه ورکړئ، نو الله جل شانهٗ به دعزت تاج ورپه سرکړی. بیا به قرآن شریف نور زیاتی درخواست اُوکړی، نو الله جل شانهٗ به د اِکرام پوره جوړه ورکړی. بیا به هغه درخواست اُوکړی، چه اے الله! ته دے بنده نه راضی شه. نو الله جل شانهٗ به دهٔ نه خپله رضا ښکاره کړی. نو هرکله چه په دُنیا کښ د محبوب د رضا نه زیات هیڅ یو لوئ نه لوئ نعمت نشی کیدے، نو په اٰخرت کښ د محبوب د رضا مقابله بل کوم یو نعمت کولے شی

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکوموخلقوچه دقرآن حق ضائع کړے وی، دهغوی نه په دے باره کښ قرآن مطالبه کوی چه تا زما کوم لحاظ ساتلے دے، زما دغه حق اداکړے دے؟
شرح احیاء کښ دامام (ابوحنیفه) صاحب رحمة الله علیه نه نقل کړی دی چه کال کښ دوه وارے ختم کول دقرآن شریف حق دے. اوس هغه حضرات چه کله په هیڅ هم تلاوت نهٔ کوی، لږغور دِ اوکړی چه دومره دوی مقابل (قرآن شریف) په مخکښ به څهٔ جواب ورکوی. مرګ خو په هرحال راتلونکے څیز دے. دد نه په هیڅ شان تیښته او خلاصے نشته.
دقرآن شریف ظاهر او باطن کیدل مطلب بښکاره دادے چه یو ظاهری معنے دی چه په هغے هرڅوك پوهیږی. او یو باطنی معنے دی چه هرڅوك پرے نهٔ پوهیږی چه دهغے طرف ته دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دے ارشاد اشاره کړے ده، چه څوك په قرآن شریف کښ دخپلے رائے نه څهٔ وائی، کهٔ صحیح هم وی بیا هم دهٔ غلطی اوکړه. بعض عالمانو دظاهر نه مراد دے الفاظ خودلی دی چه دهغے په تلاوت کښ هرڅوك برابر دی. او دباطن نه مراد دے معنے او مطلبونه دی چه دقابلیت په اعتبار جُدا جُدا دی.
حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی کهٔ چرے علم غواړے، نو دقرآن شریف په معنو کښ غور او فکر کوه. په دے کښ داولینو او دآخرینو (یعنی دمخکینو او روستنو) علم دے، خو دقرآن شریف دمعنو دپاره چه کوم شرطونه او آداب دی دهغے لحاظ ساتل ضروری دی. دا سے نه لکه زمونږ ددے زمانے په شان چه څوك دعربئ دیو څو لفظونو معنے ایزده کړی، بلکه ددے نه هُم ورزیات چه دڅهٔ لفظ معنے پیژندګلو نه بغیر صرف اُردو ترجمے اُوګوری، او خپله رائے پکښ ورداخله کړی.
دقرآن شریف دتفسیر دپاره عالمانو دپنځلسو علمونو مهارت ضروری خودلے دے. دوقتی ضرورت دوجه په مختصر طور عرض کوم چه ددے نه په معلومه شی چه دقرآن پاك حقیقی معنے ته هرڅوك نهٔ شی رسیدلے.
اول دلغت علم چه په دے دقرآن پاك دمفرد لفظونو معنیٰ معلومه شی. مجاهد رحمة الله علیه فرمائی چه څوك په الله او دقیامت په ورځ ایمان لری

دۀ له جائزه نۀ دۀ چه دعربو دلغاتو پېژندلو نه بغیر دقرآن شریف باره کښې خُله پرانزي، او دیو څو لغتونو معلومول کافي نۀ دي. ځکه چه ډیرځله یو لفظ په څو معنو کښې شریک کړے شوی وي، او دے په هغې کښې یو یا دوه معنے پېژني، او په واقعه کښې دغه ځائ څۀ بله معنیٰ مراد وي۔

دویم دعلمِ نحو (دقاعدو) پېژندل ضروري دي ځکه چه د زور، زیر، پیښ په بدلیدو معنیٰ هم بدلیږي۔ او د زور، زیر، پیښ پېژندل په علمِ نحو سره کیږي۔

دریم دعلمِ صرف پېژندل ضروري دي ځکه چه د بناء او د صیغو په اختلاف په وجه معنے هم بدلیږي۔ اِبنِ فارِس رحمة الله علیه وائي چا نه چه علمِ صرف پاتے شو دهغۀ نه ډیرڅۀ پاتے شول. علامه زمخشري رحمة الله علیه اُعجُوباتِ تفسیر کښې نقل کوي چه یو سړي دقرآنِ پاك آیت يَوْمَ نَدْعُوْا كُلَّ اُنَاسٍۢ بِاِمَامِهِمْ (بنی اسرائیل ۔ ۸) (ترجمه) "چه په کومه ورځ راوُبلو مونږ هرڅوك د هغۀ دمقتدا او مشر سره" ددے تفسیر یے دعلمِ صرف نه دناواقفیا په وجه دا اوکړو چه په کومه ورځ به راوُبلو مونږ هرڅوك دهغوی دمیندو سره. دامام لفظ چه مفرد دۀ، دا یے د "اُم" جمع اوګنړله. که چرے هغه دعلمِ صرف نه واقف وے نو ورته به معلومه شوے وه چه د اُم جمع امام نۀ راځي۔

څلورم د اِشتقاق پېژندل ضروري دي ځکه چه لفظ کله کله د دوؤ مادو نه مشتق وي، نو دهریو معنیٰ به جُدا جُدا وي لکه څنګه چه د مَسِیح لفظ دے چه ددے اِشتقاق د مَسَح نه هم دے چه ددے معنیٰ څۀ څیز له لاس وروړل او لوتل لاس په څۀ څیز رابښکل دي، او د مَساحَت نه هم (مشتق) دے چه ددے معنیٰ پیمایش یعني میچ کول دي۔

پنځم دعلمِ معاني پېژندل ضروري دي چه په دے دکلام ترکیبونه د معنے په اعتبار سره معلومیږي۔

شپږم دعلمِ بیان پېژندل ضروري دي چه په دے دکلام ظهور او اخفاء، تشبیه او کنایه یعني ښکاره والے او پټوالے مشابهت او اشارے معلومیږي۔

اووم علمِ بدیع چه په دے دکلام خوبئ د تعبیر په اعتبار سره معلومیږي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دے درے وارہ علمونو ته علمِ بلاغت هم ویلے شي - دمُفسِّر دپاره دا ضروري علمونه دي - ځکه چه کلام پاک چه ټول په ټول اعجاز دے، نو په دے دهغے اعجاز معلومیږي -
اَتّم دعلمِ قراءت پیژندل هم ضروري دي ځکه چه دمختلف قراءتونو په وجه مختلف مَعنے معلومیږي او دځنو معنو په نورو معنو بهتر والے معلومیږي -
نهم دعلمِ عقاید پیژندل هُم ضروري دي ځکه چه کلام پاک کښې ځنې ایتونه داسے هُم دي چه دهغے دظاهري مَعنے پوره راتلل په الله جل شانهٔ بانديے صحیح نهٔ دے - نو بیا په کښې دتاویل ضرورت پیښیږي لکه یَدُ اللهِ فَوْقَ اَیْدِیْهِمْ - (فتح - ع ۱)
لسم داُصولِ فِقه معلومول ضروري دي چه په هغے دِاستدلال او استنباط یعنی دلیل نیولو او دمسئلو راوُخکلو وجے معلومے شي -
یوولسم داَسباب نزول معلومول هم ضروري دي ځکه چه په شانِ نُزول دایت معنٰی ډیره ښه واضحه کیږي - او ډیر ځله اصلي معنے معلومول شانِ نزول سره تړلے وي -
دولسم دناسخ مَنْسُوْخ معلومول هم ضروري دي، چه منسوخ شوي حکمونه د معمول بها ته جُدا شي -
دیارلسم دعلمِ فِقهے معلومول هم ضروري دي، ځکه چه دجزئیاتو په احاطه سره کلیّات پیژندلے شي -
څوارلسم په هغے احادیثو علم ضروري دے، کوم چه دقرآن پاک د مُجمَل ایتونو تفسیر کښې راغلي دي -
دے ټولو نه پس پنځلسم هغه علمِ وَهَبي دے چه دالله جل شانهٔ یو خاصه ورکړه ده چه خپلو خاصو بندګانو ته یے په خپل فضل ورکوي چه هغے ته په دے حدیث کښې اشاره ده، مَنْ عَمِلَ بِمَا عَلِمَ وَرَّثَهُ اللّٰهُ عِلْمَ مَالَمْ یَعْلَمْ (کله چه بنده په هغے خیز عمل وُکړي چه کوم دهٔ ته معلوم وي، نو الله جل شانهٔ ورته دهغه خیزونو علم نصیب کړي چه کوم دهٔ ته نهٔ وي معلوم -) هم دے طرف ته حضرت علي کرم الله وجهه اِشاره فرمایلے ده چه کله خلقو ترے پوښتنه

او کړه چه نبی اکرم ﷺ تا سوته څهٔ خاص علمونه درکړی دی؟ یا خاص صیتونه، چه عامو خلقونه علاوه تا سو سره خاص دی، نو هغوی وُفرمایل چه زما دِ په هغه پاك ذات قسم وی چا چه جنت جوړ کړے دے، او دسا ه (مخلوق) ئے پیدا کړے دے چه د هغے فهم او پوهے نه مَا سوایل هیڅ څیز نشته کوم چه الله جل شانهٔ دخپل کلام پاك د پوهیدو د پاره چا ته ورکړی.

د ابن اَبی الدُّنیا وینا ده چه د قرآن علمونه اَو څهٔ چه ددے نه حاصل شي د ابوډا سے سمندر دے چه ددے غاړه نشته.

دا علمونه کوم چه بیان کړے شو دا دمُفسِّر د پاره د الے یعني دا ؤزار په شان دی. که څوك دے علمونو نه ناخبره وی، او تفسیر کوی نو دا تفسیر بالرائے کښ داخل دے یعنی دخپلے رائے او خیال سره تفسیر چه دهغے نه منع والے راغلے دے.

صحابه کرامو ﷺ ته عربی علمونه دخا نه حاصل وُو ځکه چه ژبه ئے عربی وه او باقی علمونه ئے دمشکوٰةِ نبوت یعنی نبی اکرم ﷺ نه حاصل کړی وُو.

علامه سُیوطی ﷫ فرمائی چه شاید ستا به دا خیال وی چه د علمِ وهبی حاصِلول دبندهٔ دطاقت نه بهر دی، خو حقیقت داسے نهٔ دے، بلکه ددے د حاصلولو طریقه دهغے اسبابو حاصلول دی، په کومو چه الله جل شانهٔ دے له ترتیب ورکړے دے. مثلاً په علم باندے عمل کول، او د دُنیا نه بے رغبتی وغیره وغیره.

کیمیائے سَعَادت نوم کتاب کښ ئے لیکلی دی چه د قرآن شریف تفسیر په دریو کسانو نهٔ ښکاریږی. اَوَّل په هغه چا څوك چه د عربی علمونو نه خبر نهٔ وی دُوَیم په هغه چا څوك چه کبیره ګناهونه بیا بیا کوی یا بدعتی وی چه دد غے ګناه او بدعت په وجه دهٔ زړهٔ تُور شی، او د هغے د وجه د قرآن د معرفت نه پاتے شی. درَیم هغه کس چه د عقیدے مسئله کښ د ظاهِر قائل وی او د قرآن شریف کوم عبارت چه د هغے خلاف وی هغه ئے طبیعت نهٔ مني، نو دے کس ته هم د قرآن د پوهے نه حِصه نهٔ حاصلیږی. اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنْهُمْ.

⑨ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو ﷜ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ | حضرت عبد الله بن عمرو ﷜ د نبی اکرم ﷺ ارشاد نقل کوی چه (د قیامت

Maktaba Tul Ishaat.com

اللهِ ﷺ لِصَاحِبِ الْقُرْاٰنِ اِقْرَأْ وَارْتَقِ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا فَاِنَّ مَنْزِلَكَ عِنْدَ اٰخِرِ اٰيَةٍ تَقْرَأُهَا ۔

(رواه احمد والترمذیؒ ابوداؤد والنسائیؒ و ابن ماجۃ وابن حبان فی صحیحہ)

په ورځ به) صاحب قران ته وُويلے شي چه قران لوله، او د جنت په درجو ورخيژه او په قلاره قلاره يے لوله، څنګه چه به تا په دُنيا کښ په قلاره قلاره لوستۀ. پس ستا مرتبه هُم هغه دۀ، کوم ځائ چه تۀ آخری آيت ته اُورسيږے ۔

د صاحبِ قران نه په ظاهِر کښ حافظ مُراد دے او مُلّا علی قاری ﷫ بنۀ په تفصيل سره وضاحت کړے دے چه دا فضيلت د حافظ د پاره دے، ناظِره خوان يعني په کتلو لوستونکے په کښ داخل نۀ دے ۔

اول خو د صاحبِ قران لفظ هم دے ته اِشاره کوی - دويم دا دے وجه چه د مُسندِ احمد روايت کښ دی، حَتّٰى يَقْرَأَ شَيْئًا مَّعَهٗ (تر دے چه اُولولی هغه څۀ د قران نه چه دۀ سره وی) دے لفظ ته ښکاره معلوميږی چه دے نه حافظ مراد دے، اګرچه امکان د هغے ناظِره خوان هم لری. کوم چه قران شريف ډير زيات لولی - په مِرْقاة کښ يے ليکلی دی چه هغه لوستونکے تر مراد نۀ دے په چا چه قران شريف لعنت وائی، دا هغه حديث طرف ته اِشاره دۀ چه ډير قران لوستونکی داسے دی چه قران لولی او قران په هغوی لعنت کوی - نو کۀ د چا عقيده وغيره دُرستے نۀ وی، نو قران شريف لوستل د هغۀ د مقبوليت دليل نۀ شی کيدے - د خوارجو فرقے باره کښ ډير زيات د دے قسمه حديثونه راغلی دی ۔

د ترتيل متعلق شاه عبد العزيز صاحب ﷫ په خپل تفسير کښ ليکلی دی چه ترتيل په لُغت کښ صفا او واضحه لوستلو ته وائی، او په شريعت کښ ډيرو خوځيزونو لحاظ ساتلو سره تلاوت کولو ته ويلے شی۔

اوّل حرفونه صحيح ادا کول يعنی د خپل مخرج يعنی ځائ نه را ايستل چه د "طا" په ځائ "تا" او د "ضاد" په ځائ "ظا" رااُونۀ زی۔

دويم د وقف په ځائ په ښۀ شان اُودريدل چه وصل او قطع يعنی يوځائ کول او جُدا کول د کلام بے ځايه اُونۀ شی۔

دریم حرکتونه یعنی زور، زیر، پیښ په ښه شان ښکاره لوستل۔
شلورم اواز لړ اوچتول چه دقران شریف الفاظ دژبے نه اوزی، غوږ ونوته اورسی، او دهغه ځائ نه په زړهٔ اثر اوکړی۔
پنځم اواز دارنګے جوړول چه په کښ دردپیدا شی او په زړهٔ اثر وکړی ځکه چه درد ناک اواز په زړهٔ ډیر زر اثرکوی۔ په دے روح ته قوت رسی او اثر یرے زیات کیږی۔ هُم ددے وجے طبیبان وائی چه دکومو دارو اثر زړهٔ ته رسَول غواړئ، نو په هغے کښ خوشبوګډه کړئ، اوورکړئ۔ ځکه چه زړهٔ خوشبوئی زر راکاږی۔ او دکومو دارو اثر چه ابتئے ته رسول غواړئ نو خواږهٔ په کښ ګډ کړئ، ځکه چه اینه دخوږ وراښکونکے ده۔ په دے وجه دبنده په نزد کهٔ دتلاوت په وخت کښ دخوشبوئ خاص استعمال وُشی نو په زړهٔ بلکے اثرکولوکښ په زیات قوی وی۔
شپږم شد او مد ښهٔ ښکاره کول چه ددے په ښکاره کولو دقران شریف لوئ شان ظاهریږی او په اثرکولوکښ مدد کیږی۔
اووم درحمت او دعذاب دایتونو حق اداکول ځنګه چه دکتاب په شروع کښ تیرشو۔ دا اووهٔ خیزونه دی چه ددے لحاظ کولونه ترتیل ویلے شی اومقصود ددے ټولو نه صرف یو دے یعنی دقران شریف پوهه او غور وفکر۔
دمؤمنانو مور حضرت ام سلمه رضی الله عنها نه چا پوښتنه اوکړه چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په قران شریف ځنګه لوستلو؟ وے فرمایل چه ټول حرکتونه به یے وچتول یعنی زور، زیر، پیښ به یے پوره را ایستل، او یو یو حرف به جُدا جُدا ظاهریدهٔ۔ ترتیل سره تلاوت مستحب دے، اګرچه په معنی یے نهٔ پوهیږی۔
ابن عباس رضی الله عنه فرمائی زهٔ چه په ترتیل سُورَةُ الْقَارِعه او سورة اِذَا زُلْزِلَت اووایم، دا بهتر دے ددے نه چه بغیر ترتیله سورة بقره او سورة الِ عِمرَان اولولم۔
دمحدثینو او دعالمانو په نزد دنهم نمبر حدیث مطلب دادے چه د قرانِ پاک یو یو ایت وایه او په یوه یوه درجه بره خیژه ځکه چه د روایتونو نه معلومیږی چه دجنت درجے دقران شریف دایتونو برابر دی، نو

Maktaba Tul Ishaat.com

چه څوك د څومره آيتونو ماهِر وی، هُم هغه هومره درجے بَره به د هغهٔ ځائ وی۔ او چه څوك د ټول قران پاك ماهر وی، هغه به د ټولو نه په اُوچته درجه کښ وی۔

ملاعلی قاری رحمۃ اللہ علیہ ليکلی دی چه په حديث کښ راغلی دی چه د قرآن لوستونکی نه اُوچته بله څهٔ درجه نشته پس قاريان به د آيتونو په مقدار ترقی کوی۔ او علامه دَانِی رحمۃ اللہ علیہ نه د اهلِ فن په دے خبره اِتفاق نقل کړے دے، چه د قرآن شريف آيتونه شپږ زره دی، او د دے نه پس په تعداد کښ اختلاف دے، او پنځه قوله يے نقل کړی دی۔ ۲۰۴، ۱۴، ۱۹، ۲۵، ۳۶۔

په شرح اِحياء کښ يے ليکلی دی چه هر يو آيت په جنت کښ يوه درجه ده نو قاری ته به اُويلے شی چه د جنت په درجو د خپل تلاوت په مقدار وَرخيژه چه څوك قرآن پاك ټول پوره کړی، هغه به د جنت اعلیٰ درجے ته ورسيږی او کوم کس چه څهٔ حصه يے ويلے وی، هغه به د هغے په مقدار د جنت درجوته اُورسيږی۔ خُلاصه دا شوه چه د ترقئ آخری حد به د لوستلو آخری حد وی۔ د بنده په نزد د پورتنی حديث مطلب څهٔ بل څهٔ معلوميږی فَإِنْ كَانَ صَوَابًا فَمِنَ اللهِ وَإِنْ كَانَ خَطَأً فَمِنِّي وَمِنَ الشَّيْطٰنِ وَاللهُ وَرَسُوْلُهٗ مِنْهُ بَرِيْئَانِ۔ کهٔ چرے دُرُست وی، نو د الله تعالیٰ امداد سره دے او کهٔ غلط وی نو زما خپل قصور دے الله او رسول دے نه بری دی۔

د دے حاصل دا دے چه پورتنی حديث نه د درجا تو هغه ترقی مراد نهٔ ده چه د آيتونو په لحاظ په يو آيت يوه درجه ده ځکه چه په دے ترقئ کښ په ترتيل لوستلو يا نهٔ لوستلو په ظاهر کښ هيڅ تعلق نهٔ معلوميږی کله چه يو آيت وُلولی يوه درجه به ترقی اُوشی۔ عامه خبره ده چه په ترتيل وی او کهٔ بے ترتيله۔ بلکه په دے حديث کښ په ظاهره سره ترقی د کيفيت په اِعتبار مراد ده، چه په هغے کښ ترتيل سره د لوستلو او نهٔ لوستلو دَخل دے د دے وجے چه په کوم ترتيل يے دُنيا کښ لوستهٔ، هُم په هغه ترتيل به آخرت کښ اُولوستے شی او د هغے په برابرئ به په درجو کښ ترقی کيږی۔

ملاعلی قاری رحمۃ اللہ علیہ د يو حديث نه نقل کړے دے چه کهٔ چرے په

دُنیا کښې بې ډیر ډیر تلاوت کړے وی، نو په هغه وخت کښې به هم ورته یاد وی کنې هیر به یې شی- الله تعالیٰ دِخپل فضل اُوکړی- مونږ کښې ډیر داسے کسان شته چه مور پلار ورته دینی شوق کښې قرآن شریف یاد کړے وی خو دخپلې بې پرواهئ اوبې توجّهئ په وجه یې په دُنیا کښې ضائع کړی، او د دے مُقابل ځنے حدیثونو کښې راغلی دی چه څوك دقُرآن په یادوُلو کښې محنت اومُشقت اُوچتوی اَومرشی نوهغه په دحافظانو په ډله کښې شمارلے شی دالله تعالیٰ له طرفه ورکوُلوکښې څهٔ کمی نشته خوچه څوك اخستونکے وی۔

اس کے الطاف تو ہیں عام شہیدی سب پر ٭ تجھ سے کیا ضد تھی اگر تو کسی قابل ہوتا

دهغهٔ مهربانئ شهیدی عام دی په ټولو، تاسره یې څهٔ ضد وو کهٔ ته دڅهٔ قابل وے

(١٠) عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم مَنْ قَرَءَ حَرْفًا مِّنْ كِتَابِ اللّٰهِ فَلَهٗ بِهٖ حَسَنَةٌ وَّ الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ اَمْثَالِهَا لَآ اَقُوْلُ الٓمّٓ حَرْفٌ وَّلٰكِنْ اَلِفٌ حَرْفٌ وَّلَامٌ حَرْفٌ وَّ مِيْمٌ حَرْفٌ۔

حضرت ابْنِ مَسْعُوْد رضی اللہ عنہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم دا ارشاد نقل کړے دے چه څوك یو حرف دقرآن شریف اُولولی، هغهٔ د پاره ددے حرف په بدله کښې یوه نیکی ده اودیوے نیکئ ثواب دلسو نیکو برابر ورکوُلے شی- زهٔ دانهٔ وایم چه ټول الٓمّٓ یو حرف دے- بلکه اَلِف یو حرف دے لام یو حرف دے او میم یو حرف دے۔

(رواه الترمذی وقال ہذا حدیث حسن صحیح غریب اسنادًا والدارمی)

مقصود دا دے چه لکه څنګه نورو ټولو عملونو کښې پوره عمل یَو شمارلے شی، قرآن شریف کښې داسے نهٔ ده، بلکه دعمل حصے هم پوره عمل شمارلے شی، نو ځکه دقرآن شریف په تلاوت کښې یو یو حرف یوه یوه نیکی شماریږی اوپه هره نیکئ دالله تعالیٰ له طرفه (مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا (انعام-٢٠) څوك چه یوه نیکی راوړی، هغهٔ ته به دلسو نیکو په برابرئ ثواب ورکوُلے شی) لس حصے دثواب وعده ده، اودا ډیره کمه ذکر ده- وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ (بقره-٣٦) الله جل شانهٔ چا د پاره چه اُوغواړی ثواب زیات ورکوی- دهر یو حرف مستقله نیکی شمیرلو مثال

Maktaba Tul Ishaat.com

نبي اکرم ﷺ ارشاد فرمایلے دے چه الٓمٓ یو حرف نه شمارېږي. بلکه الف، لام، میم په جُدا جُدا حرفونه شمارېږي، نو په دے شان د الٓمٓ په مجموعه باندے دېرش نیکئ شوے. دے کښ اختلاف دے چه د الٓمٓ نه د سورة بقره شروع الٓمٓ مراد دے، یا اَلَمْ تَرَ کَیْفَ فَعَلَ رَبُّکَ بِاَصْحٰبِ الْفِیْلِ اَلَم مراد دے. کهٔ چرے د سورة بقرے شروع مراد وي، نو ظاهري مطلب یې دا دے چه د لیکلو شوي حرفونو اعتبار دے، او په لیکلو کښ هغه هم درے حرفونه لیکلے شي، نو دېرش نیکئ شوے. او کهٔ چرے له دے نه د سورة فیل شروع مراد وي، نو بیا د سورة بقرے په شروع کښ چه کوم الٓمٓ دے هغه نهٔ حرفونه دي نو ثواب یې د لس کم سلو نیکو شو. د بیهقي په روایت کښ دي چه نبي اکرم ﷺ فرمائي چه زهٔ دا نهٔ وایم چه بِسْمِ اللّٰهِ یو حرف دے بلکه ب، س، م جُدا جُدا حرفونه مراد دي.

⑪ عَنْ مُعَاذِ الْجُهَنِیِّ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَرَءَ الْقُرْاٰنَ وَعَمِلَ بِمَا فِیْهِ اُلْبِسَ وَالِدَاهُ تَاجًا یَّوْمَ الْقِیٰمَةِ ضَوْءُهٗ اَحْسَنُ مِنْ ضَوْءِ الشَّمْسِ فِیْ بُیُوْتِ الدُّنْیَا لَوْ کَانَتْ فِیْکُمْ فَمَا ظَنُّکُمْ بِالَّذِیْ عَمِلَ بِهٰذَا. (رواہ احمد وابو داؤد وصححہ الحاکم)

حضرت مُعاذ جُهني رضی اللہ عنہ د نبي اکرم ﷺ ارشاد نقل کړے دے چه څوک قرآن شریف اُولولي او په هغے عمل اوکړي، د هغهٔ مور پلار ته به د قیامت په ورځ یو تاج ورپه سرکړے شي چه د هغے رڼړا به د نمر د رڼړا نه هم زیاته وي، کهٔ چرے دغه نمر ستاسو په کورونو کښ وي. پس ستاسو څهٔ گمان دے د هغے کس په باره کښ چه پخپله پرے عمل کوي.

یعني د قرآن شریف د لوستلو او په هغے د عمل کولو برکت دا دے چه د لوستونکي مور پلار ته به داسے تاج ورپه سرکړے شي چه د هغے رڼړا به د نمر د رڼړا نه ډیره زیاته وي، کهٔ چرے دغه نمر ستاسو په کورونو کښ وي یعني نمر د دومره لرے نه څومره ډیره رڼړا خوروي، نو کهٔ چرے هغه په کورکښ دننه راشي، نو یقیناً بیا خو به ډیر زیات د رڼړا او برېښنا سبب وي نو دے لوستونکي مور پلار ته به چه کوم تاج ورپه سرولے شي د هغے رڼړا

په دغې رنړا ته زیاته وی چه کومه رنړا په کورکښې راختونکے نمر خوروی - او هرکله چه د مور پلار د پاره دا ذخیره ده، نو د لوستونکی د ثواب په خپله تاسو اندازه اوکړئ چه څومره قدرے به وی - هرکله چه د سبب جوړیدونکو دا حال دے، نو په خپله دِ ښې حال خو به په څوشو درجو زیات وی، چه مور پلار ته دا ثواب په دے وجه ورکولے شی چه دوی د ښې د وجود یا د تعلیم سبب جوړشوی دی۔

د نمر په کورکښې کیدو سره چه کوم مثال ورکړے شوے دے په دےکښې علاوه د دے نه چه په نزدیکت کښې رنړا زیاته معلومیږی، یو بل باریک کار طرف ته اِشاره هُم ده، هغه دا چه کوم څیز هر وخت نزدے اُوسی، هغے سره مینه او محبت زیات وی، د دے وجے د نمر د لرے والی د وجے کومه چه دَٔ سړی نا اشنائی ده، هغه د هر وخت د نزدیکت په وجه به په محبت بدله شی۔ نو دے حالت کښې د رنړا نه علاوه دَٔ سره محبت طرف ته هُم اِشاره ده، اَودے ته هُم اِشاره ده چه هغه یے خپل هم وی چه د نمر ته اگرچه هر څوك فائده اَخلی خو کهٔ چرے هغه چا ته اُوبخښلے شی، نو د هغهٔ د پاره څومره فخر څیز وی.

حاکم رحمۃ اللہ علیہ د بُریده رضی اللہ عنہ نه د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اِرشاد نقل کړے دے چه څوك قرآن شریف اُولولی او په هغے عمل اُوکړی، هغهٔ ته به یو تاج وریه سر کړے شی چه د رنړا نه به جوړ شوے وی، او د هغهٔ مور پلار ته به دا سے دوه جوړے وَرَوَا غوستولے شی چه ټوله دُنیا به یے مقابله نهٔ شی کولے - هغوی به عرض وُکړی چه اے الله! دا جوړے دَ څهٔ په بدله کښې دی؟ الله پاك به ورته وُفرمائی چه ستا د ښې د قرآن شریف لوستلو په بدله کښې -

جَمْعُ الْفَوَائِد کښې د طبرانی نه نقل کړے دے چه حضرت اَنس رضی اللہ عنہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم دا ارشاد نقل کړیدے چه څوك خپل ځوئ ته په ناظره قرآن اُوښائی، نو د هغهٔ ټول مخکنی رُوستنی گناهونه معاف کیږی، او چه څوك یے ورته یاد کړی نو هغه به د قیامت په ورځ د څوارلسمے د سپوږمئ په شان راوُچتولے شی او د هغهٔ ځوئ ته به اُوویلے شی چه لوستل شروع کړه - کله چه ځوئ یو ایت لولی، نو د پلار یوه درجه به اُوچتولے شی، تردے چه د غه

Maktaba Tul Ishaat.com

شان به تول قرآن پوره شي۔
دلته د قرآن شریف په لوستلو د پلار د پاره دا فضیلتونه دي خو په دې بس نه دې، بله خبره هُم وا ورئ، که چرې الله دِ نه کړي تا خپل بچې دیو څو پیسو په لالچ کښې د دین نه محرومه اُوساتۀ، نو صِرف دا نه چه ته به د هغې همیشه ثواب نه محرومه شې۔ بلکه الله تعالیٰ ته به هُم جواب ورکوې. ته د دې وېرې نه چه دا مُلایان او حافظان دعِلم او حفظ نه پس به صرف دجُمات امامان او دټکړې مُحتاج جوړ شي۔ د دې وجې نه چپل نیازبین څوئ د دې نه ساتې. یادساتئ په دې ته هغه خوپه همیشه مصیبت کښې گیرَوې، خو ورسره ورسره سخت جواب ورکولو ذمه واری آخلې۔ په حدیث شریف کښې راغلی دي. کُلُّکُمْ رَاعٍ وَّكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَّعِيَّتِهٖ۔ هرچا نه به دهغهٔ دما تحتواو دلاندې کسانو په باره کښې هم سوال کیږی، چه هغوی ته دِ څومره دین خودلے دے۔ البته داضروری ده چه د دې عیبو نو نه ته په خپله هُم ځان بچ کړه، او دنورو دبچ کولو کوشش هُم ضرور کوه خو د سپکو دویرې جاے نهٔ آغوستل څهٔ دعقل خبره نه ده ۔ البته د هغې جامو صفا ساتلو کوشش ضرور پکار دے، خلاصه دا که چرته اسو خپل بچي ته د دینداری تعلیم او تربیت ورکړئ، نو خپله غاړه به خلاصه کړئ او ترکومې چه هغه ژوندی وی او څومره نیک عملونه کوی دُعا او استغفار به تا د پاره کوی، نو ستا د درجو اُوچتولو سبب به جوړیږی۔ خوکهٔ ددُنیا په خاطر دځلورو پیسو په لالچ کښې دِ هغه د دین نه بې برخې اُوساتهٔ، نو بیا ځے دا نه چه دخپل حرکت وبال به دِ ترغاړې کیږی۔ بلکه هرڅومره بد عملئ، فسق، او بې دینی کارونه چه هغه کوی، ستا عملنامه به هم د دغې ذخیرې نه خالی نه پاتې کیږی۔ دالله تعالیٰ دپاره په خپل حال رحم اُوکړئ۔ دُنیا په هرحال کښې ختمیدونکې څیز دے۔ او مرګ دلوئ نه لوئ تکلیف خاتمه ده۔ دکوم تکلیف نه پس چه مرګ هم نشته، نو د هغې هیڅ انتهاء هم نشته۔

(۱۲) عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضی اللہ عنہ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم يَقُوْلُ لَوْ جُعِلَ

حضرت عُقبه بن عامر رضی الله عنه فرمائی چه ما دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه دا اوریدلی دی که چرې قرآن شریف په څهٔ څرمنه کښې

الْقُرْاٰنُ فِيْ إِهَابٍ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ مَا احْتَرَقَ (رواه الدارمی)

کېخودلے شي، بیا هغه په اُور کښې وا چولے شي، نو اُور به نهٔ سوزي ۔

د حدیث عالمانو ددے روایت په مطلب کښې دوه رائے خودلی دي د څنو په نزد د څرمنې نه عامه څرمن مراد ده، د هرڅناورچه وي، او د اُور نه د دُنیا اُور مراد دے، په دے حال کښې دا خاصه معجزه ده چه د نبي اکرم ﷺ زمانے سره خاصه وه، لکه څنګه چه د نورو نبیانو معجزے د هغوی زمانے سره خاص وے ۔ دویم مطلب دا دے چه د څرمنې نه مراد د سړی څرمن ده، او د اُور نه د دوزخ اُور مراد دے ۔ دے حال کښې به دا حکم عام وي، د یوے زمانے سره به خاص نهٔ وي ۔ یعني څوك چه د قرآن حافظ وي . کهٔ چرے هغه په څهٔ جُرم کښې په دوزخ کښې هُم وا چولے شي، نو اُور به پرے اثر نهٔ کوي ۔ یو روایت کښې مَا مَسَّتْهُ النَّار لفظ هم راغلے دے، یعني اُور به د هغهٔ څرمنې پورے لګی هُم نه ۔ د ابُو اُمامه رضی اللہ عنہ روایت چه کوم د شَرْحُ السُّنّه نه مُلا علي قاري رحمۃ اللہ علیہ نقل کړے دے، ددے دویم مطلب مرسته کوي، چه د هغے ترجمه داده چه قرآن شریف یادوئ، ځکه چه الله تعالیٰ هغه زړهٔ نه عذابوي کوم کښې چه قرآن پاك محفوظ وي ۔ دا حدیث په خپل مضمون کښې صفا او واضح دے ۔ کوم خلق چه د قرآن شریف یادولو ته فضول ائی هغوی دِ الله تعالیٰ د پاره په دے فضیلتونو هُم غور او فکر اُوکړي چه هُم دا یو فضیلت داسے دے چه ددے په وجه هرچا له د قرآن په یادولو ځان قربانول پکار دي ۔ ځکه چه داسے په څوك وي چه ګناهو ته به یے نهٔ وی کړي، چه د هغے په وجه به اُور ته د تلو قابل نهٔ وي جوړ شوے ۔

په شرح احیاء کښې د هغه خلقو په فهرست کښې کوم چه به د قیامت ویرونکے هیبتناکے ورځ کښې د الله تعالیٰ د عرش د سوری لاندے وي ۔ د حضرت علي رضی اللہ عنہ حدیث نه په روایت د دَیلمي نقل کړے دے، چه د قرآن حافظان به د الله تعالیٰ د عرش د سوری لاندِ د نبیانو او د نیکانو خلقو سره وي ۔

(۱۳) عَنْ عَلِيٍّ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ

حضرت علي رضی اللہ عنہ د نبي اکرم ﷺ ارشاد نقل کړے دے چا چه قرآن شریف اُولوسته

Maktaba Tul Ishaat.com

قَرَأَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَظْهَرَهٗ فَاَحَلَّ حَلَالَهٗ وَحَرَّمَ حَرَامَهٗ اَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ وَشَفَّعَهٗ فِيْ عَشْرَةٍ مِّنْ اَهْلِ بَيْتِهٖ كُلُّهُمْ قَدْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ۔

(رواه احمد والترمذی وقال هٰذا حدیث غریب و حفص بن سلیمان الراوی لیس هو بالقوی یضعف فی الحدیث ورواه ابن ماجة والدارمی)

بیا یې حفظ یاد کړۀ، دهغې حلال یې حلال اُوګڼړل او حرام یې حرام۔ الله جل شانهٔ په هغه جنت کښې داخل کړی، او دهغهٔ په کورنئ کښې په دداسې لسو کسانو په باره کښې دهغهٔ سفارش قبول کړی چا د پاره چه دوزخ واجب شوے وی۔

جنت ته داخلیدل خودهرمؤمن دپاره انشاء الله شته، اګرچه د بد عملو دسزاخوړلو ته پس وَلے نۀ وی۔ خو دقرآن شریف دحافظانو دپاره دا فضیلت داول داخلیدو په اعتبار سره دے، هغه لس کسان چه دچا په باره کښې چه شفاعت قبول کړے شوے دے، هغه به فاسقان اوفاجران وی چه لوئ ګناهونه به یې کړی وی۔ څکه چه دکافرانو باره کښې خو سفارش هیڅ شته نه۔ دالله جل شانهٔ ارشاد دے۔ اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ○ (مائده - ۱۰) "په مشرکانو الله جنت حرام کړے دے، او دهغوئ ځائ دوزخ دے، اود ظالمانو هیڅوک مدد ګار نشته". بل ځائ ارشاد دے مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ - الاٰية (توبه - ۱۴) نبی او مؤمنانو دپاره ددے اِجازت نشته چه هغوی دمشرکانو د پاره بخښنه اُوغواړی، اګرچه هغوی یې خپلوان وی، وغیره وغیره آیتونه په دے مضمون کښې واضح دی چه دمشرکانو بخښنه نشته دے۔ ددے وجه دحافظانو دسفارش نه دهغې مسلمانانو سفارش مراد دے، چه د ګناهونو په وجه دهغوی په دوزخ کښې داخلیدل ضروری شوی وُو۔ څوک چه ددوزخ نه محفوظ کیدل غواړی، دهغوی دپاره دا ضروری ده کۀ حافظ نۀ وی، او په خپله قرآن نۀ شی یادولے، نو کم نه کم خپل نږدے رشته دارو کښې یو څوک حافظ جوړ کړی، چه دهغهٔ په خاطر به دے هُم دخپلو بد عملو دسزا نه محفوظ پاتے شی۔ دالله تعالیٰ څومره لوئ

انعام دے په هغے سړی باندے (مراد ترے د شیخ الحدیث رحمة الله علیه خپل ځان دے) چه د چا پلار، تروته، نیکوته، ماما گان ټول حافظان دی۔ اَللّٰهُمَّ زِدْ فَزِدْ۔

(۱۴) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَعَلَّمُوا الْقُرْاٰنَ فَاقْرَءُوْهُ فَاِنَّ مَثَلَ الْقُرْاٰنِ لِمَنْ تَعَلَّمَ فَقَرَاَ وَقَامَ بِهٖ كَمَثَلِ جِرَابٍ مَّحْشُوٍّ مِّسْكًا تَفُوْحُ رِیْحُهٗ كُلَّ مَكَانٍ وَّمَثَلُ مَنْ تَعَلَّمَهٗ فَرَقَدَ وَهُوَ فِیْ جَوْفِهٖ كَمَثَلِ جِرَابٍ اُوْكِیَ عَلٰی مِسْكٍ۔

(رواه الترمذی والنسائی وابن ماجه وابن حبان)

حضرت ابو هریره رضی الله عنه د نبی اکرم ﷺ ارشاد نقل کړے دے چه قرآن شریف زده کړئ، بیا یے لولئ، ځکه چه څوك قرآن شریف زده کړی او لولی یے، او په تهجد کښ یے وائی د هغه مثال د هغے تهیلئ په شان دے چه د مشکو نه ډکه وی چه د هغے خوشبوئی په ټول مکان کښ خوره وی او چا چه قرآن زده کړهٔ او بیا اوده شو د هغهٔ مثال د هغے مشکو د تهیلئ دے چه د هغے خولهٔ بنده کړے شوی وی۔

یعنی چا چه قرآن اولوستلو د هغے خبرگیری یے اوکړه، د شپے یے په مانځه کښ تلاوت اوکړو، د هغهٔ مثال د هغے مشکو د تهیلئ په شان دے چه پرانستے وی، او ټول مکان یے خوشبویه کړے وی۔ د غسے د حافظ په تلاوت ټول مکان د انوارو او د برکتونو نه ډك وی۔ او که چرے د غه حافظ اودهٔ شی یا د غفلت په وجه یے اونهٔ لوستلو، بیا هم چه د هغهٔ په زړهٔ کښ کوم قرآن پاك دے هغهٔ خو په هرحال مُشك دی۔ د دے غفلت د وجے دومره نقصان ضرور اوشو چه نور خلق د دهٔ د برکتونو نه محرومه پاتے شول، خو د دهٔ زړهٔ خو په هرحال دا مشك خپل د ننه ځائ کړی دی۔

(۱۵) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنهما قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ الَّذِیْ لَیْسَ فِیْ جَوْفِهٖ شَیْءٌ مِّنَ الْقُرْاٰنِ كَالْبَیْتِ الْخَرِبِ۔

حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما د نبی اکرم ﷺ دا ارشاد نقل کړے دے چه د چا په زړهٔ کښ د قرآن شریف څهٔ حصه هم محفوظه نهٔ وی هغه په شان د وران کور دے۔ یعنی کنډر دے۔

(رواه الترمذی وقال هٰذا حدیث صحیح ورواه الدارمی والحاکم وصححهٗ)

Maktaba Tul Ishaat.com

دَوُران کور سره مثال ورکولو کښ یوه خاصه لطیفه یعنی خوند نا که خبرۀ هُم ده هغه دا چه "خانۂ خالی رادیوی گیرد" (خالی رُوران) کور باندے پیریان دیوان قبضه کوی دغه شان چه کوم زړهٔ دقرآن پاك نه خالی وی، دشیطانانو په هغے قبضه زیاته وی۔ په دے حدیث کښ دقرآن پاك دحفظ یے څومره تاکین فرمایلے دے، چه هغه زړهٔ ته یے وُران کور فرمایلے دے، کوم کښ چه قرآن پاك محفوظ نهٔ وی۔

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه په کوم کور کښ قرآن شریف لوستلے شی، دے کور کښ اولاد ډیریږی، او خیر و برکت په کښ زیاتیږی، فرښتے په کښ نازلیږی۔ او شیطانان د دے کور نه اُوزی۔ او په کوم کور کښ چه تلاوت نهٔ کیږی، په هغے کښ تنگسیا او بے برکتی وی، فرښتے د دے کور نه ځی، او شیطانان په کښ داخلیږی۔ دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل دے، او څنے دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه خالی کور هغه دے چه په هغے کښ دقرآن شریف تلاوت نهٔ کیږی۔

(۱۶) عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها اَنَّ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم قَالَ قِرَاءَةُ الْقُرْاٰنِ فِي الصَّلٰوةِ اَفْضَلُ مِنْ قِرَاءَةِ الْقُرْاٰنِ فِيْ غَيْرِ الصَّلٰوةِ وَقِرَاءَةُ الْقُرْاٰنِ فِيْ غَيْرِ الصَّلٰوةِ اَفْضَلُ مِنَ التَّسْبِيْحِ وَالتَّكْبِيْرِ وَالتَّسْبِيْحُ اَفْضَلُ مِنَ الصَّدَقَةِ وَ الصَّدَقَةُ اَفْضَلُ مِنَ الصَّوْمِ وَالصَّوْمُ جُنَّةٌ مِّنَ النَّارِ۔

حضرت عائشے رضی الله عنها دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دا ارشاد نقل کړے دے چه په مانځهٔ کښ دقرآن شریف تلاوت دبغیر مانځهٔ د تلاوت نه بهتر دے۔ او دبغیر مانځهٔ تلاوت دتسبیح (یعنی سُبْحَانَ الله) او د تکبیر (یعنی اَللهُ اَکْبَر) نه بهتر دے۔ او تسبیح دصدقے نه بهتر دے او صدقه دروژے نه بهتره ده، او روژه د اُور نه د بچ کیدو ډال دے۔

(رواه البيهقي في شعب الايمان)

دتلاوت د ذکرونو نه بهتر کیدل ښکاره دی ځکه چه دا د الله تعالیٰ کلام دے، او وړومبے معلومه شوے ده چه د الله تعالیٰ دکلام په نورو کلامونو هغه بهتر والے دے کوم بهتر والے چه الله تعالیٰ ته په مخلوق

باندے دے. دالله تعالیٰ ذکر د صدقے نه بهتر کیدل په نورو روایتونو کښې هم راغلی دی. او د صدقے د روژے نه بهتر کیدل لکه څنګه چه ددے روایت نه معلومیږی، د نورو څنو روایتونو نه خلاف دی. چه د هغے نه د روژے بهتر والے معلومیږی. خو د حالاتو په اعتبار سره مختلف دی. څنے حالتونو کښې روژه بهتره ده او څنو کښې صدقه. د غه شان د خلقو په اعتبار سره هم مختلف دی څنو خلقو د پاره روژه بهتره ده. او هر کله چه روژه د اور نه د بچ کیدو ذریعه ده چه د هغے درجه په دے روایت کښې د ټولو نه په اخیر کښې ده. نو بیا د کلام الله د تلاوت به څهٔ وایے چه د ټولو نه اول دے.

صاحبِ احیاء (یعنی امام غزالی رحمة الله علیه) د حضرت علی کرم الله وجهه نه نقل کړے دے چه چا په مانځه کښې په ولاړه قرآن شریف اُولوستهٔ. هغهٔ ته به په هر یو حرف سل نیکئ ورکولے شی. او چا چه په مانځه کښې په ناسته (له څهٔ عذره) اُولوستهٔ، د هغهٔ د پاره پنځوس نیکئ، او چا چه بغیر د مانځه په اَوداسهٔ کښې اُولوستهٔ د هغهٔ د پاره پنځویشت نیکئ دی، او چا چه بغیر اَوداسهٔ اُولوستهٔ هغهٔ د پاره لس نیکئ دی. او څوك چه په خپله نهٔ لولی. صرف لوستونکی ته یے غوږ ایښے وی اَوری. د هغهٔ د پاره هم د هر یو حرف په بدله کښې یوه نیکی ده.

(۱۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم اَیُحِبُّ اَحَدُکُمْ اِذَا رَجَعَ اِلٰی اَهْلِهٖ اَنْ یَّجِدَ فِیْهِ ثَلٰثَ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ قُلْنَا نَعَمْ قَالَ فَثَلٰثُ اٰیَاتٍ یَّقْرَاُ بِهِنَّ اَحَدُکُمْ فِیْ صَلٰوتِهٖ خَیْرٌ لَّهٗ مِنْ ثَلٰثِ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ

(رواه مسلم)

حضرت اَبُوهُرَیره رضی الله عنه وائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد وُفرمایهٔ آیا په تاسو کښې څوك دا خوښوی چه کله کور ته واپس راشی، نو درے بلاربے اُوښے غټے څربے دهٔ ته مِلاوٕ شی. مونږ ه عرض وُکړهٔ بے شکه (ضرور خوښوو) نبی اکرم صلی الله علیه وسلم وُفرمایل چه درے آیتونه تاسو کښې څوك په مانځه کښې وُلولی، هغه د دریو بلاربو اَو غټو څربو اُوښو نه بهتر دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دے په شان مضمون دریم نمبرحدیث کښ تیرشوے دے۔ په دے حدیث
شریف کښ چونکه په مانځه کښ دلوستو ذکر دے او هغه د بغیر مانځه لوستو
نه بهتر دے، ځکه یے مثال یلا ربو اُو ښو سره ورکړے دے چه هلته هُم دوه
عبادتونه دی، مونځ او تلاوت۔ دغسے دلته هم دوه څیزونه دی، اُوښه او
دهغے حمَل (یعنی په کیډه کښ بچے) ماد دریم نمبرحدیث په فائدهٔ کښ لیکلی
دی، چه د دے قسمه حدیثونو نه صرف مثال مُراد دی۔ کنی دیو ایت باقی
پاتے کیږ وڅکے ثواب په زرګونو فانی اُوښو نه بهتر دے۔

(۱۸) عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَوْسِ الثَّقَفِيِّ رضی اللہ عنہ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قِرَاءَةُ الرَّجُلِ الْقُرْاٰنَ فِيْ غَيْرِ الْمُصْحَفِ اَلْفُ دَرَجَةٍ وَقِرَاءَتُهٗ فِي الْمُصْحَفِ تُضْعَفُ عَلٰى ذٰلِكَ اَلْفَيْ دَرَجَةٍ۔

حضرت اَوس ثقفی رضی اللہ عنہ د نبی اکرم ﷺ نه نقل کړے دے چه قرآن شریف په یادلوستل زر درجے ثواب لری۔ او په قرآن شریف کښ په کتلو سره لوستل تردوه زرو پورے زیاتیږی۔

(رواه البیهقی فی شعب الایمان)

دقرآن دحافظ ډیر فضائل مخکښ تیرشوی دی۔ په دے حدیث شریف
کښ قرآن شریف کښ چه په کتلو سره لوستلو کښ کوم بهتر والے دے،
داد دے وجه نه دے، چه د قرآن په کتلو سره لوستلو کښ د تَدَبُّر او غور
فکر د زیاتوالی سره نور څو عبادتونه په کښ هُم شامل دی، لکه قرآنِ پاک
ته کتل اَو لاس وَروړل وغیره وغیره۔ په دے وجه دا بهترشو۔ چونکه د
روایتونو مطلب مختلف دے، ځکه عالمانو په دے خبره کښ اختلاف کړے
دے چه قرآن پاک په یاد لوستل بهتر دی او که په کتلو سره؟ د یوے ډلے
رائے دا چه د پورتنی حدیث د وجه او د دے وجه چه په دے کښ د غلط
لوستلو نه اَمن وی۔ په قرآن پاک باندے نظروی، قرآن شریف ته په
کتلو سره لوستل بهتر دی۔ دَ دویمه ډله د نورو روایتونو په وجه او په دے
وجه چه په یاد لوستل د زیاتے خشوع سبب دے د ریا نه حفاظت د
یله داچه د نبی اکرم ﷺ عادتِ شریفه په یاد دلوستلو وُ په یاد لوستل

بهتر بنائی. امام نَوَوی رحمۃ اللہ علیہ په دے کښ دا فیصله کړے ده چه بهتر والے د خلقو په لحاظ مختلف دے. دځنو د پاره په کتلو سره لوستل بهتر دی. که په دے کښ ورته تدَبُّر او غور وفکر زیات حاصلیږی. او چا ته که په یاد لوستلو کښ تدَبُّر زیات حاصلیږی، هغوی دپاره په یاد لوستل بهتر دی.

حافظ ابنِ حجر رحمۃ اللہ علیہ په فتحُ البَاری کښ هم دا تفصیل خوښ کړے دے وئیلے شی چه حضرت عثمان رضی اللہ عنہ سره د ډیر تلاوت د وجه دوه قرآن شریفه ضعیف شوی وُو. عَمرو بنِ میمُون رحمۃ اللہ علیہ په شرح اِحیاء کښ نقل کوی چه څوك د سحر د مانځه نه پس قرآن شریف پرانزی. او تقریبًا سَل اٰیتونه ولولی د ټول دُنیا په اندازه د هغه ثواب اُولیکلے شی. قرآن شریف په کتلو سره لوستل د نظر د پاره فائده مند خودلے شی.

اَبُوعُبَید رحمۃ اللہ علیہ حدیث مُسلسل نقل کړے دے چه په هغے کښ هر یو راوِی وئیلی دی چه ما ته د سترګو تکلیف وُو، نو اُستاد را ته قرآن شریف په کتلو سره لوستل اُوخودل. امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ به اکثر د ماسخوتن (د مانځه) نه پس قرآن شریف پرانستهٔ. او د سحر د مانځه په وخت کښ به یے ټپ کړهٔ.

(١٩) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم اِنَّ هٰذِهِ الْقُلُوْبَ تَصْدَاُ كَمَا يَصْدَاُ الْحَدِيْدُ اِذَا اَصَابَهُ الْمَاءُ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَمَا جِلَاؤُهَا قَالَ كَثْرَةُ ذِكْرِ الْمَوْتِ وَتِلَاوَةِ الْقُرْاٰنِ (رواه البیهقی فی شعب الایمان)

حضرت عبد الله بنِ عُمر رضی اللہ عنہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه نقل کوی چه زړونو ته هم زنګ لګی، لکه څنګه چه اُوسپنے ته په اوبو لګیدو زنګ لګی. تپوس اوکړے شو. اے د الله رسوله! (صلی اللہ علیہ وسلم) د دے د صفایئ څهٔ طریقه ده؟ نبی علیه السلام وُفرمایل چه مرګ ډیر یادول، او د قرآن پاك تلاوت کول.

یعنی دګناهونو د پیروالی او د الله تعالیٰ د ذکر نه د غفلت په وجه په زړونو هم زنګ لګی، څنګه چه اُوسپنے ته اُوبو لګید و سره زنګ لګی، او د قرآنِ پاك تلاوت او د مرګ یادول د هغے د پاره د صفایئ کار ورکوی. د زړهٔ مثال د یو ائینے په شان دے، څو مره قدر ے چه خیرنیږی، هغو مره په

Maktaba Tul Ishaat.com

په دے کښې د الله تعالیٰ د پیژندګلو عکس کم وی۔ او ځومره چه پاکه صفا وی، هغومره په په کښې د پیژندګلو عکس واضحه وی۔ هم د دے وجے ځومره چه بنیادم شهوانی او شیطانی ګناهونو کښې لګیا وی، هغومره په د معرفت نه لرے وی۔ او هم د دے ائینے صفا کولو د پاره پیران صاحبان ریاضتونه او مجاهدے ذکرونه او وظیفے ښائی۔

حدیثونو کښې راغلی دی چه کله بنده ګناه اوکړی، نو د دهٔ په زړهٔ یو تور ټکے اولګی کهٔ دے ریښتنے توبه اوباسی، نو هغه ټکے لرے شی۔ او که څړے بله ګناه اوکړی، نو بل ټکے پرے اولګی۔ هم دغه شان چه ګناهونوکښې په مخکښې ځی، نو هغه ټکی نور هم زیاتیږی۔ تر دے حده چه زړهٔ بیخی تک تورشی۔ بیا په دے زړهٔ کښې خیر طرف ته رغبت او شوق پاتے نهٔ شی۔ بلکه هُم شر طرف ته یے مخه وی۔ اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنْهُ۔

هم دے طرف ته د قرآن پاك په دے ایت کښې اشاره ده۔ كَلَّا بَلْ سكتة رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ط (تطفيف) (بے شکه د دوی په زړونو بدو عملونو زنګ لګولے دے)۔ په یو حدیث کښې راځی چه نبی اکرم ﷺ فرمائی چه دوه واعظان پریږدم، یو ویونکے اوبل خاموش۔ ویونکے قرآن شریف دے او خاموش د مرګ یاد۔ د نبی اکرم ﷺ ارشاد په سر سترګو، خو واعظ خو د هغے چا د پاره وی چه څوك نصیحت قبلوی۔ او د نصیحت ضرورت ګنړی، کوم ځائے چه د سره دین بے کاره ګنړلے شی، د ترقئ په لار کښې منع کونکے ګنړی هلته د نصیحت ضرورت څهٔ دے او نصیحت به اوکړی څهٔ؟ حسن بصری رحمة الله علیه فرمائی چه مخکنو خلقو به قرآن شریف د الله تعالیٰ فرمان ګنړهٔ۔ ټوله شپه به یے په کښې فکر او سوچ کولو۔ او د ورځے به یے پرے عمل کولو۔ او تاسو خلق د قرآن حرفو ته زور زیر خو ډیر ښهٔ سموئ خو د شاهنشاه فرمان یے نهٔ ګنړئ، په کښې فکر او سوچ نهٔ کوئ۔

(۲۰) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ شَرَفًا

حضرت عائشه رضی الله عنها د نبی اکرم ﷺ دا ارشاد نقل کوی چه د هر څیز د پاره څهٔ شرافت او افتخار وی چه په هغے فخر کوی

يَتَبَاهُوْنَ بِهٖ وَاِنَّ بَهَاءَ اُمَّتِيْ وَشَرَفَهَا الْقُرْاٰنُ (رواه ابو نعيم فى الحلية)	زما د اُمت شرافت او فخر قرآن شریف دے۔

یعنی خلق په خپلو پلرونو، نیکونو، خاندانونو او هُم دغه شان په ډیرو خیزونو خپل شرافت او لوئی ښکاره کوی. زما د اُمت د پاره د فخر ذریعه قرآن شریف دے، چه د قرآن شریف لوستل، یادول، لوکول او عمل پرے کول غرض هر یو خیز یے د فخر قابل دے، او ولے به نه وی چه د محبوب کلام دے د آقا فرمان دے۔ د دُنیا د لوئ نه لوئ شرافت هم د دۀ برابر نهٔ شی کیدا ے. بله دا چه د دُنیا هر څو مره کمالات دی هغه که نن نه وی نو صبا ته ختمیدونکی دی، خو د قرآن شریف شرافت او کمال همیشه دے۔ هیڅ کله ختمیدونکے نهٔ دے۔ د قرآن شریف وړه نه وړه صفتونه داسے دی چه د فخر د پاره د هغې نه هر یو کافی دے۔ بیا چه په کښې هغه ټول صفتونه په کامل طور موندلے شی۔ مثلاً د قرآن شریف ښکلے او جامع بیان، ښکلے طرز، د لفظونو مُناسبت، د خبرو یو بل سره تړون، د تیر شوو او د راتلونکو واقعاتو خبردار، د خلقو متعلق داسے الزامات، که چرے هغوی هغه دروغ ثابتول غواړی نو نهٔ یے شی کولے، لکه د یهودیانو د محبت د دعوے سره د مرګ آرزو نهٔ کول، دا ورید ونکو د ے نه اثر اخستل، لوستونکی ترے هیڅ کله ستړی ستومانه کیدل۔ حال دا دے چه هر یو کلام که هغه زړهٔ ته څومره خوږ معلومیږی، لیونے کوونکے د معشوقے خط ولے نهٔ وی. که ورځ کښې په لس ځله ویلو ترے زړهٔ ستومانه نهٔ شی، نو په شل ځله لوستلو به ترے ستومانه شی. که په شل ځله نهٔ شی، نو په څلویښت ځله به ترے ستوما نه شی چرے خو به ترے ستوما نه شی. خو د قرآن شریف یوه رکوع یاده کړه، دوه سوه ځله یے ووایه، څلور سوه ځله یے ووایه، ټول عُمر یے وایه، چرے به ترے زړهٔ ستوما نه (آومور) نهٔ شی. که څهٔ منع کوونکے څیز مخے ته راشی نو هغه به په خپله زر ختمیدونکے او وقتی وی. څومره ډیر چه قرآن شریف لولے، هغو مره به تازه والی او مزه کښی زیاتوالے کیږی وغیره وغیره۔ دا

Maktaba Tul Ishaat.com

کاروته داسې دی کهٔ چاپه کلام کښې دومره ته یو هم بیا موندې شی خواه کهٔ په پوره طور ته ووی نو په هغې خومره فخر کولې شی، بیا چه د چا په کلام کښې دا ټول په ټول صفتونه په کامله وجه موندلې شی نو په هغې به څومره فخروی۔ دد نه پس یو ساعت مونږ ته په خپل حالت هم غور کول دی چه په مونږ کښې څومره خلق دی چه هغوی ته په خپل حافظ قرآن کیدو فخر دې یا زمونږ په نظر کښې دچا حافظ قرآن کیدل سبب د شرافت دې، یا مونږ خپل شرافت او فخر اوچتو اوچتو ډګرو، لویو لویو لقبونو، دنیوی شان وشوکت او د مرګ نه پس پاتې کیدونکی مال و دولت کښې ګڼړو۔ فَإِلَى اللهِ الْمُشْتَكَى۔

(۲۱) عَنْ أَبِي ذَرٍّ رضی اللہ عنہ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَوْصِنِي. قَالَ عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللهِ فَإِنَّهُ رَأْسُ الْأَمْرِ كُلِّهِ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ زِدْنِي قَالَ عَلَيْكَ بِتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ فَإِنَّهُ نُورٌ لَكَ فِي الْأَرْضِ وَذُخْرٌ لَكَ فِي السَّمَاءِ

(رواہ ابن حبان فی صحیحہ فی حدیث طویل)

حضرت ابوذر رضی اللہ عنہ وائی چه ما نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ته خواست وکړهٔ چه ما ته څهٔ وصیت اوکړئ۔ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم وفرمایل چه د تقوی اهتمام کوه چه دا د ټولو کارونو جرړه ده۔ ما عرض وکړهٔ، چه دې سره راته نور څهٔ هم ارشاد وفرمایئ۔ نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام وفرمایل چه د قرآن د تلاوت کوشش کوه، چه په دُنیا کښې دا نور دې، او آخرت کښې ذخیره ده۔

"تقوی" په حقیقت کښې د ټولو کارونو جرړه ده۔ کوم زړهٔ کښې چه د الله تعالی ویره پیدا شی، د هغهٔ نه بیا څهٔ ګناه نهٔ کیږی۔ او نهٔ بیا په هغهٔ څهٔ قسمه تنګسیا راځی۔ وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ط (څوک چه تقوی حاصله کړی، نو الله جل شانهٔ د دهٔ د پاره په هره تنګسیا کښې څهٔ لاره اوباسی، او داسې ورته روزی رسوی چه د دهٔ وهم او ګمان کښې په هم نهٔ وی۔

د تلاوت نور کیدل په مینې روایتونو نه هم معلومه شوې ده۔ شرح إحياء کښې معرفة أبو نعيم ته نقل کړی دی چه حضرت باسط رحمۃ اللہ علیہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم دا ارشاد ذکر کړو، چه په کوم کورونو کښې د قرآن پاک تلاوت

کېږي (نو) هغه کورونه آسمان والوته داسې ځلیږي لکه زمکې والو ته په آسمان کښې ستوري. دا حدیث "ترغیب" وغیره کښې هم دغه هومره نقل شوے دے دا مختصر دے اصل روایت ډیر اوږد دے چه هغه ابن حبّان وغیره نه مُلّا علی قاري رحمة الله علیه مُفصّل او سُیوطي رحمة الله علیه ځۀ مختصر نقل کړے دے. اګرچه زمونږ د رسالې مناسب دغه هومره حصه وه چه کومه پورته تیره شوه خو چونکه پوره حدیث کښې ډیرے ضروري او د فائدے خبرے دي، په دے وجه د ټول حدیث مطلب نقل کوم چه هغه دا دے.

ابوذر رضي الله عنه وائي چه ما د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم نه تپوس وُکړۀ چه الله تعالیٰ ټول کتابونه څومره نازل کړي دي؟ نبي علیه الصلوٰة والسلام اِرشاد وُفرمایۀ چه سل صحیفې او څلور کتابونه. پنځوس ۵۰ صحیفې په حضرت شیث علیه السلام، د دیرش صحیفې په حضرت اِدریس علیه السلام لس صحیفې په حضرت ابراهیم علیه السلام او لس ۱۰ صحیفې په حضرت موسیٰ علیه السلام د تورات نازلیدو نه وړاندے. او د دے نه علاوه څلور کتابونه تورات، انجیل، زبور، او قرآن شریف یے نازل کړي دي. ما تپوس وُکړۀ چه د حضرت ابراهیم علیه السلام صحیفو کښې څۀ څیزونه؟ اِرشاد یے وُفرمایۀ، هغه ټول متلونه وُو.

مثلاً "اے قبضه کونکیه مغروره بادشاه! ما تۀ دے د پاره نۀ وے لیږلے چه پیسه په پیسه جمع کړے. ما تۀ دے د پاره لیږلے وے چه ما ته د مظلوم فریاد راوُنۀ رسي، تۀ د مخکښې نه د دغې اِنتظام اوکړے، ځکه چه زۀ د مظلوم فریاد نۀ رَدکوم، اګرچه فریادي کافر ولے نۀ وي.

بنده بے کاره (یعني شیخ الحدیث رحمة الله علیه) وائي چه نبي اکرم صلى الله عليه وسلم په کله کله اصحابو کښې آمیر یا حاکم جوړ وُو، او چرته به یے لیږلو، نو د نورو نصیحتونو نه علاوه به یے ورته ضرور فرمایل. وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ فَاِنَّهٗ لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللّٰهِ حِجَابٌ. چه د مظلوم د خیرو نه ځان ساته، ځکه چه د دۀ او د الله جل شانهٗ ترمینځه هیڅ پرده نشته سه

بترس از آهِ مظلومان که هنگام دُعا کردن ÷ اِجابت از درِ حق بهرِ استقبال می آید

د مظلوم د آه نه وُیریږه چه د دُعا کولو په وخت د الله تعالیٰ له

Maktaba Tul Ishaat.com

طرقه قبیله ل ور له مخ له راځی۔
دغه رنګې دے صحیفوکښ داهُم وُو چه عقلمند دپاره داضروری دهٔ چه ترڅو لیونےشوے نهٔ وی، خپل ټول وختونه دِ په دریو حصوتقسیم کړی۔ یوه حصه کښ دِ دخپل رب عبادت کوی اوپه یوه حصه کښ دخپل نفس مُحاسَبه (یعنی دځان سره دِ حساب) کوی او دافکر دِ کوی چه څومره کاروته م بښهٔ اوکړ اوڅومره بد۔ اوپه یوه حصه کښ دِحلال لټه کوی۔ عقلمند دپاره دا هُم ضروری دهٔ چه دخپلو وختونو دِحفاظت کوی، دخپلو حالاتو سمولو په فکر کښ دِ اُوسی۔ دخپلې ژبې دِ دفضولو اودبے فائدے خبرو اترونه حفاظت کوی ځوک چه دخپلو خبرو مُحاسبه کوی، دهغهٔ ژبه به بے فائدے خبروکښ کمه چلیږی۔ عقلمند دپاره ضروری دهٔ، چه د دریو څیزونو نه بغیر دِ سفرنهٔ کوی۔ یادآخرت دپاره یے توښه یے مقصود وی، یادرُوزئ څهٔ فکرېے وی، یاسَیرُوسِیَاحت خو په شرط ددے چه مُباح (جائز) وی۔
ماتپوس اوکړو چه اے دالله رسوله! (ﷺ) دحضرت موسٰی (علیه السلام) په صحیفوکښ څهٔ څیز وُو۔ اِرشاد یے وُفرمایهٔ چه ټولے په ټولے دعبرت خبرے وے۔ مثلاً زهٔ حیرانیږم په هغه چا چه دهٔ په مرګ یقین وی، بیا په څهٔ خبره خوشالی کوی (ځکه چه کله دچا مثلاً دا یقین اُوشی، چه زما دپهانسئ حکم شوے دے، دېرزر به پهانسئ ته خیجولے شم، بیا هغه په هیڅ څیز نهٔ شی خوشالیدے)۔ زهٔ حیرانتیا کوم په هغه چا چه دهٔ ته دمرګ یقین وی، بیا دے خاندی۔ زهٔ حیرانتیا کوم په هغه چا چه دُنیا تاسابی واقعات، بد لیدل رابد لیدل، انقلابات هروخت وینی، بیاهم په دُنیا باندے اِطمینان کوی۔ زهٔ حیرانتیا کوم په هغه چا چه دهٔ په تقدیر یقین وی، بیا په غم اومُشقَّت کښ ځان آخته کوی۔ زهٔ حیرانتیا کوم په هغه چا چه په حساب کتاب یقین کوی بیا نیک عملونه نهٔ کوی۔ ماعرض اوکړ اے دالله رسوله! (ﷺ) ماته څهٔ وصیت اُوکړئ۔ نبی اکرم ﷺ دټولو نه اول دتقوٰی وصیت وُفرمایئ، اوارشاد یے وُفرمایهٔ چه دا دټولو نیکو کارونو بنیاد اوجرړه دهٔ۔ ماعرض اُوکړو، څهٔ نورزیات هم راته اُوفرمایئ

ارشاد اُوشوچه دقرآن شريف دتلاوت او دالله تعالیٰ دذکر پابندی کوه، چه دا په دُنیا کښ نُور دے او په اسمان کښ ذخيره ده. ما نوره زياته غوښتنه اُوکړه ارشاد اُوشوچه دډيرے خندا نه ځان ساته، په دے زړهٔ مړکيږی، او د مخ رونق پرے ختميږی (يعنی ظاهر باطن دواړو ته نقصان رسوُنکے څيز دے) ما نور دزياتی درخواست اُوکړهٔ، نو ارشاد اُوشوچه دجهاد اهتمام کوه، زما د اُمّت دپاره هُم دا رَهْبَانِيَّت دے (رَاهِب په مخکنواُمتونوکښ هغه خلقوته ويلے شوچه ددُنيا ټول تعلقات به يے پريخودل، الله والا به جوړشو) ما نور زياتوالے اُوغوښتهٔ، نو ارشاد وُشوچه فقيرانو مِسکينانو سره کښېنه ناسته، هغوی سره دوستی او ناسته پاسته کوه. ماوے، نور راته اُوايئ نو وے فرمايل چه دځان نه دکښے درجے خلقو باندے نظر ساته (چه دشکر عادت دِشی) اَو دځان نه اُوچتو خلقوته مه گوره، هسے نه چه د الله تعالیٰ کوم نعمتونه په تا دی، دهغے سپکاوے اوکړے. ما نور زياتوالے اُوغوښتهٔ نو ارشاد وُشو، چه ستا خپل عيبونه دِ دخلقو دعيبونو بيانولو نه تا منع کړی، او دهغوی په هغے عيبونو دخبريدو کوشش مه کوه، چه تهٔ په هغے کښ په خپله گيرے يے. ستا دعيب لگولو دپاره دومره بس ده، چه تهٔ په خلقو کښ داسے عيبونه اُوپيژنے، کوم چه په تا کښ په خپله موجود دی، اَو تهٔ دهغے نه بے خبره يے، او داسے خبرے تهٔ په هغوی کښ راوُباسے، چه هغه تهٔ په خپله کوے. بيا نبی اکرم ﷺ دشفقت لاس مبارك زما په سينه راخکلهٔ وے فرمايل، چه اَبُوذَرَه! دتدبير برابر هيڅ عقلمندی نشته، او د ناروا کارونو نه دځان ساتلو برابر هيڅ تقویٰ نشته. او دښهٔ خوئ نه زيات هيڅ شرافت نشته. اهـ (دے کښ دخلاصے اود مطلب زيات لحاظ ساتلے شوے دے، دټولو الفاظو ترجمے لحاظ نهٔ دے کړے شوے)

(۲۲) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِیْ بَيْتٍ مِّنْ بُيُوْتِ اللهِ

حضرت اَبُوهُرَيْرَه رضی الله عنه دنبی اکرم ﷺ دا ارشاد نقل کړے دے چه کوم يو قوم دالله دکورونو نه په يو کور کښ را جمع شی، دقرآنِ پاك تلاوت او دهغے په خپل

Maktaba Tul Ishaat.com

يَتْلُوْنَ كِتَابَ اللّٰهِ وَ يَتَدَارَسُوْنَهٗ بَيْنَهُمْ اِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِيْنَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَذَكَرَهُمُ اللّٰهُ فِيْمَنْ عِنْدَهٗ ۔ (رواه مسلم و ابوداؤد)

مینځ کښې درس او تدریس کوی، مګر په هغوی سکینه نازلیږی او رحمت پرے غوړیږی، او د رحمت فرښتے ترے چاپیره کیږی، او الله جل شانهٗ د هغوی ذکر د فرښتو په مجلس کښې کوی۔

په دے حدیث شریف کښې د اِسلامی مکتبونو او مدرسو خاص فضیلت ذکر کړے شوے دے چه په کښې د اِکرام ډیر قسمونه شامِل دی۔ دے کښې هریو اِکرام داسے دے چه د هغې په حاصلولو کښې که څوک ټول عُمر اولګوی بیا هم ارزان دے۔ بیا دا لاځهٔ کوے چه داسے بے شمیره انعامات بیان شوی دی، خصوصًا آخری فضیلت د آقا په دربار کښې ذکر، د محبوب په مجلس کښې یادیدو داسے نعمت دے چه د دے مقابله هیڅ یو څیز نشی کولے۔

د سکینے نازلیدل په کثرو روایتونو کښې راغلی دی۔ د دے په ریښتنی کیدو کښې د حدیثو د عالمانو یو څو وَیْنا کانے دی۔ خو په دے کښې څهٔ داسے اِختلاف نشته چه په خپل مینځ کښې یے څهٔ مخالفت وی۔ بلکه د دے ټولو مجموعه ترے هم مُراد کیدلے شی۔

حضرت علی کرم الله وجهه نه د سکینے تفسیر دا نقل شوے دے چه هغه یوه خاصه هوا ده چه د هغې مخ د انسان د مخ په شان وی۔ علامه سدی رحمة الله علیه نه نقل کړے شوی دی چه هغه د جنت د یو لګن نوم دے چه د سرو زرو دے، په هغې کښې د پیغمبرانو زړونو ته غسل ورکولے شی۔ بعضو ویلی دی چه دا یو خاص رحمت دے۔ طِبری رحمة الله علیه دا خوښ کړے دے چه د دے نه سکونِ قلب (یعنی د زړهٔ آرام) مراد دے۔ څنے وائی چه طمانیت ترے مراد دے۔ څنو تفسیر یے عزت سره کړے دے، نو چا یے ملائکو سره کړے دے۔ څنو په کښې نور نور تفسیرونه هم کړی دی۔ د حافِظ ابنِ حجر رحمة الله علیه رائے په فتح الباری کښې داده چه د سکینے پوره راتلل په ټولو باندے کیږی۔ د نووی رحمة الله علیه رائے داده چه دا یو داسے څیز

دے چه طمانیت، رحمت وغیره ټول په کښې راجمع کیږي، او ملایکې هم ورته نږدې
په قرآن شریف کښې ارشاد دے. فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ (الفتح ع ۵)
یو ځاى ارشاد دے. فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ (البقره ع ۳۲) غرض دا چه
په ګڼړو آیتونو کښې دے ذکر دے. او د حدیثونو په ګڼړو روایتونو کښې دے نه
زیرے فرمائیلے شوے دے.

په احیاء نوم کتاب کښې نقل دے چه ابن کوبان رضی الله عنه خپل یو دوست
سره د روژه ماتی وعده اوکړه، خو بله ورځ د صبا په وخت کښې ورغے. هغه
ورته شکایت اوکړو، نو ده ورته اووے، که چرے زما تا سره وعده نه وے
نو هیڅ کله به م درته حال نه وو ویلے چه زه څه څیز منع کړم. په ما تقدیر
ناوخته شوے وو، اتر دے چه د ماسخوتن د مانځه وخت راغے. خیال و
شو چه وتر هم ورسره اوکړم. د مرګ وخت معلوم نه دے. هسے نه چه د
شپے مړ شم. نو دا به م په ذمه باقی پاتے شی. د دعائے قنوت لوستۀ چه
م د جنت یو شین باغ اولیدۀ. په هغے کښې هر قسمه ګلونه وغیره وو. د هغے
په کتلو کښې داسے مشغول شوم چه سحر شو. د دے قسمه په سوونو
واقعات دی چه د بزرګانو په حالاتو کښې لیکلے شوی دی. خو دوے د
ښکاره کیدو هغه وخت وی کله چه د مخلوق نه تعلق ختم شی. او د
الله تعالیٰ طرف ته کامله توجه پیدا شی.

د ملائکو راسه خوریدل په ګڼړو روایتونو کښې راغلی دی. د اسید بن
حضیر رضی الله عنه تفصیلی قصه د حدیثونو په کتابونو کښې راځی چه هغه د
تلاوت په وخت کښې د خپل د پاسه یو وریځ شان څیز شوے محسوسه
کړه. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل چه دا ملائکې وے د قرآن شریف اوریدو
له راغلی وے. د ملائکو د ګڼړوالی په وجه وریځ شان معلومیدو. د یو صحابي
ته یو وارے وریځ غوندے محسوسه شوه. نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل
چه دا سکینه وه یعنی رحمت وو چه د قرآن شریف په وجه نازل شوے
وو. مسلم شریف کښې دا حدیث زیات په تفصیل راغلے دے. په هغے
کښې نور هم مضامین دی. په آخر کښې ورسره دا جمله هم زیاته ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ بَطَّأَ بِهٖ عَمَلُهٗ لَمْ يُسْرِعْ بِهٖ نَسَبُهٗ (چا لره چه هغه بد عملونه د رحمت نه وروستو کړي، هغه له اوچت نسب اوچت خاندان کیدل بے رحمت ته نشي نزدے کولے. یو کس چه پښت په پښت د اوچت نسب خاوند دے خو ګناهونو کښې آخته دے، هغه د الله تعالیٰ په نزد هغه خلقو ته نسبة کم ذاته مسلمانان برابرے هیڅ کله نه شي کولے، کوم چه متقي پرهیزګار دے) إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ أَتْقَاكُمْ.

عَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم اِنَّكُمْ لَا تَرْجِعُوْنَ اِلَى اللهِ بِشَیْءٍ اَفْضَلَ مِمَّا خَرَجَ مِنْهُ يَعْنِی الْقُرْاٰنَ.

رواه الحاكم وصححه وابوداؤد في مراسيله عن جبير بن نفير

حضرت ابوذر رضی الله عنه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کوي چه تاسو حق تعالیٰ جل شانه طرف ته چه رجوع یعني ورستنی وو نزدیکت د هغې څیز نه زیات په بل څیز سره نه شئ حاصلولے، چه کوم په خپله د الله جل شانه نه وتے دے یعني قرآن پاک.

ډیرو روایتونو نه دا مضمون ثابت دے چه د الله جل شانه په دربار کښې د قرآن پاک نه زیات نزدیکت په بل هیڅ څیز نه حاصلیږي. امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي چه ما په خوب کښې د الله جل شانه زیارت وکړو، نو پوښتنه مې ترې وکړه چه په کومو څیزونو چه ستا په دربار کښې نزدیکت حاصلیږي څه څیز دے؟ ارشاد وشو چه احمد! زما کلام دے. ما عرض وکړو چه په پوهه سره که بے پوهې؟ ارشاد وشو چه په پوهه وي که بے پوهې په دواړو صورتونو د الله جل شانه نزدیکت نصیبیږي. د حدیث شریف وضاحت او د قرآن شریف د تلاوت د ذریعه نه قرب د حق تعالیٰ نزدیکت په څه شان کیږي؟ د حضرت مولانا شاه عبد العزیز صاحب دهلوي رحمه الله د تفسیر نه معلومیږي چه د سلوک خلاصه دا چه سلوک شي یعني مرتبهٔ احسان د الله جل جلاله د حضور نوم دے چه دا په درېو طریقو سره حاصلیږي.

اول تصور چه د شرع په عرف کښې ورته تفکر او تدبر یعني فکر

اوسوچ ویلے کیږی، او دصوفیانو په نزد ورته مُراقبه وائی۔

دویم ذکرِ لسانی یعنی په ژبه ذکر کول۔

دریم دقرآن پاک تلاوت۔ دټولو نه اوله طریقه چونکه ذکرِ قلبی دے په دے وجه په حقیقت کښ طریقے هم دوه دی۔ اول ذکرِ عام دے که په ژبه وی او که په زړهٔ کښ۔ دویم تلاوت دے، نو که دکوم لفظ نسبت چه الله جلّ شانهٔ ته کیږی، اوهغه بار بار ویلے کیږی کوم چه دذکر مقصد دے۔ نو داقوت مُدرِکه په هغه ذات طرف ته دتوجُّه او دپام سبب شی، گویا چه هغه ذات په ورتلے حاضروی، او ددے همیشه حاضر گنړلو نوم دالله تعالیٰ مَعِیت (ملګرتیا) دکوم بیے چه په دے حدیث شریف کښ ارشاد فرمایلے دے لَا یَزَالُ عَبْدِیْ یَتَقَرَّبُ اِلَیَّ بِالنَّوَافِلِ حَتّٰی اَحْبَبْتُهٗ فَکُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِیْ یَسْمَعُ بِهٖ وَبَصَرَهُ الَّذِیْ یُبْصِرُ بِهٖ وَیَدَهُ الَّتِیْ یَبْطِشُ بِهَا (الحدیث) (حدیث قدسی دے) نبی اکرم ﷺ فرمائی چه دالله تعالیٰ ارشاد دے، چه بنده په نفلی عبادتونو ما ته نزدیکت حاصلوی، دے پورے چه زهٔ هم هغه محبوب جوړکړم، تردے چه زهٔ دهغه غوږ جوړشم چه په هغے هغه اوری، او سترګه جوړه شم چه په هغے هغه وینی۔ او لاس چه په هغے هغه تیول کوی او پښے چه په هغے هغه ګرزی۔)

یعنی کله چه بنده دډیر عبادت کولو په برکت دالله تعالیٰ مُقَرَّب جوړ شی، نو الله تعالیٰ دهغهٔ داندامونو حفاظت کوونکے شی، بیا سترګے، غوږونه هرڅهٔ دآقا دمرضیٔ تابع شی۔ او دنفلی عبادت ډیروالے یے ځکه وُفرمایهٔ چه فرض خو مقرر دی په هغے کښ ډیروالے نهٔ شی کیدے، او ددے دپاره دالله تعالیٰ همیشه حاضر ګنړلو ضرورت دے، ځنګه چه روښے معلومه شوه، خو د نزدیکت دا طریقه صرف دهغے محبوب پاک ذات دپاره خاص ده، که څوك اُوغواړی چه دبل چا دنوم په تسبیح ویلو سره هغهٔ ته نزدیکت حاصل کړی، نودا مُمکنه نهٔ ده، ځکه چه دے قسمه نزدیکت کښ چا طرف ته چه نزدیکت مقصود وی، په هغهٔ کښ ددوه وُخیزونو دل ضروری دی۔ اوّل داچه دهغهٔ عِلم مُحیط (رااګیرونکے) وی، دذکر کوونکو دزړهٔ او دژبے ذکرونو

Maktaba Tul Ishaat.com

لره اګرچه هغوی په مختلفو زمانو او په مختلفو وختونوکښ ذکرکوی -
دویم داچه دذکرکوونکی په مُدرکه کښ تجلّی (انوارات) اودهغې دړکوُلو قدرت یې وی چه هغې ته په عُرف کښ دُنُو او تَدلی، نزول اوقُرب وائی - او چونکه دا دواړه خبرے هم په دے مطلوب (الله تعالیٰ) کښ موندلے شی - ددے وجه په پورتنئ طریقه نزدیکت هم دے پاك ذات سره حاصلیدے شی، اوهم دے طرف ته په دے حدیثِ قدسی کښ اشاره ده چه پکښ ارشاددے، مَنْ تَقَرَّبَ اِلَیَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ اِلَیْهِ ذِرَاعًا (الحدیث) (چه څوك ماطرف ته یوه لیشت راتږدے کیږی، نوزهٔ هغهٔ طرف ته یولاس ورنږدے کیږم، اوچه څوك ماطرف ته یولاس رانږدے کیږی، نوزهٔ هغهٔ طرف ته یوبَاعْ یعنی ددوه وُلاسونو داوږدوالی په اندازه ورنږدے کیږم اوڅوك چه ماطرف ته په معمولی رفتار راځی، زهٔ هغهٔ طرف ته په منډه ورځم -)
دا قسمه ټول مثالونه دپوهَولو پاره دی - کنی الله جل شانهٔ ذکرزیدو راګرزیدو وغیره ټولونه پاك دے -
مقصود دادے چه الله جلّ شانهٔ خپل یادوُنکو اوتلاش کوُنکو ته د هغوی دطلب اوکوشش ته زیاته توجّه او نُزولِ رحمت فرمائی، اووَلے به نهٔ فرمائی چه دکریم (سَخی ذات) دکَرم مُناسب هم داده - نوهرکله چه یادوُنکو دطرفه یادوُلوکښ همیشه والےوی، نودالله جلّ شانهٔ دطرفه توجّه او درحمت نزول کښ هُم همیشګی وی - قرآن شریف چونکه سراسرذکر دے ددے هیڅ یوآیت دذکراوتوجّه الی الله نه خالی نهٔ دے، نوهُم دغه خبره صِرف په دے کښ موندلے شی، وَلے په دِے کښ یوخصوصیت زیات دے چه هغه دزیات نزدیکت سبب دے، هغه دادے چه هریوکلام دکلام وَیُونکی صفات او اثرات خپل ځان کښ اخستلی وی - او ښکاره خبره ده چه دفاسقانوفاجرانو شعرونه بیابیاویلوسره دهغوی اثرات پیداکیږی اودپرهیزګارانو شعرونو و یلوسره دهغې اثرات پیداکیږی - هُم ددے وجه نه په مَنْطِق اوفلسفه کښ دډیرے مشغولتیا سره غرور او تکبّر پیداکیږی - او په احادیثوکښ دډیرے مشغولتیا سره تَوَاضُع پیدا

کیږی۔ دغه وجه ده چه فارسی او انګریزی د ژبے په حیثیت سره دواړه برابر دی۔ خو د کومو مصنفینو کتابونه چه لولوله شی د هغوی د مختلفو اثراتو په وجه په قائلوکښ هم اختلاف وی۔ خلاصه دا چه په کلام کښ همیشه د کلام ویونکی اثرات موندلے شی، نو په دے وجه کلام الٰهی یعنی قرآن شریف په بار بار ویلو سره د الله تعالیٰ د صفاتو اثرات هُم پیدا کیدل او هغهٔ سره طبعًا مناسبت پیدا کیدل هم یقینی دی۔ بله دا چه د هر کتاب لیکونکی دا قاعدهٔ ده چه څوک د هغهٔ د کتاب اهتمام کوی، نو فطرۃً هغهٔ طرف ته ئے پام او توجُّه کیږی۔ په دے وجه د الله جل شانهٔ د کلام (یعنی قرآن شریف) د ویونکی طرف ته د الله تعالیٰ زیاته توجُّه هم ښکاره او یقینی ده چه د زیات نزدیکت سبب ګرزی۔ آقائے کریم دِ په خپل کرم ما هم په دے مهربانی مُشرّف کړی او تاسو هُم۔

(۲۴) عَنْ اَنَسٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم اِنَّ لِلّٰهِ اَهْلِیْنَ مِنَ النَّاسِ قَالُوْا مَنْ هُمْ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ اَهْلُ الْقُرْاٰنِ هُمْ اَهْلُ اللّٰهِ وَخَاصَّتُهٗ۔

حضرت اَنَس رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کړے دے چه د الله تعالیٰ د پاره ځنے خلق خاص د کور خلق دی۔ اصحابو رضی الله عنهم عرض وُکړو، چه هغه کوم خلق دی؟ وے فرمایل چه قرآن شریف والا چه دوی د الله تعالیٰ اهل دی او خواص۔

(رواه النسائی وابن ماجة والحاکم واحمد)

قرآن والا هغه خلق دی چه هر وخت په کلام پاک کښ مشغول اُوسی او ور سره خصوصیت ساتی۔ د دوی د الله تعالیٰ اهل او خواص کیدل ښکاره دی، او د تیر شوی مضمون نه هم واضحه شوه، چه دوی هر وخت په کلام پاک کښ مشغول اُوسی، نو د الله تعالیٰ مهربانئ هُم هر وخت د دوی طرف ته مُتوجِّه وی۔ او څوک چه هر وخت چا سره نزدے تاسته پاسته کوی، هغه اهل او خواص وی۔ څومره لوئ فضیلت دے چه په لږ غوندے محنت او مُشقت الله والا جوړیږی، د الله تعالیٰ اهل شماریږی، او د هغهٔ د خواصو کیدو لوعزت ورته حاصلیږی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دُنیوی دربارونوکښې صرف دداخلې اجازت دپاره په ممبرانوکښې صرف دشاملیدو دپاره څومره مالي اوځاني قرباني ورکولے شي، دوؤټ ورکونکو مخکښې خوشامندے کولے شي۔ ذلتونه برداشت کولے شي، اودا ټول کار کنړلے شي، خودقرآن شریف محنت بےکاره ګنړلے شي۔ ع

ببین تفاوتِ رہ از کجا است تا بہ کجا

اوګوره دلارے فرق دکوم ځائ نه ترکوم ځائ پورے دے

(۲۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم مَآ اَذِنَ اللّٰهُ لِشَیْءٍ مَّآ اَذِنَ لِنَبِیٍّ یَّتَغَنّٰی بِالْقُرْاٰنِ ۔ (رواہ البخاری و مسلم)

حضرت ابوهریره رضی اللہ عنہ دنبي اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد نقل کړے دے چه الله جَلّ شانه هیڅ ته دومره توجّه نهٔ فرمائي څومره چه د هغه نبئ اوازپه توجّه سره اوري، چه قرآن شریف په خوش اوازئ لولي۔

وړاندے معلومه شوه چه الله جل شانهٔ خپل کلام طرف ته په خصوصیت سره توجّه کوي. په لوستونکوکښې انبیاء کرام علیہم السلام چونکه دتلاوت داب په کامله وجه اداکوي، نوځکه دوی طرف ته دالله تعالیٰ زیاته توجّه کیدل هم ښکاره دي، بیا چه خوش اوازي ورسره وي، لکه چه سرو زرو له سُهاګه ورکړے تورا وُځلیږي، څومره چه زیاته توجه وي نومناسب ده۔ اودانبیاء کراموته پس بهترو پسے دبهترو دحیثیت مطابق لوستونکوطرف ته یے توجّه وي۔

(۲۶) عَنْ فُضَالَةَ بْنِ عُبَیْدٍ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم اَللّٰهُ اَشَدُّ اُذُنًا اِلٰی قَارِئِ الْقُرْاٰنِ مِنْ صَاحِبِ الْقَیْنَةِ اِلٰی قَیْنَتِهٖ۔

حضرت فُضاله بن عُبید رضی اللہ عنہ دنبي اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه نقل کوي چه الله تعالیٰ دقاري اوازطرف ته دهغې کس نه زیات غوږ ږدي کوم چه دخپلې سندرغاړے دیُوغې ویتزے سندرے اوري۔

(رواہ ابن ماجہ وابن حبان والحاکم کذا فی شرح الاحیاء۔ قلت قال الحاکم صحیح علی شرطہما وقال الذہبی منقطع)

دسندرو اوازطرف ته فطرةً اوطبعًا توجّه کیږي خودشرعي ممانعت له کبله دینداران خلق اخوانهٔ متوجّه کیږي۔ خوکهٔ سندرغاړے خپله ونږه

وی نو هغه سندرے او ریدو کښ څهٔ شرعی نقصان نشته، د دے وجے د دے طرف ته پوره توجّه کیږی۔ البته په قرآن شریف کښ دا ضروری ده چه د سندرو په آواز دِ نهٔ لوستلے کیږی، په حدیثونو کښ د دے مُمانعت راغلے دے په حدیث کښ دی اِیَاکُمْ وَلُحُوْنَ اَهْلِ الْعِشْقِ (الحدیث) د دے نه ځان بچ ساتئ، څنګه چه عاشقان د غزلونو ساز او آواز جوړ کړی، او د ساز سُرود په قاعده وئیے لولی، داسے ئے مهٔ لولئ۔

عالمانو لیکلی دی چه په دلسے طریقه لوستونکے فاسِق او اوریدونکے ئے گُنهګار دے، خو د سندرو د قاعدو د لحاظ ساتلو نه بغیر خوش آوازی پکار ده۔ په ډیرو حدیثونو کښ د دے ترغیب راغلے دے۔ یو ځائی ارشاد دے، په ښهٔ آواز قرآن ښائسته کوئ۔ بل ځائی ارشاد دے، چه په ښهٔ آواز د قرآن شریف حُسن دوچنده کیږی۔

حضرت شیخ عبد القادر جیلانی رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب "غُنیهٔ" کښ ارشاد فرمائی چه عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ یو وارے د کوفے په خواؤ شا کښ تیریدهٔ۔ په یو کور کښ فاسقان راجمع شوی وُو، یو غزلچی چه نوم ئے "زاذان" وُو سندرے ویلے، او سرِیندهٔ ئے غږولهٔ۔ ابن مسعود رضی اللہ عنہ چه د هغهٔ آواز واوریدهٔ، وے فرمایل څومره ښهٔ آواز به وُو، که چرے د قرآن شریف تلاوت پرے کیدلے، او په خپل سر ئے څادر واچوو تیر شو۔ هغوی چه خبره کوله، "زاذان" اولیدهٔ، د خلقو نه په تپوس معلومه شوه چه عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ صحابی دے، او دا خبره ئے اوکړه۔ په "زاذان" باندے د دے خبرے څهٔ داسے هیبت پریوتو چه حد ئے نهٔ وُو۔ قصه مختصر دا چه د ټنګ ټکور ټول سامان ئے مات کړو، او په عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ پسے وُلګیدهٔ، او د وخت علامه (یعنی لوئی عالم) ترے جوړ شو۔ غرض دا چه په ډیرو روایتونو کښ په ښهٔ آواز سره د تلاوت تعریف راغلے دے، خو دے سره د سندرو په آواز کښ د لوستلو مُمانعت هم راغلے دے څنګه چه وړاندے تیر شو۔ حضرت حُذیفه رضی اللہ عنہ وائی چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد وُفرمایهٔ چه قرآن شریف د عربو په آواز کښ لولئ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دعشق یا زنا او یهود یا تو او عیسایانو په آوازکښې یې مهٔ لولئ - پېرزر یو قوم
را تلونکے دے چه د سندرو او مړو په شان به آواز ته جوړوي
او قرآن شریف به لولي - دغه تلاوت به د دوی ته یوه ذرّه هم فائدهٔ نهٔ ورکوي
په خپله به هم دغه خلق په فتنه کښې پرېوزي، او چا ته چه د دوی ویل
ښهٔ معلومېږي، هغوی به هم فتنه کښې غورزوي - طاؤس رحمة الله علیه
فرمائي چه چا د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوکړه چه په ښهٔ آواز لوستو کښے
څوك دے؟ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایهٔ، هغه څوك دے چه کله ته
هغه په تلاوت کولو اُورېښے، نو دا محسوسه کړے چه دهٔ یا ندے د الله تعالی
ویره ده، یعنی دهغهٔ د آواز نه رُعب پرے غالب شوے معلومېږي - دے
ته لو سره د الله تعالی لوئ انعام دا دے چه بنده د خپل حیثیت او طاقت
موافق د دے مکلّف او ذمّه دار دے - په حدیث شریف کښې دی چه د
الله تعالی له طرفه فرښته په دے کار مقرر ده چه څوك قرآن پاك لولي
او کَمَا حَقَّهٗ (څنګه چه دهغے حق دے) صحیح نهٔ شي لوستلے نو فرښته هغه
صحیح کړي او پورته یې یوسي - اَللّٰهُمَّ لَآ اُحْصِيْ ثَنَآءً عَلَيْكَ -

(۲۷) عَنْ عُبَيْدَةَ الْمُلَيْكِيِّ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم يَآ اَهْلَ الْقُرْاٰنِ لَا تَتَوَسَّدُوا الْقُرْاٰنَ وَاتْلُوْهُ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ مِنْ اٰنَآءِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَاَفْشُوْهُ وَتَغَنَّوْهُ وَتَدَبَّرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ وَلَا تَعَجَّلُوْا ثَوَابَهٗ فَاِنَّ لَهٗ ثَوَابًا - (رواه البیهقی فی شعب الایمان)

حضرت عُبَیْدَةُ الْمُلَیْکی رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي، اے قرآن والو! په قرآن شریف تکیه مهٔ لګوئ، او د دے تلاوت شپه او ورځ داسے کوئ څنګه چه د دے حق دے - د قرآن شریف اِشاعت کوئ، او دا په ښهٔ آواز لولئ او په معنو کښې یې غور و فکر کوئ چه تاسو فلاح (یعنی کامیابئ) ته اُورسئ، او د دے بدله (په دُنیا کښې) مهٔ غواړئ چه (آخرت کښې) د دے د پاره لوئ اجر دے -

په دے حدیث کښې یې یو څو کارونه ارشاد فرمایلي دي (۱) په قرآن
شریف تکیه مهٔ لګوئ - په قرآن شریف تکیه نهٔ لګولو دوه مطلبه دي

اول دا چه په قران شریف تکیه مه لګوئ چه دا د آدب نه خلاف کار دے۔
ابن حجر رحمة الله عليه لیکلی دی چه په قران شریف تکیه لګول، هغه طرف ته خپے
غزول، هغه طرف ته شا کول، هغه پاندے خپے ایښودل وغیره حرام دی۔
دویم دا چه اشاره ده دغفلت ته، چه قرانِ پاک یے دبرکت د پاره په تکیه پاندے
ایښے وی، لکه څنګه چه په ځنې زیارتونو کښې لیدلے شوی دی چه د قبرسرته
دبرکت د پاره په رحیل کښې کیخودلے شوے وی۔ دا د قران پاک حق ضائع
کول دی۔ دد ے حق دا دے چه تلاوت یے اوکړے شي (۲) او دد ے تلاوت
کوئ څنګه چه دد ے حق دے۔ یعني دا دا یو خیال سا تلو سره یے ډیر ډیر
لولئ، چه په خپله قرانِ پاک کښې هُم دے طرف ته متوجه کولو باره کښې
ارشاد دے۔ اَلَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْکِتٰبَ یَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ط (کومو
خلقو ته چه مونږ کتاب ورکړے دے هغوی یے داسے تلاوت کوی څنګه چه
د هغے د تلاوت حق دے) یعنی په کوم عزت چه د بادشاه فرمان او په کوم شوق
چه دمحبوب کلام لوستلے شي هغه شان لوستل یے پکار دی۔ (۳) او دد ے
اشاعت کوئ (آو خوروئ یے) یعني په تقریر (ژبه) تحریر (لیکلو) ترغیب او
عملی شرکت سره څه رنګے چه کیدلے شي او چه څومره کیدلے شي دد ے
اشاعت کوئ۔ نبی اکرم صلى الله عليه وسلم دقران پاک د اشاعت او دد ے دخورولو حکم
فرمائی، خو زمونږ روشن دماغ (یعنی دمغربي تهذیب عاشقان) دد ے لوستلو
ته فضول وائی، او ورسره د اسلام او د رسول صلى الله عليه وسلم دمحبت لوئ لوئ دعوے
هم کوی۔ ؎

ترسم نرسی بکعبه اے اعرابی
کیں رہ کہ تو میروی بترکستان است

ویریږم پاندې نه رسے کعبے ته ، په کومه لار چه ته روان یے رسیږے ترکستان ته
دا قاحکم دے چه قرانِ پاک خورکړئ خو زمونږ عمل دا دے چه (څومره)
کوشش دد ے په بندیزکښې کیدلے شي ایله پرے نه کوو۔ دجبري تعلیم
قانون جوړوو، چه بچي دقران پاک په ځائ پرائمري اولولی۔ مونږ له په
دے غصه راځي چه دمکتب (یعني د اسلامي مدرسے) استاذان دبچو عمر
ضائع کوی، ځکه پرے مونږ هلته تعلیم نه کوو، منو۔ چه هغوی یقینًا

Maktaba Tul Ishaat.com

کوتاهي کوي، څوایا دمکتب د اُستاذ په کوتاهئ په ستاذمه واري ختمه شي یا یه تا ته دقرآن پاك د اشاعت فریضه لرے شي؛ په دے حالت کښ خو دا فریضه ستا په ذمه کیږي، هغوي په دخپلو کوتاهو جواب په خپله ورکوي خو د هغوي د کوتاهئ په وجه ته هم جیږا د قرآنِ پاك دمن رسوته راویاسے او د هغوي په مورپلار نو ښس جاري کوے چه هغوي قرآنِ پاك حفظ یا په ناظِره لوستل پریږدي او د هغے وبال ستا په گردن پاتے شي۔ دا د ټي بي علاج په سنکهیا سره ته دے نونورڅهٔ دي۔ د الله تعالیٰ په لوئ دربار کښ ستاد جواب، چه حَکَمِ جَبَرًا د قرآن د تعلیم ته را اُوویستهٔ چه د اسلامي مدرسے اُستاذ په بده طریقه لُو لَول کوُل، تهٔ په خپله سوچ اوکړه چه دا جواب څومره وزن لري۔ د کافرد کان کښ کارکولو د پاره یا د انګریزانو د نوکرئ د پاره (دسکول تعلیم) په څلورو کښ د رے حصے اهمیت لري نو لري په خود الله تعالیٰ په نزد دقرآن تعلیم د ټولو نه آهم او ضروري دے۔ (۴) په خوش آوازئ سره یے لولئ، لکه څنګه چه د دے نه مخکښ حدیث کښ تیر شو۔ (۵) او د دے په معنو کښ غور کوئ۔ د تورات نه یے په اِحیاء نومے کتاب کښ نقل کړي دي۔ الله جلّ شانهٔ اِرشاد فرمائي "اے زما بنده! تا له زما نه شرم نهٔ درځي۔ تا ته په لاره کښ د یو دوست خط راشي، نو په تلوتلو په لاره کښ اُودریږے، ځان له ځی اکینے، په غور سره یے لُولے۔ په یو یو لفظ یے غور کوے۔ زما کتاب تا ته مخے ته راشي، ما په هغے کښ هرڅهٔ واضح کړي دي۔ د ځنو ضروري خبرو مے بار بار تکرار کړے دے چه ته پرے غور اُوکړے، خو تهٔ یے په بے پرواهئ سره واُوړوے۔ وَلے زهٔ ستا په نزد ستا د دوستانو نه هم ذلیل یم؟ اے زما بنده! ستا ځنے دوستان تا سره کیني خبرے کوي، نو ته ټول په ټول هغوي ته مُتَوَجِّه شے، غوږ ورته ږدے، غور پرے کوے، که په مینځ کښ درسره څوك خبرے کوُل اُوغواړي، نو په اِشاره یے منع کوے. زهٔ تا سره دخپل کلام په ذریعه خبرے کوم۔ او ته یو ذره هم نهٔ مُتَوَجِّه کیږے۔ آیا زهٔ ستا په نزد ستا د دوستانو نه هم زیات ذلیل یم؟ اهـ۔ د تدبُر او غور متعلق

څهٔ دکتاب په شروع کښې اوخهٔ دا تم نمبر حدیث دلانده ذکر یې شوے دے (۶) او ددے بدله په دُنیا کښې مهٔ غواړئ، یعنې په تلاوت څهٔ بدله مهٔ اخلئ ځکه چه په آخرت کښې ددے ډیره لویه بدله ملاویدونکے ده. که چرے په دُنیا کښې ددے بدله واخستلے شي، تو دا سے ده لکه چه د روپو په بدله کښې خوك په کنځکو راضي شي.

دنبي اکرم ﷺ ارشاد مبارك دے چه کله زما اُمت اشرفئ او روپئ لوئ ځیزا وګڼړي، تو د اسلام رُعب به ترے لاړ شي. او کله چه اَمْر بِالْمَعْرُوْف او نَهِي عَنِ الْمُنْكَر پریږدي، نو دوَحي دبرکت یعنې دقرآن د پوهے نه به محرومه شي. کذا في الاحیاء. اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنْهُ.

(۲۸) عَنْ وَاثِلَةَ رضی اللہ عنہ رَفَعَهُ أُعْطِيتُ مَكَانَ التَّوْرَاةِ السَّبْعَ وَأُعْطِيتُ مَكَانَ الزَّبُورِ الْمِئِينَ وَأُعْطِيتُ مَكَانَ الْإِنْجِيلِ الْمَثَانِيَ وَفُضِّلْتُ بِالْمُفَصَّلِ.

(رواه احمد والکبیر کذا فی جمع الفوائد)

حضرت واثله رضی اللہ عنہ دنبي اکرم ﷺ نه نقل کړے دے چه ما ته دتورات په بدله کښې سَبع طُوَل راکړے شوي دي او دزبور په بدله کښې مِئِین او دانجیل په بدله کښې مَثاني راکړے شوي دي او مُفَصَّل خاص دي ما سره.

دقرآن شریف اولنۍ اوهٔ سورتونو ته طُوَل ویلے شي، ددے نه پس یوولس سورتو نو ته مِئِین ویلے شي. او ددے نه پس شل سورتو نه مَثاني دي. ددے نه پس دقرآن ختمیدو پورے مُفَصَّل دي. دا مشهور قول دے ځنے سورتونو کښې اختلاف هم شته چه په طُوَل کښې داخل دي یا په مِئِین کښې، دغه شان په مَثاني کښې داخل دي یا په مُفَصَّل کښې. خو دحدیث شریف په مطلب او مقصود کښې په دے اختلاف څهٔ فرق نه راځي. مقصد دا دے چه هرڅومره مشهور اسماني کتابونه ړومبے نازل شوي دي، دهغے تولو مثل په قرآن شریف کښې موجود دے. او ددے نه علاوه مُفَصَّل په قرآن شریف کښې خاص دے چه ددے مثال په ړومبنو کتابونو کښې نهٔ ملاویږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲۹) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ جَلَسْتُ فِي عِصَابَةٍ مِنْ ضُعَفَاءِ الْمُهَاجِرِينَ وَإِنَّ بَعْضَهُمْ لَيَسْتَتِرُ بِبَعْضٍ مِنَ الْعُرْيِ وَقَارِئٌ يَقْرَأُ عَلَيْنَا إِذْ جَاءَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَقَامَ عَلَيْنَا فَلَمَّا قَامَ رَسُولُ اللهِ ﷺ سَكَتَ الْقَارِئُ فَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ مَا كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ قُلْنَا نَسْتَمِعُ إِلَى كِتَابِ اللهِ تَعَالَى فَقَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي جَعَلَ مِنْ أُمَّتِي مَنْ أُمِرْتُ أَنْ أَصْبِرَ نَفْسِي مَعَهُمْ قَالَ فَجَلَسَ وَسْطَنَا لِيَعْدِلَ بِنَفْسِهِ فِينَا ثُمَّ قَالَ بِيَدِهِ هٰكَذَا فَتَحَلَّقُوا وَبَرَزَتْ وُجُوهُهُمْ لَهُ فَقَالَ أَبْشِرُوا يَا مَعْشَرَ صَعَالِيكِ الْمُهَاجِرِينَ بِالنُّورِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَاءِ النَّاسِ بِنِصْفِ يَوْمٍ وَذٰلِكَ خَمْسُ مِائَةِ سَنَةٍ

حضرت ابُوسعید خُدری رضی الله عنه فرمائی چه زۀ یو ځل د غریبانانو مُهاجرینو په ټولګی کښې ناست وُم، او د دوی سره دومره جامه هم نۀ وه چه په هغې یې ټول بدن پټ کړے وے، ځنو خلقو ځنو ته ځان پټ کړے وُو. یو تن یکښې قرآن لوستلو چه په دے کښې نبی اکرم ﷺ تشریف راوړو، او بیخی مونږ نزدے اُودریدو. د نبی علیه الصلٰوة والسلام په راتلو قاری چُپ شو. نو نبی علیه الصلٰوة والسلام سلام اُوکړو، او بیا یې پوښتنه اُوکړه چه تاسو څۀ کول؟ مونږ عرض اوکړو چه کلام الله مو اوریدلو. نبی اکرم ﷺ وُفرمایل چه ټول تعریفونه هغه الله لره دی چه هغۀ زما په اُمت کښې داسے خلق پیدا کړل چه ما ته په هغوی کښې د ناستے حکم اُوشو. د دے نه پس نبی علیه الصلٰوة والسلام زمونږ په مینځ کښې کیناستو چه ټولو ته برابر وی، ما ته نزدے د ما ته لرے نۀ وی. بیا یې ټولو ته په حلقه کښې د کیناستو حکم اُوکړو. ټولو نبی علیه الصلٰوة والسلام ته مخ کړو او کیناستل. نو نبی علیه الصلٰوة والسلام ارشاد وُفرمایۀ، اے غریبانانو مُهاجرینو! تاسو ته د زیرے وی د قیامت په ورځ د کامل رڼا او د دے خبرے چه تاسو به د مالدارو نه نیمه ورځ مخکښې جنت کښې داخلیږئ. او دا نیمه ورځ

(رواه ابوداوٗد) | په دپنځه سوؤ کالو برابره دی۔

دکومواندامونوچه پټول فرض دی هغه پټ وٗو، خودهغې نه علاوه بدن بے ښکاریدو، اودا هم په کثره کښ ښهٔ نهٔ معلومیږی، نوځکه دیو بل روستوتاست وٗوچه چا ته نهٔ ښکاری۔ دنبی اکرم ﷺ دتشریف راوړلو ادل خو دوی ته دځپلے مشغولتیا په وجه پته اُونهٔ لګیدهٔ نوچې کله هغوی ورسره نزدے اُودریدل، نوورته معلومه شوه، او قاری دادب په وجه چپ شو۔

دنبی اکرم ﷺ په ښتنه په ظاهرکښ دخوشالئ ښکاره کولو د پاره وه، کنی نبی علیه السلام قاری لیدلے وٗو چه قران شریف بے لوستهٔ۔

دآخرت یوه ورځ ددُنیا دزرو کالوبرابره ده (الله تعالیٰ فرمائی) وَاِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَاَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ط هم ددے وجے په ظاهرکښ چه کوم ځائ دقیامت ذکرراځی، غالباً اسره راځی چه د هغې معنیٰ دراتلونکی صبا ده، خودا پټول په اعتبار د اکثرا ودعام مومنانو د پاره ده، کنی دکافرانو په حق کښ راغلی دی۔ فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ ط "داسے ورځ چه دپنځوسو زرو کالو (په اندازه) به وی"۔ اودخواصومومنانو د پاره به د هغوی د حیثیت موافق کمه معلومیږی۔ لکه چه حدیث شریف کښ راغلی دی چه دځنو مؤمنانو د پاره به د سحرد دوه وٗرکعتومونځ برابره وی۔

دقران شریف دلوستلو فضیلتونه څنګه چه په ډیرو روایتونو کښ راغلی دی، بے حده دی۔ ددے د اوریدو فضائل هم کثرو روایتونو کښ راغلی دی۔ ددے نه زیات نورڅهٔ فضیلت وی چه د پیغمبرانو سردار ﷺ ته په داسے مجلس کښ دشریکیدو حکم شوے دے څنګه چه ددے روایت نه معلومه شوه۔ دځنو عالمانو فتویٰ ده، چه د قرانِ پاك آوریدل دلوستلو نه هم زیات بهتر دی، ځکه چه دقرانِ پاك لوستل نفل دی، اَو اَوریدل بے فرض دی، او دفرضو درجه د نفلونه زیاته وی۔ ددے حدیث نه یوه بله مسئله هم معلومیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

چه په هغې کښې دعا لمانځو اختلاف دے چه هغه غریب چه صبرناك وی، او خپله غریبی اَو لوږه چاته نهٔ ښکاره کوی هغه بهتر دے که هغه مالدار چه شکرګذار وی، حقوقه ادا کوونکے وی، هغه بهتر دے؟ دا حدیث د صبرناك حاجتمند د بهتروالی په دلیل کښې راوړلے کیږی شی۔

(۳۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم مَنِ اسْتَمَعَ اِلٰی اٰیَةٍ مِّنْ کِتَابِ اللّٰهِ کُتِبَتْ لَهٗ حَسَنَةٌ مُّضٰعَفَةٌ وَّمَنْ تَلَاهَا کَانَتْ لَهٗ نُوْرًا یَّوْمَ الْقِیَامَةِ ۔ (رواه احمد عن عبادة بن میسرة واختلف فی توثیقه عن الحسن عن ابی هریرة والجمهور علی ان الحسن لم یسمع عن ابی هریرة)

حضرت اَبُوهُرَیْرَه رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کړے دے چه څوك یو اٰیت د قرآن شریف واؤری هغهٔ د پاره دوچنده نیکی لیکلے کیږی، او چه څوك یے تلاوت کوی، هغهٔ د پاره به د قیامت په ورځ نُور وی۔

محدثینو د سند په اعتبار اګرچه په دے حدیث کښې خبرے کړی دی خو مضمون یے په نورو ډیرو روایتونو سره مرسته شوے دے چه د قرآنِ پاك اَوریدل هُم ډیر ثواب لری، تر دے چه څنے خلقو دا لوستلو نه هُم بهتر ګڼلی دی۔ ابنِ مسعود رضی الله عنه فرمائی چه یو وارے نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په منبر ناست وُو، اِرشاد یے وُفرمایلو چه ما ته قرآن واؤروه۔ ما عرض وُکړۀ، چه حضور! په تاسو خو په خپله نازل شوے دے، تاسو ته یه څهٔ واؤروم۔ ورته فرمایل چه زما زړهٔ غواړی چه واؤرم۔ دد دے نه پس ما واؤرولو۔ نو د نبی علیه الصلوٰة دستر کو مبارکو نه اوښکے روانے شوے۔

یو وارے د حضرت حُذَیفه رضی الله عنه آزادکړی غُلام سالِم رضی الله عنه قرآن شریف لوستهٔ، نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ورته ډیر ساعت ولاړ وُو، اَوریدهٔ یے۔ د اَبُو موسٰی اَشعری رضی الله عنه قرآن شریف یے واؤریدهٔ، نو تعریف یے اوکړو۔

(۳۱) عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم اَلْجَاهِرُ بِالْقُرْاٰنِ

حضرت عُقبه بن عامر رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کړے دے چه قرآن شریف په اُوچت آواز لوستونکے د ښکاره صدقه

کَالْجَاهِرِ بِالصَّدَقَةِ وَالْمُسِرُّ بِالْقُرْاٰنِ کَالْمُسِرِّ بِالصَّدَقَةِ.	کوّنکی په شان دے، او پټ لوستونکے د پټے صدقے کوّنکی په شان دے.

(رواه الترمذی وابوداؤد والنسائی والحاکم وقال علی شرط البخاری)

صدقه په ځنے وختونو کښ په ښکاره بهتره وی کوم وخت چه نورو ته د ترغیب سبب وی، یا نور څه مصلحت وی. او ځنے وختونو کښ په پټه ورکول بهتر وی، کوم ځائی چه د ریا شک وی، یا د بل بے عزتی پرے کیږی وغیره وغیره. هُم دغه شان قران شریف ځنے وختونو کښ په اُوچت آواز لوستل بهتردی چه کوم ځائی د نورو د ترغیب سبب وی، او په دے کښ د نورو د اوریدو ثواب هم کیږی. او ځنے وختونو کښ پټ لوستل بهتر وی کوم ځائی چه نورو ته تکلیف وی یا د ریا شک وی. وغیره وغیره. هُم دغه وجه ده چه په زوره او په رو دواړه قسمه د لوستلو مستقل فضیلتونه هم راغلی دی. ځنے وختونو کښ دا مناسب وی، او ځنے وختونو کښ هغه بهتر وی. د زُور لوستلو په فضیلت ډیرو خلقو دا د صدقے حدیث دلیل گرزولے دے. بیهقی په کِتَابُ الشُّعَب کښ رخودا روایت د مُحَدِّثینو په قاعده ضعیف دے) د حضرت عائشه رضی الله عنها نه نقل کړے دے چه پټ عمل د ښکاره عمل نه اویا حصے زیا تیږی. حضرت جابر رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کړیدی چه په زوره د لسے مه وایه چه د یوا واز د بل سره گډ وډ شی. حضرت عُمر بن عبد العزیز رحمة الله علیه په مسجد نبوی کښ د یو سړی نه په اُوچت آواز تلاوت واوریده، نو هغه یے منع کړو. لوستونکی بحث او تکرار اوکړه، نو عُمر بن عبد العزیز رحمة الله علیه اُوفرمایل، که د الله د پاره یے لولے، نو رو یے لوله. او که د خلقو د پاره یے لولے، نو لوستل دِ بے کاره دی. د دغه شان د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه په زوره د لوستلو ارشاد هُم نقل کړے شوے دے. په شرح احیاء کښ دواړه قسمه روایتونه او آثار ذکر کړے شوی دی.

(۳۲) عَنْ جَابِرٍ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم اَلْقُرْاٰنُ شَافِعٌ مُّشَفَّعٌ وَّمَاحِلٌ	حضرت جابر رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کړے دے چه قران پاك د اسے سفارشی دے چه د دهٔ سفارش قبول

Maktaba Tul Ishaat.com

مُصَدَّقٌ مَنْ جَعَلَهُ اَمَامَهٗ قَادَهٗ اِلَى الْجَنَّةِ وَمَنْ جَعَلَهٗ خَلْفَ ظَهْرِهٖ سَاقَهٗ اِلَى النَّارِ - (رواه ابن حبان والحاكم مطولاً وصححه)

کړے شوے دے اود اِسے جهګړه کوُنکے دے چه دده جهګړه منلے شوے ده۔ څوك یے چه خپلے مخے ته کیږدی ، هغه په جنت طرف ته راکاږی ، او څوك یے چه روستو شاته اُوغورزوی ، هغه په دوزخ کښ غورزوی۔

یعنی قرآن پاك چه دچا سفارش کوی ، الله جل شانهٔ ته دده سفارش قبول دے۔ اودچا بارهٔ کښ چه جهګړه کوی ، اودجهګړے تفصیل اتم نمبر حدیث کښ تیر شوے دے ، چه دخپل رعایت کوُنکو دپاره بـه ددرجو اُوچتولو په بارهٔ کښ د الله تعالیٰ په دربار کښ جهګړه کوی۔ اودخپل حق ضائع کوُنکو نه به مطالبه کوی۔ چه زماحق دِوَلے تهٔ دے اداکړے؟ څوك چه دا قرآن ځان سره اُوساتی ، یعنی درے تابعداری او دے پسے تلل د خپل ژوند قانون جوړکړی ، نو هغه جنت ته رسَوی۔ او څوك یے چه شا ته وُغورزوی ، یعنی تابعداری یے نهٔ کوی ، نو دهغهٔ دوزخ ته غورزیدل ښکاره خبره ده۔ دبنده په نزد دقرآن پاك نه بے پرواهی کوَل هم ددے په مطلب کښ داخلیدے شی ، ځکه چه په ډیرو حدیثونو کښ دقرآن شریف نه پهٔ بے پرواهئ کوَلو سزا کانے راغلی دی۔ د بُخاری شریف په هغٔ اُوږد حدیث کښ کوم کښ چه نبی اکرم ﷺ ته څهٔ سزا کانے خودلے شوے وے (په هغٔ کښ ورته) دیو کس حال اُوخودلے شو چه دهغهٔ سربه په کاڼری داسے په زوره اُوویشتلے شو ، چه دهغهٔ سَر به چخنړی شو۔ دنبی اکرم ﷺ په پوښتنه ورته اُوخودلے شو چه دهٔ ته الله جل شانهٔ خپل کلام پاك خودلے وُوخودهٔ نهٔ په شپه کښ هغٔ تلاوت اُوکړو ، اَو نهٔ یے دوُرځے پرے عمل اوکړو۔ له دے کبله ترقیامته پورے به دهٔ سره داعمل کیږی۔ الله جلّ شانهٔ دِ په خپله مهربانئ مونږه ددے عذاب نه محفوظ اُوساتی ، چه په حقیقت کښ قرآن شریف دومره لوئ نعمت دے چه دے سره په بے توجهئ باندے چه کومه سزا ورکړے شی مناسبه ده۔

(۳۳) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ | حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه د نبی

عَمْرٍو رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم اَلصِّيَامُ وَالْقُرْاٰنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ يَقُوْلُ الصِّيَامُ رَبِّ اِنِّيْ مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّرَابَ فِي النَّهَارِ فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ وَيَقُوْلُ الْقُرْاٰنُ رَبِّ مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ فَيُشَفَّعَانِ ۔ (رواہ احمد و ابن ابی الدنیا والطبرانی فی الکبیر والحاکم وقال صحیح علیٰ ماشرط مسلم)

اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه نقل کوی چه روژه او قرآن دواړه به د بنده د پاره شفاعت کوی۔ روژه به عرض اوکړی، اے ربه! ما دے په ورځ کښ د خوراك څښاك نه منع کړے وُو، زما شفاعت قبول کړه۔ او قرآن شریف به وائی، اے ربه! ما د شپے دے د خوب نه منع کړے وُو زما شفاعت قبول کړے، پس د دواړو شفاعت به قبول کړے شی۔

✣

په (کتاب) الترغیب والترهیب کښ اَلطَّعَامَ وَالشَّرَابَ لفظ راغلی دے نو هغے ترجمه اُوکړے شوه۔ حاکم نومِ کتاب کښ د شَرَاب په ځائے د شَهَوَات لفظ راغلے دے یعنی ما روژه دار د ورځے د خوراك او نفسانی خواهشاتو نه بند کړے دے۔ کښ دے خبرے ته اشاره ده چه روژه دار دِ د نفسانی خواهشاتو نه جُدا اُوسی، اګرچه هغه جائز وی، لکه (د خپلے بی بی) ښکلول، وغیره، ور ترغاړه ټل بعضے روایتونو کښے راغلی دی چه قرآن شریف به د یو ځوان سړی په شکل کښ راشی، اُو به وائی، چه زهٔ هغه یم چا چه به په شپو کښ ویخ ساتلے، او د ورځے به تږے ساتلے۔ د غسے په حدیث کښ دے طرف ته اِشاره ده، چه قرآن شریف د یاد ولو تقاضا داده، چه د شپے دِ په نفلو کښ تلاوت هم کوی۔ په اُووِیشتم نمبر حدیث کښ د دے ذکر تیر شوے دے۔ په خپله د قرآن شریف په ډیرو ځایونو کښ د دے ترغیب راغلے دے۔ یو ځائے ارشاد دے۔ وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ ط (بنی اسرائیل) دویم ځائے ارشاد دے۔ وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهٗ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا ط (دهر ۲) یو ځائے ارشاد دے۔ يَتْلُوْنَ اٰيٰتِ اللّٰهِ اٰنَآءَ الَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُوْنَ ط (آل عمران ۱۲) یو ځائے ارشاد دے۔ وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِيَامًا (الفرقان ۶) د غه وجه ده چه د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم او د حضرات صحابو رضی اللہ عنہم به بعضے د ځنے د قرآن پاك په تلاوت کښے ټوله شپه تیره شوه۔ د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ

Maktaba Tul Ishaat.com

په باره کښې روایت دے چه کله کله به یې دِوِتر وپه یو رکعت کښې ټول قرآن شریف لوستلۀ. دغه شان عبد الله بن زُبیر رضی الله عنه به هم په یو شپه کښې ټول قرآن شریف پوره کوُلو. سَعِیْد بن جُبَیر رحمة الله علیه په دوه وُرکعتو کښې په کعبه کښې دننه ټول قرآن شریف اُولوستلۀ. ثابت بنانی رحمة الله علیه به په شپه اوورځ کښې یو قرآن شریف ختموُلو. دغه شان به ابو حَرّه رحمة الله علیه هم کوُل. ابو شیخ هُنائی رحمة الله علیه فرمائی چه ما په یوه شپه کښې دوه قرآن شریفه پوره اودریم کښې م لس سیپارے اُویلے. که م غوښتلے نو دریم ختم م هم کولے شو. صالح بن کیسان رحمة الله علیه چه کله حج ته لاړو، نو په لاره کښې به یې اکثر یوه شپه کښې دوه قرآن شریفه پوره کوُل. مَنصُور بن زاذان رحمة الله علیه به یو قرآن شریف په صلوٰة الضحیٰ (یعنی د څاښت په مونځ) کښې اودویم به یې دماسپخین نه تر ماز یګره پورے پُوره کوُلو. اوټوله شپه به یې په نفلو کښې تیروُله. او دومره به یې ژړل چه دپټکی شمله به یې لونده شوه. دغه شان نور وحضراتو هم کړی دی لکه څنګه چه محمد بن نَصَر رحمة الله علیه په "قِیَام اللیل" نومے کتاب کښې را ایستل کړی دی. شرح احیاء کښې یے لیکلی دی چه د پخوانی بزرګانو عادتونه دقرآن شریف ختم کوُلو کښې مختلف وُو. بعضو حضراتو به هره ورځ یو ختم کوُلو لکه څنګه چه امام شافعی رحمة الله علیه به درمضان دمیاشتے نه علاوه کوُلو. او بعضو به دوه ختمونه روزانه کوُل لکه څنګه چه په خپله دامام شافعی رحمة الله علیه درَمَضان په میاشت کښې عادت وُو او دا عادت داَسوَد، صالح بن کَیسان، سعید بن جُبیر رحمهم الله علیهم او دیوے ډلے هم وُو. دبعضو عادت درے ختمونه روزانه وُو. چناچه سُلَیم بن عَتر رحمة الله علیه چه په لویو تابعینو کښې شمارلے شی. دحضرت عُمر رضی الله عنه په زمانه کښې دمِصر په فتح کښې شریک وُو. اوحضرت مُعاوِیَه رضی الله عنه دقصص امیر درے جوړکړے وُو، ددهٔ عادت وُو چه په هره شپه کښې به یې دقرآن شریف درے ختمونه کوُل. نَوَوی رحمة الله علیه په کتاب الاذکار کښې نقل کوی چه زیات نه زیات مقدار دتلاوت په باره کښې چه مونږ ته رارسیدلے دے، هغه د اِبْنُ الْکَاتِب رحمة الله علیه عادت وُو چه هغهٔ به شپه اوورځ کښې اته ختمونه دقرآن شریف کوُل. ابن قُدامه رحمة الله علیه دامام احمد رحمة الله علیه نه نقل کړے دے، چه

ددے څۀ حد مقرر نشته، داد لوسنونکی د طبیعت په تازګئ پاندے ده - د تاریخ عالمانو د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ نه نقل کړے دے چه د رمضان شریف په میاشت کښ به یې د قرآن شریف یو شپیته ختمونه کول، یو د ورځے یو د شپے او یو په ټول رمضان کښ په تراویحو کښ. خو نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم فرمایلی دی چه د دریو ورځو نه کم کښ ختم کونکے غور و فکر نۀ شی کولے. هم د دے وجے اِبنِ حَزم رحمۃ اللہ علیہ وغیره د دریو ورځو نه کم کښ ختم کولو ته حرام ویلی دی. د بنده په نزد د احدیث شریف په اِعتبار د اکثرو کسانو دے. ځکه چه په اصحابو کښ د یوے ډلے نه د دے نه کم کښ لوستل هم ثابت دی. هم د دغه شان په زیاتوالی کښ هم د جمهورو عالمانو په نزد څۀ حد مقرر نشته. خو مره ورځو کښ چه په اسانتیا سره کولے شی قرآن شریف دِ ختموی، خو د بعضے عالمانو مذهب دے چه د څلویښتو نه دِ زیاتے ورځے په ختم نۀ لګوی. د دے خلاصه دا ده چه کم نه کم د دے پاره روزانه لوستل ضروری دی. کۀ په څۀ وجه یوه ورځ اُونۀ لُولی، نو بله ورځ دِ د هغے قضا اوکړی، خو څلویښتو ورځو کښ د ننه دننه دِ یو ځل پوره شی. د جُمهورو عالمانو په نزد اګرچه دا ضروری نۀ ده خو هر کله چه د بعضو عالمانو مذهب دے نو احتیاط په دِ کښ دے چه د دے نه دِ کم نۀ وی. د دغه شان د بعضے حدیثونو نه د دے مرسته هم کیږی صاحبِ مجمع یو حدیث نقل کړے دے مَنْ قَرَءَ الْقُرْاٰنَ فِیْ اَرْبَعِیْنَ لَیْلَةٍ فَقَدْ عَزَّبَ. چا چه قرآن شریف په څلویښتو شپو کښ ختم کړو، نو هغۀ ډیر وخت تیر کړو. د بعضے عالمانو فتوٰی دا ده چه هره میاشت کښ یو ختم کول پکار دی. او بهتره دا ده چه په اُوو ورځو کښ دِ یو قرآن شریف ختم کړی، چه د اصحابو رضی اللہ عنہم عادت عام طور دغه نقل کولے شی. د جُمعے په ورځ دِ شروع کړی، او په اُوو ورځو کښ دِ یو منزل روزانه وائی د زیارت په ورځ دِ ختم کړی. د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ خبره مخکښ تیره شوه چه په کال کښ دوه وارے ختم کول د قرآن شریف حق دے. په دے وجه د دے نه په هیڅ شان کمول نۀ دی پکار. په یو حدیث شریف کښ راغلی دی کۀ چرے د قرآن شریف ختم د ورځے په شروع کښ اُوشی نو ټوله ورځ او کۀ د شپے په شروع کښ اُوشی نو ټوله شپه

Maktaba Tul Ishaat.com

فرشتې دده دپاره د رحمت دُعاګانې کوي - ددې نه بعضې عالمانو دا مسئله
راايستلې ده چه د ګرمۍ په موسم کښې د ورځې په شروع کښې ختم کوي، او د
یخنۍ په موسم کښې د ورځې په شروع کښې ختم کوي چه ډیر اوږد وخت د
فرښتو د دُعاګانو حاصل شي -

(۳۴) عَنْ سَعِيْدِ بْنِ سُلَيْمٍ رضی اللہ عنہ مُرْسَلًا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَا مِنْ شَفِيْعٍ أَفْضَلُ مَنْزِلَةً عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنَ الْقُرْاٰنِ لَا نَبِيٌّ وَلَا مَلَكٌ وَلَا غَيْرُهٗ - (قال العراقي رواه عبدالملك بن حبيب كذا في شرح الاحياء)

سعید بن سُلَیم مُرسَلًا د نبی اکرم ﷺ ارشاد نقل کوي چه د قیامت په ورځ به د الله تعالیٰ په نزد د قرآن پاك نه زیات څوك سفارش کوونکے نه وي نه څوك نبي نه فرښته وغیره -

دقرآن شریف شفیع یعنې سفارشي کیدل او دومره درجې شفیع کیدل
چه دهغه شفاعت قبول وي، نورهم دډیرو روایتونو نه معلومه شوې ده.
الله جل شانهٗ دِ په خپل فضل زما او ستاسو دپاره دا شفیع اوګرزوي، او
زمونږه مُخالِف فریق اومُدّعي دِ نه ګرزوي - په لَآلِي مصنوعه نوم کتاب کښې
دبَزّار په روایت نقل کړے دے او دا حدیث بې جَعْلي هم نه دے بنودلے،
چه کله اِنسان مړشي، نو ده د کور خلق ده په کفن دفن کښې مشغول وي
او ده سرطرف ته یو ډیر ښکلي او ښائسته شکل کښې یو کس (ولاړ) وي
کله چه کفن ورکولے شي، نو دغه کس د کفن او د سینې ترمینځه شي. کله
چه خلق د دفن کولو نه واپس شي، نو ده ته نَکِیر او مُنْکَر راشي او دغه کس
ترې جُدا کول غواړي چه ځان له ترې سوال اوکړي، خو دغه کس ورته
وائي چه دا زما ملګرے دے، زما دوست دے - زه په هیڅ حالت کښې
دے یواځے نه شم پرېښودلے - که تاسو ته د سوالونو کولو حکم شوے وي
نو خپل کار اوکړئ، زه خو تر هغه وخته د ده نه جُدا کیدے نه شم تر څو
چه دے په جنت کښې ورداخل نه کړم - ددې نه پس دا کس خپل
ملګري طرف ته مُتَوَجّه شي، او ورته وائي زه هغه قرآن یم چه کله به دِ
په اُوچت آواز لوستلم او کله به په ورو - ته بې فکره اوسه - د مُنْکَر نکیر د سوالونو

نه پس په تا هیڅ غم نشته دے۔ کله چه دوی د خپلو سوالونو نه فارغ شی نو د اکس ورله د ملاءِ اعلیٰ (یعنی د پورته عالَم) نه د یسترے وغیره انتظام اوکړی چه دریښهووی، او د مشکونه به ډکه شوی وی، الله دِ په خپل فضل زما هم نصیب کړی او ستاسو هم۔ دا حدیث په ډیرو فضیلتونو شامل دے، خو د اُوږ د والی د ویرے م مختصر کړو۔

(۳۵) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رضی اللہ عنہ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَ مَنْ قَرَأَ الْقُرْاٰنَ فَقَدِ اسْتَدْرَجَ النُّبُوَّةَ بَيْنَ جَنْبَيْهِ غَيْرَ اَنَّهُ لَا يُوْحٰى اِلَيْهِ لَا يَنْبَغِىْ لِصَاحِبِ الْقُرْاٰنِ اَنْ يَجِدَ مَعَ مَنْ وَجَدَ وَلَا يَجْهَلَ مَعَ مَنْ جَهِلَ وَفِىْ جَوْفِهٖ كَلَامُ اللّٰهِ۔

(رواه الحاكم وقال صحيح الاسناد)

حضرت عبد الله بن عمرو رضی اللہ عنہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد نقل کړے دے چه چا قران شریف اُولوستهٔ، هغهٔ د پیغمبری علوم د خپلو پُختو ترمینځه واخستل، اګرچه دهٔ طرف ته وحی نهٔ شی رالیږلے د صاحبِ قرآن د پاره مُناسب نهٔ دی چه په غصه کونکو غصه اُوکړی، یا جاهلانو سره جهالت اوکړی، حال دا دے چه د دهٔ په سینه کښ د الله تعالیٰ کلام دے۔

د وحی سلسله د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه روستو ختمه شوه، نو ځکه وحی خو اوس راتلے نهٔ شی، خو چونکه د الله جل شانهٔ پاک کلام دے نو د دے وجه د دے علمِ نبوّت کیدو کښ څهٔ شک دے؟ کله چه څوک د نبوّت په علمونو سرفراز کړے شی نو هغهٔ د پاره ډیره ضروری دهٔ چه د هغے مناسب بهترین اخلاق پیدا کړی، او د بدو اخلاقو نه ځان اوساتی۔ فضیل بن عیاض رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه د قرآن حافظ د اسلام جهنډه اُوچتونکے دے۔ د دهٔ د پاره مناسب نهٔ دی چه لَهْو و لَعِب (یعنی لوبے او عبثیاتو) کونکو کښ شامل شی، یا غفلت کونکو کښ شریک شی، یا بے کاره خلقو کښ ورداخل شی۔

(۳۶) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم

حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد نقل کوی چه درے کسان دا سے

Maktaba Tul Ishaat.com

ثَلٰثَةٌ لَّا يَهُوْلُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ وَلَا يَنَالُهُمُ الْحِسَابُ هُمْ عَلٰى كَثِيْبٍ مِّنْ مِّسْكٍ حَتّٰى يُفْرَغَ مِنْ حِسَابِ الْخَلَائِقِ رَجُلٌ قَرَءَ الْقُرْاٰنَ ابْتِغَآءَ وَجْهِ اللّٰهِ وَاَمَّ بِهٖ قَوْمًا وَهُمْ بِهٖ رَاضُوْنَ وَدَاعٍ يَّدْعُوْا اِلَى الصَّلَوَاتِ اِبْتِغَآءَ وَجْهِ اللّٰهِ وَرَجُلٌ اَحْسَنَ فِيْمَا بَيْنَهٗ وَ بَيْنَ رَبِّهٖ وَبَيْنَ مَوَالِيْهِ۔ (رواه الطبرانی فی معاجم الثلاثة)

دی چه دقیامت ویره به ورسره نهٔ وی او نهٔ به ورسره څهٔ حساب کتاب کیږی تر څوچه مخلوق دخپل حساب کتاب نه اُوزګاریږی، نودوی به دمشکو په غونډو سیلونه کوی۔ یوهغه سړے دے چه د الله تعالیٰ د پاره یے قرآن شریف اُولوستهٔ اودا سے امامت یے اوکړوچه مقتدیان ترے راضی وُو۔ دویم هغه سړے چه صرف د الله تعالیٰ درضا د پاره خلق مانځه ته رابللی۔ دریم هغه سړے چه خپل رب سره هم ښه معامله ساتی اوخپلو ماتحتو (یعنی لاندے کسانو) سره هم۔

دقیامت سختیٔ، دهغے هیبت، دهغے ویره، دهغے مصیبتونه اوتکلیفونه داسے نهٔ دی چه دچا مسلمان زړهٔ به دهغے نه خالی وی یا ترے بے خبره وی، کهٔ په هغے ورځ دڅهٔ خبرے په وجه بےفکری نصیب شی، نودا هم دلکهونو نعمتونو نه زیات لوئے نعمت اودکروړونوخوشالونه زیاته خوشالی ده۔ بیاچه ورسره سیل اونعمتونه هم نصیب شی، نوخوش نصیبه دے هغه څوك چه داورته حاصل شی، اوبربادی (نقصان) دے دهغے بےحِسه خلقو د پاره چه قرآن زده کول لغو، بے کاره اودوخت ضائع کول ګنړی۔ مُعْجَمِ کبیرکښ ددے حدیث په شروع کښ روایت کونکی صحابی عبدالله بن عُمر رضی الله عنه نه نقل دی، کهٔ چرے ما داحدیث دنبی اکرم ﷺ نه یوځلے اویوځلے اویوځلے غرض داچه اُووهٔ ځله یے دالفظ اُووے یعنی کهٔ اُووهٔ ځلے مِ نهٔ وے اوریدلے، نوهیڅ کله به مِ نهٔ وُونقل کړے۔

(٣٠) عَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَا اَبَا ذَرٍّ لَاَنْ تَغْدُوَا فَتَعَلَّمَ اٰيَةً

حضرت ابوذر رضی الله عنه وائی چه نبی اکرم ﷺ اِرشاداُوفرمایهٔ چه اے ابوذره! کهٔ چرے ته دسحرلاړشے اویوایت دقرآن

مِّنْ كِتَابِ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكَ مِنْ اَنْ تُصَلِّيَ مِائَةَ رَكْعَةٍ وَلَاَنْ تَغْدُوَا فَتَعَلَّمَ بَابًا مِّنَ الْعِلْمِ عُمِلَ بِهٖ اَوْلَمْ يُعْمَلْ بِهٖ خَيْرٌ مِّنْ اَنْ تُصَلِّيَ اَلْفَ رَكْعَةٍ
(رواہ ابن ماجۃ باسناد حسن)

پاک زدہ کړے، نو د نفلو د سلو رکعتو نه بهتر دے۔ او که چرے یو باب د علم زده کړے خواه که د غه وخت دِ پرے عمل وی او که نه وی، نو د زرو رکعتو نفلو کولو نه بهتر دے۔

ډیرو حدیثونو کښې دا مضمون راغلے دے چه د علم زده کول د عبادت نه بهتر دی۔ د علم په فضائلو کښې چه هر څومره روایتونه راغلی دی، د هغے ټولو راجمع کول په دے مختصره رساله کښې مشکل دی۔ د نبی اکرم ﷺ ارشاد دے چه د عالم فضیلت په عابد باندے داسے دے لکه زما فضیلت په تاسو کښې یو ادنیٰ کس باندے۔ بل ځائے کښې ارشاد دے چه شیطان باندے یو فقیه (عالم) د زرو عابدانو نه زیات سخت دے۔

(۳۸) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَرَءَ عَشْرَ اٰيَاتٍ فِيْ لَيْلَةٍ لَمْ يُكْتَبْ مِنَ الْغَافِلِيْنَ
(رواہ الحاکم وقال صحیح علی شرط مسلم)

حضرت ابو هریره رضی اللہ عنہ د نبی اکرم ﷺ نه نقل کړے دے چه څوک لس ایتونه په یوه شپه کښې تلاوت کړی، هغه به په دغے شپه کښې د غافلینو نه نه شماریږی۔

د لسو ایتونو په تلاوت چه د هغے په وئیلو یو څو منټه لګی د ټولے شپے د غفلت نه اُوزی، د دے نه په زیات نور څه فضیلت وی۔

(۳۹) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ حَافَظَ عَلٰى هٰٓؤُلَاۤءِ الصَّلَوٰتِ الْمَكْتُوْبَاتِ لَمْ يُكْتَبْ مِنَ الْغٰفِلِيْنَ وَمَنْ قَرَءَ فِيْ لَيْلَةٍ مِّائَةَ اٰيَةٍ كُتِبَ مِنَ الْقٰنِتِيْنَ (رواہ ابن خزیمۃ فی صحیحہ والحاکم وقال صحیح علی شرطهما)

حضرت ابو هریره رضی اللہ عنہ د نبی اکرم ﷺ دا ارشاد نقل کړے دے چه څوک په دے پنځو مونځونو باندے همیشه والے کوی، نو دے به د غافلینو نه نه شی لیکلے۔ څوک چه سل ایتونه په یوه شپه کښې تلاوت کړی هغه به د غه شپه د قانتینو نه اولیکلے شی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

حَسَن بصری رحمۃ اللہ علیہ د نبی اکرم ﷺ نه نقل کړے دے چه څوك ټول ایتونه د شپے اُولولی، نو د قرآن شریف د مطلب نه به بچ شی، او چه څوك روزانه سوه ایتونه اُولولی، نو هغهٔ ته به د ټولے شپے د عبادت ثواب ورکړے شی او چه څوك د پنځو سوو نه تر زرو پورے اُولولی، هغهٔ د پاره یو قنطار دے. اصحابو تپوس اوکړو چه قنطار څهٔ ته وائی؟ نبی علیه الصلوٰة والسلام اوفرمایل، چه د دولس زرو برابر (روپئ ئے مراد دے یا اشرفئ).

(۳۰) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی اللہ عنہ قَالَ نَزَلَ جِبْرِيْلُ علیہ السلام عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَأَخْبَرَهٗ اَنَّهٗ سَتَكُوْنُ فِتَنٌ قَالَ فَمَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا جِبْرِيْلُ قَالَ كِتَابُ اللّٰهِ. (رواه رزین کذا فی الرحمة المهداة)

حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ فرمائی، چه حضرت جبرئیل علیه السلام نبی اکرم ﷺ ته خبر ورکړهٔ چه ډیرے فتنے به ښکاره شی نبی اکرم ﷺ پوښتنه اوکړه چه د هغے نه د خلاصی څهٔ شکل دے؟ هغهٔ اُووے قرآن شریف.

په قرآن شریف باندے عمل هم د فتنو نه د بچ کید وضامن دے. او د دے د تلاوت برکت هم د فتنو نه د خلاصی سبب دے. د وه ویشتم نمبر حدیث کښ تیر شوی دی چه په کوم کور کښ د قرآن شریف تلاوت کیږی سکینه او رحمت په کښ نازلیږی، او شیطانان د هغے کور نه اُوزی.

د فتنو نه مراد د تاتار فتنه، د دجّال راتلل وغیره عالمانو خودلی دی. د حضرت علی کرم اللہ وجہہ نه هم په یو اُوږد روایت کښ د پورتنی حدیث مضمون راغلے دے، د حضرت علی کرم اللہ وجہہ روایت کښ راغلی دی چه حضرت یحیٰی علیه السلام بنی اسرائیلو نه اوفرمایل چه الله جل شانهٔ تاسو ته د خپل کلام لوستلو حکم کوی. او د دے مثال داسے دے لکه څنګه چه یو قوم خپله قلعه کښ محفوظ وی. او کهٔ هغوی طرف ته څوك دشمن متوجه شی، نو د کوم خوا نه چه هغه حمله کول غواړی، د هغے خوا نه به د الله تعالیٰ کلام د هغوی حفاظت کوونکے بیا مومی، او هغه به دا دشمن لرے کوی.

خاتمه

فِیْ عِدَّةِ رِوَایَاتٍ زَائِدَةٍ عَلَی الْاَرْبَعِیْنَةِ لَابُدَّ مِنْ ذِکْرِهَا لِاَغْرَاضٍ تُنَاسِبُ الْمَقَامَ

(۱) عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَیْرٍ رضی اللہ عنہ مُرْسَلًا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم فِیْ فَاتِحَةِ الْکِتٰبِ شِفَاءٌ مِّنْ کُلِّ دَاءٍ۔ (رواه الدارمی والبیهقی فی شعب الایمان)

حضرت عبد الملک بن عمیر رضی اللہ عنہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد نقل کوی چه په سورة فاتحه کښې د هر مرض نه شفا د ه۔

خاتمه کښې د بعضې داسې سورتونو فضائل دی چه په لوستلو کښې مختصر دی خو فضائل ئې ډیر زیات دی۔ او هم دغه شان یو دوه داسې خاص کارونه دی چه د قرآن لوستونکی په هغې خبرول ضروری دی۔

د سورة فاتحې فضائل په ډیرو روایتونو کښې راغلی دی۔ یو حدیث کښې راغلی دی چه یو صحابی مونځ کولو، نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم هغه راوغوښتهٔ۔ هغهٔ د مانځه په وجه جواب ورنکړے شو۔ چه فارغ شو، نو راغے۔ نبی علیہ السلام اُوفرمایل، چه زما په رابللو دِ جواب ولے رانهٔ کړو؟ هغهٔ د مانځه عذر اوکړو۔ نبی علیہ السلام اُوفرمایل چه تا قرآن کښې تا دا آیت نهٔ دے لوستلے، یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِیْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاکُمْ (سورة انفال ۳) "اے ایماندارو! د الله او د هغهٔ د رسول د بللو جواب ورکوئ کله موچه هغه را اُوبلی"۔ بیا نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد اُوفرمایهٔ چه تا ته به د قرآن شریف د ټولو نه لوئے سورت یعنی د ټولو نه بهتر سورت ښایم۔ بیا نبی علیہ السلام ارشاد اُوفرمایهٔ چه هغه د اَلْحَمْدُ اُووهٔ آیتونه دی۔ دا سَبْعَ مَثَانِیْ دی، او قرآنِ عظیم دے۔ د بعضې بزرګانو نه نقل دے چه هر هغه څهٔ چه په رومبنی کتابونو کښې ؤ هغه ټول په قرآن شریف کښې راغلی دی۔ او څهٔ چه په قرآن شریف کښې دی هغه ټول په سورةِ فاتحه کښې راغلی دی، او څهٔ چه په فاتحه کښې دی، هغه په بِسْمِ اللّٰه کښې راغلی دی۔ او څهٔ چه په بِسْمِ اللّٰه کښې دی، هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

درے پہ "ب" کښې راغلی دی، او ددے شرح داسے بیانوی چه د "ب" معنی دلته دیو ځائے کولو ده، او مقصود د ټولو څیزونو نه د بنده الله تعالیٰ سره یو ځائ کول دی۔ بعضو پرے دا زیاتے هم کړے دے چه "ب" کښې هر څۀ چه دی هغه درے په ټکی کښے راغلهٔ، یعنی د الله تعالیٰ یو والے چه ټکے یعنی نُقطه په اصطلاح کښې وائی هغه څیز ته چه د هغے تقسیم نۀ شی کیدے۔

بعضے عالمانو نه نقل شوے دے چه إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ کښې ټول دینی او دُنیوی مقصدونه راغلهٔ۔ یو بل روایت کښې د نبی اکرم ﷺ ارشاد راغلے دے، فرمائی، زما دِ په هغه ذات قَسَم وی د چا په قبضه کښې چه زما ساه ده چه ددے په شان سورت نهٔ دے نازل شوے، نهٔ په تورات کښې، نهٔ په انجیل کښې اونهٔ په زبور کښې، اونهٔ په باقی قران کښې۔ عالمانو لیکلی دی، کهٔ سورة فاتحه څوك په ایمان او یقین سره اُولولی، نو دهر مرض نه پرے شِفا حاصلیږی۔ مرض دینی وی کهٔ دنیوی، (او) ظاهری وی کهٔ باطنی۔ لیکل غاړه کښې اَچول اَوختل یٔے هم د مرضونو دپاره فائده ورکوی۔

د صحاح په کتابونو کښې راغلی دی چه اصحابو کرامو رضی الله عنهم د مار لړم چیچلو شوُو بانـدے او په مِرګی والو او لیونو بانـدے سورة فاتحه اُولوسته، او دَم یٔے کړه۔ نبی اکرم ﷺ دا هم جائز اُوګڼړل۔ دغه شان په یو روایت کښې راغلی دی چه نبی علیه الصلوٰة والسلام سورة فاتحه اُولوسته، او سائب بن یزید رضی الله عنه یٔے پرے دم کړو، او دا سورت یٔے اُولوسته او د خُلے مبارکے لاړے یٔے د درد په ځائے اُولګولے۔ او په یو روایت کښې راغلی دی چه څوك د اُوده کیدو په اِراده څملی او سورة فاتحه او قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ تر اخره پورے اُووائی او خپل ځان پرے دم کړی، نو د مرګ نه سِوا په د هرے بلانه امن بیا مومی یو روایت کښې راغلی دی چه سورة فاتحه په ثواب کښې د قران شریف دریو حصو کښې د دوه ؤ حصو برابره ده۔ په یو روایت کښې راغلی دی چه د عرش د خاص خزانے نه ما ته څلور څیزونه راکړے شوی دی، چه بل هیڅ څیز د دے خزانے نه چا ته نهٔ دے ورکړے شوے۔ سورة فاتحه

دَسُورة بقرے آخری آیتونه، آیة الکرسی او سُورة کوثر. په یو روایت کښ راغلی دی چه حَسَن بصری رحمة الله علیه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی، چاچه سورة فاتحه اُولوستله، هغهٔ گویا تورات، انجیل، زبور او قرآن شریف اُولوستل. په یو روایت کښ راغلی دی چه ابلیس څلور وارے په خپل ځان ژړلی دی، او په سَر ئے خاورے آچولی دی. اَوّل کله چه په دهٔ لعنت اُوشو. دوَیم کله چه داسمان نه په زمکه رااُوغورزولے شو. درَیم کله چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته نبوّت ورکړے شو، څلورَم کله چه سورة فاتحه نازله شوه. د شَعبی رحمة الله علیه نه روایت دے چه یو سړے ورله راغے او د گُردے د دردشکایت ئے اوکړو، شَعبی رحمة الله علیه ورته اُووے چه آسَاسُ الْقُرْآن اُولوله، او د درد په ځائے ئے دَم کړه. هغهٔ تپوس اوکړو، چه آسَاسُ الْقُرْآن څهٔ ته وائی؟ شَعبی رحمة الله علیه اُووَیل چه سورة فاتحه. د بزرگانِ دین په تجربه شوی عملونو کښ ئے لیکلی دی چه سورة فاتحه اِسمِ اعظم دے، د هرمطلب د پاره ئے لوستل پکار دی. او د دے دوه طریقے دی. یوه داچه د سَحر د سنتو او فرضو په مینځ کښ د بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ د اَلرَّحِیْمِ میم دِ د اَلْحَمْدُ لام سره یوځائے کړی، او یو څلویښت وارے دِ څلویښت ورځے اُولولی. چه څهٔ مطلب ئے دی انشاء الله حاصل به شی. کهٔ څوك مریض وی یا پرے جادو شوے وی، نو اُوبهٔ دِ پرے دم کړی، او هغه دِ پرے اُوڅکوی. دوَیمه داچه د نومیاشتے د روښتی اتوار په ورځ دِ د سَحر سنتو او فرضو ترمینځه بغیر د میم یوځائے کولو د شرط نه اوَیا وارے اُووائی. بیائے هره ورځ په هغے وخت لولی اَولس لس وارے دِ کموی، تردے چه هفته ختمه شی. کهٔ په اوله میاشت کښ ئے مطلب پوره شی نو ډیره ښه ده. کنی په دوېمه دریمه میاشت کښ دِ هم دغه شان اوکړی. بله داچه دا سورت د چینئ په لوښی په گلاب، مشکو، زعفرانو اُولیکی او بیائے په اُوبو اُووینځی، هغه اُوبهٔ څکول د عسے تر څلویښتو ورځو پورے دا عمل کول د زړهٔ مرضونو د پاره تجربه شوے دے. غاښونو درد، دسَر درد، د کیډے درد د پاره اُوهٔ ځله لوستل او دم کول مُجرّب دی،

Maktaba Tul Ishaat.com

(دا تول مضمون د مظاهرِ حق نه مختصر نقل کړے شو۔)

د مسلم شریف یو حدیث کښ د ابنِ عباس رضی اللہ عنہ نه روایت دے چه نبی اکرم ﷺ یو ځلے ناست وُو، وے فرمایل چه د آسمان یوه دروازه نن لرے شوه چه د نن نه وړاندے کله نهٔ وه لرے شوے۔ بیا د هغے نه یوه فرښته راکوزه شوه چه د نن نه وړاندے کله نهٔ وه راکوزه شوے۔ هغے فرښتے عرض اوکړو، چه د دوه وړڼاګانو زیرے واخلئ چه ستاسو نه وړاندے هیچا ته نهٔ دی ورکړے شوی. یو سورة فاتحه، دویم خاتمه د سورة بقرے یعنی د سورة بقرے آخری رکوع۔ دے ته ئے رڼاګانے اُوفرمایله چه د قیامت په ورځ به د خپل لوستونکی مخکښ مخکښ روانے وی۔

(۲) عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ رحمہ اللہ قَالَ بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ مَنْ قَرَأَ يٰسٓ فِي صَدْرِ النَّهَارِ قُضِيَتْ حَوَائِجُهُ۔ (رواه الدارمی)	حضرت عطاء بن ابی رباح رحمہ اللہ فرمائی چه ما ته د نبی اکرم ﷺ د ارشاد مبارک را رسیدلے دے چه چا سورة یٰسٓ د ورځے په شروع کښ اُولوستهٔ د هغهٔ د ټولے ورځے حاجتونه به پوره شی۔

په حدیثونو کښ د سورة یٰسٓ هم ډیر فضائل راغلی دی. یو روایت کښ راغلی دی چه د هر څیز د پاره یو زړهٔ وی، د قرآن شریف زړهٔ سورة یٰسٓ دے۔ څوک چه سُورة یٰسٓ لولی، الله جلّ شانهٔ هغهٔ لـه د لسو قرآنونو ثواب لیکی. یو روایت کښ راغلی دی، چه الله جلّ شانهٔ سورة طٰهٰ او سورة یٰسٓ د آسمان او زمکے پیدا کولو نه زر کاله وړاندے اُولوستل، کله چه فرښتو واوریدل نو وے ویل چه خوشالی ده د هغے اُمت د پاره په چا چه به دا قرآن نازلیږی. او خوشالی ده د هغے زړونو د پاره څوک چه به دا اُوچتوی یعنی یادوی به ئے. او خوشالی ده د هغے ژبو د پاره څوک چه به د دے تلاوت کوی. په یو حدیث کښ دی چه څوک سورة یٰسٓ خالص د الله تعالیٰ د رضا د پاره اُولولی، د هغهٔ د ړومبنی ټول ګناهونه معاف کیږی، پس دا سورت په خپلو مړو لولئ۔

یو روایت کښ راغلی دی چه د سورة یٰسٓ نوم په تورات کښ مُنْعِمَه

دے چه خپل لوستونکی دپاره د دُنیا او دآخرت په نیکړو شامل دے او د دُنیا او دآخرت مصیبت لرے کوی، او د آخرت ویره لرے کوی۔ د دے سورت نوم رَافِعه خَافِضه هم دے یعنی دمؤمنانو مرتبے اُوچتوُنکے او د کافرانو درجے ښکته کوُنکے دے۔ یو روایت کښ دی چه نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل چه زما زړهٔ غواړی چه سورهٔ یٰسٓ زما دهر اُمتی په زړهٔ کښ وی۔ یو روایت کښ دی چاچه سورهٔ یٰسٓ هره شپه اُولوسته، بیا مړ شونو شهید مړشو۔ یو روایت کښ دی چه څوك سورهٔ یٰسٓ لولی دهغهٔ بخښنه کیږی، او چه څوك یے دلوږے په حالت کښ اُولولی موړ به شی دچا ته چه لاره ورکه شوی وی او دے لولی لاره به بیا مومی۔ چا ته چه څناور ورك شوے وی او دے لولی، بیا به یے مومی۔ او چه څوك یے په داسے حال کښ اُولولی چه د خوراك دکمیدو ویره وی، نو هغه خوراك به کافی شی۔ او چه داسے کس سره یے اُولولی چه دهغهٔ زنکدن وی، نو په هغهٔ به زنکدن آسان شی۔ او چه داسے ښځے سره یے اُولولی چه دبچی پیدا کیدو کښ ورته تکلیف وی، نو بچے به یے په آسانه پیدا شی۔ مُقریٔ رحمة الله علیه فرمائی چه کله د بادشاه یا د دُشمن ویره وی، او د هغې دپاره سورهٔ یٰسٓ اولولی، نو هغه ویره به یے لاړه شی۔ یو روایت کښ راځی، چا چه سورهٔ یٰسٓ او سورهٔ وَالصّٰفّٰتِ د جُمعے په ورځ اُولوستل۔ بیا یے د الله تعالیٰ ته دُعا اوکړه، نو دُعا یے قبلیږی (د دے هم اکثره حصه د مظاهر حق نه نقل شوے ده خو محدثینو د بعضے روایاتو په صحت کښ خبرے کړی دی۔

(۳) عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَرَءَ سُوْرَةَ الْوَاقِعَةِ فِیْ كُلِّ لَیْلَةٍ لَمْ تُصِبْهُ فَاقَةٌ اَبَدًا وَكَانَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ یَاْمُرُ بَنَاتِهٖ یَقْرَاْنَ بِهَا كُلَّ لَیْلَةٍ (رواه البیهقی فی الشعب)

حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د نبی اکرم ﷺ دا ارشاد نقل کړے دے چه څوك هره شپه سورهٔ واقعه لولی په هغهٔ به هیڅ کله لوږه نهٔ راځی، او ابن مسعود رضی الله عنه به خپلو لوڼړو ته حکم ورکوو چه هره شپه دا سورت لولئ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دسورة واقعے فضائل هم په ډيرو روايتونوكښ راغلي دي ـ په يو روايت كښ راغلي دي چه څوك سورة حديد او سورة واقعه او سورة رحمٰن لولي هغه په دجنت الفردوس او سيدونكوكښ بللے شي ـ په يو روايت كښ دي چه سورة واقعه سورة الغِنٰى دے، دا وايئ او خپل اولاد ته يئ زده كوئ ـ په يو روايت كښ دي چه سورة واقعه خپلو بيبيانو ته زده كوئ ـ حضرت عائشه رضی اللہ عنہا ته هم ددے دويلو تاكيد نقل شوے دے ـ خو دا ډير پر يوتے خيال دے چه دځلورو پيسو يعني ددُنيا دپاره او لوستلے شي البته كه چرے د زړهٔ دغِنا او دآخرت په نيت يئ څوك اُولولي، نو دُنيا به ورته په خپله لاس په نامه حاضره شي ـ

⑭ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم اِنَّ سُوْرَةً فِی الْقُرْاٰنِ ثَلٰثُوْنَ اٰیَةً شَفَعَتْ لِرَجُلٍ حَتّٰی غُفِرَلَهٗ وَهِیَ تَبٰرَكَ الَّذِیْ بِیَدِهِ الْمُلْكُ ـ

حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ د نبی اكرم صلی اللہ علیہ وسلم دا ارشاد نقل كړے دے چه قرآن شريف كښ يو سورت د ديرشو آيتونو دا سے دے چه هغه دخپل ويونكي دپاره شفاعت كوي، تردے چه د هغهٔ بخښنه اوكړي ـ او هغه سورة تَبٰرَكَ الَّذِیْ دے ـ

(رواه احمد وابو داؤد والنسائی وابن ماجۃ والحاکم وصححہ وابن حبان فی صحیحہ)

دسورة تبارَكَ الَّذِی متعلق هم يو روايت كښ د نبی اكرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد راغلے دے چه زما زړهٔ غواړي چه دا سورت دِ دهر مؤمن په زړهٔ كښ وي ـ يو روايت كښ دي چه چا سورت تَبٰرَكَ الَّذِیْ او سورة الٓمّٓ السَّجْدَة د ما ښام او د ماسخوتن په مينځ كښ اُولوستل، گويا هغهٔ د لَيْلَةُ الْقَدْر شپه په عبادت كښ روڼره كړه ـ يو روايت كښ دي چا چه دا دواړه سورتونه اُوويل، هغهٔ د پاره اويا نيكئ اُوليكلے شي ـ او اويا بدئ ترے لرے كړے شي ـ يو روايت كښ دي چا چه دا دواړه سورتونه اولوستل، هغهٔ دپاره د لَيْلَةُ القدر د عبادت برابر ثواب اُوليكلے شي ـ كذا فی المظاهر ـ

ترمِذِی دابن عباس رضی اللہ عنہ نه نقل كړے دے چه بعضو صحابه كرامو يو ځائ خيمه اُولگوله ـ ددی ته پته نهٔ وه چه دغه ځائ قبر دے ـ ناكهانه دِ ے

خپله لګونکو دغه ځائ واورېدل چه څوك تَبَارَكَ الَّذِیْ وائی، نو نبی اکرم ﷺ ته راغلل او حال یې عرض کړو. نو نبی ﷺ ورته اوفرمايل، چه دا سورت دالله تعالیٰ دعذاب نه منع کونکے او خلاصه ورکونکے دے. حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چه نبی اکرم ﷺ به ترهغې وخته پورے نهٔ اُودهٔ کیدهٔ ترڅو چه به یې سورة الٓمّٓ سَجده او سورة تَبَارَكَ الَّذِیْ نهٔ وُلوستلی. خالد بن مَعدان رحمة الله علیه فرمائی چه ماته دا روایت رارسیدلے دے چه یو سړے ډیر ګنهګار وُو، او سورة سَجده به یې لوستهٔ، دے نه علاوه به یې نور هیڅ نهٔ لوستل، چه مړ شو نو دے سورت خپلې وَزَرے په هغه سړی خورے کړے (او وې ویل) چه اے ربه! دے سړی به زما ډیر تلاوت کولو. دے (سورت) شفاعت قبول کړے شو. او حُکم اُوشو چه دهرے بدئ په بدله کښ دېوه نیکی ورکړے شی. خالد بن مَعدان رحمة الله علیه داهم فرمائی چه دا سورت دخپل ویونکی له طرفه به په قبر کښ جهګړه کوی او وائی به، چه اے الله! که چرے زهٔ ستا دکتاب نه یم، نو زما شفاعت قبول کړے، کنی ما دخپل کتاب نه وُران کړے، او د مارغهٔ په شان به جوړ شی په مړی باندے به خپلې وَزَرے خورے کړی. او د هغهٔ نه به د قبر عذاب لرے کوی. دا ټول مضمون هغه د تَبَارَكَ الَّذِیْ په باره کښ هم وائی. خالد بن معدان رحمة الله علیه به ترهغې وخته پورے نهٔ اُودهٔ کیدهٔ، ترڅو چه به یې دا دواړه سورتونه نهٔ وُلوستلی. طاؤس رحمة الله علیه فرمائی چه دا دواړه سورتونه د ټول قرآن په هر سورت شپیته نیکئ زیاتے لری. د قبر عذاب څهٔ معمولی څیز نهٔ دے. هرچاته به د مرګ نه پس د ټولو نه اول قبر سره معامله پیښیږی. حضرت عُثمان رضی الله عنه به چه کله قبر سره اودریدهٔ نو دومره به یې اوژړل، چه ږیره مبارکه به یې لونده شوه. چا ترے تپوس اوکړو، چه تاسو د جنت او دوزخ د تذکرے نه هم دومره نهٔ ژاړئ څومره چه د قبر نه ژاړئ؟ ورے فرمایل، چه د نبی اکرم ﷺ نه ما اورېدلی دی چه قبر د آخرت د منزلونو نه د ټولو په روُمبے منزل دے. چاچه د دے د عذاب نه خلاصه بیا موندهٔ نو راتلونکی واقعات به ورته آسان شیٔ او که د دے نه یې خلاصه بیا نهٔ موندهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

نوراتلونکی واقعات به ددے نه هم سخت وی۔ دغه شان دارِ هم آوریدلی دی چه د قبرِ نه زیارت ویرَوُنکے هیځ یو منظر نشته۔ (جمع الفوائد) اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنْهُ بِفَضْلِكَ وَمَنِّكَ۔

⑤ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنهما اَنَّ رَجُلًا قَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم اَیُّ الْاَعْمَالِ اَفْضَلُ قَالَ الْحَالُّ الْمُرْتَحِلُ قَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ مَا الْحَالُّ الْمُرْتَحِلُ قَالَ صَاحِبُ الْقُرْاٰنِ يَضْرِبُ مِنْ اَوَّلِهٖ حَتّٰى يَبْلُغَ اٰخِرَهٗ وَمِنْ اٰخِرِهٖ حَتّٰى يَبْلُغَ اَوَّلَهٗ كُلَّمَا حَلَّ ارْتَحَلَ۔ (رواه الترمذی کما فی الرحمة والحاکم وقال تفرد به صالح المری وهو من زهاد اهل البصرة الا ان الشیخین لم یخرجاه وقال الذهبی صالح متروک قلت هو من رواة ابی داؤد والترمذی)

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی، چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه چا تپوس اوکړو، چه عملونو کښې کوم یو عمل ډیر بهتر دے۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد اُوفرمایه، "حال مُرتحِل"۔ خلقو تپوس اوکړو چه حال مرتحِل څهٔ څیز دے؟ نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد اُوفرمایهٔ چه هغه صاحبِ قرآن چه داول نه ئے شروع کړی، او تر اخره پئے اُورسَوی۔ او د اخر نه پس بیا اول ته راشی، کوم ځائے چه اُودریږی، بیا تړے مخکښې لاړ شی۔

"حالٌ" منزل باندے راتلونکی ته وائی او "مُرتحِلُ" ترے تلونکی ته وائی۔ یعنی هر کله چه قرآن شریف ختم شی، نو بیا ئے د سرنه شروع کړی۔ دا نه چه بس، اُوس ختم شو بیا به کتلے شی۔ د کنز العُمال په یو روایت کښې ئے د دے شرح په اَلْخَاتِمُ الْمُفَتِّحُ سره کړے ده، ختم کوُنکے او ورسره شروع کوُنکے یعنی یو قرآن ختم کوُلو نه پس ورسره دویم حُل شروع کړی۔ ددے نه غالبًا هغه عادت اخستلے شوے دے چه کوم زمونږ په مُلك کښې مشهور دے، چه قرآن ختم کوُلو نه پس (بیا د اول نه شروع کړی او) تر مُفلِحُون پورے وائی، اوس خلق دا یو مستقل ادب گنړی او بیا د پوره کوُلو اهتمام ئے نکوی۔ حال دا دے چه دا سے نهٔ ده، بلکه قرآن ختموُلو نه پس سمدستی بیا د سر نه د قرآنِ پاك شروع کوُل په ظاهر کښې مقصود دی چه د هغے پوره کوُل هم پکار دی۔ په شرحِ احیاء کښې او علامه سُیُوطی رحمة الله علیه په اِتقان کښې د دارمی

په روایت نقل کړے دے چه نبي اکرم ﷺ به چه کله قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ اُووے، نو د سورة بقرے د اول نه به یے تر مُفْلِحُوْنَ ورسره لوستلهٔ، او دے نه پس به یے دختمِ قرآن دُعا فرمایله۔

(۶) عَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَعَاهَدُوا الْقُرْاٰنَ فَوَ الَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَهُوَ اَشَدُّ تَفَصِّيًا مِّنَ الْاِبِلِ فِيْ عُقُلِهَا (رواه البخاري ومسلم)

حضرت ابوموسٰی اشعري رضی اللہ عنہ د نبي اکرم ﷺ نه نقل کړے دے چه دقرآن شریف خبرګیري کوئ، زما دِ په هغه پاك ذات قسم وی چه دچا په قبضه کښ زما ساه ده چه قرآن شریف دِیر زر روتونکے دے د سینوته په نسبت د اُوښ دخپلو رسونه۔

یعني بنده که چرے دځناور دحفاظت نه غافله شي، او هغه درسئ نه اُوزي نو اُوبه تختي۔ دغسے که دقرآن شریف حفاظت اُونکړے شي نو دا به هم یاد پاتے نهٔ شي، هیر به شي۔ او اصل خبره دا ده چه دقرآن شریف په حفظ یادیدل په حقیقت کښ دا په خپله دقرآن شریف یوښکاره معجزه ده۔ کني ددے نیمه یا دریمه حصه کتاب یادوُل نهٔ صرف مشکل بلکه ناممکن دی۔ ددے وَجے الله جلّ شانهٗ ددے یادوُل په سورة قمر کښ د احسان په طور ذکر فرمایلی دی، او بار بار یے په دے خبردارے کړے دے وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ چه مونږ قرآن دحفظ کولو دپاره اسان کړے دے نو څوك شته حِفظ کوُنکے؟ صاحب دجلالین لیکلی دی، چه استفهام یعني پوښتنه کوُل په دے ایت کښ د امر په معنٰی کښ دے، نو کوم څیز چه الله جلّ شانهٗ بار بار په تاکید فرمائی، هغه مونږه مسلمانان عبث، بے عقلی، بے فائدے او دوخت ضائع کوُل ګنړو۔ ددے بے عقلئ نه پس بیا هم زمونږ دتباهئ دپاره څهٔ دبل څیز د انتظار ضرورت باقي دے؟ دحیرانتیا خبره ده چه حضرت عُزیر علیه الصلوٰة والسلام دخپلو یادو نه تورات اُولیکهٔ نو هغے دوچه د الله تعالٰی په څوئ بللے کیږي او دمسلمانانو دپاره الله جلّ شانهٗ دا مهرباني او احسان عام کړے دے نو د هغے دِ دا قدرداني اوکړے شي؟ وَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ ٥

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دخبرے دادهٔ چه دا صرف دالله جلّ شانهٔ مهربانی او انعام دے چه قرآن شریف یادیږی۔ ددے نه پس کهٔ چرے دچا طرفه څهٔ بے توجهي بیا موندے شي، نو دهغهٔ نه هیر کړےشي۔ قرآن شریف ویلو نه پس د بیا هیرولو په حق کښې ډیر سخت عذابونه راغلی دی۔ دنبی اکرم ﷺ ارشاد دے چه په ما باندے دامت ګناهونه پیش کړےشو۔ ما په هغے کښې له دے نه زیاته ګناه بله اونهٔ موندهٔ چه څوك قرآن شریف اووائی، او بیا یئے هیر کړی۔ بل ځائ کښې ارشاد دے چه څوك قرآن شریف دوئیلو نه پس هیر کړی۔ د قیامت په ورځ به دالله جلّ شانهٔ په دربار کښې جذامی حاضریږی۔ جمع الفوائد کښې درزین په روایت دا دلیل ګرزولے شوےدے۔ اِقْرَءُوْا اِنْ شِئْتُمْ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِیْٓ اَعْمٰی وَقَدْ کُنْتُ بَصِیْرًا ط

څوك چه زمونږ د ذکر نه مخ اړوی دهغهٔ ژوند په موږ تنګ کړو او د قیامت په ورځ به یئے ړوند راپاسوو، هغه به عرض اوکړی چه اے الله! زهٔ خو سترګو خاوند وم، ولے دِ زهٔ ړوند کړم؟ ارشاد به اوشی، ځکه چه تا ته زمونږ ایتونه راغلل، او تا هغه هیر کړل، پس نن به تهٔ هم دغه رنګے هیر کړےشے۔ یعنی ستا به هیڅ امداد نهٔ کیږی۔

⑦ عَنْ بُرَیْدَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ قَرَءَ الْقُرْاٰنَ یَتَاَکَّلُ بِهِ النَّاسَ جَآءَ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ وَوَجْهُهٗ عَظْمٌ لَیْسَ عَلَیْهِ لَحْمٌ۔ (رواه البیهقی فی شعب الایمان)

حضرت بُریدهٔ رضی الله عنه دنبی اکرم ﷺ دا ارشاد نقل کړےدے چه څوك قرآن شریف وائی چه دردے په وجه دخلقو نه خوراك اوکړی۔ د قیامت په ورځ به هغه په داسے حالت کښې راشی چه دهغهٔ په مخ به تش هډوکی وی غوښه به پرے نهٔ وی۔

یعنی کوم خلق چه قرآن شریف ددُنیا دطلب په غرض وائی دهغوی په اخرت کښې هیڅ حصه نشته۔ دنبی اکرم ﷺ ارشاد دے چه مونږ قرآن شریف وایو او په مونږ کښې عربی عجمی هر قسمه خلق دی، څنګه یے چه وایئ، وایئ یے۔ ډیر زر به یوه ډله راتلونکے ده چه د قرآن شریف حرفونه به داسے نیغوی څنګه چه غشے نیغولےشي یعنی ښهٔ به یے ښائسته کوی۔

یو یو حرف به په کهینتو سهَوی، او د مخارجو لحاظ ساتلو کښې په ښهٔ کوشش
کوی، او د اتلول به د دُنیا د پاره کوی، د آخرت سره به د دے خلقو څهٔ کار نهٔ
وی۔ مقصد دا دے چه تشه خوش آوازی بے کاره ده چه په کښې اخلاص
نهٔ وی چه صرف د دُنیا گټلو د پاره اُوکړے شي۔ په مخ د غوښے د نیشتوالی
مطلب دا دے چه هر کله دغے بنده اَشرَفُ الاَشیَاء (یعنی قرآن شریف) د
ذلیل څیز گټلو ذریعه کړه، نو اَشرَفُ الاَعضَاء یعنی مخ یے د رونق نه محرومه
کړے شو۔ عِمرَانِ بنِ حُصَینؓ په یو واعظ تیریدلو چه د تلاوت نه
پس یے د خلقو نه څهٔ غوښتل، دوی اُولیدهٔ نو اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیهِ رٰجِعُونَ یے
اُووے، او وے فرمایل چه ما د نبی اکرم ﷺ نه اوریدلی دی، چه څوك تلاوت
اُوکړی، هغهٔ که څهٔ غواړی نو د الله تعالیٰ نه دِ اُوغواړی۔ نزدے ده چه
دا سے خلق به راشي چه قرآن لوستلو نه پس به د خلقو نه خیر غواړی۔ د
عالمانو نه نقل دے چه څوك د عِلم په ذریعه دُنیا گټی، د هغهٔ مثال دا سے
دے لکه چه پڼړه په خپل مخ صفا کوی۔ په دے کښې شك نشته چه پڼړه خو
به صفا شی، خو په مخ صفا کول دے بے عقلیٔ اِنتهاء ده۔ هم د دا سے خلقو په
باره کښې نازل شوی دی اُولٰٓئِكَ الَّذِینَ اشتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالهُدٰی۔(البقرہ ۲) "دغه خلق
دی چا چه د هدایت په بدله کښې گمراهی واخسته پس نهٔ د هغوی تجارت
څهٔ فائده مند دے او نهٔ دا خلق د هدایت موندونکی دی"۔ اُبیُ بن کعب
رضی اللہ عنہ فرمائی چه ما یو کس ته د قرآن شریف یو سورت ښودلے وو، هغهٔ ما
ته یوه لیندهٔ په تحفه کښې راکړه۔ ما نبی اکرم ﷺ ته د دے ذکر اُوکړو، نو
نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام اِرشاد اُوفرمایهٔ چه د دوزخ یوه لیندهٔ دِ واخسته۔ د دغه رنگے
واقعه عُبَادَه بن الصَّامِت رضی اللہ عنہ د خپل ځان باره کښې نقل کړے ده۔ او د
نبی اکرم ﷺ دا جواب یے نقل کړو چه د دوزخ یوه سَرُوَټکه دِ د خپلو
اُوګو په مینځ کښې زوړنده کړه۔ یو بل روایت کښې دی، که چرے ته غواړے
چه د دوزخ یوه اُوربړی په غاړه کښې واچوے، نو دا قبوله کړه۔

اُوس زهٔ د هغے حافظانو په خدمت کښې چه د چا مقصد د قرآن شریف
د مَدرَسو نه صرف پیسه گټل دی په ډیر ادب سره عرض کوم، چه د الله

Maktaba Tul Ishaat.com

د پاره د خپلې مرتبې او د خپلې ذمه دارئ لحاظ اُوکړئ. کوم خلق چه ستاسو د بدو نیتونو د خپلې ددې د قرآن شریف لوستل یا حفظ کول بندوی، دهغې په وبال کښې به هغوی یو ا ځې نیولی نهٔ وی، تاسو ورسره هم الله تعالیٰ ته جواب ورکوونکي او د قرآن په بندولو کښې شریک یئ. تاسو خلق داګنړئ چه مونږ د قرآن خوړونکي یُو، خو په حقیقت کښې ددے د خوړلو نه منع کوونکي هم مونږ خلق یُو. د چا بد عملئ او بد نیتئ د دُنیا خلق مجبوره کوی، چه هغوی قرآن پاک پریږدی. علما نو د تعلیم تنخواه ددے د پاره نهٔ ده جائز کړے، چه مونږ خلق بس هم دا مقصود اُوګرځوُو. په حقیقت کښې د مُدرسینو اصل غرض صرف د عِلم او د قرآن شریف خوړول دی. او تنخواه ددے بدله نهٔ ده بلکه د ضرورت د پوره کولو یو شکل دے، چه د مجبورئ او د بے وسئ په وجه اختیا کړے شو.

تتمّه

دقرآن شریف ددے ټولو فضائلو او صفتونو ذکر کولو نه مقصود دے سره محبّت پیدا کول دی ځکه چه د قرآن شریف محبّت د الله جلّ شانهٗ د محبّت د پاره لازم او ملزوم دے. او د یو محبّت د بل د محبّت سبب ګرزی. په دُنیا کښې د بنیٔ آدم پیدا ئش د الله جلّ شانهٗ د پیژندګلو د پاره شوے دے. او د بنیٔ آدمو نه علاوه د نورو ټولو څیزونو پیدا ئش د بنیادمو د فائدے د پاره شوے دے.

ابر و باد و مه و خورشید و فلک در کاراند ❊ تا تونانے بکف آری و بغفلت نه خوری

همه از بهر تو سرگشته و فرمان بردار ❊ شرطِ انصاف نباشد که تو فرمان نه بری

ویلے شي چه وُریځ، هَوا، سپوږمئ، نمر، اسمان او زمکه هر یو څیز ستا د خاطره کار کښې مشغول دی، د پاره ددے چه ته خپل حاجتونه ددے په ذریعه پوره کړے، او د عبرت په نظر ورته اُوګورے، چه د بنیادمو د ضرورتونو (پوره کولو) د پاره دا ټول څیزونه تر کومه حده فرمانبرداره، منونکي او په وخت پابندے کار کوونکي دی. او د خیرداري د پاره په کښې کله کله دلږ ساعت د پاره ...لاے کولے شي. د باران په وخت کښې باران نهٔ کیدل، د هوا په وخت کښې

هوا نهٔ چَلیدل، دا رنګے د تندار په ذریعه سپوږمۍ نمر غرض په هر څیز کښې څهٔ بدلون هم پیدا کوی چه د یو غافل د بیدارولو د پاره د عبرت یوه ګروړه هم اُوګرزی. د دے ټولو نه پس ځومره د حیرانتیا خبره ده چه ستا په وجه دا ټول څیزونه ستا د ضرورياتو فرمانبردار کړے شی، او د ذوی دا فرمانبرداری هم بیا ستا د الله تعالیٰ د فرمانبردارئ او د اِطاعت سبب جوړنهٔ شی. اِطاعت او فرمانبردارئ د پاره بهترین مددګار مَحبّت دے، اِنَّ الْمُحِبَّ لِمَنْ يُحِبُّ مُطِيعٌ. کله چه چا سره مَحبّت مینه او عشق پیدا شی، نو د هغهٔ اِطاعت او فرمانبرداری طبیعت او عادت جوړ شی، او د هغهٔ نافرمانی دا سے ګرانه او سخته شی څنګه چه بغیر د مَحبّت نه د چا اطاعت د عادت او طبیعت نه خلاف کیدو په وجه بوجهه شی، څهٔ څیز سره د مَحبّت پیدا کیدلو سبب د هغې د کمالاتو او د جمال مُشاهَدَه ده، که ظاهری حواسو سره وی یا باطنی حواسو کښې د هغهٔ په حاضرګنړلو وی. که د چا په مخ لیدلو بے اختیاره د هغهٔ سره مینه پیدا کیږی نو د چا ښکلے آواز هم ډیر ځلے د مقناطیس اثر لری. ـه

نه تنها عشق از دیدار خیزد ✽ بسا کین دولت از گفتار خیزد

"عشق همیشه صرف د شکل په لیدو نهٔ پیدا کیږی، ډیر ځله دا مبارک دولت په خبرو سره هم پیدا کیږی". غوږ ته آواز راتلل که د چا طرف ته بے اختیاره رابنکل کوی، نو د چا د کلام خوبئ او جوهر هغهٔ سره د مَحبّت سبب جوړیږی. چا سره د عشق پیدا کولو سبب د عشق ماهرانو دا هم لیکلے دے چه د هغهٔ بنهٔ صفتونه د ځان ته را مخکښ کړی. او د هغهٔ نه علاوه بل چا ته د په زړهٔ کښې ځائ نهٔ ورکوی، لکه څنګه چه طبعی عشق کښې د اتولے خبرے بے اختیاره کیږی. که د چا ښکلی مخ یالاس باندے نظر پریوزی، نو بیا کوشش کوی چه نور اندامونه ئے هم اُووینی چه مَحبّت یے زیات شی او زړهٔ ته یئے آرام حاصل شی، حال دا دے چه آرام ورته نهٔ حاصلیږی. ع

مرض بڑھتا گیا جوں جوں دوا کی

(ترجمه):- مرض ړم زیاتیدهٔ څومره څومره ړم دارُو کوُل:-

په پټی کښې د تخم اچولو نه پس که چرے د هغے د اُوبه خور خبر

Maktaba Tul Ishaat.com

وانهٔ غسته شي نو حاصلات نهٔ کیږي۔ دغسې کهٔ دچا محبت بے اختیاره په زړهٔ کښ راتلونه پس هغهٔ طرف ته توجّه اُونکړے شي، نو کهٔ نن نهٔ وي صبا ځه به دزړهٔ نه لرے شي خو کهٔ چرے دهغهٔ خط وخال دسر نه تر خپو پورے او د رفتار گفتار په تصوُّر سره د زړهٔ دِے تخم له اُوبهٔ ورکوي، نو هر ساعت به په کښ زیاتے کیږي۔

مکتبِ عشق کے انداز نرالے دیکھے ❊ اس کو چھٹی نہ ملی جس نے سبق یاد کیا

دمحبت دملا رسے انداز نا اشنا م اُولیدٔ ❊ چاچه سبق یاد کهٔ هغهٔ چُهټی اُونهٔ مونده

دا سبق چه هیر کړے سمه ستی په درته چهټی درکړے شي، خومره خومره یے چه یاد دِے، هغومره به په کښ گیر یږے، دغسې څوك دعشق قابل سره محبت پیدا کول غواړي، دهغهٔ دکمالاتو او دهغهٔ د زړهٔ راښکونکو صفتونو پسے دِ اُوگرزي، دجواهِرو تلاش دِ اُوکړي، او هر څومره چه ورته معلوم شي، په هغے دِ بس نهٔ کوي، بلکه دهغے نه دِ زیات تلاش کوي، څنگه چه دُنیا کیدُ ونکی محبوب دیوانه ام په لید وصبر نهٔ شي کیدے، دهغے نه دزیات حرص څومره چه په وَس کښې وي باقي ري۔ نو الله جلّ شانهٔ چه په حقیقت کښ دهر یو جمال او حُسن چینه ده، او حقیقةً په دُنیا کښ هیڅ جمال هم دهغهٔ نه علاوه نشته، یقیناً دا سے محبوب دے چه دهغهٔ هیڅ یو جمال او کمال بانده بَسوالے نشته، او نهٔ دهغے څهٔ اِنتها شته۔ هم ددغے بے نهایته کمالاتو نه دهغهٔ کلام یعنی قران مجید هم دے چه دهغے باره کښ ما پروسے څهٔ مختصر غوند ے ویلي دي چه ددے نسبت حاصلیدو نه پس بیا دهیڅ کمال ضرورت نشته۔ دعاشقانو دپاره به ددغے نسبت برابر بل کوم یو څیز وي ؏

اے گل بہ تو خورسندم تو بوئے کسے داری

اے گله! یم په تا باند ے مئین، ته خوشبو دچا لرے

علاوه ددے نه چه دغے نسبت لره کهٔ چرے پریخودلے هم شي چه ددے اول جوړونکے څوك دے او هغه دچا صفت دے، نو بیا دنبي اکرم ﷺ سره چه ددهٔ کوم کوم نسبتونه دي، دیو مسلمان دعاشق کیدو دپاره دغه څهٔ کم دي۔ کهٔ چرے ددے نه هم نظر وا ړولے شي، نو په خپله قرانِ پاك

کښې غور اوکړئ چه کوم یوصفت په دُنیا کښې داسے دے چه په څهٔ ځیز
کښې موندلے شي، او په قرآنِ پاك کښې نهٔ وي۔ ؎
دامانِ نگه تنگ وگل حسنِ توبسیار ✤ گل چینِ بهار توزدامان گله دارد
دنظرلمن مې تنګه ستا دخائست ګلونه ډیر، ستا دبهار ګلونه شوکوُنکی ګِله لیني نه کوی
فدا ہوں آپ کی کس کس ادا پر ادائیں لاکھ اور بے تاب دل ایک
ستا په کومه کومه ادا باندے فِدا اشم ✤ ادا ګانے په لکھوتو او بیقراره زړهٔ م یو دے
دتیرو شوُو حدیثونو په غورسره لوستونکو نه پته نهٔ ده چه هیڅ یو
ځیزهم په دُنیا کښې داسے نشته چه دهغے طرفته پورتنو حدیثونوکښې نهٔ
وي متوجه کړے شوے۔ اود محبّت او افتخار قسمونوکښې په هیڅ یو قِسم
سره محبت کوُنکے داسے نهٔ وي چه په هغے رنګ کښې دقرآن شریف بهتروالے
اَواُوچتوالے په دغے قِسم کښې په کامله درجه نهٔ وي ښودلے شوے.مثلاً
کُلّي اواجمالي بهتروالے چه دټولے دُنیا ځیزونو ته شامل دے هریو جمال
اوکمال په کښې داخل دے، دټولو نه رومبی ① حدیث په کُلّی طور دهر یو
ځیز نه دقرآن شریف بهتروالے اَواُوچتوالے اُوخودلو۔ دمحبّت کوم یوقِسم
چه واخلے چاته چه نهٔ ختمیدونکی اسبابوکښې په څهٔ وجه یو سبب
خوښ شي، نودقرآن شریف په دے ټولو فضیلتونوکښې دهغے ټولوته زیات
بهتر دے۔ ددے نه پس عام طورسره چه دتعلق او محبت کوم اسباب دي
دجُزئیاتو او تمثیل په طور په هغے ټولو باندے دقرآن شریف بهتروالے
اُوخودلے شو. کهٔ دچا د فائدو او مَنافِعُو په وجه چا سره محبت دی (چه
ددهٔ نه په راته څهٔ نفع را اُورَسي) نو دالله جلّ شانهٔ وعده ده چه دهریو
غوښتونکی نه به ورته زیاته ورکړه کوُمه۔ حدیث ② کهٔ دچا ذاتی فضیلت
او ذاتي جوهرا وذاتي کمال کښې یې کوم یو خوښ وي، نو الله جل شانه واضحه
کړے ده چه ددُنیا په هره خبره باندے دقرآن شریف هغومره فضیلت دے
څومره چه دخالق په مخلوق باندے، دآقا په غلامانو باندے، دمالك په
مملوك باندے دے۔ حدیث ③ کهٔ څوك دمال واسباب (سازوسامان)
نوکرانو، خادمانو او دخارؤ عاشق وي، اودڅهٔ قسمه خارؤ په پالنه یې

Maktaba Tul Ishaat.com

زرهٔ بائللے وی نود ځار وُ بے مشقته حاصلوُلونه ئے دقرآن شریف حاصلوُ لو په بهتر والی خبر داسے اُوکړو۔ حدیث (۴) کهٔ څوك صوفی مزاجه د پاکۍ او پرهیزګارۍ اُوړے دے دهغے دپاره سرګردانه دے۔ نونبی اکرم ﷺ ورته اُوخودل چه دقرآن ماهر دفرښتوسره شمار دے چه دهغوی برابر د تقوٰی حاصلیدل ګرانه ده چه یو ساعت هم داطاعت نه خلاف نهٔ شی تیرولے۔ حدیث (۵) کهٔ څوك په دوچند حصه حاصلید و فخر کوی یاخپل لوئ والے په دے کښ ګڼړی چه ددهٔ راسئے د دوهٔ و رایو برابر اُوشیرلے شی، نو دچا چه په تلاوت کښ ژبه اِنخلی دهغهٔ دپاره دوچند ثواب دے۔ حدیث (۶) کهٔ څوك حاسد دید واخلاقو شوقی وی او په دُنیا کښ ئے حسد کول عادت اجوړ شوے وی او په ژوند دحسد نه نهٔ شی اُوړیدے۔ نو نبی اکرم ﷺ اُوخودل چه ددے قابل چه دهغهٔ په کمال واقعی حسد کیدلے شی، هغه حافظِ قرآن دے۔ حدیث (۷) کهٔ څوك په میوُو مئین وی او ځان پرے وَرُنی بے میوے ورله آرام نهٔ ورځی، نو قرآن شریف د ګلګل مشابهت لری۔ حدیث (۸) کهٔ څوك دخوږو عاشق وی، دمتهایئی نه بغیر یے ساعت نهٔ تیریږی، نو قرآن شریف دکهجورے نه زیات خوږ دے، کهٔ څوك دعزت او د وِقار عاشق وی، دممبرئ او کونسلرئ نه بغیر نهٔ شی پاتے کیدے، نو قرآن شریف په دُنیا او آخرت کښ د درجو اُوچتولو ذریعه ده۔ حدیث (۹) کهٔ څوك مُعِین او مدد ګار غواړی، داسے جان نثار غواړی چه په هرهٔ جهګړه کښ دخپل ملګری له طرفه د جهګړے دپاره تیار دی، نو قرآن شریف د سُلْطَانُ السَّلَاطِین، مَلِكُ الْمُلُوك، شهنشاه په دربار کښ د خپل ملګری دپاره جهګړه کونکے دے۔ حدیث (۱۰) کهٔ څوك نکته دان بارېکئ را ایستلو کښ عُمر خرچ کول غواړی، دهغهٔ په نزد یوه باریکه نکته حاصلول د بتولے دنیا دلذتونو نه مخ ګرزولو دپاره کافی ده۔ نو دقرآن شریف اندرون د باریکا تو خزانه ده۔ حدیث (۱۱) دغه شان کهٔ څوك د پټو رازونو پته لګول کمال ګڼړی۔ په مَحْکَمه دسِی، آئی، ډی کښ تجربه هنر ګڼړی، عمر په کښ ختموی، نو دقرآن شریف اندرون په هغے پټو رازونو باندے

خبردارے ورکوی چه دهغے څهٔ اِنتہا نشته۔ کهٔ څوك اُوچتو مکانو نو جوړولو باندے مری، په اُوَوم چهت خپله خاصه کمره جوړول غواړی نو قرآن شریف اُووهٔ زره منزلو ته سرے رَسَوی (په جنت کښ)۔

حدیث ⑫ کهٔ څوك ددے عاشق وی چه دا سے اسان تجارت اوکړم، چه په هغے کښ محنت هیڅ نهٔ وی او نفع په کښ ډیره وی، نو قرآن شریف په یو حرف لس نیکئ ورکوی۔ حدیث ⑬ کهٔ څوك د تاج و تخت اُوږے وی، د هغے په خاطر دُنیا سره جنګیږی، نو قرآن شریف دخپل ملګری مور پلار ته هُم هغه تاج ورکوی، چه دهغے دبریښنا دُنیا کښ هیڅ مثال نشته۔

حدیث ⑭ کهٔ څوك مداری توب کښ کمال پیدا کوی، اُور په لاس کښ ږدی، بَل تیلے په خولهٔ کښ ږدی، نو قرآن شریف ددوزخ د اُور اثر کولو نه منع کوونکے دے۔ حدیث ⑮ کهٔ څوك حاکمانو ته رسیدو باندے مړ وی، په دے ورته نازوی، چه زَما په یو خط فلانکی حاکم هغه ملزم پریخودهٔ، فلانکے سرے مِ سزا خوړلو ته پرے نخودهٔ، دومره غوندے فائدے حاصلولو دپاره دحاکمانو، کلکټرانو دعوتونو او خوشامندو کښ ځان او مال ضائع کوی۔ هره ورځ دحاکم په دعوت کښ سرګردانه اُوسی۔ نو قرآن شریف دخپل هر یو ملګری په ذریعه دا سے لسو کسانو له خلاصے ورکوی چا ته چه ددوزخ د تللو حکم شوے وی۔ حدیث ⑯ کهٔ څوك په خوشبویو ځان وژنی، دچمن او دګلونو عاشق وی، نو قرآن شریف بالچهړ[1] دے۔

حدیث ⑰ کهٔ څوك دعطرو عاشق وی، په ځنائے مشکی کښ غسل کول غواړی، نو قرآن شریف داول نه تر آخره پورے مشک دی۔ آو کهٔ غور اوکړے، نو درته به معلومه شی چه ددے مشکو دهغے مشکو سره هیڅ نسبت نشته ــه چه نسبت خاک را با عالم پاک ــه څهٔ نسبت دخاورے دے هغے پاك عالم سره۔ له

کار زلف تست مشک افشانی اما عاشقان مصلحت را تہمتی بر آہوئے چین بستہ اند

اے محبوبے! په اصل کښ مشک دوړول ستا د زلفو کار دے خو عاشقانو

[1] دا یو خوشبوداره بُوټے دے یُونانی طِب کښ ورته "سُنبُلِ الطِّیب" وائی ۱۲

په څهٔ مصلحت دچین په اُوسئ بائدے الزام لګوَلے دے۔ حدیث ⑱ کهٔ
څوک د پڼړے یار یعنې په وهلو ټکولو څهٔ کار کوی، ترغیب د هغهٔ د پاره
فائده مند نهٔ وی، نو د قرآن شریف نه خالی کیدل د کور د برباد ئ برابر دیٔ
حدیث ⑲ کهٔ څوک عابد د بهترین عبادتونو په لټون کښ وی، او په هر
کار کښ د اارزو لری چه په کوم کار کښ به زیات ثواب وی چه هغے کښ
مشغول شم، نو د قرآن شریف لوستل د ټولو نه بهترین عبادت دے او
صفا صفا یئے اُوخود له چه د نفلی مونځ، روژے، تسبیح، تهلیل (یعنی د
سُبْحَانَ اللهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ) وغیره د ټولو نه ډیر بهتر دے۔
حدیث ⑳ د ډیرو خلقو بلا ربو څاروسره مینه وی، بلا ریب څاروے په
اُوچت قیمت اخستلے شی۔ نبی اکرم ﷺ خبردارے ورکړهٔ او په خصوصیت
سره یئے دا حصه هم په مثال کښ ذکر اُوفرمایله، چه قرآن شریف د دے نه
هم بهتر دے۔ حدیث ㉑ اکثرو خلقو سره د صحت ډیر فکر وی، ورزش کوی
هرهٔ ورځ لامبی، منډے وَهی، سحرو ختی تفریح کوی۔ هم د غسے بعضے
خلقو سره رنج وغم، فکرا و تشویش لګیدلے وی۔ نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل
چه سورة فاتحه د هر مرض شِفا ده۔ اَو قرآن شریف د زړونو د مرضونو
لرے کوُنکے دے۔ حدیث ㉒ د خلقو د فخر اسباب د ډیرو شوُ فخرونو نه
علاوه نور هم ډیر دی چه د هغے جمع کوُل مشکل دی، اکثر په خپل نسب
فخر کوی، څوک خپلو عادتونو باندے، د چا په خپل مقبولیت باندے،
چا ته په خپل ښهٔ تدبیر باندے فخر وی۔ نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل چه
په حقیقت کښ د فخر قابل چه کوم څیز دے، هغه قرآن شریف دے۔ او
ولے به نهٔ وی چه په حقیقت کښ د هر ښائست او کمال جمع کوُنکے دے۔ ؎

آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری،

هر هغه ښکلی صفتونه چه ټول خلق یئے لری تهٔ یئے یواځے لرے۔
حدیث ㉓ د ډیرو خلقو د خزانے جمع کوُلو شوق وی، خوراك او اغوستلو
کښ تنګسیا کوی، تکلیفونه برداشت کوی، او دیو کم سلو په چکر کښ
داسے اُونخلی چه د هغے نه وتل ورته ګران وی۔ نبی اکرم ﷺ ارشاد

اُو فرمایۀ چه دذخیرے قابل قرآن شریف دے، خو مره چه دچا زړۀ غواړی جمع دِ کړی، چه ددے نه بهتره بله خزانه نشته. حدیث ۲۴ دغه شان کۀ تۀ د بجلئ د رنړا ګانو شوق لرے، چه په خپله کمره کښې لس بلفونه د بجلئ ددے د پاره لګوے، چه کمره دِ ښۀ اُوپرقیږی، نو د قرآن نه زیات نورانیت او رنړا بل په کوم څیز کښې کیدے شی؟ حدیث ۲۵ کۀ تۀ په دے څان وَږنے چه تاله دِ ډالئ راځی، دوستان دِ روزانه څۀ نه څۀ رالیږی. تۀ ددے په خاطر خپل تعلقات زیاتوے، کوم دوست او آشنا چه د خپل باغ په میوه کښې ستا حصه اُونکړی، نو ته دهغۀ شکایت کوے. نو د قرآن شریف نه بهتر ډالئ ورکونکے څوك دے، چه سکینه درته رالیږلے شی. پس کۀ چرے ستا په چا باندے د قربانیدو وجه دا وی چه هغه تاله روزانه څۀ نه څۀ ډالئ راوړی، نو په قرآن شریف کښې ددے هم بدل شته. حدیث ۲۶ او کۀ تۀ د یو وزیر ددے د پاره هروخت خپے ښکلوے چه هغه په په دربار کښې ستا ذکر اوکړی، د چا مسلخوان ددے د پاره خوشامندے کوے، چه هغه په افسرمال ته ستا تعریف اوکړی، یا د چا ددے د پاره خوشامندے کوے، چه د محبوب په مجلس کښې په ستا ذکر اُوکړی، نو قرآن شریف د اَحۡکَمُ الۡحَاکِمِیۡن محبوب حقیقی په دربار کښې ستا ذکر په خپله د محبوب او آقا په ژبه کوی.

حدیث ۲۷ کۀ تۀ ددے تلاش کوے چه د محبوب د تهولو نه زیات خوښ کوم څیز دے، اګرچه هغه په حاصلید وکښې دا سے وی لکه د غرو نو نه د پیو نهر راایستل. نو د قرآن شریف برابر آقا ته هیڅ یو څیز هم خوښ نۀ دے. حدیث ۲۸ کۀ تۀ د درباری جوړیدلو کښې عمر خرچ کوے، د بادشاه سره یو ځائ ناست ملګرے جوړیدو د پاره په زرګونو تدبیرونه اختیاروے، نو د قرآن شریف په ذریعه تۀ د هغۀ بادشاه ملګرے شمار یږے چه د هغۀ دُوړاندے د چا لوئ نه لوئ بادشاهت هیڅ حقیقت نۀ لری. حدیث ۲۹ د حیرانتیا خبره ده چه خلق د کونسل د ممبرئ د پاره اود دومره لرے خبرے د پاره چه افسرمال صاحب ښکار له ځی،

Maktaba Tul Ishaat.com

نوچه تاهم ځان سره واخلی، دے د پاره ته څومره قربانی کوے۔ راحت
ارام، ځان او مال تول قربانوے، دخلقو په ذریعه کوششونه کوے،
دین او دُنیا دواړه بربادوے، صرف دے د پاره چه ستا په نظر کښ په
دے ستا عزت کیږی۔ نو بیا ولے دحقیقی عزت د پاره دحقیقی حاکم
بادشاه دملکرتیا د پاره، واقعی درباری جوړیدلو د پاره تاته لږ شانتے
دتوجُه هم ضرورت نشته؟ ته په دے نمائشی عزت عمر خرچ کړه،
مګر دالله تعالیٰ د پاره د دے عُمر څهٔ لږ حصه دعمر ورکونکی د رضا د
پاره خو هم خرچ کړه۔ دغسے کهٔ چشتیه طریقه تاته خوښه وی، او د
دے دمجلسونو نه بغیر تاله قرار نهٔ راځی، نو د تلاوت مجلسونه دهغے نه
ډیر زیات زړهٔ راخکونکی دی، او دلوئی نه لوئی بے پروا ه غوږونه خپل
ځان طرف ته متوجه کوی۔ حدیث (۳۰) و (۳۱) دغه شان کهٔ چرے
اقا خپل ځان طرف ته متوجه کول غواړے، نو تلاوت کوه۔ حدیث (۳۲)
او کهٔ ته د اسلام دعویدار یئے، د مسلمانئ دعوی دِ وی، نو نبی اکرم
صلی الله علیه وسلم حکم دے چه د قرآن شریف داسے تلاوت کوه، څنګه چه د دے
حق دے۔ کهٔ ستا په نزد اسلام صِرف زبانی جمع خرچ نهٔ وی؛ او د
الله تعالیٰ او دهغهٔ د رسول صلی الله علیه وسلم فرمانبرداریٔ سره هم ستا د اسلام څهٔ
غرض وی، نو دا (قرآن شریف) د الله تعالیٰ فرمان دے، او د هغهٔ د رسول
صلی الله علیه وسلم د طرقه د دے د تلاوت حکم دے۔ حدیث (۳۳) کهٔ په تا کښ قومی
جوش په زور کښ وی، تُرکی ټوپئ ته صرف د دے د پاره خوښوے چه
هغه ستا په نزد خالصه اِسلامی جامه ده، او قومی نخّه ته ډیره زیاته
خوښوے، په هر شان دهغے دخورولو دپاره بیرونه اِختیاروے، اخبارونو
کښ مضامین شائع کوے، په جلسو کښ تجویزونه پاس کوے، نو د
الله تعالیٰ رسول صلی الله علیه وسلم تاته حکم درکوی چه څومره درنه کیدے شی،
قرآن شریف خور کړه۔ بے ځایه به نهٔ وی، کهٔ زهٔ دلته دقوم دمشرانو
شکایت او کړم چه د قرآن شریف په خورولو کښ ستا سو له طرفه څومره
امداد کیږی۔ او صرف دا نه بلکه دالله تعالیٰ د پاره لږ په غور فکر جواب

راکړئ چه دقرآن شریف د سلسلې په بندولو کښې ستاسو څومره قدر ے
حصه ده. نن ددے تعلیم بے کاره خودلے کیږی. عُمر ضائع کول ګنړلے
شی، بے کاره دماغ پرے سوزول او بے نتیجې خوله ایستل ورته ویلے
شی، ممکنه ده چه تۀ ددے موافق نۀ یې، خو یوه ډله پوره طور په دے
کښې کوشش کوی، نو آیا ستاسو چپوالے هغوی سره امداد نۀ دے؟ ما
اُومنله کۀ تاسو ددے خیال نه بے زاره یئ، خو ستاسو دے بیزارئ
څۀ فائده ورکړه. ؎

ہم نے مانا کہ تغافل نہ کرو گے لیکن ❊ خاک ہو جائیں گے ہم تمکو خبر ہونے تک

"مونږ اُومنله چه تۀ به غفلت نۀ کوے خو تۀ چه خبر یږے
نو مونږ به خاورے شوی یُو".

نن (دقرآن شریف) دتعلیم نه په ډیر زور شور سره څَکه انکار کولے
شی چه دجُهات ملایانو دخپلو ټکړو دپاره دا یوه مَشغله جوړه کړے ده،
اګرچه دا عام طور په نیتونو باندے حمله ده چه ډیره سخته ذمه داری
ده، او په خپل وخت به ددے ثبوت پیش کول وی. ولے زۀ په ډیر ادب
سره تپوس کومه، چه دالله تعالیٰ دپاره لږ په دے غور اُوکړئ، چه ددے
خودغرضو مُلایانو ددے خودغرضئ نتیجې تاسو په دُنیا کښې څۀ وینئ؟
او ستا ددے بے غرضه تجویزونو نتیجې به څۀ وی؟ او دقرآن شریف په
نشر واشاعت کښې به ستاسو په دے فائده مند تجاویزو څومره قدر ے
مدد حاصل شی. بهرحال دنبی اکرم ﷺ ارشاد ستاسو دپاره د
قرآن شریف دخوړولو دے. په دے کښې تۀ په خپله فیصله اُوکړه، چه
ددے ارشادِ نبویؐ تعمیل ترکومه حده ستا د ذاته اُوشو، اوکیږی. کوڼ
دیوے پلے خبرے هم خیال ساتئ، دډیرو خلقو دا خیال وی چه مونږ
په دے خیال کښې هغوی سره شریک نۀ یُو، نو زمونږ پرے څۀ؟ خو په
دے دالله تعالیٰ دنیولو نه نۀ شئ بچ کیدے. اصحابو کرامو رضی الله عنهم دنبی اکرم
ﷺ نه تپوس اُوکړو اَنَهۡلِكُ وَفِيۡنَا الصّٰلِحُوۡنَ قَالَ نَعَمۡ اِذَا كَثُرَ الۡخُبۡثُ. ایا
مونږ به په داسے حالت کښې هلاکیږو چه په مونږ کښې صالحان موجود وی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

نبی اکرم ﷺ اِرشاد اُوفرمایلو، آو اکله چه خبائث غالب شی۔ هم دغه شان یو روایت کښې راغلی دی چه الله جلّ شانهٗ دیوکلي دا رَنړولو حکم اُوفرمایهٔ۔ حضرت جبرئیل علیه السلام عرض اوکړهٔ چه په دغې کښې فلانے بنده داسے دے، چه دغهٔ هیچرے گناه نهٔ ده کړے۔ اِرشاد اُوشو چه صحیح ده، خو دهٔ زما نافرمانی لید له چه کیدله، او هیڅکله یٔې په تندی گنجے تندرے هم نه وو راغلے حقیقت کښې عالمان د حُکمونه مجبور دی، چه دغوی ناجائز کار اُووینی، نو د ناخوښئ اِظهار دِ اُوکړی، چه زمونږ روشن خیاله طبقه ورته تنگ نظری وائي۔ تاسو خلق په دے خپلے آزادخیالئ او د اخلاقو په فراخئ بیغمه کیږئ مَه۔ دا فریضه یواځے دعالمانو په ذمه نهٔ ده۔ بلکه دا د هرهغه چا په ذمه ده چه څهٔ قِسم ناجائزه خبره اُووینی، او د هغوکلو طاقت یٔې وی او وے نهٔ هغوکی۔ د بلال بن سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه گناه کله په پټه کیږی، نو د هغے وبال صِرف په کونکی باندے وی، خو کله چه په ښکاره کیږی او په هغے اِنکار اُونهٔ کړے شی، نو د هغے وبال عام وی۔

هم دغسے کهٔ ته د تاریخ شوقین یٔې کوم ځائ چه معتبر تاریخ زور تاریخ ناته ملاویږی، نهٔ د هغے د پاره سفر کوے، نو په قرآن شریف کښې د پخوانو داسے کتابونو بدل موجود دے، چه په تیرو شوؤ زمانو کښې دلیل او معتبر منلے شوی دی۔ حدیث (۳۴) کهٔ ته د داسے اُوچتے مرتبے ارزومند یٔې، چه انبیاء علیهم السلام ته سنا په مجلس کښې دکینا ستلو او شریکیدو حکم اُوشی، نو دا خبره به هم صرف په قرآن شریف کښې بیا موے۔ حدیث (۳۵) کهٔ دومره سُست یٔې چه څهٔ کولے نهٔ شے، نو بے محنته بے مشقته عزت به هم تاته صرف په قرآن شریف کښې حاصل شی، چه چُپ چاپ د وَړو په مدرسه کښې کینه، او د بچو قرآن شریف آوره، او مفت ثواب حاصلوه۔ حدیث (۳۶) کهٔ ته د مختلف قسمه رنگونو عاشق یے، دیو قسم رنگ نه دِ زړهٔ موړشی، نو د قرآن شریف په معنو کښې مختلف رنگونه مختلف قِسم مضمونونه حاصل کړه۔ چرته د رحمت، چرته د عذاب، چرته قصے، چرته احکام۔ او د تلاوت حالت یے کله په زورکا وایه او کله یے په رو وا یه۔

حدیث (۳۷) كهٔ ستا گناهونه د حد نه تیر دی، او د مرګ دِ یقین هم وی نو بیا
د قرآن شریف په تلاوت كښې یوه ذره هم بے پرواهي مكوه، چه د دے د رجے
سفارشی به تهٔ چرته بیا نهٔ مومے، او بیا داسے چه د هغهٔ د سفارش قبلید و
یقین هم وی. حدیث (۳۸) د غه شان كهٔ تهٔ د و مره د عزت او د وقار خاوند
یے چه د جهګړه كوُنكی نه ویریږے، د خلقو د جهګړے د ویرے نه ډیرے
قربانئ وركوے، نو د قرآن شریف د مُطالَبے نه هم اُوَیریږه چه د دهٔ په شان
جهګړه كوُنكے به تهٔ بیا نهٔ مومے. د دوه وُړلو په جهګړه كښې د هر چا څوك ته
څوك طرفدار وی، خو د قرآن شریف په جهګړه كښې به د دهٔ تصدیق كوُلے
شی، او هر څوك به دهٔ ته رِښتُنے وائی، او ستا به هیڅوك طرفدار نهٔ وی.
حدیث (۳۹) كهٔ تاته داسے رهبر پكار وی، او په هغهٔ تهٔ قربانیږے، چه د
محبوب كور ته دِ اُورَسَوی نو تلاوت كوه، او كهٔ تهٔ د دے نه ویریږے چه چرته
جیل كښې بندی نهٔ شے، نو په هر حالت كښې د قرآن شریف د تلاوت ته بغیر
علاج نشته. حدیث (۴۰) كهٔ تهٔ د نبیانو علیهم السلام علوم حاصلول غواړے، او د
هغے فدائی او عاشق یے، نو قرآن شریف لوَله، او چه څو مره غواړے كمال پیدا
كړه. همدغسے كهٔ تهٔ په بهترینو اخلاقو ځان قربانولو ته تیار یے، نو هم د تلاوت
پیروالے كوه. حدیث (۴۱) كهٔ چرے ستا شوقین زړهٔ همیشه د شملے او منصوری
د غرونو په سرونو باندے په سیر و تفریح كښې خوشالیږی، او سلو ځانونو
سره یعنی د زړهٔ نه تهٔ د یو غر په سفر قربان یے، نو قرآن شریف د مشكو په
غرونو په داسے وخت كښې د رباندے تفریح كوی چه په ټول عالَم كښې به د
نفسا نفسئ زور وی. حدیث (۴۲) كهٔ تهٔ د زاهدانو په اعلیٰ فهرست كښې
شماریدل غواړے، اَو شپه او ورځ د نوافلو نه فرصت نهٔ مومے، نو د قرآن
شریف زده كوُل (او) خو د ل د دے نه مخكښې مخكښې دی. حدیث (۴۳) و (۴۴)
كهٔ د دُنیا د هرے یوے جهګړے نه تهٔ خلاصے غواړے، د هرے بوے لانجے
نه ځان له په ډډه اُوسیدل غواړے، نو صرف هم په قرآن شریف كښې د هغے
نه خلاصے د ے. حدیثِ خاتِمه (۱) كهٔ چرے تهٔ چا طبیب سره تعلق پیدا
كوُل غواړے نو په سورۃِ فاتحه كښې د هر مرض نه شِفا د ه. حدیث (۲) كهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

ستا بے اِنتہا غرضونه نهٔ پوره کیږی، نو ولے هره ورځ د سورهٔ یٰسٓ تلاوت نهٔ کوے۔ حدیث ③ کهٔ ستا پیسے سره دا سے محبت دے چه د هغے نه بغیر تهٔ د هیڅ اهم نهٔ یے، نو ولے هره ورځ د سورة واقِعه تلاوت نهٔ کوے۔ حدیث ④ کهٔ چرے ستا د قبر د عذاب ویره وی او برداشت کولے یے نهٔ شے، نو د دے نه هم په قران شریف کښں خلاصے دے (یعنی د سورهٔ مُلك په تلاوت سره۔) حدیث ⑤ کهٔ تا ته همیشه څهٔ روزگار پکار وی چه په هغے کښں ستا مبارك وختونه همیشه مشغول وی، نو د قران شریف نه به د رته زیات په بل څهٔ کښں حاصل نهٔ شی۔ حدیث ⑥ خو چرته دا سے اُونهٔ شی چه د ا دولت د حاصلیدو نه پس وا خستلے شی چه بادشاهی په لاس راتلل بیا د لاس نه وتل زیات د افسوس او د نقصان سبب وی، او څهٔ حرکت دا سے هم اُونکرے چه نیکی برباده او گناه لازمه شی۔ حدیث ⑦ وَمَا عَلَيْنَآ اِلَّا الْبَلٰغُ۔

زما غوندے بے کاره د قران شریف په فائدو څهٔ خبریدے شی۔ د نا قصے پوهے موافق چه کوم په ظاهری طورم پوهه کښں راغلهٔ ښکاره م کرهٔ۔ خود پوهے خاوندانو د پاره د غور او فکر لاره ضرور پرانستے شوه، ځکه چه د محبت اسباب کوم چه د دے فن خاوندانو چاسره د محبت ذریعه ښودلے ده، په پنځه څیزونو کښں راغونډ دی۔ اول خپل وجود چه طبعًا یے انسان محبوب گنړی۔ قران شریف کښں د مصیبتونو نه اَمن دے ځکه چه هغه د خپل ژوند او د بقا سبب دے۔ دویم طبعی مناسبت چه د هغے متعلق د دے نه زیات څهٔ وضاحت کولے شم چه قران شریف صفتِ اِلٰهی دے، او د مالك او مملوك آقا او بنده کښں چه کوم مناسبت دے هغه د پوهه خلقو نه پټ نهٔ دے۔

ہست ربّ الناس را با جانِ ناس ⁘ اتصالے بے تکیف بے قیاس

د خلقو د پروردگار د خلقو سره تعلق دے خو بے کیفیته او بے قیاسه دے۔ (چه د هغے حال نهٔ شی بیانیدے)

سب سے ربطِ آشنائی ہے اُسے ⁘ دل میں ہر ایک کے رسائی ہے اُسے

د ټولو سره دے د هغهٔ تعلق او آشنائی ⁘ د هر یو په زړهٔ کښں د هغهٔ ده رسائی۔ یعنی هر چا ته وررسی۔

دريم جمال، څلورم كمال، پنځم احسان. ددے درے واړو متعلق كۀ په تير وشوؤ حديثونو كښې غور اُوكړى، نو نۀ صرف په هغې جمال اوكمال يا نِ چه هغې طرف ته يو نَاقِصُ الْفَهم (يعني ما ناپوهه) اِشاره كړے ده، تاسو به پرے بَسّ والے اُوكړئ، بلكه په خپله به بے شك او شُبے دے حقيقته اُرسيږئ چه عزت او افتخار، شوق او سكون، جمال اوكمال، اكرام او احسان، لذت او راحت، مال او متاع، غرض دا چه هيڅ څيز به داسے بيا نۀ مومئ، چه كوم د محَبت په اسبابو كښې كيدلے شي. او نبى اكرم ﷺ په هغې خبردارے نۀ وى دركړے، او قرآن شريف يئے په دغے قِسم كښې د هغې ته بهترين نۀ وى ښودلے. البته پرده كښې پټيدل د دُنيا د لوازماتو نه دى، خو عقل مند اِنسان په دے وجه چه د لِيچى (دميوے) په پوستكى ازغى دى د هغې د مغز ته مخ نۀ اړوى. او څوك زړۀ بايللے د خپلے محبوبے نه په دے وجه كركه نۀ كوى چه هغه دا وخت په بُرقعه كښې ده. د پردے لرے كولو هر ممكن سَـنـه ممكن كوشش به كوى. او كۀ كامياب هم نۀ شي، نو د پردے د پاسه به خپلے سترګے يخوى. كۀ د هغۀ يقين راشي چه د چا په خاطر د كلونو نه سركردانه يم، هغه په دے څادر كښې ده، ممكنه نۀ ده چه بيا ئے د هغې څادر ته نظر بل خوا شي. د عسے د قرآن شريف د دے فضائلو، مَناقبو او كمالاتو نه پس چه كۀ هغه د څۀ پردے په وجه نۀ محسوسيږى، نو د عقلمند كار نۀ دے چه د هغې نه بے توجّهى او بے پروائى اُوكړى. بلكه په خپل تقصير او نقصان دِ افسوس اُوكړى، او په كمالاتو كښې دِ غور و فكر كوى. حضرت عثمان او حضرت حُذيفه رضى الله عنهما نه روايت دے، كۀ چرے زړونه د ګناهونو د پليتئ نه پاك شي، نو د قرآن شريف د لوستلو نه به هيڅ كله هم ماړۀ نۀ شي.

ثابت بنانى رحمة الله عليه فرمائى چه شل كاله ما قرآن شريف په مشقت سره اُولوستو، او د شلو كالو نه د هغې يخوالے ما ته رارسى. پس څوك چه د ګناهونو نه توبے وبيستو نه پس غور اُوكړى، نو قرآن شريف به د آنچه خوبان همه دارند تو تنها دارى مصداق بيا مومى. لے ارمان! چه د دے الفاظو مَعنے په ما باندے هم صادقے راتلے. زۀ د دے كتاب لوستونكو ته هم درخواست كومه، چه ليكونكى طرف

Maktaba Tul Ishaat.com

تهٔ مهٔ کوئ، چه زما بے کاره والے تا سو د ضروری مقصد نه منع نهٔ کړی ، بلکه خیرے طرف ته توجُه کوئ، او د کوم ځائ نه چه داخبرے اخستلے شوی دی ، هغے طرف ته توجُه کوئ، چه زهٔ خو په مینځ کښ صرف د نقل کولو ذریعه یمه - دے ځائ ته د رسیدو نه پس د الله تعالیٰ د ذات نه لرے نهٔ ده چه هغه د چا په زړهٔ کښ د قرآن شریف د یادولو شوق پیدا کړی - پس کهٔ بچے حافظ کول غواړئ نو د هغهٔ د پاره د هیڅ عمل ضرورت نشته، چه د دَړُو کوالی عُمر په خپله د حِفظ کولو د پاره مددګار او تجربه شوے دے، البته کهٔ څوك په لوئ عُمر کښ د حِفظ کولو اراده اُولری، نو د هغهٔ د پاره د نبی اکرم ﷺ فرمایلے شوے یو مُجرَّب عمل لیکمه چه هغه ترمذی ، حاکم وغیرهٔ روایت کړے دے - حضرت ابنِ عبّاس رضی الله عنه فرمائی چه زهٔ د نبی اکرم ﷺ په خدمت کښ حاضر وُم چه حضرت علی رضی الله عنه راغے او عرض ئے اوکړو، اے د الله رسوله ! ﷺ زما مور او پلار دِ په تا قربان شی، قرآن شریف زما د سینے نه اُوزی ، څهٔ چه یادوُمه هغه محفوظ نهٔ پاتے کیږی. نبی اکرم ﷺ اِرشاد اُوفرمایهٔ چه زهٔ تا ته داسے ترکیب اُوښایم چه تا ته هم نفع درکړی او چا ته چه ئے تهٔ اُوښایئے، د هغهٔ د پاره هم نفع ورکونکے وی، او څهٔ چه تهٔ زده کوے هغه در ته یاد پاتے شی . د حضرت علی کرم الله وجهه په پوښتنه نبی اکرم ﷺ اِرشاد اُوفرمایهٔ ، چه کله د جُمعے شپه راشی، نو کهٔ در ته کیږی چه د شپے اخری دریمه حصه کښ پاسے، نو دا ډیره زیاته ښهٔ ده چه دا وخت د فرښتو د نازلیدو دے - او دُعا په دے وخت کښ په خاص طور سره قبلیږی - د دے وخت په انتظار کښ حضرت یعقوب علیه السلام خپلو ځامنو ته ویلی وُو. سَوۡفَ اَسۡتَغۡفِرُ لَكُمۡ قریبه ده زهٔ به ستا سو د پاره د خپل رب نه بخښنه اُوغواړمه (یعنی د جُمعے د شپے اخری حصه کښ) پس خو کهٔ په دے وخت کښ در ته پاسیدل ګران وی ، نو د نیمے شپے، او کهٔ دا در ته هم نهٔ کیږی نو د شپے د شروع نه اُودریږه ، او څلور رکعته نفل مونځ داسے اُوله چه په وړمبی رکعت کښ د فاتحے نه پس یٰسٓ شریف اُووایه، او په دویم رکعت کښ د فاتحے نه پس سورة دُخان او په دریم رکعت کښ د فاتحے نه پس سورة الٓمٓ سجده ، او څلورم

له دا حاشیه په راتلونکی مخ کښ اوګورۂ ۱۲

رکعت کښې د فاتحې نه پس سُورة مُلك اُووايه، او چه د اَلتَّحِيَّات نه فارغ شې، نو اول د الله جل شانهٗ ښهٔ حمد او ثنا او کړه، د هغې نه پس په ما (يعني په نبي عليه السلام) درود او سلام اُووايه، د دې نه پس په ټولو انبياء عليهم السلام درود اُووايه - د دې نه پس ټولو مؤمنانو د پاره او د هغې مسلمانانو رونړو د پاره چه کوم تا نه مخکښې مړهٔ شوی دی بخښنه اوغواړه، او د هغې نه پس دا دُعا اُووايه -

فائده: دُعا مخکښې راتلونکې ده - د هغې ذکر (کولو) نه وړاندې مناسبه ده چه حمد او ثنا وغيره چه د هغې نبي اکرم ﷺ حکم فرمايلې دے د نورو روايتونو نه چه هغه د حِصْنِ حَصِيْن په شرحو او "مناجاتِ مقبول" وغيره کښې نقل کړے دهٔ په مختصر طور يوه يوه دُعا نقل کړے شي - دِ دې د پاره چه کوم خلق يې په خپله نهٔ شي لوستے - هغهٔ دِ دا اُولولي، او چه څوك په خپله لوستلې شي هغوی دِ په دے بَس والے نهٔ کوي - بلکه حمد او صلوٰة دِ ډير په ښهٔ شان او ډير زيات اُولولي - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ عَدَدَ خَلْقِهٖ وَرِضَا نَفْسِهٖ وَزِنَةَ عَرْشِهٖ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهٖ اَللّٰهُمَّ لَآ اُحْصِيْ ثَنَاءً عَلَيْكَ اَنْتَ كَمَآ اَثْنَيْتَ عَلٰى نَفْسِكَ اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْهَاشِمِيِّ وَعَلٰٓى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْبَرَرَةِ الْكِرَامِ وَعَلٰى سَآئِرِ الْاَنْبِيَآءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ وَالْمَلٰٓئِكَةِ الْمُقَرَّبِيْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِجَمِيْعِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ اِنَّكَ سَمِيْعٌ مُّجِيْبُ الدَّعَوَاتِ ط

ترجمه: ټول تعريفونه د جهانونو پروردګار لره دی دا سې تعريف چه د هغهٔ د مخلوقاتو د شمير برابر وی، د هغهٔ د مرضیٔ موافق وی، د هغهٔ د عرش د وزن برابر وی، د هغهٔ د کلماتو د سياهیٔ برابر وی - اے الله! زهٔ ستا د تعريف راغونډول نهٔ شم کولے - ته دا سې يې لکه څنګه چه تا خپل تعريف په خپله بيان کړے دے - اے الله! زمونږ د سردار نبي اُمي او هاشمي

حاشيه د ترجمې: ـلـه په ترتيب قرآني کښې دا سورت رومبی دے دا او سورتونو نه مخکښې دے، ولې اول خو به نفلونو کښې فقهاؤ دې ته ګنجائش فرمايلے دے، دويم د نقلو هر دوه رکعتو د مستقل موخ حکم لري، او د دے دوه وړ رکعتو د پاره سورتونه په خپل مينځ کښې ترتيب وار دی دے د پاره په کښې څهٔ کراهت نشته - هکذا فی الکوکب الدری وهامشه. هذا الهامش من شيخ الحديث -

Maktaba Tul Ishaat.com

بانديے درود او سلام او بركتونه نازل كړے او دهغهٔ په آل او په ټولو نبيانو او رسولانو او فرښتو مقرّبينو بانديے. اے زمونږه ربّه! زمونږه او زمونږ د رونړو (مسلمانانو) چه زمونږ په وړاندے په ايمان سره تلی دی بخښنه اوكړے، او زمونږ په زړونو كښ د مؤمنانو سره كينه مهٔ پيدا كوے. اے زمونږه ربّه! ته مهربانه او رحيم يے. اے الٰهَ العالمينَ! زما او زما د مور پلار او د ټولو مؤمنانو او مسلمانانو بخښنه اوكړے بيشكه ته د دُعا كانو اوريدونكے او قبلوونكے يے". دد ے نه پس هغه دُعا اُووايه، كومه چه نبی اكرم ﷺ په پورتنی حديث كښ حضرت علی رضی الله عنه ته تعليم فرمايلے ده. او هغه دا ده.

اَللّٰهُمَّ ارْحَمْنِیْ بِتَرْكِ الْمَعَاصِیْ اَبَدًا مَّآ اَبْقَيْتَنِیْ وَارْحَمْنِیْ اَنْ اَتَكَلَّفَ مَالَا يَعْنِيْنِیْ وَارْزُقْنِیْ حُسْنَ النَّظَرِ فِيْمَا يُرْضِيْكَ عَنِّیْ اَللّٰهُمَّ بَدِيْعَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ وَالْعِزَّةِ الَّتِیْ لَا تُرَامُ اَسْاَلُكَ يَا اَللهُ يَا رَحْمٰنُ بِجَلَالِكَ وَنُوْرِ وَجْهِكَ اَنْ تُلْزِمَ قَلْبِیْ حِفْظَ كِتَابِكَ كَمَا عَلَّمْتَنِیْ وَارْزُقْنِیْ اَنْ اَقْرَاَهٗ عَلَی النَّحْوِ الَّذِیْ يُرْضِيْكَ عَنِّیْ. اَللّٰهُمَّ بَدِيْعَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ وَالْعِزَّةِ الَّتِیْ لَا تُرَامُ اَسْاَلُكَ يَا اَللهُ يَا رَحْمٰنُ بِجَلَالِكَ وَنُوْرِ وَجْهِكَ اَنْ تُنَوِّرَ بِكِتَابِكَ بَصَرِیْ وَاَنْ تُطْلِقَ بِهٖ لِسَانِیْ وَاَنْ تُفَرِّجَ بِهٖ عَنْ قَلْبِیْ وَاَنْ تَشْرَحَ بِهٖ صَدْرِیْ وَاَنْ تَغْسِلَ بِهٖ بَدَنِیْ فَاِنَّهٗ لَا يُعِيْنُنِیْ عَلَی الْحَقِّ غَيْرُكَ وَلَا يُؤْتِيْهِ اِلَّا اَنْتَ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ الْعَلِیِّ الْعَظِيْمِ ط

ترجَمَه: اے الٰهَ العالمينَ! په ما رحم اوكړے، ترڅو چه زهٔ ژوندے يم چه د ګناهونو نه بچ اُوسمه. او په ما رحم اوكړے چه په بے كاره څيزونو كښ تكليف نهٔ اُوچتوم، او د خپلے رضا په كارونو كښ ښهٔ نظر راته اُوكړے اے الله! اے د زمكو آسمانونو بے نمونے پيدا كوونكيه! اے د عظمت او بزرګئ خاونده! او د هغے غلبے او د عزت مالكه! چه د هغے د حاصلولو اراده هم ناممكنه ده. اے الله! اے رحمانه! زهٔ ستا د بزرګئ او ستا د ذات د نور په وسيله ستانه سوال كوم، چه څنګه تا ما ته خپل كتاب قرآن شريف زده كړو، د غسے د هغے ياد هم زما په زړهٔ كښ پيوست كړے، او ما ته توفيق راكړے چه زهٔ هغه په داسے شان اُولولمه چه ته پرے راضی شے. اے د زمكو آسمانونو بے نمونے پيدا كوونكيه! اے د عظمت او بزرګئ خاونده!

او د هغې علېٰ او عزت مالکه! چه د هغې د حاصلولو اراده هم تا ممکنه ده - اے الله! اے رحمانه! زۀ ستا د بزرګۍ او ستا د ذات د نُور په وسیله لګیا نه غواړم چه ته زما نظر د خپل کتاب په نُور منور کړے، او زما ژبه پرے جاری کړے او د هغې په برکت زما د زړۀ تنګی لرے کړے، او زما سینه پراخه کړے، او د هغې په برکت زما د جسم د ګناهونو خیرې اُوینځې چه په حق باندے ستا نه سِوا زما هیڅوک مددګار نشته - او ستا نه سِوا زما دا آرزو بل هیڅوک نۀ شی پوره کولے، او د ګناهونو نه بچ کیدل یا په عبادت باندے طاقت موندل نۀ شی کیدلے خو د الله تعالیٰ په مدد چه ډیر لوئ او د عظمت خاوند دے۔

بیا نبی اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمایۀ چه اے علی رضی الله عنه دا عمل درے جُمعے یا پنځه جُمعے یا اُووۀ جُمعے اوکړه- اِنشاء الله دُعا به دِ ضرور قبوله کړے شی- قسم دے په هغه پاک ذات چا چه زۀ نبی جوړ کړے رالیږلے یم چه د هیڅ یو مؤمن نه به هُم دُعا قبلیدل نۀ خطا کیږی- ابن عبّاس رضی الله عنه فرمائی، چه په علی رضی الله عنه باندے به پنځه یا اُووۀ جُمعے تیرے شوے وے چه د نبی اکرم ﷺ مجلس ته حاضر شو او عرض یے اُوکړو چه اے د الله رسوله! ﷺ چه رومبے ما تقریبًا څلور آیتونه لوستل او هغه به راته هم نۀ یادیدل- او اُوس تقریبًا څلویښت آیتونه لولم- او دا سے راته یادیږی چه ګویا قرآن شریف زما مخے ته غوږیدلے پروت دے- او رومبے به ما حدیث واوریدۀ او چه کله به مے دوباره ویلو، نو په ذهن کښ به مے نۀ راتۀ، او اُوس حدیثونه اَورم، او کله چه یے نورو ته نقل کومه، نو یو لفظ هم را نه نۀ پاتے کیږی- الله جل شانهٔ دِ د خپل نبی ﷺ د رحمت په وسیله ما ته هم د قرآن او حدیث د حفظ کولو توفیق را کړی او تاسو ته هُم- وَصَلَّى اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ سَيِّدِنَا وَمَوْلٰنَا مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلَّمَ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ط

تکمله

پورته چه کوم څلویښت حدیثونه لیکلی شوی دی، هغې کښ د یو خاص مضمون سره د خاص کیدو په وجه د مختصروالی لحاظ نۀ شو کیدے۔ دے

Maktaba Tul Ishaat.com

زمانه کښې په دے وجه چه هغتونه ډیر کمزوری شوی دی، ددین دپاره معمولی شان مُشقت زغمل هم گران دی، دے دپاره دے ځائ کښې یو بل چهل حدیث نقل کوم چه ډیر مختصر دے، او نبی اکرم ﷺ نه هم یو ځائ نقل کړے شوے دے هم دے سره یو لوئ صفت په کښې دا دے چه ددین ضروری څیزونو د اسے جمع کوئ نګے دے چه دهغې مثال مونډل گران دی. کنز العُمال کښې دغځینو محدثینو دے پلے طرف ته ئے نسبت کړے دے، او په وُروستنو کښې مولانا قُطب الدین رحمۃ اللہ علیہ مُهاجر مکی هم دا ذکر کړیدے خو مره به ښه دی چه ددین سره تعلق ساتونکی حضرات کم نه کم دا ضرور یاد کړی چه دکنجکوپه بدله کښې لعل او گوهر حاصلیږی. هغه چهل حدیث دا دے.

عَنْ سَلْمَانَ رضی اللہ عنہ قَالَ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الْاَرْبَعِيْنَ حَدِيْثًا الَّتِيْ قَالَ مَنْ حَفِظَهَا مِنْ اُمَّتِيْ دَخَلَ الْجَنَّةَ قُلْتُ وَمَا هِيَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ اَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكُتُبِ وَالنَّبِيِّيْنَ وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ وَالْقَدَرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَاَنْ تَشْهَدَ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ وَتُقِيْمَ الصَّلٰوةَ بِوُضُوْءٍ سَابِغٍ كَامِلٍ لِوَقْتِهَا وَتُؤْتِيَ الزَّكٰوةَ وَتَصُوْمَ رَمَضَانَ وَتَحُجَّ الْبَيْتَ اِنْ كَانَ لَكَ مَالٌ وَتُصَلِّيَ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَّلَيْلَةٍ وَالْوِتْرَ لَا تَتْرُكْهُ فِيْ كُلِّ لَيْلَةٍ وَّلَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ شَيْئًا وَّلَا تَعُقَّ وَالِدَيْكَ وَلَا تَأْكُلْ مَالَ الْيَتِيْمِ ظُلْمًا وَّلَا تَشْرَبِ الْخَمْرَ وَلَا تَزْنِ وَلَا تَحْلِفْ بِاللّٰهِ كَاذِبًا وَّلَا تَشْهَدْ شَهَادَةَ زُوْرٍ وَّلَا تَعْمَلْ بِالْهَوٰى وَلَا تَغْتَبْ اَخَاكَ الْمُسْلِمَ وَلَا تَقْذِفِ الْمُحْصَنَةَ وَلَا تَغُلَّ اَخَاكَ الْمُسْلِمَ وَلَا تَلْعَبْ وَلَا تَلْهُ مَعَ اللَّاهِيْنَ وَلَا تَقُلْ لِلْقَصِيْرِ يَا قَصِيْرُ تُرِيْدُ بِذٰلِكَ عَيْبَهٗ وَلَا تَسْخَرْ بِاَحَدٍ مِّنَ النَّاسِ وَلَا تَمْشِ بِالنَّمِيْمَةِ بَيْنَ الْاَخَوَيْنِ وَاشْكُرْ لِلّٰهِ تَعَالٰى عَلٰى نِعْمَتِهٖ وَاصْبِرْ عَلَى الْبَلَآءِ وَالْمُصِيْبَةِ وَلَا تَاْمَنْ مِّنْ عِقَابِ اللّٰهِ وَلَا تَقْطَعْ اَقْرِبَآءَكَ وَصِلْهُمْ وَلَا تَلْعَنْ اَحَدًا مِّنْ خَلْقِ اللّٰهِ وَاَكْثِرْ مِنَ التَّسْبِيْحِ وَالتَّكْبِيْرِ وَالتَّهْلِيْلِ وَلَا تَدَعْ حُضُوْرَ الْجُمُعَةِ وَالْعِيْدَيْنِ وَاعْلَمْ اَنَّ مَآ اَصَابَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَكَ وَمَآ اَخْطَاَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيْبَكَ وَلَا تَدَعْ قِرَآءَةَ الْقُرْاٰنِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ۔ (رواہ الحافظ وابو القاسم بن

عبدالرحمٰن بن محمد بن اسحاق بن مندۃ والحافظ ابوالحسن علی بن ابی القاسم بن بابویہ الرازی فی الاربعین وابن عساکر والرافعی عن سلمان رضی اللہ عنہ)

دِ چهل حدیث ترجمه

حضرت سلمان رضی اللہ عنہ فرمائی چه ما دنبی اکرم ﷺ نه تپوس اُوکړو چه هغه څلویښت حدیثه چه دهغې په باره کښ راغلی دی چاچه هغه یاد کړل جنت ته به داخل شی، هغه کوم دی؟ نبی اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمایهٔ ① الله تعالیٰ باندے ایمان راوړی یعنی دهغهٔ په ذات اوصفاتو ② اود اٰخرت په ورځ ③ اود فرښتو په وُجود ④ اوپه رومبنوکتابونو ⑤ اوپه ټولو نبیانو (علیهم السلام) ⑥ اودمرګ نه پس دوباره ژوندی کیدو باندے. ⑦ اوتقدیر باندے چه ښهٔ اوبد هرڅهٔ چه کیږی ټول د الله تعالیٰ له طرفه دی. ⑧ اوګواهی ورکړئ ددے چه د الله تعالیٰ نه سِوا هیڅوک معبود نشته، اونبی اکرم ﷺ دهغهٔ ریښتنے رسول دے ⑨ اودهر مانځه په وخت کامل اَودس اوکړئ (او) مونځ قائموئ (کامل اودس هغے ته وائی چه په هغے کښ د ادابو مستحباتو لحاظ ساتلے شوے وی او "دهرمانځه په وخت" د اِشاره دے خبرے طرف ته ده چه نوے اَودس دهرمانځه دپاره کوئ، اګرچه دمخکښ نه یئے اَودس وی چه دا مستحب دی او "مونځ قائمولو نه" دهغے ټولوسنتونو او مستحباتو اهتمام مراد دے). لکه چه په بل روایت راغلی دی (اِنَّ تَسْوِيَةَ الصُّفُوْفِ مِنْ اِقَامَةِ الصَّلٰوةِ (یعنی په جمع کښ دصفونو برابرول چه څهٔ قسمه کوړ ولے یا په مینځ کښ په کښ تش ځائے پاتے نهٔ شی) داهم دمونځ قائمولو په مطلب کښ داخل دے. ⑩ اوزکوٰة اَدا کوئ. ⑪ اودرمضان د میاشتے روژے نیسئ. ⑫ کهٔ چرے مال وی نوحج دِاوکړی یعنی کهٔ چرے دتلوطاقت لری، نوحج دِهم اُوکړی، ددے وجے چه اکثر منع کوُنکے مال وی څکه یئے دا ذکرکړه. کنی مقصود دادے چه دحج شرطونه بیاموندے شی نوحج دِاُوکړی. ⑬ اودولس[۱۲] رکعته سنتِ مؤکَّدهٔ روزانه اداکوی

Maktaba Tul Ishaat.com

ددے تفصیل په تورورواياتوکښ داسے راغلی دے چه دسحر د مانځهٔ نه
رومبے دوه رکعته او دما سپخین د مانځه نه مخکښ څلور رکعته او روستو
ترے دوه رکعته او دماښام نه پس دوه رکعته او دما سخوتن نه پس دوه رکعته۔
⑭ او وتر هیڅ یوه شپه کښ هم مهٔ پریږده ځکه چه دا واجب دی او دد ے
اهتمام دسنتونه زیات دے، دے دپاره بے داپه تاکیدی الفاظو سره ذکر
کړو۔ ⑮ او الله تعالی سره هیڅ یو څیز شریک مهٔ جوړوه ⑯ او مور پلار
نافرمانی مهٔ کوه۔ ⑰ او په ظلم دیتیم مال مهٔ خوره، یعنی کهٔ په څهٔ وجه
دیتیم مال خوړل جائز وی لکه ځنګه چه په بعضے حالتونوکښ کیږی
نوبیا ئے نشته۔ ⑱ او شراب مهٔ څکه۔ ⑲ زنا مهٔ کوه ⑳ د دروغو قسمونه
مهٔ خوره۔ ㉑ د دروغو ګواهی مهٔ ورکوه۔ ㉒ د نفس خواهشاتو پاندے
عمل مهٔ کوه۔ ㉓ د مسلمان رور غیبت مهٔ کوه۔ ㉔ پاکدامنه ښځه
باندے تهمت مهٔ لګوه (دغسے په پاکدامن سړی باندے)۔ ㉕ خپل
مسلمان رور سره کینه مهٔ ساته۔ ㉖ لوبو ټوقو کښ مهٔ مشغولیږه۔ ㉗
تماشګیرو کښ مهٔ شریکیږه۔ ㉘ مَنډری سړی ته دعیب په نیت
لیشتینګ مهٔ وایه یعنی کهٔ چرے عیب دار لفظ داسے مشهور شوے وی
چه دهغے په ویلو عیب نهٔ شی کنړلے او نهٔ دعیب په نیت ویلے شی لکه چه
دچا نوم بُډهو کخور لے شی، نو بیائے نشته، خو دعیب په غرض چا ته داسے
ویل جائز نهٔ دی۔ ㉙ چا پورے خندا ټوقے مهٔ کوه۔ ㉚ د مسلمانانو
په مینځ کښ چُغلی مهٔ خوره۔ ㉛ او په هر حال کښ د الله جلَّ شانهٔ د
نعمتونو شکر کوه۔ ㉜ بَلا او مصیبت باندے صبر کوه۔ ㉝ او د الله تعالیٰ
دعذاب نه مهٔ بے غمه کیږه۔ ㉞ خپلوانو سره تعلق مهٔ پریږده۔ ㉟
بلکه هغوئ سره صِله رحمی کوه۔ ㊱ د الله تعالیٰ په هیڅ مخلوق باندے
لعنت مهٔ وایه ㊲ سُبْحَانَ اللهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ دا
الفاظ ډیر ډیر وایه۔ ㊳ دجُمعے او اخترونو مونځونو کښ حاضری مهٔ
پریږده۔ ㊴ او دے خبرے یقین ساته چه څهٔ تکلیف یا راحت درته
اُورسی، هغه په تقدیر کښ وُو، چه په شا کیدونکے نهٔ وُو۔ او چه څهٔ درته

اُونهٔ رسیدهٔ، هغه په هیڅ شان را رسیدونکے نهٔ وُو۔ (۴۰) او د قرآن شریف
تلاوت په هیڅ حال کښ مهٔ پریږده۔
حضرت سلمان رضی اللہ عنہ فرمائی چه ما د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه پوښتنه اوکړه
چه خولے دا یاد کړی، هغهٔ ته به څهٔ بدله ورکولے شی؟ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم
ارشاد اُوفرمایهٔ چه الله جل شانهٔ به د هغهٔ حشر د نبیانو او عالمانو سره اوکړی
(کهٔ) الله جل شانهٔ زمونږ ګناهونه معاف کړی او خپل نیک بندګانو
کښ موصوف په خپلے مهربانئ شامل کړی۔ تو د هغهٔ د شان کریمی نه
هیڅ هم لرے نهٔ ده۔

لوستونکو حضراتو ته په ډیرے عاجزئ درخواست دے،
چه د خیر په دُعاګانو کښ زما د ګنهګار هم امداد اُوفرمائی،
وَمَا تَوۡفِيۡقِيۡۤ اِلَّا بِاللّٰهِ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَاِلَيۡهِ اُنِيۡبُ ۝

لیکونکے
محمد زکریا عفی عنہ
کاندھلوی
مقیم مدرسه مظاہر العلوم سهارنپور
۲۹ ذی الحجه ۱۳۴۸ھ پنجشنبه (زیارت)
موافق
۲۹ مئی ۱۹۳۰ء

ترجمه کونکے
میاں محمد شفیق غفرلہٗ
مسجد نور (تبلیغی مرکز) چارسده
تاریخ د ختمید و نظر ثانی
۳ محرم الحرام ۱۴۱۵ھ
موافق
۱۴ جون ۱۹۹۴ء په ورځ د نهے



کتبہٗ محمد ولی الدین موضع چغرمټی تحصیل وضلع پشاور ۱۲/۲۰۰۲

Maktaba Tul Ishaat.com

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ

بیشکه کامیابی ته اُورسیدل هغه مؤمنان څوک چه په خپلو مونځونو کښې خشوع کوونکی دی.

پښتو

فَضَائِلِ نماز

تالیف

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمه الله

مُترجم

میاں مُحمّد شفیق رحمه الله

دفضائلِ نماز (پښتو) دمضامینو فهرست

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com




خطبه اوتمهید

نَحْمَدُهٗ وَنَشْكُرُهٗ وَنُصَلِّيْ وَنُسَلِّمُ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَاَتْبَاعِهِ الْحُمَاةِ لِلدِّيْنِ الْقَوِيْمِ وَبَعْدُ فَهٰذِهٖ اَرْبَعُوْنَةٌ فِيْ فَضَائِلِ الصَّلٰوةِ جَمَعْتُهَا اِمْتِثَالًا لِاَمْرِ عَمِّيْ وَصِنْوِ اَبِيْ رَقَاهُ اللّٰهُ اِلَى الْمَرَاتِبِ الْعُلْيَا وَوَفَّقَنِيْ وَاِيَّاهُ لِمَا يُحِبُّ وَيَرْضٰى -

اَمَّا بَعْدُ

دے زمانه کښ د دین نه څومره بےفکری او غفلت کولے شی هغه د بیان محتاج نهٔ دے۔ تر دے چه د تولو نه ضروری عبادت مونځ چه د تولو په نزد په اتفاق سره د ایمان نه پس په تمامو فرائضو باندے وړاندے دے، او په قیامت کښ به د ټولو نه اول د دے مطالبه وی۔ د دے نه هم ډیر غفلت او بے پرواهی ده۔ د دے نه زیاته دا چه د دین طرفته مُتوَجِه کونکے هیڅ یو آواز غوږونو ته نهٔ رسی، د تبلیغ هیڅ یو شکل فائدهٔ مند نهٔ ښکاری، په تجربه م دا خبره خیال کښ راغله، چه د نبی اکرم ﷺ پاک اِرشادات خلقوته د رسولو کوشش اُوکړے شی۔ اګرچه په دے کښ هم کوم زکا د تهونه مینځ کښ راتلونکی دی، هغه زما په شان بے وَسه د پاره کافی دی۔ بیا هم اُمید م دا دے چه د کومو خلقو ذهن خالی دے، او د دین مقابله نهٔ کوی، د اپاک الفاظ به اِنشاء الله په هغوی باندے ضرور اَثر اُوکړی۔ او د کلام او د صاحبِ کلام په برکت سره د فائدے اُمید دے۔ د غه شان نورو دوستانو ته په دے کښ د کامیابئ اُمید و نه زیات دی۔ د هغوی په وجه د مُخلصینو بیا بیا وینا هُم ده، په دے وجه په دے رساله کښ صرف مانځه متعلق دیو څو حدیثونو ترجمه پیش کومه، ځکه چه د تبلیغ متعلق د بنده یو مضمون د رساله "فضائلِ تبلیغ" په نامه شائع شوے دے۔ په دے وجه دا د سلسلهٔ تبلیغ دویم نمبر مقرر کوم۔ او "فضائلِ نماز" نامه ورله اږدم۔

وَمَا تَوْفِيْقِيْ اِلَّا بِاللّٰهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ط

د مانځه په باره کښ د دے قسمه حضرات عام طور موندے شی۔ یو ه

په له هغه ده چه د سَرِ نه د مانځه پرواه نهٔ کوی - دویمه په له هغه ده، چه موځ خو کوی، خو د جمیع اهتمام نهٔ کوی - دریم هغه خلق دی، چه موځ هم کوی، د جمیع اهتمام هم کوی خو په بے پرواهئ او په بد طریقه سره یے کوی۔

په دے وجه په دے رساله کښ د درے وارو مضامینو په مُناسبت سره درے بابونه ذکر کړے شوی دی - او په هر باب کښ د نبی اکرم ﷺ پاک ارشادات او د هغے ترجَمه پیش کړے ده - خو په ترجَمه کښ د وضاحت او اسانتیا لحاظ ساتلے دے - د لفظی ترجَمے د زیات لحاظ نهٔ دے ساتلے - د غه شان چونکه د مانځه تبلیغ کوُنکی اکثر عالمان هم وی - ځکه د حدیث حواله او د هغے متعلق کوم مضامین چه د عالمانو سره تعلق لری هغه د عربئ کښ لیکلی دی چه عوامو ته د هغے نه څهٔ فائده نشته - خو تبلیغ کوُنکو حضراتو ته ډیر ځله د هغے ضرورت پیښیږی او ترجَمه او فائدے وغیره د اُردو کښ لیکلی دی

٭



Maktaba Tul Ishaat.com




اوّل باب
دمانځهٔ داهمیّت په بیان کښ

دے باب کښ دوه فصله دی۔ اول فصل کښ دمانځه دفضیلت بیان دے۔ اوددویم فصل کښ دمانځه په پرېخودو باندے چه کومه سزا اوغصه په حدیث کښ راغلے ده، دهغے بیان دے۔

اول فصل دمانځهٔ دفضیلت په بیان کښ

(١) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضی الله عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم بُنِیَ الْإِسْلَامُ عَلٰی خَمْسٍ شَهَادَةِ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِیْتَاءِ الزَّکٰوةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ (متفق علیه) وَقَالَ الْمُنْذِرِیُّ فِی التَّرْغِیْبِ رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ وَمُسْلِمٌ وَغَیْرُهُمَا عَنْ غَیْرِ وَاحِدٍ مِّنَ الصَّحَابَةِ۔

حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کوی چه د اسلام بنیاد په پنځو ستنو باندے دے، دټولو نه اول د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ګواهی ورکول یعنی د دے خبرے اِقرار کول چه د الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک دعبادت لائق نشته، او محمد صلی الله علیه وسلم دهغهٔ بنده او رسول دے، د دے نه پس دمونځ قائمول، زکوٰة ادا کول، حج کول، د رمضان المبارک روژے نیول۔

فائده: دا پنځه واړه څیزونه د اسلام لوئ اُصول او ضروری آرکان دی۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په دے پاک حدیث کښ دمثال په طور اسلام یے دیوے خیمے په شان کړزولے دے چه په پنځو ستنو ولاړه وی، پس د شهادت کلمه دخیمے دمینځنی لرګی په شان ده، او باقی څلور ارکان په شان دهغے څلور ستنو دی چه په څلورو کونټونو باندے وی۔ که چرے مینځنی لرګے نه وی، نو خیمه

او دریدلے نۀ شي، او کۀ چرے دا لرگے موجود نۀ وي نو خلور و طرفو کو تو تو باندے هیڅ یو لرگے نۀ وي، نو خیمه خو به وَلاړه پاتے شي، خو د کوم کوټ لرگے چه نۀ وي هغه طرف به بے کاره او پریوتلے وي. دے پاك اِرشاد نه پس اوس مونږ خلقو ته په خپل حالت باندے په خپله غور کول پکار دي، چه د اسلام دا خیمه مونږ تر کومے درجے پورے اُودرَولے ده، او د اسلام کوم یو رُکن داسے دے چه هغے مونږ پوره پوره خیال ساتلے دے. د اسلام دا پنځه رُکنونه ډیر ضروري دي، تر دے چه د اسلام بُنیاد یئے هم دا مقرر کړے دے. او یو مسلمان د پاره په حیثیت د یو مسلمان د دے ټولو اهتمام ډیر ضروري دے خو د ایمان نه پس د ټولو نه ضروري څیز مونځ دے. حضرت عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ فرمائي چه ما د نبي علیه الصلاة والسلام نه پوښتنه اُوکړه چه د الله جلّ شانهٔ په نزد د ټولو نه زیات خوښ عمل څۀ دے؟ ارشاد یئے اُوفرمایهٔ چه مونځ. ما عرض اوکړو، د دے نه پس څۀ دے؟ ارشاد یئے اُوفرمایهٔ چه د مور پلار سره ښۀ سلوك. ما عرض اوکړو، د دے نه پس کوم یو دے؟ اِرشاد یئے اُوفرمایهٔ، جهاد.

مُلاّعلي قاري رحمة الله علیه فرمائي چه د دے حدیث کښ د عالمانو د دے خبرے دلیل دے چه د ایمان نه پس د ټولو نه وړاندے مونځ دے، د دے ثبوت د دے صحیح حدیث نه هم کیږي چه په هغے کښ ارشاد دے "اَلصَّلٰوةُ خَیْرُ مَوْضُوْعٍ" یعني بهترین عمل چه الله تعالیٰ د بندګانو د پاره مقرر کړے دے هغه مونځ دے. اهـ

نور و صحیح حدیثونو کښ ډیر زیات دا مضمون صفا نقل کړے شوے دے چه ستا سو په عملونو کښ د ټولو نه بهتر عمل مونځ دے. لکه جامع صغیر نوے کتاب کښ د ثَوبان، ابن عمرو، سَلمه، ابو اُمامه، عُبادہ رضي الله عنهم د پنځو اصحابو نه دا حدیث نقل کړے شوے دے، او حضرت ابن مسعود او انس رضي الله عنهما نه مونځ په خپل وخت کښ کول د ټولو نه بهترین عمل نقل کړے شوے دے. (جامع الصغیر)

حضرت ابن عُمر رضي الله عنه او اُمّ فَروه رضي الله عنها نه اول وخت کښ مونځ کول نقل کړے شوے دے، مقصد د ټولو نزدے په نزدے هم یو دے.

(۲) عَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رضي الله عنه اَنَّ النَّبِیَّ صلی الله علیه وسلم خَرَجَ فِی الشِّتَاءِ

حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمائي چه یو وارے نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د ژمي په موسم کښ بهر

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالْوَرَقُ يَتَهَافَتُ فَاَخَذَ بِغُصْنٍ مِّنْ شَجَرَةٍ قَالَ فَجَعَلَ ذٰلِكَ الْوَرَقُ يَتَهَافَتُ فَقَالَ يَا اَبَاذَرٍّ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ اِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَيُصَلِّي الصَّلٰوةَ يُرِيْدُ بِهَا وَجْهَ اللّٰهِ فَتَهَافَتُ عَنْهُ ذُنُوْبُهُ كَمَا تَهَافَتُ هٰذَا الْوَرَقُ عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ (رواه احمد باسناد حسن كذا في الترغيب)

تشريف راوړهٔ او پاڼړې دونو ته غورزيدلې نبي ﷺ د يوې ونې څانګه اُونيوله، د هغې پاڼړې نورې هم اُوغورزيدلې. نبي ﷺ اُوفرمايل، اې ابوذره! مسلمان بنده کله چه په اِخلاص سره د الله تعالیٰ دپاره مونځ کوی نو ګناهونه ترې داسې غورزيږی لکه څنګه چه دا پاڼړې د دې ونې نه غورزيږی.

فائده: دژمی په موسم کښې دونو پاڼړې دومره پ رېږې غورزيږی، چه په بعضو ونو يوه پاڼړه هم نهٔ پاتې کيږی. د نبي اکرم ﷺ پاك ارشاد دې، چه په اِخلاص سره د مونځ کولو اثر هم داسې وی چه د هغهٔ ټول ګناهونه معاف شي. يوه هم پاتې نهٔ شي. خو يوه خبره د لحاظ قابله دا ده چه د علمائو تحقيق د قرآني آيتونو او نبوی حديثونو په وجه دا دې چه د مونځ وغيره عبادتونو سره واړهٔ ګناهونه معاف کيږی، لوئ ګناهونه بغير د توبې نه نهٔ معاف کيږی. په دې وجه د مانځه سره د توبې او استغفار هم اِهتمام کول پکار دی. له دينه غافله کيدل نهٔ دی پکار، البتهٔ الله جل شانهٔ په خپل فضل وکرم سره د چا لوئ ګناهونه هم معاف کړی، نو بيله خبره ده.

(٣) عَنْ اَبِيْ عُثْمَانَ رضی اللہ عنہ قَالَ كُنْتُ مَعَ سَلْمَانَ رضی اللہ عنہ تَحْتَ شَجَرَةٍ فَاَخَذَ غُصْنًا مِّنْهَا يَابِسًا فَهَزَّهٗ حَتّٰى تَحَاتَّ وَرَقُهٗ ثُمَّ قَالَ يَا اَبَا عُثْمَانَ اَلَا تَسْاَلُنِيْ لِمَ اَفْعَلُ هٰذَا قُلْتُ وَلِمَ تَفْعَلُهٗ قَالَ هٰكَذَا فَعَلَ بِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَاَنَا مَعَهٗ تَحْتَ الشَّجَرَةِ وَاَخَذَ مِنْهَا غُصْنًا

حضرت ابوعثمان رضی اللہ عنہ فرمائی، چه زهٔ د حضرت سَلمان رضی اللہ عنہ سره د يوې وُنې لاندې وُم، هغهٔ د هغې وُنې وُچه څانګه اُونيوله، اَو ويې خوځوله، چه په دې سره د هغې پاڼړې اُوغورزيدلې، بيا يې ما ته اُوفرمايل، چه ابوعثمانه! تا ما نه د اتپوس اُونکړو، چه ما دا ولې اُوکړل. ما اُوويل، اُوښايئ، ولې دِ اوکړل. هغوی اُوفرمايل، چه زهٔ يو ځل د نبي اکرم ﷺ سره د يوې وُنې لاندې وُم

يَا بِسًا فَهَزَّهُ حَتّٰى تَحَاتَّ وَرَقُهُ فَقَالَ يَا سَلْمَانُ اَلَا تَسْأَلُنِىْ لِمَ اَفْعَلُ هٰذَا قُلْتُ وَلِمَ تَفْعَلُهُ قَالَ اِنَّ الْمُسْلِمَ اِذَا تَوَضَّأَ فَاَحْسَنَ الْوُضُوْءَ ثُمَّ صَلَّى الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ تَحَاتَّتْ خَطَايَاهُ كَمَا تَحَاتَّ هٰذَا الْوَرَقُ وَقَالَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ ؕ اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ ؕ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِيْنَ (ھود) (رواه احمد والنسائی و الطبرانی ورواة احمد محتج بهم فی الصحيح الا علی بن زيد كذافی الترغيب)

نو نبی علیه الصلوٰة والسلام هم دهغې وُنې اُوچه څانګه اُونيوله، او دغسې ئې اُوکړه، چه په هغې سره هغه څانګې پاڼې اُوغورزيدې. بيا نبی علیه الصلوٰة والسلام اِرشاد اُوفرمايئ، چه سلمانه! تپوس نهٔ کوې چه ما دا سې ولې اوکړل. ما عرض اُوکړهٔ، چه اُوښايئ ولې مو اُوکړل؟ نبی علیه الصلوٰة والسلام اِرشاد اُوفرمايئ چه کله مسلمان په ښهٔ شان سره اودس اوکړی، بيا پنځه مونځونه اُوکړی، نو دهغهٔ ګناهونه دهغهٔ نه داسې دُوريږی، لکه څنګه چه دا پاڼې دُوريږی. بيا نبی علیه الصلوٰة والسلام دقران شريف ايت اَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ تلاوت اُوفرمايئ. چه دهغې ترجمه داده. قائم کړه مونځ دورځې په دواړو سرونوکښې او دشپې په څهٔ حصه کښې بيشکه نيکی لرې کوی ګناهونو لره. دا نصيحت دې نصيحت منونکو دپاره.

فائده: حضرت سلمان رضی الله عنه چه کوم عمل اُوخودلو، دا د اصحابو کرامو رضی الله عنهم دعِشق يو اَدنٰی مثال دې. کله چه دچا سره دچا عشق شی، نو دهغهٔ هره يوه اَدا ېې خوښه وی. او دغسې هر کار کول ئې زړهٔ غواړی، څنګه چه يې محبوب په کولو ليدلې وی. کوم خلقو چه دمحبت مزه څکلې وی هغوی دې حقيقت نه په ښهٔ شان خبردی. دغسې اصحابو کرامو رضی الله عنهم به دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشادات نقل کولو کښې اکثر هغه کارونه به هم نقل کول، کوم چه به دهغې اِرشاد په وخت کښې نبی صلی الله علیه وسلم کړی وُو. دمونځ اهتمام او ددې په وجه دګناهونو معاف کيدل چه څومره په ډير زيات په روايا تو کښې ذکر کړې شوی دی دهغې راجمع کول ګران دی. روستو هم په ګڼړ ورو ايتونو کښې دا مضمون تير شوې دې. عالمانو دا په صغيره ګناهونو سره خاص

Maktaba Tul Ishaat.com

کړے دے لکه څنګه چه پروسې معلوم شوی دی، خو په حدیثونو کښې د صغیره او کبیره هیڅ شرط نشته، دعا موګناهونو ذکر دے. زما پلار صاحب رحمة الله علیه د تعلیم په وخت کښې دوه وجهې ارشاد فرمایلې وے. یوه دا چه د مسلمان د شان نه دا لرے ده چه ددهٔ په ذمه کبیرهٔ ګناه باقی وی. اول خو ددهٔ نه کبیرهٔ ګناه کیدل مشکل دی، او که چرے ترے اُوشی هم. نو بغیر توبے ایستلو دهٔ ته آرام راتلل مشکل وی. د مسلمان د مسلمانئ د شان سره ضروری ده چه کله ددهٔ نه کبیره ګناه اُوشی، نو تر څو چه په ژړا زاریٔ هغه اُونهٔ وینځی دهٔ ته به آرام نهٔ ورځی. البته صغیرهٔ ګناهونه داسے دی چه د هغے طرف ته پیر پام نهٔ وی، او په ذمه پاتے شی، چه په مانځه وغیره سره معاف کیږی. دویمه وجه داده چه څوک په اخلاص سره مونځ کوی، او د آدابو او مستحباتو لحاظ ساتی، هغه په خپله تهٔ ده معلومه، څو مره ځلے به توبه او استغفار کوی، او په مانځه کښې د التَّحِیَّات آخری دُعا اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ الخ کښې خو توبه او استغفار په خپله موجود دے.

په دے روایتونو کښې دا ددس په بنهٔ شان سره د کولو حکم دے چه د هغے مطلب دادے چه د آدابو او مستحباتو تحقیق اُوکړی، د هغے اهتمام اُوخیال اُوساتی مثلاً یو سنت د دے مسواك کول هم دی، چه د دے طرف ته اکثر بے فکری ده. حال دا دے چه په حدیث کښې راغلی دی چه کوم مونځ په مسواك سره اُوکړے شی، هغه د هغے مونځ نه چه بغیر مسواکه شوے وی اویا درجے بهتر دے. په یو حدیث کښې راغلی دی چه د مسواك اهتمام کوئ په دے کښې لس فائدے دی خُله صفا کوی، د الله تعالیٰ د رضا سبب دے. شیطان غصه کوی. مسواك کونکی سره الله تعالیٰ محبت کوی او فرښتے ورسره محبت کوی، اُورو ته طاقت ورکوی، بلغم پریکوی، په خُله کښې خوشبوئی پیدا کوی، صفرا لرے کوی، نظر تیزوی، د خُلے بد بوئی لرے کوی. او د دے ټولو نه علاوه داده چه سنت دے. (منبهات ابن حجر)

عالمانو لیکلی دی چه د مسواك اهتمام کولو کښې اویا فائدے دی. په هغے کښې یوه داده چه د مرګ په وخت کښې په یے کلمهٔ شهادت وَیل نصیب شی او د دے په مقابله کښې آفیم خوړلو کښې اویا نقصانه دی. هغے کښې یو دادے چه د مرګ په وخت کښې به کلمه ورته نهٔ یادیږی. په بنهٔ شان د اودس کولو

فضائل حدیثونو کښې ډیر زیات راغلی دی۔ داؤدس اندامونه به په قیامت کښې روښانه او ځلیدونکی وی چه په دے سره به فوراً نبی اکرم ﷺ خپل اُمتی پیژنی۔

(۲/۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ اَرَاَيْتُمْ لَوْاَنَّ نَهْرًا بِبَابِ اَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ فِيْهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ هَلْ يَبْقٰى مِنْ دَرَنِهٖ شَیْءٌ قَالُوْا لَا يَبْقٰى مِنْ دَرَنِهٖ شَیْءٌ قَالَ فَكَذٰلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُوا اللّٰهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا (رواه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی ورواه ابن ماجة من حدیث عثمان کذا فی الترغیب)

حضرت ابوهریره رضی اللہ عنہ د نبی اکرم ﷺ نه نقل کوی چه نبی علیه الصلوٰة والسلام یو ځل ارشاد اُوفرمائیلو چه اُوښایئ چه د چا په دروازه باندے یو نهر وی، چه په هغے کښې دے پنځه ځله روزانه غسل کوی، آیا د دهٔ په بدن به څهٔ خیرے باقی پاتے شی۔ اصحابو رضی اللہ عنہم عرض اوکړو، هیڅ به باقی پاتے نهٔ شی۔ نبی علیه السلام اُوفرمائیل هم دا حال د پنځو مونځونو دے چه الله جل شانه د دے په وجه ګناهونه لرے کوی۔

(۲/۲) عَنْ جَابِرٍ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَثَلُ صَلَوَاتِ الْخَمْسِ كَمَثَلِ نَهْرٍ جَارٍ غَمْرٍ عَلٰى بَابِ اَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ رواه مسلم کذا فی الترغیب حدیث رقم

حضرت جابر رضی اللہ عنہ د نبی اکرم ﷺ ارشاد نقل کوی چه د پنځو مونځونو مثال دا سے دے، لکه د چا په دروازه باندے یو نهر وی د هغے اُوبه جاری وی او ډیر ژور وی، په هغے کښې هره ورځ پنځه ځله غُسل کوی۔

فائده: جاری اوبه ګندګئ وغیره نه پلیے وی، او اُوبه چه څومره ژورے وی هغه هومره به ډیرے صفا وی۔ په دے وجه په دے حدیث کښې د هغے جاری کیدل او ژور والے فرمائیلے دے، او څومره چه صفا اُوبو سره بنده غسل اوکړی، هغه هومره به صفائی په بدن راځی۔ دغه شان د مونځونو په وجه کهٔ چرے دا د ابو لحاظ سا تلو سره اوکړے شی، نو ګناهونو نه صفائی حاصلیږی۔ دکوم قسمه مضمون په دے دوه وحدیثونو کښې ارشاد شوے دے دا سے قسمه مضمون په ډیرو حدیثونو کښې د مختلفو اصحابو نه په مختلفو الفاظو کښې نقل کړے شوے دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دابوسعید خُدری رضی الله عنه نه نقل کړے شوے دے چه نبی اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمایهٔ، پنځه مونځونه د مینځنی وختونودپاره کفاره دی یعنی یو مونځ نه بل مونځ پورے چه کوم صغیره گناهونه وی، هغه د مانځه له برکته معاف کیږی۔ بیا نه پس نبی علیه الصلوٰة ارشاد اُوفرمایهٔ، مثلاً دچایوه کارخانه وی، په هغے کښ هغه څهٔ کاروبار کوی، چه د هغے په وجه دهٔ په بدن دُوره خیرے لګی، او د دغے کارخانے او مکان په مینځ کښ پنځه نهرونه وی۔ کله چه دے د کارخانے نه کورته ځی، نو په هر یو نهر کښ غسل کوی۔ دغه شان د پنځو مونځونو حال دے، چه کله مینځنی وختونو کښ څهٔ گناه غلطی وغیرهٔ اُوشی نو په مونځونو کښ په دُعا او استغفار کولو سره الله جل شانهٔ یے بخښی معاف کوی۔ د نبی اکرم ﷺ مقصود د دے قسمه مثالونو نه داخبره پوهول دی چه الله جل شانهٔ مونځ ته د گناهونو په معافئ کښ قوی اثر ورکړے دے۔ او چونکه په مثال سره خبره په بنهٔ شان پوهه کښ راځی۔ د دے وجے په مختلفو مثالونو نبی علیه الصلوٰة د مضمون واضحه کړهٔ، د الله جل شانهٔ د دے رحمت او فراخ بخښنے او مهربانئ، انعام او احسان نه مونږ خلق فائده وا نخلو نو د چا څهٔ نقصان دے؟ خپل هر څهٔ ضائع کوو، مونږ خلق گناه کوو، نافرمانی کوو، حکمونه ماتوو، ارشاداتو منلو کښ کمزوری کوو، یکار خو دا ده چه د قادر عادل بادشاه له خوا ضرور سزا وے، او د خپلو کړو سزا مو خوړلے۔ خود الله تعالیٰ د فضل و احسان نه قربان شم، چه هغهٔ د خپلو نافرمانو او د حکمونو ماتولو د معافئ طریقه هم اُوخودله، که چرے مونږ ترے فائده حاصله نهٔ کړو نو زمونږه بے عقلی ده۔ د الله جل شانهٔ رحمت او مهربانی دورکړے د پاره بهانے لټوی۔ په یو حدیث کښ ارشاد دے چه څوک د اُودهٔ کید و په وخت د اِراده اُوکړی چه تهجد په کوم، بیا وِیخ نهٔ شو، نو د دے ثواب به ورکولے شی۔ اُودهٔ کیدل یے مُفتو کښ راغلل۔ (ترغیب)

څهٔ به وایے د الله تعالیٰ دورکړے، کوم کریم ذات چه داسے ورکول کوی، د هغهٔ نه نهٔ اخستل څومره سخته محرومتیا او څومره زبردست نقصان دے۔

⑤ عَنْ حُذَيْفَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم اِذَا حَزَبَهٗ اَمْرٌ فَزِعَ اِلَى الصَّلٰوةِ (اخرجه ابوداؤد وابن جرير كذا في الدر المنثور)

حضرت حُذیفه رضی اللہ عنہ اِرشاد فرمائی ، چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ته به کله څهٔ سخت کار پېښ شو، نو فوراً به مانځه طرف ته متوجّه شو.

فائده: مونځ د الله تعالیٰ لوئ رحمت دے، په دے وجه هرے پریشانئ په وخت کښ دے ته متوجه کیدل ګویا د الله تعالیٰ رحمت طرف ته متوجه کیدل دی. او هرکله چه د الله تعالیٰ مدد د ملګرے او مدد ګار شي، نو بیا څهٔ مجال دے د څهٔ پریشانئ چه به باقي پاتے شي. ډیر روایتونو کښ په مختلفو طریقو د مضمون راغلے دے. صحابه کرام رضی اللہ عنہم اجمعین چه په هر قدم د نبی علیه السلام تابعداري کونکي وُو د هغوی په حالاتو کښ هم دا څیز نقل کړے شوے دے.

حضرت ابوالدرداء رضی اللہ عنہ فرمائي چه کله به سیلئ شوه، نو نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم به زر جُمات ته تشریف یوړو، او ترڅو چه به سیلئ بند نه شوے ته وه، د جُمات نه به نهٔ وتلو. دغه شان چه کله به نمر یا سپوږمئ تندر اُونیوله، نو نبی علیه الصلوٰة والسلام به زر مانځه طرف ته متوجّه شو.

حضرت صُهَیب رضی اللہ عنہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه نقل کوی چه د مخکنو نبیانو علیهم السلام په هم دا عادت وُو چه د هرے پریشانئ په وخت به د مانځه طرف ته متوجه کیدل.

حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ یو ځل سفر کښ وُو، لاره کښ ورته خبر ورکړے شو چه ځوئ د مړ شو. د اُوښ نه راکوز شو، دوه رکعته مونځ یے اُوکړو، بیا یے اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ط اُووے، او بیا یے اُوفرمایل، چه مونږ هغه اُوکړهٔ چه د کوم الله تعالیٰ حکم فرمایلے دے، او د قرانِ پاک ایت وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ط یے تلاوت کړو. یو بله قصه د دے قسمه نقل کړے شوے ده چه حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ تشریف اُوړهٔ، په لاره کښ ورته د خپل رور "قُثَم" د مرګ خبر ورکړے شو. د لارے نه یو طرف ته شو، د اُوښ نه راکوز شو، دوه رکعته مونځ یے اُوکړو، او اَلتَّحِيَّاتُ کښ یے ډیر ساعته پورے دُعا ګانے کولے. دے نه پس پاسیدو، په اُوښ باندے سور شو، او د قرانِ پاک ایت

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ط یے تلاوت کړو (ترجمه) او مدد حاصل کړئ په صبر سره او مانځه سره، او بے شکه دغه مونځ ضرور ګران دے، خو چه دچا په زړونو کښې خشوع (عاجزي) وي، په هغوی هیڅ ګران نهٔ دے۔ د خشوع بیان په دریم باب کښې په تفصیل سره راروان دے۔ دا دَ یوه بله قصه هم ده چه د نبی اکرم ﷺ په بیبیانو کښې ورته د یوے بی بی د مرګ خبر ورکړے شو، نو په سجده کښې پریوتهٔ، چا ترے نه پوښتنه اوکړه چه دا وَلے؟ وے فرمایل چه نبی علیه السلام مونږ ته دا ارشاد کړے چه کله څهٔ واقعه اُووینئ، نو سجده کښې (یعني په مانځه کښې) ولګیږئ. د دے نه به زیاته لویه واقعه بله څهٔ وی چه د مؤمنانو مور وفات شوه. (ابوداؤد)

د حضرت عُبَادَه رضی الله عنه د مرګ وخت چه کله نزدے شو، نو کوم خلق چه هلته موجود وُو، هغوی ته یے اُوفرمایل چه زهٔ هر هغه خوك د دے نه منع کوم چه ما پسے ژاړی، او کله چه زما روح اُوزی، نو هر خوك دِ په ښهٔ شان دادا بو خیال ساتلو سره اودس اُوکړی۔ بیا دِ جمات ته لاړشی، او مونځ دِ اوکړی، او زما د پاره دِ اِستِغفار (طلب د بخښنے) اُوکړی، ځکه چه الله جَلَّ شانهٔ د وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ط حکم کړے دے، د دے نه پس ما قبر ته اُورسوئ.

د حضرت اُم کلثوم رضی الله عنها خاوند حضرت عبد الرحمٰن رضی الله عنه بیمار وُو۔ یو ځلے داسے د بے هوشئ غوندے حالت شو، چه ټولو دا اُوګڼل چه وفات شو حضرت اُم کلثوم رضی الله عنها پاسیده، او د مانځه نیت یے اُوتړهٔ، د مانځه نه چه فارغه شوه، نو حضرت عبد الرحمٰن رضی الله عنه ته هم آرام اُوشو۔ د خلقو نه یے تپوس اُوکړو، چه وَلے زما حالت د مرګ په شان شوے وُو؟ خلقو عرض اُوکړو جی آو۔ وے فرمایل چه دوه فرښتے ما ته راغلے، او ما ته یے اُووئیل، چه زهٔ، د اَحْكَمُ الْحَاكِمِيْنَ په دربار کښې ستا فیصله کیدونکې ده۔ هغوی زهٔ بوتلم، نو یوه دریمه فرشته راغله، او هغې دواړو ته یے اُووئیل، چه تاسو واپس لاړے شئ، دے په هغه خلقو کښې دے د چا په قسمت کښې چه نیک بختي د هغې وخت نه لیکلے شوے ده کله چه دے د مور په ګیډه کښې وُو اوس دهٔ اولاد به له دهٔ نه نورے فائدے حاصلوی۔ د دے نه پس یوه

میاشت حضرت عبدالرحمٰن رضی اللہ عنہ ژوندی وو، بیا وفات شو۔ (درمنثور)

حضرت نضر رضی اللہ عنہ فرمائی چه په ورځ کښې یو ځل سخته تیاره شوه، ما منډه کړه حضرت انس رضی اللہ عنہ په خدمت کښې حاضر شوم، پوښتنه م ترې اوکړه چه دنبی علیه السلام په زمانه کښې به هم کله داسې حال راتلو؟ هغوی اُوفرمایل په الله سره پناه! دنبی علیه السلام زمانه کښې به لږه غوندې چه هوا تیزه شوه نو مونږ تلو په جُمات ته منډې کړې چه چرته قیامت خو را نغی (ابوداؤد)

عبدالله بن سلام رضی اللہ عنہ وائی چه کله به دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم په کور والو څه قسمه تنګسیا راغله، نو هغوی ته به یې دمانځه حکم کولو، او دا آیت به یې تلاوت فرمایه وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ط لَا نَسْئَلُكَ رِزْقًا ط (الآیة۔ طٰهٰ) (ترجمه) خپل کور والو ته دمانځه حکم کوئ او په خپله هم درې اهتمام کوئ مونږ تاته روزئ ګټل نهٔ غوارو، روزی به تاته مونږ درکوو۔

په یو حدیث کښې ارشاد دې چه چا ته څهٔ قسمه تکلیف پیښ شی دینی وی یا دنیوی۔ دهغې تعلق مَالِكُ الْمُلْك (الله تعالیٰ) سره وی، یا چا بندهٔ سره، دهٔ له پکار دی چه ښهٔ اودس اُوکړی، بیا دوه رکعته مونځ اوکړی بیا دالله تعالیٰ حمد وثنا اوکړی، او بیا درود شریف اُووائی، دې نه پس دِ دا دُعا اُووائی۔ إن شاء الله ددهٔ حاجت به ضرور پوره شی، دُعا دا ده:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ اَسْئَلُكَ مُوْجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالْغَنِيْمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَّالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ اِثْمٍ لَا تَدَعْ لِيْ ذَنْبًا اِلَّا غَفَرْتَهٗ يَآ اَرْحَمَ الرّٰحِمِيْنَ وَلَا هَمًّا اِلَّا فَرَّجْتَهٗ وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا اِلَّا قَضَيْتَهَا يَآ اَرْحَمَ الرّٰحِمِيْنَ ط

وَهَب بن مُنَبِّه رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه دالله تعالیٰ نه حاجتونه دمونځ په ذریعه طلب کولې شی، او پخوانو خلقو ته به چه کله څهٔ تکلیف پیښ شو، نو هغوی به صرف مانځه طرف ته متوجه کیدل۔ په چا به څهٔ تکلیف تیریدهٔ، هغوی به زر مانځه ته ورکوزیدل۔

وئیلې شی چه په کوفه کښې یو قُلی (مزدور) وو په هغهٔ باندې خلقو ډیر اعتبار وو، امانتګر وو، نو په دې وجه د تاجرانو سامان روپئی وغیره

Maktaba Tul Ishaat.com

په یې اُوړلے، یو ځل هغه په سفر تلو۔ په لاره کښې ورته یو سړی اُووے، کوم خوا دِ اِرادہ دہ؟ قُلی اُوویل فلانکی ښار ته۔ دهٔ اُوویل چه زهٔ هم ځمه، کهٔ چرے پیادہ تلے شوے، نو تا سره به تلے وَے۔ اَیا دا کیدے شی چه په یو دینار (اَشرفئ) کرایه ما په قچره سور کړے؟ قُلی دا منظوره کړه، هغه سوَر شو مخکښې چه لاړل، دوه لارے راغلے، سور تپوس اوکړو، کوم خوا تلل پکار دی؟ قُلی عامه لار اُوخودله۔ سور اُوویل دا دویمه لار لنډه دہ، او د خاروی د پاره د اسانتیا هم ده، وا ښهٔ په کښې ډیر دی۔ قُلی اُوویل ما دا لار لیدلے نهٔ ده۔ سور اُوویل زهٔ خو څو ځله په دے لاره تلے یمه۔ قُلی اُووے ډیره ښه ده اَو په هغه لار روان شو، لږ لرے چه لاړل هغه لاره په یو هیبتناک ځنګل پاندے ختمه شوه، چه هلته ډیر مړی پراتهٔ وُو۔ دغه سړے د سورلئ نه راکُوز شو، او د ملا نه یې خنجر را اُوویست، او د قُلی د قتلولو اِرادہ یې اوکړه قُلی اُووے چه دا سے مهٔ کوه، دا قچره او سامان ټول واخله، هم دا ستا مقصود دے، او ما مهٔ قتلوه۔ هغهٔ اُونهٔ منل، او قسم یې اُوخوړهٔ چه اول به تا وژنم۔ بیا به دا ټول هر څهٔ اَخلم۔ دهٔ ورته ډیره زاری اَو مِنت اُوکړو، خو دے ظالم یوه هم اُونهٔ منله۔ قُلی اُووے ښه ده د دوه رکعتو اخری مونځ کولو اِجازت راکړه، هغهٔ قبوله کړه، او په خندا یې اُووے، زر کړه دے مړو هم دا درخواست کړے وُو، خو د دوی مونځ هیڅ کار ورنکړو۔ قُلی مونځ شروع کړو۔ اَلحَمدُ شریف یې اُووے، سورت ورته هم یاد را نغے، هلته هغه ظالم په سَر ولاړ بار بار یې ویل چه زر ختم کړه، بے اِختیاره د قُلی په ژبه دا ایت جاری شو۔ اَمَّنۡ یُّجِیۡبُ الۡمُضۡطَرَّ اِذَا دَعَاہُ (الآیة۔ سورة النمل) دا یې اُوویل اَو ژړل یې، چه یو سور راښکاره شو، د هغهٔ په سر باندے ځلیدونکے د اُوسپنې ټوپئ وه۔ هغهٔ دا ظالِم په نیزه اُووَهلو، اَو مړ یې کړو۔ په کوم ځائے چه دغه ظالم پریوتهٔ د اُور شغلے د هغهٔ ځائے نه پورته شوے۔ دا مونځ کونکے ار بے اختیاره په سجده کښې پریوت، د الله تعالیٰ شکر یې اَدا کړهٔ۔ د مانځه نه پس هغه سور طرف ته یې ورمنډه کړه، تپوس یې ترے اوکړو، د الله تعالیٰ د پاره دومره خو اُوښایه چه ته څوک یې؟ څنګه راغلے؟ هغهٔ اُوویل چه زهٔ

د اَمَّنۡ یُّجِیۡبُ الۡمُضۡطَرَّ غلام یم، اُوس ته په امن کښې یې، کوم خواچه غواړې ځه دا یې اُوویل. (لاړو. (نزهة المجالس) په حقیقت کښې مونځ داسې لوئ دولت دے چه دالله تعالیٰ درضا نه علاوه د دُنیا د مصیبتونو نه هم اکثر د خلاصی سبب ګرزی، د زړهٔ آرام قرار ئے پرے هم حاصلیږی.

ابن سیرین رحمة الله علیه فرمائی که چرے ماته دجنت په تلو کښې او دوه رکعته مونځ کولو کښې اختیار راکړے شی، نو زهٔ به دوه رکعته اِختیار کړمه. ځکه چه جنت ته تلل زما دخوشالئ دپاره دی، او دوه رکعته مونځ کښې زما د مالک (الله تعالیٰ) رضا ده. دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد مبارک دے، چه دلیخیدو قابل هغه مسلمان دے چه سپک وی (یعنی د بال بچ زیات بوجهـ پرے نهٔ وی) دمانځه نه پوره حصه ورته ورکړے شوی وی، روزی یې صرف د ګذارے وی، چه په هغے صبر کولو سره عمر تیر کړی، دالله تعالیٰ عبادت په ښهٔ شان کوی، په ګمنامئ کښې پروت وی، ژر مړ شی. نهٔ یې میراث زیات وی، نهٔ پرے ژړیدونکی زیات وی. (الجامع الصغیر)

یو حدیث کښې راغلی دی، چه په خپل کور کښې مونځ ډیر ډیر کوئ په کور کښې به مو خیر زیاتیږی.

(۶) عَنۡ اَبِیۡ مُسۡلِمِ التَّغۡلِبِیِّ رضی الله عنه قَالَ دَخَلۡتُ عَلٰی اَبِیۡ اُمَامَةَ وَهُوَ فِی الۡمَسۡجِدِ فَقُلۡتُ یَا اَبَا اُمَامَةَ اِنَّ رَجُلًا حَدَّثَنِیۡ مِنۡكَ اِنَّكَ سَمِعۡتَ عَنۡ رَسُوۡلِ اللهِ صلی الله علیه وسلم یَقُوۡلُ مَنۡ تَوَضَّأَ فَاَسۡبَغَ الۡوُضُوۡءَ غَسَلَ یَدَیۡهِ وَوَجۡهَهٗ وَمَسَحَ عَلٰی رَاۡسِهٖ وَاُذُنَیۡهِ ثُمَّ قَامَ اِلٰی صَلٰوةٍ مَّفۡرُوۡضَةٍ غَفَرَ اللهُ لَهٗ فِیۡ ذٰلِكَ الۡیَوۡمِ مَا مَشَتۡ اِلَیۡهِ رِجۡلَاهُ وَقَبَضَتۡ اِلَیۡهِ یَدَاهُ وَ

ابو مسلم رضی الله عنه فرمائی چه زهٔ دحضرت ابو اُمامه رضی الله عنه په خدمت کښې حاضر شوم، هغه په جُمات کښې ناست وو، چه ما عرض اوکړو چه ماته یو صاحب ستاسو له طرفه دا حدیث نقل کړے دے، چه تاسو دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه دا اِرشاد اوریدلے دے چه څوک په ښهٔ شان سره اودس اوکړی، بیا فرض مونځ اوکړی، نو الله جلّ شانهٔ د دغے ورځے هغه ګناه چه په تلو سره شوی وی او هغه ګناه چه د هغهٔ لاسونو کړی وی، او هغه ګناه چه د هغهٔ د

Maktaba Tul Ishaat.com

سَمِعَتْ إِلَيْهِ أُذُنَاهُ وَنَظَرَتْ إِلَيْهِ عَيْنَاهُ وَحَدَّثَتْ بِهِ نَفْسُهُ مِنْ سُوْءٍ فَقَالَ وَاللّٰهِ لَقَدْ سَمِعْتُهُ مِنَ النَّبِيِّ ﷺ مِرَارًا۔ (رواه احمد والغالب على سنده الحسن وتقدم له شواهد فى الوضوء كذا فى الترغيب قلت و

دغوږونو نه شوي وي او هغه ګناه چه د هغهٔ دسترګو نه شوي وي، او هغه ګناه چه دهغهٔ په زړهٔ کښ پیدا شوي وي، ټولے معاف کوي۔ حضرت ابو اُمامه رضی اللہ عنہ اُوفرمایل، قسم په الله ما دا مضمون د نبی اکرم ﷺ نه څو څو ځله اوریدلے دے۔

قد روى معنى الحديث عن ابى امامة بطرقٍ فى مجمع الزوائد)

فائده: دا مضمون هم ډیو څو اصحابو رضی اللہ عنہم نه نقل کړے شوے دے لکه حضرت عُثمان، حضرت اَبو هُريره، حضرت اَنس، حضرت عبد الله صنابحی، حضرت عَمرو بن عَبَسَه وغیره رضی اللہ عنہم نه مختلفو الفاظو سره کنړو روایتونو کښ ذکر کړے شوے دے۔ او کوم حضرات چه اهلِ کشف دی، هغوی ته د ګناهونو لرے کیدل هم معلومیږی، لکه د حضرت امامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ قصه مشهوره ده چه دا د اودسهٔ اوبو په پریوتلو سره به ئے معلومول، چه کومه ګناه په دے کښ وینځلے کیږی۔

د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نه په یو روایت کښ د نبی اکرم ﷺ دا ارشاد هم نقل شوے دے، چه څوک دِ په دے نهٔ مغروره کیږی۔ د دے مطلب دا دے چه په دے اُمید چه مانځهٔ سره ګناهونه معاف کیږی، په ګناهونو دِ زړهٔ ورتیا نهٔ کوی، ځکه چه زمونږ د خلقو مونځ او عبادتونه چه څنګه دی، که چرے هغه الله جلّ شانهٔ په خپلے مهربانئ سره قبول کړی، نو دا په د هغهٔ فضل واحسان او انعام وی۔ کنی زمونږ، عبادتونو حقیقت مونږ ته ښهٔ معلوم دے۔ اګرچه د مانځهٔ دا اثر ضرور دے، چه په دے سره ګناهونه معاف کیږی، خو آیا زمونږ مونځونه هم د دے قابل دی، د دے عِلم صرف الله تعالیٰ ته دے۔ او دویمه خبره دا هُم ده، چه په دے وجه سره ګناهونه کول چه زما مالک کریم (سخی) دے معاف کوئی دے، حد درجے بے غیرتی ده د دے مثال خو داسے شو چه څوک سړے دا اُووائی چه زما

داځامن که څه بې ځرفلانے کاراوکړی معاف کوم په ئے، نو هغه نالائقه ځامن په دِ وجه چه پلار دمعاف کولو ولې دی سره د پوښتے قصد، او هغهٔ نافرمانی کوی۔

(۷) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ كَانَ رَجُلَانِ مِنْ بَلِيّ حَيٍّ مِنْ قُضَاعَةَ اَسْلَمَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَاسْتُشْهِدَ اَحَدُهُمَا وَاُخِّرَ الْاٰخَرُ سَنَةً قَالَ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدُ اللّٰهِ فَرَاَيْتُ الْمُؤَخَّرَ مِنْهُمَا اُدْخِلَ الْجَنَّةَ قَبْلَ الشَّهِيْدِ فَتَعَجَّبْتُ لِذٰلِكَ فَاَصْبَحْتُ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ ﷺ اَوْ ذُكِرَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلَيْسَ قَدْ صَامَ بَعْدَهٗ رَمَضَانَ وَصَلّٰى سِتَّةَ اٰلَافِ رَكْعَةٍ وَكَذَا وَكَذَا رَكْعَةً صَلٰوةَ سَنَةٍ۔

(رواه احمد باسناد حسن، ورواه ابن ماجة وابن حبان في صحيحه والبيهقي كلهم عن طلحة بنحوه اطول منه وزاد

حضرت ابوهریره رضی اللہ عنہ فرمائی چه د یو قبیلې دوه صحابه په یو ځائې مسلمانان شول، یو صاحب د هغے دواړو نه په جهاد کښې شهید شو، او دویم صاحب یو کال پس مړ شو۔ ما په خوب کښې اُولیدل چه هغه صاحب کوم چه یو کال پس مړ شوې وُو د هغې شهید نه هم وړمبے جنت ته داخل شو، نو زهٔ ډیر حیران شوم، چه د شهید درجه خو ډیره اُوچته ده چه هغه وړمبے جنت ته داخل شوے وے۔ ما نبی علیہ السلام ته په خپله عرض اُوکړو، یا بل چا ورته عرض اوکړو، نو نبی اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمائیلو چه کوم صاحب روستو مړ شو، د هغهٔ نیکئ نهٔ کورئ څومره زیاتے شوے؟ یو رمضان المبارک روژے د هغهٔ زیاتے شوے، او شپږ زره او دومره دومره رکعتونه د مانځه په یو کال کښې د هغهٔ زیات شول۔

ابن ماجة وابن حبان في آخره فلما بينهما اطول ما بين السماء والارض كذا في الترغيب ولفظ احمد في النسخة التي بايدينا وكذا وكذا ركعة بلفظ او وفي الدر اخرجه مالك واحمد والنسائي و ابن خزيمة والحاكم وصححه والبيهقي في شعب الايمان عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدًا وَنَاسًا مِّنَ الصَّحَابَةِ يَقُوْلُوْنَ كَانَ رَجُلَانِ اَخَوَانِ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَكَانَ اَحَدُهُمَا اَفْضَلَ مِنَ الْاٰخَرِ فَتُوُفِّيَ الَّذِيْ هُوَ اَفْضَلُهُمَا ثُمَّ عُمِّرَ الْاٰخَرُ بَعْدَهٗ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً (الحديث) وقد اخرج ابو داود بمعنى حديث الباب من حديث عبيد بن خالد بلفظ قتل احدهما ومات الآخر بعده بجمعة الحديث)

Maktaba Tul Ishaat.com

فائدہ: کہ چرے دیو کال تولے میاشتے دیوکم دیرشو ورځو حسابکړے شي، اوصرف دفرضو او وِترو شل رکعتونه شمار کړے شي، بیا هم شپږ زره نهۀ سوه شپیته رکعتونه جوړیږي۔ اوځومره میاشتے چه دیرشو ورځو وي، شل شل رکعتونه به پرے زیاتیږي۔ اوکۀ سنتونه اونفلونه هم شمار کړے شي، نو ځۀ به ئے تپوس کوے۔

ابنِ ماجه کښ دا قصه نوره هم تفصیل سره راغلے ده، په هغے کښ حضرت طلحه رضی اللہ عنہ چه خوب لیدلے وو نقل دے، چه بیان کوي چه دیو قبیلے دوه سړی نبی اکرم ﷺ په خدمت کښ یو ځائے راغلل، او یو ځائے مسلمانان شول۔ یو صاحب ډیر زیات قوی او همت ناک وو، هغه په یو جنګ کښ شهید شو، او بل صاحب یو کال پس مړ شو، ما په خوب کښ اُولیدل چه زۀ دجنت په دروازه ولاړیم، او هغه دواړه صاحبان هم هلته دي، دننه نه یو کس راغے، او هغه صاحب ته ئے چه کوم یو کال پس مړ شوے وو، دننه دتلو اجازت اُوکړو۔ او کوم صاحب چه شهید شوے وو، هغه ولاړ پاتے شو۔ لږ ساعت پس بیا دننه نه یو کس راغے، او هغه شهید ته ئے هم اجازت ورکړو، او ما ته ئے اُوویل چه ستا لا وخت نۀ دے راغلے ته واپس لاړ شه۔ ما سحر خلقو ته دخپل خوب ذکر اُوکړو، ټول په دے حیران شول، چه دے شهید ته روستو اجازت ولے اُوشو۔ دۀ ته خو رومبے اجازت پکار وو۔ آخر نبی علیہ السلام ته خلقو ددے تذکره اُوکړه۔ نو نبی علیہ السلام ارشاد اُوفرمایۀ، چه په دے کښ دحیرانتیا څۀ خبره ده؟ خلقو عرض اوکړو، اے دالله رسوله! هغه شهید هم شو، او ډیر تکړه او همت ناک هم وو، او جنت کښ دا بل صاحب رومبے داخل شو، نبی علیہ السلام ارشاد اُوفرمایۀ چه ولے هغۀ دیو کال عبادت زیات نۀ وو کړے؟ عرض اُوشو، بے شکه کړے وو۔ ارشاد ئے اُوفرمایۀ، چه ولے هغۀ پوره دیو رمضان روژے دهغۀ نه زیاتے نۀ وے نیولے؟ عرض اوکړے شو، بیشکه نیولے ئے وے۔ ارشاد ئے اُوفرمایۀ، ولے هغۀ دومره دومره سجدے دیو کال دمونځونو زیاتے نۀ وے کړے؟ عرض اوکړے شو، بیشکه کړے ئے وے۔ نبی علیہ السلام اُوفرمایل، بیا خو په دے دواړو کښ دآسمان اوزمکے فرق اُوشو۔ اھ۔

د دے قسمه قصے ډیر د خلقو سره شوی دی۔ ابوداؤد شریف کښې د دوه و اصحابو قصه د دے قسمه صرف دا تو ورځو په فرق سره ذکر کړے شوے ده۔ چه دویم صاحب یوه هفته روستو مړ شو، بیا هم هغه جنت کښې د رومبی داخل شو۔ په حقیقت کښې مونږ خلقو ته د دے اندازه نشته، چه مونځ څومره قیمتی څیز دے۔ آخر څه خبره خو ده، چه نبی اکرم ﷺ د خپلو سترګو یخوالے په مانځه کښې خودلے دے۔ د نبی علیه الصلوٰة والسلام د سترګو یخوالے چه انتهائی د محبت نښه ده، معمولی څیز نهٔ دے۔

یو حدیث کښې راغلی دی چه دوه رونړه وو، د هغوی نه یو رور د خلو ېښت ورځې وړاندې مړ شو، دویم رور خلو ېښت ورځې روستو مړ شو، د رومبی زیات بزرګ وو، خلقو د هغهٔ ډیر تعریفونه شروع کړل۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد اُوفرمایهٔ۔ ولے دا دویم رور مسلمان نهٔ وو؟ اصحابو رضی الله عنهم عرض اُوکړو، بے شکه مسلمان وو، خو د معمولی درجے وو۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد اُوفرمایهٔ، تاسو ته څهٔ معلومه ده، چه د دے خلو ېښتو ورځو مونځ هغه کومے درجے ته رسولے دے۔ د مونځ مثال د یو خوږ اوبو د نهر په شان دے، چه د دروازے سره بهیږی۔ او بنده پنځه وارے په هغے کښې غسل کوی، د هغهٔ په بدن څهٔ خیرې پاتے کیدے شی؟ د دے نه پس بیا دویم ځلے نبی علیه الصلوٰة والسلام اُوفرمایل تاسو ته څهٔ معلومه ده چه هغهٔ مونځونو کوم چه پئے روستو کړیدی هغه کومے درجے ته اُورسولو۔

(۸) عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضی الله عنه عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صلی الله علیه وسلم اَنَّهٗ قَالَ يُبْعَثُ مُنَادٍ عِنْدَ حَضْرَةِ كُلِّ صَلٰوةٍ فَيَقُوْلُ يَا بَنِيْ اٰدَمَ قُوْمُوْا فَاَطْفِئُوْا مَا اَوْقَدْتُّمْ عَلٰى اَنْفُسِكُمْ فَيَقُوْمُوْنَ فَيَتَطَهَّرُوْنَ وَيُصَلُّوْنَ الظُّهْرَ فَيُغْفَرُ لَهُمْ مَا بَيْنَهُمَا فَاِذَا حَضَرَتِ الْعَصْرُ فَمِثْلُ ذٰلِكَ فَاِذَا حَضَرَتِ

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دے، چه کله د مانځه وخت راشی، نو یوه فرښته اعلان کوی، اے د آدم اولاده! پاسئ او د دوزخ هغه اور کوم چه تاسو (ګناهونو په وجه) په خپلو ځانونو بل کړے دے، ګرئ پس (د یند ارخلق) پاسی اودس کوی د اوُ اسپخین مونځ کوی چه د هغے په وجه د هغوی ګناهونه سحر نه ماسپخینه پورے بخښلے شی، د غسے بیا د مازیګر په وخت کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

الْمَغْرِبُ فَمِثْلُ ذٰلِكَ فَاِذَا حَضَرَتِ الْعَتَمَةُ فَمِثْلُ ذٰلِكَ فَيَنَامُوْنَ فَمُدْلِجٌ فِيْ خَيْرٍ وَّ مُدْلِجٌ فِيْ شَرٍّ۔ (رواه الطبرانى فى الكبير كذا فى الترغيب)

بيا د ماښام په وخت کښې، بيا د ماسخوتن په وخت کښې (غرض دهر مانځه په وخت کښې دا سې اعلان کيږي) ماسخوتن نه پس خلق په خوب کښې مشغول شي، ډير نه پس په تيارۀ کښې بعضې خلق بدۀ و (زنا بدکارۍ غلا وغيره) طرف ته روان شي، او بعض خلق تيکو کارونو (مونځ وظيفه، ذکر وغيره) طرف ته ځي۔

فائده: دحديث په کتابونو کښې ډير زيات دا مضمون راغلے دے چه الله جلّ شانهٗ په خپله مهربانۍ دمونځ په وجه ګناهونه معاف کوي او مونځ کښې چونکه استغفار په خپله موجود دے، څنګه چه پورته تير شو په دے وجه صغيره او کبيره هر قسمه ګناه په دے کښې داخليږي، په شرط د دے چه په زړۀ سره په ګناهونو پښيمانتيا وي۔ په خپله د الله جلّ شانهٗ ارشاد دے۔ اَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ ط اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ ط څنګه چه دريم نمبر حديث کښې تير شو۔

حضرت سلمان رضی اللہ عنہ يو مشهور صحابي دے هغه فرمائي چه کله د ماسخوتن مونځ اُوشي، نو ټول خلق په دريو ډلو کښې تقسيم شي، يو هغه ډله ده چه دهغوي د پارۀ دا شپه نعمت دے اوګټه ده او نيکي ده۔ دا هغه حضرات دي چه د شپے فرصت غنيمت ګڼري، کله چه خلق خپل خپل راحت، آرام او خوب کښې مشغول شي، نو دا خلق په مانځه کښې مشغول شي۔ د دوي شپه د دوي د پارۀ داجر او دثواب جوړه شي۔ دويمه هغه ډله ده چه د شپے پوائے والے او فرصت غنيمت ګڼري، او ګناهونو کښې مشغول شي، د دوي شپه په دوي وبال شي۔ دريمه هغه ډله ده چه د ماسخوتن مونځ اُوکړي، اُوده شي، د دوي د پارۀ نۀ وبال دے نۀ ګټه۔ نۀ څۀ لاړل نۀ څۀ راغلل۔ (دُرِّ منثور)

⑨ عَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ بْنِ رِبْعِيٍّ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَ

دنبي اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارک دے چه الله جل شانهٗ ارشاد فرمايلے دے چه ما ستا په اُمت باندے پنځه مونځونه فرض کړي

تَعَالٰی اِنِّیْ افْتَرَضْتُ عَلٰی اُمَّتِكَ خَمْسَ صَلَوَاتٍ وَّعَهِدْتُّ عِنْدِیْ عَهْدًا اَنَّهٗ مَنْ حَافَظَ عَلَیْهِنَّ لِوَقْتِهِنَّ اَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ فِیْ عَهْدِیْ وَمَنْ لَّمْ یُحَافِظْ عَلَیْهِنَّ فَلَا عَهْدَ لَهٗ عِنْدِیْ۔

دی، او ددے م خپل ځان سره وعده کړے ده چه څوك دا پنځه مونځونه په خپل وخت کښ دادا کولو اهتمام کوی، هغه په په خپله ذمه داری جنت کښ داخلومه، او څوك چه ددے مونځونو اهتمام نهٔ کوی، نو په ما باندے د هغوی هیڅ ذمه داری نشته۔

(کذا فی الدر المنثور بروایة ابی داؤد وابن ماجة وفیه ایضًا اخرج مالک وابن ابی شیبة واحمد و ابی داؤد والنسائی وابن ماجة وابن حبان والبیهقی عن عبادة ابن الصامت فذکر معنی حدیث الباب مرفوعًا باطول منه)

فائده: یو بل حدیث کښ دا مضمون نور هم په وضاحت سره راغلے دے چه الله جل شانهٔ پنځه مونځونه فرض کړی دی، څوك چه دے کښ بے پرواهی سره څهٔ قسمه کوتاهی نهٔ کوی، په ښهٔ شان اودس اوکړی او په خپل وخت کښ خشوع خضوع سره یے کوی - د الله جل شانه وعده ده، چه هغه به په جنت کښ ضرور داخلوم - او څوك چه داسے نهٔ کوی، د الله تعالٰی هیڅ ذمه هغهٔ سره نشته، خواه بخښنه یے کوی یا عذاب ورکوی، د مانځه څومره لوئ فضیلت دے چه ددے په اهتمام د الله تعالٰی په عهد او ذمه داریٔ کښ بنده داخلیږی - مونږ وینو چه معمولی غونډے حاکم یا دولتمند چا ته تسلی ورکړی، یا دڅهٔ مطالبے ذمه دار شی، یا دڅهٔ قسمه ضمانت اوکړی، نو هغه څومره بے فکره او خوشاله شی، او د هغے حاکم څومره احسان مند او هغهٔ سره څومره محبت کونکے جوړ شی - دلته په یو اسان عبادت چه په هغے کښ څهٔ مشقت هم نشته - مالك الملك د دواړو جهانو بادشاه عهد کوی - بیا خلق دے نه غفلت او بے پروا هی کوی، په دے کښ دچا څهٔ نقصان دے، هم خپله کم نصیبی او خپل نقصان دے۔

(۱۰) عَنِ ابْنِ سَلْمَانَ رضی اللہ عنہ اَنَّ رَجُلًا مِّنْ اَصْحَابِ النَّبِیِّ

یو صحابی فرمائی چه مونږ کله په جنګ کښ خیبر فتح کړو، نو خلقو خپل غنیمت مال

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ حَدَّثَهٗ قَالَ لَمَّا فَتَحْنَا 36
خَيْبَرَ اَخْرَجُوْا غَنَائِمَهُمْ مِّنَ
الْمَتَاعِ وَالسَّبْيِ فَجَعَلَ النَّاسُ
يَتَبَايَعُوْنَ غَنَائِمَهُمْ فَجَاءَ
رَجُلٌ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ!
لَقَدْ رَبِحْتُ رِبْحًا مَارَبِحَ الْيَوْمَ
مِثْلَهٗ اَحَدٌ مِّنْ اَهْلِ الْوَادِيْ
قَالَ وَيْحَكَ وَمَا رَبِحْتَ قَالَ
مَازِلْتُ اَبِيْعُ وَاَبْتَاعُ حَتّٰى
رَبِحْتُ ثَلٰثَ مِائَةِ اُوْقِيَّةٍ
فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنَا
اُنَبِّئُكَ بِخَيْرِ رَجُلٍ رَبِحَ قَالَ
مَاهُوَ يَارَسُوْلَ اللهِ قَالَ رَكْعَتَيْنِ
بَعْدَ الصَّلٰوةِ۔
(اخرجه ابوداؤد وسكت عنه المنذري)

راوُدوِیستلو، چه په هغې کښې قسما قسم سامان وُو اَو قیدیان وُو، او اخستل خرخول شروع شو (هرچا خپل ضرورت اخستل، اونور زیاتی څیزونه یې خرخول) په دې کښې یو صحابي د نبي اکرم ﷺ په خدمت کښې حاضرشو، اَو عرض یې اُوکړو، اے د الله رسوله! ما ته نن په دے تجارت کښې دومره ګټه اُوشوه، چه په ټوله ډله کښې به چا ته دومره ګټه نهٔ وي شوي۔ نبي ﷺ ترے په حیرانتیا سره تپوس اوکړو، چه څومره ګټه دِ اوکړه۔ هغهٔ عرض اوکړو حضور! ما سامان اخستهٔ اَو خرخوُو، چه په دے کښې درے سوه اَوقیے سپین زر ګټه کښې پاتے شو۔ نبي ﷺ ارشاد اُوفرمایهٔ زهٔ تا ته بهترین ګټې څیز اُوښایم؟ هغهٔ عرض اُوکړو، حضور! ضرور اُوښایئ، ارشاد یے اُوفرمایه، چه د فرض مانځه نه پس دوه رکعته نفل۔

فائده: یو اَوقیه د څلویښتو درهموو، او یو درهم تقریباً د څلورانو په دے حساب سره درے زره روپئ شوے۔ د دے په مقابله کښې د دواړو جهانو د بادشاه ارشاد دے چه دا څهٔ ګټه ده۔ حقیقي ګټه هغه ده چه هیبشه پاتے کیدونکے او هیڅ کله نهٔ ختمیدونکے وي۔ ګجرے حقیقت کښې زمونږ ایمان راسے شي، او دوه وُرکعتو مونځ په مقابله کښې د دریو زرو روپو قدر پاتے نهٔ شي، نو بیا خو واقعي د ژوند مزه ده۔ او حقه دا ده، چه مونځ دے د لسے دولت۔ په دے وجه سید البشر فخر رسل نبي اکرم ﷺ د خپلو سترګو یخوالے مانځه کښې ښودلے دے او د دنیا نه د رخصتید د په وخت کښې آخري وصیت یے چه فرمایلے دے، په هغې کښې سے د

مانځه دا هتمام حکم فرمایلے دے۔ (کنز العمال)

په کنزو حدیثونو کښې د دغے وصیت ذکر شوے دے، چه یو د هغې نه حضرت اُم سَلَمه رضی اللہ عنہا فرمائی چه په آخری وخت کښې چه د ژبے مبارکې نه ئے پوره الفاظ نه وتل، دغه وخت هم نبی اکرم ﷺ د مانځه او د غلامانو د حقونو دا کُولو تاکید فرمایلے وُو۔ حضرت علی رضی اللہ عنہ نه هم دا نقل کړے شوی دی، چه آخری خبره د نبی اکرم ﷺ د مانځه تاکید او د غلامانو باره کښې د الله تعالیٰ نه د ویریدو حکم وُو۔ (جامع الصغیر)

نبی اکرم ﷺ نجد طرف ته یو وارے د جهاد د پاره لښکر اُولیږهٔ چه ډیر زر واپس راغے، او ځان سره ئے ډیر زیات مال د غنیمت راوړهٔ۔ خلق ډیر حیران شول، چه دومره لږه موده کښې دومره لوئی کامیابی او مال و دولت سره واپس راغلل۔ نبی علیه الصلوٰة ارشاد اُوفرمایهٔ، چه زهٔ تاسو ته د دے نه هم کم وخت کښې د دے مال نه ډیر زیات د غنیمت او دولت گټونکے ډله اُوښایم۔ دا هغه خلق دی چه د سحر د مانځه په جمع کښې شریک شی او د نمر ختو پورے په دغه ځائ ناست وی، نمر ختلو نه پس (مکروه وخت چه تقریباً شل منټه وی تیر شی) نو دوه رکعته (د اِشراق) مونځ اُوکړی، دا خلق ډیر لږ وخت کښې ډیر زیات دولت گټونکی دی۔

حضرت شقیق بلخی رحمة الله علیه مشهور صوفی او بزرګ دے، فرمائی چه مونږ پنځه څیزونه تلاش کړل، هغه مونږ ځایونو کښې بیا موندل۔ د روزئ برکت مو د څاښت په مانځه کښې بیا موندهٔ، د قبر رڼا د تهجد په مانځه کښې مِلاؤ شوه۔ د منکر نکیر د سوالونو جواب مو طلب کړهٔ، نو هغه مو قرآن لوستلو کښې بیا موندهٔ۔ او پُل صراط باندے په آسانتیا سره تیریدل مو روژه او صدقه کښې بیا موندل، او د عرش سورے مو یوا ځے والی کښې بیا موندهٔ (نزهة المجالس)

د مانځه باره کښې خلویښت حدیثونه

د حدیث په کتابونو کښې د مانځه په باره کښې ډیر تاکید او ډیر فضائل راغلی دی، د هغې ټولو جمع کول مشکل دی۔ د برکت د پاره د یو څو حدیثونو

Maktaba Tul Ishaat.com

صرف ترجمه لیکلی شي۔

(١) د نبي اکرم ﷺ ارشاد مبارك دے چه الله جلّ شانهٗ زما په اُمت د ټولو خیزونو نه رومبے مونځ فرض کړۀ، او په قیامت کښں به د ټولو نه رومبے د مانځه حساب کیږي۔ (٢) د مانځه په باره کښں د الله تعالیٰ نه اُویریږئ، د مانځه په باره کښں د الله تعالیٰ نه اُویریږئ، د مانځه په باره کښں د الله تعالیٰ نه اُویریږئ۔ (٣) د بنده او د شرك په مینځ کښں فرق کوُنکے صرف مونځ دے (٤) د اسلام نښه مونځ دے، څوك چه زړهٔ فارغ کړي، او د وختونو او د مستحباتو لحاظ ساتلو سره مونځ اوکړي هغه مؤمن دے۔ (٥) الله جل شانهٗ هیڅ یو خیز د ایمان او د مونځ نه بهتر فرض کړے نهٔ دے۔ که چرے د دے نه بهتر څهٔ بل خیز ئے فرض کړے وے، نو فرښتو ته به ئے د هغې حکم ورکړے وو۔ فرښتے شپه اَو ورځ څوك په رکوع کښں دي، څوك په سجده کښں دي۔ (٦) مونځ د دین ستن ده۔ (٧) مونځ د شیطان مخ تورَوي۔ (٨) مونځ د مؤمن نُور دے (٩) مونځ بهترین جهاد دے۔ (١٠) کله چه بنده مونځ شروع کړي۔ نو الله تعالیٰ د هغهٔ طرف ته پوره توجُّه کوي۔ کله چه هغه د مانځه نه لرے شي نو الله تعالیٰ ترے هم توجُّه لرے کړي۔ (١١) کله چه څهٔ آفت د آسمان نه نازلیږي، نو د جُمات آبادوُنکو نه لرے وي۔ (١٢) که چرے په څهٔ وجه سړے (مونځگذار) دوزخ ته لاړشي، نو اُور به ئے د سجدے ځایونه نهٔ خوري (١٣) الله تعالیٰ د سجدے ځایونه په اور حرام کړي دي۔ (١٤) د ټولو نه زیات خوښ عمل د الله تعالیٰ په نزد هغه مونځ دے چه په وخت اُوکړے شي۔ (١٥) الله جلّ شانهٗ ته د بنده په ټولو حالتونو کښں د ټولو نه زیات خوښ دا حالت دے چه هغه په سجده کښں پروت اُووینی، چه تندے په زمکه مږي۔ (١٦) الله جل شانهٗ سره د بنده د ټولو نه زیات نزدیکت په سجده کښں کیږي۔ (١٧) د جنت کنجیانے مونځ دے۔ (١٨) کله چه بنده د مانځه د پاره اُودریږي، نو د جنت دروازے ورته پرانستلے شي، او الله جل شانهٗ او د دے مونځگذار تر مینځه پردے لرے کړے شي، ترکومے چه ټوخي وغیره کښں مشغول نهٔ شي۔ (١٩) مونځگذار د شهنشاه دروازه ټکوي۔ او دا قاعده ده، چه څوك دروازه ټکوي، نو آخر

هغهٔ ته پرانستلے شی۔ ⑳ دمونځ مرتبه په دین کښ داسے ده لکه دسَر درجه
په بدن کښ۔ ㉑ مونځ دزړهٔ نور دے، څوك چه خپل زړهٔ نورانی جوړول
غواړی دمونځ په ذریعه دِ جوړکړی۔ ㉒ څوك چه په ښهٔ شان اودس اوکړی
بیا خشوع خضوع سره دوه یا څلور رکعته مونځ فرض یا نفل اوکړی او د الله
تعالیٰ نه دخپلو ګناهونو معافی اُوغواړی، الله تعالیٰ ورته معافی کوی۔ ㉓ د
زمکے په کومه حصه باندے دمانځهٔ په ذریعه د الله تعالیٰ یاد کولے شی هغه
حصه د زمکے په نورو ټکړو فخر کوی۔ ㉔ څوك چه دوه رکعته مونځ اُوکړی، د
الله تعالیٰ نه څهٔ دُعا اُوغواړی، نو الله تعالیٰ دده دُعا قبلوی، خواه زر دی، یاد
څهٔ مصلحت له خاطره څهٔ موده پس وی۔ خو ضرور یُے قبلوی ㉕ څوك چه
یوازے والی کښ دوه رکعته مونځ اُوکړی، چه الله تعالیٰ او دهغهٔ دفرشتو نه سوا
هیڅوك یُے ونهٔ وینی، نو هغهٔ ته دروزخ د اُورنه دبَری کیدو اجازت نامه ورکړے
شی۔ ㉖ څوك چه یو فرض مونځ اَدا کړی، د الله جل شانهٔ په نزد دهغهٔ یوه
دُعا قبوله شی۔ ㉗ څوك چه دپنځو مونځونو اهتمام کوی، دهغے رکوع سجدے
اودس وغیره په اهتمام سره په ښهٔ شان ادا کوی، جنت دهغهٔ دپاره واجب شو
او دوزخ په هغهٔ حرام شو۔ ㉘ مسلمان بنده کله چه دپنځو مونځونو اهتمام
کوی، شیطان دهغهٔ نه ویریږی۔ او کله چه هغه په مونځونو کښ بےپرواهی
شروع کړی، نو شیطان په هغهٔ زړهٔ ورشی، او دهغهٔ په غُلولو کښ یُے طمع
پیدا شی۔ ㉙ دټولو نه بهترین عمل په اول وخت کښ مونځ کول دی۔ ㉚
مونځ دهر یو پرهیزګار قربانی ده۔ ㉛ د الله تعالیٰ په نزد دټولو نه زیات خوښ
مونځ په اول وخت کښ کول دی۔ ㉜ سَحر چه څوك مانځهٔ ته ځی دهغهٔ
په لاس کښ د ایمان جهنډه وی، او چه څوك بازار ته ځی دهغهٔ په لاس کښ
د شیطان جهنډه وی۔ ㉝ دماسپښین دمانځهٔ نه وړومبے دڅلورو رکعتو
ثواب داسے دے لکه د تهجد و دڅلورو رکعتو۔ ㉞ دماسپښین نه مخکښ
څلور رکعته د تهجد و دڅلورو رکعتو برابر شماریږی۔ ㉟ کله چه بنده مانځهٔ
ته اُودریږی، نو د الله تعالیٰ رحمت دهغهٔ طرف ته متوجه شی ㊱ دټولو
نه بهترین مونځ دنیمے شپے دے خو دے کونکی ډیر کم دی ㊲ ما ته جبریل

Maktaba Tul Ishaat.com

علیه السلام راغے اَو وے ... ے محمده! (صلی الله علیه وسلم) خواه څومره تاسو ژوندی یئ، آخر
یوه ورځ مرلځ دے، او چا سره چه غواړے محبت اوکړه، آخر یوه ورځ د هغه
نه جُدا کیدل دی، او تاسو چه څهٔ قسمه عمل اُوکړئ (ښهٔ وی یا بد) د هغې بدله
به ضرور درکولے شی۔ په دے کښ هیڅ شک نشته چه د مؤمن شرافت د
تهجد و مونځ دے، او د مؤمن عزت د خلقو نه بے نیازی ده۔ (۳۸) د آخرې شپے
دوه رکعته د تولے دُنیا نه بهتر دی، که چرے ما ته د مشقت ویره نهٔ وے نو په اُمت
به مې فرض کړے وے۔ (۳۹) د تهجد و مونځ ضرور کوئ چه تهجد د صالحانو طریقه
ده او د الله تعالیٰ د نزدیکت سبب دے۔ تهجد د ګناهونو نه منع کوی۔ او د
خطاګانو د معاف کولو ذریعه ده، په دے سره بدن هم تندرست کیږی۔ (۴۰)
د الله جل شانه ارشاد دے، چه اے د آدم اولاده! ته د ورځے په شروع کښ څلور
رکعتونه عاجزه مهٔ جوړیږه، زهٔ به توله ورځ ستا کارونه پوره کوم۔
د حدیث په کتابونوکښ ډیر زیات د مانځهٔ فضائل او ترغیبونه ذکر کړے
شوی دی۔ د ځلوښتو د شمیرے په لحاظ سره دومره کافی اُوګرزولے شو چه
څوک دا په حفظ یاد کړی، نو د ځلوښتو حدیثونو د یادولو فضیلت به حاصل
کړی۔ حقه دا ده چه مونځ داسے لوئ دولت دے چه د دے قدر هغه څوک کولے
شی، چا ته چه الله جل شانه د دے مزه څکولے وی۔ د دے دولت په وجه نبی
علیه السلام د خپلو سترګو یخوالے په دے کښ فرمایلے دے، او د دے مزے په وجه
به نبی علیه الصلوٰة والسلام د شپے ډیره حصه په مانځهٔ کښ تیرولهٔ۔ هم دا وجه ده چه نبی اکرم
صلی الله علیه وسلم د دُنیا نه د تلو په وخت کښ خاص طور د مانځهٔ وصیت اُوفرمایهٔ، او د دے
د اهتمام تاکیدئے اوکړو۔ په ګڼړو حدیثونوکښ، ارشادِ نبوی نقل کړے شوے
دے، اِتَّقُوا اللهَ فِي الصَّلٰوةِ د مونځ باره کښ د الله تعالیٰ نه اُویریږئ۔
حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه په ټولو
عملونو کښ ما ته مونځ د ټولو نه زیات خوښ دے۔
یو صحابی رضی الله عنه فرمائی چه زهٔ یوه شپه د مسجدِ نبوی په خوا کښ تیریدم
نبی کریم صلی الله علیه وسلم مونځ کولو، زما هم شوق اُوشو۔ نبی علیه السلام پسے مې نیت اُوتړهٔ۔
نبی علیه الصلوٰة والسلام سورة بقره لوستله۔ ما خیال اوکړو چه په سلو آیتونو به رکوع

اوکړی، خوچه کله هغه تیر شول، او رکوع یې اُو تکړه، نوما سوچ اوکړو چه پړ دوه سوه آیتونو به رکوع اوکړی، خو هلته یې هم اُو نکړه، نوما داخیال اوکړو چه دسورت په ختمیدو به اُوکړی، هرکله چه سورت ختم شو، نو نبی علیه السلام څو وارې اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ اُووې، اوسورة آلِ عمران یې شروع کړو۔ زۀ په سوچ کښې پریوتم، آخر خیال مې اوکړو، چه آخر دې په ختم خو به رکوع اوکړی۔ نبی علیه السلام هغه ختم کړلو او درې وارې یې اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ اُووې، اوسورة مائده یې شروع کړو، دا یې ختم کړو نو رکوع یې اوکړه، او په رکوع کښې یې سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ لوستلۀ، او دې سره یې څۀ نور هم لوستل چه پوهه پرې نۀ شوم۔ دې نه پس د غسې سجدې کښې سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰی یې لوستلۀ او ورسره یې څۀ نور هم لوستل۔ دې نه پس یې دویم رکعت کښې سورة انعام شروع کړو۔ ما نبی علیه السلام سره د موځ کولو همت اُونۀ کړې شو او مجبوره شوم راغلم۔ په رومبی رکعت کښې تقریبًا پنځه سیپارې اُوشوې، او بیا د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لوستل ډیر په اطمینان (آرام) تجوید او ترتیل (صحیح او په قلاره) سره یو یو آیت جدا جدا کولو او لوستلو۔ په دا سې حالت کښې به څومره اُوږد رکعت شوې دی۔ هم له دې وجهو نه به د نبی علیه السلام په خپو د موځ کولو سره پړسوب راتلو، خو چه د کوم څیز مزه زړۀ ته ورکوزه شی په هغې کښې بیا مشقت او تکلیف مشکل نۀ وی۔

د ما نځۀ باره کښې د بزرګانِ دین حالات ابواسحاق سُبَیعی رحمۃ اللہ علیہ مشهور محدّث دې۔ د سلو کالو په عمر کښې وفات شوې دې، په دې به یې افسوس کولو چه د بوډا والی او د کمزورتیا په وجه د موځ مزه لاړه، په دوه رکعتو کښې صرف دوه سورتونه سورة بقره او سورة آلِ عمران لوستلې شم زیات نشم لوستلې (تهذیب التهذیب) دا دواړه سورتونه هم پاو کم څلور سیپارې دی۔

محمّد بن سَمّاك رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه په کوفه کښې زما یو ګاوندې وو، د هغهٔ یو هلك وو چه د ورځې به یې هميشه روژه نیوله، او ټوله شپه به یې مانځه او شوقیه اشعارو کښې تیروله۔ هغه دا سې وُچ شوې وو، چه تش هډوکې او غرمنه یې پاتې شوې وه۔ د هغهٔ پلار ما نه اُووې، چه تا سو دې له پوهه

Maktaba Tul Ishaat.com

کړئ - نۀ یو وارے په خپله دروازه کښې ناست وُم، هغه مخامخ تیر شو ما اُوئیلو، هغه راغے سلام ئے واچولو او کیناستۀ - ما خبره شروع کړله چه هغۀ اُوویل تږۀ! شاید تاسو په ما ته د محنت د کمولو مشوره راکوئ - کاکاجی! ما د دے محلے څوهلکا تو سره دا فیصله کړے وه چه کوروبه، څوك به عبادت کښې زیات کوشش کوی - هغوی محنت او کوشش اُوکړو، او الله تعالیٰ طرف ته اوبلے شو، کله چه هغوی اُوبلے شو، نو ډیر په خوشالئ سره لاړل - په هغوی کښې ما نه سوا هیڅوك نۀ دی پاتے شوی - زما عمل په ورځ کښې دوه وارے هغوی ته ښکاره کیږی - هغوی به څۀ وائی چه کله په هغې کښې کمے بیا مومی - کاکاجیٔ! دغے ځلمو ډیرے ډیرے مجاهدے اُوکړے - د هغوی محنتونه او مجاهدے ئے بیان کړے - هغه موچه واؤریدلے، مونږ خلق حیران پاتے شو - دے نه پس هغه هلك پاسیږ ولاړو، د ریمه ورځ مونږ واؤریدل، چه هغه هم رخصت شو - رَحِمَهُ اللّٰهُ رَحْمَةً وَّاسِعَةً - (نزہت)

اوس هم په دے زمانه کښې د الله تعالیٰ بندګان داسے لیدلے شی چه د شپے اکثره حصه په مانځه کښې تیروی، او په ورځ کښې د دین نور د کارونو تبلیغ او تعلیم کښې مشغول اُوسی - د حضرت مجدّد الفِ ثانی رحمۃ اللہ علیہ د نوم نه به څوك هند و سندان کښې بے خبره وی، د هغوی یو خلیفه مولنا عبدالواحد لاهوری رحمۃ اللہ علیہ یوه ورځ اِرشاد اُوفرمایۀ چه آیا جنت کښې به مونځ نۀ وی؟ چا عرض اُوکړو چه جنت کښې به مونځ وَلے وی هغه خو د عملونو بدلے ځائے دے، نۀ د عمل د کولو - په دے ئے یو آه اُوویستۀ او په ژړا شو، آوُوئے فرمایل چه بے د مونځه به په جنت کښې وخت څنګه تیریږی - په داسے خلقو دُنیا آباده ده - او د ژوند مزۀ اخستونکی په حقیقت کښې هم دا مبارکے هستئ دی - الله جل شانهٗ کـۀ په خپل فضل او کرم او د دے قسمه بزرګانو د قربانو په خاطر ما غوندے ګنهګار بانده هم پیرزوُنه اوکړی، نو د هغۀ د عامے مهربانئ نه څۀ لرے نۀ ده -

یو د مزے ډکه رعبرتناکه قصه بانده دا فصل ختموُم -

حافظ اِبنِ حجر رحمۃ اللہ علیہ مُنَبِّهات کښې لیکلی دی چه یو وارے نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد اُوفرمایۀ چه زما په دُنیا کښې درے څیزونه خوښ دی، خوشبوئی ښځے

ریعنی خپلے بیبیانے) اُو زما دسترگو یخوالے په مانځه کښ دے۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام سره یو څو صحابه ناست وُو۔ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ارشاد اُوفرمایهٔ، ستاسو ریښتیا اُووے، او زما هم درے څیزونه خوښ دی۔ ستا سوځ مبارك ته کتل خپل مال په تاسو خرچ کول، او دا چه زما لور ستاسو په نکاح کښ ده۔ حضرت عمر رضی الله عنه اُوفرمایل، ریښتیا دی او زما درے څیزونه خوښ دی۔ اَمر بالمعروف نَهى عن المنكر (د ښو کارونو حکم کول او د بدو کارونو نه منع کول) او زړه جامه حضرت عثمان رضی الله عنه اُوفرمایل تاسو ریښتیا اُووے، او زما درے څیزونه خوښ دی۔ اُوږې مړول، بربنډ و ته جامه اغوستول، او د قرآن شریف تلاوت۔ حضرت علی رضی الله عنه ارشاد اُوفرمایهٔ چه تاسو ریښتیا اُووے، او زما درے څیزونه خوښ دی، د میلمنو خدمت، گرمئ کښ روژه، او په دُشمن باندے تُوره۔ دے کښ جبرئیل علیه السلام تشریف راوړهٔ، او عرض یئے اُوکړو چه زهٔ الله جل شانهٔ رالیږلے یم، اُووے فرمایل، که چرے زهٔ (جبریل) تاسو دُنیا والو کښ وے، نو اُوښایم زما به څهٔ خوښ وُو۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد اُوفرمایهٔ، اُوښایه۔ عرض یئے اُوکړهٔ، وُرك شوو ته لاره ښودل، غریب عبادت کونکو سره محبت ساتل، او بال بچه دار وغریبانو سره امداد کول، او الله جل شانه ته د بندګانو درے څیزونه خوښ دی (د الله تعالیٰ په لاره کښ) د طاقت خرچ کول (مال سره وی که ځان سره) او زړه کتاه) د پښیمانتیا په وخت کښ ژړل، او په لوږه صبر کول۔

حافظ ابنِ قیم رحمة الله علیه زاد المعاد کښ لیکی، چه مونځ روزی راکاږی۔ د صحت حفاظت کونکے دے، مرضونه لرے کوی، زړهٔ ته قوت رسوی۔ مخ ښائسته او روښانه کوی۔ بدن ته خوشالی ورکوی، اندامو کښ نشاط (تازګی) پیدا کوی، سُستیا لرے کوی۔ شرح صدر (د سینے پرانستلو) سبب دے۔ د روح خوراك دے، زړهٔ روښانه کوی، د الله تعالیٰ د انعام حفاظت کونکے دے او د الله تعالیٰ د عذاب نه د حفاظت سبب دے۔ شیطان لرے کوی، او رحمٰن سره نزدیکت پیدا کوی۔ غرض دا چه د روح او د بدن د صحت په حفاظت کښ دے ته خاص دخل دے او په دواړو څیزونو کښ د دے عجیبه اثر دے۔ هم دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

شان د دُنیا او د آخرت نقصانونه لرے کُولو کښې او د دا رو جهانو کښې فائدے پیدا کولو کښې دے ته ډیر خصوصیت دے۔

دویم فصل

د مونځ په پریخودو کوم عذاب او زورنه حدیثونو کښې راغلے دے د

هغے بیان

د حدیث په کتابونو کښې مونځ نهٔ کولو باندے ډیر سخت عذابونه ذکر کړے شوی دی۔ د نمونے په طور یو څو حدیثونه ذکر کولے شی۔ د رېښتنی خبر ورکونکی یو ارشاد هم د عاقل د پاره کافی وو۔ خو نبی اکرم ﷺ د مهربانئ نه قربان شم، چه هغوی مبارک په څو څو قسمه سره او په بار بار دے څیز طرف ته متوجه کړل، چه د هغهٔ نوم اخستونکی اُمتیان چرته په دے کښې بے پرواهی اُونکړی۔ بیا افسوس دے زمونږ په حال باندے چه مونږ د نبی علیه الصلوٰة والسلام دے اهتمام باوجود د مونځ اهتمام نهٔ کوو او بے غیرتئ او بے حیایئ سره ځان د رسول ﷺ اُمتی او ناپوهه اراد د اسلام سرګرم خادم هم ګنړو۔

(۱) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلٰوةِ (رواہ احمد و مسلم) وَقَالَ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلٰوةِ

د نبی اکرم ﷺ ارشاد مبارک دے چه مونځ پریخودل بنده کفر ته رسوی۔ یو ځائے ارشاد دے چه بنده او کفر لره یو ځائے کوونکے څیز صرف مونځ پریخودل دی۔ یو ځائے ارشاد دے چه د ایمان او کفر په مینځ کښې د مونځ پریخودلو فرق دے۔

(رواه ابوداؤد والنسائی وَلَفْظُهٗ لَيْسَ بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ اِلَّا تَرْكُ الصَّلٰوةِ والترمذی وَلَفْظُهٗ بَيْنَ الْكُفْرِ وَالْاِيْمَانِ تَرْكُ الصَّلٰوةِ وابن ماجة وَلَفْظُهٗ قَالَ بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلٰوةِ کذا فی الترغیب للمنذری وقال السیوطی فی الدر لحدیث جابر اخرجه ابن ابی شیبة واحمد ومسلم وابوداؤد والترمذی والنسائی وابن ماجة ثم قال واخرج ابن ابی شیبة واحمد وابوداؤد والترمذی وصححه والنسائی و ابن ماجة وابن حبان والحاکم وصححه عن بريدة مرفوعاً اَلْعَهْدُ الَّذِيْ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلٰوةُ فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ

فائدہ: د دے قسمه مضمون نورهم په څو حدیثونوکښ راغلی دے، یو حدیث کښ راغلی دی چه دُوړتګ په درځ مونځ زرکوئ، ځکه چه مونځ پرېخودل و سره بنده کافر کیږی. یعنې چرته داسے اُونه شی چه دُوړتګ په وجه دوخت پته اُونه لګی، اومونځ قضاشی. دے ته یې هم مونږ پرېخودل ارشاد اُوفرمایه څومره سخته خبره ده، چه نبی اکرم ﷺ مونځ پرېخودونکی باندے دکفر حکم لګوی. اګرچه عالمانو داحدیث په انکارسره خاص کړے دے. مګر د نبی علیه الصلوٰة دارشاد فکردومره سخت خیز دے چه دچاپه زړه کښ لږ هم دنبی اکرم علیه الصلوٰة عزت اودنبی علیه الصلوٰة د ارشاد اهمیت وی، دهغوی دپاره دا ارشادات ډیر سخت دی. دے نه علاوه لویولویوصحابه کرامولکه حضرت عُمر، حضرت عبدالله بن مسعود، حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهم وغیره مذهب هم دادے چه بغیرعذره قصداً مونځ پرېخودونکے کافردے. په امامانوکښ د حضرت امام احمدبن حنبل، اسحٰق بن راهُویه، ابن مبارک رحمهم الله هم دا مذهب نقل کولے شی. اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنْهُ. (ترغیب)

(۲) عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضی الله عنه قَالَ اَوْصَانِیْ خَلِیْلِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِسَبْعِ خِصَالٍ فَقَالَ لَا تُشْرِکُوْا بِاللّٰهِ شَیْئًا وَّ اِنْ قُطِّعْتُمْ اَوْحُرِّقْتُمْ اَوْ صُلِّبْتُمْ وَلَا تَتْرُکُوا الصَّلٰوةَ مُتَعَمِّدِیْنَ فَمَنْ تَرَکَهَا مُتَعَمِّدًا فَقَدْ خَرَجَ مِنَ الْمِلَّةِ وَلَا تَرْکَبُوا الْمَعْصِیَةَ فَاِنَّهَا سَخَطُ اللّٰهِ وَلَا تَشْرَبُوا الْخَمْرَ فَاِنَّهَا رَأْسُ الْخَطَایَا کُلِّهَا.

(الحدیث رواه الطبرانی ومحمد بن نصر فی کتاب الصلوٰة باسنادین لا باس)

حضرت عبادہ رضی الله عنه فرمائی چه ماته زما محبوب نبی اکرم ﷺ اُوه نصیحتونه اوکړل چه په هغے کښ څلوردا دی. اول داچه الله لره شریک څوک مه جوړوه، اګرکه ته ټکړے ټکړے کړے شے، یا اُوسوزولے شے، یا پهانسی کړے شے. دویم داچه په قصد سره مونځ مه پرېږده، څوک چه په قصد سره مونځ پرېږدی، هغه دمذهب نه اُوزی. دریم داچه دالله تعالیٰ نافرمانی مه کوه چه په دے سره الله تعالیٰ ناراضه کیږی. څلورم داچه شراب مه څکه چه دا د ټولوګناهونو جرړه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

بها كذا في الترغيب و هكذا ذكره السيوطي في الدر المنثور و عزاه اليهما و في المشكوة برواية ابن ماجه عن ابي الدرداء نحوه

فائده: يو بل حديث كښ حضرت ابو الدرداء رضی اللہ عنہ هم دے قسمه مضمون فرمائی چه زما محبوب ﷺ ما ته وصيت اوکړو چه الله لره شريك څوك مهٔ جوړوه، اګر کهٔ ته ټکړے ټکړے کړے شے، يا په اور کښ اُوسوزولے شے - دويم موخ قصداً مهٔ پريږده، څوك چه په قصد سره موخ پريږدی، هغه د الله تعالیٰ د ذمه داری نه بری دے، دريم شراب مهٔ څکه چه دا دهر بدئ کنجی ده۔

(۳) عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضی اللہ عنہ قَالَ اَوْصَانِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِعَشْرِ كَلِمَاتٍ قَالَ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ شَيْئًا وَّاِنْ قُتِلْتَ اَوْ حُرِّقْتَ وَلَا تَعُقَّنَّ وَالِدَيْكَ وَاِنْ اَمَرَاكَ اَنْ تَخْرُجَ مِنْ اَهْلِكَ وَمَالِكَ وَلَا تَتْرُكَنَّ صَلٰوةً مَّكْتُوْبَةً مُّتَعَمِّدًا فَاِنَّ مَنْ تَرَكَ صَلٰوةً مَّكْتُوْبَةً فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ ذِمَّةُ اللّٰهِ وَلَا تَشْرَبَنَّ خَمْرًا فَاِنَّهٗ رَاْسُ كُلِّ فَاحِشَةٍ وَاِيَّاكَ وَالْمَعْصِيَةَ فَاِنَّ بِالْمَعْصِيَةِ حَلَّ سَخَطُ اللّٰهِ وَاِيَّاكَ وَالْفِرَارَ مِنَ الزَّحْفِ وَاِنْ هَلَكَ النَّاسُ وَاِنْ اَصَابَ النَّاسَ مَوْتٌ فَاثْبُتْ وَاَنْفِقْ عَلٰى اَهْلِكَ مِنْ طَوْلِكَ وَلَا تَرْفَعْ عَنْهُمْ عَصَاكَ اَدَبًا وَّاَخِفْهُمْ فِي اللّٰهِ۔

رواه احمد والطبرانی فی الكبير و اسناد

حضرت معاذ رضی اللہ عنہ فرمائی چه ما ته نبی اکرم ﷺ دلسو خبرو وصيت اوکړو- (۱) الله تعالیٰ سره څوك شريك مه جوړوه، اګر کهٔ ته قتل کړے شے يا اُوسوزولے شے (۲) د مور پلار نافرمانی مکوه اګر کهٔ هغه تا ته درے حکم اوکړی چه ښځه پريږده يا ټول مال خرچ کړه- (۳) فرض موخ په قصد مهٔ پريږده، څوك چه فرض موخ په قصد پريږدی، هغه د الله تعالیٰ د ذمه داری نه بری دے۔ (۴) شراب مهٔ څکه چه دا دهرے بدئ او بے حيائ جرړه ده (۵) د الله تعالیٰ نافرمانی مکوه، چه په دے سره د الله تعالیٰ غضب قهر نازليږی (۶) په جنګ کښ تيخته مکوه، اګر کهٔ ټول ملګری ړمړهٔ شی۔ (۷) کهٔ چرته وبا خوره شی (لکه طاعون وغيره) نو د هغه ځايه مهٔ تختهٔ۔ (۸) خپل کوروالو باندے د خپل طاقت مطابق خرچ کوه (۹) د تنبيه (ادب) د پاره د هغوی نه همسا مهٔ لرے کوه (۱۰) د الله تعالیٰ نه هغوی ويروه۔

احمد صحیح لوسلم من الانقطاع فان عبد الرحمٰن بن جبیرلم یسمع من معاذ کذا فی الترغیب والیہما عزاہ السیوطی فی الدر ولم یذکر الانقطاع ثم قال واخرج الطبرانی عن اُمیمۃ مولاۃ رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم قالت کنت اصب علی رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم وضوء فدخل رجل فقال اوصنی فقال لا تشرک باللّٰہ شیئًا وان قطعت او حرقت ولاتعص والدیک وان امراک ان تخلی من اہلک و دنیاک فتخلہ ولاتشربن خمرًا فانہ مفتاح کل شر ولاتترکن صلوٰۃ متعمدًا فمن فعل ذلک فقد برئت منہ ذمۃ اللّٰہ ورسولہ۔

فائدہ: همسانه لرے کوُلو مطلب دا دے چه هغوی ددے ته بےفکره نهٔ شی چه پلار تنبیه نهٔ کوی اَوَ هی ته، ځهٔ موچه خوښه وی کوُو به. بلکه هغوی د شریعت په حد وودکښ کله کله وهل پکار دی، چه بغیر وهلو اکثر نهٔ سمیږی. ‌نن صبا اولاد ته په شروع کښ د محبت په جوش کښ تنبیه نکوی خو کله چه هغه په بدو عادتونوکښ پوخ شی، نو بیا ژاړی، حال دا دے چه دا د اولاد سره محبت نهٔ دے سخته دُشمنی ده، چه هغه د بدو خیرونه منع نهٔ کړے شی، اَو وهل ټکول د محبت نه خلاف اُوګنړلے شی. ځوکے عقلمند دا خوښوی چه د اولاد ننګئ دِ زیاته شی، او په دے وجه چه نشتر لګولو کښ به ورته زخم او تکلیف وی، اپریشن یُے نکوی. بلکه هرخومره چه بچے ژاړی تخی خفه کیږی، په هرحال ورته نشتر لګولے شی. پیروحدیثونوکښ د نبی علیہ الصلوٰۃ ارشاد نقل کړے شوے دے چه بچی ته د اُووکالو په عمرکښ د مونځ حکم کوئ اود لسو کالو په عمرکښ په مونځ نهٔ کولو یے وهئ۔

حضرت عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ فرمائی چه د بچو په مونځ نظر ساتیٔ او د ښو خیرو یے عادت جوړ وَئ. د حضرت لقمان حکیم ارشاد دے، چه د پلار وهل د اولاد د پاره داسے دی لکه د فصل د پاره اُوبهٔ. (درمنثور) د نبی علیہ الصلوٰۃ ارشاد دے چه ځوک خپل اولاد ته ادب اُوښائی، دا د یو صاع (پیمانے) صدقه کولو نه بهتر دے (جامع الصغیر) یو صاع تقریبًا درے نیم سیره غله وی۔

په یو حدیث کښ ارشاد دے چه الله تعالیٰ دِ په هغه چا رحمت اوکړی چه د کور والو د تنبیه (ادب) د پاره په کورکښ کروړه زوړند ه ساتی (جامع الصغیر) په یو حدیث کښ ارشاد دے چه پلار خپل اولاد ته د دے نه بهتره ورکړه نهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

شي کوُلے چه هغهٔ ته د ښهٔ طریقے تعلیم ورکړی. (جامع صغیر)

④ عَنْ نَوْفَلِ بْنِ مُعٰوِيَةَ رضی اللہ عنہ اَنَّ النَّبِيَّ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَ مَنْ فَاتَتْهُ صَلٰوةٌ فَكَاَنَّمَا وُتِرَ اَهْلُهٗ وَمَالُهٗ۔

د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارك دے چه د چا یو مونځ هم قضا شو هغه داسے دے لکه چه د کور خلق او مال دولت ټول ترے لوټ کړے شو.

(رواه ابن حبان فی صحیحه كذا فی الترغیب زاد السیوطی فی الدر والنسائی ایضًا قلتُ رواه احمد فی مسنده)

فائده: د مونځ ضائع کوُل اکثر یا د بال بچ په وجه کیږی چه د هغوی په خیر خیر کښ مشغول وی، یا د مال او دولت د ګټلو په لالچ کښ ضائع کیږی. د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد دے چه د مونځ ضائع کوُل د نتیجے په اعتبار سره داسے دی لکه چه بال بچ او مال او دولت ټول ترے اُوشوکولے شی او یوائے ولاړ پاتے شی، یعنی څومره نقصان چه په دے حالت کښ دے هغه هومره په مونځ پریخودو کښ دے. یا څومره غم درد چه په دے حالت کښ وی هغه هومره په مونځ پریخودو کښ پکار دے. که چا ته څوك معتبر سړے دا اُوائی، او هغهٔ یقین راشی چه فلانئ لاره لوټیلے شی، او چه څوك د شپے په هغے لاړ نو ډاکوان یئے قتلوی او مال ترے شوکوی، نو څوك بهادر دے چه په هغے لارے د شپے لاړ شی، شپه خو پریږده، د ورځے به هم په مشکله په هغے لاړ شی. مګر د الله تعالیٰ د رښتنی رسول صلی اللہ علیہ وسلم د پاك ارشاد یو دوه نه څو څو حدیثونو کښ راغلے دے. او مونږ مسلمانان د نبی علیه الصلاة والسلام د رښتنوالی دعوٰی په دروغژنو ژبو سره کوُو، مګر د دے پاك ارشاد په مونږ څومرهٔ اثر دے؟ هر چا ته معلوم دهٔ.

⑤ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی اللہ عنہما قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم مَنْ جَمَعَ بَيْنَ صَلٰوتَيْنِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ فَقَدْ اَتٰى بَابًا مِّنْ اَبْوَابِ الْكَبَائِرِ۔

د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارك دے، چه څوك دوه مونځونه بغیر د څهٔ عذر نه په یو وخت کښ اوکړی، هغه د لویو ګناهونو د دروازو نه یوے دروازے ته اُورسیدهٔ.

(رواه الحاكم وقال حنش هو ابن قیس ثقة وقال الحافظ بل واه بمرة لانعلم احدا وثقه غیر حصین)

بن نمیر کذا فی الترغیب زاد السیوطی فی الدر الترمذی الخ وذکر فی اللآلی لہ شواہد وکذا فی التعقبات فی قال الحدیث اخرجہ الترمذی وقال حنش ضعیف ضعفہ احمد وغیرہ والعمل علیٰ ہذا عند اہل العلم فاشار بذلک الیٰ ان الحدیث اعتضد بقول اہل العلم وقد صرح غیر واحد بان من دلیل صحۃ الحدیث قول اہل العلم بہ وان لم یکن لہ اسناد یعتمد علیٰ مثلہ آھ)

فائدہ: حضرت علی کرم اللہ وجہہ فرمائی چہ نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام اِرشاد اُوفرمایۂ، چہ پہ درے خیزونو کښې تاخیر مکوئ. یَو مونځ کله چہ د دے وخت اُوشي. دوېم جنازہ کله چہ تیارہ شي. دریم بے نکاح زنانہ کلہ چہ د هغې د جوړ خاوند ملاؤ شي (یعني زر ئې نکاح کوئ) ډیر خلق چہ خپل ځان دیندار ہم کڼړی اُو کو یا د مونځ پابند هم کڼړلے شي. هغوی څو څو مونځونہ پہ معمولی بهانے سره د سفروی، کۀ د دُکان وی، کۀ د ملازمت وی، کور تہ چہ راشي یو ځائ یے اوکړی، دا گناهِ کبیره ده چہ بغیر د څۀ عذره نا روغتیا وغیره مونځ پہ خپل وخت کښې اُونکړے شي، اگر چہ بیخی د مونځ نۀ کولو گناه تہ ئې وی، خو د بے وخته کولو هم سخته گناه ده، د دے نہ یے خلاصے اُونۀ شو.

(۶) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضی اللہ عنہ عَنِ النَّبِيِّ صلی اللہ علیہ وسلم أَنَّهُ ذَكَرَ الصَّلٰوةَ يَوْمًا فَقَالَ مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُوْرًا وَّ بُرْهَانًا وَّنَجَاةً يَّوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ لَّمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ يَكُنْ لَّهُ نُوْرٌ وَّلَا بُرْهَانٌ وَّلَا نَجَاةٌ وَّكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَاُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ.

(اخرجہ احمد وابن حبان والطبرانی کذا فی الدر المنثور للسیوطی، وقال

یو وارے نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم د مانځہ ذکر اوکړ او ارشاد ئې اُوفرمایۂ چہ څوک د مونځ حفاظت کوی نو مونځ بہ د دۀ د پاره د قیامت پہ ورځ نُور یعني رڼړا وی، او د حساب پیش کید و پہ وخت کښې حجت یعني دلیل وی او د خلاصی سبب به وی. او څوک چہ د مونځ حفاظت نکوی، د دۀ د پاره بہ د قیامت پہ ورځ نۀ نُور وی، او نۀ بہ د دۀ سره څۀ حجت وی او نۀ د خلاصی څۀ ذریعه. د دۀ حشر بہ فرعون، هامان او اُبَیّ بن خلف سره وی.

الہیثمی رواہ احمد والطبرانی فی الکبیر والاوسط ورجال احمد ثقات وقال ابن حجر فی الزواجر اخرجہ احمد بسند جید وزاد فیہ قارون ایضاً مع فرعون وغیرہ وکذا زادہ فی منتخب الکنز برقم)

Maktaba Tul Ishaat.com

ابن نصر والمشکوۃ ایضًا بروایۃ احمد والدارمی والبیہقی فی الشعب وابن القیم فی کتاب الصلوۃ)

فائده : فرعون خو هر څوك پېژني چه څومره غټ كافر وو ، تردے چه دخدائئ دعوىٰ ئے كړے وه - او هامان دهغهٔ دوزير نوم دے - او اُبَيّ بن خلف د مكے په مشركانو كښ د اسلام يو ډير سخت دُشمن وو د هجرت نه وړاندے به ئے نبي اكرم ﷺ ته ويل چه ما يو آس ساتلے دے ، په هغهٔ ډيره څهٔ خوراكوم ، په هغهٔ به سوريدم (نَعُوذُ بالله) تا به قتلوم . نبي عليه السلام يو وارے دهٔ ته اُوفرمايل چه إن شاء الله ، زهٔ به تا قتلوم . د اُحُد په جنګ كښ هغهٔ د نبي عليه السلام تلاش كولو ، او دا به ئے ويل كهٔ چرے هغه نن ما ته پټ شو نو زما خير نشته - نو د حملے په اراده نبي عليه السلام ته نزدے ورا ورسيدهٔ . اصحابو كرامو اراده اوكړه چه دلرے ته ئے ختم كړي . نبي عليه السلام ارشاد اوفرمايهٔ چه راپرے ئے ږدئ - كله چه هغه ورنزدے شو ، نو نبي عليه السلام د يو صحابي د لاس نه نيزه واخستله ، اوكنډ ارئي پرے اوكړو چه په څټ اُولګيدهٔ ، او څټ ئے لږ غوندے اُوګريدهٔ ، او ددے په وجه د آس نه رغړيدلے پريوتهٔ ، او په تيخته خپل لښكر ته اُورسيدهٔ ، او چغے به ئے وهلے چه په الله م دِ قسم وي زهٔ محمد اُووژلم . كافرانو ورته تسله وركړه ، چه معمولي شان ګريدلے ئے ، هيڅ دفكر خبره نهٔ ده - خو دهٔ به ويل چه محمد ما ته په مكه كښ ويلي وو چه زهٔ به تا قتلوم . په الله قسم ، كهٔ چرے هغهٔ په ما باندے توكلے قدرے هم وے ، نو زهٔ به مړ وے - ليكي چه د دهٔ د چغو آواز داسے شوے وو ، څنګه چه دغوائي وي . ابو سفيان چه په دے جنګ كښ ډير په جوش وخروش كښ وو ، هغهٔ ته شرم وركړو ، چه ددے لږ غوندے ګريدلو نه دومره چغے وهے . دهٔ اُووے تا ته څهٔ پته شته چه چا وهلے يم ؟ دا د محمد ګذار دے . ما د دے نه چه څومره قدرے تكليف كيږي ، په "لات" او "عزّي" (ددوه وو مشهورو بتانو نومونه دي) م د قسم وي كهٔ چرے دا تكليف په ټول حجاز والو تقسيم كړے شي ، نو ټول به هلاك شي . محمد ما ته په مكه كښ ويلي وو چه زهٔ به تا وژنم . زهٔ هغه وخت پو هه شوے وم ، چه زهٔ به د دهٔ د لاسه ضرور مړ م ، زهٔ د دهٔ نه خلاصيدے نهٔ شم . كهٔ چرے هغهٔ د دے وينا په پس

په ما ټوکلي قدر ے هم دے، نوزړه به دهغې نه هم مړشوے وے ملکے مکرمے
ته درسید لو ته یوه ورځ وړاندے په لاره کښې مړشو۔ (خمیس)

مونږ مسلمانانو د پاره ډیر د غیرت او د عبرت مقام دے چه یو کافر یوځ
کافر او سخت دشمن ته خود نبی علیه الصلوٰة د ارشاد ریښتنې کیدو دومره قدر ړے
یقین وی چه هغهٔ ته خپل مرګ کښې لږ هم شک نهٔ وُو۔ خو مونږ خلق سره
د دے چه نبی علیه الصلوٰة نبی منو، سره د دے چه نبی علیه الصلوٰة ریښتنې منو، سره
د دے چه نبی علیه الصلوٰة ارشاداتو ته یقینی وایو، سره د دے چه نبی علیه الصلوٰة سره
د محبت دعوی کوو، سره د دے چه د نبی علیه الصلوٰة په اُمت کښې د کیدو فخر کوو،
په څومره ارشاداتو عمل کوو۔ او په کومو څیزونو کښې چه نبی علیه الصلوٰة عذاب
خودلے دے، د هغې نه څومره ویریږو، څومره ریږیږو۔ دا د هر یو کس په خپل
ګریوان کښې د کتلو خبره ده، بل څوک د چا په باره کښې څهٔ ویلے شی۔

ابن حجر رحمة الله علیه په کتاب الزواجر کښې د قارون هم د فرعون وغیره سره
ذکر کړے دے، او لیکلی یې دی چه هغوی سره د حشر کیدو وجه دا ده چه
اکثر په دغے وجوهو سره په مانځه کښې سستی کیږی، کوم چه په دغے خلقو
کښې موندے شی۔ پس کچرے د دے وجه د مال و دولت ډیروالے وی نو قارون
سره به یې حشر کیږی۔ او کچرے حکومت او سلطنت وی نو فرعون سره، او
که وزارت (یعنی ملازمت یا درباری کیدل) وی نو هامان سره۔ او که تجارت
وی نو اُبی بن خلف سره۔ او کله چه دے خلقو سره د دهٔ حشر اوشو، نو بیا کوم
قسمه عذابونه چه په حدیثونو کښې راغلی دی اګرچه حدیثونه مُتَکَلَّمٌ فِیْه
دی (یعنی عالمانو پکښې بحثونه کړی دی) خو دے کښې هیڅ شك نشته، چه د
دوزخ عذاب د سختو نه سخت دے۔ البته دا ضروری ده چه دے به دوزخ
نه یو ورځ د خپل ایمان په وجه د دغے عذاب نه خلاص شی او هغه نور
خلق به همیشه د پاره په دوزخ کښې پاتے شی خو تر خلاصیدو پورے زمانه ولے
څهٔ لوبے توقے دی، نهٔ ده معلومه، چه څومره په زرګونو کالونه به وی۔

(۷) قَالَ بَعْضُهُمْ وَرَدَ فِی الْحَدِیْثِ اَنَّ مَنْ حَافَظَ عَلَی | په یو حدیث کښې راغلی دی چه څوك د مونځ اهتمام کوی الله جل شانهٔ په

Maktaba Tul Ishaat.com

الصَّلٰوةَ اَكْرَمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى بِخَمْسِ
خِصَالٍ يَرْفَعُ عَنْهُ ضِيْقَ
الْعَيْشِ وَعَذَابَ الْقَبْرِ وَيُعْطِيْهِ
اللّٰهُ كِتَابَهٗ بِيَمِيْنِهٖ وَيَمُرُّ عَلَى
الصِّرَاطِ كَالْبَرْقِ وَيَدْخُلُ الْجَنَّةَ
بِغَيْرِ حِسَابٍ وَمَنْ تَهَاوَنَ عَنِ
الصَّلٰوةِ عَاقَبَهُ اللّٰهُ بِخَمْسَ
عَشَرَةَ عُقُوْبَةً خَمْسَةٌ فِي
الدُّنْيَا وَثَلٰثَةٌ عِنْدَ الْمَوْتِ وَ
ثَلٰثٌ فِيْ قَبْرِهٖ وَثَلٰثٌ عِنْدَ
خُرُوْجِهٖ مِنَ الْقَبْرِ فَاَمَّا اللَّوَاتِيْ
فِي الدُّنْيَا فَالْاُوْلٰى تُنْزَعُ الْبَرَكَةُ
مِنْ عُمُرِهٖ وَالثَّانِيَةُ تُمْحٰى سِيْمَاءُ
الصّٰلِحِيْنَ مِنْ وَجْهِهٖ وَالثَّالِثَةُ
كُلُّ عَمَلٍ يَعْمَلُهٗ لَا يَاْجُرُهُ اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَالرَّابِعَةُ لَا يُرْفَعُ لَهٗ دُعَاءٌ
اِلَى السَّمَاءِ وَالْخَامِسَةُ لَيْسَ
لَهٗ حَقٌّ فِيْ دُعَاءِ الصّٰلِحِيْنَ
وَاَمَّا الَّتِيْ تُصِيْبُهٗ عِنْدَ الْمَوْتِ
فَاِنَّهٗ يَمُوْتُ ذَلِيْلًا وَالثَّانِيَةُ
يَمُوْتُ جُوْعًا وَالثَّالِثَةُ يَمُوْتُ
عَطْشَانًا وَلَوْ سُقِيَ بِحَارَ الدُّنْيَا
مَا رَوِيَ مِنْ عَطْشِهٖ وَاَمَّا الَّتِيْ
يُصِيْبُهٗ فِيْ قَبْرِهٖ فَالْاُوْلٰى
يُضَيَّقُ عَلَيْهِ الْقَبْرُ حَتّٰى
تَخْتَلِفَ اَضْلَاعُهٗ وَالثَّانِيَةُ

پنځه قسمه دهغهٔ إعزاز او اکرام کوی. یو
داچه دهغهٔ نه به د رزق تنګسیا لرے
کړے شي. دوّیم داچه دهغهٔ نه به د قبر
عذاب لرے کړے شي. درېیم داچه په
قیامت کښې به عملنامه په ښي لاس
کښې ورکړے شي (دېچه د هغې حال په سورة
الحاقّه کښې په تفصیل سره ذکر شوے دے)
چه کومو خلقو ته عملنامے په ښي لاس
کښې ورکړے شي هغوی به خوشاله ترو
تازه ګرزی هرچا ته به یې ښائي) او څلورم
داچه پُل صراط باندے به د بجلئ په شان
زر تیرشي. پنځم داچه جنت ته به بے
حسابه داخل شي. او چه څوک په مانځه
کښې سُستي کوی هغهٔ ته به په پنځلس
طریقو عذاب ورکیږی. پنځه قسمه په
دنیا کښې، او درے قسمه د مرګ په وخت
کښې او درے قسمه په قبر کښې او درے
قسمه د قبر نه د وتلو نه پس. د دنیا پنځه
خو دا دي. اول داچه دهغهٔ په ژوند
کښې به برکت پاتے نهٔ شي. دوېم داچه
د صالحانو نور به د هغهٔ د مخ نه لرے کړے
شي. درېیم داچه دهغهٔ د نیکو کارونو ثواب
به لرے کړے شي. څلورم دهغهٔ دُعا ګانے
به نهٔ قبلیږی. پنځم داچه د نیکو بندګانو
په دُعا ګانو کښې به دهغهٔ حق پاتے نهٔ
شي. او د مرګ په وخت کښې درے عذابونه

يُوقَدُ عَلَيْهِ الْقَبْرُ نَارًا فَيَتَقَلَّبُ عَلَى الْجَمْرِ لَيْلًا وَّنَهَارًا وَّالثَّالِثَةُ يُسَلَّطُ عَلَيْهِ فِي قَبْرِهٖ ثُعْبَانٌ اسْمُهُ الشُّجَاعُ الْاَقْرَعُ عَيْنَاهُ مِنْ نَّارٍ وَّاَظْفَارُهٗ مِنْ حَدِيْدٍ طُوْلُ كُلِّ ظُفْرٍ مَسِيْرَةُ يَوْمٍ يُكَلِّمُ الْمَيِّتَ فَيَقُوْلُ اَنَا الشُّجَاعُ الْاَقْرَعُ وَصَوْتُهٗ مِثْلُ الرَّعْدِ الْقَاصِفِ يَقُوْلُ اَمَرَنِيْ رَبِّيْ اَنْ اَضْرِبَكَ عَلٰى تَضْيِيْعِ صَلٰوةِ الصُّبْحِ اِلٰى بَعْدِ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَاَضْرِبَكَ عَلٰى تَضْيِيْعِ صَلٰوةِ الظُّهْرِ اِلَى الْعَصْرِ وَاَضْرِبَكَ عَلٰى تَضْيِيْعِ صَلٰوةِ الْعَصْرِ اِلَى الْمَغْرِبِ وَاَضْرِبَكَ عَلٰى تَضْيِيْعِ صَلٰوةِ الْمَغْرِبِ اِلَى الْعِشَاءِ وَاَضْرِبَكَ عَلٰى تَضْيِيْعِ صَلٰوةِ الْعِشَاءِ اِلَى الْفَجْرِ فَكُلَّمَا ضَرَبَهٗ ضَرْبَةً يَغُوْصُ فِي الْاَرْضِ سَبْعِيْنَ ذِرَاعًا فَلَا يَزَالُ فِي الْقَبْرِ مُعَذَّبًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَاَمَّا الَّتِيْ تُصِيْبُهٗ عِنْدَ خُرُوْجِهٖ مِنَ الْقَبْرِ فِيْ مَوْقِفِ الْقِيَامَةِ فَشِدَّةُ الْحِسَابِ وَسَخَطُ الرَّبِّ وَدُخُوْلُ النَّارِ وَفِيْ رِوَايَةٍ

دادی۔ اوّل داچه ذلیل به مری۔ دوئم اُوږے به مری، دریم داچه په سخته تنده کښ به ورله مرګ راځی، که سمندرهم اُوځکی نو تنده به یې ماته نهٔ شی۔ د قبر درے عذابونه دادی، اوّل به په هغهٔ باندِ قبر دومره تنګ کړے شی چه پوښتۍ به یې یو بل کښ ننوزی۔ دوئم په قبر کښ به ورته اور بل کړے شی۔ دریم قبر کښ به یو مار په هغهٔ د داسے شکل مقرر کړے شی چه د هغهٔ سترګے به د اور وی، او نوکونه د اُوسپنے، دومره اُوږدهٔ به وی که پوره یوه ورځ مزل اوکړے شی، نو ایله به آخره پورے اُورسی۔ د هغهٔ آواز به د بجلۍ د ګرز په شان وی۔ هغه به وائی چه زما رب زهٔ په تا باندے مقرر کړے یم چه د سحر مونځ ضائع کولو په وجه تر نمر ختو پورے دِ وهم۔ او د ماسپخین مونځ ضائع کولو په وجه تر مازیګره پورے دِ وهم۔ او بیا د مازیګر مونځ ضائع کولو په وجه تر نمر پریوتو پورے دِ وهم، او د ماښام مونځ په وجه ماسخوتنه پورے او د ماسخوتن مونځ په وجه تر سحره پورے دِ وهم۔ کله چه هغه یو وارے دے اُووهی، نو د هغے په وجه به دغه مړے اویا لاسه په زمکه کښ ننوزی دغسے به قیامته پورے دهٔ ته عذاب ورکیږی او د قبر نه د راتلو نه پس درے عذابونه دا

Maktaba Tul Ishaat.com

فَإِنَّهُ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَعَلٰى وَجْهِهٖ ثَلٰثَةُ أَسْطُرٍ مَكْتُوْبَاتٍ اَلسَّطْرُ الْأَوَّلُ يَا مُضَيِّعَ حَقِّ اللّٰهِ اَلسَّطْرُ الثَّانِي يَا مَخْصُوْصًا بِغَضَبِ اللّٰهِ اَلثَّالِثُ كَمَا ضَيَّعْتَ فِي الدُّنْيَا حَقَّ اللّٰهِ فَأَيِسِ الْيَوْمَ أَنْتَ مِنْ رَحْمَةِ اللّٰهِ۔

دی۔ یو به حساب ورسره په سختئ کیږی دوئیم به الله جل شانهٗ په هغهٔ غصه دی، دریم به دوزخ کښ داخل کړے شی۔ دا اتول تعدا دخوارلس شو، ممکنه ده، چه پنځلسم په هیره سره پاتے شوے وی۔ او په یو روایت کښ دا هم دی چه دهغهٔ په مخ به درے کرښے لیکلے شوی وی۔ اوله کرښه، اے دالله تعالیٰ حق ضائع کونکیه دوېمه کرښه، اے دالله تعالیٰ په غصے سره مخصوصه۔ دریمه کرښه، څنګه چه تا په دُنیا کښ دالله تعالیٰ حق ضائع کړے نن ته دالله تعالیٰ د رحمت نه نا اُمیده ئے۔

(وما ذكر في هذا الحديث من تفصيل العدد لايطابق جملة الخمس عشرة لان المفصل اربع عشرة فقط فلعل الراوي نسي الخامس عشر كذا في الزواجر لابن حجر المكي قلت وهو كذلك فان ابا الليث السمرقندي ذكر الحديث في قرة العيون فجعل ستة في الدنيا فقال الخامسة تمقته الخلائق في دار الدنيا والسادس ليس له حظ في دعاء الصالحين ثم ذكر الحديث بتمامه ولم يعزه الى احد وفي تنبيه الغافلين للشيخ نصر بن محمد بن ابراهيم السمرقندي يقال من دام على الصلوات الخمس في الجماعة اعطاه الله خمس خصال ومن تهاون بها في الجماعة عاقبه الله باثني عشر خصلة۔ ثلثة في الدنيا وثلثة عند الموت وثلثة في القبر وثلثة يوم القيامة ثم ذكر نحوها ثم قال وروي عن ابي ذر عن النبي صلى الله عليه وسلم نحو هذا وذكر السيوطي في ذيل اللآلي بعد ما اخرج بمعناه من تخريج ابن النجار في تاريخ بغداد بسنده الى ابي هريرة قال في الميزان هذا حديث باطل ركبه محمد بن علي بن عباس على ابي بكر بن زياد النيسابوري قلت لكن ذكر الحافظ في المنبهات عن ابي هريرة مرفوعا الصلوة عماد الدين وفيها عشر خصال الحديث ذكرته في الهندية وذكر الغزالي في دقائق الاخبار بنحو هذا اتم منه وقال من حافظ عليها اكرمه الله بخمس عشرة الى آخره مفصلاً۔)

فائده: اګرچه داحدیث شریف پورکادحدیث په عاموکتابونو کښ ما اُونه مُوندهٔ، خو په دے کښ چه څومره قسمه عذابونه او ثوابونه ذکر کړے شوی دی، دهغے د اکثرو مرسته د پیرو روایتونو نه کیږی، چه په هغے کښ

بعضِ روميې تېرشوي دي او بعضِ روستو راروان دي. او په روميې روايت کښې خو دبيلمانځه دِ اسلام نه دَوتلو هم ذکر دے، نو بيا چه څومره قدر ئے عذاب وي لږ دے. البته دا ضروري ده چه دا کوم څهٔ ذکر کړے شوي دي يا کښې راځي هغه ټول ددے کار سزا ده. او دے سزا لائق کيدل و نه پس او دے دفعے فرد جُرم سره ارشادِ الٰهي اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ط "چه الله تعالیٰ خو د شِرک معافي نهٔ کوي، د دے نه علاوه چه چا ته ئے خوښه شي معاف به ئے کړي". په دے اٰيتِ شريفه کښې او د دے قسمه نورو اٰيتونو او حديثونو په بنياد ګچرے معافي اوکړي نو خوشقسمتي به وي. حديثونو کښې راغلي دي چه قيامت کښې به درے عدالتونه وي. يَو د کفر او د اسلام چه په دے کښې به بيخي بخښنه نهٔ وي. دويم د حقوق العباد (د بندګانو د حقونو) په دے کښې به حقدار ته ضرور حق ورکولے شي. د الله تعالیٰ خوښه ده چه د هغې چا ته ئے واخلي چه د چا په ذمه وي يا د هغهٔ معاف کول اُوغواړي، نو د خپل طرفه به ورکړي. دريم عدالت د حُقوق الله دا د الله تعالیٰ د خپلو حقونو دے. په دے کښې به د بخشش دروازے پرانستلے شي په دے وجه دا پوهيدل ضروري دي چه د خپلو عملونو سزا ګانے خو دا دي، کوم چه حديثونو کښې راغلي دي، خو د شهنشاه رحم د دے نه اُوچت دے. د دے نه علاوه نور هم بعضِ قسمه عذابونه او ثوابونه حديثونو کښې راغلي دي.

د بخاري شريف په يو حديث کښې دي چه د نبي اکرم ﷺ معمول وُو چه د سحر د مانځه نه پس به ئے د اصحابو کرامو نه پوښتنه کوله، چه چا څهٔ خوب ليدلے دے؟ کهٔ چا به ليدلے وُو نو بيان به ئے کړو. نبي ﷺ به د هغې تعبير او معنیٰ ارشاد اوفرمايله. يو وارے نبي عليه الصلوٰة والسلام د معمول مطابق پوښتنه اوکړه، د دے نه پس ئے ارشاد اُوفرمايهٔ چه ما يو خوب ليدلے دے چه دوه کسان راغلل او زهٔ ئے ځان سره بوتلم. د دے نه پس ئے پېر اُوږد خوب بيان کړو، چه په هغې کښې ئے جنت دوزخ او په هغې کښې مختلف قسمه عذابونو کښې خلق اُوليدل. د هغې ټولو نه ئے په هغې کښې يو کس اُوليدهٔ چه د هغهٔ سر په کا نړي چيچنړي کولے شو، او په دومره زور سره به ئے په کا نړي ويشتو،

Maktaba Tul Ishaat.com

چه هغه کاڼړے په ارغړیپلے لرے پریوتۀ، په دومره وخت کښې چه هغه کاڼړے په ئے را اُوچت کړۀ، نوسر به ئے بیا هغسے دړومبی په شان روغ شو. نو ده یم وارے به په زوره په کاڼړی اُووهلے شو. دغسے به هغهٔ سره معامله کیدله. نبی علیه السلام د خپلو دوارو ملګرو نه تپوس اوکړو، چه دا څوک دے؟ نو هغوی ورته اُووے، چه دے کس قرآن شریف ویلے وُو او هغه ئے پریخے وُو. او فرض مونځ به ئے پرېخودهٔ اُودهٔ به شو. یو بل حدیث کښې دد ے قسمه یو بله قصه ده چه په هغے کښې دی چه نبی علیه السلام یو ے ډلے سره دا معامله اُولیدله، نو حضرت جبریل علیه السلام نه ئے پوښتنه اُوکړه هغهٔ ورته اُوویل چه دا هغه خلق دی چه په مانځه کښې به ئے سُستی کوله. (ترغیب)

مُجاهد رحمة الله علیه وائی چه کوم خلق د مونځونو د وختونو معلومولو خیال ساتی، په هغوی کښې به داسے برکت وی څنګه چه په ابراهیم علیه السلام او د هغهٔ په اولاد کښې وُو. (درمنثور)

حضرت انس رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه څوک د دُنیا نه په داسے حالت کښې لاړو، چه په اخلاص سره ایمان لری، عبادت کوی، مونځ کوی، زکٰوة ادا کوی، نو هغه به په داسے حالت کښې د دُنیا نه رُخصتیږی چه الله جل شانهٔ به د دهٔ نه راضی وی. (درمنثور)

حضرت انس رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه د الله جل شانه د ارشاد نقل کوی، چه زهٔ یو ځلے ته د عذاب لیږلو اراده اوکړم، خو هلته داسے خلق اُوینم چه جُماتونه آبادوی، د الله تعالیٰ د رضا د پاره خپل مینځ کښې محبت ساتی، په اخره شپه کښې استغفار کوی (یعنی د الله تعالیٰ نه بخښنه غواړی) نو عذاب بند کړم. (درمنثور)

حضرت ابو الدرداء رضی الله عنه حضرت سلمان رضی الله عنه ته یو خط اُولیکهٔ په هغے کښې ئے ورته اُولیکل، چه په جُمات کښې اکثر وخت تیرَوه. ما د نبی علیه السلام نه اوریدلی دی چه جُمات د متقی کور دے. او الله جلّ شانهٔ د دے وعده کړے ده چه څوک په جُمات کښې ډیر اُوسی په هغهٔ به رحم کوم او هغهٔ ته به آرام ورکوم، او په قیامت کښې به د پُلِ صراط لاره ورته آسانه کړم، او خپله رضا به ورنصیب کړم.

حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه چا ته د الله تعالیٰ کوروته دی، او کورته درا تلونکو اکرام کول پی شی، نو په الله تعالیٰ باندے ددوی اکرام ضروری دے څوك چه په جما تونو کښ حاضریږی.

حضرت ابوسعید خُدری رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه څوك د جُمات سره محبت ساتی، الله جلّ شانهٗ هغهٔ سره محبت ساتی.

حضرت ابوهریره رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه کله مړے په قبر کښ کیخودلے شی، نوکوم خلق چه قبر پورے ورسره تللی وُو، هغوی لا واپس شوی نهٔ وی، چه فرښتے د هغهٔ د امتحان د پاره راشی دغه وخت کهٔ چرے هغه مؤمن دے، نو مونځ د هغهٔ سرته نزدے شی او زکوٰة ښی طرف ته او روژه کس طرف ته، او باقی ټومره د نیکیٔ کار ونه وی، هغه خپو طرف ته شی، او د هر طرفه د دهٔ نه چاپیره شی، چه هغهٔ ته نزدے څوك نهٔ شی ور رسیدے، فرښتے لرے اودریږی او سوال ترے کوی. (درِ منثور)

یو صحابی رضی الله عنه ارشاد فرمائی چه کله به د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په کورو الو د خرڅه تنکسیا وه، نو نبی علیه السلام به ورته د مانځه حکم کولو او دا آیت به یے تلاوت اُوفرمایه. وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى (سورة طٰهٰ) خپل کورو الو ته د مانځه حکم کوئ، او په خپله هم دے اِهتمام کوئ، مونږ له تا نه روزی کټل نهٔ غواړو، روزی خو به مونږ تا ته درکوُو، او بهترین انجام خو د پرهیزګاری دے.

حضرت اسماء رضی الله عنها فرمائی، ما د نبی علیه السلام نه واورېدل چه د قیامت په ورځ به ټول خلق یو ځائی کښ جمع دی او فرښته چه کوم آواز کوی، ټول به یے آوری هغه وخت به اِعلان اُوشی، کوم دی هغه خلق چه خوشالئ او تکلیف کښ په هر حال کښ بے د الله تعالیٰ حمد (ثنا) کوله، دا چه واوری یوه ډله به راپاسی، او بے حسابه کتابه به جنت کښ داخله شی. بیا به اِعلان اُوشی کوم دی هغه خلق چه په شپو کښ به عبادت کښ مشغول اُوسیدل، او د هغوی اړخونه به د بسترونه لرے وُو. بیا به یوه ډله راپاسی او بے حسابه کتابه به جنت کښ داخله کړے شی. بیا به اِعلان اُوشی کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

دی هغه خلق چه هغوی په تجارت، اخستلو خرڅولو د الله تعالیٰ د ذکر نه نهٔ غافله کوَل. بیا به یوه ډله راپاسی، او بے حسابه کتابه به جنت کښ داخله کړے شی. یو بل حدیث کښ هم دا قصه راغلے ده په هغے کښ دا هم دی چه اعلان به وُشی، تن به د محشر خلق اُووینی چه کریم (سخیان) خلق څوك دی او اعلان به اُوشی کوم دی هغه خلق چه تجارتی مشغولتیا به هغوی د الله تعالیٰ د ذکر او د مانځه نه نهٔ منع کوَل. (درمنثور)

شیخ نصر سمرقندی رحمة الله علیه (کتاب) تنبیه الغافلین کښ هم دا حدیث لیکلے دے، دے نه پس یے لیکلی دی چه کله دا حضرات بے حسابه کتابه خلاص شی نو دوزخ نه به یو اُوږد دستے راښکاره شی، او د خلقو د پاسه به راشی، په هغهٔ کښ به دوه ځلیدونکے سترگے وی، او ډیره فصیحه ژبه به یے وی چه صفا واضحه خبرے به کوی، هغه به وائی، زهٔ په هر هغه چا مقرریم، چه څوك کبرژن بد مزاجه وی، او د مجمع نه به دغه خلق دا سے راټول کړی لکه څنگه چه مارغه دانے راټولوی، دا ټول چه راغونډ کړی، نو دوزخ کښ به یے اُوغورزَوی. دے نه پس به بیا هغه شان دویم وارے راؤزی او وائی به اُوس زهٔ په هر هغه چا باندے مقرریم، چه چا الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول صلی الله علیه وسلم ته تکلیف رسَوَلے وی. دغه خلق به هُم د مجمع نه راټول کړی او بو به یے زی. دے نه پس به دریم وارے بیا راؤزی او دا وارے به تصویرونو والا راټول کړی اَو بو به یے زی. دے نه پس چه کله د دے دریو وارو قسمونو خلق د مجمع نه خلاص شی، نو حساب کتاب به شروع شی.

وائی چه پخوا زمانه کښ به شیطان خلقو لیدهٔ، یو صاحب ورته اُووے چه څهٔ دا سے طریقه راته اُوښایه چه زهٔ هم ستا په شان شم. شیطان اُووئیل، چه دا سے غوښتنه خو تر ننه پورے ما نه هیچا نهٔ ده کړے. تا ته د دے څهٔ ضرورت پیښ شو. هغهٔ اُووے زما زړهٔ غواړی. شیطان اُووئیل د دے طریقه دا ده چه په مانځه کښ سُستی کوه، او قَسَم خوړلو کښ هیڅ قِسمه پرواه مهٔ کوه، دروغ ریښتیا هر رنگه قسمونه خوره. هغې صاحب اُووے چه زهٔ الله تعالیٰ سره وعده کوَم چه هیڅ کله به مونځ پرے نږدم.

او هیڅکله به قسَم اُونخورم. شیطان اُوویل چه تا نه سوا مانه په چَل سره چا څۀ نۀ دی اَخستی، ما هم لوظ اوکړو چه چا ته به هیڅکله نصیحت نۀ کوم.

حضرت اُبَیّ رضی الله عنه وائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد اُوفرمایۀ چه دے اُمت ته دا اُوچتوالی او د عزت او د دین د ترقئ زیرے ورکړه، خو چه څوك د دین څۀ کار د دُنیا د پاره اُوکړی اٰخرت کښې د هغۀ هیڅ حصه نشته. (ترغیب)

یو حدیث کښې راغلی دی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد اُوفرمایۀ چه ما د الله جلّ شانهٗ په بهترین حالت کښې زیارت اُوکړو. ما ته اِرشاد اُوشو چه محمّدﷺ! مَلَاِ اعلیٰ والا یعنی فرښتے په څۀ څیز کښې جهګړه کوی. ما عرض اوکړو ما ته خو علم نشته. نو الله جلّ شانهٗ خپل لاس مبارك زما په سینه باندِ کیخودۀ چه د هغے یخوالے د سینے د ننه پورے محسوس شو، او د هغے په برکت سره ټول عالَم په ما باندے ښکاره شو. بیا یے ما ته اِرشاد اُوفرمایۀ. اُوس اُوښایه فرښتے په څۀ څیز کښې جهګړه کوی؟ ما عرض اوکړو، درجے اُوچتونکو څیزونو کښې. او په هغے څیزونو کښې چه د ګناهونو کفاره کیږی، او د جَمع د مانځه طرف ته چه کوم قدمونه اُوچتیږی د هغے په ثواب کښې، او د یخنئ په وخت او دس په ښۀ شان سره د کولو فضیلتونو کښې، او د یو مونځ نه پس بل مونځ پورے انتظار کښې کیناستلو په فضیلت کښې. څوك چه د دے اِهتمام کوی، په بهترین حالت کښې به ژوند تیروی، او په بهترین حالت کښې به مری.

په ګڼړو حدیثونو کښې راغلی دی چه الله جلّ شانهٗ اِرشاد فرمائی، اَے د اٰدم ځویه! ته د وُرځے په شروع کښې زما د پاره څلور رکعته مونځ کوه، څۀ به ستا د ټولے ورځے کارونه جوړوم.

تنبیه الغافلین کښې یو حدیث لیکلے دے چه مونځ د الله تعالیٰ د رضا سبب دے. د فرښتو محبوب څیز دے. د انبیاء علیهم السلام سنت دے. د دے سره د الله تعالیٰ د پیژند ګلو رڼا پیدا کیږی. دُعا پرے قبلیږی. په رزق کښې پرے برکت کیږی. د ایمان جرړه ده. د بدن راحت دے، د دُشمن خلاف وَسله ده، د مونځګذار د پاره سفارشی دے. قبر کښې ډیوه ده. او د قبر په ویره کښې زړۀ مشغولونکے دے. د منکر نکیر د سوال جواب دے. او د قیامت

Maktaba Tul Ishaat.com

په غرمو کښې سورے دے - او په تیارهٔ کښې رڼړاده - د دوزخ د اور د پاره پرده ده - د عملونو د تلے د روند والے دے - پُلِ صراط باندے په چلتئ سره تیر وتکے دے - د جنت کنجی ده -

حافظ ابن حجر رحمة الله علیه په مُنبّهات کښې د حضرت عثمان غنی رضی الله عنه نه نقل کړیدی چه څوك د مونځ حفاظت کوی، د وختونو پابندئ سره د دے اهتمام کوی الله جل شانهٔ نهو څیزونو سره د هغهٔ اِکرام کوی - اَوّل دا چه هغه خپل محبوب جوړوی - دوئیم ورته تندرستی ورکوی - دریم فرښتے د هغهٔ حفاظت کوی - څلورم د هغهٔ په کور کښې برکت اَچوی - پنځم د هغهٔ په مخ کښې د نیکانو رڼړا ښکاری - شپږم د هغهٔ زړهٔ نرموی - اُوم هغه به په پُلِ صراط باندے د بجلئ په شان تیریږی - اَتم د دوزخ نه خلاصے ورکوی - نهم جنت کښې به د داسے خلقو ګاونډ ورته نصیب شی چه د هغوی په باره کښې لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ه الاٰية راغلے دے "یعنی قیامت کښې به نهٔ هغوی ته څهٔ ویره وی، او نهٔ به دوی غمژن وی"

د نبی کریم صلی الله علیه وسلم اِرشاد دے چه مونځ د دین ستن ده، او په دے کښې لس صفتونه دی - د مخ رونق دے - د زړهٔ رڼړاده - د بدن د راحت او د تندرستئ سبب دے - قبر کښې اُنس یعنی مینه کوونکے دے - د الله تعالیٰ د رحمت د نازلیدو ذریعه ده - د آسمان کنجی ده د عملونو د تلے وزن دے (چه په دے سره به د نیکو عملونو چابړے درنیږی) د الله تعالیٰ د رضا سبب دے - د جنت قیمت دے او د دوزخ نه پرده ده - چا چه دا (مونځ) قائم کړهٔ هغهٔ دین قائم اُساتهٔ - او چا چه دا پریخودهٔ، خپل دین ئے اُونړولو - (منبهات ابن حجر)

یو حدیث کښې راغلی دی چه په کور کښې مونځ کول رڼړاده په مونځ سره خپل کورونه روښانه کوئ (جامع الصغیر) او دا خو مشهور حدیث دے چه زما اُمت به د قیامت په ورځ د اودس او د سجدے په وجه روښانه لاس خپو والا، روښانه مخ والا وی، په دے نښه به د نورو اُمتونو نه پیژندلے شی -

یو حدیث کښې راغلی دی چه کله د آسمان نه څهٔ بلا آفت نازلیږی، نو د جُماتونو آبادؤنکو نه لرے کوُلے شی - (جامع الصغیر)

په کنزو حدیثونو کښې راغلي دي چه الله تعالیٰ په دوزخ باندې حرام کړي دي چه د سجدې نښې اُوسوزوي (یعنې که څوک د بدو عملونو په وجه هغه دوزخ کښې داخل هم شي، نو د سجدې نښه چه په کوم ځائ وي په هغه ځائ به اور اثر نهٔ کوي). په یو حدیث کښې دي چه مونځ د شیطان مخ تور روي، او صدقه (خیرات) د هغهٔ ملا ماتوي. (ایضًا) یو ځائ ارشاد دے چه مونځ شِفاده ایضًا بل ځائ کښې یې د دے متعلق یو قصه نقل کړے ده، چه حضرت ابوهریره رضی الله عنه یو وارے پړمخے پروت وو. نبي علیه الصلوٰة والسلام ترے پوښتنه اوکړه، ولے ګیډه کښې درد دے؟ عرض یې اُوکړو اوجي. ورته یې اُوفرمایل پاسه مونځ اوکړه په مانځه کښې شِفاده. (ابن کثیر)

نبي اکرم صلی الله علیه وسلم یو وارے جنت په خوب کښې اُولیدهٔ، نو د حضرت بلال رضی الله عنه دینړو د راښکلو اوازیې واورېدهٔ. سحر ترے نبي علیه الصلوٰة والسلام تپوس اوکړو، چه ستا هغه خاص عمل څهٔ دے چه د هغې په وجه سره جنت کښې هم ته (د دُنیا په شان) ما سره تلے. عرض یې اوکړو چه شپه اوورځ کښې کوم وخت چه زما اودس مات شي نو اودس کوم، د هغې نه پس د (تحیة الوضوء) مونځ خومره چه مُقدّر وي کومه. (فتح)

سَفِیري رحمة الله علیه ویلي دي چه د سحر مونځ پرېخودونکي ته ملائکې وائي، اے فاجره! او د ماسپخین مونځ پرېخودونکي ته اے خاسره! (نقصان والا-) او د مازیګر مونځ پرېخودونکي ته عاصي. او د ماښام مونځ پرېخودونکي ته کافره. او د ماسخوتن مونځ پرېخودونکي ته وائي اے مُضَیِّع (د الله تعالیٰ حق ضائع کوونکیه)! (غالیة المواعظ)

علامه شعراني رحمة الله علیه فرمائي چه په دے خبره ځان پوهول پکار دي چه مصیبت د هغې ابادئ نه لرے کولے شي چه د کوم ځائ خلق مونځګذار وي ځنګه چه په هر هغې ابادئ نازلیږي د کوم ځائ خلق چه بیلمازه وي. داسے ځایونو باندے د زلزلو راتلل، د اسماني بجلئ غورزیدل، او د مکانونو نخیدل هیڅ هم لرے نهٔ ده. او څوک دې دا خیال نهٔ کوي، چه زهٔ خو مونځګذار یم، زما د نورو سره څهٔ کار دے. خو چه کله بلا نازلیږي، نو

Maktaba Tul Ishaat.com

عامه وي. حدیث شریف کښ راغلي دي چه چاسوال اوکړو چه مونځ خلق په داسے حالت کښ هلاکیدے شو چه مونځ کښ نیکان موجود وي؟ نبي علیه الصلاة والسلام ارشاد اُوفرمایۀ او- کله چه خباثت غالب شي ځکه چه دده په ذمه داهم ضروري ده چه دخپل وَس موافق نورهم دبد رته منع کړي اود ښو خبرو رته حکم کوي. (اتحاف)

(۸) رُوِيَ اَنَّهٗ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ قَالَ مَنْ تَرَكَ الصَّلٰوةَ حَتّٰى مَضٰى وَقْتُهَا ثُمَّ قَضٰى عُذِّبَ فِى النَّارِ حُقْبًا وَالْحُقْبُ ثَمَانُوْنَ سَنَةً وَالسَّنَةُ ثَلٰثُ مِائَةٍ وَّسِتُّوْنَ يَوْمًا كُلُّ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ اَلْفَ سَنَةٍ.

كذا في مجالس الابرار قلت لم اجده في ما عندي من كتب الحديث الا ان مجالس الابرار مدحه شيخ مشائخنا الشاه عبدالعزيز

دنبي اکرم ﷺ نه نقل کړے شوے دے، چه څوک مونځ قضا کړي، اګرچه هغه بیا روستو اُوکړي، بیا هم په خپل وخت د نۀ کولو په وجه سره به یوحُقب په دوزخ کښ سوزي. اودحُقب مقدار د اَتیاؤ کالو دے، اویوکال د درے سوه شپیتۀ ورځو. اودقیامت یوه ورځ به د زرو کالو برابره وي (په دے حساب سره د یو حُقب مقدار دوه کروړه اتۀ اتیا لکهه کاله (۲۸۸۰۰۰۰۰) شو.)

الدهلوي ثم قال الراغب في قوله تعالى لابثين فيها احقابا قيل جمع الحقب اى الدهر قيل والحقبة ثمانون عاما والصحيح ان الحقبة مدة من الزمان مبهمة واخرج ابن كثير في تفسير قوله تعالى فويل للمصلين الذين هم عن صلاتهم ساهون عن ابن عباس ان في جهنم واديا تستعيذ جهنم من ذلك الوادي في كل يوم اربع مائة مرة اعد ذلك الوادي للمرائين من امة محمد الحديث وذكر ابو الليث السمرقندي في قرة العيون عن ابن عباس وهو مسكن من يؤخر الصلوة عن وقتها. وعن سعد بن ابي وقاص مرفوعا الذين هم عن صلاتهم ساهون قال هم الذين يؤخرون الصلوة عن وقتها وصحح الحاكم والبيهقي وقفه واخرج الحاكم عبدالله في قوله تعالى فسوف يلقون غيا. قال واد في جهنم بعيد القعر خبيث الطعم وقال صحيح الاسناد)

فائده: دحُقب معنیٰ په لُغت کښ د ډیرے زیاتے زمانے ده. ډیرو حدیثونو کښ د دے مقدار هم راغلے دے کوم چه پره تیرشو یعني اَتیا کاله. دُرِ منثور کښ ذکرشوو روایتونو نه هم دغه مقدار نقل دے. حضرت علي رضي الله عنه دهلال هجري رحمة الله عليه نه پوښتنه اوکړه چه دحُقب څۀ مقدار دے؟ هغۀ

اُووے چه حُقب د اتیاؤ کالو وی، او هر یو کال د دولسو میاشتو، او هره میاشت د دیرشو ورځو، او هره ورځ د زرو کالو. حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه هم په صحیح روایت سره اتیا کاله نقل دی. حضرت ابوهریره رضی الله عنه په خپله د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه هم دا نقل کړے دے چه یو حُقب د اتیاؤ کالو وی او یو کال درے سوه شپیته ورځے او یوه ورځ ستا سو د ورځو په حساب سره ربعنی د دُنیا موافق) د زرو کالو برابره ده. هم دا مضمون حضرت عبد الله بن عُمر رضی الله عنه د نبی علیه الصلوٰة والسلام نه نقل کړے دے. د دے نه پس حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه فرمائی، په دے اُمید چه د ایمان په وجه به د دوزخ نه آخر خو اُوزو، بیفکره کیدل نه دی پکار. دومره کلونه یعنی دوه کروړه اته اتیا لاکهه کاله سوزیدو نه پس به وتل وی، هغه به هم هله چه څه یله گناه د زیاتو باتے کیدونه وی. دے نه علاوه نور هم څهٔ مقدار دے نه کم و زیات حدیث کښ راغلی دے اول خو دا پورتنے مقدار خو حدیثونو کښ راغلی دے، په دے وجه دا اولتے صحیح دے. دویم دا هم کیدے شی چه د خلقو د اعتبار په حالت سره کم زیاتے وی.

اَبُو اللیث سمرقندی رحمۃ الله علیه قُرّة العیون کښ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کړے دے چه څوك یو فرض مونځ په قصد سره پریږدی د هغهٔ نوم د دوزخ په دروازه اُولیکلے شی، او دهٔ ته به هغے کښ ننوتل ضروری دی. او د حضرت ابنِ عباس رضی الله عنه نه یے نقل کړے دے چه یو ځل نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد اُوفرمایهٔ، دا اُوایئ چه اے الله امونږ کښ څوك شقی (بد بخته) محروم مهٔ کړے. بیا یے اُوفرمایل، پیژنئ، شقی محروم څوك دے؟ د صحابو رضی الله عنهم په تپوس بیے ارشاد اُوفرمایهٔ چه شقی محروم مونځ پریخودونکے دے. د دهٔ هیڅ حصه اِسلام کښ نشته.

یو حدیث کښ دی چه قصداً ابے عذره مونځ پریخودونکی طرف ته به الله جلّ شانهٔ په قیامت کښ توجُه نهٔ کوی، او دردناك عذاب به ورته ورکولے شی. یو حدیث نه یے نقل کړے دے چه لسو کسانو ته به خاص طور سره عذاب کیږی، د هغے نه یو لونه مونځ پریخودونکے هم دے چه د دهٔ لاسونه به تړلے شوی وی، او فرښتے به یے په مخ او په شا وهی. جنت به ورته وائی چه زما ستا هیڅ تعلق نشته، نهٔ زهٔ ستا دپاره یم، نهٔ ته زما دپاره یے. دوزخ به ورته وائی

Maktaba Tul Ishaat.com

چه راشله ته ئې زما د پاره يې، زهٔ ستا د پاره يم. د لئې هم نقل کړې دی، چه په دوزخ کښې يو وادی (ځنګل) دے چه دهغې نوم لَمْلَم دے، په هغې کښې ماران دی چه د اوښ د څټ په برابرۍ غټ دی، او د هغې اوږدوالے د يو مياشتې د فاصلې برابر دے، په هغې کښې په بيلمازانو ته عذاب ورکولے شي.

يو بل حديث کښې دی چه يو ميدان دے چه د هغې نوم جُبُّ الْحَزَن دے، هغه د لړمانانو کور دے، او هر يو لړم د قچرې برابرلوئ دے، هغه هم د بيلمازانو د چيچلو د پاره دے. البته که مولائے کريم معاف اوکړی نو بيا بل خبره ده، خو چه څوک معافی غوختونکے هم وی کنه.

ابن حجر رحمة الله عليه (کتاب) زواجر کښې ليکلی دی چه يوه زنانه مړه شوې وه، د هغې رور په دفن کښې شريک وو. اتفاقاً يوه تهيلئ دفن کولو کښې قبر کښې پريوتله، هغه وخت يې خيال نهٔ شو، روستو ورته ياده شوه نو ډير خفه شو، اراده يې اوکړه چه په پټه به قبر پرانزم، او راوبه يې باسم، قبر چه يې پرانسته، نو هغه داور د لمبو نه ډک وو. په ژړا مور له راغے او حال يې ورته بيان کړو، او تپوس يې ترے اوکړو چه داخه خبره ده؟ مور ورته اُووے، چه هغې به په مانځه کښې سستی کوله، او قضا کوله به يې. اَعَاذَنَا اللّٰهُ مِنْهَا

⑨ عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم لَا سَهْمَ فِى الْاِسْلَامِ لِمَنْ لَّا صَلٰوةَ لَهٗ وَلَا صَلٰوةَ لِمَنْ لَّا وُضُوْءَ لَهٗ.

اخرجه البزار واخرج الحاكم عن عائشة مرفوعاً وصححه ثلث احلف عليهن لا يجعل الله من له سهم في الاسلام كمن لا سهم له و

د نبی اکرم صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارک دے، چه اسلام کښې هيڅ حصه نشته د هغه کس چه څوک مونځ نهٔ کوی او بے اودسه مونځ نهٔ کيږی. بل حديث کښې دی چه دين بے مونځه نشته، مونځ د دين د پاره داسې دے لکه څنګه چه د سړی د بدن د پاره سر وی.

سهام الاسلام الصوم والصلوٰة والصدقة الحديث واخرج الطبرانی فی الاوسط عن ابن عمر مرفوعاً لادين لمن لاصلوٰة له انما موضع الصلوٰة من الدين كموضع الراس من الجسد كذا في الدر المنثور

فائده: کوم خلق چه مونځ نهٔ کوی او ځان ته مسلمانان وائی، يا د اسلامی غيرت اوږدے دعوے کوی، هغوی دِ د نبی کريم صلى الله عليه وسلم په

دے اِرشاد اتولو غور اُوکړی، او دَ کومو بزرګانو دَ کامیابو ته درسیدَو خوبونه وینی، دهغوی دحالاتو دِهم تحقیق اوکړی، چه هغوی دین څومره په مضبوطیا سره نیولے وو، بیا په دُنیا دهغوی قدمونه ولے نه شکول.

دحضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه په سترګه کښ اُوبه راغلے، خلقو ورته عرض اوکړو چه ددے علاج خوکیدلے شی، خو څو ورځے به مونځ نه شی کولے وے فرمایل چه دا نه شی کیدے. ما دنبی علیه السلام نه اوریدلی دی، چه څوک مونځ نه کوی، هغه به الله جل شانهٔ ته په داسے حالت کښ حاضریږی چه الله جلّ شانه به په دهٔ ناراضه وی. په یو حدیث کښ راغلی دی چه خلقو اُوو ے چه پنځه ورځے به په لرګی سجده کول وی، وے فرمایل چه یو رکعت به هم داسے اُونهٔ کړم، ټول عمر په روند والی صبر کول دے حضراتو ته دمونځ پرېخودو نه آسانه وه، حال دا چه ددے عذر په وجه په لرګی سجده کا جائز هم وه. حضرت عُمَر رضی الله عنه په آخری زمانه کښ کله چه په نیزه اُووهلے شو، نو هر وخت به ترے وینه جاری وه. او اکثر وختونو کښ به بے هوشه وو، تردے چه هم په دغے بیهوشئ کښ وفات شو، خو دبیمارئ په دے ورځو کښ به چه کله دمانځه وخت شو نو بیدار کړلے به شو، او دمونځ درخواست به ورته کولے شو هغهٔ به په دے حالت کښ مونځ اَدا کولو، او دا به یئے فرمایل چه آو، آو، ضرور. څوک چه مونځ نهٔ کوی، اِسلام کښ دهغهٔ هیڅ حصه نشته. مونږه دمریض خیرخواهی او راحت په دے کښ ګنړو چه هغهٔ ته دمونځ تکلیف ورنکړو، روستو به قدیه ورکړو. او ددغے حضراتو په نزد خیرخواهی دا وه چه کوم عبادت هم څرنګے کولے شو اِیله پرے اُونکړے شی. ؎

بہین تفاوتِ رہ از کجا است تا بہ کجا

اوګوره! فرق دلارے دکوم ځائے نه ترکومے پورے دے

حضرت علی رضی الله عنه یو ځلے دنبی کریم صلی الله علیه وسلم نه یو خادم اوغوښتلو، چه په کاروبار کښ مدد اوکړی. نبی علیه السلام اُوفرمایل چه دا درے غُلامان دی کوم چه دِخوښ وی واخله. هغوی عرض اوکړو. تاسو راله خوښ کړئ. نبی علیه السلام دیو کس باره کښ اُوفرمایل چه دا واخله، خو دا مونځ کن اردے. وَهَه

Maktaba Tul Ishaat.com

یې مه. مونځ د مونځګذار او دوهلو ته منع کړې شوی یو. د دې قسمه واقعه یو بل صحابي أبُو الهَیثم رضي الله عنه سره هم شوې ده، دوی هم د نبي علیه الصلاة والسلام نه غلام غوختلې وو. د دې مقابله کښې زمونږ نوکر که مونځګذار رشي، نو مونږ هغه ملامته کوو، او د نا پوهئ نه د هغه په مانځه کښې خپل نقصان ګڼړو.

حضرت سُفیان ثوري رحمة الله علیه باندې یو ځلې د حال غلبه اُوشوه، نو اُوو ورځو پورې کور کښې وُو، نه یې څه خوړل نه یې څکل، نه اُوده کیده، شیخ ته د دې خبر ورکړې شو، پوښتنه یې اُوکړه چه د مونځ وختونه یې محفوظ وي؟ (یعني د مانځه د وختونو خو ورته اِهتمام وي) خلقو عرض اُوکړو چه د مانځه وختونه یې بې شکه محفوظ دي. وې فرمایل اَلحَمدُ لِلّٰهِ الَّذِي لَمْ یَجْعَلْ لِلشَّیْطٰنِ عَلَیْهِ سَبِیْلًا ط ټول تعریفونه هغې الله تعالیٰ د پاره دي چه شیطان یې په هغه باندې غالب کولو ته پرې نخوده. (بهجة النفوس)

دویم باب

د جماعت (یعني د جمع مونځ) په بیان کښې

څنګه چه د رسالې په شروع کښې لیکلې شوي دي، چه ډیر حضرات مونځ کوي خو د جمع اهتمام نۀ کوي. حالانکه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم نه څنګه چه د مانځه باره کښې سخت تاکید راغلې دې، دغسې د جمع په باره کښې هم ډیر تاکیدونه راغلي دي. په دې باب کښې هم دوه فصله دي.

اول فصل: د جمع په فضائلو کښې.

دویم فصل: د جمع پرېښودو په سزا ګانو کښې.

اول فصل د جمع په فضائلو کښې

(۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ صَلوٰةُ

د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد مبارک دې چه د جمع مونځ د ځان له مونځ نه اُووېشت

اَلْجَمَاعَةِ اَفْضَلُ مِنْ صَلٰوةِ | درجے زیاتیږی۔
الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَّعِشْرِیْنَ دَرَجَةً (رواه مالك والبخاری ومسلم والترمذی والنسائی کذا فی الترغیب)

فائدہ: هر کله چه سړے موټ کوی او د ثواب په نیت یے کوی، نو معمولی غونډے خبره ده چه په کور کښ ئے نه کوی، جماعت ته دِ لاړ شی دجمع سره دِ اُوکړی، چه نه په کښ څه مشقت شته او نه تکلیف، او دومره لوئ ثواب پرے حاصلیږی۔ څوک به داسے وی چا ته چه دیوے روپئ اُویشت یا آته ویشت روپئ ملاویږی، او هغه دا پریږدی۔ خو دین په څیزونو کښ دومره لوئ فائدے نه هم بے توجهی کولے شی۔ د دے وجه د دے نه سِواڅهٔ کیدے شی چه مونږ خلقو سره د دین پرواه نشته۔ د دے فائده زمونږ خلقو په نظر کښ اړو فائده نه ښکاری۔ د دُنیا تجارت چه په هغے کښ یوه آنه دوه آنے په روپئ کښ نفع وی، هغے پسے ټوله ورځ سرګردانه ګرزو، د آخرت تجارت چه په کښ اُویشت چنداه نفع ده هغه زمونږ دپاره مصیبت دے۔ دجمع دمانځه دپاره په تلو کښ د دوکان نقصان ګڼړلے شی دو تک هم نقصان خودلے شی، د دوکان بندیدو لو خطره هم ویلے شی خو خود کومو خلقو په نزد چه د الله جل شانه عظمت دے د الله تعالیٰ په وعدو هغوی ته تسلی ده، دهغه داجر و ثواب څه قیمت دے، نو دهغوی په نزد دا عبث عذرونه هم حیثیت نه لری۔ هم د داسے خلقو الله جل شانهٔ په قران پاك کښ صفت کړے دے۔ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ الآیة د دریم باب په شروع کښ پوره آیت سره د ترجمے موجود دے، او د صحابو کرامو رضی الله عنهم اجمعین چه کوم عادت د آذان نه پس دخپل تجارت سره وُو هغه د حکایاتِ صحابه په پنځم باب (اتمه قصه) کښ مختصر طور تیر شوے دے۔

سالم حداد رحمة الله علیه یو بزرګ وُو تجارت یے کولو۔ کله چه به یے اذان واوریدهٔ، نو رنګ به یے بدل شو، تک زیړ به شو، بے قراره به شو، دوکان به یے پرانستلے پریخودو، پاپه سیدو، او دا شعرونه به یے ویل۔

اِذَا مَا دَعَا دَاعِیْکُمْ قُمْتُ مُسْرِعًا ∴ مُجِیْبًا لِمَوْلٰی جَلَّ لَیْسَ لَهٗ مِثْلُ

کله چه ستا آذان کونکے دبلنے دپاره اُودریږی، نو زهٔ زر اودریږم د داسے

Maktaba Tul Ishaat.com

مالك پلنے قبلولو د پاره چه دهغهٔ لوئ شان دے دهغهٔ خولهٔ مثل نشته۔

اُجِيْبُ إِذَا نَادٰى بِسَمْعٍ وَّطَاعَةٍ ؛ وَبِيْ نَشْوَةٌ لَبَّيْكَ يَا مَنْ لَّهُ الْفَضْلُ

کله چه ستا مؤذن بلل کوی نو زهٔ د تا نګئ په حالت کښ اطاعت او فرمانبردارئ سره جواب کښ وایم چه اے دفضل او بزرګئ والا لبیك یعنی زهٔ حاضریم۔

وَيَصْفَرُّ لَوْنِيْ خِيْفَةً وَّمَهَابَةً ؛ وَيَرْجِعُ لِيْ عَنْ كُلِّ شُغْلٍ بِهٖ شُغْلُ

او زما رنګ د ویرے او دهیبت نه زیړ شی او دهغے پاك ذات مشغولی ما دهر یو کار نه بے خبره کړی۔

وَحَقِّكُمْ مَا لَذَّ لِيْ غَيْرُ ذِكْرِكُمْ ؛ وَذِكْرُ سِوَاكُمْ فِيْ فَمِيْ قَطُّ لَا يَحْلُوْ

ستا په حق م دِ قسم دی ستا د ذکر نه سِوا ما ته هیڅ څیز هم مزیدار نهٔ معلومیږی، او ستا نه سوا په هیڅ ذکر کښ هم ما ته مزه نه راځی۔

مَتٰى يَجْمَعُ الْاَيَّامُ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ؛ وَيَفْرَحُ مُشْتَاقٌ اِذَا جَمَعَ الشَّمْلُ

اوګوره! زمانه ما او تا سو کله جمع کوی، او مشتاق (عاشق) خـــو هله خوشالیږی چه کله ورته اِجتماع (دیار وصال) نصیب شی۔

فَمَنْ شَاهَدَتْ عَيْنَاهُ نُوْرَ جَمَالِكُمْ ؛ يَمُوْتُ اِشْتِيَاقًا نَحْوَكُمْ قَطُّ لَا يَسْلُوْ

د چا سترګو چه ستا د جمال نُور لیدلے دے ستا په شوق کښ به مړ شی خو هیڅ کله به بے تسلی اُونهٔ شی۔ (نزهة)

حدیث کښ راغلی دی، چه کوم خلق زیات وخت جُمات کښ تیروی دوی د جُمات موږی دی۔ فرښتے د دوی د نا ستے ملګری دی۔ که چرے دوی ناروغه شی، نو فرښتے ئے بیمارپرسی کوی۔ که چرے دوی کار ته لاړ شی نو فرښتے ئے اِمداد کوی۔ (حاکم)

(۲) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم صَلٰوةُ الرَّجُلِ فِیْ جَمَاعَةٍ تُضَعَّفُ عَلٰى صَلٰوتِهٖ فِیْ بَيْتِهٖ وَفِیْ سُوْقِهٖ خَمْسًا وَّعِشْرِيْنَ ضِعْفًا وَّذٰلِكَ اَنَّهٗ اِذَا تَوَضَّأَ

دنبی اکرم ﷺ ارشاد مبارك دے چه د سړی هغه مونځ چه جُمع سره اوکړی د هغے مونځ نه چه په کور یا بازار کښ کړے وی پنځویشت درجے اَلمضاعف کیږی خبره داده چه کله سړے اُودس اوکړی، اُو بنهٔ کامل اودس اوکړی، بیا جُمات ته

فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا الصَّلٰوةُ لَمْ يَخْطُ خُطْوَةً إِلَّا رُفِعَتْ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ وَّحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ فَإِذَا صَلّٰى لَمْ تَزَلِ الْمَلٰئِكَةُ تُصَلِّي عَلَيْهِ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ مَا لَمْ يُحْدِثْ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ وَلَا يَزَالُ فِي صَلٰوةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلٰوةَ۔ (رواه البخاري و اللفظ له ومسلم و ابوداؤد والترمذي وابن ماجة كذا في

صرف د مانځه په اراده سره ځي، څه بله اراده یې دے سره شامله نه وي، نو چه کوم قدم اخلي، د هغې په وجه یې یوه نیکي زیاتیږي، او ګناه یې معاف کیږي۔ بیا چه مونځ اوکړي او هم په هغه ځائ کیني، نو تر څو پورے چه په اودس کښ وي، فرښتے د دهٔ د پاره د مغفرت او رحمت دُعا ګانے کوي۔ او تر څو پورے چه سړے د مانځه په انتظار کښ اُوسي، هغه د مونځ ثواب مومي۔

فائده: په رومبي حدیث کښ اُوویشت درجے زیاتے خودلے شوے وے او په دے حدیث کښ پنځویشت درجے۔ دے دوارو حدیثونو کښ چه کوم اختلاف شوے دے، عالمانو د دے ډیر جوابونه لیکلي دي چه د حدیث په شرحو کښ موجود دي۔ د هغې تپولونه دا هم دے چه د مونځګذارو د حال د اختلاف په وجه سره دے۔ چه بعضو ته پنځویشت درجے زیاتے دے، او بعضو ته د اخلاص په وجه اُوویشت درجے زیاتے دے بعضے عالمانو د مونځ په اختلاف اندازه کړے دے چه پسري مونځونو کښ پنځویشت درجے دے، او جهري کښ اُوویشت دے۔ بعضو اُوویشت د ما سخوتن او سحر د پاره خودلے دے چه دے دوارو مونځونو ته تلل مشکل وي او پنځویشت په باقي مونځونو کښ دي۔ بعضو شرح کونکو لیکلي دي چه دے اُمت باندے د الله تعالیٰ له طرفه د نعمتونو باران زیاتیدلو، څنګه چه نور هم ډیر وځایونو کښ دا دے ظاهریدل شوي دي۔ له دے وجه نه اول پنځویشت درجے وُو، روستو ته اُوویشت شو۔ بعضے شرح کونکي په یوه عجیبه خبره پوهه شوي دي، هغوي وائي چه د دے حدیث ثواب د رومبي حدیث نه ډیر زیات دے، ځکه چه په دے حدیث کښ دا ارشا د نشته چه دا د پنځویشت درجے زیاتے دے، بلکه دا ارشا د دے چه پنځویشت درجے اَلْمُضَاعَف کیږي، چه د دے ترجمه

Maktaba Tul Ishaat.com

په دوچنده او دوه دوېره سره کيږي، يعنې پنځويشت څلوېرے دوچند دڅ
دويمثل اجرکيږي. په دے حالت کښې دجمع ديو موځ ثواب درے کروړ پنځه
ديرش لکهه څلورنځوس زره څلور سوه دوه ديرش (۳۳۵۵۴۴۳۲) درجے
شو- دالله جل شانهٔ درحمت نه دا ثواب څهٔ زيات نهٔ دے، چه هرکله
موځ پرېښودلو ګناه يوه حقبه ده کوم چه په رومبي باب کښې تير شو، نو د
کولو ثواب يے داکيدل هم ممکن دی. دے نه پس نبی ﷺ دے طرف
ته اشاره اُوکړه، چه داخو په خپله دفکر کولو خيز دے چه دجمع په مانځه
کښې څو مره قدر دے اجراو ثواب اوځه ځهٔ قسمه نيکۍ زياتيږي چه څوك
دکورنه اودس اوکړي. صرف دمانځه په نيت جُمات ته لاړشي، نو دهغهٔ
په هريو قدم يوه نيکي زياتيږي، اويوګناه يے معاف کيږي. بنو سلمه په
مدينه طيبه کښې يوه قبيله وه، دهغوی کورونه دجُمات نه لرے وُو هغوی
اراده اُوکړه، چه دجُمات نزدے په چرته مُنتقل (لاړ) شو. نبی ﷺ
ارشاد اُوفرمايلُ، هلته اُوسئ؛ ستاسو جمات ته دراتلو هريو قدم ليکلے شي
يو بل حديث کښې راغلی دی چه څوك دکورنه اودس اُوکړي، مانځه ته
لاړشي، هغه داسے دے لکه څنګه چه دکورنه إحرام اُوتړي حج ته لاړشي
دے نه پس نبی ﷺ يو بل فضيلت ته إشاره کوی چه کله څوك موځ
اوکړي، نو دے نه پس ترڅو پورے چه دمانځه په ځائے ناست وی نو فرښتے
دهٔ دپاره دمغفرت او درحمت دُعا ګانے کوی. فرښتے دالله تعالیٰ مقبول او
ګناه نه پاك مخلوق دے، دهغوی دُعا برکتونه په خپله ښکاره دی.

محمد بن سماعه رحمته الله عليه يو بزرګ عالِم دے چه دامام ابو يوسف اود
امام محمد رحمهما الله شاګرد دے. درے دپاسه سل کالو عمر کښې وفات شو
وُو. تردے وخته دوه سوه رکعته نفل به يے هره ورځ کول. دے وائي چه
برله پسے څلوېښتو کالو پورے زما يو ځل نه علاوه تکبير اُولیٰ فوت شوے
نهٔ دے. صرف يو ځل چه په کومه ورځ زما مورمړه شوے وه، دهغے د
مشغوليت په وجه تکبيرِ اُولیٰ رانه فوت شوے وُو، نو ما په دے وجه چه
دجمع دمانځه ثواب پنځويشت درجے زيات دے، هغه موځ پنځويشت

وارے اُوکړۀ چه هغه شمیره پوره شي. نو په خوب کښ م اُولیدل چه یو کس راته وائي چه مُحمّده! پنځویشت وارے مونځ خودے اوکړو، خود ملائکو اٰمین په ځۀ کیږي. (فوائد بهیّه)

د ملائکو اٰمین مطلب دادے چه د پیرو حدیثونو کښ دا ارشاد نبوی ﷺ راغلے دے چه کله اِمام د سورۃ فاتحے نه پس اٰمین وائي نو ملائکے هم ورسره اٰمین وائي نو د چا اٰمین چه د ملائکو اٰمین سره (یو ځائے) شي، د هغهٔ روستني ټول ګناهونه مُعاف شي، نو په خوب کښ دے حدیث طرف ته اِشاره ده مولٰنا عَبدُ الحَیّ صاحب رحمة الله علیه وائي چه په دے قصه کښ دے طرفته اشاره ده چه د جمع ثواب په مجموعي طور چه کوم حاصلیږي هغه څان له کولو کښ هیڅ کله حاصلیدے نهٔ شي اګرکهٔ یو زر ځله هغه مونځ اُوکړي او دا ښکاره خبره ده چه د یو اٰمین موافقت خو صرف نهٔ دے بلکهٔ د مجمع شرکت د مونځ فارغیدو نه پس د ملائکو دُعاء کوم چه په دے حدیث کښ ذکر دے دے نه علاوه نور ډیر خصوصیات دي چه د جمع په مانځه کښ بیاموندے شي یو ضروري خبره دا هم د لحاظ قابله ده، عالمانو لیکلي دي چه د ملائکو د دے دُعا حقدار به هله کیږي چه مونځ خو هم د مونځ په شان وي، اوکهٔ چیرے داسے مونځ وي چه په زړه کیږه کښ راغونډ کړے ورته په مخ ور اُوویشتلے شي، نو بیا د ملائکو د دُعا حقدار نهٔ کیږي. (بهجة)

(۳) عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضی الله عنه قَالَ مَنْ سَرَّهٗ اَنْ یَّلْقَی اللّٰهَ غَدًا مُّسْلِمًا فَلْیُحَافِظْ عَلٰی هٰٓؤُلَآءِ الصَّلَوٰتِ حَیْثُ یُنَادٰی بِهِنَّ فَاِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی شَرَعَ لِنَبِیِّکُمْ صلی الله علیه وسلم سُنَنَ الْهُدٰی وَاِنَّهُنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدٰی وَلَوْ اَنَّکُمْ صَلَّیْتُمْ فِیْ بُیُوْتِکُمْ کَمَا یُصَلِّیْ هٰذَا الْمُتَخَلِّفُ فِیْ بَیْتِهٖ

حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وائي چه کوم کس داغواړي چه صبا ته د قیامت په ورځ د الله جل شانهٔ په دربار کښ (کامل) مسلمان جوړ شوے حاضر شي، نو هغه دِ د دے مونځونو په داسے ځائے کښ د اداکولو اِهتمام اُوکړي، کوم ځائے چه آذان کیږي (یعني په جُماعت کښ)، ځکه چه الله جل شانهٔ ستاسو نبي ﷺ د پاره داسے سنتونه جاري کړي

Maktaba Tul Ishaat.com

لَتَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ وَلَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ لَضَلَلْتُمْ وَمَا مِنْ رَجُلٍ يَتَطَهَّرُ فَيُحْسِنُ الطُّهُوْرَ ثُمَّ يَعْمِدُ اِلٰى مَسْجِدٍ مِّنْ هٰذِهِ الْمَسَاجِدِ اِلَّا كَتَبَ اللّٰهُ لَهٗ بِكُلِّ خُطْوَةٍ يَّخْطُوْهَا حَسَنَةً وَّيَرْفَعُهٗ بِهَا دَرَجَةً وَّيَحُطُّ عَنْهُ بِهَا سَيِّئَةً وَلَقَدْ رَاَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا اِلَّا مُنَافِقٌ مَّعْلُوْمُ النِّفَاقِ وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يُؤْتٰى بِهٖ يُهَادٰى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتّٰى يُقَامَ فِي الصَّفِّ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَقَدْ رَاَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنِ الصَّلٰوةِ اِلَّا مُنَافِقٌ قَدْ عُلِمَ نِفَاقُهٗ اَوْ مَرِيْضٌ اِنْ كَانَ الرَّجُلُ لَيَمْشِيْ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتّٰى يَاْتِيَ الصَّلٰوةَ وَقَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم عَلَّمَنَا سُنَنَ الْهُدٰى وَاِنَّ مِنْ

دي چه سراسر هدایت دي، د هغې نه دا د جَمع مونځونه هم دي. که چرې تاسو خلق په خپلو کورونو کښې مونځ کول شروع کړئ، لکه څنګه چه فلانے کس کوي نو تاسو به د نبي علیه الصلوٰة والسلام د سنتو پرېښودونکي شئ، او په دې ځان پوهه کړئ، که د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سنت پرېږدئ نو ګمراه به شئ. او څوك چه په ښهٔ شان اودس اُوکړي، دے نه پس جُمات ته لاړ شي، نو په هر یو قدم یے یوه نیکي لیکلے کیږي او یوه یوه ګناه یے معاف کیږي. او مونږ خو به خپل دا حال لیدهٔ چه څوك به ښکاره په ښکاره منافق وُو، هغه خو به د جَمع نه پاتے کیدهٔ. ګني د نبي علیه الصلوٰة والسلام په زمانه کښې به عام مومنا فقانو ته هم د جَمع د مونځ پرېښودو همّت نهٔ کیدهٔ. یا به څوك سخت ناجوړه شو. ګنې کوم کس چه به د دوه ؤ سړو په تکیه په خپورا ښکلے تلے شو هغه به هم په صف کښې اُودرولے شو.

سُنَنِ الْهُدٰى اَلصَّلٰوةَ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِيْ يُؤَذَّنُ فِيْهِ. (رواه مسلم وابوداؤد والنسائي وابن ماجة كذا في الترغيب والدر المنثور والسنة نوعان سنة الهدٰى تاركها يستوجب اساءة كالجماعة والاذان والزوائد وتاركها لا يستوجب اساءة كسير النبي صلى الله عليه وسلم في لباسه وقعوده كذا في نور الانوار والاضافة في سنة الهدٰى بيانية اي سنة هي هدى الحمل مبالغة كذا في قمر الاقمار)

فائده: اصحابو کرامو رضی الله عنهم به د جَمع دومره اهتمام کولو، که ناجوړه به هم څهٔ رنګے جَمع ته تلے شو هغه به هم لاړهٔ شریک به شو، اګر که د دوه ؤ سړو په راښکلو به بوتلے شو. او دا اهتمام به ولے نهٔ وُو، هر کله چه د هغوئ او

زمونږ آقا نبي اکرم ﷺ ته دغسې اهتمام وو. لکه د نبي اکرم ﷺ په مَرَضُ الْوَفَات یعني په کوم مرض کښې چه وفات شو، په هغې کښې هم دا حالت پېښ شو چه د مرض د سختۍ په وجه بار بار بې هوشه کېدو، اوخو څو ځله به یې داودس اُودَه غوښتلې. آخر یو وار یې اودس اوکړو، او د حضرت عباس رضی اللہ عنہ او د یو بل صحابي په تکیه (یعني لاسونه پرې اچولي) جُمات ته یې تشریف یوړو، چه په زمکه یې خپې مبارکې ښې لګېدې هم نه شوې. حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ د ارشاد مطابق مونځ ورکول شروع کړي وو، چه نبي علیه الصلوٰۃ والسلام ورغې په مانځه کښې شریک شو. (صحیحین)

حضرت ابوالدرداء رضی اللہ عنہ فرمائي چه ما د نبي اکرم ﷺ نه دا ارشاد واورېدو چه د الله تعالیٰ عبادت داسې کوه ګویا چه هغه بالکل مخامخ دې او ته یې وینې، او خپل ځان مړو په فهرست کښې شماره (ژوندو کښې اې د ګڼړه مه، نو بیا به د ژړ نه په څهٔ خبره خوشالي وي او نه په څهٔ خبره غم) او د مظلوم د ښیرو نه خپل ځان ساته، او چه ته دومره هم طاقت لرلې شې، چه د ماسخوتن او د سحر په مانځه کښې په راخکلو شریکېدې شې نو ایله مه کوه. په یو حدیث کښې راغلي دي چه په منافقانو د ماسخوتن او د سحر مونځونه درانهٔ وي. که چرې دوي ته دا معلومه شي چه په جمع کښې څومره ثواب وي نو په زمکه به په راخکلو باندې تلل او په جمع سره به یې کول. (ترغیب)

(۲) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ صَلّٰى لِلّٰهِ اَرْبَعِيْنَ يَوْمًا فِيْ جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبِيْرَةَ الْاُوْلٰى كُتِبَ لَهٗ بَرَاءَتَانِ بَرَاءَةٌ مِّنَ النَّارِ وَبَرَاءَةٌ مِّنَ النِّفَاقِ.

د نبي اکرم ﷺ ارشاد مبارك دې، چه څوك څلوېښت ورځې په اخلاص داسې مونځ اوکړي چه تکبیر اُولیٰ ترې فوت نهٔ شي، نو دهٔ ته دوه پروانې ورکولې شي یوه پروانه د دوزخ نه د خلاصیدو، دویمه د نفاق نه د بري کېدو.

(رواه الترمذي وقال لا اعلم احدًا رفعه الا ما روى مسلم بن قتيبة عن طعمة بن عمرو وقال الملي رضي الله عنه د مسلم وطعمة وبقية رواته ثقات كذا في الترغيب قلت وله شواهد من حديث عمر رضي الله عنه رفعه من صلى في مسجد جماعة اربعين ليلة لا تفوته الركعة الاولى من صلوٰة العشاء

Maktaba Tul Ishaat.com

کتب اللہ لہ بہا عتقًا من النار۔ رواہ ابن ماجۃ واللفظ لہ والترمذی وقال نحو حدیث انس یعنی المتقدم ولم یذکر لفظہ وقال مرسل یعنی عن عمارۃ الراوی عن انس لم یدرک انسًا وعزاہ فی منتخب الکنز الی البیہقی فی الشعب وابن عساکر وابن النجار)

فائده: یعنی چه څوك دا سے څلویښت ورځے اخلاص سره مونځ اوکړی چه د شروع نه امام سره شریك وی۔ او د مونځ شروع کولو تکبیر چه کله امام اُوائی، نو د غه وخت دے هم په مانځه کښ شریك شی، نو دغه کس به نهٔ دوزخ کښ داخلیږی، نهٔ به منافقانو کښ داخلیږی۔ منافق هغه خلقو ته ویلے شی چه خپل ځان مسلمان ښکاره کوی، خو په زړهٔ کښ کفر ساتی۔ او د څلویښتو ورځو خصوصیت په ظاهر کښ په دے وجه دے، چه د حالاتو بدلیدو کښ څلویښت ورځے ډیر اثر لری، لکه د بنیادم د پیدا اوښت ترتیب چه کوم حدیثونو کښ راغلے دے، په هغے کښ هم څلویښتو ورځو پورے نطفه پاتے کیدل، بیا د غوښے بوټئ څلویښتو ورځو پورے۔ دغسے څلویښتو څلویښتو ورځو کښ د هغے بدلیدل یئے ذکر فرمائیلی دی۔ هم په دے وجه د صوفیانو په نزد چله خاص اهمیت لری۔ خومره خوش نصیبه دی هغه خلق چه د هغوی په کلونو هم تکبیر اُولیٰ نهٔ فوت کیږی۔

⑤ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَۃَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صلی اللہ علیہ وسلم مَنْ تَوَضَّأَ فَاَحْسَنَ وُضُوْءَہٗ ثُمَّ رَاحَ فَوَجَدَ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا اَعْطَاہُ اللّٰہُ مِثْلَ اَجْرِ مَنْ صَلَّاھَا وَحَضَرَھَا لَا یَنْقُصُ ذٰلِکَ مِنْ اُجُوْرِھِمْ شَیْئًا (رواہ ابوداؤد والنسائی والحاکم وقال

د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارك دے چه څوك په ښهٔ شان اودس اوکړی بیا د مانځه د پاره جمات ته لاړ شی، هلته چه اُورسی ورته معلومه شی چه جمع شوے ده نو بیا هم د جمع د مانځه ثواب یئے اُوشو، او د دے ثواب په وجه د هغے خلقو په ثواب کښ هیڅ کمے نهٔ کیږی کوم چه جمع سره مونځ کړے دے۔

صحیح علی شرط مسلم کذا فی الترغیب وفیہ ایضًا عن سعید بن المسیب قال حضر رجلا من الانصار الموت فقال انی محدثکم حدیثا ما احدثکموہ الا احتسابًا انی سمعت رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم یقول اذا توضأ احدکم فاحسن الوضوء الحدیث وفیہ فان اتی المسجد فصلی فی جماعۃ غفر لہ فان

اتی المسجد وقد صلوا بعضا وبقی بعض صلی ما ادرک واتم ما بقی کان کذلک فان اتی المسجد وقد صلوا فاتم الصلوٰۃ کان کذلک رواہ ابو داؤد)

فائده: دا د الله تعالیٰ خومره انعام او احسان دے چه صرف کوشش او په محنت د جمع ثواب ورکولے شي، اګرچه جمع بیا نهٔ مومي، د الله تعالیٰ د دے ورکړے نه هم مونږ ه په خپله وانخلو، نو د چا څهٔ نقصان دے او د دے نه دا هم معلومه شوه چه صرف په دے ویره چه جمع به شوي وي جمات ته تلل پرېښودل نهٔ دي پکار، کهٔ چرے لاړ شي، معلومه شي چه شوے ده، بیا هم ثواب خو حاصل شو، البته کهٔ د روړ ه نه یقیني معلومه شي چه جمع شوے ده نو بیا ګ نشته.

(۶) عَنْ قُبَاثِ بْنِ اَشْیَمَ اللَّیْثِیِّ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم صَلوٰةُ الرَّجُلَیْنِ یَؤُمُّ اَحَدُهُمَا صَاحِبَهٗ اَزْکٰی عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ صَلوٰةِ اَرْبَعَةٍ تَتْرٰی وَصَلوٰةُ اَرْبَعَةٍ اَزْکٰی عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ صَلوٰةِ ثَمَانِیَةٍ تَتْرٰی وَصَلوٰةُ ثَمَانِیَةٍ یَؤُمُّهُمْ اَحَدُهُمْ اَزْکٰی عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ صَلوٰةِ مِائَةٍ تَتْرٰی (رواه البزار والطبرانی باسناد لاباس به کذا فی الترغیب وفی مجمع الزوائد رواه

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم پاک ارشاد دے چه د دوه ؤ سړو د جمع مونځ چه یو امام وی یو مقتدی الله تعالیٰ ته د څلورو سړو د ځان له ځان له مونځ نه زیات خوښ دے - د غسے د څلورو سړو د جمع مونځ د اتو سړو د جُدا جُدا مونځ نه زیات خوښ دے، او د اتو سړو د جمع مونځ د سلو سړو د جُدا جُدا مونځونو نه زیات دے. یو بل حدیث کښ دی د غسے خومره لوئ جمع کښ چه مونځ اوکړے شي هغه الله تعالیٰ ته زیات خوښ دے د مختصرے جمع نه.

البزار والطبرانی فی الکبیر ورجال الطبرانی موثقون وعزاه فی الجامع الصغیر الی الطبرانی والبیهقی ورقم له بالصحة وعن ابی بن کعب رفعه بمعنی حدیث الباب وفیه قصة وفی آخره وکلما کثر فهو احب الی الله عز وجل رواه احمد وابو داؤد والنسائی وابن خزیمة وابن حبان فی صحیحیهما والحاکم وقد جزم یحیی بن معین والذهلی بصحة هذا الحدیث کذا فی الترغیب)

فائده: کوم خلق چه دا ګنړی چه دوه څلور سړی به یو ځائ شو کولو یا دوکان وغیره کښ به جمع اوکړو، دا کافی نه - اول خو په دے کښ د جُمات ثواب د شروع نه نهٔ کیږی - دویم د ډیرے جمع د ثواب نه هم محرومی

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږی. ځکه چه څومره زیاته وی، هغه هومره الله تعالیٰ ته خوښه ده. او هرکله چه د الله تعالیٰ درضا دپاره یو کار کول دی، نو بیا په کومه طریقه کښې چه دهغهٔ رضا زیاته حاصلیږی په هغې طریقه کول پکاردی.

یو حدیث کښې راغلی دی چه الله جل شانهٔ درے څیزونه چه اُوینی خوشالیږی. یو دجمع صف، بل هغه کس چه دنیمے شپے (دتهجدو) مونځ کوی. دریم هغه کس چه یو لښکر سره جنګیږی. (جامع الصغیر)

⑦ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم بَشِّرِ الْمَشَّائِيْنَ فِي الظُّلَمِ إِلَى الْمَسَاجِدِ بِالنُّوْرِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

حضرت سهل رضی الله عنه فرمائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اُوفرمایهٔ چه کوم خلق په تیارهٔ کښې جماتونو ته دریځی هغوی ته د قیامت دورځے پوره پوره نور زیرے درکړئ.

(رواه ابن ماجة وابن خزيمة في صحيحه والحاكم واللفظ له وقال صحيح على شرط الشيخين كذا في الترغيب وفي المشكوة برواية الترمذي وابي داؤد عن بريدة ثم قال رواه ابن ماجة عن سهل بن سعد وانس آه قلت وله شاهد وفي منتخب كنز العمال برواية الطبراني عن ابي امامة بلفظ بشر المدلجين الى المساجد في الظلم بمنابر من نور يوم القيامة يفزع الناس ولا يفزعون ذكر السيوطي في الدر المنثور في تفسير قوله تعالى انما يعمر مساجد الله عدة روايات في هذه المعنى)

فائده: یعنی نن په دُنیا کښې تیارهٔ شپه کښې جُمات ته دتلو قدر به هغه وخت معلوم شی کله چه دقیامت هیبتناك منظر مخکښې وی او هرکس په مصیبت کښې ګرفتار وی. دنن دتیرو دمشقت بدله او ددے قدر به هغه وخت وی کله چه یو ځلیدونکے نُور او دنمر نه زیات رڼړا دوی سره وی.

یو حدیث کښې دی چه دوی به دقیامت په ورځ دنُور په منبرونو وی او بے فکره. او خلق به په ویره کښې وی.

یو حدیث کښې دی چه الله جل شانهٔ به دقیامت په ورځ ارشاد اُوفرمائی چه زما ګاونډیان څهٔ شو؟ فرښتے به عرض اُوکړی چه ستا ګاونډیان څوك دی؟ ارشاد به اُوشی دجُماتونو آبادونکی.

یو حدیث کښې راغلی دی چه د الله تعالیٰ دټولو ځایونو نه زیات خوښ

جُماتو نه دی، او په تهولوکښ زیات ناخوښه بازارونه دی. یو حدیث کښ دی چه جُماتونه دجنت باغونه دی. (جامع الصغیر)

یو صحیح حدیث کښ راغلی دی چه حضرت ابُوسعید رضی الله عنه د نبی علیه الصلوٰة والسلام نه نقل کوی چه څوك اُووینئ چه جُمات ته دتلو یے عادت دے، نو دهغهٔ د ایمانداریٔ گواهی ورکړئ. (ایضًا) دے نه پس اِنَّمَا یَعۡمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ دا آیت یے تلاوت کړو. یعنی جُماتونه هغه خلق آبادوی څوك چه په الله او په قیامت ایمان لری. (دُر) یو حدیث کښ راغلی دی چه دمُشقت په وخت اودس کوَل او جُمات طرف ته قدم اُوچتوَل او یو مونځ نه پس ددویم مونځ په انتظار کښ ناسته گناهونه وِینځی. (جامع الصغیر)

یو حدیث کښ راغلی دی چه کوم کس دجُمات نه څومره لرے وی هغه هومره به یے زیات ثواب وی (ایضًا) دے وجه دادهٔ چه په هر یو قدم باندے اجر او ثواب دے او څومره چه لرے جُمات وی هغه هومره به قدمونه زیات شی. په دے وجه به بعضِ صحابهٔ واړهٔ واړهٔ قدمونه اخستل.

یو حدیث کښ راغلی دی چه درے څیزونه داسے دی کهٔ چرے خلقو ته دهغے ثواب معلوم شی، نو په جنگ به یے حاصل کړی. یو اذان ویل، دویم دجمع دمونځونو دپاره دغرمے په وخت تلل، دریم په ړومبی صف کښ مونځ کوَل. (ایضًا)

یو حدیث کښ ارشاد دے چه دقیامت په ورځ کله چه هر یو کس په پریشان حاله وی، او نمر به ډیر په تیزیٔ وی، اُوهٔ کسان به داسے وی، چه دالله تعالیٰ درحمت سوری لاندے به وی. په دوی کښ به یو هغه کس هم وی چه دهغهٔ زړهٔ جُمات سره لگیدلے وی، چه کله څهٔ ضرورت دپاره بهر اُوزی نو بیا یے جمات ته دواپس تلو خواهش وی.

یو حدیث کښ راغلی دی چه څوك جُمات سره محبت ساتی الله جل شانهٔ دهٔ سره محبت کوی. (ایضًا)

دشریعتِ مطهّره په هر حکم کښ خیر او برکت اجر او ثواب خو ډیر زیات دے، دِے سره ډیر و مصلحتونو هم په دے حکمونو کښ لحاظ کړے شویدے

Maktaba Tul Ishaat.com

چه دهغې حقیقت ته رسیدل خومشکل دي ځکه چه د الله جل شانهٗ علوم او
او د هغې مصلحتونو ته څوك رسیدلے شي ؟ خو دخپل وَس او حوصلې موافق تر
کومے پورے چه خپله پوهه کار ورکوي، د هغې مصلحتونه هم په پوهه کښې
راځي او چه څومره وَس وي هغه هومره صفتونه د هغې حکمونو معلومیږي۔
عالَما تو د جمیع مصلحتونه د خپلې خپلې پوهې موافق لیکلي دي۔ زمونږ حضرت
شاه وَلیُّ الله نوّرالله مَرْقَدَهٗ په حُجَّةُ الله البالغه کښې یو تقریر د دے باره
کښې اِرشاد فرمایلے دے چه د هغې ترجمه او مطلب دا دے چه :
د رسم او رواج د هلاکتونو نه د بچ کیدو د پاره د دے نه زیات فائده مند
هیڅ څیز نشته چه عبادتونو کښې دیو عبادت رسم ورواج داسے عام کړے شي
چه په ښکاره ادا کولے شي، او د هر یو کس مخکښې که پوهه وي که نا پوهه
هغه ادا کیږي، د هغې په ادا کولو کښې د ښهر او د کلو خلق برابر وي، په هغې
کښې یو بل ته وړاندې کیدل او فخر اُوکړے شي۔ او داسے عام شي، او د ژوند
په ضروریاتو کښې داسے داخل شي چه د هغې نه جدا کیدل ناممکنه اُوګرځي
شي، او د الله تعالیٰ د عبادت د پاره مددګار شي، او هغه رسم او رواج چه د ضرر
او نقصان ذریعه وه، هغه هم حق طرف ته راخکونکے شي چونکه په عباداتو
کښې هیڅ یو عبادت هم د مونځ نه زیات مُهْتَم بالشّان او د دلیل او د حجت
په اِعتبار سره زیات نشته، د دے د پاره ضروري شوه، چه په خپلو کښې د دے
رواج بېنهٔ عام کړے شي، او د دے د پاره اِجتماع اُوکړے شي او په خپلو کښې په
اتفاق سره دا ادا کړے شي. د غه شان هر یو مذهب او دین کښې څه خلق
پیشوایان وي او د هغوی تابعداري کولے شي، او څهٔ مشران په دویمه درجه
کښې داسے وي چه د څهٔ معمولي غوندے ترغیب او نصیحت محتاجه وي
او څهٔ خلق په درجه کښې ډیر تاګاره او کمزورے عقیدے والا داسے هم وي
کهٔ چرے هغوی ته په ډله کښې د عبادت زور نه ورنکړے شي نو دُستیٔ او
تاراستیا په وجه به عبادت هم پریږدي۔ په دے وجه د مصلحت تقاضا هم
داده چه دا ټول خلق دِ په اِجتماعي طور عبادت ادا کوي، او چه کوم خلق عبادت
پریږدونکي دي، هغوی د عبادت کوونکو نه جُدا شي او رغبت کوونکو بے رغبتو

کښې ښکاره فرق اُوشی، او نا خبره خلق د عالمانو د تابعدارئ نه خبر شی، او جاهلانو ته د عبادت طریقه معلومه شی، او د الله تعالیٰ عبادت په دغه خلقو کښې دغه ویلې شو۔ سپینو زرو په شان شی کۀ د چا ماهر مخکښې کیخودلے شی چه په هغې سره جائز ناجائز او کَرَه کوټه کښې ښکاره فرق اُوشی۔ جائز د قوی کړے شی، او ناجائز د منع کړے شی۔

دے نه علاوه د مسلمانانو په راسے اِجتماع کښې چه په هغې کښې الله تعالیٰ طرف ته رغبت کونکی، د هغهٔ د رحمت طلب کونکی، د هغهٔ نه ویریدونکی موجود وی، او ټول په ټول الله تعالیٰ طرف ته پوره متوجه وی۔ د برکتونو نازلیدو او د رحمت متوجه کیدو عجیبه خاصیت اېښے دے۔

دغه شان د اُمتِ محمدیه د قیام مقصد هم دا دے چه د الله تعالیٰ کلمه دِ بلنده شی او دینِ اسلام دِ په ټولو دینونو غالب شی، او دا کیدے نه شی ترڅو چه دا طریقه جاری نهٔ شی، چه ټول په ټول عوام، خواص، دَښار او د کلو اُوسیدونکی، واړهٔ، لوئ یو ځائ جمع شی۔ دا ځیز چه د اِسلام د ټولو نه لوئ شعار (نښه) دهٔ او د ټولو نه اُوچت عبادت دے ادا نهٔ کړی۔ په دے وجوهاتو سره شریعت جُمعه او د جمع اهتمام طرف ته متوجه شو۔ د دے د اِظهار او د اعلان ترغیبونه او په پریخودو یے عذاب نازل شو۔ او چونکه اظهار او اجتماع یوه صرف د محلے او د قبیلے دهٔ او بله د ټول ښهر دهٔ۔ د محلے اجتماع هر وخت آسانه دهٔ، او د ټول ښهر هر وخت گرانه دهٔ، په کښې تنگسیا دهٔ۔ په دے وجه د محلے اجتماع د هر یو مانځهٔ په وخت اُوکرزولے شوه، او د جمع موځ د دے د پاره مشروع (جائز) شو، او د تمام ښهر اجتماع یے په اتمه ورځ مقرر کړه، او د جُمعے موځ یے د دے د پاره مقرر شو۔

دویم فصل د جمع په پریخودو د غصے په بیان کښې

الله جل شانهٔ په خپلو حکمونو باندے د عمل کولو څنګه چه د انعاماتو وعدهٔ کړے دهٔ، د غصے په حکم نهٔ منلو یے ناراضتیا او غصه ویلے دهٔ، دا هم د الله تعالیٰ فضل دے، چه په حکم منلو کښې دے حد ده انعاماتو وعدهٔ دهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

کنی د بندګئ تقاضا صرف غصه یکاروه، ځکه چه د بندګئ فرض حکم منل دی، بیا په دے د اِنعام څهٔ حق دَے. او په نافرمانئ کښې چه څومره غصه او عذاب وی هغه په ځائ دے چه د آقا د نافرمانئ نه زیات نور څهٔ جُرم کیدے شی، پس د څهٔ خاص غصے یا تنبیه کولو ضرورت نهٔ وَو، خو بیا هم الله جل شانهٔ او د هغهٔ پاک رسول ﷺ په مونږ مهربانی اوکړه چه په قسما قسم طریقو یے خبردار کړو، او د هغے نقصانونه یے راته اُوخودل، په مختلفو طریقو یے پوهه کړو، بیا هم کهٔ مونږ پوهه نهٔ شونو هم خپل نقصان مودے.

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ اِتِّبَاعِهٖ عُذْرٌ قَالُوْا وَمَا الْعُذْرُ قَالَ خَوْفٌ اَوْ مَرَضٌ لَمْ تُقْبَلْ مِنْهُ الصَّلٰوةُ الَّتِىْ صَلّٰى

د نبی اکرم ﷺ ارشاد مبارک دے چه څوک د آذان آواز واوری، او یے څهٔ عذر مانع ته لا نهٔ شی (هلته اوکړی) نو د هغهٔ مونځ نهٔ قبلیږی. صحابو رضی الله عنهم عرض اوکړو، چه د عذر نه څهٔ مراد دے؟ ارشاد اوشو چه مرض وی یا څهٔ ویره وی.

(رواه ابوداؤد وابن حبان فی صحیحه وابن ماجة بنحوه کذا فی الترغیب وفی المشکوة رواه ابوداؤد والدار قطنی)

فائده: د نهٔ قبلیدو دا معنیٰ ده چه په دغے مونځ کوم ثواب او انعام د الله تعالیٰ له طرفه کیدهٔ هغه په نهٔ وی، اګرچه فرض یے ادا شول او هم دا مراد دے د هغے حدیثونو نه چه په کوم کښې راغلی دی چه د هغهٔ مونځ نهٔ کیږی، ځکه چه دا سے کیدل هم څهٔ کیدل شو چه پرے انعام او اکرام نهٔ وی. دا زمونږ د امام (اعظم رحمه الله) په نزد دی، کنی دا صحابو رضی الله عنهم او د تابعینو رحمهم الله دیوے ډلے په نزد د هغے حدیثونو په بنیاد چه بغیر عذره د جمع مونځ پریخودل حرام دی، او په جمع سره کول فرض دی، ترډے چه د ډیرو علماؤ په نزد اګر و مونځ کیږی نه. د احنافو په نزد اګرچه مونځ اُوشو، خو د جمع پریخودو مجرم شو. د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه په یو حدیث کښې دا هم نقل کړے شوی دی چه د دغے کس د الله تعالیٰ نافرمانی اوکړه، او د رسول ﷺ نافرمانی یے اوکړه. د حضرت ابن عباس رضی الله عنه دا هم ارشاد دے، چه څوک د آذان آواز داوری، او د جمع سره مونځ اُونکړی، نهٔ هغهٔ د ښیګړے

ارادہ اُوکړہ، نه هغهٔ سره دښیګړے اِرادہ اُوکړے شوه- ابوهریرة رضی الله عنه فرمائی چه څوك دَ اَذان اَوازواؤری، او جَمع ته حاضر نهٔ شی، دهغهٔ غوږونه دِ د وِیلے شوے سِکے نه ډك کړے شی، دا بهتره ده-

(۲) عَنْ مُعَاذِبْنِ اَنَسٍ رضی الله عنه عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم اَنَّهٗ قَالَ اَلْجَفَآءُ كُلُّ الْجَفَاءِ وَالْكُفْرُ وَالنِّفَاقُ مَنْ سَمِعَ مُنَادِیَ اللّٰهِ یُنَادِیْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَلَا یُجِیْبُهٗ.

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد دے چه سراسر ظلم دے او کفر دے او نفاق دے دهغے کس داکار چه دالله تعالیٰ دمُنادِی یعنی مؤذن اَوازواؤری، او موخ ته لاړ نهٔ شی۔

(رواه احمد والطبرانی من روایة زبان بن فائد کذا فی الترغیب وفی مجمع الزوائد رواه الطبرانی فی الکبیر وزبان ضعفه ابن معین ووثقه ابو حاتم اه وعزاه فی الجامع الصغیر الی الطبرانی ورقم له بالضعف)

فائده: څومره سخته سزا او زورنه ده په دے حدیث پاك کښں چه ددهٔ دا کار یے دکافرانوکار او د منافقانو کار اُوخودلو، چه ګویا دمسلمان نه دا خبره اُوکیدے نهٔ شی۔

یو بل حدیث کښں ارشاد دے چه دسړی دبد بختئ او بد نصیبئ دپاره دا بس دهٔ، چه دمُؤذن اَوازواؤری، او موخ ته لاړ نهٔ شی۔

سلیمان بن ابی حثمه رضی الله عنه دجلیل القدر خلقونه وو، دنبی علیه الصلوٰة والسلام زمانه کښں پیدا شو، خو دکم عمرئ په وجه دنبی علیه الصلوٰة والسلام نه دروایت اوریدو موقعه ورته ملاؤ نهٔ شوه- حضرت عمر رضی الله عنه دے دبازار نګران جوړکړے وو- یو ورځے اتفاقاً دسحر مانځه کښں موجود نهٔ وو- حضرت عمر رضی الله عنه دهغهٔ طرفته تشریف یوړهٔ، دهغهٔ دمور نه یے تپوس اوکړو چه سلیمان نن دسحر مانځه کښں نهٔ وو، مور یی یے اُوویل چه ټوله شپه په نفلو کښں اَخته وو، دخوب دغلبے نه یے ستر ګے ورغلے- دوی اُوفرمایل چه زهٔ دسحر په مانځه کښں شریک شم دا ما ته ددے نه زیاته خوښه ده چه ټوله شپه نفلونه اُوکړم۔

(۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم لَقَدْ هَمَمْتُ اَنْ اٰمُرَ فِتْیَتِیْ فَیَجْمَعُوْا

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد فرمائی، چه زما زړهٔ غواړی چه یو څو ځوانانو ته اُوایم، چه دبیرخشاك راجمع کړی راوړی، بیا زهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

لِیْ حُزَمًا مِّنْ حَطَبٍ ثُمَّ اٰتِیَ قَوْمًا یُصَلُّوْنَ فِیْ بُیُوْتِهِمْ لَیْسَتْ بِهِمْ عِلَّةٌ فَاُحَرِّقَهَا عَلَیْهِمْ۔ (رواه مسلم وابوداؤد وابن ماجة والترمذی کذافی الترغیب قال السیوطی فی الدر اخرج ابن ابی شیبه والبخاری ومسلم وابن ماجة عن ابی هریرة رفعه اثقل الصلوٰة علی المنافقین صلوٰة العشاء وصلوٰة الفجر ولو یعلمون ما فیهما لاتوهما ولو حبوًا ولقد هممت ان آمر بالصلوٰة فتقام الحدیث بنحوه۔

هغه خلقوته ورشم چه بےعذره په کورونوکښې مونځ کوی او ورشم هغوی کورونه اُوسوزوم۔

فائده: نبی اکرم ﷺ ته سره د هغې شفقت او رحمت چه کوم د اُمت په حال بانـدے وُو، دچا یو معمولی غوندے تکلیف ہے هم نه خوښولو۔ په هغه خلقو چه کوم په کورونوکښې مونځ کوی په هغوی ہے دومره غصه ده چه دهغوی په کورونو بانـدے اُور لګولوته هم تیار دے۔

(۲) عَنْ اَبِی الدَّرْدَآءِ رضی اللہ عنہ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ مَا مِنْ ثَلٰثَةٍ فِیْ قَرْیَةٍ وَّلَا بَدْوٍ لَا تُقَامُ فِیْهِمُ الصَّلٰوةُ اِلَّا اسْتَحْوَذَ عَلَیْهِمُ الشَّیْطٰنُ فَعَلَیْکُمْ بِالْجَمَاعَةِ فَاِنَّمَا یَاْکُلُ الذِّئْبُ مِنَ الْغَنَمِ الْقَاصِیَةَ (رواه احمد وابوداؤد والنسائی وابن خزیمة وابن حبان فی صحیحهما والحاکم وزاد رزین فی جامعه ان ذئب الانسان الشیطان اذا خلا به اکله کذافی الترغیب ورقم له فی الجامع الصغیر بالصحة وصححه الحاکم واقره علیه الذهبی)

دنبی اکرم ﷺ ارشاد مبارک دے، چه په کوم کلی یا صحرا کښې درے سړی وی اوهلته دجمع مونځ نه کیږی، نو په هغوی شیطان غالب کیږی، ددے کبله جمع ضروری اوګڼړئ، شرمخ ځان له چیلئ خوری او دسړو شرمخ شیطان دے۔

فائده: ددے نه معلومه شوه چه کوم خلق زمینداری کښې اخته وی که درے تنه وی نو په جمع ورله مونځ کول پکار دی، بلکه دوه تنه وی نو هم په جمع سره مونځ کول ہے بهتردی۔ زمینداران اول خو عموماً مونځ کوی نه، چه هغوی د یاره دښتی مشغولتیا په خپل خیال کافی عذر دے۔ اوچه کوم ډیر دیندار ګڼړلے شی، هغوی ہے هم ځان له کوی۔ حال داکه د یو څو پیتهو والا یو ځائے راجمع شی او په جمع ہے اوکړی، نو څومره لویه جمع به ترے جوړه شی او څومره ډیر ثواب به حاصل کړی۔ دڅلورو پیسو په

خاطر کړی، یخنی، غارمهٔ، باران دتولونه بے نیازه شی، اوتهوله ورځ آخته اُوسی، او دومره لوئ ثواب ضائع کوی، او دے هیڅ پرواه نهٔ کوی ۔ حال دا چه دا خلق کهٔ چرے صحرا کښ جَمع سره مونځ اوکړی نو نوربه هم دزیات ثواب سبب شی ۔ ترمے چه یوحدیث کښ راغلی دی چه دپنځوسو مونځونو ثواب یے کیږی ۔ په یوحدیث کښ راغلی دی، چه کله دچیلو څروُنکے دیو غر په ویخ کښ یا (صحرا) کښ آذان دائی او مونځ کوی، نو الله تعالیٰ دهغهٔ نه بے حده خوشالیږی، او په حیرانتیا او فخر سره فرښتو ته فرمائی اوګوری زما بنده آذان اوکړهٔ، مونځ کوی، دا ټول زما دویرے له وجه نه کوی ۔ ما دهٔ بخښنه اوکړه، او جنت ته دداخلیدو فیصله م اوکړه ۔ (مشکوٰة)

۵ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی اللہ عنہ اَنَّهٗ سُئِلَ عَنْ رَجُلٍ يَّصُوْمُ النَّهَارَ وَيَقُوْمُ اللَّيْلَ وَلَا يَشْهَدُ الْجَمَاعَةَ وَلَا الْجُمُعَةَ فَقَالَ هٰذَا فِي النَّارِ (رواه الترمذی موقوفا كذا فی الترغیب)

دحضرت عبد الله بن عباس رضی اللہ عنہ نه چا تپوس اُوکړهٔ، چه یوکس ټوله ورځ روژه نیسی او ټوله شپه نفلونه کوی، خو د جُمعے او دجَمع په مانځه کښ نهٔ شریکیږی (ددهٔ متعلق څهٔ حکم دے) دوی ورته اُوفرمایل دا کس دوزخی دے ۔

وفی تنبیه الغافلین روی عن مجاهد ان رجلاً جاء الی ابن عباس فقال یا ابن عباس ما تقول فی رجلٍ فذکره بلفظ زاد فی آخره فاختلف الیه شهراً یساله عن ذلک هو یقول هو فی النار ۔

فائده: اګرچه یو خاصے زمانے پورے سزا خوړلو نه پس به دوزخ نه راُوویستلے شی چه بهرحال مسلمان دے ۔ خونهٔ ده معلومه، څومره زمانے پورے به په کښ پروت وی ۔ جاهل صوفیانو کښ دوظیفو او دنفلونو خوزوروی او دجَمع پرواه نهٔ ساتی، داهغوی بزرګی ګڼړی، حال دا چه کامله بزرګی دالله تعالیٰ دمحبوب تابعداری ده ۔

یوحدیث کښ راغلی دی چه په دریوکسانو الله جل شانه لعنت لیږی یو په هغه کس چه دهغهٔ نه مونځګذار په څهٔ جائزه وجه ناراضه وی، او هغه اِمامت کوی ۔ دویم په هغه ښځے چه خاوند ترے ناراضه وی ۔ دریم په هغه چا چه دآذان آواز واوری او جَمع کښ شریک نهٔ شی ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۶۹

(۶) اَخْرَجَ ابْنُ مَرْدَوَیْهِ عَنْ كَعْبِ الْحِبْرِ قَالَ وَالَّذِیْ اَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ عَلٰى مُوْسٰى وَالْاِنْجِیْلَ عَلٰى عِیْسٰى وَالزَّبُوْرَ عَلٰى دَاؤُدَ علیهم السلام وَالْفُرْقَانَ عَلٰى مُحَمَّدٍ ﷺ اُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْاٰیَاتُ فِی الصَّلَوٰتِ الْمَكْتُوْبَاتِ حَیْثُ یُنَادٰى بِهِنَّ یَوْمَ یُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ اِلٰى قَوْلِهٖ وَهُمْ سَالِمُوْنَ اَلصَّلَوٰتِ الْخَمْسَ اِذَا نُوْدِیَ بِهَا۔ واخرج البیهقی فی الشعب عن سعید بن جبیر قال الصلوات فی الجماعات واخرج البیهقی عن ابن عباس قال الرجل یسمع الاذان فلا یجیب الصلٰوة كذا فی الدر المنثور قلت وتمام الاٰیة یَوْمَ یُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ وَّ یُدْعَوْنَ اِلَى السُّجُوْدِ فَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ وَقَدْ كَانُوْا یُدْعَوْنَ اِلَى السُّجُوْدِ وَهُمْ سَالِمُوْنَ ○

حضرت كعب احبار رحمة الله علیه فرمائی چه قسم دې دوی په هغې پاك ذات چاچه تورات په حضرت موسٰی او انجیل په حضرت عیسٰی او زبور په حضرت داؤد (علیٰ نبینا وعلیهم الصلوٰة والسلام) نازل كړی دی، او قرآن شریف یې په سیدنا محمد ﷺ نازل كړے دے چه دا ایتونه فرض مونځونه جمع سره دا سے ځائ كښ دكولو پاره كښ چه كوم ځائ كښ اذان كیږی، نازل شوی دی. (ترجمه د ایتونو كومه ورځ چه الله جل شانهٗ د ساق تجلی اوفرمائی (چه دا یو خاص قسم تجلی وی)) او خلق به د غه ورځ سجدے د پاره را اوبللې شی، نو دا خلق به سجده نهٔ شی كولے، د دوی سترګے به د شرم نه ټیټے وی او ذلت به پرے خور شوے وی ځكه چه دا خلق به په دُنیا كښ د سجدے د پاره را بللې شو او دوی به روغ جوړ وُو، (بیا یې هم سجده نهٔ كوله).

فائده: د ساق تجلی یو خاص قسم تجلی ده چه د حشر په میدان كښ به وی، دا تجلی چه اووینی، نو ټول مسلمانان به په سجده كښ پریوزی خو بعض خلق به دا سے وی چه د هغوی ملا كانے به تخته شی او په سجده به یے طاقت نهٔ وی، دا به كوم خلق وی۔ دے باره كښ تفسیرونه مختلف راغلی دی۔ یو تفسیر دا دے چه كوم د كعب احبار رحمة الله علیه نه نقل دے او د دے موافق حضرت عباس رضی الله عنه وغیره نه هم نقل كړے شوے دے چه دا به هغه خلق وی چه په دُنیا كښ به د جمع د مانځه د پاره را بللې شو، او د جمع

موږ ئے نه کولو. دویم تفسیر بخاري شریف کښې د حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه نه نقل دے چه ما د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم نه واورېدل چه دا به هغه خلق وي چه په دُنیا کښې د رِیا او د خود نمائۍ د پاره ئے موږ کولو. دریم تفسیر دا دے چه دا کافران دي چه په دُنیا کښې ئے اوږو دسره موږ کولو نه. څلورم تفسیر دا دے چه دے نه مراد منافقان دي. وَاللّٰهُ اَعْلَمُ وَعِلْمُهٗ اَتَمُّ.

بهرحال دے تفسیر موافق چه کعب احبار رحمة الله علیه قسم اُوخوړ، او وے فرمایل، او د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په شان جلیل القدر صحابي امام تفسیر نه دے تائید کېږي. څومره سخته معامله ده چه د حشر په میدان کښې ذلت او رسوائي دي چه هلته به ټول مسلمانان په سجده کښې مشغول وي، او دے به سجده نه شي کولے. دے نه علاوه نور هم عذابونه د جهنم په پرنخو دوراغلي دي. د مسلمان د پاره خو دیو عذاب بیا نو لو هم ضرورت نشته، چه د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول صلی الله علیه وسلم حکم او ارشاد بس هرڅهٔ دے، او چا سره چه دا دے قدر نشته، د هغهٔ د پاره په زرګونو قسمه عذابونه هم بے کاره دي. کله چه د سزا وخت راشي نو پښیماني به وي چه بے کاره به وي.





دریم باب
د خشوع خضوع په بیان کښې

ډیر خلق داسے دي چه موږ کوي او په دوي کښې ډیر داسے هم دي چه د جمع هم پابندي کوي خو سره دے داسے په بد طریقه ئے کوي چه هغه موږ په ځائ دے چه د ثواب او د اجر سبب شي د نقصان په وجه په مخ ورو پیشتلے کېږي اګرچه د نه کولو نه دا هم بهتر دے. ولے چه د نه کولو په

له دا دواړه لفظونه ډیر یو بل سره استعمالېږي خو دے دواړو کښې څهٔ لږ غوندے فرق هم شته. خشوع ویلے شي په زړهٔ سره د الله تعالیٰ مخکښې عاجزي کولو ته. او خضوع وائي د آواز او د نظر خکته کولو ته او د بدن په ټولو اندامونو سره د عاجزۍ اظهار کول ۱۲ م

Maktaba Tul Ishaat.com

حالت کښې چه کوم عذاب دے هغه ډیر زیات سخت دے۔ او په دے حالت کښې دا اوشوه چه قبول نهٔ شو، او په مخ ورا او ویشتلے شو، څهٔ ثواب یے اونهٔ شو خونهٔ کولو کښې د کومے درجے نافرمانی، غرور، تکبر وُو، هغه خو به په دے حالت کښې نهٔ وی، البته دا مُناسبه ده، چه هر کله سړے وخت لګوی، کاروبار پریږدی، مُشقت اوچتوی، نو د دے کوشش کول پکار دی چه څومره زیاتو نه زیات وزنی او قیمتی کولے شی په دے کښې دے کمے نهٔ کوی۔ د الله جل شانهٔ ارشاد دے، اګرچه د قربانی په باره کښې دے خو حکم ئې خو تول یو دی۔ فرمائی لَنْ يَّنَالَ اللهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ (الحج ع ۵) "نهٔ الله تعالیٰ ته د هغې غوښې رسی نهٔ د هغې وینه، بلکه هغهٔ ته خو ستاسو تقویٰ او اخلاص رسی"۔ پس د کومے درجے چه اخلاص وی د هغې درجے به قبولیت وی۔

حضرت مُعاذ رضی الله عنه ارشاد فرمائی چه نبی اکرم ﷺ کله زهٔ یمن ته لیږلم، نو ما د اخری وصیت درخواست اوکړهٔ۔ نبی علیه السلام ارشاد اوفرمایهٔ چه د دین په هر یو کار کښې د اخلاص اهتمام کوه چه په اخلاص سره لږ عمل هم ډیر څهٔ دے۔

حضرت ثوبان رضی الله عنه فرمائی چه ما د نبی علیه السلام نه واوریدل چه دلیے فرمایل چه د اخلاص والو د پاره د خوشالی وی چه دوی د هدایت ډیوے دی د دوی په وجه د سختو نه سختے فتنے لرے کیږی۔

یو حدیث کښې د نبی علیه السلام ارشاد دے چه الله تعالیٰ د ضعیفو خلقو په برکت سره د دے اُمت مدد کوی، د دغه شان د دوی په دُعا، د دوی په مونځ، د دوی په اخلاص سره۔ (ترغیب)

دما ئحه په باره کښې د الله جل شانهٔ ارشاد دے۔ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ۝ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۝ الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ۝ (الماعون پ ۳۰) (ترجمه) "لویه خرابی ده هغه خلقو د پاره کوم چه د خپل ځان نه ناخبره دی د داسے دی چه خودنه کوی"۔ د ناخبره کیدو هم مختلف تفسیرونه کړے شوی دی۔ یو دا چه د وخت ورته پته نهٔ وی قضا یے کړی۔ دویم دا چه متوجه نهٔ وی اخوا دیخوا مشغول دی۔ دریم دا چه ورته معلومه نهٔ وی چه څو رکعتونه اوشو۔ بل ځای کښې د منافقانو باره کښې د الله تعالیٰ دیا ده۔ وَاِذَا قَامُوْٓا اِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى

يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اِلَّا قَلِيْلًا ٥ (النساء ع ۲۱)" او کله چه مانځه ته
اُودریږی نو په سُستئ (ریاسی)، صرف خلقو ته ځان ښائی، (چه مونږ هم
مونځګذار یو) او د الله تعالیٰ ذکر نه کوی خو ډیر لږ شانے". یو ځای د یو څو
انبیاؤ علی نبینا و علیهم السلام ذکر یې فرمایلے دے. ارشاد دے۔ فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ
خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ٥ (مریم ع ۵)" پس
د دے نبیانو نه روستو بعضے داسے نا اهله خلق پیدا شول چه هغوی مونځ
برباد کړه او د نفس خواهشاتو پسے اولګیدل بس زر دے چه آخرت کښ به
خرابي اووینی". د غی ترجمه لغت کښ ذکر اوهئ دا چه دے ته مراد د آخرت
خرابي او هلاکت دے۔ نور و ډیرو مفسرینو لیکلی دی چه غیّ د دوزخ یو
طبقه ده چه په هغے کښ وینے زوے وغیره جمع کیږی په هغے کښ به داخل
واچولے شی۔ یو ځای ارشاد دے۔ وَمَا مَنَعَهُمْ اَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقٰتُهُمْ اِلَّا
اَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَبِرَسُوْلِهٖ وَلَا يَاْتُوْنَ الصَّلٰوةَ اِلَّا وَهُمْ كُسَالٰى وَلَا يُنْفِقُوْنَ اِلَّا
وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ٥ (التوبه ع ۷) ترجمه: "او د دوی خیر خیرات قبلید و نه نور هیڅ
څیز سوا د دے نه منع کونکے نشته چه دوی الله تعالیٰ سره او د هغهٔ رسول
صلی الله علیه وسلم سره کفر کړے دے او مونځ نه کوی خو سُستئ سره او نیک کار کښ خرچ
نه کوی خو په مات زړهٔ سره". د دے په مقابله کښ په ښهٔ شان سره مونځ
کونکو باره کښ ارشاد دے۔ قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۙ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ
خٰشِعُوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ ۙ
وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ۙ اِلَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ
غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ۚ فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ۚ وَالَّذِيْنَ هُمْ
لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۘ اُولٰٓئِكَ
هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ۙ الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ٥ (مؤمنون ع ۱)
ترجمه: بے شکه کامیابی او فلاح ته اُورسیدل هغه مؤمنان چه په
خپلو مونځونو کښ خشوع کونکی وی او هغه خلق چه د عبثو کارونو نه
مخ اړونکی دی او هغه خلق چه دوی زکوٰة ورکونکی دی (یا خپل اخلاق

ه د زکوٰة په تفسیر کښ اختلاف دے چه دلته مشهوره معنی د زکوٰة مراد ده یا زکوٰة بدنی یعنی خپله اصلاح یا د نفس تزکیه ۱۲ (فالحق)

Maktaba Tul Ishaat.com

درست کوُنکی دی۔ اوهغه کسان چه دوی دخپلو شرمګاهونو حفاظت کوُنکی دی سوا دخپلو بیبیانو نه اوو نیځونه چه په دے کښ هیڅ ملامتیا نشته۔ البته چه څوك دے نه علاوه بل ځائ شهوت پوره کوُل غواړی، هغه خلق د حد نه تیریدونکی دی۔ اوهغه کسان چه دوی داما نتونو خپلو او دوعدو خپلو لحاظ کوُنکی دی، اوهغه چه دخپلو مونځونو اهتمام کوُنکی دی۔ هُم داخلق دجنت وارثان دی چه دفردوس وارثان به جوړیږی، اوهمیشه همیشه به په هغے کښ اوسی۔

حدیث کښ راغلی دی چه فردوس په جنت کښ دټولو نه اعلیٰ او بهترینه حصه ده۔ دهغے نه دجنت نهرونه وتلی دی، اوپه هغے به عرشِ الٰهی وی کله چه تاسو دجنت دُعا کوئ، نو جنت الفردوس غواړئ۔

بل ځائ کښ دمانځه باره کښ اِرشادِ الٰهی دے۔ وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ۙ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَاَنَّهُمْ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ۝ (بقره)

(ترجمه) "بیشکه مونځ ګران دے خو چه دچا په زړونو کښ خشوع وی په هغوی هیڅ هم ګران نهٔ دے۔ دا هغه خلق دی چه ددے خیال ساتی چه بیشکه دوی خپل رب سره قیامت کښ یوځائ کیدونکی دی او دمرګ نه پس هم هغهٔ طرف ته واپس تلونکی دی۔" دداسے خلقو په تعریف کښ یوځائ اِرشادِ الٰهی دے۔ فِىْ بُيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ يُسَبِّحُ لَهٗ فِيْهَا بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ۙ رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ ۙ يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيْهِ الْقُلُوْبُ وَالْاَبْصَارُ ۙ لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝ (النور۔ ع ۵) داسے کورونو کښ چه دهغے متعلق الله تعالیٰ حکم کړے دے چه دهغے دِ ادب اوکړے شی پورته دِ کړے شی په دے کښ سحر او ماښام دالله تعالیٰ تسبیح کوی داسے خلق چه هغوی ته دالله تعالیٰ دیاد نه او د مونځ قائمولو نه او دزکوٰة ورکولو نه نهٔ خو تجارت غافلوی او نهٔ خرڅول په غفلت کښ اچوی۔ دغه خلق دداسے ورځے دسختئ نه ویریږئ په کومه ورځ چه زړونه او سترګے به پریشانه شی (یعنی دقیامت ورځ) او دغه خلق

دا تول هرڅهٔ دے د پاره کوی چه الله جل شانهٔ دهغوی د نیک عملونو بدله هغوی ته ورکړی، او دوی له نه هم زیات انعامونه په خپل فضل سره ورکړی. او الله جل شانهٔ خوچا ته چه اوغواړی بے شمیره ورکوی. سه

تو وہ داتا ہے کہ دینے کے لئے ؛ در تری رحمت کے ہیں ہر دم کھلے

ته هغه ورکوی چه دورکولو د پاره ؛ درستا د رحمت هر وخت پرانستلے دے

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائی د مونځ قائمولو نه مراد دا دے، چه د دے رکوع، سجده په ښهٔ شان ادا کړی، پوره په پوره متوجه اوسی، او خشوع سره ئے کوی. د قتاده رحمه الله نه هم دا نقل کړے شوے ده چه مونځ قائمول د هغے د وختونو حفاظت ساتل او د اودس او د رکوع، سجدے په ښهٔ شان ادا کول، یعنی کوم کوم ځائ چه قرآن شریف کښ اَقَامَ الصَّلٰوۃَ او یُقِیْمُوا الصَّلٰوۃَ راغلی دی هم دغه ترے مراد دے. (در) هم دا خلق دی چه د دوی تعریف بل ځائ په دے لفظونو ارشاد فرمائیلے شوے دے. وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِیْنَ یَمْشُوْنَ عَلَی الْاَرْضِ هَوْنًا وَّاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا ۝ وَالَّذِیْنَ یَبِیْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِیَامًا ۝ (الفرقان ع ۶) "د رحمٰن خاص بندګان هغه دی چه په زمکه بانده عاجزئ سره ګرزی (ایغ نیغ نهٔ ګرزی) او کله چه جاهلان هغوی سره (د جهالت) خبره اوکړی نو وائی سلام (یعنی د سلامتئ خبره کوی چه د شر ختمولو وی یا بس دلرے نه سلام) او دا هغه کسان دی چه ټوله شپه خپل رب نه په سجده کښ تیروی، او ما ښځه کښ ولاړ وی". ورپسے بے نور څو صفتونه ذکر کړی دی. بیا ارشاد دے. اُولٰٓئِكَ یُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوْا وَیُلَقَّوْنَ فِیْهَا تَحِیَّةً وَّسَلٰمًا ۝ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ۝ (الفرقان ع ۶) "هم دا خلق دی چه دوی ته به د جنت بالاخانے په بدله کښ ورکړے شی، ځکه چه دوی صبر اوکړو (یا په دین بانده محکم پاتے شو) او جنت کښ به بے د فرښتو له طرفه په دُعا او سلام سره استقبال اوکړے شی، او په دغے جنت کښ به دوی همیشه همیشه اوسی، خو مره ښهٔ ځائ د قرارئ دے او د استوګنے". بل ځائ ارشاد دے.

وَالْمَلٰٓئِكَةُ یَدْخُلُوْنَ عَلَیْهِمْ مِّنْ كُلِّ بَابٍ ۝ سَلٰمٌ عَلَیْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ۝

Maktaba Tul Ishaat.com

(الرعد-ع ۳) اوفرښتې به دهرې دروازې نه په دوی باندې داخلیږی آووائ به چه په تاسو دِ سلام (اوسلامتی) وی په دې وجه چه تاسو صبر اوکړو، (یا په دین باندې مضبوط او محکم پاتې شوئ) پس ښهٔ دې عاقبت ددې جهان". ددې خلقو تعریف بل ځائ کښ په دې الفاظو سره کړې شوې دې - تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا وَّمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ط فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ط جَزَآءً بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ٥ (السجده-ع ۲) "هغه خلق داسې دی چه د شپې د دوی اړخونه د خوب د ځایونو او د بسترو نه جُدا اُوسی (چه مونځ کښ مشغول وی او) خپل رب بللی د عذاب له ویرې او د ثواب په اُمید کښ - او زمونږ ورکړې شوی څیزونو نه خرچ کوی - پس هیچا ته معلومه نهٔ ده چه د داسې خلقو د پاره څومره دسترګو د یخوالی سامان د غیب په پرده کښ موجود دې چه دوی د نیکو عملونو بدله ده". ددې خلقو په شان کښ دی -

اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ٥ اٰخِذِيْنَ مَآ اٰتٰهُمْ رَبُّهُمْ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِيْنَ ٥ كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ ٥ وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ٥ (الذاريات-ع ۱) بے شکه چه متقیان به په جنتونو (باغونو) او د اُوبو د چینو په مینځ کښ وی، او دوی ته د دوی رب او مالک کوم ثواب ورکړې دې هغه به په خوشالئ اخلی، او ولې به نهٔ وی، چه دغه خلق دې نه وړمبې (په دُنیا کښ) نیکی کوونکی وُو، دوی به د شپې ډیر کم خوب کولو - او په اخره شپه کښ به یې استغفار کولو، (دالله تعالیٰ نه به یې بخښنه غوختله) -

یو ځائ ارشادِ الٰهی دې - اَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ اٰنَآءَ الَّيْلِ سَاجِدًا وَّقَآئِمًا يَّحْذَرُ الْاٰخِرَةَ وَيَرْجُوْا رَحْمَةَ رَبِّهٖ ط قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ط اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ٥ (الزمر-ع ۱) (ایا برابر کیدې شی بې دینه) او هغه کس چه عبادت کوونکې وی د شپې په وختونو کښ، کله سجده کوونکې او کله نیت اُوتړی ولاړ وی، د اخرت نه ویریږی، او د خپل رب د رحمت اُمیدوار وی (ډیره ښه ده ته نهٔ د هغوی نه دا تپوس اوکړه) چرته عالم

او جاهل برابر کیدے شی ؟ او دا ښکاره خبره ده چه عالِم به درب خپل عبادت کوی او چه څوك دا سے کریم سخی مولیٰ عبادت نهٔ کوی، هغه جاهل بلکه اَجْهَل (غټ جاهل دے) بے شکه نصیحت هغه خلق اخلی چه دعقلونو خاوندان دی"۔ یو ځائے ارشاد دے۔

اِنَّ الْاِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوْعًا ٥ اِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوْعًا ٥ وَّ اِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوْعًا ٥ اِلَّا الْمُصَلِّيْنَ ٥ الَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ دَآئِمُوْنَ ٥ (المعارج۔ ع ۱) بے شکه چه انسان غیر مستقل مزاج (یعنی بے صبره) پیدا کړے شوے دے. کله چه دهٔ ته تکلیف اُورسی نو ډیر زیات وارخطا کیږی او کله چه ورته خیر اُورسی نو بخل کوُنکے شی (چه نوروته دا خیر اُونهٔ رسی خو البته هغه مونځ گذار (چه دخپلو مونځونو همیشه پابندی کوی، او په آرام او قلار یے کوی"۔ ورپسے یے ددوی څو صفتونه ذکر کړی دی۔ بیا اِرشاد دے۔ چه وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ٥ اُولٰٓئِكَ فِيْ جَنّٰتٍ مُّكْرَمُوْنَ ٥ (المعارج ع ۱) او هغه کسان چه دمونځونو حفاظت کوی هم دا خلق دی چه ددوی به په جنتونو کښ اکرام او عزت کولے شی۔

دے ته علاوه نور هم ډیر ایتونه دی چه په هغے کښ دمونځ حکم او دمونځ گذار و فضیلتونه دهغوی اعزاز او اکرام ذکر کړے شوی دی۔ او په حقیقت کښ مونځ دے هم دا سے دولت۔ هم په دے وجه ددواړو جهانو دسردار، فخرِ رُسُل نبی اکرم ﷺ اِرشاد دے چه زما دسترګو یخوالے په مانځه کښ دے، هم په دے وجه حضرت ابراهیم خلیل الله علیه الصلوٰة والسلام دُعا فرمائی۔ رَبِّ اجْعَلْنِيْ مُقِيْمَ الصَّلٰوةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ٥ (ابراهیم۔ ع ۶) "اے ربه! ما دمونځ خاص اهتمام کوُنکے اُوګرزوے، او زما په اولاد کښ هم دا سے خلق پیدا کړے چه دمونځ اهتمام کوُنکی وی. اے زمونږه ربه! زما دا دُعا قبوله کړے"۔ د الله تعالیٰ یو خوږ نبی چه هغهٔ ته دخلیل (دالله تعالیٰ ددوستئ) هم فخر حاصل دے، هغه دمونځ پابندی او د هغے اهتمام دالله تعالیٰ نه غواړی۔ په خپله حق سُبْحَانَهٗ وَتَقَدَّسَ خپل محبوب سَيِّدُ المرسلین ته حکم فرمائی۔ وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَیۡهَا ؕ لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقًا ؕ نَحۡنُ نَرۡزُقُكَ ؕ وَالۡعَاقِبَةُ لِلتَّقۡوٰی ؕ (طٰهٰ ـ ع ۸) "خپل کوروالوته د مانځه حکم کوه، او په خپله هم ددے پابندی کوه. مونږ لتا نه روزی (کټل) نهٔ غواړو، روزی خو به تاته مونږ درکوو، او بهترین انجام خو د پرهیزګارئ دے."

حدیث کښ راغلی دی چه کله به په نبی اکرم ﷺ څهٔ تنګسیا وغیره راغله نو د کور خلقو ته به یٔ د مانځه حکم کولو، او دا آیت به یے تلاوت کولو. او هم دا دا انبیاء علیهم السلام عمل نقل کړے شوے دے چه کله به دوی حضراتو ته څهٔ تکلیف پیښ شو، نو مانځه کښ به مشغول شول. خو مونږ ددے ضروری څیز نه داسے غافل او بے پرواه یو، چه د اسلام او د مسلمانئ لوئ لوئ دعوو سره هُم دیخوا نهٔ متوجه کیږو، بلکه کهٔ څوك یلوتکے وَیُونکے راپاسی نو هغهٔ پسے خبرے کوو او مُخالفت یے کوو. او کوم خلق کهٔ مونځ هم کوی په هغوی کښ ډیرپے داسے کوی کهٔ مونځ پورے تپوقے ورته اُودیلے شی نو بے ځایه به نهٔ دی. اکثر ارکان هم پوره نهٔ ادا کوی، د خشوع خضوع به یٔ څهٔ وایے. حال دا چه د نبی اکرم ﷺ نمونه زمونږه مخکښ ده. هغوی هر کار په خپله خودلے دے. د اصحابو کرامو رضی الله عنهم اجمعین کارنامے هم زمونږه وړاندے دی. د هغوی تابعداری کول پکار دی. د اصحابو کرامو رضی الله عنهم څو قصے د نمونے په طور خپله رساله "حکایاتِ صحابه" کښ م لیکلی دی، دلته د هغے دوباره ذکر کولو ضرورت نشته. البته په دے رساله کښ څو قصے د بزرګانو نقل کوم، بیا ورپسے به د نبی اکرم ﷺ ارشادات نقل کوم.

شیخ عبدالواحد رحمة الله علیه د مشهورو بزرګانو نه دے، فرمائی چه یو ورځ راباندے خوب د ومره غالب شو چه د شپے اوراد او وظیفے رانه هم پاتے شوے. په خوب کښ وینم چه یوه ډیره ښائسته ښکلے جینئ چه د شنو ریښمو جامے یے اغوستے دی چه د هغے د پښو پڼړے هم په تسبیح (او ذکر) کښ مشغولے دی. وائی چه زما په طلب کښ کوشش کوه. زهٔ ستا په طلب کښ یم. د ے نه پس یے د عشق و محبت اشعار اُوویل چه د خوبه راپاسیدم، قسَم م اُوخوړهٔ چه د شپے به نهٔ اُودهٔ کیږم، وائی چه د خلوښتو کالو پورے یے د سحر

موږ دِ ما سخوتن په اود اسهٔ کړے دے ۔ (نزہتہ)

شیخ مَظهر سعدی رحمۃ اللہ علیہ یو بزرګ دے چه د الله جل شانهٔ په عشق ومحبّت کښ یے تر شپیتو کالو پورے ژړل ۔ یوه شپه یے خوب کښ اُولیدل چه لکه یو والهٔ دهٔ ۔ چه خالص د مشکو نه جوړ کړے شوے دهٔ ۔ دهغے په غاړو د ملغلرو وُنے د سرو زرو د ښاخونو خوزی ۔ هلته یو څو پیغلے جینکۍ په زوره زوره د الله تعالیٰ په تسبیح کښ مشغولے دی ۔ دهٔ ترے تپوس اوکړهٔ ، تاسو څوك یئ ؟ نو هغوی دوه شعرونه اُووے ، چه دهغے مطلب دا وُو چه مونږه د خلقو معبود او د محمد صلی اللہ علیہ وسلم پرورد ګار هغه خلقو د پاره پیدا کړی یو ، چه د شپے د خپل پرورد ګار د ړاندے په خپلو قدمونو باندے ولاړ وی ، او د خپل الله تعالیٰ سره مُناجات (راز و نیاز) کوی ۔

ابوبکر ضریر رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه زما په خوا کښ یو ځلمے غلام اُوسیدهٔ ، ټوله ورځ به یے روژه نیوله ، او ټوله شپه به یے تهجد کول ۔ یوه ورځ هغه ما ته راغے بیان یے اوکړهٔ چه زهٔ اتفاقاً شپه اُوده شوے وم خوب کښ م اُولیدل چه د محراب دیوال اُوچوُدهٔ ، د هغے نه یو څو جینکۍ ډیرے ښائسته او ښکلے راښکاره شوے خو په هغوی کښ یوه ډیره بد شکله هم وه ۔ ما د هغوی نه تپوس اوکړهٔ ، تاسو څوك یئ او دا بد شکله څوك ده ؟ هغوی اُووے چه مونږ ستا تیرے شوے شپے یو ، او دا ستا نننۍ شپه ده ۔ (نزہتہ)

یو بزرګ وائی چه ما ته یوه شپه دا سے سخت خوب راغے چه سترګے م اُونهٔ غړیدے ۔ ما په خوب کښ اُولیدل چه یو دا سے ښائسته جینۍ دهٔ چه دهغے په شان م ټول عمر کښ نهٔ وه لیدلے ، دهغے نه دا سے تیزه خوشبوئی تله چه ما دغسے خوشبوئی چرے هم نهٔ وه بوئی کړے ۔ هغے ما ته د کاغذ یوه پرچه راکړه ، په هغے کښ درے شعرونه لیکلی وُو ۔ د هغے مطلب دا وُو چه تهٔ د خوب په خوند کښ مشغول شوے او د جنت د بالاخانو نه غافل شوے چه هلته همیشه ستا اُوسیدل دی ، او مرګ هم هلته نهٔ راځی ، د خپل خوبه پاسه ، دا اُودهٔ کیدو نه په تهجدو کښ قران لوستل بهتر دی ۔ دے وائی دے نه پس چه کله ما ته خوب راځی او دا اشعار را په یاد شی نو خوب را نه ېښې اُوځی ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت عطاء رحمة الله عليه وائی چه زهٔ بازارته لاړم، هلته يوه وينزه خرڅيدله چه ليونئ خودلے شوه. ما په اووهٔ اشرفئ واخستله اوکورته م راوسته، کله چه د شپې څهٔ حصه تيره شوه، ما اوليدل چه هغه پاسيدله اودسې اوکړهٔ مونځ يې شروع کړهٔ، او په مانځهٔ کښې د هغې داحالت وو، چه په ژړا ژړا ترے ساه وتله. د مانځهٔ نه پس يې مُناجات شروع کړل، او داېې اُووے، اے زما الله! ستا د ما سره په مُحبت قسم وی چه په ما رحم اُوکړه. ما ورته اُووے، دا رنګ مهٔ وايه، دا سے وايه چه زما دِ تا سره په مُحبت ستا لو قسم وی. دا چه يې واوريدل نو غصه شوه، اووے وئيل قسم م دِ وی په هغې ذات، کهٔ چرے د هغهٔ ما سره مُحبت نهٔ وے، نو تهٔ به يې په خوږ خوب اُودهٔ کړے نهٔ وے، او زهٔ به يې ځان ته داسے اُودرولے نه. بيا پړمخې پريوتله او څو شعرونه يې اُووے چه د هغې مطلب داوے، چه بے آرامي (ساعت په ساعت) زياتيږی، زړهٔ م سوزی، صبر لاړو، اُوښکې م بهيږی. هغه کس ته څهٔ رنګې قرار راتلے شی چه هغه د عشق اوشوق پريشانو بے آرامه کړے دے. اے الله! کهٔ د خوشالئ څهٔ څيزوی، هغه ما ته راکړے، په ما احسان اوکړے. دے نه پس يې په اُوچت آواز سره دا دُعا اُوکړه، چه اے الله! زما او ستا معامله تر اُوسه پورے پټه وه. اُوس مخلوق پرے خبر شو، اُوس ما واخلے. دا يې اُووے او په زوره يې يوه چغه اُووهله او مړه شوه.

د دے قسمه يوه واقعه حضرت سِرّی رحمة الله عليه سره هم پيښه شوے وه. دے وائی چه ما د خپل خدمت د پاره يوه وينزه واخسته، څهٔ موده پورے هغې زما خدمت کولو، او خپل حالت يې ما نه پټولو. د هغې د مانځهٔ يو ځائ مقرر وو، کله چه به د کار نه فارغه شوه، هلته به لاړه، مانځهٔ کښې به مشغوله شوه. يوه شپه ما اوليده، چه هغه کله مونځ کوی او کله مناجات کښې مشغوله شی، او وائی چه تهٔ د هغې مُحبت په وسيله چه ستا ما سره دے فلانے فلانے کار اوکړے. ما ورته په زوره اُووے چه اے ښځې! داسے وايه چه زما د مُحبت په وسيله سره چه زما تا سره دے. دے وئيل زما آقا! کهٔ چرے د هغهٔ ما سره مُحبت نهٔ وے، نو تهٔ به يې د مانځهٔ نه کينولے نه، او زهٔ به يې

ځان ته اُودرولے نه۔ سرِي وائي چه کله سحر شو، نو مارا اُو غوښتله، ورته م اُووے چه ته خما د خدمت قابله نهٔ یې، د الله تعالیٰ د عبادت لائقه یې۔ ځه سامان م ورته ورکړهٔ آزاده م کړه۔ (نزهته)

حضرت سرِي سقطي رحمة الله علیه د یو زنانه حال بیانوي چه کله به هغه د تهجد د مانځه ته اُودریدله، نو ویل به یې، اے الله! ابلیس هم ستا یو بنده دے، د هغهٔ تندے (اُو وجود) ستا په قبضه کښ دے۔ هغه ما ویني، اَو زهٔ هغه نهٔ وینم، ته هغه وینې، او د هغهٔ په ټولو کارونو قدرت لرې۔ او هغه ستا په هیڅ کار قدرت نهٔ لري۔ اے الله! که چرے هغه زما بدي غواړي، نو ته هغه لرے کړے۔ او که هغه ما سره دهوکه کوي، نو ته د هغهٔ نه د دهوکے بدله واخلې۔ د هغهٔ د شر نه په تا سره پناه غواړم۔ او ستا په مدد سره هغه لرے کوم۔ د دے نه پس به یې ژړل، تر دے چه په ژړا ژړا کښ یې د یوے سترګے نظر ختم شو۔ خلقو ورته اُووے د الله تعالیٰ نه اُویریږه چرته د بلے سترګے نظر د لاړ نهٔ شي۔ هغې اُو ویل که چرے دا سترګه د جنت سترګه ده نو الله جل شانهٔ به د دے نه بهتره راکړي۔ او که چرے د دوزخ سترګه ده، نو د دے لرے کیدل بنهٔ دي۔

شیخ ابو عبدالله جلاء رحمة الله علیه وائي چه یوه ورځ زما مور زما پلار ته د کب راوړلو اُووے۔ پلار صاحب م بازار ته لاړو، زهٔ هم ورسره ؤم۔ کور ته راوړلو د پاره مو مزدور لټولو۔ یو ځوان هلک خوا کښ ولاړ ؤ، وے ویل، کاکا جي! د دے د اُوچتولو د پاره مزدور پکار دے؟ پلار م اُووے، اَو هغې هلک په خپل سر باندے اُوچت کړو، مونږ سره را روان شو۔ په لاره کښ هغهٔ د آذان آواز واوریدهٔ، وے ویل چه د الله تعالیٰ له طرفه بلنه راغله، زهٔ به اودس هم کوم۔ د مانځه نه پس به یې یوړے شم، که ستا سو زړهٔ غواړي انتظار اُوکړئ، کنې خپل کب واخلئ، دا یې اُووے کب یې کیخودو لاړو۔ زما پلار خیال اُوکړو چه دا مزدور هلک خود دا سے کوي۔ مونږ ته خو دهٔ نه زیات په الله تعالیٰ باندے تکیه کول پکار دي۔ دا یې سوچ اُوکړو، هغهٔ هم کب هلته کیخودهٔ، جُمات ته لاړو، د مانځه نه چه فارغ شو ټول راغلو، نو کب

Maktaba Tul Ishaat.com

هم هغسې پروت وُو، هغه هلک رااُوچت کړو، زمونږ کورته یې رااُورسوُو. کور ته چه لاړو، پلار م دا عجیبه قصه مورته واورَوُله، هغې ورته اُووے چه اِیسار یې کړه چه هغه هم کب اُوخوری، بیا دې ځی. هلک ته چه یې اُووے. هغهٔ اُوویل زما خور روژه ده. پلار صاحب م اِصرار اوکړو چه ماښام دلته راشه، روژه ماته کړه. هلک اُووے چه زهٔ یووارے لاړشم بیا به راځم خوداکیدے شی چه زهٔ به دے نزدے جُمات کښ یم، ماښام ستا سو دعوت چه اُوخورم لاړبه شم، دا یې اُووے خواکښ نزدے جُمات ته لاړو. ماښام د ماښځه نه پس راغے، او خوراک یې اوکړو، او د خوراک نه پس ورته ځان له ځشے تیار وُلو ځای اُوخودلو. زمونږ په خواکښ نزدے یوه کوډه ښځه زنا ته اُوسیده، مونږ اُولیده چه هغه بیخی روغه جوړه راروانه ده. مونږ ترے تپوس اُوکړهٔ چه ته څنګه ښه شوے. وے ویل چه ما دے میلمه په وسیله دُعا اُوکړه. چه اے الله! د دهٔ په برکت سره ما ښه کړے، زهٔ فورًا ښه شوم. دے نه پس چه مونږ هغه ځای ته دهغهٔ دلیدو د پاره ورغلو، نو څهٔ کورو، چه دروازے بندے دی، او د هغې مزدور چرته پته نهٔ وه.

دیو بزرګ قصه یې لیکلے ده، چه دهغهٔ په پښه کښ ننګئ رااُوختله طبیبانو اُووے کهٔ چرے دهٔ پښه پرے نکړے شوه، نو د هلاکت خطره ده. د هغهٔ مور صاحبې اُووے چه لږ صبر اوکړئ چه دے د مانځه نیت اُوتړی، نو بیا ترے پریکړئ، نو هُم داسے اوکړے شو، هغهٔ ته هډو معلومه نهٔ شوه.

ابو عامر رحمة الله عليه وائی چه ما یوه وینځه اُولیده چه په کم قیمت خرڅیدله ډیره کمزورے وه. د هغې ګیډه د ملا سره نګیدلے وه، ویښته یې خوارهٔ وارهٔ وُو. ماته پرے رحم راغے، وا م خستله. ورته م اُووے چه ما سره بازار ته لاړه شَه چه د روژے د میاشتے د پاره څهٔ ضروری سامان واخلو. دے اُوویل چه د الله تعالیٰ شکر دے چه هغهٔ ما د پاره ټولے میاشتے یوشان کړی دی. دے به همیشه دوُرے روژه نیوله، او ټوله شپه به یې مونځ کوُلو، کله چه اختر نزدے راغے، نو ما ورته اُووے چه صبا سحر به بازار ته ځو، ته هُم راسره لاړه شَه، د اختر د پاره به څهٔ ضروری سامان واخلو، راؤبه ړو. وے

ویل، زما اقا! ته خو په دُنیا کښې ډیر مشغول یې، بیا د ننه لاړه او په مانځه کښې مشغوله شوه او په اِطمینان سره یې اوږد اِیت به یې په شوق او مزې سره لوستلو تر دې چه دے اِیت ته اورسیده وَيُسْقٰى مِنْ مَّآءٍ صَدِيْدٍ الآية (سورة ابراهيم ع ۳) دا اِیت یې بار بار ویلو، او یوه کریکه یې اووهله، د دې دُنیا نه رخصت شوه.

د یوسُف صاحب قصه یې لیکلې ده چه دولس ورځو پورې یې یو اودس تول مونځونه اوکړل، او پنځلس کاله پر له پسې د سملاستو موقع یې رانغله څو ورځې به دا سې تیرې شوې چه د هیڅ څیز څکلو موقع به یې رانغله.

مجاهده کوُنکو خلقو کښې د دے قسمه واقعات ډیر زیات مونده شي. د دے حضراتو په شان د نیکئ حرص خو ډیر مشکل دے چه الله جل شانهٗ دوی پیدا کړي هم دے د پاره وُو، خو چه کوم بزرګان د دینی کارونو سره په دُنیوی کارونو کښې مشغول وُو د هغوی حرص هم زمونږ په شان خلقو ته ګران دے.

حضرت عُمر بن عبد العزیز رحمۃ اللہ علیہ نه ټول خلق واقف دی. د خُلفائے راشدینو نه پس د دوی مقام دے، د دوی بی بی صاحبه وائی چه عُمر بن عبد العزیز نه زیات په اودا سهٔ او مانځه کښې مشغولیدُ ونکی خو به نور هم وی، خو دهٔ نه زیات د الله تعالیٰ نه ویریدُ ونکے ما نهٔ دے لیدلے. د ماسخوتن د مانځه نه پس به په مُصَلیٰ کیناستهٔ، او دُعا د پاره به یې لاس اوچت کړهٔ اوژړل به یې. تر دے چه په دے کښې به پرے د خوب غلبه اوشوه نو ستر ګے به یې ورغلے، بیا به چه کله پاسیدهٔ نو دارنګے به یې ژړل، او په دُعا کښې به مشغولیدهٔ. وائی چه د خلافت نه پس د جنابت د غسل موقع ورته نهٔ وه راغلے، د دوی بی بی صاحبه د عبد الملک بادشاه لور وه. پلار ورته ډیر څهٔ کالی جواهرات ورکړی وُو، او یو داسے ملغلره یې ورکړے وه، چه د هغے مثال نهٔ وُو. دوی خپلے بی بی ته اُووئیل چه په دوه ؤ خبرو کښې یوه راخله. یا خو هغه کالی د الله تعالیٰ د پاره راکړه چه زهٔ یې په بیت المال کښې داخل کړم یا ما نه جدائی اختیار کړه، ما ته دا څیز نا خوښه دے چه زهٔ او دا مال دِ دواړه یو کور کښې یو ځائے یو. بی بی عرض اوکړهٔ چه دا مال څهٔ څیز دے، زهٔ خو به د دے نه په څو چنده زیات باندے هم تا سو ته پریږدم. دا یې اُووے، ټول

مال یے په بیت المال کښې داخل کړۀ- دوی د وفات نه پس کله چه عبد الملك
خوئ یزید بادشاه شو نو هغهٔ د خورنه پوښتنه اُوکړه که چرے ته غواړے، نو
ستا کالی به تا ته واپس کړے شي- ورے ویل چه کله د هغهٔ په ژوند کښې زۀ
په هغے خوشاله نهٔ شوم، نو د هغهٔ د مرګ نه پس به پرے څهٔ خوشاله شم-
مَرَضُ الْمَوْت (یعنی کوم مرض کښې چه وفات شو) دوی د خلقو نه تپوس
اُوکړو چه د دے مرض باره کښې د خلقو څهٔ خیال دے؛ چا عرض اُوکړو چه
خلق یے جادو ګنړی- دوی اُوفرمایل، دا نهٔ ده، بیا یو غلام یے را اُوبلهٔ،
تپوس یے ترے اُوکړۀ چه ما ته زهر راکولو باندے ته څهٔ څیز تیار کړے؟
هغهٔ اُووے چه سل اَشرفئ یے راکړے، او د ازادئ وعده یے راسره اُوکړه-
ورته یے اُوفرمایل هغه اَشرفئ راوړه- هغهٔ راوړے، دوی هغه بیت
المال کښې داخلے کړے، او هغے غلام ته یے اُوفرمایل، ته د اسے ځائ ته لاړ
شه چه هلته دِ څوك اُونهٔ وینی- د وفات په وخت مَسْلَمه رحمة الله علیه د دوی
په خدمت کښې حاضر شو، اَوعرض یے اُوکړو چه تا سو اولاد سره داسے
اُوکړل چه هیچا به نهٔ وی کړی- ستا سو دیارلس ځامن دی، او هغوی د
پاره دِ نهٔ روپئ پریخودے او نهٔ پیسے- دوی ورته اُوفرمایل چه لږ ما کینوئ-
کینا ستهٔ- نو ورے فرمایل چه ما د هغوی هیڅ حق نهٔ دے لاندے کړے-
او د نورو حق م هغوی ته نهٔ دے ورکړے- پس که چرے هغوی صالحان
وی نو الله جل شانهٔ په خپله د هغوی ګفیل (ضامن) دے- په قرانِ
پاك کښې اِرشاد دے، وَهُوَ يَتَوَلَّى الصّٰلِحِيْنَ (الاعراف) الله تعالی د صالحانو کارساز
دے- او که چرے هغوی ګنهګار وی، نو زۀ یے هیڅ پرواه نهٔ کوم-

حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه چه د فقهے مشهور امام دے،
ټوله ورځ به په مسئلو کښې مشغول وُو، او سره د دے به یے شوا روز کښې
درے سوه رکعته نفل کول- حضرت سعید بن جُبیر رحمة الله علیه به په یو
رکعت کښې یو قران شریف لوستلو-

حضرت محمد بن منکدِر رحمة الله علیه د حدیث په حافظانو کښې دے- یوه
شپه یے په تهجد وکښې دومره اُوژړل چه څهٔ حد یے نهٔ وُو، چا ترے نه

پوښتنه اُوکړه، نو وې فرمايل په تلاوت کښې م دا آيت راغلے وُو- وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ ۞ (الزمر ع ۵) (تر اخره پورے) د دِېته پورتنی آيت کښې ددے ذکر دے، کۀ چرے ظلم کوُنکو سره د دُنيا ټول خيزونه شي، اَو هغو مره ورسره نور هم شي، نو هغوي به يې د قيامت په ورځ سخت عذاب نه د خلاصيدو د پاره فديه کښې ورکړي- دِېته پس اِرشاد دے، وَبَدَا لَهُمْ (الآية) او د الله تعالىٰ له طرفه به هغوي د پاره (دعذاب) هغه معامله مخکښې راشي، چه هغوي ته ددے ګمان هم نۀ وُو، او دغه وخت به هغوي ته خپلے ټولے بدعملئ ښکاره شي، حضرت محمّد بن منکدر رحمة الله عليه د وفات په وخت هم ډير ويريدلو، اَو ويل به يې چه ددے آيت نه ويريږم-

حضرت ثابت بُنانی رحمة الله عليه د حديث په حافظانو کښې دے، دومره ډير په د الله تعالىٰ مخکښې ژړيدلو چه څۀ حد يې نۀ وُو، چا ورته اُووے چه د سترګو نظر به دِلاړ شي- وې فرمايل کۀ په دے سترګو اُونۀ ژاړو، نو فائده به يې څۀ شوه، دا دُعا به يې کوُله چه اے الله! کۀ چرے چا ته په قبر کښې د مونځ کولو اِجازت کيدے شي، نو ما ته دِ هم اُوشي- اَبُو سِنان رحمة الله عليه فرمائي، په الله پاک م دِ قسم وي، زۀ په هغې خلقو کښې وُم، چا چه ثابت رحمة الله عليه دفن کړے وُو دفن کولو په وخت کښې د لحد نه يوه خښته پريوتله، نو ما اُوليدل چه هغه ولاړ دے مونځ کوي- ما خپل ملګری ته اُوويل، اُوګوره دا څۀ کيږي- هغۀ ما ته اُووے چُپ شه- هر کله موچه دفن کړۀ، نو کور ته يې لاړم، د لُور نه م پوښتنه اُوکړه، چه د ثابت رحمة الله عليه عمل څۀ وُو، هغې اُووے ولے تپوس کوے؟ ما ورته قصه بيان کړه، هغې اُووے چه پنځوس کاله يې شوګيره اوکړه او سحر به يې هميشه دا دُعا کوُله، اے الله! کۀ چرے تۀ چا ته دا دولت ورکوے چه هغۀ دِ په قبر کښې مونځ اُوکړي، نو ما ته يې هم راکړے- (اقامة الحجة)

حضرت امام ابويوسف رحمة الله عليه سره د علمی مشغولو چه ټولو ته معلوم دی، او ددے نه علاوه د قاضِيُ الْقُضَاة په وجه د قضا مشغلے يې جُدا وے- خو بيا به يې هم دوه سوه رکعته نفل هره ورځ کول-

حضرت محمّد بن نصر رحمة الله عليه مشهور محدِّث دے، دومره په شوق او

Maktaba Tul Ishaat.com

توجُّه سره به یې مونځ کوَلو چه دهغې مثال موندل گران دی، یو وارې په 30
مانځه کښې په تندی مچئ اُوچیچه، چه دهغې په وجه وینه ترې هم راُووتله
خو نهٔ یې څهٔ حرکت اُوکړهٔ، اَو نهٔ یې په خشوع خضوع کښې څهٔ فرق راغے
ویلې شی چه په مانځه کښې به دلړکی په شان بې حرکته ولاړ وُو۔

حضرت بَقی بن مُخلّد رحمة الله علیه به هره شپه د تهجُّد واو دوِترو دیارلس
رکعتونو کښې پوره قرآن شریف لوستلو۔

حضرت هنّاد رحمة الله علیه یو مُحدِّث دے، دهغهٔ شاگردان وائی چه دوی
به ډیر زیات ژړل، یو ځل یې سحر مونږ ته سبق اُوخودهٔ، دے به پس اَودس
وغیره نه فارغ شو، تر زواله پورې یې نفلونه کوَل، غرمه یې کور ته تشریف
یَوړهٔ۔ لږ ساعت پس راغے، دماسپخین مونځ یې ورکړهٔ، او تر مازیگره په نفلو
کښې لگیا وُو۔ بیا یې دمازیگر مونځ ورکړهٔ، او دقرآن پاک تلاوت سره یې تر
ماښامه پورې کوَلو۔ ماښام نه پس ترې زهٔ واپس راغلم، ما دهغهٔ یو
گاونډی ته په تعجُّب سره اُووے، چه داکس څومره عبادت کوُنکے دے۔
هغهٔ اُووے چه داَویا کالو نه دهٔ دا عمل دے۔ او که چرې ته دهٔ د شپې
عبادت اُووینې، نو نور به هم تعجُّب اُوکړې۔

مَسروق رحمة الله علیه یو مُحدِّث دے، دهٔ بی بی وائی چه دهٔ به مونځونه
دومره اُوږدهٔ اُوږدهٔ کوَل چه دهغې په وجه یې په پښو کښې به همیشه
پړسوب وُو، اَو زهٔ به دهٔ نه روستو ناسته وُمه، او دهٔ په حال به رحم
راتلو ژړل به مې۔ دسَعید بن المُسَیّب رحمة الله علیه متعلق یې لیکلی دی چه
پنځوس کالو پورې دماسخوتن او دسحر مونځونه یې په یو اَودس کړی دی،
او دابُو المُعتَمِر رحمة الله علیه متعلق یې لیکلی دی چه دڅلویښتو کالو پورې یې
دغسې کړی دی۔ امام غزالی رحمة الله علیه دابوطالب مکی رحمة الله علیه نه نقل کړی دی
چه دڅلویښتو تابعینو نه دتواتر په طریقه دا خبره ثابته ده، چه هغوی به
دماسخوتن په اودس دسحر مونځ کوَلو۔ په دوی کښې دبعضو تر څلویښتو
کالو پورې هم دا عمل وُو۔ (اتحاف)

دحضرت امام اعظم رحمة الله علیه متعلق خو ډیر زیات دا خبر نقل کړے شوے

دے چه دیرش یا څلویښت یا پنځوس کاله د ماسخوتن او د سحر مونځونه یې په یو اودس کړی دی، او د اختلاف د نقل کونکو د اختلاف په وجه دے چه چا ته یې د څومره کلونو علم وو، هغومره یې نقل کړو. لیکې چه د دوی عادت صرف د غرمے لږ ساعت د اُودهٔ کیدو وو. او دا یې فرمایل چه د غرمے د اُودهٔ کیدو په حدیث کښې حکم دے۔

د حضرت امام شافعي رحمة الله علیه عمل وو چه په رمضان کښې به یې شپیتهٔ قرآن شریفه په مانځه کښې لوستل. یو کس وائی چه زهٔ څو ورځو پورے امام شافعي رحمة الله علیه سره پاتے شوم، صرف د شپے په لږ ساعت اُودهٔ کیدهٔ.

حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه به د رے سوه رکعته هره ورځ کول او کله چه دوخت بادشاه په کړورو اُووهلو، نو دے په وجه ډیر کمزورے شو، نو بیا به یې یونیم سل رکعته کول، او تقریباً د اتیا کالو عمر یې وو.

ابو عتاب سلمي رحمة الله علیه تر څلویښتو کالو پورے به یې ټوله شپه ژړل، او د ورځے به یې همیشه روژه نیوله.

دے نه علاوه په زرګونو لکهونو واقعات د توفیق والو د تاریخ په کتابونو کښې ذکر دی چه دهغے راجع کول هم ګران دی. د نمونے او د مثال د پاره بس دا واقعات کافی دی. الله جل شانهٔ د ما ته هم او تاسو ته هم د دے حضراتو د تابعدارۍ څهٔ حصه په خپلے مهربانۍ او فضل سره نصیب کړی. آمین

(۱) عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ رضي الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَقُوْلُ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَنْصَرِفُ وَمَا كُتِبَ لَهٗ إِلَّا عُشْرُ صَلٰوتِهٖ تُسْعُهَا ثُمْنُهَا سُبْعُهَا سُدُسُهَا خُمُسُهَا رُبُعُهَا ثُلُثُهَا نِصْفُهَا

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دے چه سړے د مانځه نه فارغ شي، نو د هٔ د پاره د ثواب لسمه حصه اُولیکلے شي، د غسے د بعضو د پاره نهمه حصه، د بعضو د پاره اَتمه، اُوومه، شپږمه، پنځمه، څلورمه، دریمه، نیمه حصه لیکلے شي۔

(۱) رواه ابوداؤد وقال المنذري في الترغيب رواه ابوداؤد والنسائي وابن حبان في صحيحه بنحوه اهـ وعزاه في الجامع الصغير الى احمد والى داؤد وابن حبان ورقم له بالصحيح وفي المنتخب عزاه الى احمد ايضاً وفي الدر المنثور اخرج احمد عن ابي اليسر مرفوعاً منكم من يصلي الصلوٰة كاملة ومنكم من

Maktaba Tul Ishaat.com

یصلی النصف والثلث والربع والخمس حتی بلغ العشر قال المنذری فی الترغیب رواہ النسائی باسناد حسن واسم ابی الیسر کعب بن عمرو السلمی شہد بدرًا آھ۔

فائدہ: یعنی چه د کومے درجے خشوع او اخلاص په مانځه کښې ی هغومره مقدار په اجر او ثواب ورکولے شي. تردے چه بعضو ته د پوره اجر لسمه حصه ورکولے شي، کهٔ چرے د هغې موافق خشوع خضوع وي او بعضو ته نیمه ورکولے شي، او دارنګے د لسمے نه کم او نیمے نه زیات هم ورکولے شي. تردے چه بعضو ته بیخي هیڅ نهٔ شي ورکولے، چه هغوي به ددے اجر د قابل نهٔ وي. یو حدیث کښې راغلي دي چه فرض مونځ د پاره د الله تعالیٰ په نزد یو خاص وزن دے۔ (جامع الصغیر) څومره چه په هغې کښې کمے پاتے شي، د هغې په حساب کولے شي۔

په حدیثونو کښې راغلي دي چه د خلقو نه به د ټولو نه ړومبے خشوع اوچته کړے شي، چه په ټوله جمع کښې به یو کس هم په خشوع سره مونځ کوونکے بیا نهٔ موندلے شي۔ (جامع الصغیر)

(۲) رُوِیَ عَنْ اَنَسٍ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم مَنْ صَلَّی الصَّلَوَاتِ لِوَقْتِهَا وَاَسْبَغَ لَهَا وُضُوْءَهَا وَاَتَمَّ لَهَا قِيَامَهَا وَخُشُوْعَهَا وَرُكُوْعَهَا وَسُجُوْدَهَا خَرَجَتْ وَهِيَ بَيْضَاءُ مُسْفِرَةٌ تَقُوْلُ حَفِظَكَ اللّٰهُ كَمَا حَفِظْتَنِيْ وَمَنْ صَلَّاهَا بِغَيْرِ وَقْتِهَا وَلَمْ يُسْبِغْ لَهَا وُضُوْءَهَا وَلَمْ يُتِمَّ لَهَا خُشُوْعَهَا وَلَا رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا خَرَجَتْ وَهِيَ سَوْدَاءُ مُظْلِمَةٌ تَقُوْلُ ضَيَّعَكَ اللّٰهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِيْ حَتّٰی اِذَا كَانَتْ حَيْثُ شَاءَ اللّٰهُ لُفَّتْ كَمَا يُلَفُّ الثَّوْبُ الْخَلَقُ

(نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارک دے، چه څوک مونځونه په خپل وخت کښې کوي، اودس هم په ښهٔ شان اوکړي او په خشوع خضوع سره یے هم اوکړي، ولاړ هم په پوره وقار (عزت) سره وي، بیا دغسے رکوع او سجده هم په ښهٔ شان په اطمینان سره اوکړي غرض دا چه هر یو څیز په ښهٔ شان ادا کړي، نو دغه مونځ ډیر روښانه ځلیدونکے جوړ شي او مونځګذار ته دُعا کوي چه الله جل شانهٔ د ستا هم داسے حفاظت اوکړي څنګه چه تا زما حفاظت اوکړهٔ - او چه څوک مونځ په بد شان اوکړي، د وخت هم خیال اُونهٔ ساتي، اودس هم په ښهٔ شان اُونکړي، رکوع، سجده هم په ښهٔ شان

ثُمَّ ضُرِبَ بِهَا وَجْهُهٗ. (رواه الطبرانی فی الاوسط کذا فی الترغیب و الدر المنثور وعزاہ فی المنتخب الی البیهقی فی الشعب وفیہ ایضًا بروایۃ عبادۃ ابن الصامت رضی اللّٰہ عنہ بمعناہ وزاد فی الاولی بعد قولہ کما حفظتنی ثم اصعد

اونکړی، نودغه مونځ بد شکله تور رنګ کښ دۀ ته خیرے کوی چه اللّٰه تعالیٰ دِ تاهم دلسے برباد کړی، څنګه چه تا څۀ ضائع کړم۔ دے نه پس هغه مونځ دزړے کپړے په شان راغونډ کړے شی دمونځ ګذار په مخ وَرَ اُوو یشتلے شی۔

بہا الی السماء، ولہا ضوء ونور ففتحت لہ ابواب السماء حتی ینتہی بہا الی اللّٰہ فتشفع لصاحبہا وقال فی الثانیۃ وغلقت دونہا ابواب السماء، وعزاہ فی الدر الی البزار والطبرانی وفی الجامع الصغیر حدیث عبادۃ الی الطیالسی وقال صحیح)

فائده: خوش قسمته دی هغه خلق چه مونځ په ښۀ شان کوی چه داللّٰه تعالیٰ دټولو نه ضروری عبادت دهغۀ دپاره دُعا کوی خو عمومًا چه څنګه مونځ کولے شی چه رکوع یے اُوکړه نو دهغه ځائ نه سجدے ته لاړ، دسجدے نه پاسیدۀ نو سر یے لا اُوچت کړے نۀ وُو، چه زر د کارغۀ په شان دویمه ټونګه یے اُووَهله۔ دداسے مونځ چه کوم حال دے هغه یے په دِے حدیث کښ ذکر کړے دے۔ اوبیا چه کله دغه مونځ دبربادئ خیرے کوی، نو دخپلے بربادئ کِله دِ ګیله کوُو۔ هُم داوجه دۀ چه نن مسلمانان په پریوتو دی، او هرطرف نه دتباهئ تباهئ اَوازونه خیژی۔ یوبل حدیث کښ هم دا مضمون راغلے دے، په هغے کښ داهم زیاتے دے، چه کوم مونځ په خشوع خضوع سره اُوکړے شی، داسمان دروازے هغۀ دپاره پرانستے شی، هغه ډیر نورانی وی، او دمونځګذار دپاره داللّٰه جل شانه په دربار کښ سفارشی جوړیږی۔ ډنبی علیه الصلٰوة والسلام ارشاد دے چه کوم مونځ کښ چه رکوع په ښۀ شان اُونکړے شی چه ملا پوره تیته شی دهغے مثال دهغے زنانه په شان دے چه حامِله (اُمیدواره) وی او چه کله دبچی دپیدا کید و وخت نزدے شی، نو زیان اوکړی۔ (ترغیب)

یوحدیث کښ اِرشاد دے چه ډیر روژه نیونکی داسے دی چه هغوی ته په روژه سِوا دلوږے تندے نه هیڅ نۀ حاصلیږی۔ او ډیر شوکیره کوُنکی داسے دی چه هغوی ته سِوا دشپے رونړولو نه هیڅ خیز نۀ حاصلیږی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه ما د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه واوریدل چه څوک د قیامت په ورځ پنځه وخته مونځونو سره داسے حاضر شی چه هغے د وختونو حفاظت کړے وی او د اوداسه ئے هم اهتمام کړے وی، او دا مونځونه ئے خشوع خضوع سره کړی وی، نو الله جل شانهٔ وعده کړے ده چه هغوی به نشی عذابولے. او چه څوک داسے مونځونو سره حاضر نهٔ شی، دهغوی د پاره هیڅ وعده نشته. خوښه ئے ده چه په خپل رحمت سره ئے معاف کړی یا عذاب ورکړی. یو بل حدیث کښ دی، چه یو وارے نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د صحابو رضی الله عنهم خواته تشریف راوړهٔ، او ارشاد ئے اُوفرمایهٔ چه آیا تاسو ته معلومه ده چه الله جل شانهٔ څهٔ اُوفرمایل، صحابو رضی الله عنهم عرض اُوکړهٔ چه الله تعالیٰ او دهغهٔ رسول صلی الله علیه وسلم بنهٔ پوهیږی. نبی علیه الصلوٰة والسلام د اهتمام د پاره درے وارے هم دا پوښتنه اُوکړه، او صحابو هم دا جواب ورکولو. دے نه پس ئے ارشاد اُوفرمایهٔ، چه الله جل شانهٔ د خپل عزت او د خپلے لوئی قسم اُوکړو، او ئے فرمایل چه څوک دا مونځونه د وختونو پابندئ سره کوی هغه به جنت کښ داخلوم، او چه څوک ئے پابندی نهٔ کوی، کهٔ زما زړهٔ اُوغواړی، په رحمت سره به ئے اُوبخښم، کنی عذاب به ورکړم.

(۴) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم يَقُوْلُ إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلٰوتُهٗ فَإِنْ صَلُحَتْ فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ وَإِنْ فَسَدَتْ خَابَ وَخَسِرَ وَإِنِ انْتَقَصَ مِنْ فَرِيْضَةٍ قَالَ الرَّبُّ أُنْظُرُوْا هَلْ لِعَبْدِيْ مِنْ تَطَوُّعٍ فَيُكَمَّلُ بِهَا مَا انْتَقَصَ مِنَ الْفَرِيْضَةِ ثُمَّ يَكُوْنُ سَائِرُ عَمَلِهٖ عَلٰى ذٰلِكَ.

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دے، چه په قیامت کښ د بنده گانو په عملونو کښ د ټولو نه رومبے د فرض مونځ حساب کولے شی. کهٔ مونځ ئے ښهٔ راُووتهٔ، نو دغه کس کامیاب شو او گټه ئے اوکړه، او کهٔ مونځ ئے بے کاره ثابت شو، نو هغه به نامراده په نقصان کښ وی. او کهٔ په مانځه کښ ئے څهٔ کمے پیامونده شو، نو الله جل شانهٔ به اُووائی، چه اُوگورئ دے بنده سره څهٔ نفلونه هم شته، چه په هغے سره ئے فرائض پوره کړے شی. کهٔ چرے راُووتل، نو په

(رواه الترمذی وحسنه النسائی وابن ماجة والحاکم وصححه کذا فی الدر وفی المنتخب بروایة الحاکم فی الکنی عن ابن عمر اول

هغه سره به د فرضو پوره والے اوکړے شی. دے نه پس بیا د غسے د باقی عملونو زکوٰة وغیره حساب به وی.

ما افترض الله علٰی امتی الصلوات الخمس واول ما یرفع اعمالهم الصلوات الخمس الحدیث لطوله بمعنی حدیث الباب وفیه ذکر الصیام والزکوٰة نحو الصلوٰة وفی الدر اخرج ابو یعلٰی عن انس رفعه اول ما افترض الله علی الناس من دینهم الصلوٰة وآخر ما یبقی الصلوٰة واول ما یحاسب به الصلوٰة یقول الله انظروا فی صلوٰة عبدی فان کانت تامة کتبت تامة وان کانت ناقصة قال انظروا هل له من تطوع الحدیث فیه ذکر الزکوٰة والصدقة وفیه اخرج ابن ماجة والحاکم عن تمیم الداری مرفوعًا اول ما یحاسب به العبد یوم القیامة صلوٰته الحدیث وفی آخره ثم الزکوٰة مثل ذلک ثم توخذ الاعمال حسب ذلک وعزاه السیوطی فی الجامع الی احمد وابی داؤد والحاکم وابن ماجة ورقم له بالصحیح)

فائده: دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه ځان سره د نفلو ذخیره هم کافی ساتل پکار دی. که چرے فرضونو کښ څه کمے راوزی، نو چه په هغے سره پوره شی. ډیر خلق وائی چه زمونږ نه فرض پوره شی، نو لوی غنیمت دے، نفل کول خو د لویو خلقو کار دے. په دے کښ شک نشته که فرض پوره په پوره اُوشی، نو کافی دی خو دے بالکل پوره په پوره ادا کول ولے څه اسان کار دے، چه هر یو څیز بالکل پوره ادا شی. اوکله چه څه لږ ډیر کمے اُوشی نو د هغے د پوره کولو د پاره د نفلو نه بغیر علاج نشته. یو بل حدیث کښ دا مضمون زیات په وضاحت سره راغلے دے. ارشاد دے، چه الله تعالیٰ په عبادتونو کښ تولو نه رومبے مونځ فرض کړے دے، او د تولو نه رومبے به په عملونو کښ مونځ پیش کولے شی، او د تولو نه رومبے به قیامت کښ د مانځه حساب کیږی. که چرے فرض مونځونو کښ څه کمے پاتے شو، نو د نفلونه به هغه پوره کړے شی. بیا به دے نه پس د غسے د روژو حساب اوکړے شی، او فرض روژو کښ چه کوم کمے وی، هغه به د نفلی روژو نه پوره کړے شی. بیا به د زکوٰة حساب په دے طریقه سره اُوشی. دے تولو څیزونو کښ که نفل ورسره یو ځائے کړے شی، او د نیکو چا برے درونډ شو، نو د غه کس به په خوشالئ خوشالئ جنت کښ داخل شی، کنی دوزخ کښ به

Maktaba Tul Ishaat.com

اُوغورزولے شی - په خپله دنبی اکرم ﷺ معمول داؤچه څوك به مسلمان شو، دلمونځ اول به یې هغهٔ ته مونځ خودلو۔

(۴) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ قُرْطٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَوَّلُ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ الصَّلٰوةُ فَاِنْ صَلُحَتْ صَلُحَ سَائِرُ عَمَلِهٖ وَاِنْ فَسَدَتْ فَسَدَ سَائِرُ عَمَلِهٖ

دنبی اکرم ﷺ اِرشادمبارك دے چه په قیامت کښ به دلمونځ رومبے دمونځ حساب کولے شی، که چرے هغه ښهٔ او پوره راؤوتو، نو باقی عملونه به هم پوره راؤزی او که چرے هغه خراب شو نو باقی عملونه به هم خراب راؤزی۔

(رواه الطبرانی فی الاوسط ولا بأس باسناده انشاء الله تعالیٰ كذا فی الترغيب وفی المنتخب برواية الطبرانی فی الاوسط والضياء عن انس بلفظه وفی الترغيب عن ابی هريرة رفعه الصلوٰة ثلاثة اثلاث الطهور ثلث والركوع ثلث والسجود ثلث فمن اداها بحقها قبلت منه وقبل منه سائر عمله ومن ردت عليه صلوته رد عليه سائر عمله، رواه البزار وقال لا نعلمه مرفوعا الا من حديث المغيرة بن مسلم قال الحافظ واسناده حسن اه۔ واخرج مالك فی الموطا ان عمر بن الخطاب كتب الی عماله ان اهم اموركم عندی الصلوٰة من حفظها او حافظ عليها حفظ دينه ومن ضيعها فهو لما سواها اضيع كذا فی الدر)

حضرت عمر رضی الله عنه دخپل خلافت زمانه کښ یو اعلان دټولو ځایونو حاکمانو ته لیږلے ؤ چه دټولو نه زیات ضروری څیز زما په نزد مونځ دے۔ څوك چه دے حفاظت او اهتمام کوی هغه ددین دنورو حصو هم اِهتمام کولے شی۔ او څوك چه دا ضائع کړی، هغه به ددین نورے حصے زیاتے برباد ے کړی۔

فائده: دنبی اکرم ﷺ ددے پاك ارشاد او دحضرت عمر رضی الله عنه ددے اِعلان مقصد په ظاهر کښ دادے کوم چه په بل حدیث کښ راغلے دے چه شیطان دمسلمانانو نه ترهغه وخته ویریږی، ترڅو چه دے دمونځ پابندی کوی، او په ښهٔ شان یې ادا کوی، نو دویرے له وجے پرزیات جرأت نشی کولے څو چه کله دے مونځ ضائع کړی، نو شیطان پرے پرزړهٔ ورشی او ددے کس دګمراه کولو اُمید یے پیدا شی او بیا په پرتباه کونکو څیزونو او لویو لویو ګناهونو کښ یے اخته کړی۔ (منتخب) او هم دا مطلب دے دالله جل شانهٔ ددے اِرشاد۔ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ چه ددے بیان تر دے راروان دے۔

⑤ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِیْ قَتَادَةَ رضی اللہ عنہ عَنْ اَبِیْهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم اَسْوَأُ النَّاسِ سَرِقَةً الَّذِیْ یَسْرِقُ صَلٰوتَهٗ قَالُوْا یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَکَیْفَ یَسْرِقُ صَلٰوتَهٗ قَالَ لَا یُتِمُّ رُکُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارك دے چه د ټولو نه بدترین غَل هغه دے چه د مانځه نه هم غلا کوی. صحابو رضی اللہ عنہم عرض اُوکړه چه اے د الله رسوله! د مانځه نه به څنګه غلا کوی؟ ارشاد یے اُوفرمایهٔ چه د هغے رکوع سَجده په بنهٔ شان سره نهٔ کوی.

(رواه الدارمی وفی الترغیب رواه احمد والطبرانی وابن خزیمة فے صحیحہ وقال صحیح الاسناد آھ. وفی المقاصد الحسنة حدیث ان اسوء الناس سرقة رواه احمد والدارمی فی مسندیهما من حدیث الولید بن مسلم عن الاوزاعی عن یحیی ابن ابی کثیر عن عبدالله بن ابی قتادة عن ابیه مرفوعاً وفی لفظ بحذف ان وصححه ابن خزیمة والحاکم وقال انه علی شرطهما ولم یخرجاه لروایة کاتب الاوزاعی له عنه عن یحیی عن ابی سلمة عن ابی هریرة رواه احمد ایضاً والطیالسی فی مسندیهما من حدیث علی بن زید عن سعید بن المسیب عن ابی سعید الخدری به مرفوعاً وروایة ابی هریرة عند ابن منیع وفی الباب عن عبدالله بن مغفل عن النعمان بن مرة عند مالک مرسلاً فی آخرین آھ. وقال المنذری فی الترغیب لحدیث بن مغفل رواه الطبرانی فی معاجمه الثلاثة باسناد جید وقال لحدیث ابی هریرة رواه الطبرانی فی الاوسط وابن حبان فی صحیحه والحاکم وقال صحیح الاسناد قلت وحدیث ابی قتادة وابی سعید ذکرهما السیوطی فے الجامع الصغیر ورقم بالصحیح)

فائده: دا مضمون په خو حدیثونو کښ راغلے دے اول خو غلا پخپله ډیره د ذلت څیز دے، او غَل ته خلق په سپک نظر کتلے شی، بیا په غلا کښ یے هم دے کار نه بدترینه غلا اُوویله، چه رکوع سَجده په بنه طریقه نهٔ کوی.

حضرت ابوالدرداء رضی اللہ عنہ فرمائی چه یو وار نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اسمان طرف ته نظر اُوچت کړهٔ، او دا یے ارشاد اُوفرمایهٔ، چه دا وخت علم د دُنیا نه د پورته کیدو وخت په ما ښکاره شو. حضرت زیاد رضی اللہ عنہ عرض اُوکړهٔ، اے د الله رسوله! علم به زمونږ نه څنګه اُوچت کړے شی. مونږ قران شریف وایو، او د خپل اولاد ته یے ښایو او هغوی به د خپل اولاد ته ښائی، او سلسله به روانه وی) نبی علیه الصلوٰة والسلام اُوفرمایل، ما خو ته ډیر پوهه گڼړلے. دا یهود او نصارٰی خو هم تورات انجیل وائی او ښائی، بیا یے څه په کار راغے؟ د ابوالدرداء رضی اللہ عنہ شاګرد

Maktaba Tul Ishaat.com

وائي چه زهٔ بل صحابي حضرت عُبادة رضی اللہ عنہ ته ورغلم، داقصه مې ورته واؤروله هغوی
اُوويل چه اَبُوالدَّرداء رضی اللہ عنہ ريښتيا وائي، آوزهٔ درته اُوښايم چه دټولونه په
رومبې څهٔ څيز د دُنيا نه اُوچتيږی، دټولونه په رومبې دموږ خشوع اُوچته
شي. ته به اُوګورې چه په ډک جُمات کښې به يوکس هم په خشوع سره موږ
کوونکے نهٔ وی. حضرت حُذيفه رضی اللہ عنہ چه دنبي عليه الصلوٰة والسلام رازدار ورته وئيلے شي
هغه هم فرمائي چه دټولونه رومبې به دموږ خشوع اُوچته کړے شي. (دُر)

يوحديث کښې راغلي دی چه الله جل شانهٔ هغه موږ طرف ته ابدتوجه
نهٔ کوی په کوم کښې چه رکوع سجده په ښهٔ شان اُونکړے شي.

يوحديث کښې ارشادِ نبوی دے چه بندهٔ ترڅو پيټوکالو پورے موږ کوی
خو يو موږ ئے هم نهٔ قبليږی. کهٔ کله رکوع ښهٔ اُوکړی، نو سجده پوره نهٔ
کوی، کهٔ سجده ښهٔ اُوکړی، نو رکوع پوره نهٔ کوی.

حضرت مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رحمۃ اللہ علیہ په خپلو خطونو کښې د موږ په اهتمام ډير
زور ورکړے دے، او په ډيرو خطونو کښې ئے په مختلفو مضامينو بحث کړے
دے. يو خط کښې ليکي چه په سجده کښې دلاسونو ګوتے يو ځائ کول، او
په رکوع کښې ګوتے بيلے بيلے ساتل هم ضروری دی. شريعت د ګوتو يو ځائ
کولو او د پرانستلو حکم بے فائدے نهٔ دے ورکړے. يعنی دا سے معمولي اِدابو
لحاظ هم ضروری دے. په دے سلسله کښې ليکي چه په موږ کښې اُودريدو
په حالت کښې د سجدے په ځائ نظر ساتل او د رکوع په حالت کښې په پښو
نظر ساتل او په سجده کښې په پوزه نظر ساتل او د ناستے په حالت کښې په
لاسونو نظر ساتل په موږ کښې خشوع پيدا کوی. او په دے سره په
موږ کښې اطميناں نصيب کيږی. هر کله چه دا سے معمولي آداب هُم
دومره اَهمے فائدے لری، نو دلويو ادابو او دسنتو په رعايت تاسو په خپله
پوهه شئ چه څومره قدرے فائدے به ورکوی.

(۶) عَنْ اُمِّ رُوْمَانَ وَالِدَةِ عَائِشَةَ رضی اللہ عنہا قَالَتْ رَاٰنِیْ اَبُوْبَکْرِ الصِّدِّیْقُ اَتَمَیَّلُ فِیْ

(حضرت عائشے رضی اللہ عنہا مور بی بی اُمِّ رومان رضی اللہ عنہا فرمائي چه ما موږ کولو. يو وارے په موږ کښې اخوا ديخوا اُوخوزيدم حضرت

صَلٰوتِیْ فَزَجَرَنِیْ زَجْرَۃً کِدْتُّ اَنْصَرِفُ مِنْ صَلٰوتِیْ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰہِ صلی اللہ علیہ وسلم یَقُوْلُ اِذَا قَامَ اَحَدُکُمْ فِی الصَّلٰوۃِ فَلْیُسْکِنْ اَطْرَافَہٗ لَا یَتَمَیَّلُ تَمَیُّلَ الْیَہُوْدِ فَاِنَّ سُکُوْنَ الْاَطْرَافِ فِی الصَّلٰوۃِ مِنْ تَمَامِ الصَّلٰوۃِ۔

(اخرجہ الحکیم الترمذی من طریق القاسم بن محمد عن اسماء بنت ابی بکر عن ام رومان کذا فی الدر وعزاہ السیوطی فی الجامع الصغیر الی ابی نُعیم فی الحلیۃ وابن عدی فی الکامل و رقم لہ بالضعف وذکر ایضاً بروایۃ ابن عساکر عن ابی بکر رضی اللہ عنہ من تمام الصلوٰۃ سکون الاطراف)

ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ اُولیدم، نو زۀ یې دا سې په زوره اُتو کلم، چه زۀ (د ویرې له وجې نه) مونځ ما تولو ته نزدې شوم. بیا یې اِرشاد اُوفرمایۀ چه ما د نبي علیه الصلوٰة والسلام نه اوریدلی دي چه کله څوک مانځه ته اُودریږي، نو خپل ټول بدن دې په سکون (او قلاره) ساتي، د یهودیانو په شان دې نۀ خوزیږي دبدن ټول اندامونه په مانځـه کښې بالکل په قلاره ساتل د مونځ پوره کـولو حصه ده.

فائده: په مانځه کښې په سکون سره د اُوسیدو تاکید په ډیرو حدیثونو کښې راغلې دې. د نبي اکرم صلی اللہ علیہ وسلم عادت شریف په اکثر اسمان طرف ته د کتلو وُو چه د وحی د فرښتې انتظار به وُو، او کله چه دغې څیز انتظار وی نو هغې طرف ته نظر هم لاړشي. په دې وجه کله به یې په مانځه کښې نظر پورته اُوچت شو خو چه کله قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۞ الَّذِیْنَ هُمْ فِیْ صَلٰوتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ۞ (سورة المؤمنون) نازل شو، نو بیا به یې نظر ښکته ساتۀ. د صحابو رضی اللہ عنہم متعلق هم حدیث کښې راغلي دي چه اول اول کښې به یې اَخوا دیخوا توجُّه کوله خو د دې ایتِ شریفه د نازلیدو نه پس به یې هیڅ طرف ته توجُّه نۀ کوله.

حضرت عبدالله بن عُمر رضی اللہ عنہ د دې ایتِ شریفه په باره کښې فرمائي چه صحابه کرام رضی اللہ عنہم به چه کله مونځ ته اُودریدل، نو هیڅ طرف ته به یې توجه نۀ کوله پوره په پوره به مانځه طرف ته متوجّه وُو، خپل نظرو نه به یې د سجدې په ځائ ساتل، او دا به یې ګنړل، چه الله جل شانهٗ د دوی طرف ته متوجّه دې

حضرت علي رضی اللہ عنہ نه چا پوښتنه اوکړه چه خشوع څۀ څیز دې؟ دې فرمایل چه خشوع په زړۀ کښې وي (یعنې په زړۀ سره مانځه کښې متوجّه کیدل) او

Maktaba Tul Ishaat.com

واهم په دے کښ داخل دی چه هیځ طرف ته توجه نهٔ کوی.
حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه خشوع کوونکی هغه دی چه الله جل شانهٔ نه ویریدونکی دی او مانځه کښ په قلاره اوسیدونکی دی.
حضرت ابوبکر رضی الله عنه فرمائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم یو وارے ارشاد اوفرمایلو چه د نفاق د خشوع نه په الله تعالیٰ سره پناه اوغواړئ. صحابوٴ رضی الله عنهم عرض اوکړهٔ، چه حضور! د نفاق خشوع څهٔ څیز دے؟ ارشاد یے اوفرمایهٔ چه په ظاهر کښ سکون وی او په زړهٔ کښ نفاق وی.
حضرت ابوالدرداء رضی الله عنه هم د دے قسمه یو واقعه نقل کوی چه په هغے کښ یے د نبی علیه السلام دا ارشاد نقل کړهٔ چه د نفاق خشوع داده چه ظاهری بدن خو خشوع والا معلومیږی، او په زړهٔ کښ خشوع نهٔ وی. حضرت قتاده رضی الله عنه فرمائی چه د زړهٔ خشوع د الله تعالیٰ ویره او نظر خکته ساتل دی. نبی علیه السلام یو وارے یو کس اولیدهٔ چه په مانځهٔ کښ په ږیره لاس راکاږی. ارشاد یے اوفرمایهٔ کهٔ چرے د ده په زړهٔ کښ خشوع وَے، نو د بدن ټولو اندامونو کښ به یے قرارے وَو. حضرت عائشے رضی الله عنها یو وارے د نبی علیه السلام نه پوښتنه اوکړه چه په مانځهٔ کښ اخوا دیخوا کتل څنګه دی؟ ارشاد یے اوفرمایهٔ چه د شیطان د مانځهٔ نه راښکول دی. یو وارے نبی علیه السلام ارشاد اوفرمایهٔ، چه خلک په مانځهٔ کښ پورته نهٔ کوری، هغوی دِ د دے کار نه منع شی، کنی نظرونه به یے پورته په پورته پاتے شی.- (درمنثور)
د ډیرو صحابوٴ رضی الله عنهم او د تابعینو رحمهم الله نه نقل کړے شوی دی، چه خشوع د سکون نوم دے، یعنی مونځ دِ ډیر په سکون سره اوکړے شی. په ګڼرو حدیثونو کښ د نبی علیه السلام ارشاد دے چه مونځ داسے کوئ چه ګویا دا آخری مونځ دے، دا رنګے یے کوئ لکه څنګه چه یے هغه کس کوئ چا چه دا ګمان وی چه دے وخت نه پس به ماته د بل مونځ اد وموقع مِلاؤ نشی (جامع الصغیر)

(۷) عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رضی الله عنه قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم عَنْ قَوْلِ اللهِ تَعَالٰى اِنَّ الصَّلٰوةَ

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه چا د الله جل شانهٔ د دے ارشاد اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى الخ (بیشکه مونځ منع کوی د بے حیائئ نه او ناروا

تَنْهٰی عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ فَقَالَ مَنْ لَّمْ تَنْهَهُ صَلٰوتُهٗ عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ فَلَا صَلٰوةَ لَهٗ- (اخرجہ ابن ابی حاتم و ابن مردویہ کذا فی الدر المنثور)

کارونونه) منعلق پوښتنه اوکړه - تو نبی علیه الصلاة والسلام ارشاد اُوفرمایهٔ چه دچا مونځ داسے نهٔ وی او هغه د بے حیایئ او ناروا کارونو نه منع نکړی، هغه آهٔ و مونځ نهٔ دے.

فائده: بے شکه مونځ یو داسے لوئ دولت دے او دے په خپل اصلی حالت کښ لو فائده داده چه هغه د داسے نامناسبه خبرو نه منع کړی. کچرے دا خبره پیدا نهٔ شی نو د مونځ په کمال کښ کمے دے. په ډیرو حدیثونو کښ دا مضمون راغلے دے. حضرت ابنِ عباس رضی الله عنه فرمائی چه په مانځه کښ ذکنا هونو نه بند یزدے او ذکنا هونو نه لرے کول دی.

حضرت ابُوالعالیه رضی الله عنه فرمائی چه د الله جل شانه ارشاد اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰی مطلب دا دے چه په مانځه کښ درے خیزونه دی. اخلاص، د الله تعالیٰ ویره، او د الله تعالیٰ ذکر. کوم مونځ کښ چه دا خیزونه نهٔ وی، هغه آهٔ و مونځ نهٔ دے. اخلاص د نیک کارونو حکم کوی، او د الله تعالیٰ ویره د بدو خبرو نه منع کوی. او د الله تعالیٰ ذکر قرآنِ پاک دے چه په مستقل طور د ښو خبرو حکم کوی. او د بدو خبرو نه منع کوی.

حضرت ابنِ عباس رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه کوم مونځ د بدو خبرو او نامناسب کارونو نه نهٔ منع کوی، هغه مونځ په ځائ الله تعالیٰ ته د نزدے کیدو الله تعالیٰ نه لرے والے پیدا کوی. حضرت حسن رضی الله عنه هم د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه دا نقل کوی چه د چا مونځ هغه د بدو خبرو نه منع نهٔ کړی، هغه آهٔ و مونځ نهٔ دے، د دے مونځ له وجے الله تعالیٰ نه لرے والے پیدا کیږی. حضرت ابن عمر رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه هم دا مضمون نقل کړے دے.

حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کوی چه څوک د مونځ اطاعت نهٔ کوی، د هغهٔ لاڅهٔ مونځ دے، او د مونځ اطاعت دا دے چه د بے حیایئ او د بدو خبرو نه منع شی.

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه یو کس د نبی علیه الصلاة والسلام په خدمت کښ حاضر

Maktaba Tul Ishaat.com

شو او عرض یې اُوکړو چه فلانکے د شپې مونځ کوی، او چه سحر شی، نو غلا کوی. نبی علیه الصلوٰة اُوفرمایل چه دغه مونځ به هغه د دے کار نه ډیر زر منع کړی. د دے نه معلومه شوه که څوك په بدو خبرو کښ اخته وی، نو هغهٔ ته په اهتمام سره مانځه کښ مشغولیدل پکار دی، بدے خبرے به تر په خپله پاتے شی. دهرے یوے بدے خبرے دیر څودلو اهتمام ګران هم وی او وخت په کښ هم لګی - او په اهتمام سره مانځهٔ کښ مشغولیدل اسان هم دی او وخت پکښ هم زیات نهٔ لګی. د دے په برکت سره به بدے خبرے د هغهٔ نه په خپله پاتے شی الله جل شانهٔ دِ ما ته هم په ښهٔ شان د مونځ کولو توفیق راکړی (او تاسو ته هم).

۸ عَنْ جَابِرٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم اَفْضَلُ الصَّلٰوةِ طُوْلُ الْقُنُوْتِ اخرجه ابن ابی شیبة ومسلم والترمذی وابن ماجة کذا فی الدر المنثور وفیه ایضًا عَنْ مُجَاهِدٍ فِیْ قَوْلِهٖ تَعَالٰی وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِیْنَ قَالَ مِنَ الْقُنُوْتِ الرُّكُوْعُ وَالْخُشُوْعُ وَطُوْلُ الرُّكُوْعِ يَعْنِیْ طُوْلُ الْقِيَامِ وَغَضُّ الْبَصَرِ وَخَفْضُ الْجَنَاحِ وَالرَّهْبَةُ لِلّٰهِ وَكَانَ الْفُقَهَآءُ مِنْ اَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صلی الله علیه وسلم اِذَا قَامَ اَحَدُهُمْ فِی الصَّلٰوةِ يَهَابُ الرَّحْمٰنَ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی اَنْ يَّلْتَفِتَ اَوْ يُقَلِّبَ الْحَصٰی اَوْ يَشُدَّ بَصَرَهٗ اَوْ يَعْبَثَ بِشَیْءٍ اَوْ يُحَدِّثَ نَفْسَهٗ بِشَیْءٍ مِنْ اَمْرِ الدُّنْيَا اِلَّا نَاسِيًا حَتّٰی يَنْصَرِفَ.

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دے چه بهتر مونځ هغهٔ دے چه په کښ اُوږدهٔ اُوږدهٔ رکعتونه وی. مُجاهد رحمة الله علیه فرمائی چه الله جل شانهٔ ارشاد قُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِیْنَ (او په مانځهٔ کښ) د الله تعالیٰ مخکښ په ادب سره اُودریږئ. د دے ایت کښ رکوع هم داخله ده او خشوع هم او اُوږد رکعت کول هم، او سترګے ښکته کول او مټے راچپول (یعنی په غرور سره نهٔ اُودریدل) او د الله تعالیٰ نه ویریدل پکښ هم شامل دی چه لفظ قُنوت کښ چه د هغے په دے ایت کښ حکم ورکړے شویدے دا ټول څیزونه داخل دی د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم صحابه وُکښ به چه کله څوك مانځه ته اُودریدهٔ، نو د الله تعالیٰ نه به ویریدهٔ (دا کارونه به یے نهٔ کول) چه اخوا دیخوا اُوګوری (یا سجدے ته تلوکښ) ګټکی دا اړوی را اړوی (عربو کښ په د صفونو په ځائے ګټکی خورے شوی یا په څهٔ عبث

(اخرجہ سعید بن منصور و عبد ابن حمید وابن جریر وابن المنذر وابن ابی حاتم والاصبہانی فی الترغیب والبیہقی فی شعب الایمان

څیز کښې مشغول شي یا په زړه کښې دځه دُنیوي څیز خیال راولی، او که په هیڅ خیال راشي نو بیا خبره ده۔ (خیر دے)۔

آہ و ہذا آخر ما اردت ارادۃ فی ہذہ العجالۃ رعایۃ بعد الاربعین واللہ ولی التوفیق۔ وقد وقع الفراغ من لیلۃ الترویۃ من سنۃ سبع وخمسین بعد الالف وثلث مائۃ، والحمد للہ اولاً وآخراً)

فائدہ: قُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ په تفسیر کښې مختلف اِرشادات راغلی دی، یو دا هُم دے چه د قٰنِتِيْنَ معنیٰ دچُپ چاپ ده۔ په شروع دا سلام کښې په مانځه کښې خبرے کوّل، دسلام جواب ورکوّل وغیره وغیره کار و نه جائز وُو خو چه کله دا اٰیتِ شریفه نازل شو، نو مانځه کښې خبرے کوّل ناجائز شوے۔ حضرت عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ فرمائی چه نبی علیه الصلوٰة والسلام زما دا عادت جوړ کړے وُو چه کله به زهٔ حاضر شوم، که نبی علیه الصلوٰة والسلام به په مانځه کښې هم مشغول وُو، سلام به مِ کوّلو۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام به جواب راکوّلو۔ یو وارے زهٔ حاضر شوم، نبی علیه الصلوٰة والسلام مانځه کښې مشغول وُو، ما د عادت موافق سلام اوکړو۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام جواب رانکړو ما سره ډیر فکر شو چه شاید زما باره کښې د الله جل شانهٔ له طرفه څهٔ خفګان نازل شوے وی۔ نوی او زړو خیالونو ګیر کړم۔ زړے زړے خبرے مِ را یادوّلے۔ چه کیدے شي په فلانئ خبره نبی علیه الصلوٰة والسلام ناراضه شوے وی یا فلانئ خبرهٔ شوی وی۔ کله چه نبی علیه الصلوٰة والسلام سلام اُوګرزوّلو، نو ارشاد یے اُوفرمایهٔ، چه الله جل شانهٔ په خپلو حکمونو کښې چه څهٔ غواړی بدلی راولی۔ الله تعالیٰ په مانځه کښې خبرے کوّل منع کړے۔ او دا اٰیت یے تلاوت کړو او ارشاد یے اُوفرمایهٔ چه په مانځه کښې د الله تعالیٰ د ذکر دهغهٔ د تسبیح دهغهٔ د حمد و ثنا نه سوا خبرے کوّل جائز نهٔ دی۔

مُعاویه بن حکَم سُلَمی رضی اللہ عنہ فرمائی کله چه زهٔ مدینے طیبے ته مسئلے د نیولو د پاره حاضر شوم، نو ماته ډیر څیزونه اُوخودلے شو، دهغے نه یولونه دا هم وو چه کله څوک اَنْبِږی اُوکړی او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اُووائی، نو دهغهٔ په جواب کښې یَرْحَمُكَ اللّٰهُ ویل پکار دی۔ چونکه نوے تعلیم وُو۔ دغه وخته پورے راته دا نهٔ وهٔ معلومه

عه اِنبږے، پرنجے، تړوشے، انتروشے درته هم ویلے شي ۱۲

Maktaba Tul Ishaat.com

چه په مانځه کښ ویل نهٔ دی پکار۔ یو صاحب ته په مانځه کښ اَنتوشکے راغے ماورته په جواب کښ یَرْحَمُكَ الله اُووے، خو اُکښ خلقو ماته د تنبیهٔ په طور یَد یَد اُوکتل، ما ته دغے وخته پورے دا هم پته نهٔ وه چه په مانځه کښ خبرے جائز نهٔ دی۔ نو ما اُووے، هلئے افسوس! په تاسو څهٔ اُوشو چه ما ته په یَد یَد نظر کورئ۔ دغے خلقو په اِشاره زهٔ چپ کړم۔ زهٔ پرے پوهه نهٔ شوم خو زهٔ چُپ شوم۔ کله چه مونځ ختم شو۔ نبی اکرم ﷺ (زما مور پلار دِپرے قربان وی) نهٔ یے زهٔ اُووَهلم، نهٔ یے اُوزورلم، نهٔ یے راته بد رَدْ اُووے بلکه دا اِرشاد یے اُوفرمایهٔ چه په مانځه کښ خبرے کول جائز نهٔ دی مونځ د تسبیح، تکبیر او د قران شریف د ویلو ځائ دے، په الله تعالیٰ م دِ قسم دی، د نبی علیه الصلوٰة په شان مهربانه اُستاذ نهٔ ما چرته روښے لیدلے وُو نهٔ روستو۔

دوَیم تفسیر د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دے چه قٰنِتِیْن معنیٰ دخٰشِعِیْن ده یعنی په خشوع عاجزیٔ سره مونځ کونکی۔ د دے موافق مُجاهد رحمة الله علیه دا نقل کوی کوم چه پورته ذکر شو چه دا هم ټول څیزونه په خشوع کښ داخل دی، یعنی اُوږد دهٔ اُوږدهٔ رکعتونه کول، او خشوع خضوع سره لوستل نظر ښکته ساتل، د الله تعالیٰ نه ویریدل۔

حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی چه اِبتداء کښ به چه کله نبی علیه الصلوٰة د شپے مانځه د پاره اُودریدو، نو خپل ځان به یے په پړی تړهٔ، چه چرته خوب را باندے غلبه اُونکړی، پرے نهٔ وُزم۔ په دے طٰهٰ ۰ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَیْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰٓی ۰ (سورة طٰهٰ) نازل شو، او دا مضمون خو خود بیشونو کښ راغلے دے، چه نبی علیه الصلوٰة به دومره اُوږد دهٔ رکعتونه کول چه په ولاړه ولاړه په پښو کښ پرسوب راغے۔ اګرچه مونږ باندِ د شفقت د وجے نبی علیه الصلوٰة ارشاد اُوفرمایهٔ چه څومره زغملے شئ هغومره تاسو نه محنت کول پکار دی۔ هسے نه چه د طاقت نه زیات بار اُوچتولو په وجه ټیخی هر څهٔ پریږدئ۔ یو صحابیه زنانه هم د غسے خپل ځان په پړی تړل شروع کړل، نو نبی علیه الصلوٰة منع کړه۔ خو دومره خبره ضروری ده چه د طاقت نه پس چه څومره اُوږد مونځ وی هغومره بهتر او غوره دے۔ اخر د نبی علیه الصلوٰة دومره اُوږد مونځ کول چه په پښو

مبارکو به یې پرسوب راغے، څهٔ خبره خولری. صحابه کرامُ رضی الله عنهم په عرض هُم کړلو چه سورۃ فتح کښې ستاسو د بخښنے وعده الله تعالیٰ کړے ده. نو نبی علیه السلام په فرمايل چه بیا زهٔ شکرګذار بنده ولے جو نهٔ شم.

يو حدیث کښې راغلی دی چه کله به نبی علیه السلام مونځ کولو، نو د سینے مبارکے نه به یې د ژړا آواز (د ساه بندیدو په وجه) داسے پرله پسے راتلو. لکه څنګه چه د میچنے آواز وی.

بل حدیث کښې راغلی دی چه داسے آواز وو لکه څنګه چه د کټوئ پخیدو آواز وی. (ترغیب)

حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه دبدر په جنګ کښې ما نبی علیه السلام اُولیدو چه دیو وُنے دلاندے یې مونځ کولو، او ژړل یې چه په دے حالت کښې یې سحر کړهٔ. په ګڼړ و حدیثونو کښې ارشاد دے، چه الله جل شانهٔ څوکسانو ته بے حده خوشالیږی، چه د هغوی نه یو هغه کس دے چه په یخه شپه کښې په نرمه بستره په برستن کښې ملاست وی، او ښکلے ښائسته بی بی ورسره ملاسته وی، او بیا دے د تهجد د پاره پاسی، او مونځ کښې مشغول شی، الله تعالیٰ د دے کس نه ډیر خوشالیږی. او تعجب کوی. سره د دے چه په غیبو خبر اره دے، د فرښتو نه په فخر پوښتنه کوی، چه دا بنده څهٔ څیز مجبوره کړو چه داسے اُودریدهٔ. فرښتے عرض کوی، چه ستا مهربانئ او د عطا (ورکړے) اُمید، او ستا د عذاب نه ویرے. ارشاد اُوشی چه ډیره ښه ده، چه د کوم څیز دے زمانه اُمید لری هغه ماورکړهٔ. او د کوم څیز نه چه دهٔ ... یره ده د هغے نه م امن ورکړهٔ. د نبی علیه السلام ارشاد دے، چه یو بنده ته هیڅ ورکړه د الله تعالیٰ له طرفه د دے نه بهتره نهٔ ده ورکړے شوے چه هغهٔ ته د دوه رکعتو مونځ توفیق ورکړے شی. قران او حدیث کښې ډیر زیات راغلی دی چه فرښتے هر وخت په عبادت کښې مشغولے اُوسی. حدیثونو کښې راغلی دی، چه یوه ډله د فرښتو نه داسے ده چه ترقیامته به په رکوع کښې وی، او یوه ډله د غسے هر وخت په سجده کښې مشغوله اُوسی. او یوه ډله د غسے ولاړه اُوسی الله جل شانهٔ د مؤمن د پاره اکرام او اعزاز اُوفرمايهٔ چه د دے ټولو څیزونو

Maktaba Tul Ishaat.com

جمعه یے ورله په دوه ؤ رکعتو مونځ کښې وَرکړه چه د فرښتو د هر یو عبادت نه دَ ځه حصه اُورَسي- او په مانځه کښې د قرآن شریف تلاوت د هغوی په عبادت بانډے زیاتو لے دے- او هر کله چه دا د فرښتو د عبادتونو مجموعه ده ، نو د هغوی د صفتونو نه په دے کښې مزه حاصلیږي، ځکه د نبي علیه الصلوٰة ارشاد دے چه د مانځه د پاره خپله ملا او کیږه سپکه ساتئ- (جامع الصغیر)

ملا سپکه ساتلو د امطلب چه ډیرے جهګړے ځان پسے مه تړئ - او کیږه سپکه ساتل خوشکاره خبره ده چه زیاته په مړه کیږه مه خورئ، د دے نه سُستئ پیدا کیږي- صوفیان فرمائي چه په مانځه کښې دولس زره (۱۲۰۰۰) څیزونه دي چه هغه الله تعالیٰ په دولسو څیزونو کښې راغونډ کړي دي- د دے دولسو څیزونو خیال ساتل ضروري دي چه مونځ مکمل شي، او د دے پوره فائده حاصله شي، هغه دولس څیزونه دا دي-

اوّل علم: د نبي علیه الصلوٰة ارشاد دے چه علم سره لږ غوندے عمل هم د جَهل د حالت د ډیر عمل نه بهتر دے- دویم اودس- دریم جامه څلورم وخت پنځم قبلے طرف ته مخ کول شپږم نیت اُووم تکبیر تحریمه اتم مانځه کښې اُودریدل نهم قرآن شریف لوستل لسم رکوع یولسم سَجده دولسم التحیات بانډے کیناستل- او د دے ټولو مکمل کیدل په اخلاص سره دي- بیا د دے دولسو د رے د رے حصے دي- اول د علم د رے حصے دا دي چه فرضونو او سنتوله دِ بیل بیل معلوم کړي- دریم دا معلوم کړي، چه اوداسه او مانځه کښې څومره څیزونه فرض دي، څومره سنت دي- دریم دا معلوم کړي چه شیطان په کوم کوم فریب سره په مانځه کښې خرابي اچوي د دے نه پس د اوداسه هم د رے حصے دي- اول دا چه زړه دِ د کینے او حسد نه پاك کړي، لکه څنګه چه ظاهري اندامونه پاکوي- دویم ظاهري اندامونه دِ د ګناهونو نه پاك ساتي- دریم په اودس کولو کښې دِ نهٔ اِسراف (اُوبه زیاتے لګول) کوي نهٔ کمے- بیا د جامو هم د رے حصے دي- اول دا چه د حلالے ګټے وي- دویم دا چه پاکے وي، دریم د سنت موافق وي چه ګیټئ وغیره په کښې پټے نهٔ وي، د تکبر او د لویئ په خاطر یے نهٔ اغوندي- بیا په وخت

کښې هم د درے څيزونو رعايت ضروري دے. اول داچه د نمر ستورو وغيره دِخيال ساتي، چه وختونه ورته صحيح معلوميږي (او زمونږ په زمانه کښې د دے په ځائ گهړئ گهينټے شوے). دويم د آذان دِخبر ساتي. دريم په زړه سره دِ هر وخت د مانځه دوخت خيال ساتي، هسے نه چه وخت تيرشي، او پته اُونه لگي. بيا قبلے طرف ته دِمخ کولو کښې هم د درے څيزونو رعايت ساتي. اول داچه په ظاهري بدن سره دِ قبلے طرف ته مُتوجّه وي. دويم داچه په زړۀ سره دِ الله تعالیٰ طرف ته توجُّه ساتي، چه د زړۀ کعبه هم هغه ده. دريم د مالك مخکښې چه څنگه پوره په پوره مُتوجّه کيدل پکار دي هغه رنگے دِ متوجّه شي. بيا نيت هم د دريو څيزونو محتاج دے. اول داچه داکوم مونځ دے. دويم داچه د الله تعالیٰ مخکښې ولاړ دے او هغه ويني. دريم داچه هغه د زړۀ حالت هم ويني. بيا د تکبيرِ تحريمه په وخت کښې هم د دريو څيزونو رعايت کول ضروري دي. اول داچه لفظونه صحيح وي. دويم داچه لاسونه دِ غوږونو پورے اُوچت کړي (گويا اشاره ده چه د الله تعالیٰ نه سوا يے تول څيزونه روستو اُوغورزول). دريم داچه د اَللّٰهُ اَکْبَر ويلو په وخت کښې د الله تعالیٰ لوئي او عظمت يے هم په زړۀ کښې موجود وي. بيا قيام يعني ولاړه کښې هم درے څيزونه دي. اول داچه نظر د سجدے په ځائ وي. دويم په زړۀ سره دِ د الله تعالیٰ مخکښې د اُودريدو خيال کوي. دريم بل طرف ته دِ متوجّه نۀ وي. وائي چه څوك په مانځه کښې اخوا ديخوا متوجّه وي د هغۀ مثال داسے دے لکه څنگه چه څوك ډير په مشکله سره د دربانچيانو منت زاري اُوکړي چه د بادشاه دربار ته اُورسي او کله چه ورنزدے شي، بادشاه د هٔ طرف ته مُتوجّه شي، نو دے اخوا ديخوا کتل شروع کړي. په داسے حالت کښې به بادشاه د هٔ طرف ته څۀ توجُّه اُوکړي. بيا په قراءت کښې دِ هم د دريو څيزونو رعايت اُوکړي. اول صحيح په ترتيل (قلاره) سره دِ لولي. دويم د هغے په معنو دِ غور کوي. دريم چه څۀ لولي په هغے دِ عمل کوي. بيا په رکوع کښې هم درے څيزونه دي. اول داچه ملا دِ په رکوع کښې نيغه ساتي، نۀ دِ خکته کوي، او نۀ پورته (عالمانو ليکلي دي چه سر او ملا او کناتي درے واړه څيزونه دِ

Maktaba Tul Ishaat.com

برابروی) دویم دلاسونوکوتے دِپرانستے پلنے په زنګونونوکیږدی- دریم تسبیحات دِ په عظمت او وقار سره وائی- بیا په سجده کښ دِ هم دری څیزونو رعایت کوی- اول داچه دواړه لاسونه دِ په سجده کښ دغوږونو برابروی- دویم دلاسونو ځنګلے دِ اوچتے وی- دریم تسبیحات دِ په عظمت سره وائی- بیا په ناسته کښ دِ هم دری څیزونو رعایت کوی- اول داچه ښی پښه دِ اودروی- او په کسه دِ کینی- دویم داچه په عظمت سره دِ دمعنو رعایت کوی اوتشهد دِ وائی، چه په دے کښ نبی ﷺ باندِ سلام دے او دمؤمنانو دِ پاره دعا ده- بیا په فرښتو او ښی اوګس طرف ته چه کوم خلق دی په هغوی دسلام نیت اوکړی- بیا داِخلاص هم دری حصے دی- اول داچه ددے مونځ نه دِ صرف دالله تعالیٰ رضا مقصود دی- دویم دادِګنړی چه دالله تعالیٰ په توفیق سره دامونځ اَدا شو- دریم په دِے دِ دَ ثواب اُمید ساتی-

حقیقت کښ په مانځه کښ لوئ خیر اولوئ برکت دے- ددے په هر یو ذکرکښ ډیرے فائدے او دالله تعالیٰ لوئیی پرته ده- یو سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ ته اُوګوره چه دډیرو لونه ډوبی دُعا ده، چه څومره فضیلتونه په کښ دی- سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ اے الله! ستا پاکی بیانوم چه دهر یو عیب نه پاک یے او دهر یو بدئ نه لرے یے- وَبِحَمْدِكَ څومره چه دتعریف خبرے دی، اوچه دتعریف قابل کارونه دی هغه ټول تادپاره ثابت دی، او تا سره ښائی- وَتَبَارَكَ اسْمُكَ او ستا نوم برکت والا دے چه په کوم څیز ستا نوم واخستلے شی هغه هم برکت والا شی- وَتَعَالٰى جَدُّكَ ستاشان ډیر اُوچت دے- ستا عظمت دډیرو لونه پورته دے- وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ او ستانه علاوه څوك معبود نشته، نه څوك ذات دعبادت لائق کله شوے دے نه به شی- دغسے په رکوع کښ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ زما دعظمت اولوییٔ والارب دهر عیب نه پاك دے، دهغه دلوییٔ مخکښ دخپلے عاجزئ او دبے کسئ اظهار دے- چه ستا اُوچتوالی دغرور او تکبر نخښه ده- او ددے ټیټوالی دنیازمندئ او فرمانبرداری اِقرار دے- نو رکوع کښ ګویا ددے اِقرار دے، چه ستا دحکمونو دوړاندے خپل ځان ټیټوم، او ستا اِطاعت او بندګی په خپل سر اخلم (یعنی منم)

زما دا گنهګار وجود ستا مخکښې حاضر دے، او ستا په دربار کښې تيټ شوے دے ته بے شکه د لوړئ والا يې، او ستا د لوړئ مخکښې زۀ سر خکته يم۔ دغسې په سجده کښې سُبْحٰنَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى کښې هم د الله تعالىٰ د بے حده اُوچتوالی او بلندئ اقرار دے، او دے بلندئ سره دهرے بدائ او عيب نه د پاکئ اقرار دے خپل سَر دهغهٔ مخکښې ايخودل دی چه په ټولو اندامونو کښې ډير عزت مند ګڼړلے شی، او په دے کښې د ټولو نه خوښ څيزونه ستر ګے، غوږونه پوزه، ژبه دی ګويا د دے اقرار دے چه زما دا ټول عزتمند او خوښ څيزونه ستا په دربار کښې حاضر او ستا مخکښې په زمکه پراته دی۔ په دے اُميد چه ته په ما فضل اُوکړے، او رحم اُوکړے، او د دے عاجزئ ږومبی ظاهرول د هغهٔ مخکښې لاسونه تړل په ادب سره اُودريدو کښې وُو۔ او په دے باندے ترقی د هغهٔ مخکښې سَر ټيټولو کښې وه، او په دے هم ترقی دهغهٔ مخکښې په زمکه پوزه سُولولو او سَر ايخودلو کښې ده۔ دا رنګے د پوره مونځ حالت دے۔ او حقه خبره دا ده چه دا اصلی شکل د مونځ دے، او دا هم هغه مونځ دے، چه د دين دُنيا د کاميابئ او بهترئ اَندازه په دے۔ الله جل شانهٔ دِ په خپلے مهربانئ سره ماته او ټولو مسلمانانو ته په دِے د عمل کولو توفيق ورکړی۔ (آمين)

او څنګه چه مجاهد رحمة الله عليه بيان کړيدی، د فقهائے صحابه کرام رضی الله عنهم هم دا مونځ وُو هغوی چه په کله مانځه ته اُودريدل، الله تعالىٰ نه به ويريدل۔

حضرت حَسَن رضی الله عنه چه به کله اَودس کولو، نو د مخ رنګ به يے بدل شو۔ چا ترے تپوس اوکړو چه دا ولے؟ نو ارشاد يے اُوفرمايهٔ، چه د يو لوئ جبّار (زبردست) بادشاه په مخکښې د اُودريدو وخت راغے۔ بيا به يے اَودس اوکړو، کله چه به جُمات ته تلو، نو د جمات په دروازه کښې به اُودريدو۔ دا به يے فرمايل۔ اِلٰهِیْ عَبْدُكَ بِبَابِكَ يَا مُحْسِنُ قَدْ اَتَاكَ الْمُسِیْءُ وَقَدْ اَمَرْتَ الْمُحْسِنَ مِنَّا اَنْ يَّتَجَاوَزَ عَنِ الْمُسِیْءِ فَاَنْتَ الْمُحْسِنُ وَاَنَا الْمُسِیْءُ فَتَجَاوَزْ عَنْ قَبِيْحِ مَا عِنْدِیْ بِجَمِيْلِ مَا عِنْدَكَ يَا كَرِيْمُ (ترجمه) اے الله! ستا بنده ستا په دروازه حاضر دے۔ اے احسان

Maktaba Tul Ishaat.com

کوَنکيه! اودنيکئ معامله کوَنکيه! بدعمله تاته حاضردے۔ تاموږ ته دا حکم کړے دے، چه ښهٔ خلق دِبدانوته معافي کوي، ته ښهٔ يے، زهٔ بدکاره يم۔ اے کريمه ربه! زمابدئ دهغې ښهٔ صفتونوپه برکت چه دهغې ته مالك يے معاف کړے"۔ دے نه پس به جُهات ته داخليدهٔ۔

حضرت زَيْنُ الْعَابِدِين رحمة الله عليه به هره ورځ يوزررکعته کوَل۔ تهجُّد ترے هيڅ کله سفريا حضرکښ پاتے شوي نهٔ وُو۔ کله چه به يے اودس کوَلو، نودمخ رنګ به يے زيړشو۔ اوکله چه به مانځهٔ ته اُودريدهٔ، نوپه بدن به يے رپيدل راغلل۔ چا ترے پوښتنه اُوکړه، نووے فرمايل، 'ايا تاته خبرنشته چه دچا مخکښ اُودريږم۔ يوواره يے موځ کوَلو، چه په کورکښ اُورولګيدهٔ، دے په مانځهٔ کښ لګيا وُو۔ خلقوورته عرض اوکړو نووے فرمايل چه ددُنياد اُورنهٔ دآخرت اُوربے پرواه کړے يم۔ ددوي اِرشاد دے چه ماته په تکبرکوَنکي تعجب دے چه ترپرُونه پورے ناپاکه نطفه وه اوصباته به مُردارشي بياهم تکبرکوي۔ دوي به فرمايل چه تعجب دے چه خلق دفَنا کيدونکي کوردپاره خوفکرکوي، اودهميشه اُوسيدو دکور فکرنهٔ کوي۔ ددوي معمول وُوچه دشپے به يے په پټه صدقه کوَله۔ خلقو ته به هيڅ پته نهٔ وه چه چاراکړه۔ کله چه دوي وفات شو، نوسّل کوره داسے راُووتل چه دهغوي ګُذاره ددوي په اِمدادسره وه۔ (نزهة البساتين)

دحضرت علي كرم الله وجهه متعلق نقل کړے شوي دي چه کله به دمانځه وخت راتلے، نودمخ رنګ به يے بدل شو، بدن به يے په رپيدوشو۔ چا ترے تپوس اُوکړو، نووے فرمايل چه دهغې اِمانت دادا کوَلووخت دے چه هغه زمکے او اسمان اُوچت نهٔ کړے شو۔ غرونه دهغې داُوچتولوته عاجزه شو۔ زهٔ نهٔ پوهيږم چه هغه به پوره کړے شم يانه۔

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه به چه کله داَذان آوازواُوريدهٔ نو دومره به يے ژړل چه څادربه يے لُوند شو۔ رګونه به يے اُوپړسيدل سترګے به يے سرے شوے۔ چا عرض اُوکړوچه موږ خوآذان آورُو، خو هيڅ اثريا تدے نهٔ کيږي۔ اوتاسودومره پريږيږئ۔ (نو) وے ويل، کهٔ

چرے خلقوته دا معلومه شي چه مُؤذن څهٔ وائي، نـو د راحت او آرام نه به محرومه پاتے شي، او خوب به یے اُو تختي - دے نه پس یے د آذان د هرے یو ے جُملے خبردارے په تفصیل سره ذکر کړے -

یو کس نقل کوي چه ما حضرت ذوالنُّون مصري رحمة الله علیه پسے د ماز یگر مونځ اوکړهٔ - کله چه هغوي اَللّٰهُ اَکبر اُووے ، نو د لفظ اَللّٰهُ په وخت په هغوي د الله تعالیٰ د جلال دا سے غلبه وه، چه ګویا د هغوي په بدن کښ اَو روح پاتے نهٔ شو، بالکل بے دَمه شانے شو - او کله چه اَکبَر یے په ژبه اُووے ، نو زما زړهٔ د هغهٔ د دے تکبیر د هیبت نه ټکړے ټکړے شو. (نزہۃ البساتین)

حضرت اُوَیس قَرَني رحمة الله علیه مشهور بزرګ او تابعینو کښ د ټولو نه بهتر دے ، بعض وارے به یے رکوع کوله ، او ټوله شپه به یے په دے حالت کښ تیره کړه - کله به یے سَجده کښ دا حالت شو، چه ټوله شپه به یے په یوه سَجده کښ تیره کړه - (ایضًا)

عِصام رحمة الله علیه د حضرت حاتم زاهد بلخي رحمة الله علیه نه تپوس اُوکړو چه تا سو مونځ څنګه کوئ؟ وے فرمایل ، هر کله چه د مانځه وخت راشي، اول بشهٔ په اِطمینان سره په ښهٔ شان اَودس کوم - بیا هغه ځائ ته لاړ شم، کوم ځائ چه مونځ کوم - اول ښهٔ په اِطمینان سره اُودریږم، چه ګویا کعبه زما د وړاندے ده، او زما پښه پُلِ صراط باندے ده ، ښي طرفته مِ جنت دے ، کس طرفته مِ دوزخ دے ، د مرګ فرښته زما په سر ده، اَو زهٔ دا ګنړم چه دا زما آخري مونځ دے - بیا شاید د بل مونځ موقع راته مِلاؤ نهٔ شي - او زما د زړهٔ حالت الله تعالیٰ ویني - دے نه پس ډیر په عاجزئ سره اَللّٰهُ اَکبَر وایم، او د معنے سوچ کولو سره قران لُولم ، او تواضع سره رکوع کوم او عاجزئ سره سَجده کوم - او په اِطمینان سره مونځ پوره کوم - دا رنګے چه د الله تعالیٰ د رحمت نه د هغے د قبلید و اُمید لرم ، او د خپلو عملو نو رَد کیدو نه یَریږم - عِصام رحمة الله علیه ترے تپوس اُوکړهٔ چه د څو مره موده راسے تاسو دا مونځ کوئ؟ حاتم رحمة الله علیه وُفرمایل ، د دیرشو کالو راسے - عِصام رحمة الله علیه په ژړا شو، چه ما ته خو یو مونځ هم داسے نصیب نهٔ شو - وائي چه حاتم

Maktaba Tul Ishaat.com

رحمة الله عليه نه یو وارے د جَمع مونځ لاړۀ چه ددے پرے بے حده اَثر وُو، یو دوه دوستانو یے تعزیت یعنې غمرازي اُوکړه نو په دے یے اُوژړل او وا یے اُو ویل کۀ چرے زما ابو ځوئ مړ شوے وے، تو نیم بلخ به غمرازي کړے وے. یو روایت کښې راغلي دي چه دلسو زرو سړونه به زیاتو غمرازي کړے وے. د جَمع مونځ تلو باندے یو دوه سړو غمرازي اُوکړه، داصرف ددے وجه نه چه ددین مصیبت د خلقو په نظر کښې د دُنیاد مصیبت نه سپک دے.

حضرت سَعِید بن الْمُسَیِّب رحمة الله عليه فرمائي چه د شلو کالو مودے راسے هیڅ کله داسے نۀ دي شوي چه آذان شوے وي، آو زۀ په جُمات کښې د وُړاندے نه موجود نۀ یم.

مُحَمَّد بن واسع رحمة الله عليه فرمائي چه ما ته په دُنیا کښې صرف درے څیزونه بکار دي. یو داسے دوست وي، چه زما په غلطو ما خبرداره کوي. دویم د په اندازه روزي چه په هغې کښې هیڅ جهګړه نۀ وي. دریم د جَمع مونځ داسے چه په هغې کښې څۀ نقصان اُوشي هغه خو معاف شي، او چه کوم ثواب وي هغه ما ته راکړے شي.

حضرت ابو عُبیده بن جَرّاح رضي الله عنه یو وارے مونځ ورکړۀ، د مانځۀ نه پس یے اُو فرمایل چه شیطان داوخت په ما یوه حمله اُوکړه، زما په زړۀ کښې یے دا خیال واچولو چه څۀ بهتریم ځکه چه بهتر کس امام جوړولے شي) د ایندے دپاره به هیڅ کله مونځ نۀ ورکوم.

میمون بن مِهران رحمة الله عليه یو وارے جمات ته لاړۀ، د جَمع مونځ شوے وُو، اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ یے اُووے اَو وے ویل چه د مونځ فضیلت ما ته د عراق د بادشاهئ نه هم زیات خوښ دے.

وائي چه ددے حضراتو کرامونه به چه د چا تکبیرِ اُولیٰ لاړۀ، نو درے ورځو پورے به یے د هغې غم کولو، او چا نه چه به د جَمع مونځ لاړۀ، تر اُوؤ ورځو پورے به یے د هغې افسوس کولو. (احیاء)

بکر بن عبد الله رحمة الله عليه وائي، کۀ چرے ته خپل مالک خپل مولیٰ سره بغیر واسطے خبرے کول غواړے نو کله چه غواړے کولے شے. چا ترے نه

تيوس اوكړۀ چه ددے به څۀ طريقه وى؟ ورے وئيل چه په ښۀ شان اودس اوكړه، او دمونځ نيت اُوتړه۔

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه نبى اكرم ﷺ به مونږ سره خبرے كولے او مونږ به هغوى سره كولے خو چه كله به دمانځه وخت راغے نو داسے به شو چه ګويا مونږ اُو پيژنی نه۔ او ټول په ټول به الله تعالىٰ طرف ته مشغول شو۔ سَعِيد تَنُوخى رحمة الله عليه به چه تر څو پورے مونځ كولو، مسلسل د اُوښكو قطار به يے په مخ روان وُو۔

خَلَف بن اَيُّوب رحمة الله عليه نه چا تپوس اُوكړۀ چه دا مچان په مانځه كښ تا نه تنګوى؟ ورے ويل زۀ خپل ځان ددا سے څيز عادى نۀ جوړوم چه په هغے سر په مانځه كښ نقصان راشى۔ دابد كاره خلق د حكومت كروړے زغمى، صرف د دے خبرے دپاره چه خلق اُووائى چه څومره صبر ناك مزاج والا دے، اوبيا يے دفخر په طور بيانوى۔ زۀ دخپل مالك مخكښ ولاړيم، او د يو مچ د وجه حركت اُوكړم۔

بَهْجَةُ النُّفُوس كښ ليكلى دى چه يو صحابى د شپے مونځ كولو يو غل راغے او آس يے پرانستۀ بو يے تلو۔ د بوتلو په وخت كښ پرے نظر پريوتو، خو مونځ يے مات نۀ كړو۔ روستو ورته چا اُووے هُم چه تا اُوتۀ نيولو ورے فرمايل، چه په كوم څيز كښ زۀ آخته وُم، هغه د دے نه ډير بهتر وُو۔

دحضرت على كرم الله وجهه قصه خومشهوره ده، چه كله به په جنګ كښ په غشى اُولګيدۀ، نو هغه به ترے په مانځه كښ اِيستلے شو۔ لكه يو وارے يے په پټو كښ يو غشے ننوتۀ، خلقو د ايستلو كوشش اُوكړو، خو اُونۀ وَتلے شو خپل مينځ كښ يے مشوره اُوكړه، چه كله دے په مانځه كښ مشغول شى هغه وخت دِ ترے اُوويستلے شى۔ هركله چه دوى نفلونه شروع كړل او سَجدے ته لاړو، نو هغۀ خلقو ترے په زوره راښكلو۔ كله چه دمانځه نه اُوزګار شو نو خوا وُشا يے ګڼړه اُوليده، ورے وئيل چه ولے تاسو غشى ايستلو دپاره راغلى يئ؟ خلقو عرض اوكړو، هغه خو مونږه ايستلے هم دے۔ ورے وئيل، چه ماته آږو پته اُونۀ لګيده۔

مُسلِم بن يَسار رحمة الله عليه به چه كله مونځ كولو، نو دكور خلقو ته به يے

Maktaba Tul Ishaat.com

وئیل چه تاسو خبرے کوئ، ما ته ستاسو د خبرو آهو پته نه لګی۔
رَبیع رحمة الله علیه وائی چه کله زهٔ مانځه ته اُودریږم، نو په ما دا فکر سور شی چه ما نه به څهٔ سوال او جواب کیږی۔
عامر بن عبد الله رحمة الله علیه به چه کله مونځ کولو، نو د کور د خلقو د خبرو خو به ورته څهٔ پته لګیدله، چه د ډولکی د آواز به ورته هم پته نهٔ لګیدله، چا ترے تپوس اُوکړهٔ، چه تا ته په مانځه کښ د څهٔ څیز خبر هم کیږی، وے وئیل آو۔ ما ته د دے خبر کیږی چه یوه ورځ به د الله تعالیٰ په دربار کښ اُودریدل وی او د دواړو کورونو جنت یا دوزخ کښ به یو ته تلل وی۔ هغوی عرض اُوکړهٔ، دا تپوس نهٔ کوو۔ زمونږ د خبرو د ته هم څهٔ پته لګی؟ وے وئیل چه ما کښ د نیزو سُوکے ننوزی، دا ډیره ښه ده د دے نه چه ما ته په مانځه کښ ستاسو د خبرو پته اُولګی۔ د دوی دا هم اِرشاد دے که چرے د آخرت منظر د او خت زما مخکښ شی، نو زما په اِیمان او یقین کښ به زیاتوالے اُونهٔ شی (چه په غیبو م ایمان دومره پوخ دے څومره چه په کتلو وی۔
د یو صاحب څهٔ اندام خراب شوے وو چه د هغهٔ د پاره د هغے د پریکولو ضرورت وو۔ خلقو تجویز اوکړو، چه کله دے د مانځه نیت اُوتړی، هغه وخت یے پریکول پکار دی۔ دهٔ ته به پته اُونهٔ لګی۔ هم دغسے اُوشو، په مانځه کښ ترے هغه اندام پریکړے شو۔
د یو صاحب نه تپوس اُوکړے شو چه تا ته په مانځه کښ د دُنیا خیال هم چرته راځی؟ وے وئیل چه نهٔ په مانځه کښ راځی نهٔ بغیر د مانځه نه۔
د یو بل صاحب قصه یے لیکلے ده چه د هغهٔ نه چا تپوس اوکړو چه تا ته په مانځه کښ څهٔ څیز یادیږی؟ هغوی اُووَیل چه د مانځه نه زیات هم څهٔ خوښ څیز شته چه مانځه کښ را په یاد شی۔
بَهجَةُ النُّفُوس کښ لیکلی دی چه د یو بزرګ په خدمت کښ یو کس د ملاقات د پاره راغے، هغه د ماسپخین په مانځه کښ لګیا وو۔ دے په انتظار کښ کیناستو۔ هر کله چه د مانځه نه اُوزګار شو، نو نفلو کښ اَخته شو، او تر ماز ښګره یے نفلونه کول۔ دے په اِنتظار کښ ناست وو۔ د نفلو نه اُوزګار شو، نو

دمانځیګر مونځ یې شروع کړه، او ددې نه چه فارغ شو، دُعا کښې لګیا شو، او تر ماښامه پورې لګیا وُو. بیا یې د ماښام مونځ اوکړه، او نفلونه یې شروع کړل، تر ماسخوتنه پورې په دې کښې لګیا وُو. دا عاجز په انتظار کښې ناست وُو. د ماسخوتن مونځ یې چه اوکړه، بیا یې د نفلو نیت اُوتړه، او تر سحره پورې په دې کښې لګیا وُو. بیا یې د سحر مونځ اوکړه، او ذکر یې شروع کړه، او اوراد او وظائف یې لوستل. په دې کښې په مُصَلیٰ باندې په ناسته ناسته یې سترګې ورغلې، نو زر یې سترګې اُومږلې، پاسیدو، استغفار او توبه یې اُوویستله، او دا دُعا یې اُوکړه اَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ عَيْنٍ لَّا تَشْبَعُ مِنَ النَّوْمِ ربه الله تعالیٰ سره پناه غواړم د داسې سترګې نه چه د خوب نه نه مړیږي.

دیو صاحب قصه یې لیکلې ده چه هغه په د شپې د خوب د پاره سملاستۀ تو کوشش به یې کولو چه سترګې م ورشي، خو چه کله به خوب ورنۀ رغې، نو پا به سیدو مانځه کښې په لګیا شو. او عرض به یې کولو چه اے الله! تا ته معلومه ده، چه د دوزخ د اور ویرې زما خوب اُوتختولو، او دا به یې ویل تر سحره به مانځه کښې لګیا وُو.

تو له شپه بې آرامۍ او پریشانۍ یا شوق او اشتیاق کښې وېخ پاتې کیدلو واقعات دومره ډیر دي چه هغې راجمع کول ګران دي، مونږ د ځې د خوندنه دومره لرې شوي یُو چه مونږ د دې واقعاتو صحیح کیدلو کښې هم شک کوو. اول خو چه خومره ډیر او نواتر سره دا واقعات نقل کړې شوي دي د هغې نه انکار او رد کول د تول تاریخ نه یقین پورته کوي چه د واقعې صحیح والې په کثرت سره نقل کولو نه تا یتیږي.

بل مونږ نن ورځې په خپلو سترګو داسې خلق وینو چه سَپینما تیتهر کښې تو له شپه په ولاړه ولاړه تیروي، چه نۀ سترې کیږي نه یې خوب تنګوي، نو بیا څۀ وجه ده، چه مونږ داسې ګنا هونو د خوند ونو یقین کوو، او د هغې نیکو د خوند ونو نه انکار اُوکړو. حال دا چه په نیکو کښې د الله جل شانهٗ له طرفه قوت هم ورکولې شي. زمونږ د دې شک شبهې وجه د دې نه سِوا بله څۀ کیدې شي چه مونږ د دې د خوند ونو نه نا اشنا یُو او نابالغه خو د بلوغ د خوند ونو نه ناخبره وي الله جل شانهٗ مو د دې خوند ونو ته اُورسوي نو خوشنصیبه به یُو.

Maktaba Tul Ishaat.com

آخری عرض

صوفیانو لیکلی دی چه مونځ په حقیقت کښ الله جل شانهٗ سره راز و نیاز او خبرې کول دی چه په غفلت سره اُو کیدې نشي. د مانځه نه علاوه نور عبادتونه په غفلت سره هم کیدې شي، مثلاً زکوٰة دے چه د دے حقیقت د مال خرچ کول دی، دا پخپله په نفس دومره مشقت دے چې د غفلت سره وی بیا هم په نفس مشقت وی دغسې روژه تږوله ورځ اوږې تږې پاتې کیدل او صُحبت (خپلې بی بی سره کوروالی) د خوند نه بندیدل چه دا ټول خیزونه نفس لره لاندې کونکی دی، چرې په غفلت سره هم اُوشي نو د نفس سختی او تیزی پرې کمیږی. خو د مانځه لویه حصه ذکر دے. د قرآنِ پاک لوستل دی. دا خیزونه که د غفلت په حالت کښ وی، نو راز و نیاز یا خبرې نهٔ دی بلکه داسې دے لکه څنګه چه د تبې حالت کښ کله کله وړې ویلې کیږی. چه کوم څیزونه په زړهٔ کښ وی هغه په ژبه داسې وخت کښ جاری کیږی نهٔ په دے کښ څهٔ مشقت وی نهٔ څهٔ فائده. دارنګې مونځ یې عادت کړے چې کله چرې توجُه یې نهٔ وی نو د عادت موافق بغیر د سوچ او فکر ژبې نه یې الفاظ اُوزی لکه څنګه چه د خوب په حالت کښ اکثرے خبرې د ژبې نه اُوزی، چه نهٔ یې اوریدونکی ځان سره خبرے کنړی نهٔ د هغې څهٔ فائده وی. دغسې الله جل شانهٗ هم داسې مونځ طرف ته توجُه نهٔ کوی کوم چه بغیر ارادے وی. په دے وجه ډیره ضروری ده چه مونځ د خپل وَس او همت برابر پوره توجُه سره اُوکړے شی خو دا خبره هم ډیره ضروری ده، که چرے دا حالات او کیفیات چه کوم ذکر نه معلوم شول حاصل هم نهٔ شی، بیا هم مونځ په کوم حالت سره چه کیدے شی ضرور دِ اوکړے شی. دا هم د شیطان یوه سخته دهوکه ده چه هغه په ذهن کښ دا اچوی چه په دے طریقې سره کولو نه خو نهٔ کول بنهٔ دی. دا غلطه ده. نهٔ کولو نه په بدے طریقے سره کول هم بهتر دی، ځکه د نهٔ کولو چه کوم عذاب دے، هغه ډیر سخت دے، ترد دے چه د عالمانو یوې ډلې په داسې کس د کفر فتویٰ ورکړے ده، چه څوک په قصد سره مونځ پریږدی لکه څنګه چه په رومبنی

باب کښې په تفصیل سره تیر شوی دی۔ البته ددے کوشش ضرور کړل شوے دی چه د موضوع کوم حق دے۔ او ز مونږ مشرانو د هغې مطابق کړے دے۔ او مونږ ته یے ښودلے دے۔ الله جل شانهٔ دِ په خپلے مهربانئ سره د هغې توفیق را کړی۔ او په ټول عُمر کښې کم نه کم یو موضوع هم داسے اُوشی چه د پیش کولو قابل وی (نو بیا هم ښه ده)

اخر کښې په دے خبره خبر دارے هم ضروری دے چه حضرات محدثینو رحمهم الله په نزد د فضائلو په روایاتو کښې فراخی ده، او معمولی ضُعف قابل د معافئ دے۔ باقی د صوفیانو واقعات خو تاریخی حیثیت لری۔ او ښکاره خبره ده چه د تاریخ درجه د حدیث د درجے نه ډیره کمه ده۔

وَمَا تَوْفِيْقِيْ إِلَّا بِاللّٰهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيْبُ ط رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ط رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَّسِيْنَا أَوْ أَخْطَأْنَا ج رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا ج رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ج وَاعْفُ عَنَّا وقفة وَاغْفِرْ لَنَا وقفة وَارْحَمْنَا وقفة أَنْتَ مَوْلٰنَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۝ وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ سَيِّدِ الْأَوَّلِيْنَ وَالْآخِرِيْنَ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَأَتْبَاعِهِمْ وَحَمَلَةِ الدِّيْنِ الْمَتِيْنِ بِرَحْمَتِكَ يَا أَرْحَمَ الرّٰحِمِيْنَ ط

جمع کوونکے
محمد زکریا عفی عنه
کاندهلوی
تاریخ د لیکلو
د کُل شپه ۷ محرم ۱۳۵۸ھ
موافق ۲۷ فروری ۱۹۳۹ء

گستاخ محمد ولی الدین ذاکر کوهاټ جنوبی تفصیل (ممنه...) نیټه ۲۰ شعبان المعظم ۱۴۲۵ھ

ترجمه کوونکے
میاں **محمد شفیق** غفرلهٔ
چارسده
تاریخ دختمید و نظر ثانی
د جمعے ورځ ۶ رمضان المبارک ۱۴۱۶ھ
موافق ۲۶ جنوری ۱۹۹۶ء

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ

پښتو

فضائلِ ذکر

تالیف
شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمہ اللہ

مترجم
میاں محمد شفیق رحمہ اللہ

دفضائلِ ذکر (پښتو) دمضامینو فهرست

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

تمهيد

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ ۝ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَاَتْبَاعِهٖ حَمَلَةِ الدِّيْنِ الْقَوِيْمِ ۝

دالله

جل جلالهٔ عم نواله په پاك نامه كښ چه كوم بركت، مزه، خوږوالے، خوشالي او تسلي ده، هغه د داسے كس نه پټه نهٔ ده چا چه څوورځے دا پاك نامه بار بار ويلي وي، او يو زمانے پورے يے دا ځان مشغله جوړه كړے وي. دا پاك نوم د زړونو د خوشالئ او د تسلئ سبب دے. په خپله د الله جل شانه ارشاد دے. اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ط (سورة مائده، ركوع ۴) (ترجمه) "ښهٔ پوهه شئ چه د الله تعالیٰ په ذكر كښ دا خاصيت دے چه د ے) سره زړونو ته تسلي كيږي". نن صبا عام طور په عالم كښ پريشاني ده. روزانه ډاك (يعني خطونو) كښ اكثر ډير زيات د مختلف قسمه پريشانو ذكر او د فكرونو قصے راځي. د دے رسالے مقصد هم دا دے چه كوم خلق پريشانه دي، چه هغه د ځان له پريشاني وي، يا د پلے او د قوم وي، هغوئ ته دخپل درد دارو معلوم شي او د الله تعالیٰ د ذكر د فضائلو عام كولو خوږلو سره نيك بخت او مبارك خلق فائده مند شي، كيدے شي چه د دے رسالے په كتلو سره چا ته په اخلاص د دے پاك نوم اخستلو توفيق اوشي، او د از ما بے كاره او بے عمله د پاره هم په داسے وخت كښ پكار راشي كوم وخت چه صرف عمل پكار راځي. باقي الله تعالیٰ بغير عمله په خپل فضل د چا مدد او كړي، دا بله خبره ده. د دے نه علاوه دا وخت د دے كار كولو وجه دا هم پيښه شوه چه الله جل شانهٔ په خپلے مهرباني او احسان زمانه ګه محترم حضرت مولٰنا الحافظ الحاج محمد الياس صاحب كاندهلوي مقيم نظام الدين دهلي ته په تبليغ كښ يو خاصه پوهه، فكر او جذبه وركړے ده چه د هغهٔ د نه محنت د هندوستان د ملك نه بهر حجاز ته پورے هم رسيدلے دے، د هيڅ بيان محتاج نهٔ دے. د دے د

فائدونه هندوستان وغیره ته عموماً او په هندوستان کښې د میوات علاقې ته چه خومره قدرے فائده اُوشوه اَوکیږی، هغه د واقفو کسانو نه پټه نه ده. د دوی د تبلیغ اُصول تول ډیر پاخهٔ، مضبوط او محکم دی چه ورسره خامخا فائدے او برکتونه حاصلیږی. د دوی د ټولو نه ضروری اُصولو کښې داهم ده چه مُبلغین دِ د ذکر پابندی کوی. او خصوصاً په تبلیغی وختونو کښې دِ د الله تعالیٰ ذکر په کثرت سره کوی، د دے قاعدے برکتونه م په سترګو اُولیدل، په غوږونو م واوریدل. په دے وجه د دے ضرورت راته په خپله محسوس شو، او د تره صاحب اِرشاد هم اُوشو، چه د ذکر فضائل دِ دے خلقو ته اُورَسولے شی، د پاره د دے چه کوم خلق تر اُوسه د حکم منلو په وجه ذکر کوی، هغوی د دے فضائل معلوم کړی، او په خپل شوق سره د دے اِهتمام اُوکړی، چه د الله تعالیٰ ذکر لوئے دولت دے. د دے د فضائلو راجمع کول نهٔ خو زما په شان بے عمله په وَس کښې دی، او نهٔ په واقع کښې ممکن دی. په دے وجه مختصر طور دِ دے رساله کښې خور وایتونه ذکر کوم او دا په درے بابونو تقسیموم.

اول باب

د مطلق ذکر په فضائلو کښې

دویم باب

د اَفضل الذکر کلمے طیبے په بیان کښې

دریم باب

دریمے کلمے یعنی د تسبیحاتِ فاطمه په بیان کښې



Maktaba Tul Ishaat.com

اوّل باب
د ذکر فضائل

د الله جل شانهٔ پاک ذکر کښ که چرے هیڅ روایت یا حدیث نهٔ وے راغلے بیا هم دهغے حقیقي انعام کونکي یعنی د الله تعالیٰ ذکر داسے دے چه بنده ته په هیڅ یو وخت کښ هم د دے نه غافله کیدل پکار نهٔ وو، چه دهغے پاک ذات انعامات او احسانات هر وخت دومره پیردی چه دهغے نهٔ څهٔ حد شته نهٔ مثال - دداسے انعام کونکی ذکر، دهغهٔ یاد، دهغهٔ شکر، دهغهٔ احسان منل فطري یعنی پیدائشي څیز دے۔ ؎

خداوند عالم کے قربان میں ❊ کرم جسکے لاکھوں ہیں ہر آن میں

دخداوندِ عالَم نه شم قربان ❊ مهربانئ یے په لکهونو دي هر آن

خو دے سره هر کله چه قران او حدیث او د بزرګانو اقوال او احوال دد دے پاک ذکر د شوق او حرص پیدا کولو نه ډک دی، نو بیا څهٔ تپوس کوے د دے پاک ذکر د برکتونو، او څهٔ حد دے د دے د انوارتو - خو بیا هم اول څو ایتونه بیا څو حدیثونه د دے مبارک ذکر متعلق پیش کوم۔

اول فصل ❊ د ذکر ایتونو کښ

(۱) فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ ○

(بقره - ع ۱۸)

پس تاسو ما یادوئ (زما ذکر کوئ) زهٔ به تاسو یادوم، او زما شکر ادا کوئ او ناشکري مهٔ کوئ۔

(۲) فَإِذَا أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِندَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ وَإِن كُنتُم مِّن قَبْلِهِ لَمِنَ

پس هر کله چه تاسو (د حج په موقع کښ) د عرفات نه واپس راشئ نو مزدلفه کښ (ایسا شئ) الله یادوئ او دارنګے یادوئ، څنګه چه مو تاسو ته خودلی دی۔ په حقیقت

الضَّآلِّيْنَ ○ (بقرہ ع ۲۵)

(۳) فَاِذَا قَضَيْتُمْ مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ اٰبَآءَكُمْ اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا ؕ فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِى الدُّنْيَا وَمَا لَهٗ فِى الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ○ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِى الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ○ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّمَّا كَسَبُوْا وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ○ (بقرہ - ع ۲۵)

کښې تاسو دے نه وُو رانديې ېې نا واقفه وئ۔ پس هر کله چه تاسو د حج عملونه پوره کړئ نو د الله تعالیٰ ذکر کوئ څنګه چه تاسو خپلو پلرونو (او نیکونو) ذکر کوئ (چه د هغوی په تعریفونو کښې رَطْبُ اللِّسَان ژبه لوند لا یعنې اخته اُوسئ) بلکه د الله تعالیٰ ذکر د دېنه هم زیات کول پکار دی۔ بیا (چه کوم خلق د الله تعالیٰ ذکر هم کوي هغوی نه) بعض خو داسے دی (چه خپلو دُعاګانو کښې) داسے وائی، اے پروردګاره! چه مونږ ته یے خو په دُنیا کښې راکړے (پس دوی ته چه څۀ ورکولے شي په دُنیا کښې به ورکړے شي) او دوی د پاره په آخرت کښې هیڅ حصه نشته۔ او بعض خلق داسے وائی چه اے زمونږ پروردګاره! مونږ ته په دُنیا کښې هم بهتری راکړے، او آخرت کښې هم، او مونږ د دوزخ د اُور نه بچ کړے۔ پس هم دا دی چا ته به چه د هغوی د عمل د وجے نه (په دواړه جهانه کښې) حصه ورکړے شي۔ او الله تعالیٰ زر حساب اخستونکے دے۔

فائده: حدیث کښې راغلی دی چه د دریو کسانو دُعا نه رَد کیږی، (بلکه ضرور قبلیږی) یو هغه چه په کثرت سره د الله تعالیٰ ذکر کوی۔ دویم مظلوم، دریم هغه بادشاه چه ظلم نه کوی۔ (جامع الصغیر)

(۴) وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِىْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ (بقره - ع ۲۵)

او د حج په زمانه کښې منیٰ کښې هم (یو څو) ورځو کښې الله تعالیٰ یادوئ (دهغه ذکر کوئ)

(۵) وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ○ (آل عمران ع ۴)

او په کثرت سره خپل رب یادوئ او سحر او ما بنام تسبیح کوئ۔

(۶) اَلَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيٰمًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِهِمْ وَ

(د هغو هم نه د عقل مند ذکر دے) هغوی داسے خلق دی چه الله تعالیٰ یادوی په ولاړه

Maktaba Tul Ishaat.com

يَتَفَكَّرُوْنَ فِىْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ۝ (آل عمران - ع ۲۰)

هم اوپه ناسته هم اوپه ملاسته هم، او د اسمانونو او د زمکو پيدا کيد وکښ غور کوي (او د غور نه پس داوائي) چه اے زمونږه ربه! تا دا تول بيکاره خو پيدا کړي نه دي، مونږ ستا تسبيح کوُو، ته مونږ د دوزخ د عذاب نه اوساتے۔

۷ فَاِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ قِيٰمًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِكُمْ ۚ (النساء - ع ۱۵)

کله چه تاسو مونځ (دخوف چه د هغے ذکر دے) پوره کړئ، نو د الله تعالیٰ په يادکښ اخته شئ په ولاړه هم په ناسته هم او په ملاسته هم (په هيڅ حال کښ هم د هغه د ياد او د هغه د ذکر نه غافله نه شئ۔)

۸ وَاِذَا قَامُوْا اِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ۙ يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝ (النساء - ع ۲۱)

(د منافقانو د حالت بيان دے) او کله چه مونځ ته اودريږي نو ډير په سستئ اودريږي صرف خلقو ته خپله مونځگذاري ښائي، او د الله تعالیٰ ذکر هم نه کوي خو داسے لږ غوندے۔

۹ اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ فِى الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ۝ (مائده - ع ۱۲)

شيطان خو دا غواړي چه د شرابو او د جوارئ په ذريعه ستاسو په خپل مينځ کښ دُشمني او بُغض (کينه) پيدا کړي او تاسو د الله تعالیٰ د ذکر او مونځ نه منع کړي، اوښايئ، اوس به هم (د دے ناکاره څيزونو نه) منع شئ۔

۱۰ وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِىِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ ۖ (انعام - ع ۶)

او د هغه خلق د خپل مجلس نه مه بيلوئ چه سحر او مابښام خپل پروردګار بلي چه په هغے سره خاص د هغه د رضا اراده کوي۔

۱۱ وَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ (الاعراف - ع ۳)

او بلئ هغهٔ (يعني الله تعالیٰ) لره، چه خالص کونکي يئ هغه د پاره دين لره۔

(۱۲) اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ۝ وَلَا تُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وَادْعُوْهُ خَوْفًا وَّطَمَعًا ۚ اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝ (اعراف-ع ۷)

او تاسو بلئ خپل رب په عاجزئ، او په پټ (هم) بیشکه الله تعالیٰ د حدنه وتونکی نه خوښوی، او دُنیا کښې پس ددے نه چه د هغې اصلاح شوی وی فساد مه خورووئ او الله تعالیٰ بلئ په ویره سره (د عذاب نه) او په طمع سره (رحمت کښې) بیشکه د الله تعالیٰ رحمت ښهٔ کار کونکو ته ډیر نزدے دے۔

(۱۳) وَلِلّٰهِ الْاَسْمَاۗءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا (اعراف-ع ۲۲)

او الله تعالیٰ د پاره دی ښهٔ ښهٔ نومونه پس په هغې سره الله تعالیٰ بلئ۔

(۱۴) وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِىْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِيْفَةً وَّدُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ ۝ (اعراف-ع ۲۴)

او د خپل رب یاد کوه خپل زړهٔ کښې او لږ غلی اواز سره هم، په داسے حالت کښې چه عاجزی ور سره هم وی، او د الله تعالیٰ ویره هم وی (همیشه) د سحر او د ماښام هم او د غافلینو نه مهٔ کیږه۔

(۱۵) اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝ (انفال-ع ۱)

ایمان والا خو هغه خلق دی چه کله د هغوی مخکښې د الله تعالیٰ ذکر کیږی، نو (د هغهٔ د لویئ د تصوّر نه) د هغوی زړونه ویریږی۔ او کله چه په هغوی د الله تعالیٰ ایتونه لوستلے شی، نو د هغوی ایمان زیاتوی، او هغوی په خپل الله تعالیٰ توکل کوی۔ (وړاندے د هغوی د مونځ وغیره ذکر نه پس ارشاد دے، هم دا خلق ریښتنی ایمان والا دی، د دوی د پاره لوئ لوئ درجے دی خپل رب سره، او بخښنه ده او د عزت روزی ده)

(۱۶) وَيَهْدِىْۤ اِلَيْهِ مَنْ اَنَابَ ۝ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ ۗ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ

او څوک چه الله تعالیٰ طرف ته متوجّه کیږی هغوی ته هدایت کوی، هغوی داسے خلق دی چه په الله تعالیٰ ایمان راوړی، او د الله په ذکر سره د هغوی زړونو ته اطمینان

Maktaba Tul Ishaat.com

الْقُلُوْبُ ○ (رعد ع ۴) | کیږی، ښهٔ پوهه شئ چه د الله تعالیٰ
ذکر کښې دا سے خاصیت دے چه په دے سره زړونو ته اِطمینان کیږی۔

(۱۷) قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ ط اَيًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى (اسراء ع ۱۲) | تاسو ورته اُووایئ چه خواه الله تعالیٰ په "الله" وئیلو بلئ یا په رحمٰن وئیلو بلئ په کومه نامه چه یے بلئ (هم هغه بهتره ده) ولے چه هغهٔ د پاره ډیر ښهٔ ښهٔ نومونه دی۔

(۱۸) وَاذْكُرْ رَّبَّكَ اِذَا نَسِيْتَ (کهف ع ۴) وفی مسائل السلوک فیہ مطلوبیۃ الذکر ظاھر۔ | او کله چه د تا نه هیره وُشی نو د خپل رب ذکر کوه۔

(۱۹) وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ عَنْهُمْ تُرِيْدُ زِيْنَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ وَكَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا ○ (کهف ع ۴) | تهٔ خپل ځان هغے خلقو سره (د تا سره) پابند ساته، څوک چه سحر او ماښام خپل رب بلی صِرف د هغهٔ د رضا حاصلولو د پاره۔ او صرف د دُنیا د رونق په خیال سره ستا نظر (یعنی توجّه) د هغهٔ نه لرے نهٔ شی (د رونق نه مراد دا دے کهٔ مالدار مسلمان شی نو اسلام ته به ترقی اُوشی) او د دا سے کس وینا مهٔ منه، چه د چا زړهٔ مونږ د خپل یاد نه غافله کړے دے، او هغه د خپلو خواهشاتو پابند دے او د هغهٔ حال د حد نه زیات شوے دے۔

(۲۰) وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكٰفِرِيْنَ عَرْضًا ۙ الَّذِيْنَ كَانَتْ اَعْيُنُهُمْ فِيْ غِطَآءٍ عَنْ ذِكْرِيْ ○ (کهف ع ۱۱) | او مونږ به دوزخ هغه ورځ (یعنی قیامت په ورځ) د کافرانو مخکښې پیش کړو۔ او دا هغه کسان دی، چه د چا په سترګو زمونږ د یاد نه پرده پرته ده۔

(۲۱) ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ زَكَرِيَّا ○ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ نِدَآءً خَفِيًّا ○ (مریم ع ۱) | دا یادګیرنه ده ستا د پروردګار د مهربانئ کولو خپل بندهٔ زکریا (علیه السلام) باندے کله چه هغوی خپل پروردګار په پټه اُوبلهٔ۔

۲۲ وَادْعُوا رَبِّي عَسٰى اَلَّا اَكُوْنَ بِدُعَاءِ رَبِّي شَقِيًّا ۝ (مریم۔ ع ۳)

۲۳ اِنَّنِيْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِيْ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ ۝ اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ اَكَادُ اُخْفِيْهَا لِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۢ بِمَا تَسْعٰى ۝ (طٰہٰ۔ ع ۱)

۲۴ وَلَا تَنِيَا فِيْ ذِكْرِيْ ۝ (طٰہٰ۔ ع ۲)

۲۵ وَنُوْحًا اِذْ نَادٰى مِنْ قَبْلُ ؕ (انبیاء۔ ع ۶)

۲۶ وَاَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ۝ (انبیاء۔ ع ۶)

۲۷ وَذَا النُّوْنِ اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ (انبیاء ع ۶)

۲۸ وَزَكَرِيَّآ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ رَبِّ لَا تَذَرْنِيْ فَرْدًا وَّاَنْتَ خَيْرُ

اَو بَلم زهٔ رب خپل (یقیني) اُمید دے چه زهٔ خپل رب بَلم، محرومه به نهٔ پاتے کیږم۔

بیشکه زهٔ چه یم الله یم۔ زما نه سوا هیڅوك معبود نشته، پس ته (اے موسیٰ) زما عبادت کوه، او زما دیاد دپاره مونځ کوه، بیشکه قیامت راتلونکے دے، زهٔ هغه پټ ساتل غواړم۔ دپاره ددے چه هر کس ته دهغهٔ دکړو بدله ورکړے شي۔

حضرت موسیٰ او حضرت هارون علیهما السلام ته ارشاد دے او زما په ذکر کښ سُستي مهٔ کوئ۔

او د نوح (علیه السلام تذکره دوی ته اُوکړه) کله چه هغهٔ اُوبلهٔ رب خپل (د حضرت ابراهیم علیه السلام د قصے نه) وړمبے۔

او د ایوب (علیه السلام ذکر اُوکړئ) کله چه هغهٔ رب خپل اُوبلهٔ چه ما ته ډیر تکلیف اُورسیدٔ اَو تهٔ د ټولو مهربانانو نه زیات مهربان یے۔

او د کَب والا (پیغمبر یعني حضرت یونس علیه السلام ذکر اُوکړه) کله چه هغَه (د خپل قوم نه) خفه شو لاړو، او د اے اُوګنړله چه مونږ به دهغهٔ نیول نهٔ کوُو، پس هغهٔ په تیارو کښ اُوبلهٔ چه لتا نه سِوا هیڅوك معبود نشته، تهٔ د هر عیب نه پاك یے، بے شکه زهٔ قصوروار یم۔

او د زکریا (علیه السلام ذکر اُوکړه) کله چه هغهٔ خپل رب اُوبلهٔ، چه اے زما ربه! ما بے وارثه

Maktaba Tul Ishaat.com

الْوَارِثِيْنَ ○ (انبیاء ۔ ع ۶) | مهٔ پرېږده (حال داد ے دغسے خونهٔ) د تولو وارثانو نه بهتر (او حقیقي وارث) هم تهٔ یې.

(۲۹) اِنَّهُمْ كَانُوْا يُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا ۭ وَكَانُوْا لَنَا خٰشِعِيْنَ ○ (انبیاء ۔ ع ۶)

بے شکه دے ټولو (انبیاء علیهم السلام) چه د چا دُوراند ے نه ذکر کیږی) نیک کارونو کښ به یے تلوار کوله، او بللو به یے مونږه (د ثواب) رغبت او (دعذاب نه) به یے وېره کوله. او دوی ټول به ټول زما د پاره عاجزی کونکی.

(۳۰) وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ ۙ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ ۔ (حج ۔ ع ۵)

او تهٔ (دجنت وغیره) خوشخبری واوروه دا سے خشوع کونکوته چه دهغوی احال دے، چه کله د الله تعالیٰ ذکر کیږی نو دهغوی زړونه وېرېږی۔

(۳۱) اِنَّهٗ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْ عِبَادِيْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ○ فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِيًّا حَتّٰٓى اَنْسَوْكُمْ ذِكْرِيْ وَكُنْتُمْ مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ ○ اِنِّيْ جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوْٓا اَنَّهُمْ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ○ (مؤمنون ۔ ع ۶)

(قیامت کښ کافرانو ته به دخبرو اترو په دوران کښ اُوویلے شی چه آیا تاسو ته یاد نهٔ دی) زما د بندګانو یو ټولګے دورے چه هغے غریبانو به مونږ ته دا سے) ویل اے زمونږ پروردګاره! مونږ ایمان راوړے دے پس مونږه اُوبخښه او په مونږ رحمت اُوکړه، تهٔ د ټولو نه زیات رحم کونکے یے، پس تاسو هغوی پورے ټوقے اوکړے ترد ے چه د ے مشغلے تاسو ته زما یاد هم هیر کړو، او تاسو به هغوی پورے خندا کوله. ما نن هغوی ته د هغوی د صبر بدله ورکړه، چه هم هغوی کامیاب شول۔

(۳۲) رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ (نور ۔ ع ۵)

(د کامل ایمان والو په تعریف کښ دی) هغوی دا سے خلق دی، چه هغوی د الله تعالیٰ د ذکر نه نهٔ اخستل په غفلت کښ اچوی نهٔ خرڅول ۔

(۴۳) وَلَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ (عنکبوت ع ۵)

اود الله تعالیٰ ذکر ډیر لوئ شیز دے۔

(۴۴) تَتَجَافٰی جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا وَّمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ○ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ○ (السجده ع ۲)

دهغوی ارخونه دخوب دځایونو نه بیل اُوسی، دارنګے چه دعذاب دویرے اود رحمت په اُمید هغوی خپل رب بلی اوزمونږ ورکړے شوی شیزونو نه خرڅ کوی۔ پس هیچا ته خبر نشته چه دداسے خلقو دسترګو دیخوالی څهٔ څهٔ سامان خزانهٔ غیب کښ محفوظ دے چه بدله ده دهغوی دعملونو۔

(فی الدر عن الضحاک هُمْ قَوْمٌ لَّا يَزَالُوْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ وروی نحوه عن ابن عباس رضی الله عنه)

فائده: یو حدیث کښ راغلی دی چه بنده په اخری شپه کښ الله تعالیٰ ته ډیر نزدے وی، که چرے تا نه کیدے شی، نو دغه وخت دالله تعالیٰ ذکر کوه۔

(۴۵) لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا ○ (احزاب ع ۳)

بے شکه تا سو خلقو دپاره درسول الله صلی الله علیه وسلم نمونه موجوده ده، یعنی هرهغه کس دپاره څوک چه دالله تعالیٰ اود اخرت نه ویریږی او په کثرت سره دالله تعالیٰ ذکر کوی۔ (یعنی هرکله چه نبی علیه الصلوٰة والسلام جنګ کښ شریک شو، اوجهاد یے اوکړو، نو دبل دپاره څهٔ منع کوونکے کیدے شی۔)

(۴۶) وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ ۙ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ○ (احزاب ع ۵)

(دړومبے نه دمؤمنانو دصفتونو بیان دے ته پس ارشاد دے) او په کثرت سره دالله تعالیٰ ذکر کوونکی ناریته اودالله تعالیٰ ذکر کوونکے زنانه، دے ټولو دپاره الله تعالیٰ مغفرت او اجرِ عظیم تیار کړے دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳۷) يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ○ وَّسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ○ (احزاب - ع ۶)

اے ایمان والو! تاسو دالله تعالیٰ بنهٔ په کثرت سره ذکر کوئ، او سحر او ماښام دهغهٔ تسبیح کوئ۔

(۳۸) وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيْبُوْنَ ○ (صافات ع ۳)

او نوح علیه السلام مونږ اوبللو، پس مونږ ښهٔ فریاد اوریدونکی یُو۔

(۳۹) فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ○ (زمر ع ۳)

پس هلاکت دے هغې خلقو دپارهٔ، چه دچا زړهٔ دالله تعالیٰ دذکر نه اثر نهٔ اخلی داخلق په ښکاره ګمراهئ کښ دی۔

(۴۰) اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِیَ ۖ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ۚ ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِیْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ (زمر ع ۳)

الله جل جلاله ډیر ښهٔ کلام (یعنی قرآن) نازل کړو چه داسے کتاب دے چه خپل مینځ کښ مُتشابِه دے، بار بار ویلے شی چه په دے سره دهغې خلقو بدن زیږ شی څوک چه دخپل رب نه ویریږی، بیا دهغوی بدنونه او زړونه نرم شی د الله تعالیٰ ذکر طرف ته مُتوجّه شی۔ داد الله تعالیٰ هدایت دے چاته چه غواړی دهغې په ذریعه هدایت ورکوی۔

(۴۱) فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ○ (مومن ع ۲)

پس بلئ الله تعالیٰ خالص کوونکی هغهٔ دپاره دین، اګرچه په کافرانو بد لګی۔

(۴۲) هُوَ الْحَیُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۭ (مومن - ع ۷)

هغَه ژوندے دے، دهغهٔ نه سِوا هیڅوک لائق دعبادت نشته۔ پس تاسو خالص اعتقاد سره هغَه بلئ۔

(۴۳) وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ ○ (زخرف - ع ۴)

څوک چه د رحمٰن د ذکر نه (په قصد) ړوند شی، مونږ په هغهٔ یو شیطان مقرروُو پس هغَه (هر وخت) هغهٔ سره اوسیږی۔

(۴۴) مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ۭ

محمّد (صلّی الله علیه وسلم) دالله تعالیٰ رسول دے

وَالَّذِيْنَ مَعَهٗٓ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا سِيْمَاهُمْ فِىْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ۭ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِى التَّوْرٰىةِ ۆ وَمَثَلُهُمْ فِى الْاِنْجِيْلِ ۚ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْــَٔهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ۭ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ۝ (الفتح۔ ع ۴)

اوکوم خلق چه ددوی صُحبت یافته دی، (یعنی صحابه کرام رضی الله عنهم) دکافرانو په مقابله کښ تیزدی اوخپل مینځ کښ مهربانه دی۔ اواے مخاطبه! ته به دوی وِینې، چه کله رکوع کوی اوکله سجده ، او د الله تعالیٰ دفضل اودرضا متلاشی په لټون کښ لګیاوی (اودخشوع خضوع) نښې یې په وجه دتاثیر دسجدے په مخونو ښکاره وی۔ دادد وی صفتونه په تورات کښ دی اوپه انجیل کښ لکه څنګه چه فصل، چه اول یې خپله تیغه راؤوځکله بیا یې هغه قوی کړه ، بیا هغه فصل نور غټ شو، بیا په خپله تنه نیغ اُودریدهٔ چه زمیندارو ته ښهٔ معلوم شو (دغسے صحابه کرام وکښ اول ضُعف وُو بیا یې روزانه قوّت زیاتیدهٔ ، او الله تعالیٰ دا نشوونما (غټیدل) ځکه ورکړهٔ) چه په دے سره کافران اُوسوزوی - الله تعالیٰ ددغے خلقو سره کوموچه ایمان راؤړهٔ ، او نیک عمل کوی ، دمغفرت اوداجرِ عظیم وعده کړےده۔

فائده: اٰیتِ شریفه کښ اګرچه ظاهری طور درکوع سجدے او دموځ فضیلت زیات مقصود دے اودغه خوښکاره دے۔ خو دکلمے طیبے د دویم جزء مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ فضیلت هم ددے نه ښکاره دے۔

امام غزالی رحمة الله علیه لیکلی دی چه دپورته نه صلح حُدَیبیّه کښ دکافرانو په انکار اوددے خبرے په اصرار کولو چه مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ مهٔ لیکه محمّد بن عبدالله اُولیکه، الله جل شانهٔ فرمائی چه الله په خپله ګواه دے په دے خبره چه محمّد دالله رسول دے ،اوهرکله چه لیږونکے په خپله اقرار اُوکړی چه فلانے زما قاصِد دے۔ نو بیا لاکه څوک ټوله کهٔ انکار اوکړی، د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغهٔ په انکار خبهٔ کیږی - ددے گواهئ داقرار دپاره الله جل شانه مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ اُوفرمایل - دے نه پس ایتِ شریفه کښ نورهم څو ضروری مضامین دی چه دهغے بتولو نه دادی چه دځ اثرات دښکاره کید وفضیلت دے، ددے په تفسیر کښ مختلف اقوال دی - یو داهُم دے چه دشوګیره کونکو په مخ کوم انوار وبرکات ښکاریږی هغه مراددی - امام رازی رحمة الله علیه لیکلی دی چه دا تحقیق ته رسیدلے دہ، چه د شپے دوه کسان شوګیره اُوکړی، یو لَهْوُلَعِب کښ مشغول وی، بل موځ، قرآن اوعلم زده کولو کښ مشغول وی - سحر د دواړو د مخونو په نورکښ به ښکاره فرق وی، کوم چه لَهْوُلَعِب کښ مشغول وُو، داد هغهٔ په شان اَړوکیدے نهٔ شی کوم چه ذکر او شکر کښ ټوله شپه لګیاوُو - دریمه ضروری خبره دادہ چه حضرت امام مالك رحمة الله علیه اوعالمانو بوے ډلے دے ایت نه د هغے خلقو په کفر دلیل اخستے دے، کوم چه اصحابو کرامو رضی الله عنهم اجمعین ته کنځل کوی - بدوائی، هغوی سره بُغض (کینه) ساتی - (ابنِ کثیر)

﴿۳۵﴾ اَلَمْ یَاْنِ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِکْرِ اللّٰهِ ط (حدید - ع ۲)

ایا ایمان والو دپاره ددے وخت لا نهٔ دے راغلے چه دهغوی زړونه دالله تعالیٰ د یاد دپاره ټیټ شی.

﴿۳۶﴾ اِسْتَحْوَذَ عَلَیْهِمُ الشَّیْطٰنُ فَاَنْسٰهُمْ ذِکْرَ اللّٰهِ ط اُولٰٓئِكَ حِزْبُ الشَّیْطٰنِ ط اَلَآ اِنَّ حِزْبَ الشَّیْطٰنِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝ (مجادله - ع ۳)

(درومبے نه دمنافقانو ذکر دے)، په هغوی دشیطان قبضه اُوشوه، پس هغهٔ دوی دالله تعالیٰ دذکر نه غافله کړهٔ - داخلق دشیطان ډله ده - ښهٔ پوهه شئ داخبره ثابته ده چه دشیطان ډله نقصان والاده -

﴿۳۷﴾ فَاِذَا قُضِیَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِی الْاَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاذْکُرُوا اللّٰهَ کَثِیْرًا لَّعَلَّکُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝

بیا چه کله (دجُمعے) موځ پوره کړئ، نو (تاسو ته اِجازت دے چه) تاسو په زمکه خوارهٔ شئ اود الله تعالیٰ روزی تلاش کوئ (یعنی ددُنیا په کارونو کښ د

(جمعہ - ع ۲) | مشغولیدو اجازت دے خو په دے کښې هم
دا الله تعالیٰ ذکر په کثرت سره کوئ، د پاره د دے چه فلاح (کامیابئ) ته اُرسئ

﴿۴۸﴾ يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ○ (منافقون - ع ۲)

اے ایمان والو! تا سو دِ ستا سو مالونه او اولاد د الله تعالیٰ د ذکرنه، د هغهٔ یادنه غافله نهٔ کړی۔ او کوم خلق چه دا سے اُوکړی هم دغه نقصان والا دی۔ (ولے چه دا څیزونه خو په دنیا کښې ختمیدُنکی دی او د الله تعالیٰ یاد آخرت کښې کار ورکونکے دے)۔

﴿۴۹﴾ وَاِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ بِاَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ ○ (القلم - ع ۲)

دا کافر خلق کله چه ذکر (قرآن) آوری (نو دسختے دُشمنئ نه) داسے معلومیږی چه گویا تاسو به په خپلو نظرو نو وُخوځئ اُغورزوی آووائی چه (نعوذ بالله) دا خولیونے دے۔

فائده: په نظر خوځولو غورزولو اِشاره ده (د دُشمنئ زیاتوالی ته) څنګه چه زمونږ په ژبه کښې وائی، داسے ګوری چه اُوبه م خوری۔
حسن بصری رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چا ته چه نظر لګیدلے وی په هغهٔ دا آیت شریفه وئیل اُو دَم ول فائده مند دی (جمل)

﴿۵۰﴾ وَمَنْ يُّعْرِضْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهٖ يَسْلُكْهُ عَذَابًا صَعَدًا ○ (الجن - ع ۱)

او چه څوک د خپل پروردګار د یادنه اِعراض اُوکړی (یعنی مخ واړوی) الله تعالیٰ به هغه سخت عذاب کښې داخل کړی۔

﴿۵۱﴾ وَاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ يَدْعُوْهُ كَادُوْا يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِ لِبَدًا ○ قُلْ اِنَّمَآ اَدْعُوْا رَبِّيْ وَلَآ اُشْرِكُ بِهٖٓ اَحَدًا ○ (الجن - ع ۱)

کله چه د الله تعالیٰ خاص بنده (یعنی محمد صلی اللہ علیہ وسلم) د الله تعالیٰ را بللو د پاره اُودریږی۔ نو دا کافران په هغے بنده راغونډیږی۔ تاسو ورته اُووایئ چه زهٔ خو صرف خپل پروردګار بلم، او هغهٔ سره څوک نهٔ شریکوم۔

﴿۵۲﴾ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا ○ (مزمل ع ۱)

او ته د خپل رب نامه آخله، او ټولو سره تعلقات مُنقطع (یعنی پریکړه)، هم هغهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

طرف ته مُتوجه اُوسه۔

د مُنقَطِع کولو مطلب دادے چه د الله تعالیٰ د تعلّق په مقابله کښې تول خکته دی۔

(۵۳) وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَّأَصِيلًا ۝ وَمِنَ اللَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهُ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيلًا ۝ إِنَّ هٰؤُلَاءِ يُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُونَ وَرَاءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيلًا ۝ (الدهر ع ۲)

او د خپل رب سحر او ماښام نامه اخلَه، او څهٔ قدرے د شپې په حصه کښې هُم هغهٔ ته سجده کوه، او د شپې په لويه حصه کښې دهغهٔ تسبيح کوه (مراد دے نه د تهجد مونځ دے) دا خلق کوم چه ستا مخالف دی دُنيا سره محبت ساتی، او خپل مخکښې (را تلونکے) يَوه دروند ورځ بے پريږدی۔

(۵۴) قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ۝ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلّٰى ۝ (الاعلیٰ ع ۱)

بيشکه کامياب شو هغه کس څوک چه (دين او اخلاقو نه) پاک شو او د خپل رب نوم يے اخستلو او مونځ يے کولو۔

دويم فصل د ذکر حديثونو کښې

هر کله چه د دے مضمون کښې د قرآنِ پاک آيتونه دومره ډير زيات موجود دی، نو د حديثونو به څهٔ وايے۔ ولے چه د قرآن شريف تولے ديرش پارے دی، او د حديثو بے شميره کتابونه دی او هر کتاب کښې بے شميره حديثونه دی۔ يو د بُخاری شريف لوئ لوئ ديرش پارے دی، او د ابوداؤد شريف دوه ديرش پارے دی۔ او هيڅ کتاب هم داسے نشته چه د دے مبارک ذکر نه خالی وی۔ په دے وجه د حديثونو راجمع کول څوک کولے شی۔ د نمونے او د عمل د پاره يَو آيت او يو حديث هم کافی دے، او چه څوک عمل نهٔ کوی، د هغهٔ د پاره د جستونه هُم بے کاره دی، كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا ط۔

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه الله جل شانهٔ ارشاد فرمائی چه زهٔ بندهٔ سره هغسے

يَقُولُ اللّٰهُ تَعَالٰى اَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ وَاَنَا مَعَهٗ اِذَا ذَكَرَنِيْ فَاِنْ ذَكَرَنِيْ فِيْ نَفْسِهٖ ذَكَرْتُهٗ فِيْ نَفْسِيْ وَاِنْ ذَكَرَنِيْ فِيْ مَلَاٍ ذَكَرْتُهٗ فِيْ مَلَاٍ خَيْرٍ مِّنْهُمْ وَاِنْ تَقَرَّبَ اِلَيَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ اِلَيْهِ ذِرَاعًا وَاِنْ تَقَرَّبَ اِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ اِلَيْهِ بَاعًا وَاِنْ اَتَانِيْ يَمْشِيْ اَتَيْتُهٗ هَرْوَلَةً۔

معامله کوم څنګه چه دے په ما ګمان ساتی، او کله چه دے ما یادوی، نو زهٔ دهٔ سره یم۔ پس کهٔ چرے دے ما خپل زړهٔ کښ یادوی، نو زهٔ یے هم خپل زړهٔ کښ یادوم۔ او کهٔ چرے دے زما ذکر کنړه کښ کوی نو زهٔ دهغے کنړے نه بهتر یعنی د فرښتو په کنړه کښ (چه معصوم او بے ګناه دی) تذکره کوم۔ او کهٔ چرے بنده ما طرف ته یو لیشت متوجّه کیږی، نو زهٔ یو لاس دهٔ طرف ته متوجّه کیږم۔ او کهٔ دے یو لاس را نزدے کیږی، نو زهٔ دوه لاسه دهٔ ته متوجّه کیږم۔ او کهٔ دے ما طرف ته را روان شی، نو زهٔ دهٔ طرف ته په منډه درځم۔

(رواه احمد والبخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة والبيهقی فی الشعب واخرج احمد والبيهقی فی الاسماء والصفات عن انس بمعناه بلفظ يا ابن آدم اذا ذكرتنی فی نفسک الحديث وفی الباب عن معاذ بن انس عند الطبرانی باسناد حسن وعن ابن عباس عند البزار باسناد صحيح والبيهقی وغيرهما وعن ابی هريرة عند ابن ماجة وابن حبان وغيرهما بلفظ انا مع عبدی اذا ذكرنی وتحركت بی شفتاه كما فی الدر المنثور والترغيب للمنذری وفی المشكوٰة مختصرا وفيه برواية مسلم عن ابی ذر بمعناه وفی الاتحاف علقه البخاری عن ابی هريرة بصيغة الجزم ورواه ابن حبان من حديث ابی الدرداء اه)

فائده: دے حدیث شریف کښ څو مضمونونه راغلی دی۔ اوّل دا چه بنده سره دهغهٔ د ګمان موافق معامله کوم۔ چه د دے مطلب دا دے چه الله جل شانهٔ نه دهغهٔ د مهربانئ امید ساتل پکار دی۔ دهغهٔ د رحمت نه هیڅ کله نا امیده کیدل نهٔ دی پکار۔ یقیناً مونږ خلق ګنهګار یو۔ او سر نه ترخپو ګناه او د خپلو حرکتونو او د ګناهونو د سزا او دبدلے یقین دے۔ خود الله تعالیٰ د رحمت نه نا امیده کیدل هم نهٔ دی پکار۔ څهٔ لرے نهٔ ده چه الله جل شانهٔ صرف په خپلے مهربانئ سره بیخی معاف کړی چه اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ط قرآن شریف

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې راغلي دي - (ترجمه) "الله جل شانهٔ دشرك ګناه خونهٔ معاف کوي، دے نه علاوه چا ته چه اُوغواړي، هرڅهٔ به معاف کړي." خوضروري نهٔ دهٔ، چه مُعاف يے کړي - هُم په دے وجه عالمان فرمائي چه ايمان د اُميد او د ويرے ترمينځه دے - نبي اکرم ﷺ يو ځلمي صحابي ته تشريف يوړهٔ، هغهٔ ځنکدن په حالت کښې وو، نبي اکرم ﷺ ترے پوښتنه اُوکړه چه په څهٔ حال کښې يے؟ عرض يے اُوکړهٔ، اے د الله رسوله! د الله تعالیٰ د رحمت اُميدوارېم، او د خپلو ګناهونو نه ويريږم - نبي اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمايهٔ چه دا دواړه يعني اُميد او ويره د کوم بنده په زړهٔ کښې په داسے حالت کښې وي، نو د الله تعالیٰ نه يے چه کوم اُميد وي هغه ورکوي، او چه د څهٔ نه يے ويره وي، د هغے نه اَمن ورکوي (جمع الفوائد) يو حديث کښې راغلي دي چه مؤمن خپله ګناه داسے ګڼړي چه ګويا ديو غرد لاندے ناست دے او هغه غر په ده راغورزيږي - او فاجر ګنهګار کس ګناه داسے ګڼړي، ګويا يو مچ ناست وو، وَ اے لوزَولو - يعني ذرهٔ پرواه يے نهٔ وي - مقصود دادے چه د ګناه نه ويره د هغے مناسب پکار دهٔ - او د رحمت اُميد د هغے مناسب -

حضرت مُعاذ رضی اللہ عنہ طاعون (مرض) کښې شهيد شو، د وفات نزدے زمانه کښې به باربارے هوشه کيدهٔ - کله چه به هوش کښې راغے، نو اُوبه يے فرمايل، يا الله! تا ته معلومه ده چه زما تاسره محبّت دے - ستا په عزت م دِ قسم وي چه تا ته دا خبره ښه معلومه ده - کله چه يے بيخي د مرګ وخت نزدے راغے، نو وِے فرمايل، اے مرګه! ستا راتلل د مبارك وي، ډيرمبارك ميلمه راغے، خو د لوږے په حالت کښې دا ميلمه راغے - د دے نه پس يے اُوفرمايل اے الله! تا ته معلومه ده، چه زهٔ هميشه لتا نه ويريدم - نن د تا نه اُميد لرم، يا الله! زما د ژوندُ سره محبّت د وخونهرونو کنستلو او باغونو لګولو د پاره نهٔ وُو، بلکه د ګرمئ سخته تندهٔ برداشت کول او (د دين له خاطره) مُشقتونوزغملو د پاره، او د ذکر په حلقو کښې د عالمانو سره کلک ناستے د پاره وُو -(تهذيب اللغات)

بعضو عالمانو ليکلي دي چه پورتني حديث کښې (اول د) ګمان موافق معامله د عام حالاتو په اعتبار سره دهٔ، خاص د مغفرت متعلق نهٔ دهٔ - دُعا

صحت، وسعت، اَمن وغیره ټول څیزونه په دے کښ داخل دی۔ مثلاً د دُعا متعلق ځان پوهه کړئ۔ مطلب یے دا دے که چرے بنده دا یقین اوکړی چه زما دُعا به خامخا قبلیږی او ضرور به کیږی نو دهغهٔ دُعا قبلیږی۔ او که چرے بنده دا یقین اُوکړی چه زما دُعا نهٔ قبلیږی نو هم هغسے معامله ورسره کولے شی، لکه نورو حدیثونو کښ راغلی دی چه د بنده دُعا قبلیږی، تر څو چه دا اُونهٔ وائی چه زما دُعا خونهٔ قبلیږی۔ دا رنګے د صحت مالداری وغیره د ټولو کارونو حال دے۔ حدیث کښ راغلی دی چه په چا غریبی راغله او هغه کرزی خلقوته یے وائی، نو مالداری ورته نهٔ نصیب کیږی۔ او که دالله تعالٰی په پاک دربار کښ درخواست اُوکړی، نو زر به یے دا حالت لرے شی، خو ضروری ده چه الله جل شانهٔ باندے نیک ګمان ساتل ځان له څیز دے۔ او الله تعالٰی باندے مغروره کیدل بل څیز دے۔ قران شریف کښ په مختلفو عنوانانو په دے خبردارے ورکړے شوے دے۔ وَلَا یَغُرَّنَّکُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ط (او په دهوکه کښ دِ تاسو وانهٔ چوی دهوکه باز) یعنی شیطان دِ تا دا پوهه نکړی چه ګناه کوه، الله غفورٌ رّحیم دے (بخښونکے مهربانه) دے۔ بل ځائ اِرشاد دے۔ اَطَّلَعَ الْغَیْبَ اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ۙ کَلَّا ط (ایا هغه غیبو باندے خبرداره شو، یا الله تعالٰی سره هغهٔ لوظ کړیدے دا سے هرګزنهٔ ده۔)

دویم مضمون دا دے چه کله بنده ما یادوی، نو زهٔ دهٔ سره یم۔ بل حدیث کښ دی چه کله بنده ما یادوی، نو تر څو چه دِدهٔ شونډے زما په یاد کښ خوزی، نو زهٔ دهٔ سره یم۔ یعنی خاصه توجُّه دَهٔ باندے وی۔ او خصوصی رحمت پرے نازلیږی۔

دریم مضمون دا دے چه زهٔ یے د فرښتو په ګنړه کښ ذکر کوم، یعنی د فخر په طور دهغهٔ ذکر کولے شی۔ اول په دے وجه چه د بنیادم پیدا ئش چه کوم ترتیب سره شوے دے، دهغے موافق دهٔ کښ د اِطاعت (حُکم منلو) او مَعصیت (حکم نهٔ منلو) دواړو مَادَه پرته ده، څنګه چه اتم نمبر حدیث دلاندے راځی۔ دِے حالت کښ اِطاعت کول یقیناً د فخر سبب دے۔ دویم په دے وجه چه فرښتو اول ځل د بنیادم پیدا کولو په وخت عرض کړے وو چه

Maktaba Tul Ishaat.com

اے الله !) ته دا سے مخلوق پیدا کوے چه په دُنیا کښ به وِینه تُویَوی او فساد به کوی او دے وجه هُم هغه ده چه د فساد ماده په دۀ کښ شته. په خلاف د فرښتو چه په دوی کښ دا ماده اَصلاً نشته. دے د پاره هغوی عرض کړے وُو چه ستا تسبیح وتقدیس (یعنی ثنا ویل او پاکی بیانول) خو مونږ کوو. دریم په دے وجه چه د انسان اطاعت دۀ عبادت د فرښتو د عبادت نه په دے وجه بهتر دے چه د انسان عبادت غیب سره یعنی د عالَمِ آخرت کتلو نه بغیر دے، او د فرښتو د عالَمِ آخرت کتلو سره دے. هُم دے طرف ته د الله تعالیٰ په دے خبره کښ اِشاره ده، که چرے هغوی جنت دوزخ لیدلے وے نو څنګه به وُو ؟ په دے وجهو سره الله جل شانهٗ خپل یاد کوونکو او د خپل عبادت کوونکو کارتامے ورته ښائی.

څلورم مضمون حدیث شریف کښ دادے چه بنده په کومه درجه الله جل شانهٗ طرف ته مُتوجّه کیږی، د هغے نه زیاته توجُّه او مهربانی د الله جل شانهٗ له طرفه هغه بنده باندے کیږی. هم دا مطلب دے د رانزدے کیدو او په منډه ورتلو. چه زما مهربانی او زما رحمت په تیزئ سره هغهٔ طرف ته وَرځی. اُوس د هرکس خپل اختیار دے چه څومره قدرے رحمت او د الله تعالیٰ مهربانی خپل طرف ته مُتوجّه کول غواړی، هغومره د خپله توجُّه د الله جل شانهٗ طرف ته زیاته کړی.

پنځم بحث دِ دے حدیث شریف کښ دادے چه په دے کښے د فرښتو ډله بهتره خودلے ده د ذکر کوونکو کسانو نه. حال دادے چه دا مشهوره خبره ده چه اِنسان اَشْرَفُ الْمَخْلُوْقَات یعنی د ټولو مخلوقاتو نه بهتر دے. د دے یوه وجه خو ترجَمه کښ ښکاره شوے ده چه د هغوی بهتر والے یو خاص حیثیت سره دے چه هغوی معصوم (پاک) دی. د هغوی نه ګناه کیدے نهٔ شی. دویمه وجه داده چه دا په اِعتبار د اکثرو افرادو ده. چه اکثر افراد د فرښتو اکثر بنیادمو بلکه اکثرو مؤمنانو نه بهتر دی. اګرچه خاص مؤمنان لکه انبیاء علیهم السلام د ټولو فرښتو نه بهتر دی. دے نه علاوه نورے هم وجے دی چه په هغے کښ اُوږد بحث دے.

(۲) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ رضی اللہ عنہ اَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ شَرَائِعَ الْاِسْلَامِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَيَّ فَاَخْبِرْنِيْ بِشَيْءٍ اَسْتَنُّ بِهٖ قَالَ لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ۔

یوصحابی عرض اُوکړهٔ اے د الله رسوله! احکام د شریعت خو پیر دی. ما ته یو خیز خهٔ داسے اُوښایئ، چه زهٔ یے خپل دستور او خپله مشغله جوړه کړم. نبی علیه الصلوٰۃ والسلام ورته ارشاد اُوفرمایهٔ چه د الله تعالیٰ په ذکر سره ته هروخت رَطْبُ اللِّسَان اُوسه یعنی ژبه مشغوله ساته.

یوبل حدیث کښ دی حضرت مُعاذ رضی الله عنه فرمائی چه د جُدا ایئ په وخت اخری خبرے کومے چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره اُوشوے، هغه داوے، ما پوښتنه اوکړه چه په ټولو عملونو کښ د تولونه خوښ عمل د الله تعالیٰ په نزد څهٔ دے؟ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اُوفرمایهٔ چه په داسے حالت کښ تا ته مرګ راشی چه د الله تعالیٰ په ذکر کښ رَطْبُ اللِّسَان یے (یعنی ژبه دِلونده او مشغوله وی)

(اخرجه ابن ابی شیبة واحمد والترمذی وحسنه وابن ماجة وابن حبان فی صحیحه والحاکم وصححه والبیهقی کذا فی الدر وفی المشکوٰة بروایة الترمذی وابن ماجة وحکی عن الترمذی حسن غریب قلت وصححه الحاکم واقره علیه الذهبی وفی الجامع الصغیر بروایة ابی نعیم فی الحلیة مختصرا بلفظ ان تفارق الدنیا ولسانک رطب من ذکر الله ورقم بالضعف وبمعناه عن مالک بن یخامر ان معاذ بن جبل قال لهم ان آخر کلام فارقت علیه رسول الله صلی الله علیه وسلم ان قلت ایّ الاعمال احب الی الله قال ان تموت ولسانک رطب من ذکر الله اخرجه ابن ابی الدنیا والبزار وابن حبان والطبرانی والبیهقی کذا فی الدر والحصن الحصین والترغیب للمنذری وذکره فی الجامع الصغیر مختصرا وعزاه الی ابن حبان فی صحیحه وابن السنی فی "عمل الیوم واللیلة" والطبرانی فی الکبیر والبیهقی فی الشعب وفی مجمع الزوائد رواه الطبرانی باسانید)

فائده: د جُدا ایئ دوخت مطلب دادے چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم حضرت مُعاذ رضی الله عنه لره د اهلِ یمن د تبلیغ او تعلیم د پاره د یمن امیر جوړ کړهٔ لیږلو یے. دغه وخت د رخصت کولو په وخت کښ نبی علیه الصلوٰۃ والسلام څهٔ وصیتونه کړی وُو، او دهٔ هم څهٔ تپوسونه کړی دُو.

د شریعت حکمونه ډیر کیدو مطلب دادے چه هر حکم په ځای را اُوړل خو ضروری دی، خو هر څیز کښ کمال پیدا کول او هغه مستقل مشغله

جوړول گران دي۔ دے دپاره دهغې نه يو څيز چه کوم دتهولونه ضروري دي
ماته داسے اُوښايئ چه هغه مضبوط اُونيسم، اوهروخت هرځائې تلو،
کرزيدو، پاسيدو، کيناستو کښ يے کوم۔
يوحديث کښ اِرشاددے چه څلور څيزونه داسے دي چه چاته دا
ورکړے شو، هغهٔ ته ددين دُنيا ښيګړے ورکړے شوے۔ يوه هغه ژبه کومه
چه ذکر کښ مشغوله وي۔ دوَيم هغه زړهٔ چه شکر کښ مشغول اُوسي۔
درَيم هغه بدان کوم چه مشقت برداشت کونکے وي۔ څلورَم هغه بي بي
کومه چه خپل نفس کښ اودخاوند په مال کښ خيانت نهٔ کوي۔ نفس
کښ خيانت دادے چه څهٔ قسمهٔ گناه گئ کښ اَخته شي۔
درَطبُ اللّسَان مطلب اکثروعالمانو دېيروالي ليکلے دے، اوداعامه محاوره
ده، زمونږ په عُرف کښ هُم شته چه څوك دچا تعريف اوياد ډير ډير کوي
نوداويلے شي چه دفلاني په تعريف کښ رَطبُ اللّسَان دے۔ خود بندهٔ
عاجزه په خيال کښ يو بل مطلب هُم کيدے شي۔ هغه داچه دچا سره
عشق اومحبت وي، د هغهٔ نوم اَخستلو سره په خُلهٔ کښ يو لذّت اومزه
محسوسيږي۔ دچا چه عشق او مَحبّت سره څهٔ تعلق شوے وي هغوی ددے
نه واقف دي۔ په دے وجه مطلب دادے چه داسے په لذّت خوند سره دِ
اللّٰه تعالىٰ پاك نوم واخستلے شي چه مزه راشي۔ ماخپل بعض بزرګان ډير
خُله ليدلي دي چه دذکر بِالجَهر کولو په وخت پرے دلسے تازګي راشي چه
ورسره تاست کسان يے هُم محسُوسَوي، اَوپه خُلهٔ کښ يے داسے اُوبهٔ راشي
چه هرڅوك يے محسُوسَولے شي۔ خوداهَله حاصليږي چه هرکله په زړهٔ کښ
خوږ خوږ درد (اومحبت) وي، اوژبه په ډير ذکر کولو سره بلَدَه شوے وي۔
يوحديث کښ راغلي دي چه اللّٰه تعالىٰ سره دمحبت نښه دهغهٔ ذکر
سره محبت دے، اواللّٰه تعالىٰ سره دبُغض نښه دهغهٔ ذکر سرهٔ بُغض دے۔
حضرت اَبُوالدّرداء رضي الله عنه فرمائي چه دکوموخلقو ژبے داللّٰه تعالىٰ
په ذکر تراوتازه اُوسي، هغوی به جنّت کښ په خندا داخليږي۔

(۲) عَنْ اَبِی الدَّرْدَاءِ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صلی اللہ علیہ وسلم اَلَا اُنَبِّئُکُمْ بِخَیْرِ اَعْمَالِکُمْ وَاَزْکَاھَا عِنْدَ مَلِیْکِکُمْ وَاَرْفَعِھَا فِیْ دَرَجَاتِکُمْ وَخَیْرٍ لَّکُمْ مِّنْ اِنْفَاقِ الذَّھَبِ وَالْوَرِقِ وَخَیْرٍ لَّکُمْ مِّنْ اَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّکُمْ فَتَضْرِبُوْا اَعْنَاقَھُمْ وَیَضْرِبُوْا اَعْنَاقَکُمْ قَالُوْا بَلٰی قَالَ ذِکْرُ اللّٰہِ۔ (اخرجہ احمد والترمذی وابن ماجۃ وابن ابی الدنیا والحاکم وصححہ والبیہقی کذا فی الدر والحصن الحصین قلت

نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم یو ځلې صحابه رضی اللہ عنہم ته ارشاد اُوفرمایۀ چه ایا زۀ تاسو ته دا سے خیز اُونهٔ ښایم، کوم چه ټولو عملونو کښ بهترین خیز دے اوستاسو د مالك په نزد د ټولونه زیات پاکیزه اوستاسو درجو لره ډیر زیات اُوچتونکے اود سرو او سپینو زرو د الله په لاره کښ خرچ کولو نه هم زیات بهتر او (جهاد کښ) تاسو دُشمنان قتل کړئ، او هغوی تاسو قتل کړی، د دے نه هم زیات وی؟ صحابوٴ رضی اللہ عنہم عرض اُوکړه، ضرور اُوښایئ ـ نبی علیه الصلوٰۃ والسلام ارشاد اُوفرمایۀ، د الله تعالیٰ ذکر دے۔

قال الحاکم صحیح الاسناد ولم یخرجاه واقره علیه الذهبی ورقم له فی الجامع الصغیر بالصحۃ واخرجه احمد عن معاذ بن جبل کذا فی الدر وفیه ایضًا بروایۃ احمد والترمذی والبیهقی عن ابی سعید سُئل رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم اَیُّ الْعِبَادِ اَفْضَلُ دَرَجَۃً عِنْدَ اللّٰهِ یَوْمَ الْقِیٰمَۃِ قَالَ الذَّاکِرُوْنَ اللّٰهَ کَثِیْرًا قُلْتُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَمِنَ الْغَازِیْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ قَالَ لَوْ ضَرَبَ بِسَیْفِهٖ فِی الْکُفَّارِ وَالْمُشْرِکِیْنَ حَتّٰی یَنْکَسِرَ وَیَخْتَضِبَ دَمًا لَکَانَ الذَّاکِرُوْنَ اللّٰهَ اَفْضَلُ مِنْهُ دَرَجَۃً)

فائده: دا یے د عام حالت او د هر وخت په اعتبار سره ارشاد فرمایلے دے۔ کنی د وقتی ضرورت په اعتبار سره صدقه، جهاد وغیره کارونه د ټولونه زیات بهتر شی۔ هم په دے وجه بعضو حدیثونو کښ د دے خیزونو افضلیت یے هم بیان کړے دے، چه د دے ضرورتونه وقتی دی۔ او د الله تعالیٰ ذکر د همیشه خیز دے، او د ټولونه زیات ضروری او بهتر دے۔

یو حدیث کښ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد دے چه هر یو خیز د پاره څۀ صفا کونکے او خیرے لرے کونکے خیز وی (مثلاً جامے او بدن د پاره صابون، د اُوسپنے د پاره د اُور بټهٔ وغیره وغیره) د زړونو صفائی کونکے خیز د الله تعالیٰ ذکر دے۔ او د الله تعالیٰ د ذکر نه زیات بل هیڅ خیز د الله تعالیٰ د عذاب

Maktaba Tul Ishaat.com

نه ہم کوُنکے نشته.

دے حدیث کښې چونکه ذکرے د زړهٔ د صفایئ ذریعه او سبب خود لے دے ددے نه هم د الله تعالیٰ د ذکر دټولو نه بهتر کیدل ثابتیږی - ځکه چه هر یو عبادت هُم هغه وخت عبادت کیدے شي چه په اِخلاص سره وی، او د دے مدار د زړونو په صفایئ باندے دے - هم په دے وجه بعضو صوفیانو ویلي دی چه دے حدیث کښې د ذکر نه مراد ذکرِ قلبي دے نهٔ زبانی ذکر - او ذکرِ قلبي دا دے چه زړهٔ هر وخت الله تعالیٰ سره یوځایٔ کړے شي - او په دے کښې څهٔ شک دے چه دا حالت د ټولو عبادتونو نه بهتر دے ځکه چه هر کله دا حالت شي نو بیا هیڅ یو عبادت پریخودلے نهٔ شي چه ټول بِسکاره او پټ اندامونه د زړهٔ تابع دی - کوم څیز سره چه زړهٔ اُوترلے شي، ټول اندامونه هم هغهٔ سره شي - دعاشقانو د حالاتو نه څوك بے خبره دی - نور هم ډیرو حدیثونو کښې د ذکر د ټولو نه بهتر کیدل راغلی دی -

حضرت سلمان رضی الله عنه نه چا تپوس اوکړو چه د ټولو نه لویٔ عمل څهٔ دے؟ هغوی اُوفرمایل چه تا قرآن شریف نهٔ دے ویلے - قرآن شریف کښې دی، وَلَذِکْرُ اللهِ اَکْبَرُ ط هیڅ څیز د الله تعالیٰ د ذکر نه بهتر نشته - حضرت سلمان رضی الله عنه چه کوم آیتِ شریفه ته اِشاره اُوکړه، هغه د یوویشتمے پارے رومبے آیت دے - صاحبِ "مجالس الابرار" وائی چه دے حدیث کښې یے د الله تعالیٰ ذکر د صدقے او جهاد او ټولو عباداتو نه ځکه بهتر اُوفرمایهٔ چه اصل مقصود د الله تعالیٰ ذکر دے، او ټول عبادتونه د دے ذریعے او آوزار دی - او ذکر دوه قسمه دے، یو زَبانی (د ژبے) بل قلبي (د زړهٔ) چه د ژبے نه هم غوره دے او دا مراقبه او د زړهٔ فکر دے او هم دا مراد دے - د دے حدیث نه کوم کښې چه راغلی دی چه د یو ساعت فکر کوَل د اَویاؤ کالو د عبادت نه غوره دے -

مُسندِ احمد کښې دی حضرت سهل رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه د الله تعالیٰ ذکر د الله تعالیٰ په لاره کښې د خرچ کولو نه اُوهٔ لکهه حصے زیاتیږی د دے تقریر نه دا معلومه شوه چه صدقه او جهاد وغیره کوم چه وقتی څیزونه دی د وقتی ضرورت په اعتبار د دے فضیلت ډیر زیاتیږی)، په

دے وجه په هغې حدیثونوکښې هیڅ اِشکال نشته کوموکښې چه د دے څیز ونو ډیر زیات فضیلت راغلے دے. لکه چه ارشاد دے چه لږ ساعت د الله تعالیٰ په لارکښې اُودریدل په خپل کورکښې د اویاؤ کالو مونځونونه غوره دی حال دادے چه مونځ بِالاِتِّفَاق د ټولونه بهترین عبادت دے، خو دکافرانو د حملے په وخت جهاد دے نه ډیر زیات بهتر کیږی۔

(۲) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ لَیَذْکُرَنَّ اللّٰهَ اَقْوَامٌ فِی الدُّنْیَا عَلَی الْفُرُشِ الْمُمَهَّدَةِ یُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ فِی الدَّرَجَاتِ الْعُلٰی۔

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دے، چه ډیرخلق داسے دی چه دُنیا کښې په نرمو نرمو بسترو باندے د الله تعالیٰ ذکر کوی چه د دے په وجه الله جل شانهٗ دوی دجنت اعلیٰ درجوته رسوی۔

(اخرجه ابن حبان کذا فی الدر قلت ویؤیده الحدیث المتقدم قریبا بلفظ ارفعها فی درجاتکم وایضًا قوله صلی الله علیه وسلم سبق المفردون قالوا وما المفردون یارسول الله قال الذاکرون الله کثیرا والذاکرات رواه مسلم کذا فی الحصن وفی روایة قال المستهترون فی ذکر الله یضع الذکر عنهم أثقالهم فیاتون یوم القیامة خفافا رواه الترمذی والحاکم مختصرا وقال صحیح علی شرط الشیخین وفی الجامع رواه الطبرانی عن ابی الدرداء ایضًا)

فائده: یعنی دُنیا کښې مشقتونه زغمل، تکلیفونه برداشت کول، دآخرت د درجو اُوچتولو سبب دے. اوخومره چه په دینی کارونوکښې دلته مشقت اُوچت کړے شی، هغومره به هلته د اُوچتو مرتبو حقدار وی خو د الله تعالیٰ د مبارک ذکر دا برکت دے، کهٔ په راحت او آرام په نرمو بسترو هم اوکړے شی، بیا هم د درجو اُوچتولو سبب ګرزی. د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے کهٔ چرے تاسو هر وخت ذکرکښې مشغول اُوسئ، نو فرښتے به ستاسو په بسترو او ستاسو په لاروکښې تاسو سره لاس ملاوول شروع کړی. په یو حدیث کښې د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد راغلے دے چه مُفَرِّد خلق ډیر وړاندے لاړل. صحابو رضی الله عنهم عرض اُوکړو چه مُفَرِّد څوک دی؟ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد وُفرمایه چه څوک د الله تعالیٰ په ذکرکښې دعشق و محبت په طریقه اَخته وی. د دے حدیث په وجه صوفیانو لیکلی دی چه بادشاهان او امیران

Maktaba Tul Ishaat.com

دالله تعالیٰ دذکرته منع کوُل نهٔ دی پکار چه هغوی ددے په وجه اعلیٰ درجے حاصلوُلے شی۔ حضرت اَبُو الدَّرداء رضی الله عنه فرمائی چه ته دالله تعالیٰ ذکر د راحت او ارام او دخوشالئ په وختونوکښ کوه۔ دا به تا ته دمشقتونو او دتکلیفونو په وخت کښ کار ورکړی۔ حضرت سَلمان فارسی رضی الله عنه فرمائی چه کله بندهٔ دراحت، خوشالئ، مالدارئ په وختونوکښ دالله تعالیٰ ذکرکوی۔ بیا چه دهٔ ته څهٔ مُشقت اوتکلیف اُورسی، نوفرښتے وائی چه اشنا اوازدے چه دضعیف بنده دے، بیا الله تعالیٰ ته ددهٔ سفارش کوی۔ اوچه څوك دراحت په وختونوکښ الله تعالیٰ یاد نهٔ کړی، بیا څهٔ تکلیف دهٔ ته اُورسی، اوهغه وخت یے یادکړی، نوفرښتے وائی څنګه نااشنا اوازدے۔ حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه دجنت آتهٔ دروازے دی، یوه یه هغے کښ صرف دذاکرینو دپاره ده۔ یوحدیث کښ دی چه څوك دالله تعالیٰ ذکر په کثرت سره کوی هغه دنِفاق نه خلاص دے۔ بل حدیث کښ دی چه الله تعالیٰ هغهٔ سره محبت کوی۔ دیوسفرنه واپسی کیدله، یوځائ ته چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم رااُورسیدهٔ، وے فرمایل چه وړاندے وَتوُنکی څهٔ شو، صحابو رضی الله عنهم عرض اُوکړهٔ چه بعض تیزتلونکی وړاندے لاړل۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل هغه وړاندے تلونکی څهٔ شو؟ څوك چه دالله تعالیٰ په ذکرکښ دمحَبَّت په انداز مشغول وی۔ څوك چه داغواړی چه دجنت په نعمتونو ښهٔ موړ شی، هغه دِ دالله تعالیٰ ذکرډیر ډیرکوی۔

⑤ عَنْ اَبِیْ مُوسٰی رضی الله عنه قَالَ قَالَ النَّبِیُّ صلی الله علیه وسلم مَثَلُ الَّذِیْ یَذْکُرُ رَبَّهٗ وَالَّذِیْ لَا یَذْکُرُ رَبَّهٗ مَثَلُ الْحَیِّ وَالْمَیِّتِ (اخرجه البخاری ومسلم والبیهقی کذا فی الدر والمشکوٰة)	دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاددے چه څوك د الله تعالیٰ ذکرکوی اوڅوك نهٔ کوی د دے دواړومثال دژوندی اودمړی په شان دے چه ذکرکوُنکے ژوندے دے، اوذکر نهٔ کوُنکے مړدے۔

فائده: ژوند دهرچا خوښ دے اودمرګ نه هرڅوك ویریږی۔ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاددے چه څوك دالله تعالیٰ ذکرنهٔ کوی، هغه ژوندے هم دمړی په حُکم کښ دے، دهغهٔ ژوند بےکاره دے۔ ــه

زندہ گانی نتوان گفت حیاتے کہ مراست ۔ زندہ آن است کہ بادوست وصالے دارد

(ترجمه) والی چه هغه اُوږد ژوند نه دے کوم چه زما دے. ژوند ے هغه دے چا ته چه د دوست ملاقات نصیب شي

بعضو عالمانو ویلي دي چه دا د زړهٔ د حالت بیان دے چه څوك د الله تعالیٰ ذکر کوي، د هغهٔ زړهٔ ژوندے وي، او چه څوك ذکر نهٔ کوي د هغهٔ زړهٔ مړ کیږي. او بعضو عالمانو ویلي دي چه تشبیه د نفع او نقصان په اعتبار سره ده چه د الله تعالیٰ ذکر کوونکي ته چه څوك تکلیف رسوي، هغه داسے دے لکه چه ژوندي ته تکلیف رسوي، نو ددهٔ ته به بدله اخستلے شي. او دخپلو کړو به سزا ورکولے شي. او نهٔ ذکر کوونکي له تکلیف ورکوونکے داسے دے لکه مړي ته تکلیف ورکوونکے، چه هغه په خپله بدله نهٔ شي اخستلے.

صوفیان والي چه ددے نه همیشه ژوند مراد دے چه د الله تعالیٰ ذکر ډیر ډیر په اخلاص سره کوونکي اُو مړهٔ نهٔ دي. بلکه هغوي ددے دُنیا نه د تلو نه روستو هم د ژوند په حکم کښ وي، لکه چه قران شریف کښ د شهید باره کښ راغلي دي، بَلْ اَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ د ارنګے دهغوي د پاره هم یو خاص قسم ژوند دے.

حکیم ترمذي رحمة الله علیه فرمائي چه د الله تعالیٰ ذکر زړهٔ تر و تازه کوي، او نرمي پیدا کوي. او کله چه زړهٔ د الله تعالیٰ د ذکر نه خالي وي، نو د نفس په ګرمئ او د شهوت په اور سره اُوچ شوے سخت شي. بیا ټول اندامونه سخت شي، د طاعت (یعني حکم منلو) نه پاتے شي. کهٔ چرے دا اندامونه راکاږے نو مات به شي، لکه څنګه چه اُوچ لرګے په راکګولو سره نهٔ راګیږي، صرف ماتولو نه پس د سوزولو په کار راځي.

(۶) عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم لَوْاَنَّ رَجُلاً فِیْ حِجْرِهٖ دَرَاهِمُ یُقْسِمُهَا وَاٰخَرُ یَذْکُرُ اللّٰهَ لَکَانَ الذَّاکِرُ لِلّٰهِ اَفْضَلُ،

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دے کهٔ چرے یو کس سره ډیرے روپئ وي، او هغه یے تقسیموي، او بل کس د الله تعالیٰ په ذکر کښ لګیا وي نو ذکر کوونکے ترے بهتر دے.

Maktaba Tul Ishaat.com

(اخرجه الطبرانی کذا فی الدر و فی مجمع الزوائد رواه الطبرانی فی الاوسط ورجاله وثقوا)

فائده: یعنی دالله تعالیٰ په لارکښې خرچ کول خولوئ څیز دے، خو دالله تعالیٰ یاد دهغې په مقابله کښې هم بهتر دے، بیا خومره خوش نصیبه دی هغه مالداران چه دالله تعالیٰ په لارکښې خرچ هم کوی، او ورته دالله تعالیٰ د ذکر توفیق هم نصیب شي.

یو حدیث کښې دی چه دالله جل شانهٗ له خواهره ورځ بندګانو باندے صدقه کیږی، او هر کس ته دهغهٔ دحیثیت مطابق څهٔ نه څهٔ ورکولے شی خو هیڅ ورکړه د دے نه زیاته نشته چه هغهٔ ته د ذکر توفیق نصیب شی. کوم خلق چه کاروبار کښې آخته وی، تجارت، زراعت، ملازمت کښې کیږدی، که چرے لږ ډیر وخت دالله تعالیٰ دیاد د پاره دخپلو وختونو نه اُوباسی، نو څومره دمُفتو ګټه ده. دوُرځے شپے څلیر ویشتو ګهینټو نه دوه څلور ګهینټے د دے کار د پاره راوِیستل څهٔ ګرانه خبره ده؟ اخر د فضولیاتو، لغویاتو (عبثیاتو) کښې ډیر څهٔ وخت لګی، نو د دے فائده مند څیز د پاره وخت ویستل څهٔ ګران دی؟

یو حدیث کښې د نبی اکرم ﷺ ارشاد دے چه دالله تعالیٰ بهترین بندګان هغه دی چه دالله تعالیٰ د ذکر د پاره، د سپوږمئ، نمر، ستوری او د سوری تحقیق ساتی یعنی د وختونو د تحقیق اهتمام کوی. اګرچه د دے زمانه کښې د ګهړئ او د ګهینټو ډیروالی خلق د دے نه بے پرواه کړهٔ. بیا هم سره د دے څهٔ نه څهٔ واقفیت د دے څیزونو مناسب دے چه د ګهړئ دخرابئ او د غلطئ په وجه وختونه ضائع نهٔ شی.

یو حدیث کښې راغلی دی چه د زمکے په کومه حصه چه د الله تعالیٰ ذکر اُوکړے شی هغه حصه لاندے اُوُوُو زمکو پورے په نور و حصو فخر کوی.

(۷) **عن** مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيْسَ يَتَحَسَّرُ اَهْلُ الْجَنَّةِ اِلَّا عَلٰى سَاعَةٍ مَرَّتْ بِهِمْ لَمْ يَذْكُرُوا اللّٰهَ تَعَالٰى فِيْهَا.

د نبی اکرم ﷺ ارشاد مبارک دے، چه جنت ته د تلو نه پس به جنتیانو ته د دُنیا د هیڅ څیز افسوس نهٔ وی سوا د هغې ساعت نه چه کوم په دُنیا کښې د الله تعالیٰ د ذکر نه بغیر تیر شوے وی.

(اخرجہ الطبرانی والبیہقی کذا فی الدر وفی الجامع رواہ الطبرانی فی الکبیر والبیہقی فی الشعب ورقم لہٗ بالحسن وفی مجمع الزوائد رواہ الطبرانی ورجالہٗ ثقات وفی شیخ الطبرانی خلاف واخرج ابن ابی الدنیا والبیہقی عن عائشۃ بمعناہ مرفوعًا کذا فی الدر وفی الترغیب بمعناہ عن ابی ہریرۃ مرفوعًا وقال رواہ احمد باسناد صحیح وابن حبان والحاکم وقال صحیح علٰی شرط البخاری)

فائدہ: جنت تہ تلونہ پس کلہ چہ دا منظر مخکښ راشی چہ یو وار دا اللہ تعالیٰ دپاک نوم اخستلو اجر وثواب څومرہ زیات مقدار کښ دے چہ دغرونو برابر ورکړے کیږی۔ نو دغہ وخت بہ دخپلے کمے پہ نقصان باندے چہ څومرہ قدرے افسوس وی، ښکارہ دے۔ دا سے خوش نصیبہ بندګان هم شتہ چہ هغوی تہ دُنیا دا اللہ تعالیٰ دذکر نہ بغیر ښہ نہٗ معلومیږی۔

حافظ ابن حجر رحمۃ اللہ علیہ مُنبّہات کښ لیکلی دی چہ یحیٰی بن مُعاذ رازی رحمۃ اللہ علیہ بہ پہ خپل مُناجات یعنی دُعا کښ ویل اِلٰهِیْ لَا یَطِیْبُ اللَّیْلُ اِلَّا بِمُنَاجَاتِكَ وَلَا یَطِیْبُ النَّهَارُ اِلَّا بِطَاعَتِكَ وَلَا تَطِیْبُ الدُّنْیَا اِلَّا بِذِكْرِكَ وَلَا تَطِیْبُ الْاٰخِرَۃُ اِلَّا بِعَفْوِكَ وَلَا تَطِیْبُ الْجَنَّۃُ اِلَّا بِرُؤْیَتِكَ. (ترجمہ) یا اللہ! شپہ ښہ نہٗ لګی خو تا سرہ راز ونیاز کښ۔ او ورځ ښہ نہٗ معلومیږی خو ستا عبادت سرہ، او دُنیا ښہ نہٗ معلومیږی خو ستا ذکر سرہ، او اخرت ښہ نہٗ دے خو ستا معافئ سرہ، او جنت کښ مزہ نشتہ خو ستا دیدار سرہ۔

حضرت سِرّی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چہ ما جُرجانی رحمۃ اللہ علیہ اُولیدو چہ ستوان یے خوړل۔ ما ترے تپوس اُوکړو چہ دا اُوچ خورے؟ ورے ویل چہ ما پہ ډوډئ شخوندوهلو او دستوانو خوړلو هر کلہ چہ حساب اُولګو نو شخوند وهلو کښ دومرہ زیات وخت لګی چہ پہ هغے کښ بنیادم اویا (۷۰) وارے سُبْحَانَ اللہ ویلے شی، ځکہ ما دڅلیر یشتو کالو نہ ډوډئ خوړل پریخی دی او ستوان خوړلو باندے ګذارہ کوم۔

دمنصور بن مُعتمر رحمۃ اللہ علیہ متعلق یے لیکلی دی چہ څلو یښتو کالو پورے دما سختن مانځہ نہ پس چا سرہ یے خبرے نہٗ دی کړی۔ ربیع بن هیثم رحمۃ اللہ علیہ متعلق یے لیکلی دی چہ دشلو کالو پورے چہ کومہ خبرہ بہ یے کولہ، هغہ بہ یے یوہ پرچہ باندے لیکلہ، او د شپے بہ یے خپل زړہ سرہ

Maktaba Tul Ishaat.com

حساب کولو چه څومره خبرے په دےکښ ضروری دے او څومره غیر ضروری۔

(۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ وَاَبِیْ سَعِیْدٍ رضی اللہ عنہما اَنَّهُمَا شَهِدَا عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم اَنَّهٗ قَالَ لَا یَقْعُدُ قَوْمٌ یَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اِلَّا حَفَّتْهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَغَشِیَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَنَزَلَتْ عَلَیْهِمُ السَّكِیْنَةُ وَذَكَرَهُمُ اللّٰهُ فِیْمَنْ عِنْدَهٗ ۔ اخرجہ ابن ابی شیبۃ واحمد ومسلم والترمذی وابن ماجۃ والبیہقی کذا فی الدر والحصن والمشکوٰۃ

حضرت ابوهریره او ابوسعید رضی اللہ عنہما دواړه حضرات ددے گواهی ورکوی چه مونږ ه د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه واوریدل، ارشاد یے اُو فرمایلو چه کومه ډله د الله تعالیٰ په ذکر کښ مشغوله وی، فرښتے هغه ډله د ټولو طرفونو نه گیروی او رحمت پرے غوړیږی او سکینه پرے نازلیږی او الله جل شانهٗ دهغوی ذکر خپل مجلس کښ د فخر په طور کوی۔

(۹) فی حدیث طویل لِاَبِیْ ذَرٍّ اُوْصِیْكَ بِتَقْوَی اللّٰهِ فَاِنَّهٗ رَاْسُ الْاَمْرِ كُلِّهٖ وَعَلَیْكَ بِتِلَاوَةِ الْقُرْاٰنِ وَذِكْرِ اللّٰهِ فَاِنَّهٗ ذِكْرٌ لَّكَ فِی السَّمَآءِ وَنُوْرٌ لَّكَ فِی الْاَرْضِ ۔ الحدیث ذکرہ فی الجامع الصغیر بروایۃ الطبرانی وعبد بن حمید فی تفسیرہ ورقم لہ بالحسن

حضرت ابوذر رضی اللہ عنہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد نقل کوی چه زۀ تاته د الله تعالیٰ د تقوی وصیت کوم، چه د ټولو څیزونو جرړه ده او د قرآن شریف د تلاوت او د الله تعالیٰ د ذکر اهتمام کوه چه په دے سره به په اسمانونو کښ ته یادولے شے او په زمکه کښ به د نور سبب جوړیږی۔ اکثر وختونو کښ چُپ اُوسه چه د نیکئ نه بغیر څه خبره نه کوی، دا خبره شیطان لرے کوی، او د دین په کارونو کښ مدد ورکوی۔ د ډیرے خندا نه هُم ځان ساته چه په دے سره زړهٔ مړ کیږی، او د مخ رونق پرے ځی۔ جهاد کوه چه زما د اُمت فقیری هم داده۔ مسکینانو سره محبت ساته، هغوی سره کښینه، او د ځان نه کم حیثیته خلقوته گوره، او د خپل ځان نه پورته خلقوته مهٔ گوره چه په دے د الله تعالیٰ د هغے نعمتونو ناقدری پیدا کیږی کوم چه تاته الله تعالیٰ درکړی دی خپلوانو سره د تعلقاتو جوړولو فکر ساته، اگرچه هغوی تاسره تعلقات پریږدی۔ حق خبره وئیلو کښ تردُّد (شک شُبَه) مهٔ کوه، اگرکهٔ په چا

ترځه لګی - دالله تعالیٰ په مُعاملَه کښ دچا دملامتیاپرواه مکوه - ستاخپل عیبونه کتل دِنورو عیبونو کتلونه منع کړی - او یو کوم عیب کښ چه پخپله اَخته یے په هغے کښ په نورو غصه مکوه - اے اَبوذَره! د ښهٔ تدبیر نه زیاته هیڅ عقلمندی نشته - او ناجائزه کارونونه بچ کیدل بهتَرینه پرهیزګاری ده او دخوش خُلقئ برابر هیڅ شرافت نشته -

فائده: د سکینے معنیٰ دسکون او وقار ده یا دخُهٔ مخصوص رحمت - چه ددے په تفسیر کښ مختلف اَقوال دی چه ما مختصر د فضائلِ قراٰن چهل حدیث کښ لیکلی دی -

امام نَوَوِی رحمة الله علیه فرمائی چه داخُهٔ داسے مخصوص خیز دے، چه طَمَانِیت، رحمت وغیره ټولو لره شامل دے او ملائکو سره را کوزیږی -

دالله جل شانهٔ دا خیزونه دفرښتو مخکښ دفخر په طور فرمایل یو خو په دے وجه دی چه فرښتو دادم علیه السلام دپیدا کولو په وخت عرض کړے وو، چه دا خلق به دُنیا کښ فساد کوی، لکه څنګه چه دروَمبی حدیث دلاندے تیر شوی دی - دویم په دے وجه دی، چه دفرښتو تولګے اګرچه دسرنه تر پښو ټول عبادت، بندګی او اطاعت کوی، خو په دوی کښ دمَعصیت مادهٔ اَصلاً نشته نه - او انسان کښ چونکه دواړه مادے موجود دے دی او دغفلت او دنافرمانئ اسبابو دے ګیر کړے دے - شهوتونه او لذتونه ددهٔ (دبدن) حصے دی - په دے وجه ددهٔ نه ددے ټولو په مقابله کښ چه کوم اطاعت او کوم عبادت اُوشی او دکوم مَعصیت مقابله اوکړی، دا زیات دتعریف او دقدر قابل دے -

حدیث کښ راغلی دی چه کله الله جل شانهٔ جنت جوړ کړهٔ نو جبریل علیه السلام ته اِرشاد اُوشو چه اُوګوره بیا راشه، هغه راغے عرض یے اُوکړهٔ اے الله! ستا په عزت مِ دِقسَم وی څوک چه ددے خبر واوری په دے کښ به بغیرد تلونه نهٔ پاتے کیږی، یعنی لذتونه، راحتونه، خوشالئ، نعمتونه نو مره قدر چه په دے کښ ایخودلے شوی دی دهغے داوریدو او دیقین را تلو نه پس داسے به څوک وی چه هغے ته دتلو انتهائی کوشش اُونکړی - دے نه پس الله جل شانهٔ هغه په مشقتونو پټ کړهٔ چه مونځ ته کول، روژے

Maktaba Tul Ishaat.com

نیول، جهاد کول، حج کول وغیره وغیره یے پرے سوارۀ یعنی فرض کړۀ، چه دا په ځائ راوړه نو جنت ته لاړشَه۔ بیا حضرت جبریل علیه السلام ته ارشاد اُوشو چه اُوس اُوګوره۔ هغهٔ عرض اُوکړۀ چه اُوس خو یا الله ما ته داویره ده، چه څوک به دے ته اَپړو لاړنهٔ شی۔ دارنګے چه کله یے دوزخ جوړ کړۀ، نو حضرت جبریل علیه السلام ته دهغے دکتلو حکم اُوشو۔ دهغے عذاب، دهغے مصیبتونه کندکئ او تکلیفونه چه یے اُولیدل، عرض یے اُوکړۀ چه اے الله تعالیٰ! ستا دعزت قسم، څوک چه دے حالات واوری هیڅ کله به دے ته نزدے لاړنشی الله جلّ شانهٔ دُنیا په لذّتونو سره هغَه پټ کړو۔ زنا کول، شراب څکل ظلم کول، په حُکمونو عمل نهٔ کول وغیره وغیره پرده پرے واچولے شوه۔ بیا ارشاد اُوشو چه اُوس اُوګوره، هغهٔ عرض اُوکړۀ چه اے الله! اوس خو ما ته داویره ده چه شاید څوک ددے نه بچ شی۔ هم په دے وجه کله چه څوک بنده دالله تعالیٰ اطاعت کوی، ګناه نه بچ کیږی، نو دهغے ماحول په اعتبار سره کوم کښ چه هغَه دے، دقدر او عزت قابل ګرزی۔ هم په دے وجه الله جل شانهٔ دخوشالئ اظهار کوی۔ دکومو فرښتو چه په دے حدیث کښ اوردے قسمه ډیرو حدیثونو کښ ذکر راغلے دے، هغه دفرښتو یوه خاصه ډَله ده چه هم په دے کار مقرر ده، چه چرته دالله تعالیٰ دذکر مجلسونه وی دالله تعالیٰ ذکر کولے شی، هلته جمع شی، او هغَه آوری۔ لکه یو حدیث کښ ارشاد دے چه دفرښتو یوه ډَله جُدا جُدا ګرزی۔ او کوم ځائ چه د الله تعالیٰ ذکر واوری، خپلو ملګرو ته آواز اُوکړی چه راشئ داځائ ستاسو مقصود او غرض موجود دے۔ او بیا بویل بانلے جمع کیږی، آن ترڅے چه اسمانه پورے ددوی حَلقه اُورَسی۔ څنګه چه دریم باب کښ ددویم فصل څوارلسم نمبر حدیث کښ راځی۔

(۹) عَنْ مُعٰوِیَةَ رضی الله عنه
اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰہِ صلی الله علیه وسلم خَرَجَ عَلٰی حَلْقَةٍ مِّنْ اَصْحَابِهٖ فَقَالَ مَآ اَجْلَسَكُمْ قَالُوْا

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم یو وارے دصحابو یوے ډلے ته تشریف یوړو، او پوښتنه یے ترے اُوکړه چه کومے خبرے تاسو دلته کښینولی یئ؟ هغوی عرض اُوکړۀ چه

جَلَسْنَا نَذْکُرُ اللّٰهَ وَنَحْمَدُهٗ عَلٰی مَا هَدٰنَا لِلْاِسْلَامِ وَمَنَّ بِهٖ عَلَیْنَا قَالَ آللّٰهِ مَا اَجْلَسَکُمْ اِلَّا ذٰلِكَ قَالُوْا آللّٰهِ مَا اَجْلَسَنَا اِلَّا ذٰلِكَ قَالَ اَمَا اِنِّیْ لَمْ اَسْتَحْلِفْکُمْ تُهْمَةً لَکُمْ وَلٰکِنْ اَتَانِیْ جِبْرِیْلُ فَاَخْبَرَنِیْ اَنَّ اللّٰهَ یُبَاهِیْ بِکُمُ الْمَلٰٓئِکَةَ۔ (اخرجه ابن ابی شیبة واحمد ومسلم والترمذی والنسائی کذا فی الدر والمشکوٰة)

د الله جل شانه ذکر کوو، او په دے خبره دهغهٔ حمد وثنا کوو چه هغهٔ مونږ ته د اِسلام دولت نصیب کړو، دا د الله تعالیٰ لوئ احسان په مونږ دے۔ نبی اکرم ﷺ اِرشاد اُوفرمایه، ایا په الله تعالیٰ قسم صرف هم په دے وجه ناست یئ؟ صحابو عرض اوکړو په الله تعالیٰ قسم، صرف هم په دے وجه ناست یُو۔ نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل چه دخهٔ بدګُمانئ په وجه ما تاسو ته قسم نهٔ دے درکړے بلکه جبریل علیه السلام اُوس ما ته راغے او دا خبره ئے راته واوروله چه الله جل شانهٔ ستاسو په وجه فرښتو باندے فخر کوی۔

فائده: یعنی ما چه کوم قسم درکړهٔ او تپوس مے اُوکړهٔ، د دے نه مقصود اهتمام او تاکید وو چه ممکنه ده څهٔ نوره خاصه خبره هم د دے نه علاوه وی، او هغه خبره د الله جل شانهٔ د فخر سبب وی، اُوس معلومه شوه چه صرف هُم دا تذکره کول د فخر سبب دے۔ څومره قدرے خوش قسمته وُو هغه خلق چه د هغوی عبادتونه مقبول وُو۔ او د هغوی حمد وثنا باندے د الله جل شانهٔ د فخر خوشخبری هغوی ته د نبی علیه السلام په ژبه مبارکه په دُنیا کښ معلومیده، او ولے به نهٔ وه چه د دے حضراتو کارنامے هم د دے حقدار ے وے، د دوی د کارنامو مختصره تذکره ما په خپل کتاب **حِکایاتِ صحابه** کښ د نمونے په طور کړے ده۔

مُلّا علی قاری رحمة الله علیه فرمائی چه د فخر کولو مطلب دا دے چه الله جل شانهٔ فرښتو ته فرمائی چه اُوګورئ د خلق سره د دے چه نفس د دوی سره دے، شیطان په دوی مقرر دے۔ شهوتونه د دوی کښ موجود دی، د دُنیا ضرورتونه د دوی سره لګیدلی دی۔ د دے ټولو باوجود د دے ټولو مقابله کښ د الله تعالیٰ په ذکر کښ مشغول دی۔ او دومره په کثرت لرے کوُنکی

Maktaba Tul Ishaat.com

ځيزونوسره زما دذکرنه نهٔ لرے کيږی۔ ستاسو ذکراو تسبيح په دے لحاظ سره چه تاسو د پاره هيڅ هم بدل يږدے نه نشته، دهغوی په مقابله کښ اووه ځه ځيزنهٔ دے۔

⑩ عَنْ اَنَسٍ رضی اللہ عنہ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَ مَا مِنْ قَوْمٍ اجْتَمَعُوْا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ لَا يُرِيْدُوْنَ بِذٰلِكَ اِلَّا وَجْهَهٗ اِلَّا نَادٰهُمْ مُنَادٍ مِّنَ السَّمَآءِ اَنْ قُوْمُوْا مَغْفُوْرًا لَّكُمْ قَدْ بُدِّلَتْ سَيِّاٰتُكُمْ حَسَنَاتٍ

اخرجه احمد والبزار وابو يعلى والطبرانی؛ واخرجه الطبرانی عن سهل بن الحنظلية ايضًا و اخرجه البيهقی عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ وَزَادَ وَمَا مِنْ قَوْمٍ اجْتَمَعُوْا فِیْ مَجْلِسٍ فَتَفَرَّقُوْا وَلَمْ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اِلَّا كَانَ ذٰلِكَ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ۔ (كذا فی الدر قال المنذری رواه الطبرانی فی الكبير والاوسط و رواته محتج بهم فی الصحيح وفی الباب عن ابی هريرة عند احمد وابن حبان وغيرهما وصححه الحاكم علی شرط مسلم فی موضع وعلی شرط البخاری فی موضع اُخرٰی وعزاه السيوطی فی الجامع حديث سهل الی الطبرانی والبيهقی فی الشعب والضياء ورقم له بالحسن وفی الباب روايات ذكرها فی مجمع الزوائد)

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارك دے چه کوم خلق د الله تعالیٰ دذکر د پاره راجمع شی او دهغوی مقصود صرف د الله تعالیٰ رضا وی نو د اسمان نه يوه فرښته اواز کوی۔ چه تاسو خلق اُوبخښلے شوئ۔ او ستاسو بدئ په نيکوسره بدلے کړے شوے۔ دويم حديث کښ دی چه، دے په مقابله کښ چه کوم راجمع کيدل داسے وی چه په هغے کښ د الله تعالیٰ اودوځهٔ ذکرنهٔ وی، نو دا راجمع کيدل به د قيامت په ورځ د حسرت او د افسوس سبب وی۔

فائده: يعنی ددے راغونډيدے په بے برکتئ او بربادئ باندے به افسوس وی، نو کيدے شی چه په ځهٔ وجه دوبال سبب شی۔ يو حديث کښ راغلی دی په کوم مجلس کښ چه د الله تعالیٰ ذکرنهٔ وی په نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم باندے درود نهٔ وی، ددغے مجلس خلق داسے دی لکه چه د مړ خر نه څوك پاسی۔ يو حديث کښ راغلی دی چه د مجلس کفاره داده چه د هغے په ختميدو دا دُعا اُووائی: سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ۔ يو بل حديث کښ راغلی دی چه کوم

مجلس داسے وی چہ پہ هغے کښ د الله تعالیٰ ذکر، پہ نبی اکرم ﷺ درود شریف نۀ وی، هغه مجلس به د قیامت په ورځ د حسرت او د نقصان سبب وی، بیا به الله جل شانهٔ په خپلے مهربانئ که یے خوښه شی بخښنه ورته اوکړی، یا مطالبه به ترے اوکړی، او عذاب به ورکړی۔ یو حدیث کښ دی چه مجلسونو حق ادا کوئ او هغه دادے چه د الله تعالیٰ ذکر په هغے کښ په کثرت سره کوئ په لاره تلونکو خلقو ته (په وخت د ضرورت) لاره ښائی، او که (ناجائز څیز مخے ته راشی نو) سترګے پټے کړئ (یا خکته کړئ چه په هغے نظر اُونۀ لګی)۔

حضرت علی کرم الله وجهه ارشاد فرمائی چه څوک داغواړی چه د هغهٔ ثواب یو لویه تله کښ اُوتلے شی (یعنی ثواب یے پیر زیات مقدار کښ شی چه هغه په لویه تله کښ تللے شی محمولی څیزونه د لوے تلے په پارسنګ کښ اشی) هغهٔ له پکار دی چه د مجلس په ختمیدو دا دُعا اُووائی۔ سُبۡحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الۡعِزَّةِ عَمَّا یَصِفُوۡنَ ۝ وَسَلٰمٌ عَلَى الۡمُرۡسَلِیۡنَ ۝ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ۝

(حصن حصین) پورتنی حدیث کښ بدئ په نیکو سره د بدلیدو ذیرے دے۔ قران شریف کښ هُم د سورة فرقان په ختمیدو د مومنانو خوصفتونه ذکر کولو نه پس ارشاد دے۔ فَاُولٰٓئِكَ یُبَدِّلُ اللّٰهُ سَیِّاٰتِهِمۡ حَسَنٰتٍ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوۡرًا رَّحِیۡمًا ۝ (پس هم داخلق دی چه د کومو بدئ الله تعالیٰ په نیکو سره بدلوی او الله تعالیٰ غفور رحیم دے۔) د دے ایت شریفه متعلق د عُلمائے تفسیر څو قولونه دی۔

اوّل داچه بدئ به یے معاف کړے شی او نیکئ به باقی پاتے شی۔ ګویا داهم تبدیلی ده چه بدی یے هیڅ باقی پاتے نهٔ شوه۔

دویم داچه دے خلقو ته په ځائ د بدو عملونو کولو د نیکو عملونو توفیق د الله جل شانهٔ له خوا نصیب شی، لکه څنګه چه وائی چه د ګرمئ په ځائ یخنی شوه۔

دریم داچه د هغوی د عادتونو تعلق به په ځائ د بدو څیزونو څیزونو سره اُوتړلے شی۔ د دے وضاحت دادے چه د دنیا د م عادتونه طبعی وی چه بدلیږی نه۔ هم په دے وجه مثال مشهور دے۔ "جَبَلْ ګردد جِبِلَّت

Maktaba Tul Ishaat.com

گرزو" یعنی غر بدلید لے شي خو عادت نهٔ بدلیږی۔ او د امثال هم دیو حدیث نه اخستلې شوے دے، چه په هغې کښې اِرشاد دے اکهٔ چرے تاسو واورئ چه غر د خپله ځایه اُوخوزیدهٔ او بل ځائ ته لاړهٔ، نو دے تصدیق اُوکړئ، خو چرے دا واورئ چه طبیعت بدل شو، نو دے تصدیق مکوئ گویا د حدیث مطلب دا شو چه عادتو نه بدلیدل د غر د بدلیدو نه هم زیات مشکل دی۔ دِینه پس بیا دا سوال کیږی چه صوفیان او مشائخ چه کوم عادتو نو اصلاح کوی د هغې څهٔ مطلب شو؟ د هغې جواب دا دے چه عادتونه نهٔ بدلیږی، بلکه د هغې تعلق بدلیږی۔ مثلاً دیو کس په مزاج کښې غصه ده، هغه د مشایخو په اصلاح او مُجاهَدو سره د لے شي چه غصه یے بیخي پاتے نهٔ شي۔ دا خو گرانه ده، البته د دے غصے تعلق چه رومبے د کوموخیزونو سره وُو، مثلاً بے ځایه ظلم، تکبر وغیرہ۔ اُوس به په ځائ د هغې د الله تعالیٰ په نافرمانئ باندے، د هغهٔ د احکامو خلاف کولو وغیرہ وغیرہ طرف ته بدله شي، هم هغه حضرت عُمر رضی اللہ عنہ چا چه یو زمانه کښې مسلمانانو ته تکلیف رسَولو کښې هیځ کسر نهٔ پریخودهٔ۔ د ایمان نه پس د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم د فیضِ صُحبت په وجه په کافرانو فاسقانو باندے به هغه رنگے ورچپه کیدلو۔ د غسے د نورو اخلاقو هم حال دے۔ د دے وضاحت نه پس اوس مطلب دا شو الله جل شانهٔ د دا سے خلقو د اخلاقو تعلق په ځائ د گناهونو نیکو سره اُوکړی۔

څلورم دا چه الله جل شانهٔ هغوی ته په خپلو بدو د توبے توفیق ورکړی چه د هغې په وجه ورته زاړهٔ زاړهٔ گناهونه را په یاد شي، د پښیمانتیا او توبے سبب به شي، او د هرے گناه په بدله یوه توبه چه عبادت او نیکی ده ثابته (ریعنی اُولیکلے) شي۔

پنځم دا دے کهٔ چرے الله تعالیٰ ته د چا ادا خوښه شي، او هغهٔ ته په خپل فضل د بدو برابر نیکئ ورکړی نو د چا د پلار څهٔ اِجاره ده؟ هغه په خپله مالک دے، بادشاه دے، د قدرت خاوند دے د هغهٔ د رحمت د وُسعَت به څهٔ وایے، د هغهٔ د مغفرت دروازه څوك بند وَلے شي؟ د هغهٔ

ورکړه څوك متع کوَلے شي؛ څۀ چه ورکوي هغَه هم دخپل مال نه ورکوي۔ هغَه به دخپل قدرت نظارے هم ښائي۔ دخپل مغفرت ښے نمونے به هم په هغے ورځ ښکاره کوي۔

حدیثونوکښ دمحشر نظاره اودحساب امتحان مختلفو طریقوسره راغلی دی، چه بَهۡجَةُ النُّفوس مختصر ذکرکړی دی، اولیکلی یے دی چه حساب به په څلور قسمه کوَلے شي۔ یوقسم به داسے وی چه دبعض بندګانو سره به ډیر پټ درحمت په پرده کښ حساب اُوکړے شي، اودهغوی ګناهونه به په هغوی اُوشمیرلے شي، اوورته به اُوویلے شي چه تا په فلانی وخت دا ګناه کړے وه، فلانی وخت دِ داسے کړی وُو، اوهغۀ سره دَ اِقرارنه بغیربله چاره نۀ وی۔ تردے چه هغه به دګناهونو په ډیروالی سره دا اُوګڼی، چه زۀ هلاك شوم، نو اِرشاد به اُوشي، چه مونږ په دُنیا کښ په تا پرده اَچولے وه۔ اُوس هم دربانده پرده اَچَوُو اَومعاف کوُو، هرکله چه داکس اوددۀ په شان چه څوك وي هغوی دحساب دمقام نه واپس شي اَوخلق یے اُووینی، نو وائی به داخنګه مبارك بنده دے چه دۀ اَوخته ګناه کړے نۀ وه، ځکه چه دوی دهغۀ دګناهونونه اَوخبرنۀ شو۔

دارنګے یوقِسم به داسے وی چه دهغوی به وړه اولوئ ګناهونه وی، ددوی په باره کښ به اِرشاداُوشي چه ددوی وړه ګناهونه په نیکوسره بدل کړئ، نوهغَه به زراُووائی چه لاخونوره ګناهونه هم پاتے دی چه دهغے خواَوو ذکراُونۀ شو۔

۔ دارنګے یے نورقسمونه ذکرکړی دی چه په څۀ څۀ قسم به یے پیشی اوحساب کیږی۔

حدیث کښ یوه قصه راځی، نبی اکرم ﷺ اِرشادفرمائی چه زۀ هغَه کَس پیژنم چه دټولونه اخری به ددوزخ نه وباسلے شي اودټولونه اخری به جنت کښ داخلوَلے شي۔ یوکس به راُوغوختلے شي، اوفرښتوته به اُوویلے شي چه ددۀ لوئ لوئ ګناهونه خولامۀ ذکرکوئ، واړهٔ واړهٔ ګناهونه ورته مخکښ کړئ، اوپه هغے ترے تپوس اُوکړئ، نوداسے به شروع اُوکړے شي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او یوه یوهٔ گناه به دوخت په حوالے سره هغهٔ ته اُوخودلے شي، هغه به ترے انکار نهٔ شي کولے، اقرار به کوي - په دے کښ به د الله تعالیٰ له طرفه اِرشاد وُشي، چه دهٔ ته دِ دهرے گناه په بدله کښ یوه نیکي ورکرے شي، نو هغه به زر اُووائي چه لاخونور هُم ډیر گناهونه باقي دي، دهغے خو اړو ذکر اُنهٔ شو دا قصه نقل کولو سره نبي اکرم ﷺ ته هُم خندا اوزغله -

دِ دے قصه کښ اول خو د دوزخ نه د ټولو نه اخري وتل دي، نو داخهٔ کمه سزا ده - دویم معلومه نهٔ ده چه څوك څومره قسمته به داسے وي چه دهغهٔ گناهونه په بدلو لے شي - دے د پاره د الله تعالیٰ د پاك ذات ته اُمید لرل، فضل غوختل دبندگئ شان دے - خودے باندے مطمئن کیدل زړهٔ ورتیا ده - البته بدئ په نیکو سره د بدلولو سبب چه دحدیث نه معلومیږي، په اِخلاص سره د ذکر مجلسونو کښ حاضري ده، خو اخلاص هم د الله تعالیٰ په وَرکړے سره نصیب کیږي -

یوه ضروري خبره داده چه دوزخ نه اخیر کښ دوتونکي باره کښ مختلف روایتونه راغلي دي خو په هغے کښ هیڅ شک نشته، که چرے یوه ډله راؤزي، نو بیا هم هر کس اخیر کښ راوتونکے دے - اوکهٔ څوك داخیر نزدے راؤزي، هغهٔ ته هُم اخري ویلے شي - دغه شان دخاص خاص ډلے اخیر ترے هم مراد کیدے شي - دِ دے حدیث کښ ضروري مسئله د اخلاص ده، او د اخلاص شرط نور و ډیرو حدیثونو کښ راغلے دے - دِ دے رساله کښ به مو دنظر نه تیر شي - حقیقت دادے چه د الله تعالیٰ په نزد د اخلاص قدر دے - دکومے درجے چه اخلاص وي، هم دهغے درجے په عمل قیمت وي - دصوفیانو په نزد د اخلاص حقیقت دادے چه قَالْ او حَالْ (یعني وینا او عمل) برابر شي -

یو حدیث کښ وُړاندے راځي چه اِخلاص دادے چه دگناهونو نه دِ منع کړي - بَهْجَةُ النفوس کښ لیکلي دي - یو بادشاه چه ډیر جابر او ظالم وُو، یو جهاز کښ ورله ډیر شراب راؤړلے شو، یو صاحب اُولیدل، نو څو مړ چاټئ چه د شرابو نه ډکے وے، ټولے یے ماتے کړے، یوه یے پرېخودهٔ

د هیڅ اِهمیّت د هغهٔ د منع کولو اُونهٔ شو۔ خو خلق حیران وُو چه د دغے بادشاه د ظلم مقابله چا کولے نهٔ شوه، نو بیا دهٔ څرنګے زړهٔ ورتیا اوکړه۔ بادشاه ته خبر ورکړے شو، هغه هم حیران شو، اول خو په دے خبره چه د هغهٔ په مانځه رنګ یو معمولی سړی جُرأت اُوکړهٔ، او بیا په دے چه یوه چا ته ئې یے وَلے پریخودهٔ۔ هغه صاحب یے را اُوغوختلو، تپوس یے ترے اوکړو چه دا دِ وَلے اُوکړهٔ؟ دهٔ جواب ورکړهٔ چه زما زړهٔ دا اُوغوختل، حُکم مِ اوکړل۔ ستا چه څنګه زړهٔ غواړی سزا راکړه۔ هغهٔ تپوس اُوکړهٔ چه دا یوه دِ وَلے پریخودهٔ! دهٔ اُووے چه ما اول د اسلامی غیرت په تقاضا ماتے کړے، خو هر کله چه یوه پاتے شوه، نو زما زړهٔ کښ یو خوشالی غوندے پیدا شوه، چه ما یو ناجائز کار ختم کړهٔ، نو ما ته د دے په ماتولو کښ دا شک اُوشو چه دا د نفس د خوشالئ په وجه سره نهٔ وی، حُکه مِ دا یوه پریخودله۔ بادشاه اُووے چه دے پریږدئ دے مجبور وُو۔

اِحیاءُ العلوم (نوم کتاب) کښ لیکلی دی چه بنی اسرائیلو کښ یو عابد وُو چه هر وخت به عبادت کښ مشغول وُو، یوه ځله ورته راغله، دے ویل چه دلته یو قوم دے چه دیوے وُنے عبادت کوی۔ دا چه یے واؤریدل غصه ورته راغله، او تبر یے په اُوګه کیخودهٔ، د هغے د پریکولو د پاره روان شو۔ په لاره کښ ورته شیطان د یو بُوډا سړی په شکل ملاؤ شو، عابد نه یے تپوس اُوکړو، کوم خوا ځے؟ دهٔ اُووے د فلانئ وُنے د پریکولو د پاره ځم۔ شیطان اُووے، ستا د دغے وُنے سره څهٔ تعلق دے؟ تهٔ په خپل عبادت کښ آخته اُوسه، تا خپل عبادت د یو عبث کار د پاره پریخودهٔ۔ عابد اُووے، دا هم عبادت دے۔ شیطان اُووے، چه زهٔ تا پریکولو ته نهٔ پریږدم۔ د دواړو مقابله اُوشوه، دا عابد د هغهٔ په سینه اُوختلو، شیطان چه خپل ځان عاجز اُولیدهٔ خوشامندی یے شروع کړه، اَووے ویل، بَس دهٔ یوه خبره واؤره. عابد پریخودهٔ شیطان اُووے چه الله تا بانْدے دا خو فرض کړے نهٔ دهٔ۔ ستا په دے سره هیڅ نقصان نشته، تهٔ خو دے عبادت نهٔ کوے۔ د الله ډیر نبیان دی، کهٔ چرے هغهٔ غوختلے، نو د چا نبی په ذریعه به یے پریکړے وه۔ عابد اُووے

Maktaba Tul Ishaat.com

زۀ به یے ضرور پریکوم. بیا مقابله اُوشوه، عابد دهغهٔ په سینه اُوختلو۔ شیطان اُووے بشه ده واؤره، یوه د فیصلے خبره ستا د فائدے کوم. هغهٔ اُووے وایه. شیطان اُووے ته غریب یے، دُنیا باندے بوجه جوړشوے یے، ته د دے کار نه منع شه، تا ته به هره ورځ درے اشرفئ درکوم، چه هره ورځ به ستا د بالښت لاندے پرتے وی، ستا به پرے هم ضرورتونه پوره کیږی او په خپلو خپلوانو به هم احسان کوے. دفقیرانو مدد به کولے شے، او نور به پرے ډیر د ثواب کارونه کولے شے. په هغے کښ یو ثواب دے او هغه هم یے کاره، چه هغه خلق به بله وُنه اُولګوی. دعابد په یو هغه کښ راغله قبوله یے کړه. دوه وُرځے خو ورته آشرفئ ملاؤ شوے. دریمه ورځ نهٔ وے. عابد بیا غصه شو، او تبر یے واخستو روان شو. لارکښ ورته هغه بُوډا مِلاؤ شو، تپوس یے ترے اوکړو، کوم خواځے؟ عابد اووے، چه د هغے وُنے د پریکولو دپاره ځم. بُوډا ورته اُووے، چه ته هغه نهٔ شے پریکولے. دواړو کښ جهګړه اُوشوه، هغه بُوډا پرے غالب راغے، او د عابد په سینه اُوختلو. عابد ډیر حیران شو. تپوس یے ترے اُوکړو چه دا څهٔ وجه ده چه دا وارے ته غالب شوے، هغه بوډا ورته اُووے چه اول ځل ستا غصه خالصه د الله تعالیٰ د پاره وه، په دے وجه الله جل شانهٔ زهٔ مغلوبه (کمزورے) کړے وُم. دا وارے په کښ د اشرفو دخل وُو، په دے وجه ته مغلوبه شوے. حقه دا ده چه کوم کار خالص د الله تعالیٰ د پاره کولے شی، په هغے کښ لوئے طاقت وی.

(۱۱) عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم مَا عَمِلَ اٰدَمِیٌّ عَمَلًا اَنْجٰی لَهٗ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ مِنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ؂

دنبی اکرم صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارک دے چه د الله تعالیٰ د ذکر نه زیات د چا بنیادم هیڅ عمل د عذاب قبر نه زیات خلاصے ورکونکے نشته.

(اخرجه احمد کذا فی الدر و الیٰ احمد عزاه فی الجامع الصغیر بلفظ انجیٰ له من عذاب الله و رقم له بالصحة وفی مجمع الزوائد رواه احمد و رجاله رجال الصحیح الا ان زیاداً لم یدرک معاذاً ثم ذکره بطریق آخر

وقال رواه الطبرانی ورجاله رجال الصحیح قلت فی المشکوٰة عنه مرفوعًا بلفظ ما عمل العبد عملاً انجٰی له من عذاب الله من ذکر الله وقال رواه مالک والترمذی وابن ماجة اھ قلت وهکذا رواه الحاکم وقال صحیح الاسناد واقره علیه الذهبی وفی المشکوٰة بروایة البیهقی فی الدعوات عن ابن عمر مرفوعًا بمعناه قال القاری رواه ابن ابی شیبة وابن ابی الدنیا وذکره فی الجامع الصغیر بروایة البیهقی فی الشعب ورقم له بالضعف وزاد فی اوله لکل شیئ صقالة وصقالة القلوب ذکر الله وفی مجمع الزوائد بروایة جابر مرفوعًا نحوه وقال رواه الطبرانی فی الصغیر والاوسط ورجالهما رجال الصحیح اھ)

فائده: د قبر عذاب خومره سخت خیز دے، د دینه هغه خلق خبر دی چا دُوړاندې چه هغه حدیثونه دی، کوم چه د عذاب قبر باره کښې راغلی دی۔ حضرت عثمان رضی الله عنه به چه کله قبر ته تشریف یوړه نو دومره به یې ژړل چه ږیره مبارکه به یې لونده شوه۔ چا ترے تپوس اُوکړو چه تاسو جنت دوزخ ذکرنه دومره نهٔ ژاړئ، خومره چه د قبر په لیدو ژاړئ؟ دوی ارشاد اُوفرمایهٔ چه قبر د آخرت د منزلونو نه د ټولو نه ړومبے منزل دے څوک چه دے کښې خلاصے بیا مومی، روستو ټول منزلونه په په هغهٔ آسان شی اوڅوک چه دے نه خلاصے بیا نهٔ مومی، د روستو منزلونه په ورته گران یری. بیا دوی د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم پاک اِرشاد واورَولو، چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به اِرشاد فرمایهٔ چه ما هیڅ یو منظر د قبر نه زیات دویرے والا نهٔ دے لیدلے۔
حضرت عائشه رضی الله عنها اِرشاد فرمائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په د هر مانځه نه پس د قبر د عذاب نه پناه غوختله۔ حضرت زید رضی الله عنه اِرشاد فرمائی، چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد اُوفرمایهٔ، ما ته دا خطره ده چه تاسو به د ویرے او د خوف په وجه مړی خخول پریږدئ۔ کنی ما به دُعا کړے وه چه الله جل شانهٔ تاسو ته هم د قبر عذاب واورَوی۔ د بنیادمو او پیریانو نه علاوه نور ټول د ساه مخلوق د قبر عذاب آوری۔
یو حدیث کښې راغلی دی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم یو وارے په سفر تشریف اُوړهٔ چه د نبی علیه الصلوٰة اُوښه اُوترېده، چا تپوس اُوکړهٔ چه د نبی علیه الصلوٰة په اُوښه څهٔ اُوشو؟ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد اُوفرمایهٔ چه یو سړی ته د قبر عذاب کیږی، د هغهٔ د آواز نه اُوترېده۔ یو وارے نبی اکرم صلی الله علیه وسلم

Maktaba Tul Ishaat.com

جمات ته تشریف یوړه، څوکسان یې اُولیدل چه په زوره زوره یې خندا کوله نبي اکرم ﷺ اِرشاد اُوفرمایه، که چرې مرګ مو ډیر ډیر یادولے، نو دا خبره به نهٔ وے. په قبر یوه ورځ هم داسے نهٔ تیریږی چه په هغې کښې هغه دا اعلان نهٔ کوی چه زهٔ د تنا اشنایئ کور یم. (د خاورو) د چینجو او د څناورو کور یم. هرکله چه یو مؤمن (کامل ایمان والا) دفن کړے شي، نو قبر ورته وائی، ستا را تلل مُبارك دی، تا ډیر ښهٔ اُوکړهٔ چه راغلے. څومره خلق چه زما په شا (یعنی زمکه باندے) ګرزیدل، هغې ټولو کښې ته ما ته ډیر خوښ وے، تن ما ته اُوسپارلے شوے، نو زما ښهٔ سلوك به هم اُووینے، دے نه پس هغه قبر دومره فراخه او آرت شي، څومره چه د سترګو نظر لګی او د جنت یوه دروازه هغې کښې پرانستلے شي چه په هغې سره د هغه ځائ هوا کانے خوشبویئ وغیره وررسی. او کله چه کافر یا فاجر (بدکار) دفن کړے شي، نو قبر ورته وائی چه ستا را تلل سپیرهٔ او نامُبارك دی، څهٔ ضرورت وُو ستا د راتلو، څومره بنیادم چه زما په شا ګرزیدل، په هغې ټولو کښې زیات بُغض (او کینه) زما تا سره وه، تن ته زما حواله شوے، نو زما معامله به هم اُووینے. دے نه پس هغهٔ له دومره زور ورکړی چه پښتئ یې یو بل کښې ننوزی، څرنګے چه لاس کښې لاس اچولو سره ګوتے یو بل کښې ننوزی. دے نه پس څلور نیمے شلے یا یو کم سل آژدها کانے په هغهٔ مقرر کړے شي، چه هغهٔ چیچی، او قیامته پورے به ور سره داسے کیږی. نبي اکرم ﷺ فرمائی، که چرے یوه آژدها د هغې نه په زمکه پوکے اُووهی، نو تر قیامته پورے به په زمکه واښهٔ راوُنهٔ ټوکیږی. دے نه پس نبي اکرم ﷺ اِرشاد اُوفرمایهٔ چه قبر د جنت یو باغ دے یا د دوزخ یوه کنده.

یو حدیث کښې راغلی دی چه د نبي اکرم ﷺ په دوه وُو قبرونو تیریدل اُوشو، اِرشاد یې اُوفرمایهٔ چه دے دوارو ته عذاب کیږی. یو ته د چُغلخورئ په جُرم کښې، بل ته د مُتیازونه د احتیاط نهٔ کولو په وجه (چه بدن به یې د هغې نه نهٔ ساتهٔ) زمونږ څومره مُهَذَّب (تعلیم یافته) خلق دی چه اِستنجاء کول عیب ګڼړی، دے پورے ټوقے کوی. عالما نو د مُتیازونه ځان نهٔ ساتل ګناهِ کبیره خودلے ده. ابنِ حَجر مکی رحمة الله علیه لیکلی دی چه صحیح روایت کښې

راغلې دي چه اکثر عذابِ قبر د مُتیازو په وجه سره کیږي۔
یو حدیث کښې راغلې دي چه قبر کښې د ټولو نه رومبنئ مطالبه د مُتیازو کیږي۔ خلاصه دا چه عذابِ قبر ډېر سخت څیز دے، او څنګه چه ددے په کیدلو کښې بعض ګناهونو ته خاص دخل دے، دغسې ددے نه بچ کیدلو کښې هم بعض عباداتو ته خصوصي شرافت حاصل دے، لکه چه ګڼړو حدیثونو کښې راغلي دي چه سورة تَبٰرَكَ الَّذِىْ هره شپه لوستل د عذابِ قبر نه د خلاصي سبب دے، او د دوزخ د عذاب نه هم د حفاظت سبب دے، او د الله تعالیٰ د ذکر باره کښې پورتنے حدیث خو خادے۔

(۱۲) عَنْ اَبِى الدَّرْدَاءِ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم لَيَبْعَثَنَّ اللهُ اَقْوَامًا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِىْ وُجُوْهِهِمُ النُّوْرُ عَلٰى مَنَابِرِ اللُّؤْلُؤِ يَغْبِطُهُمُ النَّاسُ لَيْسُوْا بِاَنْبِيَاءَ وَلَا شُهَدَاءَ فَقَالَ اَعْرَابِىٌّ حَلِّهِمْ لَنَا نَعْرِفُهُمْ قَالَ هُمُ الْمُتَحَابُّوْنَ فِى اللهِ مِنْ قَبَائِلَ شَتّٰى وَبِلَادٍ شَتّٰى يَجْتَمِعُوْنَ عَلٰى ذِكْرِ اللهِ يَذْكُرُوْنَهٗ

د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دے، چه د قیامت په ورځ به الله جل شانهٗ د بعضو قومونو حشر داسے اوکړي چه د هغوی په مخونو کښې به نور ځلیږي، هغوی به د ملغلرو په مِنبرونو باندے وي، خلق به هغوی ته پسخیږي، هغوی به نبیان او شهیدان نه وي۔ یو عرض اوکړو، اے د الله رسوله! د هغوی حال بیان کړئ چه مونږ ئے اوپیژنو۔ نبي اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل هغه خلق به وي کوم چه د الله تعالیٰ په محبت کښې د مختلفو ځایونو نه د مختلفو خاندانونو نه یو ځای راغونډ شوی وي، او د الله تعالیٰ په ذکر کښې مشغول وي۔

یل حدیث کښې دي چه جنت کښې به د یاقوتو ستنې وي، هغې باندے به د زبرجدو (یعني زُمُرّدو) بالاخانے وي، هغې کښې به څلورو اړو طرفو ته دروازے پرانستې وي، هغه به داسے ځلیږي، څنګه چه ډېر روښانه ستورے ځلیږي۔ هغې بالاخانو کښې به هغه خلق اوسي، څوك چه د الله تعالیٰ د پاره خپل مینځ کښې محبت ساتي، او هغه خلق څوك چه د الله تعالیٰ

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاره یوځائ راجمع شوی وی، اوهغه خلق څوك چه دالله تعالیٰ د پاره خپل مینځ کښ یوبل سره ملاویږی۔

(اخرجه الطبرانی باسناد حسن كذا فی الدر ومجمع الزوائد والترغیب للمنذری وذكر ايضًا لمتابعته برواية عمرو بن عبسة عند الطبرانی مرفوعًا قال المنذری واسناده مقارب لاباس به ورقم لحديث عمرو بن عبسة فی الجامع الصغير بالحسن وفی مجمع الزوائد رجاله موثقون وفی مجمع الزوائد بمعنی هذا الحديث مطولا وفيه حلهم لنا يعنی صف لنا شكلهم فسر وجه رسول الله صلی الله عليه وسلم بسؤال الاعرابی الحديث قال رواه احمد والطبرانی بنحوه ورجاله وثقوا قلت وفی الباب عن ابی هريرة عند البيهقی فی الشعب انّ فی الجنة لعمدًا من ياقوت عليها غرف من زبرجد لها ابواب مفتحة تضیئ كما يضیئ الكوكب الدری يسكنها المتحابون فی الله تعالیٰ والمتجالسون فی الله تعالیٰ والمتلاقون فی الله تعالیٰ كذا فی الجامع الصغير ورقم له بالضعف وذكر فی مجمع الزوائد له شواهد وكذا فی المشكوٰة)

فائده: دے کښ دطبیبانو اختلاف دے چه زبرجد او زُمُرُّد دیو کاڼړی دوه نومونه دی، یادیو کاڼړی دوه قسمونه دی، یادیو قسم دوه کاڼړی دی۔ بهرحال دایو کاڼړے دے، چه ډیر روښانه ځلیدونکے وی۔ددے غیبی جوړیږی، ادبازارکښ خرڅیږی۔

نن خانقاهونوکښ ناستوخلقو باندے هرقسمه الزام دے، دهرطرف نه ورته سپورے ستغے ویلے شی، نن دوی ته څومره چه دِ زړهٔ غواړی بد رَدْ اُووایه، صباته چه کله دِ سترګے اُوغړیږی، هغه وخت به درته حقیقت معلوم شی، چه په دِے پُوړونو ناستوخلقو څومره څهٔ اُوکتل یوړل، کوم وخت چه دوی په هغے مِنبرونو اوبالاخانوکښ وی، او دے خندا کونکو اوکنځل کونکو څومره اُوکتل یوړل۔ ؎

فَسَوْفَ تَرَی اِذَا انْكَشَفَ الْغُبَارُ ۞ اَفَرَسٌ تَحْتَ رِجْلِكَ اَمْ حِمَارٌ

زردے چه کله دُوړه لرے شی نومعلومه به شی چه

آس باندے سوردے یاخرباندے

ددے خانقاهونو دالله تعالیٰ په نزد څومره قدردے کوم ته چه نن د خلورو واړو طرفونو نه کنځل کیږی۔ داد هغے حدیثونو نه معلومیږی، کوم کښ چه ددے فضیلتونه ذکرکړے شوی دی۔

یوحدیث کښ راغلی دی، کوم کورکښ چه دالله تعالیٰ ذکرکیږی هغه

د اسمان والو د پاره داسے ځلیږی څنګه چه د زمکے والو د پاره ستوری ځلیږی.
یو حدیث کښ دی چه د ذکر مجلسونو باندے سکینه (یو خاص نعمت) نازلیږی. فرښتے یے کیروی. رحمتِ الٰهی پرے غوړیږی، او الله جلّ شانهٗ په عرش باندے هغوی یادوی.
ابو رزین رضی الله عنه یو صحابی دے هغه وائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل چه تا ته ددین د مضبوطیا خیز اُوښایم، چه په هغے سره دد وارو جهانو نیکی دِ ته اُوکرسے. هغه د الله تعالیٰ د ذکر کونکو مجلسونه دی، د ا مضبوطِ اُونیسه، او کله چه ته ځان له شے، نو څومره چه دِ طاقت وی د الله تعالیٰ ذکر کوه.
حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه کوم کورونو کښ د الله تعالیٰ ذکر کیږی هغه اسمان والو ته داسے روښانه ښکاری څنګه چه د زمکے خلقو ته ستوری روښانه ښکاری. دا کورونه کوم کښ چه د الله تعالیٰ ذکروی داسے مُنوّر او روښانه وی چه د خپلے رڼړا په وجه د ستورو په شان ځلیږی. او کوم خلقو ته چه الله جلّ شانهٗ د نور لیدلو سترګے ورکړی دی هغوی دلته هم د هغے ځلیدل وینی. ډیر د الله تعالیٰ بندګان داسے دی چه بزرګانو نور د هغوی د کورونو نور په خپلو سترګو ځلیدونکے وینی، لکه حضرت فُضَیل بن عیاض رحمة الله علیه چه یو مشهور بزرګ دے، فرمائی. کوم کورونو کښ چه د الله تعالیٰ ذکر کیږی، هغه د اسمان د خلقو په نزد داسے ځلیږی لکه ډیوه.
شیخ عبدُ العزیز دبّاغ رحمة الله علیه اوس نزدے زمانه کښ یو بزرګ تیر شوے دے چه بیخی اُمّی وُو، خو د قران شریف ایت، حدیثِ قُدسی، حدیثِ نبوی او موضوع حدیث به یے بیل بیل خودلو، اَوفرمایل به یے، چه د مُتکلّم (یعنی خبر کونکی) د ژبے نه چه کله الفاظ اُوزی، نو د هغے الفاظو د نور ته معلومیږی چه د چا کلام دے چه د الله تعالیٰ د کلام نور بیل دے، او د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د کلام نور بل دے، او په نورو کلامونو کښ دا د واړه نورونه نهٔ وی.
تذکرة الخلیل یعنی سوانح د حضرت مولانا خلیل احمد صاحب نوّر الله مرقدهٗ کښ په روایت د مولانا ظفر احمد صاحب رحمة الله علیه لیکلی دی چه د حضرت پنځم حج کښ څهٔ وخت چه حضرت مسجدِ حرام کښ طوافِ قدوم د پاره

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریف راوړه، نو زه د مولٰنا محبّ الدین رحمة الله علیه کوم چه د اعلیٰ حضرت مولٰنا الحاج امداد الله صاحب مهاجر مکی نوّر الله مرقده د خاص خلیفه گانو نه وُو، او صاحبِ کشف مشهور وُو، مخې ته ناست وُم. مولٰنا دغه وخت د درود شریف کتاب پرانستلے وُو، خپله وظیفه یے کوله، ناسا په ما ته مخاطب شوے فرمایل داوخت حرم کښ څوك راغے، چه ناسا په ټول حرم دانوارونه ډك شو. زهٔ چُپ شوم، چه په دے کښ حضرت د طواف نه فارغ شو، د مولٰنا خواکښ تیر شو، مولٰنا پاسیدو او په خندا کښ یے اُوفرمایل، چه ما هُم داویل چه نن حرم ته څوك راغے.

د ذکر د مجلسونو فضیلت په مختلفو عنوانونو ډیرو حدیثونو کښ راغلے دے. یو حدیث کښ راغلی دی چه ټولو نه بهترین رباط موږ د دے، او د ذکر مجلسونه دی. رباط ویلے شی دار الاسلام د سرحد حفاظت کولو ته، د پاره د دے چه کافران له هغے طرفه حمله اُونکړی.

(۱۳) عَنْ اَنَسٍ رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ اِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوْا قَالَ وَمَا رِيَاضُ الْجَنَّةِ قَالَ حِلَقُ الذِّكْرِ.

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اُوفرمایهٔ، چه کله تاسو د جنت په باغونو تیریږئ، نو ښهٔ اُوخریږئ. چا عرض اُوکړهٔ، اے د الله رسوله! د جنت باغونه څهٔ دی؟ ارشاد یے اُوفرمایهٔ، د ذکر حلقے.

(اخرجه احمد والترمذی وحسنه وذکره فی المشکوة بروایة الترمذی وزاد فی الجامع الصغیر والبیهقی فی الشعب ورقم له بالصحة وفی الباب عن جابر عن ابن ابی الدنیا والبزار وابی یعلی والحاکم وصححه والبیهقی فی الدعوات کذا فی الدر وفی الجامع الصغیر بروایة الطبرانی عن ابن عباس بلفظ مجالس العلم وبروایة الترمذی عن ابی هریرة بلفظ المساجد محل حلق الذکر وزاد الرتع سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر)

فائده: مقصود د دا دے کهٔ د چا خوش قسمته د ذکر مجلسونو او دغے حلقو ته رسیدل اُوشی نو هغهٔ له ډیر زیات غنیمت گنړل پکار دی، چه دا په دُنیا کښ د جنت باغونه دی. او "ښهٔ اُوخریږئ" دے طرفته یے اشاره اوکړه لکه څنګه چه څاروے په شینکی یا باغ کښ څریدل شروع کړی، نو په معمولی لرے کولو نه لرے کیږی، بلکه د مالك د تهپے وغیره خوری، خو هغه ځائ

نه خُلۀ نۀ اړوی۔ دغه شان ذکرکونکو ته هم دُنیوی فکرونو او بندشونو په وجه دهغه ځائی نه مخ اړول نۀ دی پکار۔ او د جنت باغ یے ورته څکه اُووے، لکه څنګه چه جنت کښ هیڅ قسمه آفت نشته، دغسے دا مجلسونه هم د آفتونو نه محفوظ دی۔ یو حدیث کښ راغلی دی چه د الله تعالیٰ ذکر د زړونو شفا ده یعنی زړۀ کښ چه څومره قسمه مرضونه پیدا کیږی۔ تکبر، حسد، کینه، وغیره د ټولو مرضونو علاج دے۔

صاحبِ "اَلْفَوَائِدُ فِی الصَّلٰوۃِ وَالْعَوَائِدْ" لیکلی دی چه بندۀ د ذکر په همیشوالی د ټولو آفتونو نه محفوظ اُوسی۔ او صحیح حدیث کښ راغلی دی، چه نبی اکرم ﷺ ارشاد فرمائی چه زۀ تاسو ته د الله تعالیٰ د ذکر په کثرت سره د کولو حکم کوم۔ او د دے مثال داسے دے، لکه څنګه چه پسے څوک دُشمن لګیں لے وی او دے دهغه نه اُوتختی په قلعه کښ محفوظ شی۔ او ذکر کونکے د الله تعالیٰ همنشین جوړیږی۔ او د دے نه په زیاته نوره څۀ فائده وی چه دے د مالک الْمُلک همنشین شی۔ د دے نه علاوه په ذکر سره شرحِ صدر (یعنی سینه پرانستلے) کیږی، زړۀ پرے روښانه کیږی، د زړۀ سختی پرے لرے کیږی۔ د دے نه علاوه په کښ نور ے هم ډیرے ظاهری او باطنی فائدے دی، چه بعض عالمانو سلو پورے شمار کړی دی۔ انتهٰی

د حضرت ابو اُمامه رضی الله عنه په خدمت کښ یو کس حاضر شو، او عرض یے اُوکړو چه ما په خوب کښ اُولیدل چه کله تاسو دننه ځئی یا باهر راوزئی یا اُدریږئی یا کینئی، نو فرښتے تاسو د پاره دُعا کوی۔ ابو اُمامه رضی الله عنه ورته اُوفرمایل کۀ چرے ستا زړۀ غواړی، نو تا د پاره هم دُعا کولے شی۔ بیا یے دا آیت اُولوستۀ یَاۤ اَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اذْکُرُوا اللهَ ذِکْرًا کَثِیْرًا نه رَحِیْمًا پورے تر دے طرف ته اِشاره ده چه د الله جل شانه رحمت او د فرښتو دُعا ستاسو په ذکر موقوفه ده، څومره چه تاسو ذکر کوئ هغومره به له هغه خوا نه ذکر وی)۔

(۱۴) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ عَجَزَ مِنْکُمْ عَنِ اللَّیْلِ اَنْ

د نبی اکرم ﷺ ارشاد مبارک دے، چه څوک د تاسو نه عاجزه وی د شپو محنت کولو نه او د بُخل په وجه مال هم نشی

Maktaba Tul Ishaat.com

يُكَابِدَهٗ وَبَخِلَ بِالْمَالِ اَنْ يُّنْفِقَهٗ وَجَبُنَ عَنِ الْعَدُوِّ اَنْ يُّجَاهِدَهٗ فَلْيُكْثِرْ ذِكْرَ اللّٰهِ. (رواه الطبرانی والبیهقی والبزار واللفظ له وفی سنده ابویحیٰی القتات وبقیته محتج بهم فی الصحیح کذا فی الترغیب قلت هو من رواة البخاری فی الادب المفرد والترمذی وابی داؤد وابن ماجة وثقه ابن معین وضعفه آخرون وفی التقریب لین الحدیث وفی مجمع الزوائد رواه البزار والطبرانی وفیه القتات وقد وثق وضعفه الجمهور وبقیة رجال البزار رجال الصحیح)

خرچ کوُلے (یعنی نفلی صدقات) او دبُزدلٔ په وجه جهاد کښ هم نشي شریکیدے هغهٔ له پکاردي چه دالله تعالیٰ ذکر په کثرت سره کوی۔

فائده: یعني هر قسمه نقصان کوم چه نفلی عبادا تو کښ کیږی، دالله تعالیٰ دذکر کثرت دهغے نقصان پوره والے کوی۔

حضرت انس رضی اللہ عنہ دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه نقل کړی دی چه دالله تعالیٰ ذکر د ایمان نښه ده، او د نفاق نه بَری کیدل دی، او دشیطان نه حفاظت دے او ددوزخ داُور نه بچ کیدل دی۔ او هم ددے فائدو په وجه دالله تعالیٰ ذکر دډیرو عبادتونو نه بهتر گنړلے شوے دے، خصوصًا دشیطان دغلبے نه بچ کیدو کښ دے ته خاص دخل دے۔

یو حدیث کښ راغلی دی چه شیطان دبنی آدم په زړهٔ باندِ منګولے لګوُلے کلک ناست وی۔ کله چه هغه دالله تعالیٰ ذکر کوی، نودے عاجزه ذلیله شي واپس شي۔ او کله چه بنیادم غافله شي، نودے وَسوَسے اَچوُل شروع کړي۔ په دے وجه صوفیه کرام په خلقو ذکر کثرت کوی چه په زړهٔ کښ دشیطان دوسوسو اَچولو ځائے پاتے نهٔ شي، او هغه ورته دومره قوی شي چه ددهٔ مقابله اُوکړي۔ هم دا راز دے چه صحابه رضی اللہ عنہم اجمعین ته دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم دصحبت په فیض سره دا دزړهٔ طاقت په اعلیٰ درجے حاصل وُو۔ نو هغوی ته دضربُونو لګولو ضرورت نهٔ پیښیدو۔ دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم دزمانے نه چه خومره لرے والے کیږی، هغومره دزړهٔ دپاره ددے مُقوّی قلب خیبرے (یعنی ذکرِ الٰهی) ضرورت زیاتیږی۔ اُوس زړونه دومره کمزوری شویدی چه ډیر علاج کوُلو سره هم هغه درجه دقوّت خو حاصلیدے نهٔ شي۔ لیکن بیا هم څومره چه اُوشي، دغه ډیر غنیمت دے چه وَبائي مرض کښ چه څومره

قدرے کمے اُوشی بهتر دے۔ دیو بزرگ قصه نقل کړے شوے دۀ چه د الله تعالیٰ نه یے دُعا اوکړه، چه د شیطان دوسوسے اچولو طریقه ما ته ښکاره کړے، چه څرنګے وسوسه اچوی، نو دۀ اُولیدل چه د زړۀ کس طرف ته د اُوږے روستو د ماشی په شکل ناست دے۔ یو اُوږد غوندے خرټم یے خُلۀ باندے دے، چه هغۀ د سننے په شان زړۀ طرف ته اُوړی۔ چه زړۀ په ذکر کښ مشغول وی نو زر خرټم راکاږی۔ غافله یے بیاموی۔ نو دغے خرټم په ذریعه د وسوسو او د ګناهو نو زهر د اِنجکشن په شان زړۀ کښ وراچوی۔ یو حدیث کښ هم دا مضمون راغلے دے چه شیطان د خپلے پوزے مخکینئ حصه د بنیادم زړۀ باندے ایښے ناست وی۔ کله چه هغه د الله تعالیٰ ذکر کوی، نو په ذلت سره روستو په شا شی۔ او کله چه غافله وی، نو د هغۀ زړۀ لُقمه (یعنی نوړئ) جوړه کړی۔

(۱۵) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ اَکْثِرُوْا ذِکْرَ اللّٰهِ حَتّٰی یَقُوْلُوْا مَجْنُوْنٌ

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دے، چه د الله تعالیٰ ذکر د اسے په کثرت سره کوئ چه خلق در ته مجنون (یعنی لیونے) اُووائی۔ بل حدیث کښ دی چه د اسے ذکر کوئ چه منافق خلق تاسو ته ریا کار اُووائی۔

(رواه احمد وابو یعلیٰ وابن حبان والحاکم فی صحیحه وقال صحیح الاسناد وروی عن ابن عباس مرفوعًا بلفظ اُذْکُرُوا اللّٰهَ ذِکْرًا یَقُوْلُ الْمُنَافِقُوْنَ اِنَّکُمْ مُرَآءُوْنَ رواه الطبرانی ورواه البیهقی عن ابی الجوزاء مرسلًا کذا فی الترغیب وفی المقاصد الحسنة للسخاوی وکذا فی الدر المنثور للسیوطی الا انه عزا حدیث ابی الجوزاء الی عبد الله بن احمد فی زوائد الزهد وعزاه فی الجامع الصغیر الی سعید بن منصور فی سننه والبیهقی فی الشعب ورقم له بالضعف وذکر فی الجامع الصغیر ایضًا بروایة الطبرانی عن ابن عباس مسندًا ورقم له بالضعف وعزا حدیث ابی سعید الی احمد وابی یعلیٰ فی مسنده وابن حبان والحاکم والبیهقی فی الشعب ورقم له بالحسن)

فائده: دے حدیث نه دا هُم معلومه شوه چه د منافقانو یاد بے وقوفانو ریا کار ویلو یا مجنون ویلو سره د اسے لوئ دولت پریښودل نۀ دی پکار۔ بلکه د اسے په کثرت او اهتمام سره کول پکار دی چه دغه خلق تا پاګل اُوګنړی او تا پریږدی۔ او مجنون به هله ویلے شی چه کله ډیر په کثرت او زور سره ذکر اوکړے شی۔ رو رو کښ دا خبره نۀ شی کیدے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ابنِ کثیر رحمة الله عليه د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه نقل کړی دی هغه فرمائی چه الله جل شانهٔ هیڅ یو څیز په بندګانو داسے نهٔ دے فرض کړے چه د هغې یے څهٔ حد او اندازه مقرر کړے نهٔ وی، او بیا یے د هغهٔ عُذر قبول کړے نهٔ وی سوا د الله تعالیٰ د ذکر نه، چه نهٔ یے د دے څهٔ حد مقرر کړے دے، او نهٔ یے د عقل پاتے کیدو پورے څوك معذوره کړے دے. لکه ارشاد دے ﴿ اُذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ﴾ (د الله جل شانهٔ بنه په کثرت سره ذکر کوئ) شپه کښ، وُرځ کښ، ځنګل کښ، دریاب کښ، سفر کښ، خپل مقام کښ، غریبئ کښ، مالدارئ کښ، بیمارئ کښ، صحت کښ، رُو او په زوره، او په هر حال کښ د الله تعالیٰ ذکر کوی.

حافظ ابنِ حجر رحمة الله عليه مُنبهات کښ لیکلی دی چه حضرت عُثمان رضی الله عنه نه د قرانِ پاك د دے ارشاد ﴿ وَكَانَ تَحْتَهٗ كَنْزٌ لَّهُمَا ﴾ کښ نقل کړے شوی دی چه هغه د سرو زرو یوه تختئ وه چه په هغې کښ اُوهٔ کرښے لیکلے وے، چه د هغې ترجمه داده. ① ما ته تعجب یعنی حیرانتیا ده په هغه کس چه مرګ منی بیا هم خاندی ② ما ته تعجب دے په هغه کس چه دا منی چه دُنیا اخر یوه ورځ ختمیدونکے ده بیا هم دے کښ رغبت کوی. ③ ما ته تعجب دے په هغه کس چه دا پیژنی چه هر څیز د مقدّر نه دے، بیا د څهٔ څیز په تلو افسوس کوی ④ ما ته تعجب دے په هغه کس چا ته چه اٰخرت کښ د حساب یقین وی بیا هم مال جمع کوی. ⑤ ما ته تعجّب دے په هغه کس چا ته چه د دوزخ د اور علم وی بیا هم ګناه کوی. ⑥ ما ته تعجب دے په هغه کس چه الله تعالیٰ منی، بیا څهٔ د بل څیز ذکر کوی. ⑦ ما ته تعجب دے په هغه کس چا ته چه د جنت خبر وی، بیا دُنیا کښ په څهٔ څیز سره راحت مومی. بعضو نسخو کښ دا هُم دی چه ما ته تعجب دے په هغه کس چه شیطان دُشمن ګڼړی، بیا هم د هغهٔ اِطاعت کوی. حافظ رحمة الله عليه د حضرت جابر رضی الله عنه نه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کړے دے، چه حضرت جبریل علیه السلام ما ته د الله تعالیٰ د ذکر دومره زیات تاکید کولو، چه زما د ګمان اُوشو چه بغیر د الله تعالیٰ د ذکر نه هیڅ یو څیز فائده نهٔ ورکوی.

دے ټولو روایتونو نه دا معلومه شوه چه د ذکر خومره ډیر والے کیدے شي إیله پرے مه کوئ۔ دخلقو مجنون یا ریاکار ویلو په وجه دا پریخودل خپل نقصان کول دي۔ صوفیانو لیکلي دي چه دا هم د شیطان یوه دهوکه ده چه اول هغه د ذکر نه په دے خیال منع کوی چه خلق به اووېني، چه څوك اووېني نوڅه به وائی وغیره وغیره۔ بیا شیطان ته د منع کولو د پاره یوه مستقله ذریعه او حیله ملاؤ شي۔ په دے وجه دا خو ضروری ده چه بل ته د خودلو په نیت دِ هیڅ عمل نکوی خو کچرے څوك اووېني نو اِدوېني، په دے وجه پریخودل ئے دی بېکار۔

حضرت عبد الله ذوالبجادین رضی اللہ عنہ یو صحابی دے چه په وړوکوالی کښ یتیم شوے وُو، تره سره اوسیدهٔ، هغهٔ ډیر ښهٔ ساتهٔ۔ دکوردخلقو نه په پټه مسلمان شوے وُو۔ تره پرے خبر شو، نو هغهٔ په غصه کښ بیخي بربنډ کړو، وے ویستلو۔ مور ترے هم ویزاره وه، خو بیا هم مور وه، بربنډ یے اولیدهٔ، نو یو غټ غوندے څادر یے ورکړهٔ، چه هغه ده دوه ټکړے کړو۔ په یوے ستر پټ کړو۔ بل یے په ځان واچوو، مدینے منورے ته حاضر شو۔ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم دروازه باندے به پروت وُو، او ډیر په کثرت سره به یے په اوچت آواز ذکر کولو۔ حضرت عُمر رضی اللہ عنہ اوفرمایل چه آیا دا کس ریاکار دے چه دا رنګے ذکر کوی۔ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اوفرمایل نه بلکه دے آوّاهینو کښ دے (یعنی الله تعالٰی ته توجُه ساتونکو خلقو کښ دے)۔ غزوهٔ تبوك کښ وفات شو۔ صحابه وُو رضی اللہ عنہم اولیدهٔ چه د شپے قبرونو ته نزدے ډیوه بلیږی۔ نزدے وَرغلل وے لیدل، چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم قبر کښ کوز شوے دے۔ حضرت ابوبکر او عُمر رضی اللہ عنہما ته ارشاد فرمائی چه راوړئ زما رور ماته راکړئ۔ دواړو حضراتو ورته ورکړو۔ دفن کولو نه پس نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اوفرمایل، اے الله! زهٔ ده نه راضی یم، ته ترے هم راضی شے۔

حضرت ابنِ مسعود رضی اللہ عنہ فرمائی چه دا ټول منظر ما اولیدهٔ، زما دا ارزو پیدا شوه چه دا مړے خو زهٔ وے۔

حضرت فضیل رحمۃ اللہ علیہ چه اکابر صوفیه کښ دے هغه فرمائی چه څهٔ عمل په دے وجه نهٔ کول چه خلق به یے اووېني دا هم ریا کښ شامل دے او

اوپه دے وجه سره عمل کول چه خلق یے اُووینی، داشرك کښې داخل دے۔
یوحدیث کښې راغلی دی چه بعضِ بندګان د ذکر ګنجیانے دی، کله چه د هغوی شکل اُولیدلے شی، نو د الله تعالیٰ ذکر اوکړے شی، یعنی د هغوی شکل لیدلو سره الله تعالیٰ راپه یاد شی۔
یوحدیث کښې راغلی دی چه د الله تعالیٰ ولیان دی هغه خلق چه د هغوی په لیدوسره الله تعالیٰ رایادیږی۔
یوحدیث کښې راغلی دی چه تاسو کښې بهترین هغه خلق دی، چه د هغوی لیدلو سره د الله تعالیٰ یاد تازه شی۔
یوحدیث کښې دی چه تاسو کښې بهترین هغه کس دے چه د هغهٔ په لیدلو سره الله تعالیٰ یادیږی، او د هغهٔ په خبرو علم کښې ترقی کیږی او د هغهٔ په اعمالو د اٰخرت شوق پیدا کیږی، او د اخبره هله حاصلیدے شی کله چه د چا په کثرت سره د ذکر عادت وی۔ او چا ته چه په خپله توفیق نهٔ وی، د هغهٔ په لیدو چرته چا ته الله تعالیٰ یادیږی۔
بعضے خلق په زوره ذکر کول بدعت او ناجائز ګنړی، دا خیال یے حدیث باندے د نظر د کمۍ له وجے نه پیدا شوے دے۔ مولانا عبدالحی صاحب رحمة الله علیه یو رساله "سَبَاحَةُ الْفِكْرِ" هم دے مسئله کښې لیکلے ده چه په هغے کښې تقریبًا پنځوس حدیثونه داسے ذکر کړی دی چه د هغے نه په زوره ذکر ثابتیږی البته دا ضروری خبره ده چه د شرائطو سره د خپلو حدونو نه اُوسی، چا ته د تکلیف ورکولو سبب نهٔ وی۔

﴿۱۶﴾ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم یَقُوْلُ سَبْعَةٌ یُظِلُّهُمُ اللّٰهُ فِیْ ظِلِّهٖ یَوْمَ لَا ظِلَّ اِلَّا ظِلُّهٗ اَلْاِمَامُ الْعَادِلُ وَالشَّابُّ نَشَأَ فِیْ عِبَادَةِ اللّٰهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهٗ مُعَلَّقٌ بِالْمَسَاجِدِ

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دے چه اُووهٔ کسان دی چه هغوی ته به الله جل شانهٔ د خپل (رحمت) سوری کښې په داسے ورځ ځائے ورکړی، په کومه ورځ چه به د هغهٔ د سوری نه علاوه هیڅ سورے نهٔ وی. ۱ یو عادل بادشاه، ۲ دویم هغه ځوان چه په ځوانئ کښې د الله تعالیٰ عبادت کوی۔ ۳ دریم هغه کس چه د هغهٔ زړهٔ جُما تونو

وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللّٰهِ اجْتَمَعَا عَلٰى ذٰلِكَ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَاَةٌ ذَاتُ مَنْصَبٍ وَّجَمَالٍ فَقَالَ اِنِّيْ اَخَافُ اللّٰهَ وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَاَخْفَاهَا حَتّٰى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهٗ مَا تُنْفِقُ يَمِيْنُهٗ وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللّٰهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ. (رواه البخاري ومسلم وغيرهما كذا في الترغيب والمشكوة وفي جامع الصغير برواية مسلم عن ابي هريرة وابي سعيد معًا وذكر عدة طرق اُخرى)

سره تړلے وی۔ شلورم هغه دوه کسان چه دهغوی خپل مینځ کښ د الله تعالیٰ (درضا) دپاره محبت وی، هم په دغے د هغوی جمع کیدل وی او هم په دغے باندے جُدائی وی۔ پنځم هغه کس چه یوه ښائسته شریفه زنانه یے خپل طرف ته متوجه کړی، او هغه ورته اُووائی چه زۀ د الله تعالیٰ نه ویریږم۔ شپږم هغه کس چه په داسے پټه طریقه صدقه اوکړی چه بل لاس ترې خبر نشی۔ اُووم هغه کس چه د الله تعالیٰ ذکر په تنهائی کښ اُوکړی، او اُوښکے ئے وبهیږی۔

فائده: د اُوښکو بهیدلو مطلب د اهم کیدے شی چه سړے پوهے یے چه کوم گناهونه کړی دی هغه یاد وی او ژاړی۔ او بل مطلب د اهم کیدے شی چه غلبهٔ شوق کښ یے بے اختیاره د سترګو نه اُوښکے روانے شی۔ په روایت د ثابت بُنانی رحمة الله علیه دیو بزرګ مقوله (وینا) یے نقل کړے ده۔ هغه فرمائی چه ما ته معلومیږی چه زما کومه دُعا قبوله شوه خلقو ترے تپوس اُوکړۀ، چه څنګه درته معلومیږی؟ دے فرمایل چه کومه دُعا کښ دیدن و یخته اُودریږی او زړۀ بے قراره شی او د سترګو نه اُوښکے روانے شی نو هغه دُعا قبلیږی۔ دے اُوکسانو کښ چه دکوم ذکر حدیث پاک کښ راغلے دے یو هغه کس هم دے کوم چه د الله تعالیٰ ذکر په تنهائی کښ اُوکړی، او په ژړا شی۔ دے کښ دوه خوبئ جمع دی، او دواړه د اعلےٰ درجے دی یو اخلاص چه په تنهائی کښ د الله تعالیٰ په یاد کښ مشغول شو۔ دویم د الله تعالیٰ نه ویرۀ یا شوق چه په دواړو کښ ژړا شی، او دا دواړه کمال دے۔ ؎

ہمارا کام ہے راتوں کو رونا یادِ دلبر میں
ہماری نیند ہے محوِ خیالِ یار ہو جانا

Maktaba Tul Ishaat.com

زمونږ کاردے د شپو دِ لبَسـرُ یادکښ ژړیدل
زمونږ ه خوب دے بس خیال د یار کښ ویدل

رحدیث الفاظ دی رَجُلٌ ذَکَرَ اللّٰہَ خَالِیًا (یوهغه سړے کوم چه د اللّٰه تعالٰی ذکراُوکړی په داسے حال کښ چه خالی وی) صوفیانو لیکلی دی چه دخالی کیدو دوه مطلبه دی. یو دا چه دخلقونه خالی وی چه دهغے معنیٰ د تنهایئ ده، داعام مطلب دے. دویم دا چه زړهٔ دغیرونه خالی وی. هغوی فرمائی چه اصلی خَلوت هم دا دے. په دے وجه ډیره کامله درجه خو دا ده چه د دواړه خَلوتونه ورته حاصل وی. خوکهٔ چرے څوك په ګڼړه کښ وی او زړهٔ یے دغیرونه بیخی خالی وی)، او د اسے وخت د اللّٰه تعالٰی په ذکر سرهٔ څوك اُوژاړی نو هغَه هم دے کښ داخل دے، چه ګڼړه او نهٔ ګڼړه دهغهٔ په حق کښ برابره ده. او هرکله چه دهغهٔ زړهٔ ګڼړه خوبریږ ده، دغیرُ اللّٰه د توجُّه نه هم خالی دے، نو ګڼړه هغهٔ ته څنګه ضَرر وَررسولے شی. د اللّٰه تعالٰی په یاد کښ یاد هغهٔ له ویرے نه ژړا ډیرلوئ دولت دے، خوش نصیبه دے هغه کس چا ته اللّٰه جل شانهٔ اسانه کړی.

یوحدیث کښ راغلی دی چه څوك د اللّٰه تعالٰی له ویرے اُوژاړی، دَے هغَه وخته پورے دوزخ ته نهٔ شی تلے، ترڅو پورے چه پئ په تیُونو کښ واپس لاړ شی را وبشکاره ده چه دا ناممکنه ده، پس هم داسے دهٔ دوزخ ته تلل هم نامُمکن دی). یو بل حدیث کښ راغلی دی چه څوك د اللّٰه تعالٰی د ویرے نه اُوژاړی، تر دے چه دهغهٔ د اُوښکو نه څهٔ په زمکه اُوڅاڅی، نو هغهٔ ته به د قیامت په ورځ عذاب نهٔ وی.

یوحدیث کښ راغلی دی چه په دوه وُسترګو د دوزخ اُور حرام دے. یو هغَه سترګه چه د اللّٰه تعالٰی د ویرے نه یے ژړلی وی او دویمه هغَه چه د اِسلام او د مسلمانانو د حفاظت د پاره د کافرانو په مقابله کښ وِیخه پاتے شوی وی.

یوحدیث کښ راغلی دی چه کومه سترګه د اللّٰه تعالٰی د ویرے ژړیدلی وی په هغے د دوزخ اُور حرام دے. او کومه سترګه چه د اللّٰه تعالٰی په لار کښ وِیخه پاتے شوی وی، په هغے هم حرام دے، او کومه سترګه چه ناروا څیز

(مثلاً نامحرم وغیره) کتونه منع شوی وی په هغې هم حرام دے اوکومه سترګه چه د الله تعالیٰ په لار کښې ضائع شوی وی په هغې هم د دوزخ اُور حرام دے۔

یو حدیث کښې راغلی دی چه په تنهایئ کښې د الله تعالیٰ ذکر کوونکے داسے دے لکه چه یواځے د کافرانو مقابلے ته تلے دی۔

(۱۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم یُنَادِیْ مُنَادٍ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ اَیْنَ اُولُوا الْاَلْبَابِ قَالُوْا اَیَّ اُولِی الْاَلْبَابِ تُرِیْدُ قَالَ اَلَّذِیْنَ یَذْکُرُوْنَ اللّٰهَ قِیَامًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰی جُنُوْبِهِمْ وَیَتَفَکَّرُوْنَ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ط سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ط عُقِدَ لَهُمْ لِوَآءٌ فَاتَّبَعَ الْقَوْمُ لِوَآءَهُمْ وَقَالَ لَهُمْ اُدْخُلُوْهَا خٰلِدِیْنَ ۵ (اخرجه الاصبهانی فی الترغیب کذا فی الدر)

د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارک دے چه د قیامت په ورځ به یو آواز کوونکے آواز اوکړی چه عقلمند خلق چرته دی؟ خلق به تپوس اوکړی چه د عقلمندو نه څوک مراد دی؟ جواب به ورکړے شی، هغه خلق کوم چه د الله تعالیٰ ذکر کوُلو په ولاړه اوناسته او په ملاسته (یعنی په هر حال کښې یے د الله تعالیٰ ذکر کوُلو) او د اسمانونو او د زمکو پیدا کیدو کښې یے غور کوُلو، او ویل یے، چه اے الله! تا دا ټول بے فائدے خو پیدا کړی نه دی. مونږ ستا تسبیح کوُو ته مونږ د دوزخ د عذاب نه اُوساتے۔ دے نه پس به د دے خلقو د پاره یو جهنډه جوړه کړے شی چه هغې پسے به دا ټول ځی، او دوی ته به اُوویلے شی چه همیشه د پاره جنت کښې داخل شئ۔

فائده: د اسمانونو او د زمکو پیدا کیدو کښې غور فکر کوئ یعنې د الله تعالیٰ د قدرت نظارے او د هغهٔ د حکمتونو عجائبو ته سوچ کوی چه په دے سره د الله جل جلالهٔ پیژندګلو کښې قوت پیدا کیږی۔ ؎

الٰہی یہ عالم ہے گلزار تیرا ※ اے زما الله! دا عالم دے ګلزار ستا

ابن ابی الدنیا رحمة الله علیه یو مرسل روایت نقل کړے دے چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم یو واړے د صحابه و یو ډلے ته تشریف یوړه چه چُپ چاپ ناست وُو۔ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد اُوفرمایهٔ، څهٔ خبره ده؟ په څهٔ سوچ کښې ناست

Maktaba Tul Ishaat.com

یئ؛ عرض یے اُوکړۀ چه د الله تعالیٰ د مخلوقاتو په سوچ کښې یُو نبی اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمایهٔ چه آؤ- د الله تعالیٰ په ذات کښې غور مهٔ کوئ (چه هغه وَرَاءُ الْوَرَاء دے) د هغهٔ په مخلوقاتو کښې غور کوئ۔

حضرت عائشه رضی الله عنها ته یو کس عرض اُوکړۀ چه د نبی اکرم ﷺ څهٔ عجیبه خبره واؤرَوه- وے فرمایل چه د نبی اکرم ﷺ کومه خبره د لسے وه چه عجیبه نهٔ وه، یو وارے یے د شپے تشریف راوړۀ، زما په بستره زما برستن کښې سملاستهٔ بیا یے ارشاد اُوفرمایهٔ، پریږده چه زهٔ خو د خپل رب عبادت اُوکړم، دا یے اُووَے پاسیدو- اَودس یے اُوکړۀ، او د مونځ نیت یے اُوتړۀ، ژړا یے شروع کړه، تر دے پورے چه اُوښکے یے سینه مبارکه باندے بهیدلے- بیا دا رنګے په رکوع کښې یے ژړل، بیا سجده کښې یے دا رنګے ژړل- ټوله شپه یے دا رنګے تیره کړه تر دے چه د سحر د مانځهٔ د بلالو د پاره حضرت بلال رضی الله عنه راغے- ما عرض اُوکړۀ اے د الله رسوله! تا سو خو بخښلے شوی یئ، بیا تا سو دومره وَلے اُوژړل؟ ارشاد یے اُوفرمایهٔ چه آیا زهٔ د الله تعالیٰ شکر ګذار بنده جوړ نهٔ شم- بیا یے اُوفرمایل مایه وَلے نهٔ ژړل، حال دا دے چه نن دا آیتونه نازل شوی دی (یعنی پورتنی آیتونه)

اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ نه فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ۀ پورے) بیا یے اُوفرمایل چه هلاکت دے د هغهٔ کس د پاره چه څوک دا اُولی اَو غور و فکر نهٔ کوی۔

عامر بن عبد قیس رحمة الله علیه فرمائی چه ما د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه اوریدلی دی یو نه، دوه نه، دریو نه، بلکه (له دے نه د زیاتو نه م اوریدلی دی) چه د ایمان رڼړا او د ایمان نُور غور و فکر دے۔

حضرت ابوهریره رضی الله عنه د نبی اکرم ﷺ نه نقل کوی چه یو سړے چهت باندے ملاست وَو، آسمان اَو ستورو ته یے کتل، بیا یے اُووے قسم په الله تعالیٰ- ما ته یقین دے چه ستا سو پیدا کوونکے څوک ضرور شته- اے الله تعالیٰ! ته زما بخښنه اُوکړے- د رحمت نظر هغهٔ طرف ته مُتوجه شو، او د هغهٔ بخښنه اُوشوه-

حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه د یو ساعت غور د ټولے شپے د عبادت نه بهتر دے- حضرت اَبُوالدَّرْدَاء او حضرت اَنَس رضی الله عنهما نه هُم دا

نقل کړے شوی دی۔ دحضرت انس رضی اللہ عنہ نه داهُم نقل کړے شوی دی چه دیو ساعت غور په دے خیز و نوکښ داتیا ؤ کالو دعبادت نه بهتر دے۔

دامُّ الدَّرداء رضی اللہ عنہا نه چاتپوس اوکړو چه دابُوالدَّرداء رضی اللہ عنہ دټولو نه بهترین عبادت څهٔ وو؟ وے فرمایل غور وفکر۔ په روایت دابوهریره رضی اللہ عنہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه داهم نقل کړے شوی دی، چه دیو ساعت غور وفکر د شپیتو کالو دعبادت نه بهتر دے۔ خو ددے روایتونو دا مطلب نهٔ دے چه بیا دعبادت ضرورت نهٔ پاتے کیږی۔ هریو عبادت چه په خپل ځائے کومه درجه لری فرض وی یا واجب، سنت وی که مستحب۔ دهغے پریخودو باندے هم د هغے درجے عذاب یا ملامتیا وی۔ دکومے درجے چه هغه عبادت وی۔

امام غزالی رحمۃ اللہ علیہ لیکلی دی چه غور وفکر نه عبادتونوکښ بهتر ځکه ویلے شوی دی چه دے کښ معنیٰ دذکر خو شاملاوی، دوه څیزونه په کښ نور زیات دی۔ یو د الله تعالیٰ مَعْرِفَت ځکه چه غور وفکر د معرفت کُنجی ده۔ دویم د الله تعالیٰ مَحبّت چه په فکر کولو سره دا پیدا کیږی۔ هم دا غور وفکر دے، کوم ته چه صوفیان مُراقَبه وائی، دډیرو روایتونو نه ددے فضیلت ثابتیږی۔ مُسنَدِ اَبُویَعْلیٰ کښ په روایت دحضرت عائشے رضی اللہ عنہا د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد پے نقل کړے دے چه هغه ذکرِ خفی کوم چه فرښتے هم نهٔ شی اَوریدے، اویا درجے دوچند کیږی۔ هرکله چه دقیامت په ورځ الله جل شانهٗ ټول مخلوق دحساب دپاره جمع کړی، اوکراماً کاتبین عملنامے راواخلی راشی، نو ارشاد به اُوشی، چه دفلانی بندهٔ عملونه اُوګورئ، څهٔ نور باقی دی۔ هغوی به عرض اُوکړی چه مونږ هیڅ یو څیز داسے نهٔ دے پرېښے، کوم چه مو لیکلے نهٔ وی، او محفوظ نهٔ وی۔ نو ارشاد به اُوشی، چه مونږ څخه ددهٔ یوه نیکی باقی ده کومه چه ستاسو عِلم کښ نشته، هغه ذکرِ خفی دے۔ بیهقی شُعُب کښ د حضرت عائشے رضی اللہ عنہا نه داحدیث نقل کړے دے چه کوم ذکر فرښتے نهٔ آوری، دا په هغه ذکر باندے کوم چه هغوی آوری، اویا درجے زیات دے۔ هُم دا مُراد دے ددے شعر نه په کوم کښ چه ویلے شوی دی۔ ؎

میانِ عاشق و معشوق رمزے است ٭ کراماً کاتبین راهم خبر نیست

Maktaba Tul Ishaat.com

چه عاشق معشوق کښ داسے اِشارے وی چه دهغې فرښتو ته هم خبر نهٔ ری
څومره خوش نصیبه دی هغه خلق څوک چه یوساعت هم نهٔ غافله کیږی
چه په خپلو ظاهری عبادتونو خوبه خپل خپل اجروثواب خامخا حاصلوی
دا دهروخت ذکروفکر د پوره ژوند په وختونو کښ پرے اوښاچند ه لازیاتی
شو. هم دا هغه څیز دے کوم چه شیطان پریشانه کوی. دحضرت جُنید
رحمته الله علیه نه نقل کړے شوی دی چه هغهٔ یو وارے خوب کښ شیطان بیخی
بربنړ اُولیدهٔ. ورته یے اُووے چه تاله شرم نهٔ درځی چه دسړو مخکښ
بربنړ یې؟ هغهٔ اُووے، دا خهٔ سړی دی، سړی خو هغه دی، کوم چه
شُونیزیَه جُمات کښ ناست دی، چه هغوی زما بدن کمزورے کړهٔ او زما
ځیګر یے کباب کړهٔ. حضرت جُنید رحمته الله علیه فرمائی چه زهٔ دشُونیزیَه جُمات
ته لاړم، ما اُولیدل چه څو حضراتو په زنګنونو سَرونه اِیخی دی. مُراقبه
کښ مشغول دی. هرکله چه زهٔ هغوی اُولیدم، نو وے ویل چه دخبیث
په خبرو سره چرته دهوکه کښ پریو نهٔ زے.

مَسُوحی رحمته الله علیه نه هم دارنګے ددے په شان نقل کړے شوی دی. دهٔ
شیطان بربنړ اُولیدهٔ، نو ورته یے اُووے چه تا ته دسړو په مینځ کښ
دارنګے په ګرزیدو شرم نهٔ درځی؟ وے ویل چه په الله قسم! دا سړی نهٔ
دی. کهٔ چرے دوی سړی وے، نوما به ورسره داسے لوبے نهٔ کولے څنګه
چه هلکان غونړ سکی سره لوبے کوی. سړی هغه دی کوموچه زما بدن
بیمار کړهٔ. او دصوفیانو پلے طرف ته یے اِشاره اُوکړه.

ابوسعید خزّار رحمته الله علیه وائی چه ما په خوب کښ اُولیدل چه شیطان
په ما حمله اُوکړه، ما په لرګی اُووهلو، هغهٔ پُوتے هم پرواه اُونکړه دغیب
نه یو آواز راغے چه له دینه دَے نهٔ ویریږی، دے د زړهٔ دنُور نه ویریږی.

حضرت سَعد رضی الله عنه دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه بهترین ذکر ذکرِ خَفی
لیعنی پټ ذکر دے، او بهترین رزق هغه دے کوم چه دکافی کیدو درجه لری.

حضرت عُبادهٔ رضی الله عنه هم دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه دارنګے نقل کوی چه بهترین
ذکر ذکرِ خَفِی دے. او بهترین رزق هغه دے کوم چه دکافی کیدو درجه

لري (یعني چه نهٔ کم وي چه ګناره پرے نهٔ کیږي' نهٔ زیات وي چه تکبر او بے حیائي کښې یے اخته کړي. ابن حبّان او ابو یعلیٰ رحمهما الله دا حدیث صحیح خودلے دے.

یو حدیث کښې د نبی اکرم ﷺ ارشاد نقل کړے شوے دے چه الله تعالیٰ ذکرِ خامِل سره یادوئ. چا پوښتنه اوکړه چه ذکرِ خامِل څهٔ دے؟ ارشاد یے اُوفرمایهٔ چه مخفي ذکر (یعني پټ ذکر). دے تولو روایتونو نه د ذکرِ خفي بهتر والے معلومیږي. او اوس نزدے هغه روایت تیر شو په کوم کښې چه د مجنون ویلو ذکر تیر شوے دے. دواړه مستقل څیزونه دي چه د حالاتو په اِعتبار سره مختلف دي. دا بیا شیخ (پیر صاحب) تجویز کوي، چه دکوم کس دپارهٔ کوم وخت څهٔ مناسب دي.

(۱۸) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ رضي الله عنه قَالَ نَزَلَتْ عَلٰی رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وَهُوَ فِيْ بَعْضِ اَبْيَاتِهٖ وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ فَخَرَجَ يَلْتَمِسُهُمْ فَوَجَدَ قَوْمًا يَذْكُرُوْنَ اللهَ فِيْهِمْ ثَائِرُ الرَّأْسِ وَجَافُّ الْجِلْدِ وَذُوْ الثَّوْبِ الْوَاحِدِ فَلَمَّا رَاٰهُمْ جَلَسَ مَعَهُمْ وَقَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ فِيْ اُمَّتِيْ مَنْ اَمَرَنِيْ اَنْ اَصْبِرَ نَفْسِيْ مَعَهُمْ.

(اخرجه ابن جرير والطبراني وابن مردويه كذا في الدر)

نبی اکرم ﷺ کور کښې وو چه آیت وَاصْبِرْ نَفْسَكَ نازل شو چه د دے ترجمه دا ده. "خپل ځان د هغې خلقو څخه (د ناستے) پابند کړه څوک چه سحر او ماښام خپل رب بلي. نبی علیه الصلوٰة والسلام د دے آیت په نازلیدو د دغے خلقو په تلاش کښې اُووتلو. یو ه ډله یے اُولیده کوم چه د الله تعالیٰ په ذکر کښې مشغوله وه. بعضے خلق په هغوی کښې خوارهٔ وارهٔ ویښتو والا وو، او اُوچو څرمنو والا او صرف دیوے جامے والا وو (چه بربنړ بدن صرف یو لنګ ورځخه دے) هرکله چه نبی اکرم ﷺ دوی اُولیدل، نو هغوی څخه کیناستو او ارشاد یے اُوفرمایهٔ چه ټول تعریفونه د الله تعالیٰ دپاره دي چه هغهٔ زما په اُمت کښې داسے خلق پیدا کړهٔ چه ځبله ما ته یے د هغوئ څخه د کیناستو حکم اُوکړهٔ.

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده: یو بل حدیث کښې دی چه نبی اکرم ﷺ دهغوی تلاش اوکړو، نو دجُمات آخری حصه کښې یے ناست بیا موندل، چه دالله تعالیٰ په ذکر کښې مشغول وُو. نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل چه ټول تعریفونه دالله تعالیٰ دپاره دی چه هغهٔ زما په ژوند اتهٔ کښې داسے خلق پیدا کړل چه ما ته یے دهغوی څخه دناستے حکم اُوکړهٔ. بیا یے اُوفرمایل، هم ستاسو خلقو سره م ژوند دے، او هم تاسو سره م مرګ دے، یعنی مرګ ژوند ملګری م هم تاسو خلق یئ.

یو حدیث کښې راغلی دی چه حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه وغیره حضرات دصحابه کرامو رضی الله عنهم یوے ډلے سره دالله تعالیٰ په ذکر کښې لګیا وُو، نبی اکرم ﷺ تشریف راوړهٔ نو دوی چُپ شو. نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل تاسو څهٔ کول؟ عرض یے اوکړهٔ، دالله تعالیٰ ذکر کښې لګیا وُو. نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل چه ما اُولیدل چه دالله تعالیٰ رحمت په تاسو نازلیږی. نو زما زړهٔ هُم اُوغوختل چه زهٔ هم تاسو سره شریک شم. بیا یے ارشاد اُوفرمایهٔ چه اَلْحَمْدُ لِلّٰہ الله جل شانهٔ زما اُمت کښې داسے خلق پیدا کړهٔ چه دهغوی څخه دناستے ما ته حکم اُوشو.

ابراهیم نخعی رحمه الله فرمائی چه اَلَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ نه مراد دذاکرینو ډله ده. هُم ددے په نښان حکمونو نه صوفیا نو را ایستلی کړی دی، چه پیرانو ته هم مُریدانو څخه ناسته ضروری ده چه په دے کښې مریدانو ته دفائدے رسَوَلو نه علاوه په ګډون سره دشیخ دنفس دپاره هم پوره مُجاهَدَه ده چه دغیر مُهَذّبو خلقو په بدعنوانو صبر او برداشت کولو سره نفس کښې تابعداری پیدا شی، او ددے نفس قوّت کښې عاجزی پیدا شی. دے نه علاوه دزړونو جمع کولو ته دالله جل شانهٔ رحمت او مهربانی مُتوجّه کولو کښې خاص دَخَل دے. هم په دے وجه دجَمع مونځ مقرر کړے شوے دے. او هم دا لویه وجه ده چه دعرفات په میدان کښې ټول حاجیان په یو حال یو میدان کښې الله تعالیٰ طرف ته مُتوجّه کولے شی، لکه څنګه چه زمونږ حضرت "شاه ولی الله" رحمة الله علیه حُجَّةُ اللهِ الْبَالِغَه (کتاب) کښې کړے دے

ځایونوکښې دا مضمون په اهتمام ذکر کړے دے۔ دا اتول د هغے ډلے بارہ کښې دی. کومه چه د الله تعالیٰ ذکر کوونکے وی چه حدیثونوکښې په کثرت سره د دے ترغیب راغلے دے۔ د دے بِالمُقابِل که چرے څوك د غافلینو په ډله کښې ګیر شی اودغه وخت دَ دے د الله تعالیٰ په ذکرکښې مشغول شی، نو د هغهٔ باره کښې هم حدیثونوکښې په کثرت سره فضائل راغلی دی، په دا سے موقعو بندۀ ته نورهم په زیات اهتمام اوتوجُه سره د الله تعالیٰ طرف ته مشغولیدل پکار دی۔ د پاره د دے چه د هغوی د سپیرۀ والی نه محفوظ شی۔

حدیث کښې راغلی دی چه د غافلینو ډله کښې د الله تعالیٰ ذکر کوونکے داسے دے لکه چه جهاد کښې د تختیدونکو د ډلے نه څوك کلك اُودریږی او مقابله اُوکړی۔

یو حدیث کښې راغلی دی، چه غافلینوکښې د الله تعالیٰ ذکر کوونکے داسے دے لکه چه څوك د تختیدونکو له طرفه نه د کافرانو مقابله اُوکړی۔ د غه شان هغه داسے دے لکه تیارۀ کورکښې ډیوه۔ دغه شان هغه داسے دے لکه بے پانړو وُنوکښې شنه تازه وُنه وی۔ داسے کس ته الله جل شانهٔ د هغهٔ د جنت کور د مرګ نه مخکښې ښائی، او د هر بنیادم او ځناور برابر په د هغهٔ بخښنه اُوکړے شی۔ داهله دی چه د دغے مجلسونوکښې د الله تعالیٰ په ذکرکښې لګیا وی، ګنی داسے مجلسونوکښې د شرکت ممانعت راغلے دے۔

حدیث کښې دی چه د عشیره یعنی دیارانے د مجلسونو نه خپل ځان ساتئ۔ عزیزی رحمة الله علیه وائی یعنی د داسے مجلسونو نه کوم کښې چه د غیرُالله تذکرے په کثرت سره وی، عبثیاتو او لوبو تو کوکښې مشغول وی۔

یو بزرګ وائی چه زۀ یو وارے بازار ته تلم، یوه حبشی وینزه مے سره وه ما بازارکښې یو ځائی کښېنولې چه واپسی کښې به یے ځان سره واخلم هغه د هغه ځائی نه لاړه۔ هرکله چه ما واپسی کښې هلته اُونهٔ لیده، نو ما ته غصه راغله۔ زۀ کورته واپس راغلم، نو هغه وینزه راغله اووے ویل، زما آقا! خفګان کښې جلتی مکوه۔ زۀ تا داسے خلقوځنه پریښودم چه د الله تعالیٰ د ذکرنه غافله وو۔ زۀ اُوویریدم چه په دوی چرته عذاب نازل نهٔ شی۔ او

په زمکه کښې ښخ نهٔ شي، او زهٔ هم ورسره عذاب کښې چرته ګیره نهٔ شم۔

(۱۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فِیْمَا یَذْکُرُ عَنْ رَبِّهٖ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی اُذْکُرْنِیْ بَعْدَ الْعَصْرِ وَبَعْدَ الْفَجْرِ سَاعَةً اَکْفِكَ فِیْمَا بَیْنَهُمَا۔ (اخرجه احمد کذا فی الدر)

نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم د الله جلّ جلالهٔ پاک ارشاد نقل کوی چه ته دَ سحر د مانځه نه پس او د ماز یګر د مانځهٔ نه پس لږ ساعت ما یادوه، مینځنی حصه کښې به زهٔ ستا د پاره کافی کیږم۔ (یو حدیث کښې راغلی دی چه د الله تعالیٰ ذکرکوه مطلب پوره کؤلوکښې به ستا مدد کار شي۔)

فائده: اخرت د پاره نهٔ سهی، دُنیا د پاره مونږ خلق څومره څومره کوشش نه کوو۔ څهٔ به مو وُران شي که چرے لږ غوندے ساعت سحر او ماز یګر نه پس د الله تعالیٰ ذکر هم اوکړو۔ په حدیثونو کښې ډیر زیاتے دوارو وختونو کښې د الله تعالیٰ د ذکر فضائل راغلی دی۔ او هر کله چه الله جل جلالهٔ د کافی کیدو وعده کوی، نو بیا د بل څیز څهٔ ضرورت پاتے شو۔

یو حدیث کښې راغلی دی، نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد فرمائی چه زهٔ د اسے ډلے سره کینم چه د سحر مانځه نه پس نمر خاتهٔ پورے د الله تعالیٰ په ذکر کښې مشغوله وی۔ ما ته زیاته خوښه ده د دے نه چه څلور عرب غُلامان ازاد کړم۔ هم دغه رنګے د اسے ډلے سره کینم چه د ماز یګر مانځه نه پس تر نمر پریوتو پورے د الله تعالیٰ په ذکر کښې مشغوله اُوسی، دا م زیاته خوښه ده د څلور غلامانو ازادؤلو نه۔

یو حدیث کښې دی چه څوك د سحر مونځ د جمیع سره اُوکړی، بیا د نمر ختو پورے د الله تعالیٰ په ذکر کښې مشغول اُوسی۔ او بیا دوه رکعته نفل (د اِشراق) اُوکړی، هغهٔ ته به د اسے ثواب ورکړے شي لکه چه په حج او عُمرے (نفلی) ورکؤلے شي، او حج او عُمره هم هغه کوم چه کامل وی۔

د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارك د دے چه زهٔ دیوے ډلے سره د سحر مانځهٔ نه پس تر نمر ختو پورے ذکر کښې مشغول اُوسم، دا ما ته د دُنیا او د دُنیا د ټولو څیزونو نه خوښه ده۔ هم دغسے د ماز یګر مانځه نه پس نمر پریوتو

پورے پوداسے چلے سرہ ذکرکښ مشغول اُوسم، داماته دُنیا اودُنیا کښ دتپولوڅیزونو نه زیاته خوښه دَه۔
هم په دے وجهو سره دسحرمانځه نه پس اودمازیگرمانځه نه پس د اَورادُو معمول دے، اوحضرات صوفیه په نزدخوددے دوارو وختونوخاص اِهتمام دے چه دسحردمانځه نه پس عُموماً اَشغالوکښ اهتمام کوی او مازیگر نه پس داَورادو اِهتمام کوی. خُصوصًا دسحرمانځه نه پس فُقهاء هُم دا اِهتمام کوی. مُدَوّنه کښ د امام مالك رحمۃ اللہ علیہ نه نقل کړے شوی دی چه د سحردمانځه نه پس نمرختوپورے خبرےکوَل مکروه دی- دآحنافو نه صاحب د دُرِّمُختار رحمۃ اللہ علیہ هم دغه وخت خبرےکوَل مکروه لیکلی دی۔
یوحدیث کښ راغلی دی چه څوك دسحردمانځه نه پس هم په هغسے شان ناست وی دخبروکولونه مخکښ دادُعالس وارے اُووائی لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَعَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ (نشته ده لائق دعبادت هیڅوك سِوا دیوالله نه، هغه په خپل ذات اوصفتونوکښ تنها دے- هیڅوك دهغهٔ شریك نشته تپول ملك دُنیا او آخرت هُم دهغهٔ دی- اوچه څومره خوبئ دی، هغه هم هغے پاك ذات دپاره دی- هُم هغه ژوندی کوَل کوی، هُم هغه مړکوَل کوی، اوهغه په هرڅیز قادردے- نودهٔ دپاره لس نیکئ اُولیکلے شی، لس بدئ معاف کړے شی، اوجنت کښ یے لس درجے اُوچتولے شی، اوتپوله ورځ به دشیطان اودمکروهاتونه محفوظ اُوسی۔
یوحدیث کښ راغلی دی چه څوك دسحراومازیگرنه پس اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِيْ لَآاِلٰهَ اِلَّا هُوَالْحَيُّ الْقَيُّوْمُ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ (زهٔ دهغے الله تعالیٰ نه کوم چه ژوندے دے اوهمیشنے دے، دهغهٔ نه سِوا څوك معبود نشته، دخپلوگناهونو بخښنه غواړم، اوهم هغهٔ طرفته رجوع کوم توبه کوم) درے وارے اُووائی دهغهٔ گناه معاف کیږی، اگرچه دسمندر دَ زګ برابر وی

(۲۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَۃَ رضی اللہ عنہ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشادمبارك دے چه دُنیا ملعونه ده اوکوم څهٔ چه په دے

Maktaba Tul Ishaat.com

يَقُوْلُ الدُّنْيَا مَلْعُوْنَةٌ وَّمَلْعُوْنٌ مَّا فِيْهَا اِلَّا ذِكْرُ اللّٰهِ وَمَا وَالَاهُ وَ عَالِمًا وَّمُتَعَلِّمًا - (رواه الترمذی و

کښې دی ټول ملعون (د الله تعالیٰ د رحمت نه لرې) دی خو د الله تعالیٰ ذکر او هغه څیز چه کوم د دے نزدے وی او عالم او طالبعلم -

ابن ماجة والبیهقی وقال الترمذی حدیث حسن کذا فی الترغیب وذکره فی جامع الصغیر بروایة ابن ماجة ورقم له بالحسن وذکره فی مجمع الزوائد بروایة الطبرانی فی الاوسط عن ابن مسعودؓ وکذا السیوطی فی الجامع الصغیر وذکره بروایة البزار عن ابن مسعودؓ بلفظ اِلَّا اَمْرًا بِمَعْرُوْفٍ اَوْ نَهْيًا عَنْ مُّنْكَرٍ اَوْ ذِكْرَ اللّٰهِ رقم له بالصحة)

فائده: د دے نزدے کیدو نه مراد ذکر ته نزدے کیدل هم کیدے شی. په دے حالت کښې په هغه څیزونه مراد وی کوم چه د الله تعالیٰ په ذکر کښې مُعِین او مددګار وی چه په هغې کښې خوړل څکل هم په قدر ضرورت داخل دی، او د ژوند ضروری اسباب هم په دے کښې داخل دی، او په دے حالت کښې د الله تعالیٰ ذکر هر څیز ته کوم چه د عبادت د قِسم نه وی، شامل دے او دا هم کیدے شی چه د رضا نزدے کیدو نه د الله تعالیٰ قُرب مراد وی نو په دے حالت کښې به ټول عبادتونه په دے کښې داخل شی او د الله تعالیٰ د ذکر نه به مخصوص ذکر مراد وی - او دواړو حالتونو کښې عِلم په دے کښې په خپله داخل شوے وُو. ړومبی حالت کښې په دے وجه چه هُم علم د الله تعالیٰ ذکر ته نزدے کوی - چه "بے علم نتوان خدا را شناخت" (بے علمه الله تعالیٰ پیژندلے نهٔ شی) او په دویم حالت کښې په دے وجه چه د علم نه به زیات کوم عبادت وی؟ خو د دے باوجود بیا عالِم او طالب عِلم بے ځانله بیل د اِهتمام په وجه اُوفرمایلے، چه عِلم ډیر لوئ دولت دے.

یو حدیث کښې راغلی دی چه عِلم صرف د الله تعالیٰ د پاره زده کول د الله تعالیٰ د ویرے په حکم کښې دے او د دے طلب (یعنی تلاش د پاره چرته تلل) عبادت دے - او د دے یادول تسبیح ده، او د دے په تحقیقاتو کښې بحث کول جهاد دے، او د دے لوستل صدقه ده، او د دے په اهل باندې خرچ کول الله تعالیٰ ته نزدیکت دے، ځکه چه عِلم جائز ناجائز پیژندلو د پاره نښه ده - او د جنت د لار ونښه ده، په ویره کښې زړهٔ خوشالوونکے دے، او د سفر ملګرے دے (چه کتاب کتل د دواړو کاره کوی دا رنګے) تنهائی کښې

خبرے کوَنکے دے، خوشالئ اوغم کښې لاره خودونکے دے۔ دُښمنانو باندې وَسله ده، دوستانو دپاره (تسله ده) الله جل شانهٔ دعِلم په وجه یوے ډلے (دعُلماؤ ته) اُوچتے مرتبے ورکوی، چه هغوی خیرطرف ته رابلونکی وی ، او داسے اِمامان وی چه دهغوی په نقشِ قدم تلهٔ اُوکړے شی، او دهغوی دا فعالو تابعداری اُوکړے شی، دهغوی رائے طرفته رُجوع اُوکړے شی فرښتے هغوی سره د دوستئ کولو شوق کوی۔ رخپلے وَزرے (برکت حاصلولو دپاره یا دمحبت په طور) دوی باندے مږی۔ اوهرلوند اواُوچ څیز دډُنیا دوی دپاره دالله تعالیٰ نه دبخښنے دُعاغواړی۔ تردے چه دسمندر کبان اودځنګل شرمخان اوښاروی اوزهریله ځناور (ماروغیره) پورے هُم ورته دُعا دبخښنے کوی۔ اودا ټول دے دپاره چه عِلم دزړونو رڼا ده، دسترګو نُور دے۔ دعِلم په وجه بندهٔ داُمت بهترینو کسانو ته رَسی۔ دډُنیا او داخرت اُوچتے مرتبے حاصلوی۔ ددے مطالعه دروژو برابر ده۔ ددے یادَوَل دتهجُّد و برابر دی۔ په دے سره خپلولئ پالے شی، اوپه دے سره حلال اوحرام پیژندلے شی۔ عِلم د عمل اِمام دے، اوعمل ددے تابع دے۔ نیک بختوته خلقوته ددے اِلهام کیږی۔ اوبدبختو ددے نه محرومیږی۔ په دے حدیث مجموعی طور بعضو کلام کړے دے خو چه کوم قسمه فضائل دے کښې ذکرکړے شوی دی، ددے مرسته دنورو روایتونو نه هُم کیږی۔ دعِلم شان دِدے نه علاوه نورو پیر فضائل دحدیثو په کتابونو کښې په کثرت سره راغلی دی۔ په دے وجه عالِم او طالب عِلم یے په پورتنی حدیث کښې خاص طور ذکر کړے دے۔

حافظ ابنِ قیّم رحمۃ اللہ علیہ یو مشهور مُحدِّث دے، دهٔ یوه اُوږده واضح رساله عربئ کښې "اَلوَابِلُ الصَّیِّب" په نامه دذکر په فضائلو کښې لیکلے ده، په هغے کښې هغهٔ فرمائی چه په ذکر کښې دسلونه هم زیاتے فائدے دی، دهغے نه نمبروار یوکم اتیا فائدے ذکرکړی دی۔ چه هغه مختصر دلته ترتیب وار نقل کولے شی۔ اوچونکه ډیرے فایدے په دے کښې داسے دی، چه څو څو فائدے په کښې دی، په دے لحاظ سره دسلونه زیاتے جوړیږی۔

(۱) ذکر شیطان دفع کوی، اودهغهٔ قوّت ماتوی (۲) دالله جلّ جلالهٔ د

Maktaba Tul Ishaat.com

خوشالئ سبب دے (٣) د زړهٔ نه غم او فکر لرے کوی (٤) زړهٔ کښې خوشالی پیدا کوی (٥) بدن او زړهٔ ته قوت ورکوی (٦) مخ او زړهٔ روښانه کوی (٧) رزق راکاږی (٨) ذکر کوُنکو ته د رُعب او دخوږ والی جامه اغوندوی، یعنی دهغهٔ په کتلو رُعب پریوزی، او کتونکو ته خوږ والے نصیب کیږی (٩) د الله جل شانهٔ محبّت پیدا کوی، او هم دا محبت د اِسلام روح او ددین مرکز دے، او د سعادت (نیک بختئ) او دخلاصی مدار دے، ځوك چه دا غواړی چه د الله تعالیٰ محبت ته ددهٔ رسیدل اُوشی هغهٔ له پکار دی چه د الله تعالیٰ ذِ یر کوی۔ ځنګه چه لوستل او تکرار کول دعِلم دروازه دهٔ، دغسے د الله تعالیٰ ذکر دهغهٔ د محبت دروازه دهٔ۔ (١٠) په ذکر سره مراقبه نصیب کیږی کومه چه بندهٔ لره مرتبے داِحسان ته رسوی، هم دا مرتبه دهٔ چه په دے کښې د الله تعالیٰ عبادت داسے نصیب کیږی گویا چه الله تعالیٰ وینی (هُم دا مرتبه دصوفیانو دمقصد مُنتَهادهٔ) (١١) الله تعالیٰ طرف ته رجوع پیدا کوی چه په دے سره رُوړُو دا سے وخت راشی، چه هر څیز کښې الله جل شانهٔ ددهٔ دپناه ځائ او ټیکونړه جوړه شی، او هر یو مصیبت کښې هم هغهٔ طرف ته یے توَجُّه اُوشی (١٢) الله تعالیٰ ته نزدیکت پیدا کوی۔ او څومره چه یے ذکر زیا تیږی۔ هغومره یے الله تعالیٰ ته نزدیکت زیا تیږی، او څومره چه د ذکر نه غفلت کیږی، هغومره یے د الله تعالیٰ نه لرے والے کیږی (١٣) د الله تعالیٰ دمَعْرِفت دروازه پرانزی۔ (١٤) د الله جلّ شانهٔ رُعب او دهغهٔ لوئی زړهٔ کښې پیدا کوی۔ او الله تعالیٰ سره حضوری (نزدیکت) پیدا کوی (١٥) د الله جلّ شانهٔ په دربار کښې ذکر سبب دے۔ لکه چه کلام پاك کښې اِرشاد دے۔ فَاذْكُرُوْنِیْٓ اَذْكُرْكُمْ او حدیث کښې راغلی دی، مَنْ ذَكَرَنِیْ فِیْ نَفْسِهٖ ذَكَرْتُهٗ فِیْ نَفْسِیْ الحدیث لکه چه د ایتونو او حدیثونو په بیان کښې رومبے په تفصیل سره تیر شوی دی۔ که چرے ذکر کښې دے نه سوا بل هیڅ فضیلت نهٔ وی، بیا هم دشرافت او دعزت په اِعتبار سره دا یو فضیلت کافی وَو، دالاځکه کوے چه په دے کښې نور هُم ډیر فضیلتونه دی (١٦) زړهٔ ژوندے کوی۔ حافظ ابن تیمیه رحمة الله علیه فرمائی چه د الله تعالیٰ ذکر زړهٔ د پاره داسے دے لکه دکَبْ د پاره اُوبهٔ۔ پخپله فکر

اُوکړئ چه بغیر اُوبو په دکب څه حال کیږی. (۱۷) د زړهٔ اود روح روزی دهٔ. اُوکهٔ دِے دواړو ته خپله غذا ورنکړے شی، نو دا سے دی لکه بدن ته دهغهٔ خوراك ورنکړے شی۔ (۱۸) زړهٔ د زنګ نه صفا کوی، څنګه چه حدیث کښ هُم راغلی دی. هرڅیز باندے دهغے مُناسب خیرَے میرَے وی۔ د زړهٔ خیرے اَو زنګ خواهِشات اوغفلت دے۔ دا ذکر دهغے دپاره دصفایئ کار ورکوی۔ (۱۹) غلطئ اَوګنا هونه لرے کوی۔ (۲۰) بنده ته چه د الله جلّ شانهٔ ته کومه وارخطائ وی هغه لرے کوی، چه په غافل زړهٔ د الله تعالیٰ له طرفه یو قِسم وارخطائ وی چه هغه په ذکر لرے کیږی۔ (۲۱) کوم ذکرُ ته چه بندهٔ کوی هغه دعرش څلور واړه طرفه دبنده یادکوی څنګه چه حدیث کښ راغلی دی (باب دریم، فصل دویم، حدیث اُوَلسَم کښ) (۲۲) څوك چه په راحت کښ د الله جلّ شانهٔ ذکرکوی، الله جل جلالهٔ دمصیبت په وخت کښ هغه یادوی۔ (۲۳) د الله تعالیٰ دعذاب نه دخلاصی ذریعه دهٔ (۲۴) سکینه اودرحمت نازلیدو سبب دے، اوفرښتے ذکر کوُنکو نه چاپیره کیږی۔ (د سکینے معنیٰ ددے باب دویم فصل اوَاتم حدیث کښ تیره شوے دهٔ) (۲۵) د ذکر په برکت ژبه دغیبت، چُغلئ، دروغ، بَدے وینا، عبث وینا نه محفوظ اُوسی۔ لکه چه تجربے اومُشاهَدے نه ثابته دهٔ چه دکوم کس ژبه د الله تعالیٰ په ذکر عادت وی هغه ددے څیزونو نه عمومًا محفوظه وی۔ اود چا ژبه چه عادت نهٔ وی، هغه هرقسمه فضولیا تو کښ اَخته وی۔ (۲۶) د ذکر مجلسونه دفرښتو مجلسونه دی، او د فضولیاتو او دغفلت مجلسونه د شیطان مجلسونه دی۔ اُوس اِنسان ته اِختیار دے چه دکوم قسمه مجلسونه غواړی، خوښ دِکړی، اوهرکس هم هغه خوَښوی، دکوم سرَه چه مناسبت ساتی۔ (۲۷) د ذکر په وجه ذکرکوُنکی هم نیک بخته کیږی اَوورسره ناست کسان هم۔ اوغفلت یا فضولیا تو کښ اَخته کسان په خپله هم بد بخته شی اوورسره ناست کسان هم۔ (۲۸) (ذکر) دقیامت په ورځ د اَفسوس نه محفوظ ساتی، ځکه چه حدیث کښ راغلی دی چه هرهغه مجلس کوم کښ چه د الله ذکر نهٔ وی دقیامت په ورځ د اَفسوس اودنقصان سبب دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲۹) ذکر سره که چرے د تنهایئ ژړا هُم نصیب شي، نو د قیامت د وُرځے تاؤ او ګرمئ کښ به هر کس د حشر په میدان کښ تړقیږي اَوړے به د عرش په سورې کښ وي۔ (۳۰) ذکر کښ مشغول کسانو ته به د هغے ټولو څیزونو نه زیات ورکولے شي کوم چه دُعا ګانے غوختونکو ته ورکولے شي۔ حدیث کښ د الله جل شانهٗ ارشاد نقل کړے شوے دے، څوك چه زما ذکر دُعا ته فارغ نکړو هغهٗ ته به زهٔ دُعا ګانے غوختونکو نه بهتر ورکومه۔ (۳۱) ذکر سره د دے چه د ټولو نه اسان عبادت دے، بیا یے د ټولو عبادتونو نه بهتر کړے دے، ځکه چه ژبه خوزول د بدن د ټولو اندامونو خوزولو نه اسانه ده۔ (۳۲) د الله تعالیٰ ذکر د جنت بوټي دي (لکه چه د دریم باب، دویم فصل، څلورم حدیث کښ یے تفصیل راځي) (۳۳) څومره قدرے چه د بخښنے او انعام وعده په دے ده، په بل عمل نشته، لکه یو حدیث کښ راغلي دي څوك چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ط سل وارے وُرځ کښ اُووائي، نو دهٔ د پاره د لسو غلامانو ازادولو ثواب کیږي او سل نیکئ دهٔ د پاره لیکلے شي، او سل بدئ ترے معاف کولے شي، او ماښامه پورے د شیطان نه محفوظ کیږي۔ او بل هیڅوك له دهٔ نه بهتر نهٔ شي کیدلے، البته هغه څوك چه د دهٔ نه زیات عمل اُوکړي۔ د غسے نور ډیر حدیثونه دي چه د هغے نه د ذکر د ټولو عملونو نه بهتر کیدل معلومیږي۔ (او ډیر د هغے نه دے رساله کښ ذکر دي) (۳۴) د همیشه ذکر په برکت د خپل نفس د هیرولو نه اَمن نصیب کیږي۔ کوم چه د دواړو جهانو د بدبختئ سبب دے ځکه چه د الله تعالیٰ یادلره هیرول سبب ګرزي په خپله د خپل نفس هیرولو، او د خپل ټولو مصلحتونو د هیرولو۔ لکه چه د الله تعالیٰ ارشاد دے۔

وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ نَسُوا اللّٰهَ فَاَنْسٰهُمْ اَنْفُسَهُمْ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ط (سورة حشر ع ۳) "تاسو د هغے خلقو په شان مهٔ کیږئ چه د الله تعالیٰ نه یے بے پرواهي اُوکړه، پس الله تعالیٰ هغوی د خپلو ځانونو نه بے پرواه کړل "۔ (یعني د هغوی عقل داسے لاړو چه په خپله حقیقي ګټه پوهه نهٔ شو)۔ او هرکله چه بنده خپل نفس هیر کړي، نو د هغے د مصلحتونو او فائدونه غافله

شي، او داپې دهلاکت سبب اُوګرزي -لکه چه دچاپتې یاباغ وي او هغه هیر کړي او د هغې خبر نهٔ آخلي نو خامخا به هغه ضائع شي - او ددې نه امن هله حاصلیدې شي هرکله چه د الله تعالیٰ په ذکر ئې په هر وخت تر او تازه ساتي . او ذکر د دهٔ ته داسې خوښ شي لکه د سخته تندې په وخت کښ اُوبهٔ او دلوږې په وخت کښ خوراك، او د سخته ګرمئ او د سخته یخنئ په وخت مکان او جامه بلکه د الله تعالیٰ ذکر ددې نه زیات حقدار دې، ځکه چه ددې څیزونو نهٔ مُوندلو سره د بدان هلاکت دې، کوم چه د زړهٔ او د رُوح د هلاکت په مقابله کښ هیڅ هُم نهٔ دې - (۳۵) ذکر د بنده ترقي کوي، بستره باندې هم، او بازار کښ هم ، صحت کښ هم او بیمارئ کښ هم ، نعمتونو او لذتونو سره مشغولئ کښ هم .او بل هیڅ داسې څیز نشته . چه کوم هر وخت د ترقئ سبب ګرزي تردې چه د چا زړهٔ د ذکر په نُور سره روښانه شي، هغه اُودهٔ هم د غافله شوګیره کونکو نه زیاتیږي - (۳۶) د ذکر نُور دُنیا کښ هم ورسره وي او قبر کښ هم ورسره وي ، او اخرت کښ به په پُلِ صراط باندې مخکښ مخکښ ترېځي - د الله جل شانهٔ اِرشاد دې - اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَاَحْيَيْنٰهُ وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا يَّمْشِيْ بِهٖ فِى النَّاسِ كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِى الظُّلُمٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا (انعام - ع ۱۵) داسې کس کوم چه ړومبې مړ یعنې ګمراه وُو ، بیا مونږ هغه ژوندې یعنې مسلمان جوړ کړهٔ او داسې نُور مو ورکړهٔ ، چه دې د غه نُور سره خلقو کښ ګرزي راګرزي ، یعنې هغه نُور هر وخت دهٔ سره وي - آیا داسې کس بدحالئ کښ د هغې کس په شان کیدې شي ، کوم چه د ګمراهئ په تیرو کښ ګیروي او د هغې نه آړووتې نهٔ شي - پس اَولنې کس مؤمن دې کوم چه په الله تعالیٰ ایمان لري ، او د هغهٔ محبت او د هغهٔ معرفت او د هغهٔ په ذکر روښانه دې ، او دویم کس ددې څیزونو نه خالي دې - حقیقت دادې چه د انُور ډیر لوئ شان څیز دې ، او هم په دې کښ پوره کامیابي ده - ځکه نبي اکرم ﷺ ددې په طلب او دُعا کښ زیاتوالې کُولو ، او خپل هر هر جُزوُ کښ یې نُور طلب کُولو - لکه چه حدیثونو کښ ګڼړې دُعا ګانې داسې دي چه په هغې کښ نبي اکرم ﷺ ددې دُعا فرمایلې ده ، چه الله جل

Maktaba Tul Ishaat.com

شانهٗ دِ زماغوږ بِه کښې، هډوکوکښې، پلوکښې، ویښتوکښې، څرمنه کښې، غوږ کښې، سترګه کښې، پورته، خکته، ښےاړخ، مخکښې، روستو نُورنُورکړی۔ تردے چه دا دُعا یې هم اُوکړه، چه په خپله ماسَرنه ښوپورے نُورکړےچه زماذات نُورجوړشي۔ دهغے نُورپه اندازه اعمالوکښې نورانیت راځی۔ تردے چه دبعضوخلقونیک عمل داسے حالت کښې اسمان ته ځی چه په هغے د نمر په شان رڼاوی، اوهم دغه شان نُورپه دهغوی مخونوباندے دقیامت په ورځ وی۔ (۳۷) ذکردتصوّف بنیادی اُصول دے، اودټولوصوفیانوپه ټولو طریقوکښې شته۔ چادپاره چه دذکردروازه پرانستے شوه، هغهٔ دپاره الله جلّ شانُهٗ ته درسیدلودروازه پرانستے شوه۔ اَوخوك چه الله جلّ شانهٗ ته اُورسیدهٔ، هغه چه څهٔ غواړی، مُومی۔ چه الله جلّ شانهٗ څخه دهیڅ څیز کمے نشته۔ (۳۸) دبنیادم په زړهٔ کښې یوکُنډ دےچه دالله تعالیٰ دذکرنه بغیر په هیڅ څیزسره نهٔ ډکیږی۔ اوکله چه ذکرپه زړهٔ قبضه اُوکړی، نودا نهٔ صرف دغه کُنډ ډکوی، بلکه ذکرکوُنکےبےدماله مالداره کړی، اوبغیردقام قبیلے اَوډلےیےدخلقوپه زړهٔ کښې عزتمندکړی۔ اویےسَلطنته یےبادشاه جوړکړی۔ اَوخوك چه دذکرنه غافله وی، هغه سره دمال اودولت، دقام قبیلے اودحکومته ذلیله کیږی۔ (۳۹) ذکرخوارهٔ وارهٔ راغونډوی اوراغونډخوارهٔ وارهٔ کوی۔ لرےرانزدےکوی، اونزدےلرےکوی۔ خوارهٔ وارهٔ دراغونډولومطلب دادےچه دبنده په زړهٔ کوم مختلف غمونه، فکرونه، پریشانئ وی، هغه لرےکوی اوزړهٔ کښې یےتسلی پیداکړی۔ اوراغونډدخوارهٔ وارهٔ کولومطلب دادےچه په بنده باندےکوم فکرونه راغونډوی هغه خوارهٔ وارهٔ کړی۔ اود بنده کومےغلطئ اوګناهونه جمع شوی وی، هغه خورےورےکړی۔ او کوم دشیطان لښکرچه بنده باندےمقرردےهغه خُور وُورکړی۔ اوآخرت کوم چه لرےدےنزدےکړی، اودُنیاکومه چه نزدےده لرےکړی۔ (۴۰) ذکردبنیادم زړهٔ دخوبه پاسَوی، دغفلت نه یےبیداروی، اوزړهٔ چه کله اُودهٔ وی، نوخپلےټولےفائدےضائع کړی (۴۱) ذکریوه وُنه ده چه په دِ دمَعَارِفو میوه لګی۔ دصوفیانوپه اصطلاح کښې داحوالواودمقاماتومیوه

پرے لګی، او چه څومره د ذکر پیروالے وی، هغومره به د دغے دُنے ویخ مضبوط وی۔ او څومره چه ویخ مضبوط وی، هغومره به زیاته میوه پرے راځی (۴۲) ذکر هغه پاك ذات طرفته نزدے کوی چه د چا ذکر کوی، تردے چه هغه سره ملګرتیا نصیب شی، لکه چه قرآن پاك کښ دی۔ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا (الله جل شانهٔ متقیانو سره دے) او حدیث شریف کښ راغلی دی اَنَا مَعَ عَبْدِىْ مَاذَكَرَنِىْ (زهٔ د خپل بنده سره یم ترڅو پورے چه هغه ما یادوی) یو حدیث کښ دی چه زما ذکر کوونکی زما سری دی، زهٔ د دوی د خپل رحمت نه نهٔ لرے کوم۔ کهٔ چرے دوی د خپلو ګناهونو نه توبه کوی، نو زهٔ د دوی دوست یم، او کهٔ چرے دوی توبه اُونهٔ باسی، زهٔ د دوی طبیب یم۔ چه دوی به په پریشانو کښ اخته کړم د پاره د دے چه د دغے ګناهونو نه یے پاك کړم۔ دغه شان چه د ذکر په وجه د الله جل شانهٔ کومه ملګرتیا نصیب کیږی هغه دا سے ملګرتیا ده چه د هغے برابره بله هیڅ ملګرتیا نشته۔ نهٔ هغه په ژبه بیانیدے شی، نهٔ لیکلو کښ راتلے شی۔ د هغے خوند او مزه هغه خلك پیژندے شی چا ته چه دا نصیب شی۔ (اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِىْ مِنْهُ شَيْئًا) (۴۳) ذکر د غلامانو ازادولو برابر دے، د مالونو خرچ کولو برابر دے، د الله تعالیٰ په لار کښ د جهاد برابر دے (دپرورو روایتونو کښ د دے قسمه مضامین تیر شوی دی او مخکښ هم راتلونکی دی)۔ (۴۴) ذکر د شکر ویخ دے څوك چه د الله تعالیٰ ذکر نکوی هغه شکر هم نهٔ ادا کوی۔ یو حدیث کښ راغلی دی، چه حضرت موسیٰ علیه السلام الله جلّ شانهٔ ته عرض اُوکړهٔ چه تا په ما ډیر احسانات کړی دی، ماته طریقه اُوښایه چه زهٔ ستا ډیر شکر ادا کړم۔ الله جل جلالهٔ ارشاد اُوفرمایهٔ، څومره چه ته زما ذکر کوے، هغومره به شکر ادا کیږی۔ بل حدیث کښ د حضرت موسیٰ علیه السلام دا درخواست بیان کړے شوے دے، چه اے الله! ستا د شان مناسب به شکر څنګه ادا کیږی؟ الله جل شانهٔ اُوفرمایل چه ستا ژبه هروخت په ذکر سره تروتازه وی۔ (۴۵) د الله تعالیٰ په نزد پرهیزګارو خلقو کښ زیات عزتمند هغه خلق دی څوك چه د ذکر کښ هروخت اخته وی ځکه چه د تقوٰی اخری حد جنت دے او د ذکر

Maktaba Tul Ishaat.com

اخری حد دالله تعالیٰ مَعِیّت دے.(۴۶) زړهٔ کښ یو خاص قسم سختی ده چه دذکرنه علاوه په هیڅ څیز سره نهٔ نرمیږی.(۴۷) ذکر د زړونو د مرضونو علاج دے.(۴۸) ذکر د الله تعالیٰ سره د دوستئ جرړه ده، او د ذکرنه غفلت هغهٔ سره د دُشمنئ جرړه ده.(۴۹) د الله تعالیٰ د ذکر برابر هیڅ څیز د نعمتونو راخکونکے او د الله تعالیٰ د عذاب نه لرے کوُنکے نشته.(۵۰) په ذکر کوُنکو د الله تعالیٰ صلوٰة (رحمت) او د فرښتو صلوٰة (دُعا) وی.(۵۱) څوك چه داغواړی، چه په دُنیا کښ دِیم او د جنت باغونو کښ دِ اُوسیږم، هغه دِ د ذکر مجلسونو کښ کینی ځکه چه دا مجلسونه د جنت باغونه دی.(۵۲) د ذکر مجلسونه د فرښتو مجلسونه دی. (تیر شوُ وحد یثونو کښ دا مضمون په تفصیل سره تیر شوے دے)(۵۳) الله جلّ شانهٔ ذکر کوُنکو باندے د فرښتو مخکښ فخر کوی.(۵۴) ذکر باندِ همیشه والے کوُنکے به جنت ته په خندا داخلیږی.(۵۵) ټول عملونه هم د الله تعالیٰ تعالیٰ د ذکر د پاره مقرر کړے شوی دی.(۵۶) ټولو عملونو کښ هم هغه عمل بهتر دے په کوم کښ چه ډیر ذکر اُوکړے شی. په روژو کښ هغه روژه بهتره ده کوم کښ چه د ذکر ډیر والے وی. حج کښ هغه حج غوره دے کوم کښ چه د ذکر ډیر والے وی. دغه شان د نورو عملونو د جهاد وغیره حکم دے.(۵۷) ذکر (چه دا هم نفل دے) د نورو نفلی عبادتونو قائم مقام دے. لکه چه حدیث کښ راغلی دی، چه غریبانانو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته شکایت اُوکړو، چه دا مالدار خلق لوئ لوئ درجے حاصلوی، دوی روژه او مانځه کښ مونږ سره شریک دی، او د خپلو مالونو په وجه حج، عُمره، جهاد کښ زمونږ نه وړاندے کیږی. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اُوفرمایلو، چه زهٔ تاسو ته داسے څیز اُوښایم، چه په هغے په هیڅ څوك تاسو ته نهٔ شی رسیدلے. مگر هغه څوك چه دا عمل اُوکړی. دِے نه پس نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د هر مانځه نه پس سُبْحَانَ اللّٰهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اَللّٰهُ اَکْبَرُ ویلو د پاره بے وینا اُوکړه (څنګه چه د دریم باب، دویم فصل، اُدوم حدیث کښ راځی) چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم حج، عُمره، جهاد وغیره د هر یو عبادت بدل ذکر مقرر کړے دے. (۵۸) ذکر د نورو عبادتونو د پاره لوئ مددګار دے چه د دے په ډیروالی سره هر یو عبادت محبوب جوړیږی، او په عبادتونو کښ پرے خوند راځی، او هیڅ

بوعبادت کښې مَشقّت اوبوجهـ نهٔ پاتے کیږی -(۵۹) دذکرپه وجه هربو
مَشقّت اسانیږی، اوهرګران څیزاسانیږی، اوهرقسمه بوجهـ سپکیږی
اوهرمصیبت لرے کیږی (۶۰) دذکرپه وجه دزړهٔ نه ویره ترهه لرے کیږی
دویرے په ځائ اطمینان پیدا کولو اوویره لرے کولوکښې دالله تعالیٰ ذکرته
خصوصی دَخل دے- او دادرے خاص اثردے، څومره چه دذکرډیرڅالے وی
هغومره به اِطمینان نصیب کیږی، آوویره به لرے کیږی -(۶۱) دذکرپه وجه
بنده کښې یوخاص قوّت پیدا کیږی، چه دهغے په وجه داسے کارونه ددهٔ
نه کیږی چه کوم ګران ښکاری -نبی اکرم صلی الله علیه وسلم خپلے لورحضرت فاطمے رضی الله عنها ته
هرکله چه هغے دمیچنے دمَشقّت او دکاروبارډګرانئ په وجه یوخدمتګار اُغوختلو
نودا وُدهٔ کیدلوپه وخت کښې یے ورته دسُبْحَانَ اللهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ درے دیرش ۳۳
درے دیرش ۳۳ ځله او اَللّٰهُ اَکْبَرُ څلوردیرش ۳۴ ځله ویلوحکم کړے وو، او دا ارشاد
یے فرمایلے وو چه دا دخادم نه بهتردے (۶۲) دا خرت دپاره کارکونکی تول منڅے
وهی، خو په دے منډه کښې دذاکرینوډله دټولونه مخکښې ده. عُمرمَولیٰ غُفره
رحمته الله علیه نه نقل کړے شوی دی، چه قیامت کښې کله چه خلقوته دعملونوثواب
ورکولے شی، نوډیرخلق به دغه وخت اَفسوس اُوکړی، چه مونږ دذکراهتمام
وَلے اُونکړو، چه دا دټولونه زیات اسان عمل وو- یوحدیث کښې دنبی اکرم
صلی الله علیه وسلم اِرشادنقل کړے شوے دے چه مُفَرِّدخلق وړاندے اُووتل -صحابو عرض اُوکړه
چه مُفَرِّدخلق څوک دی؟ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد اُوفرمایهٔ چه په ذکرباندځان
قربانونکی چه ذکردهغوی بارونه سپکوی -(۶۳) دذکرکونکوالله جَلَّ شَانُهٗ
تصدیق کوی، اوهغوی رښتنی ګڼړی، اوچاته چه الله تعالیٰ په خپله رښتنے
اُووائی دهغهٔ حَشر ددروغژنوسره نهٔ شی کیدے. حدیث کښې راغلی دی کله
چه بنده لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکْبَرُ وائی، نوالله جلَّ شانهٗ فرمائی، زمابنده
رښتیا اُووے، زمانه سِوا هیڅوک دعبادت لائق نشته، آوزهٔ دټولونه لوئ
یم (۶۴) په ذکرسره جنت کښې کورآبادیږی، هرکله چه بنده دذکرنه منع شی
نوفرښتے د(کور) جوړولونه منع شی. کله چه هغوی ته اُوویلے شی چه فلانئ
آبادی تاسو وَلے بنده کړه -نوهغوی وائی چه دهغے آبادئ سامان لانه راوُسه

Maktaba Tul Ishaat.com

راغلے نهٔ دے۔ یو حدیث کښې راغلی دی، چه څوك سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ،
سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِیْمِ اُووائی، یو کنبد دهٔ دپاره جنت کښې جوړ کړے شی۔
(۶۵) ذکر د دوزخ دپاره پرده ده۔ کهٔ چرے دڅهٔ بدعملئ په وجه دوزخ حقدار
شی، نو ذکر به په مینځ کښې پرده جوړه شی، او څومره چه ذکر ډیر والے وی
هغومره به پخه پرده وی۔ (۶۶) ذکر کوُنکو دپاره فرښتے بخښنه غواړی۔ حضرت
عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ رضی الله عنه نه نقل کړے شوی دی، چه کله بندهٔ سُبْحَانَ اللهِ
وَبِحَمْدِهٖ وائی، یا اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وائی، نو فرښتے دُعا کوی، چه اے
الله! دهٔ بخښنه اوکړے۔ (۶۷) په کوم غر یا میدان چه د الله تعالیٰ ذکر اوکړے
شی، هغه فخر کوی۔ حدیث کښې راغلی دی، چه یو غر بل غر ته آواز کوی، او
پوښتنه ترے کوی، چه څوك ذکر کوُنکے ستا نن په تا تیر شوے دے؟ کهٔ چرے
هغه اُووائی چه تیر شوے دے، نو خوشاله شی۔ (۶۸) د ذکر ډیر والے د مُنافقت
نه د بری کیدو د اطمینان (اوسند) دے، ځکه چه الله جلّ شانهٔ د منافقانو
د صفت بیان کړے دے۔ لَا یَذْکُرُوْنَ اللهَ اِلَّا قَلِیْلًا (ذکر نکوی د الله تعالیٰ
خولږ شان) کعب احبار رحمة الله علیه نه نقل کړے شوی دی، چه څوك د الله تعالیٰ
ذکر ډیر ډیر کوی، هغه د مُنافقت نه بری دے۔ (۶۹) د ټولو نیکو عملونو په
مقابله کښې د ذکر دپاره یو خاص مزه ده، چه هیڅ یو عمل کښې نهٔ شی موندلے
کیدے کهٔ چرے ذکر کښې د دے مزے نه ماسوا نور هیڅ فضیلت نهٔ وے، نو هُم
بس د اخیز د دے دپاره کافی ؤو۔ مالِك بن دِینار رحمة الله علیه فرمائی چه مزے
اخستونکی هیڅ خیز کښې هم د ذکر برابر مزه نهٔ شی موندے۔ (۷۰) د ذکر کوُنکو
په مخ کښې په دُنیا کښې رَونق او آخرت کښې به نُور وی۔ (۷۱) څوك چه په
لارو او کورونو کښې، سفر او مَقام کښې ډیر ډیر ذکر کوی، قیامت کښې به هغهٔ
دپاره گواهی ورکوُنکی ډیر وی۔ الله جلّ شانهٔ د قیامت دوُرځے باره کښې فرمائی
یَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا (هغه ورځ به زمکه خپل خبرونه بیانوی۔)
نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد اُوفرمایهٔ، پوهیږئ د زمکے خبرونه څهٔ دی؟ صحابه کرامؓ
تاپوهی ښکاره کړه۔ نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد اُوفرمایهٔ، چه چا نارینه ژنانه
څهٔ کار په زمکه کړے وی، هغه به اُوښائی چه په فلانئ ورځ په فلانی وخت

بې په نا د اذکار کړے دے (نیک وي یا بد) - په دے وجه مختلف ځایونو کښې دیر ډیر ذکر کونکو ګواهان هم ډیر وي (۷۲) ژبه چه څومره ساعت په ذکر کښې اخته وي، فضولیاتو، دروغ، غیبت وغیره نه محفوظه وي - ځکه چه ژبه خوچپ پاتې کیدے نه شي، یا به د الله تعالیٰ ذکر کښې مشغوله وي، کنې به فضولیاتو کښې - دغه رنګے د زړهٔ حال دے - که چرے دے د الله تعالیٰ په محبت کښې مشغول نه شي، نو د مخلوق په محبت کښې به اخته شي - (۷۳) شیطانان د بنیادم و ښکاره دُشمنان دي، او په هر قسمه وارخطائۍ کښې یې اچوي، او هر طرف یې ګیروي - د کوم کس چه دا حال وي چه ددهٔ دُشمنان هر وخت ددهٔ چاپیره وي، ددهٔ چه کوم حال وي ښکاره دے - او دُشمنان هم داسے چه هر یو دغوی نه داغواړي، چه کوم قسمه تکلیف رسولے شم اُو رسوم - ددے لښکرو لرے کولو له څیز د ذکر نه سوا هیڅ نشته - ډیر و حدیثونو کښې ډیرے دُعاګانے راغلي دي، چه دغه په وئیلو سره شیطان نزدے نه شي راتلے، د اُودهٔ کیدو په وخت (دُعا) وئیلو سره ټوله شپه به حفاظت کښې اُوسي -

حافظ ابن قیّم رحمة الله علیه هم داسے کنړے دُعاګانے ذکر کړي دي - دے نه علاوه یې شپږ نمبره کښې د ذکر د قِسمونو بیل بیل بانډے فضیلت او د ذکر بعضِ کُلّي فضیلتونه یې ذکر کړي دي - او دے نه پس یې پنځه اُویا فصلونه خصوصي دُعاګانو کښې کوے چه خاص خاص وختونو کښې راغلي دي، ذکر کړي دي، چه د اِختصار په وجه مِ پریخودے - توفیق والو دپاره کومے چه ذکر کړے شوے دا هم د کافي نه زیاتے دي - او چا ته چه توفیق نشته دے، هغهٔ دپاره په زرګونو فضائل هم بے کاره دي -

وَمَا تَوْفِيْقِيْٓ اِلَّا بِاللّٰهِ ط عَلَيْهِ

تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ


اُنِيْبُ ط



Maktaba Tul Ishaat.com



دویم باب
د کلمے طیّبے فضائل



کلمه طیّبه چه ورته کلمهٔ توحید هم وئیلے شی څومره ډیره چه په قران مجید او حدیث شریف کښ ذکر شوے ده، شاید دومره ډیرخهٔ بل څیز ذکر کړے شوے وی - او هر کله چه اصل مقصود د ټولو شریعتونو او ټولو نبیانو درالیږلو نه توحید دے، نو بیا څومره چه ډیر دے بیان وی، نو هغه د دے مناسب دے - قران مجید کښ په مختلفو عنوانا تو او په مختلفو نومونو دا پاکه کلمه ذکر کړے شوے ده - لکه چه کلمه طیّبه، قولِ ثابت، کلمهٔ تقوٰی، مَقَالِیْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (د اسمانونو او د زمکو کنجیانے) وغیره الفاظو سره ذکر کړے شوے ده، څنګه چه مخکښ ایتونو کښ راځی-

امام غزالی رحمۃ اللہ علیہ په اِحیاء کښ نقل کړی دی چه دا کلمهٔ توحید ده- کلمهٔ اِخلاص ده، کلمهٔ تقوٰی ده، کلمهٔ طیّبه عُرْوَةُ الْوُثْقٰی ده، دَعْوَةُ الْحَقِّ ده، ثَمَنُ الْجَنَّةِ ده - او چونکه قران شریف کښ دا په مختلفو عنوانا تو ذکر کړے شوے ده، دے د پاره دا باب م په دریو فصلونو تقسیم کړو-

اول فصل کښ د هغے ایتونو ذکر دے د کومو نه چه کلمه طیبه مراد ده، او د کلمے طیبے لفظ په کښ نشته دے، په دے وجه د دغے ایتونو مختصر تفسیر م د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم او په خپله د سَیِّدُ الْبَشَرِ عَلَیْهِ اَفْضَلُ الصَّلَوٰاتِ وَالتَّسْلِیْم نه نقل کړو-

دویم فصل کښ د هغے ایتونو حواله ده، کومو کښ چه کلمه طیّبه پوره یعنی لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ټوله په ټوله ذکر کړے شوے ده، یا څهٔ بدلون سره لکه لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ- او چونکه په دے کښ دا کلمه په خپله موجود ده، یا د دے ترجمه په نورو الفاظو سره ذکر کړے شوے ده - په دے وجه د هغے ایتونو

دترجمې ضرورت م اُونهٔ کنړلو، صرف دسُورت اودرکوع په حواله سره بس والے اُوکړهٔ، او

دريم فصل کښ دهغے حديثونو ترجمه او مطلب ذکر کړے شو، کوم کښ چه ددے پاک کلمے ترغيب اوحکم کړے شوے دے. وَمَا تَوْفِيْقِيْٓ اِلَّا بِاللّٰهِ ط

اوّل فصل

هغه اٰيتونو کښ کوم کښ چه لفظ د کلمے طيبے شته دے او مراد ترې کلمه طيبه ده۔

(۱) اَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ اَصْلُهَا ثَابِتٌ وَّفَرْعُهَا فِي السَّمَآءِ ○ تُؤْتِيْٓ اُكُلَهَا كُلَّ حِيْنٍ بِاِذْنِ رَبِّهَا ط وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ○ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيْثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيْثَةِ ۨاجْتُثَّتْ مِنْ فَوْقِ الْاَرْضِ مَا لَهَا مِنْ قَرَارٍ ○ (ابراهيم - ع ۴)

آيا تاته معلومه نهٔ ده چه الله تعالیٰ څنګه ښهٔ مثال بيان کړے دے د کلمے، چه اُمشابه ده ديوے پاکے وُنے سره، چه دهغے جرړه زمکه کښ ښځه وی، او ښاخونه ئے اسمان طرفته ځی، او دغه وُنه د الله تعالیٰ په حکم هر فصل کښ ميوه ورکوی (يعني ښه ترقی کوی) او الله تعالیٰ مثالونه ځکه بيانوی چه خلق ښهٔ پوهه شی. او د خبيثے کلمے (يعني کلمهٔ کفر) مثال داسے دے، لکه يو خرابه وُنه وی چه هغه د زمکے د پاسه د پاسه راوُويستلے شی او هغه ته زمکه کښ هيڅ مضبوط والے نهٔ وی.

فائده:- حضرت ابن عبّاس رضی الله عنه فرمائی چه د کلمهٔ طيبے نه کلمهٔ شهادت اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مراد ده، چه ددے جرړه دمؤمن په قول کښ ده، او ددے ښاخونه اسمان کښ دی، چه ددے په وجه دمؤمن عملونه اسمانته پورے ځی. او کلمه خبيثه شرك دے، چه په دے سره هيڅ عمل نهٔ قبليږی.

يو بل حديث کښ ابن عبّاس رضی الله عنه فرمائی چه هر وخت ميوه ورکولو مطلب دا دے چه الله تعالیٰ په شپه او ورځ هر وخت يادوی.

حضرت قتاده تابعی رحمة الله عليه نقل کوی چه نبی اکرم صلی الله عليه وسلم ته چا عرض

Maktaba Tul Ishaat.com

اُوکړئ اے د الله رسوله! دے مالدارو خلقو (صدقو او خیراتو نو به وجه) ټول ثوابونه یوړل۔ نبی اکرم ﷺ ورته اُوفرمایل، راځئ تاته اُوښایم، که چرے څوک سامان لاندې بانديٰ کیږدي، نو ایا اسمان ته به اُوخیژي۔ زۀ تاته داسے څیز اُوښایم، چه د هغے جرړه زمکه کښ دي، اَو ښاخونه یے په اسمان کښ دي۔ دهر مانځه نه پس لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَکْبَرُ وَسُبْحٰنَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ لس لس وارے وایه، ددے جرړه زمکه کښ ده اَو ښاخونه یے په اسمان کښ دي۔

(۲) مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعِزَّةَ فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيْعًا ط اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ ط (فاطر۔ ع ۲)

څوک چه عزت حاصلول غواړي (هغه د الله تعالیٰ نه عزت حاصل کړي ځکه چه) ټول عزتونه الله تعالیٰ دپاره دي هغۀ ته ښے کلمے رسي، او نیک عملونه هغه رسَوي۔

فائده:۔ دښو کلمو نه مراد د ډیرو مفسّرینو په نزد لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ده۔ لکه چه عامو مُفسّرینو نقل کړے ده۔ او دویم تفسیر یے دا دے چه له دے نه مراد دتسبیح کلمات دي، څنګه چه په دویم باب کښ به راشي۔

(۳) وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّعَدْلًا ط (انعام۔ ع ۱۴)

او ستا د رب کلمه د ریښتیا والی او د انصاف (او د اعتدال) په اعتبار سره پوره ده۔

فائده:۔ حضرت انس رضی الله عنه د نبی اکرم ﷺ نه نقل کوی، چه د رب د کلمے نه مراد لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ده۔ او د اکثرو مُفسّرینو په نزد د دے نه کلام الله شریف مراد دے۔

(۴) يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ج وَيُضِلُّ اللهُ الظّٰلِمِيْنَ قف وَيَفْعَلُ اللهُ مَا يَشَآءُ ۵ ط (ابراهیم۔ ع ۴)

الله تعالیٰ مؤمنان په پخه خبره (یعنی په کلمه طیّبه) دُنیا او اٰخرت دواړو کښ مضبوط ساتي، او کافران په دواړو جهانو کښ ګمراه کوی۔ او الله تعالیٰ (پخپل حکمت سره) څۀ چه غواړي کوي۔

فائده:۔ حضرت براء رضی الله عنه فرمائي چه نبی اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمایه چه هر کله قبر کښ سوال وُشي نو مسلمان به د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ ګواهي ورکوی۔ ایتِ کریمه کښ د پخے خبرے نه مراد هم دا کلمه ده۔ حضرت

عائشه رضی الله عنها نه هم دا نقل کړے شوے ده، چه له دِے نه مراد د قبر سوال و جواب دے۔ حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه مسلمان کله مری، نو فرښتے هغه وخت حاضرے شی، هغهٔ ته سلام کوی، د جنت زیرے ورکوی، کله چه هغه مړ شی، نو فرښتے هغهٔ سره ځی، د هغهٔ د جنازے مونځ کښ شریکیږی او کله چه دفن شی، نو هغه کینوی، او د هغهٔ نه سوال و جواب کیږی، چه په هغے کښ تړے دا هم تپوس کولے شی، چه ستا گواهی څهٔ ده؟ هغه وائی أَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ، هم دا مراد دے ایتِ کریمه کښ۔ حضرت ابوقتاده رحمه الله فرمائی چه په دُنیا کښ د ثابتے خبرے نه مراد لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ دے، او اٰخرت کښ د قبر سوال و جواب مُراد دے۔ حضرت طاؤس رحمه الله نه هُم دا نقل کړے شوی دی۔

⑤ لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ ؕ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ بِشَيْءٍ إِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى الْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهٖ ؕ وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ إِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ۝ (رعد - ع ۲)

ریښتنی بلل هم هغهٔ د پاره خاص دی او د الله تعالیٰ نه سِوا چه څوک دا خلق بلی، هغوی د دهٔ درخواست له دے نه زیات نهٔ شی منظورولے، څومره چه اُوبهٔ د دغے کس درخواست منظوروی، څوک چه خپل دواړه لاسونه اُوبو طرفته خوارهٔ کړی (او هغه اُوبهٔ خپل طرفته راغواړی) د پاره د دے چه د دهٔ خُلے ته راشی، او هغه (اُوبهٔ اُوتلی) د دهٔ خُلے ته هیڅکله راتلونکے نهٔ دی، او د کافرانو درخواست بیخی بے اثره دے۔

فائده: حضرت علی کرّم الله وجهه فرمائی چه دَعْوَةُ الْحَقِّ نه مراد توحید یعنی لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ دے۔ حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه هُم دا نقل دے، چه دَعْوَةُ الْحَقِّ نه شهادت د لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مراد دے۔ دغه رنگے دے نه علاوه د نورو حضراتو نه هُم دغسے نقل کړے شوی دی۔

⑥ قُلْ يٰٓأَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا إِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍۢ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْـًٔا وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا

راے محمد صلی الله علیه وسلم) ته اُووایه چه اے اهلِ کتابو راشئ یو داسے کلمے طرف ته، چه زمونږ او ستاسو تر مینځه (منلو کښ) برابر ده۔ هغه دا چه د الله تعالیٰ نه بغیر سِوا مونږ د هیڅا

Maktaba Tul Ishaat.com

بَعۡضًا اَرۡبَابًا مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰہِ ؕ فَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَقُوۡلُوا اشۡہَدُوۡا بِاَنَّا مُسۡلِمُوۡنَ ۝ (آل عمران - ع ۷)

عبادت نه کوو او الله تعالیٰ سره به هیڅوك شریک نه جوړوو، او زمونږ نه به هیڅوك یل څاله رب نه جوړوي چه الله تعالیٰ پریږدو - بیا دے نه پس هم که هغه إعراض (ډډه) اوکړي، نو ته اووایه چه تاسو ددے ګواه اوسئ، چه مونږ خلق خومسلمانان یو.

فائده:- ددے آیتِ شریفه مضمون په خپله صفا دے، چه دکلے نه مراد توحید او کلمه طیّبه ده، حضرت اَبُو الْعَالِیَه او مُجَاهِد رحمهما الله نه بشکاره نقل دے چه د کلے نه مراد لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دے.

﴿۷﴾ کُنۡتُمۡ خَیۡرَ اُمَّۃٍ اُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَ تَنۡہَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡکَرِ وَ تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰہِ ؕ وَ لَوۡ اٰمَنَ اَہۡلُ الۡکِتٰبِ لَکَانَ خَیۡرًا لَّہُمۡ ؕ مِنۡہُمُ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ وَ اَکۡثَرُہُمُ الۡفٰسِقُوۡنَ ۝ (آل عمران - ع ۱۲)

(اے اُمتِ دمحمد صلی الله علیه وسلم) تاسو (دټولو نه هم نو دخاوند (اونه) بهترین جماعت یئ، چه هغه جماعت خلقوته دفائدے رسولو د پاره ظاهر کړے شویئے - تاسو خلق نیک کارونه ښایئ، او دبدو خبرونه منع کوئ، او په الله تعالیٰ ایمان لرئ - که چرے اهلِ کتابو هم ایمان راوړے وے، نو هغوی دپاره بهتره وه - د هغوی نه بعض خومسلمانان دی (کومو چه ایمان راوړو) خو ډیره حصه دهغوی نه کافران دی.

فائده:- حضرت ابن عبّاس رضی الله عنه فرمائی چه تَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ (دښو خبرو حکم کوئ) مطلب دادے چه ددے حکم کوئ چه هغوی د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ګواهي ورکړي - او د الله تعالیٰ دحکمونو إقرار اوکړي - او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ د ټولو ښه ښیزونو نه بهتر ښیز دے، او دټولو نه اعلیٰ دے.

﴿۸﴾ وَ اَقِمِ الصَّلٰوۃَ طَرَفَیِ النَّہَارِ وَ زُلَفًا مِّنَ الَّیۡلِ ؕ اِنَّ الۡحَسَنٰتِ یُذۡہِبۡنَ السَّیِّاٰتِ ؕ ذٰلِکَ ذِکۡرٰی لِلذّٰکِرِیۡنَ ۝ (هود - ع ۱۰)

او (محمد صلی الله علیه وسلم) ته دمونځ پابندي کوه دورځے دواړو سرونو باندے او دشپے څه حصو کښ بے شکه نیک کارونه ورانوي (دعملنامے نه) بدو کارونو لره - داخبره یو نصیحت دے نصیحت منونکو د پاره.

فائده:- دے ایتِ کریمه په تفسیرکښې ډیر حدیثونه راغلی دی چه په هغې کښې نبی اکرم ﷺ د ایتِ شریفه وضاحت کړے دے. ارشاد فرمائی چه نیکئ (دعملنامے نه) بدئ ورانوی.

حضرت ابوذر رضی الله عنه فرمائی چه ما نبی اکرم ﷺ ته عرض اوکړه، چه ماته څۀ نصیحت اوکړئ. نبی اکرم ﷺ وفرمایل چه د الله تعالیٰ نه ویریږه، او کله چه درنه څۀ بدی اوشی، زر ورپسے څۀ نیکی اوکړه چه د هغې بدله اوکړزی، او هغه بدی لرے شی. ما عرض اوکړه، اے د الله رسوله! لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ هم نیکو کښې شمارده؟ یعنی دے وظیفه ددے ویل هم دے کښې داخل دی نبی اکرم ﷺ ارشاد اوفرمایه چه دا خو په نیکو کښې افضل ترین خیز دے.

حضرت انس رضی الله عنه د نبی اکرم ﷺ نه نقل کوی چه څوک بنده که شپه کښې یا ورځ کښې کوم وخت چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اووائی د هغۀ د عملنامے نه بدئ اوډیسځلے شی.

⑨ اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ وَاِيْتَآئِ ذِى الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْىِ ج يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ○ (نحل - ع ۱۲)

بے شکه الله تعالیٰ حکم کوی د عدل او د احسان او خپلوانو ته دورکړے. او منع کوی د بے حیایئ د خبرو نه او د بدو خبرو نه او په چا ظلم کولو نه، الله تعالیٰ تاسو ته نصیحت کوی د پاره ددے چه تاسو نصیحت قبول کړئ.

فائده:- "عدل" معنے تفسیرونو کښې مختلفے راغلی دی. یو تفسیر د عبدالله بن عباس رضی الله عنه نه هم نقل دے چه د عدل نه مراد د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اقرار کول دی. او د احسان نه مراد د فرائضو ادا کول دی.

⑩ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ۙ يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ط وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ○ (احزاب - ع ۹)

اے ایماندارو! د الله تعالیٰ نه اوویریږئ دراستئ (پخه) خبره وایئ الله تعالیٰ به ستاسو عملونه ښۀ کړی، او ګناهونه به مو معاف کړی، او چه څوک د الله تعالیٰ او د هغۀ د رسول ﷺ اطاعت کوی، هغه به لویے کامیابئ ته اورسیږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده:- حضرت عبدالله بن عباس او حضرت عکرمه رضی الله عنهما دواړو حضراتو نه دا نقل کړے شوی دی چه د قُولُوا قَوۡلًا سَدِيۡدًا معنیٰ دا ده چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وايئ -

یو حدیث کښ راغلی دی، چه د ټولونه زیات یا خهٔ عملونه درے څیزونه دی -(اوّل) په هر حال کښ د الله تعالیٰ ذکر کول (غم وی که خوشالی، تنګی وی که فراخی -) دویم دځان باره کښ د انصاف معامله کول (دا نهٔ وی چه په نورو خو زور ښائی، او هر کله چه څهٔ خپله معامله راشی، نو بیا دِ اخوا دِے خوا وائی) - دریم، رور سره مالی همدردی کول -

(۱۱) فَبَشِّرۡ عِبَادِ ۝ الَّذِيۡنَ يَسۡتَمِعُوۡنَ الۡقَوۡلَ فَيَتَّبِعُوۡنَ اَحۡسَنَهٗ ط اُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ هَدٰىهُمُ اللّٰهُ وَاُولٰٓئِكَ هُمۡ اُولُوا الۡاَلۡبَابِ ۝ (زمر ع ۲)

پس ته زما دا سے بندګانو ته زیرے ورکړه څوک چه دا کلام پاک ښهٔ په توجُّه اوری، بیا د دے بهترینو خبرو تابعداری کوی، هم داری چا ته چه الله تعالیٰ هدایت اوکړو، او هُم داری دعقل خاوندان -

فائده:- حضرت ابن عُمر رضی الله عنه فرمائی چه حضرت سعید بن زید، حضرت ابوذر غِفاری او حضرت سَلمان فارسی رضی الله عنهم دے درے واړو حضراتو به دجاهلیت (یعنی دکُفر) په زمانه کښ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ویله، او هم دا مُراد دے اٰیتِ کریمه کښ د اَحۡسَنُ الۡقَوۡلِ نه - حضرت زید بن اَسلم رضی الله عنه نه هُم د دے قریب نقل دی چه دا اٰیتونه دهغے درے سړو باره کښ نازل شوی دی کوم چه دجاهلیت په زمانه کښ هم لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ویله - زید بن عمرو بن نُفَیل، او ابو ذر غِفاری، او سَلمان فارسی رضی الله عنهم -

(۱۲) وَالَّذِيۡ جَآءَ بِالصِّدۡقِ وَصَدَّقَ بِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُتَّقُوۡنَ ۝ لَهُمۡ مَّا يَشَآءُوۡنَ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ط ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الۡمُحۡسِنِيۡنَ ۝ لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنۡهُمۡ اَسۡوَاَ الَّذِيۡ عَمِلُوۡا وَ

او کوم خلقو (چه دالله تعالیٰ له طرفه یا دهغهٔ د رسول له طرفه) رښتنی خبره راوړله، او په خپله یے هم دهغے تصدیق اوکړهٔ (هغه یے رښتنی اوګڼړله) نو دا خلق پرهیزګاره دی - دا خلق چه څهٔ غواړی، دهغوی د پاره دهغوی پرورد ګار څخه هر

يَجْزِيَهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ○ (زمر ـ ع ۴)

څۀ شته، دا به له دۀ نیک کارکوونکو ـ دے دپاره چه الله تعالیٰ دهغوی بد عملونه د هغوی نه لرے کړی (او معاف یې کړی) او دنیک کارونو بدله ورکړی ـ

فائده: یو قوم خلق چه د الله تعالیٰ له طرفه راوړونکی دی، هغه انبیاء علیٰ نبینا وعلیهم الصلوٰة والسلام دی، او یو قوم خلق چه دهغهٔ د رسول له طرفه راوړونکی دی هغه علمائے کرام دی ـ شکر الله سعیهم ـ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے، چه رښتنے خبرے نه مراد لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دے ـ بعض مفسرینو نه نقل کړے شوی چه اَلَّذِیْ جَآءَ بِالصِّدْقِ (هغوک چه رښتنے خبره دالله له طرفه راوړی) نه مراد نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دے ـ او صَدَّقَ بِهٖ (هغه خلق چا چه دهغوی تصدیق اوکړهٔ) نه مراد مؤمنان دی ـ

(۱۳) اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ○ نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَشْتَهِيْٓ اَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ○ نُزُلًا مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِيْمٍ ○ (حٰمٓ السجده ـ ع ۴)

بے شکه کوم خلقو چه اُووے چه زمونږ رب الله (جلّ جلالهٗ) دے، بیا مستقیم پاتے شو (یعنی کلک ولاړ وو هغه یې پرے نخود) په هغوی به فرښتے راکوزیږی (دمرګ په وخت کښې او قیامت کښې، دا به وائی) مهٔ ویریږه کوئ مهٔ غم کوئ، او زیرے واخلئ د هغے جنت چه د کوم تاسو سره وعده کړے شوی وه زمونږ ستاسو ملګری وو د دنیا په ژوند کښې هم، او اخرت کښې به هم درسره یو ـ او اخرت کښې تاسو دپاره کوم څیز چه ستاسو زړهٔ غواړی، هر څهٔ موجود دی ـ او هلته چه څهٔ تاسو غواړئ هغه به درکولے شی ـ او دا ټول (انعام او اکرام) په طور د میلمستیا دے د الله جلّ شانهٗ له طرفه (چه تاسو به دهغهٔ میلمانهٔ یئ، او د میلمه عزت کولے شی ـ)

فائده: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه ثُمَّ اسْتَقَامُوْا معنی دا ده چه بیا د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ په اقرار باندے قائم وی ـ حضرت ابراهیم او

Maktaba Tul Ishaat.com

مُجاهد رحمہما اللہ نه هم دا نقل کړے شوی دی، چه بیا په لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ باندے تر مرګه پورے قائم پاتے شی، شرك وغیره کښ آخته نهٔ شی۔

(۱۴) وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِیْ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ ○ (حٰمٓ السجده - ع ۵)

دخبرے دیشهٔ والی په لحاظ سره کوم کس دهغه چا نه بنهٔ کیدے شی څوك چه د الله طرف ته رابلی، او نیک عمل کوی، او دا وائی چه زهٔ د مسلمانانو نه یم۔

فائده: حضرت حسن رضی اللہ عنہ فرمائی چه دَعَآ اِلَى اللّٰهِ نه د آذان ورونکی لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ویل مراد دے۔ عاصم بن هُبَیره رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه کله تهٔ د اذان نه فارغ شے، نو لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ وایه۔

(۱۵) فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِیْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِیْنَ وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى وَكَانُوْٓا اَحَقَّ بِهَا وَاَهْلَهَا ط (الفتح - ع ۳)

پس الله تعالیٰ خپله سکینه (سکون، تحمل یا خاص رحمت) په خپل رسول نازل کړهٔ او په مؤمنانو۔ او هغوی ئے د تقوی د کلمے باندے (د تقوی په خبره) کلک اُوساتل، او هم هغوی د دے تقوی د کلمے حقدار او اهل وُو۔

فائده: د تقوی د کلمے نه مراد په ډیرو روایتونو کښ دا راغلی دے، چه کلمه طیبه ده۔ لکه حضرت اَبُوهریره او حضرت سلمه رضی اللہ عنہما د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه هم دا نقل کړے دی، چه له دے نه مراد لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دے۔ او حضرت اُبیّ بن کعب حضرت علی، حضرت عُمر، حضرت ابن عبّاس، حضرت ابنِ عُمر وغیره ډیرو صحابو رضی اللہ عنہم نه هم دا نقل کړے شوی دی۔ عطاء خُراسانی رحمۃ اللہ علیہ نه پوره کلمه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ نقل کړے شوے ده۔ د حضرت علی رضی اللہ عنہ نه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ هم نقل کړے شوے دے۔ تِرمِذی رحمۃ اللہ علیہ د حضرت براء رضی اللہ عنہ نه نقل کړے دے، چه له دے نه مُراد لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ده۔

(۱۶) هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا الْاِحْسَانُ ○ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ○ (رحمٰن - ع ۳)

ولے د احسان بدله د احسان نه سوا نوره هم څهٔ کیدے شی۔ پس (اے پیریانو او انسانانو!) تاسو به د خپل رب د کوموکومو نعمتونو نه منکریږئ۔

فائده:- حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه نقل کوی چه د آیتِ کریمه مطلب دا دے چه په کوم کس ما په دُنیا کښ د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ د ویلو اِنعام اُوکړو، نو اخرت کښ د جنت نه سوا نوره څهٔ بدله یے هم کیدے شی - حضرت عِکرمه رضی اللہ عنہ نه هم دا نقل دی چه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ویلو بدله د جنت نه سوا نوره هم څهٔ کیدے شی - حضرتِ حَسَن رضی اللہ عنہ نه هم دا نقل کړے شوی دی -

(۱۷) قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ○ (اعلیٰ - ع ۱) | کامیابی ته اُورسیده هغه کس چا چه تزکیه اُوکړه (پاکی یے حاصله کړه) -

فائده:- حضرت جابر رضی اللہ عنہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه نقل کوی چه تزکّی نه مُراد دا دے چه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ گواهی ورکړی، او بُتان پریږدی - حضرت عِکرمه رضی اللہ عنہ فرمائی چه د تزکّی معنیٰ دا ده چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اُووائی دا د حضرت ابنِ عباس رضی اللہ عنہ نه هُم نقل کړے شوی دی -

(۱۸) فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى ○ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ○ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى ○ (لیل ع ۱) | پس چا چه (د الله تعالیٰ په لار کښ مال) ورکړو او د الله تعالیٰ نه اُوویریدو او د ښے خبرے یے تصدیق اُوکړه، نو اسانی به کړو مونږ هغهٔ ته د اسانیٔ خیز د پاره -

فائده:- د اسانیٔ د خیز نه جنت مُراد دے، چه هر قسمه خوشالیٔ او اسانیٔ هلته حاصلے شی - بل مطلب دا دے چه د داسے اعمالو توفیق به هغهٔ ته ورکړو چه په هغے به هغه عملونه په اسانیٔ سره اُوشی، کوم چه جنت ته رسونکی وی - د اکثرو مُفسرینو نه نقل کړے شوی دی، چه دا آیت د حضرت ابوبکر صِدّیق رضی اللہ عنہ په شان کښ نازل شوے دے - د حضرت ابنِ عباس رضی اللہ عنہ نه نقل دے چه د ښے خبرے د تصدیق نه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ تصدیق مراد دے - حضرت ابوعبدالرحمٰن سُلمی رحمہ اللہ نه هم دا نقل کړے شوے دے، چه د ښے خبرے نه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مراد دے - حضرت امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ په روایت د ابوالزُّبیر رحمہ اللہ د حضرت جابر رضی اللہ عنہ نه نقل کړی دی چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم صَدَّقَ بِالْحُسْنٰى اُولوستهٔ، او ارشاد یے اُوفرمایهٔ چه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ تصدیق اُوکړی - او كَذَّبَ بِالْحُسْنٰى یے اُولوستهٔ او ارشاد یے اُوفرمایهٔ چه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ تکذیب (یعنی د دروغجنولے) اُوکړی

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱۹) مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ۚ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ○

(انعام - ع ۲)

څوک چه نیک کار کوی هغهٔ ته به (کم نه کم) لس حصے دثواب ورکیږی - او څوک چه بد کار اُوکړی، هغهٔ ته به د هغے برابره بدله ورکیږی او په دغے خلقو به ظلم نهٔ کیږی (چه څهٔ نیکی اُونهٔ لیکلے شی یا بدی زیاته اُولیکلے شی) -

فائده: - یوحدیث کښ راغلی دی چه کله ایتِ شریفه مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ نازل شو، نوچا عرض اُوکړهٔ، اے دالله رسوله! لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ هم نیکئ کښ داخله دهٔ - نبی اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمایهٔ چه دا خو ټولو نیکو کښ ډیره بهتره دهٔ - حضرت عبدالله بن عباس او حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنهما فرمائی چه حَسَنه نه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مراد دهٔ - حضرت ابوهریره رضی الله عنه غالبًا دنبی اکرم ﷺ نه نقل کوی چه حَسَنه نه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مراد دهٔ حضرت اَبُوذَر رضی الله عنه دنبی اکرم ﷺ نه نقل کړی دی، چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ خو ټولو نیکو کښ بهتره دهٔ - څنګه چه داتم نمبرایت دلاندے تیر شوی دی - حضرت اَبُوهُرَيْرَه رضی الله عنه فرمائی چه لس چنده ثواب دعوامو دپاره دے مُهاجرینو دپاره اُووهٔ سوه چنده پورے ثواب کیږی -

(۲۰) حٰمٓ ○ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ○ غَافِرِ الذَّنْۢبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِى الطَّوْلِ ۭ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ○

(غافر - ع ۱)

داکتاب نازل کړے شوے دے دالله تعالیٰ له طرفه چه زبردست دے، دهرڅیز پیژندونکے دے، دګناه بخښونکے دے، او دتوبے قبلوونکے دے سخته سزا ورکوونکے دے، قدرت (یا عطاء یعنی دورکړے) والا دے - دهغهٔ نه سوا څوک دعبادت لائق نشته. هم هغهٔ ته واپس ورتلهٔ دی -

فائده: - دحضرت عبدالله بن عُمر رضی الله عنه نه ددے ایتِ شریفه په تفسیر کښ نقل کړے شوی دی چه دګناه بخښونکے دے دهغے کس دپاره څوک چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وائی، او توبه قبلوونکے دے دهغے کس څوک چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وائی سخته سزا ورکوونکے دے هغے کس ته څوک چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ نهٔ وائی - ذی الطول معنیٰ غِنیٰ والا دے (یعنی غَنِی دے) لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ رَدْ دے دقریشو کافرانو باندے کوم چه دتوحید منونکی نهٔ وُو - او اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ معنیٰ هم دهغهٔ طرف ته واپس تلهٔ دی

د هغې کس، څوک چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وائي، دِے دپاره چه هغه جنت کښې داخل ړي. او هُم هغه طرفته واپس تلۀ دی د هغې کس چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ نۀ وائي، دِے دپاره چه هغه دوزخ کښې داخل کړي۔

(۲۱) فَمَنْ يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوْتِ وَيُؤْمِنْ بِاللّٰهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى لَا انْفِصَامَ لَهَا ط (بقره۔ ع ۳۴)

پس کوم کس چه د شیطان نه بد اِعتقاده شي (یعني اِنکار اُوکړي) او په اللّٰه تعالیٰ ایمان اُوړي نو هغهٔ لوئیه مضبوطه کړئ اُونیوله، چه د هغې هیڅ کله ماتیدل نشته۔

فائده:۔ حضرت ابن عباس رضی اللّٰه عنهما فرمائي چه عُرْوَةُ الْوُثْقٰى (مضبوطه کړئ) اُونیوله۔ یعني لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ یے اُوویله۔ د سُفیان رحمة اللّٰه علیه نه هم دا نقل ده چه د عُرْوَةُ الْوُثْقٰى نه مُراد کلمهٔ اِخلاص ده۔

تکمیل قُلْتُ وَقَدْ وَرَدَ فِيْ تَفْسِيْرِ اٰيَاتٍ عَدِيْدَةٍ اَيْضًا اَنَّ الْمُرَادَ بِبَعْضِ الْاَلْفَاظِ فِيْ هٰذِهِ الْاٰيَاتِ كَلِمَةُ التَّوْحِيْدِ عِنْدَ بَعْضِهِمْ فَقَدْ قَالَ الرَّاغِبُ فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى فِيْ قِصَّةِ زَكَرِيَّا مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ قِيْلَ كَلِمَةُ التَّوْحِيْدِ وَكَذَا قَالَ فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى اِنَّا عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ الْاٰيَةَ قِيْلَ هِيَ كَلِمَةُ التَّوْحِيْدِ وَاقْتَصَرْتُ عَلٰى مَا مَرَّ لِلْاِخْتِصَارِ

دویم فصل

(دے فصل کښې د هغې اېتونو ذکر دے کوموکښې چه کلمه طیبه ذکر کړے شوې ده په پروخا بونوکښې پوره کلمه ذکر ده، او چرته مختصره او چرته نور د الفاظو کښې بعینه د کلمے طیبے معنیٰ ذکر ده)، چه کلمه طیبه (د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ) معنیٰ ده د الله تعالیٰ نه سِوا هیڅوک د عبادت لائق نشته، هُم دا معنیٰ د مَا مِنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ده۔ چه د هغهٔ نه سِوا هیڅوک د عبادت لائق نشته۔ هُم دا معنیٰ د لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ده۔ او هم دا معنیٰ قریبه ده د لَا نَعْبُدُ اِلَّا اللّٰهَ چه مونږ د الله تعالیٰ نه سِوا د هیڅا عبادت نۀ کوو۔ او هم دا معنیٰ ده د لَا نَعْبُدُ اِلَّا اِيَّاهُ چه مونږ د هغهٔ نه سِواد هیچا عبادت نۀ کوو۔ دغسے د اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ معنیٰ ده د هغهٔ نه سِوا نشته چه معبود (یعني د عبادت لائق) هم هغه یو دے۔ دا رنګے نور اېتونه هم دي)

چه دهغے مفهوم (مَنشا) د کلمے طیبے د معنی په شان ده- دهغے ایتونو د سورتونو او د رکوع کانو حواله په دے وجه لیکلے شی چه د پوره ایت ترجمه خوك کتل غواړی نو د ترجمے قران شریف د خپل مخکښ کیږدی، په حوالو سره د اُوګوری- او حق خو دا دے چه ټول قران مجید د کلمے طیبے مفهوم دے، چه اصل مقصد د ټول قران مجید او د ټول دین هم توحید دے- د توحید د تعلیم د پاره مختلفو زمانو کښے مختلف انبیاء علیهم السلام رالیږلے شوی دی- توحید ټولو منو هبونوکښ یو شان دے او د توحید ثابتولو د پاره مختلف عنوانات اختیار کړے شوی دی، او هم دا مفهوم د کلمے طیبے دے-

(۱) وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ۝ (سورة بقره - ع ۱۹)
(۲) لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۝ (آل عمران - ع ۱) (۳) اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۝ (آل عمران - ع ۱) (۴) شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ (آل عمران - ع ۲) (۵) لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ (آل عمران - ع ۲) (۶) وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللّٰهُ ۚ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ (آل عمران - ع ۶) (۷) تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ (آل عمران - ع ۷) (۸) اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ (سورة نساء - ع ۱۱) (۹) وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ (سورة مائده - ع ۱۰) (۱۰) قُلْ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ (سورة انعام - ع ۲) (۱۱) مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِهٖ ۚ (سورة انعام - ع ۵) (۱۲) ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ (انعام - ع ۳) (۱۳) لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ۝ (انعام - ع ۱۳) (۱۴) قَالَ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْكُمْ اِلٰهًا (اعراف - ع ۱۶) (۱۵) لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ (اعراف - ع ۲۰) (۱۶) وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ (توبه - ع ۵) (۱۷) حَسْبِيَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ۝ (توبه - ع ۱۶) (۱۸) ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ۚ (یونس - ع ۱) (۱۹) فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ ۚ (یونس - ع ۴) (۲۰) قَالَ اٰمَنْتُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِيْٓ اٰمَنَتْ بِهٖ بَنُوْٓا اِسْرَآءِيْلَ وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝ (یونس - ع ۹) (۲۱) فَلَآ اَعْبُدُ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ (یونس - ع ۱۱) (۲۲) فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ اُنْزِلَ بِعِلْمِ اللّٰهِ وَاَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ (هود - ع ۲) (۲۳) اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ (هود - ع ۳) (۲۴-۲۵-۲۶) قَالَ يٰقَوْمِ

اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ط (هود - ع ۵، ۶، ۷) (۲۷) ءَاَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ
خَيْرٌ اَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ط (یوسف - ع ۵) (۲۸) اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ (یوسف ع ۵)
(۲۹) قُلْ هُوَ رَبِّيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ط (رعد - ع ۴) (۳۰) وَلِيَعْلَمُوْٓا اَنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ (ابراهیم
ع ۷) (۳۱) اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاتَّقُوْنِ ط (نحل ع ۱) (۳۲) اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ (نحل - ع ۳)
(۳۳) اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ط (نحل - ع ۷) (۳۴) وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ (بنی اسرائیل ع ۴)
(۳۵) قُلْ لَّوْ كَانَ مَعَهٗٓ اٰلِهَةٌ كَمَا يَقُوْلُوْنَ (بنی اسرائیل - ع ۵) (۳۶) فَقَالُوْا رَبُّنَا رَبُّ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَنْ نَّدْعُوَا۠ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلٰهًا (کهف - ع ۵) (۳۷) هٰٓؤُلَآءِ قَوْمُنَا
اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً (کهف - ع ۲) (۳۸) يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ
(کهف - ع ۱۲) (۳۹) وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ (مریم - ع ۲) (۴۰) اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا
هُوَ (طٰهٰ ع ۱) (۴۱) اِنَّنِيْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِيْ (طٰهٰ - ع ۱) (۴۲) اِنَّمَآ اِلٰهُكُمُ
اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ (طٰهٰ - ع ۵) (۴۳) لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ط
(انبیاء - ع ۲) (۴۴) اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ط (انبیاء - ع ۲) (۴۵) اِلَّا نُوْحِيْٓ اِلَيْهِ
اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا (انبیاء - ع ۲) (۴۶) اَمْ لَهُمْ اٰلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ مِّنْ دُوْنِنَا (انبیاء ع ۴)
(۴۷) اَفَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْــًٔا وَّلَا يَضُرُّكُمْ (انبیاء - ع ۵)
(۴۸) لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ (انبیاء - ع ۶) (۴۹) اِنَّمَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ
وَّاحِدٌ (انبیاء - ع ۷) (۵۰) فَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَلَهٗٓ اَسْلِمُوْا (حج - ع ۵) (۵۱، ۵۲)
اُعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ط (مؤمنون - ع ۲) (۵۳) وَمَا كَانَ مَعَهٗ مِنْ اِلٰهٍ
(مؤمنون - ع ۵) (۵۴) فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ (مؤمنون - ع ۶) (۵۵) وَ
مَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ (مؤمنون ع ۶)
(۵۶) ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ (پنځهٔ واره د سورة نمل پنځمه رکوع کښې راغلی دے). (۵۷) وَ
هُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ لَهُ الْحَمْدُ (قصص - ع ۷) (۵۸) مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِلَيْلٍ
(قصص - ع ۷) (۵۹) وَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ قف (قصص ع ۹) (۶۰)
وَاِلٰهُنَا وَاِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ (عنکبوت - ع ۵) (۶۱) لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ط (فاطر ع ۱)
(۶۲) اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ط (صٰفٰت - ع ۱) (۶۳) اِنَّهُمْ كَانُوْٓا اِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

له دغه د سورة قصص اُوومه رکوع کښې دا آیت هم راغلی دے مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِضِيَآءٍ ۱۲ ـ له د فضائل ذکر
کنرو نسخو کښې وَاِلٰهُنَا وَاِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ لیکلے شوے دے خو چه د کوم آیت حواله ورکړے شوے ده په هغے کښې د
اِلٰهُكُمْ نه پس اِلٰهٌ ورسره نشته ـ حُکه موږ دے دالفظ حذف کړو ۱۲ مترجم

Maktaba Tul Ishaat.com

يَسْتَكْبِرُوْنَ ۝ (صٰفّٰت-ع ۲) ۶۴ اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا (صٓ-ع ۱) ۶۵ وَمَا
مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ۝ (صٓ-ع ۵) ۶۶ هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ۝ (زمر-ع ۱)
۶۷ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ (زمر-ع ۱) ۶۸ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اِلَيْهِ
الْمَصِيْرُ ۝ (مومن-ع ۱) ۶۹ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ۝ (مومن-ع ۷) ۷۰
هُوَ الْحَيُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ (مومن-ع ۷) ۷۱ يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ
وَّاحِدٌ (حٰمٓ سجده-ع ۱) ۷۲ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ (حٰمٓ سجده-ع ۲) ۷۳ اَللّٰهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ
(شورٰى-ع ۲) ۷۴ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا (دخان-ع ۱) ۷۵ اَجَعَلْنَا
مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً يُّعْبَدُوْنَ ۝ (زخرف-ع ۴) ۷۶ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ
(دخان-ع ۱) ۷۷ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ (احقاف-ع ۳) ۷۸ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ
(محمد-ع ۲) ۷۹ وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ (ذاريات-ع ۳) ۸۰ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ
لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ (حشر-ع ۳) ۸۱ اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ
(ممتحنه-ع ۱) ۸۲ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ (تغابن-ع ۲) ۸۳ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ
لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ (مزمل-ع ۱) ۸۴ لَآ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ
(سورة كافرون) ۸۵ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ (سورة اخلاص)

دا پنځه آتیا ایتونه دی کوم کښې چه کلمه طیبه یا د دې مضمون راغلے دے، له دې نه علاوه نور ایتونه هم ډیر موجود دی، په کوم کښې چه د دے کلمے طیبې معنیٰ او مفهوم راغلے دے - اوځنګه چه ما د دے فصل په شروع کښې لیکلی دی چه هُم توحید اصل دین دے - په دې وجه څومره چه په دیکښې شوق محبت سړے مشغولیدل وی، دین کښې به پوخوالے پیدا کیږی - ځکه یې دا مضمون په مختلفو عبارتونو کښې په مختلفو طریقو ذکر کړے دے چه د زړه په مینځ کښې کوشی اودننه زړه کښې پوخ شی او زړه کښې د الله تعالیٰ نه د ما سِوا هیڅ ځائې باقی پاتے نه شی۔

دریم فصل

(دے فصل) کښې د هغې حدیثونو ذکر دے کوم کښې چه د کلمے طیبې ترغیب او فضائل ذکر کړے شوی دی - دې مضمون کښې چه هر کله ایتونه دومره ډیر ذکر کړے شوی دی، نو حدیثونو به څهٔ وایے - د ټولو راجمع کول ګران دی - په

دے وجه څو حدیثونه په طور د نمونے ذکر کولے شی۔

(۱) عَنْ جَابِرٍ رضی اللہ عنہ عَنِ النَّبِیِّ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَ اَفْضَلُ الذِّکْرِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَفْضَلُ الدُّعَآءِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ۔ (کذا فی المشکوٰۃ بروایۃ الترمذی وابن ماجۃ وقال المنذری رواہ ابن ماجۃ والنسائی وابن حبان فی صحیحہ والحاکم کلھم من طریق طلحۃ بن خراش عنہ وقال الحاکم صحیح الاسناد وقلت رواہ الحاکم بسندین وصححہما واقرہ علیہما الذہبی وکذا رقم لہ بالصحۃ السیوطی فی الجامع)

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد دے چه ټولو ذکرونو کښ بهتر لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دے او ټولو دُعاګانو کښ بهتره اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ده۔

فائده:- لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَفْضَلُ الذِّکْر کیدل خو ښکاره ده، او ډیر حدیثونو کښ په کثرت سره راغلے ده۔ دغه شان د ټول دین دارومدار په کلمهٔ توحید دے نو بیا دے افضل کیدلو کښ څهٔ شک او شُبَه ده۔ او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ته یے افضله دُعا په دے لحاظ فرمائیلے ده چه د کریم (سخی) د تعریف مطلب هم سوال وی۔ عام مُشاهَده ده (یعنی لیدلے کتلے خبره ده) چه د چا رئیس، امیر، نواب تعریف کښ د قصیدے ویلو مطلب هم د هغهٔ نه سوال وی۔

حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ فرمائی چه څوک لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اُووائی، دے نه پس هغهٔ ته اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ هُم ویل پکار دی ځکه چه قرآن شریف کښ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ راغلے دے۔ مُلّا علی قاری رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه په دے کښ ذرّه هم شک نشته چه ټولو ذکرونو کښ بهتر او د ټولو نه زیات اوچت ذکر کلمه طیّبه ده، چه هم دا د دین هغه بُنیاد دے په کوم باندے چه د ټول دین تعمیر دے۔ او دا هغه پاکه کلمه ده چه د دین میچن د دے نه ګیر چاپیره ګرزی۔ په دے وجه صوفیان او عارفین د دے کلمے طیّبے اهتمام (کوشش) کوی، او ټولو ذکرونو کښ دا غوره ګڼړی، او هم د دے چه څومره ممکنه وی ډیر والے کوی، چه د تجربے نه د دے کښ څومره ډیرے فائدے او نفعے معلوے شوی دی بله کلمه کښ نشته۔ لکه:-

د سیّد علی بن مَیمُون مغربی رحمۃ اللہ علیہ قصه مشهوره ده چه هر کله شیخ عُلوان حَموی رحمۃ اللہ علیہ کوم چه یو مُتبحّر (ډیر اوچت) عالِم او مُفتی او مُدرِّس وو، د سیّد صاحب خدمت کښ حاضر شو، او د سیّد صاحب په هغهٔ خصوصی توجُه اوشوه

Maktaba Tul Ishaat.com

نو هغه یې دتهولو مَشاغِلو درس او تدریس، فتوٰی وغیره نه منع کړو- او ټول وخت یې درله په ذکر کښې مشغول کړو- دعوامو خوکار اعتراض او کنځل کول دي خلقو ډیر شور جوړ کړو، چه دشیخ دفائدو نه یې دُنیا محرومه کړه، او شیخ یې ضائع کړو وغیره وغیره- څهٔ ورځې پس سیّد صاحب ته معلومه شوه چه شیخ څهٔ وخت دقرآن شریف تلاوت کوی، سیّد صاحب دهغې نه هم منع کړو- نو بیا خوڅهٔ تپوس کوے؟ په سیّد صاحب دزِندیقیٔ (مُلحِد) او دبے دینیٔ اِلزام اُولګید ځ، څو ورځې پس په شیخ دذکر اثر اُوشو، اَوزړهٔ یې رڼړ شو، نو سیّد صاحب ورته اُوفرمایل چه اُوس تلاوت شروع کړه- قرآن شریف چه یې پرانستو، نو په هر یو لفظ باندے ورته هغه هغه عُلوم اومَعَارِف ښکاره شول، چه څهٔ په وایے- سیّد صاحب ورته اُوفرمایل، چه ما الله مهٔ کړه تلاوت منع کړے نهٔ ؤو، بلکه داخیز م پیدا کول غوختل-

چونکه دا پاکه کلِمه ددین اصل دے، دایمان جرړه ده- په دے وجه څومره چه ددے ډیر ولے اُوکړے شي، هغومره به دایمان جرړه مضبوطه شي- دایمان دارومدار هم په دے کلمه دے، بلکه ددُنیا دوجود دارومدار هم په دے کلمه دے- لکه صحیح حدیث کښې راغلي دي، چه قیامت به تر هغې وخته پورے نهٔ قائمیږي، ترڅو چه څوك لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله ویُونکے په زمکه موجود وي- په نورو حدیثونو کښې راغلي دي، ترڅو چه څوك اَللهُ اَللهُ ویُونکے دزمکې په مخ موجود وي، قیامت به نهٔ راځي-

(۲) عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم اَنَّهٗ قَالَ قَالَ مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ يَارَبِّ عَلِّمْنِيْ شَيْئًا اَذْكُرُكَ بِهٖ وَاَدْعُوْكَ بِهٖ قَالَ قُلْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ قَالَ يَارَبِّ كُلُّ عِبَادِكَ يَقُوْلُ هٰذَا قَالَ قُلْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ قَالَ اِنَّمَآ اُرِيْدُ شَيْئًا تَخُصُّنِيْ بِهٖ

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد دے چه یو وارے حضرت موسٰی علیه السلام دالله جل جلاله پاك دربار کښې عرض اُوکړو، چه ماته څهٔ وظیفه اُوښایه، چه په هغې زهٔ تا یاد وُم، اَو تا پرے بلم- دالله تعالیٰ اِرشاد اُوشو، چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وایه- دهٔ عرض اُوکړهٔ، اے پرورد ګاره! داخو ټوله دُنیا وائي- اِرشاد اُوشو، چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وایه- عرض یې اُوکړهٔ- زما ربه! زهٔ

قَالَ يٰمُوْسٰى لَوْاَنَّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعَ وَالْاَرَضِيْنَ السَّبْعَ فِيْ كَفَّةٍ وَّلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فِيْ كَفَّةٍ مَّالَتْ بِهِمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ۔

خوداسے مخصوص څیز غواړم چه بس ما ته رالکړے شي۔ اِرشاد اُوشو، که چرے اُوۀ اسمانونه او اُوۀ زمکے (د ټولے) یو پلړی کښ کیخودلے شي، او بل طرف ته لا اله الا الله کیخودلے شي نو دَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ والا پلړے به درونده شي۔

(رواه النسائي وابن حبان والحاكم كلهم من طريق دراج عن ابي الهيثم عنه وقال الحاكم صحيح الاسناد كذا في الترغيب قلت قال الحاكم صحيح الاسناد ولم يخرجاه واقره عليه الذهبي واخرج في المشكوة برواية شرح السنه نحوه زاد في منتخب الكنز ابا يعلى والحكيم وابانعيم في الحلية والبيهقي في الاسماء وسعيد بن منصور في سننه وفي مجمع الزوائد رواه ابويعلى ورجاله وثقوا وفيهم ضعف)

فائده:- دالله تعالیٰ عادتِ شریفه دادے چه کوم څیز څومره قدرے دضرورت وی هغومره یے عام ورکوی۔ دُنیوی ضرورتونو کښ اُوګورئ چه ساه اُوبهٔ، هوا څومره عام دضرورت څیزونه دی، الله جل جلاله دا څومره عام کړی دی۔ البته داضروری څیز دے چه دالله تعالیٰ په نزد وزن داخلاص دے۔ څومره قدرے چه په اخلاص یو کار اُوکړے شي، هغومره به وزنی (اودرونده) وی۔ او څومره قدرے چه داخلاص کمے وی او ناخوالئ سره اُوکړے شي هغومره به سپک وی۔ اخلاص پیدا کولو دپاره هم چه څومره قدرے فائده مند دے کلمه ډیره والے دے هغومره بل څیز نشته، چه ددے کلمے نوم جِلَآءُ الْقُلُوْب (د زړونو صفائی) دے۔ هم په دے وجه حضرات صُوفیه ددے وظیفه ډیره ډیره ښائی۔ او په سلونو نه بلکه د زرګونو په مقدار کښ د روزانه معمول تجویز کوی۔

مُلّا علی قاری رحمة الله علیه فرمائی چه یو مُرید خپل شیخ ته عرض اُوکړهٔ چه زهٔ ذِکر کوم خو زړهٔ م غافله وی۔ هغوی ورته اُوفرمایل چه ذِکر برابر کوه، او په دِے د الله تعالیٰ شکر کوه چه هغهٔ یو اندام یعنی ژبے ته دخپل یاد توفیق ورکړهٔ۔ او الله تعالیٰ نه زړهٔ د توجُه دپاره دُعا کوه۔ ددے قسمه واقعه اِحیَاءُ الْعُلُوم کښ هم دابوعُثمان مَغربی رحمة الله علیه متعلق نقل کړے شوے ده، چه هغهٔ ته یو مُرید شکایت کړے وُو چه په هغے یے ورله داجواب ورکړے وُو۔ په حقیقت کښ بهترینه نسخه ده۔ قرآن شریف کښ اِرشاد دے، که چرے تاسو شکر کوئ، نو زهٔ به په کښ زیادت کوم۔ یو

Maktaba Tul Ishaat.com

حدیث کښې راغلي دي چه د الله تعالیٰ ذکر دهغهٔ لوئ نعمت دے، ددے شکر ادا کوئ چه الله تعالیٰ د ذکر توفیق درکړهٔ۔

(۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه قَالَ قُلْتُ یَا رَسُوْلَ اللهِ مَنْ اَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِكَ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم لَقَدْ ظَنَنْتُ یَا اَبَا هُرَیْرَةَ اَنْ لَّا یَسْئَلَنِیْ عَنْ هٰذَا الْحَدِیْثِ اَحَدٌ اَوَّلُ مِنْكَ لِمَا رَاَیْتُ مِنْ حِرْصِكَ عَلَی الْحَدِیْثِ اَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِیْ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ خَالِصًا مِّنْ قَلْبِهٖ اَوْ نَفْسِهٖ

حضرت ابوهریره رضی الله عنه یو وارے د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اُوکړه چه ستا سو شفاعت دټولو نه زیات فائدهٔ اُوچتونکے به د قیامت په وُرځ څوك وي؟ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اُوفرمایهٔ، چه په حدیثونو ستا حرص اُولیدهٔ نو دا مې ګمان وو چه ددے خبرے به تا نه وړاندے بل څوك تپوس نهٔ کوي (بیا نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د سوال جواب ورکړو) چه د ټولو نه زیات سعادتمند او فائدهٔ اُوچتونکے زما شفاعت نه به هغه کس وي چه د زړهٔ په اخلاص سره لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وائي۔

(رواه البخاری وقد اخرجه الحاکم بمعناه وذکر صاحب بهجة النفوس فی الحدیث اربعًا وثلثین بحثا)

فائده:- سعادت د الله تعالیٰ هغے توفیق ته وائي چه د بنده خیر طرف ته د رسولو سبب اُوګرزي۔ اُوس په اخلاص سره د کلمے طیّبے وئیونکو د ټولو نه زیات د شفاعت حقدار کیدو دوه مطلبه کیدے شي۔ یو خو دا چه ددے حدیث نه هغه کس مراد دے چه اخلاص سره مسلمان شوے وي۔ او بل هیڅ نیك عمل سوا د کلمے طیّبے ویلو هغهٔ سره نهٔ وي، دے حالت کښې ښکاره دهٔ، چه د ټولو نه زیات سعادت دهٔ ته شفاعت سره حاصلیدے شي، چه خپل ورځنه خوځهٔ عمل نشته۔ ددے مطلب موافق دا حدیث د هغے حدیثونو نزدے به شي، کوم کښې چه ارشاد دے چه زما شفاعت زما د اُمت کبیره (لویو) ګناهونو والو د پاره دے چه هغوي به د خپلو عملونو په وجه دوزخ کښې اچولے شي۔ خود کلمے طیّبے له برکته د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم شفاعت به هغوي ته نصیب شي۔ دویم مطلب دا دے چه ددے حقدار هغه خلق دي چه په اخلاص ددے کلمے وظیفه کوي۔ او نیك عملونه کوي، د هغوي د ټولو نه زیات سعادت مند کیدو مطلب

دا دے چه زیاته فائده به د نبی اکرم ﷺ د شفاعت نه دوی ته رسی، چه د درجو د ترقئ سبب به یے جوړیږی۔

علامه عینی رحمه الله لیکلی دی چه د نبی اکرم ﷺ شفاعت به د قیامت په ورځ په شپږو طریقو وی۔

اول به د میدانِ حشر د قید نه د خلاصئ وی چه حشر کښ به ټول مخلوق قسما قسم مصیبتونو کښ پریشان حاله وی۔ دا به وائی چه مونږ د دوزخ کښ وا چولے شُو، خو چه د دے مصیبتونو نه خلاص شُو۔ دغه وخت به د لوئ مرتبے نبیانو په خدمت کښ وار په وار حاضری اُوشی، چه تاسو الله تعالیٰ ته زمونږ سفارش اُوکړئ، خو د هیچا به طاقت نه وی چه سفارش اُوکړی۔ په آخِر کښ به نبی اکرم ﷺ سفارش اُوکړی۔ دا سفارش به د ټول عالَم، د ټول مخلوق، پیریانو او انسانانو، مسلمانانو او کافرانو ټولو په حق کښ وی، او ټول به له دے نه فائده واخلی۔ د قیامت باره کښ چه کوم حدیثونه دی، په هغے کښ د دے تفصیلی قِصه ذکر ده۔

دویم شفاعت د بعضِ کافرانو په حق کښ د کموالی د عذاب به وی لکه چه د "اَبُوطَالِب" باره کښ صحیح حدیث کښ راغلی دی۔

دریم شفاعت به د بعضِ مؤمنانو د پاره د دوزخ نه د وتلو باره کښ وی کوم چه هغے کښ داخل شوی وی۔

څلورم بعضِ مؤمنان چه د خپلو بدو عملونو په وجه د دوزخ کښ د داخلیدو مستحق شوی دی، د هغوی د دوزخ نه د مُعافئ او د دوزخ ته د نه تلو باره کښ به وی۔

پنځم شفاعت د بعضو مؤمنانو بے حسابه بے کتابه جنت کښ د داخلیدو به وی۔

شپږم شفاعت به د مؤمنانو درجے اوچتولو باره کښ وی۔

(۲) عَنْ زَيْدِ بْنِ اَرْقَمَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ

حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه د نبی اکرم ﷺ نه نقل کوی چه څوک په اخلاص سره لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اُووائی هغه به جنت

Maktaba Tul Ishaat.com

مُخْلِصًا دَخَلَ الْجَنَّةَ قِيْلَ وَمَا إِخْلَاصُهَا قَالَ اَنْ تَحْجُزَهُ عَنْ مَحَارِمِ اللّٰهِ (رواه الطبرانی فی الاوسط والکبیر)

کښې داخل شي چا تپوس اُوکړهٔ، چه د کلمے داخلاص نښه څۀ ده؟ نبی علیه الصلوٰة والسلام اُوفرمايل، چه د حرام کارونو نه هغه منع کړی۔

فائده: اود اښکاره خبره ده چه کله د حرام کارونو نه منع شي اود لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ د یونکے شي، نو ددهٔ نيغ جنت ته تلو کښې څهٔ شک دے، خو که چرے د حرام کارونو نه منع هم نشي، بيا هم دے پاکه کلمه کښې دا برکت خو بے شکه دے چه د خپلو بدو عملونو سزا خوړلو نه پس به څهٔ نه څهٔ وخت جنت کښې ضرور داخلیږی۔ البته که چرے الله مکړه، دبدو عملونو په وجه د اسلام او ايمان نه محرومه شي، نو دا بله خبره ده۔

حضرت فقيه ابو الليث سمرقندی رحمة الله عليه تَنْبِيْهُ الْغَافِلِيْن کښې ليکی، هر چا د پاره ضروری ده چه ډیر په کثرت سره لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وائی، او د الله جل شانهٔ نه د ايمان پاتے کيدو دُعا هم کوی، او خپل ځان دګناهونو نه ساتی، ځکه چه ډير خلق داسے دی چه دګناهونو د سپيرهٔ والی په وجه آخيره کښې ترے ايمان لاړ شي او له دُنيا نه دکفر په حالت کښې ځی، دے نه به زيات نور څهٔ مصيبت وی، چه ديوکس نوم ټول عُمر د مسلمانانو په فهرست کښې پاتے شوے وی، خو قيامت کښې هغه د کافرانو په فهرست کښې شي۔ دا حقيقی افسوس او کمالِ افسوس دے۔ په هغے چا افسوس نه کيږی، چه ګرجا يا بت خانه کښې هميشه پاتے شوے وی، او هغه د کافرانو په فهرست کښې آخير کښې شمار کړے شي۔ افسوس خو په هغے چا دے چه جُوك جُمات کښې پاتے شوے وی او کافرو کښې شمار کړے شي، او دا خبره دګناهونو د ډيروالی او يوا ځوالی کښې حرامو کارونو کولو سره پيدا کيږی۔ ډير خلق داسے وی چه هغوی څخه دنورو خلقو مالونه وی، او هغوی دا ګنړی چه دا دنورو دے، خو زړهٔ نه وائی چه څهٔ وخت به يے ورته واپس کړم، او چه دچا حق دے دهغهٔ نه به يے معاف کړم، خو دا نوبت را نشي او مرګ ورته ددے نه وړاندے راشي۔ ډير خلق داسے دی چه ښځه پر طلاقه شي او ښهٔ پرے پوهه وی، خو بيا هم ورسره کوروالے کوی، او هم په دے حالت

کښې ورته مرګ راشي، چه د توبې توفيق ورته اُونه شي۔ په داسې حالتونو کښې اخير کښې ايمان ترې واخستلے شي۔ اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنْهُ۔

د حديث په کتابونو کښې يوه قصه ليکلې ده، چه د نبي اکرم ﷺ په زمانه کښې يو ځوان مرګيدو، نبي عليه الصلوٰة والسلام ته عرض اُوکړے شو، چه هغه کلمه نشي ويلے۔ نبي اکرم ﷺ تشريف يوړه، او پوښتنه يې ترې اُوکړه، چه ولے، څۀ خبره ده؟ عرض يې اُوکړه چه اَے د الله رسوله! يوه جندره غوندے م په زړۀ لګيدلے ده، چه د حالاتو تحقيق يې اُوکړه، معلومه شوه چه مور ترې ناراضه ده۔ او مور ته يې تکليف رسولے دے۔ نبي اکرم ﷺ يې مور راُوغوختله او پوښتنه يې ترې اُوکړه، که چرے خوك ډير اُور بل کړي، او ستا ځوئ پکښې اَچوي، نو ته به يې سفارش اُوکړے؟ هغې عرض اُوکړه چه آو، د الله رسوله! کوم به۔ نو نبي اکرم ﷺ اُفرمايل، چه هر کله داسے ده، نو د دۀ قصور معاف کړه۔ هغې ټول هر څۀ معاف کړل، بيا چه ورته د کلمے ويلو وينا اُوشوه، نو زر يې اُوويله۔ نبي اکرم ﷺ د الله تعالىٰ شکر ادا کړۀ چه زما په وجه يې د اور نه خلاصے بيا مونده۔ د دے قسمه په سوونو واقعات پيښيږي چه مونږ خلق په داسے ګناهونو کښې اخته اُوسيږو، چه د هغې سپيرۀ والے دين او دُنيا دواړو ته نقصان رسوي۔

صاحب د احياء ليکلي دي چه يو ځلې نبي اکرم ﷺ خطبه اُوويله، چه په هغې کښې يې ارشاد اُوفرمايۀ، چه خوك لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ داسے اُووائي، چه کډ وډ ورسره نۀ وي، نو هغۀ د پاره جنت واجبيږي۔ حضرت علي کرم الله وجهه عرض اُوکړه چه اَے د الله رسوله! دا خبره صفا کړئ، چه د کډ وډ ئې څۀ مطلب دے؟ ارشاد يې اُوفرمايۀ چه د دُنيا محبت او د دے په طلب کښې لګيدل۔ ډير خلق داسے دي، چه د پيغمبرانو په شان خبرے کوي، او د کبرجنو او جابرو خلقو په شان عمل کوي۔ که چرے خوك دا کلمه د دے رنګ اُووائي، چه دا کارونه نۀ کوي نو جنت د هغۀ د پاره واجب دے۔

⑤ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ

د نبي اکرم ﷺ ارشاد دے چه خوك بنده داسے نشته چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اُووائي او

Maktaba Tul Ishaat.com

مَا قَالَ عَبْدٌ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اِلَّا فُتِحَتْ لَهٗ اَبْوَابُ السَّمَآءِ حَتّٰی يُفْضِیَ اِلَی الْعَرْشِ مَا اجْتُنِبَ الْكَبَائِرَ۔

هغهٔ دپاره دا سمانونو دروازے لرے نهٔ شي، ترد ے چه دا کلمه نیغه عرش پورے رسی، په شرط د دے، چه کبیره (لویو) گناهونو نه ځان ساتی۔

(رواه الترمذی وقال حدیث حسن غریب کذا فی الترغیب وهٰکذا فی المشکوٰة لکن لیس فیها حسن بل غریب فقط قال القاری ورواه النسائی وابن حبان وعزاه السیوطی فی الجامع الی الترمذی ورقم له بالحسن وحکاه السیوطی فی الدر من طریق ابن مردویه عن ابی هریرة ولیس فیه مَا اجْتُنِبَ الْكَبَائِرَ وفی الجامع الصغیر بروایة الطبرانی عن معقل بن یسار لکل شیء مفتاح ومفتاح السمٰوٰت قول لا اله الا الله ورقم له بالضعف)۔

فائده: خومره لوئ فضیلت دے او د قبلیدو انتهاء ده چه دا کلمه نیغه عرش معلیٰ پورے رسی، او دا د رته دا د ے اُوس معلومه شوے ده، که چرے کبیره گناهونو سره هم اُوویلے شي، نو فائد ے نه دغه وخت هم خالی نهٔ ده۔

مُلّا علی قاری رحمة الله علیه فرمائی چه د کبائرونه د بچ کیدو شرط د زر قبلیدو او د اسمان د ټولو دروازو پرانستیدو په اعتبار سره دے، گنی ثواب او قبلیدل لویو گناهونو سره هم کیږی. بعضے عالمانو د دے حدیث دا مطلب بیان کړیدے چه د دا سے کس د پاره به د مرګ نه پس د هغهٔ د رُوح په اعزاز کښ د اسمان ټولے دروازے پرانستلے شي۔

یو حدیث کښ راغلی دی، دوه کلمے دا سے دی چه د هغے نه یوے د پاره د عرش نه لاندے هیڅ مُنتها نشته، دویمه به اسمان او زمکه (دخپل نُور یا د خپل ثواب نه) ډک کړی، یوه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دویمه اَللّٰهُ اَكْبَرُ ده۔

⑥ **عَنْ** يَعْلَی بْنِ شَدَّادٍ قَالَ حَدَّثَنِیْ اَبِیْ شَدَّادُ بْنُ اَوْسٍ وَّعُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ رضی الله عنه حَاضِرٌ يُّصَدِّقُ قَالَ كُنَّا

حضرت شداد رضی الله عنه فرمائی او حضرت عبادة رضی الله عنه د دے واقعے تصدیق کوی، چه یو ځلے مونږ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم خدمت کښ حاضر وُو، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم پوښتنه اُوکړه، څولک

پهٔ دا حدیث حضرت شیخ په حواله د ترغیب او مشکوٰة رانقل کړے دے خو دا رد کښ اِلَّا اللّٰهُ نه پس مُخْلِصًا نقل شته، خو ترغیب کښ فقط په مُخْلِصًا مقدّم دے۔ دا رنگے مشکوٰة کښ مَا اجْتُنِبَ دے، او ترغیب کښ مَا اجْتُنِبَتْ۔ او بل فرق حضرت شیخ په عربی عبارت کښ خودلے دے چه ترغیب کښ حَسَنٌ غَرِيْبٌ دے او مشکوٰة کښ صرف غریب دے، حَسَن ورسره نشته ۱۲ شفیق

عِنْدَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَلْ فِیْکُمْ غَرِیْبٌ یَعْنِیْ اَهْلَ الْکِتٰبِ قُلْنَا لَا یَا رَسُوْلَ اللّٰہِ فَاَمَرَ بِغَلْقِ الْاَبْوَابِ وَقَالَ ارْفَعُوْا اَیْدِیَکُمْ وَقُوْلُوْا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰہُ فَرَفَعْنَا اَیْدِیَنَا سَاعَةً ثُمَّ قَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ اَللّٰهُمَّ اِنَّکَ بَعَثْتَنِیْ بِهٰذِهِ الْکَلِمَةِ وَوَعَدْتَنِیْ عَلَیْهَا الْجَنَّةَ وَاَنْتَ لَا تُخْلِفُ الْمِیْعَادَ ثُمَّ قَالَ اَبْشِرُوْا فَاِنَّ اللّٰہَ قَدْ غَفَرَ لَکُمْ

(رواہ احمد باسناد حسن والطبرانی

نا اشنا (غیر مسلم) خو څوک کښې نشته؟ مونږ ورته عرض اُوکړو هیڅوک نشته. ارشاد یې اُوفرمایو، دروازه بنده کړئ. دے نه پس یې ارشاد اُوفرمایو، لاسونه اُوچت کړئ، او اُووایئ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰہُ. مونږ لږ ساعت لاسونه اُوچت کړی وُو (کلمه طیبه مو ووئیله) بیا یې اُوفرمایل، اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ. اے الله! تا زهٔ دِ دے کلمے سره رالیږلے یم. او په دے کلمه دِ د جنت وعده کړے ده، او ته وعده خلاف نهٔ یې. دِ دے نه پس نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم مونږ ته اُوفرمایل، خوشاله شئ الله تعالیٰ ستاسو بخښنه اُوکړه.

وغیرهما کذا فی الترغیب قلت واخرجه الحاکم وقال اسمٰعیل ابن عیاش احد ائمة اهل الشام و قد نسب الی سوء الحفظ وانا علی شرطی فی امثاله وقال الذهبی راشد ضعفه الدارقطنی وغیره ووثقه رحیم آه وفی مجمع الزوائد رواه احمد والطبرانی والبزار ورجال موثقون آه)

فائده: غالباً د نا اشنا پے ځکه پوښتنه اُوکړه، او دے د پاره یې دروازه بنده کړے وه، چه د دے خلقو د کلمے طیبے په وینا خو نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ته د بخښنے د زیری اُمید وُو، د نورو په باره کښې دا اُمید نهٔ وُو. صوفیا نو د دے حدیث نه د مشائخو خپلو مریدانو ډلے ته د ذکر تلقین باندے دلیل اخستے دے، لکه چه جامع الاصول کښې لیکلی دی، چه د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم صحابو ته په کنړه او ځان له د ذکر تلقین کول ثابت دی. ډلے ته تلقین کولو کښې یې دا حدیث پیش کړے دے. دِ دے حالت کښې دروازه بندول د فائده اخستونکو د پوره متوجه کولو په غرض سره وُو، او هم په دِ دے وجه یې د نا اشنا پوښتنه اُوکړه، اګرچه د پردی سړی په ډله کښې موجودګئ د نبی علیه الصلوٰة والسلام په توجه کښې خو فرق نهٔ راوستلو، خو د فائده اخستونکو په توجه کښې د فرق راتللو احتمال وُو. سه

چه خوش است باتو بزمی بنهفته ساز کردن ٭ درِ خانه بند کردن سرِ شیشه باز کردن

Maktaba Tul Ishaat.com

خومره رمزے څیز دے تاسو پټ ساز کوِل ؛ دکور دروازه بنده ول او دبوتل خوله پرانستل

⑦ عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم جَدِّدُوْا اِيْمَانَكُمْ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَكَيْفَ نُجَدِّدُ اِيْمَانَنَا قَالَ اَكْثِرُوْا مِنْ قَوْلِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ

نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد فرمایلے دے، چه د خپل ایمان تجدید کوئ یعنی تازه کوئ۔ صحابو رضی اللہ عنہم عرض اُوکړه، اے دالله رسوله! د ایمان تجدید څنګه کوُو؟ دِے فرمایل چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ډیر ډیر وایئ۔

(رواه احمد والطبرانی واسناد احمد حسن كذا فی الترغیب قلت ورواه الحاكم فی صحیحه وقال صحیح الاسناد وقال الذهبی صدقة (الراوی) ضعفوه قلت هو من رواة ابی داؤد والترمذی واخرج له البخاری فی الادب المفرد وقال فی التقریب صدوق له اوهام وذكره السیوطی فی الجامع الصغیر بروایة احمد والحاكم ورقم له بالصحة وفی مجمع الزوائد رواه احمد واسناده جید وفی موضع آخر رواه احمد والطبرانی ورجال احمد ثقات)

فائده: یو روایت کښ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد راغلے دے، چه ایمان زړیږی څنګه چه جامه زړیږی۔ دِے دپاره دالله جل شانه نه د ایمان تازګی غواړئ۔ د زړیدو مطلب دادے چه په ګناهونو سره د ایمان قوّت او د ایمان رڼرا ځی۔ لکه یو حدیث کښ راغلی دی چه کله بنده څه ګناه اُوکړی، نو یو تور داغ یے په زړه اُولګی۔ که چرے رښتنے توبه اُوباسی، نو هغه داغ اُو وینځلے شی ګنی مضبوط شی۔ او بیا چه کله دویمه ګناه اُوکړی، نو دویم داغ پرے اُولګی۔ دا رنګے اخر زړه بیخی تک تور شی، او زنګ اُونیسی، کوم چه الله جل جلاله په سورة تطفیف کښ ارشاد فرمایلے دے، كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ط دِے نه پس دهغه د زړه حالت داسے شی چه حقه خبره پرے اَثر نه کوی۔ اَو نه یے په زړه کښ ننوزی۔

یو حدیث کښ راغلی دی چه څلور څیزونه دسړی زړه برباد وی ① د ◆ ـ عقلو سره مقابله ② د ګناهونو ډیر والے ③ د زنانو سره ډیر ناسته پاسته ◆ ④ او مړو خلقو څخه ډیره ناسته۔ چا تپوس اُوکړه، د مړو نه څه مراد دے؟ ◆ دِے فرمایل هر هغه مالدار چا کښ چه مال لوبی پیدا کړی وی۔

⑧ عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم اَكْثِرُوْا

د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد دے چه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اقرار ډیر ډیر کوئ، پخواله دے نه چه داسے

مِنْ شَهَادَةِ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ قَبْلَ اَنْ يُّحَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهَا | وخت راشي چه تاسو دا کلمه نهٔ شئ ويلے۔

(رواه ابويعلٰى باسناد جيد قوي كذا في الترغيب وعزاه في الجامع الى ابي يعلٰى وابن عدى في الكامل ورقم له بالضعف وزاد لقنوها موتاكم وفي مجمع الزوائد رواه ابويعلٰى ورجاله رجال الصحيح غير ضمام وهو ثقة)

فائده: يعنى مرګ ته ترمينځه راشي چه دهغے نه پس بيا دهيڅ عمل وخت نهٔ پاتے کيږي. د ژوند زمانه ډيره لږه ده، او هم دا دعمل کولو او د تخم کرلو وخت دے. او د مرګ نه پس زمانه ډيره لويه ده، او هلته به هغه څهٔ ريبي، کوم يے چه دلته کرلے وي.

⑨ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنِّيْ لَاَعْلَمُ كَلِمَةً لَّا يَقُوْلُهَا عَبْدٌ حَقًّا مِّنْ قَلْبِهٖ فَيَمُوْتُ عَلٰى ذٰلِكَ اِلَّا حُرِّمَ عَلَى النَّارِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ۔ | دنبي اکرم صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارک دے، چه زهٔ يوه داسے کلمه پيژنم چه هيڅوک بنده داسے نشته چه په زړهٔ يے حقه اُوکنړي او ووائي، او په دے حالت کښ مړشي نو هغه به په دوزخ حرام شي. هغه کلمه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ده۔

(رواه الحاكم وقال صحيح على شرطهما ورَوَيَاه بنحوه كذا في الترغيب)

فائده: ډيرو روايتونوکښ دا مضمون راغلے دے، دغے تولو نه کچرے دا مُرادوي، چه هغه هم دغه وخت مسلمان شوے وي، نو بيا خو په کښ څهٔ شک نشته چه اسلام راوړلو نه پس دکُفرګناه بالاِتِّفاق معاف ده. او کچرے دا مرادوي چه د روميے نه مسلمان وُو او په اخلاص يے دا کلمه اُوويله مړشو، بيا هم کيدے شي چه الله جل شانهٗ يے په خپله مهربانئ سره ټول ګناهونه معاف کړي. د الله تعالٰى خو په خپله ارشاد دے، چه دشِرک نه بغير ټول ګناهونه چه دچا اُوغواړي معاف به يے کړي. مُلاعلى قاري رحمه الله دبعضو عالمانو نه دا هم نقل کړے دے چه دا او ددے قسمه حديثونه دهغے وخت دپاره وُو، ترکومے چه نور حکمونه لا نازل شوي نهٔ وُو. څنو عالمانو ويلي دي چه ددے نه مراد دغه کلمه دحق ادا کولو سره ويل دي، څنګه چه رومبے څلورم نمبر حديث کښ تيرشوي دي د حضرت حسن بصرى رحمه الله عليه وغيره حضراتو هُم دغه رائے ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

دامام بخاری رحمة الله علیه تحقیق دادے چه په پښیمانتیا یے داکلمه ویلې وی، چه هم داحقیقت دتوبے دے، او بیا هم په دغے حالت وفات شوے وی. دمُلاّ علی قاری رحمة الله علیه تحقیق دادے، چه له دے نه همیشه په دوزخ کښ دأوسیدو حراموالے مراد دے. دِدے ټولونه علاوه یوه ښکاره خبره یله هم ده، هغه داده چه دیو څیز څهٔ خاص اثر کیدل ددے خلاف نهٔ دے چه دڅهٔ عارض په وجه هغه اثر اُونکړی. لکه دسقمونیا اثر دَسټُونه راوستل دی، خو چه کله دا اُوخوری، بیا ورپسے څهٔ سخت قابِض یعنی دَسټُونه بندونکے څیز اُوخوری نو یقیناً دسقمونیا اثر به اُونهٔ شی، خو ددے مطلب دانهٔ دے، چه ددغے دارو خپل اثر پاتے نهٔ شو. بلکه دعارض په وجه یے په دغے کس اثر اُونهٔ شو.

(۱۰) عَنْ مُعَاذِبْنِ جَبَلٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم مَفَاتِيْحُ الْجَنَّةِ شَهَادَةُ اَنْ لَّآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دے چه دلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اقرار کول دجنت کنجیانے دی.

(رواه احمد کذا فی المشکوٰة والجامع الصغیر ورقم له بالضعف و فی مجمع الزوائد رواه احمد و رجاله وثقوا الا ان شهرالم یسمع عن معاذ آه ورواه البزار کذا فی الترغیب وزاد السیوطی فی الدر ابن مردویه والبیهقی وذکره فی المقاصد الحسنة بروایة احمد بلفظ مفتاح الجنة لآاله الا الله، و اختلف فی وجه حمل الشهادة وهی مفرد علی المفاتیح وهی جمع علی اقوال اوجهها عندی انها لما کانت مفتاحا لکل باب من ابوابه صارت کالمفاتیح)

فائده: کنجیانے یے ورته په دے وجه اُووے چه دهرے دروازے اودهر جنت کښې هم داکلمه ده، ځکه ټولے کنجیانے هم داکلمه شوه. یا په دے وجه چه ددے کلمے دوه حصے دی، یوه دلَآاِلٰهَ اِلَّا الله اقرار کول، دویم دمُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ اِقرار. په دے وجه دوه شوے، چه دددواړو په ذریعه جنت پرانستلے شی. نور هم هغے روایتونو کښ کوموکوم کښ چه جنت ته د داخلیدو یا ددوزخ حرام کیدوذکر دے، دهغے نه مراد هم پوره کلمه ده. یو حدیث کښ راغلی دی چه دجنت قیمت لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ دے.

(۱۱) عَنْ اَنَسٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم مَامِنْ

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه کوم بندهٔ په څهٔ وخت کښ دورځے یا دشپے لَآاِلٰهَ

عَبْدٌ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فِيْ سَاعَةٍ مِّنْ لَيْلٍ اَوْ نَهَارٍ اِلَّا طُمِسَتْ مَا فِي الصَّحِيْفَةِ مِنَ السَّيِّئَاتِ حَتّٰى تَسْكُنَ اِلٰى مِثْلِهَا مِنَ الْحَسَنَاتِ۔

اِلَّا اللّٰهُ اُووائی، نو د عملنامے نه یے بدئ ورانوئے شی او دهغے په ځای نیکئ لیکلے شی

(رواه ابو یعلی کذا فی الترغیب وفی مجمع الزوائد فیه عثمان بن عبد الرحمٰن الزهری وهو متروک اهـ)

فائده: بدئ ورانولو نیکئ لیکلو پاره کښ د اول باب د دویم فصل لسم نمبر حدیث کښ په تفصیل تیر شوی دی۔ او د دے قسمه اٰیتونو او روایتونو یو څو معنے لیکلے شوی دی، ډیرے یوے معنے په دے حدیث کښ ذکر شوے ده، حکه نو د عملنامے نه ورانول څو معلومیږی، البته اخلاص پکښ ضروری دے۔ او په کثرت د الله تعالیٰ پاک نوم اخستل او د کلمے طیبے ډیر ډیر ویل په خپله اخلاص پیدا کوی۔ په دے وجه د دے پاکے کلمے نوم کلمهٔ اخلاص ده۔

(۱۲) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم قَالَ اِنَّ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى عَمُوْدًا مِّنْ نُّوْرٍ بَيْنَ يَدَيِ الْعَرْشِ فَاِذَا قَالَ الْعَبْدُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اهْتَزَّ ذٰلِكَ الْعَمُوْدُ فَيَقُوْلُ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اُسْكُنْ فَيَقُوْلُ كَيْفَ اَسْكُنُ وَلَمْ يُغْفَرْ لِقَائِلِهَا فَيَقُوْلُ اِنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لَهٗ فَيَسْكُنُ عِنْدَ ذٰلِكَ۔

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه عرش مخکښے د نور یوه ستن ده کله چه څوک لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اُووائی نو دغه ستن په خوزیدو شی۔ د الله تعالیٰ ارشاد اوشی چه اودریږه۔ هغه عرض کوی څنګه اودریږم، حال دا دے چه د کلمے طیبے دَ ویونکی لا تر اوسه بخښنه نه ده شوے۔ ارشاد اوشی، چه ښه ده ما هغه بخښنه اوکړه، نو هغه ستنه اودریږی۔

(رواه البزار وهو غریب کذا فی الترغیب وفی مجمع الزوائد فیه عبد الله بن ابراهیم بن ابی عمرو وهو ضعیف جدًا اهـ قلت وبسط السیوطی فی اللآلی علی طرقه وذکر شواهد)

فائده: محدثینو حضراتو ته دے روایت کښ کلام دے (یعنی ضعیف یے خودلے دے) خو علامه سیوطی رحمة الله علیه لیکلی دی چه دا روایت په څو طریقو په مختلفو الفاظو نقل کړے شوے دے۔ بعضو روایتونو کښ دے سره د الله جل شانهٗ دا ارشاد هم راغلے دے چه ما کلمه طیبه د دغے کس په ژبه ځکه جاری کړه، چه دهغه بخښنه اوکړم۔ څومره قدرے مهربانی او کرم دے د الله تعالیٰ، چه په خپله توفیق ورکوی، او بیا په خپله د دغے مهربانئ په

Maktaba Tul Ishaat.com

پوره کولو کښې بخښنه کوی۔

دحضرت عطاء رحمة الله عليه قصه مشهوره ده، چه دے یو ځلے بازار ته لاړو هلته یوه لیونئ وینزه خرخیدله، دهٔ واخستله۔ هر کله چه د شپې څهٔ حصه تیره شوه، نو هغه لیونئ پاسیده، اودس یې اوکړو، مونځ یې شروع کړو، او په مانځه کښې یې دا حالت وُو، چه د ډیرے ژړا نه یې ساه بندیدله۔ ورپسې هغې اُووے، اے زما الله! ستا دِ ما سره د محبت کولو قسم وی چه په ما رحم اُوکړه۔ عطاء رحمة الله عليه چه دا واوریدل، ورته ویل چه اے وینزے! داسے وایه، اے الله! زما دِ تا سره د محبت کولو قسم۔ دا چه یې واوریدل، په غصه شوه، اَو ورته ویل، د هغهٔ په ذات مې دِ قسم وی، که چرے د هغهٔ ما سره محبت نهٔ وے، نو ته به یې داسے په خوږ خوب اُودهٔ کړے نه۔ اَو زهٔ به یې داسے ځان ته اُودرولے نه۔ ورپسے نه پس هغې دا شعرونه اُووئیل۔ ؎

اَلْكَرْبُ مُجْتَمِعٌ وَالْقَلْبُ مُحْتَرِقٌ ÷ وَالصَّبْرُ مُفْتَرِقٌ وَالدَّمْعُ مُسْتَبِقٌ

كَيْفَ الْقَرَارُ عَلٰى مَنْ لَا قَرَارَ لَهٗ ÷ مِمَّا جَنَاهُ الْهَوٰى وَالشَّوْقُ وَالْقَلَقُ

يَارَبِّ اِنْ كَانَ شَيْءٌ فِيْهِ لِيْ فَرَجٌ ÷ فَامْنُنْ عَلَيَّ بِهٖ مَادَامَ بِيْ رَمَقٌ

(ترجمه) "بے قراری جمع کیږی، اَو زړهٔ سوزی، اَو صبر جُدا شو، او اُوښکے بهیږی هغه چا ته څنګه قرار راتلے شی، چه د عشق، شوق او د بے قرارئ د حملو په وجه ورته لږ هُم آرام نشته۔ اے الله! که چرے څهٔ څیز داسے کیدے شی، چه په هغې کښې د غم نه خلاصے وی، نو په ژوند کښې هغه راکړه، په ما احسان اوکړه۔" ورپسے نه پس هغې اُووے، اے الله! زما او ستا معامله اُوس په راز کښې پاتے نهٔ شوه، ما وا خلے، دا یې اُووے، یوه چغه یې اُووهله اَو مړه شوه۔ ددے قسم نور هُم ډیر واقعات دی۔ او ښکاره خبره ده چه توفیق تر څو شاملِ حال نهٔ وی هیڅ نهٔ شی کیدے۔ وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿او تاسو د ربُّ العٰلمین د خوښے نه بغیر هیڅ نهٔ شئ غوختلے﴾

(۱۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم لَيْسَ عَلٰى اَهْلِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

د نبی اکرم صلى الله عليه وسلم ارشاد دے چه په لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ والو به نهٔ په قبرونو کښې ویره وی نهٔ د حشر په میدان کښې۔ دا وخت

وَحْشَةٌ فِيْ قُبُوْرِهِمْ وَلَا مَنْشَرِهِمْ وَكَأَنِّيْ أَنْظُرُ إِلٰى أَهْلِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَهُمْ يَنْفُضُوْنَ التُّرَابَ عَنْ رُءُوْسِهِمْ وَيَقُوْلُوْنَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَيْسَ عَلٰى أَهْلِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْشَةٌ عِنْدَ الْمَوْتِ وَلَا عِنْدَ الْقَبْرِ۔

ګویا هغه منظر زما وړاندې دې، چه دوی به د خپلو سرونو نه خاورې څنډي (د قبرونو نه به) راپاسي، او وائي به - ټول تعریفونه هغه الله د پاره دی چا چه مونږ نه (همیشه د پاره) غم او تکلیف لرې کړو - بل حدیث کښ دی چه په لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ والو به نه د مرګ په وخت کښ ویره وی نه د قبر په وخت کښ -

(رواه الطبراني والبيهقي كلاهما من رواية يحيى بن عبد الحميد الحماني وفي متنه نكارة كذا في الترغيب وذكر في الجامع الصغير برواية الطبراني عن ابن عمر رض ورقم له بالضعف في اسنى المطالب رواه الطبراني وابو يعلى بسند ضعيف في مجمع الزوائد رواه الطبراني وفي رواية ليس على اهل لا اله الا الله وحشة عند الموت ولا عند القبر في الاولى يحيى الحماني وفي الاخرى مجاشع بن عمر وكلاهما ضعيف اه وقال السخاوي في المقاصد الحسنة رواه ابو يعلى والبيهقي في الشعب والطبراني بسند ضعيف عن ابن عمر اه قلت وما حكم عليه المنذري بالنكارة مبناه انه حمل اهل لا اله الا الله على الظاهر على كل مسلم ومعلوم ان بعض المسلمين يعذبون في القبر والحشر فيكون الحديث مخالفا للمعروف فيكون منكرا لكنه ان اريد به المخصوص بهذه الصفة فيكون موافقا للنصوص الكثيرة من القرآن والحديث والسابقون السابقون اولئك المقربون، ومنهم سابق بالخيرات باذن الله وسبعون الفا يدخلون الجنة بغير حساب وغير ذلك من الآيات والروايات فالحديث موافق لها لا مخالف فيكون معروفا لا منكرا وذكر السيوطي في الجامع الصغير برواية ابن مردويه والبيهقي في البعث عن عمر بلفظ سابقنا سابق ومقتصدنا ناج وظالمنا مغفور له ورقم له بالحسن قلت ويؤيده حديث سبق المفردون المستهترون في ذكر الله يضع الذكر عنهم اثقالهم فياتون يوم القيامة خفافا رواه الترمذي والحاكم عن ابي هريرة والطبراني عن ابي الدرداء كذا في الجامع ورقم له بالصحة وفي الاتحاف عن ابي الدرداء موقوفا الذين لا تزال السنتهم رطبة من ذكر الله يدخلون الجنة وهم يضحكون وفي الجامع الصغير برواية الحاكم ورقم له بالصحة السابق والمقتصد يدخلون الجنة بغير حساب والظالم لنفسه يحاسب حسابا يسيرا ثم يدخل الجنة)

فائده: حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چه یو ځلې حضرت جبریل علیه السلام نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته تشریف راوړو، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ډیر غمژن وو - حضرت جبریل علیه السلام عرض اوکړو، چه الله جل جلاله په تاسلام وائي، او فرمائي چه

زړهٔ تاسو خفه اُوغمژن وینم، وَلے خهٔ وجه دهٔ؟ (حال دا دے چه الله تعالیٰ د زړونو رازونه پیژنی، خود اِکرام او اِعزاز او د اِظهارِ شرافت د پاره د دے قسمه سوالونه کوُلے شو) نبی اکرم ﷺ اِرشاد اُوفرمایهٔ چه جبرئیله! ماته دخپل اُمت ډیر فکر دے چه قیامت کښ به د دوی څهٔ حال وی؟ حضرت جبرئیل علیه السلام پوښتنه اُوکړه چه د کافرانو باره کښ یا د مسلمانانو باره کښ؟ نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد اُوفرمایهٔ چه د مسلمانانو باره کښ فکر دے. حضرت جبرئیل علیه السلام نبی اکرم ﷺ ځان سره واخستهٔ، او یو مقبرے ته لاړل، کوم ځائے چه د بنو سلمه خلق دفن وُو. حضرت جبرئیل علیه السلام په یو قبر وَزر اُووَهلهٔ. اَو ارشاد یے اُوفرمایهٔ قُمْ بِاِذْنِ اللّٰهِ (د الله تعالیٰ په حکم را پاسه) دهغے نه ډیر ښائسته او ښکلے څ کس را پاسیدهٔ، او دا یے ویل، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ. حضرت جبرئیل علیه السلام ورته اُووے چه خپل ځائے ته واپس لاړ شه. هغه لاړو. بیا په دویم قبر یے وزر اُووَهلهٔ، اُووے ویل چه د الله تعالیٰ په حکم را پاسه. د هغے نه یو کس ډیر بد شکله تور مخے د شنو سترګو کس را پاسیدهٔ او دا یے ویل، هائے افسوس! هائے شرمندګی! هائے مصیبت! بیا حضرت جبرئیل علیه السلام ورته اُووے، خپل ځائے ته واپس لاړ شه. د دے نه پس یے نبی اکرم ﷺ ته عرض اُوکړهٔ چه په کوم حالت کښ دا خلق مری، په هغے حالت به را پاسی.

پورتنی حدیث کښ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ والونه په ظاهر کښ هغه خلق مُراد دی دچا چه د دے پاکے کلمے سره خصوصی تعلق، خصوصی مُناسبت، خصوصی شغل وی. ځکه چه پیُو والا، پټرو والا، ملغلرو والا، واوړے والا هغے کس ته ویلے شی چا سره چه د دے څیزونو خصوصی ذخیره موجوده وی او خرڅوی یے. ځکه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ والو سره دا سے معامله کیدلو کښ هیڅ شک نشته. د قران شریف په سورة فاطِر کښ د دے اُمت د دے طبقے بیان شوی دی یو طبقه سَابِقٌ بِالْخَیْرٰتِ دهٔ چه د هغے په باره کښ حدیث کښ راغلی دی چه هغه به بے حسابه جنت کښ داخلیږی. یو حدیث کښ راغلی دی چه څوک سل وارے لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وائی هغه به الله جل شانهٔ د قیامت په ورځ په دا سے حالت کښ را پاسوی

چه دخوار لسے شپے دسپوږمئ په شان به یې مخ روښانه وی۔ حضرت ابودرداء رضی الله عنه فرمائی چه دکوموخلقوژبے دالله تعالیٰ په ذکر تروتازه وی، هغوی به په جنت کښ خندیدونکی داخلیږی۔

(۱۴) عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ عَمْرِو ابْنِ الْعَاصِ رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ اِنَّ اللهَ يَسْتَخْلِصُ رَجُلًا مِّنْ اُمَّتِيْ عَلٰى رُءُوْسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَيَنْشُرُ عَلَيْهِ تِسْعَةً وَّتِسْعِيْنَ سِجِلًّا كُلُّ سِجِلٍّ مِّثْلُ مَدِّ الْبَصَرِ ثُمَّ يَقُوْلُ اَتُنْكِرُ مِنْ هٰذَا شَيْئًا اَظَلَمَكَ كَتَبَتِي الْحَافِظُوْنَ فَيَقُوْلُ لَا يَا رَبِّ فَيَقُوْلُ اَفَلَكَ عُذْرٌ فَيَقُوْلُ لَا يَا رَبِّ فَيَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰى بَلٰى اِنَّ لَكَ عِنْدَنَا حَسَنَةً فَاِنَّهٗ لَا ظُلْمَ عَلَيْكَ الْيَوْمَ فَتُخْرَجُ بِطَاقَةٌ فِيْهَا اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ فَيَقُوْلُ اُحْضُرْ وَزْنَكَ فَيَقُوْلُ يَا رَبِّ مَا هٰذِهِ الْبِطَاقَةُ مَعَ هٰذِهِ السِّجِلَّاتِ فَقَالَ فَاِنَّكَ لَا تُظْلَمُ الْيَوْمَ فَتُوْضَعُ السِّجِلَّاتُ فِيْ كَفَّةٍ وَّالْبِطَاقَةُ فِيْ كَفَّةٍ فَطَاشَتِ السِّجِلَّاتُ وَثَقُلَتِ الْبِطَاقَةُ فَلَا يَثْقُلُ مَعَ اللهِ شَيْءٌ

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه الله جل جلاله به دقیامت په ورځ زما دامت نه یو کس منتخب کړی، دټولے دُنیا مخکښ به یې راوغواړی، اودهٔ مخکښ به یو کم سل دفترونه (یعنی رجسټرونه) دعملونو پرانستے شی، هر یو دفتر به دومره لوئ وی، چه ترکومے پورے نظر لګی۔ دے نه پس به دهٔ نه سوال اُوکړے شی، چه دے عملنامو کښ نهٔ دځهٔ څیز انکار کوے؟ ایا زما هغه فرښتو کومو چه په عملونو لیکلو مقرر دی په تاځهٔ ظلم کړے دے؟ (چه تا یوه ګناه نهٔ وی کړے هغه یې لیکلے وی یا دکولو نه یې زیاته لیکلے وی) دے به عرض اُوکړی، نه۔ (نهٔ د انکار ځائ شته او نهٔ فرښتو ظلم کړے دے) بیا به ارشاد اُوشی چه تاځنه ددے بدو عملونو څهٔ عذر شته؟ دے به عرض اُوکړی، هیڅ عذر نشته۔ ارشاد به اُوشی، ښه دهٔ ستا یوه نیکی مونږ څخه شته نن په تا هیڅ ظلم نشته، بیا به دکاغذ یوه پُرزه راأُووبیستلے شی، هغے کښ به اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ لیکلے شوی وی۔ ارشاد به اُوشی چه لاړشه دا اُوتله، دے به عرض اُوکړی چه ددے دومره رجسټرونو په مقابله کښ

Maktaba Tul Ishaat.com

به دا پرزه څهٔ کار ورکړی، ارشاد به اُوشی چه نن به په تا ظلم نهٔ کیږی، بیا به هغه ټول رجسټرونه (دتلے) یو چا پړی کښ کیخودے شی، او دویم طرف ته به دا پرزه وی. نو د رجسټرونو والا چا پړے به سپک شی د دغے پرزے دوزن په مقابله کښ پس خبره داده، چه د الله تعالیٰ د نامے نه هیڅ څیز وزنی نشته.

(رواه الترمذی وقال حسن غریب وابن ماجة وابن حبان فی صحیحه والبیهقی والحاکم وقال صحیح علی شرط مسلم کذا فی الترغیب قلت کذا قال الحاکم فی کتاب الایمان واخرجه ایضاً فی کتاب الدعوات وقال صحیح الاسناد واقره فی المختصر الذهبی وفی المشکوة اخرجه بروایة الترمذی وابن ماجة وزاد السیوطی فی الدر فیمن عزاه الیهم احمد وابن مردویه واللالکائی والبیهقی فی البعث وفیه اختلاف فی بعض الالفاظ کقوله فی اول الحدیث یُصَاحُ بِرَجُلٍ مِّنْ اُمَّتِیْ عَلٰی رُءُوْسِ الْخَلَائِقِ وفیه ایضاً فیقول اَفَلَکَ عُذْرٌ اَوْ حَسَنَةٌ فَیَهَابُ الرَّجُلُ فَیَقُوْلُ لَا یَارَبِّ فَیَقُوْلُ بَلٰی اِنَّ لَکَ عِنْدَنَا حَسَنَةً الحدیث وعلم منه ان الاستدراک فی الحدیث علی محله ولا حاجة اذاً الیٰ ما اوله القاری فی المرقاة وذکر السیوطی ما یؤید الروایة من الروایات الاُخر)

فائده: دا د اخلاص برکت دے چه یو وارے کلمه طیبه چه په اخلاص ویلے شوے وه، په دغے ټولو رجسټرونو غالبه شوه. په دے وجه ضروری ده چه بنده د هیڅ مسلمان سپک نهٔ گنړی، او خپل ځان د دهغهٔ نه غوره نهٔ گنړی. څهٔ معلومه ده چه د هغهٔ کوم یو عمل الله تعالیٰ ته قبول شی، چه د هغهٔ د خلاصی د پاره کافی شی. او خپل حال معلوم نهٔ دے، چه څهٔ عمل به م قابلِ قبول شی که نه.

حدیث کښ یوه قصه راځی چه بنی اسراءیلو کښ دوه سړی وُو، یو عابد (یعنی عبادت کندار) وُو بل گنهگار. هغے عابد به دا گنهگار همیشه ټوکلو. دهٔ به ورته وَے چه ما په خپل الله پریږده. یوه ورځے دغه عابد په غصه کښ راغے وے ویل چه په الله تعالیٰ م دِ قسم وی، ستا بخښنه به هیڅ کله اُونهٔ شی. الله جل شانهٔ عالَمِ ارواح کښ دواړه جمع کړل، او گنهگار یے په دے وجه چه د رحمت اُمیدوار وُو، معاف یے کړهٔ، او عابد د پاره یے د قسم خوړلو په بدله کښ د عذاب حکم اُوکړهٔ. په دے کښ څهٔ شک دے، چه دا قسم ډیر سخت وُو. په خپله الله جل شانهٔ خو ارشاد فرمائی. اِنَّ اللّٰهَ لَا یَغْفِرُ اَنْ یُّشْرَکَ بِهٖ وَیَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِکَ لِمَنْ یَّشَآءُ ط الله جل شانهٔ د کفر او شرک بخښنه نهٔ کوی

دے نه علاوه هره یوه گناه دچا د پاره چه اُوغواړی ورے بخښی) نو دچا دے وینا څهٔ حق دے چه د فلانی بخښنه نشی کیدے۔ خو د دے دا مطلب هم نهٔ دے چه په گناهونو، په ناجائز خبرو ډیول نشی کولے۔ یا دِ پرے نشی تهوکلے۔ قرآن او حدیث کښ په سوؤنو ځایونو کښ د دے حکم دے، په نهٔ تهوکلو سزا ده۔ په حدیثونو کښ ډیر زیات راغلی دی، چه څوك چا په گناه کولو اُولیدهٔ او د هغے په منع کولو طاقت لری او منع یے نکړو، نو هغه به په خپله د هغے په سزا کښ گیر شی، عذاب کښ به شریک شی۔ دا مضمون ما په خپله رساله "فضائلِ تبلیغ" کښ په تفصیل سره لیکلے دے، دچا زړهٔ کهٔ غواړی هغه دِ اُوگوری۔ دلته یو ضروری څیز دا هم د لحاظ قابل دے چه څنگه د دینه ارانو گنهگارانو لره قطعی دوزخی گنړل د هلاکت خبره ده۔ دغه رنگے دچا هلانو هر کس لره مقتدا او پیشوا جوړول خواه هغه څومره کفریات وائی قتل کونکے زهر او د هلاکت سبب دے۔

د نبی اکرم ﷺ ارشاد دے چه څوك د چا بدعتی تعظیم کوی، هغه د اسلام په نړولو کښ امداد کوی۔ ډیرو حدیثونو کښ راغلی دی، چه اخره زمانه کښ به دجّال، مکّار، کذّاب (دروغژن) پیدا شی، چه دا سے حدیثونه به تاسو ته آوروی چه تاسو یه نهٔ وی آوریدلی۔ هسے نه چرته هغوی تاسو گمراه کړی او فتنه کښ مو وا چوی۔

(۱۵) **عن** ابنِ عَبَّاسٍ رضی اللہ عنہما قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ لَوْ جِیْءَ بِالسَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَنْ فِیْهِنَّ وَمَا بَیْنَهُنَّ وَمَا تَحْتَهُنَّ تُوْضِعْنَ فِیْ کَفَّةِ الْمِیْزَانِ وَوُضِعَتْ شَهَادَةُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فِی الْکَفَّةِ الْاُخْرٰی لَرَجَحَتْ بِهِنَّ (اخرجه الطبرانی کذا فی الدر وهکذا

د نبی اکرم ﷺ ارشاد مبارك دے چه په هغے پاك ذات م دِ قسم وی دچا په قبضه کښ چه زما ساه ده که چرے ټول اسمانونه او زمکے او کوم خلق چه دے په مینځ کښ دی هغه ټول، او کوم څهٔ چه د هغے په مینځ کښ دی هغه ټول او کوم څهٔ چه د هغے د لاندے دی هغه ټول، یو چا پړی کښ کیخودلے شی او د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اقرار بل طرفته شی نو دا به په ټول کښ زیات شی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

فی مجمع الزوائد وزاد فی اولہ لقنوا موتاکم شہادۃ ان لاالہ الا اللہ فمن قالہا عند موتہ وجبت لہ الجنۃ قالوا یارسول اللہ فمن قالہا فی صحتہ قال تلک اوجب واوجب ثم قال والذی نفسی بیدہ الحدیث قال رواہ الطبرانی ورجالہ ثقات الا ان ابن ابی طلحۃ لم یسمع من ابن عباس رض)

فائده: د دے قسمه مضمون ډیرو مختلفو روایتونو کښې ذکر کړے شوے دے۔ دے کښې شک نشته چه د الله تعالیٰ د پاك نوم برابر هیڅ څیز نشته۔ بد قسمتي او محرومي دهٔ د هغه خلقو څوك چه د اسپك ګنړي۔ البته دے کښې وزن په اِخلاص سره پیدا کیږي، څومره قدرے چه اِخلاص وي هغومره به د اپاك نوم درون شي۔ دے اِخلاص پیدا کولو د پاره د پیرانو صاحبانو پنړے سمول یعني خدمتونه کولے شي۔ یو حدیث کښې ددے اِرشادِ نبوي نه روښے یو بل مضمون ذکر دے، هغه دا دے چه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم دا اِرشاد اُوفرمایهٔ چه مړي ته د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ تلقین کوئ، چا چه د مرګ په وخت دا پاک کلمه اُوویله، هغه د پاره جنت واجب کیږي۔ صحابو رضی الله عنهم عرض اوکړهٔ، اے د الله رسوله کهٔ چرے څوك بے په تندرستیٔ کښې اُووائي؟ نبي اکرم صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل، بیا خو نور هم زیاته د جنت واجب کونکے دهٔ۔ دے نه پس بے د اد قسم مضمون اِرشاد اُوفرمایهٔ کوم چه پورته ذکر کړے شو۔

(۱۶) **عن** ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنه قَالَ جَآءَ النَّحَّامُ ابْنُ زَيْدٍ وَ قُرْدُبْنُ كَعْبٍ وَبَحْرِيُّ بْنُ عَمْرٍو فَقَالُوْا يَا مُحَمَّدُ مَا تَعْلَمُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا غَيْرَهٗ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ بِـذٰلِكَ بُعِثْتُ وَاِلٰى ذٰلِكَ اَدْعُوْا فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى فِىْ قَوْلِهِمْ قُلْ اَيُّ شَيْءٍ اَكْبَرُ شَهَادَةً

(اخرجہ ابن اسحاق وابن المنذر وابن ابی حاتم وابو الشیخ کذا فی الدر المنثور)

د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې یو وارے درے کافران حاضر شول او تپوس ئے اُوکړهٔ چه اے محمد (صلی الله علیه وسلم) ته د الله سره بل څوك معبود نهٔ مني؟ نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اُوفرمایهٔ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ (نشته دے لائق د عبادت هیڅوك سوا د یو الله نه) هم دے کلمے سره زهٔ لیږلے شوے یم، او هم دے طرف ته خلق رابلم۔ پس دے باره کښې ایت قُلْ اَيُّ شَيْءٍ اَكْبَرُ شَهَادَةً نازل شو۔

فائده: نبی اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمایه، چه دے کلمے سره زړهٔ لیږلے شوے یم یعني نبي جوړکړے رالیږلے شوے یم، هم دے کلمے طرف ته خلق رابلم - دنبی اکرم ﷺ دارشاد مطلب دا نهٔ دے، چه دنبی اکرم ﷺ په دیکښې خصوصیت دے، بلکه ټول نبیان په دے کلمے سره نبیان جوړکړے شوراوُلیږلے شو، او ټولو نبیانو هم دے کلمے طرف ته دعوت ورکړے دے - حضرت آدم علیه السلام نه چه واخلے، زمونږ نبي خاتم الانبیاء فخرِ رُسل ﷺ پورے هیڅ یو نبي داسے نشته چا چه ددے مبارکے کلمے دعوت نهٔ وی ورکړے، ډیره برکتي او مُهتم بالشان (اَهَمَّه اوضروري) کلمه ده چه ټول نبیان او ټول رښتني مذهبونه دِے پاکے کلمے طرف ته رابلُونکي اوددے خوَرَوُونکي دی - آخرخبره خو ده چه له دِیته هیڅ یو رښتنے مذهب خالي نهٔ دے - ددے کلمے په تصدیق کښې دقرآن شریف آیت قُلْ اَيُّ شَيْءٍ اَكْبَرُ شَهَادَةً (سورة انعام - ع ۲) نازل شو، کوم کښې چه د نبی اکرم ﷺ په تصدیق کښې دالله جل شانهٔ دګواهئ ذکر دے-

یوحدیث کښې راغلي دی چه کله بنده لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وائي نو الله جل شانهٔ ددهٔ تصدیق کوی، او ارشاد فرمائي، زما بنده رښتیا اُووَیے، زما نه سوا هیڅوک دعبادت لائق نشته-

(۱۷) عَنْ ثَابِتٍ قَالَ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ اُمَّةُ مُحَمَّدٍ (ﷺ) اَثْقَلُ النَّاسِ فِي الْمِيزَانِ ذَلَّتْ اَلْسِنَتُهُمْ بِكَلِمَةٍ ثَقُلَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَهُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

حضرت عیسی علیه السلام فرمائي چه د محمد ﷺ داُمت عملونه (دحشرپه تله کښې تُکه) د ټولونه زیات درانهٔ دی چه ددوی ژبے پوداسے کلمے سره پَلَدِے دی کومه چه په روميني اُمتونودرنه وه - هغه کلمه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ده-

(اخرجه الاصبهانی فی الترغیب کذا فی الدر)

فائده: دا یوښکاره خبره ده چه د محمد ﷺ په اُمت کښې د کلمهٔ طیبه خومره زوراوپیروالے دے، هیڅ یواُمت کښې دومره پیروالے نشته - پیران صاحبان په لکھونو نه، دکروړونو په مقدار دی - او بیادهر یو پیرکم وزیات په سوَونومریدان دی، اوتقریباً دټولو په نزدکلمهٔ طیبه دزرګونو په مقدار

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې په روزانه معمولاتو کښې داخله دَه - جَامِعُ الْاُصُوْل کښې لیکلی دی چه د لفظ "اَللّٰه" ذکر د وظیفې په طور کم نه کم د پنځو زرو مقدار دے، او زیات د پاره څهٔ حد نشته - او صوفیانو د پاره پنځویشت زره روزانه دے - او د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ په باره کښې یے لیکلی دی چه کم نه کم پنځه زره روزانه وی - دا الله ازے د پیرانو صاحبانو د تجویز موافق کم و زیات کولے شي - زما مقصود د حضرت عیسیٰ علیه السلام په مرسته کښې د پیرانو الله از بیانول دی چه دیو یو کس د پاره د روزانه مقدار کم نه کم دا خود لے شوی دی.

زموږ حضرت شاه وَلیُّ الله صاحب رحمة الله علیه "قَوْلِ جَمِیل" کتاب کښې د خپل پلار نه نقل کړے دے، چه ما په شروع د سُلوک کښې په یو ساه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دوه سوه وارے وئیله.

شیخ ابو یزید قُرطبی رحمة الله علیه فرمائی ما داوریدل چه څوک اویا زره وارے لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اُووائی، هغهٔ ته به د دوزخ دا ور نه خلاصے ورکړے شي - ما چه دا واوریدل، یو نصاب یعنی اویا زره په شمیرم خپلے بی بی د پاره اُووے، او څو نصابونه مې په خپله خپل ځان د پاره اُووے، او د آخرت ذخیره مې کړه - موږ سره یو ځوان اُوسیدهٔ، چه د هغهٔ په باره کښې دا مشهوره وه، چه دے صاحب کشف دے - د جنت او د دوزخ ورته هم کشف کیږی - ماته د دے په رېښتنوالی کښې څهٔ شک شُبَه وه - یو وارے د غه ځوان موږ سره خوراک کښې شریک وُو چه ناګهانه یے یوه چغه اُووَهله، او ساه یے په سګینډو شوه - اُووے ویل چه زما مور دوزخ کښې سُوَزی، د هغے حالت په ما ښکاره شو. قُرطبی رحمة الله علیه وائی چه ما د هغهٔ دا پریشانی اُولیده، نو ماته خیال راغے، چه یو نصاب د دهٔ مور ته اُوبخښم، چه په دے به ماته د دهٔ د رېښتنوالی تجربه هم اُوشي - نو ما یو نصاب دا اویا زرو د هغے نصابونو نه کوم چه ما خپل ځان د پاره ویلی وُو د هغهٔ مور ته اُوبخښهٔ - ما خپل زړهٔ کښې په پټه بخښلے وُو - او زما د دے ویلو خبر هم د الله تعالیٰ نه سِوا هیچا ته نهٔ وُو - هغے ځوان فورًا اُوویل، چه کاکاجی! زما مور د دوزخ د عذاب نه لرے کړے شوه - قُرطبی رحمة الله علیه وائی - چه ماته د دے قصے نه دوه فائدے اُوشوے - یو خو د دے کلمے برکت، کوم چه دا اویا زرو په مقدار

بانده ے ما اوریدلے وُو، دهغے تجربه اُوشوه - دویم دهغے خوان دریښتنوالی یقین م اُوشو-

دا یوه واقعه ده، ددے قسمه نه ده معلومه خومره واقعات ددے اُمت په افرادو کښې مونده ے شي - دصوفیانو په اصطلاح کښې یو معمولي څیز "پاس انفاس" دے - یعنی ددے مشق چه هیڅ یوه ساه دالله تعالیٰ دذکرنه بغیرنه ئ دننه لاړه شي، نه ئ بهر راشي - دا اُمت محمدیه په کرورونو افرادداسے دي - چا ته چه ددے مشق حاصل دے، نو بیا دحضرت عیسٰی علیه السلام په دِے ارشادکښې څهٔ شک دے چه دهغوي ژبے په دے کلمے دلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ سره بلدے او فرمانبردارے وي-

(۱۸) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی اللہ عنہ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَ مَكْتُوْبٌ عَلٰى بَابِ الْجَنَّةِ اِنَّنِيْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا لَآ اُعَذِّبُ مَنْ قَالَهَا (اخرجه ابوالشیخ کذافی الدر)

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاددے چه دجنت په دروازه دالیکلے شوي دي اِنَّنِيْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا لَآ اُعَذِّبُ مَنْ قَالَهَا زهٔ الله یم زما نه سِوا څوك دعبادت لائق نشته څوك چه دا کلمه وائی زهٔ به هغه نهٔ عذابوم-

فائده په گناهونو عذاب کیدل نوروحدیثونوکښې په کثرت راغلی دي، په دِے وجه کهٔ دے نه همیشه عذاب مراد وي، نو هیڅ شك نشته - خوکهٔ څوك خوش قسمته په داسے اِخلاص ددے چلے وظیفه کوُنکے وُو چه سره ذکنا هونو هغهٔ ته بیخی عذاب ورنکرے شي، نو دا هم درحمتِ الٰهی نه لرے نهٔ ده، څنګه چه څوارلسم نمبرحدیث کښې تیره شوه - دِے نه علاوه نهم نمبرکښې هم څهٔ تفصیل تیرشوے دے-

(۱۹) عَنْ عَلِيٍّ رضی اللہ عنہ قَالَ حَدَّثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم عَنْ جِبْرِيْلَ علیه السلام قَالَ قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ اِنِّيْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِيْ مَنْ جَآءَنِيْ مِنْكُمْ بِشَهَادَةِ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم دحضرت جبرئیل علیه السلام نه نقل کوي چه دالله جل جلالهٗ ارشاد دے چه زهٔ الله یم، زما نه سِوا هیڅوك د عبادت لائق نشته - پس زما عبادات کوئ - څوك چه تاسو نه په اِخلاص سره د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ گواهي ورکوُنکے راشي، هغه زما په

Maktaba Tul Ishaat.com

بِالْإِخْلَاصِ دَخَلَ فِیْ حِصْنِیْ وَ مَنْ دَخَلَ حِصْنِیْ اَمِنَ عَذَابِیْ (اخرجه ابو نعيم فى الحلية كذا فى الدر وابن

قلعه کښې داخل شي. او چه څوك زما په قلعه کښې داخل شو، هغه زما دعذاب نه محفوظ شو.

عساكر كذا فى الجامع الصغير وفيه ايضا برواية الشيرازى عن علي ورقم له بالصحة وفى الباب عن عتبان بن مالك بلفظ اِنَّ اللهَ قَدْ حَرَّمَ عَلَى النَّارِ مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ یَبْتَغِیْ بِذٰلِكَ وَجْهَ اللهِ رواه الشيخان عن ابن عمر بلفظ اِنَّ اللهَ لَا یُعَذِّبُ مِنْ عِبَادِهٖ اِلَّا الْمَارِدَ الْمُتَمَرِّدَ الَّذِیْ یَتَمَرَّدُ عَلَی اللهِ وَاَبٰی اَنْ یَّقُوْلَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ رواه ابن ماجه)

فائده: کۀ چرې داهم دکبائرونه د بچ کیدو سره مشروط وی څنګه چه پنځم نمبر حدیث کښې تیر شوی دی، نو بیا خو اړو څۀ شک نشته. او کچرې دکبائرو سره دا کلمه اُووائی، نو بیا د قاعدے موافق دعذاب نه مراد دائمی عذاب دے - البته د الله جلّ شانهٔ رحمت د قاعدو پابند نۀ دے - د قرآن شریف صفا ارشاد دے چه الله جلّ شانهٔ شرك خونهٔ معاف کوی، دے نه علاوه چا ته چه اُوغواړی معاف یې کړی - لکه یو حدیث کښې دی چه الله تعالیٰ هغه کس عذابوی، کوم چه په الله تعالیٰ سرکشی کوی، او د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ویلو نه انکار کوی.

یو حدیث کښې راغلی دی چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ د الله جلّ شانهٔ غصه لرے کوی، ترڅو چه دُنیا ته په دین ترجیح (یعنی غلبه) نۀ ورکوی - او کله چه دُنیا ته په دین ترجیح ورکړی، او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اُووائی، نو الله تعالیٰ فرمائی چه تۀ په خپله دعوی کښې رِښتنی نۀ یې.

(۲۰) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضی الله عنه عَنِ النَّبِیِّ صلی الله علیه وسلم قَالَ اَفْضَلُ الذِّکْرِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَفْضَلُ الدُّعَاءِ اَلْاِسْتِغْفَارُ ثُمَّ قَرَءَ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ الآية.

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دے چه په ټولو ذکرونو کښې افضل لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله دے او په ټولو دُعاګانو کښې افضل استغفار دے بیا دے په مرسته کښې د سورة مُحَمَّد ایت فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ یې تلاوت کړۀ.

(اخرجہ الطبرانی وابن مردویہ والدیلمی کذا فی الدر وفی الجامع الصغیر بروایۃ الطبرانی مَامِنَ الذِّکْرِ اَفْضَلُ مِنْ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَلَا مِنَ الدُّعَآءِ اَفْضَلُ مِنَ الْاِسْتِغْفَارِ ورقم لہ بالصحۃ)

فائدہ: ددے فصل دتہولونہ رومبی حدیث کښ هم دا مضمون تیرشوے دے، چه لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ دتہولوذکرونونه افضل دے، چه ددے وجه صوفیانو دا لیکلے دہ، چه د زړۀ پاکولوکښ دے ذکرلره خاص مناسبت دے - ددے په برکت سره زړۀ دتہولو پلیتونه پاکیږی - اوهرکله چه دِے سره اِستغفارهم شامل شی، نوبیا په یے څۀ وایے -

یوحدیث کښ راغلی دی چه حضرت یونس علیه السلام لره چه کله کب اُوخوړ نودهغۀ په کیډه کښ دهٔ دا دُعاوه - لَآ اِلٰہَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَکَ اِنِّیْ کُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ ۝ څوك چه په دِے الفاظو سره دُعا اُوغواړی هغۀ به ضرورقبلیږی ددے فصل دتہولونه رومبی حدیث کښ هم دامضمون تیرشوے دے، چه دتہولونه افضل اوبهترین ذکر لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہ دے، خوهلته دتہولونه افضله دُعا اَلْحَمْدُ لِلّٰہ ویلے شوے دہ، اودلته اِستغفارراغلے دے - ددے قسمه اختلاف دحالاتو په اِعتبارسره هم کیږی - یومُتقِی پرهیزګاردے، هغۀ دپاره اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ ویل دتہولونه افضل دے - یوګنهګاردے، هغۀ دتوبے اودا ستغفارډیر محتاج دے، دهغۀ په حق کښ استغفاردتہولونه ضروری دے - دے نه علاوه افضلیت هم په مختلفو وجوهاتووی - فائده حاصلولودپاره د الله تعالیٰ حمد وثنا دتہولونه زیات فائده ورکونکے دہ - اوضرر، نقصان اوتکسیا لرے کولودپاره استغفاردتہولونه زیات فائده مند دے - دے نه علاوه د دے قسمه د اِختلاف نورے وجے هم وی -

(۲۱) عَنْ اَبِیْ بَکْرِ الصِّدِّیْقِ رضی الله عنه عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰہِ صلی الله علیه وسلم عَلَیْکُمْ بِلَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَ الْاِسْتِغْفَارِ فَاَکْثِرُوْا مِنْهُمَا فَاِنَّ اِبْلِیْسَ قَالَ اَهْلَکْتُ النَّاسَ بِالذُّنُوْبِ وَاَهْلَکُوْنِیْ

حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ او استغفارډیرپه کثرت سره وایئ، ځکه چه شیطان وائی چه ما خلق په ګناهونو هلاك کړۀ اوهغوئ زۀ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ اواستغفار سره هلاك کړم - هرکله چه ما اُولیدل چه

Maktaba Tul Ishaat.com

بِلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاِلَا سْتِغْفَارِ فَلَمَّا رَاَيْتُ ذٰلِكَ اَهْلَكْتُهُمْ بِالْاَهْوَآءِ وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ۔ (اخرجہ ابو یعلی کذا فی الدر والجامع الصغیر ورقم لہ بالضعف)

داخو هیڅ هم اُونه شو) نو ما دوی هوائے نفس (یعنی بدعاتو) سره هلاك كړل او دوی خپل ځان په هدایت ګنړلو۔

فائده: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ او اِستغفار سره دهلا کولو مطلب دادے چه دشیطان انتهائی غرض زړهٔ باندے خپل زهر خیژول دی، چه دهغے ذکرد اول باب دریم فصل خوارلسم نمبر باندے تیر شوے دے، او دا زهر هله خیژی کله چه زړهٔ دالله تعالیٰ دذکر نه خالی وی ګنی شیطان په ذِلت سره دزړهٔ نه واپس کیږی۔ او دالله تعالیٰ ذکر د زړونو دصفایئ ذریعه ده۔ لکه مشکوٰة کښ دنبی اکرم ﷺ نه نقل کړے دے چه دهرڅیز د پاره یو صفائی وی، د زړونو صفائی دالله تعالیٰ ذکر دے۔ دغه رنګے دِاستغفار باره کښ په کثرت سره حدیثونو کښ دا راغلی دی چه د زړونو خیرے او زنګ لرے کونکے دے۔

ابوعلی دقاق رحمة الله علیه وائی کله چه بنده په اِخلاص لَآ اِلٰهَ وائی، نو یو دم زړهٔ صفا شی (لکه څنګه چه په آئینه لونده کپړه راخکلی شی)، بیا چه هغه اِلَّا اللّٰهُ وائی، نو صفا زړهٔ باندے دهغے رڼرا ښکاره شی۔ په دلسے حالت کښ ښکاره خبره ده چه دشیطان ټول کوشش بیکاره شو، او ټول محنت یے ضائع شو۔

هوائے نفس سره دهلا کولو مطلب دادے چه ناحق حق اُوګنړی او چه څهٔ یے په زړهٔ کښ راشی، هُم هغه دین او مذهب جوړ کړی۔ قرآن شریف کښ ددے بدی بیان شوے ده۔ یو ځائی اِرشاد دے۔ اَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ وَّخَتَمَ عَلٰى سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ وَجَعَلَ عَلٰى بَصَرِهٖ غِشٰوَةً فَمَنْ يَّهْدِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ اللّٰهِ ط اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝ (سورة الجاثیه-ع ۲) (آیا تا د هغے کس حالت هُم اُولیده، چا چه خپل اِله دخپل نفس خواهش جوړ کړو۔ او الله تعالیٰ ده لره سره دپوهے ګمراه کړو، او دده په غوږ او زړهٔ یے مُهر اُولګولو۔ او په سترګو یے ورله پرده واچوله (چه حقه خبره نهٔ اوری، نهٔ وینی نهٔ یے زړهٔ ته کوزیږی)۔ پس الله تعالیٰ چه خوك ګمراه کړی، هغهٔ ته څوك

هدایت ورکولے شی، بیا هم تاسو نهٔ پوهیږئ-)

بل ځائ ارشاد دے وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۠ (سورة القصص۔ ع ۵) (دا سے کس نه زیات گمراه به څوک وی، کوم چه د خپل نفسانی خواهش تابعداری کوی بغیر د دے چه څهٔ دلیل د الله تعالیٰ له طرفه (دهٔ څخه) وی۔ الله تعالیٰ دا سے ظالمانو ته هدایت نهٔ کوی۔)

نور هم کثرو ځایونوکښ دا قسمه مضمون راغلے دے، دا د شیطان ډیره سخته حمله ده، چه هغه بے دینئ ته د دین جامه واغوندوی۔ او سړے هغه دین اُوګنړی کوی یے۔ او په هغے د ثواب اُمید لری۔ او هرکله چه عبادت او دین یے ګنړی کوی یے، نو د هغے نه په توبه څنګه کوی۔ کچرے څوک زنا، غلا وغیره ګناهونوکښ آخته وی، نو څهٔ نه څهٔ وخت ترے د توبے او د پرېخودو اُمید شته۔ خو چه کله ناجائز کار دے عبادت ګنړی، نو د هغے نه توبه ولے کوی۔ او ولے به هغه پرېږدی۔ بلکه ورځ په ورځ به هغے کښ په ترقی کوی۔ هم دا مطلب دے د شیطان د دے وینا، چه ما په ګناهونوکښ آخته کړل خو د الله تعالیٰ په ذکر، توبه او استغفار سره یے زهٔ پریشانه کړم، نو ما په دا سے جال کښ ګیر کړل، چه د هغے نه آڅو وتلے نهٔ شی۔ په دے وجه د دین په هر کار کښ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضی الله عنهم طریقه خپل رهبر جوړول ډیره ضروری خبره ده۔ او څهٔ دا سے طریقه اختیارول چه د سنتو خلاف وی، نیکی یے برباد ګناه پرے لازمه ده۔

امام غزالی رحمة الله علیه د حسن بصری رحمة الله علیه نه هم نقل کړے دے، کے فرمائی چه ماته دا روایت راورسیدهٔ، چه شیطان وائی چه ما د اُمتِ محمدیه مخکښ ګناهونه زیب وزینت سره پیش کړل، خو د دهٔ اِستغفار زما ملا ماته کړه، نو ما دا سے ګناهونه دهٔ ته پیش کړل چه هغه دے آڅو ګناه نهٔ ګنړی چه په هغے اِستغفار (او توبه) اُوکړی۔ او هغه آهواء یعنی بدعاتِ دی چه هغه دے دین ګنړی کوی یے۔

وَهب بن مُنَبِّه رحمة الله علیه وائی چه د الله تعالیٰ نه اُوویرېږه۔ ته په مجلسونوکښ په شیطان لعنت کوے، او په پټه د هغه خبره منے، او هغهٔ

سره دوستي کوے۔

بعضو صوفیانو نه نقل دے چه خومره دحیرانتیا خبره ده چه د الله جل شانهٔ په شان مُحسن د إحسانا تو معلومیدو نه پس او دهغے د اقرار نه پس دهغهٔ نافرمانی اُوکړے شي۔ او د شیطان دُشمني، دهغهٔ مکّاري او سرکشي معلومه شي، او بیا هم دهغهٔ خبره اُومنلے شي۔

(۲۲) **عن** مُعَاذِبْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَمُوْتُ عَبْدٌ يَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ يَرْجِعُ ذٰلِكَ اِلٰى قَلْبٍ مُّوْقِنٍ اِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَفِيْ رِوَايَةٍ اِلَّا غَفَرَ اللّٰهُ لَهٗ ۔

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دے چه څوك په دے حال کښ مړشي چه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه په پوخ زړهٔ شهادت ورکوي ضرور به جنت کښ داخلیږي۔ په بل حدیث کښ دي چه ضرور به دهغهٔ الله تعالیٰ بخښنه کوي۔

(اخرجه احمد والنسائی والطبرانی والحاکم والترمذی فی نوادر الاصول وابن مردویه والبیهقی فی الاسماء والصفات کذا فی الدر وابن ماجة وفی الباب عن عمران بلفظ مَنْ عَلِمَ اَنَّ اللّٰهَ رَبُّهٗ وَاَنِّيْ نَبِيُّهٗ مُوْقِنًا مِّنْ قَلْبِهٖ حَرَّمَهُ اللّٰهُ عَلَى النَّارِ رواه البزار ورقم له فی الجامع بالصحة وفیه ایضًا بروایة البزار عن ابی سعید مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُخْلِصًا دَخَلَ الْجَنَّةَ ورقم له بالصحة)

فائده: نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه صحیح حدیث کښ دا هم نقل شوی دی چه زیرے واورئ او نورو ته هم زیرے واوروئ، چه څوك په رښتني زړهٔ د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اقرار اُوکړي، هغه به جنت کښ داخلیږي۔ د الله جل شانهٔ په نزد د إخلاص قدر دے، او إخلاص سره لږ عمل هم ډیر زیات اجر وثواب لري۔ دُنیا ته خودنے دپاره، دخلقو خوشالولو دپاره څهٔ کار اُوکړے شي هغه خو دهغهٔ په دربار کښ بے کاره دے، بلکه کونکي دپاره وبال دے۔ او په اخلاص سره لږ غوندے عمل هم ډیر څهٔ رنګ راوړي۔ په دے وجه په إخلاص چه څوك د شهادت کلمه اُووائی، دهغهٔ به ضرور بخښنه کیږي۔ هغه به ضرور جنت کښ داخلیږي۔ په دے کښ هیڅ قِسمه شك نشته، دا ممکنه ده چه هغه د خپلو ګناهونو په وجه څو ورځے سزا اُوخوري، بیا داخل شي خو ضروري

نهٔ دهٔ کهٔ دچا مُخلِص اِخلاص مَالِكُ الْمُلْكِ ته خوښ شي، په خدمت ئے راضي شي، نو دهغهٔ ټول ګناهونه معاف کولے شي، په داسے کریم سخی ذات چه موږ ځان قربان نهٔ کړو، خومره سخته بے نصیبي ده۔

بهرحال دے حدیثونو کښ دکلمے طیبے وَیُونکو دپاره ډیرے وعدے دي چه په هغے کښ دواړه خبرے شته۔ دقاعدے موافق دګناهونو سزا تیرولو نه پس معافي۔ اوپادکرم، مهربانئ، اِحسان، رَحم په خاطر بغیر عذاب ورکولو معافي۔

یحيٰی بن اَکْثَم رحمة الله علیه یو مُحَدِّث دے، کله چه هغه مړشو، نو یو کس په خوب کښ اُولیدهٔ، تپوس یے ترے اُوکړهٔ، چه څنګه دریاندے تیره شوه؟ وے ویل چه زما پیښي اُوشوه، ماته یے اُوفرمایل، اے ګنهګاره بُوډا! تا فلانے کار کړے دے، فلانے دکړے دے۔ زما ګناهونه یے شمېر کړل اَووے ویل چه تا داسے داسے کارونه کړي دي۔ ما عرض اوکړهٔ، اے الله! ماته ستاله طرفه داحدیث نهٔ دے رارسیدلے؟ وے فرمایل چه څهٔ حدیث درته رسیدلے دے؟ عرض مِ اُوکړهٔ، ماته عبدالرزاق رحمة الله علیه اُووے، هغهٔ ته مَعْمَر رحمة الله علیه اُووے هغهٔ زُهري رحمة الله علیه اُووے، هغهٔ ته عُروه رحمة الله علیه اُووے، هغهٔ ته حضرت عائشے رضي الله عنها اُووے، هغے ته نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد اُوفرمایهٔ۔ هغهٔ ته حضرت جبرئیل علیه السلام عرض اُوکړهٔ، اَو هغهٔ ته تاسو اُوفرمایل، چه څوك په اِسلام کښ بُوډا شي، اَو زهٔ هغهٔ ته (دهغهٔ دعملونو په وجه) دعذاب ورکولو اراده هُم اُوکړم لیکن دهغهٔ دبُوډاوالی نه حَیاء اُوکړم، معاف یے کړم، او دا تاسو ته معلومه ده چه زهٔ بُوډا یم۔ اِرشاد اُوشو چه عبدالرزاق رِیښتیا ویلي دي، او مَعْمَر هم رِیښتیا ویلي دي، زُهري هم رِیښتیا ویلي دي، عُروه هم رِیښتیا نقل کړي دي، عائشے هم رِیښتیا ویلي دي، او نبی علیه الصلوٰة والسلام هم رِیښتیا ویلي دي، او جبرئیل هم رِیښتیا ویلي دي، او ما هم رِیښتینے خبره کړے ده۔ یحيٰی رحمة الله علیه وائي چه دے نه پس ماته جنت ته د ننوتلو حکم اُوشو۔

(۲۳) عَنْ اَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم لَیْسَ شَیْءٌ اِلَّا بَیْنَهٗ وَبَیْنَ اللهِ

(نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد دے چه د هر عمل الله تعالیٰ ته رسیدو دپاره په مینځ کښ پرده وی، خو د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ او د پلار

Maktaba Tul Ishaat.com

حِجَابٌ اِلَّا قَوْلُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَدُعَاءُ الْوَالِدِ۔ | دُعا ځوئ د پاره۔ دے دواړو د پاره هیڅ پرده نشته۔

(اخرجه ابن مردویه کذا فی الدر المنثور و فی الجامع الصغیر بروایة ابن النجار و رقم له بالضعف و فی الجامع الصغیر بروایة الترمذی عن ابن عمر و رقم له بالصحة اَلتَّسْبِیْحُ نِصْفُ الْمِیْزَانِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَاُهٗ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ لَیْسَ لَهَا دُوْنَ اللّٰهِ حِجَابٌ حَتّٰی تَخْلُصَ اِلَیْهِ)

فائده: پرده نهٔ کیدو مطلب دادے چه دے څیزونو قبلید و کښ لږ غوندے وخت هم نهٔ لګی۔ د نورو کارونو په مینځ کښ قبلید و پورے نورے هم واسطے مانع وی، خو دا څیزونه نیغ د الله تعالیٰ دربارته زر ورورسی۔

د یو کافر بادشاه قصه یې لیکلې ده چه ډیر سخت ظالم کینه ور وو۔ اتفاقًا د مسلمانانو یو جنګ کښ ګرفتار شو۔ مسلمانانو ته دهٔ نه ډیر سخت تکلیفونه رسیدلی وو، نو دیدلے اخستلو جوش په دوی کښ هم ډیر وو، هغه یې په یو دیګ کښ واچوو، په اور باندے یې کیخوده۔ هغهٔ خو اول خپلو بُتانو ته آوازونه اُوکړل، آو مدد یې ترے اُوغوختلو، خو چه هیڅ اُونهٔ شو، نو هلته مسلمان شو، او د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وظیفه یې شروع کړه، او پرله پسے یې ویله۔ او په داسے حالت کښ چه څومره په خلوص او جوش سره ویلے شی، ښکاره ده۔ فوراً د الله تعالیٰ د طرفه مدد اُوشو، او داسے تیز باران اُوشو، چه هغه ټول اُور مړ شو، او دیګ یخ شو۔ دے نه پس تیزه سیلئ راغله، چه په هغے سره هغه دیګ والوته، او لرے په یو ښهر کښ کوم ځائ چه ټول کافران وو لاړو پریوتو۔ دهٔ پرله پسے کلمه ویله، خلق ترے ګیرچاپیره جمع شول۔ دا عجیبه کار یې چه اُولیدهٔ حیران شول۔ ددهٔ نه یې د حال پوښتنه اُوکړه۔ دهٔ ورته خپله ټوله قصه واورَوله، چه دے سره هغه خلق هم مسلمانان شول۔

(۲۴) **عَنْ** عُتْبَانَ بْنِ مَالِكٍ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَنْ یُّوَافِیَ عَبْدٌ یَّوْمَ الْقِیٰمَةِ یَقُوْلُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ یَبْتَغِیْ بِذٰلِكَ وَجْهَ اللّٰهِ اِلَّا حُرِّمَ عَلَی النَّارِ | د نبی اکرم ﷺ ارشاد مبارك دے، نه به راځی څوك د قیامت په ورځ چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ داسے وائی، چه د الله تعالیٰ د رضا نه سوا یې هیڅ مقصود نهٔ وی، خو دوزخ به په هغهٔ حرام شی۔

(اخرجه احمد والبخاری ومسلم وابن ماجة والبیهقی فی الاسماء والصفات کذا فی الدر)

فائده: ځوک چه په اِخلاص د کلمے طیبے وظیفه کوی، په هغهٔ د دوزخ اُورحرام یدلوکښ دظاهری قاعدے موافق داشرط دے چه د لویو ګناهونو نه یے ځان ساتلے وی۔ یا د دوزخ دحراموالی نه مراد په هغے کښ د همیشه اُوسیدل پرے حرام دی۔ ځکه اللهٔ جل شانهٔ ددے پاکے کلمے په اِخلاص وئیونکی دګناهونو باوجود بیخی ددوزخ نه معاف کړی، نوځوک یے منع کولے شی۔ حدیثونوکښ ددا سے بندګانو هم ذکر راغے چه د قیامت په ورځ به الله جل شانهٔ ځنے خلقوته اُوفرمائی، چه تا فلانئے ګناه کړے وه، فلانئے دِکړے وه۔ دارنګے چه کله ډیرګناهونه اُوشمیرلے شی، نو هغه به پوهه شی چه زهٔ هلاك شوم، اود اقرارنه بغیربه یے څهٔ لارنهٔ وی، نوارشادبه اُوشی چه مونږ په دُنیا کښ ستا په ګناهونو پرده اَچولے وه، نن هم ستا په ګناهونو پرده اَچوُو، ته مومعاف کړے۔ ددے قسمه ډیر واقعات حدیثونوکښ موجود دی، په دے وجه که د هغے ذاکرینو دپاره هم ددے قسمه معامله وی، نولرے نهٔ ده۔ والله تعالی پاك نوم کښ لوئے برکت اوفائدے دی۔ دے وجه نه چه خومره ډیروالے کیدےشی اِیله پرے نهٔ ده کول پکار۔ خومره خوش نصیبه دی هغه مبارکے هستئ، ځوک چه ددے پاکے کلمے په برکتونو پوهه شول، اود دِے په وظیفه کښ یے عُمرونه ختم کړل۔

(۲۵) **عن** یَحْیَی بْنِ طَلْحَةَ رضی اللہ عنہ بْنِ عُبَیْدِ اللّٰهِ قَالَ رُوِیَ طَلْحَةُ حَزِیْنًا فَقِیْلَ لَهٗ مَالَكَ قَالَ اِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم یَقُوْلُ اِنِّیْ لَاَعْلَمُ کَلِمَةً لَا یَقُوْلُهَا عَبْدٌ عِنْدَ مَوْتِهٖ اِلَّا نَفَّسَ اللّٰهُ عَنْهُ کُرْبَتَهٗ وَاَشْرَقَ لَوْنُهٗ وَرَاٰی مَا یَسُرُّهٗ وَمَا مَنَعَنِیْ اَنْ اَسْاَلَهٗ عَنْهَا اِلَّا

حضرت طلحه رضی اللہ عنہ خلقواُولیده چه ډیر غمژن ناست وُو، چا ترے تپوس اُوکړو چه دا ولے؟ وے فرمایل، ما دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه اَوریدلی وُو چه ما ته یوه داسے کلمه معلومه ده، چه ځوك دمرګ په وخت هغه اُووائی نو د مرګ تکلیف به ترے لرے شی او رنګ به یے روښانه شی، او دخوشالئ منظر به اُووینی۔ خوما ته دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه ددغه کلمے دتپوس طاقت اُونهٔ شو ددے را ته

Maktaba Tul Ishaat.com

الْقُدْرَةُ عَلَيْهِ حَتّٰى مَاتَ فَقَالَ عُمَرُ رضی اللہ عنہ إِنِّي لَأَعْلَمُهَا قَالَ فَمَا هِيَ قَالَ لَا نَعْلَمُ كَلِمَةً هِيَ أَعْظَمُ مِنْ كَلِمَةٍ أَمَرَ بِهَا عَمَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ قَالَ فَهِيَ وَاللّٰهِ هِيَ.

(اخرجہ البیہقی فے الاسماء والصفات کذا فے الدر قلت اخرجہ الحاکم وقال صحیح

غم دے) حضرت عمر رضی اللہ عنہ اُوفرمایل ، ماته معلومه ده. طلحه رضی اللہ عنہ (خوشاله شو) وے وَیل کومه ده؟ حضرت عُمر رضی اللہ عنہ اُوفرمایل موثر. ته معلومه ده چه هیڅ یوه کلمه دَ دے نه لویه نشته کومه چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم خپل تره (اَبُوطالب) ته پیش کړے وه ، او هغه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ده - طلحه رضی اللہ عنہ اُوویل، وَاللّٰهِ هم دا ده ، وَاللّٰهِ هم دا ده -

علےٰ شرط الشیخین واقرہ علیہ الذہبی واخرجہ احمد واخرج الضیاء من مسند عمر بمعناہ بزیادۃ فیہما و اخرجہ ابن ماجۃ عن یحیی بن طلحۃ عن امہ وفے شرح الصدور للسیوطی واخرج ابویعلی والحاکم بسند صحیح عن طلحۃ وعمر قالا سمعنا رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم یقول انی اعلم کلمۃ الحدیث)

فائده : کلمه طیبه سراسر نُور او خوشالی کیدل ډیرو روایتونو نه معلومیږی - حافظ ابن حجر رحمۃ اللہ علیہ مُنَبِّهات کښ حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ نه نقل کړی دی ، چه تیارے پنځه دی - او پنځه دهغے ډیاره ډیوے دی - دَ دُنیا مُحَبَّت تیاره ده ، ددے ډیوه تقوٰی ده - او گناه تیاره ده ، ددے ډیوه توبه ده - او قبر تیاره ده ، ددے ډیوه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ده - او آخرت تیاره ده ، ددے ډیوه نیک عمل دے - او پُل صراط تیاره ده ، ددے ډیوه یقین دے -

رابعه عدویه مشهوره بزرګه وه - ټوله شپه به مانځه کښ لګیا وه - دَصُبحِ صادق نه پس به لږه شان اُوده کیدله - او هرکله چه به دَسحر رڼا ښه ښکاره شوه ، نو په ویره به راپاسیده ، او ځان به یے ملامته کوله چه ترکومے پورے به اُوده یے - ډیره زر د قبر زمانه راتلونکے ده ، چه په هغے کښ به د شپیلئ پُوکوهلو پورے اُوده یے - چه کله یے د مرګ وخت نزدے شو ، نو یوے خدمتګارے ته یے وصیت اُوکړو ، چه دا معمولی کُنډ چه ما به زُهد په وخت اَغوستلو - په دے کښ م کفن کړه - او چا نه زما د مرګ خبر مه کوه - د وصیت مطابق یے دکفن دفن انتظام اُوکړے شو - روستو دَ هغے خدمتګارے

خوب کښې اُولیدهٔ، چه ډیرے ښکلې جامے یے آغوستے دی۔ تپوس یے ترے اُوکړهٔ چه ستا هغه کندځهٔ شو په کوم کښې چه درته کفن درکړے شوے وُو؟ وِے ویل چه هغه یے راغونډ کړهٔ زما عملونو سره یے کیخودهٔ۔ خدمتګارے ورته درخواست اُوکړهٔ چه ماته څهٔ نصیحت اُوکړه، وِے ویل چه دالله تعالیٰ ذکر خومره چه کولے شے اُکوه۔ چه درے په وجه به ته په قبر کښې قابله دِ ښخیدو جوړه شے۔

(۲۶) عَنْ عُثْمَانَ رضی اللہ عنہ قَالَ إِنَّ رِجَالًا مِّنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صلی اللہ علیہ وسلم حِيْنَ تُوُفِّيَ حَزِنُوْا عَلَيْهِ حَتّٰى كَادَ بَعْضُهُمْ يُوَسْوِسُ قَالَ عُثْمَانُ رضی اللہ عنہ وَكُنْتُ مِنْهُمْ فَبَيْنَا أَنَا جَالِسٌ مَرَّ عَلَيَّ عُمَرُ رضی اللہ عنہ وَسَلَّمَ فَلَمْ أَشْعُرْ بِهٖ فَاشْتَكٰى عُمَرُ رضی اللہ عنہ إِلٰى أَبِيْ بَكْرٍ رضی اللہ عنہ ثُمَّ أَقْبَلَا حَتّٰى سَلَّمَا عَلَيَّ جَمِيْعًا فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ رضی اللہ عنہ مَا حَمَلَكَ عَلٰى أَنْ لَّا تَرُدَّ عَلٰى أَخِيْكَ عُمَرَ رضی اللہ عنہ سَلَامَهٗ قُلْتُ مَا فَعَلْتُ فَقَالَ عُمَرُ رضی اللہ عنہ بَلٰى وَاللّٰهِ لَقَدْ فَعَلْتَ قَالَ قُلْتُ وَاللّٰهِ مَا شَعَرْتُ أَنَّكَ مَرَرْتَ وَلَا سَلَّمْتَ قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ رضی اللہ عنہ صَدَقَ عُثْمَانُ رضی اللہ عنہ قَدْ شَغَلَكَ عَنْ ذٰلِكَ أَمْرٌ فَقُلْتُ أَجَلْ قَالَ مَا هُوَ قُلْتُ تَوَفَّى اللّٰهُ تَعَالٰى نَبِيَّهٗ صلی اللہ علیہ وسلم قَبْلَ أَنْ نَّسْأَلَهٗ عَنْ نَجَاةِ هٰذَا الْأَمْرِ قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم (زما روح ترے قربان شَه) د وفات په وخت صحابه کرام رضی اللہ عنہم دومره سخت غمژن وُو چه ډیر په مختلفو وَسوَسو کښې ګیر شول۔ حضرت عثمان رضی اللہ عنہ فرمائی چه زهٔ هم د هغې خلقو نه وُم، کوم چه وَسوَسو کښې ګیر شوی وُو (زهٔ په داسې حال کښې ناست وُم) حضرت عُمر رضی اللہ عنہ زما خواته راغے اَو سلام یے اُوکړهٔ، خو ماته اَپه دیته اُونهٔ لګیده۔ هغهٔ حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ته شکایت اُوکړهٔ چه عثمان په ظاهِر خفه دے چه ما سلام اُوکړهٔ، هغهٔ اَپه جواب رانکړو۔ دِے نه پس دواړه حضرات یوځائ راغلل، او سلام یے اُوکړو۔ حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ پوښتنه اُوکړه، چه تا خپل رور عُمر رضی اللہ عنہ ته د سلام جواب وَلے ورنکړو؟ (څهٔ خبره ده؟) ما عرض اُوکړهٔ چه ما خو داسے نهٔ دی کړی۔ حضرت عُمر رضی اللہ عنہ اُوفرمایل هُم داسے شوی دی، ما عرض اُوکړهٔ چه زهٔ نهٔ ستا په راتلو خبر یم، چه کله راغلے وے، اَو نهٔ دِ په سلام پوهه شوے یم۔ حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ اُوفرمایل، رښتیا دی، هم داسے به شوی وی۔ غالبًا ته به

Maktaba Tul Ishaat.com

رضی اللہ عنہ قَدْ سَالْتُهُ عَنْ ذٰلِكَ فَقُمْتُ اِلَيْهِ وَقُلْتُ لَهٗ بِاَبِیْ اَنْتَ وَاُمِّیْ اَنْتَ اَحَقُّ بِهَا قَالَ اَبُوْبَکْرٍ رضی اللہ عنہ قُلْتُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا نَجَاةُ هٰذَا الْاَمْرِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم مَنْ قَبِلَ مِنِّی الْکَلِمَةَ الَّتِیْ عَرَضْتُ عَلٰی عَمِّیْ فَرَدَّهَا فَهِیَ لَهٗ نَجَاةٌ۔

(رواہ احمد کذا فی المشکوٰۃ و فی مجمع الزوائد رواہ احمد والطبرانی فی الاوسط باختصار والبعلی بتمامہ والبزار بنحوہ وفیہ رجل لم یسم لکن الزہری وثقہ وا بہم آھ۔ قلت وذکر فی مجمع الزوائد لہ متابعات بالفاظ متقاربۃ)

په څهٔ سوچ فکرکښ ناست وے۔ ما عرض اُوکړهٔ، واقعی زهٔ په یو ډیر سوچ کښ وم۔ حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ پوښتنه اُوکړه، هغه څهٔ وُو؟ ما عرض اُوکړهٔ، چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم وفات شو، او مونږ ترے دا اَهم تپوس اُونکړو چه د دے کار خلاصے په څهٔ څیز کښ دے؟ حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ اُوفرمایل چه ما ترے تپوس کړے وُو، زهٔ پاسیدم، اَو ما اُووَے چه ستا سو دِ زما مور پلار قربان وی واقعی هُم ته زیات حقدار وے د دے پوښتنے (چه د دین په هر یو څیز کښ د تهولو نه مخکښے یے) حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ وُفرمایل، ما د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه پوښتنه کړے وه، چه د دے کار خلاصے څهٔ دے؟ هغوی ارشاد اُوفرمایهٔ چه څوک دغه کلمه قبوله کړی، کومه چه ما خپل ترهٔ (ابوطالب ته د هغهٔ د وفات په وخت) پیش کړے وه، او هغهٔ رَدْ کړے وه، هم دغه کلمه هغهٔ د پاره خلاصے دے۔

فائده: وسوسو کښ اخته کیدو مطلب دا دے چه صحابه کرام رضی اللہ عنہم دغه وخت د خفګان او غم په تکلیف کښ داسے پریشانه شوی وُو، چه د حضرت عُمر رضی اللہ عنہ په شان دلوئے مرتبے بهادر توره په لاس کښ اخستلے وَلاړ وُو، چه څوک دا اُووائی چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم وفات شو، د هغهٔ سر به وَهم۔ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم د خپل رب ملاقات د پاره تشریف اُوړے دے، لکه څنګه چه موسیٰ علیہ الصلوٰۃ والسلام کوهِ طور ته تشریف اُوړے وُو۔ د څنے صحابه وُ خیال پیدا شو چه دین اُوس ختم شو۔ څنے په دے سوچ کښ وُو چه اوس د دین د ترقئ هیڅ شکل نهٔ شی کیدے۔ څنے بالکل وارخطا وُو، چه اَهو خبرے یے نهٔ شوے کولے بس یو دا ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ ذات وُو، چه سره د دے چه د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم سره

بے کامل عشق او کامل محبّت وُو، دغه وخت ثابت قدم په کلکو قدمونو ولاړ وُو.
بنهٔ په اُوچت آواز یے خُطبه اُووَیله چه په هغے کښ وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ایت
یے اُولوستهٔ چه د هغے ترجمه داده، چه محمد صلی الله علیه وسلم صرف رسول دے (الله خو
نهٔ دے چه ورته مرګ نهٔ راځی) پس کهٔ چرے دے مړشی یا شهید شی، تو
تاسو به د دین نه واپس اُوګرزئ، او چه څوك (د دین نه) واپس اُوګرزی هغوی
د الله څوځهٔ نقصان کولے نهٔ شی (خپل نقصان به کوی) د اقصه مختصره
ما خپله رساله "حکایاتِ صحابه" کښ لیکلے ده۔

مختکښ چه کوم اِرشاد دے چه دے کار خلاصه څهٔ دے؟ د دے دوه
مطلبه دی۔ یو دا چه د دین کارونه خو پریږدی، دے ټولو کارونو کښ مدار
په کوم څیز دے؟ چه د هغے نه بغیر علاج نهٔ وی۔ د دے مطلب موافق جواب
ښکاره دے، چه د دین ټول دارومدار په کلمهٔ شهادت دے او د اِسلام جرړه
هم کلمه طیّبه ده۔ دویم مطلب دا دے چه دِ دے کار یعنی دین کښ تکلیفونه
هم پیښیږی، وَسوَسے په کښ هم راځی۔ د شیطان خلل اچول هم یو
مستقل مصیبت دے، دُنیوی ضرورتونه هم خپل طرفته راکاږی۔ د دے حالت
کښ مطلب حدیث دا دے چه د کلمے طیبے ډیر ډیر ورئیل د دے ټولو څیزونو علاج
دے۔ چه د اِخلاص پیدا کوی، زړونه صَفا کوی، او د شیطان د هلاکت سبب
دے څنګه چه د دغے ټولو روایتونو کښ د دے اثرات ډیر ذکر کړے شوی دی۔

یو حدیث کښ راغلی دی چه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ کلمه د خپل ویونکی نه
یو کم ۹۹ سل قسمه بلا ګانے لرے کوی چه په هغے کښ د ټولو نه کمه بلا غم
دے چه هر وخت په بنده کا سوروی۔

(۲۷) عَنْ عُثْمَانَ رضی الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم يَقُوْلُ اِنِّىْ لَاَعْلَمُ كَلِمَةً لَا يَقُوْلُهَا عَبْدٌ حَقًّا مِّنْ قَلْبِهٖ اِلَّا حُرِّمَ عَلَى النَّارِ فَقَالَ لَهٗ عُمَرُ ابْنُ الْخَطَّابِ اَنَا اُحَدِّثُكَ مَا

حضرت عثمان رضی الله عنه فرمائی چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اَوریدلی وُو چه زهٔ یو داسے کلمه پیژنم چه څوك د احقه اُوکړی په اِخلاص اَو د زړهٔ په (یقین سره) یے اُووائی نو د دوزخ اَور په هغهٔ حرام دے۔ حضرت عُمر رضی الله عنه اُو فرمایل چه زهٔ درته اُوښایم

Maktaba Tul Ishaat.com

هِیَ هِیَ كَلِمَةُ الْاِخْلَاصِ الَّتِیْ اَعَزَّ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی بِهَا مُحَمَّدًا ﷺ وَاَصْحَابَهٗ وَهِیَ كَلِمَةُ التَّقْوٰی الَّتِیْ اَلَاصَ عَلَیْهَا نَبِیُّ اللّٰهِ ﷺ عَمَّهٗ اَبَا طَالِبٍ عِنْدَ الْمَوْتِ شَهَادَةَ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ -

هغه کلمه کومه ده - دا هغه کلمه ده په کومه چه الله تعالیٰ خپل رسول ﷺ او هغه صحابو رضی الله عنهم ته عزت ورکړهٔ - دا هغه د تقویٰ کلمه ده، د کومے چه نبی اکرم ﷺ د خپل تره ابوطالب نه د وفات په وخت ارزو کړے وه - هغه گواهی ورکول دی د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ -

(رواه احمد واخرجه الحاکم بهذا اللفظ وقال صحیح علی شرطهما واقره علیه الذهبی واخرجه الحاکم بروایة عثمان رضی الله عنه عن عمر رضی الله عنه مرفوعًا اِنِّیْ لَاَعْلَمُ كَلِمَةً لَّا يَقُوْلُهَا عَبْدٌ حَقًّا مِّنْ قَلْبِهٖ فَيَمُوْتُ عَلٰى ذٰلِكَ اِلَّا حَرَّمَهُ اللّٰهُ عَلَى النَّارِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وقال هذا صحیح علی شرطهما ثم ذکر له شاهدین من حدیثهما)

فائده: د نبی اکرم ﷺ تره ابوطالب قصه حدیث، تفسیر او تاریخ کتابونو کښ مشهوره ده، چه کله د هغهٔ د وفات وخت نزدے شو، نو چونکه د هغهٔ احسانات په نبی اکرم ﷺ او په مسلمانانو پیروُو، ځکه نبی اکرم ﷺ هغهٔ ته تشریف یوړهٔ، او ارشاد یے اُوفرمایهٔ چه اے زما تره! لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اُووَایه چه د قیامت په ورځ ما ته ستا د سفارش کولو موقع ملاؤ شی - او زهٔ الله تعالیٰ ته ستا د اسلام گواهی ورکړے شم - دهٔ اُووَے چه خلق به ما ته پیغور راکوی چه د مرګ له ویرے یے د وُرارهٔ دین قبول کړه، کچرے دا خیال نهٔ وَے نو ما به دا وخت د دے کلمے په ویلو ستا سترگے یخے کړے وے - په دے خبره نبی اکرم ﷺ غمژن شو واپس راغے - د دے قصه کښ د قرآن شریف آیت اِنَّكَ لَا تَهْدِیْ مَنْ اَحْبَبْتَ (سورة قصص -ع ٦) نازل شو چه د دے ترجمه دا ده، چه ته چا ته غواړے هدایت نهٔ شے کولے، بلکه الله تعالیٰ چه چا ته غواړی هدایت کوی - د دے قصے نه دا هم ښکاره شوه، چه کوم خلق فسق و فجور (گناهونو) کښ اَخته وی، الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول ﷺ نه بے تعلقه وی، او د اکثری چه د چا خپلو خپلوانو بزرگانو سره به مو بیړئ پورے وَړی، سخته غلطئ کښ دی کارونه کولو و الا صرف الله تعالیٰ دے، هغهٔ طرف ته رجوع کول پکار دی - هغهٔ سره رښتنے تعلق قائمول ضروری دی - البته د الله والو سره تا سته

پاسته، دهغوی دُعا، دهغوی توجّه مومن د کولے شی۔

عَنْ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا اَذْنَبَ اٰدَمُ الذَّنْبَ الَّذِیْ اَذْنَبَهٗ رَفَعَ رَأْسَهٗ اِلَى السَّمَآءِ فَقَالَ اَسْئَلُكَ بِحَقِّ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَّا غَفَرْتَ لِیْ فَاَوْحَى اللّٰهُ اِلَيْهِ مَنْ مُّحَمَّدٌ فَقَالَ تَبٰرَكَ اسْمُكَ لَمَّا خَلَقْتَنِیْ رَفَعْتُ رَأْسِیْ اِلٰى عَرْشِكَ فَاِذَا فِيْهِ مَكْتُوْبٌ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ فَعَلِمْتُ اَنَّهٗ لَيْسَ اَحَدٌ اَعْظَمَ عِنْدَكَ قَدْرًا مِّمَّنْ جَعَلْتَ اسْمَهٗ مَعَ اسْمِكَ فَاَوْحَى اللّٰهُ اِلَيْهِ يَآ اٰدَمُ اِنَّهٗ اٰخِرُ النَّبِيِّيْنَ مِنْ ذُرِّيَّتِكَ وَلَوْلَا هُوَ مَا خَلَقْتُكَ.

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارك دے چه حضرت ادم علیه السلام نه چه کله هغه گناه اُوشوله (د کومے په وجه چه دجنت نه دُنیاته راولیږلے شو، نو هر وخت به یے ژړل اودُعا او استغفار به یے کولو، یو وار یے) اسمان طرف ته مخ کړو، عرض یے اُوکړو، اے الله! د محمد صلی اللہ علیہ وسلم په وسیله لتانه بخښنه غوارم۔ وحی نازله شوه چه محمد څوك دے؟ (دچا په وسیله چه تا بخښنه اُوغوښتله) عرض یے اُوکړو چه کله تا زۀ پیدا کړے وم، نو ما په عرش لیکلے شوی لیدلی وُو، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ۔ نو زۀ پوهه شوم چه د محمد (صلی اللہ علیہ وسلم) نه اُوچته هستی بله نشته چه دچا نوم تا خپل نوم سره ساتلے دے۔ وحی نازله شوه چه هغه خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دے، ستا داولاد نه دے، کچرے هغه نه دے، نو نه به هم نه وے پیدا کړے شوے۔

(اخرجه الطبرانی فی الصغیر والحاکم وابو نعیم والبیهقی کلاهما فی الدلائل وابن عساکر فی الدر وفی مجمع الزوائد رواه الطبرانی فی الاوسط والصغیر وفیه من لم اعرفهم قلت ویؤید الآخر الحدیث المشهور لَوْلَاكَ لَوْلَاكَ لَمَا خَلَقْتُ الْاَفْلَاكَ قال القاری فی الموضوعات الکبیر موضوع لکن معناه صحیح وفی التشرف معناه ثابت ویؤید الاول ماورد فی غیر روایة من انه مکتوب علی العرش واوراق الجنة لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ کما بسط طرقه السیوطی فی مناقب اللآلی فی غیر موضع بسط له شواهد ایضا فی تفسیره فی سورة الم نشرح)

فائده: حضرت ادم علیه السلام به په دغه وخت څه څه دُعا گانے کړے وے، او څنګه څنګه منت زاری، ژړا یے کړے وه۔ دے بارہ کښں ډیر روایتونه راغلی دی، خو په هغے کښں هیڅ خلاف نشته۔ په چا چه د مالك ناراضتیا او د

Maktaba Tul Ishaat.com

اقا خفګان وی، هم هغه یے پیژنی - ددے پے حقیقته مالکانو د ناراضتیا په وجه نوکرانو او خادمانو باندے څهٔ څهٔ تیریږی - او هلته خو مَالِكُ الْمُلْكِ رَزَّاقِ عالَم (ټولے دُنیا ته رزق ورکوونکے) یعنی د الله تعالیٰ غصه ده او په چا تیریدله، په هغے کس چه چا ته یے په فرښتو سجده کړے وه، خپل نزدے دوست یے جوړ کړے وو - څوك چه څومره نزدے دوست وی، هغومره په هغهٔ د غصے اثر کیږی په شرط ددے چه کمینه (رذیل) نهٔ وی، او هغه خو نبی وو.

حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه حضرت آدم علیه السلام دومره ژړلی وو، که چرے د ټولے دُنیا د بنیاد موژړا کانے جمع کړے شی، نو د هغے برابر نهٔ شی کیدے، غلو بینبتو کالو پورے یے سر پورته نهٔ وو اوچت کړے.

حضرت بُرَیدَه رضی الله عنه په خپله د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی که چرے د آدم علیه السلام د ژړا د ټولے دُنیا د ژړا سره مقابله اوکړے شی، نو د هغهٔ ژړا به ترے زیاته شی -

یو حدیث کښ دی که چرے د هغهٔ اوښکے د هغهٔ د ټول اولاد د اوښکو سره اوتللے شی، نو د هغهٔ اوښکے به ترے زیاتے شی - دا سے حالت کښ به یے څهٔ څهٔ رنګے زاری منت کړے وی، ښکاره ده - سه

یاں لب پہ لاکھ لاکھ سخن اضطراب میں ؛ واں ایک خاموشی مری سبکے جواب میں

دلته په شونډو لکهونو خبرے اضطراب کښ ؛ هلته یوه د خاموشی زما د ټولو جوابکښ

په دے وجه کوم چه روایتونو کښ ذکر کړے شوی دی، د دے ټولو یه مجموعه کښ هیڅ شک نشته، د هغے ټولو نه یوه داهم ده چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم وسیله یے اختیاره کړه - دویم مضمون په عرش باندے لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ لیکلے وه، دا هم ډیرو مختلفو روایتونو کښ راغلی دی -

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائی، زهٔ جنت کښ داخل شوم، نو ما د هغے دواړو اړخونو کښ درے کرخے د سرو زرو په اوبو لیکلے شوے اولیدلے. رومبئ کرخه کښ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ لیکلے وه - دویمه کرخه کښ مَا قَدَّمْنَا وَجَدْنَا وَمَا اَكَلْنَا رَبِحْنَا وَمَا خَلَّفْنَا خَسِرْنَا وه - (کوم څهٔ چه مونږ مخکښ اولیږل یعنی صدقه خیرات وغیره مو اوکړل، هغه مو بیا موندل، او کوم څهٔ چه مو په دُنیا کښ اوخوړل، هغه مو ګټه اوکړه، او کوم څهٔ چه مو

پرېږدل هغه مونقصان اُوکړه) او دریمه کرخه کښې دی، اُمَّةٌ مُّذۡنِبَةٌ وَّرَبٌّ غَفُوۡرٌ (اُمت گنهګار دے اَورب بخښونکے دے)

یونبزرګ وائی زۀ دهندوستان یو ښهرته اُورسیدم، نوما هلته یوه وُنه اُولیدله، چه دهغې میوه دبادام په شان وه، دهغې دوه پوستکی وُو، هرکله چه هغه مات کړے شو، نو دهغې دننه نه یوه شنه پاڼړه اُنغښتے راوُزی، چه هغه پرا نستلے شوه، نو په سُرخئ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللّٰهِ پرے لیکلے وُو۔ مادا قصه ابویعقوب شکاری رحمۃ اللہ علیہ ته ذکرکړه۔ هغهٔ اُووے دحیرانتیا خبره نۀ ده۔ ما په اِیله (ښهر) کښې یوکب ښکارکړے وُو۔ دهغهٔ په یوغوږ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ او په بل مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللّٰهِ لیکلے شوے وُو۔

(۲۹) عَنۡ اَسۡمَآءَ رضی اللہ عنہا بِنۡتِ یَزِیۡدَ بۡنِ السَّکَنِ عَنۡ رَّسُوۡلِ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم اَنَّهٗ قَالَ اِسۡمُ اللّٰهِ الۡاَعۡظَمُ فِیۡ هَاتَیۡنِ الۡاٰیَتَیۡنِ وَ اِلٰهُکُمۡ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحۡمٰنُ الرَّحِیۡمُ ۵ وَ الٓمّٓ ۵ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الۡحَیُّ الۡقَیُّوۡمُ ۵

حضرت اسماء رضی اللہ عنہا دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه نقل کوی چه د اللّٰه تعالیٰ دټولونه لوئ نوم رکوم چه د اِسمِ اعظم په نامه عام طور مشهور دے) په دے دوه آیتونوکښې دے (په شرط دد ے چه په اِخلاص اُووَیلے شی) وَاِلٰهُکُمۡ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحۡمٰنُ الرَّحِیۡمُ (سورۃ بقرہ۔ ع ۱۹) او الٓمّٓ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الۡحَیُّ الۡقَیُّوۡمُ ۵ (سورۃ آل عمران۔ ع ۱)

(اخرجه ابن ابی شیبة واحمد والدارمی وابوداؤد والترمذی وصححه وابن ماجة وابومسلم الکجی فی السنن وابن الضریس وابن ابی حاتم والبیهقی فی الشعب کذا فی الدر)

فائده: دا اسمِ اعظم په باره کښې روایات حدیثونوکښې ډیرراغلی دی، چه کوم دُعا دهغې نه روستو اُوغوختلے شی هغه قبلیږی، البته دا اسمِ اعظم په مقرر تیا کښې روایات مختلف راغلی دی۔ او دا اللّٰه تعالیٰ عادت دے چه هر یو داسے ضروری خیزد پټوالی په وجه اِختلاف پیدا کوی، لکه د شپِ قدر په مقررتیا کښې، دجُمعے په ورځ دُعا قبلیدو خاص وخت کښې اِختلاف شوے دے۔ په دے کښې ډیر مصلحتونه دی، کوم چه ماخپله رِساله "فضائلِ رمضان" کښې لیکلی دی۔ دغسے دا اسمِ اعظم په خاص کولوکښې مختلف روایتونه

Maktaba Tul Ishaat.com

راغلی دی، د هغې تولونه دا روايت هم دے، چه کوم پورته ذکر شو. نورو روايتونو کښې هم ددغې اٰيتونو په باره کښې اِرشاد شوے دے.

حضرت اَنس رضي الله عنه د نبی اکرم صلی الله عليه وسلم نه نقل کوی چه مُتَمَرِّد (سرکش) او شرير شيطانانو باندے ددے دوه وُ اٰيتونو نه زيات سخت نور اٰيتونه نشته. هغه دوه اٰيتونه وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ نه شروع کيږی.

ابراهيم بن وَسْمه رحمة الله عليه وائی په چاچه دليونتوب اثر شوے وی، هغهٔ د پاره ددے اٰيتونو لوستل فائده مند دی. او څوك چه ددے اٰيتونو د لوستلو پابندی کوی، د دے قسمه څيزونو نه به محفوظ وی. وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ط پوره اٰيت (سورة بقره، ع ۱۹) اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ اٰيةُ الکرسی او د سورة بقرے اٰخری اٰيت، او اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ نه مُحْسِنِيْنَ پورے. (سورة اعراف ع ۷) او د سورة حَشر اٰخری اٰيتونه (هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نه) مونږ ته دا خبره رارسيدلے ده چه دا ټول اٰيتونه (کوم چه موشمير کړل) د عرش په کونجونو باندے ليکلے شوی دی. او ابراهيم بن وَسْمه رحمة الله عليه به دا هم ويل چه ماشومانو ته به، چه کله به ويريدل، يا پرے د نظر لګيدو خطره وه، نو دا اٰيتونه به هغوئ د پاره ليکل.

علامه شامی رحمة الله عليه د حضرت امام اعظم رحمة الله عليه نه نقل کړی دی، چه اسمِ اعظم لفظ د "الله" دے او ليکلی دی چه هم دا قول د علامه طحاوی رحمة الله عليه او د ډيرو عالمانو نه نقل کړے شوے دے. او اکثرو عارفينو (دلويو صوفيانو) هم دا تحقيق دے، په دے وجه ددوی په نزد ذکر هم د دے پاك نامے ډير کيږی. حضرت شيخ عبدالقادر جيلانی رحمة الله عليه نه هُم دا نقل کړے شوے ده، فرمائی چه اِسمِ اعظم "الله" دے، په شرط ددے چه ته دا پاك نوم واخلے، نو ستا په زړهٔ کښې د هغهٔ نه سِوا نور هيڅ نهٔ وی. فرمائی چه عوامو له د اِپاك نوم دا سے اخستل پکار دی، چه کله دا په ژبه جاری شی، نو عظمت او ويرے سره وی، او خواصو د پاره دا سے وی چه ددغے پاك نوم د خاوند ذات او صفات هم په زړهٔ کښې حاضر وی. او اَخَصُّ الْخَوَاص (يعنې ډير خاص خلقو) د پاره دا ضروری ده چه د دغے پاك ذات نه سِوا په زړهٔ کښې هيڅ څيز نهٔ وی. ويلے شی چه قرآن شريف کښې هم دا پاك نوم دومره ډير ذکر کړے شوے دے چه څهٔ حد وحساب

بے نشتہ، تعداد یے دوہ زرہ درے سوہ شپیتہ (۲۳۶۰) ښائی۔

شیخ اِسمٰعیل فرغانی رحمۃ اللہ علیہ وائی چہ ماتہ څۀ مودہ د اِسمِ اعظم زدہ کولو ارزو وہ، مجاهدے بہ مِ ډیرے کولے، څو څو ورځے بہ مِ نهرے تیرولے، تردے چہ د نهرے دوجہ نہ بہ بے هوښہ پریوتم۔ یوہ ورځ د دِمشق پہ جُمات کښې ناست وم، چہ دوہ سړی جُمات تہ راغلل، او زما نزدے اُودریدل، ماچہ هغوی ولیدل، خیال مِ اوکړو چہ دا فرښتے معلومیږی۔ هغوی کښې یوے د بل نہ تپوس اوکړو۔ ایا تۀ اِسمِ اعظم زدہ کول غواړے، هغۀ اُووے اَو۔ راتہ اُوښایہ ماچہ دا خبرے اَترے واورید لے، ورتہ مِ فکر اُوکړو، نو ورتہ یے اُووے، چہ هغہ خو لفظ د "اللّٰہ" دے، پہ شرط د دے چہ صِدق لګا سرہ وی شیخ اسمٰعیل رحمۃ اللہ علیہ وائی چہ د صِدق لګا مطلب دا دے چہ د وئیونکی حالت دغہ وخت د اسے وی څنګہ چہ څوک دریاب کښې ډوبیږی، او څوک د هغۀ بچ کونکے نۀ وی۔ نو دا سے وخت چہ څومرہ خلوص سرہ نوم اخستلے شی، دغہ حالت ترے مراد دے۔ اِسمِ اعظم معلومولو پارہ دلوئ اهلیت او د لوئ صبر او د ډیر برداشت ضرورت دے۔

د یو بزرګ قصہ یے لیکلے دہ چہ هغۀ تہ اِسمِ اعظم ورتلۀ، یو فقیر یے پہ خدمت کښې حاضر شو، او درخواست یے ورتہ اُوکړو چہ ماتہ هم اُوښایہ، هغۀ بزرګ ورتہ اُووے، چہ تا کښې اهلیت نشتہ، فقیر اُووے چہ ما کښې د دے اهلیت شتہ۔ نو بزرګ اُوفرمایل، چہ ښہ دہ، فلانی ځائ تہ لاړ شہ کښینہ او چہ څۀ واقعہ هلتہ پیښہ شی، د هغې ماتہ خبر راکړہ۔ فقیر هغہ ځائ تہ لاړو، وے لیدل چہ یو بوډا سړی پہ خر لرګی راباړ کړی دی راروان دی۔ مخکښې ورتہ یو سپاهی راغے، چہ هغۀ دا بوډا اُووهۀ، او لرګی یے ترے واخستل فقیر تہ پہ دے سپاهی ډیرہ غصہ راغلہ۔ واپس راغے، او بزرګ تہ یے ټول قصہ واورولہ، اُووے ویل کۀ چرے ماتہ اِسمِ اعظم راتلے، نو دغے سپاهی تہ بہ مِ خیرے کړے وے، بزرګ ورتہ اُووے، چہ دغے لرګو والا نہ ما اسمِ اعظم زدہ کړے دے۔

(۳۰) عَنْ اَنَسٍ رضی اللہ عنہ قَالَ | د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارک دے، چہ (د

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اَخْرِجُوْا مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَفِىْ قَلْبِهٖ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِّنَ الْاِيْمَانِ اَخْرِجُوْا مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ، اَوْ ذَكَرَنِىْ اَوْ خَافَنِىْ فِىْ مَقَامٍ

قیامت په وُرځ به) الله تعالیٰ اِرشاد اُوفرمائی چه د دوزخ نه هرهغه کس راوُباسئ ، چا چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ویلی وی، او دهغهٔ په زړهٔ کښ دیوے ذرّے برابر ایمان وی ، او هرهغه څوك ترے راوُباسئ چا چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله ویلی وی، یا ځهٔ یے (په څهٔ قسمه) یاد کړے یم، یا په څهٔ موقع مانه یَرِیدلے وی

(اخرجه الحاکم .برواية المؤمل عن المبارك بن فضالة وقال صحيح الاسناد واقره عليه الذهبي وقال الحاكم قد تابع ابوداود مؤملا على روايته واختصره)

فائده : دے پاکه کلمه کښ الله جل شانهٔ څهٔ څهٔ برکتونه ایخی دی دد ے معمولی غوندے اندازه دومره خیرے نه کیدے شی چه دسلو کالو نو ړا چه دهغهٔ ټول عمر کفر او شرك کښ تیر شوے وی، یو وارے دا پاکه کلمه ایمان سره اُووائی مسلمان شی ، نو دټول عمر ټول گناهونه ترے لرے کړے شی او دایمان راوړلو نه پس کهٔ چرے گناهونه یے کړی وی ، بیا هم ددے کلمے په برکت څهٔ نه څهٔ وخت به د دوزخ نه ضرور اُوزی . حضرت حُذیفه رضی الله عنه چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم رازدار دے ، فرمائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد اُوفرمایهٔ (چه یوه زمانه دا سے راتلونکے ده) چه اِسلام به دا سے خیرن شی څنګه چه د جامے نقش ونګار (دزوړوالی په وجه) خیرن شی ، چه نهٔ به څوك روژه پیژنی نهٔ حج نهٔ زکوٰة - اخر به یوه شپه داسے راشی چه قرآن شریف به هم اُوچت کړے شی، هیڅ ایت به ددے باقی پاتے نهٔ شی - بوډاګان نارینه او بوډئ ښځے زنانه به داوائی چه مونږ دخپلو مشرانو نه کلمه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله آوریدلے وه ، مونږ به هم داوایو - دحضرت حُذیفه رضی الله عنه یو شاګرد تپوس اُوکړهٔ ، چه هر کله زکوٰة ، حج ، روژه هیڅ رُکن نهٔ وی ، نو یوائے دا کلمه به څهٔ کار ورکړی؟ حضرت حُذیفه رضی الله عنه چُپ شو - هغهٔ بیا هم دغه تپوس اُوکړهٔ - په دریم ځل حضرت حُذیفه رضی الله عنه اُوفرمایل چه (څهٔ نه څهٔ وخت) به یے د دوزخ نه راوُباسی - د دوزخ نه به یے راوُباسی ، د دوزخ نه به یے راوُباسی . یعنی د اسلام ارکان

یې چه آدا کړې نهٔ وی، د هغې عذاب تیر ؤلو نه پس څهٔ نه څهٔ وخت د دے کلمے په برکت سره به خلاصے بیا مومی. هم دا مطلب دے د پورتنی حدیث کچرے د ایمان ذره غوندے حصه هم وی، بیا به هم د دوزخ نه څهٔ نه څهٔ وخت را اُوِیستلے شی. یو حدیث کښ دی چه څوك لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اُووائی، دا به دهٔ ته یوه ورځ ضرور فائده ورکړی. اګرچه دے به څهٔ نه څهٔ سزا تیره کړی.

(٣١) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَتَی النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَعْرَابِیٌّ عَلَیْهِ جُبَّةٌ مِّنْ طَیَالِسَةٍ مَّکْفُوْفَةٌ بِالدِّیْبَاجِ فَقَالَ اِنَّ صَاحِبَکُمْ هٰذَا یُرِیْدُ اَنْ یَّرْفَعَ کُلَّ رَاعٍ وَّابْنَ رَاعٍ وَّ یَضَعَ کُلَّ فَارِسٍ وَّابْنَ فَارِسٍ فَقَامَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مُغْضَبًا فَاَخَذَ بِمَجَامِعِ ثَوْبِهٖ فَاجْتَذَبَهٗ وَقَالَ اَلَا اَرٰی عَلَیْكَ ثِیَابَ مَنْ لَّا یَعْقِلُ ثُمَّ رَجَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَجَلَسَ فَقَالَ اِنَّ نُوْحًا لَّمَّا حَضَرَتْهُ الْوَفَاةُ دَعَا ابْنَیْهِ فَقَالَ اِنِّیْ قَاصٌّ عَلَیْکُمَا الْوَصِیَّةَ اٰمُرُکُمَا بِاثْنَیْنِ وَاَنْهٰکُمَا عَنِ اثْنَیْنِ اَنْهٰکُمَا عَنِ الشِّرْكِ وَالْکِبْرِ وَاٰمُرُکُمَا بِلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَاِنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا فِیْهِمَا لَوْ وُضِعَتْ فِیْ کِفَّةِ الْمِیْزَانِ وَوُضِعَتْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فِی الْکِفَّةِ الْاُخْرٰی کَانَتْ اَرْجَحَ

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښ یو کس د بانډے اُوسیدونکے راغے چه د رېښمو جُبّه یې اَغوستے وه او د هغې په غاړو دیو خاص قسم رېښمو ریشه وه (صحابه وُ ته مخاطب شو) اُووے ویل چه ستاسو ملګرے (محمد صلی الله علیه وسلم) دا غواړی چه هر یو شپونکے او د شپونکی اولاد اُوچت کړی، او شهسواران او د دوی اولاد اُوغورزوی. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په غصه راپاسیدهٔ، او د هغهٔ جامے یې د ګریوان نه اُونیولے، لږ شانته یې راښکلے، او ارشاد یې اُوفرمایهٔ، چه (ته اُوښایه) تا د بے وقوفانو غوندے جامے نهٔ دی اغوستی بیا خپل ځائ ته واپس راغے کیناستو، او ارشاد یې اُوفرمایهٔ چه حضرت نوح علیه السلام چه کله وفات کیدهٔ، نو خپل دواړه ځامن یې راوُغوختل آو ورته یې اُووے، چه زهٔ تاسو ته (آخری) وصیت کوم د دوه وُخیزو نه مومنع کوم، او د دوه وُ د درته حکم کوم د کوم نه چه مومنع کوم، یو شرك دے، دوئم تکبر دے. او د کوم چه درته حکم کوم، یو لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دهٔ چه ټول آسمانونه او

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْهُمَا وَلَوْ اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا فِیْهِمَا کَانَتْ حَلْقَةً فَوُضِعَتْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ عَلَیْهَا لَقَصَمَتْهُمَا وَاٰمُرُکُمَا بِسُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ فَاِنَّهُمَا صَلٰوةُ کُلِّ شَیْءٍ وَبِهِمَا یُرْزَقُ کُلُّ شَیْءٍ۔

(اخرجه الحاکم وقال صحیح الاسناد ولم یخرجه للصقعب ابن زهیر فانه ثقة قلیل الحدیث اهـ واقره علیه الذهبی وقال الصقعب ثقة ورواه ابن عجلان عن زید بن اسلم مرسلاً اهـ قلت ورواه احمد فی مسنده بزیادة فیه بطرق وفی بعض منها فَاِنَّ السَّمٰوٰتِ

زمکے او هرڅهٔ چه په دیکښ دی، کهٔ چرے تول په یو چابړی کښ کیخودلے شی، او په بل کښ (په اخلاص سره ویلے شوے) لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ کیخودلے شی، نو دا چابړے به (دروند او) خکته شی۔ او که چرے تول اسمانونه او زمکے او څهٔ چه په دے کښ دی، یوه حلقه (کړه) ترے جوړه شی، دا یا که کلمه په دغے کیخودلے شی، نو دغه حلقه به د کلمے د درروند والی په وجه ماته شی۔ او دویم څیز چه د هغے حکم کوم هغه سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ دے چه دا دوه لفظونه د هر مخلوق مونځ دے، او هم د دے په برکت هر یو څیز ته رزق ورکولے شی۔

السَّبْعَ وَالْاَرَضِیْنَ السَّبْعَ کُنَّ حَلْقَةً مُّبْهَمَةً قَصَمَتْهُنَّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وذکره المنذری فی الترغیب عن ابن عمر رضی الله عنه مختصرًا وفیه لَوْ کَانَتْ حَلْقَةً لَقَصَمَتْهُنَّ حَتّٰی تَخْلُصَ اِلَی اللّٰهِ ثم قال رواه البزار ورواته محتج بهم فی الصحیح الا ابن اسحاق وهو فی النسائی عن صالح بن سعید رفعه الی سلیمان بن یسار الی رجل من الانصار لم یسمه ورواه الحاکم عن عبد الله وقال صحیح الاسناد ثم ذکر لفظه قلت وحدیث سلیمان بن یسار یاتی فی بیان التسبیح وفی مجمع الزوائد رواه احمد ورواه الطبرانی بنحوه ورواه البزار من حدیث ابن عمر رضی الله عنه ورجال احمد ثقات وقال فی روایة البزار محمد بن اسحٰق وهو مدلس وهو ثقة)

فائده: نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د جا مو باره کښ چه کوم ارشاد اوفرمایهٔ د هغے مطلب دا دے چه د ظاهر نه د باطن پته لګی۔ د چا چه ظاهری حال خراب وی، د هغهٔ باطنی حال به هم هغسے وی، ځکه د ظاهر د بهتر سا تلو کوشش کولے شی چه باطن د هغے تابع دے۔ په دے وجه صوفیه کرام (په خلقو

ﮯ چرته چه د لفظ لَقَصَمَتْهُمَا راغلی دے صحیح نهٔ معلومیږی ځکه چه کتاب الترغیب حدیث ۲۲۱۵ او حدیث ۲۲۴۳ کښ لَقَصَمَتْهُمَا دے نو دا مو اولیکهٔ ۔ م

دظاهری پاکوالی اوداسه وغیره اهتمام کوی، چه دباطن پاکوالے پرے حاصل شی، کوم خلق چه داوائی، یره باطن ښهٔ کول پکاردی، ظاهرچه هرڅنګه وی۔ (دا خبره صحیح نهٔ ده۔ دباطن ښهٔ کول مستقل مقصوددے، اودظاهر ښهٔ کول مستقل (څیز دے۔) دنبی اکرم ﷺ دُعا کانوکښی دی اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ سَرِيْرَتِيْ خَيْرًا مِّنْ عَلَانِيَتِيْ وَاجْعَلْ عَلَانِيَتِيْ صَالِحَةً (اے الله! زما باطن زما دظاهرنه زیات بهتر جوړکړے، او زما ظاهر صالح اونیک جوړکړے۔) حضرت عمر رضی الله عنه فرمائی چه ماته نبی اکرم ﷺ دادُعا خودلے وه۔

(۳۷) عَنْ اَنَسٍ رضی الله عنه اَنَّ اَبَا بَكْرٍ رضی الله عنه دَخَلَ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ وَهُوَ كَئِيْبٌ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ ﷺ مَالِيْ اَرَاكَ كَئِيْبًا قَالَ يَا رَسُوْلَ كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ عَمٍّ لِّيَ الْبَارِحَةَ فُلَانٌ وَهُوَ يَكِيْدُ بِنَفْسِهِ قَالَ فَهَلْ لَقَّنْتَهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ قَالَ فَعَلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ فَقَالَهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ قَالَ اَبُوْبَكْرٍ يَا رَسُوْلَ كَيْفَ هِيَ لِلْاَحْيَاءِ قَالَ هِيَ اَهْدَمُ لِذُنُوْبِهِمْ هِيَ اَهْدَمُ لِذُنُوْبِهِمْ

(رواه ابویعلٰی والبزار وفیه زائدة ابن ابی الرقاد وثقه القواریری وضعفه البخاری وغیره کذا فی مجمع الزوائد واخرج بمعناه عن ابن عباس ایضا قلت وروی عن علی رضی الله عنه مرفوعا من قال اذا مر بالمقابر السلام علی اهل لا اله الا الله من اهل لا اله الا الله کیف وجدتم قول لا اله الا الله یا لا اله الا الله اغفر لمن قال لا اله الا الله واحشرنا

حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه دنبی اکرم ﷺ په خدمت کښی په داسے حال کښی چه غمژن وو حاضرشو۔ نبی اکرم ﷺ ترے پوښتنه اُوکړه چه زهٔ تا غمژن وینم، څهٔ خبره دهٔ؟ دهٔ عرض اُوکړهٔ، چه بیګاه شپه زما دتره خوئ وفات شو۔ دزنکدن په حالت کښی ورڅخه ناست وُم (دهغه منظرم په طبیعت اثردے)۔ نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل تا هغهٔ ته دلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ تلقین کړے وو؟ عرض یے اُوکړهٔ کړے م وو۔ ارشاد یے اُوفرمایهٔ چه هغهٔ داکلمه ویلے وه؟ عرض یے اُوکړهٔ ویلے یے وه۔ ارشاد یے اُوفرمایهٔ چه جنت هغهٔ دپاره واجب شو۔ حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه عرض اوکړهٔ، اے دالله رسوله! که ژوندی خلق داکلمه اُووائی، نوڅهٔ به وی؟ نبی اکرم ﷺ دوه وارے دارشاد اُوفرمایهٔ، چه کلمه دهغوی دګناهونو بالکل نړونکے ده

Maktaba Tul Ishaat.com

فِیْ زُمْرَةٍ مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ غُفِرَلَهٗ ذُنُوْبُ خَمْسِيْنَ سَنَةً قِيْلَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ مَنْ لَّمْ تَكُنْ لَّهٗ ذُنُوْبُ خَمْسِيْنَ سَنَةً قَالَ لِوَالِدَيْهِ وَلِقَرَابَتِهٖ وَلِعَامَّةِ الْمُسْلِمِيْنَ۔ رواه الديلمي في تاريخ همدان والرافعي وابن النجار كذا في منتخب كنز العمال لكن روى نحوه السيوطي في ذيل اللآلي وتكلم على سنده وقال الاسناد كله ظلمات ورمي رجاله بالكذب وفي تنبيه الغافلين وروى عَنْ بَعْضِ الصَّحَابَةِ رض مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مِنْ قَلْبِهٖ خَالِصًا وَمَدَّهَا بِالتَّعْظِيْمِ كَفَّرَاللّٰهُ عَنْهُ اَرْبَعَةَ اٰلَافِ ذَنْبٍ مِّنَ الْكَبَائِرِ قِيْلَ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهٗ اَرْبَعَةُ اٰلَافِ ذَنْبٍ قَالَ يُغْفَرُ مِنْ ذُنُوْبِ اَهْلِهٖ وَجِيْرَانِهٖ اهـ قلت وروى بمعناه مرفوعًا لكنهم حكموا عليه بالوضع كما في ذيل اللآلي نعم يؤيده الامر بدفن بجوار الصالح وتاذيه بجوار السوء ذكره السيوطي في اللآلي بطرق وورد السلام على اهل القبور بالفاظ مختلفة في كنز العمال وغيره)

فائده: مقبره کښې اُومړي ته نزدے د کلمے طيبه ويلو باره کښې ډېر په کثرت حديثونه راغلي دي. يو حديث کښې دي چه جنازے سره ډېر ډېر لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه وايئ. يو حديث کښې راغلي دي، چه زما د اُمت شعار (يعنی امتيازی نښه) کله چه دوی پُلِ صراط باندے تيرېږي، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه به وي. بل حديث کښې دي چه کله دوی د قبرونو نه راپاسي، نو ددوی نښه به لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ وي. دريم حديث کښې دي چه د قيامت په تيرو کښې به ددوی نښه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ وي. د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ډير ويلو برکتونه د مرګ نه مخکښې هم ډير ځلے د زنکدن دوخت نه محسوسيږي او ځنې د الله تعالیٰ بندګانو ته ددے نه هُم وړاندے ښکاره کيږي.

اَبُو الْعَبَّاس رحمة الله عليه وائي، زۀ خپل ښار "اشبيله" کښې ناروغه پروت وم. ما اُوليدل چه ډير مرغان لوئ لوئ او د مختلفو رنګونو سپين، سرۀ، شنۀ دي چه په يو ځائ وَزَرونه راغونډ وي، او په يو وارے پے پرانزي، او ډير سړي دي چه دهغوی په لاسونو کښې لوئ لوئ تالي دي (خۀ پرے) غوړيدلي دي، پکښې خۀ پراتۀ دي، ما چه دا ټول خۀ اُوليدل، پوهه شوم چه دا د مرګ ډالئ دی ما زر کلمه طيبه ويل شروع کړۀ. دهغوی نه يو کس ما ته اُووے چه ستا وخت لا اُوس نۀ دے راغلے، دا ديو بل مؤمن د پاره ډالئ ده، چه دهغۀ وخت راغلے دے.

عُمَر بن عبد العزيز رحمة الله عليه چه کله وفات کيدۀ، نو دۀ اُووے، ما کينيوئ

خلقو کښېنؤلو، بیا یې اُو فرمایل (اے الله!) تا ماته د پېرو کارونو حکم کړے وُو، ما نه په هغې کښې کمے اُوشو۔ تازهٔ د پېرو خپرو نه منع کړے وُم، ما نه هغې کښې نافرمانی اُوشوه۔ درے وارے یې دا اُووېل، دِے نه پس یې اُووے خو لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ۔ دا یې چه اُووے، یو طرف ته یې په غور کتل شروع کړل۔ چا ترے تپوس اُوکړهٔ، څهٔ گورې؟ دِے فرمایل څهٔ شنه څیزونه دی نهٔ بنی‌آدم دی نه پیریان، دِے نه پس وفات شو۔

زُبیده بی بی چا په خوب کښې اُولیدهٔ، تپوس ترے اوکړو، څهٔ دربانده تیرشو؟ هغې اُووے، درے څلور کلمو په وجه زما بخښنه اُوشوه، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اُفْنِیْ بِهَا عُمْرِیْ، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَدْخُلُ بِهَا قَبْرِیْ، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَخْلُوْ بِهَا وَحْدِیْ، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَلْقٰی بِهَا رَبِّیْ۔ (لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه سره به خپل عُمر ختموم، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه به قبر ته ځان سره وُړم، او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه سره به د یواځوالی وخت تیروُم، او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه به اَخلم، خپل رب ته به ځم۔)

(۳۲) عَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رضی اللہ عنہ قَالَ قُلْتُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَوْصِنِیْ قَالَ اِذَا عَمِلْتَ سَیِّئَةً فَاَتْبِعْهَا حَسَنَةً تَمْحُهَا قُلْتُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَمِنَ الْحَسَنٰتِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ قَالَ هِیَ اَفْضَلُ الْحَسَنٰتِ (رواه احمد وفی مجمع الزوائد رواه احمد ورجاله ثقات الا ان شمر بن عطیه حدثه عن اشیاخه ولم یسم احدا منهم، قال

حضرت ابوذر غفاری رضی اللہ عنہ عرض اُوکړهٔ، اے د الله رسوله! ما ته څهٔ وصیت اُوکړې ارشاد اُوشو، چه کله در نه څهٔ بدی اُوشی نو د کفارے په طور زر ور پسے څهٔ نیک کار اُوکړه (د پاره د دے چه د بدئ سپېرهٔ وآلے اُووینځلے شی) ما عرض اُوکړهٔ، اے د الله رسوله لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وئیل هم نیکو کښې داخله دهٔ؟ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اُوفرمایل چه دا خو په ټولو نیکو کښې ډېره بهتره ده۔

السیوطی فی الدر اخرجه ایضا ابن مردویه والبیهقی فی الاسماء والصفات قلت واخرجه الحاکم بلفظ یا اباذر اتق الله حیث کنت واتبع السیئة الحسنة تمحها وخالق الناس بخلق حسن وقال صحیح علی شرطهما واقره علیه الذهبی وذکره السیوطی فی الجامع مختصرا ورقم له بالصحة)

فائده: بدی که چرے وړه گناه وی، نو په نیکئ د دے وړانیدل او لرے کیدل بنکاره دی۔ او که چرے لویه گناه وی، نو د قاعدے سره برابر په

Maktaba Tul Ishaat.com

توبه وُرانیدے شي یا صِرف دالله تعالیٰ په فضل سره، څنګه چه وُراندے هم تېرشوي دي۔ په هرحالت کښې دوُرانیدو مطلب دادے چه بیا دغه ګناه نه په علنامه کښې پاتے کیږي، نه چرته ددغے ذکرکیږي۔ لکه یوحدیث کښې راغلي دي چه کله بنده توبه اُوباسي، نو الله جل شانهٗ دغه ګناه د کِراماً کاتبین نه هېرکړي اودغے ګنهکار د لاسو پښو نه یے هم هېرَوي، او د زمکې دهغے حصے نه یے کومه چه دغه ګناه شوي وي، ترد ے چه هیڅوك هم ددغے ګناه ګواهي ورکوُنکے پاتے نشي ګواهئ مطلب دادے چه قیامت کښې به د انسان لاس پښے او دېرن نور حصو نیک یابد عملونه هرڅهٔ چه کړي وي، دهغے به ګواهي ورکوي څنګه چه ددریم باب دویم فصل اتلسم نمبرحدیث لاندے راځي۔ دپورتني حدیث مرسته د هغے روایتونو نه هم کیږي کوم کښې چه ارشاد فرمایلے دے چه ګناه نه توبه ایستونکے داسے دے لکه چه ګناه یے اَصلاً کړي نه وي۔ دا مضمون خوځوحدیثونو کښې راغلے دے۔ توبه هغے ته ویلے شي چه کومه ګناه اُوشوه هغے باندے انتهائي پښیمانتیا اَوشرم وي، او د مخکښې د پاره یے پخه اِراده وي چه بیا به چرے دا ګناه نه کوم۔ په دې حدیث کښې د نبي اکرم ﷺ ارشاد راغلے دے چه د الله تعالیٰ عبادت کوه، او هیڅوك دهغهٔ شریك مه جوړوَه، او داسے په اِخلاص عمل کوه، ګویا چه دَ هغه پاك ذات ستا مخکښې دے۔ او ځېل ځان مړو کښې شمارکړه، او د الله تعالیٰ یاد دهر یو کاڼړي او دهر ے وُنے نزدے کوه (چه ډېرګواهان دِ د قیامت په ورځ شي) او کله چه څهٔ بدي درنه اُوشي، نو دهغے په کَفّاره کښې څهٔ نیکي اُوکړه۔ کهٔ چرے بدي دِ پټه کړے وي نو نیکي دِ هم پټه وي۔ اَوکهٔ بدي دِ ښکاره کړے وي، نو دهغے په کَفّاره کښې نیکي دِ هم ښکاره وي۔

(۳۴) عَنْ تَمِیْمِ الدَّارِيِّ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاحِدًا اَحَدًا صَمَدًا لَمْ یَتَّخِذْ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا وَّلَمْ یَکُنْ لَّهٗ کُفُوًا اَحَدٌ عَشْرَ مَرَّاتٍ کُتِبَتْ لَهٗ اَرْبَعُوْنَ اَلْفَ حَسَنَةٍ۔

دنبي اکرم ﷺ ارشادمبارك دے چه څوك لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاحِدًا اَحَدًا صَمَدًا لَمْ یَتَّخِذْ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا وَّلَمْ یَکُنْ لَّهٗ کُفُوًا اَحَدٌ لس وارے اُووائي، څلویښت زره نیکئ به دهغهٔ دپاره اُولیکلے شي۔

(اخرجه احمد قلت اخرج الحاکم شواهده بالفاظ مختلفة)

فائده: دکلمے طیبے خاص خاص تعداد باندے هم دحدیث په کتابونو کښې ډیر فضیلتونه ذکر کړے شوی دی۔ یوحدیث کښې راغلی دی کله چه تاسو فرض مونځ اوکړئ، نو دهر فرض مانځه نه پس لس وارے لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ اُووایئ، ددے ثواب داسے دے لکه چه یوغلام موازاد کړو۔

(۳۵) **عَنْ** عَبْدِاللّٰهِ بْنِ اَبِیْ اَوْفٰی رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ اَحَدًا صَمَدًا لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ وَلَمْ یَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ كَتَبَ اللّٰهُ لَهٗ اَلْفَیْ اَلْفِ حَسَنَةٍ (رواه الطبرانی کذا فی الترغیب و فی مجمع الزوائد فیه قائد ابو الورقا متروک)

بل حدیث کښې ارشاد دے، چه څوک لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ اَحَدًا صَمَدًا لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ وَلَمْ یَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ اُووائی، الله تعالیٰ به هغهٔ د پاره شل لکهه (۲۰۰۰۰۰) نیکئ اولیکی۔

فائده: څومره قدر دے دالله جل شانهٗ له طرفه دانعام او احسان باران دے، چه دیواسان غوندے خیزونو باندے چه په هغے کښې نهٔ څهٔ مشقت شته، نهٔ پرے ډیر وخت لګی، بیا هم په زرګونو زرګونو لکهونو لکهونو نیکئ ورکوی، خومونږه خلق دومره غافله او ددُنیا کارونو پسے داسے لګیدلی یُو چه ددے مهربانو باران نه هیڅ نه اخلو۔ د الله تعالیٰ په نزد دهرے نیکئ دپاره کم نه کم لس چنده ثواب خومقرر دے، په شرط ددے چه اخلاص سره وی۔ ددے نه پس د اخلاص په اعتبار ثواب زیاتیږی۔ دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه د اسلام راوړلو سره څومره ګناهونه چه دکفر په حالت کښې کړی وی، هغه معاف کیږی، ددے نه پس بیا حساب دے۔ هره نیکی دلس چنده نه تراُوو سوو پورے او څومره پورے چه الله تعالیٰ اُوغواړی لیکلے شی۔ او بدی صرف یوه لیکلے شی۔ او که چرے الله تعالیٰ دغه معاف کړی نو بیادغه هم نشی لیکلے۔ بل حدیث کښې دی، چه کله بندهٔ دنیکئ اِراده اُوکړی، نوصرف په اِراده یوه نیکی لیکلے شی۔ او کله چه عمل کوی نو دلسو نیکو نه تراُوو سوو پورے، او ددے نه پس څومره پورے چه الله تعالیٰ

Maktaba Tul Ishaat.com

غواړی لیکلې شي - ددې قسمه نورهم حدیثونه ډیردی چه دهغې نه معلومیږی چه دالله جل شانهٔ له خوا ورکړوکښې کمی نشته خوچه څوك اخستونکې وی - هُمدا څیزونه دالله تعالیٰ دولیانو په نظرکښې وی چه ددې په وجه ددُنیا لویٔ ته لویٔ دولت هم هغوی نهٔ شی ډیر بلسلې - اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنْهُمْ -

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشادمبارك دے چه عملونه دشپږ وطریقودی، اوخلق د څلوروطریقودی - دوه عملونه خوواجب کونکی دی، اودوه برابر سرابر، اویو په کښې لس چنده اَویواُووهٔ سوه چنده دے - دوه عملونه کوم چه واجب کوُنکی دی یودا چه څوك په داسې حال کښې مړشي چه شِرك نکوی، هغه به ضرور جنت کښې داخلیږی - دویم چه څوك دشرك په حالت کښې مړشی ضرور به دوزخ ته ځی - اوکوم عمل چه برابر سرابر دے، هغه دنیکیٔ اِرادہ دهٔ چه زړهٔ دهغې پخه اِرادہ کړے وی (غود هغې دعمل وارلانهٔ وی راغلې) اولس چنده ثواب دے چرے عمل هُم اُوکړی - اَو دَ الله تعالیٰ په لارکښې (جهاد وغیره کښې) خرچ کول اُووهٔ سوه درجې ثواب لری - اَو ګناه که چرے اُوکړی، نو دیوے ګناه بدله هم یوه دهٔ - او څلورقسمه خلق دادی چه څنې خلق داسې دی چه په هغوی په دُنیا کښې فراخی دهٔ اوآخرت کښې پرے تنګی دهٔ - څنې داسې دی چه په هغوی په دُنیا کښې تنګی دهٔ، آخرت کښې پرے فراخی دهٔ - څنې داسې دی چه په هغوی په دواړو ځایونوکښې تنګی دهٔ (چه په دُنیا کښې پرے غریبي او آخرت کښې پرے عذاب دے) څنې داسې دی چه په دواړو جهانونوکښې پرے فراخی دهٔ -

یوکس دابو هریرة رضی اللہ عنہ په خدمت کښې حاضرشو، اَوعرض یې اوکړو ما اَوریدلی دی چه تهٔ دا نقل کوے چه الله جل شانهٔ دځنې نیکو بدله لس لکهه چنده ورکوی، حضرت ابو هریرة رضی اللہ عنہ اُوفرمایل، دې کښې د حیرانتیا څهٔ خبره دهٔ زما دِپه الله تعالیٰ قسم وی، هم داسې م اَوریدلی دی - بل حدیث کښې دی چه ما دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه اَوریدلی دی چه دځنو نیکو ثواب شل لکهه پورے ورکوُلے شی، اوهرکله چه الله تعالیٰ یُضٰعِفْهَا وَیُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا عَظِیْمًا ط ارشاد فرمائی (دهغهٔ ثواب زیاتوی اودخپلے خوانه ډیرثواب ورکوی) کوم څیز ته چه الله جل شانهٔ اَجرِعظیم اُووائی، دهغې دمقدار اندازه څوك کوُلے شی -

امام غزالی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چہ ثواب دومرہ پہ لوئ مقدار هغه کیدے شی چہ کله ددے الفاظو د معنو تصوّر او لحاظ کوی، او وائی چہ دا د اللہ جل شانهٗ اَهَم صفتونه دی۔

﴿۳۶﴾ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضی اللہ عنہ عَنِ النَّبِیِّ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَ مَا مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ يَّتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ اَوْ فَيُسْبِغُ الْوُضُوْءَ ثُمَّ يَقُوْلُ اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ اِلَّا فُتِحَتْ لَهٗ اَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ اَيِّهَا شَاءَ۔ (رواه مسلم وابوداؤد وابن ماجة قالا فيحسن الوضوء زاد ابوداؤد ثم يرفع طرفه الى السماء ثم يقول فذكره ورواه الترمذى كابى داؤد وزاد اللهم اجعلنى من التوابين و اجعلنى من المتطهرين الحديث وتكلم فيه كذا فى الترغيب زاد السيوطى فى الدر ابن ابى شيبة والدارمى)

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارك دے، چہ خوك اَودس اُوکړی (یعنی د سنتو او د اداب پوره لحاظ اُوساتی) بیا دا دعا اُووائی اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط هغهٔ دپاره دجنت اَتهٔ واړه دروازے پرانستلے شی په کومه دروازه چہ غواړی داخل دِ شی۔

فائده: جنت کښ داخلیدو دپاره یوه دروازه هم بس ده، بیا د اتو واړو دروازو پرانستیدل دا د پیر عزت او د اِکرام په خاطر دی۔ یو حدیث کښ راغلی دی چہ خوك په دے حال کښ مرشی چہ اللہ سره شریك نهٔ جوړوی، او ناحق یے خوك مړ کړے نهٔ وی هغهٔ د جنت په کومه دروازه چہ غواړی داخل دِ شی۔

﴿۳۷﴾ عَنْ اَبِی الدَّرْدَاءِ رضی اللہ عنہ عَنِ النَّبِیِّ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَ لَيْسَ مِنْ عَبْدٍ يَّقُوْلُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مِائَةَ مَرَّةٍ اِلَّا بَعَثَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَوَجْهُهٗ كَالْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَلَمْ يُرْفَعْ لِاَحَدٍ يَّوْمَئِذٍ عَمَلٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمَلِهٖ اِلَّا مَنْ قَالَ مِثْلَ قَوْلِهٖ اَوْ زَادَ

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارك دے، چہ خوك سل واره لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اُووائی اللہ جل شانهٗ به د قیامت په ورځ هغه داسے روښانه مخ والا را پاسوی، څنګه چہ د څوارلسے شپے سپوږمئ وی۔ او په کومه ورځ چہ دا کلمه اُووائی، په دغه ورځ به د دهٔ نه د بهتر عمل والا هغه کس کیدلے شی خوك چہ د دهٔ نه زیات اُووائی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(رواه الطبرانی وفیه عبدالوہاب بن ضحاک متروک کذافی مجمع الزوائد قلت ہو من رواۃ ابن ماجۃ ولاشک انہم ضعفوہ جدًّا الا ان معناہ مؤید بروایۃ منہا ماتقدم من روایات یحیٰی بن طلحۃ ولاشک انہ افضل الذکر ولہ شاہد من حدیث ام ہانی الآتی)

فائده: کثرو روایتونو او روایتونه دا مضمون ثابتیږی، چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ زړهٔ د پاره هم نور دے، او مخ د پاره هم نور دے۔ او دا خولیدلے شوے هم دهٔ، چه د کومو بزرګانو دے کلمے ډیر ډیر ویل معمول دی، د هغوی مخ په دُنیا کښ هم نورانی وی۔

(۳۸) **عَنِ** ابْنِ عَبَّاسٍ رضی اللہ عنہ عَنِ النَّبِيِّ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَ اِفْتَحُوْا عَلٰى صِبْيَانِكُمْ اَوَّلَ كَلِمَةٍ بِلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَلَقِّنُوْهُمْ عِنْدَ الْمَوْتِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَاِنَّهٗ مَنْ كَانَ اَوَّلُ كَلَامِهٖ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاٰخِرُ كَلَامِهٖ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ثُمَّ عَاشَ اَلْفَ سَنَةٍ لَمْ يُسْئَلْ عَنْ ذَنْبٍ وَّاحِدٍ۔

(موضوع، ابن محمویۃ دابوہ مجہولان وقد ضعف البخاری ابراہیم بن مہاجر حکاہ السیوطی عن ابن الجوزی ثم تعقبہ بقولہ الحدیث فی المستدرک واخرجہ

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارک دے چه بچو ته په شروع کښ کله چه هغوی خبرے زده کوی لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ورته یادوئ۔ او کله چه د مرګ وخت راشی، بیا هم ورته د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه تلقین کوئ۔ د چا چه اوّله کلمه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه وی، او آخره کلمه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وی، هغه که زر کاله ژوندے وی نو (اِنْشَاءَ اللّٰه) د څهٔ ګناه به د هغهٔ نه مطالبه نهٔ وی (یا په دے وجه چه ګناه به ترے شوی نهٔ وی، یا که چرے ترے شوی وی نو توبه وغیره سره به معاف شی، یا په دے وجه چه الله تعالیٰ به یے په خپل فضل معاف کړی۔)

البیہقی فی الشعب عن الحاکم وقال متن غریب لم نکتبہ الا بہذا الاسناد واوردہ الحافظ ابن حجر فی امالیہ ولم یقدح فیہ بشیء الا انہ قال ابراہیم فیہ لین وقد اخرج لہ مسلم فی المتابعات کذا فی اللآلی وذکرہ السیوطی فی شرح الصدور ولم یقدح فیہ بشیء قلت وقد ورد فی التلقین احادیث کثیرۃ ذکرہ الحافظ فی التلخیص وقال فی جملۃ من رواہا وعن عروۃ ابن مسعود الثقفی رواہ العقیلی باسناد ضعیف ثم قال روی فی الباب احادیث صحاح عن غیر واحد من الصحابۃ ورواہ ابن ابی الدنیا فی کتاب المحتضرین من طریق عروۃ ابن مسعود عن ابیہ عن حذیفۃ بلفظ لقنوا موتاکم لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

فَاِنَّھَا تَھْدِمُ مَاقَبْلَھَامِنَ الْخَطَایَا وردی فیہ ایضًا عن عمرو عثمان وابن مسعود وانس وغیرہم اھ وفی الجامع الصغیر لَقِّنُوْا مَوْتَاکُمْ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ رواہ احمد و مسلم والاربعۃ عن ابی سعید و مسلم وابن ماجۃ عن ابی ہریرۃ والنسائی عن عائشۃ ورقم لہٗ بالصحۃ وفی الحصن اذا افصح الولد فلیُعلِّم لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ و فی الحرز رواہ ابن السنی عن عمرو بن العاص آہ قلت ولفظہ فی عمل الیوم واللیلۃ عن عمرو بن شعیب وجدت فی کتاب جدی الذی حدثہ عن رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم قال اذا افصح اولادکم فعلِّموھم لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ ثم لاتبالوا متی ماتوا واذا اثغروا فمروھم بالصلوٰۃ وفی الجامع الصغیر بروایۃ احمد وابی داؤد والحاکم عن معاذ رضی اللّٰہ عنہ من کان آخر کلامہ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ دخل الجنۃ ورقم لہٗ بالصحۃ وفی مجمع الزوائد عن علیؓ رفعہ من کان آخر کلامہ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ لم یدخل النار وفی غیر روایۃ مرفوعۃ من لقن عند الموت لا الٰہ الا اللّٰہ دخل الجنۃ۔

فائدہ، تلقین دے ته وائی (چه خوك مری) دمرګ په وخت کښ ورځنه کیني او کلمه داسے وائی چه هغه یے واورې وے وائی، دغه وخت پرے زبردستي یا تقاضا نه دی کول پکار، ځکه چه هغه په سخت تکلیف کښ وی، آخر وخت کښ دکلمے تلقین کولو حکم نورهم ډیرو صحیح حدیثونو کښ راغلے دے۔ کنړو حدیثونو کښ داهم راغلی دی، چه چاته دمرګ په وخت لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه نصیب شي، د هغه ګناه داسے پریوزی، لکه د سیلاب په وجه چه ابادی پریوزی ځنې حدیثونو کښ داهم راغلی دی چه چاته دمرګ په وخت دا مبارکه کلمه نصیب شي، نو د هغه روستني ګناهونه به معاف شي. یوحدیث کښ راغلی دی چه منافق ته د دے کلمے توفیق نه کیږی۔ یوحدیث کښ راغلی دی چه خپلو مړو ته د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ توښه ورکوئ۔ یوحدیث کښ راغلی دی، چه خوك دچا بچی پرورش اوکړی ترڅو پورے چه هغه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه اُووائی، دهغه نه حساب معاف دے۔ یو حدیث کښ راغلی دی چه خوك دمونځ پابندی کوی، دمرګ په وخت هغه ته یو فرښته راځی چه شیطان ترے لرے کوی، او د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه تلقین ورته کوی۔ یو خبره ډیره په تجربه کښ راغلے ده چه عُمُومًا د تلقین فائده هله کیږی چه په ژوند انه یے هم دا پاکه کلمه ډیره ډیره ویلے وی۔ دیو سړی قصه یے لیکلے ده چه بُوس به یے خرڅول۔ کله چه یے دمرګ وخت راغے نوخلقو ورته دکلمے طیبے تلقین کولو، او هغه به وَے، دا کیڼ ئ دد ومره ده، دا دد ومره ده۔ دغه رنګے نُنر واقعات یے نُزْهَةُ الْبَسَاتِيْن کښ هم لیکلی دی او (روزانه) په لید وکښ راځی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دپیرحُله دځهٔ ګناه کول هم ددے سبب جوړیږی چه دمرګ په وخت کښ ورته کلمه نهٔ نصیب کیږی - عالِمانو لیکلی دی چه دأفیمو په خوراك کښ آویا (۷۰) نقصانونه دی چه دهغې نه یو دادے چه دمرګ په وخت کښ به ورته کلمه نهٔ رایادیږی، ددے په مُقابل مسواك کښ اَویا فائدے دی چه دهغې نه یوه داده چه دمرګ په وخت کښ به ورته کلمه طیبه رایادیږی -

دیوسړی قصه یې لیکلے ده چه دمرګ په وخت کښ ورته دکلمهٔ شهادت تلقین اُوکړے شو، هغهٔ اُووے چه دالله تعالیٰ نه دُعا اُوغواړئ زما په ژبه نهٔ راځی خلقو ترے تپوس اُوکړهٔ، وَلے؟ وِے ویل چه ما به په تول کښ بے احتیاطی کوله. دیو بل کس قصه ده چه کله هغهٔ ته تلقین اُوکړے شو، نو وِے وَیل چه نهٔ شم ویلے - خلقو ترے تپوس اُوکړهٔ چه وَلے؟ هغهٔ اُووے، چه یوه زنانه ما نه تولیه اخستلو دپاره راغلے وه، زما خوښه شوه ماورته کتل - نورهم دپیرو واقعاتو دے قسمه دی چه دهغې نه ځنے تذکِرهٔ قُرطبیّه کښ هم لیکلی دی. دینهٔ کار دے چه دګناهونو نه دِتوبه اُوباسی، او دالله جل شانهٔ نه دِ دتوفیق دُعا اُوکړی -

(۲۹) عن اُمِّ هَانِیٍٔ رضی الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ لَا یَسْبِقُهَا عَمَلٌ وَلَا تَتْرُكُ ذَنْبًا -

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشادمبارك دے چه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ نه هیڅ عمل نهٔ شی وړاندے کیدے، او نهٔ دا کلمه څهٔ ګناه پریږدی -

(رواه ابن ماجة كذا فى منتخب كنز العمال قلت واخرجه الحاكم فى حديث طويل وصححه ولفظه قول لا اله الا الله لايترك ذنبا ولا يشبهها عمل آه وتعقب عليه الذهبى بان زكريا ضعيف وسقط بين محمد وام هانى رض وذكره فى الجامع الصغير برواية ابن ماجة ورقم له بالضعف)

فائده: دځهٔ عمل دے نه نهٔ وړاندِ کیدل خوښکاره ده چه هیڅ یو عمل داسے نشته چه بغیر دکلمے طیبے دوینانه په کار راتلے شی - مونځ، روژه، حج، زکوٰة غرض دا چه هر عمل دایمان محتاج دے - کچرے ایمان وی، نو دغه عملونه قبلیدے شی ګنی نه - په دے وجه کچرے څوك فقط ایمان لری، او دایمان نه علاوه هیڅ نیک عمل یے نهٔ وی، نو بیا به هم څهٔ نه څهٔ وخت انشاء الله ضرور جنت ته لاړشی - اَو چه څوك ایمان نهٔ لری خواه هغه څومره نیك عملونه اوکړی دخلاصی دپاره کافی نهٔ دی -

دویم جُزء (دحدیث) څهٔ گناهونهٔ پریخودل دی۔ کهٔ چرے په دے اِعتبار سره اُوکتلے شی چه کوم کس اٰخری وخت کښې مسلمان شو، او د کلمه طیبه ویلو نه پس زر مړ شو، نو ښکاره خبره ده چه د ایمان راوړلو نه روميے د کفر په حالت کښې چه څومره گناهونه یے کړی وُو، هغه ټول په ټول لاړل (معاف شول)، او کهٔ چرے روميے نه ویل مراد وی، نو د حدیث شریف مطلب دا دے چه دا کلمه د زړونو د صفایئ او زنګ لرے کولو ذریعه ده۔ هر کله چه د دے پاکے کلمے ډیر ډیر ویل وی، نو د زړهٔ د صفایئ په وجه د توبے اِیستلو نه بغیر به ورله اٰرام نه راځی، او اٰخر به د گناهونو د معافئ ذریعه اُوګرزی۔ یو حدیث کښې راغلی دی چه څوك د اُودهٔ کیدو په وخت او د ویښیدو په وخت د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اِهتمام کوی، دهٔ لره به دُنیا هُم اٰخرت بانده مضبوطوی، او د مصیبت نه به ددهٔ حفاظت کوی۔

(۲۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم اَلْاِیْمَانُ بِضْعٌ وَّسَبْعُوْنَ شُعْبَةً فَاَفْضَلُهَا قَوْلُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَدْنَاهَا اِمَاطَةُ الْاَذٰی عَنِ الطَّرِیْقِ وَالْحَیَآءُ شُعْبَةٌ مِّنَ الْاِیْمَانِ

د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اِرشاد مبارك دے چه د ایمان د اویا اُونه زیات ښاخونه دی (څنے روایتونو کښې اُودهٔ اویا راغلی دی) د هغے ټولو نه افضل د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ویل دی او د ټولو نه کمه درجه د لارے نه تکلیف ورکوونکے څیز (خښته، لرګے، ازغے وغیره) لرے کول دی، او حیاء هم (یوه خصوصی) شُعبه د ایمان ده۔

(رواہ الستۃ وغیرہم بالفاظ مختلفۃ واختلاف یسیر فی العدد وغیرہ وہٰذا آخر ما اردت ایرادہ فی ہٰذا الفصل رعایۃ لعدد الاربعین واللہ الموفق لما یحب ویرضیٰ)

فائده: حیا یے د خصوصی اهتمام په وجه ذکر کړه چه دا د ډیرو گناهونو زنا، غلا، بدے ویناء، بربنډیدلو، کنځلو، یوچ ویلو وغیره نه د بچ کیدو سبب دے۔ د غیے د شرم په خیال ډیر نیک کارونه کول ضروری شی، بلکه شرم د دُنیا او د اٰخرت په ټولو نیکو کارونو اٰماده کوی۔ مونځ، زکوٰة، حج وغیره خو ښکاره دی د غیے د نورو ټولو حکمونو په ځائی راوړلو هم سبب دے، په دے وجه مَتل مشهور دے۔ توبے حیا باش وهر چه خواہی کن ته بے غیرته شه، بیا چه ډِځهٔ خوښه وی

Maktaba Tul Ishaat.com

کوه، په دے معنیٰ کښې صحیح حدیث راغلے دے، إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ۔ هرکله چه ته حیاناك پاتے نهٔ شوے، نو بیا چه زړهٔ خوښه وی کوه، چه ټول فکر د غیرت او د شرم دے۔ کچرے حیاء وی، نو بیا به دا خیال ضرور پیدا کیږی چه مونږ اُونکړم نو آخرت کښې به څهٔ مخ ښایم۔ او کچرے شرم نه وی، نو بیا به دا خیال کوی که څوك اُووائی نو څهٔ به اُوکړی۔

خبردارے

دے حدیث شریف کښې یے د ایمانُ اویاؤ نه زیات ښاخونه خودلی دی۔ دے باره کښې روایتونه مختلف راغلی دی او کثرو روایتونو کښې اُووهٔ اویا شمیر راغلے دے ځکه ترجمه کښې م دے طرفته اشاره هم کړے دهٔ۔ د دے اُووهٔ اویاؤ په تفصیل کښې عالمانو مستقل کتابونه لیکلی دی۔

امام ابوحاتم بن حبان رحمة الله علیه فرمائی چه ما د دے حدیث په مطلب څهٔ مُوده پورے سوچ کولو، هرکله چه عبادتونه م اُشمیرل، نو هغه به اُوهٔ اویاؤ نه ډیر زیات شو۔ حدیثونه چه م تلاش کړل، او حدیث شریف کښې کوم څیزونه خاص طور د ایمان په ښاخونو کښې ذکر کړے شوی دی، هغه چه م شمیر کړل، نو هغه به د دے شمیر نه کم شول۔ زهٔ د قران پاك طرفته مُتوجه شوم، او قران شریف کښې چه کوم څیزونه د ایمان لاندے ذکر کړی دی، هغه م شمیر اُوکړهٔ نو هغه هم د دے شمیر نه کم وُو، نو بیا ما قرانِ پاك او حدیث شریف دواړهٔ جمع کړل او دواړو کښې کوم څیزونه چه یے د ایمان حصه گرځولی دی، هغه م شمیر کړل کوم څیزونه چه دواړو کښې مشترك وُو، هغه م یو یو عدد شمیر کړل، چه میزان (ټول) م اُوکتلو، نو د دواړو مجموعه چه مکررات (یعنی چه کوم بیا بیا ذکر کړے شوی دی هغه) م ترے اُوویستل، د دے شمیر برابر شول، نو هله پوهه شوم چه د حدیث شریف مفهوم هم دا دے۔

قاضی عیاض رحمة الله علیه فرمائی چه یوے ډلے د دے ښاخونو د تفصیل بیانولو اهتمام کړے دے، او په اجتهاد یے دا تفصیل صحیح خودلے دے۔ حال دا چه د دے تعداد خصوصی تفصیل نهٔ معلومیدو سره ایمان کښې څهٔ نقصان نهٔ پیدا کیږی ځکه چه د ایمان اُصول او فُروع (یعنی بنیادی او غیر بنیادی خبرے) ټولے په تفصیل سره معلوے او تحقیق ته رسیدلی دی۔

خَطَابی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی دے تعداد تفصیل د الله تعالیٰ او دهغهٔ د رسول صلی اللہ علیہ وسلم په عِلم کښ دے، او شریعتِ مطهره کښ موجود دے، تو دے تعداد د سره تفصیلی علم نهٔ لرل هیڅ مُضِر نهٔ دی.

امام نَوَوِی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم دِ دے ښاخونو کښ د ټولو نه اَعلیٰ توحید یعنې کلمه طیبه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ویلے دهٔ، دِ دے نه معلومه شوه چه ایمان کښ د ټولو نه اُوچته درجه دهٔ، د دے نه اُوچت بل څیز د ایمان ښاخ نشته دے، چه دِ دے نه دا خبره معلومه شوه چه اصل توحید دے چه په هر عاقل بالغ باندے ضروری اود (ایمان) د ټولو نه لاندے درجه لرے کول د هغے څیز دکوم نه چه چا مسلمان ته د نقصان رسید و امکان وی - باقی ټول ښاخونه د دے په مینځ کښ دی چه د هغے تفصیل معلومول ضروری نهٔ دی - اِجمالاً په هغے ایمان راؤړل کافی دی، لکه څنګه چه په ټولو فرښتو ایمان راؤړل ضروری دی خو د هغوی تفصیل او د هغوی نومونه مونږ نهٔ پیژنُو، بیا هم د مُحَدِّثینو یوے ډلے د دے ټولو ښاخونو په تفصیل کښ مختلف کتابونه لیکلی دی. لکه ابوعبد الله حَلِیمی رحمۃ اللہ علیہ یو کتاب په دے مضمون لیکلے دے چه د هغے نوم یے فَوَائِدُ الْمِنْهَاج ایښے دے. او امام بیهقی رحمۃ اللہ علیہ یو کتاب لیکلے دے چه د هغے نوم یے شُعَبُ الْإِیْمَان ایښے دے - د عسے شیخ عَبْدُ الْجَلِیْل رحمۃ اللہ علیہ هم یو کتاب لیکلے دے، د هغے نوم هُم شُعَبُ الایمان دے، او د اِسحَاق بن قُرطبی رحمۃ اللہ علیہ کتاب النَّصَائِح دِ دے مضمون کښ لیکلے دے - او امام اَبُوحَاتِم رحمۃ اللہ علیہ د خپل کتاب نوم وَصْفُ الْإِیْمَانِ وَشُعَبِهٖ ایښے دے.

د بُخاری شریف شارحینو په دے باب کښ د مختلفو کتابونو نه خلاصه کړے دهٔ او په مختصر طور یے جمع کړی دی چه د هغے حاصل دا دے، چه په اصل کښ ایمان د درے څیزونو د مجموعے نوم دے - اَوّل تصدیقِ قلبی یعنی په زړهٔ سره د تمامو اُمورو یقین کول، او دوئیم د ژبے اِقرار او عمل، دریم د بدن عملونه یعنی د ایمان ټول ښاخونه په درے حصو تقسیم دی.

(۱) اول هغه چه د هغے تعلق نیت او عقیدے او د زړهٔ عمل سره دے.

(۲) دوئیم هغه چه د هغے تعلق د ژبے سره دے.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) دریم هغه چه دهغې تعلق دبدان دباقي حصوسره دے۔ دا ایمان تول شپږ ویشت شیزونه دے دریوکښ داخل دی۔

اوّل قسم

کوم چه ټولو عقیدو ولره شامل دے، دے خلاصه دیرش شیزونه دی۔

(۱) په الله تعالیٰ ایمان راوړل چه په دے کښ د هغهٔ په ذات اوصفاتو باندے ایمان راوړل داخل دی، او د دے یقین هم چه هغه پاك ذات یو دے او د هغهٔ هیڅوك شریك نشته او نهٔ د هغهٔ څوك مثل شته (۲) دا الله تعالیٰ نه ماسوا ټول شیزونه روستو پیدا شوی دی، د همیشه نه هم دغه یو ذات دے (۳) په فرښتو ایمان راوړل (۴) دا الله تعالیٰ نازل شوی کتابونو باندے ایمان راوړل (۵) د الله تعالیٰ په رسولانو باندے ایمان راوړل (۶) په تقدیر ایمان راوړل که ښهٔ وی یا بد، ټول دا الله تعالیٰ له طرفه دی (۷) په دے ایمان راوړل چه قیامت حق دے چه په دے کښ د قبر سوال وجواب، د قبر عذاب، د مرګ نه پس دوباره ژوندی کیدل، حساب کیدل، داعمالو تللے کیدل، او په پُلِ صراط تیریدل ټول په کښ داخل دی (۸) د جنت یقین کول او دا چه مؤمن به اِنشاء الله همیشه په کښ اُوسی (۹) د دوزخ یقین کول او دا چه په هغې کښ سختو نه سخت عذابونه دی او دغه به هم همیشه همیشه وی (۱۰) الله جل شانهٔ سره محبّت ساتل (۱۱) دا الله تعالیٰ دپاره نورو سره محبّت ساتل، او هم دا الله تعالیٰ د پاره بُغض ساتل (یعنی الله والاخلقو سره محبّت ساتل او د هغهٔ نافرمانو سره بُغض ساتل) او هم په دے کښ داخل دی صحابه رضی الله عنهم خصوصًا د مُهاجرینو او انصارو محبّت او دالِ رسول صلی الله علیه وسلم محبّت (۱۲) نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره محبّت ساتل چه په دیکښ د دوی تعظیم هم راځی، او په نبی اکرم صلی الله علیه وسلم درود شریف ویل، او د دوی د سنتو تابعداری کول په کښ هم داخله ده (۱۳) اِخلاص چه په دے کښ ریا نهٔ کول او د نفاق نه بچ کیدل هم په کښ داخل دی (۱۴) توبه یعنې د زړهٔ نه په ګناهونو پښیمانتیا او مخکښ دپاره د نهٔ کولو عهد (لوظ) (۱۵) دا الله تعالیٰ ویره (۱۶) دا الله تعالیٰ د رحمت اُمید لرل (۱۷) دا الله تعالیٰ د رحمت نه نا اُمید کیدل (۱۸) شکرګذاری (۱۹) وفا (۲۰) صبر (۲۱) تواضع چه په

دے کښې دمشرانو تعظیم هم داخل دے (۲۲) شفقت اورحمت چه په دے کښې په کشرانو شفقت کول هم داخل دی (۲۳) په مقدر راضی کیدل (۲۴) توکل۔ (۲۵) خودبینی اوخودستائی (ځان ځه ګڼل اودځان تعریف) پریښودل چه په دے کښې اِصلاح نفس هم داخله ده (۲۶) کینه او په زړه کښې چا ته څه نه ساتل چه په دے کښې حسد هم داخل دے (۲۷) عینی کتاب کښې دا نمبر پاتے شوے دے شاید دکاتب دغلطئ نه پاتے شوے وی، زما په خیال کښې دلته حیا کول دی (۲۸) غصه نه کول (۲۹) دهوکه نه ورکول چه په دے کښې بدګمانی نه کول چا سره مکروفریب نه کول هم داخل دی (۳۰) دُنیا محبت زړه نه وِیستل چه په دیکښې دمال اودجاه (اقتدار) محبت هم داخل دے۔ علامه عینی رحمه الله فرمائی چه پورته ذکر کړے شوی کښې تول دزړه عملونه داخل دی، که په ظاهر کښې ترے څه څیز بهر معلومیږی، خو په غوروفکر کولو سره به په دے نمبرونو کښې څه نه څه نمبر کښې به داخل شی۔

دُویم قِسم

دژبے عملونه دی دے اووهٔ شُعبے (یعنی ښاخونه) دی (۱) دکلمے طیبے ویل (۲) دقران شریف تلاوت کول (۳) علم زده کول (۴) علم نورو ته خودل (۵) دُعا کول (۶) دالله تعالیٰ ذکر چه په دیکښې اِستِغفار هم داخل دے (۷) عَبَث خبرے پریښودل۔

دریم قِسم

دباقی بدن عملونه دی چه دا ټول څلویښت دی او په درے حصو تقسیم دی۔

اوله حصه: خپل ذات سره تعلق لری۔ دا شپاړس ښاخونه دی۔ (۱) پاکی حاصلول چه په دیکښې دبدن پاکوالے، دجامو پاکوالے، دمکان پاکوالے ټول داخل دی، اودبدن پاکئ کښې اودس هم داخل دے۔ اوحَیض اونِفاس یعنی زیږوکی اوخلوینښتئ اودجنابت غسل هم پکښې دے (۲) دمونځ پابندی کول اوددے قائمول چه په دیکښې فرض، نفل، ادا، قضا، ټول مونځونه داخل دی (۳) صدقه چه په دیکښې زکوٰة، صدقهٔ فِطر (سرسایه) وغیره هم داخله ده، اوبخشش کول، په خلقو خوراک خوړول، دمیلمه عزت کول، د غلامانو ازادول په کښې هم داخل دی (۴) روژے نیول فرض وی که نفل۔

Maktaba Tul Ishaat.com

⑤ حج کول، فرض وی که نفل۔ او په دیکښ عُمره هم داخله ده او طواف هم ⑥
اعتکاف کول، په دیکښ د لیلة القدر تلاش کول هم داخل دی ⑦ د دینِ د حفاظت
د پاره کور پریخودل چه په دے کښ هجرت هم داخل دے ⑧ نذر یعنی د منتې
پوره کول ⑨ د قسمونو د پوره کولو خیال ساتل ⑩ د کفارو ادا کول ⑪ عورت
(د پړدے اندامونه) مانځه کښ او د مانځه نه علاوه پټ ساتل ⑫ قربانی کول۔
او د قربانئ د ښکارو د خیر خبر اخستل او د دے اهتمام کول ⑬ د جنازے اهتمام
کول او د دے د ټولو کارونو انتظام کول ⑭ د قرض ادا کول ⑮ معاملے ټهیک
کول د سُود نه بچ کیدل ⑯ د رښتیا خبرے ګواهی ورکول، حق نهٔ پټول۔
دوېمه حصه د نورو خلقو سره د معاملے ده، د دے شپږ شاخونه دی ۔① د
نکاح په ذریعه د حرامکارئ نه بچ کیدل ② د بال بچ د حقوقو خیال ساتل۔
او هغے ادا کول۔ په دے کښ د نوکرانو او د خادِمانو حقونه هم داخل دی ③ د
مور پلار سره ښه سلوک کول، نرمی کول، فرمانبرداری کول ④ د اولاد ښهٔ
تربیت کول ⑤ صِله رَحمی یعنی خپلو خپلوانو سره خپلولی کول ⑥ د مشرانو
ادب کول او د خبرے منل۔
دریمه حصه حقوقِ عامّه یعنی د عوامو د حقونو ده چه په اتلس شعبو
تقسیم ده ①۔ انصاف سره حکومت کول ② د حقے ډلے ملګرتیا کول ③ د
حاکمانو حکم منل (په شرط د دے چه د شریعت نه خلاف حکم نهٔ وی۔) ④
په خپل مینځ کښ د معاملو اصلاح کول چه په دیکښ بدکارو ته سزا ورکول،
باغیانو سره جهاد کول هم داخل دی ⑤ نیک کارونو کښ د نورو مدد کول۔
⑥ د نیک کارونو حکم کول او د بدو خبرونه منع کول چه په دیکښ وعظ او
تبلیغ هم داخل دے ⑦ د حدُودو (شرعی سزاګانو) قائمول ⑧ جهاد کول
چه په دیکښ د مورچو حفاظت هم داخل دے ⑨ د امانت ادا کول چه په دیکښ
خُمُس کوم چه د غنیمت د مالونو کښ وی هغه هم داخل دے ⑩ د قرض ورکول
او ادا کول ⑪ د ګاونډیانو حق ادا کول، د دوی اِکرام کول ⑫ معامله ښه
کول چه په دیکښ په جائزه طریقه مال جمع کول هم داخل دی ⑬ مال په
خپل ځائ باندے خرچ کول۔ د اِسراف او د بُخل نه بچ کیدل هم په دیکښ

داخل دی (۱۴) سلام کول اودسلام جواب ورکول (۱۵) انجوشکی کونکی ته يَرْحَمُكَ اللهُ ويل (۱۶) دُنيا خلق دخپل نقصان اودخپل تکليف نه بچ کول۔ (۱۷) لهو لعب (لوبو تو) نه بچ کيدل (۱۸) دلارے نه ضرر ورکونکے څيز لرے کول۔ دا اُووۀ اُويا شاخونه شو، په دې کښې څنې يو په بل کښې داخلولے هم شي لکه څنګه بنه معامله کښې د مال جمع کول او خرچ کول دوا ړه داخليدے شي۔ دغسې په غور و فکر سره نور هم شمير په کښې کمولے شي۔ او په دے لحاظ داُويا اُو د روايت يا د اُووشپيتو د روايت دلائل هم داتفصيل راتلے شي چې دے تفصيل کښې بنده د علامه عينی رحمة الله عليه کلام کوم چه د بخاری شريف په شرح کښې دے اَصل ګنړلے دے چه هغه نمبر وار دا څيزونه ذکر کړی دی۔ او د حافظ ابن حجر رحمة الله عليه فتح البارى او د علامه قارى رحمة الله عليه د مرقات نه م وضاحت او اضافه کړے ده۔ عالمانو ليکلى دی چه د ايمان ټولے شعبے اِجمالاً دا دی کومے چه ذکر شوے بنده له پکار دی چه په دے کښې غور و فکر اُوکړی۔ کوم صفتونه چه په دهٔ کښې له دے نه موجود وی، په هغے د الله جل شانهٔ شکر ادا کړی، چه هم هغهٔ په توفيق او مهربانئ سره هره نيکی حاصليږی۔ او د کومو صفتونو چه په دهٔ کښې کمے وی، د هغے د حاصلولو د کوشش اُوکړی۔ او د الله تعالىٰ نه د د هغے د حاصلولو توفيق اُوغواړی۔ وَمَا تَوْفِيْقِىْٓ اِلَّا بِاللهِ۔

دریم باب

د دریے کلمے فضائل

يعنی سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَکْبَرُ۔ څنے روايتونو کښې دے کلمو سره لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ هم راغلی دی۔ حديثونو کښې د دے کلمو ډير زيات فضيلت راغلے دے۔ دا کلمے د تسبيحاتِ فاطمه په نوم هم

Maktaba Tul Ishaat.com

مشهور دی، ځکه چه دا کلمے نبی اکرم ﷺ د نورو ټولو نه زیاته خپلے نیاز بینې لور حضرت سیّده فاطمه رضی الله عنها ته خودلے وے، لکه څنګه چه مخکښ راغې۔

په دے باب کښ هم د قرآن شریف آیتونه او حدیثونه ډیر راغلی دی۔ ځکه مې په دوه و فصلونو دا تقسیم کړو۔ اول فصل قرآنی آیتونو کښ، او دویم د نبی اکرم ﷺ په حدیثونو کښ۔

اوّل فصل

دهغه آیتونو په بیان کښ کوم کښ چه سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اللّٰهُ اَکْبَرُ مضمون ذکر کړے شوے دے۔ دا د قاعدے خبره ده، کوم څیز چه څومره اَهم او ضروری وی، هغو مره په اِهتمام ذکر کولے شی، او په مختلفو طریقو ذهن کښ کښینولے شی، په دے وجه د دے کلماتو مفهوم هم قرآنِ پاک کښ په مختلفو طریقو ذکر کړے شوے دے۔ په دیکښ د ټولو نه رومبے کلمه سُبْحَانَ اللّٰهِ ده۔ د سُبحان الله معنیٰ ده، الله تعالیٰ د هر عیب او بدئ نه پاک دے، زړهٔ د هغهٔ د پاکئ پوره پوره اِقرار کوم۔ دا مضمون یے په حکم سره هم ذکر کړے دے چه د الله تعالیٰ پاکی بیانوئ۔ او په خبر سره یے هُم اِرشاد فرمایلے دے، چه فرښتے او نور مخلوقات د الله تعالیٰ د پاکئ اِقرار او بیان کوی، وغیره وغیره۔ د غسے د نورو اَلفاظو یے هم دا حال دے، چه په مختلفو عنوانا تو قرآن شریف کښ د دے مضامین یے ذکر کړی دی۔

(۱) وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ط (بقره ع ۴)

(د فرښتو وینا د انسان د پیدا کیدو په وخت) مونږ د بِحَمْدِ الله ستا تسبیح کوو، او ستا د پاکئ په زړهٔ سره اِقرار کوو۔

(۲) قَالُوْا سُبْحٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ط اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ (بقره۔ ع ۴)

(د ملائکو چه کله په مقابله د انسان اِمتحان اُوشونو) وے ویل ته خو د هر عیب نه پاک یے، مونږ ته خو له دے نه سِوا هیڅ هم علم نشته څومره چه تا را ته خودلے دے بیشکه

تهٔ دلوئ علم خاوند يے، دلوئ حکمت خاوند يے۔

⟨۳⟩ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ (آل عمران - ع ۴)	اوخپل رب ډير يادوئ او دهغهٔ تسبيح کوئ ما ښام کښ او د سحر په وخت کښ۔
⟨۴⟩ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ط (آل عمران - ع ۲۰)	(يو هٔ خلق کوم چه د الله تعالىٰ په ذکر کښ هر وخت اخته اُوسي قدرت په کارنامو کښ غور و فکر کوي داوائي) اے زمونږ ربه

تا دا ټول بے فائدے پيدا کړي نهٔ دي (بلکه لوئ حکمتونه په دېکښ دي) ستا ذات د هر عيب نه پاک دے۔ مونږ ستا تسبيح کوُو، تهٔ مونږ د دوزخ د عذاب نه اُوساتے۔

⟨۵⟩ سُبْحٰنَهٗٓ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ وَلَدٌ م (النساء - ع ۲۳)	هغه ذات له دے نه پاک دے چه د هغهٔ اولاد وي۔
⟨۶⟩ قَالَ سُبْحٰنَكَ مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اَقُوْلَ مَا لَيْسَ لِيْ بِحَقٍّ ط (المائده - ع ۱۶)	(قيامت کښ چه کله د حضرت عيسىٰ عليه السلام نه سوال اُوشي چه آيا تا خپل امت ته د دريو خدايانو د منلو حکم ورکړے وُو؟ نو) هغه به

اُووائي (توبه توبه) زهٔ خو تا د شرک نه او د هر عيب نه) پاک گنړم، ما به دا سے خبرے څنګه کولے چه د کومے د وينا ما ته هيڅ حق نهٔ وُو۔

⟨۷⟩ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَصِفُوْنَ ٥ (الانعام - ع ۱۲)	الله جل جلالهٗ د دے ټولو خبرونه پاک دے کومے (چه دا کافران د الله تعالىٰ په

شان کښ) وائي (چه د هغهٔ اولاد دے يا شريک دے وغيره وغيره)

⟨۸⟩ فَلَمَّآ اَفَاقَ قَالَ سُبْحٰنَكَ تُبْتُ اِلَيْكَ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ ٥ (الاعراف - ع ۱۷)	(کله چه کوهِ طُور باندے د الله جل شانهٗ ديوے تجلّي حضرت موسىٰ عليه السلام بيهوشه پريوتلے وُو) بيا هر کله چه په هوش کښ

شو، نو عرض ئے اُوکړهٔ چه بے شکه ستا ذات (په دے سترګو سرد ليدلو نه او د هر عيب نه) پاک دے، زهٔ (د ديدار د درخواست نه) توبه کوُم، او د ټولو نه ړومبے ايمان راوړونکے يم۔

⟨۹⟩ اِنَّ الَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ لَا	بيشکه خوک چه د الله تعالىٰ مقرب دي (يعني

Maktaba Tul Ishaat.com

يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَ يُسَبِّحُوْنَهٗ وَلَهٗ يَسْجُدُوْنَ ۩ (الاعراف - ع ۲۴)

فرښتې) هغوی د هغهٔ د عبادت نه تکبر نهٔ کوی. او د هغهٔ تسبیح کوی، او هغهٔ ته سجده لګوی.

فائده:- صوفیانو لیکلی دی چه ایت کښ د تکبر نهٔ کولو بیان ځکښ کړل دے طرف ته اِشاره ده چه د تکبر ختمول په عباداتو باندے د اهتمام ذریعه ده، او په تکبر سره عباداتو کښ سُستی پیدا کیږی.

(۱۰) سُبْحٰنَهٗ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ (التوبة - ع ۵)

دهغهٔ ذات پاک دے د هغه څیزونو نه کوم چه دغه (کافران) د هغهٔ شریک جوړوی.

(۱۱) دَعْوٰىهُمْ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ۚ وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ (یونس - ع ۱)

(د دغے جنتیانو) خولے نه به د اخبره اوزی سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ او په خپل مینځ کښ به د هغوی سلام وی اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ او کله چه د دُنیا تکلیفونه یادکړی او خیال اوکړی، چه اُوس همیشه د پاره د هغے نه خلاصے اُوشونو) اخر کښ به اُووائی، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

(۱۲) سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ (یونس - ع ۷)

هغه ذات پاک اولوئ دے د هغے څیزونو نه، کوم چه دا کافران شریک جوړوی.

(۱۳) قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ الْغَنِيُّ (یونس ع ۷)

دغه خلق وائی چه دالله جل شانهٗ اولاد شته الله تعالٰی دے نه پاک دے هغهٔ چا محتاج نهٔ دے.

(۱۴) وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَا اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ (یوسف ع ۱۲)

او الله جل شانهٗ (د هر عیب نه) پاک دے، او زهٔ د مشرکانو نه نهٔ یم.

(۱۵) وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ (الرعد - ع ۲)

او رعد (فرښته) د هغهٔ په حمد سره تسبیح کوی، او نورے فرښتے هم د هغهٔ د ویرے نه (تسبیح او تحمید کوی.)

فائده:- عالمانو لیکلی دی چه څوک (د اسمان) بریښنا اوګړزاری په وخت سُبْحٰنَ الَّذِيْ يُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ اُووائی، هغهٔ ته به د بجلئ د نقصان نه حفاظت حاصل شی. یو حدیث کښ راغلی دی چه

کله د بجلئ ګړزواورئ، نو د الله تعالیٰ ذکر کوئ، بجلي ذکر کوونکي ته نه شي ورتلے. بل حدیث کښې راغلي دي چه د بجلئ د بریښنا او ګړزارې په وخت کښې تسبیح وایئ، تکبیر مه وایئ.

(۱۶) وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّكَ يَضِيْقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُوْلُوْنَ ۝ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ۝ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ۝ (الحجر - ع ۶)

او مونږ ته معلومه ده چه دا خلق (کومے نامناسبے کلمے ستا په شان کښې) وائي، په هغې ستا زړۀ تنګیږي. پس (د دے پرواه مۀ کوه) ته د خپل رب تسبیح او تحمید کوه او سجده کوونکو (یعنی مونځ ګذارو) کښې شامل اوسه، او د خپل رب عبادت کوه، تر دے پورے چه ستا وفات وخت راشي.

(۱۷) سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝ (نحل - ع ۱)

هغه ذات د خلقو د شرک نه پاك او ډیر لوئ دے.

(۱۸) وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ الْبَنٰتِ سُبْحٰنَهٗ وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ ۝ (نحل - ع ۷)

او هغوی الله تعالیٰ د پاره لوڼړه تجویزکوی هغه ذات د دے نه پاك دے (او عجیبه دا ده چه) ځان د پاره دا سے څیز تجویزکوی کوم چه په خپله خوښوی.

(۱۹) سُبْحٰنَ الَّذِیْٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصٰى (بنی اسرائیل - ع ۱)

(د هر عیب نه) پاك دے هغه ذات چا چه خپل بنده (محمد صلی الله علیه وسلم) د شپے په وخت د مسجدِ حرام (یعنی خانه کعبے) نه مسجدِ اقصٰی ته بوتلو.

(د معراج قصه د شلم نمبر نه تر دوه ویشتم پورے ترجمه)

(۲۰) سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَقُوْلُوْنَ عُلُوًّا كَبِيْرًا ۝ (بنی اسرائیل - ع ۵)

دا خلق چه څۀ وائي، الله تعالیٰ د هغې نه پاك او ډیر زیات د اوچتې مرتبے (خاوند) دے.

(۲۱) تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ ؕ

ټول اووۀ اسمانونه او زمکے او څو مره څۀ (بنیادم، فرښتے او پیریان) چه د دے په

Maktaba Tul Ishaat.com

(بنی اسرائیل ۔ ع ۵) مینځ کښې دی تول ؐتول دهغهٔ تسبیح کوی۔

(۲۲) وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِیْحَهُمْ ؕ (بنی اسرائیل ۔ ع ۵)

(اَوصرف دانه بلکه) هیڅ څیز هم (دساه وی که بے ساه) داسے نشته چه دهغهٔ په تعریف سره تسبیح نهٔ کوی، خو تاسو خلق د هغوئ په تسبیح نهٔ پوهیږئ۔

(۲۳) قُلْ سُبْحَانَ رَبِّیْ هَلْ كُنْتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا ؕ (بنی اسرائیل ع ۱۰)

(ته د دے عبثو مطالبو په جواب کښې کوم چه هغوی کوی) اُووایه چه سُبْحَانَ الله زهٔ خو یو سړے یم، رسول یم (الله نهٔ یم چه څهٔ غوارِم اُوکړم)۔

(۲۴) وَیَقُوْلُوْنَ سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُوْلًا ۝ (بنی اسرائیل ع ۱۲)

(په دے عالمانو چه کله قرآن شریف اُولوستلے شی نو هغوی د زنو په طرف په سجدهٔ کښې پریوزی) اَووائی چه زمونږه رب پاک دے، بے شکه دهغهٔ وعده ضرور پوره کیدونکے ده۔

(۲۵) فَخَرَجَ عَلٰی قَوْمِهٖ مِنَ الْمِحْرَابِ فَاَوْحٰۤی اِلَیْهِمْ اَنْ سَبِّحُوْا بُكْرَةً وَّعَشِیًّا ۝ (مریم ۔ ع ۲)

پس (حضرت زکریا علیه السلام) د کوټئ نه بهر تشریف راوړهٔ، اوخپل قوم ته یے په اِشاره اُووے، چه تاسو سحر او ماښام د الله تعالیٰ تسبیح کوئ۔

(۲۶) مَا كَانَ لِلّٰهِ اَنْ یَّتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ سُبْحٰنَهٗ ؕ (مریم ۔ ع ۲)

د الله جل شانهٔ دا (اهو) شان نهٔ دے چه هغه اولاد اختیار کړی۔ هغه د دے ټولو قصونه پاک دے۔

(۲۷) وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا ۚ وَمِنْ اٰنَآئِ الَّیْلِ فَسَبِّحْ وَاَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرْضٰی ۝ (طٰهٰ ۔ ع ۸)

(محمد صلی الله علیه وسلم ته د دے خلقو په نامناسبه خبرو صبر کوه) او د خپل رب حمد (وثنا) سره تسبیح کوه د نمر ختلو نه رومبے او د (نمر) پریوتلو نه رومبے او د شپے په وختونو کښې تسبیح کوه او د ورځے په اول او اخر کښې، د پاره د دے چه ته (د هغه ثواب او بے انتهاء بدله باندے کومه چه د دغے په مقابله کښې ملاویدونکے ده بے انداز ے) خوشاله شے۔

(۲۸) يُسَبِّحُوْنَ الَّيْلَ وَ النَّهَارَ لَا يَفْتُرُوْنَ ۝ (الانبیاء۔ ع ۲)

(دالله تعالیٰ مقبول بندګان دهغهٔ دعبادت نه نهٔ ستړی کیږی، شپه اَو ورځ دالله تعالیٰ تسبیح کوی، هیڅ وخت یې نه پریږدی۔

(۲۹) فَسُبْحٰنَ اللهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۝ (الانبیاء۔ ع ۲)

الله تعالیٰ چه دعرش مالك دے، دَ ټولو خبرو نه پاك دے کوم چه داخلق بیانوی (چه نعوذبالله دهغهٔ شریك شته یا دهغهٔ اولاد شته)

(۳۰) وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ط (انبیاء، ع ۲)

دارکافران) داوائی چه (نعوذبالله) رحمٰن (یعنی الله تعالیٰ فرښتې په) اولاد نیولی دی، دهغهٔ ذات ددې نه پاك دے۔

(۳۱) وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ ط (الانبیاء۔ ع ۶)

مونږ غرونه دداؤد (علیه السلام) تابع کړی وُو چه دهغهٔ تسبیح سره هغوی هم تسبیح کوی، او (دارنګې) مارغان مو (تابع کړی وُو) چه هغوی هم دحضرت داؤد علیه السلام تسبیح سره تسبیح کوی۔

(۳۲) لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ (الانبیاء۔ ع ۶)

(حضرت یونس علیه السلام په تیارو کښ اُویلهٔ) چه لتانه سِوا څوك معبود نشته ته د ټولو عیبونو نه پاك یې، زهٔ بې شکه قصوروار یم۔

(۳۳) سُبْحٰنَ اللهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۝ (مؤمنون۔ ع ۵)

الله تعالیٰ ددې ټولو خبرو نه پاك دے کوم چه دوی بیانوی۔

(۳۴) سُبْحٰنَكَ هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيْمٌ ۝ (النور۔ ع ۲)

سُبْحَانَ الله، دا (خلق کوم څه چه د حضرت عائشې رضی الله عنها په شان کښ تُهمت لګوی) ډیر لوی بُهتان دے۔

(۳۵) يُسَبِّحُ لَهٗ فِيْهَا بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ۝ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللهِ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيْهِ

دِې (جُماتونو) کښ داسې خلق سحر او ماښام دالله تعالیٰ تسبیح کوی کوم لره چه دالله تعالیٰ دیادنه، او دمونځ کولو نه، او د زکوٰة ورکولو نه نهٔ آخستل غفلت کښ اَچوی نهٔ خرڅول هغوی د داسې وُرځې (دعذاب) نه یریږی

Maktaba Tul Ishaat.com

الْقُلُوبُ وَالْاَبْصَارُ ۞ (النور ع ۵)

کومه کښې چه ډیر زړونه او ډیرے سترګے په داؤړی (یعنی دقیامت دوَرځے نه).

(۳۶) اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یُسَبِّحُ لَهٗ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالطَّیْرُ صٰٓفّٰتٍ ؕ کُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِیْحَهٗ ؕ وَاللّٰهُ عَلِیْمٌۢ بِمَا یَفْعَلُوْنَ ۞ (النور ع ۶)

(اے مخاطبه!) ایا تا ته (ددلائلو او مُشاهدے نه) دا معلومه نهٔ شوه چه دالله جل شانهٔ تسبیح کوی هغه ټول کوم څهٔ چه اسمانونو او زمکو کښې دی او (خصوصًا) مرغان هم چه وزرے یے خورے کړی دی (آلوزی ګرزی) ټولو ته خپله دُعا (مونځ) او خپله د تسبیح (طریقه) معلومه ده، او الله جل شانهٔ ته دټولو حال او کوم څهٔ چه خلق کوی هغه ټول ورته معلوم دی.

(۳۷) قَالُوْا سُبْحٰنَکَ مَا کَانَ یَنْۢبَغِیْ لَنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ مِنْ دُوْنِکَ مِنْ اَوْلِیَآءَ وَلٰکِنْ مَّتَّعْتَهُمْ وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰی نَسُوا الذِّکْرَ ۚ وَکَانُوْا قَوْمًاۢ بُوْرًا ۞ (الفرقان ع ۲)

(دقیامت په ورځ هرکله چه الله تعالیٰ دا کافران او دچا چه دوی عبادت کولو، ټول راجمع کړی، دغے معبودانو ته په تپوس اوکړی ایا تاسو دوی ګمراه کړی وُو، نو) هغوی به اووائی، سُبْحَانَ اللّٰه زمونږ څهٔ طاقت وُو چه د تا نه سِوا بل څوک مو کارساز مقرر وُو لے بلکه دا (بے وقوفان په خپله په ځائی دشکر کُفر کښې اَخته شو) چه تا دوی ته او ددوی مشرانو ته ښه مالداری ورکړه، ترډے چه دا خلق (ددولت په نشه کښې شهوتونو کښې اَخته شو، او) ستا یاد یے هیر کړو. او په خپله برباد شول.

(۳۸) وَتَوَکَّلْ عَلَی الْحَیِّ الَّذِیْ لَا یَمُوْتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهٖ ؕ وَکَفٰی بِهٖ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِیْرَا ۞ (الفرقان ع ۵)

او په هغے پاک ذات باندے توکل کوه، کوم چه ژوندے دے او هیڅ کله هغهٔ ته فنا نشته، او دهغهٔ تعریف سره تسبیح کوه. (یعنی تسبیح او تحمید کښې مشغول اُوسه د چا د مخالفت پرواه مهٔ کوه) ولے چه هغه پاک ذات دخپلو بندګانو ګناهونو نه کافی خبردار دے. (قیامت کښې به هریو کس ته دهغهٔ د مخالفت بدله ورکړے شی.)

(۳۹) وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ (نمل ع ۱)

الله رَبُّ الْعٰلَمِين د هر قسمه عيب نه پاك دے۔

(۴۰) سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝ (قصص ع ۷)

الله جل شانهٔ د هغے تولو څيزونو نه پاك دے کوم چه دا مشرکان بيانوی ، او د هغے نه بالا تر دے۔

(۴۱) فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ ۝ وَلَهُ الْحَمْدُ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَعَشِيًّا وَّحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ ۝ (الروم ع ۲)

پس تاسو د الله تعالى تسبيح کوئ د ماښام په وخت (يعنى شپه کښں) او د سحر په وخت او هم د هغهٔ حمد (کولے شي) تولو اسمانو کښں او زمکه کښں، او هم د هغهٔ (تسبيح او تحميد کوه) د ماښام په وخت کښں هم۔ (يعنى د ماز يګر په وخت کښں هم) او د ما سپښين په وخت کښں هم۔

(۴۲) سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝ (الروم ع ۴)

د الله جل شانهٔ ذات پاك او بالا تر دے د هغے څيزونو نه د کوم چه دا خلق د هغهٔ طرف ته (نسبت کوی) بيانوی۔

(۴۳) اِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا وَّسَبَّحُوْا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ۝ (السجده ع ۲)

پس زمونږه په آيتونو خو هغه خلق ايمان راوړی کله چه هغوئ ته هغه آيتونه ياد کړے شي، نو هغوی سجده کښں پريوزی او د خپل رب تسبيح او تحميد شروع کړی، او دغه خلق تکبُّر نهٔ کوی۔

(۴۴) يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ۝ وَّسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝ (احزاب ع ۶)

اے ايماندارو! د الله تعالى ذکر ښهٔ په کثرت سره کوئ، او سحر ماښام د هغهٔ تسبيح کوئ۔

(۴۵) قَالُوْا سُبْحٰنَكَ اَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُوْنِهِمْ (سبا ع ۵)

(هر کله چه قيامت کښں تول مخلوق جمع کړی) الله جل شانهٔ به د فرښتو نه تپوس اوکړی آيا دے خلقو ستاسو عبادت کولو؟ نو هغوی به اُووائی، ته (د شرك وغيره عيبونو نه) پاك يے، زمونږ خو صرف تا سره تعلق دے نهٔ چه هغوی سره۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(۴۶) سُبْحٰنَ الَّذِیْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا (یٰسٓ ۔ ع ۳)

هغه ذات پاك دے چه هغهٔ د ټولو جوړے (یعنی دیوبل مقابل څیزونه) پیدا کړهٔ۔

(۴۷) فَسُبْحٰنَ الَّذِیْ بِیَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَیْءٍ وَّاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ○ (یٰسٓ ۔ ع ۵)

پس پاك دے هغه ذات چه د هغه په قبضه کښې هر څیز پوره پوره اختیار دے اَوهم هغهٔ طرف ته به واپس کولے شئ۔

(۴۸) فَلَوْلَاۤ اَنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِیْنَ ○ لَلَبِثَ فِیْ بَطْنِهٖۤ اِلٰی یَوْمِ یُبْعَثُوْنَ ○ (صٰفّٰت ۔ ع ۵)

پس که چرے (یونس علیه السلام) تسبیح کونکو کښې نه وے نو تر قیامته پورے به د دے (کب) په ګیډه کښې وے۔

(۴۹) سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا یَصِفُوْنَ ○ (صافات ۔ ع ۵)

د الله تعالیٰ ذات پاك دے د هغې څیزونو نه کوم چه دا خلق بیانوی۔

(۵۰) وَاِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ ○ (صٰفّٰت ۔ ع ۵)

(فرښتې وائی چه مونږ ټول په ادب سره صفونو کښې ولاړ یُو) اوټول د هغهٔ تسبیح کوو۔

(۵۱) سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا یَصِفُوْنَ ○ وَسَلٰمٌ عَلَی الْمُرْسَلِیْنَ ○ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ○ (صٰفّٰت ۔ ع ۵)

ستا رب چه د عزت (او دعظمت) خاوند دے، پاك دے د هغه څیزونو نه، کوم چه دوی بیانوی، او سَلام دِ وی په پیغمبرانو او ټول تعریفونه هم د الله تعالیٰ د پاره ثابت دی چه د ټول عالم پروردګار دے۔

(۵۲) اِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهٗ یُسَبِّحْنَ بِالْعَشِیِّ وَالْاِشْرَاقِ ○ وَالطَّیْرَ مَحْشُوْرَةً ؕ كُلٌّ لَّهٗۤ اَوَّابٌ ○ (صٓ ۔ ع ۲)

مونږ غرونو ته حکم کړے وُو چه د هغهٔ (حضرت داؤد علیه السلام) سره شریک شئ سحر ماښام تسبیح کوئ، د غه رنګے مو مرغانو ته هم حکم کړے وُو (چه د تسبیح په وخت کښې به) هغوی ټُخه جمع کیدل۔ او ټول (غرونه او مرغان یو ځای شوی حضرت داؤد علیه السلام سره) الله تعالیٰ طرف ته رجوع کونکی (او تسبیح او تحمید کښې) مشغولیدونکی وُو۔

(۵۳) سُبْحٰنَهٗ هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ

هغهٔ عیبونو نه پاك دے دا سے الله دے چه یو دے

الْقَهَّارُ ○ (الزمر - ع ۱)
(۵۴) سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ○ (الزمر ع ۷)
(۵۵) وَتَرَى الْمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيْنَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ○ (الزمر ع ۸)

راهیځوی دهغهٔ شریک نشته) زبردست دے.
هغه ذات پاك او برتر دے دهغې څیز نه، کوم چه دا خلق شریک جوړوی.
ته به (قیامت کښ) فرښتې اووینې، چه د عرش څلور واړو طرفو ته به په حلقه کښ ولاړې وی، او دخپل رب په تسبیح او تحمید کښ به مشغول وی او (هغه ورځ) به دټولو بندګانو په مینځ کښ په حق فیصله اوکړے شی، او (دهر طرفه نه) به اوویلے شی اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (ټول تعریفونه هغې الله دپاره دی، کوم چه دټول عالَم پروردګار دے.)

(۵۶) اَلَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهٗ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِيْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ○ (مؤمن ع ۱)

کوم فرښتو چه عرش اوچت کړے دے او کومے فرښتې چه دهغې څلور واړو طرفو ته دی هغوئ دخپل رب تسبیح کوی او حمد کوی او په هغهٔ ایمان لری او ایمان والو دپاره بخښنه غواړی (او وائی) چه اے زمونږ پروردګاره! ستا رحمت او علم هر څیز ته شامل دے، پس هغه خلق او بخښے چا چه توبه کړے ده او ستا په لار تګ او هغوی د دوزخ دعذاب نه اوساتے.

(۵۷) وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ (مؤمن ع ۶)

او سحر او ماښام (همیشه) دخپل رب تسبیح او تحمید کوه.

(۵۸) فَالَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ يُسَبِّحُوْنَ لَهٗ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْئَمُوْنَ ۩ (حم سجده ع ۵)

کوم چه ستا رب ته نزدے دی (یعنی مقرب دی مراد ترې فرښتې دی) هغوی شپه او ورځ دهغهٔ تسبیح کوی، ذره هم نهٔ ستومانه کیږی.

(۵۹) وَالْمَلٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِي الْاَرْضِ ط (الشورٰی - ع ۱)

او فرښتې دخپل رب تسبیح او تحمید کوی او هغې خلقو دپاره کوم چه په زمکه کښ اُسی (هغوی دپاره) بخښنه غواړی.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۶۰) وَتَقُوْلُوْا سُبْحٰنَ الَّذِیْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِیْنَ ۝ وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ۝ (الزخرف۔ ع ۱)

(او تا سو سورلو باندے چه کښینئ نو دخپل رب یاد کوئ) او وایئ پاك دے هغه ذات چا چه دا سورلئ زمونږ تابع کړے، او مونږ خو دا سے نه وو چه دوی مو تابع کړے وے، او بے شکه مونږ خپل رب ته واپس تلونکی یو۔

(۶۱) سُبْحٰنَ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا یَصِفُوْنَ ۝ (زخرف۔ ع ۷)

دا سمانونو او دزمکو پروردګار، چه مالك دعرش هم دے، پاك دے دهغے خیزونو نه کوم چه دوی بیانوی۔

(۶۲) وَتُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِیْلًا ۝ (الفتح۔ ع ۱)

او تسبیح کوئ دهغهٔ دسحر په وخت او دماښام په وخت۔

(۶۳) فَاصْبِرْ عَلٰى مَا یَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ۝ وَمِنَ الَّیْلِ فَسَبِّحْهُ وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ ۝ (ق۔ ع ۳)

پس دد ے خلقو (په نامناسبه خبرو) هر څهٔ چه هغوی وائی صبر کوه، او دخپل رب تسبیح او تحمید کوه، نمر ختلو نه ړومبے او دنمر پریوتلو نه پس، او شپه کښ هم دهغهٔ تسبیح او تحمید کوه، او (فرض) مونځونو نه پس هم تسبیح او تحمید کوه۔

(۶۴) سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ۝ (طور۔ ع ۲)

دالله تعالیٰ ذات پاك دے د هغے خیزونو نه کوم چه دوی شریکوی۔

(۶۵) وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِیْنَ تَقُوْمُ ۝ وَمِنَ الَّیْلِ فَسَبِّحْهُ وَاِدْبَارَ النُّجُوْمِ ۝ (طور۔ ع ۲)

او دخپل رب تسبیح او تحمید کوه (دمجلس نه یا د اُودهٔ کیدو نه) دپاسیدو نه پس (یعنی دتهجد په وخت کښ) او دشپے په وخت کښ هم دهغهٔ تسبیح کوه او دستورو (پریوتونه) روستو هم۔

(۶۶) (۶۷) فَسَبِّحْ بِاسْمِ الْعَظِیْمِ ۝ (واقعه۔ ع ۳،۲) دوه ځایه۔

پس د هغے خپل لوئ عظیم رب دنوم تسبیح کوه۔

(۶۸) سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ج وَهُوَ الْعَزِیْزُ

دالله تسبیح کوی هغه ټول کوم څهٔ چه په اسمانونو کښ دی او زمکه کښ دی، او هغه

الْحَكِيْمُ ○ (الحديد۔ ع ۱)
(۶۹) سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ○ (الحشر۔ ع ۱)
(۷۰) سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ○ (الحشر ع ۳)
(۷۱) يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ○ (الحشر۔ ع ۴)
(۷۲) سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ○ (الصف۔ ع ۱)
(۷۳) يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ
(الجمعہ۔ ع ۱)
(۷۴) يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ ۫ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ○ (تغابن۔ ع ۱)
(۷۵) (۷۶) قَالَ اَوْسَطُهُمْ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُوْنَ ○ قَالُوْا سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ○
(القلم ع ۱)

زبردست دے حکمت والا دے۔
دالله تسبیح کوی هغه ټول څیزونه کوم چه اسمانونو کښې دی او هغه ټول څیزونه کوم چه زمکه کښې دی او هغه زبردست دے حکمت والا دے۔
دالله تعالیٰ ذات پاك دے د هغې څیز نه، کوم چه دوی شریك جوړوی۔
دالله جل شانهٗ تسبیح کوی هغه ټول څیزونه کوم چه اسمانونو او زمکه کښې دی او هغه زبردست دے حکمت والا دے۔
دالله جل شانهٗ تسبیح کوی هغه ټول څیزونه کوم چه اسمانونو کښې دی او زمکه کښې دی او هغه زبردست دے حکمت والا دے۔
دالله جل شانهٗ تسبیح کوی هغه ټول څیزونه کوم چه اسمانونو کښې دی او کوم څیزونه چه زمکه کښې دی هغه بادشاه دے (د ټولو عیبونو نه) پاك دے، زبردست دے حکمت والا دے۔
دالله جل شانهٗ تسبیح کوی هغه ټول څیزونه کوم چه اسمانونو کښې دی او کوم څهٔ چه زمکه کښې دی، هم هغهٔ د ټول بادشاهی ده، او هم هغه د تعریف قابل دے او په هر څیز قادر دے۔
یه هغوی کښې چه څوك افضل وُو، هغهٔ اُووے چه ما تاسو ته (د رومبې نه) ویلی وُو، د الله تسبیح ولے نهٔ کوئ۔ هغې خلقو اُووے سُبْحٰنَ رَبِّنَا (زمونږ د رب پاك دے) بے شکه مونږه خطا وار یُو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(۷۷) فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ۝ (الحاقہ۔ ع ۲)

پس دخپل عظمت والا پروردګار د نوم تسبیح کوه۔

(۷۸) وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا ۝ وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهٗ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا ۝ (دہر۔ ع ۲)

دخپل پروردګار سحرا و ماښام نوم اخله او د شپې هم دهغهٔ دپاره سجده کوه۔ او د شپې لویه حصه کښې دهغهٔ تسبیح کوه۔

(۷۹) سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى ۝ (اعلیٰ۔ ع ۱)

ته دخپل عالی شان پروردګار د نوم تسبیح کوه۔

(۸۰) فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ ط اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ۝ (النصر۔ ع ۱)

بس ته دخپل رب تسبیح او تحمید کوه او دهغهٔ نه بخښنه غواړه۔ بیشکه هغه لوئ توبه قبلونکے دے۔

فائده: دا ټول اَیتونه دی کوم کښې چه د الله جل جلالهٔ د تسبیح حکم دے، دهغهٔ د پاکئ بیانولو او د اِقرار کولو حکم دے، یا دهغے ترغیب دے۔ کوم مضمون چه الله مَالِكُ الْمُلْك دا سے اِهتمام سره خپل قرآن پاک کښې بار بار فرمایلے وی، دهغے د شان په لوئ والی کښې څهٔ شک شُبه کیدے شی۔ د دے نه ډیرو اَیتونو کښې تسبیح سره د دویمے کلمے تحمید یعنی د الله تعالیٰ تعریف کول، دهغهٔ حمد وثنا بیانول او هغے کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰه ویل هم ذکر شوے ده، څنګه چه د پورته اَیتونو نه معلومه شوه۔ دِدے نه علاوه خاص طور د الله تعالیٰ د تعریف بیان کوم چه د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ مفهوم دے، نورو اَیتونو کښې هم راغلے دے او د ټولو نه ضروری دا دے چه د الله جل شانهٔ د کلامِ پاک شروع هم اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ نه ده۔ دِدے نه به زیات د دے پاکے کلمے نور څهٔ فضیلت وی چه الله جل جلالهٔ د قرآن پاک شروع په دِدے سره فرمایلے ده۔

(۱) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ (فاتحہ۔ ع ۱)

د ټولو تعریفونو لائق الله تعالیٰ دے چه د ټولو جهانونو پروردګار دے۔

(۲) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ط ثُمَّ الَّذِيْنَ

ټول تعریفونه د الله تعالیٰ د پاره دی چا چه اَسمانونه او زمکه پیدا کړهٔ، او تیارے او رڼا یې جوړه کړه، بیا هم کافران (نورو

كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ۝ (انعام۔ ع ۱)

لرهٔ) دخپل رب برابروی۔

(۳) فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ (انعام۔ ع ۵)

بیا(زمونږ دنیولونه) د ظالمانو جرړے پریکړے شوے، او ټول تعریفونه د الله تعالیٰ دپاره دی (د دهغهٔ شکر دے) چه د ټولو جهانونو پروردګار دے۔

(۴) وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ هَدٰىنَا لِهٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَآ اَنْ هَدٰىنَا اللّٰهُ ۚ (اعراف۔ ع ۵)

او (جنت ته رسیدلو نه پس) هغ خلقو اووے ټول تعریفونه الله تعالیٰ دپاره دی، چا چه مونږ دے مقام ته راورسولو، او مونږ په هیڅ کله هم دے ځائ ته نه وے رارسیدلے که چرے الله جل شانهٔ مونږ نه وے رارسَولے۔

(۵) اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ الَّذِيْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ۔ (اعراف۔ ع ۱۹)

کوم خلق چه د داسے رسول نبی اُمی تابعداری کوی، کوم چه دغه خلق خپل ځان سره تورات او انجیل کښ لیکلے شوے مومی۔

فائده: تورات کښ چه کوم صفتونه د نبی اکرم ﷺ نقل کړے شوی دی هغ کښ دا هم ذکر کړے شوی دی چه دهغهٔ اُمت به ډیر په کثرت سره د الله تعالیٰ حمد وثنا کونکی وی۔ لکه دُرِ منثور کښ څو روایتونو نه دا مضمون نقل کړے شوے دے۔

(۶) اَلتَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ السَّآئِحُوْنَ الرّٰكِعُوْنَ السّٰجِدُوْنَ الْاٰمِرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ (التوبة۔ ع ۱۴)

(دے مجاهدینو صفتونه، چه چا ځانونه الله تعالیٰ د جنت په بدل له کښ په بیعه اخستی دی، دا دی چه) هغوی د ګناهونو نه توبه ایستونکی دی د الله تعالیٰ عبادت کونکی دی، د الله تعالیٰ حمد وثنا کونکی دی روژه ساتونکی دی یا د الله تعالیٰ رضا دپاره سفر کونکی دی، رکوع او سجده کونکی دی (یعنی

Maktaba Tul Ishaat.com

مونځ‌ئې اردی) دنیکو خبرو حکم کوونکی دی، او دبدو خبرونه منع کوونکی دی (تبلیغ کوونکی دی) او د الله تعالیٰ دحُدودو (یعنی حکمونو) حفاظت کوونکی دی (داسې) مؤمنانو ته زیرې واوروه۔

(٧) وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ (یونس - ع ١)

او اخری بلنه دهغوی داده، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (ټول تعریفونه الله تعالیٰ دپاره دی چه دټولو جهانونو پروردګار دے۔

(٨) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ وَهَبَ لِيْ عَلَى الْكِبَرِ اِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ ؕ (ابراهيم - ع ٦)

ټول تعریفونه د الله تعالیٰ دپاره دی، چا چه په بوډاوالی کښ ماته (دوه ځامن) اِسماعیل او اِسحاق (علیهما السلام) راکړل۔

(٩) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ (نحل - ع ١٠)

ټول تعریفونه الله تعالیٰ دپاره دی (بیا هم دغه خلق دے طرفته نه مُتوَجِه کیږی) بلکه اکثر دهغوی نه پوهه دی۔

(١٠) يَوْمَ يَدْعُوْكُمْ فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ وَتَظُنُّوْنَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا ۝ (بنی اسرائیل - ع ٥)

کومه ورځ (شپیلۍ پوکولے شی او تاسو به ژوندی کړے شوی) راوبللے شئ نو تاسو به مجبوراً دهغهٔ حمد (وثنا) کوئ دحکم تعمیل به کوئ، او (داحالات چه اووینئ) ګمان به کوئ چه تاسو دُنیا کښ اوقبر کښ ډیره کمه مُوده اِیسار شوی وئ۔

(١١) وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا ۝ (بنی اسرائیل - ع ١٢)

او ته (ښکاره) اووایه چه ټول تعریفونه دهغے الله دپاره دی چه نهٔ اولاد لری او نهٔ دهغهٔ څوك بادشاهئ کښ شریک شته، او نهٔ د کمزورئ په وجه دهغهٔ څوك مددګار شته او دهغهٔ ښهٔ تکبیر (دلوئ بیان) کوه۔

(١٢) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا ۝ (کهف - ع ١)

ټول تعریفونه دهغے الله دپاره دی چا چه په خپل بنده (محمد صلی الله علیه وسلم) کتاب نازل کړو، او په دغے کتاب کښ دهیڅ قسم ذرّه غونډے هم کږلیچ اونهٔ ساتهٔ۔

(۱۳) فَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ نَجّٰنَا مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ○ (مؤمنون - ع ۲)

(حضرت نوح علیہ السلام ته خطاب دے، کله چه ته کشتئ کښې کینیني) نو اُووایه، چه ټول تعریفونه د هغه الله تعالیٰ دپاره دي، چا چه موږ ته د ظالمانو نه خلاصے راکړو۔

(۱۴) وَقَالَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ فَضَّلَنَا عَلٰی كَثِیْرٍ مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِیْنَ ۝ (النمل - ع ۲)

او حضرت سلیمان او حضرت داؤد علیهما السلام اُووے ټول تعریفونه هغه الله تعالیٰ دپاره دي چا چه موږ ته په خپلو ډیرو ایماندارو بندګانو باندے فضیلت راکړو۔

(۱۵) قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِیْنَ اصْطَفٰی ط (النمل - ع ۵)

ته (دخطبے په طور) اُووایه، ټول تعریفونه د الله تعالیٰ دپاره دي، او د هغه په هغه بندګانو د سلام وي څوک چه هغه غوره کړه۔

(۱۶) وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَیُرِیْكُمْ اٰیٰتِهٖ فَتَعْرِفُوْنَهَا ط (النمل - ع ۷)

او ته اُووایه چه ټول تعریفونه الله تعالیٰ دپاره دي هغه به تاته ډیر زر خپلے نښے اُوښائي، پس ته به هغه اُوپیژنے۔

(۱۷) لَهُ الْحَمْدُ فِی الْاُوْلٰی وَالْاٰخِرَةِ ط وَلَهُ الْحُكْمُ وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝ (قصص - ع ۷)

د حمد و ثنا لائق دُنیا او آخرت کښې هم هغه دے او حکومت هم هغه دپاره دے او هم هغه طرفته به واپس کړے شئ۔

(۱۸) قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ط بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا یَعْقِلُوْنَ ○ (عنکبوت - ع ۶)

ته اُووایه ټول تعریفونه د الله تعالیٰ دپاره دي (دا خلق نه مني) بلکه اکثر د هغوی نه ناپوهه دي۔

(۱۹) وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِیٌّ حَمِیْدٌ ○ (لقمن - ع ۲)

او چا چه کفر اُوکړو (ناشکري ئے اُوکړه) نو الله تعالیٰ خو بے نیازه دے، ثنا ئے وئیلے شوے ده۔

(۲۰) قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ط بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ ۝ (لقمن - ع ۳)

ته اُووایه ټول تعریفونه الله تعالیٰ دپاره دي (دا خلق مني نه) بلکه اکثر د دوی نه جاهل دي۔

(۲۱) اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِیُّ

بے شکه الله تعالیٰ بے نیازه دے، ثنا ئے

Maktaba Tul Ishaat.com

الْحَمِيْدُ ۵ (لقمٰن۔ ع ۳)	وئیلے شوے دہ۔
(۲۲) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِی الْاٰخِرَةِ ط (سبا۔ ع ۱)	ټول تعریف دهغهٔ دپاره دے دچا چه قبضه کښ دی هغه څهٔ چه اسمانونوکښ دی او هغه څهٔ چه زمکه کښ دی هم دهغهٔ به حمد (وثنا) وی آخرت کښ (دبل چا به ئې نهٔ پوښتنه وی)
(۲۳) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط (فاطر۔ ع ۳)	ټول تعریف دالله تعالیٰ دپاره دے، چه د اسمانونو پیدا کوونکے دے او د زمکے۔
(۲۴) يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ اِلَى اللّٰهِ ط وَاللّٰهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۵ (فاطر۔ ع ۳)	اے خلقو! تاسو محتاج یئ دالله تعالیٰ او هغه بے نیازه دے، ثنا یې وئیلے شوے دہ۔
(۲۵) وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْۤ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ط اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ شَكُوْرُ ۨ الَّذِیْۤ اَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ لَا يَمَسُّنَا فِيْهَا نَصَبٌ وَّلَا يَمَسُّنَا فِيْهَا لُغُوْبٌ ۵ (فاطر۔ ع ۴)	(کله چه مسلمانان جنت کښ داخل شی نو دریېمو چاے به ورته واغوستولے شی) او وائی به ټول تعریف هغه الله تعالیٰ لره دے چا چه مونږ نه (دهمیشه دپاره) خفګان لرے کړو، بے شکه زمونږ رب ډیر بخښونکے لوئ قدر کوونکے دے، چا چه مونږ په خپل

فضل دهمیشه اوسید وځائ ته اُورسَوُلو۔ نه به مونږ ته څهٔ مشقت رسیږی او نهٔ به مونږ ته څهٔ ستومانی رسیږی۔

(۲۶) وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ (صافات۔ ع ۵)	او سلام دِوی په رسولانو، او ټول تعریف دالله تعالیٰ دپاره دے، چه د ټولو جهانونو پروردګار دے۔
(۲۷) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ط بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ (زمر۔ ع ۳)	ټول تعریف دالله تعالیٰ دپاره دے (خو دا خلق پوهیږی نه) بلکه اکثر جاهل دی۔
(۲۸) وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ صَدَقَنَا وَعْدَهٗ وَاَوْرَثَنَا الْاَرْضَ نَتَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ	او (کله چه مسلمانان جنت کښ داخل شی نو) وائی به، چه ټول تعریف دهغهٔ دپاره دے، چا چه مونږ سره خپله وعدہ رښتینے

حَيْثُ نَشَآءُ ۚ فَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ۝ (زمر ع ۸)

کړه او مونږ په دے د زمکے مالکان جوړ کړو چه مونږ جنت کښې کوم ځائ غواړو مقام اُوکړو۔ د نیک عمل کونکو څومره ښه بدله ده۔

۲۹ فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْاَرْضِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ (جاثیه ع ۴)

پس د الله تعالیٰ د پاره ټول تعریف دے چه پروردګار دے د اسمانونو او د زمکے او د ټولو جهانونو پروردګار دے۔

۳۰ وَمَا نَقَمُوْا مِنْهُمْ اِلَّآ اَنْ يُّؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۝ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (بروج ع ۱)

(دیو کافر بادشاه د پورته ته ذکر دے چه مسلمانان به یے تنګول او تکلیفونه به یے ورته رسول) او دغے کافر یے مسلمانانو کښې نور څهٔ عیب نهٔ وو موندلے، سوا له دے نه چه دوی په هغه الله ایمان راوړے وو کوم چه زبردست دے او د تعریف لائق دے، هم هغهٔ د پاره بادشاهي ده د اسمانونو او د زمکے۔

فائده: دے ایتونو کښې د الله تعالیٰ د حمد (ثنا) او د هغهٔ د تعریف ترغیب د هغے حکم د هغے خبر دے۔ حدیثونو کښې هم په کثرت سره د الله تعالیٰ د تعریف کونکو فضائل په خاص طور ذکر کړے شوی دی۔

یو حدیث کښې راغلی دی چه جنت ته به د ټولو نه وړمبے هغه خلق راوبللے شی څوک چه هر حال کښې راحت وی یا تکلیف د الله تعالیٰ تعریف کونکی وی۔

یو حدیث کښې ارشاد دے چه الله جل شانهٗ ته خپل تعریف ډیر خوښ دے او بکار هم دے چه په حقیقت کښې د تعریف لائق صرف د الله تعالیٰ پاک ذات دے د الله تعالیٰ د ماسوا به تعریف څهٔ وی، چه د هغوی په قبضه کښې هیڅ هم نشته اَن تر دے چه هغهٔ په خپله هم خپل قبضه کښې نهٔ دے۔

یو حدیث کښې راغلی دی چه د قیامت په ورځ به بهترین بندګان هغه وی څوک چه ډیر ډیر د الله حمد وثنا کوی۔

یو حدیث کښې راغلی دی چه حمد د شکر اصل بنیاد دے چا چه د الله تعالیٰ حمد اُونکړهٔ، هغهٔ د الله تعالیٰ شکر هم ادا نهٔ کړهٔ۔

یو حدیث کښې راغلی دی چه په یو نعمت حمد کول د هغے نعمت د تلو

Maktaba Tul Ishaat.com

نه حفاظت دے۔

یو حدیث کښې دی چرے دُنیا ټوله په ټوله زما داُمت نه دچا په لاس کښې وی او هغه اَلْحَمْدُ لِلّٰه اُووائی، نو دا ویل د هغې ټولو نه بهتر دی. یو حدیث کښې راغلی دی چه هر کله الله تعالیٰ څۀ نعمت چا بندۀ ته ورکړی او هغه په دغے نعمت حمد کوی، نو دغه حمد زیات تیرې کۀ نعمت هر څومره لوئ وی۔

یو صحابی نبی اکرم ﷺ سره ناست وۀ هغۀ روغوندے اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا طَيِّبًا مُّبٰرَكًا فِيْهِ اُووے، نبی اکرم ﷺ پوښتنه اُوکړه، چه دا دُعا چا اُووَیله؟ هغه صحابی اُویریدۀ چه شاید څۀ نامناسبه خبره شوی وی. نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل، هیڅ باک نشته، هغۀ بدہ خبره نۀ دۀ کړے. بیا هغې صحابی عرض اُوکړۀ چه دا دُعا ما ویلے وه۔ نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل چه ما دیارلس فرښتے اُولیدے. هرے یوے ددے کوشش کولو چه دا کلمے د ټولو نه رومبے هغه یوسی۔ او دا حدیث خو مشهور دے چه کوم ضروری او اَهم کار بغیر د الله تعالیٰ د تعریف نه شروع کړے شی هغه به بے برکته وی، هم په دے وجه عموماً هر یو کتاب د الله تعالیٰ په تعریف سره شروع کولے شی۔

یو حدیث کښې راغلی دی چه کله د چا بچے مړشی، نو الله جل شانهٗ فرښتو ته فرمائی چه زما د بندۀ د بچی روح مو اُوو نیستلو؟ هغه عرض اُوکړی، چه اُوموو نیستلو. بیا اِرشاد اُوشی، چه د هغۀ د زړۀ ټکړه مو واخستله؟ هغه عرض کوی بے شکه وا مو خستله. اِرشاد اُوشی، بیا زما بندۀ څۀ اُووے؟ عرض اُوکړی ستا حمد یې اُوکړۀ او اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ یې اُووے۔ اِرشاد اُوشی چه بنده دۀ د دے په بدله کښې جنت کښې یو کور د هغۀ د پاره جوړکړئ، او د هغې نوم بَيْتُ الْحَمْد (د تعریف کور) کیږدئ۔

یو حدیث کښې راغلی دی چه الله جل شانهٗ د هغه چا نه بے حده خوشالیږی چه کله هغه څۀ نمړئ اُوخوری، یا اُوبه اُوڅکی او په هغې اَلْحَمْدُ لِلّٰه اُووائی۔

دریمه کلمه تهلیل وه یعنی لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ویل چه ددے بیان په تفصیل سره له دے نه رومبی باب کښې تیر شوے دے۔

څلورمه کلمه تکبیر ویلے شی یعنی د الله تعالیٰ لوئی بیانول د هغۀ بلندی

او د عظمت اقرار کول چه د دے مصداق اَللّٰهُ اَکْبَرُ ویل هم دی۔ دا دغے آیتونو کښ هم تیر شو۔ دغے نه علاوه صرف تکبیر یعنی د الله تعالیٰ د عظمت او لویئ بیان هم ډیرو آیتونو کښ راغلے دے چه د هغے نه څو آیتونه ذکر کولے شی۔

(١) وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝ (بقره۔ع ٢٣)

او د پاره د دے چه تاسو د الله تعالیٰ لوئی بیان کړئ په دے خبره چه تاسو ته یے هدایت اوکړو او د پاره د دے چه تاسو شکر اوکړئ۔

(٢) عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيْرُ الْمُتَعَالِ ۝ (رعد۔ع ٢)

هغه د ټولو پټو او ښکاره څیزونو پیژندونکے دے (د ټولو نه) لوئی دے، او د اوچتے مرتبے خاوند دے۔

(٣) كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ ۝ (حج۔ع ٥)

دغه رنګے (الله تعالیٰ د قربانئ څاروی) تاسو د پاره تابعدار کړل د پاره د دے چه تاسو د الله تعالیٰ لوئی بیان کړئ، په دے خبره چه هغه تاسو ته هدایت اوکړو (او د قربانئ کولو توفیق یے درکړو) او (اے محمد صلی الله علیه وسلم) اخلاص مندو ته (د الله تعالیٰ د رضا) زیرے واورو ه۔

(٤) (٥) وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ۝ (حج۔ع ٨، لقمٰن ع ٣)

او بے شکه الله جل شانهٗ هم د لوئ مرتبے او د لوئ عزت مالك دے۔

(٦) حَتّٰى اِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوْبِهِمْ قَالُوْا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ ط قَالُوا الْحَقَّ ج وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ۝ (سبا۔ع ٣)

هر کله چه فرښتو ته د الله تعالیٰ له طرفه څه حکم اوشی نو د ډیرے ویرے له وجه هغه ګهبراؤ شی او کله چه د هغوی د زړونو نه ویره لرے شی نو دیو بل نه تپوس کوی چه پروردګار څه حکم اوکړو۔ هغوی وائی چه د (فلانئ) حقے خبرے حکم اوشو، واقعی هغه د لوئ شان او د لوئ مرتبے خاوند دے۔

(٧) فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيْرِ ۝ (مؤمن۔ع ٢)

پس حکم الله تعالیٰ د پاره دے چه د لوئ شان او د لوئ مرتبے خاوند دے۔

(٨) وَلَهُ الْكِبْرِيَاءُ فِي

او د هغے (پاك ذات) د پاره لوئی ده اسمانونو

Maktaba Tul Ishaat.com

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۖ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ (جاثیه ع ۴)

کښې او زمکه کښې، او هم هغه زبردست حکمت خاوند دے۔

⑨ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ۖ (الحشر ع ۳)

هغه داسے معبود دے چه د هغهٔ نه سوا هیڅوک معبود نشته، هغه بادشاه دے (د ټولو عیبونو نه) پاک دے (د ټولو نقصانونو نه سالم دے، امن ورکونکے دے، نګهبانی کونکے دے۔ (یعني آفتونو نه حفاظت کونکے دے) زبردست دے، د خرابو درست کونکے دے، لویئ والا دے۔

فائده: د دے ایتونو کښې د الله جل شانهٔ لوئی او عظمت ترغیب او د دے حکم کړے شوے دے، حدیثونو کښې هم په خصوصیت سره د الله تعالیٰ د لویئ حکم د هغے ترغیب په کثرت سره راغلے دے۔

یو حدیث کښې ارشاد دے چه کله د اُور وینئ چه چرته اُور اُولګیدهٔ، نو تکبیر (یعني اَللّٰهُ اَکْبَرُ) ډیر ډیر وایئ، دا به یے مړ کړي۔ بل حدیث کښې دی چه تکبیر (یعني اَللّٰهُ اَکْبَرُ ویل) اُور مړ کوي۔ یو حدیث کښې راغلی دي چه کله بنده تکبیر وائی نو (د دے رڼا) زمکے نه اسمانه پورے ټول ځیزونه پټوی۔ یو حدیث کښې ارشاد دے چه ما ته جبریل علیه السلام د تکبیر حکم اُوکړهٔ۔

د دے ایتونو او حدیثونو نه علاوه د الله تعالیٰ عظمت او رفعت (لوئی او بلندی) د هغهٔ حمد وثنا او عالی شان یے مختلف عنواناتو سره قرآن شریف کښې ډیرو مختلفو الفاظو سره ذکر کړے دے، د هغے نه علاوه ډیر ایتونه داسے دی کوم کښې چه د دے تسبیحاتو الفاظ ذکر کړی نهٔ دی، خو مراد ترے دا تسبیحات دي۔ لکه څو ایتونه لاندینی دي۔

⑩ فَتَلَقّٰٓى اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۭ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ۝ (بقره ع ۴)

پس حاصل کړے آدم علیه السلام د خپل رب نه څو کلمے (د هغے په ذریعه یے توبه اُوکړه۔) پس الله تعالیٰ په رحمت سره په هغهٔ توجه اُوکړه، بے شکه هم هغه دے لوئے توبه قبلونکے لوئ مهربان۔

فائده: د دے کلمو په تفسیر کښې مختلف حدیثونه راغلی دي،

چه د هغې نه یو دا هم دے چه هغه کلمې دا دي. لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ وَبِحَمْدِكَ رَبِّ عَمِلْتُ سُوْٓءًا وَّظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْلِيْ اِنَّكَ اَنْتَ خَيْرُ الْغٰفِرِيْنَ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ وَبِحَمْدِكَ رَبِّ عَمِلْتُ سُوْٓءًا وَّظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَارْحَمْنِيْ اِنَّكَ اَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ وَبِحَمْدِكَ رَبِّ عَمِلْتُ سُوْٓءًا وَّظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَتُبْ عَلَيَّ اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ۝ د دے قسمه مضمون نور هم په ګڼړو حدیثونو کښې راغلې دے، کوم چه علامه سیُوطی رحمة الله علیه دُرِّ منثور کښې لیکلې دے، او هغې کښې د تسبیح او د تحمید ذکر دے.

(۱۱) مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ۚ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۝ (انعام ع ۲)

څوك چه یوه نیکي راوړي هغه ته به لس چنده ثواب ورکړے شي. او څوك چه بدي راوړي، هغه ته به د هغې برابر سزا ورکړے شي، او په هغوی به ظلم نه شي کولے.

فائده: د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه دوه خصلتونه داسے دي چه څوك مسلمان د هغې اِهتمام اُوکړي جنت کښې به داخل شي او هغه دواړه ډیر اسان څیزونه دي، خو عمل کوونکي پرے ډیر کم دي. یو دا چه سُبْحٰنَ اللهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اَللهُ اَکْبَرُ د هر مانځه نه پس لس لس ځله وائی نو هره ورځ به یو سل پنځوس (یعنې د پنځو مونځونو نه پس ټول تعداد) جوړ شي، او لس چنده کیدو په وجه به پنځلس سوه (۱۵۰۰) نیکۍ حساب کښې شمار کړے شي. او دویم څیز چه د اُودهٔ کیدو په وخت اَللهُ اَکْبَرُ څلور دیرش (۳۴) ځله، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ درے دیرش (۳۳) ځله سُبْحَانَ اللهِ درے دیرش (۳۳) ځله وائی، نو سل (۱۰۰) کلمې شوے چه د دے ثواب یو زر (۱۰۰۰) نیکۍ شوے. اُوس درے او د ټولے ورځے د مونځونو نه پس ټوله شمیره یے دوه زره پنځه سوه (۲۵۰۰) نیکۍ شوے. خیال اُوکړئ، د عملونو تللو په وخت دوه نیم زره بدۍ به هره ورځ د چا وي چه په دے غالبے راشي. بنده عاجز (یعنې شیخ الحدیث رحمة الله علیه) وائی، صحابه کرامو کښې اګرچه داسے به څوك نهٔ وي چه د هغوی دوه نیم زره بدۍ هره ورځ وے، خو دے زمانه کښې زمونږ خلقو بد عملئ هره ورځ د دے نه هم په څو چنده زیاتے دي. خو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم (زما روح د تر قربان شي) د خپلې مهربانئ نه په بدو باندے د نیکو غالب کولو نسخه اِرشاد اُوفرمایله

Maktaba Tul Ishaat.com

عمل کول نه کول دیمار کار دے۔ یو حدیث کښ راغلی دی چه صحابه کرامو عرض اوکړه، اے د الله رسوله! داخبره ده چه دا دواړه خیزونه دلسه اسان او دد کولو دیر کم دی؟ نبی اکرم ﷺ ارشاد اوفرمایه چه د اوده کید وخت شی، نو شیطان په دے دویلو نه ړومبے اوده کړی، او د مانځه وخت شی، نو هغه دلسے خبره ورپه یاد کړی چه دویلو نه ړومبے پاسی اولاړ شی۔ یو حدیث کښ نبی اکرم ﷺ ارشاد اوفرمایه چه ایا تاسو له دے نه عاجزه یئ چه یو زر نیکئ هره ورځ اوکټئ؟ چا عرض اوکړه، اے د الله رسوله! زر نیکئ هره ورځ څنګه کټلے شی؟ ارشاد یے اوفرمایه چه سُبْحَانَ اللهِ سل ځله وایئ زر نیکئ به شی۔

⑫ اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَاۚ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ اَمَلًا ۝ (کهف۔ ع ۶)

مال او اولاد د دُنیوی ژوند (بس) یو رونق دے او باقیات صالحات (هغه نیک عملونه کوم چه همیشه پاتے کید ونکی دی) هغه ستا درب په نزد د ثواب په اِعتبار سره هم (دیر زیات) بهتر دی او د اُمید په اِعتبار سره هم بهتر دی (چه د دے سره اُمیدونه قائم کړے شی په خلاف د مال او د اولاد چه د دے سره اُمیدونه قائمول بے کاره دی۔

⑬ وَيَزِيْدُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًىؕ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ مَّرَدًّا ۝ (مریم۔ ع ۵)

او الله تعالیٰ د هدایت والو هدایت زیاتوی او باقیات صالحات ستا درب په نزد د ثواب په اِعتبار سره هم بهتر دی، او د انجام په اِعتبار سره هم۔

فائده: اګرچه باقیات صالحات (هغه نیک عملونه چه همیشه پاتے کیدونکی دی) کښ ټول دا سے عملونه داخل دی چه د هغے ثواب همیشه ملاویږی خو په دیر وحدیثونو کښ دا هم راغلی دی چه د دے نه مراد د اتسبیحات دی۔
نبی اکرم ﷺ ارشاد فرمایلے دے چه باقیات صالحات دیر دیر وایئ چا تپوس اوکړو چه هغه کوم خیزونه دی؟ نبی اکرم ﷺ ارشاد اوفرمایه چه تکبیر (اَللّٰهُ اَكْبَرُ ویل، تهلیل (لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ) ویل، تسبیح (سُبْحَانَ اللّٰهِ ویل)، تحمید (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ویل) او لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ۔ بل حدیث کښ راغلی دی

نبی اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمایه چه کوریٔ خبردار اُوسیٔ، سُبْحَانَ اللهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اَللهُ اَكْبَرُ باقیات صالحات کښې دی. یو حدیث کښې راغلی دی، چه نبی اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمایه، چه کوریٔ دخپل حفاظت انتظام اُوکړیٔ. چا تپوس اُوکړهٔ، اے الله رسوله! دچا دُشمن حمله کیدونکے ده. نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل، نا. بلکه ددوزخ داوُرنه دحفاظت انتظام اُوکړیٔ، اَوهغه سُبْحَانَ اللهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اَللهُ اَكْبَرُ ویل دی، چه دا دقیامت په وُرځ مخکښې وُړاندے کیدونکے کلمے دی (چه سفارش به کوی)، یا مخکښې وُړاندے کیدونکے دی چه وَیونکے به جنت ته وُړاندے کوی) اَوروستو پاتے کیدونکے دی (چه حفاظت اُوکړی). اِحسان کونکے دی اَوهم دا باقیات صالحات دی. نور هم ډیرو روایتونو کښې دا مضمون راغلے دے، چه هغه علامه سیُوطی رحمة الله علیه دُرِمنثور کښې ذکر کړے دے.

(۱۴) لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (زمر ع ۶، شوریٰ ع ۲) | الله تعالیٰ دپاره دی کُنجیانے داسمانونو اودزمکے.

فائده: دحضرت عُثمان رضی الله عنه نه نقل کړے شوی دی چه ما دنبی اکرم ﷺ نه دمَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ یعنی داسمانونو اودزمکے کُنجیانو باره کښې پوښتنه اُوکړه، نو نبی اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمایه چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ سُبْحَانَ اللهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْاَوَّلُ وَالْاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ دی.

بل حدیث کښې دی چه مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ سُبْحَانَ اللهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اَللهُ اَكْبَرُ دی. او دا دعرش دخزانو نه نازلے شوی دی. نورو روایتونو کښې هم دا مضمون راغلے دے.

(۱۵) اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ (فاطر ع ۲) | هم هغه طرف ته ښے کلمے رسی، او نیک عمل هغه رسوی.

فائده: دکلمے طیبه په بیان کښې هم دد ے آیت ذکر تیر شوے دے حضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه کله تاسو ته مونږ یو حدیث اورَوُو، نو قرآن شریف نه د هغې سَنَد او تائید ښایُو. مسلمان چه کله سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ تَبَارَکَ اللّٰهُ وائی، نو فرښته په خپلو وَزرو کښې ډیر په احتیاط سره دا کلمے اسمان ته اُوړی، په کوم اسمان چه تیریږی د هغې اسمان فرښتے د ‌دے ویُونکی د پاره د مغفرت دُعا کوی، او د دے تائید دا ایتِ شریفه اِلَیْهِ یَصْعَدُ الْکَلِمُ الطَّیِّبُ دے۔

حضرت کعب احبار رحمة الله علیه فرمائی چه سُبْحَانَ اللّٰهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ د پاره د عرش چار چاپیره د شهد د مچود اواز په شان یو اواز دے، چه په هغې کښې د خپل ویونکی تذکره کوی. څینې روایتونو کښې حضرت کعب رحمة الله علیه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه دا مضمون نقل کړے دے. او یو صحابی حضرت نُعمان رضی الله عنه هم د دے قسمه مضمون په خپله د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کړے دے۔

دویم فصل

د هغه حدیثونو په بیان کښې کوم کښې چه د دے کلمو فضیلت او ترغیب ذکر کړے شوے دے۔

(۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ النَّبِیُّ صلی الله علیه وسلم کَلِمَتَانِ خَفِیْفَتَانِ عَلَی اللِّسَانِ ثَقِیْلَتَانِ فِی الْمِیْزَانِ حَبِیْبَتَانِ اِلَی الرَّحْمٰنِ سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحٰنَ اللّٰهِ الْعَظِیْمِ ط

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دے چه دوه کلمے داسے دی چه په ژبه ډیرے سپکے (یعنی اسانے) او په تله کښې ډیرے درنے او د الله تعالیٰ ډیرے خوښے دی، هغه سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ او سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِیْمِ دی۔

(رواه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة کذا فی الترغیب)

فائده: په ژبه سپکے یعنی اسانے دی مطلب یے دا دے چه په ویلو کښې یے نه څه وخت لګی، ځکه چه ډیرے مختصرے دی، او نه یے

په یادؤلو کښې څۀ وخت یا څۀ ساعت لګی۔ اَوسره ددے کله چه دعملونو د تللو وخت راشي، نو تلَه به ددے کلمو (د ثواب) د ډیروالی د وجې نه ډیره زیاته درنه شي۔ او که چرے نوره هیڅ فائده نۀ وے، نو بیا هم له دے نه زیات څۀ خیز دے چه الله تعالیٰ ته دا دواړه کلمے د ټولو نه زیاتے خوښے دی۔ امام بخاری رحمة الله علیه خپل کتاب صحیح بُخاری په دے دواړو کلمو ختم کړے دے۔ او هم دا حدیث یے دکتاب په ختمیدو ذکر کړے دے۔

یو حدیث کښې اِرشاد دے چه هیڅوك دِ لتا سو نه دا خبره نۀ پریږدی چه یو زر نیکئ روزانه کَښی، سُبۡحَانَ اللهِ وَبِحَمۡدِهٖ سَل وارے وائی یو زر نیکئ به شي۔ دومره ګناهونه خو به اِنشاء الله روزانه دچا نۀ وی، او ددے تسبیح نه علاوه خو هر څه نیک کارونه یے کړی وی د هغے ثواب یے بیل په کښ شو۔

یو حدیث کښې راغلی دی چه څوك سحرا و ماښام یو یو تسبیح یعنی سل سل ځله سُبۡحٰنَ اللهِ وَبِحَمۡدِهٖ وائی، د هغه ګناهونه به معاف کړے شی اګرکه د سمندر د زګونو نه هم زیات وی۔

یو حدیث کښې راغلی دی چه سُبۡحٰنَ اللهِ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اَللهُ اَکۡبَرُ سره ګناهونه داسے رژیږی څنګه چه (یخنئ کښې) د وُنے نه پا ڼړے دُ ورېږی۔

Ⓑ عَنۡ اَبِیۡ ذَرٍّ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوۡلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم اَلَا اُخۡبِرُكَ بِاَحَبِّ الۡکَلَامِ اِلَی اللهِ قُلۡتُ یَا رَسُوۡلَ اللهِ اَخۡبِرۡنِیۡ بِاَحَبِّ الۡکَلَامِ اِلَی اللهِ فَقَالَ اِنَّ اَحَبَّ الۡکَلَامِ اِلَی اللهِ سُبۡحٰنَ اللهِ وَبِحَمۡدِهٖ۔

(رواه مسلم والنسائی والترمذی الا انه قال سُبۡحَانَ رَبِّیۡ وَبِحَمۡدِهٖ وقال حسن صحیح وعزاه السیوطی فی الجامع الصغیر الی مسلم واحمد والترمذی ورقم له بالصحة وفے

حضرت ابو ذر غِفاری رضی الله عنه فرمائی، چه یو ځل نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد اُوفرمایۀ، چه زۀ تاسو ته اُوښایم چه د الله تعالیٰ په نزد د ټولو نه زیات خوښ کلام څۀ دے؟ ما عرض اُوکړۀ، ضرور اُوښایئ۔ اِرشاد یے اُوفرمایۀ سُبۡحَانَ اللهِ وَبِحَمۡدِهٖ۔ بل حدیث کښې دی سُبۡحَانَ رَبِّیۡ وَبِحَمۡدِهٖ۔ یو حدیث کښې دا هُم راغلی دی چه الله تعالیٰ کوم خیز د خپلو فرښتو دپاره اِختیار کړے دے، هُم هغه د ټولو نه بهترین دے، او هغه سُبۡحَانَ اللهِ وَبِحَمۡدِهٖ دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

روایۃ لمسلم ان رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم سئل ای الکلام افضل قال ما اصطفی اللہ لملائکتہ اولعبادہ سبحان اللہ وبحمدہ کذا فی الترغیب قلت واخرج الاخیر الحاکم وصححہ علی شرط مسلم واقرہ علیہ الذہبی وذکرہ السیوطی فی الجامع بروایۃ احمد عن رجل مختصراً ورقم لہ بالصحۃ۔)

فائده: درومبي فصل ځوايتونوكښ دا مضمون تيرشوے دے، چه فرښتے کوم چه عرش ته نزدے دی، اودهغوی نه علاوه نورے ټولے د الله جلّ شانهٗ تسبیح او تحمید کښ مشغولے اُوسی۔ دهغوی مَشغَله هم داده چه دالله تعالیٰ پاکی بیانولو او حمد کولوکښ مشغولے وی۔ هم په دے وجه کله چه دادم علیه السلام د پیدا کولو وخت شو، نو هغوی هُمدا دالله تعالیٰ په دربار کښ عرض اُوکړهٔ چه نَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ځنګه چه د اول فصل په رومبنی ایت کښ تیرشوی دی۔

یوحدیث کښ راغلی دی چه اسمان (دالله تعالیٰ دعظمت دبوجهٔ نه) ؤَئیږکی (یعني چیارے) کوی، ځنګه چه کټ وغیره دډیر وزن نه ؤَئیږی) او اسمان دپاره حق دے چه هغه اُوؤَئیږکی (چه دهیبت بوجهٔ سخت وی۔) قسم م دی په هغه پاك ذات دچاپه قبضه کښ چه دمحمد (صلی الله علیه وسلم) ساه ده چه اسمان کښے یوه لبښت ځائے هم داسے نشته، کوم ځائے چه فرښته دسجدے په حالت کښ د الله تعالیٰ په تسبیح او تحمید کښ مشغوله نهٔ وی۔

(۳) عَنْ اِسْحٰقَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِیْ طَلْحَةَ عَنْ اَبِیْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ اَوْ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ وَمَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ مِائَةَ مَرَّةٍ كَتَبَ اللّٰهُ لَهٗ مِائَةَ اَلْفِ حَسَنَةٍ وَّاَرْبَعًا وَّعِشْرِيْنَ اَلْفَ حَسَنَةٍ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِذًا لَّا يَهْلِكُ مِنَّا اَحَدٌ قَالَ

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اُوفرمایهٔ چه چا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اُووے، هغهٔ دپاره جنت واجب شو اوچه څوك سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ سل واره اُووائی، هغهٔ دپاره الله تعالیٰ یولکهٔ څلیریشت زره نیکئ لیکی۔ صحابهؓ عرض اوکړهٔ، اے دالله رسوله! داسے حالت کښ خو به هیڅوك زمونږ نه (قیامت کښ) هلاکیدے نهٔ شی (ځکه چه نیکئ به یے غالبے وی)۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل (بعض خلق به بیا هم هلاك شی اوولے به نهٔ شی) بعض خلق

بَلٰی اِنَّ اَحَدَکُمْ لَیَجِیْءُ بِالْحَسَنٰتِ لَوْوُضِعَتْ عَلٰی جَبَلٍ اَثْقَلَتْهُ ثُمَّ تَجِیْءُ النِّعَمُ فَتَذْهَبُ بِتِلْكَ ثُمَّ یَتَطَاوَلُ الرَّبُّ بَعْدَ ذٰلِكَ بِرَحْمَتِهٖ۔ (رواه الحاکم وقال صحیح الاسناد کذا فی الترغیب قلتُ اقره علیه الذهبی)

لتاسونه به دومره نیکوسره راشی، کچرے په غرکیخودلے شی، نوهغه به هم خکته کړی، خود الله تعالیٰ دنعمتونو په مقابله کښ به هغه نیکئ نیشت شی. البته الله تعالیٰ به بیا په خپل رحمت اوفضل سره امداد اُوکړی۔

فائده: د الله تعالیٰ دنعمتونو په مقابله کښ دخکته کیدُ او نیشت کیدُ مطلب دادے چه قیامت کښ یوخوا که نیکئ اوبدیُ تللے شی، نوبل خوابه تر دے خیزهم مطالبه او محاسبه کیږی، چه الله تعالیٰ درته کوم نعمتونه درکړی وُو، دهغے یڅه حق اداکړهٔ، اوڅهٔ شکر دِ اداکړهٔ۔ بندهٔ څخه هرخیز دالله تعالیٰ ورکړے شوے دے۔ دهریو خیزیو حق دے۔ دهغے حق دادا کولو مطالبه به کیږی۔ لکه دنبی اکرم ﷺ ارشاد دے چه یُصْبِحُ عَلٰی کُلِّ سُلَامٰی مِنْ اَحَدِکُمْ صَدَقَةٌ الحدیث (فی المشکوٰة بروایة مسلم قلت رواه ابوداؤد وابن ماجة) چه ددے مطلب دادے چه هرسحر دهریوبندهٔ په هریوجوړاوپه هډوکی یوه صدقه واجبیږی۔ بل حدیث کښ دی چه بندهٔ کښ درے سوه شپیته[۳۶۰] جوړونه دی۔ دهغهٔ په ذمه داضروری دهٔ چه دهریوجوړله طرفه یوه صدقه اُوکړی۔ یعنی ددے خبرے په شکریه کښ چه الله تعالیٰ داُودهٔ کیدونه پس چهٔ مړه کیدو په شان حالت وُو، بیاسر دوبارهٔ ژوندراکړو، اوهریو اندام مے صحیح اَوسالم پاتے شو۔ صحابو عرض اُوکړهٔ چه ددومره صدقو روزانه کولوطاقت څوك لرلے شی؟ نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل چه هرهٔ یوهٔ تسبیح صدقه دهٔ، هر یوتکبیر صدقه دهٔ۔ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ یو وارے ویل صدقه دهٔ، اَللهُ اَکْبَرُ ویل صدقه دهٔ، دلارے نه څهٔ تکلیف ورکونکے خیز لرے کول صدقه دهٔ غرض داچه ډیرے صدقے یے اُوشمیرلے۔ ددے قسمه نورهم حدیثونه شته چه دهغے نه دبندهٔ په خپل ذات کښ چه دالله تعالیٰ کوم نعمتونه دی دهغے بیان دے۔ دے نه علاوه دخوړلو څکلو، دراحت اوارام متعلق څومره ډیر دالله

Maktaba Tul Ishaat.com

تعالیٰ نعمتونه هر وخت حاصل دی، هغه پرے لا دپاسه دی۔
دقرآن شریف سورة اَلۡهٰكُمُ التَّكَاثُرُ کښې هم دهغې ذکر دے چه قیامت کښې په دالله تعالیٰ دنعمتونونه هم سوال وی حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه دبدن د روغوالی، دسترګو د روغوالی په باره کښې په سوال کیږی چه الله تعالیٰ په خپلے مهربانئ دا څیزونه درکړل 'دا د الله تعالیٰ په کوم کارکښې خرچ کړل (یاد ساتئ چه دا غوږونه، سترګے او زړهٔ دی په شان دِ صرف کیدا یا للوکښې خرچ کړل) لکه بل ځائی سورة بنی اسرائیل کښې اِرشاد دے اِنَّ السَّمۡعَ وَالۡبَصَرَ وَالۡفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡـُٔوۡلًا ۝ غوږ، سترګه، زړهٔ دهر یوکس نه دَدے ټولو باره کښې دقیامت په ورځ تپوس کیږی چه ددے ټولو څیزونو استعمال دِکوم ځائی اُوکړهٔ) دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه دکومو نعمتونونه په سوال کیږی، هغې کښې بے فکری هم ده، کومه چه د الله تعالیٰ لوئ نعمت دے، او دبدن روغوالے په کښې هم دے۔ مجاهد رحمة الله علیه وائی چه دُنیا هر یو خوند نعمتونوکښې داخل دے چه دهغې نه به سوال کیږی۔ حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه په دے کښې سلامتیا او دبدن روغوالے هم داخل دے۔ یوکس دحضرت علی رضی الله عنه نه تپوس اُوکړهٔ چه ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ النَّعِيۡمِ ۝ (بیا به هغه ورځ دنعمتونو هم سوال کولے شی) مطلب څهٔ دے؟ دوی اُوفرمایل چه دغنمو ډوډئ او یخے اُوبهٔ ترے مراد دی چه ددے په هم سوال کیږی، او داوسیدو دپاره دمکان هم۔ یو حدیث کښې راغلی دی چه کله دا آیت نازل شو، نو ځنو صحابه وُعرض اُوکړهٔ چه اے دالله رسوله! دکومو نعمتونو نه به سوال کیږی، چه په نیمه کیدا ډوډئ ملاویږی او هغه هم د اُوربشو۔ (په مړهٔ کیدا ډوډئ هم حاصله نهٔ ده) وحی نازله شوه، آیا په خپو کښې پېزار نهٔ په خپو کوئ، آیا یخے اُوبهٔ نهٔ څکئ۔ داخو هم دالله تعالیٰ نعمتونه دی۔
یو حدیث کښې راغلی دی چه ځنو صحابهٔ وُ ددے آیت کریمه په نازلیدو عرض اُوکړهٔ، اے دالله رسوله! دکومو نعمتونو نه به سوال کیږی۔ هجورے او اُوبهٔ صرف دا دوه څیزونه دخوړلو څکلو دپاره ملاویږی، او زمونږ تورے (د جهاد دپاره) هر وخت په اُوګو وی۔ او دُښمن (کافر څوک نه څوک) راسره مقابله کښې وی چه ددے په وجه دا دواړه څیزونه هم په اِطمینان او بے فکرئ سره

نهٔ نصیب کیږی) نبی اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمایهٔ چه پیر زر نعمتونه حاصلیدونکی دی. یو حدیث کښ د نبی اکرم ﷺ ارشاد دے چه قیامت کښ د کومو نعمتونو نه به سوال وی، په هغے کښ به د ټولو نه اول دا وی چه مونږ ستا بدن ته تندرستی ورکړے وه (یعنی د دے تندرستئ دِ څهٔ حق ادا کړهٔ، او په دیکښ دِ د الله تعالیٰ د رضا څهٔ خدمت اَدا کړهٔ) او مونږ په یخو اُوبو ته خړوب کړے (یخے اُوبهٔ په حقیقت کښ د الله تعالیٰ لوئ نعمت دے، کوم ځائ چه یخے اُوبهٔ نهٔ وی، د هغوی نه دِ خوند د دے د قدر تپوس اُوکړی، دا د الله تعالیٰ دومره لوئ نعمت دے چه څهٔ اندازه یے نشته، خو زمونږ خلقو دے لوئے نعمت طرفته اَڼو پام نشته، دا لاڅهٔ چه د دے شکر او د دے دَ اَدا کولو حق.) یو حدیث کښ راغلی دی، چه د کومو نعمتونو به سوال وی، هغه دا دی، د ډوډئ هغه ټکړه چه پرے کیدهٔ مړه شی، هغه اُوبهٔ چه پرے تنده مړه شی، هغه جامه چه بدان پرے پټ شی.

یو وارے د غرمے په وخت تو کښ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه پریشانئ کښ د کوره اُووتلو، جُمات ته لاړو، چه حضرت عُمر رضی الله عنه هم په دے حالت کښ تشریف راوړو. حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ناست وُو، چه دے لیدهٔ پوښتنه یے ترے اُوکړه، چه ته دا وخت دلته د کومه؟ دے فرمایل چه د لوږے بے قرارئ پریشانه کړے یم. حضرت عمر رضی الله عنه عرض اُوکړهٔ چه وَاللهِ، زهٔ هم مجبوره کړم چه چرته لاړشم. دے دواړو حضراتو دا خبرے اَترے کولے چه سردارِ دوعالَم نبی اکرم ﷺ تشریف راوړهٔ، دوی یے اُولیدل تپوس یے ترے اُوکړهٔ، چه تاسو دا وخت د کومه؟ عرض یے اُوکړهٔ اے د الله رسوله! لوږے پریشانه کړی یُو چه د دے نه بے قراره شو، راوُوتلو. نبی اکرم ﷺ اِرشاد اوفرمایهٔ، هم د دے مجبورئ نه زهٔ هم راغلے یم. درے واړه حضرات په جمع د حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه کور ته لاړل، هغه موجود نهٔ وُو، بی بی یے په ډیرے خوشالئ او فخر سره دا حضرات کینول. نبی اکرم ﷺ پوښتنه اُوکړه، چه ابُو ایُوب چرته تلے دے؟ عرض یے اُوکړهٔ، دا دے اُوس حاضریږی څهٔ ضرورت د پاره تلے دے. په دے کښ ابوایوب رضی الله عنه خدمت کښ حاضر شو، او په ډیرے

Maktaba Tul Ishaat.com

خوشالئ کښې دکهجورو يَوه لوَيه غنچه يې راوُشوکوَله، راۓ ئې ورله. نبي اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمايۀ چه ټوله غنچه دِ وَلې راوُشوکوَله، داسې کښې چه نيسې کچه راوُشوکوَلے شوے، پخے به دِ ترے راچنړ کړے وے. هغۀ عرض اُوکړۀ په دے خيال م راوُشوکوَله، چه کوم موخوښه وي اُوخورئ (چه کله د پخونه نيې کچه زيات خوَښوَلے شي) غنچه يې ورته ښکښ کيخودله، زر لارلو، او د چيلئ يو بچے يې حلال کړو، او زر يې څۀ خود غسے اُوريت کړو، اَوڅۀ نه يې اِنکولے تيار کړو. نبي اکرم ﷺ په يوه ړوډئ لړه غوندے غوَښه کيخودله، اَبُو ايُّوب رضي الله عنه ته يې ورکړه، چه دا فاطمے ته اُورسَوَه، هغې هم دڅوورځونه څۀ نۀ دي خوړلي، هغۀ زر اُورسَوَله، راغے. دِے حضراتو هم په مَړَه کيډه اُوخوړله - دِے نه پس نبي اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمايلو، چه گورئ دا د الله تعالىٰ نعمتونه دي، ړوډئ ده، غوَښه ده، هرقسمه کچه او پخے کهجورے دي. دا چه نبي اکرم ﷺ اُوفرمايل دِ پا کوسترګونه يې اُوښکے اُوبهيدلے، او ارشاد يې اُوفرمايۀ چه په هغې ذات م دِ قسم وي، دچا په قبضه کښې چه زما ساه ده، هم دا هغه نعمتونه دي، دکوموچه به قيامت کښې تپوس کيږي (په کومو حالاتو کښې چه دا وخت دا څيزونه حاصل شوي وُو، په دے لحاظ) صحابه وُته لويَه ګراني او فکر پيدا شو (چه دومره د مجبورئ او د بے قرارئ په حالت کښې دا څيزونه حاصل شو اَو په دِے بانديے به هم سوال او حساب وي) نبي اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمايۀ، چه دالله تعالىٰ شکراداکوَل خو ضروري دي. کله چه په دے قسمه څيزونو شروع کوئ، نو اوّل بِسْمِ اللهِ وايئ اَو کله چه اُوخورئ نو اُووايئ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ هُوَ اَشْبَعَنَا وَاَنْعَمَ عَلَيْنَا وَاَفْضَلَ (ټول تعريفونه دالله تعالىٰ دپاره دي چا چه په مونږ په مَړَه کيډه اُوخوړَوله، اَو په مونږ ئې اِنعام اُوکړو، او ډير زيات يې راکړۀ) - دا دُعا وئيل شکراَدا کوَلو دپاره کافي دي -

ددے قسمه واقعات څوځله پيښ شوي دي، چه په کتړو حديثونو کښې په مختلفو عنوانا تو سره ذکر کړے شوي دي - لکه يو وارے دابُوالهَيثَم مَالِك بن تِيهَان رضي الله عنه کور ته دتشريف اُوړلو نوبت راغے - ددے قسمه يوه واقعه يو بل صاحب سره هم شوے وه، چه ورته واقفي ويلے شي -

دحضرت عُمر رضی الله عنه تیریدل په یوکس اُوشو چه جُدا می هم وکړو، او ړوند، کونړه او ګونګے هم وکړو. دهٔ دخپلو مزګرو نه پوښتنه اُوکړه، چه تاسو د الله تعالیٰ کوم نعمتونه په دهٔ کښې وینئ؟ هغوی عرض اُوکړه، چه دهٔ څخه کوم نعمت دے؟ وے فرمایل، آیا ورکوټے اودس ماتے په آسانتیا نهٔ کوی؟.

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه قیامت کښې به درے دربارونه وی. یو دربار کښې به د نیکو حساب وی، دویم کښې به د الله تعالیٰ د نعمتونو حساب وی، دریم کښې به د ګناهونو مطالبه وی. نیکئ به د نعمتونو په مقابله کښې شی او بدئ به باقی پاتے شی چه د الله تعالیٰ د فضل لاندے به وی. د دے ټولو مطلب دا دے چه د الله جل شانهٔ څومره نعمتونه هر ساعت او هر دم په بنده وی. د هغے شکر ادا کول، د هغے حق ادا کول هم د بنده په ذمه دی، په دے وجه څومره نیکئ زیاتے کولے شئ، د هغے په حاصلو لو کښې کمے مهٔ کوئ، او هیڅ یو مقدار هم زیات مهٔ ګنړئ، هلته چه اُورسئ، معلومه به شی، چه څومره څومره ګناهونه مونږ دخپلو سترګو، پوزے، غوږونو او نورے د بدن حصے نه داسے کړی دی، کوم چه مونږ اصلاً ګناهونه نهٔ ګنړل.

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دے چه تاسو کښې هیڅوک داسے نشته چه هغهٔ به په قیامت کښې د الله تعالیٰ څخه پیشی نهٔ وی، چه هغه وخت به نهٔ څهٔ مینځ کښې پرده منع کونکے وی، نهٔ ترجمان (وکیل وغیره)، چه ښی طرفته اُوکوری نو دخپلو عملونو انبار به وی. ګس طرفته چه اُوګوری، هم دا منظر به وی. دکوم قسم چه ښهٔ یا بد عملونه یے کړی وی، هغهٔ ټول به ورسره وی. د دوزخ اُور به مخکښې وی. په دے وجه څومره چه ممکنه وی په صدقے د دوزخ اُور مړکړئ، اګرچه د کهجورے یوے ټکړے سره ولے نهٔ وی.

یو حدیث کښې راغلی دی چه قیامت کښې به د ټولو نه اول دا سوال وی چه مونږ تاته د بدن روغوالے درکړے وو، او یخے اُوبه مو څکلو له درکړے وے (یعنی د دے څیزونو موخهٔ حق ادا کړهٔ).

بل حدیث کښې دی چه تر هغے وخته پورے به بنده د حساب د میدان نه نهٔ خوزی، ترڅو پورے چه ترے د پنځو څیزونو سوال اُونهٔ شی. عُمر دِ

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم کار کښې خرچ کړهٔ؟ حُوانی (یعنی د دے قوّت) دِ څهٔ مَشغَلِه کښې خرچ کړهٔ؟ مال دِ په کومه طریقه اُوګټلو، او په کومه طریقه دِ خرچ کړو؟ (یعنی ګټلو او د خرچ کولو طریقے دِ جائز دے که ناجائز دے) کوم علم چه دِ حاصل کړے وُو (خواه په کومه درجه کښې وُو) په هغهٔ دِ څهٔ عمل اُوکړهٔ (یعنی کومے مسئلے چه درته معلوم وے په هغے دِ عمل اُوکړهٔ که نه؟)

(۴) عن ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم لَقِيْتُ اِبْرَاهِيْمَ لَيْلَةَ اُسْرِيَ بِيْ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ اَقْرِاْ اُمَّتَكَ مِنِّي السَّلَامَ وَاَخْبِرْهُمْ اَنَّ الْجَنَّةَ طَيِّبَةُ التُّرْبَةِ عَذْبَةُ الْمَاءِ وَاَنَّهَا قِيْعَانٌ وَاَنَّ غِرَاسَهَا سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ۔

(رواه الطبرانی والترمذی فی الصغیر والاوسط وزاد لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ وقال الترمذی حسن غریب من هذا الوجه ورواه الطبرانی ایضًا باسنادٍ واهٍ من حدیث سلمان فارسی وعن ابن عباس رضی الله عنه مرفوعًا مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ غُرِسَ لَهٗ بِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ۔ رواه الطبرانی واسناده حسن لا بأس به فی المتابعات وعن جابر رضی الله عنه مرفوعًا مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللهِ

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دے چه د معراج په شپه کله چه زما ملاقات حضرت ابراهیم علیه السلام سره اُوشو، نو هغوی اُوفرمایل ؛ اے محمّده! خپل اُمت ته زما سلام اُووایه ، او دا ورته اُووایه ، چه د جنت زمکه ډیره ښه پاکیزه خاوره ده، او بهترینه خوږه اُوبه دی، خو هغه بالکل هوار میدان دے او د هغے بُوټی (وُنے) سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ دی۔ (څومره چه د چا زړهٔ غواړی وُنے دِ اُولګوی) یو حدیث کښې دے نه پس لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ هم شته ۔ بل حدیث کښې دی چه د دے کلمو ته د هر یو کلمے په بدله کښې یو وُنه جنت کښې لګولے شی۔ یو حدیث کښې دی، چه څوک سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيْمِ وَبِحَمْدِهٖ اُووائی یو وُنه په جنت کښې ورله لګولے شی۔ یو حدیث کښې دی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم تشریف اُوړهٔ، حضرت ابوهریره رضی الله عنه یے اُولیدهٔ، چه یو بُوټے یے لګولو۔ پوښتنه یے ترے اُوکړه څهٔ کوے؟ هغهٔ عرض اُوکړهٔ، وُنه لګوم۔ ارشاد یے اُوفرمایهٔ زهٔ تاته اُوښایم بهترین بُوټی، کوم چه

اَلْعَظِیْمِ وَبِحَمْدِہٖ غُرِسَتْ لَهٗ نَخْلَةٌ فِی الْجَنَّةِ۔ | اُولګولے شي، سُبْحَانَ اللّٰہِ اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰہُ اَللّٰہُ اَکْبَرُ۔ په هرے کلمے یوه ونه په جنت کښې لګی۔

(رواہ الترمذی وحسنہ والنسائی الا انہ قال شجرۃ وابن حبان فی صحیحہ والحاکم فی الموضعین باسنادین قال فی احدہما علی شرط مسلم وفی الآخر علی شرط البخاری وذکرہ فی الجامع الصغیر بروایۃ الترمذی وابن حبان والحاکم ورقم لہ بالصحۃ وعن ابی ہریرۃ رضی اللہ عنہ ان النبی صلی اللہ علیہ وسلم مر بہ وہو یغرس الحدیث رواہ ابن ماجۃ باسناد حسن والحاکم وقال صحیح الاسناد کذا فی الترغیب وعزاہ فی الجامع الی ابن ماجۃ والحاکم ورقم لہ بالصحۃ قلت وفی الباب من حدیث ابی ایوب مرفوعا رواہ احمد باسناد حسن وابن ابی الدنیا وابن حبان فی صحیحہ ورواہ ابن ابی الدنیا والطبرانی من حدیث ابن عمر ایضا مرفوعا مختصرا الا ان فی حدیثہما الحوقلۃ فقط کما فی الترغیب قلت وذکر السیوطی فی الدر حدیث ابن عباس مرفوعا بلفظ حدیث ابن مسعود رضی اللہ عنہ وقال اخرجہ ابن مردویہ وذکر ایضا حدیث ابن مسعود وقال اخرجہ الترمذی وحسنہ الطبرانی وابن مردویہ قلت وذکرہ فی الجامع الصغیر بروایۃ الطبرانی ورقم لہ بالصحۃ وذکر فی مجمع الزوائد عدۃ روایات فی معنی ھذا الحدیث)

فائده: د نبی اکرم ﷺ په ذریعه حضرت ابراهیم خلیل الله علیه السلام سلام رالیږلے دے۔ په دے وجه عالمانو لیکلی دی چه چاته دا حدیث اُورسی هغهٔ له پکار دی، چه د حضرت ابراهیم علیه السلام د سلام په جواب کښې وَعَلَیْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُهٗ اُووائی۔ دے نه پس اِرشاد دے، چه د جنت خاوره بهتربنه ده او اُوبه یے خوږے دی۔ د دے دوه مطلبه دی، اول دا چه صرف د هغے ځائ د حالت بیان دے چه بهترین ځائ دے، چه د هغے د خاورے په باره کښې حدیثونو کښې راغلی دی چه د مشکو او د زعفرانو ده، او اوبه یے ډیرے مزیدارے دی۔ دا سے ځائ هرڅوک خپل د اُوسیدو ځائ جوړول غواړی۔ او که د تفریح او راحت د پاره د باغ وغیره لګولو اسباب هم موجود دی، نو څوک یے پریږدی؟ دویم مطلب دا دے، چه کوم ځائ زمکه او اُوبه بهترینې وی، هلته پیداوار ډیر ښه کیږی۔ په دے حالت کښې مطلب دا شو، چه یو وارے سُبْحَانَ اللّٰهِ وئیلو سره یوه ونه چه هلته اُولګی، نو د اُوبو د ښهٔ والی په وجه هغه ځائ په خپله ترقی کوی۔ صرف یو وارے تخم آچول دی، باقی ټول هرڅهٔ به په خپله کیږی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

په دے حدیث کښې بے جنت هوار میدان فرمائیلے دے، اونورو کومو حدیثونو کښې چه د جنت حال بیان کړے شوے دے، په هغې کښې جنت کښې د هر قسمه میوے، باغونه دونو وغیره موجودګی ښودلے ده. بلکه د جنت معنیٰ هم د باغ ده. په دے وجه په ظاهر کښې شبه پیدا کیږی. څنے عالمانو ویلی دی چه د اصل په اعتبار هغه میدان دے، خو په کوم حالت چه د هغے د نیک عمل (بدله) نیکانو خلقو ته ورکولے شی، د هغوی د عملونو موافق به په هغې کښې باغونه او ونے وغیره موجود وی. دویمه توجیه څنے عالمانو دا کړے ده، چه د جنت هغه باغونه وغیره به د هغوی د عملونو موافق ملاویږی، هرکله چه د هغوی د عملونو په وجه سره او د هغې برابر ملاوشی، نوګویا هم دا عملونه د دونو سبب شول. دریمه توجیه دا ویلے شوے ده چه کم نه کم مقدار کوم چه د هر کس په حصه کښې دے هغه د ټولے دُنیا نه ډیر زیات دے، په هغې کښې په ډیره حصه کښې خپله خپل اصلی باغونه موجود دی، او ډیره حصه پکښې خالی پرته ده، څومره چه څوک ذکر تسبیح وغیره اوکړی، هغومره به ونے نورے او لګولے شی. رشیخ المشائخ حضرت مولٰنا ګنګوهی رحمة الله علیه ارشاد کوم چه کوکبِ دُرّی کښې نقل کړے شوے دے، دا دے چه د جنت ټولے ونے د بوزغلی په شان یوځائ جمع دی، هر څوک چه څومره د خیر عملونه کوی، هغومره د هغه د حصے په زمکه کښې ونے لګی، او لوئیږی ترقی کوی.

⑤ عَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم مَنْ هَالَهُ اللَّيْلُ اَنْ يُّكَابِدَهٗ اَوْ بَخِلَ بِالْمَالِ اَنْ يُّنْفِقَهٗ اَوْ جَبُنَ عَنِ الْعَدُوِّ اَنْ يُّقَاتِلَهٗ فَلْيُكْثِرْ مِنْ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ فَاِنَّهَا اَحَبُّ اِلَى اللهِ

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دے چه څوک د شپے د مشقت زغملو نه یریږی (چه د شپے شوګیر اوعبادت کښې مشغولیدو نه عاجزه وی) یا د شومتوب په وجه مال خرچ کول ورته ګران وی، یا د بزدلئ په وجه د جهاد همت یے نه کیږی، هغه له پکار دی چه سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ ډیر ډیر وائی، چه د الله تعالیٰ

له د حضرت مولٰنا رشید احمد ګنګوهی رحمة الله علیه د درس ترمذی شریف تقریر د حضرت شیخ الحدیث رحمة الله علیه والد صاحب مولٰنا محمد یحیٰی صاحب رحمة الله علیه په فصیح عربئ ژبه کښې اولیکله، او نامه یے ورله کیخوده "کوکب دری". بیا په حضرت شیخ حاشیه هم کړے ده ۱۲

مِنْ جَبَلٍ ذَهَبٍ يُنْفِقُهُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

په نزد دا کلمے دغر په اندازه دسرو زرو ترخرچ کولو نه هم زیاتے خوښے دی۔

(رواه الفريابى والطبرانى واللفظ له وهو حديث غريب ولا باس باسناده انشاء الله كذا فى الترغيب وفى مجمع الزوائد رواه الطبرانى وفيه سليمان بن احمد الواسطى وثقه عبدان وضعفه الجمهور والغالب على بقية رجاله التوثيق وفى الباب عن ابى هريرة مرفوعا اخرجه ابن مردويه وابن عباس ايضا عند ابن مردويه كذا فى الدر)

فائده: خو مره دالله تعالیٰ فضل دے چه دهرقسم مشقت نه په کیدو ونکو دپاره یے هم دفضائلو او ودرجاتو دروازه بنده کړے نه ده۔ دشپو شوګیره نه شی کولے، دکنجوسئ په وجه پیسه نشی خرچ کولے۔ دبُزدلئ او کم همتئ نه دجهاد په شان مبارک عمل ترے نه کیږی۔ دے نه پس هم دخپل نوكر دپاره ورځی دپاره دے پس د ین قدر روی، داخرت فکروی ئو دهغه دپاره لاره پرانستے ده، بیا هم څه کتیه اُو نکړی، نو دکم نصیبئ نه سوا نور څه دی۔ رومبے دا مضمون لږ په تفصیل سره تیر شوے دے۔

(۶) **عن** سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم أَحَبُّ الْكَلَامِ إِلَى اللّٰهِ أَرْبَعٌ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ لَا يَضُرُّكَ بِأَيِّهِنَّ بَدَأْتَ

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارک دے چه دالله تعالیٰ په نزد دټولو نه زیات خوښ کلام څلور کلمے دی، سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ۔ دے کښ چه کومه غواړے رومبے اُووایه، او کومه چه غواړے روستو۔ (څه خاص ترتیب نشته) یو حدیث کښ دی چه دا کلمے قرانِ پاك کښ هم موجود دی۔

(رواه مسلم وابن ماجة والنسائى وزاد وهن من القرآن ورواه النسائى ايضا وابن حبان فى صحيحه من حديث ابى هريرة كذا فى الترغيب وعزاه السيوطى حديث سمرة الى احمد ايضا ورقم له بالصحة وحديث ابى هريرة الى مسند الفردوس للديلمى ورقم له ايضا بالصحة)

فائده: یعنی دقرانِ پاك په الفاظو کښ دا کلمے په کثرت راغلی دی او قرانِ پاك کښ ددے حکم او ترغیب راغلے دے۔ لکه چه په اول فصل کښ تفصیلی بیان شوے دے۔ یو حدیث کښ راغلی دی چه اختر ونه په دے کلمو سره ښائسته کوئ، یعنی داختر زینت دا دے چه ددے کلمو ډیر ډیر ویل اُوکړے شی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(۷) عن ابي هريرة رضي الله عنه قال ان الفقراء المهاجرين اتوا رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالوا قد ذهب اهل الدثور بالدرجات العلى والنعيم المقيم فقال ما ذاك قالوا يصلون كما نصلي ويصومون كما نصوم ويتصدقون ولا نتصدق ويعتقون ولا نعتق فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم افلا اعلمكم شيئا تدركون به من سبقكم وتسبقون به من بعدكم ولا يكون احد افضل منكم الا من صنع مثل ما صنعتم قالوا بلى يا رسول الله قال تسبحون وتكبرون وتحمدون دبر كل صلوة ثلثا وثلثين مرة قال ابو صالح فرجع فقراء المهاجرين الى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالوا سمع اخواننا اهل الاموال بما فعلنا ففعلوا مثله فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ذلك فضل الله يؤتيه من يشاء. (متفق عليه وليس قول ابي صالح الى آخره الا عند مسلم وفي رواية للبخاري تسبحون في دبر كل صلوة عشرا وتحمدون عشرا

دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې یو ځلې غریبانان مُهاجرین په جمع حاضر شو، او عرض یې اوکړو اے د الله رسوله! دے مالدارانو تهولے درجے واخستلے، او همیشه پاتے کیدونکے نعمت دوی په حصه کښې راغے. نبي اکرم صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل ولے؟ عرض یې اُوکړهٔ چه مونږ روژه کښې خو دوی زمونږ سره شریک دي چه مونږ یې هُم کوُو او دوی هُم. او د مال اریٔ په وجه دوی صدقه کوی غلامان آزادوی، او مونږ د دے څیزونو نه عاجزه یُو. نبي اکرم صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل چه زهٔ تاسو ته داسے څیز اُوښایم چه تاسو په هغے عمل اُوکړیٔ د خپل ځان نه رومبنی (خلق) پرے راونیسیٔ، او د روستو (راتلونکو خلقو) نه پرے وُړاندِ لاړشیٔ، او هیڅوک به لتاسونه هغه وخته پورے اَفضل نهٔ وی تر څو پورے چه دا عملونه اُونکړی. صحابهٔ و رضی الله عنهم عرض اُوکړهٔ، ضرور اُوښایئ. ارشاد یې اُوفرمایهٔ، چه د هر مانځه نه پس سُبحٰن الله، اَلحمد لله، الله اکبر درے دیرش درے دیرش وارے وایئ (دے حضراتو شروع کړهٔ، خود دے زمانے مالداران هم د داسے نمونے وُو، هغوی ته چه معلومه شوه، هغوی هم شروع کړهٔ) نو غریبانان دوباره بیا حاضر شول چه اے د الله رسوله! زمونږ مالدارو رونړو واوریدله، هغوی هم د غسے شروع کړه. نبي اکرم صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل چه دا د الله تعالیٰ فضل

وتکبّرون عشرًا بدل ثلاثًا وثلاثین کذا فی المشکوٰۃ وعن ابی ذرؓ بنحو ہٰذا الحدیث وفیہ اِنّ بکلّ تسبیحۃ صدقۃ وبکلّ تحمیدۃ صدقۃ وفی بُضع احدکم صدقۃ قالوا یارسول اللّٰہ یأتی احدنا شہوتہ یکون لہ فیہا اجر الحدیث اخرجہ احمد وفی الباب عن ابی الدرداء عند احمد)

دِ ځانته چه غواړی ورکوی، هغه ځوك منع کوَلے شی. یو بل حدیث کښ هم دغه رنګے واقعه ذکر کړے شوے ده، په هغے کښ د نبی اکرم ﷺ ارشاد دے چه تاسو د پاره هم الله تعالیٰ د صدقے قائم مقام جوړ کړے دے. سُبْحَانَ اللهِ یو وارے ویل صدقه ده، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ یو وارے ویل صدقه ده. خپلے بی بی

سره کوروالے کوَل صدقه ده. صحابه کرامو رضی الله عنهم په حیرانتیا سره عرض اُوکړه اے د الله رسوله! بی بی سره کوروالی کښ خپل شهوت پوره کوی، او دا په صدقه شی. نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل، کچرے حرامو کښ اَخته شی نو ګناه به وی یا نه؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض اوکړو، ضرور به وی، ارشاد یے اُوفرمایٔ دغه رنګے حلالو کښ صدقه او ثواب دے.

فائده: مطلب دادے چه په دے نیت کوروالے کوَل چه د حرامکاریٔ نه پرے بچ شی د ثواب او د اَجر سبب دے. د دے قصے دویم حدیث کښ د دے اِشکال په جواب کښ چه بی بی سره کوروالے خپل شهوت پوره کوَل دی. د نبی اکرم ﷺ دا جواب نقل کړے شوے دے، اُوښایٔ کچرے بچے پیدا شی، بیا هغه ځوان شی، او تاسو هغهٔ د ښو صفتونو اُمید اُولریٔ، بیا هغه مړ شی، ایا تاسو د ثواب اُمید لریٔ؟ عرض اُوکړے شو، بے شکه اُمید لرو. نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل ولے تا هغه پیدا کړے وَو؟ تاسو هغهٔ ته هدایت کړے وَو؟ تاسو هغهٔ ته روزی ورکړے وه؟ بلکه الله تعالیٰ پیدا کړے دے، هم هغهٔ هدایت ورکړو، هم هغه روزی ورکوی. دغه رنګے په کوروالی سره نُطفه (د مَنیٔ څاڅکے) حلال ځایٔ کښ کیخودهٔ، بیا د الله تعالیٰ په قبضه کښ ده، خوښه یے خپله ده چه یے ژوندے کړی، ترے اولاد پیدا کړی، یا یے مړ کړی چه اولاد پیدا نهٔ شی. د دے حدیث منشأ دا ده، چه د اجر او ثواب د بچی پیدا کیدو سبب په وجه سره دے.

(۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ

د نبی اکرم ﷺ اِرشاد مبارك دے، چه ځوك د هرما نځه نه پس سُبْحَانَ اللهِ درے

Maktaba Tul Ishaat.com

سَبَّحَ اللّٰهَ فِیْ دُبُرِ کُلِّ صَلٰوةٍ ثَلٰثًا وَّثَلٰثِیْنَ وَحَمِدَ اللّٰهَ ثَلٰثًا وَّثَلٰثِیْنَ وَکَبَّرَ اللّٰهَ ثَلٰثًا وَّثَلٰثِیْنَ فَتِلْكَ تِسْعَةٌ وَّتِسْعُوْنَ وَقَالَ تَمَامُ الْمِائَةِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ

دیرش وارے اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ درے دیرش وارے، اَللّٰهُ اَکْبَرُ درے دیرش وارے او یو وارے لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ اُووائی، دهغهٔ گناهونه معاف کولے شی، خواه دومره ډیر وی څومره چه د سمندر زګ وی.

غُفِرَتْ لَهٗ خَطَایَاهُ وَاِنْ کَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ (رواه مسلم کذا فی المشکوٰة وکذا فی مسند احمد)

فائده: دګناهونو د بخښنې باره کښې رومبے دځوحدیثونو لاندے بحث تیر شوے دے، چه درے ګناهونو نه مراد دعالمانو په نزد واړهٔ ګناهونه دی. دے حدیث کښې درے کلمے درے دیرش درے دیرش وارے او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ یو وارے راغلی دهٔ. دے پسے حدیث کښې دوه کلمے درے دیرش درے دیرش وارے او اَللّٰهُ اَکْبَرُ څلور دیرش وارے راغی. حضرت زید رضی الله عنه نه نقل کړے شوے دے چه مونږ ته نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سُبْحَانَ اللّٰهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اَللّٰهُ اَکْبَرُ هره یوه درے دیرش وارے دهر مانځهٔ نه پس دویلو حکم فرمایلے وو، یو انصاری په خوب کښې اُولیدل، چه څوك ورته وائی، چه هره یوه کلمه پنځویشت وارے کړه، او ورسره لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ پنځویشت وارے زیاته کړه. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته عرض اُوکړے شو، نوهغوی قبوله کړه. او درے یے اجازت ورکړهٔ، چه خیر دے داسے اُوکړه. یو حدیث کښې سُبْحَانَ اللّٰهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اَللّٰهُ اَکْبَرُ هره کلمه دهر مانځهٔ نه پس یوولس وارے دویلو حکم دے. او یو حدیث کښې لس لس وارے راغلے دهٔ. یو حدیث کښې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ لس وارے باقی درے واړهٔ کلمے هره یوه درے دیرش وارے. یو حدیث کښې دهر مانځهٔ نه پس څلور واړهٔ کلمے سل سل وارے راغلی دی، څنګه چه حِصْنِ حَصِیْن کښې دا روایتونه ذکر کړے شوی دی. دا اختلاف په ظاهر کښې دحالاتو داختلاف په وجه سره دے. چه خلق د اُوزګارتیا او دنا اُوزګارتیا په اعتبار سره مختلف دی. کوم

خلق چه نور ضروري کارونوکښ مشغول وي، هغو د پاره يې کم مقدار تجويز کړو او کوم خلق چه فارغ دي هغوي د پاره زيات مقدار۔ خو د محققينو رائے داده چه کوم شمير حديثونوکښ ذکر دے، دهغے لحاظ ضروري دے، چه کوم څيز د دارو په طور استعمالولے شي، په هغے کښ د مقدار لحاظ هم ضروري دے۔

(۹) **عن** كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مُعَقِّبَاتٌ لَا يَخِيْبُ قَائِلُهُنَّ اَوْ فَاعِلُهُنَّ دُبُرَ كُلِّ صَلٰوةٍ مَكْتُوْبَةٍ ثَلٰثٌ وَّثَلٰثُوْنَ تَسْبِيْحَةً وَّثَلٰثٌ وَّثَلٰثُوْنَ تَحْمِيْدَةً وَّاَرْبَعٌ وَّثَلٰثُوْنَ تَكْبِيْرَةً۔ (رواه مسلم كذا في المشكوة وعزاه السيوطي في الجامع الى احمد ومسلم والترمذي والنسائي ورقم له بالضعف وفي الباب عن ابي الدرداء عند الطبراني)

د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دے چه يو څو روستو راتلونکے (کلمے) داسے دي چه د هغے ويونکے نامراده کيږي نه، هغه دادي چه د فرض مانځه نه روستو درے ديرش وارے سُبْحَانَ اللهِ، درے ديرش وارے اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ او څلور ديرش وارے اَللهُ اَكْبَر۔

فائده: دے کلموته يے روستو راتلونکے يا خو په دے وجه اُوويلے چه دا د مانځه نه پس ويلے شي، يا په دے وجه چه د ګناهونو نه پس ويلے شي، نو هغه ورانځي اُووړانوي۔ يا په دے وجه چه دا کلے يو بل پسے ويلے شي۔ حضرت اَبُوالدَّرْدَاء رضي الله عنه فرمائي چه مونږ ته د مونځونو نه پس د سُبْحَانَ اللهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ درے ديرش درے ديرش وارے او د اَللهُ اَكْبَر څلور ديرش وارے د ويلو حکم کړے شوے دے۔

(۱۰) **عن** عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رضي الله عنه رَفَعَهٗ اَمَا يَسْتَطِيْعُ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّعْمَلَ كُلَّ يَوْمٍ مِّثْلَ اُحُدٍ عَمَلًا قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَنْ يَّسْتَطِيْعُهٗ قَالَ كُلُّكُمْ يَسْتَطِيْعُهٗ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ مَاذَا قَالَ سُبْحَانَ اللهِ اَعْظَمُ مِنْ اُحُدٍ وَّلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اَعْظَمُ

نبي اکرم صلی الله علیه وسلم يو وارے ارشاد اُوفرمايه، چه تاسوکښ څوك داسے نشته دے، چه روزانه د اُحُد (چه مدينه منوره کښ يو غر نوم دے) برابر عمل اُوکړي۔ صحابه وُ رضي الله عنهم عرض اُوکړو چه اے د الله رسوله! دا څوك طاقت لرلے شي (چه د دومره لوئے غر برابر عمل اُوکړي) نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اُوفرمايه هر څوك طاقت لرلے شي۔ صحابه وُ عرض

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ اُحُدٍ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ اَعْظَمُ مِنْ اُحُدٍ وَ اللّٰهُ اَكْبَرُ اَعْظَمُ مِنْ اُحُدٍ (للکبیر والبزار کذا فی جمع الفوائد والیہما عزاہ فی الحصن و مجمع الزوائد وقال رجالہما رجال الصحیح)

اُوکړو، ددے څۀ طریقه دۀ؟ اِرشاد دیے اُوفرمایۀ چه د سُبْحَانَ اللّٰهِ ثواب د اُحُد نه زیات دے۔ د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ د اُحُد نه زیات دے۔ د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ د اُحُد نه زیات دے۔ د اَللّٰهُ اَكْبَرُ د اُحُد نه زیات دے۔

فائده: یعنی ددے کلمونه هره یوه کلمه داسے دۀ چه د هغے ثواب د اُحُد دغرنه زیات دے۔ او یو غرځۀ، نۀ دۀ معلومه، څومره دداسے غرونو نه زیات دے۔ حدیث کښ راغلی دی چه سُبْحَانَ اللّٰهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ټول اسمانونه اوزمکے د ثواب نه ډکوی۔ یو حدیث کښ راغلی دی چه د سُبْحَانَ اللّٰهِ ثواب نیم تله دۀ۔ او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ هغه ډکوی۔ او اَللّٰهُ اَكْبَرُ د اسمان او د زمکے مینځ ډکوی۔ یو حدیث کښ نبی اکرم ﷺ ارشاد نقل کړے شوے دے چه سُبْحَانَ اللّٰهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ، دا کلمے ماته د هر هغه څیزنه زیاتے خوښے دی په کوم چه نمر راخیژی۔ مُلّا علی قاری رحمه الله فرمائی چه مراد دادے چه ټوله دُنیا د الله تعالیٰ دپاره خرچ کړم، نوله دے نه هم زیاتے محبوبے دی۔ وَیلے شی چه حضرت سلیمان علیه السلام په هوائی تخت تشریف اُوړۀ، مرغانو پرے سورے کړے وُو، او دپیریانو اِنسانانو وغیره لښکر ورسره دوه قطاره وُو۔ په یو عابد تیریدل۔ هغه د سلیمان علیه السلام په دے فراخ مُلک او دعلے پادشاهئ تعریف اُوکړو۔ هغوی ورته اِرشاد اُوفرمایۀ، چه د مؤمن په عملنامه کښ یو تسبیح د سلیمان بن داؤد (علیهما السلام) د ټولے پادشاهئ نه ښه دۀ چه دا پادشاهی به فناشی، او تسبیح باقی پاتے کیدونکے دۀ۔

(۱۱) **عن** اَبِیْ سَلَامٍ رضی الله عنه مَوْلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ بَخٍ بَخٍ خَمْسٌ مَا اَثْقَلَهُنَّ فِی الْمِیْزَانِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالْوَلَدُ الصَّالِحُ یُتَوَفّٰی لِلْمَرْءِ الْمُسْلِمِ فَیَحْتَسِبُهٗ

یو ځلے نبی اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمایۀ، چه واه واه، پنځه څیزونه (دعملنامے تللو) تله کښ څومره زیات درانۀ دی۔ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ، سُبْحَانَ اللّٰهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ۔ او هغه بچے کوم چه مړشی او پلار (دغمے مور هم) په هغے صبر اُوکړی۔

والحدیث اخرجہ احمد فی مسندہ ورجالہ ثقات کما فی مجمع الزوائد والحاکم وقال صحیح الاسناد واقرہ علیہ الذہبی وذکرہ فی الجامع الصغیر بروایۃ البزار عن ثوبان وبروایۃ النسائی وابن حبان والحاکم عن ابی سلمٰی وبروایۃ احمد عن ابی امامۃ ورقم لہ بالحسن وذکرہ فی مجمع الزوائد بروایۃ ثوبان وابی سلمٰی راعی رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم وسفینۃؓ مولیٰ لرسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم لم یسم وصحح بعض طرقہا۔)

فائدہ: دا مضمون دخو صحابہ وُ نہ کنړو حدیثونو کښې نقل کړے شوے دے۔ بخ بخ دیرے خوشالئ او دفرحت کلمہ دہ۔ کوم ځائے چہ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم دومرہ خوشالئ او مسرت سرہ ارشاد فرمائی، آو ورکوی، آیا د محبت دعوٰی کونکو پہ ذمہ نہ دہ چہ پہ دے کلمو ځان قربان کړی، چہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم دے د خوشالئ قدر دانی، او د دے استقبال هم دا دے۔

(۱۲) عن سلیمان بن یسار عن رجل من الانصار ان النبی صلی اللہ علیہ وسلم قال قال نوح لابنہ انی موصیک بوصیۃ وقاصرھا لکی لا تنساھا اوصیک باثنتین وانھاک عن اثنتین اما التی اوصیک بھما فیستبشر اللہ بھما وصالح خلقہ وھما یکثران الولوج علی اللہ اوصیک بلا الٰہ الا اللہ فان السمٰوٰت والارض لو کانتا حلقۃ قصمتھما ولو کانتا فی کفۃ وزنتھما واوصیک بسبحٰن اللہ وبحمدہ فانھما صلوٰۃ الخلق وبھا یرزق الخلق وان من شیٔ الا یسبح بحمدہ ولکن لا

د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد دے چہ حضرت نوح علیہ السلام خپل ځوئ تہ اُوفرمایل چہ زۀ تا تہ وصیت کوم، او پہ دے خیال چہ هیر نکړے پیر مختصر وایم۔ او هغہ دا دے چہ دوہ دوہ کارونه دکولو در تہ وصیت کوم، او دوہ کارونو نہ د منع کوم۔ دکومو دوہ وُ کارونو چہ درتہ وصیت کوم، هغہ دوارہ داسے دی چہ اللہ جل شانہٗ پہ هغے ډیر خوشالیږی، او د اللہ تعالیٰ نیک مخلوق پہ هغے خوشالیږی۔ د دغے دواړو کارونو اللہ تعالیٰ تہ رسیدل (او مقبولیت) هم ډیر زیات دے۔ هغے دواړو نہ یو لآ اِلٰہَ اِلَّا اللہُ دے، کہ چرے ټول اسمانونہ او زمکہ یوہ ګړئ شی، نو بیا بہ هم دا پاک کلمه دغه ماتہ کړی، اسمان تہ تلو نہ بغیر نشی پاتے کیدے۔ او کچرے ټول اسمانونہ او زمکہ یو چابړی کښې کیخودلے شی، او بل کښې دا پاک کلمه وی، نو بیا بہ هم دا چابړے درنده وی

Maktaba Tul Ishaat.com

تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا اَوَ اَمَّا اللَّتَانِ اَنْهَاكَ عَنْهُمَا فَيَحْتَجِبُ اللّٰهُ مِنْهُمَا وَصَالِحُ خَلْقِهٖ اَنْهَاكَ عَنِ الشِّرْكِ وَالْكِبْرِ -
(رواه النسائی واللفظ لهٗ والبزار والحاکم من حدیث عبداللّٰہ بن عمرو وقال صحیح الاسناد کذا فی الترغیب قلت وقد تقدم فی بیان التهلیل حدیث عبداللّٰہ بن عمرو مرفوعًا وتقدم فیہ ایضًا ما فی الباب وتقدم فی الایات قولہ عزاسمہ

او دویم کار کوم چه کول دی، هغه د سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ ویل دی چه دا کلمه د ټول مخلوق عبادت دے، او هم د دے په برکت ټول مخلوق ته روزی ورکولے شی- هیڅ څیز مخلوق کښ داسے نشته چه د الله تعالیٰ تسبیح نکوی خو تاسو خلق د هغې په تسبیح پوهیږئ نه- او دکوم دوه څیزونو نه د چه منع کوم هغه شرک او تکبر دے، چه د دے دواړو په وجه د الله تعالیٰ نه پرده کیږی، او د الله تعالیٰ د نیک مخلوق نه پرده کیږی-

وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ الآیة واخرج ابن جریر وابن ابی حاتم وابو الشیخ فی العظمة عن جابر مرفوعًا الا اُخبرکم بشیءٍ اَمَرَ بہ نوحٌ ابنَہ اِنَّ نوحًا قال لابنہ یابُنَیَّ اٰمُرُکَ ان تقول سبحان اللّٰہ فانها صلٰوة الخلق وتسبیح الخلق وبها یُرزق الخلق واخرج احمد وابن مردویہ عن ابن عمر مرفوعًا ان نوحًا لما حضرتہ الوفاة قال لابنیہ اٰمرکما بسبحان اللّٰہ وبحمدہ فانها صلٰوة کل شیءٍ وبها یُرزق کل شیءٍ کذا فی الدر)

فائده، د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ په بیان کښ هم د دے حدیث مضمون تیر شویدے- د تسبیح په باره کښ چه کوم ارشادات حدیث کښ دی، د قرآنِ پاک په آیتونو کښ هم تیر شوی دی- وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ د قرآنِ پاک آیت دے- د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد پیرو حدیثونو کښ راغلے دے چه د معراج په شپه د آسمانونو تسبیح نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خپله واوریده- یو وارے د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم تیریدل په یو داسے ډله اوشو، چه په خپلو اسونو او اوښانو باندے سوارۀ وو- نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمایه، چه څناور منبر او کرسئ مه جوړوی- ډیر څناور د سورلو نه بهتر او د دوی نه زیات د الله تعالیٰ ذکر کونکی وی- حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه فصل هم تسبیح وائی، او پټی والا ته د دے ثواب ملاویږی- یو ځلے د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښ یو پیاله پیش کړے شوه،

چه پکښې ثَرِيد (يعني دغوښې په ښوروا کښې ماته ډوډۍ) وه - نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اُوفرمايهٔ چه دا طعام تسبيح کوي. چا عرض اُوکړهٔ، تاسو ددے په تسبيح باندے پوهيږئ؟ نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اُوفرمايهٔ، اَوَ، پوهيږم. دے نه پس نبي اکرم صلی الله علیه وسلم يوکس ته اُووَے چه دا فلانی کس ته نزدے کړه. دغه پياله هغهٔ ته نزدے کړے شوه، نو هغهٔ هم تسبيح واوريدهٔ - دے نه پس يو دريم صاحب ته نزدے کړے شوه هغهٔ هم واوريدهٔ. چا درخواست اُوکړهٔ، چه مجمع کښې دِټولو خلقو ته واورولے شي. نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اُوفرمايهٔ، کهٔ چرے څوک پکښې وَانهٔ وَرِي، نو خلق به دا گنړي، چه دا گنهگار دے. ددے څيز تعلق کَشْف سره دے. حضرات انبياء عليهم السلام ته دا څيز په کامله درجه حاصل وُو، او پکار هم وُو. حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم ته ډيرو ختونوکښې دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم دفَيضِ صُحبت او انوارِ قُرب په وجه دا څيزونه حاصليدل. په سوَونو واقعات ددے گواه دي. صوفيانو ته هم دا څيزونه اکثر د مُجاهَدو په ډيروالی سره حاصليږي چه ددے په وجه هغوی د جمادانو (کانړو، لوټو، بے ساه څيزونو) او ځناورانو په تسبيح، دهغوی په کلام او په خبرو اترو پوهيږي. خو دمُحقِّقينو مشايخو په نزد چونکه دا څيزونه نهٔ د کمال دليل دے، نهٔ سبب دنزديکت. څوک چه دا قسمه مُجاهَدے کوی هغه حاصلولے شي، خواه هغهٔ ته دالله جل شانه څخه نزديکت حاصل وي يانهٔ وي په دے وجه مُحقِّقين دا غيرضروري گنړي. بلکه په دے لحاظ يے مُضِر گنړي چه کله مُبتَدِي (يعني نوے کس) په ديکښې اُولگي، نو ددُنيا دسَيل يے شوق پيدا شي دترقئ دپاره بند يږشي. ماته دخپل حضرت مولٰنا خليل احمد صاحب رحمة الله عليه دخپل مريدانو په باره کښې معلومه ده، چه کله هغوی ته دا شکل دکشف پيدا شو، حضرت به ښوروځو دپاره په اِهتمام سره ذکروشغل پرے پريخودهٔ، چه هغے ته دا حالت ترقي اُوکړي. دے نه علاوه دا حضرات په دِے دپاره تړے هم بچ کيدل چه په دے حالت کښې دنور وکتنا هو ته ښکاره کيږي. او دے حضراتو دپاره دخفگان سبب گرزي.

علامه شَعرَانی رحمة الله عليه مِيزَانُ الکُبرٰی کښې ليکلی دي چه حضرت امامِ اعظم رحمة الله عليه به چه کله څوک په اودس کولو اُوليدهٔ، نو په هغے اُوبوکښې به چه کومه

Maktaba Tul Ishaat.com

گناه وېنځلے شوه، هغه به یې لیدل له، دا به ورته هم معلومیده چه گناه کبیره ده که صغیره- مکروه کار دے که خلافِ اَولی- څنګه چه حیثي (په نظر راتلونکې څیزونو) ښکاري، دارنګې به دا هم معلومیده- یو ځلې د کوفې د جامع مسجد اودس په ځائ کښې تشریف فرما ؤ، یو ځوان اَودس کولو، د هغه د اَوداسه اُوبه یې اُولیدے چه ترے غور زید لے- هغه ته یې پټ نصیحت اُوکړو چه بچیه! د مور پلار د نافرمانئ نه توبه اُوباسه، هغه توبه اُوکړه- یو بل کس یې اُولیدو، نو هغه ته یې نصیحت اُوکړو، چه روره! زِنا مکوه، ډیر بد عیب دے- دغه وخت هغه هم د زِنا نه توبه اوکړه- یو بل کس یې اُولیدو، د شرابو څکلو او لَهْوُلَعِب اُوبه ترے پریوتلے، هغه ته یې هُم نصیحت اُوکړو، هغه هم توبه اُوکړه- خلاصه دا چه دے ته پس امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ د الله جل شانه نه دُعا اُوکړه، چه اے الله! دا څیز زما نه لرے کړے- چه زه د خلقو په گناهونو خبریدل نه غواړم- الله تعالی یې دُعا قبوله کړه، او دا څیز ترے شو- ویلې شي چه په دغے زمانه کښې امام صاحب د استعمال شوؤ اُوبو د ناپاکئ فتوی ورکړے وه، ولے چه ورته دغه اُوبه گندګیانو بودارے په نظر راتلے، نو څنګه به یې ورته پاک ویلې، خو هر کله چه ترے دا څیز لرے کړے شو نو بیا یې اِستعمال شوؤ اُوبو ته ناپاک ویل هم پریښودل- زمونږ د حضرت مولنا الشاه عبدالرحیم صاحب رائپوری رحمۃ اللہ علیہ په مُریدانو کښې یو صاحب ؤُ چه څو څو ورځې به په دِے وجه اِستنجاء ته نه تلو، چه هر ځائ به ورته انوارات په نظر راتلل- نور هم په سوونو زرګونو واقعات د دے قسمه دي چه په هغے کښې هیڅ قسمه د شک شبهے ګنجائش نشته- کوم خلقو ته چه د کشف نه څه حصه ورکړے شي، هغوی ته د هغې حصے په اندازه احوال معلومیږي-

(۱۳) عن اُمِّ هَانِئٍ رضی اللہ عنها قَالَتْ مَرَّ بِیْ رَسُوْلُ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم فَقُلْتُ یَا رَسُوْلَ اللهِ قَدْ کَبِرْتُ وَضَعُفْتُ اَوْ کَمَا قَالَتْ فَمُرْنِیْ بِعَمَلٍ اَعْمَلُهٗ وَاَنَا جَالِسَةٌ قَالَ سَبِّحِی اللهَ

حضرت اُمِّ هانی رضی اللہ عنها فرمائی چه یو ځلې نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم تشریف راوړو، ما عرض اُوکړو اے د الله رسوله! زه بوډۍ شوے یم، او کمزورے یم، څه داسے عمل راته اُوښایه، چه په ناسته ناسته یې کوم- نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ورته اُوفرمایل، سُبْحَانَ اللهِ سل

مِائَةَ تَسْبِيحَةٍ فَإِنَّهَا تَعْدِلُ لَكَ مِائَةَ رَقَبَةٍ تُعْتِقِيْنَهَا مِنْ وُلْدِ إِسْمٰعِيْلَ وَاحْمِدِي اللهَ مِائَةَ تَحْمِيْدَةٍ فَإِنَّهَا تَعْدِلُ لَكِ مِائَةَ فَرَسٍ مُسْرَجَةٍ مُلْجَمَةٍ تَحْمِلِيْنَ عَلَيْهَا فِي سَبِيْلِ اللهِ وَكَبِّرِي اللهَ مِائَةَ تَكْبِيْرَةٍ فَإِنَّهَا تَعْدِلُ لَكِ مِائَةَ بَدَنَةٍ مُقَلَّدَةٍ مُتَقَبَّلَةٍ وَهَلِّلِي اللهَ مِائَةَ تَهْلِيْلَةٍ قَالَ أَبُو خَلَفٍ أَحْسِبُهُ قَالَ تَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَا يُرْفَعُ يَوْمَئِذٍ لِأَحَدٍ عَمَلٌ أَفْضَلُ مِمَّا يُرْفَعُ لَكِ إِلَّا أَنْ يَأْتِيَ بِمِثْلِ مَا أَتَيْتِ۔

(رواہ احمد باسناد حسن واللفظ لہ و النسائی ولم یقل ولا یرفع الی آخرہ و البیہقی بتمامہ ورواہ ابن ابی الدنیا فجعل ثواب الرقاب فی التحمید والفرس فی التسبیح وابن ماجۃ بمعناہ باختصار و الطبرانی فی الکبیر بنحو احمد ولم یقل احسبہ فی الاوسط باسناد حسن بمعناہ کذا فی

وارے وایه، ددے ثواب دلسے دے چه ګویا سل عرب غلامان دِ ازاد کړل، او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سل وارے وایه، ددے ثواب داسے دے ګویا تا سل اسونه سره د ساما نه او دواګو وغیره دِ په جهاد کښې د سورلئ دپاره ورکړهٔ۔ او اَللّٰهُ اَکْبَرُ سل وارے وایه، دا دلسے ده ګویا تا سل اُوښان قربانئ کښې حلال کړهٔ او هغه قبول شو، او لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ سل وارے وایه، ددے ثواب خود اسمان او دزمکے مینځ ډکوی۔ ددے نه زیات دهیڅ یو عمل نشته چه قبول شی

حضرت ابو رافع رضی اللہ عنہ بی بی صاحبه حضرت سلمٰی رضی اللہ عنہا هم نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ته عرض اُوکړو، چه ما ته څهٔ وظیفه لنډ ټوټے اُوښایه، چه ډیره اُوږده نهٔ وی۔ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد اُوفرمایهٔ، اَللّٰهُ اَکْبَرُ لس وارے وایه، الله جل شانهٔ ددے جواب کښې فرمائی چه دا زما دپاره دهٔ۔ بیا سُبْحَانَ اللّٰهِ لس وارے وایه، الله تعالی بیا دا وائی چه دا ما دپاره ده۔ بیا اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ لس وارے وایه، الله تعالی فرمائی چه آو، ما دِ بخښنه اُوکړه۔ لس وارے ته اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ وایه (لس وارے الله تعالی فرمائی چه ما دِ بخښنه اُوکړه۔)

الترغیب باختصار قلت رواہ الحاکم بمعناہ وصححہ وعزاہ فی الجامع الصغیر الی احمد والطبرانی و الحاکم ورقم لہ بالصحۃ وذکرہ فی مجمع الزوائد لطرق وقال اسانیدہم حسنۃ وفی الترغیب ایضا عن ابی امامۃ مرفوعا بنحو حدیث الباب مختصرا وقال رواہ الطبرانی ورواتہ رواۃ الصحیح خلا سلیم بن عثمان الفوزی یکشف حالہ فانہ لا یحضرنی الآن فیہ جرح ولا عدالۃ آہ وفی الباب عن سلمٰی

Maktaba Tul Ishaat.com

ام بنی ابی رافع قالت یارسول اللہ اخبرنی بکلمات ولا تکثر علی الحدیث قال قل اللہ اکبر عشرا وفیہ التکبیر والتسبیح عشرا عشرا واللھم اغفرلی عشرا قال المنذری رواہ الطبرانی ورواتہ محتج بھم فی الصحیح اھ قلت وبمعناہ عن عمرو بن شعیب عن ابیہ عن جدہ مرفوعا بلفظ من سبح اللہ مائۃ بالغداۃ ومائۃ بالعشی کان کمن حج مائۃ حجۃ الحدیث وجعل فیہ التحمید کمن حمل علی مائۃ فرس والتھلیل کمن اعتق مائۃ رقبۃ من ولد اسماعیل ذکرہ فی المشکوۃ بروایۃ الترمذی وقال حسن غریب)

فائدہ ضعیفانو ښځو ا کانو د پاره خصوصاً زنانه ؤ د پاره خومره اسان او مختصر خیز نبی اکرم ﷺ تجویز کړو۔ اوګوره، دا سے مختصر خیز دے چه نه پکښې زیات مشقت شته، نه پکښې کوزیدل راکوزیدل شته خومره لوی لوی ثوابونو وعدہ، خومره به کم نصیبي وی، کوم چرے دا حاصل نه کړے شي۔

حضرت اُم سُلیم رضی اللہ عنها وائی چه ما نبی اکرم ﷺ ته عرض اوکړو، چه څه خیز ماته اوښایه، چه دغے په ذریعه مانځه کښې دُعا کوم۔ نبی اکرم ﷺ ارشاد اوفرمایه چه سُبْحَانَ اللهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اَللهُ اَكْبَرُ لس لس وارے وایه، او څه چه دِخوښه وی هغے نه پس دُعا کوه۔ بل حدیث کښې دے نه پس دا ارشاد دے چه څه دِخوښه وی دُعا کوه، الله جل شانهٔ به دے دُعا فرمائی، او او (ما قبول کړه) خومره اسان او مختصر الفاظ دی چه یاد ول او محنت او چتول پکښې نشته تول ورځ مونږ خلق بکواس کښې تیروو، تجارت سره دُکان کښې په ناسته ناسته یا پټی کښې دزمکے انتظاماتو کښې مشغولیدو سره سره کچرے په ژبه دا تسبیحات وایُو، نو دُنیا ذکښې سره د آخرت خومره لوئ دولت به په لاس راشي۔

(۱۲) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ لِلّٰهِ مَلٰٓئِكَةً يَّطُوْفُوْنَ فِي الطُّرُقِ يَلْتَمِسُوْنَ اَهْلَ الذِّكْرِ فَاِذَا وَجَدُوْا قَوْمًا يَّذْكُرُوْنَ اللهَ تَنَادَوْا هَلُمُّوْا اِلٰى حَاجَتِكُمْ فَيَحُفُّوْنَهُمْ بِاَجْنِحَتِهِمْ اِلَى السَّمَآءِ فَاِذَا تَفَرَّقُوْا عَرَجُوْا وَ

دنبی اکرم ﷺ ارشاد مبارک دے، چه د فرښتو یوه ډله ده چه لارو کوڅو کښې ګشت کوی، او کوم ځائ چه ورته خوك د الله تعالیٰ ذکر کوونکی ملاؤ شی، نو دوی خپل مینځ کښې یو بل راوبلی، تول راجمع شی، او د ذکر کوونکو کیر چاپیره تر اسمانه پورے جمع شی کله چه دغه مجلس ختم شی، نو دوی اسمان ته لاړے شي، او الله تعالیٰ سره د دے چه

صَعِدُوْا اِلَى السَّمَاءِ فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ وَهُوَ يَعْلَمُ مِنْ اَيْنَ جِئْتُمْ فَيَقُوْلُوْنَ جِئْنَا مِنْ عِنْدِ عِبَادٍ لَّكَ يُسَبِّحُوْنَكَ وَيُكَبِّرُوْنَكَ وَيُحَمِّدُوْنَكَ فَيَقُوْلُ هَلْ رَاَوْنِيْ فَيَقُوْلُوْنَ لَا فَيَقُوْلُ كَيْفَ لَوْ رَاَوْنِيْ فَيَقُوْلُوْنَ لَوْ رَاَوْكَ كَانُوْا اَشَدَّ لَكَ عِبَادَةً وَّاَشَدَّ لَكَ تَمْجِيْدًا وَّاَكْثَرَ لَكَ تَسْبِيْحًا فَيَقُوْلُ فَمَا يَسْأَلُوْنَ فَيَقُوْلُوْنَ يَسْأَلُوْنَكَ الْجَنَّةَ فَيَقُوْلُ وَهَلْ رَاَوْهَا فَيَقُوْلُوْنَ لَا فَيَقُوْلُ فَكَيْفَ لَوْ رَاَوْهَا فَيَقُوْلُوْنَ لَوْ اَنَّهُمْ رَاَوْهَا كَانُوْا اَشَدَّ عَلَيْهَا حِرْصًا وَّاَشَدَّ لَهَا طَلَبًا وَّاَعْظَمَ فِيْهَا رَغْبَةً قَالَ فَمِمَّ يَتَعَوَّذُوْنَ فَيَقُوْلُوْنَ يَتَعَوَّذُوْنَ مِنَ النَّارِ فَيَقُوْلُ وَهَلْ رَاَوْهَا فَيَقُوْلُوْنَ لَا فَيَقُوْلُ فَكَيْفَ لَوْ رَاَوْهَا فَيَقُوْلُوْنَ لَوْ اَنَّهُمْ رَاَوْهَا كَانُوْا اَشَدَّ مِنْهَا فِرَارًا وَّاَشَدَّ لَهَا مَخَافَةً فَيَقُوْلُ اُشْهِدُكُمْ اَنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ فَيَقُوْلُ مَلَكٌ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ فُلَانٌ لَّيْسَ مِنْهُمْ اِنَّمَا جَاءَ لِحَاجَةٍ قَالَ هُمُ الْقَوْمُ لَا يَشْقٰى بِهِمْ جَلِيْسُهُمْ

هرڅيز ورته معلوم دے بيا هم پوښتنه ترې چه تاسو د کومه راغلئ؟ دوی عرض اوکړی، ستا د بندګانو فلانئ ډلے نه راغلی يُو چه ستا په تکبير او تحميد (لويئ بيانولو تعريف کولو) کښ مشغول وُو۔ اِرشاد اوشی، آيا دغے خلقو زهٔ ليدلے يم؟ عرض کوی اے الله! ليدلے خو يے نهٔ يے۔ اِرشاد وُشی کچرے هغوی ما اووينی نو څهٔ حال به وی؟ عرض کوی، کهٔ چرے تا اووينی، نور به هم زيات عبادت کښ مشغول شی، او له دے نه به هم زيات ستا تعريف او تسبيح کښ لګيا شی۔ اِرشاد اُشی چه هغوئ څهٔ غوختنل؟ عرض اُوکړی چه هغوی جنت غوختلو، اِرشاد اُوشی چه آيا هغوی جنت ليدلے دے؟ عرض کوی چه ليدلے خو يے نهٔ دے۔ اِرشاد اُوشی، کچرے وِے ليدلهٔ، نو څهٔ به وی؟ عرض کوی، چه له دے نه به زيات په شوق او تمنّا او د هغے په طلب کښ اُولګی۔ بيا اِرشاد اُوشی چه کوم څيز نه يے پناه غوختله؟ عرض اوکړی چه د دوزخ نه يے پناه غوختله۔ اِرشاد اُشی آيا هغوی دوزخ ليدلے دے؟ عرض کوی چه ليدلے خو يے نهٔ دے۔ اِرشاد اُوشی، کچرے وِے ليدلهٔ نو څهٔ به وی؟ عرض کوی نو زهم زيات د هغے نه تختيدلے، او د بچ کيدو کوشش به يے کولو۔ اِرشاد اُوشی، ښَه دهٔ تاسو ګواه اُوسئ چه ما د ا مجلس والا ټول اُوبخښل۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(رواه البخاري ومسلم والبيهقي في الاسماء والصفات كذا في الدر والمشكوٰة ۴) | یوه فرښته عرض اُوکړی، اے الله! چه فلانے کس دے مجلس کښ اتفاقاً څهٔ ضرورت

پسے راغلے وُو، هغه دے مجلس شریک نهٔ وُو. اِرشاد اُوشی چه دا جماعت اسے مبارک دے چه دوی څخه ناست هم نهٔ محرومه کیږی (لهٰذا هغهٔ هم اُوبخښهٔ).

فائده: ددے قسمه مضمون کثرو حدیثونو کښ راغلے دے چه د فرښتو یوه ډله د ذکر مجلسونو او د ذکر کوُنکو جماعتونو او د کسانو په تلاش کښ وی. اوکوم ځائ چه ورته مِلاوُشی، هغوی څخه دوی کښینی، دهغوی ذکر آوری. لکه د اول باب اتم نمبر حدیث کښ دا مضمون تیر شوے دے، ارهغے کښ دا هم تیر شوی دی چه فرښتو ته دفخر په طور الله جل شانهٔ دهغوی ذکرولے کوی د فرښتے دا عرض کول چه یو کس مجلس کښ داسے هم وُو چه خپل څهٔ ضرورت پسے راغلے وُو، دواقعے اِظهار دے، چه دغه وخت دوی په شان ګواهانو دی، او دغے خلقو دعبادت او د الله تعالیٰ په ذکر کښ دمشغولئ ګواهی ورکوی. په دے وجه د دے دظاهرولو ضرورت پیش شو، چه هسے نه اعتراض اُوشی خو دا الله تعالیٰ مهربانی ده، چه د ذاکرینو له برکته هغوی څخه دخپل ضرورت دپاره ناست یے هم محرومه نکړهٔ. د الله جل شانهٔ اِرشاد دے. يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ○ (سورة توبه ـ ع ۱۵) اے ایماندارو! د الله نه اُویریږئ او ریښتینو سره شئ) دصوفیانو اِرشاد دے چه الله تعالیٰ سره اُسئ، او که چرے دا نهٔ شی کیدے، نو بیا دهغے خلقو سره اُوسئ کوم چه الله تعالیٰ سره اُوسی. الله تعالیٰ سره داُوسیدو مطلب دا دے، څنګه چه صحیح بخاری کښ اِرشاد دے (حدیثِ قدسی دے) الله جل شانهٔ فرمائی چه بنده د نفلو په ذریعه زما قُرب (نزدیکت) کښ ترقی کوی، تر دے پورے چه زهٔ یے خپل محبوب جوړکړم، او کله یے چه محبوب جوړکړم، نو زهٔ دهغهٔ غوږ جوړشم چه په هغے سره هغه آوری. دهغه سترګه جوړه شم چه په هغے سره وینی. دهغهٔ لاس جوړه شم چه په هغے سره نیسی. دهغهٔ خپه جوړه شم چه په هغے سره ګرزی. بیا هر څهٔ چه ما نه غواړی هغهٔ ته ورکوم. دلاس خپو جوړیدو مطلب دا دے چه دهغهٔ هر یو کار د الله تعالیٰ درضا او دمحبت دپاره کیږی. دهغهٔ هیڅ یو عمل د

الله تعالیٰ د مرضئ نه خلاف نهٔ کیږی۔ دصوفیا نو حالات او دهغوی وا قعات چې په کثرت د تاریخ (کتابونو) کښ موجود دی هغه اِنصافی گواهان دی، او هغه دومره ډیردی، چه دهغې نه د اِنکار گنجایش نشته، یوه رساله ددې باب کښ د نُزهَةُ الْبَسَاتِیْن په نامه مشهوره ده، چه دهغې نه ددې قسمه دحالاتو پته لگی۔

شیخ ابوبکر کتانی رحمة الله علیه وائی چه یو وارے دحج په موقعه مکه مکرمه کښ څو صوفیان جمع وو چه په هغوی کښ د ټولو نه کم عمر حضرت جُنَید بغدادی رحمة الله علیه وو۔ دے مجمع کښ په محبتِ اِلٰهی بحث شروع شو، چه مُحِبّ (الله تعالیٰ سره محبت ساتونکے) څوک دے؟ مختلفو حضراتو مختلفے وینا گانے اُوکړے۔ حضرت جُنَید رحمة الله علیه چُپ وو۔ دے حضراتو هغهٔ ته اُوفرمایل، چه ته هُم څهٔ اُووایه، په دے کښ هغهٔ سرخکته کړو، په ژړا کښ یے اُوفرمایل، چه عاشق هغه دے چه خودی (غرور تکبر) ترے اُوزی، دالله تعالیٰ ذکر سره نښلے شوے وی، او دهغهٔ حق اَدا کوی، په زړهٔ سره دالله تعالیٰ طرفته گوری، دهغهٔ زړهٔ دهیبت رڼړاگانو سیزلے وی هغهٔ دپاره دالله تعالیٰ ذکر دشرابو پیاله وی۔ کهٔ چرے خبرے کوی، نو دالله تعالیٰ خبرے کوی، گویا الله تعالیٰ دهغهٔ په ژبه خبرے کوی۔ کهٔ چرے حرکت کوی نو دالله تعالیٰ په حکم سره۔ کهٔ چرے تسکین (تسلّی آرام) مومی، نو الله تعالیٰ سره۔ او کله چه دا حالت شی، نو بیا خوړل، څکل، اُودهٔ کیدل، ویخیدل، ټول کاروبار د الله تعالیٰ درضا دپاره شی۔ نهٔ ددُنیا رسم ورواج د توجُه قابل پاتے شی۔ نهٔ دخلقو پیغور او ملامتیا قابلِ اِعتبار وی۔

حضرت سَعِیدبن الْمُسَیَّب رحمة الله علیه مشهورتابعی دے، لویو محدثینو کښ شمار دے، ددهٔ په خدمت کښ یو کس عبد الله بن ابی وَدَاعه رحمة الله علیه ډیر حاضریدلو، یو څلے څو ورځے حاضر نهٔ شو، څو ورځے پس حاضر شو، نو حضرت سعید رحمة الله علیه ترے پوښتنه اُوکړه، چرته وے؟ عرض یے اُوکړهٔ چه زما بی بی مړه شوے وه، د هغې په وجه مشاغلو کښ گیر وُم۔ وے فرمایل چه ما ته دِ خبر اُونکړو، زهٔ به جنازه کښ شریک شوے وے۔ لږ ساعت پس زهٔ راپاسیدم، تلم۔ وے فرمایل بله نکاح دِ اُوکړه؟ ما عرض اُوکړهٔ، چه حضرت! ما سره به څوک نکاح اوکړی؟ د دوه درے انو زما حیثیت دے۔ دوی راته اُوفرمایل، زهٔ به درته اُوکړم، دا یے اُووے

Maktaba Tul Ishaat.com

خطبه یې اُووَیله، او د خپلې لور نکاح یې په معمولي مَهر آتو لسّو انوما سره اُوکړهٔ - (دومره مَهر به دهٔ په نزد جائزوي، دحنفیانو په نزد دوه نیمو روپونه په کمه جائزنهٔ دے) د نکاح نه پس زهٔ پاسیدم، او الله تعالیٰ ته معلومه ده، چه زهٔ څومره خوشاله وُم. په خوشالئ کښې م سوچ کولو، چه د رُخصتئ دا نتظام د پاره دچانه قرض اُوغوارم، یا څهٔ اُوکړم، په دے فکر کښې ما ښام شو، زما روژه وه، د ماښام په وخت م روژه ماته کړه، د ماښځه نه پس کورته راغلم، ډیوه م بَله کړه ډوډئ او د زیتون تیل موجود وُو، هغه م خوړل شروع کړهٔ، چه چا دروازه اُوډبوله. ما تپوس اُوکړهٔ، څوک یې؛ ورے ویل، سعید دے. په سوچ کښې پریوتم چه کوم سعید دے، حضرتؒ طرفته زما خیال اَو لا نړو، چه د څلویښتو کالو نه خپل کور یا د جُمات نه سوا چرته تلل راتلل یې اَو وُو نه. باهرته اُووتلم، اُوم کتل چه حضرت سَعِیْد بن الْمُسَیّبؒ دے، ما عرض اُوکړهٔ، تاسو زهٔ ولے اُونهٔ بَللم. ورے فرمایل، زما راتلل مناسب وُو. ما عرض اُوکړهٔ څهٔ اِرشاد دے؛ ورے فرمایل چه ما ته دا خیال راغے، چه اُوس خو ستا نکاح شوے ده، یواځے شپه تیرول مناسب نهٔ دی، په دے وجه ستا بی بی م راوستلے ده، دا یې اُوفرمایل خپله لور یې د دروازے د ننه کړه، او دروازه یې بنده کړه لاړو. هغه جینئ له شرم نه پریوتله، ما د ننه نه دروازه بنده کړه، او هغه ډوډئ او تیل کوم چه د ډیوے مخکښې پراته وُو، د هغه ځائ نه م لرے کړل چه ورے نهٔ وینی. او د مکان په چهت اُوختلم، ګاونډیانو ته م آواز اُوکړهٔ، خلق جمع شول. نوما اُوویل چه حضرت سعیدؒ خپلې لور سره زما نکاح کړے ده، او دا وخت یې هغه پخپله راوستلے ده. نول ډیر حیران شول، ورے ویل چه واقعی هغه ستا په کور کښې ده؟ ما اُووے، اَو. خلق حیران شول، زما مورته هم خبر اُوشو. هغے د غه وخت راغله آووے ویل، که چرے درے ورځو پورے نهٔ دے ته ورنزدے شوے نو ستا مخ به اُونهٔ ګورم. مونږ به درے ورځو کښې د دے تیاری کوو. درے ورځے پس چه زهٔ هغے جینئ سره مِلاؤ شوم، نو اُوم لیده، ډیره ښائسته، د قرانٔ شریف هم حافظه، او د رسول صلی الله علیه وسلم دسنتونه هم ډیره زیاته خبرداره. د خاوند دحقونو نه هم ډیره زیاته خبرداره وه. یو میاشتے پورے نهٔ خو حضرت سعیدؒ

مونږ کره راشے، نه زۀ د هغهٔ خدمت کښې حاضر شوم ـ یو میاشت پس زۀ حاضر شوم ـ نو هلته کنړه وه، ما سلام اُوکړهٔ کښیناستم ـ هر کله چه تول خلق لاړل، نو وِے فرمایل، هغه بنیادم څنګه بیا مونده؟ ما عرض اُوکړهٔ چه پیر ډیر بهتر دے چه دوست ئے اُووینی، خوشاله شی، دُشمن پرے سُوزی ـ وِے فرمایل که څهٔ خیره دنا خوښئ پکښې وی، نو په لړکی ئے خبر اُخله ـ زۀ واپس راغلم، نو یو سړی ئے راولیږهٔ ـ چه شل زره درهمه (یعنی تقریبًا پنځه زره روپئ پاکستانئ) ئے ما ته راکړے

داچینئ عَبْدُ الْمَلِك بن مَرْوَان بادشاه دخپل ځوئ ولید د پاره کوم چه ولی عهد وُو غوختلے وه، خو حضرت سعید ورته عُذر کړے وُو، چه ددے په وجه عَبْدُ الْمَلِك ناراضه شو، او په یوه بهانه ئے حضرت سعید رحمۃ اللہ علیہ شل کوړے په سخته یخنئ کښې وَهلے وُو. او د اُوبو منګے ئے پرے اَچولے وُو.

(۱۵) عَنْ ابْنِ عُمَرَ رضی اللہ عنہ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم يَقُوْلُ مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ كُتِبَتْ لَهٗ بِكُلِّ حَرْفٍ عَشْرُ حَسَنَاتٍ وَمَنْ اَعَانَ عَلٰى خُصُوْمَةٍ بَاطِلٍ لَمْ يَزَلْ فِىْ سَخَطِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْزِعَ وَمَنْ حَالَتْ شَفَاعَتُهٗ دُوْنَ حَدٍّ مِّنْ حُدُوْدِ اللّٰهِ فَقَدْ ضَادَّ اللّٰهَ فِىْ اَمْرِهٖ وَمَنْ بَهَتَ مُؤْمِنًا اَوْ مُؤْمِنَةً حَبَسَهُ اللّٰهُ فِىْ رَدْغَةِ الْخَبَالِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ حَتّٰى يَخْرُجَ مِمَّا قَالَ وَلَيْسَ بِخَارِجٍ ـ

د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد دے، چه څوک سُبْحَانَ اللّٰهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ اُووائی، د هر یو حرف په بدل له کښې به ورته لس نیکئ اُولیکلے شی ـ او چه څوک په څهٔ جهګړه کښې د ناحقه مدد کوی، هغه د الله تعالیٰ په غصه کښې اُوسی، تر څو پورے چه د هغے نه توبه اُونهٔ باسی ـ او چه څوک د الله تعالیٰ په څهٔ سزا کښې سفارش کوی (او شرعی سزا ورکولو کښې منع کوونکے شی) هغه د الله تعالیٰ مقابله کوی ـ او چه څوک په چا مؤمن سړی یا زنانه تهمت اُولګوی هغه به د قیامت په ورځ رَدْغَةُ الْخَبَال کښې قید کړے شی، تر دے چه د دِے تهمته اُوزی ـ او څنګه به د هغے نه اُوزی ـ

(رواه الطبرانی فی الکبیر والاوسط ورجالهما رجال الصحیح کذا فی مجمع الزوائد قلت اخرجه ابوداؤد بدون ذکر التسبیح فیه)

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده: دناحقو امداد کول نن صبا زمونږ طبیعت جوړشوے دے۔ یو څیز مونږ بنهٔ پیژنو چه مونږ په غلطئ یو، خو دخپلوانو طرفداری ده۔ د پارتئ سوال دے۔ لاکهٔ ځلے دالله تعالیٰ غصه کښ داخل شو، الله تعالیٰ ناراضه شی دهغهٔ غصه وی، خو د قام قبیلے دخبرے په مقابله کښ هیڅ هم نهٔ وی، مونږ کهٔ د ناحق کارکوونکے تهوکلے نهٔ شو، نو خاموشی اُوکړو، داهم نهٔ کوو، بلکه په هر قسمه د هغهٔ اِمداد کوو، کهٔ چرے په دے خوك مطالبه کوونکے اُودریږی، نو د هغهٔ مقابله کوو۔ زمونږ دوست غلا اُوکړه، ظلم یے اُوکړو، عیاشی یے اُوکړه، دهغهٔ حوصلے اُوچتوو۔ هرقسمه مدد یے کوو۔ آیا داده زمونږ د ایمان منشا؟ آیا داده دینداری په دے سره په اِسلام مونږ فخر کوو، یا خپل اِسلام دنورو په نظر کښ بدنامو او د الله تعالیٰ په نزد په خپله هم ذلیله کیږو۔

یو حدیث کښ دی چه څوك په عصبیت یعنی خپلولئ او قومیت خلق راوبلی یا په عصبیت جنګیږی هغه زمونږ نهٔ دے۔ بل حدیث کښ دی چه دعصبیت نه مراد دا دے چه په ظلم دخپل قوم مدد کوی۔ رَدْغَةُ الْخَبَالِ هغه ځَے ده چه د دوزخیانو دِ بنو زوو وغیره نه جمع شی۔ څومره گنده او تکلیف ورکوونکے ځائ دے چه په هغے کښ به داسے خلق قید وُلے شی چه څوك په مسلمانانو تهمت لګوی، نن په دُنیا کښ ډیر معمولی معلومیږی۔ دچا باره کښ چه دِ څهٔ اُوغوختل په ډکه خولے دِ اُووے، صبا به چه په خوله دِ څهٔ ویلی وی هره خبره به ثابتوے۔ او ثبوت هم هغه کوم چه په شریعت کښ معتبر وی۔ د دُنیا په شان نه چه په چالاکئ او په دروغو خبرو بل چُپ کړے شی۔ هغه وخت به دِ سترګے اُوغړیږی چه مونږ څهٔ ویلی وو، او څهٔ اُوختل۔ د نبی اکرم ﷺ اِرشاد دے، چه بنده څنے خبره د ژبے نه داسے اُوباسی، چه پروا ئے نکوی، خو هغے په وجه دوزخ کښ اُوغورزولے شی۔ یو حدیث کښ دی، چه بنده څنے خبره صرف په دے وجه وائی چه خلق پرے اُوخاندی، خو هغے د وجه نه دومره لرے (دوزخ کښ) اُوغورزولے شی، څومره لرے چه د اسمان نه زمکه ده۔ بیلے اِرشاد اُوفرمایهٔ، چه د ژبے تیروتل د پښو د خویدلو نه سخت دی۔ یو حدیث کښ دی چه څوك بل په څهٔ ګناه سره شرمنده کوی

هغه به په خپله د مرلو نه وړاندې په دې گناه کښې آخته شي. امام احمد رحمة الله عليه فرمائي چه هغه گناه مراد ده دکوم نه چه گنهگار توبه اِيستلې وي. حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه به خپله ژبه اُونيوله، رابه يې خکله، چه ستا په وجه مونږ په هلاکتونو کښې پريوزو. اِبنُ المُنکَدِر رحمة الله عليه مشهور محدِّث دے او تابعي هم دے، دوفات په وخت په ژړاشو. چاترې تپوس اوکړو چه ولې، څۀ خبره ده؟ ورته فرمايل، ماته څۀ گناه خودلے معلومه نۀ ده کومه چه ما کړې وي. په دې ژاړم، چه څۀ خبره رانه داسې شوې وي، چه ما هغه معمولي گڼړلې وي، او هغه د الله تعالیٰ په نزد سخته وي.

(۱۱) عَنْ اَبِيْ بَرْزَةَ الْاَسْلَمِيِّ رضی الله عنه قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم يَقُوْلُ بِاٰخِرِهٖ اِذَا اَرَادَ اَنْ يَّقُوْمَ مِنَ الْمَجْلِسِ سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَ اَتُوْبُ اِلَيْكَ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ اِنَّكَ لَتَقُوْلُ قَوْلًا مَا كُنْتَ تَقُوْلُهٗ فِيْمَا مَضٰى قَالَ كَفَّارَةٌ لِّمَا يَكُوْنُ فِي الْمَجْلِسِ.

(رواه ابن ابی شیبة وابو داؤد والنسائی والحاکم وابن مردویه کذا فی الدر وفیه ایضا بروایة ابن ابی شیبة عن ابی العالیة بزیادة علمنیهن جبرئیل.)

د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم معمول په آخره زمانه د عمر شریف کښې داؤ چه کله به د مجلس نه پاسيدو سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ به يې ويل، چا عرض اُوکړو، اے د الله رسوله! نن صبا ديو دُعا ستا سو معمول دے روميے خو دا معمول نۀ ؤ. نبي اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد اُوفرمايۀ، چه دا د مجلس کفاره ده. بل روايت کښې هم دا قصه ذکر ده، چه په هغې کښې د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم دا ارشاد نقل دے، چه دا کلمې د مجلس کفاره دي، حضرت جبريل ماته خودلې دي.

فائده: حضرت عائشه رضی الله عنها نه هم نقل کړے شوې دي چه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم چه به کله د مجلس نه پاسيدلو، سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ رَبِّيْ وَبِحَمْدِكَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ به يې ويل. ما عرض اوکړو، چه تاسو دا دُعا ډيره زياته وايئ. اِرشاد يې اُوفرمايۀ، چه څوك د مجلس په ختم دا اُووائي، نو هغې مجلس کښې چه کومې غلطئ درۀ نه شوې وي، هغه ټولې به معاف شي.

مجلسونو کښې عموماً فضول خبرے، بیکاره تذکرے ځانځا کیږی۔ څومره مختصره دُعا ده، که چرے څوك ددے دُعا کانونه کومه یوه دُعا هُم اُووائی، نو د مجلس د عذاب نه خلاصے موندلے شی، الله جل شانهٗ څنګه اسانی راکړی دی۔

(۱۷) عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم اَلَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ مِنْ جَلَالِ اللّٰهِ مِنْ تَسْبِيْحِهٖ وَتَحْمِيْدِهٖ وَتَكْبِيْرِهٖ وَتَهْلِيْلِهٖ يَتَعَاطَفْنَ حَوْلَ الْعَرْشِ لَهُنَّ دَوِيٌّ كَدَوِيِّ النَّحْلِ يَذْكُرْنَ بِصَاحِبِهِنَّ اَلَا يُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ لَّا يَزَالَ لَهٗ عِنْدَ اللّٰهِ شَيْءٌ يُّذَكِّرُ بِهٖ۔ (رواه احمد والحاکم وقال صحیح الاسناد قال الذهبی موسیٰ بن سالم قال ابوحاتم منکر الحدیث ولفظ الحاکم کدوی النحل یقلن لصاحبهن واخرجه بسند آخر وصححه علی شرط مسلم واقره علیه الذهبی وفیه کدوی النحل یذکرن بصاحبهن)

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دے چه کوم خلق دالله تعالیٰ لوئی بیانوی یعنی سُبْحَانَ اللّٰهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وائی، نو دا کلمے دعرش څلور واړه طرف ته ګشت کوی چه دوی دپاره دلسے روغوندے اواز (دتورو مچو دَ اواز په شان) وی او دخپل وئیونکو تذکره کوی، نو آیا تاسو دا نه غواړئ چه څوك ستاسو تذکره کونکے الله تعالیٰ څخه موجود وی چه ستاسو ذکرِ خیر کوی۔

فائده: کوم خلق چه حاکمانو ته ځان رسوی، کرسی نشین پیللے شی، څوك دِ دهغوی نه تپوس اُوکړی چه بادشاه ته، وزیر ته، وائسرائے هُم پریږده، دچا ګورنر سره ددهٔ تعریف او ذکرِ خیر راشی، دخوشالئ نه به په جامو کښې نه ځائیږی، دِماغ به یے اسمان ته اُورسی، حال دا چه په دے تذکره نهٔ څهٔ ددین فائده شته نه ددُنیا۔ ددین فائده نه کیدل خو ښکاره ده۔ او ددُنیا فائده نه کیدل په دے وجه چه شاید څومره فائده ددے قسمه تذکرونو وی ددے نه زیات نقصان ددے قسمه مرتبے او تذکرے حاصلولو کښې رسی جائیداد خرڅولے شی، سودی قرضے اخلی، نو هغه دراسے مرتبو حاصلولو کوشش کولے شی۔ دمفتودُ شمنئ اخلی۔ او دهر قسمه ذلتونه برداشت کولے شی۔ د الیکشنونو حالت دټولو مخکښې دے۔ چه څهٔ څهٔ کولے شی۔ ددے په مقابل دالله تعالیٰ په عرش تذکره، د مالك الملك په حضور کښې تذکره، دهغے پاك

ذات څخه تذکره چه دچاپه قبضه کښې د دین اَو د دُنیا او دټولو جهانونو هر یو څیز دے، د هغے قدرت دخاوند څخه تذکره دچاپه قبضه کښې چه د بادشاهانو زړونه دی، دخاکمانو اختیارات د هغه په اختیار کښې دی، د نفع او د نقصان مالك هم هغه دے، د ټول جهان ټول بنیادم حاکم او محکوم، بادشاه او رعیّت که چاته نقصان رسوّل غواړی، او هغه ذات مَالِكُ الْمُلْك نه غواړی، نو هیڅوك ورته نقصان نه شی رسولے. ټول مخلوق چاته نفع رسوّل غواړی او د هغهٔ رضا نهٔ وی، نو یو څاڅکے داُوبو پرے نه شی څکولے. داسے پاك ذات څخه خپل ذکرِ خیر اُوشی کوم دولت د دُنیا د دے مقابله کولے شی؟ کوم عزت د دُنیا خواه څومره لوئ شی، د دے برابرے کولے شی؟ تاهیڅکله نا- د دے په مقابله کښې د دُنیا څخه عزت کړے اُوچت اُوکنړلے شی، نو ایا خپل ځان باندے ظلم نهٔ دے؟

(۱۸) عَنْ يُسَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وَ كَانَتْ مِنَ الْمُهَاجِرَاتِ قَالَتْ قَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُنَّ بِالتَّسْبِيْحِ وَالتَّهْلِيْلِ وَالتَّقْدِيْسِ وَاعْقِدْنَ بِالْاَنَامِلِ فَاِنَّهُنَّ مَسْئُوْلَاتٌ مُسْتَنْطَقَاتٌ وَلَا تَغْفُلْنَ فَتَنْسِيْنَ الرَّحْمَةَ

حضرت یُسَیرَه رضی الله عنها کومه چه د هجرت کونکو صحابیاتو نه ده، فرمائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اُوفرمایهٔ چه په خپل ځان باندے تسبیح (سُبْحَانَ الله ویل) او تهلیل (لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ویل) او تقدیس (د الله تعالیٰ پاکی بیانول) مثلاً سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْس یا سُبُّوْحٌ قُدُّوْسٌ رَبُّ الْمَلٰئِكَةِ وَالرُّوْحِ ویل) لازم کړهٔ، او په ګوتو شمیر کوهٔ، ځکه چه د ګوتو نه به قیامت کښې سوال کولے شی (او د هغے نه به جواب کولے شی، چه څهٔ عمل دِ اُوکړهٔ)، او جواب کښې به) د وینا طاقت ورکړے شی، او د الله تعالیٰ د ذکر نه غفلت مکوهٔ، (که چرے داسے اُوکړے نو د الله تعالیٰ) د رحمت نه به محرومه کړے شے.

(رواه الترمذی وابوداؤد کذا فی المشکوٰة وفی المنهل اخرجه ایضًا احمد والحاکم آه وقال الذهبی فی تلخیصه صحیح و کذا رقم له بالصحة فی الجامع الصغیر وبسط صاحب الاتحاف فی تخریجه وقال عبدالله بن عمرو رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم یعقد التسبیح رواه ابوداؤد والنسائی والترمذی وحسّنه والحاکم کذا فی الاتحاف وبسط فی تخریجه ثم قال قال الحافظ معنی العقد المذکور فی الحدیث احصاء العدد وهو اصطلاح العرب بوضع بعض الانامل علی بعض عقد انملة اخری فالآحاد والعشرات بالیمین والمئون والآلاف بالیسار آه)

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده: قیامت کښې به د بنده د بدن نه د هغهٔ د لاس خپو نه هم پوښتنه کیږی چه د بدن هر یو حصے څهٔ څهٔ نیک کارونه کړی دی، او څهٔ څهٔ ناجائزه او بدکاره ... یے کړی دی - قران پاک کښې کثیر و ځایونو کښې دا دے ذکر دے - یو ځائے ارشاد دے - یَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ اَلْسِنَتُهُمْ وَاَيْدِيْهِمْ الآیة (نور- ع ۳) کومه ورځ چه د هغوی خلاف گواهی ورکړی د هغوی ژبے او د هغوی لاسونه او خپے د هغے کارونو (یعنی د گناهونو) کوم چه به دوی کول - بل ځای ارشاد دے - وَيَوْمَ يُحْشَرُ اَعْدَآءُ اللهِ اِلَى النَّارِ (الآیات - حٰم سجده - ع ۳) دے ځائے کښې څو ایتونو کښې دا دے ذکر دے، چه د هغے ترجَمَه دا ده، چه په کومه ورځ یعنی حَشر کښې د الله تعالیٰ دُشمنان به دوزخ طرفته جَمع کړے شی، بیا به هغوی یو ځائے ایسار کړے شی، بیا به ټول په جَمع د نے دوزخ ته نزدے راشی، نو د هغوی غوږونه او د هغوی سترگے او د هغوی څرمنے به په هغوی گواهئ ورکوئ (او اُوبه ښائی چه زمونږ په ذریعه دے کس څهٔ څهٔ گناهونه کړی دی) د غه وخت به دغه خلق (په حیرانتیا سره) هغوی ته اُووائی چه تاسو زمونږ خلاف ولے گواهی ورکړه؟ (مونږ خو دُنیا کښې ستا سو د مزے او د راحت د پاره گناهونه کول -) هغوی به جواب ورکړی، چه مونږ ته هغے پاک الله دوینا طاقت راکړهٔ، چا چه ټولو څیزونو ته دوینا طاقت ورکړے دے - هُم هغهٔ تاسو اول پیدا کړی یئ، او هُم هغهٔ ته اُوس تاسو واپس کړے شوی یئ - حدیثونو کښې د دے گواهئ کثیر واقعات ذکر کړے شوی دی -

یو حدیث کښې راغلی دی چه د قیامت په ورځ به کافر سره د دے چه خپله بدعملی به پیژنی، بیا به هُم اِنکار اُوکړی، چه ما گناه نه ده کړے - هغهٔ ته به اُوئیلے شی، چه دا ستا گاونډیان په تا گواهی کوی، هغه به اُووائی چه دا خلق د دُشمنئ په وجه دروغ وائی - بیا به ورته اُوئیلے شی، چه ستا خپل خپلوان گواهی کوی هغه به دوی هم دروغژن اُوښائی، نو د هغوی اندامونه به گواه جوړ کړے شی - یو حدیث کښې دی چه د ټولو نه رومبے به پټون گواهی ورکړی، چه څهٔ څهٔ بدعملئ په دے سره کړے شوے وے - یو حدیث کښې دی چه په پُلِ صراط آخری تیریدونکے به د لسے په غورزید و راغوزید و تیریږی، څنگه چه نیچے چه کله یے پلار وَهی او هغه کله د ښخوا پریوزی او کله آخوا - فرښتے به هغهٔ ته اُووائی، چه ښه ده، ...

تهٔ تیغ لاړ شے، په پُلِ صراط تیر شے، نو خپل ټول عملونه به اُوښکیږی؟ هغه به دد ے وعده اُوکړی، چه زما دِ د الله تعالیٰ په عزت قسم وی چه ریښتیا ریښتیا به ټول ښایم، او هیڅ به نهٔ پټوُم۔ ورته به اُوویلے شی چه ښَه دهٔ تیغ اُودریږه، آو روان شَه، هغَه به په اسانتیا په پُلِ صراط تیرشی۔ آو پورے وَتو نه پس به د هغَهٔ نه تپوس اُوشی چه ښَه دهٔ اُوس اُوښایَه، هغَه به سوچ اُوکړی، کچرے ما اِقرار اُوکړهٔ نو هسے نَه چه واپس کړے شم، په دے وجه به صفا اِنکار اُوکړی، چه ما هیڅ بد عمل نهٔ دے کړے۔ فرښتے به اُووائی چه ښَه دهٔ، کچرے مونږ ګواه پیش کړو؟ نو دے به آخوا دیخوا اُوګوری، چه هیڅوک ورځنه نشته۔ خیال به اُوکړی، چه اُوس به ګواه دکومے نه راځی، ټول خپلو خپلو ځایونو ته رسیدلی دی، په دِے وجه به اُووائی چه ښَه دَه، راوَلَه ګواه۔ نو دهٔ اندامونو ته به حکم اُوکړے شی، آو هغوی به ویل شروع کړی۔ نو مجبورًا به دے اِقرار اُوکړی، آو اُویَه وائی، چه بے شکه اُوس هم ډیرهلا ګونګی ګناهونه پاتے دی۔ نو اِرشاد به اُوشی، چه ښَه دهٔ، مونږ اُوبخښلے۔ خلاصه دا چه ددے وُجوهاتو په بِناء ضرورت دے، چه د بنیادم دا اندامونه نیک کارونه هم شوی وی، دپاره ددے چه ددوارهٔ قسمه ګواهان موجود وی۔ ځکه نبی اکرم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ دِے پورتنی حدیث کښ په ګوتو د شمیر کولو حکم کړے دے۔ هم په دِے وجه بل حدیث کښ ځمات ته په کثرت سرهٔ د تللو راتلو حکم دے، چه د قدم لښے به هُم ګواهی ورکوی او د هغے ثواب به لیکلے شی۔ څومرهٔ خوش قسمته دی هغه خلق په چا چه د بدئ ګواه هیڅوک نهٔ وی چه ګناه یے اَړو کړے نهٔ وی۔ یا په توبه وغیره سرهٔ معاف شوی وی۔ او د نیکئ ګواهان په سوُونو زرګونو وی، چه د هغے د ټولو نه اسانه طریقه دا ده چه کله څهٔ ګناه اُوشی، زر په توبے سرهٔ هغَه وُرانه کړئ۔ چه بیا هغه د نیشت په شان شی۔ څنګه چه د دویم باب دریم فصل کښ د حدیث نمبر د رے دیرش ۳۳ د لاندے تیر شوی دی۔ او نیکئ عملنامو کښ باقی پاتے شی، چه د هغے ګواهان هم موجود وی او په کومو کومو اندامونو یے چه دا نیک عملونه کړی دی، هغه ټول ګواهی ورکړی ګنړو حدیثونو کښ په خپله د نبی اکرم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ په ګوتو شمیرل په مختلفو الفاظو سرهٔ نقل کړے شوی دی۔ حضرت عبد الله بن عَمرو رضی الله عنه فرمائی، چه

Maktaba Tul Ishaat.com

نبی اکرم ﷺ به (په کوتو) تسبیح شمېرل. دے نه پس پورتنی حدیث کښ د الله تعالیٰ د ذکرنه غفلت باندے د الله تعالیٰ د رحمت نه د محرومېد و سزا ده. د دے نه معلومیږی چه څوك د الله تعالیٰ د ذکرنه محرومه دی، هغوی د الله تعالیٰ د رحمت نه هم محرومه دی. قرانِ پاك کښ ارشاد دے چه تاسو ما یادوئ، ځهٔ به (د رحمت سره) تاسو یادوم. الله جل شانهٔ خپل یاد د بندهٔ په یاد مرتب کړیدے. قرانِ پاك کښ ارشاد دے، وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ ۝ وَاِنَّهُمْ لَيَصُدُّوْنَهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ۝ (زخرف ع ۴) او چه څوك د الله تعالیٰ د ذکرنه (خواه د څهٔ قسمه وی قرانِ پاك وی یا د څهٔ بل قسمه، قصدًا) ځان ړوند کړی، مونږ په هغهٔ یو شیطان مقررووُ. پس هغه شیطان هر وخت د هٔ سره وی، او هغه شیطان خپلو مرګرو سره یو ځائے شی او په جمع هغه خلق (کوم چه د الله تعالیٰ د ذکرنه ړانده شوی وی د نیغې لارے نه لرے کوی، او دا خلق خیال کوی چه مونږ په هدایت باندے یُو.

حدیث کښ دی چه هر یو کس سره یو شیطان مقرر دے، کافر سره خو هر وخت شریکِ حال وی، خوراك څكاك او اُودهٔ کیدو کښ هم. خو مؤمن نه لږ لرے اوسی، او هر وخت په اِنتظار کښ وی. کله چه دے لږ غافل اُومی زر پرے حمله کوی. بل ځائے اِرشاد دے. يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَاۤ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ (الیٰ آخر السورة) (منافقون ع ۲) اے ایماندارو! تاسو د ستا سو مالونه او اَولاد (او دغه رنګے نور څیزونه) د الله تعالیٰ د یاد نه غافله نهٔ کړی. او کوم خلق چه دا سے اُوکړی، هم هغوی نقصان والا دی. او مونږ چه کوم څهٔ مال دولت درکړے دے د هغے نه (د الله تعالیٰ په لاره کښ) د دے نه وړاندے وړاندے خرچ کوئ، چه تاسو کښ د چا مرګ راشی او بیا (د حسرت او افسوس نه) وایئ چه اے زما پروردګاره! ماته دِ څو ورځے نور مهلت ولے رانکړو، چه ما خیرات کړے وے، او نیکو بندګانو کښ شمار شوے وے. او الله تعالیٰ هیچا ته هم د مرګ وخت راتلو نه پس مُهلت نهٔ ورکوی، او الله تعالیٰ ستاسو د ټولو عملونو نه پوره پوره خبر دے (څنګه چه کوئ بنهٔ یابد، هم هغسے به بیا مُومئ) د الله تعالیٰ داسے بندګان هم شته، چه هغوی هیڅ وخت هم

نهٔ غافله کیږی۔
حضرت شبلی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه مایو ځایٔ اُولیدهٔ، چه یو لیونے سړے دے۔ هلکان یے په لوټو اُولِی، ماترے هغوی اُوشړل۔ هغې هلکانو اُووے چه دا سړے وائی چه زهٔ الله وینم۔ زهٔ د هغهٔ خواته ورغلم، نو هغهٔ څهٔ ویل، ما په غور سره واوریدل، نو هغهٔ ویلے، چه تا ډیر ښهٔ اُوکړهٔ، چه دا هلکان دِ په ما مقرر کړل۔ ما ورته اُووے چه دا هلکان په تا یو تهمت لګوی۔ وے ویل، څهٔ وائی؟ ما اُووے دوی وائی چه تهٔ د الله تعالیٰ د لیدلو دعوی کوے۔ دا یے چه واوریدل نو یوه چغه یے اُووِیستله، اَو دا یے اُووے، شبلی! په هغې ذات م دِ قسم وی چا چه په خپل محبت کښې زهٔ پریشان حاله کړے یم، او خپل فراق او وصال کښې یے زهٔ هوائی کړے یم، چرے لږ ساعت هم هغه مانه غائب شی (یعنی حضوری راته حاصله نهٔ شی) نو زهٔ به د هجر اینځ د دردهٔ ټکړے ټکړے شم، دا یے اُووے مانه یے مخ واړوو، دا شعر یے اُووے او منډه یے کړه۔ ؎
خَيَالُكَ فِيْ عَيْنِيْ وَذِكْرُكَ فِيْ فَمِيْ ؞ وَمَثْوَاكَ فِيْ قَلْبِيْ فَأَيْنَ تَغِيْبُ
"ستا صورت زما په نظر کښې دے او ستا ذکر زما په ژبه هر وخت جاری وی، ستا ځائے زما زړهٔ دے، پس ته څنګه غائب کیدے شے۔"
حضرت جُنید بغدادی رحمۃ اللہ علیہ چه کله وفات کیدهٔ، نو چا ورته د کلمه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ تلقین اُوکړهٔ، وے فرمایل چه ما هیڅ وخت هم هغه نهٔ دے هیر کړے (یعنی یاد خو هغه چاته کوه، چاته چه څهٔ وخت غفلت شوے وی۔)
حضرت مَمشاد دینوری رحمۃ اللہ علیہ مشهور بزرګ دے، کله چه وفات کیدلو نو ور څخه ناستو کسانو کښې چا دُعا اُوکړه، الله تعالیٰ دِ تا ته (د جنت) فلانے فلانے دولت درکړی۔ نو وے خندل، وے فرمایل، چه د دیر شو کالو نه جنت ټول ساز و سامان سره ماته مخکښې ښکاره کیدلو، ما یو ځل هم (د الله جلّ شانهٔ طرفته د توجه نه سوا) اَخوا توجه نهٔ دهٔ کړے۔
حضرت رُدَیم رحمۃ اللہ علیہ نه د وفات په وخت چا د کلمے تلقین اُوکړو، نو وے فرمایل چه زهٔ د هغهٔ غیر لره په ښهٔ شان اَو د پیژنم نه۔
د احمد بن خضرویه رحمۃ اللہ علیہ د وفات وخت وو، چا ترے د څهٔ خبرے تپوس

Maktaba Tul Ishaat.com

اُوکړهٔ، دستړکونه یے اُوښکے رولنے شوے، وے ویل، پنځه کم سلو کالونه یوه دروازه ټکوم، هغه اُوس لرے کیږی، ماته معلومه نه ده، چه هغه په نیک بختئ سره لرے کیږی یا په بد بختئ سره. ماته داوخت دخبرو فرصت چرته دے.

(۱۹) وَعَنْ جُوَيْرِيَةَ رضی اللہ عنہا اَنَّ النَّبِيَّ صلی اللہ علیہ وسلم خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا بُكْرَةً حِيْنَ صَلَّى الصُّبْحَ وَهِيَ فِيْ مَسْجِدِهَا ثُمَّ رَجَعَ بَعْدَ اَنْ اَضْحٰى وَهِيَ جَالِسَةٌ قَالَ مَازِلْتِ عَلَى الْحَالِ الَّتِيْ فَارَقْتُكِ عَلَيْهَا قَالَتْ نَعَمْ قَالَ النَّبِيُّ صلی اللہ علیہ وسلم لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ اَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ مُنْذُ الْيَوْمِ لَوَزَنَتْهُنَّ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ عَدَدَ خَلْقِهٖ وَرِضَا نَفْسِهٖ وَزِنَةَ عَرْشِهٖ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهٖ.

(رواه مسلم كذا في المشكوٰة قال القاري كذا اصحاب السنن الاربعة وفي الباب عن صفية قالت دخل على رسول الله صلى الله عليه وسلم وبين يدى اربعة آلاف نواة اسبح بهن الحديث اخرجه الحاكم وقال الذهبي صحيح)

دمؤمنانو مور حضرت جُویریه رضی الله عنها فرمائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دسحر دمانځه په وخت زما د کوره دمانځه دپاره لاړو او دا په خپله مصلیٰ ناسته وه (تسبیح کښ مشغوله وه) نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د څاښت مانځه نه پس (غرمے ته نزدے) راغے، نو دا هُم په هغے حال کښ ناسته وه، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ترے پوښتنه اُوکړه، ته هم په هغه حال یے، په کوم چه ما پریخودلے وے؟ عرض یے اُوکړه اُوجی. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل، زهٔ چه لتا نه جُدا شوے یم، څلور کلمے م درے وارے ویلی دی، کچرے هغه ستا دنے ټولو په مُقابله کښ اُوتللے شی اکومے چه تا دسحر نه ویلی دی نو هغه په غالبے شی هغه کلمے دا دی. سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ عَدَدَ خَلْقِهٖ وَرِضَا نَفْسِهٖ وَزِنَةَ عَرْشِهٖ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهٖ (د الله تعالیٰ تسبیح کوم، او د هغهٔ تعریف کوم په اندازه د هغهٔ د مخلوقاتو د شمیر، او په اندازه د هغهٔ د مرضئ او د خوشالئ، او په اندازه د وزن د هغهٔ د عرش، او د هغهٔ د کلمو په مقدار.

(۲۰) وَعَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِیْ وَقَّاصٍ رضی اللہ عنہ اَنَّهٗ دَخَلَ مَعَ النَّبِیِّ صلی اللہ علیہ وسلم عَلٰی امْرَاَةٍ وَبَیْنَ یَدَیْهَا نَوًی اَوْحَصًی تُسَبِّحُ بِهٖ فَقَالَ اَلَا اُخْبِرُكِ بِمَا هُوَ اَیْسَرُ عَلَیْكِ مِنْ هٰذَا اَوْ اَفْضَلُ سُبْحَانَ اللّٰهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِی السَّمَآءِ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِی الْاَرْضِ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ عَدَدَ مَا بَیْنَ ذٰلِكَ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ مِثْلَ ذٰلِكَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ مِثْلَ ذٰلِكَ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مِثْلَ ذٰلِكَ وَلَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ مِثْلَ ذٰلِكَ۔

(رواہ ابو داؤد والترمذی وقال الترمذی حدیث غریب کذا فی المشکوٰۃ قال القاری وفی نسخۃ حسن غریب اھ وفی المنہل اخرجہ ایضا النسائی وابن ماجۃ وابن حبان والحاکم والترمذی وقال حسن غریب من ہذا الوجہ اھ قلت وصححہ الذہبی)

بل حدیث کښې دي چه حضرت سعد رضی اللہ عنہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم سره د یوے صحابیه زنانه کره لاړو، د هغې مخکښې د کهجورو هډوکي یا کنکې پراته وو، چه په هغې یې تسبیح ویل۔ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اُوفرمایل زۀ تا ته داسے څیز اُوښایم چه د دغې نه آسان وي (یعنې په کتکو د شمیر نه آسان وي) یا (یې داارشاد اُوفرمایه چه) د دغې نه افضل وي، سُبْحَانَ اللّٰهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ تر آخره پورے۔ د اللہ تعالیٰ تعریف کوم په اندازه د هغې مخلوق کوم یې چه آسمان کښې پیدا کړے دے، او په اندازه د هغې مخلوق کوم یې چه په زمکه کښې پیدا کړے دے، او په اندازه د هغې مخلوق کوم چه د دے دواړو په مینځ کښې دے یعنې د آسمان او زمکے تر مینځه دے، او د اللہ تعالیٰ پاکي بیانوم په اندازے د هغې د کوم چه هغه پیدا کوونکے دے او د هغې تهولو برابر اَللّٰهُ اَكْبَرُ او د هغې په برابري اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، او د هغې په شان لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ۔

فائده: مُلا علی قاری رحمۃ اللہ علیہ لیکلی دي چه په دے کیفیا تو سره تسبیح افضل کیدو مطلب دادے چه د دے الفاظو ذکر کولو سره هغې کیفیاتو او صفاتو طرف ته ذهن مُتوجّه شي۔ او دا ښکاره ده چه څومره سوچ او سمجھ سره لوستل او غور و فکر زیات وي، دومره به ذکر افضل وي۔ په دے وجه قرآنِ پاك کوم چه په سوچ سمجھ سره اُولوستلے شي، هغه لږ غوندے هم د هغې تلاو

Maktaba Tul Ishaat.com

نه پیر زیات افضل او غوره دے، کوم چه بغیر د زور سوچ نه وی. او بعضِ علماؤ ویلی دی چه افضلیت په دے حیثیت سره دے چه په دے کښ د الله تعالیٰ د حمد و ثناد شمیر نه د عاجزیٰ اِظهار دے، کوم چه کمال دے د عَبْدیَت. هم په دے وجه بعضِ صوفیانو نه نقل کړے شوے ده، هغوی وائی چه گناه خو بے حسابه او بے شماره کوے، او د الله تعالیٰ پاك نوم په شمار او په شمار لولے. دد دے مطلب نهٔ دے چه شمیرل نهٔ دی پکار. کچرے داسے وے، نو بیا حدیثونو کښ بے په کثرت خاص خاص وختونو کښ بے شمیروَلے خوړلو. حال دا دے چه پیر و حدیثونو کښ خاص خاص مقدار باندے خاص خاص وعدے شوی دی بلکه د دے مطلب دا دے چه صرف په شمیر صبر کوَل نهٔ دی پکار. بلکه کوم وظیفه چه خاص وخت کښ مقرره ده، د هغې د پوره کولو نه علاوه خالی وختونو کښ هم څومره چه درنه کیدے شی، بے شماره د الله تعالیٰ ذکر کښ مشغولیدل پکار دی، چه دا داسے لویٔ دولت دے، چه د شمیر د پابندوا و دے د حدونو نه پیر اُوچت دے. دے خدیثونو نه د تسپو یعنی په تار کښ د پیلو شوو دانو جائز کیدل ثابتیږی. بعضو خلقو ورته بدعت (د سنت خلاف) ویلی دی. خو او صحیح نهٔ ده. هرکله چه بنیاد یے ثابت دے. نبی اکرم ﷺ په کټکو او (د کجورو) په هډوکو شمیرل اُولیدل او انکار یے پرے اُونکړو، نو بیا بنیاد یے ثابت شو. په تار کښ د پیئلوشوو او نهٔ پیئلوشوو کښ هیڅ فرق نشته. په دے وجه ټول بزرگان او عالمان د دے اِستعمال کوی. مولٰنا عبد الحئی صاحب رحمة الله علیه یوه مستقل رساله نُزْهَةُ الْفِکر د دے باره کښ لیکلے ده.

مُلاعلی قاری رحمة الله علیه فرمائی چه دا حدیث صحیح دلیل دے د تسپو متعارف جائز کیدلو باره کښ. ځکه چه نبی اکرم ﷺ په کټکو یا د کجورو په هډوکو شمیره اُولیدله او انکار یے پرے اُونکړهٔ. دا شرعی دلیل شو. او پرانسټلے دانے یا پیئلے شوو کښ هیڅ فرق نشته دے. په دے وجه کوم خلق چه دے ته بدعت وائی، د هغوی ویناد اِعتماد قابله نهٔ ده. ویلے شی چه د صوفیانو په اِصطلاح کښ تسپو ته د شیطان کروړه وائی. د حضرت جُنید بغدادی رحمة الله علیه په لاس کښ چا په داسے وخت کښ تسپے اُولیدے چه هغه د کمال درجو ته

رسیدلے وُو، نو دهغهٔ نه یې دې بارهٔ کښې تپوس اُوکړهٔ. وې فرمایل چه دکوم څیز په ذریعه مونږ الله تعالیٰ ته رسیدلی یُو، هغه ښنګه پریږدُو. ډیرو صحابو رضی الله عنهم نه دا نقل کړے شوے دهٔ، چه هغوی سره به دکهجورو دهړوکی یا ګټکی وُو، او هغوی به پرے په شمیر تسبیح ویلے. لکه اَبو صفیه رضی الله عنه صحابی نه نقل کړی شوی دی، چه هغهٔ به په ګټکو شمیر کوُلو. دحضرت سعد بن اِبی وقاص رضی الله عنه نه دکهجورو دهړوکی او ګټکی دوارهٔ نقل کړے شوی دی. دحضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه نه هم په ګټکوویل نقل کړے شوی دی. مِرقاة کښې لیکلی دی چه حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه به یو مزے وُو چه په هغې کښې غوټے لګیدلے وے، په هغې به یې دتسبیحاتو شمیر کوُلو. او ابو داؤد شریف کښې دی، چه حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه یوه تهیلۍ وه چه هغه به دکهجورو دهړوکو یا دګټکو نه ډکه وه، په هغې به یې تسبیح کوُله. اَو کله چه به هغه تهیلۍ خالی شوه، نو یوه وینزه وه هغې به ډکه کړه، او بیا به یې هغهٔ سره کیخوده. دخالی کیدو مطلب دا دے چه هغهٔ به دتهیلۍ نه را ایستلے، اَو بهر به یې اَچوُلے، او کله چه به هغه خالی شوه، نو توُلے دانے به هغه وینزے راغونډے کړے، او هغه تهیلۍ به یې ترے ډکه کړه. حضرت اَبُوالدَّرداء رضی الله عنه نه هم دا نقل کړے شوے دهٔ، چه هغهٔ سره یوه تهیلۍ کښې دعجوَه (کهجورو دهړوکی) په جمع وُو، دسحر مونځ به یې چه اُوکړهٔ، هغه تهیلۍ به یې را واخستله، کیبه ناستو، تر هغې وخته پورے به ناست وُو، تسبیح به یې ویلے چه هغه به خالی شوه. حضرت اَبو صفیه رضی الله عنه دنبی اکرام صلی الله علیه وسلم غلام وُو، دهغهٔ مخکښې به یوه خرمنه غوړیدلے وه، په هغې به ګټکی پراته وُو، او د سحر نه د زوال تر وخته پورے به یې په هغې وظیفه کوله، کله چه به د زوال وخت شو، نو هغه خرمنه به اُوچته کړے شوه، دے به څپلو ضروریاتو کښې لګیا شو. دماسپخین دمانځه نه پس به بیا هغه اُوغوړولے شوه، او ماښامه پورے به یې پرے وظیفه کوُله. دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نوُسے نقل کوی چه نیکهٔ څخه م یو مزے وُو چه په هغې کښې دوه زره غوټے لګیدلے وے، تر هغې وخته پورے به نهٔ اُوده کیدهٔ، تر څو چه به یې یو وارے په هغې تسبیح اُونهٔ ویلے. دحضرت امام حُسَین لُور حضرت فاطمه صغری رضی الله عنها نه هم دا نقل کړے شوی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

چه هغځ څخه یو مزے وُو چه په هغې کښ غوټے لګیدلے دے، په هغې به یے تسبیح ویلے۔ دصوفیانو په اصطلاح کښ د تسپو نوم مُذَکِّرَه (وریادونکے) هم دے۔ په دے وجه چه کله دا په لاس کښ وی، نو خامخا ویل پرے زړهٔ غواړی۔ په دے وجه کویاد الله تعالیٰ نوم وریادونکی دی۔ دے باره کښ یو حدیث هم نقل کولے شی چه دحضرت علی رضی الله عنه نه نقل کړے شوے دے چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اُفرمایهٔ چه تسپے څنګه ښهٔ مُذَکِّرَه (وریادونکے څیز) دے، دے باب کښ یو مُسَلسل حدیث حضرت مولٰنا عبد الحئ صاحب رحمة الله علیه نقل کړے دے چه دَ هغې مطلب دا دے چه دمولٰنا نه واخلے پورته پورے هر یو اُستاد خپل شاګرد ته تسپے ورکړے وے، او دهغې دویلو اِجازت یے هم ورکړے دے، آخر کښ دحضرت جُنید بغدادی شاګرد پورے دا سلسله رسی۔ هغه وائی چه ما د خپل اُستاد حضرت جُنید رحمة الله علیه په لاس کښ تسپے اُولیدلے، نو ما ورته اُووے چه تاسو دومره اُوچته مرتبه سره هم تسپے په لاس کښ ساتئ؟ هغهٔ اُوفرمایل چه ما د خپل اُستاد سِرّی سَقَطی رحمة الله علیه په لاس کښ لیدلے وے، نو دهغهٔ نه م هم دا سوال کړے وُو، کوم چه تا اوکړو۔ هغهٔ اُوفرمایل چه ما هم دخپل اُستاذ حضرت معروف کرخیؒ په لاس کښ تسپے لیدلے وے، نو هم دا سوال م ترے کړے وُو، هغهٔ فرمایلی وُو چه ما دخپل اُستاد بِشرِحافی رحمة الله علیه په لاس کښ لیدلے وے، نو هُم دا سوال م ترے کړے وُو۔ هغهٔ اُوفرمایل چه ما دخپل اُستاذ حضرت عُمَر مَکّی رحمة الله علیه په لاس کښ لیدلے وے، نو هم دا سوال م ترے کړے وُو۔ هغهٔ فرمایلی وُو چه ما دخپل اُستاذ حَسَن بصری رحمة الله علیه (چه د ټولے سَلسَلهٔ چِشتیه دبزرګانو مشر دے) په لاس کښ تسپے لیدلے وے، نو ورته م عرض کړے وُو، چه ستا د دے اُوچت شان او لوئ مرتبے سره هم تر اُوسه پورے تسپے ستا په لاس کښ دی، نو هغهٔ اُوفرمایل چه مونږ دتصوّف په شروع کښ د دے نه کار اَخستلے وُو، او د دے په ذریعه مو ترقی حاصل کړے وه، نو دا مو زړهٔ نهٔ غواړی چه اُوس په آخر کښ دا پریږدو، څهٔ غوارم چه په خپل زړهٔ ژبه، لاس سره هرقسمه د الله تعالیٰ ذکر اوکړم۔ په مُحدِّثانه حیثیت کښ دے کښ کلام (خبرے) هم کړے شوی دی۔

(۲۱) عَنِ ابْنِ اَعْبُدٍ قَالَ قَالَ عَلِيٌّ رضی اللہ عنہ اَلَا اُحَدِّثُكَ عَنِّي وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم وَكَانَتْ مِنْ اَحَبِّ اَهْلِهٖ اِلَيْهِ قُلْتُ بَلٰى قَالَ اِنَّهَا جَرَّتْ بِالرَّحٰى حَتّٰى اَثَّرَ فِيْ يَدِهَا وَاسْتَقَتْ بِالْقِرْبَةِ حَتّٰى اَثَّرَ فِيْ نَحْرِهَا وَكَنَسَتِ الْبَيْتَ حَتّٰى اغْبَرَّتْ ثِيَابُهَا فَاَتَى النَّبِيَّ صلی اللہ علیہ وسلم خَدَمٌ فَقُلْتُ لَوْ اَتَيْتِ اَبَاكِ فَسَاَلْتِهٖ خَادِمًا فَاَتَتْهُ فَوَجَدَتْ عِنْدَهٗ حُدَّاثًا فَرَجَعَتْ فَاَتَاهَا مِنَ الْغَدِ فَقَالَ مَا كَانَ حَاجَتُكِ فَسَكَتَتْ فَقُلْتُ اَنَا اُحَدِّثُكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ جَرَّتْ بِالرَّحٰى حَتّٰى اَثَّرَتْ فِيْ يَدِهَا وَحَمَلَتْ بِالْقِرْبَةِ حَتّٰى اَثَّرَتْ فِيْ نَحْرِهَا فَلَمَّا اَنْ جَاءَكَ الْخَدَمُ اَمَرْتُهَا اَنْ تَاْتِيَكَ فَتَسْتَخْدِمَكَ خَادِمًا يَقِيْهَا حَرَّ مَا هِيَ فِيْهِ قَالَ اتَّقِي اللّٰهَ يَا فَاطِمَةُ وَاَدِّيْ فَرِيْضَةَ رَبِّكِ وَاعْمَلِيْ عَمَلَ اَهْلِكِ فَاِذَا اَخَذْتِ مَضْجَعَكِ فَسَبِّحِيْ ثَلٰثًا وَّثَلٰثِيْنَ وَاحْمَدِيْ ثَلٰثًا وَّثَلٰثِيْنَ وَكَبِّرِيْ اَرْبَعًا وَّثَلٰثِيْنَ فَتِلْكَ مِائَةٌ

حضرت علی رضی اللہ عنہ خپل یو شاګرد ته اُوفرمایل چه زهٔ تاته خپل او د خپلې بی بی فاطمې رضی اللہ عنہا چه د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم لور او د ټول کور په خلقو کښ زیاته نیازبینه وه قِصه اُونکړم؟ هغهٔ عرض اُوکړهٔ، ضرور اُوکړئ. وے فرمایل چه: هغې به په خپله میچنه ګوله، چه په هغې سرهٔ یې په لاسونو پولئ راختلې وے. او په خپله به یې داوبو مشک ډک راوړلو، چه په هغې یې په سینه باندے د رسئ نښې جوړ شوے وے. په خپله به یې جارُو وَهله، چه د هغې په وجه به یې جامے خیرنے وے. یو ځل د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم خدمت کښ څهٔ وینزے غُلامان راغلل، ما حضرت فاطمې ته اُووے کهٔ چرے ته د خپل پلار خدمت کښ لاړه شې، یو خادم ترے اُوغوارے، نو ښه به وی، اسانی به شی. هغه لاړه. د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم خدمت کښ د خلقو ګنړه وه نو واپس راغله. نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم دویم ورځ په خپله مونږ کره تشریف راوړهٔ، او وے فرمایل چه ته پرون څهٔ کار له راغلې وے؟ هغه چُپ شوه (له حیاء نه یې څهٔ اُونهٔ وے) ما عرض اُوکړهٔ، اے د الله رسوله! په میچنه یې لاس پولئ شوی دی. د ډک مشک په وجه یې په سینه نښې جوړے شوی دی. د جارو وَهلو په وجه یې جامے خیرنے وی. پرون نا سوخته څهٔ وینزے غُلامان

Maktaba Tul Ishaat.com

فَهِیَ خَیْرٌ لَّكِ مِنْ خَادِمٍ قَالَتْ رَضِیْتُ عَنِ اللّٰهِ وَعَنْ رَسُوْلِهٖ (اخرجه ابوداؤد) وفی الباب عَنِ الْفَضْلِ بْنِ الْحَسَنِ الضَّمْرِیِّ اَنَّ اُمَّ الْحَكَمِ اَوْضُبَاعَةَ ابْنَتَیِ الزُّبَیْرِ ابْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ حَدَّثَتْهُ عَنْ اِحْدٰهُمَا اَنَّهَا قَالَتْ اَصَابَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ سَبْیًا فَذَهَبْتُ اَنَا وَاُخْتِیْ وَفَاطِمَةُ بِنْتُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَشَكَوْنَا اِلَیْهِ مَا نَحْنُ فِیْهِ وَسَاَلْنَاهُ اَنْ یَّاْمُرَ لَنَا بِشَیْءٍ مِّنَ السَّبْیِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ سَبَقَكُنَّ یَتَامٰی بَدْرٍ وَلٰكِنْ سَاَدُلُّكُنَّ عَلٰی مَا هُوَ خَیْرٌ لَّكُنَّ مِنْ ذٰلِكَ تُكَبِّرْنَ اللّٰهَ عَلٰی اَثَرِ كُلِّ صَلٰوةٍ ثَلٰثًا وَّثَلٰثِیْنَ تَكْبِیْرَةً وَّثَلٰثًا وَّثَلٰثِیْنَ تَسْبِیْحَةً وَّثَلٰثًا وَّثَلٰثِیْنَ تَحْمِیْدَةً وَّلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ط (رواه ابوداؤد وفی الجامع الصغیر بروایة ابن مندة عن حابس كان یأمر نسائه اذا ارادت احداهن ان تنام ان تحمد الحدیث ورقم له

راغلی وُو۔ مادے ته ویلی وُو، که چرے یو خادِم اُوغواړے، نو دے مشقتونو کښې به درته اسانی اُوشی۔ نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل اے فاطمے! د الله تعالیٰ نه ویریږه، او د هغهٔ فرض ادا کوه، او د کور کار و بار کوه۔ او کله چه اُوده کیدو د پاره پریوزے، نو سُبْحَانَ اللّٰه درے دیرش ځله، الحمد لله درے دیرش ځله، الله اکبر څلور دیرش ځله وایه۔ دا کلمے د خادم نه بهترے دی۔ هغے عرض اُوکړهٔ چه زهٔ د الله تعالیٰ (په تقدیر او د هغهٔ د رسول ﷺ په تجویز راضی یم بل حدیث کښې د نبی اکرم ﷺ د ترور د دوه ؤُلونړو قصه هم درے قسمه راغلی ده۔ هغوی وائی چه مونږه دوه خویندے او د نبی اکرم ﷺ لور فاطمه رضی الله عنها درے واړه د نبی اکرم ﷺ خدمت کښې حاضرے شو او خپل مشقت او تکلیفونه مو ذکر کړهٔ، یو خادم مو (ترے) اُوغوښتهٔ۔ نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل چه د خادم ورکولو کښې خو د بدر یتیمان لتاسو نه وړاندے دی۔ زهٔ تاسو ته د خادم نه بهتر څیز اُوښایم۔ د هر یو مانځه نه پس دا درے واړه کلمے سُبْحَانَ اللّٰهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ درے دیرش ځلے او یو ځلے لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ وایئ، دا د خادم نه

بالضعف) | بهتر ے دی۔

فائده: نبی اکرم ﷺ په دخپل کورخلقوته اوخپلو خپلوانو ته خصوصًا ددے تسبیحاتو حکم کولو۔ یوحدیث کښ راغلی دی چه نبی اکرم ﷺ به خپلو بیبیانوته داحکم کولو، چه کله داُوده کیدو اراده اُوکړئ، نو سُبْحَانَ اللهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، اَللهُ اَکْبَرُ هریو درے دیرش ځله وایئ۔ یو بل حدیث کښ نبی اکرم ﷺ د دُنیا د مشقتونو او د تکلیفونو په مقابله کښ دا تسبیحات اُوخودل۔ ددے ظاهری وجه خو ښکاره ده، چه د مسلمان د پاره د دُنیا مَشقت او تکلیف قابل د توجُّه نهٔ دے، هغهٔ ته هروخت د آخرت او د مرګ نه پس د راحت او آرام فکر ضروری دے۔ ځکه نبی اکرم ﷺ د بوخو ورځو د ژوند د مَشقت او تکلیف نه بے توجُّه لرے کړه۔ او د آخرت د راحت سامان زیاتولو طرفته بے متوجه کړه او ددے تسبیحاتو نه په آخرت کښ زیات نه زیات فائده مند کیدل دے روایاتو نه کوم چه په دے باب کښ ذکر کړے شوی دی ښکاره دی۔ دے نه علاوه دریمه وجه دا هم کیدے شی چه دے تسبیحاتو نه الله تعالیٰ دا شرافت ورکړے دے، چه یو خوا دینی ګټے او فائدے پرے حاصلیږی، بل خوا د دُنیا ګټے هم پکښ پرتے دی۔ د الله تعالیٰ په پاك کلام کښ، د هغهٔ د رسول ﷺ په پاك کلام کښ ډیرے خیزونه داسے دی چه په هغے کښ آخرت سره سره د دُنیا فائدے هم حاصلیږی۔ لکه یوحدیث کښ راغلی دی چه د دجّال په زمانه کښ به د مؤمنانو خوراك د فرښتو خوراك وی یعنی تسبیح او تقدیس (د سُبْحَانَ اللهِ وغیره الفاظ ویل) خوك چه دا تسبیح وائی الله تعالیٰ به د هغهٔ نه د لوږے مشقت لرے کړی۔ دے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه دے دُنیا کښ بغیر خوراك څښاك د الله تعالیٰ په ذکر ګذاره ممکن کیدے شی۔ او د دجّال په زمانه کښ به عامو مؤمنانوته دا دولت حاصل وی۔ نور دے زمانه کښ د خواصوُ حالت پیدا کیدل [illegible] مشکل نهٔ دی۔ په دے وجه د کومو خلقو نه چه د دے قسمه واقعے پیرے [illegible] ی چه په معمولی خوراك یا بغیر خوراکه هغوی څو څو ورځے تیرے کړی دی، په د [illegible] کښ هیڅ وجه د اِنکار یا د دروغژن والی نشته۔ یو حدیث کښ راغلی دی که چرته اُور اُولګی، نو تکبیر یعنی اَللهُ اَکْبَرُ ډیر ډیر وائی

Maktaba Tul Ishaat.com

دا اُورمرکوی۔ حِصنِ حَصِین کښی نقل کړی دی، چه کله چاته په څهٔ کار کښې تکلیف او مَشقت معلوم شی، یاقوت زیاتول غواړی، نود اُودهٔ کیدو په وخت دِ سُبْحَانَ اللّٰه درے دیرش ځلے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه درے دیرش ځلے اَللّٰهُ اَکْبَر څلور دیرش ځلے وائی، یا دِ درے واړه کلمے درے دیرش درے دیرش ځله وائی یا دِ په کښی یوه له دے نه څلور دیرش ځله وائی (چونکه مختلف حدیثونو کښی مختلف شمیر راغلے دے حُکم ئِ تول نقل کړهٔ)۔ حافظ ابن تیمیّه رحمۃ اللہ علیہ هم دے حدیثونو نه کوموکښ چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم حضرت فاطمے رضی اللہ عنہا ته دخادم په بدل له کښی دا تسبیحا خودلی وُو، دا مسئله ترے را ایستلے ده، چه څوك دا همیشه وائی هغوی ته به دمَشقت په کارونو کښی ستومانی او تکلیف نهٔ وی۔ حافظ ابن حجر رحمۃ اللہ علیہ وائی، که چرے معمولی تکلیف ورته اُوشو، نو بیا به هم پکښی نقصان نهٔ وی، ملا علی قاری رحمۃ اللہ علیہ لیکلی دی چه دا عمل په تجربه ثابت شوے دے چه دا تسبیحات داُودهٔ کیدو په وخت ویل دستومانئ لرے کولو او طاقت زیاتولو سبب ګرزی۔ علامه سُیُوطی رحمۃ اللہ علیہ مِرْقَاةُ الصَّعُوْد کښی لیکلی دی چه درے تسبیحاتو دخادم نه بهتر والے د آخرت په اِعتبار سره هم کیدے شی، چه آخرت کښی به دا تسبیحات څومره فائده مند، پکار راتلونکی او نفع ورکونکی وی، دومره خادم دُنیا کښی پکار راتلونکے او نفع ورکونکے نشی کیدے۔ اَو د دُنیا په اِعتبار سره هم کیدے شی، چه د درے تسبیحاتو په وجه به په کار باندے دومره طاقت اَو همت ورکړے شی چه د خادم نه به هغومره کار نشی کیدے۔ یو حدیث کښی راغلی دی، چه دوه خصلتونه داسے دی چه څوك په هغے عمل اُوکړی، هغه به جنت کښی داخل شی۔ او هغه دواړه ډیر آسان دی، خو په هغے عمل کونکی ډیر کم دی۔ یو دا چه دا تسبیحات دهر مانځه نه پس لس لس واړے اُووائی چه دا په ورځ کښی خو یونیم سل شو خو د اعمالو په تله کښی به پنځلس سوه وی۔ دویم دا چه د اُودهٔ کیدو په وخت سُبْحَانَ اللّٰه، اَلْحَمْدُ لِلّٰه درے دیرش ځله اُووائی او اَللّٰهُ اَکْبَر څلور دیرش ځله وُوائی، چه دا په ورځ کښی سل ځله شوے، او د ثواب په اعتبار سره یو زر شوے۔ چا تپوس اُوکړهٔ اے د اللّٰه رسوله! چه دا ولے په دے عمل کونکی ډیر کم دی، نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اُوفرمایل چه د مانځه په وخت

شیطان راشي، او دا وائي چه فلانے ضرورت دے او فلانے کار دے، او کله چه دا اُوده کیده وو وخت شي، دغه وخت شیطان ورته دیخوا اخوا ضرورتونه وریادوي، چه دهغے په وجه ترے ویل پاتے شي (هیر یے شي). دے حدیثونو کښ دا خبره هم دغور قابله ده چه حضرت فاطمه رضی اللہ عنہا دجنتي زنانو سرداره او ددوارو جهانو دسردار لورده، په خپل لاس په میچنه اوړه کوي، ترد ے چه په لاسونو کښ یے پولئ راختلے وے، په خپله یے اوبه ډکولے راوړلے، ترد ے چه په سینه یے د مشک درسئ نښے جوړے شوے وے په خپله یے دکور جارو وغیره ټول کارکولو، چه په هغے سره به یے هر وخت جامے خیرنے وے. اوړه آغکل، پوړئ پخول خلاصه دا چه ټول کارونه به یے په خپل لاس کول. ایا زمونږ بیبیانے دا ټول کارونه خوځئ، له دے نه نیم هم په خپله کوي. او که چرے نه کوي، نو خومره دغیرت خبره ده چه دچا اقاگانو سردارانو دا ژوندوي، او دهغوي نوم اخستونکو، دهغوي په نوم فخرکونکو ژوند هغوي ته نزدے هم نه وي. پکار خو داوه، چه دخادمانو عمل او ددوي مشقت د اقاگانو نه ځئ مخکښ وے

خو افسوس چه دلته د هغے خواوشا

نزدے هم ورسره نشته ے.

فَإِلَى اللهِ الْمُشْتَكَىٰ وَاللهُ

الْمُسْتَعَانُ ط



Maktaba Tul Ishaat.com

خاتمه

خاتمه کښې یو ډیر اهم او ضروري څیز ذکر کوم، او هم په دے د رساله ختموم د تسبیحات د کوم چه پورته ذکر اُوکړے شو، ډیر ضروري او په دین دُنیا کښې په کار راتلونکی او فائده مند دی، څنګه چه د پورتنو حدیثونو نه معلومه شوه. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د دے د اِهتمام او د فضیلت په وجه د یو خاص مونځ ترغیب هم فرمائیلے دے چه د صَلٰوةُ التَّسْبِیْح (د تسبیح مونځ) په نامه مشهور دے او هم په دے وجه ورته صَلٰوةُ التَّسْبِیْح ویلے شي. چه د تسبیحات په هغے کښې درے سوه ځله ویلے شي. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په ډیر اهتمام او ترغیبونو سره د دے مونځ تعلیم ورکړۀ، لکه چه حدیث کښې راغلی دی.

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنه اَنَّ النَّبِیَّ صلی الله علیه وسلم قَالَ لِلْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ یَا عَبَّاسُ یَا عَمَّاهُ اَلَا اُعْطِیْكَ اَلَا اُمْنِحُكَ اَلَا اُخْبِرُكَ اَلَا اَفْعَلُ بِكَ عَشْرَ خِصَالٍ اِذَا اَنْتَ فَعَلْتَ ذٰلِكَ غَفَرَ اللهُ لَكَ ذَنْبَكَ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ قَدِیْمَهٗ وَحَدِیْثَهٗ خَطَاَهٗ وَعَمَدَهٗ صَغِیْرَهٗ وَكَبِیْرَهٗ سِرَّهٗ وَعَلَانِیَتَهٗ اَنْ تُصَلِّیَ اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ تَقْرَءُ فِیْ كُلِّ رَكْعَةٍ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُوْرَةً فَاِذَا فَرَغْتَ مِنَ الْقِرَاءَةِ فِیْ اَوَّلِ رَكْعَةٍ وَاَنْتَ قَائِمٌ قُلْتَ سُبْحٰنَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم یو ځلے خپل تره حضرت عباس رضی الله عنه ته اُوفرمائیل، اے عباسه! اے زما تره! آیا زۀ تا ته یو عطیه درکړم، یو بخشش اُوکړم، یو څیز درته اُوښایم، تا د لسو څیزونو مالک جوړ کړم، کله چه ته دا کار کوے، نو الله تعالیٰ به ستا ټول ګناهونه، ړومبنی روستنی، زاړۀ او نوی، په غلطئ دِکړی وی یا قصدًا دِکړی وی، واړۀ او لوئ، په پټه دِکړی وی یا ښکاره شوی وی، ټول به معاف کړی. هغه کار دا دے چه څلور رکعته نفل (د صلوٰة تسبیح په نیت) اُوکړه، او هر رکعت کښې کله چه اَلْحَمْدُ او سورت اُووایے، نو د رکوع نه مخکښې سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ پنځلس وارے اُووایه

وَاللّٰهُ اَكْبَرُ خَمْسَ عَشْرَةَ ثُمَّ تَرْكَعُ فَتَقُوْلُهَا وَاَنْتَ رَاكِعٌ عَشْرًا ثُمَّ تَرْفَعُ رَاْسَكَ مِنَ الرُّكُوْعِ فَتَقُوْلُهَا عَشْرًا ثُمَّ تَهْوِيْ سَاجِدًا فَتَقُوْلُهَا وَاَنْتَ سَاجِدٌ عَشْرًا ثُمَّ تَرْفَعُ رَاْسَكَ مِنَ السُّجُوْدِ فَتَقُوْلُهَا عَشْرًا ثُمَّ تَسْجُدُ فَتَقُوْلُهَا عَشْرًا ثُمَّ تَرْفَعُ رَاْسَكَ فَتَقُوْلُهَا عَشْرًا فَذٰلِكَ خَمْسٌ وَّسَبْعُوْنَ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ تَفْعَلُ ذٰلِكَ فِيْ اَرْبَعِ رَكَعَاتٍ اِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ تُصَلِّيَهَا فِيْ كُلِّ يَوْمٍ مَّرَّةً فَافْعَلْ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِيْ كُلِّ جُمُعَةٍ مَّرَّةً فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِيْ كُلِّ شَهْرٍ مَّرَّةً فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِيْ كُلِّ سَنَةٍ مَّرَّةً فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِيْ عُمُرِكَ مَرَّةً۔

بیا چه رکوع اوکړې، نولس وارې هغه کښې اُووایه، بیا چه د رکوع نه اُودریږې، نولس وارې اُووایه، بیا سجده اوکړه، نولس وارې هغه کښې اُووایه، بیا د سجدې نه روستو چه پاسې کښېنه نولس وارې اُووایه، بیا چه دویمې سجدې ته لاړشې، نولس وارې هغه کښې اُووایه، بیا چه د دویمې سجدې نه پاسې نو (دویم رکعت ته) اُودریږه نه مخکښې کښېنه لس وارې په ناستې اُووایه۔ د دې ټولو جمع پنځه اویا شوه۔ دغه مقدار به په هر رکعت کښې پنځه اویا وارې شي۔ که چرې طاقت لرلې شې، نو روزانه یو وارې دا مونځ کوه۔ که دا نشي کیدې، نو هره جمعه یو وارې کوه۔ دا هم نشي کیدې نو هره میاشت کښې یو وارې کوه۔ که چرې دا هم نشي کیدلې، نو په هر کال کښې یو وارې کوه۔ دا هم نشي کیدلې، نو په ټول عمر کښې یو وارې خو اُوکړه۔

(رواه ابوداؤد وابن ماجة والبیهقی فی الدعوات الکبیر وروی الترمذی عن ابی رافع نحوه کذا فی المشکوٰة قلت واخرجه الحاکم وقال هذا حدیث وصله موسی بن عبدالعزیز عن الحکم بن ابان وقد اخرجه ابوبکر محمد بن اسحاق وابوداؤد وابوعبدالرحمٰن احمد بن شعیب فی الصحیح ثم قال بعد ما ذکر توثیق رواته واما ارسال ابراهیم بن الحکم عن ابیه فلا یوهن وصل الحدیث فان الزیادة من الثقة اولی من الارسال علی ان امام عصره فی الحدیث اسحاق بن ابراهیم الحنظلی قد اقام هذا الاسناد عن ابراهیم بن الحکم ووصله اهـ قال السیوطی فی اللآلی هذا اسناد حسن وما قال الحاکم اخرجه النسائی فی کتابه الصحیح لم نره فی شیء من نسخ السنن لا الصغری ولا الکبرٰی)

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) وَعَنْ اَبِی الْجَوْزَاءِ عَنْ رَجُلٍ كَانَتْ لَهٗ صُحْبَةٌ يَرَوْنَ اَنَّهٗ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَمْرٍو قَالَ قَالَ لِیَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِئْتِنِیْ غَدًا اَحْبُوْكَ وَاُثِیْبُكَ وَاُعْطِیْكَ حَتّٰی ظَنَنْتُ اَنَّهٗ یُعْطِیْنِیْ عَطِیَّةً قَالَ اِذَا زَالَ النَّهَارُ فَقُمْ فَصَلِّ اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فَذَكَرَ نَحْوَهٗ وَفِیْهِ وَقَالَ فَاِنَّكَ لَوْ كُنْتَ اَعْظَمَ اَهْلِ الْاَرْضِ ذَنْبًا غُفِرَ لَكَ بِذٰلِكَ قَالَ قُلْتُ فَاِنْ لَّمْ اَسْتَطِعْ اَنْ اُصَلِّیَهَا تِلْكَ السَّاعَةَ قَالَ صَلِّهَا مِنَ اللَّیْلِ وَالنَّهَارِ۔ (رواه ابو داؤد)

یو صحابی وائی چه ما ته نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اُوفرمایل صبا سحر ته راشه، تا ته به یو بخشش کوم، یو څیز به درکوم، یو عطیه به کوم۔ هغه صحابی وائی ما درے الفاظو نه دا اُوګنړل، چه څهٔ (مال) به راکوی (هر کله چه حاضر شوم، نو دے فرمایل چه کله د غرمے نمر اُوګرزی، نو څلور رکعته مونځ اُوکړه، په هغه طریقه یے ورته اُوخودلو، کومه چه رومبی حدیث کښ تیره شوه، او دا یے هم ورته اُوفرمایل کهٔ چرے ته دټولے دُنیا د خلقو نه زیات ګنهګار یے، نو ستا ګناهونه به معاف شی ما عرض اُوکړهٔ کهٔ چرے د غه وخت څهٔ په څهٔ وجه سره اُونکړے شم، نو ارشاد یے اُوفرمایهٔ چه کوم وخت درته کیدے شی ورځ کښ یا شپه کښ، کوه یے۔

(۳) عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ وَجَّهَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ جَعْفَرَ بْنَ اَبِیْ طَالِبٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اِلٰی بِلَادِ الْحَبَشَةِ فَلَمَّا قَدِمَ اِعْتَنَقَهٗ وَقَبَّلَهٗ بَیْنَ عَیْنَیْهِ ثُمَّ قَالَ اَلَا اَهَبُ لَكَ اَلَا اُبَشِّرُكَ اَلَا اَمْنَحُكَ اَلَا اُتْحِفُكَ قَالَ نَعَمْ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ تُصَلِّیْ اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ (فذكر نحوه اخرجه الحاكم وقال اسناد صحيح لاغبار عليه وتعقبه الذهبي بان احمد بن داؤد

نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم د خپل تره ځوئ حضرت جعفر طیار رضی اللہ عنه حبشے ته لیږلے وُو کله چه هغه د هغه ځائے نه واپس مدینے منورے ته راورسیدهٔ، نو نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم هغهٔ ته ورتږ غاړه وته، او په تندی یے خکل کړهٔ، بیا یے ورته اُوفرمایل، ایا زهٔ تا ته یو څیز درکړم یو زیرے درته واوروم، یو بخشش درته اُوکړم، یو تحفه درته درکړم۔ هغهٔ عرض اُوکړهٔ ضرور۔ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اُوفرمایل څلور رکعته مونځ اُوکړه، بیا یے په هغه طریقه ورته اُوخودهٔ کومه چه پورته تیره شوه۔ دے

كذبه الدارقطني كذا في المنهل وكذا قال غيره تبعًا للحافظ لكن في النسخة التي بايدينا

حدیث کښ دے څلور وکلمو سره لَاحَوْلَ وَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ هم راغلي دي

من المستدرك قد صحت الرواية عن ابن عمر ان رسول الله صلى الله عليه وسلم علم ابن عمه جعفرًا ثم ذكر الحديث بسنده وقال في آخره هذا اسناد صحيح لاغبار عليه هكذا قال الذهبي في اول الحديث وآخره ثم لايذهب عليك ان في هذا الحديث زيادة لاحول ولاقوة الا بالله العلي العظيم ايضًا على الكلمات الاربع)

(۴) وَعَنِ الْعَبَّاسِ رضي الله عنه ابْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم اَلَا اَهَبُ لَكَ اَلَا اُعْطِيْكَ اَلَا اَمْنَحُكَ فَظَنَنْتُ اَنَّهٗ يُعْطِيْنِيْ مِنَ الدُّنْيَا شَيْئًا لَمْ يُعْطِهٖ اَحَدًا مِّنْ قَبْلِيْ قَالَ اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ۔

(فذكر الحديث وفي آخره غير انك اذا جلست للتشهد قلت ذلك عشر مرات قبل التشهد الحديث اخرجه الدارقطني في الافراد وابو نعيم في القربان وابن شاهين في الترغيب كذا في اتحاف السادة شرح الاحياء)

حضرت عباس رضی الله عنه فرمائی چه ماته نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل چه زهٔ تاته بخشش اُوکړم، یو عطیه درکړم، یو څیز درکړم، دے وائی: زهٔ بوهه شوم چه د دُنیا څهٔ داسے څیز راکولو اراده یے ده چه بل چاته یے نهٔ دے ورکړے، له دے وجه دا قسمه الفاظ بخشش عطیه وغیره بار بار فرمائی، بیا نبی اکرم صلی الله علیه وسلم څلور رکعته مونځ اُوخودلو، کوم چه پورته تیر شو، په دے کښ یے دا هُم اُوفرمایل چه کله التحیات د پاره کښینې، نو ړومبے دا تسبیحات اُوایه، بیا التحیات وایه۔

قَالَ التِّرْمِذِيُّ وَقَدْ رَوَى ابْنُ الْمُبَارَكِ وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِّنْ اَهْلِ الْعِلْمِ صَلٰوةَ التَّسْبِيْحِ وَ ذَكَرُوا الْفَضْلَ فِيْهِ حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ نَا اَبُوْ وَهْبٍ سَاَلْتُ عَبْدَ اللّٰهِ ابْنَ الْمُبَارَكِ عَنِ الصَّلٰوةِ الَّتِيْ يُسَبَّحُ فِيْهَا قَالَ يُكَبِّرُ ثُمَّ يَقُوْلُ سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى

د حضرت عبد الله بن مبارك رحمة الله عليه او د دیرو عالمانو نه د دے مونځ فضیلت نقل کړے شوے دے او ددے یے دا طریقه نقل کړے ده چه د سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ ویلو نه پس د اَلْحَمْدُ شریف لوستلو نه ړومبے پنځلس ځلے دا کلمے اُوایه بیا اَعُوْذُ بِاللّٰهِ او بِسْمِ اللّٰهِ بیا اَلْحَمْدُ شریف او بیا څهٔ سورت اُوایه، د سورت نه پس د رکوع نه ړومبے لس وارے بیا د رکوع نه چه اُودریږے لس وارے اُووایه، بیا د وارهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

جَدُّكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ ثُمَّ يَقُوْلُ خَمْسَ عَشَرَةَ مَرَّةً سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ ثُمَّ يَتَعَوَّذُ وَيَقْرَأُ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَفَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُوْرَةً ثُمَّ يَقُوْلُ عَشْرَ مَرَّاتٍ سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ

سجده وکښې او دوهم سجده وميږ کښې چه کښينې لس لس وارے اُوايه، دا ټخه اديا پورة شوے ردے حالت کښې دويم سجدے نه پس په ناسته کښې ويلو حاجت پاتے نه شو رکوع کښې پرو ميے سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ او سجدة کښې پرو ميے سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى وايه، بيا دا تسبيحات وايه (دنبي اکرم ﷺ نه هم په دے طريقه نقل کړے شوے دے)

ثُمَّ يَرْكَعُ فَيَقُوْلُهَا عَشْرًا ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهٗ فَيَقُوْلُهَا عَشْرًا ثُمَّ يَسْجُدُ فَيَقُوْلُهَا عَشْرًا ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهٗ فَيَقُوْلُهَا عَشْرًا ثُمَّ يَسْجُدُ الثَّانِيَةَ فَيَقُوْلُهَا عَشْرًا يُصَلِّيْ اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ عَلٰى هٰذَا فَذٰلِكَ خَمْسٌ وَسَبْعُوْنَ تَسْبِيْحَةً فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ ثُمَّ قَالَ قَالَ اَبُوْ وَهْبٍ اَخْبَرَنِيْ عَبْدُ الْعَزِيْزِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّهٗ قَالَ يَبْدَأُ فِي الرُّكُوْعِ بِسُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ وَفِي السَّجْدَةِ بِسُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى ثَلَاثًا ثُمَّ يُسَبِّحُ التَّسْبِيْحَاتِ۔

(قال عبد العزيز قلت لعبد اللہ بن المبارک ان سہا فیہا یسبح فی سجدتی السہو عشرًا عشرًا قال لا انما ہی ثلث مائۃ تسبیحۃ آھ مختصرًا قلت وہکذا رواہ الحاکم وقال رواتہ عن ابن المبارک کلہم ثقات ثبات ولا یتہم عبد اللہ ان یعلمہ مالم یصح عندہ سندہ آھ قال الغزالی فی الاحیاء بعد ما ذکر حدیث ابن عباس المذکور وفی روایۃ اُخرٰی انہ یقول فی اول الصلوٰۃ سبحانک اللھم ثم یسبح خمس عشر تسبیحۃ قبل القراءۃ وعشرًا بعد القراءۃ والباقی کما سبق عشرًا عشرًا ولا یسبح بعد السجود الاخیر وہذا ہو الاحسن وہو اختیار ابن المبارک آھ۔ قال الزبیدی فی الاتحاف ولفظ القوت ہذہ الروایۃ احب الوجہین الی آھ قال الزبیدی ای لا یسبح فی الجلسۃ الاولیٰ بین الرکعتین ولا فی جلسۃ التشہد شیئًا کما فی القوت قال وکذلک روینا فی حدیث عبد اللہ بن جعفر بن ابی طالب ان النبی صلی اللہ علیہ وسلم علمہ صلوۃ التسبیح فذکرہٗ آھ۔ ثم قال الزبیدی واما حدیث عبد اللہ بن جعفر فاخرجہ الدارقطنی من وجہین عن عبد اللہ بن زیاد بن سمعان قال فی احدہما عن معاویۃ واسمٰعیل بن عبد اللہ ابنی جعفر عن ابیہما وقال فی الاُخرٰی عن عون بدل اسمٰعیل عن ابیہما قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم اَلا اُعطیک فذکر الحدیث وابن سمعان ضعیف

وہذہ الروایۃ ہی التی اشار الیہا صاحب القوت وہی الثانیۃ عندہ قال فیہا یفتتح الصلوٰۃ فیکبر ثم یقول فذکر الکلمات وزاد فیہا الحوقلۃ ولم یذکر ہذا السجدۃ الثانیۃ عند القیام ان یقولہا قال وہو الذی اختارہ ابن المبارک آہ قال المنذری فی الترغیب وروی البیہقی من حدیث ابی جناب الکلبی عن ابی الجوزاء عن ابن عمرو (ابن العاص) فذکر الحدیث بالصفۃ التی رواہا الترمذی عن ابن المبارک ثم قال وہذا یوافق ما رویناہ عن ابن المبارک ورواہ قتیبۃ بن سعید عن یحیی بن سلیم عن عمران بن مسلم عن ابی الجوزاء قال نزل علی عبد اللہ بن عمرو بن العاص فذکر الحدیث وخالفہ فی رفعہ الی النبی صلی اللہ علیہ وسلم ولم یذکر التسبیحات فی ابتداء القراءۃ انما ذکرہا بعدہا ثم ذکر جلسۃ الاستراحۃ کما ذکرہا سائر الرواۃ آہ قلت حدیث ابی الجناب مذکور فی السنن علی ہذا الطریق طریق ابن المبارک وما ذکر من کلام البیہقی لیس فی السنن بہذا اللفظ فلعلہ ذکرہ فی الدعوات الکبیر وما فی السنن انہ ذکر اولاً حدیث ابی جناب تعلیقاً مرفوعاً ثم قال قال ابو داؤد ورواہ روح ابن المسیب وجعفر بن سلیمان عن عمرو بن مالک النکری عن ابی الجوزاء عن ابن عباس قولہ وقال فی حدیث روح فقال حدیث النبی صلی اللہ علیہ وسلم آہ وظاہر ان الاختلاف فی السند فقط لا فی لفظ الحدیث وذکر شارح الاقناع من فروع الشافعیۃ صلوٰۃ التسبیح واقتصر علی صفۃ ابن المبارک فقط قال البجیری ہذہ روایۃ ابن مسعود والذی علیہ مشائخنا انہ لایسبح قبل القراءۃ بل بعدہا خمسۃ عشر والعشرۃ فی جلسۃ الاستراحۃ وہذا روایۃ ابن عباس آہ مختصراً وعلم منہ ان طریق ابن المبارک مروی عن ابن مسعود ایضاً لکن لم اجد حدیث ابن مسعود فیما عندی من الکتب بل المذکور فیہا علی ما بسطہ صاحب المنہل وشارح الاحیاء وغیرہما ان حدیث صلوٰۃ التسبیح مروی عن جماعۃ من الصحابۃ منہم عبد اللہ والفضل ابنا العباس وابوہما عباس بن عبد المطلب وعبد اللہ بن عمرو بن العاص وعبد اللہ بن عمر بن الخطاب وابو رافع مولیٰ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم وعلی بن ابی طالب واخوہ جعفر بن ابی طالب وابنہ عبد اللہ بن جعفر وام المؤمنین ام سلمۃ والانصاری غیر مسمّی وقد قیل انہ جابر بن عبد اللہ قال لہ الزبیدی وبسط فی تخریج احادیثہم وعلم مما سبق ان حدیث صلوٰۃ التسبیح مروی بطرق کثیرۃ وقد افرط ابن الجوزی ومن تبعہ فی ذکرہ فی الموضوعات ولذا تعقب علیہ غیر واحد من ائمۃ الحدیث کالحافظ ابن حجر والسیوطی والزرکشی قال ابن المدینی قد اساء ابن الجوزی بذکرہ ایاہ فی الموضوعات کذا فی اللآلی قال الحافظ وممن صححہ اوحسنہ ابن مندہ والف فیہ کتاباً والآجری والخطیب وابو سعد السمعانی وابو موسی المدینی وابو الحسن بن المفضل والمنذری وابن الصلاح والنووی فی تہذیب الاسماء والسبکی وآخرون کذا فی الاتحاف وفی المرقاۃ عن ابن حجر صححہ الحاکم وابن خزیمۃ وحسنہ جماعۃ آہ۔ قلت وبسط السیوطی فی اللآلی فی تحسینہ وحکی عن ابی منصور الدیلمی صلوٰۃ التسبیح اشہر الصلوات واصحہا اسناداً۔)

Maktaba Tul Ishaat.com

فائدہ ۱: صلوٰۃ التسبیح ډیر ضروری مونځ دے چه ددے څهٔ اندازه د پورتنی حدیثونو نه اُوشوه، چه نبی اکرم ﷺ څومره په شفقت او اهتمام بے ددے خودنه کړے ده- د اُمت عُلماؤ، محدّثینو، فقهاؤ، صوفیانو هره زمانه کښں ددے اهتمام کړے دے۔

امامِ حدیث حاکم رحمۃ اللہ علیہ لیکلی دی چه ددے حدیث په صحیح کیدو دا هم دلیل دے چه د تبع تابعینو د زمانے نه زمونږه زمانے پورے مقتدا (پیشوا) حضراتو په دے همیشه والے کړے دے، او خلقوته بے ددے خودنه کړے ده چه په هغے کښں عبد الله بن مبارک رحمۃ اللہ علیہ هم دے! عبد الله بن مبارک رحمۃ اللہ علیہ د اِمام بخاری رحمۃ اللہ علیہ د اُستاذانو اُستاذ دے بیهقی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه د ابنِ مبارک رحمۃ اللہ علیہ نه وړاندے اَبُو الجَوْزاء رحمۃ اللہ علیہ چه قابلِ اِعتماد تابعی دے، ددے اِهتمام به یے کولو- روزانه چه به د ماسپخین اذان اُوشو، نو جُمات ته به لاړلو، او د جمع د مانځه پورے به یے ادا کولو عبد العزیز بن ابی رَوّا د رحمۃ اللہ علیہ چه د ابن مبارک رحمۃ اللہ علیہ هم اُستاذ دے لوئ عابد او زاهِد او متقیانو کښں دے، فرمائی چه څوك د جنت اِراده کوی هغهٔ له ضروری ده چه صلوٰۃ التسبیح مضبوط اُونیسی. ابوعثمان حیری رحمۃ اللہ علیہ چه لوئ زاهد دے، فرمائی چه ما د غمونو او مصیبتونو د لرے کولو د پاره د صلوٰۃ التسبیح په شان بل څیز نهٔ دے لیدلے. علامه تقی سبکی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه دا مونځ ډیر ضروری دے. د بعضو خلقو د اِنکار په وجه چرته د هوکه نهٔ شئ- څوك چه ددے مونځ ثواب واؤری، بیا هم غفلت کوی، هغه د دین په باره کښں سُستی کونکے دے! د صالحانو د کارونو نه لرے دے، هغه پوخ بنده نهٔ دی گنړل پکار- مرقاة کښں لیکلی دی چه حضرت عبد الله بن عباس رضی اللہ عنہما به هره جمعه دا مونځ کولو۔

فائده ۲: بعضے عالمانو په دے وجه ددے اِنکار کړے دے، چه دومره زیات ثواب صرف په څلور رکعته مشکل دے - خصوصاً کبیره (لوئ گناهونه) معاف کیدل، خو چه هرکله روایت د ډیرو صحابه وُنه نقل دے، نو انکار ترے مشکل دے- البته د نورو روایتونو حدیثونو په

وجه د کبیره ګناهونو د معافئ د پاره توبه شرط دَه -

فائده ۳: پورتنی حدیثونو کښ د دے مونځ د ده طریقے خود لے شوی دی - اول دا چه (کله مونځ شروع کړے نو) اَلْحَمْدُ شریف او سورت نه پس پنځلس واره څلور واړه کلیمے سُبْحَانَ اللّٰه ، اَلْحَمْدُ لِلّٰه ، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ، اَللّٰهُ اَکْبَر اُووایه - بیا رکوع کښ د سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْم نه پس لس وارے اُووایه ، بیا چه د رکوع نه پاسے ، د سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ رَبَّنَا لَکَ الْحَمْدُ نه پس لس وارے اُووایه - بیا دواړو سجدو کښ سُبْحٰنَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی نه پس لس لس وارے اُووایه ، او د دواړو سجدو تر مینځه چه کله کښینے ، لس وارے اُووایه - او چه کله د دویمے سجدے نه اَللّٰهُ اَکْبَر اُووایے نو په ځائ د اُودریدو کښینه ، او لس وارے اُووایه ، بیا بغیر د اَللّٰهُ اَکْبَر ویلو اُودریږه ، او دوه وُ رکعتو نه پس هم د غسے د څلورو رکعتونه پس ړومبے دا کلمے لس لس وارے اُووایه ، بیا اَلتَّحِیَّات اُووایه -

دویمه طریقه دا ده چه د سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ نه پس اَلْحَمْدُ نه ړومبے پنځلس وارے اُووایه ، او بیا د اَلْحَمْدُ او سورت نه پس لس وارے اُووایه ، او باقی نوره ټوله طریقه د اَول طریقے په شان ده - البته د دے حالت کښ نه خو دویمے سجدے نه پس د ناستے ضرورت شته او نهٔ د اَلتَّحِیَّات سره دوینا - علما وُ لیکلی دی چه بهتره دا ده چه کله دا سے کوه ، او کله هغسے

فائده ۴: چونکه دا مونځ عام طور رواج کښ نشته ، په دے وجه د دے متعلق څو مسئلے لیکلے شی چه د دے مونځ کونکو ته اسانی شی -

مسئله ۱: د دے مونځ د پاره د قران څهٔ سورت مقرر نشته کوم سورت چه دِ زړهٔ غواړی اُووایه - خو بعض عالمانو لیکلی دی ، چه سورة حدید ، سورة حشر ، سورة صف ، سورة جمعه ، سورة تغابن څلور سورتونه اُووایه - بعض حدیثونو کښ د شلو ایتونو په اندازه راغلی دی ، نو دا سے سورتونه اُووایه چه د شلو ایتونو نزدے وی بعضو اِذَا زُلْزِلَتْ ، وَالْعٰدِیٰت ، تَکَاثُر ، وَالْعَصْر ، کَافِرُوْن ، نَصْر ، اِخْلَاص

Maktaba Tul Ishaat.com

لیکلی دی چه دے سورتونو نه اُووایه۔

مسئله ۲: دا تسبیحات په ژبه هیڅ کله مهٔ شمیره، چه په ژبه شمیرلو سره مونځ ماتیږی، کوتے چه بند ے دی پرے شمیرے، تسپے په لاس کښ واخلے پرے شمیرے، نو دا جائز دی خو مکروه دی۔ بهتره داده چه کوتے دِ خنګه په خپل ځائ پرتے وی، هم هغسے دِ پرتے وی، او په هره یوه کلمه یوے یوے کوتے له هم په هغه ځائ زور ورکوه۔

مسئله ۳: که چرے یو ځائ دا تسبیح ویل درنه هیرشی، نو بل رُکن کښ هغه پوره کړه، البته دهیرشو قضا درکوع نه پاسیدو نه پس او د دوه وُ سجدو تر مینځه مهٔ کوه۔ دغسے اول او د دریم رکعت نه پس که چرے کښینے، نو په هغے وخت کښ هم دهیرشو قضا مکوه، بلکه صرف به دهغے تسبیح وایے، او د هغے نه پس چه کوم رکن وی، په هغے کښ هیرشوے هم اُووایه۔ مثلاً که چرے رکوع کښ دِ ویل هیرشو، نو دغه رومبے سجده کښ اُووایه۔ دغسے که رومبے سجده کښ هیرشو، نو دویمه سجده کښ اُووایه، او د دویمے سجدے دویم رکعت ته چه پاسے اُووایه۔ او که چرے درنه پاتے شی نو اخری قعده کښ د التحیات نه رومبے اُووایه۔

مسئله ۴: که چرے سجده سهوه په څهٔ وجه پیښه شی، نو په هغے کښ دغه لس تسبیحات ویل نهٔ دی پکار۔ ځکه چه مقدار درے سوه دے هغه پوره شو۔ هان! که چرے دے مقدار کښ کمے راشی، نو بیا سجده سهوه کښ اُووایه۔

مسئله ۵: بعض حدیثونو کښ راغلی دی چه د التحیات نه پس د سلام نه رومبے دا دُعا اُووایه۔

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْٓ اَسْاَلُكَ تَوْفِيْقَ اَهْلِ الْهُدٰى وَاَعْمَالَ اَهْلِ الْيَقِيْنِ وَمُنَاصَحَةَ اَهْلِ التَّوْبَةِ وَعَزْمَ اَهْلِ الصَّبْرِ وَجِدَّ اَهْلِ الْخَشْيَةِ	اے الله! زهٔ د تا نه دهدایت والو یه شان توفیق غواړم او د یقین والو عمل، او د توبے والو خلوص غواړم، او د صبر کونکو پوخ راده، او لتا نه د ویریدونکو په شان کوشش (یا احتیاط) غواړم۔ او د

وَطَلَبَ اَهْلِ الرَّغْبَةِ وَتَعَبُّدَ اَهْلِ الْوَرَعِ وَعِرْفَانَ اَهْلِ الْعِلْمِ حَتّٰى اَخَافَكَ اَللّٰهُمَّ اِنِّىْٓ اَسْئَلُكَ مَخَافَةً تَحْجُزُنِىْ بِهَا عَنْ مَعَاصِيْكَ وَحَتّٰى اَعْمَلَ بِطَاعَتِكَ عَمَلًا اَسْتَحِقُّ بِهٖ رِضَاكَ وَحَتّٰى اُنَاصِحَكَ فِى التَّوْبَةِ خَوْفًا مِّنْكَ وَحَتّٰى اُخْلِصَ لَكَ النَّصِيْحَةَ حُبًّا لَّكَ وَحَتّٰى اَتَوَكَّلَ عَلَيْكَ فِى الْاُمُوْرِ حُسْنَ الظَّنِّ بِكَ سُبْحَانَ خَالِقَ النُّوْرِ رَبَّنَا اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا وَاغْفِرْ لَنَا اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ط بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِيْنَ ط

رغبت کونکو په شان طلب، او د پرهیزګارانو په شان عبادت او د عالمانو په شان معرفت او تر دې چه له تا نه اُویرېږم، اے الله ! دا سے ویره چه ما ستا د نافرمانئ نه منع کړی، او تر دې چه ستا په اطاعت دا سے عمل اوکړم، چه د هغې په وجه ستا د رضا او د خوشالئ حقدار جوړ شم، او تر دې چه د خلوص توبه ستا له ویرے اُوباسم۔ او تر دې چه د رښتنی اِخلاص ستا د محبت له وجے اُوکړم۔ او تر دې چه ستا سره د نیک ګمان په وجه په تا توکل اُوکړم۔ اے د نُور پیدا کونکیه ! ستا ذات پاک دے اے زمونږ ربه ! مونږ ته کامل نُور راکړے، او ته زمونږ بخښنه اُوکړے۔ ته بے شکه په هر څیز قادر یے۔ اے اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ په خپل رحمت سره مو درخواست قبول کړے۔

رواه ابو نعیم فی الحلیة من حدیث ابن عباس ولفظه اذا فرغت قلت بعد التشهد قبل التسلیم اللهم الخ کذا فی الاتحاف وقال اورده الطبرانی ایضًا من حدیث العباس وفی سنده متروک اه قلت زاد فی المرقاة فی آخر الدعاء بعض الالفاظ بعد قوله خالق النور زدتها تکمیلًا للفائدة۔

مسئله ۶

د دے مونځ د مکروهه وختونو نه علاوه باقی د ورځے د شپے ټولو وختونو کښې کول جائز دی۔ البته د زوال نه پس کول یے زیات بهتر دی۔ بیا په ورځ کښې څه وخت بیا د شپے۔

مسئله ۷: څنګه حدیثونو کښې د دریمے کلمے سره لَاحَوْلَ هم ذکر کړے شوے دے، ځکه چه پورته دریم حدیث کښې تیر شوی دی په دے وجه کله کله ورسره دا زیات کړی نو ښه ده۔ وَاٰخِرُ دَعْوٰنَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط



اردو کښې لیکونکے
محمد زکریّا
کاندهلوی
تاریخ د لیکلو
شپه د جُمعے ۲۶ / شوال
سنه ۱۳۵۸ھ
مطابق
۸ / دسمبر سنه ۱۹۳۹ء

کتبه
العبد الفقیر
محمد ولی الدین
ډاک خانه
چغرمټی اضاخیل
تحصیل وضلع
پشاور
۹-۵-۲۰۰۸

پښتو کښې ترجمه کوونکے
میاں محمد شفیق غُفِرلهٗ
(چارسده)
تاریخ د ختمیدو و نظرِ ثانی
ورځ د ګل (پیر) ۱۲ ربیع الاول
سنه ۱۴۱۷ھ
مطابق
۲۹ / جولائی سنه ۱۹۹۶ء



قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمْ بَلِّغُوْا عَنِّیْ وَلَوْ اٰیَةً (رواه البخاری)

ؤرسوئ ځما له طرفه اګر که یو آیت یعنی یوه خبره وی

پښتو

فضائل تبلیغ

تالیف

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمه الله

مترجم

میاں محمد شفیق رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat.com

دمضامینو فهرست

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ

تمهيد

د الله جل جلالهٗ ثنا او صفت او نبي اکرم صلی الله علیه وسلم باندے د درود او سلام نه پس د مُجَدِّدِ دِينِ اِسلام يو نوراني جوهر د عالمانو او بزرګانو د زمانے ځَلِيد ونکے ملغلرے (يعنې حضرت مولانا محمد الياس رحمة الله عليه) ما ته اُو فرمايل چه د دين د تبليغ د ضرورت متعلق په مختصر طور څو اٰيتونه او حديثونه اُوليکم، او ورته پے وړاندے کړم۔ چونکه ماغوندے ګنهګار د پاره د داسے حضراتو رضامندي او خوشالي د نجات وسيله او د ګناهونو کفاره کيدلے شي، په دے وجه په جلتۍ ليکلے شوے نفع رسونکے يوه مجموعه په خدمت کښ وړاندے کوم او دهرے يوے اِسلامي مدرسے، اسلامي انجمن، اِسلامي سکول او هريو اسلامي طاقت بلکه هريو مسلمان ته عرض دے، چه دا وخت د دين زوال څومره قدرے چه ورځ تر ورځه په زياتيدو دے، په دين باندے يو اٰځے د کافرانو له طرفه نه بلکه په خپله د مسلمانانو له طرفه حملے کيږي، په فرائضو او واجباتو عمل کول نه يواځے د عامو مسلمانانو نه بلکه لږ خاصو او په خاصو کښ خاص مسلمانانو نه پاتے کيږي۔ د مونځ روژے د پرېښودو به څه وايې، چه په لکهونو خلق ښکاره کفر او شرک کښ اٰخته دي، او غضب دا دے چه دا کفر او شرک نه ګڼړي۔ د حرامو او بدو کارونو عام کيدل څومره په صفا او واضح طريقے سره زياتيږي، او د دين نه بے پرواهي بلکه سپکاوے او دين پورے توقے چه څومره عامے کيږي، دا د هيڅ يو کس نه پټه نه ده۔ په دے وجه د خاصو

Maktaba Tul Ishaat.com

عالمانو بلکه دعامو عالمانو هم دخلقو نه ډېره کوّل او نفرت زیاتیږی چه ددے لازمی اثر دا پیدا شو چه ددین او دینی علم نه ناپوهتیا ورځ په ورځ زیاتیږی عوام خپل ځان معذره ګنړی، چه ددی ته څوك خودونکی نشته - او عالمان خپل ځان معذور ګنړی، چه ددوی څوك اوریدونکی نشته - لیکن د الله جل شانهٔ په نزد نهٔ دعوامو دا عذر کافی کیدے شی چه چا ته خودلی نهٔ وُو ځکه چه ددینی کارونو معلومول او تحقیق کوّل دهریوکس خپل فرض دی - د قانون نه د ناخبرئ عذر په هیڅ یو حکومت کښ معتبر نهٔ دے - د اَحْکَمُ الْحَاکِمِیْن په دربار کښ به دا فضول عُذر څنګه اُوچلیږی دا خود "عذرِ گناه بدتر از گناه" په شانے دے - دغسے دعالمانو دپاره داجواب هیڅ کله مناسب نهٔ دے چه څوك اوریدونکے نشته - دکومو پخوانی مشرانو دنیابت چه تاسو حضرات دعویداره یئ، آیا هغوی دتبلیغ دخاطره هرڅهٔ نهٔ دی برداشت کړی، په کاڼړو نهٔ دی ویشتلے شوی؟ کنځل یے نهٔ دی آوریدلی؟ مصیبتونه یے نهٔ دی زغملی؟ هرقسمه تکلیفونو نه پس دخپل تبلیغی ذمه دارو احساس یے فرمایلے دے او خلقو ته یے دین رسَوُلے دے، دهر سخت نه سخت مخالفت سره یے په ډیر شفقت د اسلام او دهغے داحکامو خورَوُل کړی دی -

عام طور مسلمانانو تبلیغ عالمانو پورے خاص کړے دے، حال دا دے چه دا صحیح نهٔ ده، بلکه هرهغه کس چه دهغهٔ په مخکښ څهٔ ناروا کاریږی او هغه د هغے دمنع کولو وَس لری، یا دهغے دمنع کولو اسباب پیدا کولے شی د هغهٔ په ذمه واجب دی چه هغه دِ منع کړی، که فرض کړو دا اُومنلے شی چه دا دعالمانو کار دے، بیا هم هرکله چه هغوی دخپلے کمزورئ نه یا دڅهٔ مجبورئ نه دا حق نهٔ پوره کوی، یا هغوی نه پوره کیدے نهٔ شی، نو ضروری ده چه د هریوکس په ذمه دا فریضه لازمی شی - په قران او حدیث کښ چه څومره په اِهتمام د تبلیغ او د اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْف او نَهِی عَنِ الْمُنْکَر ارشادات فرمایلے شوی دی، هغه ددے آیتونو او حدیثونو نه ظاهره ده، چه کوم په راتلونکو فصلونو کښ راروان دی - په داسے حالت کښ صرف د عالمانو په ذمه لګول یا دهغوی کمزوری خودلو سره هیڅوك د ذمه وارئ نه نهٔ خلاصیږی - دےد

پاره زما عام درخواست دے چه هر یو مسلمان ته داوخت په تبلیغ کښې څۀ نۀ څۀ حصه اخستل پکار دی، او ځو مره وخت چه د دین په تبلیغ او حفاظت کښې لګولے شي لګول یې پکار دی. ـه

هر وقت خوش که دست دهد مغتنم شمار ÷ کس را وقوف نیست که انجام کار چیست

هر یو شۀ وخت چه په لاس درشي غنیمت یې اوګڼړه، ځکه چه هیچا ته پته نشته چه انجام څۀ کیدونکے دے.

دا معلومول او ځان پرے پوهول هُم ضروری دی چه د تبلیغ د پاره یا اَمَر بِالمَعرُوف او نَهِی عَنِ المُنکَر د پاره پوره کامل او مکمل عالم کیدل ضروری نۀ دی. هر هغه کس چه په څۀ مسئله پوهیږی، هغه دِ نورو ته رسَوی بلکه چه دهغۀ دُوړاندے څۀ ناروا کار کیږی، او هغه د دے د منع کولو وَس لری نو د هغے منع کول په دۀ باندے واجب دی.

په دے رساله کښې م په مختصر طور اووۀ فصلونه ذکر کړی دی.

اَوَّل فصل

کښې د برکت حاصلولو د پاره د الله جل جلالهٗ بر کتناك کلام (قرآن شریف) نه د یو څو ایتونو ترجمه چه په هغے کښې د تبلیغ او د اَمَر بِالمَعرُوف ترغیب او تاکید فرمایلے شوے دے، پیش کوم. چه د هغے نه د دے اندازه کیدے شي چه په خپله الله جل جلالهٗ ته د دے څومره اِهتمام دے چه د دے د پاره یې په مختلفو طریقو سره په خپل کلام پاك کښې بیا بیا وینا کړے ده. تقریبًا شپیته ایتونه خو زما په کم نظر سره د دے په ترغیب او صفت کښې تیر شوی دی. بیا چرے څوك باریك نظر په غور سره اُوګوری، معلومه نۀ ده چه څومره ایتونه به ورته معلوم شي، چونکه د هغے ټولو ایتونو به دے ځائې کښې جمع کول په سبب اُوږدوالی شي، ځکه په یو څو ایتونو بس والے کوم.

(١) قَالَ اللّٰهُ عَزَّاسمُهٗ وَمَن اَحسَنُ قَولًا مِّمَّن دَعَآ اِلَی

او د هغۀ نه بهتره خبره د چا کیدے شي څوك چه الله تعالیٰ طرف ته بلنه کوی او

Maktaba Tul Ishaat.com

اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِیْ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ (پ۲۴-ع۱۹)	نیک عمل کوی او وائی چه بے شکه زهٔ د مسلمانانو نه یم - (بیان القرآن)

مُفَسِّرینو لیکلی دی کوم کس چه اللّٰه تعالیٰ طرف ته څوك راوبلی هغه ددے زیری او دصفت حقدار دے، خواه په هره طریقه یے راوبلی - مثلاً انبیاء علیهم السلام په مُعجزو وغیره سره رابللی، او عالمان په دلیلونو سره او مُجاهدین په توروسره، او آذان وَیُونکی په آذان سره. غرض داچه هر څوك چه خیر طرف ته رابلل اُوکړی، هغوی په دے کښ داخل دی، برابره خبره ده چه ظاهری اعمالو طرفته یے رابلی یا باطنی عملونو طرفته - لکه پیران صاحبان د اللّٰه تعالیٰ پیژندګلو طرفته بلنه کوی - (خازن)

مُفَسِّرینو داهم لیکلی دی چه قَالَ اِنَّنِیْ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ کښ دے طرفته اِشاره ده چه مسلمان کیدو سره دِفخر هم وی، او داد ځپل ځان دپاره سبب دعزت هم ګنړی، او ددے اِسلامی اِمتیاز دِ په فخروعزت سره ذکرهم کوی -

بعض مفسرینو داهم اِرشاد فرمایلے دے چه مقصد دادے چه په دِ وعظ ونصیحت او تبلیغ دِ ځان ته لویه هستی نهٔ وائی بلکه دادِ وائی چه د عامو مسلمانانو نه یو مسلمان زهٔ هم یم -

﴿۲﴾ وَّذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِیْنَ ط (پ۲۷-ع۲)	(اے محمد صلی اللّٰه علیه وسلم) خلق پوهه کوه ، ځکه چه پوهه کول مؤمنانو ته نفع رَسَوی-

مُفَسِّرینو لیکلی دی چه ددے نه دقرانِ پاك ایتونه او روُلوسره نصیحت کول مقصود دی چه د انفع رَسَوَنکے دے - مؤمنانو دپاره خوشکاره خبره ده - او کافرانو دپاره هم په دِے لحاظ سره چه هغوی په اِنشاء اللّٰه ددے په ذریعه په مؤمنانو کښ داخل شی، او اِیت به په هغوی رلبښتنے شی -

زمونږ په دے زمانه کښ د وعظ ونصیحت لاره تقریباً بنده شوے ده - د وعظ مقصد عموماً مزیدار تقریر کرزیدلے دے چه اوریدونکی یے صِفت اُوکړی، حال داچه د نبی اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم اِرشاد دے چه څوك تقریر او بلاغت دِے د پاره زده کوی چه خلق ځان ته مائله کړی، نو د قیامت په ورځ به د هغهٔ هیڅ یو عبادت قبول نهٔ وی نهٔ فرض نهٔ نفل -

(۳) وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَا نَسْئَلُكَ رِزْقًا نَحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى (پ ۱۶ - ع ۱۷)

(اے محمد صلی اللہ علیہ وسلم) خپل اهل وعیال ته د مانځه حکم کوه، او په خپله یې هم پابندی اُوسه، مونږ تا نه روزی نهٔ غواړو، روزی خو به تا ته مونږ درکوو، او بهترا انجام خو د پرهیزګارۍ دے۔

په ګڼرو روایتونو کښې دا مضمون راغلے دے چه کله به نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ته د چا د روزۍ تنګسیا له رے کولو فکر شو، نو هغهٔ ته به یې د مانځه تاکید اُوفرمایلو او دا پورتنئ ایت به یې تلاوت کړو، ګویا دے طرف ته به یې اِشارهٔ اُوکړه چه د روزۍ د فراخۍ وعده د مانځه اِهتمام سره تړلے ده۔

عالمانو لیکلی دی چه په دے ایتِ شریفه کښې د مانځه حکم کولو سره په خپله په هغے باندے د اهتمام کولو حکم دے، دا د دے د پاره فرمایلے شوی دی چه دا ډیره زیاته فائده منده ده چه د تبلیغ سره سره د کوم څیز چه بل ته حکم کولے شی په خپله هم په هغے باندے اِهتمام او پابندی اوکړے شی، چه په دے سره په نورو باندے اثر هم زیات کیږی او د نورو د اِهتمام سبب ګرزی۔ حکمه یې د هدایت د پاره انبیاء علیهم السلام رالیږلی دی چه هغوی د نمونے په طور خانونه پیش کړی، نو عمل کونکو ته به عمل کول اسان شی، او دا شک شبهه (به) زړهٔ کښې) نهٔ تیریږی چه فلانکے حکم مشکل دے په هغے عمل چرته کیدے شی۔

دد ے نه پس د رزق د وعدے کولو مصلحت (او فائده) دا ده چه مونځ په خپلو وختونو کښې اهتمام کولو سره ډیر ځله په اسبابو د معاش اُوګډوډان کښې په ظاهره سبب د نقصان معلومیږی خصوصًا تجارت او مُلازمت وغیره کښې حکمه یې دا شک ورسره له رے کړو چه دا زمونږ په ذمه دی۔ دا ټول د دُنیوی کارونو په اِعتبار سره دی۔ پس له دے نه یې په طور د قاعدے کُلیے اُوسکارهٔ کار یې اُوفرمایل چه بهترین انجام خو بس متقیانو د پاره دے، په هغے کښې د بل چا هیڅ شرکت نشته۔

(۴) يٰبُنَيَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ وَاْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ

ځویه! مونځ کوه او د ښو کارونو نصیحت نو او د بدو کارونو نه منع کوه، او په تا چه څهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاصْبِرْ عَلٰی مَآ اَصَابَکَ ط اِنَّ ذٰلِکَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ۝ (پ ۲۱ - ع ۱۱)	مصیبت راشي په هغې صبر کوه، دا د همّت د کارونو نه دي. (بیان القرآن)

په دے آیت شریفه کښې یے ډیر ضروري کارونه ذکر کړي دي، او په حقیقت کښې دا کارونه ډیر اَهم او ضروري دي، د تهولو کامیابو ذریعه دا خو مونږه خلقو دا څیزونه بالکل شاته غورزولي دي. دامَرْ بِالْمَعْرُوف په څۀ ذکر کوے، داخو تقریباً د تهولو په نزد پرېخودلے شوے دے، مونځ چه په تمامو عبادتونو کښې د تهولو نه زیات اَهم او ضروري دے، او د ایمان نه پس د تهولو نه مخکښې دے درجه دۀ، دے نه هم خو مره غفلت کولے شي، هغه خلق پرېږده چه کوم بیلما زه دي، مونځګذار هم د دے پوره اِهتمام نکوي، خصوصًا د جُمع مونځ چه ورته اِقَامَةُ الصَّلٰوة سره اِشاره دۀ، داخو صرف د غریبانانو د پاره پاتے شوے دے، امیرانو او دولتمند خلقو د پاره جُماعت ته تلل ګویا شرم ګرزیدلے دے. فَاِلَی اللّٰهِ الْمُشْتَکٰی۔ ؎

آن چه عارِ تست او فخرِ من است

"کوم چه شرم ستا دے هغه فخر دے زما"

﴿۵﴾ وَلْتَکُنْ مِّنْکُمْ اُمَّةٌ یَّدْعُوْنَ اِلَی الْخَیْرِ وَیَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَیَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْکَرِ ط وَاُولٰٓئِکَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ (پ۴ - ع ۳)	او لتا سو نه یو داسے جَماعت ضروري دے چه نیکۍ طرف ته بلنه کوي، او د ښۀ کارونو کولو حکم کوي، او د بد کارونو نه منع کول کوي. او دغه خلق به پوره کامیاب وي.

الله جل شانهٗ په دِے آیتِ شریفه کښې دیو ډیر ضروري مضمون حکم کړے دے، هغه دا چه د اُمت نه دِیوه ډله د دے کار د پاره مخصوصه وي چه هغه د اسلام طرف ته خلقو ته تبلیغ کوي. دا حکم خو د مسلمانانو د پاره وُو. خو افسوس دے چه دا اصل کار مونږ خلقو د سَر نه پرتے دے او نورو قومونو په ډیر اهتمام سره دا نیولے دے. د نصارٰی (عیسایانو) مستقل جماعتونه په دُنیا کښې د تبلیغ د پاره مخصوص دي. او هم داسے په نورو قومونو کښې د دے کار

دپاره مخصوص کارکوُنکی موجود دی - خو آیا په مسلمانانو کښې هُم چرته دا سې جماعت شته؟ ددے جواب که په ناکښې نهٔ وی، نو په آوُ کښې هم مشکل دے که چرے بوه ډله یا یو کس دے دپاره پاسی، نو په ځائی د اِمداد او ربا ندے دا سے اِعتراضونه کوُل شروع شی چه هغه کهُنن نهٔ وی، نو صبا ته سترے شی کښینی - حال داچه دخیرخواهئ دپاره داضروری وه چه دهغهٔ مدد کوُلے شوے، او دهغهٔ دکمزورو اِصلاح کوُلے شوے نهٔ داچه په خپله هم څهٔ کار نهٔ کوئ او کارکوُنکی د اعتراضونو نښه جوړه کړی، او دکارکولو نه یے گویا منع کړی -

(٦) کُنۡتُمۡ خَیۡرَ اُمَّةٍ اُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَ تَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡکَرِ وَ تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِؕ (پ۴ - ع ۲)

تاسو بهترین اُمت یئ چه خلقوته (فائدے رسوُلو) دپاره اِیستلے شوی یئ، تاسو نیک کارحکم کوئ، او له بد و کارونو نه منع کوئ او په الله تعالیٰ باندے ایمان لرئ -

(بیان القرآن او ترجمهٔ عاشقی)

دمسلمانانو اَشۡرَفُ النّاس او د اُمتِ محمدیه اشرف الاُمم کیدل په کثرو حدیثونو کښې په ښکاره طور سره راغلی دی، دقرآن شریف په آیتونو کښې هم په څو ځایه دا مضمون په ښکاره او اِشارةً بیان کړے شوے دے - په دے آیتِ شریفه کښې هُم د خَیۡرَ اُمَّةٍ خطاب فرمایلے شوے دے، او ورسره یے ددے وجې طرف ته هُم اِشاره فرمایلے ده، چه تاسو بهترین اُمت یئ ځکه چه تاسو اَمۡرٌ بِالۡمَعۡرُوۡف او نَهۡیٌ عَنِ الۡمُنۡکَر کوئ -

مفسرینو لیکلی دی چه په دے آیتِ شریفه کښې اَمۡرٌ بِالۡمَعۡرُوۡف او نَهۡیٌ عَنِ الۡمُنۡکَر یے د ایمان نه هم وړمبے ذکر کړو، حال داچه ایمان د ټولو خیرونو بنیاد دے، او بغیر ایمانه هیڅ یوه نیکی معتبره نهٔ ده - ددے وجه داده چه په ایمان کښې تیرشوی اُمتونه هم شریک وو- دا خاص خصوصیت چه دهغے په وجه دټولو پیغمبرانو علیهم السلام اُمتونو نه اُمتِ محمدیه ته اُوچتوالے حاصل دے هغهٔ دا اَمۡرٌ بِالۡمَعۡرُوۡف او نهی عن المنکر دے چه ددے اُمت خصوصی نښه ده، او چونکه بے د ایمان نه هیڅ یوه نیکی معتبره نهٔ ده - نو دِ دپاره ورسره یے په طورِ شرط ددهٔ هم ذکر اُوکړو - گنی اصل مقصود په دے

Maktaba Tul Ishaat.com

ایتِ شریفه کښې هم دغې ذکرکولو، او هم هغه داخاے بیانول مقصد دے، حُکم یې هغه ړومبے ذکرکړو۔

د دے اُمت د پاره دخصوصي ښیګړو او مطلب دا دے چه د دے خاص اهتمام اوکړے شي اګنی هسے چرته په ګرزیدو راګرزیدو کښې بغیر د اهتمام نه تبلیغ کول په دے کښې ته کافی کیږی، حُکم چه د کارخو په ړومبنو اُمتونو کښې هم مونډلے شو چه هغه یې فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ وغیره ایتونو کښې ذکر کړی دی، خطاب په مخصوص اهتمام دے چه دا مستقل کار اوګڼړی او د دین د نورو کارونو په شان په دے کښې مشغول اُوسی۔

(۷) لَا خَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ اِلَّا مَنْ اَمَرَ بِصَدَقَةٍ اَوْ مَعْرُوْفٍ اَوْ اِصْلَاحٍۭ بَيْنَ النَّاسِ ۭ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ ابْتِغَاۗءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝

(پ ۵ ۔ ع ۱۷)

دعا مو خلقو په اکثرو پټو خبرو کښې خیر (او برکت) نه وی، خو کوم خلق چه داسے دی چه د صدقے خیرات یا د بل یو نیک کار یا د خلقو په مینځ کښې د اِصلاح کولو ترغیب ورکوی (او د دے تعلیم او ترغیب د پاره پټ تدبیرونه او مشورے کوی البته د هغوی په مشورو کښې خیر و برکت شته) او هر څوک چه دا کار (یعني د نیکو عملونو ترغیب ورکول صرف) د الله تعالیٰ د رضا د پاره کوی (نه چه د لالچ او د شهرت په غرض) نز دے دا چه هغهٔ ته به مونږ لوئ اجر ورکړو۔

په دے ایت کښې الله جلّ شانهٗ د اَمْرِ بِالْمَعْرُوْفِ کوُنکو د پاره د لوئ اجر وعده کړے ده۔ او کوم اجر ته چه الله جلّ شانهٗ لوئ اجر اُووائی، د هغې اِنتهاء چرته کیدے شي (یعني نه ختمیږی)۔

د دے ایتِ شریفه په تفسیر کښې د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم وینا نقل کړے شوے ده چه د بنیادم هره خبره په دهٔ باندے وبال دے خو دا چه اَمْرِ بِالْمَعْرُوْفِ او نَهِي عَنِ الْمُنْكَرِ وی، یا د الله تعالیٰ ذکر وی۔

په نورو حدیثونو کښې د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم وینا ده چه ایا زهٔ تاسو ته داسے یو څیز اُونهٔ ښایم چه د نفلی مونځ، روژے، صدقے د ټولو نه بهتر وی۔

اصحابو رضی اللہ عنہم عرض اوکړو، ضرور اُووایئ۔ نبی علیہ الصلوٰۃ والسلام اُوفرمایل، چه د خلقو روغه کول، ولے چه په خپلو کښ یو تر بله وَرانی اَو دُشمنی نیکئ داسے صفا کوی څنګه چه (دَنایانو) چاړهٔ وِینیسته صفا کوی۔ نور هُم په ډیرو ایتونو کښ د خلقو په مینځ کښ د صُلح کولو په باره کښ تاکید کړے شوے دے۔ په دے ځائ کښ د هغے ذکر مقصود نه دے۔ دِے ځائ کښ د دے خبرے بیانول مقصود دی چه اَمر بالمعروف کښ دا هم داخل دی چه د خلقو په مینځ کښ د صُلح شکل په کومه طریقه پیدا کولے شی، د دے دِ هم ضرور اِهتمام اُوکړے شی۔

دُوَیم فصل

کښ د هغے حدیثونو نه د بعضو ترجمه ده چه د پورتنی مضمون متعلق راغلی دی، د ټولو حدیثونو جمع کول مقصود دی اونه کیدے شی۔ دا هم ده که چرے په څهٔ زیات مقدار کښ ایتونه حدیثونه جمع کړے شی، نو د دے ویره ده چه کوری به یے څوک؟ نن صبا د لسے کارونو د پاره چا ته فُرصت دے او چا سره وخت دے۔ صرف د دے خودنے د پاره اونا سو حضراتو ته د رَسُولو د پاره چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم څومره په اهمیّت د دے تاکید کړے دے۔ اَو د نه کیدلو په صورت کښ یے څومره سخته سزا او زورنه کړے ده۔ یو څو حدیثونه ذکر کولے شی۔

(۱) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ نِ الْخُدْرِیِّ رضی اللہ عنہ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم یَقُوْلُ مَنْ رَّاٰی مِنْکُمْ مُنْکَرًا فَلْیُغَیِّرْهُ بِیَدِهٖ فَاِنْ لَّمْ یَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهٖ فَاِنْ لَّمْ یَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهٖ وَذٰلِكَ اَضْعَفُ الْاِیْمَانِ۔ (رواه مسلم و الترمذی و ابن ماجة والنسائی کذا فی الترغیب)

د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اِرشاد مبارك دے، هر څوك چه له تاسو نه ناروا کار اُووینی (که طاقت یے وی) په لاس دِ یے بند کړی، که په لاس یے د بندولو طاقت نه وی، نو په ژبه دِ یه هغے انکار اُوکړی۔ اوکه طاقت یے نه وی، نو په زړهٔ کښ دِ هغه بد اُوګنړی او دا د ایمان ډیره کمه درجه ده۔

Maktaba Tul Ishaat.com

یوبل حدیث کښې راغلی دی که چرے په ژبه یے د بندولو طاقت وی، نو بند دِ یے کړی، کنې په زړهٔ سره دِ هغه بد اُوګنړی، په دے حالت کښې هم د دهٔ غاړه خلاصه شوه۔

یوبل حدیث کښې راغلی دی چه څوك یے په زړهٔ بد اُوګنړی، هغه هم مؤمن دے خو د دے نه کمه درجه د ایمان نشته۔ د دے مضمون په باره کښې یو څو ارشادات د نبی اکرم ﷺ نه په مختلفو حدیثونو کښې نقل کړے شوی دی، اُوس له دے سره د دے ارشاد په منلو باندے هم یو نظر واچوئ، چه څومره کسان په مونږ کښې داسے دی چه څهٔ ناجائز کارکیدو ګوری (اوینی) په لاس یے بندَوی، یا صرف په ژبه د هغے دیدئ او ناجائز والی اظهار کوی یا کم نه کم هغه د ایمان د ضعیفې درجے برابر په زړهٔ سره هغه بد ګنړی، یا هغه کارکیدو ګورې وینی نو زړهٔ یے بے قراره کیږی۔ ځان له یو ځای چه کښینئ لږ شان غور خو اُوکړئ، چه څهٔ کیدل پکار وو، او څهٔ کیږی۔

(۲) عن النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَثَلُ الْقَائِمِ فِيْ حُدُوْدِ اللهِ وَالْوَاقِعِ فِيْهَا كَمَثَلِ قَوْمٍ اِسْتَهَمُوْا عَلٰى سَفِيْنَةٍ فَصَارَ بَعْضُهُمْ اَعْلَاهَا وَبَعْضُهُمْ اَسْفَلَهَا فَكَانَ الَّذِیْ فِيْ اَسْفَلِهَا اِذَا اسْتَقَوْا مِنَ الْمَاءِ مَرُّوْا عَلٰى مَنْ فَوْقَهُمْ فَقَالُوْا لَوْ اَنَّا خَرَقْنَا فِيْ نَصِيْبِنَا خَرْقًا وَلَمْ نُؤْذِ مَنْ فَوْقَنَا فَاِنْ تَرَكُوْهُمْ وَمَا اَرَادُوْا هَلَكُوْا جَمِيْعًا وَاِنْ اَخَذُوْا عَلٰى اَيْدِيْهِمْ نَجَوْا وَنَجَوْا جَمِيْعًا (رواه البخاری والترمذی)

د نبی اکرم ﷺ ارشاد مبارك دے چه د هغے کس مثال چه کوم د الله تعالیٰ په حدودو باندِ قائم دے او د هغے کس چه کوم د الله تعالیٰ په حدودو کښې پریوتونکے دے (یعنی چه څوك د الله تعالیٰ حکمو نه پوره کوی او چه څوك یے ماتوی) د هغے قوم په شان دے چه (د اُوبو) په یو جهاز کښې ناست وی، او په خسنړی سره (مثلاً) د جهاز منزلونه او (درجے) مقرر شوی وی چه څُنے خلق د جهاز په برَنئ درجه کښې وی او څُنے په لاندینئ درجه کښې وی۔ هر کله چه د لاندینئ درجے خلقوته د اُوبو ضرورت شی نو هغوی د اوبو اخستو د پاره برنئ حصے ته خیژی۔ کچرے هغوی

داخیال اُوکړی چه زمونږ بیابیا بره اُوبو د پاره ختلو سره پاسنو خلقو ته تکلیف رسي، راځئ چه مونږ هم په دے خپله حصه کښې یعنې دجهاز په لاندینئ درجه کښې یو سُورے سمند رطرفته اُوکړو چه دهغې نه به مونږ ته اُوبهٔ هم دلته حاصلیږي اَو بَرنو خلقو ته به تکلیف نهٔ ورکوو- په داسے حالت کښې کچرے هغه بَرنی (خلق) دے کم عقلو دا تجویز بند نکړی، او دا خیال اُوکړي چه دوی پوهه شه او ددوی کار، زمونږ ددوی سره څهٔ کار- نو په دے حالت کښې به هغه جهاز ډوب شي، او دوا ړه ډلے به هلاک شي، او که چرے هغوی دوی بند کړي نو دواړه ډلے به د ډوبیدو نه بچ شي-

اصحابو کرامو رضی الله عنهم د نبی اکرم ﷺ نه یو ځلے پوښتنه اُوکړه چه ایا مونږ خلق په داسے حالت کښې هم تباه او برباد کیدے شُو چه مونږه کښې نیکان او مُتقیان خلق موجود وی؟ نبی اکرم ﷺ اِرشاد اُوفرمایهٔ چه هَو- کله چه خَبائث (یعنې فِسق وفجور، نا کاروالے، ګناهونه) غالب (او زیات) شي-

نن صبا د مسلمانانو د تباهئ او بربادئ هر طرف ته سَندرے ویلے شي، شور او غوغا کولے شي، نوے نوے طریقے ددوی د اصلاح د پاره تجویز کولے شي خو دچا روشن خیاله (دنوی تعلیم عاشق) به څهٔ وایي، دچا تاریک خیاله (مُلا صَیب) نظر هم دے طرفته نهٔ ځي، چه حقیقي طبیب اَو شفیق مُربِّي څهٔ مرض تشخیص کړے دے، اَو څهٔ علاج یے خودلے دے، او په هغې باندے خومره درجے عمل کولے شي، ایا ددے ظلم څهٔ انتهاء شته؟ کوم چه د مرض سبب دے د کوم نه چه مرض پیدا شوے دے، هم هغه علاج تجویز کولے شي- (چه د دین د ترقئ د پاره ددین نه او د اسبابو د دین نه بے توجهي او بے پروا هي کولے شي، او خپل ذاتي رائیو باندے عمل کولے شي) نو دا مریض چه د صبا په ځائ نن نهٔ هلا کیږي، نو کله به کیږي- ؎

میر کیا سادہ ہیں، بیمار ہوئے جسکے سبب
اُسی عطار کے لڑکے سے دوا لیتے ہیں

مِیر (شاعر) خومره ساده دے چه دچا د وجه بیمار شوے دے
هم دهغې دارُوخرخوُنکی دځوئے نه دارُو اخلي-

Maktaba Tul Ishaat.com

(۴) عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم اَوَّلَ مَا دَخَلَ النَّقْصُ عَلٰی بَنِیْ اِسْرَآءِیْلَ اَنَّهٗ كَانَ الرَّجُلُ يَلْقَى الرَّجُلَ فَيَقُوْلُ يَا هٰذَا اِتَّقِ اللّٰهَ وَدَعْ مَا تَصْنَعُ بِهٖ فَاِنَّهٗ لَا يَحِلُّ لَكَ ثُمَّ يَلْقَاهُ مِنَ الْغَدِ وَهُوَ عَلٰى حَالِهٖ فَلَا يَمْنَعُهٗ ذٰلِكَ اَنْ يَّكُوْنَ اَكِيْلَهٗ وَشَرِيْبَهٗ وَقَعِيْدَهٗ فَلَمَّا فَعَلُوْا ذٰلِكَ ضَرَبَ اللّٰهُ قُلُوْبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ ثُمَّ قَالَ لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ بَنِيْ اِسْرَآءِيْلَ اِلٰى قَوْلِهٖ فٰسِقُوْنَ ثُمَّ قَالَ كَلَّا وَاللّٰهِ لَتَاْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ وَلَتَاْخُذُنَّ عَلٰى يَدِ الظَّالِمِ وَلَتَاْطِرُنَّهٗ عَلَى الْحَقِّ اَطْرًا۔ (رواه ابوداؤد والترمذی كذا فی الترغیب)

دنبی اکرم ﷺ ارشاد مبارک دے چه په بنی اسراءیلو کښں دټولو نه ړومبی زوال په دے شان شروع شو چه یو کس به دبل سړی یو ځائ شو، اوپه یو ناجائز کار کولو به یے اُولیدو، نو هغه به یے منع کولو چه کوره دالله تعالیٰ نه اُویریږه، داسے مکوه، خو دهغهٔ په نهٔ منلو باندے به هم هغهٔ دخپلو تعلقاتو په وجه په خوراک څکاک اوناسته ولاړه کښں ورسره هم هغسے معامله کوله څنګه چه ړومبے به یے کوله - هر کله چه عام طور داسے کار شروع شو، نو الله تعالیٰ دبعضو زړونه دبعضو سره ګډ کړل (یعنی دنافرمانو زړونه چه څنګه وو دهغوی په سپیره توب سره دفرمانبردارو زړونه یے هم هغسے کړل) بیا ددے په تائید کښں دقران شریف اَیتونه لُعِنَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا نه تر فٰسِقُوْنَ پورے یے اُولوستل - له دے نه پس نبی اکرم ﷺ په ډیر تاکید سره دا حکم اُوکړو چه اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْف او نَهِي عَنِ الْمُنْکَر کوئ، اوظالِم دظلم نه منع کوئ، اوهغه حق خبرے طرف ته راښکلی راولئ۔

بل حدیث کښں راغلی دی چه نبی اکرم ﷺ تکیه وهلے وه ناست وو په جوش کښں پاسیدا و کښیناسته، اوقسم یے اُخوړ، وے فرمایل، چه تاسو خلاصے نهٔ شئ موندے، ترڅوچه ظالم دظلم نه منع نکړئ۔

یو بل حدیث کښں دی چه نبی اکرم ﷺ قسم اُوخوړ اَووے فرمایل چه تاسو اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْف او نَهِي عَنِ الْمُنْکَر کوئ اوظالمان دظلم نه منع

کوئ او حق خبرے طرف ته یې راکاږئ راولئ، ګنی ستاسو زړونه به هم هغه شان ګډوډ کړے شي، لکه څنګه چه د هغے خلقو ګډوډ کړے شو، او دغه شان په تاسو باندِ به هم لعنت اُوشي، څنګه چه په هغوی یعني په بنی اسرائیلو اُوشو۔

د قرآن شریف اَیتونه یې په تائید کښ دے د پاره اُولوستل چه په دے اَیتونو کښ په هغے خلقو باندِ لعنت کړے شوے دے، او سبب د لعنت یې د هغے تولو نورو سببونو نه دا هم دے چه هغوی به د ناروا اُونه یوبل نه منع کول۔

نن صبا دا صفت او کمال ګنړلے شي چه سړے صُلحِ کُل اُوسی، کوم ځائ ته چه لاړشي هغسے خبرے کوی۔ د اکمال او اُوچت اخلاق ګنړلے شي حال دا چه عام طور غلطه ده، بلکه کوم ځائ کښ چه اَمَر بالمَعرُوف وغیره قطعًا فائده مند نه وی، ممکنه ده چه صرف د خاموشئ ګنجایش راوُزی (نه چه په اَوکښ د اَوشا ملولو) لیکن کوم ځائ کښ چه فائده مند کیدے شي مثلاً په خپل اولاد کښ، خپلو ماتحتو (نوکرانو خدمتګارانو) خلقو کښ۔ په هغه ځائ کښ په هیڅ شان خاموشي د اخلاقو کمال نه دے، بلکه چپ چاپ پاتے کیدل ئے شرعًا او عُرفًا په خپله مجرم او ګنهګار دے۔

سُفیان ثوری رحمۃ اللہ علیہ فرمائ کوم کس چه په خپلو ګاونډیانو کښ محبوب وی، او په خپلو رونړو کښ محمود (ښه) وی (غالبه دا ده) چه هغه به مُداهِن[1] وی۔ ګنړ و روایتونو کښ دا مضمون راغلے دے چه کله بوه ګناه پټه کولے شي د هغے ضرر او وبال په کونکی باندے وی۔ خو کله چه ګناه ښکاره کولے شي، او خلق د هغے په منع کولو باندے طاقت لری، او بیا یې نه منع کوی، نو د هغے ضرر او نقصان به هم عام وی۔

اُوس دِهر یو کس په خپل حالت باندے غور اُوکړی چه څومره ګناهونه دده په عِلم کښ داسے کولے شي، چه دے هغه بندولے شي، او بیا دے د بے توجهئ بے پروا هئ او بے فکرئ نه کار اخلي۔ او دے نه لوئ ظلم دا دے چه څوک د الله تعالیٰ بنده د هغے د بندولو کوشش کوی، نو د هغهٔ مخالفت کولے شي هغهٔ ته تنګ نظره ویلے شي، د هغهٔ د امداد کولو په ځائ د هغهٔ مقابله کولے

[1] خوشامد کردے یعنی په مخامخ د هرچا د خوښے خبره کوی او سړ او ملاوړی څولے نه خفه کوی ۱۲

کوُلے شی۔ وَسَیَعۡلَمُ الَّذِیۡنَ ظَلَمُوۡۤا اَیَّ مُنۡقَلَبٍ یَّنۡقَلِبُوۡنَ ؁

(۲) عَنۡ جَرِیۡرِ بۡنِ عَبۡدِ اللّٰہِ رضی اللہ عنہ قَالَ سَمِعۡتُ رَسُوۡلَ اللّٰہِ صلی اللہ علیہ وسلم یَقُوۡلُ مَا مِنۡ رَجُلٍ یَکُوۡنُ فِیۡ قَوۡمٍ یَعۡمَلُ فِیۡہِمۡ بِالۡمَعَاصِیۡ یَقۡدِرُوۡنَ عَلٰۤی اَنۡ یُّغَیِّرُوۡا عَلَیۡہِ وَلَا یُغَیِّرُوۡنَ اِلَّاۤ اَصَابَهُمُ اللّٰہُ بِعِقَابٍ قَبۡلَ اَنۡ یَّمُوۡتُوۡا۔ (رواہ ابوداؤد وابن ماجۃ وابن حبان والاصبهانی کذا فی الترغیب)

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اِرشادِ مبارک دے کہ په یو ډله او قوم کښې څوك سړے دځنې ګناه عمل کوی او هغه ډله او قوم سره له قُدرت هغه سړے دهغې ګناه نه نه منع کوی، نو هغوی ته دمرګ نه وړمبے په دُنیا کښې الله تعالی عذاب وررسوی۔

زما مخلصو مشرانو! او د اسلام او د مسلمانانو د ترقئ اَرزومند و دوستانو! دادی د مسلمانانو د تباهئ اسباب، او ورځ په ورځ د بربادئ وجوهات۔ هر سړے دِ پرِدو ته نه، سیاسی لانو ته نه، دخپل کور خلقو ته، خپلو کشرانو ته، خپل اولاد ته، خپلو ما تحتو ته څه لږ ساعت په دے نظر اُوګوری، چه څومره په بشکاره ګناهونو کښې دغه خلق آخته دی، او تاسو حضرات په خپل ذاتی وجاهت او اثر رسوخ سره هغوی منع کوئ کنه۔ منع کول خو پریږده، دمنع کولو اِراده هم کوئ کنه؟ یا ستاسو په زړه کښې څه وخت چرے دا خطره هم تیریږی چه دا نیازبین څوئ م څه کوی۔ که چرے هغه دحکومت څه جُرم اُوکړی، جُرم هم ته، په سیاسی مجلسونو کښې ګډون قدلے اُوکړی، نو ته فکرمند شے، هسے چرته مونږ ورسره پکښې لتاړنه شو، هغه ته زورنه ورکولے شی او دخپلے صفایئ او بیزارئ ند بیرونه اِختیار ولے شی، خو چرته د اَحکَمُ الۡحَاکِمِیۡنَ دمجرم سره هم دغسے معامله کولے شی، کومه چه د معمولی عارضی حاکم دمجرم سره کولے شی ته به بُوهیږے چه نیازبین څوئ م د شطرنج شوقین دے، په تاش باندے زړه مشغولوی۔ څوخوځته دمانځه وربانده تیرشی، پرواه یے نه لری۔ خوافسوس! ستا دخولے نه چرے په غلطئ سره هم دا نه اُوزی، چه دا څه کوے؟ دا د مسلمانانو کارونه نه دی۔ حال دا چه تا د پاره دا حکم دے، چه خورالے څکاك ورسره پریږدے، لکه څنګه چه وړمبے تیرشوی دی۔ ؎

ببین تفاوتِ ره از کجا است تا به کجا

"اوګوره د لارې فرق د کوم ځای نه ترکومې پورې دے"

داسے به ډیرخلق بیاموے چه دخپل ځوئ نه به په دے وجه ناراضه وی چه هغه ناراسته دے، کورپروت وی د نوکرئ کوشش نه کوی، یا د دوکان کار په چلئ سره نه کوی. خو داسے خلق به ډیرکم بیاموے، چه دخوئ نه په دے ناراضه وی، چه هغه دجمع دمانځه پرواه نه کوی یا مونځ قضا کوی.

مشرانو او دوستانو! چرے صرف د آخرت وبال وے، بیاهم دا کارونه ددے قابل وو چه ددے نه په میلونو لرے تیختنه شوے وے، خو مصیبت (او غم) خو دادے چه ددے دُنیا تباهی هم چه مونږ ه یے په عمل سره د آخرت نه مخکښ کنړو، هم ددے کارونو په وجه سره ده. غور خو اُوکړئ دد ے روندوالی څۀ حد شته. مَنْ كَانَ فِيْ هٰذِهٖۤ اَعْمٰى فَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ اَعْمٰى - حقیقي خبره داده چه د خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ وَعَلٰۤى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ سورے پرے پریوتلے دے.

۵ رُوِيَ عَنْ اَنَسٍ رضی اللہ عنہ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَ لَاتَزَالُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ تَنْفَعُ مَنْ قَالَهَا وَتَرُدُّ عَنْهُمُ الْعَذَابَ وَالنِّقْمَةَ مَا لَمْ يَسْتَخِفُّوْا بِحَقِّهَا قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا الْاِسْتِخْفَافُ بِحَقِّهَا قَالَ يَظْهَرُ الْعَمَلُ بِمَعَاصِي اللّٰهِ فَلَا يُنْكَرُ وَلَا يُغَيَّرُ. (رواه الاصبهانی ترغیب)

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه دا هم نقل کړے شوی دی چه (کلمهٔ توحید) لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ (مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ) وَیونکی ته همیشه نفع ورکوی او وله هغه نه عذاب او بلا لرے کوی، تر څو چه ددے دحقونو نه بے پرواهی او اِستخفاف اُونکړے شی. اصحابو رضی اللہ عنہم عرض اُوکړۀ چه ددے دحقونو نه دبے پرواهئ او استخفاف کید لو څۀ مطلب دے؟ نبی علیه الصلٰوة والسلام ارشاد اُوفرمایۀ چه د الله تعالیٰ نافرمانئ په ښکاره طورکولے شی او دهغے د بندولو کوشش اُونکړے شی.

اوس ناسولږ شان په نصاف سره اُوا یئ چه په دے زمانه کښ د الله تعالیٰ د نافرمانو څۀ اِنتهٰ څۀ حد شته، ارشاد دے مونږ کولو یا بندولو یا کم نه کم دکمولو څۀ [illegible] شش شته؟ هرګز نشته ... داسے خطرناک چاپیر چل

کښې د مسلمانانو په عالم کښې موجودګي د الله تعالیٰ حقیقي انعام دے ځکې مونږ د خپلې بربادۍ او تباهۍ د پاره کوم هغه اسباب دي چه پيدا کړي مونږ دي.

حضرت عائشه رضی الله عنها د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوکړه، که چرے الله تعالیٰ څه عذاب د زمکې په خلقو باندے نازلیږي، او هلته څه دینداره خلق هم وي نو ایا هغوی ته به هم نقصان رسي؟ نبي علیه الصلوٰة والسلام اوفرمایل چه په دُنیا کښې خو به تو لو ته اثر رسي، خو په اخرت کښې به هغه خلق د ګنهګارانو نه بيل کړے شي.

دے د پاره هغه حضرات چه په خپلې دينداري مطمئن دي او د دنيا د خلقو نه یو طرف ته تاست دي، د دے نه دِ نهٔ بے فکره کیږي، که چرے الله مهٔ کړه د نارواؤ کارونو په خوريدو او عام کيدو سره څهٔ بلا نازله شوه (نو دوي ترے هم نهٔ شي بچ کيدے) دوي ته به هم هغه عذاب وررسي.

(۶) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَرَفْتُ فِي وَجْهِهِ اَنْ قَدْ حَضَرَهُ شَيْءٌ فَتَوَضَّأَ وَمَا كَلَّمَ اَحَدًا فَلَصِقْتُ بِالْحُجْرَةِ اَسْتَمِعُ مَا يَقُوْلُ فَقَعَدَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَحَمِدَ اللهَ وَاَثْنٰى عَلَيْهِ وَقَالَ يَا اَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ اللهَ تَعَالٰى يَقُوْلُ لَكُمْ مُرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ قَبْلَ اَنْ تَدْعُوْا فَلَا اُجِيْبَ لَكُمْ وَتَسْئَلُوْنِيْ فَلَا اُعْطِيَكُمْ وَتَسْتَنْصِرُوْنِيْ فَلَا اَنْصُرَكُمْ فَمَا زَادَ عَلَيْهِنَّ حَتّٰى نَزَلَ.

(رواه ابن ماجة وابن حبان في صحيحه كذا في الترغيب)

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي چه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم یو ځلې کورته راغے، نو ما په مخ مبارك باندے یو خاص اثر اُولیدلو، محسوس مې کړه چه څهٔ ضروري خبره پيښه شوې ده. نبي علیه الصلوٰة والسلام ما سره څهٔ خبره اتره اُونهٔ کړه او اودس ئے اوکړو، جُمات ته لاړو، زهٔ د کوټې دیوال سره پیوسته اوریدلو د پاره اُودریدمه، چه څهٔ وائي. نبي علیه الصلوٰة والسلام په منبر کښیناستو، او حمد وثنا نه پس ئے دا اُوویل، اے خلقو! د الله تعالیٰ حُکم دے چه تاسو اَمر بِالْمَعْرُوف او نَهي عَنِ الْمُنکر کوئ، هسے نهٔ چه هغه وخت راشي، چه تاسو به دُعا غواړئ، او هغه به نهٔ قبليږي او تاسو به سوال کوئ، او سوال به مو نهٔ پوره کيږي. تاسو به د خپلو دُشمنانو خلاف ما نه مدد غواړئ، او زهٔ به ستاسو مدد د

نهٔ کوم۔ دا پاکے مبارکے خبرے نبی علیه الصلوٰة والسلام اِرشاد اُوفرمایلے، او د منبر نه خکته را کوز شو۔

دِے مضمون ته دِ هغه حضرات په خصوصیت سره توجُه اُوکړی چه د دُشمن د مقابلے د پاره په دینی کارونو کښ چشم پوشیٔ او اسانتیا بانــدے زور ورکوی حال دا چه د مسلمانانو اعانت او امداد هم د دین په پوخوالی کښ پټ پروت دے۔

حضرت اَبُو الدَّرْدَاء رضی الله عنه یو دلویٔ مرتبے صحابی دے، فرمائی چه تاسو اَمَر بِالْمَعْرُوْف او نَهِی عَنِ الْمُنْکَر کویٔ کنی الله تعالیٰ به په تاسو باندے ظالم باچا مقرر کړی، چه ستاسو د مشرانو به عزت نکوی، او ستاسو په کشرانو به رحم نهٔ کوی، په هغه وخت کښ به ستاسو غوره بزرګان خلق دعا ګانے کــوی، نو قبلیږی به نه، تاسو به مدد غواړیٔ، مدد به در سره نشی کولے، بخښنه به غواړیٔ، بخښنه به درته نشی کولے۔ پخپله د الله جل شانهٔ اِرشاد دے۔

یَاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ یَنْصُرْکُمْ وَیُثَبِّتْ اَقْدَامَکُمْ (محمد۔ ع ۱)	اے ایمان والو! کچرے تاسو د الله تعالیٰ مدد اُوکړیٔ نو الله تعالیٰ به ستاسو مدد اُوکړی (او د دُشمنانو په مقابله کښ به) ستاسو

قد مونه محکم کړی۔ (بیان القــ ـرآن)

بل ځایٔ د الله تعالیٰ اِرشــاد دے۔ اِنْ یَّنْصُرْکُمُ اللّٰهُ فَلَا غَالِبَ لَکُمْ اَلْاٰیَة ترجَمَه: کچرے الله جل شانهٔ ستاسو مدد اُوکړی، نو هیڅوک به په تاسو غالب نهٔ شی راتلے، او که چرے هغه ستاسو مدد اُونکړی، نو بیا بل څوک دے چه ستاسو مدد کولے شی، او صرف په الله تعالیٰ باندے ... اِعتماد (او تکیه) ساتل پکار دی۔ دُرِّ منثور کښ په روایت د ترمذی وغیره د حضرت حُذَیفه رضی الله عنه نه نقل کړے دے، چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم قسم اُوخوړ دا اِرشاد یے اُوفرمایلو چه تاسو غلق اَمر بِالْمَعْرُوْف او نَهِی عَنِ الْمُنْکَر کویٔ کنی الله جل جلالهٔ به خپل عذاب په تاسو باندے مقرر کړی، بیا که تاسو دُعا ګانے هم غواړیٔ نو قبلیږی به نه۔

دے مقام ته راسیدلے زما بزرګان دِ اول دا سوچ او فکر اُوکړی چه مونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

خلق د الله تعالیٰ څومره نافرمانئ کوُو، بیا په معلومه شي چه زمونږ کوششونه وَلے بے کاره کیږي، اَو دُعا ګانے مو وَلے بے اثره کیږي (اَو نهٔ قبلیږي) مونږ د خپلے ترقئ تخم کرُو، یا په خکته د تلو د برباد ئ.

(۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم اِذَا عَظَّمَتْ اُمَّتِیَ الدُّنْیَا نُزِعَتْ مِنْهَا هَیْبَةُ الْاِسْلَامِ وَاِذَا تَرَكَتِ الْاَمْرَ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّهْیَ عَنِ الْمُنْكَرِ حُرِمَتْ بَرَكَةَ الْوَحْیِ وَ اِذَا تَسَابَّتْ اُمَّتِیْ سَقَطَتْ مِنْ عَیْنِ اللّٰهِ ـ (كذا فی الدر عن الحكیم الترمذی)

د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اِرشاد مبارك دے چه کله زما اُمت دُنیا لوئ ځیزاو ګنړي نو د اِسلام هیبت او عظمت به د دوي د زړونو نه اُوزي۔ او کله چه اَمر بالمعروف او نهی عن المنکر پریږدي، نو د وحي د برکاتو نه به محرومه شي۔ او کله چه په خپلو کښ یو تر بله سره کنځل شروع کړي، نو د الله جل شانه د نظر (د رحمت) نه به اُوغورزیږي۔

اے د قوم خیرخواهانو! د اسلام د ترقئ او د مسلمانانو د ترقئ د پاره هر سړے کوشش او محنت کوُنکے دے، خو کوم اسباب چه دے د پاره استعمالولے شي هغه بے خکته غورزولو طرفته بوتلونکي دي۔ که چرے په حقیقت کښ تاسو خپل رسول (زما روح دِ ترقربان وي صلی اللہ علیہ وسلم) لره ریښتنے رسول ګنړئ د هغهٔ تعلیم ریښتنے تعلیم ګنړئ، نو بیا څهٔ وجه ده چه کوم ځیز هغه سبب د مرض ښائی، کومو ځیزونو نه چه هغه د بیمارئ جرړه وائی، هم هغه ځیزونه ستاسو په نزد سبب د شِفا او صحت کرزولے شي۔

د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اِرشاد دے چه هیڅ یو کس تاسو نه تر هغه وخته پورے (کامل) مسلمان کیدے نهٔ شي، ترڅو چه د هغهٔ خواهش د هغے دین تابع نهٔ شي کوم چه ما راوړے دے۔ خو ستاسو رائے دا ده چه د مذهب پرده دِ له مینځه لرے کړے شي چه مونږ هم د نورو قومونو په شان ترقي اوکړو۔

د الله جل جلالهٔ اِرشاد دے:

مَنْ كَانَ یُرِیْدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ نَزِدْ لَهٗ فِیْ حَرْثِهٖ ۚ وَمَنْ كَانَ یُرِیْدُ حَرْثَ الدُّنْیَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا

هغه څوك چه د آخرت د فصل طلبګاروي مونږ به د هغهٔ په فصل کښ ترقي ورکړو او څوك چه د دُنیا د فصل طلبګاروي مونږ

وَمَالَهٗ فِی الْاٰخِرَةِ مِنْ نَّصِیْبٍ ط (پ ۲۵- ع ۴) | نه هغهٔ لره څهٔ قدر ے دُنیا ورکړو، او په اٰخرت کښې دَ هغهٔ هیڅ حصه نشته (بیان القرآن)

حدیث شریف کښې راغلی دی چه کوم مسلمان اٰخرت خپل اصلی مقصود جوړکړی، نو الله جل شانهٗ به دهغهٔ زړهٔ غنی کړی، او دُنیا به ورته ذلیله اځی او چه څوك دُنیا اصل مقصد اوګرزوی په پریشانو کښې به اخته شی، او له دُنیا نه یے چه څومره حصه په تقدیر کښې لیکلے شوی وی دَ هغے نه به زیاته بیا نهٔ مومی۔

نبی اکرم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ددے اٰیتِ پاك دَ تلاوت نه پس اِرشاد اُوفرمایلو چه دَ الله جل شانهٗ اِرشاد دے، اے دَ اٰدم ځویه! ته زما دعبادت دپاره ځان فارغ کړه، زهٔ به ستا سینه دَ غِنیٰ نه ډکه کړم (او دَ فکرونو نه به یے خالی کړم۔) او ستا غریبی به لرے کړم۔ګنی ستا زړهٔ به دَ سوڅونو مشغلو نه ډك کړم او ستا غریبی به بنده نکړم۔ داد الله تعالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسول عَلَیْهِ الصَّلٰوةُ اِرشاد دے۔ او ستا سو رائے داده چه مسلمانان په ترقئ کښې ځکه روستو شوی دی چه کوم ے لار د ترقئ دپاره اِختیاروَلے شی، دَ مُلایان په هغے کښې بندیز پیدا کوی۔ تاسو لږ دَ انصاف په نظر سره اُوګورئ، کهٔ چرے دَ مُلایان دا سے لالچیان دی، نو ستا سو حضراتو ترقی خو به ددوی دپاره دَ خوشالئ سبب اُوګرزی۔ ولے چه هرکله ددوی روزی ستا سو په ګمان کښې ستا سو په ذریعے سره ده، نو بیا چه څومره فراخی او دَ مال دولت زیاتوالے په تاسو وی، هغه به ددوی دپارهٔ هم سبب دَ فراخئ، مالدارئ او اَسانئ وی، خو دا خودغرضه (او لالچیان) بیا هم ستاسو مخالفت کوی نو (معلومه شوه چه ضرور) څهٔ مجبوری خو دوی ته پېښه ده چه دَ هغے له کبله دوی هغه خپله فائده هم ضائع کوی او ستاسو په شان اِحسان کوُنکو او پرورش کوُنکو سره وُرانوی، نو ګویا چه خپله دُنیا خرابوی۔

زما دوستانو! لږ شان غور خو اُوکړئ، کهٔ چرے دَ مُلایان یو دا سے خبره اُوکړی چه په قراٰن شریف کښې ښکاره طور موجوده وی، نو بیا ددے دَ منلو نه هغے نه مخ ګرزول نهٔ صرف دَ عقل نه لرے خبره ده، بلکه دَ اسلام دَ شان نه هم لرے ده۔ دَ مُلایان کهٔ هر څومره نا اهله وی خو هرکله چه ښکاره اِرشاد دَ الله جل جلالهٗ او اِرشاد دَ نبی کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تاسو ته رَسَوی، نو تاسو ته په دَ دے

Maktaba Tul Ishaat.com

ارشاداتو عمل کول فرض دی، اَو نهٔ منلو په صورت کښ جواب ورکول (الله جل شانهٔ ته) په تاسو لازمی دی، څوک بے وقوف نه بے وقوف هم دا نشی ویلے چه دسرکاری قانون څهٔ پرواه نهٔ کوم چه اعلان کونکے چوړے وُو.

تاسو حضرات دامهٔ وایئ چه دا مُلایان چه ددینی کارونو د پاره خپل ځان مخصوص کیدلو دعوے کوی، همیشه ددُنیا (دخلقو) نه سوال کوی، ځکه چه ترکومے پورے چه زما خیال دے، حقیقی مُلا دخپل ذات د پاره چرے سوال نهٔ کوی، بلکه هرځومره چه هغوی دالله تعالیٰ په عبادت کښ غرق اَو اَخته وی، هم هغه قدرے په اِستغناء او بے پرواهئ سره هد یه هم قبلوی. البته که څهٔ دینی کار د پاره سوال کوی، په هغے به اِنشاء الله دځان د پاره دنهٔ سوال کونکو نه زیات اجر موندونکی وی.

یوه عامه شُبَه داکوله شی چه دینِ محمدی کښ رَهبَانیت یعنی د ترکِ دُنیا تعلیم نشته، په دے کښ دین او دنیا دواړه یوځائ ایجود شوی دی. د الله تعالیٰ اِرشاد دے. رَبَّنَآ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّفِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ او په دے اٰیتِ شریفه باندے ډیر زور ورکولے شی - گویا چه په ټول قرآن شریف کښ دعمل کولو د پاره هم دا یو اٰیت نازل شوے دے. لیکن اول خود اٰیتِ شریفه تفسیر دعلم دماهرو عالمانو نه دمعلومولو ضرورت وُو. هم له دے وجه عالمانو فرمایلی دی چه په لفظی ترجمه کتلو سره خپل ځان دقرآن عالِم گنړل جهالت دے. صحابه کرامو رضی الله عنهم او حضرات تابعینو رحمهم الله نه چه ددے اٰیتِ شریفه کوم تفسیرونه نقل شوی دی هغه لاندے لیکلے شوی دی.

دحضرت قتاده رحمة الله علیه نه روایت دے چه ددُنیا دښیگړے نه مراد عافیت او په قدر دکفایت روزی ده. دحضرت علی رضی الله عنه نه نقل شوے دے، چه ددے نه نیکه بی بی مراد ده. دحضرت حسن بصری رحمة الله علیه نه روایت شوے دے چه ددے نه مراد علم او عبادت دے. سُدی رحمة الله علیه نه نقل شوی دے چه پاک مال ترے مراد دے. دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت شوے دے چه نیک اولاد دخلقو تعریف ترے مراد دی. دحضرت جعفر رضی الله عنه نه نقل

شوے دے چه صحت اود روزئ کافی کیدل او د الله تعالیٰ په کلام پوهیدل او په دُشمنانو فتح او د صالحانو صحبت ترے مراد دے۔ دویمه دا چرے هر قسمه د دُنیا ترقی ترے مراد وی لکه چه زما زړۀ یے هم غواړی، نو بیا هم په دے کښ د الله تعالیٰ نه د دُعا ذکر دے۔ نهٔ چه د دے په حاصلولو کښ پوره طور کوشش کوَل، او مشغولیدل۔ او الله تعالیٰ نه غوختل، اگرچه د شلیدلے پیزرے جوړول وَلے نهٔ وی، دا خو په خپله دین دے۔ دریمه دا چه د دُنیا حاصلولو او د گټلو څوک منع کوی، یقیناً ضرور یے حاصلوئ، او په پر شوق یے حاصلوئ، زمونږ خلقو هر گز دا غرض نهٔ دے چه الله تعالیٰ دِ نکړی تا سو د دُنیا غونډے غنیمتی او مقصودی څیز پریږدئ۔

مقصد دا دے چه څومره کوشش دُنیا د پاره کوئ، د هغے نه کهٔ زیات نهٔ وی نو کم نه کم د هغے برابر خو دین د پاره کوئ حُکم چه ستاسو د وَنیا موافق د دین او دُنیا دواړو تعلیم راکړے شوے دے۔ کنی زهٔ تپوس کوَم، چه کوم قرآن شریف کښ دا آیتِ کریمه ذکر شوے دے، د هغے قرآن شریف دغه آیت هم دے چه کوم اُوس ذکر شو۔ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ نَزِدْ لَهٗ فِیْ حَرْثِهٖ (پ۲۵-ع ۴) او هم د هغے قرآن شریف دا آیت هم دے۔ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلٰهَا مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا ٥ وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ٥ پ۱۵-ع ۲) هم په هغے قرآن شریف کښ دی۔ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ ٥ (آل عمران-ع ۲) هم په هغے قرآن شریف کښ دی۔ مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ (پ۴-آل عمران) هم په هغے قرآن شریف کښ دی۔ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيْلٌ ۚ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى۔ پ۵ هم په هغے قرآنِ پاک کښ دی۔ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ۚ وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ؕ (سورة انعام) هم په هغے کلام پاک کښ دی۔ وَذَرِ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّلَهْوًا وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا (سورة انعام) هم په هغے قرآن پاک کښ دی تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا ۖ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَ۔ (پ۱۰) هم په هغے قرآن پاک کښ دی اَرَضِيْتُمْ بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مِنَ

Maktaba Tul Ishaat.com

الْاٰخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ ۝ (پ) هم په هغې کلام پاك
کښې دي - مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ فِيْهَا وَهُمْ فِيْهَا
لَا يُبْخَسُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا النَّارُ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوْا
فِيْهَا وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ پ۱۲ هم په هغې کلام پاك کښې دي - وَفَرِحُوْا
بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ ۝ پ۱۳ - هم په هغې کلام
پاك کښې دي - فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللّٰهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ
اسْتَحَبُّوا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ ۝ پ۱۴ -

ددے نه علاوه ډیر ایتونه دي چه په هغو کښې د دُنیا او د اخرت مقابله کړے شوے ده، دا وخت د ټولو نه راجمع کول مقصود دي، او نه یے ضرورت شته - د نمونے د پاره م یو څو ایتونه مختصر اُولیکل، او د مختصر والي په وجه د ترجمے په ځائې م د سیپارے حواله اُولیکله - په یو ترجمے والا قرآن شریف کښې یے ترجمه اُوګورئ - مقصود د ټولو نه دادے چه د اخرت په مقابله کښې کوم خلق چه دُنیا غوره ګڼړي، هغوي ډیر په تاوان او زیان کښې دي - که چرے د واړه تاسو نه شئ پوره کولے، نو بیا صرف اخرت اختیارول او غوره کول ضروري دي - زما د دے خبرے نه اِنکار نشته چه د دُنیا په ژوند کښې سړے د دُنیوي ضرورتونو سخت محتاج وي خو په دے وجه چه د سړي بَيْتُ الْخَلَاء (تشې) ته تلل ضروري دي او د تلو نه بغیر ګذاره نشته، نو ټوله ورځ په هغې کښې ناسته کوي، دا به هیڅ یو د صحیح عقل خاوند برداشت نه کړي -

د الله تعالیٰ په حکمتونو یو ژور نظر واچوئ، نو تاسو ته به معلومه شي چه پاك شریعت کښې د یو یو څیز باقاعدګي ده، الله جلّ جلالهٔ وعمّ نوالهٔ یو یو څیز واضح کړے دے، د موځونو د وختونو تقسیم کښې یے صفا او واضحه ډیے ته اِشاره اُوکړه چه د شپے ورځے په څلیر یشت ګهینټو کښې نیم د بنده حق دے، خو بنه یے خپله ده چه په خپل ارام او راحت کښې یے خرچ کوي یا د معیشت (یعنې د ژوند د ضروریاتو) په طلب کښې - او نیم د الله تعالیٰ حق دے - او ستا سو د تجویز مطابق د دین او دُنیا دواړو برابر لوحق دادے چه په شپه او ورځ کښې نیم وخت د دین د پاره اُولګولے شي او نیم د دُنیا د پاره - او که چرے دا ستے اُونه شول

اودنیوی مَشغَلے کۀ هغه دروزئ فکروی یا دبدن دراحت - دلیے نه زیات شوے نو یقیناً تاسو دُنیا غوره اُوګنړله، پس ستا سود تجویز موافق هم دانصاف تقاضا داده چه دشپے ورځے دخلیریشتوګهینټو نه دولس ګهینټے ددین دپاره اُولګولے شی، دپاره ددے چه ددواړو حق آدا شی، اوپه هغه وخت کښ به یقیناً دا ویل په ځائ وی چه ددُنیا اودآخرت ددواړو دنیکو دحاصلولو حکم شوے دے، او اسلام رَهبَانیت نهٔ دے خوړلے - دا مضمون دے ځائ کښ مقصود نهٔ وُو، بلکه دهغې شپے په جواب کښ تبعًا په ضِمن کښ راغے - ځکه م مختصر طور اِشاره کولو سره پریخودهٔ -

په دے فصل کښ مقصود دتبلیغ دحدیثونو ذکر کول وُو، په هغې کښ په اُوهٔ حدیثونو بسوالے کوم چه منونکو دپاره اُوهٔ خو اُوهٔ (دی) یو هم کافی دے، او دنهٔ منونکو دپاره ﴿فَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوٓا أَيَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ﴾ (پ ١٩) دکافی نه زیات دے -

په آخرکښ یو ضروری عرض داهم دے چه دبعضو حدیثونو نه معلومیږی چه دفتنے په زمانه کښ کله چه شومتوب اختیار کړے شی اودنفسانی خواهشاتو تابعداری اُوکړے شی، دُنیا ددین نه غوره اُوګنړلے شی، هر یو کس خپله رائے خوښوی، دبل نهٔ منی، په هغه وخت کښ نبی اکرم ﷺ دنورو خلقو داِصلاح پریخودلو اودځان یو خواته کولو حکم کړے دے، خو دعلمائے کرامو په نزد تراُوسه هغه وخت لانهٔ دے راغلے - (اُوس موقع ده) څهٔ چه کوئ اُوکړئ - الله تعالیٰ دِ نکړی، که ناڅاپه هغه وخت راشی، نو بیا په هغه وخت کښ به هیڅ قِسم اصلاح نهٔ شی کیدے - دارنګے له هغې عیبونو نه چه دهغو ذکر په دے حدیث کښ راغلے دے، په اهتمام اوکوشش سره بچ کیدل ضروری دی، ځکه چه دا دفتنو دروازے دی - دهغې نه روستو سراسر فتنے اوفتنے دی - نبی اکرم ﷺ په یو حدیث کښ دا په هلاکونکو څیزونو کښ شمار لی دی - اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ -

Maktaba Tul Ishaat.com

دریم فصل

کښې په یو خاص مضمون باندے خبردارے مقصود دے، او هغه دا چه خرنګے په دے زمانه کښې په نفسِ تبلیغ کښې سُستی کیږی، او عام طور خلق له دے نه ډیر زیات غافل دی، همدا رنګے بعضو خلقو کښې یو خاص مرض دا دے، چه کله هغوی په یو دینی مَنصَب او عُهده مثلاً تقریر، تحریر، تعلیم، تبلیغ، وعظ وغیره باندے اُولګولے شی، نو د نورو خلقو په فکر کښې داسے آخته شی چه خپل ځان ترے هیر شی۔ حال دا چه څومره د نورو خلقو د اِصلاح ضرورت دے، د هغے نه ډیر زیات خپل نفس د اِصلاح محتاج دے۔ نبی اکرم ﷺ په بے شماره ځایونو کښې په ډیر زیات اِهتمام سره منع فرمایلے ده، چه خلقو ته خو نصیحت کوے کرزے، او په خپله په ګناهونو کښې آخته اُوسے۔

نبی اکرم ﷺ د معراج په شپه یو ه ډله اُولیده چه د هغوی شونډے د اُور په قینچیانو پریکولے شوے۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام پوښتنه اوکړه چه دا کوم خلق دی؟ نو حضرت جبرئیل علیه السلام عرض اوکړو، چه دا خلق ستا د اُمت واعظان او تقریر کوونکی دی۔ چه نورو خلقو ته به یے نصیحت کولو، او په خپله به یے په هغے عمل نه کولو۔ (مشکوٰة شریف)

په یو حدیث کښې راغلی دی چه د جنتیانو نه به یو څو کسان لاړ شی، او د بعضِ دوزخیانو نه به پوښتنه اوکړی، چه تاسو د لته څنګه راورسیدلی یئ؟ مونږ ه خو جنت ته ستاسو خودلے شوو خبرو باندے د عمل کولو په برکت سره راورسیدلی یُو۔ هغوی به اُوائی، مونږ به تاسو ته خودلے، خو په خپله مو بیرے عمل نه کولو۔

یو بل حدیث کښې راغلی دی چه بدکاره قاریانو (عالمانو) طرف ته به د دوزخ عذاب ډیر په تیزئ سره وَرزی۔ نو هغوی به په دے حیران شی چه د بُت پرستو نه هم رومبے مونږ ته عذاب راکولے شی۔ نو جواب به ورکړے شی، چه سره د پوهے نه د یو جرم کول د ناپوهئ سره د کولو برابر نهٔ شی کیدے۔

عالمانو لیکلی دی چه دهغې کس وعظ فائده نهٔ رَسَوی، چه په خپله یے پرے عمل نهٔ وی. هم دا وجه ده چه په دے زمانه کښې هره ورځ جلسے وعظونه او تقریرونه کیږی خو ټول بے اثره. قِسما قِسم رسالے شائع کیږی خو ټولے بے فائدے. په خپله دالله جل شانهٔ اِرشاد دے.

اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَاَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝ (بقره - ع ۵)	ایا تاسو حکم کوئ خلقو ته د نیک کار او هیروَئ ځانونه خپل، او حال دا دے چه لولئ تاسو کتاب، ایا تاسو پو هیږئ نه. (ترجمهٔ عاشقی)

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد دے.

مَاتَزَالُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ حَتّٰى يُسْاَلَ عَنْ اَرْبَعٍ عَنْ عُمُرِهٖ فِيْمَ اَفْنَاهُ وَعَنْ شَبَابِهٖ فِيْمَ اَبْلَاهُ وَعَنْ مَالِهٖ مِنْ اَيْنَ اكْتَسَبَهٗ وَفِيْمَ اَنْفَقَهٗ وَعَنْ عِلْمِهٖ مَاذَا عَمِلَ فِيْهِ (ترغیب عن البیهقی وغیره)	په قیامت کښې به د بنده قدمونه تر هغې وخته د خپل ځائ نه نشی اَخوا کیدے ترڅو چه ترے څلور سوالونه اُونکړے شی عمر دِ څهٔ مشغله کښې ختم کړهٔ. ځوانی دِ په څهٔ کار کښې لګولے وه، او مال دِ په څهٔ شان ګټلے وُو او په کوم ځائ کښې دِ لګولے وُو، او په خپل عِلم دِ څهٔ عمل کړے وُو.

حضرت ابوالدرداء رضی الله عنه یولوئ صحابی دے، فرمائی چه ما ته دهر څهٔ نه زیاته ویره دد ے خبرے ده چه دقیامت په ورځ د ټولو خلقو په مخکښې ما ته اواز اُوشی، او سوال را نه اُوشی چه څومره علم دِ حاصل کړے وُو په هغې دِ څهٔ عمل کړے وُو.

په خپله نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه یو صحابی رضی الله عنه پوښتنه اوکړه چه بدترین د خلقو نه څوک دی؟ نبی علیه الصلوٰة والسلام اُوفرمایل چه د بد و خبرو تپوس نه دی کول پکار، د ښو خبرو پوښتنه کوه. بدترین په مخلوقاتو کښې بدترین عالمان دی.

په یو حدیث کښې اِرشاد دے چه عِلم دوه قسمه وی، یو هغه چه تش په ژبه باندے وی، هغه دالله تعالیٰ الزام دے، او ګویا په هغې عالم پوره د جُرم ثبوت دے. دویم هغه عِلم دے، چه په زړهٔ اثر اُوکړی، هغه علم نافع دے.

Maktaba Tul Ishaat.com

حاصل دادے چه علمِ ظاهری سره علمِ باطنی هم حاصل کړے شي، د پاره د دے چه په علم سره په زړهٔ هم اثر اُوشي، او که داسے نهٔ وی، او په زړهٔ کښ د هغے اثر اُونهٔ شي، نو هغه به د الله تعالیٰ اِلزام شي، او د قیامت په ورځ به پرے نیولے شي چه په هغے علم ولے عمل کړے وو۔

نو رهم په ډیرو روایتونو کښ په دے باندے سخت سخت وعیدونه (زورنے) راغلی دی۔ په دے وجه زما درخواست دے چه مُبَلِّغِین حضرات دِ د خپلے اصلاح د ظاهر او د باطن د رومبے نه فکر اُوکړی، هسے نه چه په هغے عذاب کښ داخل شي۔ الله جل جلالهٔ وعَمّ نواله دِ د خپل فراخه رحمت په خاطر ما گنهگار ته هم د ظاهر او د باطن د اِصلاح توفیق راکړی، چه د ځان نه زیات بد عمله هیڅوک نهٔ مومم۔ اِلَّا اَنْ یَّتَغَمَّدَنِیَ اللهُ بِرَحْمَتِهِ الْوَاسِعَةِ۔

خلورم فصل

کښ هم یو خاص او ډیر ضروری کار ته د مُبَلِّغِینو حضراتو توجُّه گرزول مقصود دی چه ډیره زیاته ضروری ده۔ هغه دا چه په تبلیغ کښ ډیر حُله دلږے شان بے اِحتیاطیٔ په وجه فائدے سره نقصان هم شامل شي۔ دِ دے د پاره ډیره ضروری ده، چه د اِحتیاط د هرے خوا لحاظ اُوساتلے شي۔ ډیر خلق د تبلیغ په جوش کښ د دے پرواه نهٔ کوی، چه د یو مسلمان بے پردگی کیږی، حال دا چه د مسلمان حیا او عزت ساتل یو عَظِیمُ الشَّان او قیمتی څیز دے۔

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد مبارک دے۔

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه مَرْفُوْعًا مَنْ سَتَرَ عَلٰی مُسْلِمٍ سَتَرَهُ اللهُ فِی الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ وَاللهُ فِیْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَا کَانَ الْعَبْدُ فِیْ عَوْنِ اَخِیْهِ (رواه مسلم و ابوداؤد وغیرهما۔ ترغیب)	چه څوک په یو مسلمان پرده واچوله، الله جل شانهٔ به په دُنیا او اخرت کښ په دهٔ پرده واچوی۔ او الله تعالیٰ د بنده مدد کوی، ترڅو چه هغه د خپل رور (مسلمان) مدد کوی۔

بل ځائ کښې ارشاد مبارك دے۔

عن ابنِ عبّاسٍ رضی اللہ عنہ مَرْفُوْعًا مَنْ سَتَرَ عَوْرَةَ اَخِيْهِ سَتَرَ اللّٰهُ عَوْرَتَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَمَنْ كَشَفَ عَوْرَةَ اَخِيْهِ الْمُسْلِمِ كَشَفَ اللّٰهُ عَوْرَتَهٗ حَتّٰى يُفْضِحَهٗ بِهَا فِيْ بَيْتِهٖ۔ (رواه ابن ماجة۔ ترغیب)

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارك دے چه څوك په چا مسلمان پرده اچوی الله جل شانهٗ به دقیامت په ورځ په دهٔ پرده واچوی او چه څوك دچا مسلمان پرده اخلی (یعنی بے عزتی ئے کوی) نو الله جل شانهٗ به د دهٔ پرده واخلی، تردے چه کورکښې نا ست وی او رُسوا به ئے کړی۔

غرض دا چه په ډیرو روایتونو کښې ددے قسمه مضمون راغلے دے په دے وجه مبلغین حضراتو ته په مسلمانانو پردے اچولو اهتمام هم ډیر ضروری دے۔ اوددے نه زیات دهغهٔ دعزت حفاظت دے۔

دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد دے چه څوك په داسے وخت کښې د مسلمان مدد اُونکړی چه دهغهٔ بے عزتی کیږی، نو الله جل شانهٗ به دهغهٔ د مدد نه په داسے وخت کښې مخ واړوی چه هغه به دمدد محتاج وی۔

یوبل حدیث کښې دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد مبارك دے چه بدترین سُود دمسلمان بے عزتی دهٔ۔

دغسے ډیرو روایتونو کښې دمسلمان په بے عزتئ سخت سخت عذابونه راغلی دی، په دے وجه ډیره ضروری دهٔ چه مُبلِّغین حضرات ددے ډیر زیات اهتمام اُوساتی چه نهی عن المنکر کښې دخپل طرفه پرده اخستل نهٔ وی۔ کوم بدکار چه په پټه ورته معلوم شی (چه کیږی) نو هغه دِ په پټه بند کړی۔ اوکوم چه ښکاره اُوکړے شی، هغه دِ په ښکاره بند کړے شی دغه شان بندولو کښې هم دهغهٔ دعزت ترخپله وسه فکر ساتل پکار دی، هسے چه "نیکی برباد گناه لازم" سبب شی۔ حاصل دادے چه دبدکار نه دِ منع ضرور اُوکړے شی ځکه چه تیر شوی عذابونه هم ډیر سخت دی۔ خو په دے کښې دهغهٔ دعزت هم ترخپله وسه سخت اهتمام دِ اوکړے شی۔ دهغې طریقه دادهٔ چه کومه ګناه په ښکاره کیږی، په هغې دِ بے تکلفه ښکاره اِنکار اُوکړے

Maktaba Tul Ishaat.com

شي. خودکومے ګناه چه له کوم نکی له طرفه اظهار نه وی په هغې دِ انکار کولو کښې د خپل طرف نه څهٔ داسے شکل اختیار نکړے شي چه په هغې سره دهغه بے پردګی اُوشي. دغه شان دا هم دتبلیغ د ادابو نه دی چه نرمی دِ اختیار کړے شي. مَامُوْنُ الرَّشِیْد خلیفه ته چا په سخت کلامٔ سره نصیحت اوکړو، هغهٔ ورته اُوفرمایل چه په نرمیٔ وایه، ځکه چه الله جل شانهٗ تا نه بهتر یعنی حضرت موسیٰ حضرت هارون علیهما السلام یے زمانه زیات ناکاره یعنی فرعون ته لیږلی وُو، نو ورته یے فرمایلی وُو. فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَّیِّنًا یعنی تاسو هغهٔ سره په نرمیٔ خبرے کویٔ، شاید چه هغه نصیحت قبول کړی.

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې یو ځوان حاضر شو او خواست یے اُوکړو، چه ماله د زِنا اجازت راکړه. صحابو کرامو رضی الله عنهم اجمعین د دے خبرے برداشت اُونکړے شو، او ناراضه شول. نبی علیه الصلوٰة هغې ځوان کوم نکی ته اُوو ے رانزدے شه. بیا یے ورته اُوویل چه آیا ته غواړے چه څوک ستا مور سره زِنا اوکړی؟ هغه وویل، زهٔ دِ پتا سو قربان شم، دا زهٔ هیچرے نهٔ غواړم. هغه فرمایل دغسے نور خلق هم نهٔ غواړی چه دهغوی میندو سره دِ زِنا اوکړے شي. بیا یے اُوفرمایل چه ته خوښوے، چه څوک ستا لور سره زنا اُوکړی؟ عرض یے اوکړهٔ، زهٔ دِ پتا سو قربان شم، نهٔ غواړم. هغه فرمایل دغسے نور خلق هم نهٔ غواړی، چه دهغوی لوڼو سره دِ زنا اوکړے شي. غرض دغسے دخور ترور تپوس یے اوکړو. بیا نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لاس مبارک دهغهٔ په سینه کیخودهٔ، اُودُعا یے اُوکړه. یا الله! ددهٔ زړهٔ پاک کړے، اوګناهو نه یے معاف کړے، او شرمګاه یے دګناه نه محفوظ کړے. راوی وائی، ددے نه پس د زِنا برابر هیڅ یو څیز د دے کس نه قابل دنفرت نهٔ وُو. حاصل دکلام دا چه په دُعا یے دارو په نصیحت په نرمیٔ سره دِ پوهه کړی، او دا خیال دِ اوکړی، کهٔ زهٔ د دهٔ په ځایٔ وے، نو ما به خپل ځان دپاره څهٔ طریقه خوښوله، چه خلق ما ته په هغې طریقه نصیحت اُوکړی.

پنځم فصل

کښې هم د مبلغینو په خدمت کښې یو ضروری درخواست دے، هغه دا چه خپل هر یو تحریر او تقریر کښې دِ د اخلاص صفت پیدا کړی، ځکه چه اخلاص سره لږ شان عمل هم د دینی او دنیوی فائدو په اعتبار سره ډیر اُوچت دے۔ او بغیر د اخلاص نه نهٔ په دُنیا کښې د هغې څهٔ اثر، نهٔ په اخرت کښې یې څهٔ اجر شته۔ د نبی اکرم ﷺ ارشاد مبارک دے۔

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَنْظُرُ اِلٰى صُوَرِكُمْ وَاَمْوَالِكُمْ وَلٰكِنْ يَّنْظُرُ اِلٰى قُلُوْبِكُمْ وَاَعْمَالِكُمْ۔ (مشکوٰة عن مسلم)	الله جل شانهٔ ستاسو شکلونو او ستاسو مالونو ته نهٔ گوری، بلکه ستاسو زړونو ته او عملونو ته گوری۔

یو بل حدیث کښې راغلی دی چه د نبی اکرم ﷺ نه چا تپوس اُوکړو، چه ایمان څهٔ څیز دے؟ نبی علیه الصلوٰة والسلام ورته اُوفرمایل چه اخلاص دے۔ ترغیب (کتاب کښې یې) په مختلفو روایتونو کښې دا مضمون ذکر کړے دے۔ دغه شان یو حدیث کښې راغلی دی چه کله نبی اکرم ﷺ حضرت معاذ رضی الله عنه دیمن حاکم جوړ کړو، او لیږلو یې، نو هغهٔ درخواست اوکړو، چه ما ته څهٔ وصیت اُوکړئ۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام اُوفرمایل چه په دین کښې د اخلاص خیال ساته، چه اخلاص سره لږ شان عمل هم کافی دے۔

یو حدیث کښې ارشاد دے چه الله جل شانهٔ په عملونو کښې صرف هغه عمل قبلوی، چه خالص هم د هغهٔ د پاره کړے شوے وی۔

یو بل حدیث کښې ارشاد دے۔

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى اَنَا اَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ مَنْ عَمِلَ عَمَلًا اَشْرَكَ فِيْهِ مَعِيَ غَيْرِيْ تَرَكْتُهٗ وَشِرْكَهٗ وَفِيْ رِوَايَةٍ فَاَنَا مِنْهُ بَرِيْءٌ فَهُوَ لِلَّذِيْ عَمِلَهٗ۔ (مشکوٰة عن مسلم)	د الله جل شانهٔ ارشاد دے چه زهٔ په ټولو شریکانو کښې د شرکت نه ډیر زیات بے نیازه یم (یعنی د دنیا شریکان د شرکت محتاج او په شرکت راضی وی، او زهٔ ایکی تنها د ټول مخلوق پیدا کوونکے یم، بے پروا یم، په عبادت کښې د غیر د شرکت نه ویزاره

Maktaba Tul Ishaat.com

یم) څوک چه څهٔ داسے عمل اُوکړی، چه په هغے کښ ما سره بل څوک هم شریک کړی، زهٔ هغه د هغهٔ شریک ته سپارم، دویم روایت کښ دی، چه زهٔ د هغهٔ نه ویزاره یم"۔

یو بل حدیث کښ راغلی دی چه دقیامت په ورځ دحشر په میدان کښ به یو اواز کوونکے په اُوچت اواز اُووائی، چه چا په څهٔ عمل کښ بل شریک کړے وی، هغه دِ د هغے بدله د هغهٔ نه اُوغواړی۔ الله تعالیٰ په ټولو شریکانو کښ دشرکت نه ډیر زیات بے نیازه دے۔

یو بل حدیث کښ راغلی دی۔

مَنْ صَلّٰی یُرَآءِیْ فَقَدْ اَشْرَکَ وَمَنْ صَامَ یُرَآءِیْ فَقَدْ اَشْرَکَ وَمَنْ تَصَدَّقَ یُرَآءِیْ فَقَدْ اَشْرَکَ۔ (مشکوۃ عن احمد)

څوک چه په رِیا کارئ مونځ کوی هغه مشرک شی، او څوک چه په ریا کارئ روژه نیسی هغه مشرک شی، څوک چه په رِیا کارئ صدقه ورکوی، هغه مُشرک شی۔

د مشرک کیدو مطلب دا دے چه هغه نورو خلقوله چه چا ته د خودنے دپارهٔ دهٔ دا عملونه کړی دی، د الله تعالیٰ شریک جوړوی۔ په دِے حالت کښ دا عملونه د الله تعالیٰ دپاره نهٔ پاتے کیږی، بلکه د هغے خلقو دپاره کیږی د چا د خودنے دپارهٔ چه کړے شی۔

یو بل حدیث کښ د نبی علیه الصلٰوة والسلام اِرشاد مبارک دے۔

اِنَّ اَوَّلَ النَّاسِ یُقْضٰی عَلَیْهِ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ رَجُلٌ اُسْتُشْهِدَ فَاُتِیَ بِهٖ فَعَرَّفَهٗ نِعْمَتَهٗ فَعَرَفَهَا فَقَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِیْهَا قَالَ قَاتَلْتُ فِیْكَ حَتّٰی اُسْتُشْهِدْتُّ قَالَ کَذَبْتَ وَلٰکِنَّكَ قَاتَلْتَ لِاَنْ یُّقَالَ جَرِیْءٌ فَقَدْ قِیْلَ ثُمَّ اُمِرَ بِهٖ فَسُحِبَ عَلٰی وَجْهِهٖ حَتّٰی اُلْقِیَ فِی النَّارِ

دقیامت په ورځ اول د خلقو نه چه چا ته فیصله اُوروُلے شی، د هغوی نه به یو هغه شهید هم وی، چه هغه به راوُغوختلے شی، اول به الله تعالیٰ د هغے خپل نعمت اِظهار اُوکړی، چه کوم په هغهٔ کړے شوے وُو، هغه به یے اُوپیژنی او اقرار به اُوکړی د دے نه پس به ترے پوښتنه اوکړے شی، چه د دے نعمت نه دِ څهٔ کار واخستهٔ دے به اُووائی چه ستا د رضا دپارهٔ م جهاد

وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ وَعَلَّمَهُ
وَقَرَأَ الْقُرْآنَ فَأُتِيَ بِهِ
فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ
فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ تَعَلَّمْتُ
الْعِلْمَ وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ
فِيكَ الْقُرْآنَ قَالَ كَذَبْتَ
وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ
إِنَّكَ عَالِمٌ وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ
هُوَ قَارِئٌ فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ
فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهِ حَتّٰى أُلْقِيَ
فِي النَّارِ۔ وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ
الْمَالِ كُلِّهِ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ
نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا
عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ مَا تَرَكْتُ
مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ
يُنْفَقَ فِيهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ
فِيهَا لَكَ قَالَ كَذَبْتَ وَ
لٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ هُوَ
جَوَادٌ فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ
بِهِ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهِ
ثُمَّ أُلْقِيَ فِي
النَّارِ۔ (مشکوٰة
عن مسلم)

❀ ❀ ❀

اوکړۀ تر دے چه شهيد شوم۔ ارشاد به اُوشي چه دروغ دی، دا ددے د پاره کړے وُو چه خلق درته بهادر اُووائی پس اُوويلے شُو، او دکوم غرض د پاره دِ چه جهاد کړے وُو، هغه درته ملاؤ شو۔ دے نه پس به هغهٔ ته حکم واوروُلے شي چه پړمخے راښکلے دِ په دوزخ کښې اُوغورزوُلے شي۔ دويم هغه عالم به وی، چا چه علم لوستے وُو او خودلے وُو، او قران پاک يے حاصل کړے وُو هغه به راوُغوختلے شي، په هغهٔ چه کوم انعامات دُنيا کښې کړے شوی وُو، هغه به ورته ښکاره کړے شي، هغه به اِقرار اُوکړی دے نه پس به د هغهٔ نه هم تپوس اُوکړے شي، چه په هغې نعمتونو کښې دِ څه څه کارونه کړی دی؟ دے به عرض اُوکړی، چه ستا د رضا د پاره م علم اولوستهٔ او خلقو ته م اُوخودلو۔ قرانِ پاک م ستا د رضا د پاره حاصل کړو۔ جواب به ورکړے شي۔ دروغ وايے۔ تا علم ددے د پاره لوستے وُو۔ چه خلق درته عالم اُووائی، او قران دِ ددے د پاره حاصل کړے وُو چه خلق درته قاری اُووائی، پس اُوويلے شُو (او کوم غرض چه د لوستلو خودلو وُو هغه پوره شو) دے نه پس به دهٔ ته هم حکم واوروُلے شي او دے به هم پړمخے راښکلے دوزخ کښې اُوغورزوُلے شي۔ دريم به هغه مالدار وی چه هغهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

ته الله تعالیٰ درزق فراخي ورکړے وي ، اوهرقسمه مال یے ورکړے وي ، راوبه غوختلے شي ، اوپه هغه به دتهولو نعمتونو ښکاره کولو اودهغے د اقرار اَخستلو نه پس به ترے تپوس اُوکړے شي چه په دے انعاماتو کښ دِ څه کارګذاري کړے ده؟ دے به عرض اوکړي چه هیڅ دمال خرڅ کولو ښه ځائ داسے نهٔ وو چه په هغے کښ لګول ستا درضا سبب وُو ، اوما په هغے کښ لګولے نهٔ وي ارشاد به اُوشي دروغ دي - داتول دِدے دپاره کړي وُوچه خلق درته سخي اُووائي - پس اُوویلے شو - دے به هم دحکم موافق را ښکلے په دوزخ کښ اُوغورزولے شي ۔"

دے دپاره ډیرهٔ اهمه اوضروري ده چه مبلغین حضرات دِ په خپله توله کارګذاري کښ دالله جل شانهٔ رضا ، دهغهٔ ددین خورَول دنبي اکرم ﷺ دسنتو تابعداري مقصود اُولري - شهرت ، عزت ، تعریف له دِ ذرهٔ برابر هم په زړهٔ کښ ځائ ورنکړي ، کهٔ خیال راشي ، نولاحول او استغفار سره دِ دهغے اِصلاح اُوکړي - الله جل شانهٔ دِ په خپلے مهرباني اودخپل محبوب په صدقے اودمحبوب دپاک کلام په برکت ما ګنهګار ته هم داِخلاص توفیق راکړي او (تاسو) ټولو ته هم - اٰمین -

شپږم فصل

دعامو مسلمانانو یو خاص کار طرف ته مُتَوَجِّه کول دي ، هغه دا چه دے زمانه کښ په عالمانو بدګماني ، بے توجُهي نه ، بلکه دمقابلے اودسپکاوي صورتونه عام طور اِختیارولے شي ، دا کار ددین په لحاظ ډیر سخت خطرناك دے - په دِے کښ هیڅ شك نشته دے ، چه دِ دُنیا په هره ډله کښ څنګه چه په ښو کښ بد هم وي ، دغسے دعالمانو په ډله کښ هم داسے بلکه ددے نه زیات دروغژن په ریښتنو کښ شامل دي ، اوبد عالمان په ښو عالمانو کښ ګډ دي ، بیا هم دوه خبرے بے حده دلحاظ قابلے دي -

اَول دا چه ترڅو چا عالم دبدائ تحقیق اوثبوت نهٔ دي ، په هغهٔ هیڅ

کلهٔ حکم نکول نهٔ دی پکار:

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ؕ اِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُوْلًا ○

او دخبرې چه تا ته تحقیق نهٔ وی، په هغې عمل مکوه، دغوږ او دسترګې او د زړهٔ د هرچا نه به د دې ټولو پوښتنه کیږی.

(بیان القرآن)

او صرف په دې بدګمانئ چه ویونکے شاید ... کښ وی دهغهٔ خبرهٔ بے تحقیقه رد کول نورهم زیات ظلم دے.

نبی اکرم ﷺ په دے کښ دومره احتیاط ... دے چه یهودیانو د تورات مضامین په عربئ کښ نقل کړل او خلقوته به یې اَوروَل، نبی علیه الصلوٰة والسلام ارشاد اُوفرمایهٔ چه تاسو ورته مهٔ ریښتیا وایئ او مهٔ دروغ، بلکه دا وایئ چه کوم څهٔ الله تعالیٰ نازل کړی دی، په هغې ټولو زمونږ ... دے.

یعنی دا چه د کافرانو نه نقل متعلق یې هم بے تحقیق ... دروغو نه هم منع اوکړه، خو زمونږ د خلقو دا حالت دے، چه کم خوښه ... خبر زمونږ د رائے خلاف اُووائی، نو دهغهٔ دخبرے ... د ټولے پارهٔ د ږوبولو ... په ذات حملے کولے شی اګرچه مونږ ته دا معلومه شی چه دے د اهلِ حق نه دے.

دویمه ضروری خبرهٔ دادهٔ چه عُلمائے حقّانی، علمائے رُشد، علمائے خیر هم د بشریت نه خالی نهٔ دی بے ګناه کیدل د انبیاء علیهم الصلوٰة والسلام شان دے. په دے وجه د دے عالمانو دغلطو، دهغوئ د کمزورو، د هغوی د قصور ذمه واری هم په هغوی دهٔ، او الله تعالیٰ سرهٔ د هغوی معامله دهٔ، سزا ورکوی که معاف کوی یې. بلکه غالب ګمان دا دے چه د هغوی غلطئ به اِنشاء الله معاف کولے شی. ځکه چه کریم آقا خپل هغه غلام ته کوم چه خپل ذاتی کاروبار پریږدی او د آقا په کار کښ مشغول شی، او پورهٔ طور په هغه کښ لګیا اُوسی، اکثر دهغهٔ دغلطو نه سترګے پټول او معافی ورته کیږی، بیا د الله جل شانهٔ په شان څوک کریم کیدے نشی، که د عدل په تقاضا یې نیول هم اُوکړی، دا د هغهٔ خپله معامله دهٔ. د دے کارونو په وجه عالمانو ته خلق بدګمانه کول، نفرت پیدا کول، لرے ساتلو کوشش کول د خلقو د پارهٔ به د دین د دینئ سبب شی، او دا سے کونکو د پارهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

لوئ وبال دے۔

دنبی اکرم ﷺ اِرشادِ مبارک دے۔

اِنَّ مِنْ اِجْلَالِ اللهِ تَعَالٰی اِکْرَامَ ذِی الشَّیْبَةِ الْمُسْلِمِ وَحَامِلِ الْقُرْاٰنِ غَیْرِ الْغَالِیْ فِیْهِ وَلَا الْجَافِیْ عَنْهُ وَاِکْرَامَ ذِی السُّلْطَانِ الْمُقْسِطِ (ترغیب عن ابی داؤد)	ددرېو کسانو عزت دالله تعالیٰ عزت دے یو بوډا مسلمان، دویم هغه دقرآن حافظ چه د زیاتی کمی نه خالی دی۔ دریم انصاف کوُنکے حاکم۔

بل حدیث کښې اِرشاد دے۔

لَیْسَ مِنْ اُمَّتِیْ مَنْ لَّمْ یُجِلَّ کَبِیْرَنَا وَ یَرْحَمْ صَغِیْرَنَا وَیَعْرِفْ عَالِمَنَا۔ (ترغیب عن احمد والحاکم وغیرهما)	هغه څوک چه زمونږ دمشرانو عزت نهٔ کوی، زمونږ په کشرانو رحم نهٔ کوی، زمونږ دعالمانو قدر نهٔ کوی، هغه زمونږ دامت نه نهٔ دے۔

یو بل حدیث کښې راغلی دی۔

عَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَالَ ثَلٰثٌ لَا یَسْتَخِفُّ بِهِمْ اِلَّا مُنَافِقٌ ذُوالشَّیْبَةِ فِی الْاِسْلَامِ وَذُوالْعِلْمِ وَاِمَامٌ مُقْسِطٌ (ترغیب عن الطبرانی)	دنبی اکرم ﷺ ارشاد دے چه درے کسان داسے دی چه دهغوی سپک گڼړلو والا صرف منافق کیدے شی (نهٔ چه مسلمان، هغه درے کسان دادی) یو بوډا مسلمان۔ دویم عالم دریم اِنصاف کوُنکے حاکم۔

بعضِ روایتونو دنبی اکرم ﷺ ارشاد نقل کړے شوے دے چه ماته په خپل اُمت دتهولو څیزونو نه زیات ددرېو څیزونو ویره ده۔ یو دا چه په دوی به دنیوی فتوحات زیات اوکړے شی، چه دهغے له وجه به پیے یو بل سره حسد پیدا شی۔ دویم دا چه قرآن شریف به خپل مینځ کښې دومره عام شی چه هرڅوک به دهغے په مطلب دپوهیدو کوشش کوی، حال دا دے، چه دهغے معانی او مطلبونه ډیر داسے دی چه دالله تعالیٰ نه سوا هیڅوک پرے نهٔ پوهیږی اوخلک چه په عِلم کښې پاخهٔ دی هغوی هم دا وائی چه مونږ په دے یقین لرو، ټول زمونږ دپروردگار له طرفه دی۔ (بیان القرآن) یعنی په عِلم کښې پاخهٔ

خلق هم د تصدیق نه سِوا دُورانده تیر یدو همت نهٔ کوی، بیا عوامو ته د بحث وتکرار رخهٔ حق دے۔ د دریم داچه د عالمانو حق ضائع کول به اوکړے شی او هغوی سره به د بے پرواهئ معامله اُوکړے شی۔ ترغیب کښ یے د احدیث د طبرانی په روایت نقل کړے دے۔ د دے قسمه روایتونه ډیر د حدیث په کتابونو کښ موجود دی۔

کوم قسم الفاظ په دے زمانه کښ د عالمانو او دینی علمونو متعلق اکثر استعمالولے شی، فتاوٰی عالمګیری کښ د هغے نه ډیر الفاظ د کفر یے شمارلی دی، خو خلق د خپلے ناپوهئ په وجه د دے حکم نه ناخبره دی۔ په دے وجه ډیره ضروری ده، چه د دے قسمه الفاظو په استعمال کښ دِ ډیر زیات احتیاط اُوکړے شی۔ فرض کړو کچرے اُومنلے شی چه حقانی عالمان داوخت نهٔ دی پلتے شوی، او د اتولے ډلے کوموته چه عالمان ویلے شی بد عالمان دی بیا هم تاسو حضرات صِرف هغے عالمانو ته بد عالمان ویلو سره نه خلاصیږئ بلکه د اسے حالت کښ د ټولے دُنیا په زمه دا فرض کیږی چه د حقانی تیکانو عالمانو یوه ډله پیدا اکړی، هغوی ته علم اُوخودلے شی، ځکه چه د عالمانو وجُود فرض کفایه دے۔ کچرے یوه ډله دے د پاره موجود وی، نو دا فرض د ټولونه ادا کیږی، ګنی ټوله دُنیا ګنهګاره ده۔

یو عام اِعتراض داکولے شی چه د دے عالمانو اختلاف عوام تباه وبرباد کړل، کیدے شی چه په خهٔ درجه کښ صحیح وی، خو حقیقت دادے چه د عالمانو دا اختلاف د نن نه نهٔ دے، د تِلو، پنځوسو کالو نهٔ دے۔ خَیْرُ الْقُرُوْن بلکه په خپله د نبی اکرم ﷺ د زمانے نه دے۔

نبی اکرم ﷺ حضرت اَبُوهریره رضی الله عنه ته خپلے پڼړے مبارکے د نښے په طور ورکړے، او د دے اِعلان د پاره یے اُولیږهٔ، چه کلمه (لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ) ویونکے به جنت کښ ضرور د اخلیږی۔ په لاره کښ حضرت عمر رضی الله عنه سره مِلاویږی، د معاملے پو ښتنه ترے کوی، حضرت ابوهریره رضی الله عنه خپل ځان د نبی علیه الصلٰوة والسلام قاصد ښائی، بیا هم حضرت عُمر رضی الله عنه یے د اسے په زوره په دوا پر ولاسونو په سینه ډهی، چه هغه غریب د کُناتو په شا په زمکه پریوزی

Maktaba Tul Ishaat.com

خو نهٔ د حضرت عمر رضی الله عنه خلاف اِشتهار چهاپ کړی، او نهٔ ئې جلسه کښې احتجاجي تجويز پاس کړی.

حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم کښې په زرګونو مسئلې اختلافي دی، او د څلورو اماماتو رحمهم الله په نزد شايد د فقهې څه حصه داسې وی چه په کښې اختلاف نهٔ وی. څلور رکعته مونځ کښې د نيت تړلو نه تر سلام پورې تقريباً دوه سوه مسئلې د څلورو اماماتو په نزد داسې اختلافي دی، چه زما د کمزورې نظر نه هم تيرې شوی دی، او د دې نه زيات نهٔ دی معلومه، خو مره په وی. خو د رفع يَدَين او د امين بِالجَهر وغيره دوه درې مسئلو نه سوا په موکله په غوبوونو کښې نهٔ وی پريوتې. نهٔ د هغې د پاره اِشتهارات شائع شوی دی او نهٔ جلسې او مُناظرې کيدو نکې په چا ليدلې وی. راز (پکښې) دا دې، چه د عوامو غوبونه د درې مسئلو نه نا آشنا دی. عالمانو کښې اختلاف رحمت دې. او د اِښکاره خبره ده، چه کله څوک عالم په شرعي دليل فتوی ورکړی د بل په نزد که چرې هغه دليل صحيح نهٔ وی، نو هغه شرعًا په اِختلاف کولو مجبور دې، که چرې اِختلاف اُونکړی، نو حق پټونکې او ګنهګار دې.

حقيقت دا دې چه خلق د کار نهٔ کولو د پاره دا بيهوده حيلې بهانې جوړوی کنې هميشه طبيبانو کښې اختلاف وی، د وکيلانو په رائې کښې اختلاف کيږی خو هيڅوک علاج کول نهٔ پريږدی، او د مقدمې کولو نه ئې منع کيږی. بيا څه مصيبت دې، چه په دينې کارونو کښې د عالمانو اختلاف حيله جوړولے شی يقيناً ښنننې عمل کونکو د پاره ضروری ده، چه کوم عالم هغه بنهٔ ګنړی، د سنتو تابعدار يې ګنړی، د هغهٔ په وينا دِ عمل اُوکړی، او په نورو دِ بے فائدې حملو او بد رد ويلو نه منع اُوسی. د کوم سړی ذهن چه په دليل نهٔ پوهيږی او په هغې کښې فرق نشی کولے، هغهٔ ته حق نشته چه په هغې کښې دخل اُوکړی. د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کړې شوی دی، چه عِلم د داسې خلقو نه نقل کول کوم چه د هغې اهل نهٔ وی، د هغې ضائع کول دی. خو کوم ځائې چه بے دينې تر دې حده وی چه الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول صلی الله علیه وسلم په اِرشاداتو باندې خوله پرانستل د هر سړی حق ګنړلے شی، هلته غريبانان عالمان په څهٔ

شمار کښې دی. خو مره الزامات چه پرے اُولګوی، کم دی. وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝ (پ ۲)

اُووم فصل

ګویا د شپږم فصل تکمله او تتمه ده، په دیکښې دکتونکو په خدمت کښې یو اهم درخواست دے، هغه دا چه اکثر د الله تعالیٰ دوستانو سره تعلق د هغوی په خدمت کښې ډیره حاضری په دینی کارونو کښې د مضبوطیا او دخیرو برکت سبب ګرزی. د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دے.

اَلَا اَدُلُّكَ عَلٰی مِلَاكِ هٰذَا الْاَمْرِ الَّذِیْ تُصِیْبُ بِهٖ خَیْرَ الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ عَلَیْكَ بِمَجَالِسِ اَهْلِ الذِّكْرِ (الحدیث مشکوٰة)

ایا زهٔ تاته د دین د مضبوطیا څیز اُونهٔ ښایم چه په هغې نهٔ د دین او د دُنیا د واړو کامیابی ته اُورسیږے، هغه د الله تعالیٰ د ذکر کونکو مجلسونه دی، او کله چه ته یواځے شے، نو خپل ځان د الله تعالیٰ په یاد رَطب اللسان (لُونډ ژبے) ساته.

د دے تحقیق ډیر ضروری دے چه اَهْلُ اللّٰه کوم خلق دی. د اَهْلُ اللّٰه د پیژندګلو نښه د سنتو تابعداری ده، چه الله جل شانهٔ خپل محبوب نبی اکرم صلی الله علیه وسلم له د اُمت د هدایت د پاره نمونه جوړ کړے رالیږلے دے، او خپل کلام پاک کښې یے ارشاد فرمایلے دے.

قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِیْ یُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَیَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ط وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ط (پ ۳ ع ۱۲)

ته اُووایه (اے نبی) که چرے تاسو الله تعالیٰ سره محبت ساتئ، نو زما تابعداری اُوکړئ، الله تعالیٰ به تاسو سره محبت اُوکړی، او ستاسو ټول ګناهونه به معاف کړی، او الله تعالیٰ بخښونکے مهربانه دے. (بیان القرآن)

نو چه څوک د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم کامل تابعداری، هغه په حقیقت کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

الله والا دے، اوچه څوك د سنتو د تابعدارئ نه څو مره لرے دے، هغو مره هغه د قُربِ الٰهی نه هم لرے دے۔ مفسرین لیکلی دی، چه څوك د الله تعالیٰ د محبت دعوی کوی، او د رسول الله ﷺ د سنتو مخالفت کوی، هغه دروغژن دے، ځکه چه د محبت قاعده او د عشق قانون دا دے، چاسره چه د چا محبت وی، د هغه کوڅه دیوال، انګنړ، باغ آن ترڅے چه د هغه سپی او خر سره هم محبت کوی۔

اَمُرُّ عَلَى الدِّيَارِ دِيَارِ لَيْلٰى — اُقَبِّلُ ذَا الْجِدَارَ وَذَا الْجِدَارَا

وَمَا حُبُّ الدِّيَارِ شَغَفْنَ قَلْبِیْ — وَلٰكِنْ حُبُّ مَنْ سَكَنَ الدِّيَارَا

(ترجمه):- (مجنون) وائی چه زهٔ د لیلیٰ په ښهر تیریږم، نو دا دیوال هغه دیوال ښکلوم۔ څهٔ د ښهرونو محبت زما زړهٔ عاشق کړے نهٔ دے، بلکه د هغه چا د محبت له خاطره دا کوم، کوم چه په ښهرونو کښ اوسی (یعنی لیلیٰ)۔ بل شاعر وائی۔

تَعْصِی الْاِلٰهَ وَاَنْتَ تُظْهِرُ حُبَّهٗ — وَهٰذَا الْعَمْرِیْ فِی الْفِعَالِ بَدِيْعٌ

لَوْ كَانَ حُبُّكَ صَادِقًا لَّاَطَعْتَهٗ — اِنَّ الْمُحِبَّ لِمَنْ يُّحِبُّ مُطِيْعٌ

(ترجمه) ته د الله تعالیٰ د محبت دعوی کوے، او د هغهٔ نافرمانی کوے، که چرے ته په خپله دعوی کښ رښتینے وے، نو هیڅ کله به د نافرمانی نهٔ کوله، ځکه چه عاشق همیشه د معشوق تابعدار وی۔

د نبی اکرم ﷺ ارشاد مبارك دے چه زما ټول اُمت به جنت کښ داخلیږی خو چه چا انکار اُوکړهٔ۔ اصحابو رضی الله عنهم عرض اُوکړهٔ "چا چه انکار اُوکړهٔ" دے نه څوك مراد دی؟ نبی علیه الصلٰوة والسلام اُوفرمایل، څوك چه زما اِطاعت کوی، هغه به جنت کښ داخل شی، او څوك چه نافرمانی کوی، هغه اِنکار کوونکے دے۔

یو ځائے ارشاد دے، چه تاسو نه څوك ترهغے وخته (کامل) مسلمان نهٔ شی کیدے، ترڅو چه د هغهٔ خواهِش د هغے دین تابع نهٔ شی کوم چه ما راوړے دے۔ (مشکوٰة)

د حیرانتیا خبره ده چه یو کس د اسلام او د مسلمانانو د ترقئ خیر خواهئ دعویدار وی او د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول (ﷺ) د اطاعت نه خالی وی، او که څهٔ خبرے باره کښ د هغے مدعیانو ته اُوویلے شی چه (راځئ) د سنتو او د نبی اکرم ﷺ د طریقے نه خلاف ده، نو لکه چه په تیزه دِ اُووهٔ۔ سه

خلافِ پیمبر کسے رہ گزید ⁂ کہ ہرگز بمنزل نخواہد رسید

د پیغمبر ﷺ د طریقے خلاف کۀ څوک بله لار اختیار کړی

نو هیڅ کله منزل مقصود ته نشی رسیدے۔

خلاصه دادهٔ، ددے قول تحقیق نه پس (کۀ دا معلومه شی) چه دا سړے د الله تعالیٰ د دوستانو نه دے، هغهٔ سره تعلق زیاتول، د هغهٔ په خدمت کښ پیر پیر حاضریدل، د هغهٔ د علمونو نه فائدهٔ اخستل د دینی ترقیٔ سبب دے، او د نبی اکرم ﷺ حکم هم دے۔

یو حدیث کښ ارشادِ عالی دے چه کله تاسو د جنت په باغونو تیریږی نو څهٔ حاصلوئ هم۔ اصحابو ﷺ عرض اُوکړهٔ، اے د الله رسوله ﷺ د جنت باغونه څهٔ څیز دے؟ نبی اکرم ﷺ ارشاد اُوفرمایهٔ علمی مجلسونه۔

بل حدیث کښ د نبی اکرم ﷺ ارشاد دے، چه لقمانِ (حکیم) خپل ځوئ ته نصیحت کړے وُو، چه د عالمانو په خدمت کښ حاضری اُوکړه او د اُمت د حکیمانو وینا کانے په غور سره اُوره، چه الله جل شانهٔ د حکمت په رڼا مړهٔ زړونه داسے ژوندی کوی، لکه څنګه چه مړه زمکه د شیبو په باران (ژوندئ کیږی.) حکیمان د دین پیژندونکی دی نهٔ چه نور خلق۔

یو بل حدیث کښ راغلی دی، چه نبی اکرم ﷺ نه چا پوښتنه اُوکړه، چه بهترین ملګرے زمونږ خلقو د پاره څوک دے؟ نبی علیه الصلوٰة والسلام اُوفرمایل چه د چا په لیدو سره د الله تعالیٰ یاد پیدا شی۔ د چا په خبره چه علم کښ ترقی کیږی، د چا په عمل سره چه آخرت را یاد شی۔ ترغیب کتاب کښ د روایتونه پے ذکر کړی دی۔

یو حدیث کښ دی چه د الله تعالیٰ بهترین بندګان هغه خلق دی چه د هغوی په لیدو سره الله تعالیٰ را یاد شی۔ په خپله د الله جل شانهٔ ارشاد دے

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ ۝	اے ایمان دارو! د الله نه ویریږئ او رینښتنو سره شئ۔
(پ ۱۱ - ع ۴)	(بیان القرآن)

مُفسرینو لیکلی دی چه د رینښتنو نه مراد په دے ځائ کښ مشائخ

Maktaba Tul Ishaat.com

صوفیه دی، هرکله چه څوك دهغوی ددرپه خادمانوکښ داخل شی، نودهغوی دتربیت اودقوت ولایت په برکت لویولویو مرتبوته ترقی کوی۔

شیخ اکبر رحمة الله علیه لیکلی دی، کۀ چرے ستا کاروته دیل دمرضئ نۀ تابع کیږی نوتۀ هیڅ کله هم دخپل نفس دخواهشاتو نه وتلے نۀ شے، اګرکۀ ټول عمر مجاهدے کوے۔ په دے وجه کله کۀ تاته څوك داسے سړے ملاؤشو، چه دهغۀ عزت ستا په زړۀ کښ وی، دهغۀ خدمت کوه، اودهغۀ دوړاندے (لکه) دمړی اُوسه، چه هغه تاځۀ قسم چه غواړی استعمال کړی، اوستا خپل هیڅ خواهش هُم پاتے نۀ شی۔ دهغۀ حکم منلوکښ چلتی کوه، اودځۀ څیزنه چه دِمنع کوی دهغے نه ځان ساته۔ کۀ دکسب کولو حکم درته کوی، کوه یے۔ خود هغۀ په حکم سره نۀ په خپله رائے سره۔ کۀ دکیناستو حکم درته اوکړی نو کینینه۔ په دے وجه ضروری ده چه دشیخ کامل په تلاش کښ کوشش کوه، دِے دپاره چه ستا ذات الله تعالیٰ سره ملاؤکړی۔

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دے، کۀ څۀ خلق په یو مجلس کښ کینی د الله تعالیٰ ذکرکوی، نوملائیکے ددوی نه چاپیره شی، رحمت پرے اُوغوړیږی او الله جل جلالهٔ په خپل پاك مجلس کښ ددے خلقو ذکرکوی۔ یوزړۀ پائیلی عاشق دپاره ددے نه زیات بل څۀ نعمت کیدے شی، چه دمحبوب په مجلس کښ ددۀ ذکر اُوشی۔ یو بل حدیث کښ ارشاد دے، چه دالله یاروکو خلقو ته چه په اخلاص الله تعالیٰ یادوی، یو آواز کوونکے آواز کوی، چه الله تعالیٰ ستاسو بخښنه اُوکړه، اوستا سو بدئ یے په نیکو سره بدلے کړے۔ بل ځائے کښ ارشاد دے چه په کوم مجلس کښ دالله تعالیٰ یادنۀ وی، دهغۀ په رسول صلی الله علیه وسلم دُرود نۀ وی، دغسے مجلس والوته به دقیامت په ورځ افسوس وی۔

دحضرت داؤد علیه السلام دُعا ده، چه اے الله کۀ چرے تۀ ما ذاکرینو د مجلس نه تیریدونکے دغافلینو مجلس ته تلونکے اُووینے، نوزما خپے ماتے کړے۔

؎ جب اسکی صوت وصورت سے ہے محرومی توبہتر ہے مرے کانوں کا کر ہونا اورآنکھیں کور ہو جانی

هرکله چه دمحبوب د آواز اوریدو اوشکل لیدو نه محرومی وی، نودِے نه زما

غوږ ونه کانږهٔ اوسترګے ړندے شے دی."

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی، چه په کومو مجلسونو کښې د الله تعالیٰ یاد کیږی، هغه اسمان والو ته داسے ځلیږی لکه زمکے والو ته ستوری -

حضرت ابوهریره رضی الله عنه یو وارے بازار ته تشریف یوړهٔ، او خلقو ته یے اُووئیل، چه تاسو دلته ناست یئ، او په جماعت کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم میراث تقسیمیږی، خلق په منډه جماعت ته ورغلل، هلته هیڅ هم نهٔ تقسیمید ل واپس لاړل عرض یے اوکړهٔ، چه هلته خو هیڅ هم نهٔ وُو- ابوهریره رضی الله عنه تپوس اُوکړهٔ، چه اخرڅهٔ کیدل؟ خلقو اُووے، چه څهٔ خلق د الله تعالیٰ په ذکر کښې مشغول وُو او څهٔ په تلاوت کښې - دوی اُوفرمایل، چه هُم دا خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم میراث دے۔

امامِ غزالی رحمة الله علیه د دے قسمه روایتونه په کثرت ذکر کړی دی، د دے ټولو نه زیات دا چه په خپله نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته حُکم دے۔

وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَ الْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ ۚ تُرِيْدُ زِيْنَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ وَكَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا ۝

(پ ۱۵ - ع ۱۶)

او تاسو خپل ځان هغے خلقو سره (د ناستے) پابند کړئ، کوم چه صبا او بیګاه د خپل رب عبادت صرف د هغهٔ د رضا حاصلولو د پاره کوی، او د دنیوی ژوند د رونق په خیال خپلے سترګے له دوی نه مهٔ ګرزوه، او د داسے کس خبره مهٔ منه، چه د هغهٔ زړهٔ مونږ د خپل یاد نه غافله کړے دے، او د خپل نفسانی خواهش تابعداری کوی، او د هغهٔ حال د حد نه تیر شوے دے۔

په ګڼړو روایتونو کښې راغلی دی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به د الله جل جلالهٗ په دے شکر ادا کوو چه زما په اُمت کښې یے داسے خلق پیدا کړهٔ چه د هغوی په مجلس کښې ما ته د ناستے حکم اُوشو- او په دے ایتِ شریفه کښې د کومے پے حکم خُکم اِرشاد فرمایلے دے، چه د هغوی زړونه د الله تعالیٰ د یاد نه غافله دی، د خپلو خواهشاتو تابعداری کوی- د (الله تعالیٰ د) حدونو نه اوړی، د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغوی د تابعدارئ نه منع کړے شوے دہ۔

اُوس هغه حضرات چه په هره وینا او کار کښ، د دین او د دُنیا په کارونو کښ کافران او فاسقان مشران جوړوی، د مشرکانو او د نصارٰی (عیسایانو) په هره وینا او کار یاندے ځان قربانوی، په خپله دِ غور اُوکړی، چه په کومه لار روان دی۔ ؎

ترسم نه رسی به کعبه اے اعرابی
کین ره که تو می روی بترکستان است

ویریږم اُوبه نه رسے کعبے ته بانډیچیه! دا لار چه پرے روان یے نیغه تلے ترکستان ته۔

مراد ما نصیحت بود و کردیم
حوالت با خدا کردیم و رفتیم

مراد زما وُو نصیحت، اُوسے کړو ؛ حواله په الله م کړے زۀ لاړم درته

وَمَا عَلَى الرُّسُلِ اِلَّا الْبَلٰغُ

حکم منونکے
محمّد زکریّا کاندهلوی
مقیم مدرسه مظاهر علوم سهارنپور
۵ر صفر سنه ۱۳۵۰ھ
موافق
۲۱ر جون سنه ۱۹۳۱ء په شپه د
کُل (پیر)

ترجمه کوُنکے
میاں محمّد شفیق غفرلهٗ
(چارسده)
دار الشفاء۔ چارسده۔ پوسٹ کوڈ ۲۴۴۲۰
فون: ۰۲۷۸۱-۵۱۔ تاریخ د ختمید نظرثانی
۷ر شعبان سنه ۱۴۱۶ھ موافق ۲۸ر دسمبر سنه ۱۹۹۵ء
په شپه د جُمعے

شَهۡرُ رَمَضَانَ الَّذِیۡۤ اُنۡزِلَ فِیۡهِ الۡقُرۡاٰنُ

پښتو

فضائل رمضان

تالیف

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمہ اللہ

مترجم

میاں محمد شفیق رحمہ اللہ

Maktaba Tul Ishaat.com

دفضائل رمضان (پښتو) دمضامینو فهرست

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ حَامِدًا وَّمُصَلِّيًا وَّمُسَلِّمًا

د الله جل شانهٗ ثنا او صفت او نبي اکرم ﷺ باندے درود و سلام نه پس د ادیو څو حدیثو نو ترجمه ده چه د رمضان المبارک په باره کښ راغلی دی.

د نبي اکرم ﷺ رحمة للعٰلمين ذات د مسلمانانو د پاره په هر مضمون کښ چه څومره فضیلتونه او ترغیبونه ارشاد فرمائیلی دی، د هغې اصل شکریه او قدردانی خو دا وه چه مونږ پرے ځان قربان کړے وے، خو زمونږ کمزوری او دین نه بے رغبتی دومره زیاتے شوی دی چه په هغې عمل خو لا پریږده، هغې طرف ته پام او توجه هم نه ده پاتے شوے. تر دے چه اوس خلقو ته د هغې علم هم ډیر کم شوے دے.

د دے پاڼو مقصد دا دے که چرے د جماتونو امامان صاحبان او د تراویحو حافظان او هغه لوستونکی لیکونکی حضرات د چا چه دین سره څه نه څه درجه کښ مینه ده د رمضان د میاشتے په اولنو ورځو کښ دا رساله په جماتونو او مجمعو کښ خلقو ته اورَوی، نو د الله جل شانهٗ د رحمت نه امید دے، چه د خپل محبوب (نبي اکرم ﷺ) د کلام په برکت سره مونږ ته د دے مبارکے میاشتے څه قدر او د هغې د برکتونو طرف ته څه توجه پیدا شی، او د نیکو عملونو د زیاتوالی او د بدو عملونو د کموالی ذریعه موجوده شی.

د نبي اکرم ﷺ ارشاد مبارک دے که چرے الله جل شانهٗ ستا په وجه یو کس ته هم هدایت نصیب کړی، نو ستا د پاره د سرو اُوښانو نه (چه دا بنهٔ مال شمار یږی) غوره او بهتر دے.

د روژے میاشت د مسلمانانو د پاره د الله جل شانهٗ ډیر لوئ انعام دے خو هله چه د دے انعام قدر هم اوکړے شی. کنی زمونږ په شان محرومه کسانو د پاره تر یوے میاشتے پورے د رمضان رمضان چغوو هلو نه علاوه نور څه نه حاصلیږی په یو حدیث شریف کښ دی، که چرے خلقو ته دا معلومه شی چه رمضان څهٔ خیر دے، نو زما اُمت به دا ارزو اُوکړی، چه کال ټول سر د رمضان دی. هر

Maktaba Tul Ishaat.com

ځو لکه پوهیږی چه کالو سر روژے نیول اسان کار نهٔ دے خو د رمضان المبارک د
ثواب په مقابله کښې د نبی ﷺ ارشاد دے چه خلق به د دے ارزو کانے کوی۔
په یو حدیث کښې دی چه د رمضان المبارک روژے او هره میاشت کښې
درے روژے نیول د زړه خیرے او وسوسے لرے کوی۔ اخر څه خبره خو ده،
کنه، چه صحابه کرامو رضی الله عنهم به د روژے په میاشت کښې د جهاد په سفر کښې
روژے نیولے، سره د دے چه نبی اکرم ﷺ د روژے ماتو لو بار بار اجازت ورکړے
وُو، خو هغوی به روژے نیولے، تر دے چه بیا یے پرے حکمًا منع کړے۔
د مسلم شریف په یو حدیث کښې دی چه صحابه کرام رضی الله عنهم د یو غزا په سفر
کښې یو منزل کښې پړاؤ اوکړهٔ، ډیره سخته گرمی وه، د غریبئ په وجه تو لو سره دومره
کپړے هم نهٔ وے چه د نمر د گرمئ نه یے پرے ځان بچ کړے وے، ډیر و کسانو پکښې په
خپلو لاسونو د نمر د تاؤ نه ځان بچ کولو، په دے حالت کښې هم ډیر روژے نیولے وے
چه دا ودریدو طاقت یے اُونهٔ لرلے شو او پریوتل د صحابه کرامو رضی الله عنهم یو ے ډلے به لګه
چه همیشه کالو سر روژے نیولے۔ د نبی اکرم ﷺ نه په سوؤنو روایتونو کښې د مختلفو
قسمونو فضیلتونه نقل کړے شوی دی، چه د هغے راجمع کول زما په شان گنهګار د پاره
د وس نه بهر خو دهٔ، خو دا هم خیال دے، کچرے هغه په تفصیل سره اُولیکم نو کتونکی به
ستوما نه شی، ولے چه په دے زمانه کښې دینی کارونو کښې څومره بے توجهی کیږی هغه
دبیان محتاجه نهٔ ده، علم او عمل دواړو کښې چه څومره بے پرواهئ د دین په باره کښې زیاتیږی
هغه هر یو کس په خپل حالت باندے غور کولو سره معلومولے شی۔ د دے د پاره په
یویشتو حدیثونو بس وا لے کوم، او دا په دریو فصلونو تقسیموم۔
اول فصل د رمضان المبارک په فضیلتونو کښې چه په دے کښې لس حدیثه دی۔
دویم فصل کښې د شب قدر بیان دے، چه په دے کښې اوو حدیثه دی۔
دریم فصل کښې د اعتکاف ذکر دے، په دے کښې درے حدیثه دی، د دے نه پس
خاتمه کښې یو اوږد حدیث باندے مې دا رساله ختمه کړه، الله جل شانهٗ دے د
خپل کریم ذات او د خپل محبوب ﷺ په خاطر قبوله کړی او ما گنهګار له دے
هم د دے د برکتونو نه د نفع اخستلو توفیق را کړی۔ فَاِنَّهٗ بَرٌّ جَوَادٌ کَرِیْمٌ۔

اول فصل

د رمضان شریف په فضیلتونو کښې

(۱) عَنْ سَلْمَانَ رضی اللہ عنہ قَالَ
خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم فِيْ
اٰخِرِ يَوْمٍ مِّنْ شَعْبَانَ قَالَ
يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ اَظَلَّكُمْ شَهْرٌ
عَظِيْمٌ مُّبَارَكٌ شَهْرٌ فِيْهِ لَيْلَةٌ
خَيْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ شَهْرٌ جَعَلَ
اللّٰهُ صِيَامَهٗ فَرِيْضَةً وَّقِيَامَ لَيْلِهٖ
تَطَوُّعًا مَنْ تَقَرَّبَ فِيْهِ بِخَصْلَةٍ
مِّنَ الْخَيْرِ كَانَ كَمَنْ اَدّٰى فَرِيْضَةً
فِيْمَا سِوَاهُ وَمَنْ اَدّٰى فَرِيْضَةً
فِيْهِ كَانَ كَمَنْ اَدّٰى سَبْعِيْنَ
فَرِيْضَةً فِيْمَا سِوَاهُ وَهُوَ شَهْرُ
الصَّبْرِ وَالصَّبْرُ ثَوَابُهُ الْجَنَّةُ
وَشَهْرُ الْمُوَاسَاةِ وَشَهْرٌ يُّزَادُ
فِيْ رِزْقِ الْمُؤْمِنِ فِيْهِ مَنْ
فَطَّرَ فِيْهِ صَائِمًا كَانَ مَغْفِرَةً
لِّذُنُوْبِهٖ وَعِتْقَ رَقَبَتِهٖ مِنَ
النَّارِ وَكَانَ لَهٗ مِثْلُ اَجْرِهٖ مِنْ
غَيْرِ اَنْ يَّنْتَقِصَ مِنْ اَجْرِهٖ شَيْءٌ
قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم لَيْسَ
كُلُّنَا يَجِدُ مَا يُفَطِّرُ الصَّائِمَ
فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم يُعْطِي

حضرت سلمان رضی اللہ عنہ فرمائی چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم
د شعبان په روستئ ورځ مونږ ته وعظ اُوکړو
چه اے خلقو! په تاسو باندې يوه مياشت
راروانه ده، چه ډيره لويه مبارکه مياشت ده
په دے کښې يوه شپه ده (شب قدر)، چه د
زرو مياشتو نه زياته ده، الله تعالىٰ د دے
مياشتے روژے فرض کړى دى او د دے د شپے
قيام يعنى تراويح يے د ثواب خيز ګرځولے دے
څوک چه په دے مياشت کښې په يوه نيکئ
د الله تعالىٰ نزديکت حاصل کړى، هغه داسے
دے لکه چه په غير رمضان کښې يے فرض ادا
کړه۔ او څوک چه په دے مياشت کښې يو فرض
ادا کړى، هغه داسے دے لکه چه په غير رمضان
کښې اويا فرض ادا کړى، دا مياشت د صبر ده
او د صبر بدله جنت دے۔ او دا مياشت د خلقو
سره د غمخوارئ کولو ده۔ په دے مياشت کښې د
مؤمن رزق زياتولے شى، څوک چه د يو
روژه دار روژه ماتے اُوکړى، نو د هغه د پاره به
د ګناهونو معاف کيدل او د اُور نه د خلاصيدو
سبب اُوګرزى، او د روژه دار د ثواب په شان
به د ده ثواب اُوشى، خو د دے روژه دار نه به
هيڅ نه شى کمولے۔ صحابه و رضی اللہ عنہم عرض

Maktaba Tul Ishaat.com

اللّٰهُ هٰذَا الثَّوَابَ مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا عَلٰى تَمْرَةٍ اَوْشَرْبَةِ مَآءٍ اَوْمَذْقَةِ لَبَنٍ وَهُوَشَهْرٌ اَوَّلُهٗ رَحْمَةٌ وَّ اَوْسَطُهٗ مَغْفِرَةٌ وَّاٰخِرُهٗ عِتْقٌ مِّنَ النَّارِ مَنْ خَفَّفَ عَنْ مَمْلُوْكِهٖ فِيْهِ غَفَرَ اللّٰهُ لَهٗ وَ اَعْتَقَهٗ مِنَ النَّارِ فَاسْتَكْثِرُوْا فِيْهِ مِنْ اَرْبَعِ خِصَالٍ خَصْلَتَيْنِ تُرْضُوْنَ بِهِمَا رَبَّكُمْ وَخَصْلَتَيْنِ لَاغِنَاءَ بِكُمْ عَنْهُمَا فَاَمَّا الْخَصْلَتَانِ اللَّتَانِ تُرْضُوْنَ بِهِمَا رَبَّكُمْ فَشَهَادَةُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَتَسْتَغْفِرُوْنَهٗ وَاَمَّا الْخَصْلَتَانِ اللَّتَانِ لَاغِنَاءَ بِكُمْ عَنْهُمَا فَتَسْئَلُوْنَ اللّٰهَ الْجَنَّةَ وَتَعُوْذُوْنَ بِهٖ مِنَ النَّارِ وَمَنْ سَقٰى صَائِمًا سَقَاهُ اللّٰهُ مِنْ حَوْضِيْ شَرْبَةً لَا يَظْمَأُ حَتّٰى يَدْخُلَ الْجَنَّةَ۔

(رواه ابن خزيمة فى صحيحه ثم قال صح الخبر ورواه من طريقه البيهقى ورواه ابوالشيخ بن حيان فى الثواب باختصار عنهما وفى اسانيدهم على بن زيد جدعان ورواه ابن خزيمة ايضاً والبيهقى باختصار عنه من حديث ابى هريرة رض وفى اسناده كثير بن زيد كذا فى الترغيب صـ ٢٠٣)

اُوکړو چه اے د الله رسوله! (صلی الله علیه وسلم) مونږ کښې هر یو کس خو دومره طاقت نهٔ لري چه دروژه دار روژه ماتے اُوکړي نو نبی صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل (چه دا په مړه کیدو خوړلو باندے نهٔ ده) دا ثواب خو الله جل شانهٔ په یوه کهجوره روژے ماتولو یا په یو کوټ اُوبو یا په یو کوټ لسئ څکولو هم ورکوی د ایو داسے میاشت ده چه ددے اَوله حصه دالله تعالیٰ رحمت دے، او مینځنئ حصه یے مغفرت دے، او روستنئ حصه یے داُور نه ازادی ده۔ څوک چه په دے میاشت کښې د خپل غلام (اوخادم) نه بوجه سپک کړي، الله جل شانهٔ د هغهٔ مغفرت کوی، او د اُور نه ازادی ورکوی۔ او د څلور څیزونو په دے کښې ډیر والے کوئ، چه په هغے کښې دوه څیزونه خو د الله تعالیٰ د رضا د پاره دی او دوه څیزونه داسے دی چه د هغے نه بغیر ستا سو خلاصے نشته۔ ړومبنی دوه څیزونه چه په هغے تاسو خپل رب راضی کړئ، هغه د کلمے طیبے او د استغفار ډیر والے دے۔ او نور دوه څیزونه دادی، چه د جنت طلب کوئ، او د اُور نه پناه غواړئ۔ څوک چه په چا روژه دار اُوبهٔ اُوڅکوی، الله جل شانهٔ به (د قیامت په ورځ) زما د حوض نه په هغهٔ داسے اُوبهٔ اُوڅکوی، چه د هغے نه پس به جنت کښې تر داخلیدو پورے تږے نهٔ کیږی۔

(قلت علی بن زید ضعفہ جماعۃ وقال الترمذی صدوق وصحح لہ حدیثاً فی السلام وحسن لہ غیر ما حدیث وکذا کثیر ضعفہ النسائی وغیرہ وقال ابن معین ثقۃ وقال ابن عدی لم ار بحدیثہ باساً واخرج بحدیثہ ابن خزیمۃ فی صحیحہ کذا فی رجال المنذری ص۲۰۲ لکن قال العینی الخبر المنکر فتامل)

فائده: محدثینوؒ دے په بعض راویانو کښې بحث کړے دے. ولے اول خو په فضائلو کښې دومره قدرے بحث قابل برداشت دے، دویم دا دے د اکثرو مضامینو نورو روایتونه تائید کوی. ددے حدیث نه یو څو خبرے معلومیږی، اول دنبی اکرم ﷺ اهتمام چه دشعبان په روستئ ورځ یے په خاص طور ددے وعظ اوکړو. اوخلقوته یے خبرداریے ورکړو، چه درمضان المبارك یوه لحظه هم په غفلت کښې تیره نه شی، بیا یے په دے وعظ کښې دټولے میاشتے دفضیلت بیانولو نه پس یو څو ضروری خبرو ته په خصوصیت سره خلق متوجه کړل. دټولوته اول یے شب قدرته (توجه اوکړزوله) چه دا په حقیقت کښې ډیره اهمه شپه ده. په دے پاڼروکښې به ددے بیان په دویم فصل کښې مستقل راشی. لږ دے نه پس ارشاد دے، چه الله پاك ددے روژے فرض کړے، اوددے قیام یعنی تراویح یے سنت کړے. له دے نه معلومه شوه، چه دتراویح ارشاد هم په خپله دالله جل شانهٗ له طرفه دے. بیا په کومو روایتونوکښې چه نبی اکرم ﷺ خپل ځان ته ددے نسبت کړے دے چه "ما سنت کړی دی" دهغے نه مراد تاکید اوپوخوالے دے، چه نبی اکرم ﷺ به ددے پوخوالے ډیر کولو. له دے وجه نه دټولو اماما نو رحمهم الله ددے په سنت کیدو اتفاق دے. په برهان نوم کتاب کښې یے لیکلی دی چه په مسلمانانو کښې دروافضو نه علاوه بل څوك ددے منکر نشته.

حضرت مولنا الشاه عبدالحق صاحب محدث دهلوی رحمة الله علیه ماثبت بالسنة نوم کتاب کښې د فقه بعض کتابونو نه نقل کړے دے که چرے دیو ښهر خلق تراویح پریږدی، نو بادشاه وقت دورسره جنګ اوکړی. دلته په خصوصیت سره دیوے خبرے لحاظ ساتل ضروری دی، هغه دا چه دډیرو خلقو خیال دادے چه په جلتئ سره په یو څو جماعات کښې په اتو لسو ورځو کښې قران شریف په تراویحو کښې واوری، نو بس چهټئ شوه. ددے خبرے خیال ساتل

Maktaba Tul Ishaat.com

پکار دی چه دا دوه سنته جُدا جُدا دی - ټول قران شریف په تراویحو کښې لوستل یا اوریدل دا مستقل ځان له سنت دی، او پوره رمضان شریف کښې تراویح کول مستقل ځان له سنت دی، پس دغه شان په یو سنت عمل اُوشو، او دویم پاتې شو - البته کومو کسانو ته چه په رمضان المبارک کښې دسفر وغیره یا په بل څه وجه په یو ځائې تراویح کول گران وی، نو دهغوی دپاره مناسبه ده، چه اول دې یو څو ورځو کښې ټول قران شریف واوری، چه قران شریف بې نیمگړې پاتې نه شی، بیا یې چه کوم ځائې وخت بیا مومند ۀ او موقع وه هلته دِ تراویح کوی - په دې حالت کښې به یې نهٔ قران شریف نیمگړې پاتې شی نهٔ به یې کار کښې نقصان راشی نبی اکرم ﷺ د روژې او دتراویح دذکر کولو نه پس دعا مو فرضو او دنفلی عبادتونو اِهتمام طرفته توجُه اُوکړ زَوُله، چه په دې میاشت کښې د یو نفل ثواب د نورو میاشتو دفرضو برابر دې - او دې دیو فرض ثواب د نورو میاشتو د اوؤ یا فرضو برابر دې - دا ځائې مونږ خلقو ته خپلو عبادتونو طرفته هم لږ د فکر کولو ضرورت دې چه په دې مبارکه میاشت کښې مونږ د فرائضو څومره اهتمام کوو، او نوافلو کښې څومره زیادت کوو - په فرائضو کښې زمونږ داهتمام حالت خو دا دې چه د پیشمنی کولو نه پس چه اُودۀ شی، نو اکثر د سحر مونځ قضا شی، کنې دجَمع مونځ خود پیرونه فوت شی، گویا د پیشمنی شکریه مو دا اَدا کړه چه د الله جل شانهٔ دټولو نه زیات اهم فرض مو یا بالکل قضا کړۀ، یا موکم نه کم ناقصه کړۀ، ځکه چه بغیر دجَمع نه مونځ کولو ته اهلِ اُصول ادائے ناقص وائی، او دنبی اکرم ﷺ یو ځائې اِرشاد دې، چه جُمات ته دنزدې اُوسیدُنکو خو (گویا) مونځ بغیر دجماعت کیږی نهٔ په مظاهر حق نوم کتاب کښې یې لیکلی دی چه څوک بغیر دعذره بې جَمع ځان له مونځ کوی، دهغهٔ دذمې نه فرض خو ساقط شو، خو دمونځ ثواب ورته نهٔ ملاویږی - دغسې دنورو مونځونو حال دې، دماښام دجَمع مونځ خو په روژه ماتی کښې لاړ شی، درومبی رکعت یا دتکبیر اُولی به یې څهٔ ذکر کوے - او د پرښتن دماسخوتن مونځ دتراویحو دِاحسان په بدل له کښې د وخت نه مخکښې کوی - دا خو په رَمَضان المبارک کښې زمونږ دمونځونو حال دې، چه په فرائضو کښې د ټولو نه آهمه فریضه ده، چه دیو فرض په بدل له کښې درې فرضه بې ضائع

کړئ، دادرے خواکړدي، ګنی دما سپخین مونځ دغرے په خوب کښ ،او دمازیګرد جَهر مونځ دروژه ماتي دپاره سامان آخستلو کښ قربانول په ستړکولیدے شوی دی - دغه شان دنورو فرائضو تاسو په خپله غور اُوکړئ ، چه په رمضان شریف کښ څومره کوشش کیدے شي - هرکله چه دفرضو دا حال دے ، نو دنوافلو به بے څه تپوس کوے - داِشراق او دڅاښت نفل خو په خوب کښ لاړشي - او د اَوَّابینو اهتمام څنګه کیدے شي، چه اُوس خو بے لا روژه ماته کړے ده ، او مخکښ پرے دتراویحو ویره پرته ده، او دتهجُّد ووخت خو دپیشمنی دخوراک وخت دے، نو دنفلو نو دپاره وخت کوم ځائ پاتے شو، خو دا ټولے خبرے د بے توجهئ او دنه کولو دی - څکه ؎

تو ہی اگر نہ چاہے تو باتیں ہزار ہیں

چه ته بے نه غوارے نو خبرے په زرګونو دی ؎

څومره دالله تعالیٰ بندګان دی چه هغوی دپاره هم په دے وختو کښ دټولو خیزونو وخت راوُزی -

ماخپل اُستاذ او پیر مولنا خلیل احمد صاحب رحمۃ اللہ علیہ په ډیرو رمضانونو کښ لیدلے وُو چه سره دبوډاوالی او کمزورتیا دما بنام ما ښځه نه پس نفلو کښ به بے پنځه پاوه قران شریف لوستلو، یا به بے آوریدلو - ددے نه پس نیم ګهینټه خوراک او نورو ضروریاتو وغیره نه پس دهندوستان په قیام کښ تقریبًا پاؤ باندے دوه ګهینټے به بے په تراویحو لګیدلے - او دمدینے منورے په قیام کښ تقریبًا درے ګهینټو کښ به دما سخوتن مونځ او دتراویحو نه فارغیدو - ددے نه پس دموسم داختلاف مطابق به بے دوه درے ګهینټے آرام کولو - بیا به بے تهجد وکښ تلاوت کولو، او دسحر نه نیمه ګهینټه مخکښ به بے پیشمنے کولو، ددے نه پس دسحر ما ښځه پورے کله به بے په یاد تلاوت فرمایئ، کله به آورادو او وظائفو کښ مشغول اُوسیدلو، په رڼړایئ کښ به بے دسحر مونځ اُوکړو - بیا به تر اِشراقه پورے مُراقبه کښ وُو، او داِشراق نه پس به بے تقریبًا یوه ګهینټه آرام کولو - ددے نه پس تقریبًا دولس بجو پورے او دګرمئ په موسم کښ تر یوے بجے پورے به بے بَذْلُ الْمَجْهُود لیکلو، او دډاک وغیره به بے کتلو -

Maktaba Tul Ishaat.com

او د هغې جواب به يې ليکلو، د دې نه پس به يې دما سپخين مونځ پورې آرام کولو، او دما سپخين نه تر ماښامه پورې به يې تلاوت کولو. د ماښام نه تر ماښامه پورې به په تسبيحاتو کښې مشغول وو، او حاضرينو سره به يې خبرې اترې کولې. د بذل المجهود د ختميدو نه پس يې د سحر څه حصه په تلاوت کښې او څه حصه د کتابونو په مطالعه کښې تيروله. د غه وخت د بذل المجهود او د کتاب وفاء الوفاء مطالعه به يې زياته کوله. د رمضان المبارک په معمولاتو کښې څه خاص بدليدل نه وو، د نوافلو دا معمول هميشه وو، او د دې تيرو ذکر شوو نفلونو به يې کالوسر هم اهتمام کولو، البته د رکعتونو اوږدوالی کښې به يې په رمضان المبارک کښې زيادت کولو آکنې د کومو بزرګانو چه په رمضان المبارک کښې خپل کوم خاص مستقل معمولات وو، د هغې په شان کول خو د هر کس د پاره ګرانه ده.

حضرت شيخ الهند مولنا محمود الحسن رحمة الله عليه به د تراويحو نه پس د سحر مانځه پورې په نفلو کښې مشغول اوسيدو. او پرله پسې د څو اجدا حافظانو نه به يې قرآن شريف آوريدلو. او حضرت مولنا شاه عبد الرحيم صاحب رائپوري رحمة الله عليه به د رمضان المبارک ټوله مياشت شپه آو ورځ پس د تلاوت وه. ډاک به يې بند وو، او ملاقات يې لږ هم نه خوښولو. بعض خاص خادمانو ته صرف دومره ساعت اجازت به وو چه د تراويحو نه پس څومره ساعت کښې حضرت د ساره چايو يو دوه پيالئ څکي. دومره ساعت خدمت کښې حاضريدے شي. د بزرګانو د معمولاتو ليکلو مقصد دا نه دے چه په سرسري نظر سره او لوستلے شي، يا د تفريح څه الفاظ پرے او وئيلے شي. بلکه د دے د پاره دی، چه د خپل همت موافق په هغې عمل او کړے شي، او د طاقت مناسب يې د پوره کولو اهتمام اوشي. ځکه چه هره يوه طريقه په خپلو مخصوصو امتيازاتو کښې په نوروباندې اوچته ده. کوم خلق چه د دُنيا په لانجو کښې مجبور نه دی څومره به ښه وی چه يوولس مياشتې ضائع کولو نه پس د دې يوه مياشت کښې د ځان قربانولو کوشش اوکړي. نوکر پيشه حضرات چه د لسو بجو نه تر څلور و بجو پورې په دفتر کښې پابند وی، که چرې د سحر نه تر لسو بجو پورے کم نه کم د رمضان المبارک دا مبارکه مياشت په تلاوت کښې تيره کړي، نو څه ګرانه ده. آخر د دنيوی کارونو

دپاره ددفترنه علاوه وختونوکښې خوو ختاُوو لیستلے شي، اوزمیندارانو خونهٔ دچانوکران دي، اونهٔ دوختونوپه بدلیدوکښې څهٔ دلے پابند دي چه بدلولے يے نهٔ شي. په پټي کښې په ناسته ناسته تلاوت کولے شي. دغسے دتاجرانو د پاره خوآدوخه تکلیف نشته، چه په دے مبارکه میاشت کښې ددوکان وخت څهٔ لږکم کړي، یا کم نه کم په دوکان کښې تجارت سره تلاوت هم کوی ځکه چه ددے مبارکے میاشتے دالله پاك دکلام سره ډیرخاص مناسبت دے.

هم دغه وجه ده چه عموماً دالله جل شانهٔ ټول کتابونه په دے میاشت کښې نازل شوی دي، چنانچه قرآن شریف دلوح محفوظ نه دُنیا په آسمان ټول په ټول په دے میاشت کښې نازل شوے دے، اوبیا ددغه ځائ نه د موقع مطابق لږلږ په درویشت کاله کښې نازل شو. ددے نه علاوه حضرت ابراهیم علیه السلام ته صحیفے هم ددے میاشتے په اول یا دریم تاریخ ورکړے شوے او حضرت داؤد علیه السلام ته زبور په دولسم یا اتلسم د رمضان ورکړے شو. او حضرت موسیٰ علیه السلام ته توراة په شپږم رمضان ورکړے شو. او حضرت عیسیٰ علیه السلام ته انجیل په دولسم یا دیارلسم رمضان المبارك ورکړے شو. ددے نه معلومه شوه چه ددے میاشتے دالله تعالیٰ کلام سره خاص مناسبت دے. په دے وجه دتلاوت ډیروالے په دے میاشت کښې نقل کړے شوے دے، اودبزرګانو ډیرے عمل دے. حضرت جبریل علیه السلام به هرکال په رمضان مبارك کښې ټول قرآن شریف نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته آوروُلو. او بعض روایتونوکښې راغلی دي چه د نبی علیه الصلوٰة والسلام نه به يے اوریدلو. عالمانو ددے دواړو حدیثونو دیوځائ کولونه داخبره رااُووِیستله چه دقرآن پاك دَور (یعنی یوبل ته آورَوُل) چه کوم عام طور باندے کیږی مستحب دي.

خلاصه داچه دتلاوت خاص اهتمام څومره چه درنه کیدے شی کوئ. اوچه کوم وخت دتلاوت نه پاتے شي، دهغے ضائع کول هم مناسب نه دی. ځکه چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ددے حدیث په آخرکښې دڅلورو څیزونو طرف ته خاص طور توجُه کرزَوُلے ده، اوپه دے میاشت کښې يے دهغے دډیروالی حکم کړے دے. کلمهٔ طیبه، او استغفار، او دجنت حاصلول، او د دوزخ نه د

Maktaba Tul Ishaat.com

بوکیدو دعا۔ نو څومره وخت چه درته ملاؤشي، په دے څيزونوکښ بے لګول نیک بختي او ګټړئ۔ او هم داد نبي اکرم ﷺ د ارشاد مبارک قدر دے، او په دے کښ څۀ تکليف دے چه په دُنيوي کاروبار کښ مشغول يے، او ورسره په ژبه درود شريف يا کلمه طيبه وايے، چه صبا درته ددے ويلو لګول باقي پاتے شي۔

مىں گو رہا رہین ستم ہائے روزگار ؛ لیکن تمہاری یاد سے غافل نہیں رہا

زۀ اګرچه په روزګارکښ ومه ګير ؛ ليکن ستاد ياد نه نۀ ومه غافل او نۀ م هير

ددے نه پس نبي اکرم ﷺ ددے مياشتے څۀ خصوصيات او آداب ارشاد اُوفرمايل۔ اوّل داچه دا د صبر مياشت ده، يعني په روژه نيولو کښ که څۀ تکليف وي، نو په ذوق شوق سره يے برداشت کول پکاردي، نۀ داچه وهل ټکول چغے سورے وي لکه څنګه چه د اکثر وخلقو ذکرمئ په رمضان کښ عادت وي دغه شان که چرے اتفاق ترے پيشمنے پاتے شو، نو آن د سحرنه د روژے ژړا فرياد شروع شي۔ دغسے که د شپے په تراويحو کښ څۀ تکليف وي، نو په ډيرے خوشالئ يے برداشت کول پکاردي۔ دا آفت او مصيبت مۀ ګڼړئ۔ داد ډيرے زيلتے محرومئ خبره ده چه مونږ خلق د دُنيا د معمولي غرضونو په وجه خوراک، راحت او آرام ټول پريږدُو۔ نو د الله تعالیٰ د رضا حاصلولو په مقابله کښ ددے ټولو څيزونو څۀ حيثيت کيدے شي۔

بيا ارشاد دے چه داد غمخوارئ مياشت ده يعني غريبانانو مسکينانو سره ښيګړه کول، که لس څيزونه د خپلے روژه ماتي د پاره تيار کړی وي نو دوه څلور خو غريبانو د پاره هم پکاردي۔ ګني اصل خو دا وه چه دهغوی د پاره که د خپل ځان نه زيات نۀ وي، نو چه برابر خو وي۔ غرض داچه څومره قدرے دِهمت کيدے شي، د خپل روژه ماتي او د پيشمني په خوراک کښ د غريبانو حصه هم ضرور کول پکاردي۔

صحابه کرام رضي الله عنهم اُمت د پاره عملي نمونه وُو، او هغوی د دين هره يوه خبره په خپل عمل داسے واضحه پرتے ده، چه اُوس دهر يو نيک کار د پاره دهغوی دعمل لاره آزاده ده۔ د ايثار او غمخوارئ په سلسله کښ ددے بزرګانو تابعدارئ کول هم دلوئ زړه د خاوندانو کار دے۔ په سوونو زرګونو واقعات دي چه

د هغې په کتلو د حیرانتیا نه بغیر هیڅ نهٔ شي ویلې کیدے۔

یو واقعه د مثال په طور لیکم۔ ابوجَهَم رضی اللہ عنہ فرمائي چه د یرمُوک په جنګ کښې زهٔ د خپل تره خوئ په تلاش کښې روان شوم، او په دے خیال م د اُوبو شکیزه څان سره واخسته، چه که چرے څهٔ ساه په کښې باقي وي، نو چه اُوبهٔ پرے اُوڅکوم، اَومخ لاس به ورله اُووینځم، هغه اِتفاقاً (زخمي) پروت وُو. ما ورته د اُوبو اُوو ے، هغه په اِشاره اُوغوختلے۔ په دے کښې هغه په خواکښې یو بل زخمي آه اوکړه، د تره خوئ م په خپله د اُوبو څکلو نه مخکښې هغهٔ ته د ورکولو اِشاره اُوکړه، هغهٔ ته ورغلم او پوښتنه م ترے اُوکړه، معلومه شوه چه دے هم ترے دے آو اُوبهٔ غواړي، چه دے کښې د هغهٔ په خواکښې بل ملګري اِشاره اُوکړه۔ دهٔ هم په خپله د اُوبو څکلو نه مخکښې هغهٔ ته د ورتلو اِشاره اُوکړه۔ خو زهٔ چه هغهٔ له رسیدم، نو د هغهٔ روح وتلے وُو، چه واپس دویم صاحب ته اُورسیدم نو هغهٔ هم ختم شوے وُو۔ چه واپس د خپل تره خوئ له راغلم، نو اُوم لیدهٔ، چه هغهٔ هم په حق رسیدلے وُو۔ دا زمونږ د مشرانو ایثار وو چه بخپله تږي مرهٔ شو، خو د خپل مسلمان رورنه یے مخکښې اُوبهٔ څکل خوښ نهٔ کړل۔ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَاَرْضَاهُمْ وَرَزَقَنَا اِتِّبَاعَهُمْ۔ اٰمِیْن

روح البیان کښې د سُیوطي رحمۃ اللہ علیہ د جامِعُ الصَّغِیْر نه او د سخاوي رحمۃ اللہ علیہ د "مقاصد" نه د حضرت ابن عُمر رضی اللہ عنہ په روایت د نبي اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اِرشاد نقل کړے دے چه زما په اُمت کښې به هر وخت پنځه سوه خاص خوښ بندګان او څلویښت ابدال وي۔ هرکله چه د هغوی نه څوک مړشي، نو فوراً بل کس د هغهٔ ځای اخلي۔ صحابو رضی اللہ عنہم عرض اُوکړهٔ، چه د دے خلقو خصوصي عملونه څهٔ دي؟ نو نبي صلی اللہ علیہ وسلم اُوفرمایل چه ظالمانو ته په معافي کوي، او د بد معامله کونکو سره په هم د احسان معامله کوي، او د الله تعالی په ورکړے شوي رزق کښې به خلقو سره همدردي او غمخواري کوي۔

بل حدیث کښې دي چه څوک په اُوږي پړدي اُوخوړوي یا بربنډ ته جامے ورواغوندوي، یا مسافر ته د شپے تیرولو ځای ورکړي، نو الله جل شانهٔ به د قیامت د سختونه هغهٔ ته پناه ورکړي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

یحییٰ برمکی رحمۃ اللہ علیہ په حضرت سفیان ثوری رحمۃ اللہ علیہ باندے هره میاشت کښې یو زر درهمه خرڅ کولے، نو حضرت سفیان رحمۃ اللہ علیہ به په سجده کښې دهغهٔ دپاره دُعا کوله، چه یا الله! یحییٰ زما دُنیا ضرورتونه پوره کړل، ته په خپلې مهربانئ دهغهٔ داخرت ضرورتونه پوره کړے. چه یحییٰ رحمۃ اللہ علیہ وفات شو، نو خلقو په خوب کښې ترے پوښتنه اوکړه، چه په تاڅهٔ تیرشو؟ هغهٔ اُووئیل، چه دسفیان رحمۃ اللہ علیہ د دُعا په برکت م بخښنه اُوشوه. ددے نه پس نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم دبل روژه دار د روژه ماتی فضیلت ارشاد اُوفرمایهٔ. په یو روایت کښې راغلی دی، چه څوک د حلالے ګټے نه په رمضان کښې چارروژه دارله د روژې ماتی دپاره څهٔ ورکړی، نو د رمضان په شپو کښې فرښتے په هغهٔ رحمت لیږی. او شبِ قدر کښې جبریل علیه السلام دهغهٔ سره مصافحه (یعنی لاس ملاوَول) کوی. او چا سره چه جبریل علیه السلام مصافحه کوی (دهغے نښه دا ده چه) دهغهٔ په زړهٔ کښې نرمی پیدا کیږی او دسترګو نه یے اُوښکے بهیږی. حمّاد بن سلمه رحمۃ اللہ علیہ یو مشهور محدث دے، هغهٔ به روزانه دپنځوسو کسانو د روژه ماتی بند وبست کولو. (روح البیان)

د روژه ماتی فضیلت بیانولو نه پس یے اُوفرمایل چه ددے میاشتے اوله حصه رحمت دے یعنی د الله جل شانهٔ انعام متوجه وی، او دا عام رحمت د ټولو مسلمانانو دپاره وی، ددے نه پس چه کوم کسان ددے شکریه ادا کوی، نو هغوی له به دغه رحمت کښې زیاتوالے کیږی. لَئِنْ شَکَرْتُمْ لَاَزِیْدَنَّکُمْ. او ددے دمینځنی حصے نه مغفرت شروع کیږی، ځکه چه د روژو څهٔ حصه تیره شوه، نو ددے بدله او اِکرام په مغفرت سره شروع کیږی، او اخری حصه یے خو بالکل اورنه خلاصے دے.

نور ډیر روایتونو کښې د رمضان په ختمیدو د اُورنه دخلاصی زیری راغلی دی، دپورتنی مضمون نه معلومه شوه، چه رمضان درے حصے کړے شویدے دبنده عاجز (یعنی شیخ الحدیث رحمۃ اللہ علیہ) په خیال کښې درے حصے رحمت او مغفرت او اُورنه دخلاصی په مینځ کښې فرق دادے، چه خلق درے قسمه وی. یو هغه خلق چه هغوی باندے ګناهونو بوجهٔ نهٔ وی، دهغوی دپاره داول نه د رحمت باران شروع شی. دویم هغه خلق دی چه لږ ګنهګاران دی، هغوی دپاره څهٔ حصه روژے نیولو نه پس دهغے روژو په برکت او بدله کښې مغفرت او ګناهونو

معافي کيږي۔ دریم هغه خلق دي چه زيات ګنهګاران دي، هغوي د پاره زيات حد روژے نيولو نه پس دا ورنه خلاصے کيږي۔ او د کومو خلقو د پاره چه د شروع نه رحمت وُو، او ګناهونه يے بخښلے شوي وُو، د هغوي به څۀ تپوس کوے، چه د هغوي د پاره به د رحمتونو څومره انبارونه وي۔ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ وَعِلْمُهٗ اَتَمُّ۔

د دے نه پس نبي صلی اللہ علیہ وسلم يو بل څيز طرفته ترغيب ورکړے دے چه مالکان دِ په خپلو نوکرانو چاکرانو باندے په دے مياشت کښ د کار کمولے کوي ځکه چه آخر هغوي هم روژه داردي۔ د کار په زياتوالي به هغوي ته په روژه کښ تکليف وي۔ البته چرے کار زيات وي، نو په دے کښ څۀ حرج نشته، چه د رمضان د پاره دِ يو عارضي نوکر بل زيات کړي، خو دا هله چه نوکر روژه دار هم وي، ګني هغوي د پاره بيا رمضان او غير رمضان برابر دے۔ او د دے ظلم او بے غيرتئ به څۀ ذکر کوے چه په خپله خو روژه خوري، او بے شرمه د روژه دارو نوکرانو نه کار اخلي، او چه هغوي غريبانان د مانځه روژے په وجه څۀ لږ په کار کښ سستيا اوکړي، نو دے پرے غصه کوي۔ وَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ ۝ (ترجمه) زر دے چه ظالمانو خلقو ته به معلومه شي چه هغوي څنګه (د مصيبت) ځائ ته واپس کيږي (مراد ترے دوزخ دے)

د دے نه پس نبي اکرم صلی اللہ علیہ وسلم د څلورو څيزونو د پيروالي حکم اُوفرمايئ۔ اول کلمه طيبه، په حديثونو کښ يے دے ته اَفْضَلُ الذِّکر (يعني بهترين ذکر) ويلے دے۔ مشکوٰة شريف کښ د ابو سعيد خُدري رضی اللہ عنہ په روايت نقل کړي دي چه حضرت موسٰی علیہ السلام يو وارے د الله جل جلالهٗ په دربار کښ عرض اوکړو چه يا الله اِما ته يوه داسے دُعا اُوښايه، چه په هغے سره زۀ تا ياد وُمه، او دُعا کُومه۔ الله پاک ورته لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اُوخودله۔ حضرت موسٰی علیہ السلام عرض اُوکړۀ چه دا کلمه خو ستا ټول بندګان وائي، زۀ خو څۀ خاصه دُعا او ذکر غواړم۔ هلته نه اِرشاد اُوشو، چه اے موسٰی (علیہ السلام) که چرے اُووۀ واړۀ اسمانونه او د دے آباد وُنکي مانه سِوا يعني ملائکے او اُووۀ واړه زمکے د تلے په يو چابړه کښ کيخودلے شي، او په بل چابړي کښ کلمه طيبه کيخودلے شي، نو د کلمے طيبے چابړے به دروند اوخکته شي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

په یوحدیث کښ راغلی دی چه څوک په اِخلاص داکلمه اُووائی نوداسمان دروازے دهغهٔ دپاره سمد ستی لرے شی، اوعرش ته رسیدوکښ ورته هیڅ قسمه بندیزنهٔ وی، خو په شرط ددے چه دیُونکے یے دکبائرو یعنی غټو گناهونو نه ځان ساتی۔ دالله جل شانهٔ عادت داسے جاری دے چه دعام ضرورت څیزډیر پیدا کوی۔ دُنیا کښ فکرکولو سره به درته معلومه شی چه یوڅیزڅومره ضروری وی، هغومره عام وی۔ مثلاً اُوبهٔ دی چه دعام ضرورت څیزدے، نو دالله جل شانهٔ بے حسابه رحمت داڅومره عامے کړی دی۔ او دکیمیا په شان فضول اوبے کاره څیزیے نایابه کړے دے۔ دغسے کلمه طیبه اَفضَلُ الذِکر دے۔ په کثروحدیثونوکښ ددے په ټولوذکرونو بهتروالے معلومیږی، دایے دټولو نه عامه کړے ده، چه څوک ترے محرومه پاتے نهٔ شی۔ بیاهم کهٔ ترے څوک محرومه پاتے شی، نودا دهغهٔ بدبختی ده خُلاصه داچه ډیرحدیثونه ددے په فضیلت کښ راغلی دی، چه دمختصر والی په وجه پریخودے شو۔

دوَیم څیزچه په پورتنی حدیث کښ دهغے دډیروالی ارشادشوے دے هغه اِستغفاردے۔ په حدیثونوکښ داستغفارهم ډیرفضیلتونه راغلی دی په یوحدیث کښ راغلی دی، چه څوک ډیرډیراستغفارکوی، الله جل شانهٔ ورله په هره تنګسیا کښ لاره اُوباسی اودهرغم نه خلاصے ورکوی، اوبیٖ داسے طریقه ورته روزی رسَوی چه دهغهٔ په وَهم وګمان کښ هم نهٔ وی۔

په یوحدیث کښ راغلی دی چه بنیادم ګنهګاروی، خوبهترین ګنهګارهغه څوک دے چه تو به اُوباسی۔ یوحدیث نزدے راتلونکے دے، چه کله مؤمن ګناه اُوکړی، نویو تورټکے دهغهٔ په زړهٔ اُولګی، کهٔ توبه اُباسی نوهغه اُووینځلے شی، ګنی باقی پاتے شی۔

ددے نه پس نبی اکرم ﷺ ددوه څیزونو دغوښتلوحکم اوکړو، چه دهغے نه بغیرخلاصے نشته۔ دجنت حاصلول، اود دوزخ نه په امن کیدل۔ الله پاک دِ په خپل فضل سره زما هم نصیب کړی او ستاسوهم۔

(۲) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم اُعْطِيَتْ اُمَّتِىْ خَمْسَ خِصَالٍ فِىْ رَمَضَانَ لَمْ تُعْطَهُنَّ اُمَّةٌ قَبْلَهُمْ خُلُوْفُ فَمِ الصَّائِمِ اَطْيَبُ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ رِيْحِ الْمِسْكِ وَتَسْتَغْفِرُ لَهُمُ الْحِيْتَانُ حَتّٰى يُفْطِرُوْا وَيُزَيِّنُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ كُلَّ يَوْمٍ جَنَّتَهٗ ثُمَّ يَقُوْلُ يُوْشِكُ عِبَادِىَ الصّٰلِحُوْنَ اَنْ يُّلْقُوْا عَنْهُمُ الْمَؤُنَةَ وَيَصِيْرُوْا اِلَيْكِ وَتُصَفَّدُ فِيْهِ مَرَدَةُ الشَّيٰطِيْنِ فَلَا يَخْلُصُوْا فِيْهِ اِلٰى مَا كَانُوْا يَخْلُصُوْنَ اِلَيْهِ فِىْ غَيْرِهٖ وَيُغْفَرُ لَهُمْ فِىْ اٰخِرِ لَيْلَةٍ قِيْلَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ (صلی اللہ علیہ وسلم) اَهِىَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ قَالَ لَا وَلٰكِنَّ الْعَامِلَ اِنَّمَا يُوَفّٰى اَجْرَهٗ اِذَا قَضٰى عَمَلَهٗ۔

(رواه احمد والبزار والبيهقي ورواه ابو الشيخ بن حبان في كتاب الثواب الا ان عنده وتستغفر لهم الملائكة بدل الحيتان كذا في الترغيب)

حضرت ابوهریره رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه زما اُمت ته په رمضان شریف کښ پنځه ځیزونه په خاص طور ورکړے شوید ی چه رومبنی اُمتونو ته نهٔ دی ورکړے شوی۔ اوّل داچه د روژه دار دخولے بد بوئی د الله تعالیٰ په نزد د مشکو د خوشبوئی نه زیاته خوښه ده، دوئیم چه د روژه دار دپاره د دریا دکبا تو پورے دُعا کوی او د روژه ماتی تر وخته پورے یے کوی، دریم داچه جنت هره ورځ دهغوی دپاره ښائسته کولے شی، بیا الله جل شانهٗ فرمائی چه نزدے ده چه زما نیک بندګان به (د دُنیا) مشقتونه دخپل ځان نه اُوغورزوی، او ستا طرفته به راشی۔ څلورم په رمضان کښ سرکش شیطانان قید وُلے شی چه هغوی په رمضان کښ هغے بدکارونو طرفته نهٔ شی رسیدلے، کومونه چه بغیر د رمضان نه رسیدلے شی۔ پنځم د رمضان په آخری شپه کښ د روژه دارو مغفرت کیږی۔ صحابه وُ رضی الله عنهم عرض اُوکړو چه دا د مغفرت شپه شب قدر دهٔ؟ نبی صلی الله علیه وسلم ورته اُوفرمایل، نه بلکه قاعده دا ده، چه مزدور ته د کار ختمیدو په وخت کښ مزدوری ورکولے شی۔

فائده: نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په دے حدیث کښ پنځه خاص ځیزونه ارشاد فرمایلی دی کوم چه ددے اُمت دپاره د الله جل شانه له خوا خاص انعامات دی، چه د مخکنی اُمت روژه دارونه نهٔ دی ورکړے شوی۔ ارمان!

Maktaba Tul Ishaat.com

چه مونږ سره ددے نعمت قدر وَشے، او ددے خاصو انعاماتو د حاصلولو کوشش کوُلے۔ اوّل دا چه د روژه دار د خولے بد بوئی چه د لوږے په حالت کښ پیدا کیږی د الله جل شانهٔ په نزد د مشکو د خوشبوئی نه هم زیاته خوښه ده ۔ د حدیث شرح کوُنکو ددے لفظ په مطلب کښ آتهٔ قوله دی چه د مؤطا په شرح کښ ما ذکر کړی دی، خو زما په نزد په هغې کښ درے قوله قوی دی۔

اوّل دا چه الله جل شانهٔ به په آخرت کښ ددے بد بوئی بدله او ثواب په خوشبوئی سره ورکوی، چه هغه به د مشکو د خوشبوئی نه زیاته خوشبوئی او دماغ تازه کوُنکی وی۔ دا مطلب خوښکاره دے، او په دے کښ څهٔ لرے والے هم نشته۔ ۔ سره ددے د دُرِّ منثور په یو روایت کښ ددے وضاحت هم شته نو دا مطلب په شان د مقرر شو (یعنی چه هم دا ترے مراد دے۔)

دوَیم دا چه د قیامت په ورځ به کله چه خلق د قبرونو نه راپاسی، نو دا نښه به یے وی چه د روژه دار د خولے نه به یو قسم خوشبوئی چه د مشکو د خوشبوئی نه به زیاته بهتره وی، راوزی۔

درَیم مطلب دا چه زما په نزد ددے دواړو نه ښهٔ دے ۔ هغه دا دے چه آنُ په دنیا کښ د الله تعالیٰ په نزد ددے بوئی قدر د مشکو د خوشبوئی نه زیات خوښ دے، او دا کار د زړهٔ مینے سره تعلق لری، چه څوک په چا عاشق وی، نو د هغهٔ بد بوئی هم د عاشق دپاره د زرګونو خوشبوؤ نه بهتره وی۔ ؎

اے حافظِ مسکین چه کنی مشک ختن را
از گیسوئے احمد بستان عطرِ عدن را

اے حافظ مسکینه! څهٔ به کړے مشک ختن؛ وا خله د احمد د زلفو عطرِ عدن
مقصود د روژه دار کامل نزدیکت دے چه په شان د محبوب جوړ شی۔ روژه د الله تعالیٰ د ډیرو خوښو عبادتونو نه ده۔ په دے وجه ارشاد دے چه د هر نیک عمل بدله فرښتے ورکوی خو د روژے بدله به څهٔ په خپله ورکوم ځکه چه روژه خالصه زما دپاره ده۔

د بعضِ عالمانو نه نقل کړے شوے ده چه دا لفظ اُجْزِیْ به دے، یعنی ددے په بدله کښ به زهٔ په خپله ځان ورکوم۔ او د محبوب د حاصلیدو نه زیاته

اُوچته بدله ځهٔ کیدے شي۔ په یو حدیث کښ اِرشاد دے چه د ټولو عبادتونو دروازه روژه ده، یعني د روژے په وجه زړهٔ روښانه کیږی چه د هغے د برکته هر عبادت ته شوق پیدا کیږی، خو دا هله چه روژه هم روژه وی. صرف اُوګے اُسیدل ترے مراد نهٔ دی، بلکه په کښ د روژے دا دابو رعایت اُوساتلے شي، چه د هغے بیان به د نهم نمبر حدیث دلاندے په تفصیل سره راځی۔

دے ځای کښ یو ضروری مسئله د خبردارئ قابله ده چه د دے خولے د بد بوئ د حدیثونو په وجه بعض اماماں د روژه دار د پاره د ماښام په وخت کښ مسواک کول منع کوی، او د حنفیانو په نزد مسواک هر وخت مستحب دے ولے چه په مسواک کولو د غا بشونو بوئ وَرکیږی، او په حدیث کښ چه د کوم بوئ ذکر دے، هغه د معدے د خالی کیدو په وجه دے، نه چه د غابشونو دے۔ د حنفیانو دلیلونه په خپل موقع د فقهے او د حدیثو په کتابونو کښ موجود دی۔

دویم خاصیت د کبانو د استغفار کولو دے، د دے نه مقصود په کثرت سره د دُعا کونکو بیان دے۔ په کثرو روایتونو کښ دا مضمون راغلے دے ځینے روایتونو کښ دی، چه فرښتے د هغهٔ د پاره بخښنه غواړی، زما د تره (یعني حضرت مولٰنا محمّد الیاس رحمۃ اللہ علیہ) ارشاد دے چه د کبانو خصوصیت په ظاهره په دے وجه دے چه د الله جل شانهٔ فرمان دے اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَیَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا ۞ (ترجمه) بے شکه هغه کسان چه ایمان یے راوړے دے او نیک عملونه کوی، الله جل شانه هغوی ته (هم په دُنیا کښ) محبوبیت ورکوی۔ او حدیث پاک کښ راغلی دی چه کله الله جل شانهٔ یا بنده سره محبت کوی، نو جبرئیل علیہ السلام ته اِرشاد اُوفرمائی چه زما فلانکے بنده خوښ دے، ته هم هغهٔ سره محبت کوه، هغه ورسره خپله محبت کوی، او په اسمان کښ اواز کوی، چه فلانکے بنده د الله تعالٰی خوښ دے، تاسو ټول ورسره محبت اُوکړئ، پس د غه اسمان والا هغهٔ سره محبت کوی، بیا د هغهٔ د پاره په زمکه کښ قبولیت کیخودلے شي۔ او عامه د قاعدے خبره ده چه د هر کس سره محبت د هغهٔ په خوا کښ اُوسیدونکی کوی، خو دلته د دهٔ محبت دومره عام شو، چه یو اځے په خوا کښ د اُوسیدونکو

Maktaba Tul Ishaat.com

ورسره نه بلکه ددرياب دُوسيدونکوځناورو ورسره هم محبت پيدا شي چه هغوی ورته هم دُعا گانے کوی، گويا داوچ ته لوندے ته رسيدل دمحبوبيت اِنتهاء يعني آخري حد دے - اودے نه علاوه دځنکل دځناورودُعا کؤل اوله درچه کښ په خپله معلومه شوه۔

دريم خصوصيت دجنت ښائسته کيدل دا هم په ډيرو روايتونو کښ راغلی دی۔ بعضِ روايتونو کښ راغلی دی، چه دکال دشروع نه درَمَضان دپاره د جنت ښائسته کؤل شروع شي - اودقاعدے خبره ده، چه دچا د راتلو څومره اهتمام وی، هغومره دهغهٔ دپاره دمخکښ نه اِنتظام کيږی۔ دوادهٔ انتظام په مياشتو دمخکښ نه کؤلے شي۔

څلورم خصوصيت دسرکش شيطانانو قيدول دی چه دهغے په وجه د گناهونو زورکم شي۔ په رَمَضان المبارک کښ درحمت دجوش اودعبادت د ډيروالی تقاضا داوه چه شيطانانو دخلقو په غُلولو کښ ډيرزيات کوشش کؤلے، اوخپل پوره زور بے ختمؤلے، اوپه دے وجه دگناهونو زياتوالے په دے مياشت کښ دومره کيدے چه څهٔ حد به نهٔ وے، خو سره د دے ليدلے کتلے اوثابته شوے خبره ده چه مجموعی طور گناهونو کښ ډيرکمے کيږي۔ ډيرشرابيان کباييان داسے دی چه په رمضان شريف کښ په خصوصيت سره شراب نهٔ څکی، اودغسے نوروگناهونوکښ هم ښکاره کمے کيږی - خو سره ددے گناهونه څهٔ نه څهٔ ضرورکيږی، خوددے گناهونو دکيدو په وجه په حديث کښ خو هيڅ شک نشته، ځکه چه دحديث مضمون هم دادے چه سرکش شيطانان قيدؤلے شي، نوکهٔ ددے گناهونو وجه دغيرسرکشه شيطانانو اثرات وی، نوبيا خو خبره صفا ده - البته نورو روايتونوکښ دسرکش قيد نه بغير دعامو شيطانانو قيدَولو اِرشادهم موجود دے۔ نوکهٔ ددے روايتونو نه هم صرف دسرکشو شيطانانو قيديدل مراد وی، ځکه چه ډيرځله لفظ عام استعمال شي خودبل ځائ نه دهغے تائيد معلوم شي، بيا هم څهٔ شک پاتے نهٔ شو۔ پس کهٔ چرے ددے روايتونو نه دټولو شيطانانو قيديدل مراد وی، بيا هم ددے گناهونو په کيدو څهٔ پريشانه کيدل نهٔ دی پکار۔ ددے دپاره چه

ګناهونه عام طور د شیطانانو د اثر نه کیږی، خو ترکا لوسره دهغوی د لګیدو او ملګرتیا او د زهریله اثر د پاتے کیدو په وجه ورسره نفس دومره پلید شوے او د اثرد لاندے راغلے دے چه د شیطان لږه ډیره غیر حاضری ورته نه محسوسیږی بلکه هغه خیالات بے خپل طبیعت جوړشی. آو دغه وجه ده چه د رمضان نه ماسوا د کومو خلقونه چه ډیر ګناهونه کیږی، په رمضان کښ هم اکثر د هغوی نه ګناهونه کیږی، او د بنده نفس خو هر وخت ورسره وی، نو د هغے هم اثر وی، دو یمه خبره یوه بله هم ده، چه د نبی اکرم ﷺ ارشاد دے چه هر کله بنده یوه ګناه اُوکړی، نو د هغه په زړهٔ یو تور ټکے اُولګی، که په رښتینی توبه اُو باسی، نو هغه اُو وینزلے شی ګنی لګیدلے وی. او که چرے دو یم وار ګناه اُوکړی، نو دو یم ټکے اُولګی، تردے چه د هغهٔ زړهٔ بیخی تک تور شی. بیا د خیر خبره د هغهٔ زړهٔ ته نهٔ رسی. هم دے ته الله جل شانهٔ په خپل پاک کلام کښ كَلَّا بَلْ سَكَ رَانَ عَلٰى قُلُوبِهِمْ ارشاد فرمائیلے دے چه د هغوی زړونه زنګین شو، په داسے حالت کښ د هغهٔ زړونه د دغے ګناهونو طرف ته په خپله تَړَچه کیږی. هم دغه وجه ده چه ډیر خلق یو قسم ګناه بے باکئ سره کوی خو چه د هغے په شان څهٔ بله ګناه ورله مخے له راشی، نو زړهٔ یے کول نهٔ غواړی مثلاً کوم خلق چه شراب څکی، هغوی ته که د خنزیر د غوښے د خوړلو اُوویلے شی نو د هغوی طبیعت ترے نفرت کوی. حال دا چه په ګناه کښ دواړه برابر دی. نو دغه شان د رمضان نه ماسوا چه دوی د کومے ګناهونه کوی، نو زړهٔ ورسره پلید شی، بیا د هغے په وجه په رَمَضَانَ الْمُبَارَك کښ ورته د هغے ګناه په کولو کښ د شیطانانو ضرورت نهٔ پاتے کیږی.

خُلاصه دا چه که چرے په حدیث پاک کښ د ټولو شیطانانو قیدیدل مراد وی، نو بیا هم په رَمَضَانَ المبارك کښ ګناهونو کولو کښ څهٔ شک نشته. او که چرے د سرکشو او د خبیثو شیطانانو قیدول مراد وی، نو بیا خو پکښ آهود سره څهٔ شک شُبَه نشته. او زما په نزد دا وجه بهتره ده، هر څوك چه په دے غور او تجربه کولے شی چه په رَمَضَانَ المبارك کښ د نیکئ کولو یا د ګناه نه د بچ کیدلو د پاره دومره زور لګول نهٔ غواړی، څومره چه په غیر رمضان کښ

Maktaba Tul Ishaat.com

نکوُل غواړی، لږ غونډے همّت اوتوجه هم کافی کیږی۔

دحضرت مولٰنا شاه محمّد اسحاق رحمۃ اللہ علیہ رائے داده چه دا دواړه حدیثونه دجُدا جُدا خلقو په اعتبار سره دی۔ یعنی دفاسقانو په حق کښ صرف متکبر شیطانان قیدولے شی اودنیکانو په حق کښ مطلقاً عام هرقسمه شیطانان قیدوُلے شی۔

پنځمه خصوصیت دادے چه درمضان المبارك په آخره شپه کښ د ټولو روژه دارو بخښنه کوُلے شی، دامضمون په مخکنی روایت کښ هم تیر شوے دے۔ چونکه درمضان المبارك په شپوکښ شبِ قدر دټولونه بهتره شپه ده، نو دے کبله صحابه کرامو رضی اللہ عنہم داخیال اُوکړو چه دا دومره لوئ فضیلت درے شپے دپاره کیدے شی۔ خو نبی صلی اللہ علیہ وسلم اُوفرمایل چه دهغے فضیلتونه مستقل ځان له څیز دے، دلته خو دا انعام درمضان دختمیدو دے۔

(۳) عن كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم اُحْضُرُوا الْمِنْبَرَ فَحَضَرْنَا فَلَمَّا ارْتَقٰى دَرَجَةً قَالَ اٰمِيْنَ فَلَمَّا ارْتَقَى الدَّرَجَةَ الثَّانِيَةَ قَالَ اٰمِيْنَ فَلَمَّا ارْتَقَى الدَّرَجَةَ الثَّالِثَةَ قَالَ اٰمِيْنَ فَلَمَّا نَزَلَ قُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ (صلی اللہ علیہ وسلم) لَقَدْ سَمِعْنَا مِنْكَ الْيَوْمَ شَيْئًا مَا كُنَّا نَسْمَعُهٗ قَالَ اِنَّ جِبْرَئِيْلَ (علیہ السلام) عَرَضَ لِيْ فَقَالَ بَعُدَ مَنْ اَدْرَكَ رَمَضَانَ فَلَمْ يُغْفَرْ لَهٗ قُلْتُ اٰمِيْنَ فَلَمَّا رَقِيْتُ الثَّانِيَةَ قَالَ بَعُدَ مَنْ ذُكِرْتَ عِنْدَهٗ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْكَ

حضرت کعب بن عُجره رضی اللہ عنہ وائی چه یو وارے نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اُوفرمایل چه منبر ته رانزدے شئ، مونږ ورنزدے شو، چه نبی صلی اللہ علیہ وسلم د منبر په اوله پوړئ قدم مبارك کیخودهٔ نو وے فرمایل، آمین۔ چه کله په دویمه پوړئ یے قدم کیخودهٔ، نو بیا یے اُوفرمایل، آمین۔ اوچه په دریمه پوړئ یے قدم کیخودهٔ نو بیا یے اوفرمایل آمین۔ چه څهٔ وخت نبی علیہ السلام دخطبے نه فارغ شو، لاندے راکوز شو نومونږ عرض اُوکړهٔ، چه مونږ نن تاسو نه (منبر ته دختلو په وخت کښ) داسے خبره واؤریدله، چه مخکښ موچرته نهٔ وه اوریدلے۔ نبی صلی اللہ علیہ وسلم ارشاداُوفرمایلو چه دغه وخت جبریل علیہ السلام زما مخے ته راغلے وو (کله چه ما په اوله پورئ قدم کیخودهٔ نو

قُلْتُ اٰمِيْنَ فَلَمَّا رَقِيْتُ الثَّالِثَةَ قَالَ بَعُدَ مَنْ اَدْرَكَ اَبَوَيْهِ الْكِبَرُ عِنْدَهٗ اَوْ اَحَدُهُمَا فَلَمْ يُدْخِلَاهُ الْجَنَّةَ قُلْتُ اٰمِيْنَ (رواه الحاكم وقال صحيح الاسناد كذا فى الترغيب وقال السخاوى رواه ابن حبان فى ثقاته وصححه والطبرانى فى الكبير والبخارى فى بر الوالدين والبيهقى فى الشعب وغيرهم ورجاله ثقات و بسط طرقه وروى الترمذى عن ابى هريرة بمعناه وقال ابن حجر طرقه كثيرة كما فى المرقاة)

هغهٔ اُووېل چه هغه خوك دِهلاك شي چه چادرمضان مبارکه میاشت بیاموندہ بیا هم دهغهٔ مغفرت اُونهٔ شو، ما اُووېل اٰمينَ بیاچه دویمے پوړئ ته اُوختم، نوهغهٔ اُووېل هلاك دِشي هغه خوك چه دهغهٔ دوړاندے ستاذکرمبارك اُوشي اوپه تاسودروشریف اُونهٔ وائی ما اُووېل اٰمین. کله چه زهٔ په دریمه پوړئ اُوختم، نوهغهٔ اُووېل هلاك دِشي هغه خوك، چه چا موریلار دواړه یا یایوددوی نه دبوډاوالی په حالت کښې بیاموندل، اوهغوی دے جنت ته ورداخل نهٔ کړو. ما اُووے اٰمین.

فائده: په دے حدیث کښې حضرت جبریل علیه السلام درے ښیرې کړی دی اونبی اکرم ﷺ په هغې درے واړو اٰمین وېلے دے، اول خو دحضرت جبرئیل علیه السلام په شان دمقرب فرشتے ښیرے څهٔ کمے دے چه بیا پرے دپاسه دنبی اکرم ﷺ اٰمین وئیلو خومرهٔ سختے ښیرے جوړے کړے، هغه ښکاره دهٔ. الله تعالیٰ دِپه خپل فضل وکرم مونږ له ددے درے واړوښیزونونه دبچ کیدلوتوفیق راکړی، اوددے بدوکارونونه مودِ محفوظ اُوساتی ګنی (بیا زمونږ) هلاکت کښې څهٔ شك شُبه دهٔ. ددُرِّ منثوردځنے روایتونو نه معلومیږی چه په خپله حضرت جبرئیل علیه السلام نبی اکرم ﷺ ته اُووېل چه اٰمین اُوایه. نبی ﷺ اُوېل اٰمین. چه ددے نه نورهم زیات اِهتمام معلومیږی.

اول هغه کس چه درمضان المبارك میاشت پرے تیره شي اودهغهٔ بخښنه اُونهٔ شي. یعنی درمضان المبارك په شان دخیراوبرکت زمانه هم په غفلت اوګناهونوکښې تیره شي، چه په رمضان المبارك کښې دمغفرت او دالله جل شانهٔ رحمت دباران په شان وَریږی. نوچه په چادرمضان المبارك میاشت هم داسے تیره شي چه دهغهٔ دبدوعملونواوسستئ په وجه

Maktaba Tul Ishaat.com

دمغفرت نه محرومه پاتے شي، نو دهغهٔ دمغفرت دپاره په بل کوم وخت وي او دهغهٔ په هلاکت کښې بیا څهٔ شک دے. او دمغفرت شکل بے دا دے چه د رمضان المبارك کوم کارونه دي یعني روژه، تراویح. دا د په ډیر اهتمام سره آدا کولو نه پس دِ هر وخت ډیر ډیر دخپلو ګناهونو نه توبه او استغفار کوي.

دوهم چه دچا دپاره خیرے شوي دي هغه کس دے چه هغهٔ دوړاندے دنبي اکرم ﷺ ذکر مبارك اُوشي، او هغه درود شریف اُونهٔ وائي. نو رهم ډیرو روایتونو کښې دا مضمون راغلے دے. په دے وجه څنے عالمانو په نزد کله چه د نبي اکرم ﷺ ذکر مبارك اُوشي، نو په آوریدونکو باندے درود شریف ویل واجب دي. دپورتني حدیث نه علاوه نورے هم ډیرے سزا ګانے دهغے کس باره کښې راغلي دي چه دچا دوړاندے دنبي اکرم ﷺ تذکره اُوشي آو هغه درود شریف اُونهٔ وائي. څنے حدیثونو کښې هغه بدبخته او ډیرو شومانو خلقو کښې شمار کړے شوے دے. دا رنګے بے وفا او دجنت لاره هیروونکے آو تردے چه په دوزخ کښې داخلیدونکے او بے دینه پورے ورته ویلے شوے دے. دا هم راغلي دي چه هغه به دنبي اکرم ﷺ مخ مبارك اُونهٔ وینې. تحقیق کوونکو عالمانو دا سے روایتونو اګرچه تاویل کړے وي، خو دے نه څوك انکار کولے شي، چه درود شریف نهٔ ویونکو دپاره دنبي اکرم ﷺ ظاهري اِرشادات دومره سخت دي چه د هغے زغمل ګران دي. او ولے به نهٔ وي چه دنبي اکرم ﷺ احسانات په اُمت باندے دومره هم زیات دي، چه په وئیلو او لیکلو کښې نشي راتلے. دے نه علاوه دنبي اکرم ﷺ حقونه په اُمت باندے دومره زیات دي چه هغے ته ګورُو، نو د درود شریف نهٔ ویونکو په حق کښې هره سزا او زورنه په ځائي او مناسب معلومیږي. په خپله د درود شریف فضائل دومره دي چه دهغے نه محرومتیا یوه مستقله بدنصیبي ده، دے نه به زیات بل څهٔ فضیلت وي، چه څوك نبي اکرم ﷺ باندے یو واره درود شریف اُووائي نو الله جل شانهٔ په هغهٔ باندے لس وارے رحمت لیږي. دے نه علاوه د ملایکو هغهٔ دپاره دُعا کول، ګناهونو معاف کیدل، درجو اُوچتیدل، د اُحد دغر برابر ثواب موندل، شفاعت ورله واجب کیدل وغیره وغیره پورے دپاسه دي.

بل د الله جل شانهٔ رضا، دهغهٔ رحمت، دهغهٔ دغصے نه آمان، دقیامت د سختو نه خلاصے، دمرګ نه وړاندے په جنت کښې خپل ځای لیدل وغیره ډیرے وعدے د درود شریف په خاص خاص مقدار باندے مقرر کړے شوی دی. د دې نه علاوه په درود شریف د ژوند تنګسیا او غریبي لرے کیږی. د الله جل جلالهٔ او دهغهٔ د رسول صلی الله علیه وسلم په دربار کښې نزدیکت، په دُشمنانو مدد نصیب کیږی، او زړهٔ د نفاق او زنګ نه صفا کیږی، د خلقو ورسره محبت پیدا کیږی. نور هم ډیر زیری دی چه د درود شریف په ډیر ډیر ویلو حدیثونو کښې راغلی دی. دفقهې عالمانو دهغې وضاحت کړے دے چه په ټول عُمر کښې یو وارے درود شریف ویل عملاً فرض دی، په دے د مذهب د عالمانو اتفاق دے. البته اختلاف په دے کښې دے چه کله د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ذکر مبارک کیږی، نو هر وارے درود ویل واجب دی که نه. د بعض عالمانو په نزد هر وارے درود شریف ویل واجب دی او د نورو بعضو په نزد مستحب دی.

دریم هغه کس چه د چا بوډا کان مور پلار د واړه یا یو دهغوی نه موجود وی او دے یے دومره خدمت اُونکړی چه دهغې په وجه د جنت حقدار شی. د مور پلار د حقونو هم په ډیرو حدیثونو کښې تاکید راغلے دے، عالمانو د دوی حقونو کښې لیکلی دی، چه روا کارونو کښې د دوی منل ضروری دی، او دا یے هم لیکلی دی، چه دهغوی بے ادبی دِ نکوی، د تکبُر سلوک دِ ورسره نکوی. اګر که مشرکان وی، خپل آواز دِ دهغوی د آواز نه نهٔ اُوچتوی، په نامه دِ نهٔ بلی. په څهٔ کا کښې دِ دهغوی نه نهٔ وړاندے کیږی. امر بالمعروف او نهی عن المنکر کښې دِ ورسره نرمی کوی، که چرے قبول نکړی نو بیا هم سلوک دِ ورسره کوی او دهدایت دُعا دِ ورته کوی. غرض دا چه په هره خبره کښې دِ دهغوی ډیر عزت کوی. یو روایت کښې راغلی دی چه د جنت په دروازو کښې بهترینه دروازه پلار دے، ستا زړهٔ غواړی حفاظت یے اُوکړه، یا یے ضائع کړه. یو صحابی رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اُوکړه چه د مور پلار حق څهٔ دے؟ نبی علیه الصلوٰة والسلام ورته اُوفرمایل چه هغوی ستا جنت دی یا دوزخ. یعنی دهغوی رضا جنت دے او دهغوی ناراضتیا دوزخ دے.

Maktaba Tul Ishaat.com

په یوحدیث کښې راغلي دي چه د فرمانبردار ځوئ په محبت او شفقت سره یو نظر پلار ته کول د یو مقبول حج ثواب لري په یو حدیث کښې اِرشاد دے چه الله تعالیٰ د شرک نه ماسِوا نور ټول ګناهونه څومره یے چه خوښه وي معاف کوي خو د مور پلار نافرمان ته د مرګ نه وړاندے په دُنیا کښې هم نقصان رسوي. یو صحابي رضی الله عنه عرض اُوکړو چه زهٔ جهاد ته د تلو اِراده لرم. نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ترے پوښتنه اُوکړه چه ستا مور هم ژوندۍ ده؟ عرض یے اوکړو، چه ژوندۍ ده. نبي علیه الصلوٰة والسلام ورته اُوفرمایل چه د هغې خدمت کوه، د هغې د قدمونو لاندے ستا د پاره جنت دے. په یو حدیث کښې راغلي دي چه د الله تعالیٰ رضا د پلار په رضا کښې ده، او د الله تعالیٰ ناراضتیا د پلار په ناراضتیا کښې ده نور هم ډیر روایتونو کښې د دے اهتمام او فضیلت راغلے دے. کومو خلقو چه په څهٔ غفلت دے کښې کوتاهي کړے ده، او اُوس یے مور پلار موجود نهٔ دي (یعني مړهٔ شوي دي) نو په شریعت کښې د هغې پوره والے هم شته. په یو حدیث کښې اِرشاد دے چه د چا مور پلار په داسے حالت کښې مړهٔ شوي وي چه ځوئ یے نافرماني کوله، نو د هغوي د پارهٔ دِ ډیره ډیره دُعا او استغفار کوي نو فرمانبردارو کښې به شمار شي. په یو حدیث کښې راغلي دي چه بهترینه نیکي د مور پلار د وفات نه پس د هغهٔ دوستانو سره ښهٔ سلوک کول دي.

(۴) عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ يَوْمًا وَّحَضَرَنَا رَمَضَانُ اَتٰكُمْ رَمَضَانُ شَهْرُ بَرَكَةٍ يَغْشٰكُمُ اللّٰهُ فِيْهِ فَيُنْزِلُ الرَّحْمَةَ وَيَحُطُّ الْخَطَايَا وَيَسْتَجِيْبُ فِيْهِ الدُّعَاءَ يَنْظُرُ اللّٰهُ تَعَالٰى اِلٰى تَنَافُسِكُمْ فِيْهِ وَيُبَاهِيْ بِكُمْ مَلٰٓئِكَتَهٗ فَاَرُوا اللّٰهَ مِنْ

حضرت عُبادة رضی الله عنه وائي چه یو وارے نبي اکرم صلی الله علیه وسلم رمضان المبارک ته نزدے اِرشاد اُوفرمایه چه رمضان راغلو چه د لوئ برکت میاشت ده. الله جل شانهٔ په دے کښې ستاسو طرف ته متوجه کیږي. او خپل خاص رحمت نازلوي او خطاګانے معاف کوي، دُعا قبلوي، ستاسو تنافُس (سیالئ) ته ګوري، او په ملائکو فخر کوي پس الله تعالیٰ ته خپله نیکي اُوښایئ. بد نصیبه دے هغه کښې چه په دے

اَنْفُسِكُمْ خَيْرًا فَاِنَّ الشَّقِيَّ مَنْ حُرِمَ فِيْهِ رَحْمَةَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ - (رواه الطبراني ورواته ثقات الا ان محمد بن قيس لا يحضرني فيه جرح و لا تعديل كذا في الترغيب)

میاشت کښې هم د الله تعالیٰ د رحمت نه محروم پاتې شي.

فائده: تنافس دے ته وائی چه د بل په حرص کښې کار اُوکړے شي او په مقابله کښې د بل نه زیات کار اُوکړے شي، د فخر او د مقابلې کولو دعویٰ ارزښتي او دلته د خپل خپل جوهر اُوښائی - د فخر خبره نه ده - د تَحْدِيْثُ بِالنِّعْمَةِ یعنی د نعمت د شکرې په طور یې لیکم - د خپل نا اهلیت د کبله اګرچه په خپله څه نه شم کولے - خو چه د خپلې کورنۍ زنانه اُووینم، نو خوشاله شم چه د اکثرو د اهتمام وی چه د یو بل نه په تلاوت کښې وړاندے شي - د کور د کار و بار سره پنځلس شل سیپارے روزانه بے تکلیفه پوره کوی، الله جل شانه دِ په خپل رحمت قبول کړی او د زیاتی توفیق دِ ورله ورکړی -

⑤ عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم اِنَّ لِلّٰهِ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى عُتَقَاءَ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَّلَيْلَةٍ يَعْنِيْ فِيْ رَمَضَانَ وَاِنَّ لِكُلِّ مُسْلِمٍ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَّلَيْلَةٍ دَعْوَةً مُّسْتَجَابَةً - (رواه البزار كذا في الترغيب)

حضرت ابو سعید خدری رضي الله عنه وائی چه نبی اکرم صلى الله عليه وسلم اُوفرمایل چه د رمضان المبارك په هره شپه اَو ورځ کښې د الله تعالیٰ له طرفه د دوزخ قیدیان پریخودلے شي او د هر مسلمان د پاره په هره شپه او ورځ کښې یوه دُعا ضرور قبلیږی -

فائده: په ډیرو روایتونو کښې د روژه دار دُعا قبلیدل راغلی دی څینې روایتونو کښې راځی، چه د روژه ماتی په وخت کښې دُعا قبلیږی، خو مونږ خلق په خوراك د اسے ورپریوزو، چه د دُعا غوښتلو وخت راته چرته وی - بلکه د روژه ماتی دُعا هم راته نهٔ یادیږی - د روژه ماتی مشهوره دُعا دا ده - اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَبِكَ اٰمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ (ترجمه) اے الله هم تا د پاره م روژه اُونیوله، او هم په تا م ایمان راوړیدے او هم په تا باندے توکل کوم - او ستا په رزق روژه ماتوم -

Maktaba Tul Ishaat.com

دحدیث په کتابونوکښ دادُعا مختصره ده، حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه په دروژه ماتی په وخت کښ دادُعا کوله، اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ بِرَحْمَتِكَ الَّتِیْ وَسِعَتْ كُلَّ شَیْءٍ اَنْ تَغْفِرَ لِیْ۔ (ترجمه) اے الله! ستا د هغے رحمت په صدقے چه هر څیز ته شامل دے داغوارم چه ته زما بخښنه اوکړے ځنے کتابونوکښ په څیله دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه دادُعا نقل شوے ده۔ یَاوَاسِعَ الْفَضْلِ اِغْفِرْلِیْ۔ (ترجمه) "اے دلوئ فضل خاونده! زما بخښنه اوکړے"۔ نورے هم ډیر دُعاگانے په روایتونوکښ راغلی دی، خوشحالی دیو دُعا خاصوالے نشته۔ دا دُعاقبلیدووخت دے، دخپل خپل ضرورت دپاره دُعا اُوغواړئ که درته رایادشی نوماگنهګارپکښ هم شامل کړئ، ځکه چه سوالګړے یم، اود سوالګری حق وی۔

چشمۂ فیض سے گر ایک اشارہ ہوجائے ؛ لطف ہو آپ کا اور کام ہمارا ہو جائے

دفیض دچینے نه که یوه اشاره اُوشی ؛ مهربانی به ستاوی اوکار به زمونږ اُشی

(۶) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم ثَلٰثَةٌ لَا تُرَدُّ دَعْوَتُهُمْ اَلصَّائِمُ حَتّٰی یُفْطِرَ وَالْاِمَامُ الْعَادِلُ وَدَعْوَةُ الْمَظْلُوْمِ یَرْفَعُهَا اللهُ فَوْقَ الْغَمَامِ وَیُفْتَحُ لَهَا اَبْوَابُ السَّمَآءِ وَیَقُوْلُ الرَّبُّ وَعِزَّتِیْ لَاَنْصُرَنَّكَ وَلَوْ بَعْدَ حِیْنٍ (رواه احمد فی حدیث والترمذی وحسنه وابن خزیمة وابن حبان فی صحیحهما کذا فی الترغیب)

حضرت ابی هریره رضی الله عنه وائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل چه ددریوکسانو دُعا نه رد کیږی، یو دروژه دار (دُعا) دروژه ماتی په وخت کښ، دویم دعادل بادشاه دُعا، دریم دمظلوم دُعا، چه هغه الله تعالیٰ دُوریځو نه پورته اُوچتوی، اوداسمان دروازے ورته پرانستے شی، او ارشاداُوشی، زما دِ خپل عزت قسم وی چه زهٔ به ضرور ستامدد کوم، اګرکه(دځه مصلحت له کبله) پکښ څهٔ وخت اُولګی۔

فائده: درمنثورنومے کتاب کښ دحضرت عائشے رضی الله عنها نه نقل دے چه کله به دَرمضان میاشت راغله، نو دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم رنګ به بدل شو، او په مونځ کښ به یے زیاتوالے کولو، اودُعا کښ به یے ډیره عاجزی کوله، اوویره به پرے غالبه شوه۔ په بل روایت کښ فرمائی چه درمضان ترختمیدو پورے

په پے بسترے ته تشریف نهٔ راوړهٔ - په یو روایت کښں دی چه الله جل شانهٔ په رمضان کښں عرش اُوچتوونکو فرشتو ته حکم کوی چه خپل خپل عبادت پریږدئ او د روژه دارو په دُعا امین وایئ - د ډیرو روایتونو نه د رمضان دُعا په خصوصیت سره قبلیدل معلومیږی - او دا بے شکه خبره ده چه هرکله د الله تعالیٰ وعده او دهغهٔ د رِښتنی رسول صلی الله علیه وسلم نه نقل شوے ده، نو د هغے په پوره کیدلو کښں هیڅ شک شُبه نشته - خو د دے نه پس هم څنے خلق د څهٔ غرض دپاره دُعا کوی، خو هغه کار پے کیږی نه، نو د دے نه دا نهٔ دی گنړل پکار چه دُعا قبوله نهٔ شوه، د دُعا قبلیدو په معنیٰ ځان پوهَول پکار دی -

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد دے چه کله مسلمان دُعا کوی په شرط د دے چه د خپلولئ پریکودو یا د څهٔ گناه دُعا نهٔ کوی، نو د الله جل شانهٔ د طرفه د دریو څیزونو نه ورته یو ضرور ملاویږی - یا په خپله هغه څیز ورته ملاؤشی چه د څهٔ دُعا یے کړی وی، یا د هغے په بدله کښں څهٔ شر یا مصیبت تر لرے کړے شی یا په آخرت کښں هغومره ثواب د هغهٔ په حصه کښں اُولکولے شی -

یو حدیث کښں راغلی دی چه د قیامت په ورځ به الله جل شانهٔ بنده راؤبلی، ورته به اُووائی، اے زما بندهٔ! ما تا ته د دُعا غوښتلو حکم کړے وَو، او هغے د قبلولو وعده کړے وه، آیا تا ما نه دُعا غوښتلے وه؟ هغه به عرض اُوکړی چه غوښتلے مے وه - ورته به اُووائی، تا هیڅ یو دُعا داسے نهٔ ده کړے چه هغه ما قبوله کړے نهٔ وی - تا فلانئ دُعا غوختلے وه چه فلانے تکلیف د رانه لرے کړے شی، ما هغه په دُنیا کښں پوره کړے وه - او د فلانی غم لرے کولو دُعا دِ غوختلے وه، خو د هغے اثر تا ته معلوم شوے نهٔ وَو، ما د هغے په بدله کښں فلانے اجر او ثواب ستا دپاره مقرر کړو - نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائی چه د هغهٔ هره یوه دُعا به ورپه یاد کړے شی، او د هغے په دُنیا کښں پوره کیدل یا به په آخرت کښں د هغے بدله ورته اُوخودلے شی - د دومره ډیر اجرو ثواب چه بندهٔ اُووینی، نو ارزو به اُوکړی، چه ارمان! په دُنیا کښں زما هیڅ یوه دُعا پوره شوے نهٔ وے - چه اوس راله د دلته د هغے د دومره بدله راکړے شوے وے - غرض دا چه دُعا ډیر زیات اَهم څیز دے - د دے نه غفلت کول لوئ نقصان او

Maktaba Tul Ishaat.com

او د تاوان خبره ده، په ظاهر کښې که چرې د قبلیدو نښې اُونهٔ وینې نو همت بائیلل نهٔ دی پکار۔

د دې رسالې په ختمیدو چه کوم اُوږد حدیث راروان دے د هغې نه دا هم معلومیږی، چه په دیکښې الله جل شانهٔ دبندهٔ په مصلحتونو نظر کوی۔ کچرے د هغهٔ د پاره د دغې څیز ورکول مصلحت وی، نو ورکوی یې کنی نه۔ دا هم د الله تعالیٰ لوئ احسان دے، چه مونږ خلق په ځله د خپلې ناپوهتیا په وجه دا سے څیزونه غواړو چه هغه زمونږ د پاره مناسب نهٔ وی۔

دے سره یوه بله ضروری اود لحاظ قابله خبره داده چه ډیر نارینه او زنانه خو خاص طور په دے مرض کښې آخته دی، چه اکثر د غصے اود غم په وختونو کښې اولاد وغیره ته خیرے کوی۔ یاد ساتئ چه د الله جل شانهٔ په عالی دربار کښې څنې وختونه داسے خاص د قبلیدو وی، چه څهٔ اُوغواړے، نو ملاویږی۔ دا ناپوهه په غصه کښې اولاد ته خیرے کوی، چه هغه مړشی یا په څهٔ مصیبت کښې گیرشی، نو بیا ژاړی، او دا یې خیال ته نهٔ راځی، چه دا مصیبت یې په خپله په خپلو خیرو سره غوښتلے دے۔

د نبی اکرم ﷺ ارشاد دے چه خپلو ځانونو او اولاد، مال او خادمانو ته خیر مهٔ کوئ، هسے نه چه د الله تعالیٰ په څهٔ داسے وخت کښې خیرے اُوشی، چه کوم د قبلیدو وی، خصوصاً د رمضان المبارک ټوله میاشت خو ډیر زیات خاص وخت دے، په دیکښې په اهتمام سره د خیرو ته د بچ کیدو کوشش ډیر ضروری دے۔

حضرت عمر رضی الله عنه د نبی اکرم ﷺ نه نقل کوی چه په رمضان المبارک کښې د الله تعالیٰ یادونکے بنده بخښلے شوے دے، او د الله تعالیٰ نه غوختونکے نامراده نهٔ پاتے کیږی۔

حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د یو روایت نه په ترغیب نومے کتاب کښې نقل کړی دی چه د رمضان په هره شپه کښې یو آواز کوونکے آواز کوی، اے د خیر تلاش کوونکیه! متوجه شه او وړاندې کښې شه۔ او اے د بدئ طلبگاره! بس که او ستړے اُوغړوه۔ د دے نه پس هغه فرشته وائی، څوک بخښنه غوختونکے شته چه د هغهٔ بخښنه اُوشی۔ څوک توبه ویستونکے شته، چه د هغهٔ توبه قبوله شی

خوک دُعا کوُنکے شته، چه دهغهٔ دُعا قبوله کړے شي، خوک غوختونکے شته چه دهغهٔ سوال پوره کړے شي.

ددے نه پس دا خبره هم ډیره ضروري او دلحاظ قابله ده چه د دُعاق بیدو دپاره څهٔ شرطونه هم راغلي دي چه د هغې په پاتے کیدو ډیر ځله دُعا نهٔ قبلیږي چې یو د هغې نه حرام خوراک دے. چه ددے په وجه هم دُعا نهٔ قبلیږي. دنبي اکرم ﷺ ارشاد دے چه ډیر پریشان حاله اسمان طرف ته لاسونه اُوچت کړي دُعا غواړي، او اے ربه! اے ربه! کوي، خوخوراک یے حرام، څکاک یے حرام، جامه یے دحرامووی، په داسے حالت کښې دُعا چرته قبلیږي.

د تاریخ لیکونکو لیکلي دي چه په کُوفه کښې د مُسْتَجَابُ الدَّعَوَات (یعني د دُعا قبلیدونکو) خلقو یوه ډله وه، چه کله به څوک ظالم حاکم په هغوی مقرر کړے شو، هغوی به ورته خیرے اُوکړے، نو هغه به هلاک شو. کله چه حجاج ظالم هلته مقرر شو، نو هغهٔ یو دعوت اُوکړهٔ، او په هغې کښې یے دغه حضرات خاص طور شریک کړل. کله چه دخوراک نه فارغ شول، نو حجاج اُوویل، چه اُوس زهٔ ددے خلقو دخیرو نه بچ شوم، ځکه چه حرامه روزي یے ګیډه ته لاړه. ددے سره زمونږ دزمانے په حلاله روزئ ډِهم یو نظر واچولے شي، کوم ځائ چه ترسُوده پورے دجائز کولو کوششونه جاري دي. نوکر پیشه رشوت او سود اکړ دهوکه ورکول بنهٔ ګنړي.

⑦ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى الْمُتَسَحِّرِيْنَ. (رواه	حضرت ابن عُمر رضی الله عنه وائی چه دنبي اکرم ﷺ ارشاد دے چه په خپله الله تعالیٰ او دهغهٔ فرشتے په پیشمنئ کوُنکو باندے رحمت نازلوی.

الطبراني في الاوسط وابن حبان في صحيحه كذا في الترغيب)

فائده: دالله جل شانهٔ څومره انعام او احسان دے چه د روژے د برکته یے د هغې نه مخکښې خوراک چه ورته پیشمنے ویلے شي دامت دپاره یے دثواب خیز اُوګرزولو، او په دے کښې هم مسلمانانوله ثواب ورکولے شي. په ډیرو حدیثونو کښې د پیشمنئ دفضیلت او دثواب ذکر دے.

Maktaba Tul Ishaat.com

علّامه عینی رحمة الله علیه دا ولسو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه د دے د فضیلت حدیثونه نقل کړی دی، او د دے په مستحب کیدو یے اجماع یعنی د عالمانو اتفاق نقل کړیدے ډیر خلق د سستیا په وجه د دے فضیلت نه محرومه پاتے کیږی. او څنے خلق د تراویحو نه پس خوراک اوکړی، اوده شی، او د دے د ثواب نه محرومه پاتے شی.
ځکه چه په عربی لغت کښ سَحَر هغے خوراک ته وائی چه د صباٰئی نزدے اوخوړلے شی لکه څنګه چه قاموس نومے کتاب لیکلی دی. څنو ویلی دی چه د نیمے شپے نه د دے وخت شروع کیږی. (مرقاة) صاحبِ کشاف رحمة الله علیه روستئ شپږم حصه خودلے ده یعنی ټوله شپه چه په شپږو حصو تقسیم کړے نو آخری حصه مثلاً که چرے د نمر پریوتونه د صُبحِ صادق تر ختلو پورے دولس ګهینټے وی نو آخری دوه ګهینټے د پیشمنی وخت دے، او دیکښ هم روستو والے بهتر دے، خو دومره روستو والے هم نه چه روژه شکی شی. د پیشمنی فضیلت په ډیرو حدیثونو کښ راغلے دے.
د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه زمونږ او د اهلِ کتابو (یعنی یهودو او نصاراؤ) په روژه کښ فرق په پیشمنی کولو دے، چه هغوی پیشمنے نه کوی. یو ځائے ارشاد دے چه پیشمنے کوئ، په دے کښ برکت دے. یو ځائے ارشاد دے، چه په دریو څیزونو کښ برکت دے، جَمع کښ او ثرید کښ، او د پیشمنی خوراک کښ. په دے حدیث کښ د جَمع نه عام مراد دے. د مونځ جَمع یا هر هغه کار چه د مسلمانانو جماعت یعنی ډله یے یو ځائے اوکړی چه د الله پاک مدد د هغوی سره وی. او ثرید په ښخه غوښه کښ روټئ چوری کولو ته وائی، دا ډیر خوند ناکه روټئ وی. دریم پیشمنے. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم چه به کله یو صحابی رضی الله عنه ځان سره پیشمنی خوړلو ته رابللو، نو ورته به یے فرمایل چه راشه د برکت خوراک اوخوره.
په یو حدیث کښ ارشاد دے چه د پیشمنی په خوراک په روژه قوت حاصل کړئ، او د غرمے په خوب سره په آخره شپه کښ د پاسیدو د پاره مدد حاصل کړئ.
حضرت عبد الله بن حارث رضی الله عنه د یو صحابی رضی الله عنه نه نقل کوی چه زه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښ په داسے وخت کښ حاضر شوم، چه نبی صلی الله علیه وسلم پیشمنے کولو، نو وے فرمایل چه دا یو د برکت څیز دے، چه الله تعالیٰ تاسو له درکړے دے، دا مه پریږدئ. نبی صلی الله علیه وسلم په ګڼړو روایتونو کښ د پیشمنی ترغیب

فرمایلې دے، تردے چه اِرشاد دے چه که نور څه نه وي، نو یوه چُواره دِ اُوخوری یایو کوټ اُوبهٔ دِ اُوڅکی. ددے کبله روژه دار له ددے هَم خُرما هَم ثواب" په خاص طور اهتمام کوَل پکار دی، چه خپل راحت او خپله نفع او دمفتو ثواب (هم ورسره). خو دومره ضروری ده چه اِفرَاط تفرِیط (یعنی زیاتے کمے) په هر څیز کښې نقصانی دے. مهٔ دومره کم خورئ، چه عبادتونو کښې درته کمزوری محسوسه شی، او مهٔ دومره زیاته خورئ، چه ټوله ورځ تراوهٔ اکرمی درته راځی خپله هم دے حدیثونو کښې دے ته اِشاره ده، که یوه چُواره وی یایو کوټ اُوبهٔ بله دا چه مستقل ځان له حدیثونو کښې هم دډیر خوراک نه منع راغلې ده.

حافظ ابن حجر رحمۃ اللہ علیہ د بخاری په شرح کښې لیکلی دی چه د پیشمنی د برکتونو ډیرے وجه دی. دسنتو تابعداری، د اهلِ کتابو مخالفت، چه هغوی پیشمنے نهٔ کوی. او مونږ ته ترخپله وَسه دهغوی په مخالفت حکم شوے دے. دغه شان په عباداتو قوت اُوپه عبادت کښې دزړهٔ لګیدو زیاتوالے. دے سره د ډیرے سختے لوږے نه اکثر بد اخلاقئ هم پیدا کیږی. ددے نه د بچ کیدو شکل دادے چه دغه وخت څوک ضرورتمند سوالګر راشی، نو دهغهٔ مدد کوَل، یه ګاونډ کښې څوک غریب وی، دهغهٔ هم مدد کوَل. دا وخت په خصوصیت سره دُدعا د قبلیدو دے. د پیشمنی د برکته دُدعا توفیق نصیب کیږی دغه وخت کښې دذکر توفیق هم مِلاویږی. وغیرہ وغیرہ

ابن دقیق العید رحمۃ اللہ علیہ وائی چه صوفیانو د پیشمنی په مسئله کښې بحث کړیدے چه پیشمنے د روژے د مقصد نه خلاف دے، ځکه چه د روژے مقصد د ګیډے او د شرمګاه شهوت ماتول دی، او د پیشمنی خوراک ددے مقصد نه خلاف دے. خو صحیح خبره داده، چه دا په مقدار کښې دومره خوړل، چه دا مصلحت هم فوت شی، دا خو بهتره نهٔ ده. ددے نه علاوه د حیثیت او ضرورت مطابق مختلف کیدے شی. د بنده په ناقص خیال په دے باره کښې د فیصلے خبره هم داده چه پیشمنی او روژه ماتی کښې بنیادی څیز د خوراک کم وَلے دے خود ضرورت مطابق دیکښې بدلیدل کیدے شی. مثلاً ددین طالب علمان که خوراک کم کړی، نو د روژے فائدے به حاصلے شی، خو د علم حاصلولو

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې په نقصان راشي. د دے کبله دوی د پاره بهتره داده چه کم خوراک دِ نهٔ کوی. ځکه چه د علمِ دین اهمیت په شریعت کښې ډیر زیات دے. دغه شان د ذکر کونکو د پاره هم ده. دغه رنګے هغه نورے پړلے چه دکم خوراک د وجه په ځۀ دینی کار کښې په اهمیت سره نشي مشغولیں لے (نو خوراک دِ نهٔ کموی.)

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم یو وارے جهاد ته تشریف اُوړلو، نو اعلان یے اُوکړو چه په سفر کښې روژه نیول نیکی نهٔ ده، حال دا چه د رمضان المبارک روژے وے خو دلته د روژے جهاد سره مقابله راغلے وه. البته کوم ځائے چه ځۀ داسے دینی کار وی، چه د روژے نه اَهم وی، او کمزوری او سُستیا په کښې نهٔ پیدا کیږی، نو هلته د خوراک کموالے مناسب دے.

شرحِ اقناع کښې د علامه شعرانی رحمة الله علیه نه نقل کړے دے چه مونږ نه په دے باندے وعده اخستلے شوی دی چه په مړه ګیډه به خوراک نهٔ کوو. خصوصًا د رمضان المبارک په شپو کښې. بهتره داده چه د رمضان المبارک په خوراک کښې د غیر رمضان نه ځۀ کمے اُوکړی، ځکه چه په روژه ماتی او پیشمنی کښې چه څوک په مړه ګیډه خوراک اُوکړی، د هغهٔ په ځۀ روژه وی.

عالمانو ویلی دی چه څوک په رمضان کښې د لوږے عادت پیدا کړی راتلونکی رمضان پورے به هغوی تول کال د شیطان د زور نه محفوظ اُوسی. د نورو عالمانو نه هم په دے سلسله کښې سختی نقل شوی ده. شرحِ احیاء کښې د عوارف نومے کتاب نه نقل کړے دی، چه سهل بن عبد الله تستری رحمة الله علیه به په پنځلس ورځو کښې یو وارے خوراک کولو. او په رمضان المبارک کښې صرف یوه نوړئ به یے خوړله، البته روژانه به یے د سنتو د تابعدارئ په وجه صرف په اُوبو روژه ماتوله. حضرت جُنید رحمة الله علیه به همیشه روژے نیولے، خو کهٔ (الله والو) دوستانو کښې به څوک راغے، نو د هغهٔ د وجه به یے روژه ماته کړه. او فرمایل به یے، چه (داسے) دوستانو سره د خوراک کولو فضیلت ځۀ د روژے د فضیلت نه کم نهٔ دے. نور هم د ډیر شو بزرګانو په زرګونو واقعات د دے ګواهی ورکوی چه هغوی به دکم خوراک په سبب د نفس تربیت کولو، خو شرط هم هغه دے چه د هغے په وجه نورو اَهم دینی کارونو کښې نقصان نهٔ وی.

(۸) عَنْ اَبِیْ ھُرَیْرَۃَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صلی اللہ علیہ وسلم رُبَّ صَائِمٍ لَیْسَ لَہٗ مِنْ صِیَامِہٖ اِلَّا الْجُوْعُ وَرُبَّ قَائِمٍ لَیْسَ لَہٗ مِنْ قِیَامِہٖ اِلَّا السَّھْرُ۔

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه ډیر روژه نیوُنکی داسے دی چه هغوی ته د روژے فائده وګښې سوا د اُوږی پاتے کیدو نه نور هیڅ نهٔ مِلاویږی. او ډیر شپه روڼ نکی داسے دی چه هغوی ته د شوګیرے د مشقت نه سِوا هیڅ هم ملاؤ نشو.

(رواه ابن ماجة واللفظ له والنسائی وابن خزیمة فی صحیحه والحاکم وقال صحیح علی شرط البخاری ذکر لفظها المنذری فی الترغیب بمعناه)

فائده: د علمائو دے حدیث په شرح کښې یو څو وینا کانے دی۔

اول دا چه د دے نه هغه خلک مراد دے چه تول ورځ روژه اُونیسی، او بیا یے په حرام مال ماته کړی، نو څومره ثواب چه یے د روژے شوے وو، د هغے نه زیاته ګناه یے د حرام مال په خوړلو اُوشوه، نو ټوله ورځ اُوږی پاتے کیدو نه سِوا نور ورته هیڅ مِلاؤ نهٔ شو۔

دویم دا چه د دے نه هغه کس مراد دے چه روژه نیسی خو بیا په غیبت کښې لګیا اُوسی، چه د هغے بیان مخکښې را روان دے۔

دریم قول دا دے چه روژه کښې د ګناه وغیره نه ځان نهٔ ساتی د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشادات جامع یعنی هر څهٔ په کښې شامل دی، دا ټول شکلونه پکښې داخل دی، او د دے نه علاوه نور هم (پکښې داخل دی)۔ همدغسے حال د شوګیرے دے، چه ټوله شپه یے روڼه کړه، خو د زړه خوشالولو د پاره یے لږ شان غیبت یا څهٔ بل څهٔ کم عقل توب هم اوکړو، نو ټوله شوګیره یے بے کاره شوه۔ مثلاً د سحر مونځ یے قضا کړو۔ یا صرف خودنے او مشهورتیا د پاره ویخ پاتے شو، نو شوګیره بے کاره ده۔

(۹) عَنْ اَبِیْ عُبَیْدَۃَ رضی اللہ عنہ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰہِ صلی اللہ علیہ وسلم یَقُوْلُ الصِّیَامُ جُنَّۃٌ مَّالَمْ یَخْرِقْھَا

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه روژه د روژه دار د پاره ډهال دے، تر څو پورے یے چه اُونهٔ شلوی۔

(رواه النسائی باسناد حسن وابن ماجة وابن خزیمة والحاکم وصححه علی شرط البخاری والفاظهم مختلفة وحکاها المنذری فی الترغیب)

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده: د دې حال کېدو مطلب دا دے چه لکه څنګه بنيادم په ډهال خپل حفاظت کوي، دغسې روژه دار هم په روژه دخپل دُښمن يعني شيطانؒ حفاظت کوي. په يو روايت کښې راغلي دي چه روژه د الله تعالیٰ د عذاب نه حفاظت دے. په بل روايت کښې دي چه روژه د دوزخ نه حفاظت دے. بل روايت کښې راغلي دي چه چا عرض اوکړو اے د الله رسوله! (صلی الله عليه وسلم) روژه په څه شليږي نبي عليه الصلوٰة والسلام اوفرمايل چه په دروغو او په غيبت. په دے دوه روايتونو کښې او دغسې په نورو ګڼړو روايتونو کښې هم د دے قسمه کارونو نه د بچ کيدو تاکيد راغلي دے، اوګويا د روژے ضائع کول يے ورته ويلي دي. زمونږ په دے زمانه کښې د روژے لنډولو د پاره مشغولا داګرزولے شي چه آخوا ديخوا زما او ستا خبرے شروع کړے شي. د بعضِ عالمانو په نزد په دروغو او غيبت روژه ماتيږي. دا د واړه څيزونه د دے حضراتو په نزد داسے دي لکه څنګه خوړل څکل وغيره تول روژه ماتونکي څيزونه دي. د اکثرو عالمانو په نزد اګرچه روژه ماتيږي نه. خو د روژے د برکتونو په تلو کښې خو هيڅ هم انکار نشته.

عالمانو د روژے په ادابو کښې شپږ کارونه ليکلي دي چه د روژه دار د پاره د هغې اِهتمام ضروري دے.

اوّل د نظر حفاظت چه چرته په بے ځايه ځائ اُونه لګي، تر دے والي چه خپلے بي بي ته هم د شهوت په نظر اُونه ګوري، بيا د پردئ زنانه به څه وايے او هم دغه شان د لوبو تماشو فضولو او ناجائز ځايونو باندے نظر اُونه لګي. د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم اِرشاد مبارک دے چه نظر د شيطان د غشونه يو غشے دے څوک چه د دے نه د الله تعالیٰ د ويرے د وجه نه بچ پاتے شي. الله جل شانهٗ به ورته داسے ايماني رنړا نصيب کوي چه د هغې خوږ والے او مزه به په زړه کښې محسوسوي. صوفيانو د بے ځايه ځائ دا تفسير کړے دے چه هر هغه څيز ته کتل په ديکښې داخل دي، چه زړه د الله جل شانهٗ وا اړوي، او خپلے بل طرف ته يے مُتوَجّه کړي.

دَوَيم څيز د ژبے حفاظت دے، دروغ، چُغلي، فضول بکواس، غيبت، بد ده وينا، بدے خبرے، جهګړه وغيره ټول څيزونه په دے کښې داخل دي

دبخاری شریف په روایت کښ دی چه روژه دروژه دارد پاره ډهال دے۔ په دے وجه روژه دارله پکار دی چه په ژبه دِ غلطه خبره یا دجهالت خبره مثلاً چاپوړے توقے، مسخرے، جهګړه وغیره دِ نکوی۔ که بل څوک ورسره جهګړه کوی، نو ورته دِ اُووائی چه زما روژه ده، یعنی بل ورسره خوله ګډه وی، نو هم دِ ورسره نه نخلی۔ که هغه دپوهے خاوند وی، نو ورته دِ اُووائی چه زما روژه ده۔ او که کم عقل ناپوهه وی، نو خپل زړه دِ پوهه کړی چه ستاخو روژه ده، تاله ددا سے فضولیا تو جواب مناسب نهٔ دے۔ خصوصاً دغیبت او ددروغو نه خو پیر زیات ځان ساتل ضروری دی۔ ځکه چه دبعضِ عالمانو په نزد په دے روژه ماتیږی، لکه څنګه چه مخکښ تیر شوی دی۔

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښ دوه ؤزنانه ؤ روژه اُونیوله، په روژه کښ دومره سخته لوږه ورته اُولګیده، چه وے نهٔ زغملے شوه، مرګ ته نزدے شوے۔ صحابه کرامو رضی الله عنهم دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اُوکړه، نو نبی صلی الله علیه وسلم یو پیاله دوی ته اُولیږله، اوحکم یے اُوکړ، چه دے کښ دِ دواړه قے اُوکړی۔ دواړو قے اُوکړو۔ نو په هغے کښ دغوښو ټکړے او تازه خوړلے شوے وینه راووتله۔ خلقو ته حیرانتیا اُوشوه۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل، چه دوی دالله تعالیٰ په حلاله روزئ روژه اُونیوله، خوحرام څیزونه یے اُوخوړل، ځکه چه دواړو زنانو دخلقو غیبت کولو۔ ددے حدیث نه یو بل مضمون هم راوزی، چه دغیبت په وجه روژه ډیره اُوږده معلومیږی، ترد ے چه هغه دواړه زنانه دروژے دوجه مرګ ته نزدے شوے۔ دغه شان دنورو ګناهونو حال دے۔ او تجربه ددے مرسته کوی چه په روژه کښ اکثر په متقیانو ذره هم اثر نهٔ وی۔ او د فاسقانو خلقو اکثر بد حالت وی۔ ددے کبله که چرے دوی یا غواړی، چه روژه پرے اُونهٔ لګی۔ نو ددے بهتر طریقه داده، چه په دے حالت کښ دِ د ګناهونو نه ځان ساتی، خصوصاً دغیبت نه۔ کوم چه خلقو دروژے لپاره لو مشغولا جوړه کړے ده۔ الله جل شانه په خپل پاک کلام کښ غیبت دخپل مسلمان رور مُردارے غوښے سره برابر کړے دے۔ او په حدیثونو کښ هم ډیر ددے قسمه واقعات راغلی دی چه دهغے نه صفا معلومیږی چه دچا غیبت اُوکړے شو، نو په حقیقت کښ دهغهٔ غوښه خوړلے شی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

نبی اکرم ﷺ یو وارے یو خوکسان اُولیدل ، ورته یے اُوفرمایل چه په غاښونو کښں پرکے اُووَهئ۔ هغوی عرض اُوکړو ، چه مونږ خونن غوښه څکلے هم نهٔ ده۔ نبی اکرم ﷺ ورته اُوفرمایل ، چه د فلانی کس غوښه ستاسو په غاښونو کښں اِنښتے ده۔ معلومه شوه ، چه دهغهٔ غیبت یے کړے ؤ۔ الله تعالیٰ دِ مونږ په خپل حفاظت کښں اُوساتی ۔ چه مونږ خلق درے نه ډیر زیات غافله یُو۔ دعاموخلقو به څهٔ وایے ، خواص پکښں هم اَختته دی ۔ هغه خلق خو پریږده ، کوم ته چه دُنیادارو ئیلے شی ، ددینداروبجلسونه هم عام طور دغیبت نه ډیرکم خالی وی ، او ددے نه زیاته داده چه دے ته څوك غیبت هم نهٔ وائی ، کهٔ دخپل یادبل په زړهٔ کښں څه ویرهٔ ترهٔ پیدا هم شی نو داپرده پرے واچوَ لے شی ، چه داخو د واقعے اِظهار دے (یعنی رښتیا دی۔)

دنبی اکرم ﷺ نه چا تپوس اُوکړو چه غیبت څهٔ څیز دے ؟ نبی اکرم ﷺ ورته اُوفرمایل چه دچا پښے شا دلسے خبره کوُل چه هغه یے بد ګنړی سوال کوُنکی پو ښتنه اُوکړه ، کهٔ چرے په هغهٔ کښں په رښتیا هغه خبره موجوده وی ، کومه چه ویلے شوی وی۔ نبی علیه السلام اُوفرمایل ، نوځکه خو غیبت دے۔ اوکهٔ پکښں واقعی موجوده نهٔ وی ، نو بیا خو بُهتان (یعنی تهمت) دے۔

یو وارے نبی اکرم ﷺ په دوهٔ قبرونو تیریدهٔ ، نو وے فرمایل ، چه دے دواړو ته د قبر عذاب ورکړے کیږی۔ یَو ته دخلقو دغیبت په وجه بل ته د وَرُو بَولو (یعنی تشو مُتیازو) نه دځان نهٔ ساتلو په وجه۔

دنبی اکرم ﷺ اِرشاد دے چه دسُود داویاؤنه زیاتے درجے دی دتهولو نه کمه درجه خپلے مورسره دزِنا کوُلو برابره ده۔ اودسُود یو دِرهم دینځه دیرش زناگانو نه زیات سخت دے ۔ او بدترین سُود او دتهولو نه زیات ډیرخبیث سُود دمسلمان بے عزتی کوُل دی۔ په حدیثونو کښں دغیبت او د مسلمان د بے عزتیٔ کوُلو سختو نه سختے سزاگانے راغلی دی۔ زمازړهٔ غوښتله چه دهغے نه څهٔ ډیر روایتونه جمع کړم ، ځکه چه زمونږ مجلسونه دے نه ډیرزیات ډك وی خومضمون جُدا دے ، ددے وجه په دومرهٔ قدرے بس والے کوَم۔ الله پاك زمونږ ددے بَلانه محفوظ اُوساتی ۔ او دبزرګانو او ددوستانو دُعاپه برکت

دِ ما گنهگار تر ے هم محفوظ او ساتي چه باطني مرضونو کښ چير مبتلا يم ۔ ؎

کبر و نخوت، جہل و غفلت، حقد و کینہ بد ظنی ؛ کذب و بد عہدی ریا و بغض و غیبت دشمنی
کون بیماری ہے یارب جو نہیں مجھ میں ہوئی ؛ عَافِنِيْ مِنْ كُلِّ دَآءٍ وَاقْضِ عَنِّيْ حَاجَتِيْ
اِنَّ لِيْ قَلْبًا سَقِيْمًا اَنْتَ شَافٍ لِّلْعَلِيْلِ

ترجمه: تکبر، لوئی، نا پوهتیا، غفلت، حسد، کینه، بدگمانی، دروغ، وعده خلافي ریا، بغض، غیبت، دُشمني ۔ کوم مرض دے اے ربه چه په ما کښ نشته، د ټولو مرض نه صحت راکړے، او زما حاجت پوره کړے، زما زړهٔ ناروغه دے، ته مریضانو له شفا ورکونکے یے ۔

دریم چه روژه دار له دغې اِهتمام پکار دے، د غوږو نو حفاظت دے د هر مکروه څیز نه ۔ چه د هغې ویل او وړ بے نه ویستل ناجائزدي، هغې ته غوږ ایښودل او آوریدل هم ناروا دي ۔ د نبي اکرم ﷺ ارشاد دے چه غیبت کونکے او آوریدونکے دواړه په ګناه کښ شریک دي ۔

څلورم څیز د بدن باقي اندامونه مثلاً لاس د ناروا څیز د نیولو نه او خپے ناروا څیز طرفته تللو نه منع کول، او دغه شان د بدن نور اندامونه هم د ناروا کارونو نه منع کول ۔ هم دغه شان د روژه ماتي په وخت ګیډه د شک شبے د څیز نه بچ ساتل ۔ څوک چه روژه اُونیسي او په حرام مال یے ماته کړي، د ده حال د هغه کس په شان دے چه د څهٔ مرض دارو کوي خو په هغې کښ لږه شان سنکهیا (یعني زهر) هم ګډ کړي، نو که دارو د هغې مرض د پاره فائده مند شي، خو دا زهر به یے ورسره هلاک هم کړي ۔

پنځم څیز د روژه ماتي په وخت کښ د حلال مال نه هم دومره زیاته نه خوړل چه ګیډه پړسے ډکه شي، ځکه چه په دے د روژے غرض فوت کیږي ۔ د روژے نه مقصود د شهوت او د حیوانیت قوت کمول دي، نوراني قوت او د فرښتو صفت زیاتول دي ۔ یولس میاشتو پورے مو ډیر خوړلي دي ۔ بچرے به یو میاشت پکښ کمے اوکړے شي، نو وړے ساه به مو اُوزي، فی زمونږ د خلقو دا حال دے چه د روژه ماتي په وخت کښ د تیرے لوږے کمے پوره کول، او د پیشمني په وخت کښ د راتلونکے لوږے نه بچ کیدو د پاره د مره

زیات مقدار کښې خوراک اوکړو چه بغیر د رمضان او بغیر د روژې د حالته په کښې د دومره مقدار د خوراک وار نه راځي. رَمَضَان المبارك هم زمونږ خلقو د پاره د خېټو یعنې د گېډو کار راکوي.

علامه غزالي رحمة الله علیه لیکي چه د روژې غرض د ابلیس تهر او د نفس شهوت ماتول په خېټه حاصل شي چه بنده د روژه ماتي په وخت د هغې مقدار د خوراک کسر اوباسي کوم چه فوت شوې وي. په حقیقت کښې مونږ خلق بغیر د دې نه چه د خپل خوراك وختونه بدل کړو، نور هیڅ کې نه کوو، بلکه نور زیاتوالې په کښې د قسما قسم خوراکونو اوکړو چه بغیر د رمضان نه (په آسانه) نه حاصلیږي د خلقو عادتونه څه داسې جوړ شوي دي چه ښه ښه څیزونه د رمضان د پاره ساتي، او نفس تول ورځ د لوږې نه پس چه په هغې ورپرېوزي، نو ښه زیات په مړه گېډه اوخوري، نو په ځائې د دې چه د شهوت قوت کمزورې شي نور را اوچت شي په جوش کښې راشي او د مقصد خلاف اوشي.

په روژه کښې مختلف غرضونه او فائدې او د هغې د فرض کولو مختلف فائدې چه کومې مقصود دي، هغه تولې هله حاصلیدې شي چه څه نه څه اوږې په کښې هم پاتې شي. لویه فائده خو هم دغه ده کومه چه معلومه شوه یعنې د شهوتونو زور ماتول. دا هله کیدې شي چه څه وخت د لوږې په حالت کښې تیرشي. د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دې چه شیطان د بنیادم په بدن کښې د وینې په شان گرزي، د ده لارې په لوږه سره بندې کړئ. د ټولو اندامونو مړیدل د نفس لوږې پورې تړلې دي. چه نفس اوږې وي، نو ټول اندامونه ماړه وي، او چه نفس موړ شي نو ټول اندامونه اوږي وي.

دویم غرض د روژې نه د غریبانانو سره مشابهت او د هغوي په حال باندې نظر دې. دا هم هله حاصلیدې شي چه په پیشمنۍ کښې معده په پیو او خلوبو دومره ډکه نه کړې شي، چه تر ماښامه پورې اوږې کیږي نه. د غریبانانو سره مشابهت خو هله کیدې شي، چه څه وخت د لوږې په بې قرارۍ کښې هم تیرشي.

بشر حافي رحمة الله علیه ته یو کس ورغے، ورته لیدل چه هغه د یخنۍ نه رپیدهٔ

اوجاے ورسره خوا کښې پرتے وے، ده ترے تپوس اُوکړو چه داوخت دچا مو ویستلو دے؟ وے فرمایل چه غریبانان ډیردی، او ما کښې هغوی سره دهمدردۍ طاقت نشته، دومره همدردی خواُوکړم، چه زه هم دهغوی په شان شم. مشائخو صوفیانو عام طور په دے خبردارے کړے دے، او فقهاؤ هم ددے وضاحت کړے دے. صاحبِ مَرَاقِي الْفَلَاح لیکلی دی چه دپیشمنی په خوراک کښې دِزیاتے نه کوی، ځکه چه دمالدارو خلقو عادت دے، ځکه چه دا د روژے مقصد ختموی علامه طحطاوی رحمة الله علیه ددے په شرح کښې لیکی چه د روژے مقصد دادے چه دلوږے تکلیف ورته څهٔ محسوس شی، چه د زیات ثواب سبب شی او مسکینانو غریبانانو باندے یے رحم راشی. په خپله د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد دے، چه الله جل شانهٗ ته د هیڅ یو لوښی ډکیدل دومره ناخوښ نه دی څومره چه د ګیډے ډکیدل ورته ناخوښ دی. یو ځائ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد دے چه د بنی آدم دپاره یو څو نوړۍ کافی دی چه ملا یے برابره وی. که څوک خامخا په خوراک راشی نو دے ته دِ زیات نهٔ خوری، چه د ګیډے دریمه حصه دِ د خوراک دپاره اساتی. او دریمه حصه دِ د څکاک دپاره او دریمه حصه دِ خالی پریږدی. آخر څهٔ خبره خو وه کنه، چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به څو څو ورځے پرله پسے روژے نیولے، چه په مینځ کښې به یے هیڅ هم نه خوړل. ما خپل شیخ او استاد حضرت مولٰنا خلیل احمد صاحب (الله دِ یے په ګور نور کړی) په اول رمضان المبارک کښې لیدلے دے چه د روژه ماتی او د پیشمنی دواړو وختونو مقدار به تقریبًا دیو نیم چپاتی نه زیات نهٔ وُو، که چا خادم به عرض هم اُوکړو، نو اُو به یے فرمایل، چه لوږه م نهٔ وی، د دوستانو د خاطره کښینم. او ددے نه زیات م د حضرت مولٰنا شاه عَبْدُ الرَّحِیم صاحب رائپوری رحمة الله علیه په باره کښې آوریدلی دی چه څو څو ورځے به پرله پسے داسے تیریدلے چه د ټولے شپے مقدار به یے د پیشمنی او د روژه ماتی دیو څو پیالو یے پیوچایو نه ما سوا نور هیڅ نهٔ وُو. یو وارے د حضرت مُخلص خادم حضرت مولٰنا شاه عبد القادر رحمة الله علیه په ډیرے عاجزۍ عرض اُوکړو، چه ډیر به کمزوری شی، ناسوخوا ډو څهٔ خوری نه. نو حضرت اُوفرمایل چه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ د جنت مزه راته حاصلیږی. که الله جل شانهٗ مونږ ګنهګاروُ

Maktaba Tul Ishaat.com

ته هم د دے پاکو هستو تابعدارې نصیب کړې نو دا په زمونږ ډومړ خوش قسمتي وي. مولنٰنا سعدی رحمة الله علیه فرمائي. ے

نه دارند تن پروران آگهی ؛ که پُر معده باشد ز حکمت تهی

گیډور کسان د دے نه ناخبره دي ؛ چه معده ډکه د حکمت نه وي خالي

شپږم خیز چه د هغے لحاظ د روژه دار د پاره ضروري فرمائي، دا دے، چه د روژے نیولو نه پس د دے نه ویریدل هم ضروري دي چه معلومه نه ده چه دا روژه د قبلیدو قابله ده او که نه. او دغه شان د هر عبادت په ختمیدو ویره پکار ده. معلومه نه ده چه زما په بے فکرۍ څه داسے غلطي رانه پکښ شوي وي چه د هغے په وجه دا عبادت راته په مخ را اُوو یشتلے شي. د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه ډیر قرآن لوستونکي داسے دي چه قرآن پاک په هغوی لعنت کوي. بل د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه د قیامت په ورځ د کوموکسانو چه اولني ځل کښې کومه فیصله کیږي، په هغې کښې به یو شهید وي چه هغه به را اوبللے شي، او د الله تعالیٰ چه کوم کوم انعامونه په دُنیا کښې په هغه باندے شوي وُو، هغه به ورته ور په یاد کړے شي، هغه به د دے ټولو نعمتونو اقرار اوکړي، د دے نه پس به د هغه نه تپوس اوشي چه د دے نعمتونو تا څه حق ادا کړے دے؟ هغه به عرض اوکړي، چه ستا په لار کښې م جنګ اوکړو تر دے چه شهید شوم. ارشاد به اوشي چه دروغ دي. بلکه جنګ دِ د دے د پاره کړے وُو چه خلق درته بهادر اووائي، نو درته اُوویلے شو. د دے نه پس به حکم اوشي، نو پړمخے به راښکلے شي، او په دوزخ کښې به اُوغورځولے شي. د غسے به یو عالم راوبللے شي، هغه ته به هم د غسے د الله تعالیٰ انعامات ور په یاد کړے شي او تپوس به تر ے اُوشي چه د دے انعاماتو په بدله کښې تا څه کړي دي؟ هغه به عرض اُوکړي چه علم م زده کړو، او نورو ته م اُوخودلو، او ستا د رضا د پاره م تلاوت اُوکړو. ارشاد به اُوشي چه دروغ دي. دا خو د دے د پاره کړے شوي وُو چه خلق درته علامه اُووائي نو درته اُوویلے شو. د دهٔ باره کښې به هم حکم اُوکړے شي او پړمخے به راښکلے دوزخ کښې اُوغورځولے شي. هم دغه شان یو دولتمند به راوبللے شي، د هغهٔ نه به د خپلو انعاماتو ور یاد ولو او

د هغې اقرار اخستلو نه پس تپوس اُوکړے شي چه د الله تعالیٰ په دے نعمتونو کښې تا څهٔ عمل کړے دے؟ هغه به اُووائي چه هیڅ یو د خیر لار ه م دا سے نهٔ ده پرېښے چه په هغې کښې ما خرچ نهٔ وي کړے. اِرشاد به اُوشي چه دروغ دي. دا خو تا د دے د پاره کړي وُو، چه خلق درته سخي اُووائي، نو درته اُوویلے شو، د دهٔ باره کښې به هم حکم اُوشي، او پړمخے راخکلے دوزخ کښې به اُوغورزولے شي. الله تعالیٰ دِ تر مونږ بچ کړي. دا ټولے د بد ونیتونو نتیجے دي. د دے قسمه ډیر واقعات په حدیثونو کښې راغلي دي، نو څکه د روژه دار د پاره د خپل نیت د حفاظت سره د دے نه هم ویرېدل پکار دي، اَو دُعا هم کول پکار دي، چه الله جل شانہٗ دا د خپلے رضا سبب اُوګرزوي. خو د دے سره دا خبره هم د لحاظ قابله ده، چه خپل عمل د قبلېدو قابل نهٔ ګنړل جُدا کار دے، او د کریم آقا یعني الله تعالیٰ په مهرباني نظر جُدا کار دے. د هغهٔ د مهربانو طریقے بالکل عجیبه دي، په ګناه هم کله ثواب ورکوي، نو بیا عمل کښې د کوتاهئ څهٔ ذکر دے. ؎

خوبی ہمیں کرشمہ و ناز و خرام نیست بد بسیار شیوہ ہا است بتان راکہ نام نیست

د محبوب خوبئ او صفتونه یوا ځے کرشمے او ناز او انداز نهٔ دي، بلکه د هغهٔ ډیر هغه صفتونه او کمالات هم دي چه په عامه وینا کښې د هغې نوم نشته.

دا شپږ څیزونه د عاموصالحانو د پاره ضروري خودلے شي. د خواصو او مقربینو یعني الله تعالیٰ ته د نزدے خلقو) د پاره دِ دے سره یو اُووَم څیز هم زیاتوي، چه زړهٔ دِ د الله تعالیٰ نه بغیر بل هیڅ څیز طرفته نهٔ متوجه کوي. تر دے چه د روژے په حالت دا خیال او تدبیر چه د روژه ماتي د پاره څهٔ څیز شته یا نشته. دے فکر کولو ته هم خطا وائي. څینې عالمانو لیکلي دي، چه په روژه کښې د ماښام د روژه ماتي د پاره د څهٔ څیز د حاصلولو اراده هم خطا ده څکه چه دا د الله تعالیٰ د رزق په وعده د یقین کمے دے.

په شرح احیاء کښې یے د څینې مشایخو قصه لیکلې ده چه کهٔ د روژه ماتي د وخت نه به مخکښې څهٔ څیز د چرته نه راغے، نو هغه به یے بل چا له ورکړو. هسے نه چه زړهٔ هغې طرف ته مُتوجه شي، او په توکل کښې څهٔ قسمه کمے راشي. خودا کارونه دلویو بزرګانو خلقو د پاره دي، زمونږ خلقو د پاره د دے کارونو

Maktaba Tul Ishaat.com

حرص کول بے ځایه دی، او دے حالت ته رسیدلو نه بغیر دا اختیارول خپل ځان په هلاکت کښ اچول دی. مُفسِّرینو لیکلی دی چه کُتِبَ عَلَیْکُمُ الصِّیَامُ کښ د بنیادم په هرجُز روژه فرض کړے شوے ده. پس د ژبے روژه د دروغو وغیره نه بچ کیدل دی، او د غوږ روژه ناروا څیزونو اوریدونه ځان ساتل دی. د سترګے روژه د لهوولعب (یعنی د فضول او عبث) څیزونو ته (د کتلونه) ځان ساتل دی. او هم د غه شان د باقی اندامونو حال دے. تردے چه د نفس روژه د حرص او شهوتونو نه بچ کیدل. د زړهٔ روژه زړهٔ د دُنیا د محبت نه خالی ساتل. او د روح روژه د اٰخرت د لذتونو نه ځان ساتل دی. او د الله تعالیٰ سره د رازدارو خلقو روژه د الله تعالیٰ د غیر نه هم ځان ساتل دی.

⑩ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ مَنْ اَفْطَرَ یَوْمًا مِّنْ رَمَضَانَ مِنْ غَیْرِ رُخْصَةٍ وَّلَا مَرَضٍ لَمْ یَقْضِهٖ صَوْمُ الدَّهْرِ کُلِّهٖ وَاِنْ	حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه څوک (قصدًا) بغیر د شرعی عذر نه یوه ورځ هم د رمضان روژه اُوخوری. د غیر رمضان روژه خواه که ټول عُمر روژے اُونیسی د هغے بدله نشی کیدے.

صَامَهٗ (رواه احمد والترمذی وابوداؤد وابن ماجة والدارمی والبخاری فی ترجمة باب کذا فی المشکوٰة قلتُ وبسط الکلام علی طرقه العینی فی شرح البخاری)

فائده: د دے حدیث په بنیاد د ځنے عالمانو مذهب چه په هغوئ کښ حضرت علی کرم الله وجهه وغیره حضرات هم دی، دا دے که چا د رمضان المبارک روژه بے وجے اُوخوره، د هغے قضا اُوکیدے نهٔ شی، خواه که ټول عمر روژے اُونیسی. خو د عامو فقهاؤ په نزد که د رمضان روژه یے اُونه نیولے نهٔ وی، نو د یوے روژے په بدله کښ په یوه روژه نیولو قضا اُوشی، او که روژه یے نیولے وه ماته یے کړه نو د قضا د یوے روژے نه علاوه دوه میاشتے د کفارے روژے نیولو سره د فرضو نه غاړه خلاصیږی. البته هغه برکت او فضیلت چه کوم د رمضان المبارک د ے هغه په لاس نشی راتلے. او د دے حدیث مطلب هم دا دے چه هغه برکت په لاس نشی راتلے. کوم چه رمضان شریف کښ روژے نیولو سره حاصلیدهٔ. دا هرڅهٔ په هغے حالت کښ دی چه

روستو قضا هم راوړي. او که چرې دسره آو د روژه اُونهٔ نيسي، لکه څنګه چه په دے زمانه کښ دځنې فاسقانو حالت دے، نو دهغې ګمراهئ به څهٔ تپوس کوے. روژه د اِسلام دارکانو نه يو رُکن دے. نبي اکرم صلى الله عليه وسلم د اِسلام بنياد په پنځو څيزونو ويلے دے، دټولو نه اول د توحيد او د رسالت اِقرار دے نه پس د اسلام څلور مشهور رُکنونه مونځ، روژه، زکوٰة، حج دي. خو مره مسلمانان دي چه په مردم شمارۍ کښ مسلمانان شميرلے شي، خو په دے پنځو رکنونوکښ يو رُکن هم نهٔ اَدا کوي بے سرکاري کاغذاتوکښ که هغوي مسلمانان اُو ليکلے شي، مګر د الله تعالىٰ په فهرست کښ هغوي مسلمانان نشي شمارکيدے. تر دے چه د حضرت ابن عباس رضي الله عنه په روايت کښ دي چه د اسلام بنياد په درے څيزونو باندے دے. کلمهٔ شهادت مونځ او روژه. څوک چه په دےکښ يو هم پريږدي هغه کافر دے. د هغهٔ قتلول روادي. عالمانو د دے قسمه روايتونه اګرچه په اِنکار سره مقيد کړي دي (چه د اسلام په اَرکانوکښ د يو رُکن نه اِنکار اُوکړي نو د هغهٔ دا حکم دے) يا يے بل څهٔ تاويل کړے وي. خو د دے نه اِنکار نشته، چه د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم اِرشادات د دا سے خلقو په باره کښ د سخت نه سخت راغلي دي. فرائضو ادا کولوکښ کوتاهي کوونکو د پاره د الله تعالىٰ د قهر او غضب نه ډير زيات ويريدل ضروري دي. څکه چه د مرګ نه د هيچا خلاصے نشته. د دُنيا عيش وعشرت ډير زر پاتے کيدو نکے څيز دے. په کار راتلونکے څيز صرف د الله تعالىٰ اطاعت دے. ډير نا پوهه په دے پسے والے کوي چه روژه نهٔ نيسي. وَلے ځنې بد دينه خو د ژبے نه هم دا سے قسمه الفاظ اُو باسي چه کفر ته يے رَسَوي، مثلاً روژه به هغه څوک نيسي چه د چا په کورکښ د خوراک څهٔ نه وي. يا زمونږ په لوږے سره په وَږلو الله تعالىٰ ته څهٔ په لاس ورځي، وغيره وغيره. د دے قسمه الفاظو د ډير زيات احتياط ضرورت دے. په يو مسئله باندے ښه په غور او فکرځان پوهه کول پکار دي، چه د دين وَړے نه وَړے خبرے پورے خندل، ټوقے مسخرے کول د کفر سبب جوړيږي. که څوک ټول عُمر مونځ اُونکړي، چرے هم روژه اُونهٔ نيسي، د غه شان بل يو فرض ادا نکړي، په شرط د دے چه منکر ترے نهٔ وي هغه کافر نهٔ دے. کوم فرض چه نهٔ اَدا کوي په هغې ګنهګاريږي، او کوم عملونه چه ادا کوي، د هغې

Maktaba Tul Ishaat.com

ثواب به ورکیږی. خو دوین آدمی نه اَدنیٰ خبرے پورے مسخرے کول کفر دے چه په دے سره دټول عُمر مونځ، روژے، نیک عملونه بربادیږی. ددے ډیر زیات خیال ساتل پکاردی. ددے کبله د روژے په باره کښ داسے الفاظ دخُلے نه هرګز اُونه باسئ. او که مسخرے توقے وغیره درپورے نۀ کوئ، بیاهم بغیرد عُذره روژه خوړونکے فاسق دے. تردے چه فقهاؤ وضاحت کړے دے چه څوک په رمضان کښ ښکاره په څرګنده بغیرعذره روژه خوری، هغه دِقتل کړے شی. خوکچرے په قتلولو یے ددے وجه نه طاقت نۀوی چه اِسلامی حکومت نشته اودا کار د اَمِیرُالمُؤمِنِین دے، نوددے فرضونه خو هیڅوک هم خلاص نۀ دے چه په دے ناپاک حرکت دِ دنفرت اِظهار اُوکړی. او ددے نه کمه خود ایمان هیڅ درجه هم نشته چه په زړه دِ بد اُوګنړی. الله جل شانهٗ دِ دخپلو فرمان بَردارو بندګانو په برکت ماته هم دنیکو عملونو توفیق نصیب کړی چه دټولو نه زیات کوتاهی کونکو کښ یم (او تاسو ته هم.)

اول فصل کښ دالس حدیثونه کافی ګڼړم، دمنونکی دپاره خو یوهم کافی دے. او بیا چه تِلْکَ عَشَرَۃٌ کَامِلَۃٌ وی. او دنۀ منونکی دپاره خو مره چه اُولیکلے شی بے کاره دی. الله جل شانهٗ دِ دټولو مسلمانانو ته دعمل (کولو) توفیق ورنصیب کړی.

دویم فصل

د شب قدر په بیان کښ

درمضان المبارک په شپوکښ یوے شپے ته شب قدر ویلے شی چه ډیره زیاته دخیر او برکت شپه ده، قرآن پاک کښ یے داد زرومیاشتو نه بهتره خودلے ده. د زرومیاشتو نه درے اتیا کاله خلورمیاشتے جوړیږی. خوش نصیبه دے هغه کس چاته چه درنے شپے عبادت نصیب شی، چه څوک دغه یوه شپه په عبادت کښ تیره کړی، هغه ګویا چه درے اتیا کاله خلورمیاشتونه زیاته

زمانه عبادت کښې تیره کړه، او ددے زیاتئ حال هم معلوم نهٔ دے چه د زرو میاشتو نه څومره میاشتے زیاته بهتره ده- د الله جل شانهٔ په حقیقت کښې دا یو ډیر لوئ انعام دے چه د قدر کوونکو د پاره یے دا یو بے حده لوئ نعمت ورکړهٔ-

دُرِمنثور کښې حضرت انس رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دا ارشاد نقل کړے دے چه شبِ قدر الله جل شانهٔ زما اُمت ته ورکړے ده، او مخکښو اُمتونو ته نهٔ ده ورکړے شوے. دِے باره کښې مختلف روایتونه دی چه د دے انعام سبب څهٔ اُوشو بعضے روایتونو کښې راغلی دی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د مخکینو امتونو عمرونو ته اُوکتل چه ډیر ډیر وُو، او د نبی صلی الله علیه وسلم د اُمت عُمرونه ډیر لږ دی، نو کهٔ دوی په نیکو عملونو کښې د هغوی برابرے کول غواړی نو ناممکنه ده، په دِے د الله تعالیٰ پیاره نبی صلی الله علیه وسلم سره غم شو، د دے کمی پُوره کولو د پاره دا شپه ورکړے شوه. څومره چا خوش قسمته ته لس شپے هم نصیب شی، نو گویا اتهٔ سوه درے دیرش کالو څلور میاشتو ته یے زیاته زمانه کامل عبادت کښې تیره کړه. بعضے روایتونو نه معلومیږی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د بنی اسرائیلو د یو کس ذکر اُوکړهٔ چه زرو میاشتو پورے یے د الله تعالیٰ په لار کښې جهاد کوُلو، صحابه کرام رضی الله عنهم ورته اُوپسخیدل، نو الله جل شانهٔ د هغے کمی پوره کولو د پاره دا شپه نازله کړه. یو روایت کښې دی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم بنی اسرائیلو کښې د څلورو حضراتو ذکر اُوکړهٔ د حضرت ایوب، حضرت زکریا، حضرت حِزقیل، حضرت یُوشع علیهم السلام چه اتیا اتیا کالو پورے د الله تعالیٰ په عبادت کښې مشغول وُو، او د سترگے درپ برابر یے د الله تعالیٰ نافرمانی نهٔ وه کړے. په دِے صحابه کرام رضی الله عنهم حیران شول نو حضرت جبریل علیه السلام خدمت کښې حاضر شو، او سورهٔ قدر یے واورولو. د دے نه علاوه نور هم روایتونه شته دے. د دے قِسمه روایتونو د اِختلاف اکثر وجه داوی چه هم په یوه زمانه کښې چه کله د مختلف واقعاتو نه پس یو آیت نازل شی، نو هرے واقعے طرفته یے نسبت کیدے شی، بهرحال د نازلیدلو سبب یے هرڅهٔ چه وی، خو اُمتِ محمدیه د پاره دا د الله جل شانهٔ ډیر زیات لوئ انعام دے، دا شپه هم د الله تعالیٰ عَطِیّه (یعنی ورکړه) ده. او په دیکښې عمل هم د هغهٔ په توفیق سره کیدے شی گنی. ؎

Maktaba Tul Ishaat.com

تہی دستانِ قسمت راچہ سود از رہبر کامل ٭ کہ خضر از آبِ حیوان تشنہ می آرد سکندر را.

دکم نصیبو د پاره د کامل رَهبر نه څهٔ فائده ده چه خَضِر علیه السلام سکندر لره د آبِ حیات نه تږے راوستو.

څومره د پښخیدو قابل دی هغه بزرګان چه فرمائی چه بالغ کیدو نه پس مونږ نه د شبِ قدر عبادت هیڅ کله نهٔ دے پاتے شوے، البته د دغے شپے په تَعْیِین (یعنی مقرر تیا) کښ د اُمت د عالمانو ترمینځه ډیر زیات اختلاف دے تقریبًا پنځوس شو پورے اَقوال (یعنی وینا ګانے) دی. د ټولو راجمع کول ګران دی البته د مشهورو اقوالو ذکر نزدے راروان دے.

د احادیثو په کتابونو کښ د دغے شپے فضیلت په مختلفو قسمونو اوګڼړو روایتونو کښ راغلی دے چه په هغے کښ د څنو ذکر راځی. خو چونکه د دغے شپے فضیلت په خپله قرانِ پاک کښ هم ذکر کړے شوے دے، او مستقِل یو سورت دے باره کښ نازل شوے دے. په دے وجه مُناسبه ده چه اول د دغے سورت تفسیر اُولیکلے شي. ترجَمه د حضرت حکیم الاُمت مولٰنا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه د تفسیر بیان القرآن نه او فوائد د نورو کتابونو نه اخستلے شوی دی.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۝ اِنَّاۤ اَنۡزَلۡنٰهُ فِىۡ لَيۡلَةِ الۡقَدۡرِ ۝ شروع کوم په نامه د الله تعالیٰ چه بخښونکے مهربانه دے. بے شکه مونږه قرانِ پاک د قدر په شپه کښ نازل کړے دے.

فائده: یعنی قرانِ پاک د لوحِ محفوظ نه د دُنیا په آسمان په دے شپه کښ نازل شو. هُم دا یوه خبره د دے شپے د فضیلت د پاره کافی وه چه د قرانِ پاک په شان د عظمت څیز په دے کښ نازل شو، او چه لا په دیکښ نور هم ډیر برکتونه او فضیلتونه شامل شوی وی. وړپسے د شوق زیاتولو د پاره ارشاد فرمائی. وَمَاۤ اَدۡرٰٮكَ مَا لَيۡلَةُ الۡقَدۡرِ ۝ تا ته څهٔ معلومه ده چه شبِ قدر څومره لوئ څیز دے؟ یعنی د دغے شپے د لوئي او فضیلت تا ته څهٔ علم هم شته چه په دے کښ څومره خوبئ او فضیلتونه دی. د دے نه پس یو څو فضیلتونه ذکر کوی. لَيۡلَةُ الۡقَدۡرِ ۙ خَيۡرٌ مِّنۡ اَلۡفِ شَهۡرٍ ۝ شپه د قدر د زرو میاشتونه بهتره ده، یعنی د زرو میاشتو د عبادت چه څومره ثواب دے د

هغې نه زیات شب قدر کښې د عبادت کولو ثواب دے، او دے زیاتوالي علم هم نشته چه څومره زیات دے. تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ په دغې شپه کښې فرښتې راکوزیږي.
علامه رازي رحمة الله علیه لیکي چه فرښتو به اول حل کښې ته اُولیدلے، تو لتا نه یے کرکه ښکاره کړے وه، او د الله په دربار کښې یے عرض کړے وو چه تاسو داسے څیز پیدا کوئ، چه په دُنیا کښې به فساد کوي، او وینې به بهوي. د دے نه پس چه ته مور پلار اول لید لے وے کله چه ته دَمني څاڅکي وے، نو لتا نه یے کرکه کړے وه، تر دے چه چاے سره به اُولګیده، نو دچاے وینځلو ضرورت به پیښیدو خو هر کله چه الله جل شانهٔ دغے څاڅکي له بهترین شکل ورکړو، نو د مور پلار ورسره هم دشفقت او دمینې وخت راغلو، او نن چه د الله تعالیٰ په توفیق ته د شب قدر کښې د الله تعالیٰ په مَعرفت او اطاعت کښې مشغول یې، نو فرښتې هم دخپلې هغې وینا دمعذرت کولو د پاره راکوزیږي. وَالرُّوْحُ فِيْهَا او په دے شپه کښې روح القدس یعني جبرئیل علیه السلام هم راکوزیږي. د رُوح په معنیٰ کښې د مُفسرینو یو څو قوله دي. اول د جُمهُور و هم دغه قول دے کوم چه پورته اُولیکلے شو چه دے نه جبرئیل علیه السلام مراد دے. علامه رازي رحمة الله علیه لیکلي دي چه هم دغه قول زیات صحیح دے، او د حضرت جبرئیل علیه السلام د افضلیت د کبله یے د فرښتو د ذکر نه پس خاص طور د هٔ ذکر اُوکړهٔ. دویم دځنو وینا ده چه د رُوح نه مراد یوه ډیره لویه فرښته ده چه ټول آسمانونه او زمکے د هغې د وړاندے د یوے نمړئ برابر دي. دریم دځنو وینا ده چه د دے نه مُراد د فرښتو یوه خاصه ډله ده چه نورو فرښتو ته هم صرف لَيْلَةُ الْقَدْر کښې ښکاره کیږي. څلورم قول دا دے چه دا د الله تعالیٰ خاص مخلوق دے، چه خوراک څکاک کوي خو نهٔ فرښتې دي او نهٔ اِنسانان. پنځم دا چه دے نه حضرت عیسیٰ علیه السلام مراد دے، چه د محمد صلی الله علیه وسلم د اُمت کارنامو لیدلو د پاره فرښتو سره راکوزیږي. شپږم قول دا دے، چه دا د الله تعالیٰ خاص رحمت دے یعني په دغے شپه کښې فرښتې نازلیږي او د الله تعالیٰ خاص رحمت نازلیږي، د دے نه علاوه نور هم بعض اقوال دي ولے مشهور قول اَولنے دے. په سُننِ بیهقي کښې د حضرت انس رضي الله عنه په واسطه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد نقل دے چه په شب قدر کښې حضرت جبرئیل علیه السلام

Maktaba Tul Ishaat.com

دفرښتو دیوے ډلے سره راکوزیږی، او څوک چه په ذکر وغیره کښ مشغول اُووینی دهغوی دپاره درحمت دُعا کوی ۔ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ مِّنْ كُلِّ اَمْرٍ دخپل پروردګار په حکم هر امرِ خیر راآخلی، اوزمکے طرفته راکوزیږی ۔ مظاهرحق کښ یے لیکلی دی چه هم په دغے شپه دفرښتو پیدائش اُوشو، او هم په دغے شپه کښ دآدم علیه السلام ماده جمع کیدل شروع شو، هم په دغه شپه جنت کښ وُنے اُولګولے شوے او دُعاوغیره قبلیدل خوپه ډیرو روایتونوکښ راغلی دی ۔ ددُرِمنثور په یو روایت کښ دی چه هم په دغے شپه کښ عیسٰی علیه السلام اسمان ته اُوچت کړے شوے وُو، او هم په دغه شپه کښ دبنی اسرائیلوتوبه قبوله شوے وه ۔ سَلٰمٌ ۛ هِيَ دغه شپه سراسر سلام دے، یعنی ټوله شپه دملائکوله طرفه په مؤمنانو باندِ سلام کیږی چه یوفوج راځی او بل ځی، لکه څنګه چه په بعضِ روایتونوکښ د دے وضاحت دے، یادامراد دے، چه دا شپه سراسر سلامتیا ده، دشر فساد وغیره نه آمن دے ۔ هِيَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ دغه شپه (دے برکتونو سره) تر صبا ختلو پورے وی ۔ دانهٔ ده چه د شپے څهٔ خاصه حصه کښ دا برکت وی او په څهٔ کښ نهٔ وی، بلکه دصبا کیدوپورے ددے برکتونه ظاهریږی ۔ ددے سورت شریف دذکرنه پس چه په خپله الله جل شانهٔ په قران پاک کښ ددے شپے ډیرقسمه فضیلتونه اِرشادفرمائیلی دی، نودحدیثونوذکرکولوضرورت نهٔ پاتے کیږی ۔ خوحدیثونوکښ هم ددے فضیلتونه ډیرراغلی دی، دهغے نه یو څوحدیثونه ذکرکولے شی ۔

(۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم مَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ اِيْمَانًا وَّ اِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ ۔ (كذا فى الترغيب عن البخارى ومسلم)

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد دے چه څوک په شب قدر کښ دایمان سره اودثواب په نیت (عبادت دپاره) اُودریدو، دهغهٔ ټول روستنی ګناهونه به اُوبخښلے شی ۔

فائده: داُودریدو مطلب دادے چه مونځ کوی اوپه دے حکم کښ دا هم دی چه څهٔ بل عبادت تلاوت، ذکروغیره کښ لګیا وی ۔ دثواب اُمید ساتلو مطلب دادے چه رِیا وغیره په څهٔ بد نیتیٔ ولاړ نهٔ وی ۔ بلکه په اخلاص

صرف دالله درضا اوثواب حاصلولو په نیت ولاړ وی - خَطَّابی رحمة الله علیه فرمائی، چه ددے مطلب دادے چه دثواب په یقین اودزړهٔ په خوشالئ سره ولاړ وی ، بوجهه یے نهٔ گنړی او په ناخوالئ نهٔ وی - اوښکاره خبره ده چه څومره دثواب یقین اوایمان یے مضبوط وی، هغومره به عبادت کښ مَشقت زغمل آسان وی، دغه وجه ده چه څوک الله تعالیٰ ته په ورنزدے کیدو کښ څومره ترقی کوی، هغومره یے عبادت کښ شوق زیاتیږی -

بله دامعلومیدل هم ضروری دی چه پورتنی حدیث اوددے په شان نورو حدیثونوکښ دگناهونو نه مراد دعالمانو په نزد واړهٔ گناهونه دی حُکم چه په قران کښ کوم ځائ دلویوگناهونو ذکر راځی ، هغه یے اِلَّا مَنْ تَابَ سره ذکرکړے دے - په دے وجه دعالمانو اِتفاق دے چه لویه گناه بغیر دتوبے نه نهٔ معاف کیږی - پس کوم ځائ چه په حدیثونوکښ دگناه معاف کیدلو ذکر راغلے دے، عالمان هغے سره د وړوگناهونو قید لگوی - زما دوالد صاحب رحمة الله علیه اِرشاد دے چه په حدیثونوکښ د وړُوقید ددوه ؤ وجهو نه نهٔ ذکر کیږی اوله داچه دمسلمان داشان آړودے نه، چه دهغهٔ په ذمه کبیرهٔ گناه وی - ولے چه کله غټه گناه دهغهٔ نه اُوشی ،نو دمسلمان شان دادے، چه هغهٔ له به ترهغے وخته آرام نهٔ ورځی، ترڅوپورے چه دهغے نه توبه اُونهٔ باسی - دویمه وجه داده چه کله ددے قسمه موقعے وی ، مثلاً په شبِ قدر کښ چه څوک د ثواب په اُمید عبادت کوی،نو په خپلو بدعملو باندے پښیمانتیا ددهٔ دپارهٔ گویا ضروری ده اوکیږی هم دغسے - ددے کبله توبه پکښ په خپله راشی - ولے چه دتوبے حقیقت په تیروگناهونو پښیمانتیا اوددراتلونکی وخت دپاره دنهٔ کولو پخه اِراده ده، دریُم چه کهٔ چانه غټ گناهونه شوی هم وی، نو دهغهٔ دپاره ضروری ده چه کهٔ لیلة القدر وی یا بله ددُعاقبلیدو موقعه وی ، دخپلو بدعملونه په ریښتنی زړهٔ او په پخه اِراده د زړهٔ اوژبے سره توبه هم اُوباسی ، چه دالله تعالیٰ کامِل رحمت ورته مُتوَجّه شی ، آو واړهٔ لوئ تول گناهونه معاف شی - کهٔ درته رایاد شی ،نوما گنهگار هم خپلو د اِخلاص (نه ډکو) دُعاگانوکښ یاد کړئ -

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) عَنْ اَنَسٍ رضی اللہ عنہ قَالَ دَخَلَ رَمَضَانُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صلی اللہ علیہ وسلم اِنَّ ھٰذَا الشَّھْرَ قَدْ حَضَرَکُمْ وَفِیْہِ لَیْلَةٌ خَیْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَھْرٍ مَنْ حُرِمَھَا فَقَدْ حُرِمَ الْخَیْرَ کُلَّہٗ وَلَا یُحْرَمُ خَیْرَھَا اِلَّا مَحْرُوْمٌ۔

(رواہ ابن ماجۃ واسنادہ حسن ان شاء اللہ تعالیٰ کذا فی الترغیب وفی المشکوٰۃ عنہ اِلَّا کُلُّ مَحْرُوْمٍ)

حضرت انس رضی اللہ عنہ وائی چه یو ځلے درمضان المبارک میاشت راغله نو نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اُوفرمایل چه په تاسو باندِ یوه میاشت راغلے ده چه په هغے کښ یوه داسے شپه ده چه د زرو میاشتونه بهتره ده، څوک چه د دغے شپے نه محرومه پاتے شو، گویا د ټول خیر نه محرومه پاتے شو، او ددے خیر نه محروم نهٔ پاتے کیږی، خو هغه کس چه په حقیقت کښ محرومه دی۔

فائدہ: په حقیقت کښ دهغهٔ په محرومئ کښ څهٔ شک دے، چه دومره لوئ نعمت دلاسه ضائع کړی۔ دریل ملازمان دیو څو پیسو په خاطر ټوله شپه ویخ وی۔ کهٔ د اتیا کالو څلورو میاشتو دعبادت په خاطر څوک یوه میاشت د شپے ویخ پاتے شی، نو څهٔ گرانه ده۔ اصل خبره داده چه په زړهٔ کښ درد او عشق نشته، اوکهٔ لږ غوندے خوند بیا مومی، نو بیا یوه شپه څهٔ په سوونو شپے رونړیدلے شی۔ ؎

اُلفت میں برابر ہے وفا ہو کہ جفا ہو ÷ ہر چیز میں لذت ہے اگر دل میں مزا ہو

محبت کښ برابر دی وفا وی کهٔ جفا وی ÷ په هر څیز کښ لذت دے خو چه زړهٔ کښ مزا وی

اخر څهٔ خبره خو به وهٔ چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم سره د ټولو زیرو او وعدو چه دهغوی پرے پوره یقین وُو، بیا بیا دومره اوږدهٔ اوږدهٔ مونځونه کول چه خپے مبارکے به یے اوپرسیدلے، دهغوی نوم اخستونکی اُمتیان اخر مونږ هم یادیږو۔ کومو خلقو چه ددے قدر اُوکړو، هغوی هر څهٔ اوکړل او نمونه یے اُمت ته اُوخودله۔ ویُونکو ته داموقع هم پاتے نهٔ شوه چه دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم په شان دعبادت حرص څوک کولے شی او دچا نه کیدے شی۔ په زړهٔ کښ دکښینئولو خبره ده۔ محبت کوُنکو پاره دپیو نهر دغر نه کنستل هم گران نهٔ وی۔ خو داخبره دچا پیزار سمو لونه بغیر په مشکله حاصلیږی۔ ؎

تمنا درد دل کی ہو تو کر خدمت فقیروں کی ٭ نہیں ملتا یہ گوہر بادشاہوں کے خزینہ میں

کهٔ دزړهٔ ددرد ارزووی ، نوکړه خدمت دفقیرانو ،
موندلے نهٔ شی دا ملغلره په خزانو د بادشاهانو کښی

اخرځهٔ خبره خووه چه حضرت عُمر رضی الله عنه به د ماسخوتن د مانځه نه پس کورته تشریف یوړو، او تر صبا پورے به یے مانځه کښ شپه تیروله. حضرت عثمان رضی الله عنه به تول ورځ روژه او تول شپه مانځه کښ تیروله. صرف د شپے په اوله حصه کښ به لږ شان اُودهٔ کیدهٔ. د شپے په یو یو رکعت کښ به یے پوره قران لوستلو. شرح اِحیاء کښ ابوطالب مکی رحمة الله علیه نه نقل کړے دے چه د خلویښتو تابعینو نه د تواتر په طریقه یعنی پرله پسے دا خبره ثابته ده چه هغوی به د ماسخوتن په اودس د سحر مونځ کولو. حضرت شدّاد رحمة الله علیه چه به د شپے سملاستو، نو تول شپه به یے اړخونه لولوکښ صبا کړه. او ویل به یے یا الله! د دوزخ د اُور ویرے زما خوب اُوتختولو. اَسود بن یزید رحمة الله علیه به په رمضان کښ د ماښام او ماسخوتن تر مینځه لږ شان اُودهٔ کیدهٔ او بس. د سعید بن المسیب رحمة الله علیه متعلق راغلی دی چه تر پنځوسو کالو پورے د ماسخوتن په اودس د سحر مونځ کړے دے. صِلَه بن اَشیَم رحمة الله علیه به تول شپه مونځ کولو او سحر به یے دا دُعا کوله چه یا الله اځهٔ د دے قابل خو نهٔ یم چه جنت اُوغوارم صرف دومره درخواست دے چه د اُور نه م اُوساتے. حضرتِ قتاده رحمة الله علیه به تول رمضان په هرو دریو شپو کښ یو ختم د قران شریف کولو. خو اخری لسو کښ به یے هره شپه یو قران شریف ختم کولو. د امام اَبوحَنیفه رحمة الله علیه نه خلویښتو کالو پورے د ماسخوتن په اودس د سحر مونځ کول دومره مشهوره او معلومه خبره ده چه د هغے نه اِنکار په تاریخ باور اُوچتوی. او چه هغوی نه تپوس اُوکړے شو چه تاسو ته دا قوت څنګه حاصل شو، نو هغوی اُوویل چه ما د الله تعالیٰ د نومونو په وسیله په یوه خاصه طریقه دُعا کړے وه. صرف د غرمے به لږ شان اُودهٔ کیدهٔ. او فرمایل به یے، چه په حدیث کښ د قیلولے ارشاد دے گویا د غرمے په اُودهٔ کیدو کښ یے هم د سنتو د تابعدارئ اِراده وه. د قران لوستلو په وخت به یے دومره ژړل، چه د ګاونډیانو به په دے رحم راتلے. یو

Maktaba Tul Ishaat.com

وارے تولہ شپہ یے ددے ایت پہ وئیلو پہ ژړا کښې تیرہ کړہ۔ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ اَدْهٰى وَاَمَرُّ (القمرع ۳) ابراهیم بن ادهم رحمة الله عليه به د روژے په میاشت کښې نه د ورځے اُودهٔ کیدهٔ او نهٔ د شپے۔ امام شافعي رحمة الله عليه به په رمضان کښې د شپے او ورځے په مونځونو کښې شپیتهٔ ځله قرآن شریف ختمولو۔ ددے نه علاوه دسوونو خلقو واقعات دی چه هغوی په وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ (الذاریات۔ ع ۳) باندے عمل اُوکړو، او خلقو ته یے اُوخودله، چه دکونکو دپاره هیڅ مشکله نهٔ ده۔ دا د تیر شوو بزرګانو واقعات دی۔ اُوس هم کونکی موجود دی۔ کهٔ هغومره مجاهدۀ نهٔ وی، خو دخپلے زمانے موافق او دخپل طاقت او وَس موافق د تیر شوو بزرګانو نمونے اُوس هم شته دے۔ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په رښتنی اِقتداء کونکی ددے فساد په زمانه کښې هم شته۔ نهٔ یے راحت او آرام په عبادت کښې د مشغولتیا نه منع کولے شی، او نهٔ یے د دُنیا کاروته دلارے منع کونکی کیدے شی۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائی چه د الله تعالیٰ ارشاد دے چه اے ادم ځویه! ته زما د عبادت دپارهٔ ځان اُوزګار کړه، زهٔ به ستا سینه دغِنا نه ډکه کړم او ستا غریبي به بنده کړم، کنی ستا لاسونه به د کاروبار نه ډک کړم، او غریبي به دِ نهٔ بندوم۔ روزانه لیدلی کتلی واقعات ددے رښتنی ارشاد انصافی ګواهان دی۔

(۳) عَنْ اَنَسٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم اِذَا كَانَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ نَزَلَ جِبْرِيْلُ عليه السلام فِيْ كَبْكَبَةٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ يُصَلُّوْنَ عَلٰى كُلِّ عَبْدٍ قَائِمٍ اَوْ قَاعِدٍ يَذْكُرُ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ فَاِذَا كَانَ يَوْمُ عِيْدِهِمْ يَعْنِيْ يَوْمَ فِطْرِهِمْ بَاهٰى بِهِمْ مَلٰٓئِكَتَهٗ فَقَالَ يَا مَلَائِكَتِيْ مَا جَزَآءُ اَجِيْرٍ وَّفّٰى عَمَلَهٗ قَالُوْا رَبَّنَا جَزَآؤُهٗ اَنْ يُّوَفّٰى اَجْرَهٗ قَالَ مَلَائِكَتِيْ

حضرت انس رضی الله عنه وائی چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه شبِ قدر کښې جبریل علیه السلام د ملائکو یوے ډلے سره راځی او د هغه کس دپاره چه په ولاړه یا په ناسته د الله تعالیٰ ذکر کوی (او عبادت کښې مشغول وی) د رحمت دُعا ګانے غواړی۔ او چه کله د روژی اختر ورځ شی، نو الله جل شانهٔ د خپلو فرښتو مخکښې د بندګانو په عبادت فخر کوی (ځکه چه هغوی په بنیاد مو اعتراض کړے وو) او د هغوی نه پوښتنه کوی، چه اے فرښتو! د هغه مزدور چه خپل خدمت پوره

عَبِيْدِيْ وَإِمَائِيْ قَضَوْا فَرِيْضَتِيْ عَلَيْهِمْ ثُمَّ خَرَجُوْا يَعُجُّوْنَ إِلَى الدُّعَاءِ وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ وَكَرَمِيْ وَعُلُوِّيْ وَارْتِفَاعِ مَكَانِيْ لَأُجِيْبَنَّهُمْ فَيَقُوْلُ ارْجِعُوْا قَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ وَبَدَّلْتُ سَيِّآتِكُمْ حَسَنَاتٍ قَالَ فَيَرْجِعُوْنَ مَغْفُوْرًا لَهُمْ۔

(رواه البيهقي في شعب الايمان كذا في المشكوٰة)

پوره اُوکړی څۀ بدله ده؛ هغوی عرض کوی لے زمونږه ربه! دهغهٔ بدله داده ، چه هغویٔ ته مزدوری پوره ورکړے شي ۔ نو إرشاد اُوشي چه فرښتو! زما غلامانو او وینزو زما فریضه پوره ادا کړه، بیا په چغو چغو دُعا سره (عیدګاه طرفته) اُووتل زما دِ ځپل عزت قسم وی، او زما دِ په خپل جلال قسم وی، زما دِ ځپل لویٔ شان قسم وی ، او زما دِ په خپلے اُوچتے مرتبے قسم وی چه زۀ به ددغے خلقو دُعا ضرور قبلوم. بیا دغے خلقو ته خطاب اُوکړی إرشاد فرمائی، چه واپس شئ ستا سو ګناهونه م معاف کړل اوستاسو بدئ م په نیکو بدلے کړے، پس دا خلق دعیدګاه نه په داسے حال واپس کیږی چه دهغوی ګناهونه معاف شوی وی۔

فائده: دحضرت جبریل علیه السلام ملایکو سره راتلل په قران پاک کښ هم ذکر شوی دی لکه مخکښ تیر شو، او په ډیرو حدیثونو کښ هم ددے وضاحت شته۔ ددے رسالے په اخری حدیث کښ ددے په تفصیل سره ذکر راروان دے، چه حضرت جبریل علیه السلام ټولو ملایکو ته وائی، چه دهر ذاکر شاغل کور ته لاړے شئ، او هغهٔ سره لاس ملاؤ کړئ۔

غَالِيَةُ الْمَوَاعِظ کښ دحضرت شیخ عبد القادر جیلانی رحمة الله علیه دکتاب غُنْیَه نه نقل کړے دے چه دابنِ عباس رضی الله عنه په حدیث کښ دی چه ملایکے دحضرت جبریل علیه السلام په وینا خورے شی، او هیڅ یو کور، ورړے او لوئ ځنګل یا کشتئ داسے نهٔ وی چه په هغے کښ مؤمن وی، او دغه زښتے د مصافحے دپاره هلته نهٔ ځی۔ خو په هغے کورکښ نهٔ داخلیږی، کوم کښ چه سپے یا خنزیر یا دحرام کارئ په وجه جُنبی یا تصویر وی۔ دمسلمانانو څومره کورونه داسے دی، چه په هغے کښ صرف دخیالی زینت په خاطرے تصویرونه زوړند

Maktaba Tul Ishaat.com

کړی وی او د الله تعالیٰ د دے د ومرۀ لوئ نعمت نه د خپل لاسه ځان محرومه کړی. تصویر زورَندَوُنکے په کښں یووی خودهغهٔ په وجه ټول کور د رحمت د فرښتو د داخلیدو نه د منع کولو سبب اُوګرزی، او ځان سره ټول کور محرومه کړی.

(۴) عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْوِتْرِ مِنَ الْعَشْرِ الْاَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ. (مشکوٰة عن البخاری)

حضرت عائشه رضی الله عنها د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه لیلة القدر د رمضان آخری لسو طاقو (یعنی ناتکئ) شپوکښں لټوئ.

فائده: د جمهورو عالمانو په نزد آخری عشره د یو ویشتمے شپے نه شروع کیږی، خواه کهٔ میاشت د یوکم دیرشو وی یا د دیرشو. په دے حساب پورتنی حدیث مطابق د شب قدر لټون یو ویشتمه، درویشتمه، پنځویشتمه، اُویشتمه، یوکم دیرشمه شپوکښں کول پکار دی. کهٔ میاشت دیوکم دیرشو وی بیا هم آخری عشره هم دے ته ویلے کیږی. خو د ابن حزم رحمة الله علیه رائے دا چه د عشرے معنیٰ لس ده، کهٔ د رمضان المبارک میاشت د دیرشو وی، نو بیا خو دا ده. ولے کچرے میاشت د یوکم دیرشو وی، نو په دے حالت کښں آخری عشره د شلمے شپے نه شروع کیږی، په دے حالت کښں به ناتکئ شپے داوی. شلم، دوه ویشتم، څلیرویشتم، شپږ ویشتم، اته ویشتم. خو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به دلیلة القدر په لټون کښں د رمضان المبارک اعتکاف کولو، او هغه به بالاتفاق د یو ویشتمے شپے نه شروع کیدهٔ. بیا د جمهورو عالمانو قول د یو ویشتمے شپے نه په ناتکئ شپوکښں قوی اُمید دے، او زیات نزدے دے، اګرچه اُمید په نورو شپوکښں هم شته. او په دوارو قولونو تلاش هله کیدے شی چه د شلمے شپے نه تر د آخر شپے پورے هره شپه کښں ویښ وی او د شب قدر په فکر کښں لګیا وی لس یولس شپے ویښ پاتے کیدل یعنی شوګیر کول هغے چاد پاره ګرانه نهٔ ده چه څوک د ثواب اُمید لری. ے

عرفی اگر بہ گریہ میسر شدے وصال ⁂ صد سال میتوان بہ تمنا گریستن،

کهٔ په ژړا یاندے وصال حاصلیدے شوے، عُرفی به کړے د وترسلو کالو ژړیدل

(۵) عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضی الله عنه قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم

حضرت عُبادة رضی الله عنه فرمائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دے د پاره بهر تشریف راوړلو، چه

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُخْبِرَنَا بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحٰى رَجُلَانِ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ فَقَالَ خَرَجْتُ لِاُخْبِرَكُمْ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحٰى فُلَانٌ وَّفُلَانٌ فَرُفِعَتْ وَعَسٰى اَنْ يَّكُوْنَ خَيْرًا لَّكُمْ فَالْتَمِسُوْهَا فِى التَّاسِعَةِ وَالسَّابِعَةِ وَالْخَامِسَةِ (مشکوٰة عن البخاری)

مونږ ته د شبِ قدر خبر راکړی، خو دوه ؤ مسلمانانو جهګړه کوله. نبی صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد اُوفرمایه چه زهٔ درے د پاره راغلے وَم، چه تاسو ته د شبِ قدر خبر درکړم، خو فلانکی فلانکی په خپل مینځ کښې جهګړه کوله، د هغوی په وجه د هغے مقرر تیا اُوچته کړے شوه. کیدے شی چه دا اُوچتوالے د الله تعالیٰ په علم کښې بهتروی، اوس دغه شپه په نهمه اَو اُووَمه او پنځمه شپه کښې تلاش کوئ.

فائده: په دے حدیث کښې درے خبرے دغور قابلے دی.

اَوَّله خبره چه هغه دهٔتولونه اهمه دهٔ هغه جهګړه دهٔ چه دومره زیات بد خیز دے چه د هغے په وجه همیشه د پاره د شبِ قدر مقرر تیا اُوچته کړے شوه اوصرف دغه نه بلکه جهګړه همیشه د پاره د برکتونو نه د محرومۍ سبب کړی د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد دے چه تاسو ته د مونځ روژے، صدقے وغیره نه بهتر خیز اُوښایم؟ صحابه وُ رضی اللہ عنہم عرض اُوکړهٔ، ضرور. نبی صلی اللہ علیہ وسلم اُوفرمایل چه په خپل مینځ کښې ښهٔ سلوک دهٔتولونه بهتر دے او په خپل مینځ کښې جنګ جهګړه کول د دین خروُنکے دے، یعنی څنګه چه په چاړهٔ د سر ویښتهٔ زر صفا شی، په خپل مینځ کښې جنګ سره دین هم د غسے صفا کیږی. د دُنیا دار او د دین نه د بے خبرو خلقو به څهٔ وایے چه د ډیرو اُوږدو اُوږدو تسپو اَړوُنکی د دین دعویدار هم هر وخت په خپل مینځ کښې په جهګړه کښې اَخته اُوسی. اول خود نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد په غور سره اُوکوری، بیا د دے خپل دین فکر اُوکړئ چه د هغے په غرور کښې د صُلح د منلو توفیق نهٔ کیږی. په اول فصل کښې د روژے په ادا بو کښې تیر شوی دی چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم د مسلمانانو بے عزتی کولو ته بد ترین او خبیث ترین سُود ویلے دے، خو مونږ خلق د جنګ په زور کښې نهٔ د مسلمانانو د عزت پرواه کوو، او نهٔ د الله تعالیٰ

او دغه د رېښتني رسول صلی الله علیه وسلم د ارشاد او خيال ساتو. په خپله د الله جل شانه ارشاد دے وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا الآية او جهګړے مه کوئ ګنې کم همته به شئ او قوت به مو لاړ شي. (بيان القرآن) نن هغه خلق چه د نورو د عزت کمولو په فکر کښ وسي، ځان له دِ کښيني، غور دِ اُوکړي، چه په خپله هغه خپل عزت ته څومره نقصان رسَوي، او ددے نا پاکه کمينه حرکتونو په وجه د الله تعالیٰ په نظر کښ څومره ذليله کيږي، او بيا دُنيا ذلت خو ښکاره دے. د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه څوک مسلمان رورسره د درے ورځو نه زيات تعلق پريږدی که په دے حالت کښ مړ شو، نو نيغ به دوزخ ته ځی. په يو حديث کښ راغلی دی چه د هر ګل او د زيارت په ورځ د الله تعالیٰ په حضور کښ د بندګانو عملونه پيش کيږی، او د الله جل شانهٗ په رحمت (د نيکو عملونو په برکت) د مشرکانو نه علاوه د نورو بخښنه کيږی خو دکومو دوه ؤکسانو په مينځ کښ چه جهګړه وی د هغوی د بخښنے متعلق ارشاد کيږی چه دوی پريږدئ، ترڅو پورے چه صلح اُونکړی. په يو حديث پاک کښ ارشاد دے چه د هر ګل او زيارت په ورځ د عملونو پيشی کيږی، په هغے کښ د توبه کونکو توبه قبليږی، او د استغفار کونکو استغفار قبلولے شی، خو څوک چه مينځ کښ جهګړه کونکی په خپل حال پريخودلے شي. يو ځائ ارشاد دے چه شبِ برات يعنی د شوقدر د مياشتے په پنځلسمه شپه کښ د الله تعالیٰ عام رحمت مخلوق طرفته مُتوَجّه کيږی، او (په لږه لږه بهانه) د مخلوق مغفرت کولے شی، خو دوه ؤکسانو مغفرت نهٔ کيږی، يو کافر، دويم د هغه چا چه چا سره کينه ساتی. يو ځائ ارشاد دے چه درے کسان دی چه د هغوی مونځ د قبوليت د پاره د هغوی د سَرنه يو ليشت هم پورته نهٔ ځی، چه په هغوی کښ يے پخپل مينځ کښ جهګړه کونکی هم فرمائيلی دی. دا ځائ د هغے ټولو روايتونو نقل کولو نه دے دا يو څو روايتونه مِ دے د پاره اُوليکل چه په مونږ خلقو کښ (دعوا مو ذکر نه دے په خواصو کښ او په هغے خلقو کښ چه شريفان دی او دينداره ګڼړلے شی، د هغوی مجلسونه او دراجمع کيدو ځايونه (يعنی حُجرے بيټهکونه) د هغوی غم ښادئ ددے کمينه حرکت نه ډک دی، فَاِلَى اللهِ الْمُشْتَكَىٰ وَاللهُ الْمُسْتَعَانُ.

خو ددے تہ ولو نہ پس داھم معلومیدل ضروری دی چہ داتو لے دشمنئ او جھگڑے دُنیا پہ وجہ وی، کۂ دچا دفسق پہ وجہ یا څۀ دینی کار دَ مد د پہ وجہ چا سرہ تعلق پریږدی نو جائز دے۔ حضرت ابنِ عُمر رضی اللہ عنہ یو وارے د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد نقل کرۀ، نو دھغۀ څوئ پہ ھغے داسے یو لفظ اُوویلو، چہ پہ ظاھر کښ پہ حدیث اعتراض وُو، نو حضرت ابن عُمر رضی اللہ عنہ تر مرگہ پورے ھغۀ سرہ خبرے اُونکڑے۔ نور هم ددے قسمہ واقعات دصحابہ کرامو رضی اللہ عنہم نہ ثابت دی، خو اللہ تعالیٰ پوھَہ اولیدو نکے دے، دزړه تو حال پہ ښۀ شان پیژنی، اَوښۀ ترے خبردارہ دے چہ کوم تعلق پرېښودل ددین لہ خاطرہ دے اوکوم دخپلے دبدبے او دشان دکھوالی او دلوئی پہ وجہ دے، داسے خو ھر سړے دخپلے کینے او بغض دین طرفتہ نسبت کولے شی۔

دَوَیمہ خبرہ چہ دپورتنی حدیث نہ معلومیږی ھغَہ دحکمتِ اِلٰہی پہ مخکښ رضا او قبلول او منل دی۔ سرہ ددے چہ د شبِ قدر دمقرر تیا پتیدل پہ ظاھرہ دیرلوئ خیر اُوچتیدل دی، خو چہ دا اللہ تعالیٰ لہ طرفہ دی، نو حُکم دنبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد ددے چہ کیدے شی زمونږ دپارہ ھم دغہ بهتره وی دیر دعبرت اَو غور مقام دے، د اللہ جل شانہٗ رحیم او کریم ذات پہ بندہ ھروخت مهربانہ دے، کۂ چرے بندہ دخپلو بدعملو پہ وجہ پہ څۀ مصیبت کښ گیرشی، بیا هم اللہ جل شانہٗ طرفتہ لږه غوندے توجہ او دخپلے عاجزئ اِقرار کولو نہ پس د اللہ تعالیٰ کرم شامل حال کیږی، او ھغہ مصیبت بے هم دلوئ خیر سبب اوگرزولے شی، او د اللہ تعالیٰ دپارہ هیڅ څیز هم گران نۀ دے۔

عالمانو دلیلۃ القدر پہ پټوالی کښ یو څو مصلحتونہ وئیلی دی۔

اَوَل داچہ کۀ مقرر تیا یے پہ حال پاتے شوے وے، نو ډیر ناراست طبیعتونہ پہ دا سے وَے چہ د نورو شپو عبادت بہ یے بالکل پریخے وُو او پس دد انتظار بہ یے کولو، او چہ پټہ شوہ، نو پہ دے اُمید کښ چہ ہم کیدے شی نن شپہ دقدر دی نور طلب خاوندانو تہ دډیرو شپو دعبادت کولو توفیق نصیب کیږی۔

دَوَیم داچہ ډیر داسے خلق دی چہ بغیر دگناہ کولو نہ نۀ پاتے کیږی، نو کۂ دا شپہ معلومہ وے، او بیا یے پہ کښ پہ گناہ زړۀ ورتیا کولے، نو دا بہ

Maktaba Tul Ishaat.com

ډیره سخته خطرناکه خبره وه. نبي اکرم ﷺ یو ځلې جُمات ته راغے، یو صحابي رضی الله عنه اُودَه وُو، نو نبي ﷺ حضرت علي رضی الله عنه ته اُوفرمایل، دَے وِیخ کړه چه اَودس اوکړي. حضرت علي رضی الله عنه هغه ویخ کړو، خو نبي اکرم ﷺ نه یے تپوس اُوکړو چه تاسو خو د خیر کارونو طرفته ډیر کړندی تلونکی یئ، نو تاسو په خپله ولے ویخ نه کړو؟ نبي اکرم ﷺ ورته اُوفرمایل، هسے نه چه اِنکار یے کړے وَے، نو زما د وینا په اِنکار به کافر شوے وُو، او ستا د ویلو په اِنکار باندے نهٔ کافر کیدهٔ. نو دغه شان د الله جل شانهٔ رحمت دا اُونهٔ غوختله، چه د دے بزرګے شپے د معلومیدو نه پس څوک د ګناه کولو زړهٔ ورتیا اُوکړي.

دریم داچه د مقرر تیا په حالت کښ کچرے دچا نه دغه شپه اتفاقاً پاتے شي. نو په راتلونکو شپو کښ به د غم وغیره په وجه بیا د هیڅ یوے شپے رونړول هم ورته نهٔ نصیب کیدل، او اُوس خو د رمضان یو دوه شپے کم نه کم هرچا ته شو کیره نصیب کیږي.

څلورم داچه څومره شپے په طلب کښ تیریږي، د دے ټولو مستقل ثواب ورته جُدا جُدا ورکولے شي.

پنځم داچه د رمضان په عبادت کښ الله جل شانهٔ په ملائکو فخر کوي لکه څنګه چه تیر و شوو روایتونو کښ معلومه شوے ده. په دے حالت کښ د فخر کولو زیاته موقعه ده چه بندګان سره د نامعلومتیا صرف په شک او خیال ټوله شپه رونړوي او عبادت کښ مشغول اُوسي. چه هرکله په اُمید دومره کوشش کوي، نو کچرے ورته خودلے شوے وے چه دا قدر شپه ده، نو چه بیا به د دوي د کوششونو څهٔ حال وَے. د دے نه علاوه نور هم مصلحتونه کیدے شي. هم د داسے کارونو د کبله د الله تعالیٰ دا عادت جاري دے چه د دے قسمه اَهم خیزونه یے پټ ساتلي دي، لکه څنګه چه اِسم اعظم یے پټ ساتلے دے. هم د غسے د جُمعے په ورځ یو خاص وخت چه دُعا قبلیدو دے، پټ یے ساتلے دے، نور هم ډیر خیزونه په دے کښ شامل دي. دا هم ممکنه ده چه د جهګړے په وجه یے دِ دے خاص رَمَضان المبارک کښ مقرر تیا هیره کړے شوې وي. او د دے نه پس د نورو تیرو شوو مصلحتونو په وجه یے د همیشه د پاره

مقرر تیا لرے کړے شوی وی۔
ترجمه: خبره چه په دے حدیث پاک کښې راغلې ده هغه د شب قدر د لټون د پاره دورے شپو ارشاد دے، نهمه، اوومه، پنځمه۔ د نورو روایتونو شاملولو سره دومره خبره خو ثابته شوه چه دا درے واړه شپے د اخري عشرے دی۔ خو ددے نه پس بیا یو خو امیدونه دی، چه اخري عشره کښې کچرے د اول نه شمیر کړے شي، نو حدیث نه مراد یو کم دیرشمه، اوویشتمه، پنځویشتمه شپه کیږي او که چرے د اخر نه شمیر کړے شي، لکه چه د بعضو د الفاظو نه معلومیږي نو بیا دیو کم دیرشو رځومیاشتے په حالت کښې یویشتمه، درویشتمه، پنځویشتمه کیږي۔ او د دیرشو رځومیاشتے په حالت کښې دوه ویشتمه، څلیریشتمه (او) شپږ یشتمه کیږي۔ ددے نه علاوه په مقرر تیا کښې روایتونه ډیر مختلف دی۔ او په دے وجه د عالمانو په مینځ کښې په دے باره کښې ډیرڅه اختلاف دے لکه څنګه چه وړومبے ذکر تیر شوے دے چه پنځوسو ته نزدے د عالمانو اقوال دی۔ د ډیرو روایتونو په بنیاد د محققینو په نزد د اختلاف وجه دا ده، چه دا شپه یو تاریخ پورے خاصه نه ده، بلکه مختلف کلونو کښې په مختلفو شپو کښې راځي چه د هغے دوجه روایتونه مختلف دی چه هر کال نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د هغے کال متعلق په مختلفو شپو کښې د تلاش کولو حکم کړے دے، او په څنې کلونو کښې په مقرر طور هم ارشاد فرمایلے دے، لکه چه د ابو هریره رضی الله عنه په روایت کښې دی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په مجلس کښې یو ځلے د شب قدر ذکر راغے، نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چه نن کوم تاریخ دے؟ عرض اوکړے شو چه دوه ویشتم دے۔ وے فرمایل چه په نن شپه کښې یې تلاش کړئ۔ حضرت ابوذر رضی الله عنه فرمائي چه ما نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو چه شب قدر د نبی د زمانے سره په خاص وی یا روستو به هم وی؟ وے فرمایل چه تر قیامته پورے به وی۔ ما عرض اوکړو چه د رمضان په کومه حصه کښې ده؟ وے فرمایل چه عشرهٔ اول (یعني ړومبئ لسو شپو کښې) یا عشرهٔ اخر (یعني روستنو لسو شپو کښې) تلاش کوئ۔ بیا نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په نورو خبرو کښې مشغول شو۔ ما چه موقعه بیا موندله، عرض م اوکړو چه دا خو اوښایئ چه د عشرے په کومه حصه کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

په وي. نو نبي صلی الله علیه وسلم دومره ناراضه شو چه نهٔ ددے نه وَرانده ے ما نه دومره خفه شوے ولو نهٔ روستو. اَووِے فرمايل کهٔ الله جل شانهٔ ته داخوښه مقصود وے ، نو ولے خودلے به يے تهٔ وه. روستنو اُوؤ شپوکښ يے تلاش کوئ. ددے نه پس نور تپوس مکوئ. يو صحابي رضی الله عنه ته نبي اکرم صلی الله علیه وسلم درويشتمه شپه په مقرر طور اُوخودله. ابن عباس رضی الله عنه فرمائي چه زهٔ اُوده ؤم، ما ته په خوب کښ چا اُووے چه پاسه نن شب قدر دے. زهٔ په تلوار پاسيدم، دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم خدمت کښ حاضر شوم. نو هغوي دمانځه نيت تړلے وو، او دا درويشتمه شپه وه. څۀ روايتونو کښ مقرر طور سره څليريشتمه شپه کيدل هم معلوميږي.

دحضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ارشاد دے چه څوک کالو سر د شپے وېښ وي هغه شبِ قدر بيا مونده ے شي (يعني شبِ قدر په ټول کال کښ گردش کوي) چا اُبَيّ بن کعب رضی الله عنه ته داخبره اُوکړه، نو هغوي اُوفرمايل چه د ابن مسعود رضی الله عنه غرض دادے چه څوک په يوه شپه صبر اُونکړي، بيا يے قسم اُوخوړهٔ ، اَووِے فرمايل چه هغه داُوويشتم رمضان په شپه وي. دغسے ډيرو صحابه و رضی الله عنهم او د تابعينو رحمهم الله رائے ده چه شپه د قدر د اوويشتم رمضان شپه ده. داُبَيّ بن کعب رضی الله عنه تحقيق هم دادے. خو دابن مسعود رضی الله عنه تحقيق دغه دے ، چه کالو سر د شپے څوک وېښ پاتے شي هغه يے معلوموَلے شي. او د دُرِّمنثور يو روايت نه معلوميږي چه هغه دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم نه هم دا نقل کوي. په اِماما نو کښ د حضرت ابوحنيفه رحمه الله مشهور قول هم دادے چه شپه د قدر په ټول کال کښ گردش کوي. دويم قول د امام اعظم رحمه الله دادے چه داپه ټول رمضان کښ گردش کوي. د صاحبينو رحمهما الله قول دادے چه په ټول رمضان کښ يوه شپه ده چه هغه مقرره ده، خو معلومه نهٔ ده. د امام شافعي رحمه الله د مذهب راجح قول دادے چه په يويشتمه شپه کښ ليدل يے زيات لږے دي. د امام مالک او امام احمد بن حنبل رحمهما الله قول دادے چه د رمضان د آخري عشرے په طاقو (يعني ناتکو) شپو کښ گردش کوي، يو کال کښ په يوه شپه کښ او بل کال کښ په بله شپه کښ وي. د جمهورو عالمانو رائے داده چه د ډېر اُميد يے په اُوويشتمه شپه کښ دے. شيخ العارفين محي الدين ابن عربي رحمه الله

وائی چه زما په نزد دهغې خلقو وینا زیاته صحیح ده چه څوك داوائی چه دا هم کال کښې گردش کوی، ځکه چه مادوه وارے په شعبان کښې لیدلے ده. یووارے په پنځلسمه یووارے په نولسمه، اودوه وارے د رمضان په مینځنۍ عشره کښې دیارلسمه او اتلسمه شپه کښې، اودرمضان په آخري عشره کښې هره طاقه شپه کښې م هم لیدلے ده. نوځکه زما دایقین دے چه دکال په شپو کښې گرزی راگرزی خو د رمضان المبارك په میاشت کښې اکثرموندلے کیږی. زمونږ حضرت شاه ولی الله رحمة الله علیه ارشاد فرمائی چه شب قدر په کال کښې دوه وارے وی: یوه هغه شپه ده چه په هغې کښې د الله تعالی حکمونه نازلیږی. او په هغې شپه کښې قرآن شریف د لوحِ محفوظ نه دُنیا آسمان ته نازل شوے دے. دا شپه رمضان سره خاصه نه ده، په ټول کال کښې گردش کوی، خو په کوم کال کښې چه قرآن پاك نازل شو، په دغه کال رمضان المبارك کښې وه، او اکثر په رمضان المبارك کښې وی. او دویم شب قدر هغه دے چه په هغې کښې د رُوحانیت یو خاص خوریدل وی، او ملائکې ډیرے ډیرے په زمکه راکوزیږی او شیطانان لرے اوسی. دُعاگانے او عبادتونه قبلیږی. دا په هر رمضان کښې وی، او د آخري عشرے په طاقو شپو کښې وی او بدلیږی رابدلیږی. زما والد صاحب دا قول غوره گنړلو. په هر حالت کښې شب قدر یووی اوکه دوه، هرچاله دخپل همت او طاقت موافق په ټول کال کښې ددے په لټون کښې کوشش پکار دے. که دا نه شی کولے، نو په ټول رمضان کښې یے لټول پکاردی. که دا هم مشکل وی، نو آخري عشره غنیمت گنړل پکاردی. که دومره هم نشی کیدے، نود آخري عشرے طاق شپے د لاسه نه اوباسی. الله تعالی دِنکړی، که دا هم نشی کیدے، نو اُوویشتمه شپه خو په هرحال کښې لوئ غنیمت گنړل پکاردی، که چرے دالله پاك تائید شامل حال شی، او چا خوش نصیبه دا شپه بیاموندله، نو بیا د ټول دُنیا نعمتونه او راحتونه ددے په مقابله کښې هیڅ هم نه دی. که بیا یے نه موندله بیا هم د ثواب نه خالی نه ده. خصوصاً د ماښام د ماسخوتن مونځ جُمع سره په جُمات کښې دادا کولو اهتمام خو هرچا له ټول کال ډیر زیات ضروری گڼل پکار دی. که خوش قسمتیٔ سره په شب قدر کښې دا دوه مونځونه د جمع سره اوکړے

Maktaba Tul Ishaat.com

شو، نو خومره ډیر د جمع دمو نحونو ثواب به بیا موی۔ د الله تعالیٰ خومره لوئ انعام دے کۀ په یو دینی کار کښې کوشش اُوکړے شی، نو د نا کامیابئ په حالت کښې هم د دے کوشش ثواب ورته ضرور ورکیږی۔ خو سره د دے خومره دهمت خاوندان دی چه دین پسے لګیا لے دی، او د دین د پاره مری او کوشش نه کوی، او د دے په مقابله کښې د دنیوی غرضونو د پاره کوشش نه پس کۀ نتیجه یے راؤنه زی، نو هغه کوشش یے بے کاره او ضائع شو، وَلے سره د دے بیا هم خومره خلق دی چه د دنیوی اغراضو، فضول او بے کاره کارونو حاصلولو د پاره ځان او مال د واړه برباد وی۔ ؎ ببین تفاوت ره از کجا است تا به کجا،

"اوګوره! د لارے فرق د کوم ځائ نه کوم ځائ پورے دے۔"

⑨ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضی اللہ عنہ اَنَّهٗ سَاَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم عَنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ فَقَالَ فِيْ رَمَضَانَ فِي الْعَشْرِ الْاَوَاخِرِ فَاِنَّهَا فِيْ لَيْلَةِ وِتْرٍ فِيْ اِحْدٰى وَعِشْرِيْنَ اَوْ ثَلٰثٍ وَعِشْرِيْنَ اَوْ خَمْسٍ وَعِشْرِيْنَ اَوْ سَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ اَوْ تِسْعٍ وَعِشْرِيْنَ اَوْ اٰخِرِ لَيْلَةٍ مِّنْ رَمَضَانَ مَنْ قَامَهَا اِيْمَانًا وَّاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ وَمِنْ اَمَارَاتِهَا اَنَّهَا لَيْلَةٌ بَلْجَةٌ صَافِيَةٌ سَاكِنَةٌ سَاجِيَةٌ لَا حَارَّةٌ وَّلَا بَارِدَةٌ كَاَنَّ فِيْهَا قَمَرًا سَاطِعًا وَّلَا يَحِلُّ لِنَجْمٍ اَنْ يُّرْمٰى بِهٖ تِلْكَ اللَّيْلَةَ حَتّٰى الصَّبَاحِ وَمِنْ اَمَارَاتِهَا اَنَّ الشَّمْسَ تَطْلُعُ صَبِيْحَتَهَا لَا

حضرت عُبادة رضی اللہ عنہ د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم نه د شب قدر په باره کښې پوښتنه اُوکړه نو نبی صلی اللہ علیہ وسلم اوفرمایل چه د رمضان د آخری عشرے په تاکئ شپو کښې ده، یویشتمه، درویشتمه، پنځویشتمه، اوویشتمه، یو کم دیرشمه۔ یا د رمضان په آخری شپه کښې ده۔ څوک چه د ایمان سره او د ثواب په نیت په دے شپه کښې عبادت اُوکړی، د هغهٔ روستی ټول ګناهونه معاف کړے شی۔ د دے شپے د هغے نورو نښونه یو دا دهٔ چه دغه شپه به روښانه او فراخه وی، صفا ستهره۔ نه ډیره ګرمه، نه ډیره یخه، بلکه میانه حالے ګویا چه په هغے کښې (د انوارو د ډیروالی په وجه لکه چه) سپوږمئ صفا راختلے ده، او په دغے شپه کښې تر سحره پورے د آسمان په ستورو شیطانان نهٔ ویشتلے کیږی، او د دغے د نښو نه دا هم دهٔ چه د دے نه پس په د سحر نمر

شُعَاعَ لَهَا مُسْتَوِيَةٌ كَأَنَّهَا الْقَمَرُ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَحَرَّمَ اللّٰهُ عَلَى الشَّيْطَانِ أَنْ يَخْرُجَ مَعَهَا يَوْمَئِذٍ۔ (در منثور عن احمد و البیهقی ومحمد بن نصر وغیرهم)

بغیر پلوشو راخیژی، داسې بالکل هوارد ګکورې په شان به وی لکه څنګه چه د څوارلسې شپې سپوږمۍ وی. الله جل شانهٔ دغې ورځې نمر ختلو په وخت کښ شیطان دهغهٔ سره دراوتلو نه منع کړهٔ (په خلاف دنورو ورځو چه دنمر راختو په وخت کښ شیطان هغه ځائ ظاهریږی۔

فائده: ددې حدیث خواولنی مضمون تیر وشو، روایتونو کښ ذکر شوې دے، په اخر کښ یې دشب قدر یو څو نښې ذکر کړی دی چه دهغې مطلب صفا دځه وضاحت محتاج نهٔ دے. دے نه علاوه نورې هم بعضې نښې روایتونو کښ اودهغې خلقو په کلام کښ ذکر کړے شوې دی، چا ته چه ددې شپې دولت نصیب شوے دے، خصوصًا ددے نه پس چه دسحر نمر راخیژی، نو بغیر د پلوشو نه راخیژی. دا نښه دحدیثونو په ډیرو روایتونو کښ راغلے دهٔ، او همیشه موندے شی، ددے نه علاوه نورې نښې لازمی او ضروری نهٔ دی. عَبدَه بن ابی لُبابه رضی الله عنه فرمائی چه ما درمضان المبارک په اوویشتمه شپه دسمندر اوبهٔ اوڅکلې، نو بالکل خوږې وې. اَیوب بن خالد رحمه الله فرمائی چه ما ته دلمبلو ضرورت پیښ شو، مادسمندر په اوبو غسل اوکړهٔ، نو بالکل خوږې وې او دا درویشتې شپې قصه دهٔ. عالمانو لیکلی دی چه په شب قدر کښ هر یو څیز سجدهٔ کوی، تردے چه وُنې په زمکه راپریوزی، او بیا په خپل ځائ اودریږی خو ددے څیزونو تعلق کشف سره دے، هرچا ته نهٔ محسوسیږی۔

(۷) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَأَيْتَ إِنْ عَلِمْتُ أَيَّ لَيْلَةٍ لَيْلَةُ الْقَدْرِ مَا أَقُوْلُ فِيْهَا قَالَ قُوْلِيْ اَللّٰهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ۔

حضرت عائشه رضی الله عنها دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړهٔ، چه اے دالله رسوله صلی الله علیه وسلم کهٔ ما ته دشب قدر پته اولګی، نو څهٔ دُعا اوغواړم؟ نبی صلی الله علیه وسلم ورته د اَللّٰهُمَّ نه تر اخره پورې دُعا اوخودله، چه دهغې ترجمه دا دهٔ، اے الله! ته بے شکه معاف کوُنکے

Maktaba Tul Ishaat.com

(رواه احمد وابن ماجة والترمذی وصححه، کذا فی المشکوٰة) | یې، او معاف کول خوښوي، پس ما ته هم معافي اُوکړې.

فائده: ډېره جامع دُعا ده، الله جل شانهٔ په خپل لطف وکرم د آخرت د مطالبې نه معافي اُوکړي، نو دې نه زیات نور څهٔ پکار دي ؎

من نه گویم که طاعتم به پذیر ٭ قلم عفو بر گناهم کش

زهٔ دا نهٔ وایم چه طاعت م قبول کړه (بلکه) قلم د عفو په گناه م را کاږه، یعني بخښنه را ته اُوکړه.

حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه فرمائي چه په دغې شپه کښې د نورو عبادتونو په نسبت په دُعا کښې مشغولیدل زیات بهتر دي.

ابنِ رجب رحمة الله علیه فرمائي چه صرف دُعا نهٔ غواړي بلکه مختلف عبادتونه جمع کول پېر غوره دي. مثلاً تلاوت، مونځ، دُعا او مُراقبه وغیره. ځکه چه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم نه دا ټول کارونه ثابت دي. هم دا قول زیات نزدې دې چه په تیرو شوو حدیثونو کښې د مونځ، ذکر وغیره څیزونو فضیلت تیر شوې دې.

دریم فصل

د اعتکاف په بیان کښې

په جُمات کښې د اعتکاف په نیت اِیسارېدو ته اِعتکاف وائي. د حنفیانو په نزد درې قسمه دي. یو واجب دې چه د نذر یعني منّخ د وجه وي لکه چه داسې اُووائي که چرې فلانکې کار م اُوشو، نو دومره ورځې اِعتکاف به اُوکړم یا په څهٔ کار د شرط لګولو نه بغیر داسې اُووائي چه ما دومره ورځې اعتکاف په ځان لازم کړو. دا (اعتکاف) واجب شي. او د څومره ورځو نیت یې چه کړې وي د هغې پوره کول ضروري دي. دویم قِسم سنت دې چه د روژې د میاشتې د آخري لسو ورځو دې، چه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم عادتِ مبارکه په دې ورځو کښې د اِعتکاف کولو وُو. دریم اعتکاف نفل دې چه د هغې دپاره نهٔ څهٔ وخت شته، او نهٔ د ورځو مقدار. څومره ورځې یې چه زړهٔ غواړي اُو دې کړي. تر دې چه کهٔ

خوځ تول عمر د اعتکاف نیت اُوکړی ، بیا هم جائز دے ، البته په کمی کښې یے اختلاف دے ۔ د امام اعظم رحمۃ اللہ په نزد دیوے ورځے نه کم جائز نه دے ۔ خود امام محمد رحمۃ اللہ په نزد دلږ ساعت هم جائز دے او په دے فتویٰ ده ۔ په دے وجه هرچا د پاره مُناسبه ده چه کله جُمات ته داخلیږی د اعتکاف نیت دِکوی ، چه ترڅو پورے په مانځه کښې مشغول وی ، د اعتکاف ثواب به ورته هم مِلاویږی ماځپل والد صاحب رحمۃ اللہ لیدلے دُوچه هغهٔ به همیشه ددے اهتمام کولو ۔ چه کله به جُمات ته داخلیدهٔ ، نو د ښیٔ ښپے د ننه کولو سره به یے د اعتکاف نیت کولو ۔ ډیر ځله به یے دخادمانو د تعلیم په غرض په زوره نیت کولو ۔ د اعتکاف ډیر زیات ثواب دے ، او ددے فضیلت به ددے نه زیات نور څهٔ وی چه نبی اکرم ﷺ به همیشه ددے اهتمام کولو ۔ د اعتکاف کونکی مثال د هغه چا په شان دے چه څوک دچا په دَرکښې پریوزی ، چه ترڅو پورے مِ درخواست نهٔ وی قبول شوے ، دخوزیدو نهٔ یم ۔ ؎

نکل جائے دم تیرے قدموں کے نیچے ؛ یہی دل کی حسرت یہی آرزو ہے

ساهٔ مِ ستا د قدمونو لاندے اُوزی ؛ داد زړهٔ مِ دے ارمان دا مِ ارزو دهٔ ،

کهٔ په حقیقت کښې داحال وی نو د سخت نه سخت زړهٔ خاوند به هم نرم شی او د اللہ جل شانهٔ کریم ذات خو د بخشش د پاره بهانے لټوی ، بلکه بے بهانو یے ورکوی ۔ ؎

توہ داتا ہے کہ دینے کے لیے ؛ در تری رحمت کے ہیں ہر دم کھلے

تهٔ دور کړے هغه ذات یے چه د پاره ستا دورکړے ؛ د رونه د رحمت دِ پرانستلی هر یو دم

خدا کی دین کا موسیٰ سے پوچھیے احوال ؛ کہ آگ لینے جائیں پیمبری مل جائے

د اللہ دور کړے د موسیٰ اُوپوښتهٔ احوال ؛ تلے او رلپسے وُو پیغمبری ورته ملاؤ شوه

په دے وجه څوک چه دُنیا پریږدی ، د اللہ جل شانهٔ په دروازه کښې پریوزی نو بیا هغهٔ ته په ورکولو کښې څهٔ وخت لګی ۔ او اللہ جل شانهٔ چه په چا باندے انعام اُوکړی ، دهغهٔ دګو خزانو بیان څوک کولے شی ۔ دِ دے نه پس د وینا نه عاجز یم ، ځکه چه نا مرد د بلوغ کیفیت څهٔ بیانولے شی خو البته چه د اکلکه اراده اُوکړی

جس گل کو دل دیا ہے جس پھول پر فدا ہوں ؛ یا وہ بغل میں آئے یا جان قفس سے چھوٹے

Maktaba Tul Ishaat.com

"کوم کل ته م زړهٔ ورکړو، کوم کل بانده فدا یم
یا هغه م خواته راشی یا م روح ذتن جدا شی،"

ابن قیم رحمه الله فرمائی چه د اعتکاف مقصد او د هغې روح زړهٔ د الله تعالیٰ پاک ذات سره تړل دی چه د ټولو طرفونو نه لرې صرف الله تعالیٰ سره پیوست شی او د ټولو مشغولتیا گانو په بدله کښې هغه پاک ذات سره مشغول شی، او د هغهٔ نه ماسوا تعلق قطع کړی۔ او دا سې پکښې اُولگی چه د ټولو خیالونو فکرونو په ځائ د هغهٔ پاک ذکر او د هغهٔ محبت پکښې کښینی، تردې چه مخلوق سره د مینې په بدله کښې الله تعالیٰ سره مینه پیدا شی، چه دا مینه یې د قبر په وحشت (یعنی ویره) کښې بکار راشی، چه په دغه ورځ به د الله تعالیٰ د پاک ذات نه سِوا نهٔ څوک مینه کوُنکے ملگرے او نهٔ د زړهٔ خوشالوُنکے وی۔ که زړهٔ د الله تعالیٰ سره بَلَد شوے وی، نو څومره به په خوند وخت تیریږی۔ ے

جی ڈھونڈتا ہے پھر وہی فرصت کے رات دن ÷ بیٹھا رہوں تصورِ جاناں کئے ہوئے

زړهٔ م لټوی هغه شپې ورځے د فرصت ÷ تصوّر د خپل جانان چه پکښې ناست یه کړمه

د مَرَاقِي الْفَلَاح مصنف رحمه الله فرمائی چه اعتکاف کچرے په اِخلاص وی نو دا د بهترینو عملونو نه دے، ددے خصوصیات د شمیر د حد نه بهر دی حُکم چه په دے کښې زړهٔ د دُنیا اَوخهٔ چه په دُنیا کښې دی، د هغې نه یو طرف ته کول دی او نفس الله پاک ته سپارل دی، او د هغهٔ په دَرشل بانده پریوتل دی۔ ے

پھر جی میں ہے کہ در پہ کسی کے پڑا رہوں ÷ سر زیرِ بارِ منت دربان کئے ہوئے

زړهٔ م غواړی چه د چا په درکښې پروت وی ÷ سَرم لاندے په منت د دربانې وے

دغه شان په اعتکاف کښې هر وخت په عبادت کښې مشغولتیا ده چه د بنده خوب، رِ بَخه هر وخت عبادت کښې شماریږی او الله تعالیٰ ته نزدیکت دے۔ حدیث (قُدسی) کښې راغلی دی (الله تعالیٰ فرمائی) چه څوک ما طرفته یو لیُشت را نزدے کیږی، زهٔ ورته یو لاس ورنزدے کیږم، او چه څوک ما طرف ته یو لاس را نزدے کیږی، زهٔ ورته دوه لاسه ورنزدے کیږم۔ او چه څوک ما طرفته (روهم) راروان شی، زهٔ هغهٔ طرفته په منډه وَرځم (یعنی زما رحمت وَرځی) دغه شان په دے (اعتکاف) کښې د الله تعالیٰ په کور کښې دیره کیدل

دی، او سخی کور به همیشه کور ته دراتلونکی کس قدراوعزت کوی۔ او دغه شان مُعتَکِف دالله تعالیٰ په قلعه کښ محفوظ وی چه دُشمن رسیدل هلته پورې نشي کیدې۔ وغیره وغیره ډیر زیات فضیلتونه اوخاصیتونه د دې اهم عبادت دي۔

مسئله: دسړی داعتکاف دپاره دټولونه غوره ځائ دمکې مکرمې جُمات دے، بیا دمدینې منورې جُمات، بیا دبیت المقدس جُمات دے۔ ددے نه پس جامع مسجد، بیا خپل جُمات دے۔ د امام اعظم رحمه الله په نزد داهم شرط دے چه په کوم جُمات کښ اعتکاف کوی، په هغې کښ دِ پنځه وخته دجمع مونځ کیږی، او دصاحبینو (یعنی امام ابی یوسف او امام محمد) رحمهما الله په نزد شرعی جُمات کیدل کافی دی، اګرچه پکښ دجمع مونځ نه کیږی۔ او زنانه دِ له خپل کور دمانځه په ځائ کښ اعتکاف کول پکاردی۔ کچرې په کورکښ دمانځه دپاره څه مقررځائ (یعنی ډُنکاچه یا تخته پوش) نه وی، نو یوکوټ دِ دځان له خاص کړی۔ زنانه ودپاره اعتکاف د نارینوپه نسبت زیات اسان دے، چه په کور کښ په ناسته ناسته دکورکارونه دِ هم دجینکو وغیره نه آخلی او دمفتوئوا دِ هم کېږی، خوسره ددے زنانه ددے سنتونه ګویا بالکل محرومې اوسی۔

(۱) **عن** اَبِیْ سَعِیْدِ نِ الْخُدْرِیِّ رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم اِعْتَکَفَ الْعَشْرَ الْاَوَّلَ مِنْ رَمَضَانَ ثُمَّ اعْتَکَفَ الْعَشْرَ الْاَوْسَطَ فِیْ قُبَّةٍ تُرْکِیَّةٍ ثُمَّ اَطْلَعَ رَاْسَهٗ فَقَالَ اِنِّیْ اعْتَکَفْتُ الْعَشْرَ الْاَوَّلَ اَلْتَمِسُ هٰذِهِ اللَّیْلَةَ ثُمَّ اعْتَکَفْتُ الْعَشْرَ الْاَوْسَطَ ثُمَّ اُتِیْتُ فَقِیْلَ لِیْ اِنَّهَا فِی الْعَشْرِ الْاَوَاخِرِ فَمَنْ کَانَ اعْتَکَفَ مَعِیَ فَلْیَعْتَکِفِ الْعَشْرَ الْاَوَاخِرَ فَقَدْ اُرِیْتُ هٰذِهِ

حضرت ابوسعید خُدری رضی الله عنه وائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د رمضان المبارک په اولنئ عشره کښ (ړومبو لسو ورځو کښ) اعتکاف اُوکړو۔ بیا یې په دویمه عشره کښ هم۔ بیا یې دترکی خیمې نه کومه کښ چه یې اعتکاف کولو، سر باهر راُوخکلو، ارشاد یې اُوفرمایلو چه ما داولنئ عشرې اِعتکاف دشبِ قدر دتلاش او اهتمام دکبله کړے وُو، بیا مِ هم دهغې وجه په دویمه عشره کښ اُوکړو، بیا ماته یو خودونکی (یعنی فرشتې) اُوخودله چه هغه شپه اخری عشره کښ ده۔ ددے دکبله کوم خلق چه ماسره اِعتکاف کوی

Maktaba-Tul Ishaat.com

اللَّيْلَةَ ثُمَّ اُنْسِيتُهَا وَقَدْ رَاَيْتُنِيْ اَسْجُدُ فِيْ مَاءٍ وَّطِيْنٍ مِّنْ صَبِيْحَتِهَا فَالْتَمِسُوْهَا فِي الْعَشْرِ الْاَوَاخِرِ وَالْتَمِسُوْا فِيْ كُلِّ وِتْرٍ قَالَ فَمَطَرَتِ السَّمَاءُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ وَكَانَ الْمَسْجِدُ عَلٰى عَرِيْشٍ فَوَكَفَ الْمَسْجِدُ فَبَصُرَتْ عَيْنَايَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ عَلٰى جَبْهَتِهٖ اَثَرُ الْمَاءِ وَالطِّيْنِ مِنْ صَبِيْحَةِ اِحْدٰى وَعِشْرِيْنَ

هغوی د دا اخری عشرے اعتکاف هم اوکړی ماته دا شپه خودلے شوے وه، بیا راته هیره کړے شوه (دهغې نښه داده) چه ماځپل ځان دغے شپے نه پس سحر په ختو کښ سجده کولو نکے اولیدهٔ، نوځکه یے اوس تاسو داخری عشرے په طاقو (ناټکی) شپو کښ لټوئ۔ راوی وائی چه په دغه شپه باران اوشو، او جمات دخپرو وو، هغه اوسیدهٔ، ما په خپلو سترګو د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم تندی مبارک باندې دختو اثر دیکو نشتے شپے په سحر اولیدهٔ۔

(مشکوٰۃ عن المتفق علیه باختلاف اللفظ)

فائده: د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم عادتِ مبارکه همیشه د اعتکاف کولو وو، خو په دے میاشت کښ یے ټوله میاشت اعتکاف اوکړو، او په کوم کال چه د دُنیا نه یے تشریف اوړلو، په هغه کال یے شل ورځے اعتکاف کړے وو۔ خو اکثر عادتِ شریفه یے په اخری عشره کښ د اعتکاف پاتے شوے دے۔ نو ځکه د عالمانو په نزد سنتِ مؤکده هم دادے۔ پورتنی حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د اعتکاف لوئ غرض د شبِ قدر تلاش دے، او په حقیقت کښ اعتکاف دے د پاره زیات مناسب دے، که د اعتکاف په حالت کښ سړے اوده هم وی بیا هم په عبادت کښ شماریږی، بله دا چه په اعتکاف کښ تلل راتلل او دنیوی کارونه هم څهٔ نهٔ وی، نو د عبادت او د الله تعالیٰ د یاد نه علاوه به بله مشغله هم نهٔ پاتے کیږی، نو ځکه د شبِ قدر د قدر کونکو د پاره د اعتکاف نه بهتر بل څهٔ شکل نشته۔ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اول خو په ټول رمضان کښ د عبادت ډیر زیات اهتمام او کثرت کولو، خو په اخری عشره کښ به یے څهٔ حد نهٔ وو۔ بېګاه په ټوله شپه ویخ وو، او د کور د خلقو د ویخولو به یے هم اهتمام کولو۔ لکه څنګه چه د صحیحینو د ګڼرو روایتونو نه معلومیږی۔ د بخاری او مسلم په یو روایت کښ حضرت عائشه رضی اللہ عنها فرمائی چه اخری عشره کښ به نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم مضبوط

اُوتَرۀ او شپے په بیے رُونړُ ولے، او دخپل کور خلق په بیے هم ویخول. دلته مضبوط
تړلو نه مُراد په عبادت کښ زیات کوشش کول هم کیدے شی او بیبیانو نه
بالکل ځان ساتل هم مراد کیدے شی۔

② عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی اللہ عنہما أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَ فِي الْمُعْتَكِفِ هُوَ يَعْتَكِفُ الذُّنُوبَ وَيُجْرٰى لَهٗ مِنَ الْحَسَنٰتِ كَعَامِلِ الْحَسَنٰتِ كُلِّهَا (مشکوۃ عن ابن ماجہ)

حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہما وائی چه نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم د مُعتکِف (یعنی اعتکاف کوُنکی) باره کښ اِرشاد اُوفرمایهٔ، چه هغه د ګناهونو نه محفوظ اُوسی، او د هغهٔ دپاره نیکیٔ دومره لیکلے شی لکه څومره چه د کوُنکی دپاره (لیکلے شی)

فائده: د اِعتکاف دوه خاص فائدے په دے حدیث کښ بیان شوی دی. یوه داچه د اعتکاف په وجه د ګناهونو نه حفاظت کیږی. ګنی ډیر ځلے د کوتاهئ او غلطئ په وجه داسے اسباب پیدا شی چه په هغے کښ بنده په ګناه کښ ځان اَخته شی، او داسے مبارک وخت کښ د ګناه کیدل څومره لوئ ظلم دے، د اعتکاف په وجه د هغے نه آمن او حفاظت کیږی. دویم داچه ډیر نیک عملونه لکه په جنازه کښ شریکیدل، د مریض پوښتنه کول وغیره داسے کارونه دی چه په اعتکاف کښ د کښیناستلو په وجه مُعتکف نهٔ شی کولے. دے دپاره د اعتکاف په وجه چه د کومو عبادتونو نه پاتے شو، د هغے ثواب به ورته بغیر د کولو ورکولے شی، اَللّٰهُ اَکْبَرُ. څومره د الله جل جلالُه رحمت او سخاوت دے چه یو عبادت بنده کوی، او د لسو عبادتونو ثواب ورته ورکیږی، په حقیقت کښ د الله پاک رحمت بهانے لټوی او په لږ شان توجه اوغوښتنے په شیبو ورکیږی۔

"به بہانہ می دہد، نے بہا نمی دہد" "په بهانه ورکوی، او په قیمت نهٔ ورکوی۔" خومونږ خلقو سره د سره د دے قدر نشته، ضرورت یے نهٔ ګنړو، توجه څوک اُوکړی، او ولے اوکړی چه د دین قدر زمونږ په زړونو کښ نشته۔ ؎

اس کے الطاف تو ہیں عام شہیدی سب پر، تجھ سے کیا ضد تھی اگر تو کسی قابل ہوتا

دهغهٔ مهربانئ شهیدی عامے دی په ټولو
تا سره یے څهٔ ضد ؤ خو که ته د څهٔ قابل وے

Maktaba Tul Ishaat.com

(۴) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی اللہ عنہ اَنَّهٗ كَانَ مُعْتَكِفًا فِيْ مَسْجِدِ رَسُوْلِ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم فَاَتَاهُ رَجُلٌ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ ثُمَّ جَلَسَ فَقَالَ لَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ رضی اللہ عنہ يَا فُلَانُ اَرَاكَ مُكْتَئِبًا حَزِيْنًا قَالَ نَعَمْ يَا ابْنَ عَمِّ رَسُوْلِ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم لِفُلَانٍ عَلَيَّ حَقٌّ وَلَاءٌ وَحُرْمَةُ صَاحِبِ هٰذَا الْقَبْرِ مَا اَقْدِرُ عَلَيْهِ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضی اللہ عنہ اَفَلَا اُكَلِّمُهُ فِيْكَ قَالَ اِنْ اَحْبَبْتَ قَالَ فَانْتَعَلَ ابْنُ عَبَّاسٍ ثُمَّ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ قَالَ لَهُ الرَّجُلُ اَنَسِيْتَ مَا كُنْتَ فِيْهِ قَالَ لَا وَلٰكِنِّيْ سَمِعْتُ صَاحِبَ هٰذَا الْقَبْرِ صلی اللہ علیہ وسلم وَالْعَهْدُ بِهٖ قَرِيْبٌ فَدَمَعَتْ عَيْنَاهُ وَهُوَ يَقُوْلُ مَنْ مَشٰى فِيْ حَاجَةِ اَخِيْهِ وَبَلَغَ فِيْهَا كَانَ خَيْرًا لَهٗ مِنِ اعْتِكَافِ عَشْرِ سِنِيْنَ وَمَنِ اعْتَكَفَ يَوْمًا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ جَعَلَ اللهُ بَيْنَهٗ وَبَيْنَ النَّارِ ثَلٰثَ خَنَادِقَ اَبْعَدَ مِمَّا بَيْنَ الْخَافِقَيْنِ

(رواہ الطبرانی فی الاوسط والبیہقی واللفظ لہ والحاکم مختصرًا وقال صحیح الاسناد کذا فی الترغیب وقال السیوطی فی الدر صححہ الحاکم وضعفہ البیہقی)

حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ یو ځلې مسجد نبوی کښې مُعتکِف وو، یو سړے ورله راغے، سلام یې واچو (او چُپ چاپ) کښیناستو۔ حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ ورته اُوفرمایل (اے فلانکیه!) چه زه تا غمژن او پریشانه وینم، څۀ خبره ده؟ هغۀ اُووے، اے د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د تره ځویه! بے شکه پریشانه یم چه د فلانکی په ما باندې حق دے او (د نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم قبر مبارک طرف ته یې اِشاره اوکړه اَو وے ویل چه) د دے قبر د خاوند په عزت م دِ قسَم وی چه زۀ د دۀ حق اَدا کولو وَس نۀ لرم۔ حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ اُوفرمایل چه آیا زۀ هغۀ ته ستا سفارش اُوکړم؟ هغۀ عرض اُوکړو، څنګه چه تاسو مناسب ګنړئ۔ ابن عباس رضی اللہ عنہ چه دا خبره واؤریده، نو پیزارې یې په خپو کړې، د جُمات نه بهر ته لاړو، هغۀ سړی عرض اُوکړۀ چه تاسو خپل اِعتکاف هیر کړو۔ وے فرمایل هیر کړے م نۀ دے، بلکه ما د دے قبر د خاوند (صلی اللہ علیہ وسلم) آوریدلی دی، او لا څۀ زیاته زمانه نۀ ده تیره شوے (د دے لفظ په ویلو سره) د ابن عباس رضی اللہ عنہ د سترګو نه اُوښکے روانے شوے، چه نبی صلی اللہ علیہ وسلم فرمایل چه څوک د خپل رور په حاجت کښې اُوزی، اُوګرزی او کوشش کوی، دا د هغۀ د پاره د لسو کالو د اعتکاف نه ډیر بهتر دے، او څوک چه یوه ورځ د الله تعالیٰ د رضا د پاره اِعتکاف اُوکړی، نو الله تعالیٰ د

هغهٔ او دوزخ ترمینځه درے خندقونه حائل کړی چه دهغے فاصله به د اسمان او د مځکے ترمینځه فاصلے نه زیاته پلنه وی، (او چه دیوے ورځے داعتکاف دا فضیلت دے، نو دلسو کالو د اعتکاف به څومره څهٔ مقدار وی۔)

فائده : د دے حدیث نه دوه مضمونونه معلوم شول۔

اول دا چه دیوے ورځے داعتکاف ثواب دا دے چه الله جل شانهٔ دهغهٔ او د دوزخ ترمینځه درے خندقونه جوړ کړی، او هر یو خندق به دومره لوئ وی څومره چه تول جهان. او دیوے ورځے نه زیات څومره چه د زیاتو ورځو اعتکاف وی هغومره به ثواب زیات وی. علامه شعرانی رحمه الله به کشف الغمه کښ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل کړے دے چه څوک د رمضان د اخری عشرے اعتکاف اوکړی، دهغهٔ ثواب د دوه حجونو او د دوه عمرو دے، او چه څوک په داسے جمات کښ چه د امامت مونځ پکښ کیږی، د ماښام نه تر ماسخوتنه پورے اعتکاف اوکړی، چه د مونځ او د قرآن د تلاوت نه علاوه چا سره خبرے نکوی الله جل شانهٔ به هغهٔ دپاره په جنت کښ یوه ماڼۍ جوړه کړی۔

دویمه خبره چه هغه درے نه هم زیاته اهمه ده هغه د مسلمانانو حاجتو نه پوره کول دی، چه دلسو کالو د اعتکاف نه یے بهتر ارشاد فرمایلے دے۔ د دے وجے ابن عباس رضی الله عنه دخپل اعتکاف پرواه اُونهٔ ساتله، چه د دے پوره وا بیا هم کیدے شی او قضا یے ممکنه ده۔ د دے کبله دصوفیانو وینا ده چه د الله جل شانهٔ په نزد چه د مات شوی زړهٔ څومره قدر دے، هغومره د بل څیز نشته۔ هم دا وجه ده چه د مظلوم د خیرونه په حدیثونو کښ ډیر ویرول شوی دی۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به چه څوک حاکم جوړ کړو، او لیږهٔ به یے، نو د نورو نصیحتونو سره به یے ورته دا هم فرمایل، وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ، چه د مظلوم د خیرے نه ځان ساتئه۔ ے

بترس از آه مظلومان که هنگام دعا کردن

اجابت از در حق بهر استقبال می آید

د اه د مظلومانو نه بریږه چه خیرے کړی

قبلیدل یے د الله نه استقبال سره راځی ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دے ځائے کښې دیوے مسئلے خیال ساتل ضروری دی چه دچا مسلمان د حاجت پوره کولو د پاره هم جمات نه په وتلو اِعتکاف ماتیږی، او که چرے اعتکاف واجب وی، نو د هغے قضا واجب ده. نبی اکرم ﷺ به دضرورتِ بشری نه علاوه دبل څه ضرورت د پاره دجُمات نه نهٔ وتلو. دحضرت ابن عباس رضی الله عنه دا ایثار چه دبل په وجه یے خپل اِعتکاف مات کړو، دا هم ددا سے خلقو د پاره مناسب دے چه دنورو په خاطر په خپله دتندے د لاسه اُوترقیږی مرشی، خود اُوبو اخری قطره یے څکه اُونهٔ څکله، چه بل زخمی ورسره پروت دے، هغه زمانه اُوراندے دے. دا هُم ممکنه ده، چه دحضرت ابن عباس رضی الله عنه دا اعتکاف نفلی وُو. په دا سے حالت کښې خو بیا هیڅ اشکال نشته.

په خاتمه کښې یو اُوږد حدیث چه په هغے کښې قسما قسم فضائل سے یے ارشاد فرمایلی دی، ذکر کولو نه پس دا رساله ختمولے شی.

خَاتِمَه

(٣) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنه أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ إِنَّ الْجَنَّةَ لَتُبَخَّرُ وَ تُزَيَّنُ مِنَ الْحَوْلِ إِلَى الْحَوْلِ لِدُخُوْلِ شَهْرِ رَمَضَانَ فَإِذَا كَانَتْ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِّنْ شَهْرِ رَمَضَانَ هَبَّتْ رِيْحٌ مِّنْ تَحْتِ الْعَرْشِ يُقَالُ لَهَا الْمُثِيْرَةُ فَتَصْفِقُ وَرَقَ أَشْجَارِ الْجِنَانِ وَحَلَقَ الْمَصَارِيْعِ فَيُسْمَعُ لِذٰلِكَ طَنِيْنٌ لَمْ يَسْمَعِ السَّامِعُوْنَ أَحْسَنَ مِنْهُ فَتَبْرُزُ الْحُوْرُ

دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه هغوی دنبی اکرم ﷺ نه دا ارشاد په فرمایلو واورید ه چه جنت ته درمضان شریف د پاره دخوشبویو لوګے ورکولے شی. دکال د شروع نه دکال اخره پورے درمضان په خاطر ښائسته کولے شی. پس هرکله چه د رَمَضَانَ المبارک اَوَله شپه وی، نو دعرش دلاندے نه یوه هَوا چلیږی چه د هغے نوم مَثِیرَه دے (چه د هغے دچپو په وجه) دجنت دونو پانړے او ددروازو حلقے یو بل سره جنګیږی، او د هغے نه دا سے ښکلے زړهٔ راښکونکے سُرناک اواز راوزی، چه

الْعِيْنِ حَتّٰى يَقِفْنَ بَيْنَ شُرَفِ الْجَنَّةِ فَيُنَادِيْنَ هَلْ مِنْ خَاطِبٍ اِلَى اللّٰهِ فَيُزَوِّجَهٗ ثُمَّ يَقُلْنَ الْحُوْرُ الْعِيْنُ يَا رِضْوَانَ الْجَنَّةِ مَا هٰذِهِ اللَّيْلَةُ فَيُجِيْبُهُنَّ بِالتَّلْبِيَةِ ثُمَّ يَقُوْلُ هٰذِهٖ اَوَّلُ لَيْلَةٍ مِّنْ شَهْرِ رَمَضَانَ فُتِحَتْ اَبْوَابُ الْجَنَّةِ لِلصَّائِمِيْنَ مِنْ اُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَيَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا رِضْوَانُ افْتَحْ اَبْوَابَ الْجِنَانِ وَيَا مَالِكُ اَغْلِقْ اَبْوَابَ الْجَحِيْمِ عَنِ الصَّائِمِيْنَ مِنْ اُمَّةِ اَحْمَدَ صلی اللہ علیہ وسلم وَيَا جِبْرِيْلُ اهْبِطْ اِلَى الْاَرْضِ فَاَصْفِدْ مَرَدَةَ الشَّيَاطِيْنِ وَغُلَّهُمْ بِالْاَغْلَالِ ثُمَّ اقْذِفْهُمْ فِي الْبِحَارِ حَتّٰى لَا يُفْسِدُوْا عَلٰى اُمَّةِ مُحَمَّدٍ حَبِيْبِيْ صلی اللہ علیہ وسلم صِيَامَهُمْ قَالَ وَيَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيْ كُلِّ لَيْلَةٍ مِّنْ شَهْرِ رَمَضَانَ لِمُنَادٍ يُنَادِيْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ هَلْ مِنْ سَائِلٍ فَاُعْطِيَهٗ سُؤْلَهٗ هَلْ مِنْ تَائِبٍ فَاَتُوْبَ عَلَيْهِ هَلْ مِنْ مُّسْتَغْفِرٍ فَاَغْفِرَ لَهٗ مَنْ يُّقْرِضُ الْمَلِيَّ غَيْرَ الْعَدُوْمِ

اوريدِ ونكوبه دهغې نه ښهٔ آوازچرے نهٔ وی آوريدلے۔ پس دښائسته ستر کو میرمنې حورے دخپلوکورونو نه راؤزی ۔ اودجنت دبالاخانو په مینځ کښې اُودریږی اوازونه کوی چه څوك دالله تعالیٰ په دربار کښې مونږ سره کوږدن کونکی شته چه الله تعالیٰ یے مونږ سره جوړه کړی ۔بیا هغه حورے دجنت داروغه رضوان نه تپوس کوی چه داڅنګه شپه ده ؟ هغه په لَبَّيْكَ ویلو سره جواب ورکوی چه درمضان المبارك اوله شپه ده ۔ دجنت دروازے د محمد صلی اللہ علیہ وسلم دامت روژه دارو دپاره (نن) پرانستے شوے ۔نبی صلی اللہ علیہ وسلم اُوفرمایل چه الله جل شانهٔ رضوان ته فرمائی چه دجنت دروازے پرانزه ۔ اومالك (یعنی ددوزخ داروغه) ته فرمائی چه داَحْمَد صلی اللہ علیہ وسلم دامت په روژه دارو ددوزخ دروازے بندے کړه ، او جبریل علیه السلام ته حکم کیږی چه زمکے ته کوزشه ، اوسرکش شیطانان قید کړه ، او په غاړه کښې ورله زنځیرونه واچوه ۔اوپه دریاب کښې یے اُوغورزوه چه زما دمحبوب محمد صلی اللہ علیہ وسلم دامت روژے خرابے نهٔ کړی۔ نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم داهم ارشاد اُوفرمایهٔ چه الله جل شانهٔ درمضان په هره شپه کښې یو آوازکونکی ته حکم کوی چه درے ځله داآواز اُوکړه چه څوك غوختونکے شته چه هغهٔ ته ورکړم ، څوك توبه کونکے شته چه

وَالْوَفِيِّ غَيْرِ الظَّلُوْمِ قَالَ وَلِلّٰهِ عَزَّ
وَجَلَّ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ مِّنْ شَهْرِ رَمَضَانَ
عِنْدَ الْاِفْطَارِ اَلْفُ اَلْفِ عَتِيْقٍ
مِّنَ النَّارِ كُلُّهُمْ قَدِ اسْتَوْجَبُوا
النَّارَ فَاِذَا كَانَ اٰخِرُ يَوْمٍ مِّنْ
شَهْرِ رَمَضَانَ اَعْتَقَ اللّٰهُ فِيْ
ذٰلِكَ الْيَوْمِ بِقَدْرِ مَا اَعْتَقَ مِنْ
اَوَّلِ الشَّهْرِ اِلٰى اٰخِرِهٖ وَاِذَا كَانَتْ
لَيْلَةُ الْقَدْرِ يَاْمُرُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ
جِبْرِيْلَ عليه السلام فَيَهْبِطُ فِيْ كَبْكَبَةٍ
مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ وَمَعَهُمْ لِوَآءٌ اَخْضَرُ
فَيَرْكُزُ اللِّوَآءَ عَلٰى ظَهْرِ الْكَعْبَةِ وَلَهٗ
مِائَةُ جَنَاحٍ مِّنْهَا جَنَاحَانِ لَا
يَنْشُرُهُمَا اِلَّا فِيْ تِلْكَ اللَّيْلَةِ
فَيَنْشُرُهُمَا فِيْ تِلْكَ اللَّيْلَةِ
فَيُجَاوِزَانِ الْمَشْرِقَ اِلَى الْمَغْرِبِ
فَيَحُثُّ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ
الْمَلٰٓئِكَةَ فِيْ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ
فَيُسَلِّمُوْنَ عَلٰى كُلِّ قَائِمٍ وَّ
قَاعِدٍ وَّمُصَلٍّ وَّذَاكِرٍ وَّيُصَافِحُوْنَهُمْ
وَيُؤَمِّنُوْنَ عَلٰى دُعَآئِهِمْ حَتّٰى
يَطْلُعَ الْفَجْرُ فَاِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ
يُنَادِيْ جِبْرِيْلُ عليه السلام مَعَاشِرَ
الْمَلٰٓئِكَةِ الرَّحِيْلَ الرَّحِيْلَ فَيَقُوْلُوْنَ
يَا جِبْرِيْلُ فَمَا صَنَعَ اللّٰهُ فِيْ حَوَائِجِ
الْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اُمَّةِ اَحْمَدَ صلى الله عليه وسلم

دهغهٔ توبه قبوله کړم. څوک بخښنه غوختونکے
شته، چه دهغهٔ بخښنه اُوکړم. څوک دے چه
داسے غنی ته قرض ورکړی چه نادارہ نهٔ دے
اوداسے پوره پوره اداکونکے دے، چه یوذرهٔ هم
کمے نهٔ کوی. نبی صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل چه الله جل
شانهٔ رمضان شریف کښ هره ورځ دروژه ماتی
په وخت کښ داسے لس لکهه کسان د دوزخ
نه ازادوی چه کوم د دوزخ مستحق شوی وی.
اوکله چه د رمضان اخری ورځ شی نو الله
پاک په دے ورځ هغومره کسان ازادوی څومره
چه د رومبئ ورځے د رمضان نه ترننه پورے
پے د دوزخ نه ازاد کړی وُو. اوچه کومه شپه
د قدر وی، نو الله جل شانهٔ جبریل علیه السلام
ته حکم اُوکړی، هغه د فرښتو یو لوئ لښکر سره
په زمکه راکوزیږی، هغوی سره یوه شنه جهنډا
وی، هغه د کعبے په چهت ځخه کړی. او جبریل
علیه السلام سل وزرے دی په هغے کښ دوه وزرے
صرف په دغه شپه کښ پرانزی چه د مشرق
نه ترمغربه پورے خورے کړی. بیا جبریل
علیه السلام فرښتو ته ترغیب ورکوی چه کوم مسلمان
په نن شپه کښ ولاړ وی، یا ناست وی مونځ
کوی یا ذکر کوی هغوی ته سلام اُوکړئ، او
مُصافحه ورسره اُوکړئ، او د هغوی په دُعا
آمین اُووایئ، ترسحره پورے دا حالت
وی. چه سحر شی، نو جبریل علیه السلام اواز ورکړی
اے د فرښتو ټولګیه! کوچ کوئ او زئ فرښتے

فَيَقُوْلُ نَظَرَ اللّٰهُ اِلَيْهِمْ فِيْ هٰذِهِ
اللَّيْلَةِ فَعَفَا عَنْهُمْ وَغَفَرَ لَهُمْ اِلَّا
اَرْبَعَةً فَقُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم
مَنْ هُمْ قَالَ رَجُلٌ مُدْمِنُ خَمْرٍ
وَعَاقٌّ لِوَالِدَيْهِ وَقَاطِعُ رَحِمٍ
وَمُشَاحِنٌ قُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ
مَا الْمُشَاحِنُ قَالَ هُوَ الْمُصَارِمُ
فَاِذَا كَانَتْ لَيْلَةُ الْفِطْرِ سُمِّيَتْ
تِلْكَ اللَّيْلَةُ لَيْلَةَ الْجَائِزَةِ فَاِذَا
كَانَتْ غَدَاةُ الْفِطْرِ بَعَثَ اللّٰهُ عَزَّ
وَجَلَّ الْمَلٰۤئِكَةَ فِيْ كُلِّ بِلَادٍ
فَيَهْبِطُوْنَ اِلَى الْاَرْضِ فَيَقُوْمُوْنَ
عَلٰۤى اَفْوَاهِ السِّكَكِ فَيُنَادُوْنَ
بِصَوْتٍ يَسْمَعُ مَنْ خَلَقَ اللّٰهُ
عَزَّوَجَلَّ اِلَّا الْجِنَّ وَالْاِنْسَ
فَيَقُوْلُوْنَ يَا اُمَّةَ مُحَمَّدٍ اُخْرُجُوْا
اِلٰى رَبٍّ كَرِيْمٍ يُعْطِي الْجَزِيْلَ
وَيَعْفُوْ عَنِ الْعَظِيْمِ فَاِذَا بَرَزُوْا
اِلٰى مُصَلَّاهُمْ فَيَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّ
وَجَلَّ لِلْمَلٰۤئِكَةِ مَا جَزَاءُ الْاَجِيْرِ
اِذَا عَمِلَ عَمَلَهٗ قَالَ فَتَقُوْلُ
الْمَلٰۤئِكَةُ اِلٰهَنَا وَسَيِّدَنَا جَزَاۤؤُهٗ
اَنْ تُوَفِّيَهٗ اَجْرَهٗ قَالَ فَيَقُوْلُ
فَاِنِّيْ اُشْهِدُكُمْ يَا مَلٰۤئِكَتِيْ اِنِّيْ
قَدْ جَعَلْتُ ثَوَابَهُمْ مِنْ صِيَامِهِمْ
شَهْرَ رَمَضَانَ وَقِيَامِهِمْ رِضَايَ

د جبرئيل علیه السلام نه تپوس اُوکړي چه الله تعالیٰ د احمد صلی الله علیه وسلم د اُمت مؤمنانو حاجتونو او ضرورتونو کښې څه معامله اُوکړه، هغه ورته اُووائی چه الله تعالیٰ په هغوی په دې شپه کښې توجه اُوفرمايله او د څلورو کسانو نه علاوه يې ټول معاف کړل او بخښنه يې ورته اُوکړه. صحابو رضی الله عنهم تپوس اُوکړو، اے د الله رسوله! صلی الله علیه وسلم، هغه څلور کسان څوک دی؟ وې فرمايل يو هغه کس دے چه عادتی شرابي وی، دويم هغه چه د مور پلار نافرمانی کوي، دريم هغه دے چه خپلوانو سره خپلولي پرېکوونکے وی، څلورم هغه کس چه کينه ساتی او په کورنی کښې تعلق پرېکوونکے وی او بيا چه د ورکوټی اختر شپه شی نو دې نوم (په آسمانونو کښې) لَيْلَةُ الْجَائِزَة (يعنی د انعام شپه) اخستے شی. او چه د اختر سحر شی، نو الله جل شانه فرښتے ټولو ښهرونو ته اُولېږی، هغوی زمکے ته را کوزې شی، په ټولو کوڅو او د لارو په سرونو اُودرېږی، او په داسے آواز چه د پېريانو او بنيادمو نه علاوه يې هر يو مخلوق اورى، آواز ونه کوی او وائی چه اے د محمد صلی الله علیه وسلم اُمته! د هغې کريم رب (د درګاه) طرف ته روان شئ، چه ډېر زيات ورکوونکے دے او لوئ نه لوئ قصور معاف کوونکے دے. بيا چه کله خلق عيدګاه طرف ته اُوزی. نو الله جل شانه د فرښتو

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَغْفِرَتِیْ وَيَقُوْلُ يَا عِبَادِیْ سَلُوْنِیْ فَوَعِزَّتِیْ وَجَلَالِیْ لَا تَسْئَلُوْنِی الْيَوْمَ شَيْئًا فِیْ جَمْعِكُمْ لِاٰخِرَتِكُمْ اِلَّا اَعْطَيْتُكُمْ وَلَا لِدُنْيَاكُمْ اِلَّا نَظَرْتُ لَكُمْ فَوَعِزَّتِیْ لَاَسْتُرَنَّ عَلَيْكُمْ عَثَرَاتِكُمْ مَا رَاقَبْتُمُوْنِیْ وَعِزَّتِیْ وَجَلَالِیْ لَا اُخْزِيْكُمْ وَلَا اُفْضِحُكُمْ بَيْنَ اَصْحَابِ الْحُدُوْدِ وَانْصَرِفُوْا مَغْفُوْرًا لَّكُمْ قَدْ اَرْضَيْتُمُوْنِیْ وَرَضِيْتُ عَنْكُمْ فَتَفْرَحُ الْمَلٰئِكَةُ وَتَسْتَبْشِرُ بِمَا يُعْطِی اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ هٰذِهِ الْاُمَّةَ اِذَا اَفْطَرُوْا مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ.

(كذا في الترغيب وقال رواه ابو الشيخ ابن حبان في كتاب الثواب والبيهقي واللفظ له وليس في اسناده من اجمع على ضعفه قلت قال السيوطي في التدريب قد التزم البيهقي ان لا يخرج في تصانيفه حديثا يعلمه موضوعا الخ وذكر القاري في المرقاة لبعض طرق الحديث ثم قال فاختلاف طرق الحديث يدل على ان له اصلا اهـ)

نه پوښتنه اُوکړی چه د هغې مزدورخه بدله ده چه خپل کار یې پوره کړے وی، هغوی عرض اُوکړی، چه زمونږ معبوده! زمونږ مالکه! د هغه بدله همدغه ده چه هغه ته مزدوری پوره پوره ورکړے شی. نو الله جل شانهٗ ارشاد فرمائی، چه اے فرښتو! زهٔ تاسو گواه کوم، ما دوی ته د رمضان د روژو او د تراویحو په بدله کښې خپله رضا او مغفرت ورکړو، او بندګانو ته الله جل شانهٗ خطاب کوی، او فرمائی چه اے زما بندګانو! ما نه اُوغواړئ، زما دِ په خپل عزت قسم وی، زما دِ په خپل جلال قسم وی چه نن ورځ په دِے اِجتماع کښې ما نه د خپل آخرت په باره کښې چه کوم سوال کوئ درکوم به، او د دُنیا په باره کښې چه کوم سوال کوئ په هغې کښې به ستاسو مصلحت ته کورم. زما د عزت قسم، ترڅو پورے چه تاسو زما خیال ساتئ، زهٔ به ستاسو په غلطو پردهٔ اچوم. (او هغه به پټوم) زما د عزت قسم، زما د جلال قسم، زهٔ به تاسو د مجرمانو (او کافرانو) په مخکښې رسوا او شرمنده نکړم. اوس تاسو بخښلے شوی کورونو ته واپس لاړشئ. تاسو زهٔ راضی کړم، او زهٔ تاسو نه راضی شوم پس فرښتے چه دا اجروثواب اُووینی، چه کوم دے اُمت ته د اختر په ورځ ورکیږی خوشالئ کوی، او یو بل ته زیری ورکوی. اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْهُمْ.

فائده: ددې حديث اکثر مضامين ددې رسالې په تيرو شوو پاڼرو کښې بيان شوي دي. البته يو خو خبرې د غور قابلې دي چه په هغې کښې د تهولو نه اول او اهمه خبره داده چه ډير محرومه خلق د رمضان د عام مغفرت نه مستثنیٰ (يعني ايستلې شوي) دي. لکه څنګه چه مخکښې روايتونو نه معلومه شوې ده هغوی دا اختر ددې عام مغفرت نه هم مستثنیٰ کړې شو چه په هغې کښې په خپل مينځ کښې جهګړه کوونکي او د مور پلار نافرمانه هم دي. ددوی نه دِ څوک تپوس اوکړي چه تاسو الله پاک ناراضه کړو، نو ځان له مو د استو ګنې کوم ځائ کتلې دې. په تاسو هم افسوس او ستاسو په هغې عزت هم چه د هغې د حاصلولو غلط خيال کښې د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم خيرې برداشت کوئ، د جبريل عليه السلام خيرې برداشت کوئ، د الله تعالیٰ د رحمت او عام مغفرت نه هم ايستلې کيږئ. زه تپوس کوم چه تن تاسو خپل دُشمن نه ماتې ورکړه، خپل برِيت مو پرې اُوچت کړه. دا ترڅو مره ورځو پورې تاسو سره پاتې کيدې شي. هرکله چه د الله تعالیٰ خوږ رسول صلی الله عليه وسلم په تاسو باندې لعنت کوي، د الله تعالیٰ مُقرّبه فرښته تاسو ته د هلاکت خيرې کوي، الله جل شانهٔ تاسو د خپل مغفرت او رحمت نه اُوباسي. د الله تعالیٰ د پاره فکر اُوکړئ، اَو بس کړئ. د سحر ورک شوې کنه مانښام کور ته راشي، هغهٔ ته وُرک نهٔ شي ويلې، نن وخت دې کمې يې پوره کيدې شي. او صبا هرکله چه ديو داسې حاکم پيشئ ته تلل دي، چه هلته نهٔ د عزت او نهٔ د رُعب تپوس شته، او نهٔ مال او سامان بکار راځي، هلته صرف ستاسو د عملونو تپوس دې، او هر حرکت به موليک ليکلې مخکښې وي. الله جل شانهٔ په خپلو حقونو کښې معافي کوي، خو د بندګانو په خپل مينځ کښې ديو بل حقونه بغير بدلې ورکولو نهٔ پريږدي. د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم ارشاد دې چه زما په اُمت کښې مفلس هغه څوک دې چه د قيامت په ورځ د نيکو عملونو سره راشي، او مونځونه، روژې، صدقې هرڅهٔ راوړي، خو چا ته يې کنځل کړي وي، په چا يې تهمت لګولې وي، څوک يې وهلې ټکولې وي. پس دا ټول دعويدار به راشي او د هغهٔ نيک عملونو کښې به ددې حرکتونو بدله وصول کړي او چه هغهٔ سره نيک عملونه ختم شي، نو خپلې بدئ به ددې حرکتونو په بدله

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې په هغهٔ بانده واچوی، او بیا ددے اَنبار په وجه به دوزخ کښې واچولے شی نو دخپلو پیرو عملونو باوجود د افسوس او نا اُمیدئ چه کوم حال دی هغه دبیان محتاج نهٔ دے ۔ ہے

وه مایوس تمنا کیوں نه سوئے آسماں دیکھے ؛ که جو منزل به منزل اپنی محنت رائیگاں دیکھے

نا اُمیده دا رزو به ولے نهٔ گوری اسمان ته ؛ چه عبث خپل محنت دے منزل په منزل وینی

دویمه خبره دغور قابله داده چه په دے رساله کښې یو څو موقعے دمغفرت ذکر کړے شوے دی ، او ددے نه علاوه نور هم داسے کارونه دی چه هغه دمغفرت سبب جوړیږی ، او گناهونه پرے معاف کیږی ۔ په دے بانده یو اعتراض کیږی او هغه دا چه هرکله یو وارے گناهونه معاف شو ، نو دهغے نه پس دویم وارے دمعافئ څهٔ معنیٰ ؟ ددے جواب دادے چه دمغفرت قاعده داده چه هر کله د ابندهٔ طرفته متوجه شی کهٔ په هغهٔ څهٔ گناه وی نو هغه بخښلے شی او کهٔ څهٔ گناه پرے نهٔ وی نو دهغے په مقدار په هغهٔ بانده درحمت او دانعام زیاتوالے اُوشی ۔

دریمه خبره داده چه په تیرو شوو حدیثونو کښې هم بعض ځایونو کښې او بیا په حدیث کښې هم الله جل شانهٔ خپل مغفرت کولو بانده فرښتے گواه کړی دی ددے وجه داده چه دقیامت دعدالت معاملے په قانون قاعده وایخودلے شوی دی ۔ دانبیاء علیهم السلام نه به دهغوی دتبلیغ باره کښې هم گواهان طلب کولے شی لکه چه دحدیثو په کتابونو کښې په ډیرو موقعو نبی اکرم ﷺ ارشاد فرمایلے دے چه تاسو نه به زما باره کښې سوال کیږی ، نو تاسو گواه اُوسئ چه ما درته پیغام رسولے دے ۔ بُخاری شریف وغیره کښې روایت دے چه حضرت نوح علیه السلام به د قیامت په ورځ راوُبللے شی ، او پوښتنه به ترے اُوکړے شی چه تا دخپل رسالت حق ادا کړے دے ؟ او زما حُکمونه دِ رسولی دی ؟ هغه به عرض اُوکړی ، رسولی م وکړو ۔ بیا به دهغهٔ د اُمت نه تپوس اُوشی ، چه تاسو ته یے احکام رسولی وُو ؟ نو هغوی به اُووائی مَا جَاءَنَا مِنْ بَشِيْرٍ وَّلَا نَذِيْرٍ چه مونږ ته نهٔ څوک زیرے ورکونکے راغلے دے نهٔ ویروُنکے ۔ نو حضرت نوح علیه السلام نه به تپوس اُوشی چه خپل گواهان پیش کړه ، هغه به محمد ﷺ او دهغهٔ اُمت پیش کړی ، اُمتِ محمدیه به راوُبللے شی او گواهی به اُوکړی ۔ څنې روایتونو کښې راځی چه په هغوی به جرح

اُوشی چه تاسو څهٔ خبر یئ، چه نوح علیه السلام خپل اُمت ته احکام رسَولی دی؟ هغوئ به عرض اُوکړی چه زمونږ رسول (محمد صلی الله علیه وسلم مونږ ته خبر راکړے دے) زمونږ رسول صلی الله علیه وسلم باندے چه کوم ریښتنے کتاب نازل شویدے په هغے کښې خبر ورکړے شویدے دغه شان به د نورو انبیاء علیهم السلام اُمت سره هم کیږی. دے متعلق د الله تعالیٰ ارشاد دے. وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ.

امام فخرالدین رحمه الله لیکی چه په قیامت کښې به گواهی څلور قسمه وی. یوه د ملائکو چه د هغے متعلق دے لاندینو ایتونوکښې ذکرشویدے. مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ط وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ ط وَاِنَّ عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَ ط كِرَامًا كَاتِبِيْنَ ۙ يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ۝ دویمه گواهی به د انبیاء علیهم السلام وی چه د هغے متعلق ارشاد دے. وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ وَّجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيْدًا دریمه به د اُمتِ محمدیه گواهی وی چه د هغے متعلق ارشاد دے، وَجِآيْءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ. څلورمه د بنیادم د خپلو اندامونو گواهی ده، چه د هغے متعلق ارشاد دے. يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ اَلْسِنَتُهُمْ وَاَيْدِيْهِمْ الاٰية او اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ اَيْدِيْهِمْ الاٰية - د اختصار په خاطر مې د دے ایتونو ترجمه اُونهٔ لیکله. د ټولو ایتونو حاصل د قیامت په ورځ د هغے څیزونو د گواهۍ ورکولو ذکر دے. چه د هغے بیان د ایت په شروع کښې اُولیکلے شو.

څلورمه خبره په پورتنۍ حدیث کښې د ارشاد مبارک دے چه زهٔ به تاسو د کافرانو مخکښې رسوا او شرمنده نکړم. دا د الله جل شانهٔ انتهائی درجه مهربانی اوکرم او د مسلمانانو په حالت غیرت دے، چه د الله تعالیٰ د رضا لټونکو د پاره دا هم لطف او انعام دے چه د هغوی په غلطو او گناهونو باندے هلته هم معافی او پرده اچولے شی.

عبدالله بن عمر رضی الله عنه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی، چه د قیامت په ورځ به الله جل شانهٔ یو مؤمن خپل نزدے راوُغواړی، او په هغهٔ باندے به پرده واچوی، چه بل څوک یے نهٔ وینی. هغهٔ ته به خپلے غلطئ او گناهونه وریه یاد کړی، او دهرے یو گناه اقرار به یے اُوکړی، او هغه به د خپلو گناهونو په

Maktaba Tul Ishaat.com

ډيروالی او اقرار د اُوکړی، چه اُوس د هلاکت وخت م رانزدے شو۔ الله جل شانهٗ به ورته اُوفرمائی، ما په دُنيا کښ په تا پرده اچولے وه، نو نن هم په هغے پرده ده او معاف دی، د دے نه پس به د هغهٔ د نيکو عملو نو دفتر هغهٔ ته حواله کړے شی۔

نور هم په سَوونو روايتونو نه دا مضمون معلوميږی چه د الله تعالیٰ رضا تلاش کونکو او د هغهٔ د احکاماتو پابندی کونکو غلطئ معاف کولے شی، د دے وجه په ډير اهَمِيت سره په يو مضمون ځان پوهول پکار دی، چه کوم خلق د نيکانو بندګانو په کوتاهو د هغوی په غيبت کښ اخته اُوسی هغوی د دے خيال ساتی، چه هسے نه د قيامت په ورځ د هغوی د نيکو عملونو په برکت د هغوی غلطئ خو معاف کړے شی او پرده پرے واچولے شی۔ خو ستاسو خلقو عملنامے د غيبت نه ډکے د هلاکت سبب اُوګرزی۔ الله جل شانهٗ دِ په خپل فضل سره زمونږ د ټولو ګناهونه معاف کړی۔

پنځمه خبره ضروری داده چه په پورتنی حديث کښ د اختر شپه د اِنعام په شپه ياده شوے ده چه په دغے شپه د الله جل شانهٗ له طرفه خپلو بندګانو ته اِنعام ورکولے شی۔ په دے وجه بندګانو له هم د دغے شپے ډير زيات قدر کول پکار دی۔ ډير زيات خلق، د عوامو به څهٔ تپوس کوے خواص هم د رمضان ستړی ستومانه په دغے شپه په خوږ خوب اُوده شیٔ حال دا دے چه دا شپه هم خصوصيت سره په عبادت کښ د مشغوليدو ده۔ د نبی اکرم صلے الله عليه وسلم اِرشاد مبارک دے چه څوک د دواړو اخترونو شپے د ثواب په نيت روڼے کړی (او عبادت کښ مشغول اُوسی) د هغهٔ زړهٔ به په هغه ورځ نهٔ مری، په کومه ورځ چه به د ټولو زړونه مړهٔ شی (يعنی د فتنے او فساد په وخت چه د خلقو زړونه مړيږن وی، د دهٔ زړهٔ به ژوندے وی۔ او ممکنه ده چه د شپيلئ پوک وهلو ورځ ترے مراد دی، چه د دهٔ روح به نهٔ بے هوشه کيږی) يو حديث کښ اِرشاد دے چه څوک پنځو شپو کښ (د عبادت د پاره) ويښ پاتے شی، هغهٔ د پاره به جنت واجب شی۔ لَيْلَةُ التَّرْوِيَه (يعنی د اتمے ذی الحجه شپه) لَيْلَةُ

العرفه (یعنی د نهم ذی الحجې شپه)، لیلة النحر (یعنی د لسمې ذی الحجې شپه)، دورکوتی اختر شپه، او شب برات یعنی د پنځلسم شعبان شپه. فقهاؤ هم د اخترونو په شپه کښې شوګیره مستحب لیکلې ده. کتاب ماثبت بالسنة کښې د امام شافعی رحمة الله علیه نه نقل کوی چه پنځه شپې د دُعا قبلیدو دی. د جُمعې شپه، د دواړو اخترونو شپې، د رجب (یعنی بزرګې) میاشتې اوله شپه، د شعبان (یعنی شوقدر) د میاشتې پنځلسمه شپه.

تنبیه (خبردارے)

د بعض بزرګانو ارشاد دے چه په رمضان المبارک کښې د جُمعې د شپې هم په خصوصیت اهتمام کول پکار دی، چه جُمعه او دے شپه ډیر ډیر برکت وختونه دی، په حدیثونو کښې د دے ډیر فضیلت راغلی دے خو د دے وجه چه بعض روایتونو کښې د جُمعې شپه د عبادت د پاره خاص کولو باندے ممانعت هم راغلے دے. نو بهتره خبره داده چه یو دوه شپې ورسره نورے هم شاملے کړے شی.

په آخرکښې د دے رسالے کتونکوته په عاجزی درخواست دے چه د رمضان المبارک په خاص وختونوکښې کله چه د خپل ځان د پاره دُعا کوی، نو یو ګنهګار (یعنی حضرت شیخ الحدیث رحمه الله) هم په دُعا کښې شامل کړئ. کیدے شی چه ستاسو د اخلاص نه ډکے دُعا په برکت ما ته هم الله جل شانه خپله رضا او محبت نصیب کړی.[ع]

ع او ما مترجم بنده مسکین محمد شفیق ورسره په دُعا کښې یاد کړئ چه الله تعالیٰ م د ایمان سره خاتمه، خپله رضا او دیدار نصیب کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com

مُنَاجَاتُ

گرچہ میں بدکار و نالائق ہوں اے شاہِ جہاں ؛ پر ترے در کو بتا اب چھوڑ کر جاؤں کہاں
کون ہے تیرے سوا مجھ بے نوا کیواسطے

اے دجهان بادشاه! اگرچه زهٔ بدکاراونالائق یم، ستا درجه پریږدم، ماته اُوښايه کوم خواته به زمه، ستا نه سوا زما بے اسرے دپاره څوك دى-

کشمکش سے نااُمیدی کی ہوا ہوں میں تباہ ؛ دیکھ مت میرے عمل ، کر لطف پر اپنی نگاہ
یارب اپنے رحم و احسان و عطا کے واسطے

دنااُمیدئ په کشمکش کښ زهٔ تباه شوم، زما عملونه مه گوره، په خپله مهربانئ نظر اُوکړه، اے ربه! دخپل رحم واحسان اوعطا په واسطے سره-

چرخِ عصیاں سر پہ ہے زیرِ قدم بحرِ الم ؛ چار سُو ہے فوجِ غم ، کر جلد اب بہرِ کرم
مجھ رہائی کا سبب اس مبتلا کیواسطے

په سر رم دګناه اسمان دے، اودقدم لاندے م دغم دریاب دے، څلور واړه طرفه دغم فوج دے، ډیر زر راباندے خپل کرم اُوکړه چه ددے مبتلا دپاره څهٔ دخلاصی سبب اُوشي-

ہے عبادت کا سہارا عابدوں کے واسطے ؛ اور تکیہ زہد کا ہے زاہدوں کے واسطے
ہے عصائے آہ مجھ بے دست و پا کیواسطے

دعابدانو دپاره دعبادت تکیه ده، اوزاهدانو دپاره دزهد تکیه ده، او ما بے لاسو خپو (یعنی بے وسه) دپاره دآه همسا ده-

نے فقیری چاہتا ہوں نے امیری کی طلب ؛ نے عبادت نے ورع نے خواہشِ علم و ادب
دردِ دل پر چاہئے مجھ کو خدا کیواسطے

نهٔ فقیری غوارم نهٔ م دامیرئ طلب شته، اونهٔ م دعبادت پرهیزگارئ دعلم وادب خواهش دے، خو زړهٔ درد دالله تعالیٰ دپاره ماله پکار دے-

عقل و ہوش و فکر اور نعمائے دنیا بے شمار ؛ کی عطا تو نے مجھے پر اب تو اے پروردگار
بخش وہ نعمت جو کام آئے سدا کیواسطے


عقل، هوش، فکر او دُنیا نعمتونه بے شمیره دی تاماته راکرهٔ، اُوس اے پروردگار هغه نعمت راکره چه دهمیشه د پاره م پکار راشی۔

حد سے ابتر ہو گیا ہے حال مجھ ناشاد کا ؛ کریمی اِمداد اللہ، وقت ہے امداد کا
اپنے لطف و رحمتِ بے انتہا کیواسطے

زما غمگین حال د حد نه زیات خراب شوے دے، اے الله زما مدد اُوکړے د مدد وخت دے، دخپل بے انتهاء لطف و رحمت په واسطے سره۔

گو میں ہوں ایک بندۂ عاصی غلام پر قصور ؛ جرم میرا حوصلہ ہے، نام ہے تیرا غفور
تیرا کہلاتا ہوں میں جیسا ہوں اے ربِ شکور ؛ اَنْتَ شَافٍ اَنْتَ کَافٍ فِیْ مُهِمَّاتِ الْاُمُوْرِ
اَنْتَ حَسْبِیْ اَنْتَ رَبِّیْ اَنْتَ لِیْ نِعْمَ الْوَکِیْلُ

اگرچه زهٔ یو بنده گنهگار د قصور نه ډک یم، زما جرم حوصله ده، او ستا نوم غفور دے۔ اے ربِّ شکوره! هرڅهٔ چه یم، خوستا یم (یعنی تا طرف ته م نسبت کیږی) تهٔ شفا ورکونکے یے، او تهٔ زما په اهم کارونو کښ کفایت کونکے یے، تهٔ ما لره بس یے، تهٔ زما رب یے، تهٔ زما بنهٔ وکیل یعنی کارساز یے۔



لیکونکے
محمد زکریا کاندهلوی
مقیم مظاهر العلوم
سهارنپور
(وارد نظام الدین دهلی)
دلیکلو تاریخ
۲۷ رمضان المبارک ۱۳۴۹ھ

کتبه العبد الفقیر محمد ولی الدین حیدر منڈی ضلع پشاور

ترجمه کونکے
میاں محمد شفیق غفر له
دار الشفاء، چارسده، محله تبلیغی مرکز
ڈاک خانه شوگر ملز، تحصیل و ضلع چارسده
تاریخ دختمید و نظرِ ثانی
۶ ربیع الاول ۱۴۱۵ھ موافق
۱۴ اگست ۱۹۹۴ء په ورځ د
اتوار

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا

د مسلمانانو پښتو
د موجوده پستئ واحد علاج

تالیف
شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمہ اللہ

مترجم
میاں محمد شفیق رحمہ اللہ



دحقیقت اظهار



نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّیْ عَلٰی رَسُوْلِهِ الْکَرِیْمِ

سیدی ومولائی زبدة الفضلاء وقدوة العلماء حضرت مولنا محمد الیاس صاحب قدس سره خاص کمالِ محبت اومشغولتیا او دنوروملت د بزرګانو او د اُمت دعالمانو توجه اوبرکت اوعلمی کوشش سره څۀ موده راسے په مخصوص انداز کښ د تبلیغِ دین او د اسلام دخوړولو سلسله جاری ده چه د هغې نه خبرداره طبقه په ښۀ شان خبرده - ما بے علمه اوګنهګارته د دے پاکو هستوحکم اُشوچه د دے تبلیغ طرز اوضرورت او اهمیّت اُولیکلے شی ، چه پوهیدو او پوهولوکښ اسانی شی ، او فائده یے عامه شی -

دارشاد په منلوکښ داڅوکلیے په کاغذ لیکلے شی چه د دے پاکو هستود علوم ومعارف د دریاب نه څوڅاڅکی او د دینِ محمدی د باغیچے څوغنچے دی ، چه ډیرے په جلتئ جمع کړے شوی دی - که چرے څۀ غلطی یا کمے درته په کښ ښکاره شی ، نو زما د قلم غلطی او د بے علمئ نتیجه ده - د مهربانئ او دکرم په نظر سره یے اصلاح اُوکړئ ، نو د شکر او د احسان سبب به شی -

الله جل شانهٗ دِ په خپل فضل اوکرم زما په بدوعملونو اوګناهونو پرده واچوی ، او ما او تاسو ته دِ د دے پاکو هستو په وسیله ښۀ عملونه او ښۀ طرز وطریق نصیب کړی ، او خپله رضا و محبت او د خپل خوښ دین خورولو او د خپل غوره رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت اوفرمانبرداری د دولت نه مو دِ سرفرازکړی -

دبزرګانو دخپوخاورے

محمد احتشام الحسن

مدرسه کاشف العلوم

بستی حضرت نظام الدین اولیاء دهلی ۱۸ ربیع الثانی ۱۳۵۸ھ

Maktaba Tul Ishaat.com

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْاَوَّلِیْنَ وَالْاٰخِرِیْنَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَاءِ وَالْمُرْسَلِیْنَ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الطَّیِّبِیْنَ الطَّاهِرِیْنَ

دنن نه تقریباً دیارلس سوه کاله وړاندې کله چه دُنیا دکفراودګمراهئ جهالت اودناپوهئ په تیارو کښ ډوبه وه، دمکې مکرمې دګانړوغرونو نه د رُشد وهدایت سپوږمئ رابښکاره شوه، اومشرق، مغرب، شمال جنوب تردې چه ددُنیاهریو ګټ یې په خپلې رڼاسره روښانه کړو، اوددرویشتوکالو لږه موده کښ هریوانسان یې دترقئ هغې اُوچتې مرتبې ته اُورسوو چه ددُنیا تاریخ دهغې مثال پیش کولونه عاجزه دې، اودرُشد وهدایت صلاح اوکامیابئ هغه مشال یې مسلمانانوته په لاس کښ ورکړۀ چه دهغې په رڼاکښ همیشه د ترقئ په لویه لاربانـدې روان وُو، اوتر سوونوکالو په داسې شان اوشوکت سره یې په دُنیا حکومت اوکړۀ، چه دهرمخالف قوت سره په یې ډغره اُووهله، نوذرې ذرې به یې کړو.

دایوحقیقت دې چه انکارترې نشي کیدې، خوبیاهم یوه پخوانئ قِصئ ده، چه دهغې باربارویل نهٔ څهٔ تسلی ورکوی، اَونهٔ څهٔ پکار راځی، او نهٔ څهٔ فائده لری، ځکه چه موجوده په نظر راتلونکی حالات اوواقعات په خپله زمونږ په پخوانی ژوند اوزمونږ دپخوانی مشرانو په کارنامو خراب داغ لګوی. دمسلمانانو دیارلس سوه کاله ژوند هرکله چه دتاریخ په پانړو کښ اُوکتلې شي، نومعلومیږی چه مونږ دعزت اوعظمت، شان وشوکت دبدبه اوحشمت یواځې مالکان او اجاره داروُو، خوهرکله چه ددې پانړو نه نظرواړولې شي، موجوده حالات اُوکتلې شی، نومونږ ډیرزیات ذلت اَوخوارئ، اِفلاس اوناداری کښ اِنختي په نظر راځو، نهٔ زوراوقوت شته نهٔ زراودولت شته، نهٔ شان اَوشوکت شته، نهٔ په خپلوکښ روروَلی او محبت شته، نهٔ عادتونه ښهٔ، نهٔ اَخلاق ښهٔ، نهٔ عملونه ښهٔ، نهٔ دژوند طریقې ښې. هره بدی مونږ کښ موجوده ده، اودهرې نیکئ نه په میلونو لرې یُو. دُشمنان زمونږ په دې بدحالئ خوشاله دی، اوښکاره زمونږ کمزورئ

بیانوي، او مونږ پورے خندا هم توقے کوي۔ په دے بس نه، بلکه په خپله زمونږ دزړۀ ټکړے، په نوي تهذیب مئین زلمی د اسلام پاکو اصولو پورے ټوقے کوي، په خبرۀ خبرۀ اعتراض کوي، او دے پاک شریعت ته نا قابل عمل، لغوه (بے مقصده) او بے کاره وائي۔ عقل حیران دے، چه کوم قوم د دُنیا تندۀ مرۀ کړے وه، نن هغه ولے تږے دے؟ کوم قوم چه دُنیا ته د تهذیب او تمدن یعني پاک صاف طرز معاشرت خودلے وُو، هغه نن ولے غیر مُهذب او غیر مُتمدن دے؟ د قوم رهنمایانو دنن نه ډیر مخکښې زمونږ د دے بدحال اندازه اُولګوله، او په مختلفو طریقو یے زمونږ د اصلاح د پارۀ کوشش اُوکړۀ۔ خو سه مرض بڑھتا گیا جوں جوں دوا کی،

مرض زیاتیدۀ خومرۀ چه دارو کیدل

نن هرکله چه حالت دبد نه ډیر بد تر شوے دے او راتلونکے زمانه د څخوانئ نه هم زیاته د خطرے او تیارو نه ډکه ښکاري، زمونږ چپ کښیناستل، او عملي کوشش نه کول یو داسے جُرم دے، چه د هغے بدله بیا نه شي پوره کیدے۔ خودے ته ړومبے چه مونږ څۀ عملي قدم اُوچت کړو، ضروري دۀ چه په هغے اسبابو غور و فکر اُوکړو چه د هغے په وجه مونږ د دے ذلت او خوارئ په عذاب کښې ګیر کړے شوي یُو، زمونږ د دے پستئ او د زوال مختلف اسباب بیانولے شي، او د هغے د لرے کولو لپاره تدبیرونه اِختیار کړے شو، خو هر یو تد بیر ناموافقه او ناکامه ثابت شو چه د هغے په وجه زمونږ رهبران هم په نا اُمیدئ او ویرۀ کښې پراته ښکاري۔

اصل حقیقت دا دے چه تر اُوسه پورے زمونږ د مرض معلومتیا آو پوره طور باندے شوے نۀ دۀ، دا هر خومرۀ اسباب چه بیانولے شي، اصل مرض نۀ دے، بلکه د هغے نښے نښانے دي۔ پس تر کومه وخته پورے چه اصل مرض طرف ته توجُه اُونکړے شي، او د حقیقي مادّے اصلاح اُونۀ شي، د نښو نښانو اِصلاح ناممکنه او ګرانه دۀ، نو تر کومه چه مونږ د اصل مرض صحیح معلومتیا او د هغے صحیح علاج معلوم نکړو، زمونږ د اصلاح بارۀ کښې خُلۀ پرانستل ډیرۀ سخته غلطي دۀ۔

زمونږ دا دعوی چه زمونږ شریعت یو مکمل قانون اِلٰهی دے چه زمونږ د دیني او دُنیوي فلاح و کامیابۍ ترقیا مته پورے ضامن دے، بیا هیڅ وجه نشته چه مونږ په خپله دخپل مرض معلومتیا اوکړو، او په خپله د هغے علاج شروع

Maktaba Tul Ishaat.com

کړو، بلکه زمونږ د پاره ضروري دا، چه مونږ د قران شریف نه خپل اصل مـرض معلوم کړو، او هم د دے مرکز رُشد وهدایت نه دعلاج طریقه معلومه کړو، او په هغې عمل اُوکړو. هرکله چه قران شریف تر قیامته پورے مکمل قانون دے نو هیڅ وجه نشته چه هغه په دے نازک حالت کښې زمونږ د رهبرئ نه ټیمګړے راشي.

دزمکو اسمانونو مالک الله جل جلالهٗ ریښتنے وعداه دا، چه دمځ د زمکے بادشاهت او خلافت مؤمنانو د پاره دے.

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ (نور - ع ۷)	الله تعالیٰ وعده کړے ده هغې خلقو سره چه کوم له تاسو نه ایمان راوړی او نیک عملونه کوی چه هغوی به ضرور د مځ د زمکے خلیفه جوړوُم.

او دلیے هم تسلی ورکړے دا چه مؤمنان به همیشه په کافرانو غالب وی او د کافرانو به هیڅوک یار ومدد ګار نه وی.

وَلَوْ قٰتَلَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ۞ (فتح - ع ۳)	او که چرے تاسو سره داکافران جنګیدے نو ضرور به په شا تختیدلے وے، بیا به ئے هیڅوک یار او مدد ګار نه مونده ے.

او د مؤمنانو نصرت او مدد د الله تعالیٰ په ذمه دے، او دوی به همیشه سربلند او سرفرازه وی.

وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ (روم ع۵) وَلَا تَهِنُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۞ (آل عمران ع ۱۴)	او حق دے په مونږ باندے مدد د مؤمنانو. او تاسو همت مه بائیلئ او غم مکوئ او غالب هم تاسو یئ که چرے تاسو پوره مؤمنان یئ.
وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ (منافقون - ع ۱)	او عزت هم د الله تعالیٰ د پاره دے، او د پاره د هغهٔ د رسول او د مؤمنانو دے.

پورته ذکر شوی اِرشاداتو باندے غور، فکر کولو نه معلومیږی چه د مسلمانانو عزت، شان او شوکت، سربلندی او سرفرازی او هر فضیلت او خوبی دوهٔ د ایمان صفت سره تړلی دی. که چرے دوهٔ تعلق الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مضبوط وی (کوم چه د ایمان مقصود دے) نو هرڅهٔ دوهٔ دی، او که چرے الله تعالیٰ مکړه، په دے رابطه تعلق کښې کمے او کمزوری پیدا شوی وی، نو بیا سراسر نقصان

او ذلت و خواري ده، لکه څنګه چه په واضح طور خود لے شوے ده۔

وَالْعَصْرِ ۝ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ۝ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۝ (سورة العصر)	قسم دے د زمانے چه انسان په لوی نقصان کښ دے، خو چه کوم خلقو ایمان راوړو، او هغوی نیک عملونه اوکړه، او یو بل ته یے دحق وصیت کولو، او یو بل ته یے دصبر وصیت کولو ر نو دوی نقصان کښ نه دی۔)

زمونږ پخوانی مشران دعزت مُنْتَهَا ته رسیدلی وُو، او مونږ انتها ئیی ذلت و خوارئ کښ ګیر یُو، نو معلومه شوه، چه هغوی کښ کامل ایمان موجود وُو، او مونږ د دے نعمت نه محرومه یُو۔ څنګه چه د الله تعالیٰ رښتینی رسول صلی الله علیه وسلم خبر ورکړے دے۔

سَيَاْتِيْ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَبْقٰى مِنَ الْاِسْلَامِ اِلَّا اِسْمُهٗ وَلَا مِنَ الْقُرْاٰنِ اِلَّا رَسْمُهٗ (مشکوٰة)	یعنی نزدے دلسے زمانه راتلونکے ده، چه د اسلام به بس نوم باقی پاتے شی او د قران به صرف نقشونه پاتے شی۔

اُوس د فکر خبره داده، که چرے واقعی مونږ د دے حقیقی اسلام نه محرومه شو، کوم چه د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نزد مقصود د دے، او چه هغے سره زمونږ د دین دُنیا کامیابی او ترقی تړلے ده، نو بله کومه ذریعه ده چه په هغے سره هغه ضائع شوے نعمت واپس راشی؟ او هغه کوم اسباب دی چه د هغے په وجه د اسلام روح زمونږ نه اُووِیستلے شو او مونږ د بے ساه بدن پاتے شو۔

هر کله چه د قران شریف تلاوت اُوکړے شی، او د اُمتِ محمدیه د فضیلت او د بلندئ اخری وجه تلاش کړے شی، نو معلومیږی چه د دے اُمت ته یو اعلیٰ او لوئ کار سپارلے شوے وُو چه د هغے په وجه د "خَيْرُ الْاُمَمِ" (یعنی د بهترین اُمت) عزت مند خطاب دَهٔ ته ورکړے شو۔ د دُنیا د پیدائیښ د اَصلی مقصد د الله تعالیٰ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ د ذات او د صفاتو پیژندګلنه ده۔ او د اتر هغے وخته پورے ناممکنه ده، تر څو پورے چه هر یو انسان لره د بَدُو او ګندګونه پاک نکړے شی، او نیکو او ښو صفتونو سره بنائسته نه کړے شی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دے مقصد دپاره په زرګونو رسولان او نبیان علیهم السلام راولیږلے شو، او په اخرکښ د دے مقصد دپوره کولو دپاره سید الانبیاء والمرسلین ﷺ راولیږه. او د اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ زیرے ورته واوروُلو۔

اوس چونکه مقصد پوره شوے وُو، هره نیکی ښکاره ښکاره بیان کړے شوے وه، یو مکمل دعمل نظام ورکړے شوے وُو، په دے وجه درسالت او د نبوت سلسله ختمه کړے شوه، او کوم کار چه به رومبے دنبی اورسول نه اخستلے شو، هغه تر قیامته پورے اُمتِ محمدیه ته اُوسپارلے شو۔

كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ؕ (آل عمران۔ ع ۱۲)

اے اُمتِ محمدیه! تاسو بهترین اُمت یئ، تاسو دخلقو دفائدے دپاره لیږلے شوی یئ، تاسو ښے خبرے په خلقوکښ خورَوئ او دبدو خبرو نه یے منع کوئ، او په الله تعالیٰ ایمان ساتئ۔

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۞ (آل عمران۔ ع ۱۱)

او پکار دی چه تاسوکښ یو داسے ډله وی چه خلق خیر طرفته رابلی، او دښو خبرو حکم کوی او دبدو خبرو نه منع کوی، او صرف دغه خلق کامیاب دی (څوک چه دا کارکوی)

رومبی ایت کښ دخیرِ اُمم کیدو وجه یے دا اُوخودله، چه تاسو نیکی خورَوئ، او دبدو نه منع کوئ۔ په دویم ایت کښ یے په خصوصیت سره اُفرمایل چه کامیابی او ترقی صرف هغے خلقو دپاره ده، چه څوک دا کارکوی، په دے بس نه، بلکه بل ځای کښ یے په صفا طور بیان اُوکړے شو، چه دا کار نه کول د لعنت او د ملامتیا سبب دے۔

لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ۞ كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ

بنی اسرائیلوکښ چه کوم خلق کافران وُو په هغوی لعنت کړے شوے وُو د داؤد او عیسیٰ بن مریم علیهما السلام په ژبه سره۔ دالعنت له دے سببه اُوشو، چه هغوی دحکم مخالفت اُوکړه، او دحده اُووَتل، کوم بدکار چه هغوی

لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُوْنَ ٥ (مائده - ع ١١) کولو هغه نه په نه منع کیدل، واقعی د هغوی دا کار بې شکه نا کاره وو.

ددې اخری آیت زیات وضاحت دلاندینی حدیثونو نه کیږی.

(١) وَفِي السُّنَنِ وَالْمُسْنَدِ مِنْ حَدِيْثِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم اِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانَ اِذَا عَمِلَ الْعَامِلُ فِيْهِمْ بِالْخَطِيْئَةِ جَاءَهُ النَّاهِيْ تَعْزِيْرًا فَقَالَ يَاهٰذَا اتَّقِ اللهَ فَاِذَا كَانَ مِنَ الْغَدِ جَالَسَهُ وَاٰكَلَهُ وَشَارَبَهُ كَاَنَّهُ لَمْ يَرَهُ عَلٰى خَطِيْئَةٍ بِالْاَمْسِ فَلَمَّا رَاٰى عَزَّ وَجَلَّ ذٰلِكَ مِنْهُمْ ضَرَبَ قُلُوْبَ بَعْضِهِمْ عَلٰى بَعْضٍ ثُمَّ لَعَنَهُمْ عَلٰى لِسَانِ نَبِيِّهِمْ دَاوٗدَ وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ لَتَاْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ وَلَتَاْخُذُنَّ عَلٰى يَدِ السَّفِيْهِ وَلَتَاْطُرُنَّ عَلَى الْحَقِّ اَطْرًا اَوْ لَيَضْرِبَنَّ اللهُ قُلُوْبَ بَعْضِكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ثُمَّ يَلْعَنُكُمْ كَمَا لَعَنَهُمْ.

دحضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل چه د تاسو نه رومبنی اُمتونو کښې چه به کله چا گناه اُوکړه، تو منع کونکی به هغه ویرولو، اَو ورته به یې ویل چه د الله تعالیٰ نه ویریږه، بیا صبا ته به یې هغه سره ناسته پاسته خوراک څښاک کولو، گویا پرون یې هغه په گناه کولو اَو نه لیدلے وو. هرکله چه الله جل شانهٗ د هغوی دا معامله اُولیده، نو د بعضو زړونه یې د بعضو سره گډ کړل او د هغوی د نبی داؤد او عیسٰی بن مریم علیهما السلام په ژبه یې په هغوی لعنت اُوکړو او دا دې د پاره چه هغوی د الله تعالیٰ نافرمانی اُوکړه، او دحد نه اُووتل. قسم دے په هغه پاک ذات چه د چا په قبضه کښې د محمد (صلی الله علیه وسلم) ساه ده، تاسو ضرور د ښو خبرو حکم کوئ، او د بدو خبرو نه منع کوئ، او بد کار د ه چه د بے وقوفه نادان لاس اُونیسئ، هغه په حقه خبره مجبوره کړئ، گنی الله تعالیٰ به ستاسو زړونه هم گډ وډ کړی. او بیا به په تاسو هم لعنت اُوشی، څنګه چه په رومبنو اُمتونو لعنت شوے وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

(٢) وَفِيْ سُنَنِ اَبِيْ دَاوُدَ وَابْنِ مَاجَةَ عَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَقُوْلُ مَا مِنْ رَجُلٍ يَكُوْنُ فِيْ قَوْمٍ يَعْمَلُ فِيْهِمْ بِالْمَعَاصِيْ يَقْدِرُوْنَ عَلٰى اَنْ يُّغَيِّرُوْا عَلَيْهِ وَلَا يُغَيِّرُوْنَ اِلَّا اَصَابَهُمُ اللهُ بِعِقَابٍ قَبْلَ اَنْ يَّمُوْتُوْا۔

د حضرت جریر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل که چرے په یوه ډله او قوم کښې څوک ګناه کوی او دغه قوم سره د طاقت هغه نه منع کوی نو په دوی به د مرګ نه وړاندے الله جل شانهٗ خپل عذاب راولیږی یعنی په دُنیا کښې به هغوی په قسما قسم مصیبتونو کښې ګرفتار کړے شی۔

(٣) وَرَوَى الْاَصْبَهَانِيُّ عَنْ اَنَسٍ رضي الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لَا تَزَالُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ تَنْفَعُ مَنْ قَالَهَا وَتَرُدُّ عَنْهُمُ الْعَذَابَ وَالنِّقْمَةَ مَالَمْ يَسْتَخِفُّوْا بِحَقِّهَا قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَا الْاِسْتِخْفَافُ بِحَقِّهَا قَالَ يَظْهَرُ الْعَمَلُ بِمَعَاصِي اللهِ فَلَا يُنْكَرُ وَلَا يُغَيَّرُ۔

د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اُوفرمایۀ چه همیشه کلمه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله خپل ویونکی ته نفع ورکوی او د هغۀ نه عذاب او بلا لرے کوی، تر څو پورے چه د دے د حقونو نه بے پرواهی اُونکړے شی. صحابه رضی الله عنهم عرض اُوکړۀ چه د دے د حقونو نه بے پرواهی څۀ ده؟ نبی صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل چه د الله جل شانهٗ نافرمانی ښکاره طور کیږی، بیا نۀ د هغے نه انکار اُوکړے شی او نۀ د هغے د بندولو کوشش اُوکړے شی۔

(ترغیب)

(٤) عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَعَرَفْتُ فِيْ وَجْهِهٖ اَنْ قَدْ حَضَرَهٗ شَيْءٌ فَتَوَضَّأَ وَمَا كَلَّمَ اَحَدًا فَلَصِقْتُ بِالْحُجْرَةِ اَسْتَمِعُ مَا يَقُوْلُ فَقَعَدَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَحَمِدَ اللهَ وَاَثْنٰى عَلَيْهِ وَقَالَ يَا اَيُّهَا

حضرت عائشه رضی الله عنها وائی چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ما کره راغے، نو ما لیدے په مخ مبارک یو خاص اثر اُولیدۀ، محسوس مے کړه، چه څۀ ضروری خبره پیښه شوے ده۔ نبی صلی الله علیه وسلم هیڅ سره څۀ خبرے اُونکړے، او اودس یے اُوکړو، جمات ته لاړو، زۀ د جمات دیوال سره نزدے شومه، چه څۀ ارشاد

النَّاسُ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى يَقُوْلُ لَكُمْ مُرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ قَبْلَ اَنْ تَدْعُوْا فَلَا اُجِيْبَ لَكُمْ وَتَسْئَلُوْنِىْ فَلَا اُعْطِيَكُمْ وَتَسْتَنْصِرُوْنِىْ فَلَا اَنْصُرَكُمْ فَمَا زَادَ عَلَيْهِنَّ حَتّٰى نَزَلَ (ترغيب)

فرمائی هغه واورم۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په منبر کښيناستو، اودحمد وثنا نه پس يې اوفرمايل خلقو! الله تعالىٰ حکم دے چه دښو کارونو حکم کوئ اود بدو کارونو نه منع کوئ، هسې نه چه هغه وخت راشي چه تاسو دُعا غوارئ اَوزه يې نه قبلوم، اوسوال کوئ اوزه ستاسو سوال نه پوره کوم اوتاسو ما نه مدد غوارئ اَوزه ستاسو مدد نه کوم۔ نبی صلی الله علیه وسلم بس دا کلمے اُووئيلے، اودمنبر نه راکوز شو۔

(۵) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم اِذَا عَظَّمَتْ اُمَّتِىَ الدُّنْيَا نُزِعَتْ مِنْهَا هَيْبَةُ الْاِسْلَامِ وَاِذَا تَرَكَتِ الْاَمْرَ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّهْىَ عَنِ الْمُنْكَرِ حُرِمَتْ بَرَكَةَ الْوَحْىِ وَاِذَا تَسَابَّتْ اُمَّتِىْ سَقَطَتْ مِنْ عَيْنِ اللّٰهِ۔ (كذا فى الدر عن الحكيم الترمذى)

دحضرت ابوهريرة رضی الله عنه نه روايت دے چه سردارِ دوجهان صلی الله علیه وسلم ارشاد اُوفرمائيه چه کله زما اُمت دُنيا لره قابله دعزت او دعظمت اُوکنړی، نو داسلام عزت او هيبت به ددوی دزړونو نه اُوزی۔ اوکله چه اَمر بالمعروف اونهی عن المنکر پريږدی نو دوحی دبرکتونو نه به محروم شي۔ اوکله چه په خپلو کښ يوبل ته کنځل بد رد ويل اختيار کړی، نو دالله جل شانهٗ د نظر د رحمت نه به پريوزی۔

ذکرشوی حديثونو باندے غورکولو نه داخبره معلومه شوه، چه اَمر بالمعروف اونهی عن المنکر پريخودل دالله تعالىٰ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ دلعنت اودغضب سبب دے۔ اوهرکله چه اُمتِ محمديه دا کار پريږدی، نو سختو مصيبتونو اوتکليفونو اَوذلت وخوارئ کښ به اَختة کړے شي اودهر قسمه غيبی مدد اونصرت نه به محرومه شي، اوداټول هرڅهٔ به دے دپاره کيږی چه دهٔ خپل فرض منصبی اُونهٔ پيژندهٔ ريعنی ددے اُمت په ذمه چه کوم کار ضروری اوفرض وؤ، هغه يې اُونکړو) اودکوم کار سرته دررسولو ذمه داری وه د هغې نه غافله شو۔ هم داوجه ده چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اَمر بالمعروف اونهی

عن المنكر دایمان خاصیت اولازمي حصه گرزولے ده، اوددے پریخودل یے د ایمان دضُعف اودکمزورتیا نښه خودلے ده.

دابو سعید خُدري رضي الله عنه حدیث کښ دي.

مَنْ رَاٰی مِنْکُمْ مُنْکَرًا فَلْیُغَیِّرْهُ بِیَدِهٖ فَاِنْ لَّمْ یَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهٖ فَاِنْ لَّمْ یَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهٖ وَذٰلِكَ اَضْعَفُ الْاِیْمَانِ (مسلم)

یعني پتا سوکښ چه کله څوك بدي اُویني نویکار دي چه دخپلو لاسونو نه کار واخلي هغه لرے کړي، اوکهٔ ددے طاقت یے نوي، نو په ژبه سره، اوچرے ددے یے هم طاقت نهٔ وي، نو په زړهٔ سره (دِ بدا اُوګڼړي) اودا اٰخري حالت دایمان ډیره کمزورے درجه ده.

پس څنګه چه اٰخري درجه اَضْعَفُ الایمان (یعني دټولونه دکمزوري ایمان) شوه - دغسے رومبۍ درجه دکمالِ دعوت اودکمالِ ایمان شوه - ددے نه هم زیاتِ واضح حدیث دابنِ مسعود رضي الله عنه دے.

مَا مِنْ نَبِیٍّ بَعَثَهُ اللّٰهُ قَبْلِیْ اِلَّا کَانَ لَهٗ فِیْ اُمَّتِهٖ حَوَارِیُّوْنَ وَاَصْحَابٌ یَاْخُذُوْنَ بِسُنَّتِهٖ وَیَقْتَدُوْنَ بِاَمْرِهٖ ثُمَّ اِنَّهَا تَخْلُفُ مِنْ بَعْدِهِمْ خُلُوْفٌ یَقُوْلُوْنَ مَا لَا یَفْعَلُوْنَ وَیَفْعَلُوْنَ مَالَا یُؤْمَرُوْنَ فَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِیَدِهٖ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِلِسَانِهٖ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِقَلْبِهٖ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَیْسَ وَرَاۤءَ ذٰلِكَ مِنَ الْاِیْمَانِ حَبَّةُ خَرْدَلٍ - (مسلم)

یعني دالله جل شانهٗ طریقه داره چه هر یو نبي دخپلو ملګرو اوتربیت شوي یارانو یوه ډله پریږدي، داډله دنبي سنت قائم ساتي او صحیح صحیح دهغهٔ تابعداري کوي، یعني شریعتِ الٰهي چه په کوم حال اوپه کوم شکل کښ نبي پریخودلے وي، هغه هم هغه شان محفوظ ساتي، اوپه هغے کښ ذره برابر فرق هم نهٔ راولي، خودے نه پس به دشر اود فتنو زمانه راشي، اودا سے خلق به پیدا شي چه دنبي دطریقے نه به لرے کیږي، دهغوي کار به دهغوي ددعوے نه خلاف وي، اود هغوي کارونه به داسے وي چه دهغے به شریعت حکم نهٔ وي ورکړے - نو دداسے خلقو

خلاف چه څوك دحق اودسنت قائمولو په لارکښ دخپل لاس نه کار

داخلی هغه مؤمن دے، اوکهٔ څوک داسے اُونکړی خو زړے ته کاروا خلی، هغه هم مؤمن دے. اوکهٔ دچا نه دا هم نهٔ کیږی، او د زړهٔ عقیده او دنیت مضبوطی یے دهغهٔ خلاف په کارکښ راوستهٔ، هغه هم مؤمن دے، خو دد ے اخری درجے نه پس د ایمان هیڅ درجه نشته. په دِے د ایمان حد ختمیږی، تردے چه اُوس د اُوری ددانے برابر هم ایمان نهٔ شی پاتے کیدے.

ددے کار اَهمیت او ضرورت امام غزالی رحمۃ اللہ علیہ دا رنګے بشکاره کړے دے. "په دے کښ هیڅ شك نشته چه اَمر بِالمَعرُوف او نهی عَنِ المُنکر ددین یو دا سے زبردست رُکن دے چه دِے سره ددین ټول څیزونه تړلی دی. ددے دکولو د پاره الله جل شانهٔ ټول انبیاءِ کرام علیهم السلام رالیږلی دی. الله مکره، ددینه بے پرواهی اُوکړے شی، او ددے عِلم او عمل پریخودلے شی، نو اَلعِیَاذُ بِالله (په الله تعالیٰ سره پناه) د نبوت به بے کاره کیدل لازم شی. دینداری چه د انسانی شرافت خاصیت دے، کمزورے اُو مړاوے به شی، سُستی به عامه شی، دګمراهئ او ضلالت لار به پرانستلے شی. جهالت به ټوله دُنیا کښ خور شی. په ټولو کارونو کښ خرابی راشی، په خپلو کښ به بے اِتفاقئ دُشمنئ پریوزی، آبادئ به خرابے شی. مخلوق به تباه او برباد شی. او ددے تباهئ او بربادئ به هغه وخت پته اُولګی چه کله دمحشر په ورځ د الله جل شانهٔ مخکښ پیشی اَو تپوس اُوشی.

افسوس صد افسوس چه کومه خطره وه، مخے له راغله، کومه ویره وه سترګو اُولیده. کَانَ اَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا مَقْدُوْرًا ○ فَاِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ ○

ددغے شنے ستنے د علم او عمل نښے وُرانے شوے، دهغے حقیقت او د رسمونو برکتونه فنا شول، دخلقو د سپکولو او ذلیل کولو مُهر په زړونو اُولګیدهٔ. د الله پاك سره د زړهٔ تعلق ختم شو، او د نفسانی خواهشاتو په تابعدارئ کښ دځناورو په شان بے باکه شول، په مخ د زمکے د داسے رښتنی مؤمن موندل ګران او کمُوت ته، بلکه اَو وشته نه. چه دحق بشکاره کولو په وجه د چا ملامتیا برداشت کړی. که څوك مردِ مؤمن ددے تباهئ او بربادئ لرے کولو اِراده اُوکړی، او ددے سنت په ژوندی کولو کښ کوشش کوی، او دا مبارك پیتے واخلی، اُودریږی، اَو لسنونړی راوُنغاړی. ددے سنت په ژوندی کولو کښ

Maktaba Tul Ishaat.com

میدان ته راشي، نو یقیناً دغه کس به په ټول مخلوق کښې دیو امتیازي حیثیت او د ښکاره هستئ مالک وي.

امام غزالي رحمة الله علیه چه په کومو الفاظو د دے کار اهمیت او ضرورت بیان کړے دے، هغه زمونږ دپیدا رولو دپاره کافي دے. زمونږ د دے دومره ضروري فریضے نه دغافلید و څو وجے معلومیږي.

اوله وجه داده چه مونږ دا فریضه عالمانو پورے خاص کړے ده حال داچه دقرآنِ پاک خطابات عام دي چه دامتِ محمدیه هرهر فرد ته شامل دي او دصحابه کرامو رضي الله عنهم او دخَیْرُ الْقُرُوْن ژوند د دے دپاره (یو) انصاف دار ګواه دے.

دتبلیغ فریضه او اَمْر بِالْمَعْرُوْف او نَهِيْ عَنِ الْمُنْکَر عالمانو پورے خاص کول، او بیا دهغوی په راړه دا ضروري کار پرېښودل زمونږه سخته ناپوهي ده دعالمانو کار حقه او نیغه لار خودل دي، بیا دهغې موافق عمل کول او دالله تعالی مخلوق په هغې رَوَانول دا دنورو خلقو کار دے. دے طرف ته په دے حدیث شریف کښې خبردارے کړے شوے دے.

اَلَا کُلُّکُمْ رَاعٍ وَکُلُّکُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِیَّتِهٖ فَالْاَمِیْرُ الَّذِیْ عَلَی النَّاسِ رَاعٍ عَلَیْهِمْ وَهُوَ مَسْئُوْلٌ عَنْهُمْ وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلٰی اَهْلِ بَیْتِهٖ وَهُوَ مَسْئُوْلٌ عَنْهُمْ وَالْمَرْاَةُ رَاعِیَةٌ عَلٰی بَیْتِ بَعْلِهَا وَوَلَدِهٖ وَهِیَ مَسْئُوْلَةٌ عَنْهُمْ وَالْعَبْدُ رَاعٍ عَلٰی مَالِ سَیِّدِهٖ وَهُوَ مَسْئُوْلٌ عَنْهُ فَکُلُّکُمْ رَاعٍ وَکُلُّکُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِیَّتِهٖ.
(بخاري و مسلم)

بے شکه تاسو ټول په ټول نګهبانان یئ، او تاسو نه به دخپل رعیت په باره کښې سوال کولے شي. پس بادشاه په خلقو نګهبان دے، د هغهٔ نه به دخپل رعیت په باره کښې سوال کولے شي. او سړے دخپل کور په خلقو نګهبان دے، او د هغهٔ نه به د دے باره کښې سوال کولے شي. او ښځه دخپل خاوند په کور او په اولاد نګهبانه ده، د هغې نه به دے باره کښې سوال کولے شي. او غلام دخپل مالک په مال نګهبان دے د هغهٔ نه به دے باره کښې سوال کولے شي. پس تاسو ټول نګهبانان یئ، او تاسو ټولو نه

په دخپل رعیت باره کښې سوال کولے شي.

او هم دلیے پوره په وضاحت دارنگے بیان کړے دے.

قَالَ اَلدِّیْنُ النَّصِیْحَۃُ قُلْنَا لِمَنْ قَالَ لِلّٰہِ وَلِرَسُوْلِہٖ وَ لِاَئِمَّۃِ الْمُسْلِمِیْنَ وَعَامَّتِھِمْ

نبی اکرم صلی اللہ علیہ وسلم اُو فرمایل دین سراسر نصیحت دے (صحابه رضی اللہ عنهم) عرض اوکړو چا دپاره؟ دے فرمایل اللہ تعالیٰ دپاره، اود رسول دهغهٔ دپاره، او دمسلمانانو دمشرانو دپاره، او دعامو مسلمانانو دپاره".

کهٔ فرض کړو، دا اُومنلے هم شي چه دا دعالمانو کار دے، بیا هم داوخت دزمانے دماحول ضرورت دادے چه هر څوک په دے کار کښې اُولګي اود اِعلاءِ کلمۃ اللہ اود دین اسلام دحفاظت دپاره ملا اُوتړي.

ددیمه وجه داده چه مونږه دا ګڼړو، کهٔ چرے مونږه په خپل ایمان کښې مضبوط یُو، نو دنورو ګمراهي زمونږ دپاره نقصاني نه ده، لکه څنګه چه ددے ایت شریفه مفهوم (مطلب) دے.

یٰاَیُّھَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا عَلَیْکُمْ اَنْفُسَکُمْ لَا یَضُرُّکُمْ مَّنْ ضَلَّ اِذَا اھْتَدَیْتُمْ (مائده ع ۱۴)

اے ایمان والو! خپل فکر کوئ، هر کله چه تاسو په لار روان یئ، نو چه څوک ګمراه دے، هغهٔ نه تاسو ته هیڅ نقصان نشته. (بیان القرآن)

خو په حقیقت کښې دایت مقصود دا نه دے، کوم چه په ظاهره ترے معلومیږي ځکه چه دا معنیٰ دحکمتِ اِلٰهیه اود تعلیماتِ شرعیه ته بیخي خلاف ده. اِسلامي شریعت، اجتماعي ژوند او اجتماعي اِصلاح او اجتماعي ترقي اصل خودلے ده، او اُمتِ مسلمه یے په شان دیو بدن ګرځولے دے. کهٔ چرے په یو اندام کښې درد شي، نو ټول بدن بے ارامه شي.

خبره په اصل کښې داده چه هر یو اِنسان خواه هر څومره ترقي اوکړي او کمال ته اُورسي، په دوي کښې دا سے خلقو موجود کیدل هم ضروري دي چه نیغه لار پریږدي ګمراهئ کښې اَخته شي، نو ایت کښې مؤمنانو دپاره تسلي ده، چه کله تاسو هدایت او صراطِ مستقیم باندے قائم یئ، نو

Maktaba Tul Ishaat.com

تاسو ته د هغځ خلقونه د ضرر رسیدو په برخه نشته، کوم چه بې لارے شوي نیغه لار یې پرېخوده.

دغه اصل هدایت دادے چه انسان شریعتِ محمدیه لره سره د ټولو احکامو قبول کړي، او د هغه ټولو احکاماتِ الهیونه یو اَمَر بِالْمَعْرُوف او نَهِي عَنِ الْمُنْکَر هم دے. زمونږ د دے قول مرسته د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د ارشادونه کیږي.

عَنْ اَبِیْ بَکْرِ الصِّدِّیْقِ رضی الله عنه قَالَ اَیُّهَا النَّاسُ اِنَّکُمْ تَقْرَءُوْنَ هٰذِهِ الْاٰیَةَ یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا عَلَیْکُمْ اَنْفُسَکُمْ لَا یَضُرُّکُمْ مَنْ ضَلَّ اِذَا اهْتَدَیْتُمْ فَاِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم یَقُوْلُ اِنَّ النَّاسَ اِذَا رَاَوُا الْمُنْکَرَ فَلَمْ یُغَیِّرُوْهُ اَوْشَکَ اَنْ یَّعُمَّهُمُ اللّٰهُ بِعِقَابِهٖ

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه اُوفرمایل، اے خلقو! تاسو دا ایت یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا عَلَیْکُمْ اَنْفُسَکُمْ لَا یَضُرُّکُمْ مَنْ ضَلَّ اِذَا اهْتَدَیْتُمْ پیش کوئ او ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اَوریدلی دي چه هر کله خلق د شریعت نه خلاف څه څیز اُویني او هغه بدل نه کړي، نو نزدے دہ، چه الله جل شانهٗ دغه خلق په خپل عمومي عذاب کښې گرفتار کړي.

تحقیق کوونکو عالمانو د دے ایت هم دا معنیٰ اخستلے دہ. امام نووي رحمه الله په شرح مسلم کښې فرمائي.

د تحقیق کوونکو عالمانو صحیح مذهب د دے ایت په معنیٰ کښې دادے چه کله تاسو هغه څیز ادا کړئ چه د کوم تاسو ته حکم درکړے شوے دے، نو د نورو خلقو کمزوري به تاسو ته نقصان نه رسوي، څنګه چه د الله تعالیٰ ارشاد دے. وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰی. او هر کله چه داسے دہ، نو د هغځ ټولو څیزونو نه چه د کوم حکم ورکړے شو. اَمَرْ بِالْمَعْرُوْف او نَهِي عَنِ الْمُنْکَر دے پس کله چه چا دا حکم پوره کړو، او مخاطب د دے تعمیل اُونکړو، نو اوس په نصیحت کوونکي هیڅ ملامتیا او الزام نشته، ځکه چه کوم څه د دهٔ په ذمه واجب وُو، هغه دهٔ ادا کړل، د نورو قبلول د دهٔ په ذمه نه دي. وَاللّٰهُ اَعْلَمُ.

د دې وجه دا ده چه عوام او خواص، عالم او جاهل هر کس د اصلاح نه نا اُمیده شوید ے او ددوی دا یقین جوړ شوید ے چه اُوس د مسلمانانو ترقی او ددوی اُوچتوالے ناممکن او ګران دے. هر کله چه د چا مخکښ څه اِصلاحی نظام پیش کړے شی نو دا جواب ورکوی چه د مسلمانانو ترقی اُوس څنګه کیدے شی. چه نهٔ ورسره سلطنت او حکومت شته، نهٔ مال او زر شته، نهٔ د جنګ سامان او نهٔ مرکزی حیثیت، نهٔ د متو قوت او نهٔ خپل مینځ کښ اتفاق او اتحاد خصوصًا دیندارے طبقے خو په خپل ګمان دا فیصله کړے ده چه اوس څوارلسمه صدئ ده، د زمانے د رسالت نه لرے شوی یُو. اوس د اسلام او د مسلمانانو زوال یو لازمی څیز دے، نو دے دپاره کوشش کول عبث او بے کاره کار دے. دا صحیح ده چه څومره قدر دے د نبوت د زمانه لرے والے کیږی، د حقیقی اسلام شغلے په کمیږی، خو د دے مطلب دا هیڅ کله نهٔ دے، چه د شریعت د باقی پاتے کیدو او د دینِ محمدی د حفاظت دپاره محنت او کوشش نشی کیدے. څکه چرے داسے وَے، او زمونږ پخوانو مشرانو رحمهم الله مکرر داسے ګڼلے وے، نو نن به مونږ پورے د دے دین د رارسیدو هیڅ لاره نهٔ وه. البته چه زمانه نا موافقه ده، نو د زمانے رفتار ته دِ اُدرکتلے شی، او په زیات همت او استقلال سره دا کار اخستلے د کولو ضرورت دے.

دغیرا انتیا خبره ده چه د کوم مذهب بنیاد سراسر عمل په قربانئ باندے جوړ شوے وُو، نن د هغے مذهب منونکی د عمل نه سرا سر خالی دی. حال دا چه قرآن مجید او حدیث کښ ځائ په ځائ د عمل او د قربانئ سبق لولے اَو خورلے شوے دے. چه یو عبادت ګنړ ار تو له شپه نفل کونکے، تو له ورځ روژه نیونکے، الله الله کونکے هیڅ کله د هغے کس برابر نشی کیدے، څوک چه د نورو د اِصلاح او د هدایت په فکر کښ بے ارامه وی.

قرآن کریم ځائ په ځائ د جهاد فِيْ سَبِيْلِ اللهِ نا کید او د مجاهد فضیلت اَو اُوچتوالے بنکاره کړے دے.

لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ	برابر نهٔ دی هغه مسلمانان چه بغیر د څهٔ عذره کورونو کښ ناست وی او هغه خلق

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۭ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ۭ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ۭ وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝ دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝

(النساء ـ ع ۱۳)

خوك چه د الله تعالىٰ په لاركښ خپل مال اوځان سره جهاد كوى. الله تعالىٰ دغے خلقو درجه ډيره زياته اُوچته كړے ده، كوم چه په خپل مال ځان سره جهاد كوى په نسبت كوركښ دناستوخلقو نه، او ټولو سره الله تعالىٰ د ښه كور وعده كړے ده، او الله تعالىٰ مجاهدينوته په مقابله كوركښ دناستو خلقو اَجرِ عظيم وركړے دے، يعنى ډيرے درجے په د الله تعالىٰ له طرفه وركړے شى او مغفرت او رحمت هم. او الله تعالىٰ د لوئ مغفرت او رحمت مالك دے.

اگرچه ايت كښ د جهاد نه مراد د كفارو په مقابله كښ ښه كلک او مضبوط اُودريدل دى، د پاره د دے چه د اسلام خبره اُوچته وى، او كفر و شرك لاندے او كمزورے وى. خو كه چرے په قسمتئ سره نن مونږ د دے لوئ نيک بختئ نه محرومه يُو، نو د دے مقصد د پاره چه څومره قدرے كوشش اَو قربانى زمونږ د وَس او طاقت كښ وى، په هغے كښ هرگز كمے نه دے كوَل پكار. بيا زمونږ دا معمولى حركت، عمل او كوشش كښ به مونږ په راخكلو راخكلو مخكښ اُورسوى. وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۭ يعنى كوم خلق چه زمونږ د دين په لاركښ كوشش كوى، مونږ د هغوى د پاره خپلے لارے پرانزو.

د دے كښ شک نشته چه د دينِ محمّدى د باقى ساتلو او د حفاظت كولو الله تعالىٰ وعده كړے ده، خو د دے د اُوچتوالى او ترقئ د پاره زمونږ عمل او كوشش هم ضرورى دے. صحابه كرام رضى الله عنهم چه د دے د پاره څومره ډير كوشش اوكړو، هغومره يے د هغے فائدے هم اُوليدے، او غيبى امداد سره سرفرازه شو. مونږ هم د هغوى نوم اخستونكى يُو. كه چرے اُوس هم د هغوى په نقش قدم د تلو كوشش اُوكړو، او د اِعلاء كلمة الله او د اسلام د

خوروُلو د پاره ملا اُوتړو، نو یقیناً مونږ ګا به هم د الله تعالیٰ غیبی امداد سره سرفراز شو. اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ط (محمد ع ۱) که چرے تاسو د الله د دین مدد اُوکړئ، نو الله تعالیٰ به ستاسو مدد اُوکړی، او ستاسو قدمونه به مضبوط کړی (په مقابله د دُشمن کښ چه شیطان او کافر دے).

خُلورمه وجه داده چه مونږ د اکثرو چه هرکله مونږ په خپله د دے خبرے پابند نه یُو، او د دے مرتبے اَهل نه یُو، نو نورو ته په کومه خُله نصیحت اُوکړو، خو دا د نفس بنکاره دهوکه ده، هرکله چه یو کار د کولو دے، او د الله تعالیٰ له طرفه مونږ ته د دے حکم شوے دے، نو بیا مونږ ته په دے کښ د روستو پاتے کیدو ګنجائش نشته، مونږ له دا د الله تعالیٰ حکم ګنړلو سره کار شروع کول پکار دی. بیا اِنشاء الله دا کوشش به زمونږ د طاقت، محکم والی او د اِستقامت سبب شی او د عیسے چه همیشه کوُو، یوه ورځ به د الله تعالیٰ د نزدیکت سعادت را ته نصیب شی. داخو کیدے نشی، چه مونږ دِ د الله تعالیٰ په کار کښ کوشش کوُو او هغه رحمٰن او رَحِیم دِ زمونږ طرف ته د مهربانئ نظر نهٔ کوی. زما د دے وینا مرسته د دے حدیث نه کیږی.

عَنْ اَنَسٍ رضی الله عنه قَالَ قُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَا نَامُرُ بِالْمَعْرُوْفِ حَتّٰى نَعْمَلَ بِهٖ كُلِّهٖ وَلَا نَنْهٰى عَنِ الْمُنْكَرِ حَتّٰى نَجْتَنِبَهٗ كُلَّهٗ فَقَالَ صلی الله علیه وسلم بَلْ مُرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَاِنْ لَّمْ تَعْمَلُوْا بِهٖ كُلِّهٖ وَانْهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَاِنْ لَّمْ تَجْتَنِبُوْهُ كُلَّهٗ.

(رواه الطبرانی فی الصغیر الاوسط)

حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے، چه مونږ عرض اُوکړو، اے د الله رسوله! مونږ د نیکو حکم نهٔ کوُو، ترخو پورے چه په ټولو (نیکو) په خپله عمل اُونکړو، او د بدو نه منع کوُل نهٔ کوُو، ترخو پورے چه د ټولو بدو نه بچ نهٔ شو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل، نه بلکه تاسو د ښو خبرو حکم کوئ، اګرکهٔ تاسو په خپله د هغے ټولو پابند نهٔ یئ. او د بدو نه منع کوئ اګرکهٔ تاسو په خپله د هغے ټولو نه نهٔ بچ کیږئ.

پنځمه وجه داده چه مونږه ګنړو چه ځائ په ځائ دینی مدرسو قائم دی، عالمانو وعظ او نصیحت کوُل، دخانقاهونو آبادیدل، د مذهبی کتابونو

Maktaba Tul Ishaat.com

تصنیف کیدل، درسالو جاري کیدل، دادا مر بالمعروف او نهي عن المنکر ځانګې دي، او ددې په ذریعه ددې فریضې ادا ئیګي کیږي. په دې کښ شک نشته چه ددې ټولو ادارو قائمول او باقي ساتل ډیر ضروري دي، او دې طرف ته توجه کول دضروري کارونو نه ده، ځکه چه ددین ځنې لږه ډیره رڼا چه ښکاري، دا هم ددې ادارو مبارک اثرات دي. خو بیا هم که چرې په غور سره اوکتلې شي نو زمونږ دموجوده ضرورت دپاره دا ادارې کافي نه دي، او په دې بس والې کول زمونږ ښکاره غلطي ده، ځکه چه ددې ادارو نه مونږ هغه وخت فائده اخستلې شو چه هرکله مونږ کښ ددین شوق او طلب موجود وي، او دمذهب عزت او عظمت وي. داوس نه پنځوس کاله وړاندې مونږ کښ شوق او طلب موجود وو، او ایماني رڼا ښکاریدله. ددې کېله ددې ادارو قیام زمونږ دپاره کافي وو. خو نن دغیر قومونو ډیر زیاتو کوششونو زمونږ اسلامي جذبات بیخي فنا کړل، او دطلب او رغبت په ځائ نن مونږ دمذهب نه تختیدونکې او بیزاره ښکارو. په داسې حالت کښ مونږ دپاره ضروري ده چه مونږ مستقل ځنې تحریک داسې شروع کړو چه په هغې عوامو کښ دین سره تعلق، شوق او رغبت پیدا شي، او ددوی اوده شوي جذبات بیدارشي. بیا به مونږه د دې ادارو نه دهغې دشان مطابق فائده حاصلولې شو. که دا نه وي او ددین نه بې رغبتي او بې توجهي په زیاتیدو وي، نو ددې ادارو نه فائده اخستل خو یو خوا ته ددې باقي پاتې کیدل به هم ګران شي.

شپږم مه وجه دا ده چه هرکله مونږ دا کار وا خلو، نو روته ورځو، نو هغوي ډیره په بده طریقه ملاویږي، او په سختئ جواب راکوي، او زمونږ سپکاوې بې عزتي کوي. خو مونږ ته معلومیدل پکار دي چه دا کار دانبیاء کرامو علیهم السلام دنیابت دې، او ددې مصیبتونو او تکلیفونو کښ ګیریدل ددې کار خاصیت دې، او دا اټول مصیبتونه او تکلیفونه بلکه ددې نه هم زیات انبیاء کرامو علیهم السلام په دې لار کښ برداشت کړي دي.

دالله جل شانه ارشاد دې.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِيْ | مونږه لیږلي دي رسولان تا نه مخکښ

شِيَعِ الْأَوَّلِيْنَ ○ وَمَا يَأْتِيْهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ○ (حجر ع ۱) | د پخوانو خلقو په ډلو کښې، او دوی ته به هیڅ یو رسُول نهٔ راتلو، خو دوی به هغوی پورے خندا کوله۔

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه د دعوتِ حق په لاره کښې څومره قدر رے زهٔ په مصیبتونو تکلیفونو کښې اچولے شوے یم، هیڅ یو نبی او رسول نهٔ دے اچولے شوے۔

پس هر کله چه سردار د دوارو جهانو او زمونږ آقا او مولا دا مصیبتونه او مَشَقتونه په صبر سره برداشت کړل، نو مونږ هم د هغوی تابعداریو، او هم د هغوی کار موا خستلے دے اُو د ریدلی یُو، مونږ له هم په دے مصیبتونو پریشانه کیدل نهٔ دی پکار، او په صبر سره دا برداشت کول پکار دی۔

د تیر شوی بیان نه دا خبره په ښهٔ شان معلومه شوه چه زمونږ اصل مرض د اِسلامی روح او د ایمانی حقیقت ضُعف او کمزوری تیاده - زمونږ اسلامی جذبات فنا شوی دی۔ او زمونږ ایمانی قوت زائل شوے دے، او هر کله چه اصل خیز اُوغورزیدهٔ، نو دے سره چه څومره صفتونه او نیکئ ترلے دے، د هغے غورزیدل هم لازمی اَو ضروری وُو، او د دے ضُعف او زوال سبب د هغے اصل خیز پریخودل دی چه په هغے د ټول دین د باقی پاتے کیدو دارومدار دے، او هغه اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْف دے۔ ښکاره خبره ده چه هیڅ یو قوم تر هغے وخته پورے ترقی نهٔ شی کولے، تر څو چه د هغے اَفراد ښهٔ صفتونو او کمالاتو سره ښائسته نهٔ شی۔

پس زمونږ علاج صرف دا دے چه مونږ د تبلیغ فریضه په داسے رنګے واخلو اُو د ریږو چه په هغے سره مونږ کښې ایمانی طاقت زیات او اسلامی جذبات را بیدا ر شی۔ مونږ الله تعالیٰ او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم اُو پیژنو، او د الله تعالیٰ حکمونو ته سر خکته کړو۔ او د دے دپاره به مونږ ته هغه طریقه اِختیارول پکار دی، کومه چه سَیِّدُ الْاَنْبِیَاءِ وَالْمُرْسَلِیْنَ د عربو د مشرکینو د اِصلاح دپاره اختیار کړے وه۔

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ | بے شکه ستاسو دپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم

Maktaba Tul Ishaat.com

أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ۔ (احزاب ۲۰) | کښې نمونه ده (دتابعدارئ)

هم دے طرف ته امام مالک رحمة الله علیه اِشاره فرمائی لَنْ يَّصْلِحَ اٰخِرَ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اِلَّا مَا اَصْلَحَ اَوَّلَهَا ۔ یعنې ددے اُمتِ محمدیه اٰخرکښې راتلونکو خلقو هیڅ کله اِصلاح نهٔ شي کیدے، ترڅو چه هغه طریقه اِختیار نهٔ کړے شي، په کومه چه په اِبتداءکښې اِصلاح شوے وه ۔

کوم وخت چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دحق دعوت دپاره اُودریدهٔ، ددې یواځے وُو، خوک یے ملګرے اوهم خیال نهٔ وُو، دُنیوی هیڅ طاقت ورسره نهٔ وُو ۔ د ددې په قوم کښې ضد او سرکشي اِنتهائي درجے ته رسیدلے وه، په هغوی کښې څوک حق خبرے اَوریدو او منلو ته تیار نهٔ وُو، خصوصًا دکومے حق کلمے د تبلیغ دپاره چه نبی علیه الصلوٰة اُودریدلے وُو، دهغے نه دټول قوم زړونه کرګه کوُنکي اَو بیزاره وُو ۔ په دے حالاتو کښې کوم طاقت وُو چه په هغے سره یو مفلس اونادار، بے یار او مددګار اِنسان ټول قوم خپل ځان طرفته راښکلو ۔ اوس غور اُوکړئ، چه اٰخر هغه څهٔ څیز وُو چه هغے طرفته نبی علیه الصلوٰة مخلوق راوُبلهٔ کوم کس چه دغه څیز بیا موندهٔ، هغه بیا دهمیشه دپاره ددوی شو ۔ دُنیا ته پته ده، چه هغه صرف یو سبق وُو چه ددوی دنظر مرکز او اصلی مقصود وُو چه هغه یے دخلقو مخکښې پیش کړو ۔

اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْئًا وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ (اٰل عمران ۔ ع ۷)	سِوا دالله تعالیٰ نه به مونږ دبل چا عبادت نهٔ کوُو، اوالله تعالیٰ سره به څوک شریک نهٔ جوړوُو ۔ او زمونږ نه به څوک بل چا له رب نهٔ جوړوی (چه الله تعالیٰ پریږدی)

دالله تعالیٰ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ نه سِوا دهر څیز دعبادت او اطاعت او فرمانبرداری نه یے منع اُوکړه، او ددُشمنانو ټول بندونه ادعلاقے یے بند کړے، او یو دعمل نظام یے مقرر کړو، او دے خود له، چه ددے نه لرے نهٔ شئ، بل طرف ته مخ نهٔ کړئ ۔

اِتَّبِعُوْا مَا اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖ	تاسو خلق دهغے تابعداری کوئ کوم چه تاسو ته ستاسو درب له طرفه راغلی دی

اَوْلِيَآءَ ط (اعراف، ع ۱) | او الله تعالیٰ نه سِوا د نورو خلقو تابعداری مکوئ.

هم دا هغه اَصل تعلیم وُو چه دده دخورَوَلود پاره نبی علیه الصلوٰة و السلام ته حکم ورکړے شوے وُو.

اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِىْ هِىَ اَحْسَنُ ط اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ (نحل - ع ۱۶)	اے محمد ﷺ! راوُبله خلق دخپل رب لارے ته په حکمت او نیک نصیحت سره او هغوی سره بحث کوه څۀ رنګے چه بهتر وی. بے شکه چه ستا رب پیرښه پیژنی هغه خوک چه ګمراه وی د هغهٔ دلارے نه، او هغه پیرښۀ پیژنی په لاره تلونکو لره.

او دا هغه لویه لاره وه چه نبی صلی الله علیه وسلم دپاره او د دوی دهر یو تابعدار دپاره مقرر کړے شوه.

قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِىْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تعالیٰ عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِىْ ط وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ٥ (یوسف - ع ۱۲)	اُووایه دا زما لاره ده رابلم الله تعالیٰ طرف ته بنۀ په پورا یقین، زۀ او چه څوموره زما تابعداردی، هغوی هم - الله تعالیٰ لره پاکی ده، او زۀ د شرک کوُنکو نه نۀ یم.
وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِىْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ٥ (حٰمٓ سجده - ع ۴)	او دهغهٔ نه بهتره خبره دچا کیدے شی، خوک چه الله طرف ته (خلق) رابلی، او نیک عمل کوی، اَووائی زۀ د مسلمانانو نه یم.

پس الله تعالیٰ طرف ته دهغهٔ مخلوق رابلل، لاره وُرك شوُو خلقو ته حقه لاره خودل، ګمراهانو ته دهدایت لاره خودل دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم د ژوند وظیفه او دهغوی اصل مقصد وُو، او ددے مقصد د ترقئ او تازګئ دپاره په زرګونو نبیان او رسولان رالیږلے شوی دی.

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِىْٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ	او مونږ ه نهٔ دی لیږلی ستا نه وړاندے خوك رسول، خو هغهٔ طرف ته مو دا

Maktaba Tul Ishaat.com

اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ ۝	دی لیږلے وو چه هیڅوک معبود نشته سوا
(انبیاء - ع ۲)	زمانه، پس زما عبادت کوئ۔

دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم په پاک ژوند او دانبیاء کرامو علیهم السلام د ژوند په پاکو ساعتونو چه نظروا چوَلے شی، نو معلومیږی چه د ټولو په نظر کښی مقصد او نَصْبُ الْعین صرف یو وو، او هغه د الله رَبُّ الْعَالَمِیْن وَحْدَهٗ لَاشَرِیْکَ لَهٗ د ذات او صفتونو یقین کول، هم دا د ایمان او د اسلام مفهوم او مطلب دے او هم دے دپاره اِنسان په دُنیا کښی راوُلیږلے شو۔ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَ الْاِنْسَ اِلَّا لِیَعْبُدُوْنِ ۝ یعنی مونږه پیریان او انسانان صرف دے دپاره پیدا کړی دی، چه د عبادت ژوند تیر کړی۔

اُوس هر کله چه د ژوند مقصد واضح شو او د اصل مرض او د هغے د علاج طریقه معلومه شوه، نو د علاج طریقه تجویز کولو کښی به زیات مشکلات نه پیښیږی، او د دے نظریے لاندے چه کومه د علاج طریقه اختیار کړے شی، اِنشاء الله فائده مند او سُودمند به وی۔

مونږ د خپلے ناپوهئ مطابق د مسلمانانو د کامیابئ او د فائدے دپاره یو د عمل نظام تجویز کړے دے، چه هغے ته په حقیقت کښی اِسلامی ژوند یا د پخوانو مشرانو د ژوند نمونه ویلے شی، چه د هغے مختصره نقشه ستاسو په خدمت کښی وُړاندے کوو۔

د ټولو نه ضروری او ړومبے خیز دا دے چه هر یو مسلمان د ټولو غرضونو او د دُنیوی مقصدونو نه نظر واړوی، او د اِعلاءِ کلمة الله او د اسلام د خورولو او د احکامِ الٰهی رواج او ترقی خپل مقصد او غرض جوړ کړی، او د دے خبرے پخه وعده اُوکړی، چه د الله تعالیٰ هر حکم به منم، او په هغے به د عمل کولو کوشش کوم، او هیڅ کله به د الله تعالیٰ نافرمانی نه کوم۔ او د دے مقصد د تکمیل دپاره یه په دے قاعدو کار کوم۔

① کلمه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ په صحیح الفاظو سره یادول او د دے په معنیٰ او مطلب ځان پوهول او په ذهن کښی د کښینولو کوشش کول او خپل پوره ژوند د دے موافق د جوړولو فکر کول۔

۲: دمونځ پابند کیدل چه ددے د اُدابو اود شرطونو لحاظ اُوساتلے شی اوخشوع خضوع سره أدا کؤل اوپه هرهر رُکن کښ د الله تعالیٰ دعظمت اود بزرګئ اوخپلے بندګئ اَوبے وسئ خیال کؤل. غرض داچه په دے کوشش کښ لګیدل، چه مونځ دارنګے أدا شی چه د الله ربّ العزت ددربار د حاضرئ د شان مناسب وی دداسے مونځ د کوشش کوی، اود الله تعالیٰ نه د ددے توفیق غواړی. که چرے د مانځه طریقه معلومه نهٔ وی، نو زده د کړی، اوپه مانځه کښ د لوستلو توړل څیزونه د یاد کړی.

۳: قرآن شریف سره ځان تړل، اود زړهٔ تعلق اومحبت پیدا کؤل چه د هغے دوه طریقے دی.

(الف) څهٔ وخت روزانه په ادب او احترام سره د معنیٰ او مطلب خیال ساتلو سره تلاوت کؤل. که چرے عالِم نهٔ وی اوپه معنیٰ او مطلب نهٔ پوهیږی، بیا هم بغیر معنیٰ پوهیدو د د قرآن شریف تلاوت کوی، او دا د ګنړی چه زما کامیابی او فائدهٔ په دے کښ پټه پرته ده. صرف د الفاظو لوستل هم لوئ سعادت دے اوسبب دخیر اوبرکت دے، خوکهٔ الفاظ هم نهٔ شی لوستلے، نو لږ وخت روزانه د قرآن شریف په تعلیم کښ لګول.

(ب) دخپلو بچو او د خپلے محلے اود کلی د هلکانو جینکو د قرآن مجید او د مذهبی تعلیم فکر کؤل اوپه هر کار باندے دے لره وړاندے ساتل.

۴: څهٔ وخت د الله تعالیٰ په یاد او ذکر او فکر کښ تیرؤل، او څهٔ لوستلو د پاره د چا پیر طریقت، متبع سنت نه پوښتنه اُوکړئ. ګنی دریمه کلمه سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ؕ او درود شریف او د استغفار یوه یوه تسبیح (یعنی سل سل واره) سحر او یوه یوه تسبیح ماښام د کوی. خو معنیٰ توجّه د زړهٔ محبت او اطمینانِ قلب سره د لولی، په حدیث کښ ددے ډیر زیات فضیلت راغلے دے.

۵: هر مسلمان خپل رور ګنړل، هغهٔ سره د همدردئ او د غم خوارئ معامله کؤل او د صفتِ اسلام په وجه د هغهٔ اَدب او عزت کؤل، او د داسے خبرو نه بچ کیدل چه د چا مسلمان رور د تکلیف او د ضرر رسولو سبب وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

ددے خبرو په خپله هم پابند شئ، اوکوشش کوئ چه هریو مسلمان ددې پابند جوړشي، چه دهغې طریقه داده چه په خپله هم څه رخت ددین دخدمت دپاره فارغ کړئ، اونوروته هم ترغیب ورکړئ، او ددین دخدمت اود اسلام د خورَولو دپاره یې تیارکړئ.

دکوم دین دخورَولو دپاره چه انبیاءِ کرامو علیهم السلام مشقتونه برداشت کړل قسما قسم مصیبتونوکښې مبتلا شول. صحابه کرامو رضی الله عنهم اوزمونږ بخوانی مشرانو خپل عمرونه په دے کښې اُولګول، اوله دے خاطره یې د الله تعالیٰ په لارکښې خپل ځانونه قربان کړل، نوددے دین دخورَولو او باقی ساتلو دپاره لږ وخت هم نهٔ فارغول لویه بدنصیبی اونقصان دے. اوهم داهغه ضروری فریضه ده چه دکومے دپرېښودو په وجه نن مونږ تباه او برباد یږو.

روښې به دمسلمانانو مطلب داګنړلے شو چه خپل ځان اومال، عزت اوابرو د اسلام خورَولو اود اعلاءِ کلمة الله په لارکښې اُولګوی، اوچاچه په په دے کښې کے کوَلو، هغه به لوئ ناپوهه ګنړلے شو. خوافسوس نن مونږته مسلمان ویلے شي، اوددین خبرے په خپلو سترګو وړلے وینو. بیا هم ددے دین دخورَولو اوباقی ساتلو دپاره کوشش نه کوو. غرض داچه د اِعْلَاءِ کَلِمَةُ الله اوددین اسلام خورَول کوم چه دمسلمان دژوند مقصد اَواصلی کاروُو، اودکوم سره چه زمونږ ددواړو جهانو کامیابي اوترقی تړلے ده، اودکوم په پرېښودو چه مونږه ذلیله اوخواریږو. اُوس بیا مونږ ته خپل اصلی مقصد اختیارَول پکاردی، اوداکار دخپل ژوند حصه اوحقیقی مشغله جوړَول پکاردی. چه بیا رحمتِ الٰهی په جوش کښې راشي اومونږ ته ددُنیا اودآخرت سُرخ رویي اوتازګی نصیب شي. ددے دا مطلب هرګز نهٔ دے، چه خپل ټول کاروبار پریږدُو، بلکې په دے کارکښې اُولګو. بلکه مقصد دادے چه څنګه نورُ دُنیوی ضرورتونه اِنسان سره لګیدلی دی او هغه سَرته رَسَوی، داکارهم ضروری اَو آهم اُوګنړی، اوددے دپاره وخت فارغ کړے شي. هرکله چه یو څو سړی ددے مقصد دپاره تیارشي، نو په هفته کښې څو ګهینټے خپله محله، اومیاشت کښې درے ورځے نزدے دګاونډ

ځایونو کښې او په کال کښې یو ه چله (څلویښت ورځې) لرے ځایونو کښې د کار کړی او کوشش کوئ چه هر یو مسلمان مالدار وی که غریب، تاجر وی که ملازم، زمیندار وی که کاشتکار۔ عالِم وی که جاهل۔ په دے کار کښې شریک شی او د دے کار ونو پابند جوړ شی۔

د کار کولو طریقه | کم نه کم دلسو سړو جماعت دِ تبلیغ د پاره اوزی، اول دِ خپلو کښې یو کس امیر جوړ کړی، او بیا دِ ټول په جماعت کښې جمع شی، او د اودا سه نه پس دوه رکعته نفل دِ اوکړی (په شرط د دے چه مکروه وخت نه وی) د مانځه نه پس دِ د الله تعالیٰ په دربار کښې منت زاری اوکړی۔ او نصرت او کامیابی او تائید الٰهی او توفیق الٰهی دِ طلب کړی، او د خپلے مضبوطیا او ثابت قدمئ دعا دِ اوغواړی۔ دعا نه پس په قلار او عزت رو رو د الله تعالیٰ ذکر سره دِ روان شی، او فضول خبرے دِ نه کوی۔ هرکله چه هغه ځائ ته اورسی کوم ځائ کښې چه تبلیغ کول وی، نو بیا دِ ټول راغونډ شی الله تعالیٰ نه دِ دعا اوغواړی، او په ټوله محله یا کلی کښې دِ ګشت اوکړی۔ اول دِ پیرے مونځ اوکړی، او بیا دِ ترے دے کارونو د پابندئ وعده واخلی، او په دِ طریقه کار کولو د پاره دِ تیار کړی، او دغه خلق دِ ځان سره واخلی، د نورو کورونو دروازو ته دِ لاړ شی په ژبه هم د هم مونځ اوکړی او د پابندئ تاکید د ورته اوکړی۔ کوم خلق چه دِ دے کار کولو ته تیار شی، د هغوی دِ یو جماعت جوړ کړے شی، او په هغوی کښې دِ یو تن د هغوی امیر مقرر کړے شی، او په خپله نګرانئ کښې دِ په هغوی کار شروع کړی، او بیا دِ هغوی د کار خیال ساتی۔ هر تبلیغ کونکی له پکار دی، چه د خپل امیر خبره په منی۔ او امیر له پکار دی، چه د خپلو ملګرو خدمت کولو، راحت رسولو، همت زیاتولو او همدردئ کښې دِ کمے نه کوی، او د مشورے قابل خبرو کښې دِ د ټولو نه مشوره اخلی د هغے موافق دِ عمل کوی۔

د تبلیغ اداب | دا کار د الله جل شانهٗ یو اهم عبادت او لوئ سعادت دے او د انبیاء علیهم السلام نیابت دے۔ کار چه څومره لوئ وی، هغو مره اداب غواړی۔ د دے کار نه مقصد د نورو هدایت نه دے، بلکه په خپله د

Maktaba Tul Ishaat.com

خپلې اِصلاح او دعُبُدِیّت (بندګئ) اِظهار او د الله تعالیٰ حکمونه په ځای راوړل او د الله تعالیٰ رضا لټول دی - پس پکار دی چه لاندې لیکلی شوی کارونه په ښهٔ شان ذهن کښې کښینوی، او د دے پابندی کوی -

① خپل ټول خرچ د خوړلو څکلو کرایه وغیره څومره پورے چه طاقت وی، په خپله برداشت کوئ، او که چرے طاقت او فراخی وی، نو خپل نادار، غریب ملګرو باندے هم خرچ کوئ -

② د خپلو ملګرو او د دے پاک کارګونکو خدمتګذاری او همّت افزائی خپل سعادت اُوګنړئ، او د هغوی اَدب او اِحترام کښې کمے مکوئ -

③ عام مسلمانانو سره ډیر په تواضُع او عاجزئ معامله ساتئ - خبره کولو کښې نرمه لهجه او د خوشامندئ اَرخ اِختیار رَوئ - هیڅ یو مسلمان ته د سپکاوی او نفرت په نظر مکورئ - خصوصًا د دین د عالمانو عزت او عظمت کښې کمے مکوئ، ځکه چه په مونږ د قرآن او حدیث عزت او عظمت، ادب او احترام واجب او ضروری دے - د غښے دوے پا کو هستو عزت او عظمت، ادب او احترام هم ضروری دے، کوم چه الله تعالیٰ خپل دے لوئ نعمت سره سرفرازه کړی دی - د علماءِ حق سپکوالے د دین د سپکوالی برابر دے چه د الله تعالیٰ د قهر وغضب سبب دے -

④ د فرصت خالی وختونه په ځای د دروغو، غیبت، جنګ، فساد، لوبو او تماشو، مذهبی کتابونو لوستلو او د مذهب پابند خلقو سره ناسته کښې تیروئ - چه په دے سره به د رته د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول صلی الله علیه وسلم خبرے معلومے شی - خصوصًا د تبلیغ په ورځو کښې د فضولو خبرو او د فضولو کارونو نه ځان ساتئ - او خپل فارغ وختونه د الله تعالیٰ په یاد او ذکر و فکر او درود و اِستغفار او د زده کړه او خودنه کښې تیروئ -

⑤ په جائزو طریقو حلاله روزی حاصلوئ، کم خرڅ کوئ او د خپل بال بچ او د نورو خپلوانو شرعی حقوق اَدا کوئ -

⑥ څهٔ اِختلافی مسئله او فروعی (خلافِ اصل) خبره مهٔ چیړئ بلکه صرف اصل توحید طرف ته دعوت ورکوئ، او د اَرکانِ اسلام تبلیغ کوئ -

۷: خپل ټول کارونه اُو دُنیا په خلوصِ نیت سره مُزیّن اوښائسته کوئ - په اِخلاص سره لږ عمل هم سبب دخیر اوبرکت اودېښو فائدو ذریعه جوړیږی - او بغیر اِخلاصه بې نه په دُنیا کښ څهٔ فائده راوزی، نه په آخرت کښ ورته اجروثواب ورکولے شي - حضرت مَعَاذ رضی الله عنه چه کله نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دیمن حاکم جوړکړهٔ، لیږلوبے - نو هغوی درخواست اوکړهٔ چه ما ته نصیحت اُوکړئ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اِرشاد اُو فرمایهٔ چه ددین په کارونوکښ د اِخلاص اهتمام ساته، چه اِخلاص سره (لږ) عمل هم کافی دے -

یوبل حدیث کښ اِرشاد دے چه الله جل شانهٔ په عملونوکښ صِرف هغه عمل قبلوی، چه خاص د هغهٔ دپاره کړے شوے وی - بل ځائ کښ ارشاد دے چه الله جل شانهٔ ستاسو شکلونو او ستاسو مالونوته نهٔ گوری، بلکه ستاسو زړونو او ستاسو عملونوته گوری، پس دهٔ ټولو نه ضروری او اصل څیز دادے چه دا کار په اِخلاص سره اُوکړے شي، د ریا او نمود په دے کښ دَخل نهٔ وی - څومره چه اِخلاص وی، هغومره به په کارکښ ترقی او تازگی وی د دے دستُورالعمل مختصره نقشه ستاسو دُوړاندے راغله، او د دے ضرورت او اَهمیت باندے کافی رڼړا واچولے شوه - خوکتل دادی چه موجوده تکلیفونو او پریشانئ او بے آرامئ کښ دا طریقهٔ کارکوم حَدَ پورے زمونږ رهبری کولے شي، او ترکومه زمونږ مشکلات لرے کولے شي - د دے دپاره په بیا مونږ له د قرآن شریف طرفته رجوع کول وی - قرآن کریم زمونږ د اکوشش یو سوُد مند تجارت خودلے دے، اود دے طرف ته یے درا ننگے ترغیب ورکړے دے -

یَآیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّکُمْ عَلٰی تِجَارَةٍ تُنْجِیْکُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِیْمٍ ۝ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِکُمْ وَاَنْفُسِکُمْ ط ذٰلِکُمْ خَیْرٌ لَّکُمْ اِنْ کُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝ یَغْفِرْ	اے ایمان والو! آیا زهٔ تاسو ته داسے تجارت اُوښایم، کوم چه تاسو یو دردناک عذاب نه بچ کړی - تاسو خلق الله تعالیٰ او دهغهٔ رسول صلی الله علیه وسلم باندے ایمان راوړئ او د الله تعالیٰ په لارکښ تاسو خپل مال او ځان سره جهاد کوئ - دا تاسو دپاره ډیره بهتره ده، که چرے تاسو څهٔ پوهه لرئ -

Maktaba Tul Ishaat.com

لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝ وَاُخْرٰى تُحِبُّوْنَهَا نَصْرٌ مِّنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ قَرِيْبٌ ط وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ (سورة الصف - ع ۲)

الله تعالیٰ به ستاسو ګناهونه معاف کړي او تاسو به داسې باغونو کښې داخل کړي چه د هغې د لاندې به وَلې بهیږي . او ښهٔ مکانونو کښې چه همیشه د اوسیدو باغونو کښې به وي - دا لویه کامیابي ده . او یوه بله هم ده چه تاسو یې خوښوئ . د الله تعالیٰ له طرفه مدد او زر فتح مونده ل . او تاسو مؤمنانو ته زیرے ورکړئ .

دے ایت کښې د یو تجارت تذکره ده چه د هغې رومبۍ فائده دا ده چه هغه د دردناک عذاب نه خلاصه ورکوونکے دے . هغه تجارت دا دے چه مونږ په الله تعالیٰ او د هغهٔ په رسول صلی الله علیه وسلم باندے ایمان راوړو . او د الله تعالیٰ په لار کښې خپل مال او ځان سره جهاد اوکړو - دا هغه کار دے چه مونږ د پاره په کښې سرا سر خیر دے ، که چرے مونږ کښې څهٔ هم عقل او پوهه موجود وی چه په دے اسان کار به مونږ ته څهٔ نفع راکړے شي ، چه زمونږ ټول غلطئ او کمزوری به یو دم معاف کړے شي ، او اخرت کښې به لویو لویو نعمتونو سره سرفرازه کړے شُو - دا هم ډیره لویه کامیابي او سرفرازي ده - خو په دے بس نهٔ دے ، زمونږ د خوښے څیز به هم مونږ ته راکړے شي ، او هغه د دُنیا خوشالي او نصرت و کامیابي او په دُشمنانو غلبه او حکومت کول دی .

الله جل شانهٔ مونږ نه د دوه ؤ څیزونو مطالبه کوی - اول دا چه مونږ په الله تعالیٰ او د هغهٔ په رسول صلی الله علیه وسلم باندے ایمان راوړو - دویم دا چه په خپل مال او جان سره د الله تعالیٰ په لار کښې جهاد اوکړو - او د دے په بدله کښې د دوه ؤ څیزونو زمونږ سره ضمانت اوکړهٔ اخرت کښې جنت او همیشه ارام او راحت ، او په دُنیا کښې نصرت او کامیابي - رومبے څیز چه زمونږ نه غوختونکے دے ، هغه ایمان دے - ښکاره خبره ده چه زمونږ د دے طریقے منشا او مطلب هم دا دے چه مونږ ته د حقیقي ایمان دولت نصیب شي -

دویم څیز چه زمونږ نه غوختونکے دے هغه جهاد دے - د جهاد اصل اګرچه

کافرانو سره جنګ او مقابله ده، خو په حقیقت کښ د جهاد غرض هم اعلاءِ کلمة الله او د الله تعالیٰ د احکامو چالُو کول او جاري کول دي، او هم دا زمونږ د تحريک اصلي مقصد دے۔

پس معلومه شوه چه څنګه د مرلې نه پس د ژوند ښه کيدل او د جنت د نعمتونو نه سرفرازه کيدل، الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول صلی الله عليه وسلم باندے ايمان راوړلو او د هغهٔ په لاره کښ کوشش باندے منحصره ده، د دغے د دُنيوی ژوند ښه کيدل او د دُنيا د نعمتونو نه فائده اخستل هم دے باندے منحصره ده چه مونږ په الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول صلی الله عليه وسلم باندے ايمان راوړو، او خپل ټول کوشش او قرباني د هغهٔ په لاره کښ اُولګوو۔

او کله چه مونږ دا کار سرته اُورسوو، يعني الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول صلی الله عليه وسلم باندے ايمان راوړو، او د هغهٔ په لاره کښ کوشش او قرباني اُوکړو، او خپل ځان په نيکو عملونو سره ښائسته جوړ کړو، نو بيا به مونږ د مځکے د بادشاهت او د خلافت حقدار جوړ شو، او سلطنت او حکومت به مونږ ته راکړے شي۔

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا مِنۡكُمۡ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِى الۡاَرۡضِ كَمَا اسۡتَخۡلَفَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِيۡنَهُمُ الَّذِى ارۡتَضٰى لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ اَمۡنًا ؕ يَعۡبُدُوۡنَنِىۡ لَا يُشۡرِكُوۡنَ بِىۡ شَيۡـًٔـا ؕ (سورة النور-ع ۷)

په تاسو کښ چه کوم خلق ايمان راوړی او نيک عمل اُوکړی، هغوی سره الله تعالیٰ وعده کوی، چه دوی ته به په زمکه کښ حکومت ورکړی لکه څنګه چه دوی نه مخکينو خلقو ته يے حکومت ورکړے وُو، او کوم دين چه يے هغوی د پاره خوښ کړے دے هغه به دوی ته قوت ورکړی، او د هغوی د دے ويرے نه پس به هغه په اَمن سره بدله کړی په شرط د دے چه زما عبادت اُوکړی، او ما سره څوک شريک نهٔ جوړوی۔

په دے ايت کښ ټول اُمت سره وعده ده ايمان او نيک عمل باندِ د حکومت

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکولو چه دهغې بشکاره کیدل د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د زمانے نه تر خلافتِ راشده پورے پیوست را رسیدلي دي - لکه جزیرهٔ عرب د نبي علیه الصلوٰة والسلام زمانه کښې اونور ملکونه په زمانه د خلفائے راشدینو کښې فتح شول او روستو یکښې وخت په وخت اگرچه اِتصال نهٔ وُو خود نورونیکانو بادشاهانو او خلیفه گانو په حق کښې دے وعدے ظاهریدل کیدل، او د بیا د پاره به هم کیږي، څنګه چه په ایت کښې دي - اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ۝ وغیره (بیان القرآن)

پس معلومه شوه چه په دے دُنیا کښې د ارام وراحت او اطمینان وسکون او عزت وابرو ژوند تیرولو د پاره دے نه علاوه بله طریقه نشته چه مونږ دے طریقه باندے په مضبوطیا سره عمل کوُنکي شو، او خپل اجتماعي او انفرادي هر قسمه قوت د دے مقصد د کامل کولو د پاره وقف کړو۔

وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا (آل عمران - ۱۱)	تاسو ټول دین مضبوط اُونیسئ او تېکړے تېکړے مهٔ جوړیږئ -

دا یو مختصر د عمل نظام دے چه په حقیقت کښې د اسلامي ژوند او پخواني مشرانو د ژوند نمونه ده۔

مُلک "میوات" کښې د یو موده نه په دے طرز د کارکولو کوشش جاري دے، او د دے نامکمل کوشش نتیجه دا ده چه هغه قوم ورځ په ورځ لګیا دے ترقي کوي - د دے کار برکتونه او فائدے په دے قوم کښې اُولید لے شوے کوم چه کتلو سره تعلق لري - که چرے ټول مسلمانان په اِجتماعي طور د ژوند دا طریقه اِختیار کړي، نو د الله جل شانهٔ د ذات نه اُمید دے چه د دوی ټول مصیبتونه او مشکلات به لرے شي - او د عزت او ابرو او د اِطمینان وسکون ژوند به بیا مومي، او خپل ضائع شوے شان وشوکت او عزت به بیا حاصل کړي - وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ ط

هر څو مره چه ما د خپل مقصد د یو هولو کوشش اوکړو، خو دا د یو څو تجویزونو مجموعه نهٔ ده، بلکه د یو عملي نظام خاکه ده چه د دے لره دالله تعالی یو خوښ بنده (سیدي ومولائي مخدومي ومخدوم العالم مولانا محمد الیاس صاحب رحمه الله) را خستهٔ اُو در ید لو، او خپل ژوند یے د دے پاک کار د پاره

وقف کړه. په دے وجه تا سو د پاره ضروری ده چه تاسو دے بے رَبطه کرخو لوستلو او پوهیدلو باندے هرگز بَس والے مکوئ، بلکه دا کار زده کړئ، او دے کار عملی نمونه اُوگورئ، دهغه نه سبق حاصل کړئ، او خپل ژوند په دے سانچه کښ د اچولو کوشش اُوکړئ. هم دے طرفته مُتوَجِّه کول زما مقصود دے نور بس. ـ

مری قسمت سے الٰہی پائیں یہ رنگ قبول ؛ پھول کچھ میں نے چُنے ہیں انکے دامن کیلئے

زما قسمت سره دِ الله بیا موی دا رنګ دقبول

ګلونه مِ څه ټول کړی دهغــه لمن دپاره

وَاٰخِرُ دَعْوٰنَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ بِرَحْمَتِكَ یَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِیْنَ

مُرَتِّب

محمد احتشام الحسن

۱۸ ربیع الثانی سنہ ۱۳۵۸ھ

موافق

۷ جون سنہ ۱۹۳۹ء

چهارشنبه

بکتبة العبد الفقیر محمد ولی الدین جینئر مٹی پشاور ۲۸ جولائی سنہ ۲۰۰۸ء

مُترجم

میاں محمد شفیق غفرلہ

دارالشفاء چارسده محله تبلیغی مرکز

تاریخ دختمید و نظرِ ثانی

۱۳ شعبان سنہ ۱۴۱۶ھ موافق ۳ جنوری سنہ ۱۹۹۶ء

چهارشنبه

Maktaba Tul Ishaat.com

پښتو

فضائلِ اعمال

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمہ اللہ

پښتو ترجمه

میاں محمد شفیق رحمہ اللہ

ناشر
حفصه قرآن کمپنی